بسم الله الرحمن الرحيم

معارف القرآن پښتو

مع

آسان ترجمه قرآن

از مفتي محمد تقي عثماني مدظله

تالیف

مفتي محمد شفيع رحمه الله

د مترجم شاه فیصل د طرفه اضافات

1. لفظي او روان ترجمه
2. د خلاصه تفسير په صيغه کښې قرآني آياتونه
3. په مشکلو ځايونو کښې تفسير شوي آياتونو تفسير
4. په بعض ځایونو کښې د ارتباط الفاظو اضافه
5. د عربي اشعارو ترجمه

فیصل کتب خانه
محله جنگی، پشاور
0321-9091636

Scanned with Ca

محقق جدید ایډیشن

معارف القرآن

جلد ۳

پښتو

تالیف

مفتی اعظم پاکستان مولانا محمد شفیع رحمۃ اللہ علیہ

مع

آسان ترجمه قرآن

حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب مدظله

مترجم

حضرت مولانا شاه فیصل صاحب

فاضل وفاق المدارس امداد العلوم وجامعه اسلامیه چارسده

خصوصیات مع تسهیلات واضافات

① هر عبارت ته په حاشیه کښې حواله ورکول ② آسان ترجمه قرآن از مفتی محمد تقی عثمانی مدظله ③ تکی په تکی او روانه ترجمه ④ د خلاصه تفسیر په مینځ کښې قرآنی آیاتونه لیکل ⑤ په حاشیه کښې د غیر تفسیر شوو آیاتونو تفسیر ⑥ د عربی او فارسی د اشعارو په پښتو کښې ترجمه ⑦ د اختلاف په صورت کښې یوسفزئ پښتو سره قندهاری الفاظ لیکل

فیصل کتب خانه (مدینه مارکیټ)

محله جنګی قصه خوانی بازار پېښور {۰۳۲۱-۹۰۹۱۸۳۵}

Scanned with Ca

دچهاپ حقوق صرف ناشرسره محفوظ دي

دکتاب نوم : معــارف القــرآن پښتو محقــق ایډیـشن

مؤلف : حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه
مفتی اعظم پاکستان

مترجم : مولانا پروفیسر (الباحث فی الدکتوراه) شاه فیصل
فاضل وفاق المدارس، امداد العلوم، جامعه اسلامیه چارسده

خورونکی : فیصل کتب خانه محله جنګی

موبائیل نمبر ۰۳۲۱۹۰۹۱۸۳۵

د ملاویدو پتې :- د فیصل کتب خانې نه سوا

- مکتبه روحانیول جلال آباد
- رحیمی کتب خانه خوست
- نعمت کتب خانه کابل
- جدید اسلامی کتب خانه خوست
- المصباح کتب خانه کابل
- انصاف کتب خانه جلال آباد
- حرم کتب خانه کابل
- شریف الله کتب خانه کابل
- فلاح کتب خانه جلال آباد
- موئے مبارک کتب خانه غزنی
- مکتبه خواجه عبدالله انصاری غزنی
- واحدی کتب خانه خوست
- مکتبه رحمانیه قندهار
- دعوت کتب خانه جلال آباد
- تقوٰی کتب خانه جلال آباد
- حقانیه کتب خانه ګردیز
- مسلم کتب خانه جلال آباد
- مکتبه نعمانیه غزنی
- ګودر کتب خانه جلال آباد
- مسلم کتب خانه خوست
- حاجی سردار کتب خانه کابل
- مکتبه رشیدیه کابل

فهرست مضامین

شمیره	مضمون	صفحه

پاره نمبر [۵]

دمتعې حراموالې ۱۵
فائده ۲۱
ځنګه چه دبل مال په باطلې طریقې سره خوړل ناروادی دغسې خپل مال هم په باطلې طریقې سره لګول ناروادی ۲۲
په باطله طریقه دځه مال خوړلوتشریح اوتفصیل ۲۲
دژوندتیرولوپه ذریعوکښې تجارت اومحنت، دټولونه زیات غوره دی ۲۷
دپاکیزه ګټې خاص شرطونه ۲۷
دبل دمال حلالیدودپاره دتجارت اوخپل منځ کښې دراضی کیدودوه شرطونه ۲۸
دیوبل د رضامندئ حقیقت ۲۸
دګناهونودوه قسمه ۳۰
نیکوعملونوسره واړه ګناهونه رژولې شي ۳۰
لوئې ګناهونه یواځې توبې سره معاف کیږی ۳۱
ګناه اودَدې دوه قسمونه وړه اولویه ګناه ۳۱
کبیره [لویه] ګناه ۳۲
داختیاری اوغیر اختیاری څیزونو [شیانو] آرزولرل ۳۲
دعقد موالات په ذریعه دمیراث موندلوحکم ۳۹
فائده ۴۳
دسړودزیات غوروالی بیانولودپاره دقرآن کریم عجیبه طریقه ۴۳
دسړی اوښځې مختلف عملونه دکارپه اصولوبنادی ۴۳
نیکوکاره بی بی ۴۴
نافرمانه ښځه اودهغې دسمولوطریقه ۴۴
دمضمون خلاصه ۴۶
که جګړه اوږده شوه نودَدوه اړخیزې رورولی دمنصفانو په ذریعه دروغه راوستې شي ۴۷
په نورو جګړو کښې دهم دحکم په ذریعه صلح صفائ کولې شي ۴۹
دحقوقودبیان نه وړاند دتوحید ذکرولې ۵۲
توحیدنه پس دمورپلارحقونه ۵۳
خپلوانو سره دښې روېې ساتلو تاکید ۵۴
دیتیم اومسکین حق ۵۴
دګواندی [همسایه] حق ۵۴
دنږدې ملګروحق ۵۵

Scanned with Ca

شمیره	مضمون	صفحه
	دلاروی حق	۵۲
	دمریئ وینځې اوملازمانو ،نوکرانوحق	۵۲
	په حقوق اداکولوکښې کوتاهي هغه خلق کوی چه زړونوکښې ئې لوئی اوتکبروی	۵۲
	فائده	۶۲
	دشرابو دحراموالی درجه په درجه حکمونه	۶۵
	مسئله	۶۵
	دتیمم حکم یوانعام دې چه ددې اُمت خصوصیت دې	۶۵
	دشرک تعریف اوددې څوصورتونه	۷۲
	په علم کښې ئې شریک ګرځول	۷۲
	اشراک فی التصرف	۷۲
	په عبادت کښې شریک ګرځول	۷۲
	خپل ښه والې پخپله بیانول اودعیبونونه دپاکیدودعوی لرل روانئه ده	۷۲
	الجبت والطاغوت نه څه مراددی؟	۷۴
	د ذکر شوؤآیتونوشان نزول	۷۴
	په خنې وختونوکښې دَیوانسان نفساني خواهشات هغه لره ددین ایمان نه بې نصیبه کوی	۷۵
	دالله ﷻ لعنت په دُنیااوآخرت کښې دشرمنده کیدوسبب دې	۷۵
	د الله ﷻ د لعنت مستحق کوم خلق دی	۷۵
	دلعنت احکام	۷۷
	دحسد کولوله کبله دیهودوسخته بدی بیانول	۷۹
	دحسدتعریف،حکم اوددې دزیانونوبیان	۸۰
	د(اَزۡوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ)تفسیر	۸۲
	دامانت دَاداکولوتاکید	۸۲
	خیانت کول دمنافقئ نخښه ده	۸۲
	دامانت قسمونه	۸۷
	دحکومت منصبونه هم دالله تعالی امانتونه دی	۸۷
	په یومنصب باند نااهل لره مقررکوونکې ملعون دې	۸۷
	عدل اوانصاف دټول جهان دامن ضامن دې	۸۸
	دعلاقواوصوبوپه بنیادحکومتی عهدې چاته سپارل اصولی غلطی ده	۸۹
	دحکومت ددستوریوڅوزرین اصول	۸۹
	اولوالامر[حاکمان]څوک دی؟	۹۰
	دحُکم کولواودمنلوئې درې عملی صورتونه	۹۰
	دشریعت نه په خلاف کارونوکښې دامیراطاعت واجب نهٔ دې	۹۱
	عدل کوونکې دالله تعالی محبوب ترین بنده دې	۹۱
	داجتهاداوقیاس ثبوت	۹۲

شمیره	مضمون	صفحه
	دَرسول الله ﷺ فیصله نهٔ منل کُفردي	۹۹
	په اختلافاتو کښې حَکَم جوړول یواځې دَرسول الله ﷺ په ژوند مبارک پورې مخصوص نهٔ دی	۹۹
	یو څو ضروری مسئلې	۹۹
	یوه ډیره ضروری فائده	۱۰۰
	شانِ نزول	۱۰۲
	دَجنت درجې به دَعملونو په لحاظ سره وی	۱۰۴
	په جنت کښې دَمُلاقات څو صُورتونه	۱۰۵
	نزدیکت دَپاره محبت شرط دې	۱۰۲
	رسول الله ﷺ سره ملګری کیدل په رنګ اونسل هیڅ اړه نهٔ لری	۱۰۲
	دَدرجو تفصیل	۱۰۷
	دَصدیقینو تعریف	۱۰۸
	دَشهیدانو تعریف	۱۰۸
	دَصالحینو تعریف	۱۰۸
	ضروری فائدې	۱۱۰
	دَمظلوم فریادآوریدل دَاسلام یوه اهمه ذمه داری ده	۱۱۳
	دَټولو مصیبتُونو ډیر غوره علاج الله تعالی نه دُعاغوښتل دی	۱۱۳
	جنګونه خو هر قسم خلق کوی خودې نه دکافرانو او مسلمانانو مقصدونه بیل بیل وی	۱۱۳
	دَشیطان تدبیر کمزورې دې	۱۱۴
	شانِ نزول	۱۱۸
	چه دَجهاد حُکم نازل شو نو مسلمانانو دا آرزو ولې لرله چه دا حُکم دِاوس ایسار کړې شی	۱۱۸
	دَملک دَاصلاح نه دَخپل خان اصلاح وړاندِ ده	۱۱۹
	دَدُنیا او آخرت په نعمتونو کښې فرق	۱۱۹
	یوه عبرتناکه واقعه	۱۱۹
	پوخ مضبوط کور جوړول توکل سره بې سمونه نهٔ دی	۱۲۱
	انسان ته نعمت، خالص دَالله تعالی په فضل ملاوېږی	۱۲۱
	مصیبت راتلل دَانسان دَبدعملی په نتیجه کښې وی	۱۲۱
	رسول الله ﷺ ټولې دنیا دَپاره پیغمبر دې	۱۲۲
	پیشوا دَپاره یوه ډیر ضروری هدایت	۱۲۴

Scanned with Ca

شمیره	مضمون	صفحه
	په قرآن کریم کښې غورفکر کول:	۱۲۴
	دَقرآن اوسُنت تفسیراوتشریح کول دَیوې ډلې یایوتولی تیکیداری نه ده ورَدَپاره څه شرطونه شته:	۱۲۴
	دَقیاس ثبوت:	۱۲۵
	دَاختلاف کثیرتشریح:	۱۲۵
	شانِ نزول:	۱۲۷
	بې تحقیقه خبرې خورول گناه اولویه فتنه ده:	۱۲۷
	اولوالامر څوک خلق دی؟	۱۲۷
	په نوؤمسئلو کښې قیاس اواجتهادکول عوامودَپاره دَامامانو دَتقلیدثبوت دې:	۱۲۸
	رسول الله ﷺ هم په استنباط اواستدلال باندې مکلف وو:	۱۲۸
	ډیرې دکارفائدې:	۱۲۸
	اجتهاداواستنباط دگمان دَغالب گمان فائده ورکوی دَعلم یقینی فائده نه ورکوی	۱۲۹
	شانِ نزول:	۱۳۰
	دَقرآنی حُکمونوښکلې انداز:	۱۳۰
	دَسفارش حقیقت،دَدې احکام اوقسمُونه ئې:	۱۳۲
	دَسفارش کولوفیس یاعوضانه اغستل رشوت اغستل دی چه حرام دی:	۱۳۵
	سَلام اواسلام:	۱۳۵
	دَ(تحِیَة)لفظ تشریح اودَدې تاریخی اړخ:	۱۳۵
	اسلامی سلام دَنوروټولوقومونودسلام نه زیات غوره دې:	۱۳۶
	د دریو مختلفو ډلو بیان او دهغې احکام: د ړومبئ ډلې بیان	۱۴۲
	د دویمې ډلې بیان	۱۴۳
	د دریمې ډلې بیان	۱۴۳
	معارف اومسائل	۱۴۴
	دَهجرت مختلف صُورتونه اواحکام:	۱۴۵
	دَقتل درې قسمونه اودَدې شرعی حُکم:	۱۴۹
	دَمسلمان گنړلودَپاره دَاسلام نخښې نښانې کافی دی دَباطن لټون کول جائزنهٔ دی:	۱۵۳
	دَواقعې دَتحقیق کولونه بغیرفیصله کول ناروادی:	۱۵۴
	اهلِ قبله ته دکافرنهٔ وئیلو مطلب:	۱۵۵
	دَجهاد په باره کښې څواحکام:	۱۵۶
	دَفرض کفایه تعریف:	۱۵۶
	دَهجرت تعریف:	۱۵۹
	دَهجرت فضیلتُونه:	۱۶۰
	دَهجرت برکتُونه:	۱۶۱
	دَسفر او قصراحکام:	۱۶۷

شميره	مضمون	صفحه
	دآيتونوشان نزول	١٧٢
	رسول الله ﷺ ته دآجتهاد کولوحق حاصل وو	١٧٥
	دتوبې حقيقت	١٧٥
	دخپلې ګناه توريه بل چاپورې کول دَدوچندعذاب سبب دې	١٧٦
	دقرآن اوسنت حقيقت	١٧٦
	درسول الله ﷺ علم دټولو مخلوقاتونه زيات دې	١٧٦
	خپل منځ کښې دَمشورواومجلسونو کولوآداب اوطريقې	١٧٧
	دَصلح راوستوفضيلت	١٧٨
	دأمت اجماع حُجت دې	١٧٨
	دشرک اوکُفرسزاهميشه کيدل	١٨٢
	دَظلم درې قسمونه	١٨٣
	دشرک حقيقت	١٨٣
	دَمسلمانانواواهلِ کتابوترمنځه دَفخرپه اندازکښې خبرې اترې	١٨٦
	دَالله تعالى په نزددَمقبوليت يوه پيمانه	١٨٧
	دَقومونودګمراه کيدوسبب اخلاص يادَعمل دَصحيحوالى نيشتوالې دې	١٨٨
	دَښځې خاوندترمنځه دَتعلقاتوپه باره کښې څوقُرآنى هدايات	١٩٣
	دَښځې خاوندترمنځه جګړوکښې بې ضرورته دَبل چادخل ورکول مناسب نه دى	١٩٤
	په غيراختيارى کارونوباندې ګرفت نشته	١٩٧
	دې آيت سره دګنړوودونوپه خلاف دليل نيول بيخى غلط دى	١٩٨
	ضرورى فائدې	٢٠١
	په دُنياکښې دَانبياؤ ؑ اوآسمانى کتابونورالیږلو ،اصل مقصدعدل اوانصاف قائيمول دى اوهم	
	په دې سره دَدُنياامن قايم پاتې کيدې شى	٢٠٣
	په عدل اوانصاف قائيم پاتې کيدل يواځې دَحکومت فرض نه بلکه هرانسان په دې مکلف دې	٢٠٤
	دَټول جهان دَامن ضمانت يواځې دآخرت عقيده اودَالله تعالى ويره ورکولې شى	٢٠٥
	په عدل اوانصاف قائيمولوکښې خنډ جوړيدونکى اسباب	٢٠٦
	ضرورى فائدې	٢١٠
	عزت، يواځې دَالله تعالى نه غوښتل پکاردى	٢١٣
	په خپلې رائې سره دَتفسيرکوونکوپه مجلس کښې شريکيدل ناروادى	٢١٥
	دَبدانوخلقودمجلس نه يواځې پاتې کيدل غوره دى	٢١٦
	په کُفرباندِ راضى کيدل کُفردې	٢١٧

پاره نمبر [٦]

شميره	مضمون	صفحه
	په اسلام باندې خلاصې ادانړه دې په بل مخالف مذهب کښې خلاصې نشى کيدې؟	٢٢٥
	يهودوته دغه اشتباه په څه شان راپيښه شوه؟	٢٣٣

Scanned with Ca

شمیره	مضمون	صفحه
	په اخره زمانه کښې دحضرت عیسی ﷺ دنازلیدوعقیده یقینی اواجماعی ده چه منکرئې کافردې	۲۳۵
	لطیفه	۲۴۹
	په دین کښې غلوحرامه ده:	۲۵۰
	ضروری فائدې	۲۵۲
	دمحبت ددنیاحدود:	۲۵۲
	دسنت اوبدعت حدود:	۲۵۲
	دعالمانواوپیرانوپه تعظیم اوتابعدارئ کولوکښې درمیانه لار:	۲۵۳
	دالله تعالی بنده کیدل داعلی درجې شرافت اوعزت دې:	۲۵۶
	د[برهان] نه مطلب دې څه:	۲۵۷
	ضروری فائدې:	۲۶۳
	د سورت شان نزول او د مضامینو خلاصه:	۲۶۴
	خپل منځ کښې دلاس امدادکولوقرآنی اصول:	۲۷۳
	دقومیتونوتقسیم:	۲۷۶
	قومیت اواجتماعیت دپاره قرآنی تعلیم:	۲۷۶
	داخترونواودښوشپوورځو تیرولو اسلامی اصول:	۲۸۶
	تش په نوم یهودیان اونصرانیان چه په حقیقت کښې دهریان دی، هغه په دې کښې داخل نه دی:	۲۹۹
	داهلِ کتابودطعام نه څه مراد دی:	۳۰۰
	داهلِ کتابوذبحې دحلالوالی حکمت اووجه:	۳۰۱
	دکلامْ خلاصه:	۳۰۵
	دامتحاناتونمبرونه، سندونه، سرټیفیکیټونه، دانتخاباتو ووټونه، ټول دګواهۍ ورکولوپه حکم کښې داخل دی:	۳۱۷
	دعیسائی، فرقو، خپل منځ کښې یوبل سره دښمنی:	۳۳۰
	دفترت دزمانې تحقیق: ؟	۳۳۲
	دفترت دزمانې احکام؟	۳۳۷
	یوسوال اوجواب:	۳۳۷
	دخاتم الانبیاء ﷺ مخصوصوکمالاتوارخ ته اشاره:	۳۳۷
	ارضِ مقدسه نه کومه زمکه مراد ده:	۳۴۴
	دقوم ډیره زیاته بې وفائی اودحضرت موسی ﷺ بې کچه مضبوطه اراده اوټینګ پاتې کیدل	۳۴۸
	قصه دهابیل اوقابیل	۳۵۵
	دَتاریخی روایتونوپه نقل کولوکښې احتیاط کول اورشتیاوئیل واجب دی:	۳۵۵
	دعمل دقبلیدواډانړه په اخلاص اوتقوی ده:	۳۵۷
	دخان د طرفه د مدافعت کولو احکام:	۳۶۰
	هر ندامت توبه نه وی:	۳۶۴
	د یو کس قتل د پوره قوم د قتلولو برابر د وئیلو حکمت:	۳۶۴

شمیره	مضمون	صفحه
	د جرم او د سزا متعلق د قرآن پاک څو ضابطې	۳۲۲
	دقرآني قوانینوعجیبه انقلابي طرز	۳۲۸
	دشرعي سزاګانودرې قسمونه؟	۳۲۸
	شان نزول:	۳۸۹
	په اسلامي حکومت کښې دغیرمسلمودمقدموضابطه:	۳۹۵
	دیهودویوناکاره خوئې:	۳۹۶
	عوامولره دعلماؤدتابعدارئ کولوضابطه:	۳۹۶
	د یهودو یوبل خراب خوئې:	۳۹۸
	دریم ناکاره خصلت دکتاب الله بدلول دي:	۳۹۸
	څلورم ناکاره خصلت رشوت خوړل:	۳۹۹
	قرآن کریم دتورات اوانجیل هم محافظ دي:	۴۱۰
	دانبیاؤ ﷺ په شریعتونوکښې جزوي اختلاف اودهغې حکمت؟	۴۱۱
	په تیرشوؤآیتونوکښې دراغلي هغه احکاموخلاصه کوم چه ښکاره وواوکوم چه ددې په ترڅ کښې وو:؟	۴۱۲
	شان نزول:؟	۴۱۹
	په تبلیغ کولواوبلنې ورکولوکښې دمخاطب لحاظ ساتل:؟	۴۳۰
	دیهودواخلاقي بربادي:	۴۳۱
	دعملونود درست کولوطریقه:	۴۳۱
	په علماؤباندې دعوامودعملونوذمه واري:	۴۳۲
	عالمانواوپیرانوله خبرداري:؟	۴۳۲
	دامت داصلاح طریقه:	۴۳۴
	په ګناهونوباندې دکرکې نه ښکاره کولو وعید [درکه]:	۴۳۴
	دیهودو دیوبې ادبۍ جواب:	۴۳۸
	دالله تعالی په حکمونوباندې پوره عمل کول په دنیاکښې هم دبرکتونوسبب دي:	۴۳۹
	دالله تعالی په حکمونوباندې پوره عمل په څه شان سره کیدې شي:	۴۳۹
	دیوې شبهې جواب:	۴۴۰
	دتبلیغ تاکیداورسول الله ﷺ ته تسلي ورکول	۴۴۰
	دحجة الوداع په موقعه درسول الله ﷺ یونصیحت	۴۴۱
	اهل کتابوته دخدائي شریعت دتابعدارئ کولوهدایت:	۴۴۳
	داحکامودرې قسمه:؟	۴۴۴
	رسول الله ﷺ ته یوتسلي ورکول	۴۴۵
	څلورو قومونوته دایمان اوعمل صالح ترغیب اوپه آخرت کښې دنجات وعده	۴۴۵
	دالله تعالی په نزد، دامتیاز دارومدار په نیک عمل باندې دي:	۴۴۵
	په رسالت باندې دایمان راوړونه بغیر نجات نشته:	۴۴۶
	دبني اسرائیلووعده ماتول	۴۴۹

Scanned with Ca

شمیره	مضمون	صفحه
	دحضرت مسیح علیه السلام دخدایئی تردید:؟	۴۵۳
	بی بی مریم پیغمبره وه که ولیه وه:	۴۵۳
	دبني اسرآئیلو دکوږتګ یوبل اړخ:	۴۵۶
	دبني اسرآئیلو افراط اوتفریط:	۴۵۷
	الله تعالی ته درسیدوطریقه:	۴۵۷
	علمی تحقیق اوباریکی بیانول غلو نه ده:	۴۵۸
	بنی اسرآئیلوته دمعتدلې لارې هدایت:	۴۵۸
	دبني اسرآئیلو بدانجام	۴۵۹
	دخنې اهلِ کتابو حق پرستی:	۴۶۰
	دحضرت جعفربن ابی طالب دتقریر دحبشې په بادشاه باندې اثر کول	۴۶۱
	دحبشې د بادشاه د رالیږلی وفد حاضریدل په دربار د رسالت ﷺ کښې	۴۶۱
	دقوم اوملت اصلی روح حق پرست علماء اومشائخ دی:	۴۶۳
	[د اضافي مضامینو فهرست از مترجم]	
	د نبی کریم ﷺ په حق کښې ګستاخی کول:	۲۲
	د مومنانو دعا:	۲۰۰
	د ابن جریر په نیز د آیت مطلب:	۲۰۰
	مسلمان چې ایماندار دې هغه ته دایمان راوړلو مطلب:	۲۰۸
	د نزل او انزل مصداق:	۲۰۸
	د منافقانو د مونځ کیفیت:	۲۱۸
	په منافقانو باندې ګران مونځ:	۲۱۸
	د سزا په طور الله تعالی حلال خزونه حراموی:	۲۳۲
	په اهل کتابو کښې د مضبوط ایمان خاوندان:	۲۳۸
	د قراءت وضاحت:	۲۳۸
	د آیت شان نزول:	۲۵۸
	د کلاله خور ته نیمه حصه ملاویدل:	۲۵۸
	د پلار په وجود کښې د خور محرومتیا:	۲۵۸
	د لور په وجود د خور محرومتیا:	۲۵۸
	د لور په وجود کښې د خور عدم محرومتیا:	۲۵۹
	د رور د کلاله خور نه میراث اوړل:	۲۵۹
	د دوو خویندو نه د زیاتو صورت:	۲۵۹
	د رونړو او خویندو د جمع کیدو په صورت کښې حکم:	۲۶۰
	د احکامو بیانولو حکمت:	۲۶۰
	دکلاله په باره کښې د عمر رضی الله عنه عدم تشفی:	۲۶۰
	په درې مسئلو کښې د عمر رضی الله عنه عدم تشفی:	۲۶۱
	د شیخینو اختلاف:	۲۶۱

Scanned with Ca

وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ ۚ كِتٰبَ

او واده شوي | دښځو نه | ما سوا دهغه ښځونه | چې مالکان شوی دی | ښۍ لاسونه ستاسو | دا فرض دي

اوواده شوي ښځي | مګر هغه ښځي حرامي نه دي چې ستاسو په ملکیت کښې راشي | دا قانون دي

اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ اَنْ

دالله | په تاسو | اوحلالې کړې شوي دي | ستاسو دپاره | هغه چې ماسوادی ددغه محرماتونه په دې شرط | چې

دالله ﷻ چې تاسودپاره ئې جوړ کړې دي | ددې نه سوا هرخومره ښځې چې دی هغه تاسودپاره حلالې دی

تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ

طلبوئ تاسو هغوئ | په مالونوخپلوسره | په داسې حال چې ساتونکی يئ هغوئ لره په قلا دنکاح کښې |

دخپلو مالونو [مهرونو] په ذریعه ئې طلبوئ | د نکاح په قلعه کښې ئې بندونکې ئې

غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ

نهٔ داچې زنا کونکی يئ دهغوئ سره | بیا هغه چې مزه واخستله تاسو | په هغې سره | دهغوئ نه |

دانه چې صرف خپل شهوت پرې پوره کوئ | بیا چې تاسو کومو ښځونه مزه واخسته ....

فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً ؕ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ

نوورکړئ هغوئ ته | مهرونه دهغوئ | دفرض په حیثیت سره | اونشته ګناه | په تاسو

نو هغوئ ته خپل مهرونه پوره اداکړئ | او په دې کښې هیڅ باک نشته چې دمهر مقرر کولونه پس

فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

په هغه کار کښې | چې راضي شوئ تاسو | په هغې باندې | روستو | دمقررولو دمهرنه | بیشکه الله

تاسوخپل مینځ کښې په څه [کمی زیاتی] باندې راضی شئ | ....بیشکه الله ﷻ

كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴿۲۴﴾

دې پوهه | او دحکمت خاوند |

په هرڅه پوهه او صاحب د حکمت دې |

آسان ترجمه قرآن: دا رنګ (په تاسو حرام دي) هغه ښځې چه دنورو خاوندانو په نکاح کښې وي هنه چه کومې وينځې ستاسو په ملکيت کښې راشي (هغه مستثنې دي) الله تعالي په تاسو دا احکام فرض کړي دي ددې ښځو نه علاوه د نورو ښځو په باره کښې ئې تاسو ته دا حلال کړي دي چه تاسو خپل مال (بطور مهر) خرچ کړئ او دوی (خپله نکاح کښې) راولئ . په دې شرط چه تاسو دوی سره باقاعده د نکاح رشته قايمه کړئ او عفت حاصل کړئ ، صرف شهوت پوره کول مقصود نه وي نو کومو ښځو سره چه (نکاح مو وکړله) او فايده مو ترې واخسته هغوی ته هغه مهر ورکړئ کوم چه مقرر کړې شوې دې هنه د مهر مقرر کولونه وروستو هم چه تاسو په کوم (کمي بيشي) باندې راضي شوئ په دې کښې په تاسو څه ګناه نشته او يقين وکړئ چه الله ته دهرې خبرې علم دې دحکمت مالک دې.

Scanned with Ca

خلاصه تفسير

[تاسوباندې حرامې كړې شوې ښځې درته مخكښې اوخودلې شوى دهغې نه څلورم قسم] ﴿وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ﴾ هغه ښځې دى چه دخاوندانو والا دے مگر [په دې قسم كښې هغه شامل ندى] چه [په شرعى طور] ستاسو په ملكيت كښې راشى [او ددوى حربى خاوندان په دارحرب كښې موجود وى او ديوحيض راتلو يا دحمل ځيږولو نه پس تاسو دپاره حلالے دى لكه چه په هدايه كښې دى] ﴿كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ﴾ الله تعالى دا احكام په تاسوفرض كړى دى ﴿وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ﴾ اوددې ښځو نه سوا نورے [پاتې] ښځے تاسو دپاره حلالے كړې شوى دى يعنى دا چه تاسو دوى لره دخپلو مالونوپه ذريعه [په نكاح كښې راوړل] غواړئى [يعنى مهركيدل په نكاح كښې ضرورى دى او] ﴿اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ﴾ په دې سے شان چه تاسو [دوى] ښځې جوړےكړئى [چه شرطونه يې په شريعت كښې مشهور دى لكه گواهان هم وى اوهغه څه وختى نكاح هم نه وى.وغيره] يوائې هم مستى اوښكل نه وى [ددې په عموم كښې زنا اومتعه ټول داخل شو گويا چه دے كښې هم مال لگولے شى] ﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ﴾ بيا [دنكاح كيدونه پس] په كومې طريقے سره چه [دمعتبر وشرعى طريقو نه] تاسو ددې ښځونه نفع اخستلې ده ﴿فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ فَرِيْضَةً﴾ نو دوى ته [ددې په بدل كښې] ددوى مهرونه وركړئى كوم چه مقرر شوى دى او [دامه گڼرئى چه دغه مقررشوى كښې د مونږ روژے پشان هيڅ قسم كمے زياتے راوستل ممكن نه دى بلكه] ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيْمَا تَرٰضَيْتُمْ بِهٖ مِنْۢ بَعْدِ الْفَرِيْضَةِ﴾ دمقرر كيدونه پس هم په كوم [مقدار] چه تاسو [ښځه خاوند] خپل مينځ كښې راضى شئ په دې كښې په تاسو هيڅ گناه نشته [لكه خاوند نورمهر زيات كړو يا ښځې كم كړو يا ئے بيخى معاف كړو چه په هرشان صحيح دې] ﴿اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا حَكِيْمًا﴾ بيشكه الله ﷻ ډير پوهيدونكې دې [ستاسو ښيگړې ښے پيژنى] ډير د حكمت خاوند دے [ددغې حكمونو په لحاظ ئے احكام مقرركړى دى اگرچه چه چرته ستاسو په پوهه كښې رانشى].

معارف اومسائل

په تيروآيتونوكښې هميشه دپاره ددرې قسمه حرامو كړې شوؤزنانؤبيان اوشوچه محرمات نسبيه، محرمات رضاعيه اومحرمات بالمصاهرة وې، اوس په دې آيت كښې څلورم قسم هغه نكاح كړې شوې ښځې دى چه ترهغې پورې حرامې دى، ترڅوچه دبل په نكاح كښې وى لكه فرمائى:

قوله تعالى: ﴿وَّالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ﴾ يعنى دخاوندانو والاښځې هم حرامې كړې شوې، يعنى څوپورې چه يو ښځه دچاسرى په نكاح كښې وى، بل سړې ورسره نكاح نه شى كولې، دې نه په ښكاره ډول معلومه شوه چه يوه ښځه په يووخت ديونه دزيات خاوندانوښځه نشى كيدې، ددې زمانې څنې جاهل بې دينه وائى چه هركله سړى ديوې نه زياتې ښځې [څلور] كولې شى نوپكاردې چه يوې ښځې له هم ديونه زيات مړونه رواوې، چنانچه دامطالبه ددې آيت نه بيخى خلاف ده، داسې جاهلانه خبرې كوونكې خلق په دې نه پوهيږى چه سړولره گڼرې بيبيانې يونعمت دې چه په هرمذهب اوهرملت كښې رواگرځولې شويدى اودانسان تاريخ پرگواه دې ليكن ښځې لره په يووخت كښې ديونه زيات خاوندان كيدل دغې ښځې لره هم سخت مصيبت دې اوكوم دوه سړى

چه دَیوې ښځې خاوندان جوړشي هغوئې دَپاره هم دَشرم خبره ده، اوخالص شرم دې، دَبچي او ماشوم به هم بده ورځ داسې وي چه نسب به ئې دَیونه هم نشي ثابتیدې ولې چه دَدې دَپاره څه لاره نشي راپیسټلې. په دې لحاظ داسې زیاته ناکاره مطالبه هغه خلق کولې شي چه دانسانیت سراسرې دَشمنان وي او دحیا، غیرت جنازه ئې وتلې وي- داخلق دَهغه رحمتونو نه دَپوره انسانیت دَمحرومه کولو مرستیالان وي چه دَاولاد او دَمورپلار دَحقوقو دَلین نه راپیدا کیږي، ولې چه هر کله نسب ثابت نشي نو دَیو تربله حقوقو او فرائضو اداکولو ذمه واري به په چا راځي؟

دطبیعت او دَعقل په اعتبار هم که اوکتلې شي نو داخبره روانشي ښکاره کیدې چه دَیوې ښځې دڅو مړونه شي-

① دَښځې خاوند جوړیدو مقصد انساني نسل جاري ساتل دي، په دې اعتبار سره ګنړې ښځې خو دَ یوسړي نه بارداره کیدې شي لیکن دَګنړو مړونو ښځې دَیوسړي نه دَبارداره کیدو هیڅ څه طریقه نشته چه ګنې هم هغه ددَماشوم پلار ثابت شي او دَنورو زور، طاقت دهسې بربادشي بلکه په داسې شان دَټولو مړونو طاقت بَربادشي او هیڅ یو به اصل پلار نشي ثابتیدې بلکه دشهوت پوره کولو نه سوا به ورته نور څه نشي وئیلې-

② د تجربې اولیدلو کتلو نه ثابته ده چه ښځه دَسړي په مقابله کښې داسې یونازک انسان دې چه دکال په زیات برخه کښې دَفائدې اغستو جوګه هم نۀ پاتې کیږي، ځنې حالاتو کښې دې دَپاره دَیوخاوند حقوق پوره کول هم ممکن نۀ وي نو دَګنړو خاوندانو حقوق به څنګه پوره کړې شي؟

③ دَجسماني طاقت په لحاظ، دَښځې په مقابله کښې نارینه زیات روغ موټې دي، که دَیوسړي جنسي طاقت دَعامو سړونه زیات وي، په یوه ښځه ئې ګُذاره نشي کیدې نو په جائز طریقه ورته ددویم اودریم نکاح موقعه ملاویدل پکاردي ورنه هغه به ناروا لارې چارې اختیار کړي او پوره معاشره به ګډه وډه کړي خو دَښځې نه دداسې خرابولو اندیښنه نشته. چنانچه اسلامي شریعت دامسئله دومره زیاته ضروري ګرځولې ده چه دَسړي په نکاح کښې دَښځې بل سړي سره نکاح حرامیدل ئې خولاڅه کوې بلکه طلاقه شوې ښځه یادَمړشوي خاوند والابنځه ترڅو چه عدت کښې وي بل سړي سره ئې نکاح نشي کیدې-

قوله تعالٰی: ﴿اِلَّا مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ﴾ دا جُمله، دَ- ﴿وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ﴾ -نه استثنا ده مطلب ئې دادې چه دَ کومې ښځې میړه وي نو بل سړي سره ئې نکاح کول ناروادي، سوا دَدې نه چه یوه ښځه دَچاپه ملکیت کښې دَوینځې په حیث راشي، مثلاً مسلمانان، دَدارحرب کافرانو سره جهاد او کړو او دَهغه خاني نه ئې بندیواني کړې ښځې راوستې، چه دلته دار اسلام ته راغلې او خاوندان سره نکاح ختم شو، اوس که داسې ښځه کتابیه یا مسلمانه وي نو دَدار اسلام هر یو مسلمان ورسره نکاح کولې شي او که امیر المؤمنین ئې وینځه او ګرځوي نو یو فوځي سپايئ ته ئې دَمال غنیمت په ویش کښې ورکړي نو بیا ترهم فائده اغستل روادي- خو هله چه یو حیض ئې تیرشوې وي او که بچې ئې په خیټه ؤ نو دهغې خیږیدل ضروري دي-

مسئله: که یوه کافره ښځه په دارحرب کښې مسلمانه شي او خاوند ئې کافروي نو دَهغه دَنکاح نه به هله وُوځي چه درې حیضه تیر کړي-

مسئله که یوه کافره ښځه دار اسلام ته په راتلو مسلمانه شوه او خاوند ئې کافر وو، نو دَشریعت حاکم به ئې خاوند ته اسلام وړاندې کړي که هغه دَمسلمانیدو نه انکار او کړي نو قاضي دَدې دواړو کښې

بيلتون راولي دا به طلاق حسابيږي، چه عدت تير کړي نو بيا به يو مسلمان سره نکاح کولې شي۔
﴿كِتٰبَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ۚ﴾ د ذکرشوؤ محرماتو حراموالې د الله تعالى دا رخه فيصله شوې دې ﴿قال القرطبي اي حرمت هذه النساء كتابا من الله عليكم﴾(¹)
﴿وَاُحِلَّ لَكُمْ مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ﴾ يعني تر اوسه ذکرشوؤ محرماتو ښځونه علاوه، نورې ښځې تاسو له حلالې دي، مثلاً د تره لور، د خاله [ترور] لور، د ماما لور، د ماما او د تره ښځه چه دوئ وفات شي يا طلاق ورکړي، په شرط د دې چه دغه ذکرشوی قسمونه به بلې خپلوئ سره حرام شوې نه وی، د اشان د هغه چا ښځه چه صرف په خله ئې ورته خوئې وئيلې وی، کله چه هغه طلاق ورکړی يا مړ شي، چه ښځه نې مړه شي نو د هغې خور سره ۔ وغيره ۔ بې شميره صورتونه جوړيږی، دا ټول ئې د ﴿مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ﴾ په عموم کښې داخل کړل، ،

مسئله په يو وخت کښې د څلورو ښځونه زياتې په نکاح کښې ساتل ناروا دی، د دې تفصيلی بيان د سورة نسآء په شروع کښې تيرشوې دې، په نزدې روايتونو کښې د دې د ذکر په نه ليدو سره چاته دا غلط فهمی نه دی راتلل پکار چه د ﴿مَّا وَرَآءَ ذٰلِكُمْ﴾ په عموم کښې بغير د څه پابندئ نه، ښځو سره نکاح کول روا دی، د اشان ډيرې حرامې شوې ښځې هغه دی چه ذکرئې په احاديثو شريفو کښې راغلې دې، او په آيتونو کښې ورته اشارې هم شته او مونږ د تفسير په ترڅ کښې ځائې په ځائې ذکر کړی دی۔

قوله تعالىٰ: ﴿اَنْ تَبْتَغُوْا بِاَمْوَالِكُمْ﴾ [د حراموکړې شوؤ ښځو د ابيان ستاسو د پاره څکه ذکر کړې شوې دې چه د خپلو مالونو په ذريعه حلالې ښځې اولټوئ او هغوئ په خپل نکاح کښې راولئ۔
ابوبکر جصاص په ، ، احکام القرآن ، ، کښې ليکی چه دې نه دوه خبرې معلومه شوې يو دا چه نکاح د مهرنه نشی خالی کيدې [تردې که ښځه خاوند خپل مينځ کښې د مهر د نيشتوالی فيصله په نکاح کښې اوکړې نو هم به مهر ضروری وی چه تفصيل ئې د فقهې په کتابونو کښې ذکر شوې دې] بله تردا خبره معلومه شوه چه مهر هغه څيز پکار دې چه مال ورته وئيلې شي. د احنافو مذهب دادې چه لس درهمونه کم مهرنه دې پکار (²)، يو درهم درې نيمې ماشې چاندی کيږی۔

قوله تعالىٰ: ﴿مُّحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ﴾ [د خپلو مالونو په ذريعه حلالې ښځې طلب کوئ او دا کنړئ چه د ښځو لټول د پاک لمنئ او ځان محفوظ ساتلو د پاره دې] چه د نکاح ډير ضروری مقصد دې، او د نکاح په ذريعه دا څيز حاصل کړئ، په مال لګولو سره د زنا د پاره ښځې مه لټوئ۔
دې نه معلومه شوه چه اګرچه زناکار خلق هم مالونه لګوی ليکن دغه مال لګول هم حرام دی او د دغې مال په ذريعه چه کومه ښځه حاصله کړې شی هغې نه فائده اغستل حلال نه دی۔
د ﴿غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ ؕ﴾ لفظ زياتولو سره ئې د زنانه منع اوکړه او دې ته هم اشاره راغله چه زنا کښې صرف شهوت پوره کول، او به تويول او بيول، مقصود دی څکه چه دې سره اولاد طلب کول او نسل انسانی جاری لرل په اراده کښې نه وی، مسلمانانو له د پاک لمنی جاری لرلو او د انسانی نسل زياتولو د پاره خپل طاقت په ځائې باندې خرچ کول پکار دی چه طريقه ئې ملک د نکاح او ملک د يمين دې [يعنی نکاح کول يا د وينځې خريد کول]

(¹) ترجمه: علامه قرطبي فرمايلي دي، يعني دا ښځے په تاسو حرامے دي، د حکم د الله تعالىٰ د طرف نه مقرر هوے دے
(²) أحكام القرآن للجصاص، سورة النساء، باب الاختلاف في مقدار المهر: ج ۲، ص ۳۴

Scanned with Ca

قوله تعالىٰ: ﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُم بِهِ مِنْهُنَّ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ﴾ دنكاح كولونه پس چه كوموښځونه فائده پورته كړئ هغوئ ته خپل مهرونه وركړئ ولې چه دااكول په تاسوفرض كړې شويدي-

په دې آيت كښې دلته داستمتاع، فائده پورته كولونه مراد ورسره وطى اوكوروالې كول دى، كه يواځې نكاح اوشي اودخاوند كورته منكوحه رارخصت شي چه خاوندته ددغه فائدې پورته كولو موقعه په لاس ورنشي بلكه ددې نه وړاندې ورته خاوند طلاق وركړي نونيم مهرواجبېږى. اوكه دفائدې پورته كولو موقعه ملاؤشي نوپوره مهرواجبېږى. په دې آيت كښې دې خبرې ته خصوصي مخه راګرځولې شوې ده چه كله ديوې بي بي نه خاوندفائده پورته كړه نودهغې مهرادا كول په هرشان سره واجب شوپه دې كښې كوتاهي كول داسلامي شريعت نه خلاف دې اوانساني غيرت هم داغواړي چه هركله چه دنكاح مقصدپوره شونودبي بي په حق كښې دكوتاهي او بې ځايه بهانې كول نۀ وى. البته بي بي ته ،شريعت داحق هم وركړې دې چه مهر وركول كه نغدمقررشوى وى نو د مهر ترلاسه كولوپورې هغه خاوندته دځښتيدونه او ورتلو څخه انكاركولې شي-

دمتعې حراموالې: د، استمتاع ، لفظ ماده[بنيادى تكى]م،ت،ع، دى چه معنى ئې فائده اخستل دى، دافائده موندل دبنده اودمال دواړونه كيدې شي-دعربي قواعدوله مخه ديوې كلمې په بنيادي تكوكښې، س، او، ت، چه زياتي كړې شي نودطلب اوموندلومعنى وركوي-ددې لغوى تحقيق په بنيادد﴿فَمَا اسْتَمْتَعْتُم﴾ښكاره مطلب دټول امت په نزد[چه دمشرانوپه پل تلى دى]هم هغه دې چه اوس مونږ پورته بيان كړوليكن يوه فرقه وائي چه دې نه اصطلاحي متعه مراده اودغه خلق دې آيت شريف لره دمتعې دحلالوالي دپاره دليل جوړوى، حالانكه ددوئى دغه مراد كړې متعه هغه ده چه دقرآن كريم دپورته تيرشوى آيت ﴿مُّحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ﴾نه ئې پوره ترديد كيږى-اوتشريح ئې راروانه ده-

ددغه فرقې ددعوې مطابق چه متعه حلاله ده، ددوى په اصطلاح كښې متعه داده چه يوسړې يوې ښځې لره دڅه رقم ياسامان په عوض كښې هغې نه دفائدې اغستودپاره خان ته كړى، نو ددې قسم متعې دې آيت سره هيڅ قسم تعلق نشته، صرف داشتقاقي مادې[م-ت-ع]په بنياد دغه فرقې ترددې مطلب اغستودعوى كړې ده چې ددې آيت مبارك څخه د حلت متعه ثبوت كيږى.

رومبئي خبره خوداده چه هركله بله معنى هم احتمال لرى[اګرچه زمونږ په نزدهغه تاكلې شوې ده]نوددې دثبوت به څه طريقه وى؟بله خبره داده چه قرآن كريم دحراموكړوښځوذكرپه دې شان فرمائيلې دې چه ددې نه علاوه، دخپلو أصولوپه ذريعه حلالې ښځې لټوئى، په داسې حال كښې چه اوبه بهيوونكى نۀ يئى، يعني صرف شهوت پوره كول مومومقصودنه وى اود ﴿مُّحْصِنِينَ﴾ قيدئې هم ورسره اولګولو، اچه دپاک لمنئ خيال لرونكى هم يئ[_____هركله چه متعه، يوخاص وخت اونيتي پورې كولې شي، لهذاپه دې كښې نۀ اولادحاصلول مقصوددى، نۀ كور، وور، آبادول دى، نه پاک لمنى اوخپل حفاظت كول دى، داشان كومې ښځې سره چه متعه اوكړې شى نوهغې لره فريق مخالف وارثه ښځه هم نۀ ګرځوى، اودخپلواصلي بيبيانوپه شمير كښې نشى راوستې او هر كله چه مقصدئې صرف شهوت پوره كول وى، څكه سړې اوښځه په عارضي ډول خان له د نوئ جوړولتهون پسې وى، هركله چه دائې صورت دې نومتعه دپاک لمنئ اودخان دمحفوظه كولوضمانت نۀ وركوى بلكه دادَ دې دشمنه ده-

Scanned with Ca

دَهدائي دَصاحب، امام مالک رحمه الله ته دَمتعي دَرواوالی دَقائل کیدونسبت کول څکه غلط دی چه دَهدائي شارح اونوررولويولويو فقهاؤ داپه ډاګه وئيلی دی چه صاحب دَهدائي نه په دې باره کښې تسامح او چشم پوشي[اَخان آساني]اشوې ده(1)

بياهم څنې خلق دعوی لری چه حضرت ابن عباس رضي الله عنه ترآخره پورې متعه حلاله بلله ليکن داسې څکه نهٔ ده چه امام ترمذی رحمه الله په ،،باب ماجاء فی نکاح المتعة(2)،،دوه احادیث داشان نقل کړيدی: ﴿عن علی بن ابی طالب ان النبی ﷺ نهی عن متعة النساء وعن لحوم الحمر الاهلية زمن خيبر﴾

دَحضرت علی رضي الله عنه نه روايت دې چه رسول الله ﷺ دَغزوهٔ خیبرپه موقعه، ښځو سره دَمُتعې کولو اودَ کورنو خرونو دَغوښې خوړلونه ئې منع فرمائيلې ده

دَحضرت علی رضي الله عنه داحديث بخاری اومسلم هم نقل کړيدې(3)-

④ دَامام ترمذی دويم نقل کړې حديث دادې:

﴿عن ابن عباس رضي الله عنه قال انما كانت المتعة فی اول الاسلام حتی اذانزلت الاية الا علی ازواجهم اوماملكت ايمانهم قال ابن عباس رضي الله عنه فكل فرج سواهما فهوحرام﴾(4)

[دَحضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دې فرمائی چه دَاسلام په شروع کښې متعه رواوه تردې چه آيت ،،﴿اَوْمَامَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ﴾نازل شونوهغه منسوخ شوه، بياحضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائيلی دی چه شرعی بی بی اوشرعی وينځې نه علاوه دَهرقسم شرمګاه نه فائده اغستل حرام دی-

دلته دومره خبره ضرورشته چه په اول کښې حضرت ابن عباس رضي الله عنه څه زمانې پورې مُتعه رواګڼرله خودَصحيح مُسلم جلد ۱ ص ۴۵۲ مطابق حضرت علی رضي الله عنه بوهـ کړواودَترمذی دپورته ذکرکړی روايت په مطابق دآيت شريف ،،﴿اِلَّا عَلٰٓی اَزْوَاجِهِمْ اَوْمَامَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ﴾نه دَخبرداره کيدوپه وجه ئې دې نه رجوع اوکړه-

څومره عجيبه خبره ده چه دَمُتعې دَحلالوالی دعويدارخلق[شيعه]په دې باره کښې دَهغه حضرت علی رضي الله عنه هم مخالفت کوی دَچاچه دوئی دَمحبت اوفرمانبرداره کيدودعويداردی ﴿وَسَيَعْلَمُ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْٓا اَيَّ مُنْقَلَبٍ يَّنْقَلِبُوْنَ﴾

صاحب دَروح المعانی دَقاضی عياض نه نقل کړی دی چه دَخيبردَغزانه وړاندې متعه حلاله وه، بياپه غزوهٔ خيبرکښې حرامه کړې شوه، بياصرف دَفتح مکه په ورځ حلاله کړې شوه اودرې ورځې پس، هميشه دَپاره حرامه کړې شوه(5)-

دا رنګه خبرهم د غور کولو وړ ده چې د الله جل جلاله دا فرمان ﴿وَالَّذِيْنَ هُمْ لِفُرُوْجِهِمْ حٰفِظُوْنَ ۝ اِلَّا عَلٰٓی اَزْوَاجِهِمْ اَوْ مَا مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ فَاِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُوْمِيْنَ ۝﴾يوداسې واضح قرآنی ارشاددې چه دَهيڅ تاويل ځائې پکښې نشته، چنانچه دې نه دَمُتعې حراموالې صفاښکاره دې اودَدې په مقابله کښې په شاذو قراتونو تکيه کول قطعاغلط دی-

---

1) فتح القدير، كتاب النكاح، فصل فی بيان المحرمات: ج۶، ص۲۲۷
2) جامع الترمذی، كتاب النكاح، باب ما جاء فی نكاح المتعة: ج۱، ص۲۳
3) صحيح مسلم: ج۱، ص۴۵۲
4) جامع الترمذی، كتاب النكاح، باب ما جاء فی نكاح المتعة: ج۱، ص۲۳
5) روح المعانی تحت هٰذه الآية: ج۵، ص۲۰۵

Scanned with Ca

لکه څنګه چې مخکښې عرض اوکړې شو چې د ﴿اسْتَمْتَعْتُمْ﴾ نه د اصطلاحي متعه مراد اخستلو څه قطعي دليل نشته دې، هغه محض يو احتمال دې. دا احتمال د ﴿إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ﴾ مضمون د قطعي الدلالة مضمون هيڅ کله معارض نشي کيدې. فرض کړه که دواړه دليلونه په قوت کښې هم برابروی نو دابه وئيلې شي چه دواړه دليلونه په حلت او حرمت کښې متعارض نه دی. او فرض کړه که تعارض اومنلې شي نو بيا هم عقل سليم تقاضا داده چې محرم ته په مبيح باندې ترجيح پکار ده.

مسئله: د متعې د نکاح پشان، وختي نکاح هم حرام اوباطل دې، وختي نکاح دې ته وائي چه تريو مقرر وخته پورې نکاح اوکړې شي-اوددې دواړو ترمنځه فرق دادې چه په متعه کښې، د متعې، لفظ وئيلې شي اومؤقت[وختي]نکاح د، نکاح په لفظ سره کيږي-

قوله تعالى: ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا تَرَاضَيْتُم بِهِ مِن بَعْدِ الْفَرِيضَةِ﴾ددې مطلب دادې چه هر کله ښځه خاوند خپل منځ کښې مهراوټاکی اومقدارئې مقرر کړی نوبيا هم دايوداسې ټاکلې څيزنه دې ګنړل پکار چه څه کمې زياتې پکښې نشی کيدې بلکه خاوند پکښې په خپله خوښه زياتې کولې شی اوښځه ئې پکښې په خپله خوښه کمې هم کولې شی اوسراسرئې معاف کولې هم شی اوکه د الفاظو عموم ته اوګورونو داخبره ترهم معلوميږی چه که د مهراداکول سمدستی مقررشوی وونود هغې په ځائې داسې هم کيدې شی چه ښځه په خپلې خوښې څه ډيل سره ئې اغستل مقرر کړی اوپه دې کښې به څه ګناه هم نه وی-

قوله تعالى: ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾دآيت په ختميدوداجُملہ هم زياته شوه په دې کښې يوه داخبره اوښودلې شوه چه الله تعالى د هرڅه نه خبردې، که ددې حکمونو څوک خلاف اوکړی اوقاضی، حاکم يابل انسان پرې اګرچه خبرنشی بياهم الله تعالى خوپه ټول هرڅه خبردې-په هرحال کښې هغه نه ويره کول پکاردی

اوبله داخبره اوښودلې شوه چې زمونږ ټول احکام په حکمت باندې اډانره دی-حکمت هغه باريکه خبره ده چه هرڅوک پرې نشی پوهيدلې، چې هر کس په پوهه کښې نه راځی ، د حراموالی اوحلالوالی کوم حکمونه چه په آيتونو کښې ذکرشوی دی د هغې علت که د چاپه پوهه کښې راځی اوکنه راځی نوپه هرحال کښې ئې منل لازم دی، ځکه چه که مونږ ته ئې علت معلوم نه وی، نود صاحب حُکم ، يعنی الله تعالى ته خومعلوم دی چه عليم اوحکيم دې

ددې زمانې ډير ليك لوستونکی خلق او جاهلان د الله ﷻ د حکمونو علتونه تلاش کوی ، که دوی ته څه علت په ګوتو ورنشی نو معاذ الله دوی د الله ﷻ هغه حکم نامناسب ګنړی او يا وائی چې دا د نوی دور د تقاضو مطابق نه دې ، دې الفاظو سره دداسې خلقو خله بنده کړې شوه او وئيلې شوی دی چې تاسو نادان يې او الله ﷻ د علم خاوند دې ، تاسو ناپوهه يې او الله ﷻ حکيم ذات دې ، خپلې پوهې لره د حقانيت معيار مه جوړوئی ، والله اعلم وعلمه اتم واحکم

Scanned with Ca

وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ

| او هغه څوك | چي طاقت نه لري |په تاسو كښي | دمال | چي نكاح اوكړي

او صاحب د حكمت دي |اوپه تاسو كښي چي څوك دا طاقت نه لري چي هغه

الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ

د اصيلو |مومناتو ښځو سره| نو دهغه وينځوسره دې نكاح اوكړي |چي مالكان شوي وي ښي لاسونه ستاسو

اصيلې مسلمانې ښځې سره نكاح اوكړي |نوهغه مسلمانو ښځو سره دې نكاح اوكړي چې تاسو ئې مالكان ئې

مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ۭ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ۭ بَعْضُكُمْ

دهغه وينځو ستاسو نه| چي مومنانې وي | او الله | ښهٔ عالم دې | په ايمانونو ستاسو |بعضې ستاسو

..........الله ﷻ ته ستاسو د ايمان حال ډيرښهٔ معلوم دې |كيديشي وينځه د اصيلې نه ښهٔ مسلمانه وي| تاسو ټول

مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ

دبعضو نه دي|نوپه نكاح واخلئ هغوئ |په اجازت |دسر پرستانو دهغوئ | اوور كړئ هغوئ ته | مهرونه دهغوئ

يوشان يئ نوهغوئ سره دمالكانوپه اجازت نكاح اوكړئ| اودرواج مطابق ورته مهرونه هم وركړئ

بِالْمَعْرُوْفِ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ

درواج مطابق| چي پاتې شي په قلعه دنكاح كښې| او نهٔ وي زنا كارې | اونهٔ وي نيونكي دپټو يارانو

اچي هغوئ دنكاح په قلعه كښې محفوظې شي| او په ښكاره بدكاري نه كوي|اونه پټ پټ ياران نيسي

فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ

بياهر كله چي|راشي په قلعه دنكاح كښې |نوكه راتلل اوكړل هغوئ |په بدكارئ سره|نومقرر ده هغوئ دپاره| نيمه

نوهر كله چي هغوئ په نكاح سره محفوظې شي| اودې نه پس بدكاري اوكړي |نوهغوئ ته د اصيلې

مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ۭ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ۭ

دهغې |چي ده په اصيلو ښځو باندې|د سزا نه | داحكم |دپاره دهغه چا دي|چي يريږي|دماتيدودحد نه| تاسو نه

په نسبت نيمه سزا وركړئ | ....دا آساني هغه چادپاره ده چې هغه سره د زنا ويره وي

وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ۭ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٢٥﴾ ع

اوكه صبراوكړئ تاسو| دا غوره ده | ستاسو دپاره | او الله | ښنونكې| مهربان دې |

اوكه تاسو صبر اوكړئ |نودا ستاسو دپاره ډيربهتره ده| اوالله ﷻ ښنونكې مهربان دې |

آسان ترجمه قرآن: او په تاسو كښې چه كوم خلق ددې طاقت نه لري چه د آزادو مسلمانانو ښځوسره نكاح وكړي نوهغوی په هغه مسلمانانو وينځو دچا سره نكاح كولې شي چه ستاسو په ملكيت كښې دي او الله ته ستاسو د ايمان پوره حالت معلوم دې تاسو ټول په خپلو كښې يو شان يئ نو دې وينځوسره ددوی د مالكانو په اجازت باندې نكاح وكړئ . او دوی ته د قاعدې مطابق مهر وركړئ په دې شرط چه دوی سره د نكاح رښتيا قايمه كړئ نو دوی لره پاكدامنې جوړې كړئ . نه دې هغوی د شهوت پوره كولودپاره څه (ناجائز) كار وكړي اونه دې په پټه ناجائزه اشنايان پيدا كړي بيا چه كله هغوی د نكاح په حفاظت كښې

Scanned with Ca

راشي او دې نه وروستو څه لويه بې حيائي (يعنې زنا) وکړي نو دوی باندې به دهغې سزا نه نيمه سزا وي چه (زنا واده کړې) آزادو ښځو لره مقرر ده دا ټول (يعنې د وينځو سره نکاح کول) په تاسو کښې دهغه چا دپاره دي چه هغوی ته (دنکاح نه کولو په صورت کښې) گناه کښې د مبتلا کيدو خطره وي او که تاسو صبر وکړئ نو دا تاسو دپاره ډيره بهتره ده او الله ډير بخونکې، مهربانه دې.

ربط: مخکښې نه د نکاح بيان راروان دې. په دې وجه ددې په باب کښې شرعی وينځو سره د نکاح کولو ذکر شروع شو. او بيا هم ددې متعلق د حد حکم بيان کړې شو چې د وينځې او غلام حد د آزادې سړی او ښځې څخه مختلف وی.

خلاصه تفسير

﴿ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمْ طَوْلًا اَنْ يَّنْكِحَ الْمُحْصَنٰتِ الْمُؤْمِنٰتِ ﴾ او څوك چه په تاسو کښې پوره قدرت او گنجائش نه لری آزادو مسلمانانو ښځو سره دنکاح کولو ﴿ فَمِنْ مَّا مَلَكَتْ اَيْمَانُكُمْ مِّنْ فَتَيٰتِكُمُ الْمُؤْمِنٰتِ ﴾ نو هغوئ دې دخپل مينځ [دخلقو] دمسلمانانو وينځو نه چه ستاسو دخلقو [دشريعت له مخه] په ملکيت کښې دی نکاح دے اوکړی [ولے چه داکثرو وينځو مهروغيره کم وی او غريب ته ئې په واده کولو کښې څه شرم هم نه وی] ﴿ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِيْمَانِكُمْ ۚ بَعْضُكُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ ﴾ او [دوينځے سره په نکاح کولو کښې دے شرم نه کوی ولے چه کيدیشی چه په دينی لحاظ هم هغه دتاسو نه زياته غوره وی ځکه چه غوره والے د دين په ايمان باندې اړه لری او] ستاسو دايمان پوره حالت يواځې الله تعالى ته معلوم دے [چه په دې کښې څوك زيات لوړ ا وڅوك زيات ښکته دې ځکه چه دا زړه سره تعلق لری او پوره خبرئے يواځې الله تعالى دې او ددنيا له مخه دشرم نه زياته وجه دنسب بيلتون دې نو په دې کښې په اصل بنياد حضرت آدم ﷺ] کښې دشريکيدو په [اعتبار سره] تاسو ټول په خپل مينځ کښې برابريئ [نودشرم کولو څه وجه ده] نو [هر کله چه دنيشتوالی دشرم وجه معلوم شوه نو د ذکر شوی ضرورت په وخت] ﴿ فَانْكِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ ﴾ دوی سره نکاح کوئی [خو شرط داهم دے چه] ددوی د مالکانو په اجازت سره [دوی] ﴿ وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ﴾ اوددوی [مالکان] ته ددوی مهر د [شرعی] قاعدې موافق ورکوئی [اودامهر ورکول] ﴿ مُحْصَنٰتٍ غَيْرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخْدَانٍ ۚ ﴾ په دې سے شان سره [دعوی] چه دوی نکاح شوې ښځې جوړے کړې شی نه خو په ښکاره بدکاری کوونکې وی او نه په پټه آشنائی کوونکې وی [يعنې دغه مهر دے دنکاح په مقابله کښې وی دزنا د اجرت ورکولو په دول به حلال نه وی] ﴿ فَاِذَآ اُحْصِنَّ فَاِنْ اَتَيْنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَيْهِنَّ نِصْفُ مَا عَلَى الْمُحْصَنٰتِ مِنَ الْعَذَابِ ۚ ﴾ بياکله چه دغه وينځے په نکاح کښې راوستې جوړے کړی شی نو که چرې هغوی د ډيرے بےحيايئ کار [يعنی زنا] اوکړی نو [پس دثبوت نه په شرط ددې چه مسلمانے وی] پدوی به ددې سزانه نيمه سزا [جاری] کيږی چه [په ناواده شوو] آزادو ښځو باندې وی [څنگه چه نکاح نه روميبے هم دوينځو هم دغه سزا وه اودغه شان دغلامانو هم] ﴿ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ الْعَنَتَ مِنْكُمْ ۚ ﴾ دا [وينځو سر نکاح کول] هغه چا دپاره [مناسب] دی چه په تاسو کښې [دشهوت دغلبے په وجه اوپه دې وجه چه آزاده بی بی ورته په لاس نشی راتلے] زنا [کښې اخته کيدو] انديښنه لری او څوك چه انديښنه نه لری هغه لره مناسب نه دی] ﴿ وَاَنْ تَصْبِرُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ ﴾ او [که ددې انديښنے په حالت کښې هم په خپل نفس باندې قادر وی نو] ستاسو زغم کول زيات غوره دی [وينځے سره

د نکاح کولو په نسبت] او [دا شان] ﴿وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ الله ﷻ لوئي بخښونکي دي [که دمکروهوالی په صورت کښې ئے هم نکاح اوکړو نو مونږ به يئ ګرفت نه کوو] او لوئي درحمت خاوند دے [چه دحراموالو حکم ئے اونکړو].

معارف اومسائل

﴿طَوْلًا﴾ مالداری اوقدرت ته وئیلې شي، دآیت مطلب دادې چه څوک آزادو ښځوسره دَنکاح کولو قدرت نۀ لري، یاورسره دَدې سامان نۀ وي نو مؤمنانو وينځوسره نکاح کول پکاردي، دينه معلومه شوه چې څومره پورې ممکنه وي نو آزادې ښځې سره دې نکاح اوکړې وينځې سره دنکاح نه کوي اوکه وينځې سره نکاح کول راپيښ شي نو مؤمنه وينځه دلټوي. دَحضرت امام ابوحنيفه رحمه الله هم دامذهب دې چه آزادو ښځوسره دَنکاح دقُدرت لرلوباوجَود وينځې سره نکاح کول یاکتابی وينځې سره نکاح کول مکروه دي۔

اودَحضرت امام شافعي رحمه الله اودَنوروامامانو رحمهم الله په نزد آزادو ښځوسره دَنکاح کولو دقُدرت لرلوباوجودو وينځې سره نکاح کول حرام دي، اوکتابي وينځې سره نکاح کول مطلقاروانۀ دي(۱)۔

په هرحال وينځې سره دَنکاح کولونه ځان ساتل، آزادسړي دپاره په هرحال کښې غوره دي اوکه مجبوراکول وي نو مؤمنې وينځې سره دکوي۔ وجه ئې داده چه دَوينځې نه پيدا کيدونکې اولادبه دهغه چاغلام یاوينځه وي چه ددغې وينځې مالک وي اوغيرمؤمنې وينځې نه چه کوم اولاد پيدا کيږي چه هغه به دَمورپه طريقه بِل څه دين اختيارکړي لهذا اولادلره دَغلامئي نه بچ کولو اومُؤمن جوړولودپاره داضروری دی چه دبچومورد آزاده وي اوکه وينځه وي نوکم ناکم مُؤمنه خو ضرور وي چه دماشوم ايمان په حفاظت کښې پاتې شي، څکه علماء کرامو فرمائيلي دي چه کتابیَ ښځه که آزاده وِي هغې سره اګرچه نکاح کول درست دي، بیاهم ترځان ساتل زيات غوره دي اوپه دې دَورکښې دَدې اهميت ډيرزيات دې ولې چه دَيهودونصاراوٚښځې عموما مسلمانانوسره په دې وجه نکاح کوي چه خپل خاوندا ودَخاوند انو اولادخپل دين ته راواړولې شي۔

بیائې اوفرمائيل: ﴿وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِاِیْمَانِکُمْ ؕ بَعْضُکُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ﴾ [الله تعالی لره ستاسو دَايمانونو پُوره علم دې، ايمان دَغوره والی وجه ده، کله کله وينځه اوغلام په ايمانی مرتبه کښې دآزادنارينه اوزنانه نه زيات وي، په دې وجه مومنې وينځې سره نکاح کولونه کرکه مۀ کوئ بلکه دَدې دايمان قدراوکړئ۔

په آخره کښې ئې اوئيل: ﴿بَعْضُکُمْ مِّنْۢ بَعْضٍ ۚ﴾ [آزادا وغُلام دَيو جنس [بنيادمونه انسانان] دی اوټول هم دَيو کَس [حضرت آدم علیه السلام] نه پيدا شوی دی غوروالې تقوی اوايمان سره اړه لری

﴿قال المظهري فهاتان الجملتان لتانيس الناس بنكاح الاماء ومنعهم عن الاستنكاف منهن﴾(۲) دې دواړو جُملو مطلب دادې چه دَوينځونکاح سره سمون پيدا کړئ، کرکه ترمه کوئ]۔

قوله تعالٰی: ﴿فَانْکِحُوْهُنَّ بِاِذْنِ اَهْلِهِنَّ وَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ [وينځوسره دَهغوئ دَمالکانو په اجازت نکاح کوئ که هغوئ اجازت ورنکړي نو دَوينځونکاح به صحيح نۀ وي]ـــــ ولې چه وينځه په خپل ځان هم اختيارنۀ لري اوداسې غُلام هم چه هغه بغير دَخپل آقا [مالک] داجازت نه بغير نکاح نشي کولې۔

۱) بدائع الصنائع، کتاب النکاح، فصل ومنها بأن لاتکون معتدة الغير: ج ۲، ص ۲۶۸

۲) تفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۸۱

Scanned with Ca

بیاني اوفرمائیل چه وینځوسره نکاح کوئ نو دهغوئ مهرپه ښه شان سره اداکوئ اخوادیخواتیل جت پکښې مه کوئ اوپوره ورته اداکوئ، دوینځې ګنړلوپه وجه ورته تکلیف مه ورکوئ۔ په دې لړکښې دامام مالک رحمه الله مذهب دادې چه مهر دوینځې حق دې، اونورامامان رحمهم الله فرمائي چه ځنګه ددې مالک آقادې دغه شان ددې دمهر [مال وغیره] مالک هم آقادې۔

قوله تعالی: ﴿مُحۡصَنٰتٍ غَیۡرَ مُسٰفِحٰتٍ وَّلَا مُتَّخِذٰتِ اَخۡدَانٍ﴾ [مؤمنانو وینځوسره نکاح کوئی په داسې حال کښې چه هغوئ پاک لمنې وی، نه مسافحات وی [چه په ښکاره زناکوی] اونه په پټه باندې آشنائی کوونکې وی، ګوچه دلته دوینځوپه باره کښې نې فرمائیلی دی چه نکاح دپاره پاک لمنې وینځې لټوئ، لیکن آزاده ښځه چه زناکاره وی دهغې دنکاح نه ځان ساتل هم زیات غوره اوبهتردی.

ځنګه چه آیت نه معلومه شوه چه اصیلې ښځې سره مودنکاح کولوقدرت نه وی نووینځې سره نکاح کوئی، دې نه داهم ثابته شوه چه متعه روانه ده، ولې که متعه رواوې نواصیلې سره دنکاح کولودقدرت نه لرلوپه صورت کښې بیادیوکس دپاره زیات آسان صورت دمتعې ؤوچه جنسی خواهش به ئې هم پرپوره کیدو اومالې بوج به ئې هم دنکاح په مقابله کښې ډیرکم کیدو داشان آیت کښې ﴿مُحۡصَنٰتٍ غَیۡرَ مُسٰفِحٰتٍ﴾ سره دوینځوصفت بیان کړې شوې دې اودمتعې په صورت کښې خوهم سفاح اوسفاح [زنا او زنا] وی، هغه داشان چه یوه ښځه په لړه موده کښې دګنړوسړوپه استعمال کښې راځی، اوبچې ئې هم چاته منسوب کولې نشی نودبچی خیړولوفائده ئې هم هیڅ نشوه اودټولوقوت صرف په شهوت پوره کولوکښې بربادیږی۔

بیاني اوفرمائیل: ﴿فَاِذَاۤ اُحۡصِنَّ فَاِنۡ اَتَیۡنَ بِفَاحِشَةٍ فَعَلَیۡهِنَّ نِصۡفُ مَا عَلَی الۡمُحۡصَنٰتِ مِنَ الۡعَذَابِ﴾ [هرکله چه وینځې موپه نکاح کښې راغلې اودهغودپاک لمنوپاتې کیدوانتظام اوشواوبیاهم زنااوکړی نوورته نیمه سزا به ورکولې شی دهغې سزا، چه اصیلوښځودپاره مقرره ده، دې نه ناواده کړې آزادې ښځې مراددی، ناواده اصیل سړی اواصیلې ښځې نه چه زناصادره شی نوسل دری سزابه ورکولې شی چه ذکرئې دسورة نورپه بل آیت کښې دې، البته دواده کړی اصیل سړی اوواده کړې اصیلې ښځې دپاره دزناکولوسزارجم دې چه په کانړوویشتلوسره ئې وژل دی، هرکله چه داسزا نیم کیدلې شی نوپه دې وجه د څلورو امامانو مذهب هم دغه دې چې د وینځې، غلام نه چه هرکله زناصادره شی نوچه واده کړی وی یانا واده کړې، په دواړوصورتونوکښې به ورته سزاپنځوس پنځوس دړې ورکولې شی، دوینځوحکم خوپه آیت شریف کښې ذکرکړې شویدې اودلالة النص په ډول دغلام مسئله هم ددې نه معلومه شوه.

﴿ذٰلِکَ لِمَنۡ خَشِیَ الۡعَنَتَ مِنۡکُمۡ﴾ [وینځوسره دنکاح کولواجازت هغه سړی ته دې چه په زناکښې داخته کیدواندیښنه لری.

﴿وَاَنۡ تَصۡبِرُوۡا خَیۡرٌ لَّکُمۡ﴾ [که دزنادآندیښنې لرلوباوجودهم صبراوکړئ اوخپل ځانونه پاک دامنه اولرلې شئ نوداستاسودپاره ددې خبرې نه غوره ده] چه وینځوسره نکاح اوکړئ۔

دآیت په ختمولوئې اوفرمائیل ﴿وَاللّٰهُ غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ﴾ [وینځو سره نکاح کول مکروه دی، که په دې مکروهوالی موعمل اوکړو، نوبیا به موهم الله تعالی معاف کړی اوهغه درحم خاوندهم دئې ولې چه وینځوسره ئې دنکاح کولواجازت ورکړې دې اوبند کړی ئې نه دې۔

فائده: دپورتنی آیت په تفسیر کښې چه دغلام اووینځې ذکرراغلې دې دهغې نه شرعی غلام اووینځه مراددی چه کافران سړی اوښځې به دجهادپه وخت بندیوان کړې شواوامیر المؤمنین به

Scanned with Ca

په مجاهدينو کښې تقسيمول، دغه بنديان به وينځې غُلامان جوړشو، اودَهغوئ راتلونکې نسل به هم وينځې غلامان وُو[سوادَيوخوصورتونونه]چه تفصيل ئې دَفقهې په کتابونوکښې موجوددي، کله نه چه مسلمانانوجهادکول پريښې دي اودَخپل جهاداوصُلح اِدارهٔ ئې دَدين دَدشمنانوپه اشارو باندې اودرولې ده اودَغيرشرعي أصولوپابندشوي دي دَهغې راسې دَوينځو، غلامانونه بې نصيبه شوي دي، اوسني دکورونونوکران، خادمان، وينځې غُلامان ځکه نهٔ دي چه دا آزاددي. په څنې علاقوکښې خلق، ماشومانِ خرڅوي اوغُلامان ئې جوړوي ،داسوده او سوچه حرام دي، اوپه داسې کولوسره هغوئي وينځې غُلامان نشي جوړيدې.

يُرِيۡدُ اللّٰهُ
| غواړي | الله
| الله دا غواړي

لِيُبَيِّنَ لَكُمۡ وَيَهۡدِيَكُمۡ سُنَنَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِكُمۡ
چې اوښائي تاسو ته طريقې | اوروان کړي تاسو | په طريقو| دهغه نيکانو خلقو| چې مخکښې ستاسونه وو
چې تاسوته خپل حکمونه بيان کړي| اوپه هغه لار مو روان کړي چې ستاسونه مخکښې خلق ئې پرې روان کړي وو

وَيَتُوۡبَ عَلَيۡكُمۡ ط وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ﴿۲۶﴾ وَاللّٰهُ يُرِيۡدُ اَنۡ
اوقبولوالې د توبې اوکړي |په تاسو | اوالله | بنهٔ پوهه |اودحکمت خاوند دې |او الله اراده لري | چې
اوتاسوته خپل رحمت متوجه کړي| اوالله ﷻ په هرڅه پوهه اوصاحب د حکمت دې |اوالله پاک غواړي

يَّتُوۡبَ عَلَيۡكُمۡ قف وَيُرِيۡدُ الَّذِيۡنَ يَتَّبِعُوۡنَ الشَّهَوٰتِ
رجوع اوکړي په رحمت سره| په تاسو باندې| اواراده لري|هغه کسان | چې تابعداري کوي | دخواهشانو
چې تاسوته خپل رحمتونه راؤګرزوي | اوځوک چې په خپلوخواهشاتوپسې ګرځي

اَنۡ تَمِيۡلُوۡا مَيۡلًا عَظِيۡمًا ﴿۲۷﴾ يُرِيۡدُ اللّٰهُ اَنۡ يُّخَفِّفَ عَنۡكُمۡ ج
چې کاږه شئ تاسو | په کږيدلو| لويو سره| غواړي الله | چې سپکوالې اوکړي |په تاسو |
هغوئ داغواړي چې تاسودسمې لارې نه ډيرلرې کړي| اوالله ﷻ داغواړي چې په تاسوباندې سپکوالې اوکړي

وَخُلِقَ الۡاِنۡسَانُ ضَعِيۡفًا ﴿۲۸﴾
او پيدا کړې شوې دې | انسان | کمزورې |
[ځکه چې] انسان کمزورئ پيداشوې دې |

آسان ترجمه قرآن: الله تعالي غواړي چه تاسو ته د (احکامو) وضاحت وکړي او کوم (نيکان) خلق چه تاسو نه مخکښې تير شوې دي ، تاسود هغوی په لاره راولي ، او په تاسو (رحمت سره) توجه وکړي او الله په هره خبره پوهيږي هم، حکمت والا هم دې الله غواړي چه تاسو طرف ته توجه وکړي ، او کوم خلق چه د نفس خواهشاتو پسې روان دي هغوی غواړي چه تاسو د صحيح لارې نه لرې واړوئ الله غواړي چه تاسوسره دآسانۍ معامله وکړی او انسان کمزورې پيداشوې دې.

Scanned with Ca

د آیتونو ربط: ددې څخه مخکښې آیتونو کښې د احکامو تفصیل بیان شو. دې آیتونو مبارکو کښې الله ﷻ خپل انعام او اکرام فرمائی. اودا چې ددې احکامو په مشروعیت کښې ستاسو د منافعې او مصلحت رعایت کړې شو ېدې اګر چې تاسو ددې په تفصیل باندې پوهه نشئ بیا دې سره سره په دې احکامو باندې د عمل کولو ترغیب دې. او د ګمراهانو په ناپاکو ارادو باندې هم خبردارې ورکړې شوې دې. [اودا فرمائیلې شوی دی چې] دا خلق ستاسو خیرخواه نه دی. او دوئ تاسو لره د نیغې لارې څخه اړول غواړی.

خلاصه تفسیر

﴿يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ﴾ الله تعالی ته [پدغه ذکر کړو مضامینوبیانولو کښې اودا شان په نورو مضامینو کښې دخپلې هیڅ څه نفعې غرض نشته ولې چه دا دعقل دوجې محال اوناممکن دی بلکه تاسوته دفائدې رسولو په غرض] دا منظور دی چه [دحکمونو په آیتونوکښې خو] تاسوته [ستاسو دښیګړې جکمونه] بیان کړی ﴿ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ ﴾ او [دقیصو په آیتونوکښې] ستاسونه مخکښې خلقو احوال تاسوته اوښائی [په دې غرض چه ستاسو ددې تابعدارئی شوق پیداشی اودهغې دمخالفت کولونه مو ویره وی] ﴿ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ﴾ او [دشریک مقصود خلاصه داده چه] په تاسو [رحمت سره] توجه اوکړی [اودغه توجه هم دا بیانول اوخودل دی چه سراسر پکښې هم دبندګانو نفع ده څنګه چه ذکر شو] ﴿ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴾ اوالله تعالی دلوئې علم خاوند دې [چه دبندګانو په ښیګړو پوهیږی] الوئې دحکمت خاونددې [چه بې دواجبیدو نه ددې ښیګړو لحاظ ساتی] ﴿ وَاللَّهُ يُرِيدُ أَن يَتُوبَ عَلَيْكُمْ ﴾ اوالله تعالی ته خو احکامو او قیصو بیانولو سره [څنګه چه اوس ذکر شو] ستاسو په حال باندې [رحمت سره] توجه کول منظور دی ﴿ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ ﴾ او کوم خلق [چه دکفارو او فاجرانو نه] شهوت پرست دی هغوی داسې غواړی ﴿ أَن تَمِيلُوا مَيْلًا عَظِيمًا ﴾ چه تاسو [دسمې لارې نه] په ډیر غټ کوږوالی کښې پریوځئ [اوهم دهغوی پشان شئ خکه چه هغوی به خپل خراب خیالات دمسلمانانو په غوږونو کښې اچول او څنګه چه په احکامو کښې ستاسو په ښیګړه نظر لری دغه شان ستاسو په آسانئ هم نظر لری لکه ارشاد دې چه] ﴿ يُرِيدُ اللَّهُ أَن يُخَفِّفَ عَنكُمْ ﴾ الله تعالی ته [په احکامو کښې] تاسو سره تخفیف کول [یعنی آسانی کول هم] منظور دی ﴿ وَخُلِقَ الْإِنسَانُ ضَعِيفًا ﴾ او [وجه ددې داده چه] انسان [په دې وجه نسبت دنورو مکلفینو په بدن او همت دواړوکښې] کمزورې پیدا کړې شوې دې [په دې وجه دهغه دکمزورتیا په مناسب احکام مقرر کړی دی ورنه ښیګړې دلحاظ ساتلو په اعتبار سره دسختو عملونو تجویز کول هم څه بدوالی نه لرلو مګر مونږ د دواړو خبر په جمع لحاظ اوساتلو اودا په لوئې علم حکمت اوهم دغه شان په رحمت او شفقت موقوف دی].

معارف او مسائل

﴿يُرِيدُ اللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ﴾ دنکاح د ډیرو احکامو بیانولونه پس نې په دې آیتونو کښې دا اوښودل چه الله تعالی، ښه په واضح ډول تاسوته احکام ښائی اودانبیائې کرامو اولوړو صالحانو لارې درته هم ښائی چه وړاندې تیرشویدی، تاسو دامه ګنړئ چه دحرامو او حلالو تفصیلات یواځې هم زمونږ دپاره دی بلکه تاسونه وړاندې چه کوم امتونه تیرشویدی هغوئی ته هم داسې احکام

Scanned with Ca

ښودلې شوی وو، چاچه عمل اوکړواودالله تعالی په دربارکښې دهغه نزديکان شو-

څوک چه دنفساني شهوتونوتابعدار دی، يعنی زناکارخلق اودباطلومذهبونوخاوندان چه دچاپه نزدحلال اوحرام هيڅ څيزنۀ وی، هغوئی تاسوهم دحق لارې نه اړوی اوخپلوباطلوارادوته ستاسومخ درګرځوی، تاسوهغوئی نه هوښياراوسئ، ځنې مذهبونوکښې خپلومحرموښځوسره هم نکاح کول درست دی اوډيرزيات بې دينه خلق په دې دورکښې دنکاح دختمولوپه حق کښې دی، اوځنوملکونوکښې داخبرې هم کيږی چه ښځې يومشترک [شريک]سامان دې، چنانچه داخبرې هغه څوک کوی چه سراسر دنفس بندګان اودخواهشاتوغلامان دی، ځنې دکمزوری ايمان خاوندان چه داسلام کلمه وائی اودې بيدينوخلقوسره کښينی پاسی، چه ددوئی په خبرو کښې راشی نوخيالات ئې دومره بدل شی چه خپل دين ته زاره اوسوليدلی خيالات وائی او د دشمنانو خبرې دانسانيت ترقی ګڼړی اودناپوهئی له کبله په دې کچه خيال کښې راګيرشی، چه څنګه دغه خلق دنوی نظرياتومرستيالان دی، کاش چه زمونږ دين هم ددې اجازت ورکولې، العياذ بالله. الله تعالی خبردارې ورکړې دې چه تاسودداسې بداصله انسانانودنظرياتونه خپل ځانونه لرې ساتئ-

بيائې اوفرمائيل ﴿يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ يُّخَفِّفَ عَنْكُمْ﴾ [الله تعالی ستاسودپيتی سپکول اودرته آسان احکام راليږل غواړی، ستاسودتکليفونولرې کولوپه غرض ئې داسې نرم احکامودرکړل چه ټول پرعمل کولې شی، اوکه آزادوښځوسره مودنکاح کولوطاقت نۀ وی نودرته ئې وينځوسره دنکاح کولو اجازت درکړې دې-دمهرمعامله سرته درسولودپاره ئې اختياردرکړو، دضرورت په موقعه ئې درته دېونه زياتوښځوسره دنکاح کولواجازت درکړو خوشرط دادې چه بې انصافی تر نه کيږی.

بيائې اوفرمائيل ﴿وَخُلِقَ الْاِنْسَانُ ضَعِيْفًا﴾ [انسان په پيدائشی ډول کمزورې دې] اوپکښې ئې شهوتی ماده ايښې ده، که بيخی دښځونه دلرې پاتې کيدوحکم ورکړې شوې وې نودتابعدارئی اوفرمانبردارئ کولونه به ئې پاتې راغلې وو-دده عاجزئ اوکمزورئ ته ئې چه اوکتل نويواځې ئې ښځوسره دنکاح کولواجازت ورنکړوبلکه دې دپاره ئې ورله مينه رابيداره کړه اودنکاح نه پس خپل منځ کښې يوبل ته دنفس اونظردپاکيزګئ نفع اونورې فائدې چه حاصليږی، دې سره دواړه مخيزه مظبوطتيارسی، پس نکاح دکمزورئی لرې کولودپاره خپل منځ کښې لوظ، قول کول اويوبې مثاله طريقه ده-

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

| اې هغه کسانو | چې ايمان مو راوړې دې |

| .... اې دايمان خاوندانو

لَا تَاْكُلُوْۤا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ اِلَّاۤ اَنْ تَكُوْنَ

مۀ خورئ تاسو | مالونه ديوبل | په خپل منځ کښی | په ناجائزه طريقه | ما سوا ددې نه | چې وی |

خپل مينځ کښې ديوبل مالونه په ناجائزه طريقه مه خورئ | ....خوکه

تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ ۟ وَلَا تَقْتُلُوْۤا اَنْفُسَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

سوداګری | په رضامندئ سره | ستاسو د طرفه | اومۀ قتلوئ | خانونه خپل | بيشکه الله

سوداګری ستاسو په خپل مينځ کښې په رضا اوشی [نوخيردې] اوخپل خانونه هلاکت کښې مه اچوئ بيشکه الله

Scanned with Ca

كَانَ بِكُمْ	رَحِيمًا ۝	وَمَنْ يَّفْعَلْ	ذٰلِكَ	عُدْوَانًا	وَّظُلْمًا
دي په تاسو باندي	مهربانه	اوڅوک چي کوي	دغه کارونه	په زياتي سره	اوپه ظلم سره
په تاسو ډير مهربان دي	اوڅوک چي په ظلم زياتي داسي کارونه کوي				
فَسَوْفَ	نُصْلِيهِ	نَارًا ؕ	وَكَانَ ذٰلِكَ	عَلَى اللّٰهِ	يَسِيرًا ۝
نو زر به	داخل کړو مونږه هغه	اور ته	اودي دا کار	په الله باندي	آسان
نو مونږ به ئي د جهنم اور ته ورداخل کړو	اودا کار الله ﷻ ته ډير آسان دي				

آسان ترجمه قرآن: اې د ايمان خاوندانو اخپلو کښي د يو بل مال په ناحقه طريقه مه خورئ هنه که څه سوداګري خپل مينځ کښي په رضاء سره وي (نو دا جائز دي) او خپل ځانونه مه وژنئ او يقين وکړئ چه الله ډير مهربانه دي کوم يو کس چه دا کار د زياتي او ظلم په طور وکړي نو مونږ به ده لره په اور کښي داخل کړو او دا خبره الله تعالى لره ډيره آسانه ده.

د آيتونو ربط: د سورة نساء په شروع کښي ئي فرمائيلي وو چي ټول انسانان د يو پلار څخه پيدا شوي دي، او ټول د رورلئ په يوه رشته کښي تړلي شوي دي . او دي کښي ئي د عامو انسانانو د حقوقو دحفاظت او ددي د ادا کولو طرفته اشاره کړي شوي ده. بيا د يتيمانو او ښځو تفصيلي بيان تيرشو. بيا د ميراث احکام بيان شو. او دي لړ کښي د يتيمانانو . ښځو او ددي څخه علاوه درشته دارانو د حقوقو او احکامو تاکيد بيان کړي شو. بيا دي څخه روستو د نکاح احکام راغلل چي کومي ښځي سره نکاح کول حلاله ده . کومي سره حرامه ده . ځکه چي نکاح يو داسي معامله او معاهده ده چي په دي کښي د يوي په مال او ځان کښي د تصرف حق چاته ملاويږي .

دي مذکوره آيتونو کښي د عامو انسانانو د مال او ځان د حفاظت او په دوئ کښي د هر ناجائزه تصرف کولو څخه ممانعت راغلي دي . که هغه انسان سړي وي او که ښځه وي. که رشته دار وي او که غير وي . تر دي که مسلمان وي او که کافر وي او هغه سره د ترك جنګ معاهده شوي وي . [کما صرح به المظهري][1]

خلاصه تفسير

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ ﴾ ائي دايمان خاوندانو خپل مينځ کښي ديو بل مال په ناحقه [په غير مباح] ډول سره مه خورئي [مه استعمالوئ] ﴿ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ ۫ ﴾ ليکن [که په مباح طريقے سره وی لکه] څه سوداګری وی چه خپل مينځ کښي په رضامندئی سره کيږی [په شرط ددي چه په کښي نورټول شرطونه هم شرعی وی] نو څه بديت نشته [دا خومالي دخل ورکول وو وريسے په ځان کښي ددخل ورکولو په باره کښي فرمائی] ﴿ وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيْمًا ۝ ﴾ اوتاسو يو بل وژنئی هم مه بيشکه الله تعالی په تاسو لوئي مهربان دے [ځکه ئے دزيان رسولو صورتونه منع کړل.خاص کر چه دااثر په کښي وی چه بل څوك به تاسو ضرور زيان او نقصان رسوی نو دا د الله ﷻ مهرباني ده چي تاسو ئي هم د

---

(١) تفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ٢، ص ٨٧

Scanned with Ca

زیان سزا نه او ساتلئ او هر کله چې وژل په دې دوارو خبرو کښې زیات سخت دی ځکه په دې باندې خاصکرزورنه ورکوی چه ﴿وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ عُدْوَانًا وَّظُلْمًا﴾ څوك دغسې كار [یعنی وژل] اوکړی په داسې شان چه [دشرعی] حدنه ورتیر شی او[دغه تیریدل هم خطائې فعل یا رائې د خطایئ دوجې نه نه وی بلکه] په داسې شان چه دې] ظلم اوکړی ﴿ فَسَوْفَ نُصْلِيْهِ نَارًا ﴾ نو زر دې چې مونږ به ده لره[دمرګ نه پس]د دوزخ په اورکښې داخل کړو﴿ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ﴾ اودا کار [یعنی داسې سزا ورکول] الله تعالی ته [بیخی] آسان دې [دې دپاره دځه داسې انتظام کولو ضرورت نشته اونه په کښې ددې احتمال څه ځائې شته چه کیدیشی که د غه انتظام اوسامان جمع کول نه وې نوسزا به ایساره شی].

معارف اومسائل

ځکه چه دبل مال په باطلې طریقې سره خوړل ناروادی دغسې خپل مال هم په باطلې طریقې سره لګول ناروادی په آیت کښې دَ ﴿أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ﴾ لفظ راغلې دې چه معنی ئې، خپل مینځ کښې خپل مال ، ده په دې کښې دمفسرینو رحمهم الله په اتفاق سره داخبره داخله ده چه هیڅوک ددبل مال په نارواطریقې سره نۀ خوری-ابوحیان په تفسیربحرمحیط کښې فرمائیلی دی چه دَدې په مفهوم کښې داهم داخل دی چه هیڅوک دخپل مال په ناروا طریقې سره نه خوری، مثلاً په داسې کارونوکښې خپل مالونه لګول هم دآیت له مخه ناروادی چه په شریعت کښې ګناه یابې ځایه اسراف وی(۱)- په آیت کښې د ﴿لَا تَأْكُلُوْا﴾ لفظ راغلی دې، معنی ئې داده چه ، مه خوری، مګر دعامې محاورې په اعتبارسره داده چه دَبل په مال کښې په ناحقه طریقه څه دخل مه ورکوئ، خواه دغه ئې خوړل څکل [چښل] وی یائې استعمالول وی، ولې چه په یوعام دستور کښې دَچاپه مال کښې هرقسم دخل ورکول، دَدې خوړل بللې شی، اګرچه خاص خوړل نه وی، دَ، باطل ترجمه ، ناحق، شوې ده-چه دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه اودَجمهورصحابه کرامو رضی الله عنهم په نزدهغې ټولوصورتونولره شامله ده چه دَشریعت له مخې بنداوناروا وی، چنانچه غلا، ډاکه غصب، خیانت، رشوت، سود، جواری [خمار] اوټولې خرابې معاملې پکښې داخلې دی. [بحرِ محیط](۲)

په باطله طریقه دَبل مال خوړلوتشریح اوتفصیل: قرآن کریم یولفظ ﴿بِالْبَاطِلِ﴾ اوفرمائیلواوپه ټولو ناروا طریقوسره ئې حاصل کړې مال حرام اوګرځولو، بیائې ددغه ناروا طریقوتفصیلات بیانول ئې دَرسول الله صلی الله علیه وسلم په حواله کړل اودَهغې مطابق هغوئی دَټولوناروامعاملاتوتفصیلات بیان کړل-

دې نه داهم معلومه شوه چه دَرسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثومبارکوکښې دَناروا، خریدوفروخت اوناروااجارې وغیره چه کوم تفصیلات بیان شوې دی، هغه په حقیقت کښې دَدې قرآنی حکم تشریح ده، ځکه دغه ټول احکام، په یوحیثیت سره دقرآنی احکاموشان لری، بلکه هغه ټول شرعی احکام هم داشان لری کوم چه دَرسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثوکښې ذکرشویدی، دهغه ټولو په عام ډول هم دغه حالت دې ، هغه به دَیوقرآنی اشارې تشریح وی، اګرچه مونږ ته دامعلوم نشی چه دا د فلانی آیت تشریح ده.

(۱) تفسیر البحر المحیط تحت هٰذه الآیة: ج ۳، ص ۲۰۸

(۲) تحت هٰذه الآیة: ج ۳، ص ۲۰۷

Scanned with Ca

دآیت شریف په ړمبی جمله کښې په ناحق او ناروا طریقو سره دچا په مال کښې دخل ورکول حرام ګرځولې شوی دی، په بله جُمله کښې دې نه استثناء اوشوه اوداسې ئې اوفرمائیل ﴿اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ ﴾ [یعنی دنورو هغه مال حرام نۀ دې چه دسوداګرئ په طریقه، خپل منځ کښې په رضا، صلاح سره حاصل شوې وی-

ددې نه علاوه دمال حاصلولو نورې روا طریقې هم شته، لکه څه وخت دپاره په سوال حاصلول [عاریت] هبه، بخشیش ورکول، خیرات، میراث وغیره شو ــــ مګر دبل دمال حاصلول عموماً دسوداګرئ په طریقې سره کیږی چه دا مشهور او جاری صورت دې

په عام ډول دتجارت معنی خرید وفروخت کولې شی خو تفسیر مظهری کښې، داجارې [دملازمت، مزدورئ او کرائې] معاملات هم په تجارت کښې داخلې بللې شویدی ولې چه خرید وفروخت سره دمال په بدل کښې مال حاصلولې شی او په اجاره وغیره کښې دمحنت اوخدمت په بدله کښې مال حاصلولې شي څکه دتجارت لفظ دې دواړو له شامل دې-

دآیت دمضمون خلاصه دا شوه چه دچا مال په ناحقه خوړل حرام دی خو په رضا سره دچا مال دخرید، فروخت، ملازمت او مزدورئ وغیره په روا ذریعه، که حاصل کړې شی نو مالکانه تصرف کول پکښې روا دی-

دژوند تیرولو په ذریعو کښې تجارت او محنت، دټولو نه زیات غوره دی: په جائز طریقو سره دبل چا دمال دحاصلولو صرف یو صُورت [دتجارت] په دې آیت کښې ذکر شویدې، ددې وجه دا ده چه دژوند تیرولو په ذریعو کښې دټولو نه زیاته غوره او زیاته پاکیزه ذریعه تجارت او محنت کول دی ــــ حضرت رافع بن حدیج رضی الله عنه فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه کومه یوه ګټه حلاله او پاکیزه ده؟ هغوئ ارشاد اوفرمائیلو ﴿عمل الرجل بیده وکل مبیع مبرور. رواه احمد والحاکم﴾ [مظهری و ترغیب وترهیب] ([1]) دلاس کار روزګار او هر ریشتینې خرید فروخت [چه] دروغ او ټګی پکښې نۀ وی]

دحضرت ابی سعید خدری رضی الله عنه په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ﴿ التاجر الصدوق الامین مع النبین والصدیقین والشهداء ﴾ [ترمذی] ([2]) رشتونې تاجر چه امانتګروی، هغه به پیغمبران، صدیقانو اوشهیدانو سره وی

دحضرت انس رضی الله عنه په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلی دی-

﴿التاجر الصدوق تحت ظل العرش یوم القیامة﴾ [رواه الاصبهانی ترغیب] ([3]) رشتینې تاجر به دقیامت په ورځ دعرش دسوری [سائې] لاندې وی-

دپاکیزه ګټې خاص شرطونه دحضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه په روایت رسول الله ﷺ اوفرمائیل: دټولو نه زیاته پاکیزه ګټه دسوداګرده خو شرط دادې چه په خبرو کښې دروغ نۀ وائی او دخپلې کړې وعدې خلاف نۀ کوی، چه ورسره امانت کیښودې شی نو پکښې خیانت نۀ کوی او کله چه څه سامان [دچانه] واخلی نو [دسوداګر دعادت مطابق] هغې سامان له خراب او ناکاره نه ښکاره کوی

---

[1]) الترغیب والترهیب رقم الحدیث: ۲۲۹۰ ، باب الترغیب فی الاکتساب ومسند احمد، حدیث رافع بن خدیج رضی الله عنه رقم الحدیث: ۱۷۲۳۸ ومستدرک للحاکم رقم الحدیث: ۲۱۱۷

[2]) جامع الترمذی، أبواب البیوع، باب ما جاء فی التجار: ج ۱، ص ۲۲۹

[3]) الترغیب والترهیب رقم الحدیث: ۱۱۰۹، کتاب البیوع

اوکله چه خپل سامان خرڅوي نو[دواقعي خلاف]دهغې تعريف نه کوي، چه په ذمه ئې دچاقرض وي نوپکښې ډيل اوتاخير اوټال متول نه کوي اوچه قرض ئې دچاپه ذمه وي نوهغه نه تنګوي۔ اخرجه الاصبهاني په حواله دمظهري دحاشيې[۱]

په دې وجه يو حديث پاك کښې ارشاد دې چې: ﴿ان التجار يبعثون يوم القيامة فجارا الامن اتقى الله وبر وصدق﴾ [اخرجه الحاكم عن رفاعة بن رافع][۲] دقيامت په ورځ سوداګرخلق دبدکارو او ګناهګارو په صف کښې به وي سوادهغه چانه چه الله تعالى نه ويريږي دنيکۍ معامله کوي او رښتياوائي۔

ډيل دمال حلاليدو دپاره دتجارت اوخپل منځ خپلې درضاء کيدودوه شرطونه: دآيت شريف په دې جُمله کښې تجارت سره دَ، ﴿عَنْ تَرَاضٍ مِّنْكُمْ﴾، فرمائيلوسره ئې دااوښودل چه چرته تجارت دَسره نه وي بلکه دتجارت په نوم جواري[خمار] ،سته اوسودي معامله وي، يامال په موقعه موجود نه وي محض په ذهني قرارداد باندې دَدې سوداشوې وي نودغه بيعَ باطله اوحرامه ده داشان که تجارت يعني دمالونوتبادله خووي ليکن دفريقينورضامندي نه وي نودااهم بيع فاسداوناروا ده اودادواړه صُورتونه په ،باطله سره په مال خوړلو، کښې داخل دي،فقهائې کرام ﷭ رومبې صورت د ،بيع باطل، په نُوم يادوي اودوئم صورت دَ ،بيع فاسد، په نوم يادوي۔

تشريح ئې داده چه مال په مال سره بدلول تجارت دې،که دې کښې يواړخ ته مال وي اوبل اړخ ته پيسې وغيره وي نوداتجارت دې،که دې کښې يواړخ ته مال وي اوبل اړخ ته دَسره مال نه وي نوداتجارت نه دې بلکه خطاايستل دي،چنانچه سودهم دغه شې دې چه سُودپه عوض دَهغه ميعاداونيته کښې وي چه دَقرض واپس کولودپاره مقرروي اونيته څه مال نَدي،داشان سته اوجوارئ اخمارا کښې يواړخ ته مال تاکلې اوموجودوي اوبل اړخ ته دَمال کيدل يانه کيدل مشکوک وي-داشان دَعدې هغه سوداګانې چه مال پکښې لاتراوسه شته شوې نه دې اوسودائې شوې ده نودې کښې هم يواړخ ته مال اوبل اړخ ته وهمي وعده ده،نودَحقيقت په اعتبارسره دادَسره تجارت نهٔ دې بلکه يوقسم تيرويستل دي،څکه ورته فقها بيع باطل وائي۔

دويم صورت دادې چه دواړواړخونه مال وي اومال په مال بدلول وي،مګريواړخ ته رضانهٔ وي، دااګرچه تجارت خوشومګرفاسداوغلط قسم تجارت دې څکه ورته بيع فاسدوئيلې شي اوناجائزه ده۔

په دې تشريح سره دَخريدوفروخت اوتجارت ټول ناجائزقسم صُورتونه وُځي۔

ډيوبل د رضامندئ حقيقت: البته دريم قسم تجارت داسې وي چه مال په مال بدلول وي،دواړه اړخ ته مال وي اوپه ظاهره رضامندي هم ددواړواړخونکاري خوپه حقيقت کښې يواړخ ته دَمجبورئ رضامندي وي،لهذاشريعت داهم په دويم قسم کښې داخله کړه. مثلاًدَعام ضرورت څيزونه ټول راغوندولوسره يوسړي يايوکمپنئ ته حواله شي،هغه ئې ذخيره کړي اوپه خپله خوښه ئې قيمت زيات کړي اوپه هغې ئې په ګرانه خرڅوي په بازارکښې بل چرته دغه څيزنشي مونډې کيدې[نه پيدا کيږي] نوګاهګ په دې مجبوره وي چه هم په دغه ګرانه بيعَ ئې واخلي په دې صورت کښې

[۱]) تفسير المظهري: ج ۲، ص ۸۱، وشعب الإيمان للبيهقي، باب أطيب الكسب: رقم الحديث ۴۹۱۰
[۲]) المستدرك للحاكم رقم الحديث ۲۱۴۳

Scanned with Ca

اگرچه ګاهګ پخپله اخستلو دپاره هلته راځي او په ظاهره دهغې په اخستلو رضاهم ښکاري لیکن دارضا په مجبورۍ اره لرۍ نوداسره رضامندي نه شوه-

داشان که یوخاوند خپلې ښځې سره داسې ګذران، رویه اوسلوک کوي چه دهغې په وجه ورته خپل مهرمعاف کولوباندې مجبوره شي، ګوچه هغه دمهرمعاف کولوپه وخت کښې خپله رضامندي ښکاره کوي لیکن په حقیقت کښې دارضامندي نه وي-

یاڅوک سړې چه هرکله دااوګوري چه زمارواکاربه درشوت ورکولونه بغیر نه کیږي اوهغه په رضاسره رشوت ورکوي نودارضاپه شریعت کښې نارضاحسابیږي-

دې نه معلومه شوه چه ﴿إِلَّآ أَن تَكُونَ تِجَٰرَةً عَن تَرَاضٖ مِّنكُمْ﴾ دخریدوفروخت اوتجارت یواځې دهغه صورتونوروا والې ثابتوي چه درسول الله ﷺ داحادیثونه ثابت وي اوفقهاؤمحفوظ کړي وي اودخریدوفروخت څومره صورتونه چه منسوخ اوناروادي هغه ټول دې نه خارج دي ـــــ دقرآن کریم دې یولفظ دفقهې پوره ، ،کتاب البیوع، ،او، ،کتاب الاجاره، ،مکمل بیان کړو-

دآیت دریمه جمله داده ﴿وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ﴾ [تاسوخپل ځانونه مه وژنئ] چنانچه دمفسرینو ﷺ په اتفاق سره په دې کښې خودکشي [ځان وژل] داخل دي اوداهم چه یوبل په ناحقه قتل کړي-

دآیت په رومبۍ جمله کښې دعاموانسانانودمالي حقونواوددې دحفاظت بیان ؤو، په دې جمله کښې، ددوئ دځان دحقوقودحفاظت بیان راغلو.

دلته مال وړاندې راؤړل اوځان روستوراؤړل کیدې شي چه په دې وجه شوي وي چه په مالي حقوقو کښې ،زورظلم، کوتاهي اوغفلت ډیرعام دې، ناحق قتل کول، اوویني تویول اګرچه ددې نه زیات سخت دي مګردعادت له مخه په دې کښې اخته کیدل کم دي-

دآیت په آخرکښې ارشاددې ﴿إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ یعني کوم احکام چه په دې آیت کښې ورکړې شوي دي چه دخلقو مالونه په ناحقه مه خورئ یاڅوک په ناحقه مه وژنئ، داټول احکام ستاسوپه حق کښې دالله تعالی رحمت دي، مطلب ئې دادې چه تاسوددې کارونودآخرت دوبال نه هم محفوظ شئ اودنیوي سزاګانونه هم بچ شئ-

وریسې په بل آیت شریف کښې ارشاددې ﴿وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ عُدْوَٰنًا وَظُلْمًا فَسَوْفَ نُصْلِيهِ نَارًا﴾ یعني د قرآني هدایاتوباوجود، که څوک سړې ددې خلاف ورزي اوکړي اوځان ناجائزه او ناخبره کولو سره، دزورظلم په طریقه، دچامال په ناحقه واخلي، یاڅوک په ناحقه اووژني نوزردې چه مونږ به ئې جهنم کښې داخل کړو ـــــ دزیاتئ اوظلم [عدوان اوظلم] دقید لګولونه معلومه شوه که دهیرې، غلطئ یاخطاله کبله داسې اوشونوهغه به دې وعید درکې، لاندې نه راځي-

إِن تَجْتَنِبُوا۟	كَبَآئِرَ	مَا	تُنْهَوْنَ	عَنْهُ	نُكَفِّرْ	عَنكُمْ
که تاسو ځان اوساتلو	دلویو ګناهونو	هغونه	چې تاسو منع کړې شوي ئې	دهغې نه	نومونږ به ختم کړو	ستاسو نه
که تاسو [هغې] لویو ګناهونونه پرهیزاوکړئ دکومونه چې منع کړې شوي یئ؛					..........نومونږ به ستاسو	

سَيِّـَٔاتِكُمْ	وَنُدْخِلْكُم	مُّدْخَلًا	كَرِيمًا ۝	
ګناهونه ستاسو	اومونږ به داخل کړو تاسو	ځائې دداخلیدو	عزتمند ته	
واړه ګناهونه معاف کړو اودعزت ځائې ته به مو داخل کړو				

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن: که تاسو د هغه لويو لويو ګناهونو نه ځان اوساتئ د کومو نه چه تاسو منع کړې شوي يئ نو ستاسو واړه ګناهونه به مونږ خپله معاف کړو، او تاسو به يو عزتمند ځائ ته داخل کړو.

د آيتونو ربط او خلاصه: ددې ځخه مخکښې آيت مبارك کښې د څو لويو لويو ګناهونو ذکر شو بدې. او په دې کښې په اخته کيدو باندې د شديد عذاب بيان شوې دې. دقرآن پاك دبيان يو مخصوص انداز دادې چې کله په يو جرم يا سزا باندې ويره ورکولې شي کومې ته چې ترهيب وئيلې کيږي نو دې سره سره د ترغيب د اړخ ذکر هم کيږي چې کوم کس ددې ځخه منع شي نو هغه دپاره به دا انعامات وي.

دې آيت مبارك کښې هم د الله ﷻ د يو خاص انعام ذکر کيږي او ترغيب ورکولې شي. او هغه دا که تاسو د لويو ګناهونو ځخه ځان بچ کړو نو ستاسو واړه واړه ګناهونه به معاف کړې شي. اوداشان به تاسو د وړوړ لويو ګناهونو ځخه پاك اوصفا شئ. او تاسو به د راحت مقام ته داخل کړئې شئ چې دهغې نوم جنت دې.

﴿ إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ ﴾ دکومو کارونو نه چه تاسو [په شريعت کښې] منع کولې شئ [يعنی دګناه دکارونو نه] په دې کښې چه کوم لوئې لوئې کارونه دی [يعنی لوئې لوئې ګناهونه دی] که تاسو دهغې نه ځان ساتلو نو [په دې ځان ساتلو باندې مونږ وعده کوو چه ستاسو دنيکو عملونو کولو نه چه هغه قبول شی] ﴿ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ ﴾ مونږ به ستاسو سپکې بدئ [يعنی واړه ګناهونه چه دوزخ ته بوتلل کولې شی] تاسو نه لرے کړو [يعنی معاف به مو کړو نو دوزخ نه به محفوظ پاتې کيږئ] ﴿ وَنُدْخِلْكُمْ مُدْخَلًا كَرِيمًا ﴾ او مونږ به تاسو يو عزتمند ځائې [يعنی جنت] کښې داخل کړو.

معارف اومسائل

دګناهونودوه قسمه ﴿إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ﴾: دذکرشوی آيت نه معلومه شوه چه دګناهونودوه قسمه دی، څه کبيره يعنی لوئې ګناهونه اوڅه صغيره، يعنی واړه ګناهونه دی، اوداهم معلومه شوه چه که څوك همت اوکړی اولويو ګناهونونه بچ شی نودالله تعالی وعده ده چه ددوئ واړه ګناهونه به پخپله معاف کړی۔

لويو ګناهونونه په بچ کيدلو کښې داهم داخل دی چه ټول فرض اوواجب اداکړی ولې چه فرض او واجب پريښودل پخپله يوه لويه ګناه ده-نوحاصل داشوچه څوك دټولو فرضو او واجبو ادا کولو پوره بندوبست اوکړی اودټولولويو ګناهونونه ځان بچ کړی نوالله تعالی به پردده واړه ګناهونه اورژوی.

نيکوعملونوسره واړه ګناهونه رژولې شي: دکفارې کيدواورژولو مطلب دادې چه ددوئ نيک عملونه به دوړو ګناهونو کفاره جوړکړی اوحساب به ئې بيباقه او ختم کړی، دعذاب په ځائې به ئې ثواب اودجهنم په ځائې به ئې جنت نصيب شی.لکه په صحيح احاديثو کښې راغلی دی چه کله څوك مونځ دپاره اودس کوی نودهرانډام وينځلو سره سره دګناهونو کفاره شوه، په مخ وينځلوسره، دسترګو، غوږونو پوزې وغيره دګناهونو کفاره شی، چه په خُله کښې اوبه واچوی نودژبې دګناهونو کفاره پرِ اوشی، چه پښې ئې اووينځلې نودپښو ګناهونه ئې اووينځلې شو، بياچه

جومات ته خي نو په هر قدم ئې د ګناهونو کفاره کيږي(۱)۔

لوئې ګناهونه بواځې لتوبې سره معاف کيږي آيت نه معلومه شو چه اودس مونځ وغيره غوند د نيکو عملونو په ذريعه، د حديثو د رواياتو مطابق چه کوم ګناهونه معاف کيږي هغې نه مراد واړه ګناهونه دي، اولوئې ګناهونه د توبې نه بغير نه معاف کيږي، د وړو ګناهونو د اشرط دې چه انسان همت او کوشش کولو سره د لويو ګناهونو نه بچ شوې وي. معلومه شوه که څوک په لويو ګناهونو کښې اخته وي، اودس او مونځ په مخه اداکوي نو يواځې په دې اوپه نورونيکو عملونو سره به دده د نورو ګناهونو هم کفاره نه کيږي اولوئې ګناهونه خو به څپل ځائې هم دغسې پراته دي. نو د لويو ګناهونو يولوئې تاوان پخپله د دې ګناهونو موجودګی ده چه پر قرآن او حديث کښې سخت وعيدونه راغلي دي او بغير د ريشتينې توبې نه نه معاف کيږي، دې نه علاوه بله بې نصيبي دا هم ده چه د دې په وجه واړه ګناهونه هم نه معاف کيږي، او داسې کس باندې به په محشر کښې د وړو او لويو ګناهونو پيټې باروی او څوک به تر دغه پيټې نشي سپکولې۔

ګناه او د دې دوه قسمونه وړه او لويه ګناه: په آيت کښې د ،،کبائر،، الويو الفظ راغلي دي، نو پوهيدل پکار دي چه لوئې ګناهونه څه ته وائي، او ټول په څومره شمير کښې دي، واړه ګناهونه څه ته وائي او شمير ئې څومره دې؟

د اُمت علماؤ رحمهم الله په دې مسئله باندې مختلف انداز کښې مستقل کتابونه ليکلي دي۔

د لويو او وړو ګناهونو او د دې د واړو د تعريفونو کولو نه رومبې په دې خان بنه پوهه کړئ چه مطلق ګناه د هر يو داسې کار نوم دې چه د الله تعالى د حکم او مرضئ نه خلاف وي، دې نه به درته اندازه شوې وي چه په اصطلاح کښې کومې ګناه ته چه وړه وئيلې شي، په حقيقت کښې هغه هم وړه نه وي ولې چه د الله تعالى نافرمانی کول او د هغه د مرضئ خلاف کول په هر حالت کښې ډير زيات سخت جرم دې، په دې حيثيت سره امام الحرمين او د اُمت ډيرو علماؤ فرمائيلي دي چه د الله تعالى هره نافرمانی او د هغه د مرضئ خلاف کول هم لويه ګناه ده. د لوئې او وړې ګناه فرق صرف د ګناهونو تر منځه د مقابلې او موازنې په وجه سره کيدې شي، په دې معنى کښې د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه منقول دي چه: ﴿كل مانهى عنه فهو كبيرة﴾(۲) [د کوم کار نه چه د اسلام په شريعت کښې منع کړې شوې ده هغه ټول لوئې ګناهونه دي۔

خلاصه دا ده چه کومې ګناه ته په اصطلاح کښې وړه ګناه وئيلې شي، د هيچا په نزد د هغې دا معنى نه ده چه په داسې ګناهونو کولو کښې د غفلت يا سستي اوکړې شي او په معمولي ګڼړلو سره د توبې فکره شي، بلکه واړه ګناهونه چه په داسې بې پرواهئ سره کولې شي نو د غوروړو ګناهونو نه هم لوئې ګناهونه جوړيږي. چابزرګ فرمائيلي دي چه په محسوساتو کښې دوړې او لوئې مثال داسې دې لکه وړوکې او غټې لړم يادا اورور کوټې [کشنى] بخرې او غټه سکروټه، چه انسان د دې د واړو تکليف نشي زغملې، څکه خو محمد بن کعب قرظى اوفرمائيل چه د الله تعالى د ټولونه لوئې عبادت دا دې چه ګناهونه پريښودل شي، څوک چه مونځ کولو او تسبيحاتو وئيلو سره ګناهونه هم نه پريږدي، د هغوئ عبادت مقبول نه دې، او حضرت فضيل بن عياض رحمه الله فرمائيلي دي چه تاسو څومره پورې چه ګناه سپکه ګڼړئ هومره به هغه د الله تعالى په نزد لوئې جرم

(۱) موطا مالک رقم الحديث: ۵۵، کتاب الطهارة، باب جامع الوضوء۔

(۲) مجمع الزوائد، کتاب الايمان، باب في الكبائر: ج ۱، ص ۵۶

Scanned with Ca

شي، او تیرو شوؤ بزرگانو فرمائیلي دي چه هره ګناه د کفر ریبار قاصد ده، چه انسان ته کفري عملونو او اخلاقو اړخ ته بلنه ورکوي، او په مسند احمد کښې منقول دي چه حضرت عائشې رضي الله عنها حضرت معاویه رضي الله عنه ته یو خط اولیږلو چه بنده هر کله د الله تعالی نافرمانی کوي نو د هغه تعریف کوونکي ئې هم بدي بیانول شروع کړي او دوستان ئې هم دشمنان جوړ شي، ګناهونو نه بې پرواه کیدل د انسان د همیشه تباهئ سبب دي(۱). په صحیح حدیث شریف کښې راغلي دي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه مؤمن هر کله لویه ګناه اوکړه نو په زړه ئې یو تور داغ اولګي، بیائې که توبه او استغفار او کړو نو دغه داغ وران شي، که توبه ئې اونکړو نو دغه داغ په مخه غټیږي تر دې چه په ټول زړه ئې خور شي، چه قرآن کریم کښې د ، رین، په نوم یاد کړې شوې دې لکه فرمائي: ﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ مَّا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ﴾ [د دوئ په زړونو د دوئ بدو عملونو زنګ اولګولو] (۲). البته د ګناهونو د خرابیؤ بدو نتیجو او ضرری ثمراتو په اعتبار سره د دې په خپل منځ کښې فرق ضروري دې، د دغې په وجه، څه ګناه ته لویه او څه ته وړه وئیلې شي۔

کبیره [لویه] ګناه: د قرآن کریم، احادیثو او د پخوانو بزرګانو د تشریحاتو له مخه د ګناه کبیره تعریف دا دې چه په کومه ګناه، په قرآن کریم کښې شرعی حد [سزا] په دنیا کښې مقرر کړې شوې دی، یا په کومه چه د لعنت الفاظ راغلي دي، یا په کومه چه د جهنم وغیره وعید راغلي دې، هغه ټولې ګناه کبیره دي، دغه شان هره هغه ګناه به هم په کبیره کښې داخله وي چه د هغې خرابئ او بدې نتیجې، کبیره ګناه سره برابرې یا د دې نه زیاتې وي، دغه شان کومه وړه ګناه چه په زړورتیا او بې پروائئ سره کولې شي، یا همیشه د پاره په مخه کولې شي نو هغه هم کبیره ګناه جوړیږي

د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په وړاندې، چا کبیره ګناهونو شمیره اووه اوښودلو، هغه اوفرمائیل چه اووه نه بلکه که اووه سوه اووئیلې شي نو زیات مناسب دي(۳)۔

امام ابن حجر مکی رحمه الله په خپل کتاب، الزواجر، کښې د دې ټولو ګناهونو پوره شمار، او د هر یو مکمل تشریح بیان کړې ده، چه د بره کړې شوې تعریف له مخه، په کبائرو کښې داخل دي، د دوئ په کتاب کښې د لویو ګناهونو شمیر څلور سوؤ او اووه شپیتو ته رسیدلې دې او حقیقت دا دې چه څنو د ګناه د بابونو په شمیر لو بس والې کړې دې څکه ئې د ګناهونو شمیر کم ښودلې دې۔ او څنوئې تفصیلات او قسمونه پوره لیکلي دي څکه ئې شمیر زیات ښودلې دې په دې بنا دا، څه ټکراؤ او اختلاف نشي کیدې۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپلو مقاماتو کښې د ډیرو ګناهونو کبیره کیدل بیان کړي دي او د حالاتو په مناسبت سره ئې چرته درې، چرته شپږ، چرته اووه او چرته د دې نه زیات بیان کړیدي، دې نه د امت علماؤ رحمهم الله دا مطلب واغستو چه په یو خاص شمیر کښې ئې راګیرول مقصود نه وي بلکه د موقعو او حالاتو مناسب، څو مره چه اوګنړلې شو هو مره ئې بیان کړل(۴)۔

---

(۱) دا حدیث عاجز بنده که په مسند احمد کښې ملاو نشو، البته مسند الحمیدی رقم الحدیث: ۲۸۳، مسند عائشه کښې دا حدیث موجود دے۔

(۲) جامع الترمذی، کتاب التفسیر ومن سورة ويل للمطففين: ج ۲، ص ۱۷۱

(۳) تفسیر ابن ابي حاتم تحت هذه الآية رقم الحديث: ۵۲۵۷

(۴) صحیح البخاری، کتاب الشهادات ما قیل فی شهادة الزور: ج ۱، ص ۳۶۳ وصحیح مسلم، کتاب الإيمان، بيان الكبائر وأكبرها: ج ۱، ص ۳

دَ بخاری اومُسلم شریف په یو حدیث کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل په گُناهونو کښې هم چه ټولونه لوئې دې، زهٔ تاسو دهغې نه خبر داره کوم چه درې دی، الله تعالی سره څه مخلوق لره شریک جوړول، دَمورپلارنافرمانی اودَدروغو گواهي ورکول یادروغ وئیل-

دغه شان دَبُخاری اومُسلم په روایت کښې دی چې رسول الله ﷺ نه چاتپوس اوکړوچه دَټولونه لویه گناه کومه ده؟وې فرمائیل چه تاسو الله تعالی سره څوک شریک جوړ کړئ حالانکه هغه، تاسو پیدا کړي یئ؛ بیائې تپوس اوکړو چه دې نه پس لویه گناه کومه ده؟ وې فرمائیل چه تاسو خپل ماشوم دَدې ویرې [ییرې] مړ کړئ چه دې به ستاسو په خوراک کښې شریک شی نو تاسو به ورته خامخا خوراک ورکوئ؛ بیائې تپوس اوکړوچه دې نه پس کومه گناه دَټولونه لویه ده؟ وې فرمائیل د خپل همسایه سره زناکول[1]، بدکاری کول خپله هم لوئې جرم دې او دَخپل گاونډې دَبال بچ حفاظت کول هم هرکله چه دَخپل بال بچ پشان دانسان په ذمه لازم دی، خکه به دَدې جرم دوچند وی-

دَصحیحینو په یو حدیث کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه داخبره دَلویو گناهونو څخه ده چه څوک خپل مورپلارته کنځل اوکړی، صحابه کرامو ﷺ عرض اوکړو یارسول الله ﷺ داڅنگه کیدې شی چه څوک به خپل مورا وپلارته کنځل کوی؟وې فرمائیل چه داسې کیدې شی چه څوک دَبل مورپلارته کنځل کوی اودَهغې په بدل کښې ورته دغه بل دَمورپلار کنځل اوکړی([2]) نوداهم داسې شوه لکه پخپله ئې چه خپل مورپلارته کنځل کړی وی خکه چه باعث ئې دادې. دَصحیح بخاری په یوروایت کښې راغلې دی چه رسول الله ﷺ ،شرک ،ناحق،قتل دَیتیم مال په ناجائزه لاندې کول،سودی گټه خوړل،دَجهادمیدان نه تښتیدل،په پاک لمنو بیبیانوتورپورې کول،دَمورپلار نافرمانی کول اودَبیت الله شریف بې عزتی کول په لویوگناهونوکښې شمیرلی دی([3]) دَحدیثو په څنوروایتونوکښې داهم لویه گناه گرخولې شوې ده چه دارکُفرنه څوک هجرت داراسلام تهٔ اوکړی اوبیادغه ځائې پریږدی اودارِ کُفرته لاړشی([4])-

دَاحادیثو په نوروروایاتو کښې داصورتونه هم دگُناه کبیره په لړ کښې راوستلِ شوِی دی چه مثلاً په دروغه قسمونه خوری، دَخپل ضرورت نه زیاتې اوبه ایسارا و بند وی اودَنورو دضرورت پُوره کولو دَپاره ئې ورته نه پریږدی دی، جادوکوی. اووې فرمائیل چه شراب څکل ،اکبرالکبائر [په لویو کښې دَټولونه لویه گُناه]ده، اووې فرمائیل چه شراب څکل ام الفواحش [دناکاره کارونوجرړه]ده، ولې چه هرکله دې سره نشه شی نودبدنه بدهریوکار کولې شی. داشان په بل حدیث کښې ئې ارشاداوفرمائیلوچه دَټولونه ډیره لویه گُناه داده چه انسان په خپل مسلمان رور ،داسې یوعیب اولگوی چه ورسره دَهغه بې عزتی کیږی([5])،په یوبل حدیث کښې راغلې دی چه چابغیر دشرعی عذرنه،دوه مونځونه په یووخت کښې جمع کړل نوهغه لویه گناه

---

[1]) صحیح البخاری، کتاب التفسیر، باب قوله تعالی فلا تجعلوا الآیة: ج ۲، ص ۷۳ و صحیح مسلم، کتاب الإیمان: ج ۱، ص ۳

[2]) صحیح البخاری، کتاب لادب، لا یسب الرجل والدیه: ج ۲، ص ۸۸۳، و صحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب بیان الکبائر واکبرها: ج ۱، ص ۷۳-

[3]) سنن ابی داود، کتاب الوصایا، باب ما جاء فی التشدید: ج ۱، ص ۳۹۷

[4]) المعجم الأوسط للطبرانی رقم الحدیث: ۵۸۷۰، باب المیم من اسمه محمد-

[5]) سنن ابی داود، کتاب الأدب، باب فی الغیبة: ج ۲، ص ۳۱۱

اوکړه([1]). مطلب دادې چه چاد یووخت مونځ قضاکړواوچه دبل وخت مونځ پرراغلونوهغې سره ئې داهم یوځائې کړو. دحدیث په ځنې روایتونوکښې راغلی دی چه دالله تعالی درحمت نه نا امیده کیدل هم لویه ګناه ده اودهغه دعذاب اوسزانه بې فکره اوبې ویرې کیدل هم لویه ګناه ده([2])، په یوروایت کښې راغلی دې چه وارث ته زیان رسولواودهغه میراث کمولودپاره څه وصیت کول هم لویه ګناه ده([3]). دصحیح مسلم په روایت کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ یوځل اوفرمائیل چه خراب شو، زیان کاراوتباه شو، درې وارې ئې داکلمه بیابیااوفرمائیله، حضرت ابوذرغفاری ﷺ عرض اوکړوچه یارسول الله: دابدقسمته اوتباه، برباد خلق څوک دی؟هغوی جواب ورکړویوهغه څوک دې چه دتکبرله کبله، پرتوګ، لنګ، قمیص یاچغه وغیره دخپودګیتونه لاندې ښکته ساتی-بل هغه چه دالله تعالی په لارکښې څه مال اولګوی، اوبیااحسان ئې خیژوی-دریم هغه بوډاسړې چه بدکارئ کښې اخته وی، څلورم هغه بادشاه یاافسر چه دروغ وائی، پنځم هغه څوک چه سره دنیستمن کیدولوئ کوی، شپږم هغه څوک دې چه دیوامام [امیرالمؤمنین]په لاس خالص ددنیاپه خاطربیعت[لاس نیوې]کوی([4])-

اودصحیحینوپه یوحدیث کښې دی چه چغل خوربه جنت ته نۀ ځی([5]). دنسائی اودمسنداحمد وغیره په یوحدیث کښې راغلی دی چه څوکسان به جنت ته نۀ ځی ،شرابی ،دمورپلار نافرمان، بې وجې خپلوانوسره خپلولی پرېښودونکې، احسان خیژوونکې، دپیریانو، شیطانانو، یانوروذریعوسره دغیبودخبروښودونکې، دیوث چه بال بچ دبیحیایئ دکارونونه نۀ منع کوی([6])-

دمسلم شریف په یوحدیث کښې رغلې دی چه دالله تعالی لعنت دې په هغه چاچه یو ځاروې، د الله تعالی نه سوا بل چادپاره قربان کړی([7])-

وَلَا تَتَمَنَّوْا

| اومۀ کوئ آرزوتاسودهغه څیز

|.. او الله تعالی چه

مَا فَضَّلَ اللّٰهُ　بِهٖ　بَعْضَكُمْ　عَلٰى بَعْضٍ ؕ　لِلرِّجَالِ　نَصِيْبٌ

چې زیات ورکړې وی الله| هغه څیز|بعضو ته په تاسوکښې |په مقابله دبعضو|دۀ دپاره دنارینو| حصه

یوکس ته دبل په مقابله کښې کوم فضیلت ورکړې دې تاسودهغې خواهش مه کوئ| نارینۀ چې

مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ؕ　وَلِلنِّسَآءِ　نَصِيْبٌ　مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ؕ

مطابق دهغې عمل چې کړې وی هغوئ| اوده دپاره دزنانو| حصه| مطابق دهغه عمل چې کړې وی هغوئ

پخپل عمل څه ګټلی وی هغه دهغوئ حصه ده |اوزنانۀچې پخپل عمل څه ګټلی دی هغه دهغوئ حصه ده

---

[1]) جامع الترمذی، کتاب الصلاة، باب ما جاء فی الجمع بین الصلاتین: ج ۱، ص ۴۸
[2]) شعب الإیمان للبیهقی، باب الثانی عشر من شعب الإیمان رقم الحدیث: ۱۰۶۵
[3]) کنز العمال، رقم الحدیث: ۳۶۱۳۶، ج ۱۶، ص ۳۲۸
[4]) صحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب بیان غلظ تحریم اسبال: ج ۱، ص ۷۱
[5]) صحیح البخاری، کتاب الادب، باب ما یکره من النمیمة: ج ۲، ص ۸۹۵، وصحیح مسلم، کتاب الإیمان باب بیان غلظ تحریم النمیمة: ج ۱، ص ۷۰
[6]) سنن النسائی، کتاب الزکاة، باب المنان بما اعطی: ج ۱، ص ۳۵۸، ومسند احمد رقم الحدیث: ۶۵۳۶
[7]) صحیح مسلم، کتاب الأضاحی، باب تحریم الذبح لغیر الله.

Scanned with Ca

وَاسْـَٔلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمًا ۝ وَلِكُلٍّ

او وغواړئ دالله نه | فضل دهغه | بيشكه الله | دي | په هر څيز باندې | علم لرونكې | او دپاره دهريو

دالله ﷻ نه دهغه دكرم او فضل سوال كوئ | بيشكه الله ﷻ په هرڅهٔ پوهه دې | او اوګورئ ....

جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدٰنِ وَالْاَقْرَبُوْنَ ؕ وَالَّذِيْنَ

مقرر كړي دي مونږه | حقداران | دهغه مال | چې پريږدي | مور او پلار | او رشته داران | او هغه كسان

كوم يو مال چې مور پلار او [نور] خپلوان پريږدي انو مونږ هريو دپاره وارثان مقرر كړي دي | او چاسره

عَقَدَتْ اَيْمَانُكُمْ فَاٰتُوْهُمْ نَصِيْبَهُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ

چې غوټه شوې دي | قسمونه ستاسو | نو وركړئ هغوئ ته | حصه دهغوئ | بيشكه الله | دې په هر څيز باندې

چې تاسو لوظونه كړي دي | نو هغوئ ته هم خپلې خپلې حصې وركړئ | بيشكه الله [حاضر ناظر دې] په هر

شَهِيْدًا ۝

نظر لرونكې |

څيز باندې ګواه دې |

آسان ترجمه قرآن: او كومو څيزونو كښې چه مونږ تاسو ته په يو بل غوره والې دركړې دې نو دهغې آرزو مه كوئ سړې چه څه وكړي نو هغه ته به د هغې نه حصه ملاؤ شي او ښځې چه څه وكړي نو هغوى ته به د هغې نه حصه ملاؤ شي او د الله نه دهغه فضل غواړئ بې شكه الله په هر څه باندې پوهيږي او مونږ د هر هغه مال وارثان مقرر كړي دي چه كوم مور پلار او نزدې خپلوان پريږدي او كومو خلقو سره چه تاسو څه وعده كړې وي نو هغوى ته د هغوى حصه وركړئ بې شكه الله په هر يو څيز ګواه دې.

د آيتونو تړون: پورتني آيتونو مباركو كښې د ميراث احكام تير شو. هغې كښې دا هم وئيلې شوي دي كه د مرده وارثانو كښې ښځې او سړي وي، او د مرده د طرفه د رشته دارئ نسبت ورسره يو شان وي نو سړي ته به د ښځې په مقابله كښې دوه چنده ملاويږي. داشان د سړو نور هم فضائل ثابت شو يدي. دې باره كښې يو ځل سلمه ﷺ نبي كريم ﷺ څخه تپوس او كړو چې يارسول الله ﷺ مونږ ته نيم ميراث ملاويږي، او دا شان فلانې بل فرق هم په مونږ كښې او سړو كښې دې.

ددې مقصد اعتراض كول نه وو بلكه دا خواهش وو چې مونږ خلق هم د سړو سره برابر شو په فضائلو كښې. څينې ښځو دا خواهش ښكاره كړو كه مونږ سړي وې نو مونږ به د سړو په پشان جهاد كښې حصه اخستې. او مونږ ته به هم دجهاد فضيلت حاصليدې.

يوې ښځې نبي كريم ﷺ ته عرض او كړو چې سړي ته په ميراث كښې دوه چنده حصه ملاويږي او د ښځې ګواهي هم نيمه ده. نو آيا ښځې ته په عبادت او عملونو كښې هم نيمه حصه ملاويږي؟ نو پدې باندې دا آيت مبارك نازل شو. او په هغې كښې د دوؤ اقوالو جواب وركړې شوې دې. د ام سلمه ﷺ د قول جواب ﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا﴾ وركړې شو، او ددې ښځې د قول جواب ﴿لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ؕ﴾ سره وركړې شو[1].

[1]) جامع الترمذى، أبواب التفسير ومن سورة النساء: ج ۱، ص ۱۳۱، وتفسير ابن ابي حاتم رقم الحديث: ۵۳۳

Scanned with Ca

خلاصه تفسیر

﴿ وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ﴾ او تاسو [ټولو نارینو زنانو ته حکم کولے شي چه وهبی یعنی دالله ﷻ وربخښلی] او فضیلتونو نه د یوداسې خبرې تمنا مه کوی چه په هغه کښې الله ﷻ څینوته [لکه نارینه و ته مثلا] په څینې باندې [لکه په ښځو بغیر د عملی دخل دهغوی نه] پورته والئ بخښلے دې [لکه نارینه کیدل یا د نارینو دوچنده برخه رسیدل یا دهغوی ګواهی کامله کیدل یا دغسې نور] ځکه چې ﴿لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوا ۖ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ۚ﴾ نارینو لره دهغوی داعمالو [دثواب] برخه [په آخرت کښې] ثابته ده او زنانو لره ددوی د عملونو [دثواب] برخه [په آخرت کښې] ثابته ده [او په قانونی طور هم په دې عملونو نجات او خلاصې اړه لری چه په کښې دهیچا تخصیص نشته.نوکه دنورو نه د پورته والی دحاصلولو شوق وی نو په اعمالوکښې په کوشش کولو سره دنورو نه زیات ثواب حاصل کړئی هر کله چه تاسو په دې قادر یئ نو دذکر شوو خاصو فضائلو آرزو لرلو صرف خواهش لرل خالص هوس او عبث کار دې﴿وَاسْأَلُوا اللّٰهَ مِن فَضْلِهٖ ۗ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾ او [که دالله ﷻ د وربخښلو هغه او فضیلت مینه لرئ کوم چه په عملونو اړه لری لکه باطنی احوال اوکمالات یا نور داسې نو څه بدیت ئې نشته.خو طریقه ئې یواځې د آرزوګانو کول نه دی بلکه پکار دی چه] الله ﷻ نه دهغه د [خاص] فضل خواست [یعنی دعا] کوئې بیشکه الله ﷻ هر څیز ښه پیژنی [په دې کښې هرڅه راغلل یعنی د الله ﷻ وربخښلی وهبی غوروالی د تخصیص وجه هم په کسبی غوروالو باندې ثواب ورکول هم او دویم قسم الله ﷻ وربخښلی غوروالی خواست کول هم نودا جمله دغه ټولو سره تعلق لری]. ﴿وَلِكُلٍّ جَعَلْنَا مَوَالِيَ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالْأَقْرَبُونَ ۚ﴾ اوهر داسې مال دپاره چه مورپلار او [نور] خپلوان ﴿ وَالَّذِينَ عَقَدَتْ أَيْمَانُكُمْ فَآتُوهُمْ نَصِيبَهُمْ ۚ ﴾ خلق ئې [دخپلو مړکیدونه پس] پریږدی مونږ وارثان مقرر کړیدی او چاسره چه ستاسو لوظونه [مخکښې څخه] تړلے شویدی [دے ته مولی الموالات وئیلې شی] هغوی ته [اوس هرکله چه په شریعت کښې خپلوان خلق وارثان مقرر شول ټول میراث مه ورکوئې بلکه صرف] دهغوی برخه [یعنی شپږمه] ورکوی ﴿إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدًا﴾ بیشکه الله ﷻ په هر څیز خبر دار دے [پس هغوی ته دټولو میراث نه ورکولو حکمت او دشپږمې برخې مقرر کولو مصلحت اودا چه شپږمه برخه هغوی ته څوک ورکوی او څوک نه ورکوی په دې ټولو خبرو خبردار دې].

معارف او مسائل

داختیاری او غیر اختیاری خیزونو[شیانو] آرزو لرل ﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۚ﴾: په آیت کښې د هغه غیر اختیاری فضیلتونو دآرزو لرلو نه منع کړې شویده چه نوروته حاصل دی،وجه ئې داده چه انسان،هرکله خپل ځان دبل نه په مال،دولت،آرام اوعیش،ښکلا اوښه والی،علم اوفضل وغیره کښې کم بیا وینی،نودعادت له مخه په ده کښې دحسد یوه جذبه روالاړه شی،چه تقاضائې کم ناکم داوی چه زۀ هم دهغه برابریاتر زیات شم،حالانکه په اکثروختونو کښې په دې قدرت نشی لرلې،ولې چه ډیر کمالات داسې دی چه دانسان په کوشش اوعمل هیڅ قسم اړه نۀ لری او محض دقدرت الٰهی انعامات وی لکه دچانارینه کیدل ،دپیغمبرۍ په اعلی خاندان کښې یا د حکومت په خاندان کښې ئې پیداکیدل ،یاښکلې اوښائیسته پیداکیدل وغیره شو،یعنی چاته چه دا

Scanned with Ca

انعامات حاصل نهٔ دي هغه که ټول عُمر کوشش اوکړي او ډير زور اولګوي نو ددې د حاصلولو قُدرت ئې هيڅکله نشته اونه په دارو [دواء] ،علاج يا نورو تدبيرونو او انتظاماتو سره دا حاصلولې شي، هر کله چه داسې دَسره نشي کيدې نو ددهٔ داجذبه راوچته [راولاړه] شي چه ددغه بل نه هم دغه نعمت اوشو کولې شي چه هغه هم دده سره برابر يا تر کم شي، داسې خواهش اوجذبه حسد نوميږي چه په انساني اَخلاقو کښې بيحده زيات شرمناک او ضررناک خصلت دې، هم دې نه په دنيا کښې ډيرې جګړې، فسادونه، وژل اولوټ مارول لاړيږي- دَقرآن کريم دې آيت، ددې فساد د دروازې بندولو په غرض ارشاد اوفرمائيلو: ﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَكُمْ عَلٰى بَعْضٍ ؕ﴾ [يعني هر کله چه الله تعالى دَخپل حکمت او مصلحت په تقاضا په خلقو باندې کمالات او غوروالي ويشلي دي، چاته ئې يو صفت ورکړو او چاته ئې بل صفت ورکړو، چاته ئې کم ورکړل او چاته ئې زيات، نو هريو د په خپل قسمت راضي اوخوشحاله پاتې کيږي، دَبل چا دَفضيلتونو او کمالاتو آرزو کول نهٔ دي پکارولې چه نتيجه ئې غم، خفګان او دَحسد دَلوئې ګناه نه سوا بل څه نه راخيږي-

نارينه دې په خپل نارينتوب شکر اداکړي، ښځه دې په خپل ښځوالي راضي شي او دا خيال دې کوي چه دَالله تعالى دَحکمت تقاضا به دا وه چه که زهٔ ئې نارينه جوړه کړې وې نو د نارينه ذمه دارې به م نشوه پوره کولې او ګناهګاريدم به، ښکلې بنده داهاشمي کيدل دَالله تعالى په دې ورکړې نعمت شکرګذار اوسي، بدشکله دې په دې راضي وي چه دې کښې به دَالله تعالى ضرور څه حکمت وو. مالره به په دې کښې خيروو، که راته ښکلا او ښائيست راکړې شوې وې نو کيدې شوه چه په څه فتنه او فساد کښې اَخته شوې وم، دَهاشمي خاندان يوغړې د دَالله تعالى انعام اوګڼړي او دَهغه شکريه اداکړي، اوڅوک چه ددې خاندان غړې نهٔ وي نو نهٔ دې په دې فکر کښې اخته کيږي او نهٔ دې ددې آرزو کوي، ځکه چه دا په عمل او کوشش باندې اړه نهٔ لري، نو دغسې آروزو لرل به ئې په ګناه کښې اخته کړي، دَغم، خفګان نه سوا به ورته بل څه په ګوتو رانهٔ شي، ددې فکر په ځائې دَنيکو عملونو فکر کول پکار دي، ولې چه په دې صورت کښې داسې کول ممکن دي چه دَالله تعالى په نزد ددغه لوئې نسبو خلقو نه زيات شي.

خنې قرآني او نبوي ارشادات په دې کښې وارد شوي دي چه تاسو په نيکو کښې يو بل نه دَ وړاندې کيدو مقابله کوئ يعني دَهغه عملي او کسبي غوروالو او کمالاتو ليدلو سره دې د هغه دحاصلولو دَپاره کوشش کوئ کوم چه دَانسان په اختيار اووس کښې کيدې شي، داسې قسم عمل او کوشش په حديث شريف کښې ډير ښه او خوښ ګڼړلې شوې دي، دا آيت ددې ترديد نه کوي بلکه په آخري برخه کښې ئې تائيد کوي لکه فرمائي: ﴿لِلرِّجَالِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبُوْا ؕ وَلِلنِّسَآءِ نَصِيْبٌ مِّمَّا اكْتَسَبْنَ ؕ﴾ يعني که نارينو په کسب او عمل سره څه ترلاسه کړل نو دَهغې برخه به ورکولې شي او که زنانو د کوشش او عمل په ذريعه څه حاصل کړل نو ورته به دَهغې برخه ملاويږي-

دې کښې دا اشاره موجوده ده چه دَفضيلتونو او کمالاتو په حاصلولو کښې کوشش او کسب وعمل کول بيکاره نهٔ دي بلکه هر نارينه او زنانه ته به دَهغوئ دَعمل او کوشش برخه ضرور ملاويږي ـــــ دې نه دا هم معلومه شوه چه دَبل چا، علمي، عملي او اخلاقي غوروالي چه څوک اوګوري، دَهغې آرزو اولري او بيا د آرزو پوره کولو دَپاره کوشش او عمل کوي نو هم دا مقصود دي او ښه کار دې-

دلته يوه مغالطه داشان دَمنځه اوځي چه ډير ناخبره مسلمانان پکښې انښتي دي، يو خواځنې خلق، دَغير اختياري فضيلتونو په آرزو کولو سره، خپل ژوند، آرام او اطمينان هم په دُنيا کښې تباه اوبرباد کړي او که په دې کښې ئې حسد هم، داشان شروع کړو چه ددغه ورکړې نعمت په باره کښې

Scanned with Ca

داآرزولرل شروع کړی چه دهٔ نه د واغستې شی نوآخرت ئې خان له برباد کړو ولې چه حسدئې اوکړو، کوم چه بې غیرته ورته هم وئیلې شی چه دَاختیاری غورو الیؤ حاصلولو کوشش هم نه کوی اوکه څوک ورته څه دغسې خبره اوکړی نوپه خپلې کم همتئ، سستئ، بې عملئ، بلکه بیغیرتئ باندې پردې اچولو دَپاره دغه خبره قسمت اوتقدیرته سپاری۔

دې آیت راته یوه حکیمانه اوعادلانه ضابطه داسې اوښودله چه لوړنسبې، ښُکلې اوښائیسته کیدل وغیره غوند غیر اختیاری فضیلتُونو کښې هر کله چه کسب اوعمل پکارنهٔ راځي نوتقدیرته ئې حواله کول ضروری دي، هرچالره په تقدیر اودَتقدیرپه کړوراضی کیدل اودَالله تعالی شکریه اداکول پکاردی، ددې نه دَزیات آرزولرل هم عبث بې فائدې اونغد [دَدُنیا] غم اوخفګان هم دې. اوپه اختیاری غوروالیؤ کښې هر کله چه کسب اوعمل پکارراځي نوآرزوئې لرل مُفیددی، په شرط ددې چه وردپاره کسب اوعمل، کوشش کوی او په دې کښې د آیت مبارك دا وعده هم چې دعمل اوکار کسب کوونکی خواری به نشی بربادولې، بلکه هریوته به دَخپلې خپلې خوارئ په جوړ برخه حاصلیږی خواه نارینه وی اوکه زنانه. په بحر محیط تفسیر کښې دی چه دَدې آیت نه وړاندې: ﴿لَا تَاْكُلُوْٓا اَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ﴾ او ﴿وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ﴾ احکام راغلی وؤ چه پکښې دَچامال په ناحقه استعمالول اوچالره ناحقه وژل ناروا اګرځولې شویدی( ) اودَدې دواړوجرمونودَسرچینې بندولو دَپاره داهدایت ورکړې شوې دې چه چاته دَمال، دولت، دَعیش، عشرت دَعزت اومرتبې پورته والې، الله تعالی په تاسوورکړیدې، تاسو دَهغې آرزوهم مهٔ لرئ. ولې چه غلا، ډاکه اونوروناروا وُطریقوسره دَچادَمال اغستلو، دَقتل اولُوټ کولووغیره دَټولوجرمونواصلی منشاهم داوی چه یوانسان هر کله چه بل چالره په مال، دولت وغیره کښې دَځان نه پورته اوزیات اووینی، نواول ئې زړهٔ کښې ورسره دَبرابرئ یاتر دَپورته کیدوخواهش اوآرزولری اوبیائې دغه خواهش اوآرزودغې جرمونوته اورسوی چنانچه قرآنی هدایت دَدې ټولوجرمونوسرچینه داسې بنده کړه چه د نورو خلقو دَ فضیلتونو اوکمالاتوآرزولرل ئې بند کړل.

په آیت کښې وړپسې ارشاددې: ﴿وَسْـَٔلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ ؕ﴾ دې کښې داهدایت دې چه هر کله دَځان نه څوک پورته په مال، دولت وغیره کښې اووینئ نوپه دغه خاص کمال کښې هغه سره دَبرابریدو دَآرزو کولوپه ځائې داپکاردی چه الله تعالی نه دَهغه دَفضل وکرم خواست اوکړئ ولې چه دَالله تعالی فضل، هرچادَپاره په بیلوبیلوصُورتونو کښې ښکاره کیږی، چالره مال، دولت دَالله تعالی فضل وی، یعنی که هغه فقیروې نوپه ګناه اوکُفر کښې به اخته شوې وو مګرچالره نیستئ او غریبئ کښې پرېښودل دَالله تعالی فضل وی، که هغه غنی اومالدارشوې وې نو دَزر ګونو ګناهونو ښکار شوې به وؤ، دغه شان چالره فضل خداوندی دَهغه په ګمنامئ اوبې آسرې والی کښې ښکاره کیږی اوکه دَحال په حقیقت باندې نظر اوکړې شی نوده ته به په عزت اومرتبې ملاویدو کښې ډیروګناهونو کښې اخته کیدل راتلل. په دې وجه الله تعالی په دې آیت کښې هدایت ورکړو چه کله، الله تعالی نه غواړی نودَیو خاص تاکلی څیزغوښتوپه ځائې دَالله تعالی فضل غواړئ، دَپاره دَدې چه هغه دَخپل حکمت په مطابق په تاسودَخپل فضل دروازه خلاصه کړی.

په آخر د آیت کښې ئې اوفرمائیل: ﴿اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا﴾ [الله تعالی هر څیزلره پیژندونکې دې] دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چه دَالله تعالی ویش بعینه دَهغه حکمت اوعدل اوانصاف

---

[1]) قدیرمز کفریجه۔

دي، څوک ئې چه په څه حالت کښې پيدا کړل اووي لرل هم دغه مقتضا دَحکمت اوانصاف ده، خوانسان دخپل انجام نه خبرنهٔ وي مګرالله تعالی ئې ښه پيژني، چه چالره په کوم حال کښې لرل هغه لره مقصوددی؟ دَذکرشوی آيت په شان نزول کښې بيان کړې شوی دی چه هرکله په ميراث کښې دَسړو دوچنده برخه مقررشوه نوځنې ښځو دا آرزواولرله چه که موږه سړی وې نوغبرګه برخه به موږه هم اغسته، دَدې په مناسب په بل آيت کښې دَميراث قانون په دې اندازدوباره بيان کړې شوچه په دې کښې تاکلې شوې برخې بعينه حکمت دې اودادَعدل مطابق دی-هرکله چه انسانی عقل دَټول جهان ښيګړې اوخرابئ په خپله ګيره کښې نشی راوستې نوداهغه حکمتونوته هم نشی رسيدې چه دَالله تعالی په مقررکړې قانون کښې ئې لحاظ ساتلې شوې دې نوهرڅوک دِېه هغې شکرګذاراوسی چه کومه برخه ورډپاره تاکلې شوې ده-

دعقد موالات په ذريعه دميراث موندلوحکم: خپل منځ کښې دَلوظ قول کولوپه بناچه دَبرخې ورکولوذکردې، دادَاسلام دَاولې زمانې خبره ده کله چه: ﴿وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَىٰ بِبَعْضٍ﴾ نازل شونودغه حکم منسوخ شو، يعنی هرکله چه نورشرعی وارثان موجودوی نودَدووکسانوترمنځه په لوظ، قول پخولوسره په شرعی ميراث باندې هيڅ اثرنهٔ غورځيږی-

اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ

| سړی | حاکمان دی | په ښځو | په سبب ددې چې فضيلت ورکړې دې | الله | بعضو دهغوی ته

خيزباندې ګواه دې | سړی په زنانو حاکمان دی | څکه چې الله ﷻ يوډلې ته په بله باندې فضيلت

عَلٰى بَعْضٍ وَّبِمَآ اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ ؕ فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ

په بعضو | اوپه سبب ددې | چې خرچ کوی نارينه | دمالونوخپلو نه | نو نيکانې صالحانې ښځې | حکم منونکې وی

ورکړې دې | او څکه چې سړو [په ښځو] خپل مالونه خرچ کړی دی | ....نو نيکانې ښځې | حکم منونکې ښځې

حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ؕ وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ

حفاظت کونکې وی | دپاره دغائب خاوندانو | سره دهغې | چې ساتلې دی الله | اوهغه ښځې | چې يريږئ تاسو

او [دخاوند] په غيرموجودګئ کښې [دخپل عزت] حفاظت کونکې ښځې اکومې چې الله ﷻ محفوظ کړی دی | او چه

نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ

دسرکشئ دهغوئ نه | نو نصيحت اوکړئ هغوئ ته | او جدا شئ دهغوئ نه | دخوب په بستروکښی

د کومو ښځود سرکشئ نه ويريږئ | نو [اول ئې] په طريقه پوهه کړئ | اوبيا ترې خپلې بسترې جدا کړئ

وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ؕ

اوأووهئ هغوئ | نوکه تابعدارې شوې هغوئ حکم منلو ستاسوته | نومه لټوئ تاسو | په هغوئ باندې | لاره دزياتی

اوبيائې اووهئ | نوکه هغوئ ستاسوخبره اومنله نو هيڅ بې هيڅ ورته بهانې مه جوړوئ

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ۝ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا

بيشکه الله | دی | اوچت | لوئ | اوکه چرې | يريږئ تاسو | دمخالفت نه | په منځ دهغوئ دواړو کښې

اودايقين اوکړئ چې بيشکه الله ﷻ ډير اوچت اوډيرلوئې دې | اوکه د دواړو [ښځې خاوند] په مينځ کښې

Scanned with Ca

فَابۡعَثُوۡا حَكَمًا مِّنۡ اَهۡلِهٖ وَحَكَمًا مِّنۡ اَهۡلِهَا ۚ

نو اولیږئ | یوفیصله کونکې | دخپلوانو دسړی نه | او بل فیصله کونکې | دخپلوانو دښځې نه |

د مخالفت نه یریږئ | نو یو ثالث د سړی دخپلوانونه مقرر کړئ او یو ثالث د ښځې د خپلوانونه مقرر کړئ

اِنۡ يُّرِيۡدَاۤ اِصۡلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيۡنَهُمَا ؕ

که اراده لرله هغوئ دواړو | د صلحې کولو | نوموافقت به پیدا کړی الله | په منځ دهغوئ دواړو کښې

که هغوئ دواړه جوړښت غواړی | نو الله ﷻ به د دواړو په مینځ کښې موافقت پیدا کړی

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيۡمًا خَبِيۡرًا ۝

بیشکه الله | دې ښه پوه | ښهٔ خبردار |

بیشکه الله ﷻ ښهٔ پوهه اوپه هرڅهٔ خبردار دې |

آسان ترجمه قرآن: سړي د ښځو نګرانان دی ځکه چه الله په دوی کښې یو ته په بل باندې فضیلت ورکړې دې او ځکه چه سړو خپل مال خرچ کړې دې نو نیکانې ښځې تابعدارې وی . د سړي په نشتوالې کښې د الله ورکړې شوې حفاظت سره (دهغهٔ د حقوقو) حفاظت کوې او کومو ښځو نه چه تاسو ته د سرکشۍ ویره وې نو (اول) هغوی لره پوهه کړئ او (که دې سره کار ونه شي) نوهغوی لره د اودهٔ کیدو په ځایونو کښې یواځې کړئ (اوکه دې سره هم اصلاح ونه شي) نو هغوی لره ووهئ بیا که هغوئ ستاسوخبره اومنې نودهغوی خلاف دڅه کارروائی کولو دپاره څه لاره مه لټوئ یقین وکړئ چه الله دټولو نه اوچت ، ټولو نه لوئ دې که تاسوته دښځې خاوند مینځ کښې د اختلاف څه خطره وې نو (ددوی مینځ کښې د فیصلې کولو دپاره) یوفیصله کوونکې د سړي دخاندان نه او یو فیصله کوونکې د ښځې د خاندان د طرف نه اولیږئ که دواړه اصلاح کول وغواړی نو الله به ددواړو مینځ کښې اتفاق راولي بې شکه الله ته د هرې خبرې علم دې او د هرې خبرې نه خبردې.

د آیتونو ربط: د ښځو متعلق چې کوم احکام تیر شو ی دی په هغې کښې د هغوئ د حق تلفۍ ممانعت هم بیان شو ، وړاندې [مخ ته] د سړو د حقوقو بیان دې . ددوئ د مطالبې او ددوئ د فوت کولو په صورت کښې د تادیب اجازت هم ورکړې شوې دې . د حقونو د اختلاف په صورت کښې ددې د تصفیه طریقه او د حقونو د ادا کولو فضیلت هم ذکر شویدې . دې سره ددې خبرې هم تصریح شوې ده چې دسړو درجه د ښځو څخه پورته ده . ددې څخه دا جواب هم و اضح شو چې هر کله سړې د ښځې په مقابله کښې افضل دې نو دا اشکال نه دی کول پکار چې په میراث کښې د ښځو حصه د سړو څخه کمه ولې ده ؟

خلاصه تفسیر

﴿ اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوۡنَ عَلَى النِّسَآءِ ﴾ سړی حاکمان دی په ښځو [د دوو وجوهاتونه یوخو] ﴿ بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعۡضَهُمۡ عَلٰى بَعۡضٍ ﴾ په دې سبب چه الله تعالی بعضو لره [یعنی سړی لره] په بعضو [یعنی په ښځو قدرتی] غوروالی ورکړے دے [دا خو وهبی خبره ده] ﴿ وَّبِمَاۤ اَنۡفَقُوۡا مِنۡ اَمۡوَالِهِمۡ ؕ ﴾ او [بل] په دې سبب سره چه سړو [په ښځو] خپلو مالونو لره [مهر کښې اوپه خرڅ خوراك کښې] لګولی دی [او دمال لګوونکو لاس پورته اودیر ښه وی دهغې نه چه پرے مال اولګوی اوداکار

Scanned with Ca

اختياري دي] ﴿ فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ ﴾ نوکومے ښځې چه نيکانے دی [هغوی دسړو ددې فضيلتونو او حقوقوله وجے] تابعداری کوی [او] دسړی دعدم موجودګئ کښې [هم] ﴿ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ ﴾ په حفاظت [اوتوفيق] دالله تعالی سره [دهغه دعزت اومال] سارنه کوی ﴿ وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ ﴾ او کومے ښځې چه [داسې نه وی بلکه] داسې وی چه تاسو ته [په قرينو سره] دهغوی دبد دماغئ [قوی] احتمال وی نو [اول] ﴿ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ ﴾ هغوی ته زبانی نصيحت کوئی او [چه نه منی نو] هغوی د پريوتو په ځايونو کښې يواځې پريږدئی [يعنی ورسره مه پريوزئ] ﴿ وَاضْرِبُوْهُنَّ ۚ فَاِنْ اَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوْا عَلَيْهِنَّ سَبِيْلًا ﴾ او که [په دې سره هم منع نشی نو] هغوی [په سمون او اعتدال] سره وهئ بياکه هغوی ستاسو تابعداری کول شروع کړی نو په هغوی [زياتی دپاره] بهانے اوموقعه] مه لټوئی [ځکه چه] ﴿ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيًّا كَبِيْرًا ﴾ بيشکه الله تعالی لوئې دبلندئی او لوئې خاوند دے [دده حقونه، قدرت او علم ،ټول لوے دی که تاسو داسې کوئی نوبيا هغه هم په تاسوباندې دخپلو حقوقو په باره کښې په زرګونو الزامونه قائمولے شی]. ﴿ وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا ﴾ اوکه [قرينو سره] ستاسو پورتنوخلقو په دې دواړو خاوند ښځه کښې [دداسې اختلاف] انديښنه وی [چه هغه به دوی په خپل مينځ کښې نشی سمولے] ﴿ فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا ﴾ نو تاسو خلق يوسړې چه دخبرې سپينولوجوګه وی دښځې دخاوند نه [مقررکړئی اوددې اختلاف ختمولو دپاره ئے هغوی ته] اوليږئی [چه هغوی لاړشی اود حالاتو تحقيق اوکړی اوځوك چه بے لارې وی او يا دواړو څه ناڅه قصور وی نوپوهه دے ئے کړی] ﴿ اِنْ يُّرِيْدَآ اِصْلَاحًا يُّوَفِّقِ اللّٰهُ بَيْنَهُمَا ﴾ که دغے دواړو سړو ته [دربښتنی زړه نه سمے راوستل [دمعاملے] منظور وی نوالله تعالی به په دې ښځه خاوند کښې په دې شرط چه هغوی ددې دواړو په رائې باندې [عمل اوکړی] اتفاق [سمے] راولی ﴿ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلِيْمًا خَبِيْرًا ﴾ بيشکه الله تعالی لوئې دعلم خاوند اولوئې خبردار دے [په څه طريقه سره چه ددوی ترمينځه صلح کيديشی په هغې پوهيږی کله چه د دواړو منصفانو نيت سم او روغ اووينی نوهغه طريقه به ددوی په زړونو کښې وراچوی].

معارف اومسائل

﴿ اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ ﴾: دسورت نساء دشروع نه تردې ځايه پورې زيات احکام اوهدايات د ښځو د حقوقو په باره کښې راغلی دی چه پکښې هغه ظلمونه دمنځه اوښکلې شوی دی چه داسلام نه وړاندې به په زنانو باندې کولې شو-اسلام ښځوته هغه ټول انسانی حقوق ورکړل چه سړوته حاصل دی، که دښځوپه ذمه ئې دسړوڅه ناڅه خدمتونه مقرر کړل نوپه سړوئې دښځوحقوق فرض کړل-

دسورت بقره په آيت کښې ئې ارشاد اوفرمائيلو ﴿ وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِيْ عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوْفِ ﴾ يعنی دښځو حقوق دسړوپه ذمه هم هغسې واجب دی څنګه چه دسړوحقوق دښځوپه ذمه واجب دی، ددې دواړو د حقوقو ديوشان والی حکم ئې ورکړواوتفصيلات ئې دعرف په حواله سره اوفرمائيل، د جاهليت اوتمامې دنيا دظلم رسمونه ئې د يو مخه ختم کړل. البته داضروری نه دی چه ددواړو د حقوقو صورتونه دهم يوشان وی، بلکه دښځې په ذمه چه څنګه کارلازم دې نودهغې په مقابل کښې په سړی باندې بل قسم کارلازم دې ښځې دکورنو اودماشومانو دپالنې اوساتنې ذمه وارې

دي نوسرې دَدوئ دَضروروتونوپوره کولو دپاره دکاروزګارکولوذمه واردي، دښځوپه ذمه دسړوخدمت اوفرمانبرداري کول دي، دسړوپه ذمه دَدوئ مهر اونفقه، يعنی دټولوضروري خرڅ اخراجاتوانتظام کول دي، غرض داچه دې آيت ښځوته دسړوپشان حقوق ورکړل. مګرداسې هم يوځيزشته چه په هغې کښې سړولره په ښځوپورته والې اويوخاص قسم غوروالې حاصل دې ځکه ئې دآيت په آخرکښې اوفرمائيل:

﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾ يعنی سړولره په ښځو باندې يودرجه غوروالې حاصل دې۔

په قرآن کريم کښې دَدې درجې بيان دَقرآن حکيم دَحکيمانه طرزبيان سره داشان شوې دې چه دَسړوداغوروالې اوپورته والې، پخپله دَښځودَښيګړې اوفائدې دپاره دَحکمت خداوندی دَمقتضامطابق دې، په دې کښې نه دَښځې دَشان کمول دی اونه ئې پکښې څه نقصان دې۔

ارشادئې اوفرمائيلو: ﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ﴾ په عربی ژبه کښې ﴿قوام، وقيام، قيم﴾ هغه چاته وئيلې شی چه دَيوکاريايوانتظام چلونکې اوذمه واروی ځکه په دې آيت کښې د﴿قوام﴾ ترجمه، عموماً حاکم کړې شوې ده، يعنی سړی په ښځو باندې حاکمان دی مراددادی چه هراجتماعی نظام دَپاره دعقل اوعرف په لحاظ داضروری دی چه دَدې څوک سرپينچ او سربراه، يا امير يا حاکم وی، چه دَاختلاف راولاړيدوپه صورت کښې دده په فيصلې کولوسره کارسرته رسی، ځنګه چه يوملک، سلطنت اورياست دپاره تهول، ده لره ضروری منی، دغه شان قبائلی نظام کښې هم، دا هميشه دپاره ضروری ګڼړلې شوې دې، ترڅو چه يوسړې دَقبيلې سرداراوحاکم منلې شوې دې، داشان په دې کورنې نظام کښې چه ورته خانه دارې، وئيلې شې، په دې کښې هم دَيو امير او سربراه ضرورت وی، دماشومانواوښځوپه مقابله کښې، دې کاردپاره الله تعالی سړی منتخب کړل، ولې چه دَدوئ علمی اوعملی قوتونه دَښځواوماشومانوپه نسبت زيات دی، اودايوداسې ښکاره معامله ده چه هيڅ يوپوهيدونکې ښځه ياسړې ترانکارنشی کولې۔

خُلاصه داده چه دَسورت بقره په آيت کښې ئې ﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾ اوفرمائيل اودَسورۂ نسآء په ذکرشوی آيت کښې ئې ﴿اَلرِّجَالُ قَوّٰمُوْنَ عَلَى النِّسَآءِ﴾ اوفرمائيل اووې ښودل چه اګرکه دَښځوحقوق په سړو باندې هم داسې لازم اوواجب دی ځنګه چه دَسړوپه ښځودی اودَدواړوحقوق، سره يوشان دی خوپه يوځيزکښې سړی ته بيلتون حاصل دې چه دوئ حاکمان دی، اودَقرآن کريم په نوروآيتونو کښې داهم واضح کړې شو چه داحکومت چه سړولره په ښځودې، صرف دې دپاره نه دې چه بس دې اميروې اوبې واګوحاکم وې بلکه دې داسې حاکم دې چه دَشرعی قانون اومشورې پابند دې صرف دَخپل طبيعت په غوښتنه څه کارنشی کولې، ده ته حکم ورکړې شوې دې چه ﴿وَعَاشِرُوْهُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ﴾ يعنی ښځوسره په معروف طريقه ښه سلوک کوئ. داشان په بل آيت کښې دَ﴿عَنْ تَرَاضٍ مِّنْهُمَا وَتَشَاوُرٍ﴾ تعليم دې-چه پکښې دَدې هدايت ورکړې شوې دې چه دکورپه کارونو کښې دَښځې په مشورې سره کارکوئ ددې تفصيل نه پس، دَسړی حاکميت، ښځې دپاره دَڅه خفګان سبب نشی جوړيدې، بياهم هرکله چه دااحتمال کيدې شوچه دَسړودَدې غوروالې او دَخپلې ماتحتئ له کبله په ښځه څه ناڅه اثراوشی، ځکه دلته الله تعالی صرف په حکم ښودو او جارې کولو باندې بس والې اونکړو، بلکه هم پخپله ئې دَدې حکمت اووجه هم اوښوده، يو وهبی چه دَچاپه عمل اوکسب څه اړه نه لری، بل کسبی، چه په کسب اوعمل اړه لری.

رُومبئ وجه ئې دااوفرمائيله ﴿بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ﴾ يعنی دلته په دُنيا کښې الله تعالی

دَیو خاص حکمت اوښیګړې لاندې ،یوته په بل لوئی ورکړې ده ،څوک ئې افضل[غوره]اوڅوک ئې مفضول جوړ کړې دې چه بل پرغوره وی.لکه چه یوخاص کورلره الله تعالی ،خپل ، بیت الله ، او ، قبله ، اوګرځولو ،بیت المقدس ته ئې خاص غوروالې ورکړو ،دغه شان حاکمان جوړول هم یوخداداد غوروالې دې چه دَسړوپه کوشش اوعمل یادَښځوپه کوتاهئ اوبې عملئ څه اړه نهٔ لرې ــــ بله وجه کسبی اواختیارې داسې ده چه سړی خپل مالونه په ښځولګوی ،مهرونه ورته اداکوی اودَوی دَټولوضروریاتوپوره کولوذمه داری اخلی ــــ هم دَدې دوؤ وجوهاتوپه بناء سړی په ښځو باندې حاکمان جوړ کړې شو-

فائده:دلته یوې بلې خبرې کښې دَغور کولوضرورت دې-ابن حبان په بحرِ محیط کښې لیکی چه هر کله دَسړوحاکمیت په دؤووجهوبناء وونودا خبره ترهم ثابته شوه چه څوک صرف په زوراوغلبې کولوسره دَوالی اوحاکم جوړیدوحقدارنه وی،بلکه هله والی جوړیدې شی چه ددغې کار اهلیت اوصلاحیت پکښې وی(۱)-

دَسړودزیات غوروالي بیانولودپاره دقرآن کریم عجیبه طریقه:دَرومبئ وجهې بیانولولنده طریقه داوه چه سړواوښځوته ئې ضمیرونه داسې راجع کړې وې چه ﴿فَضَّلَهُمْ عَلَيْهِنَّ﴾خوقرآن کښې دَدې په ځائې داسې اوفرمائیل﴿بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾حکمت پکښې دادې چه سړې اوښځه پکښې دَیو بل برخه ښکاره کولوسره دااشاره کول ؤو چه که په څه څیز کښې ،په ښځوباندې دَسړوپورته والې ثابت هم شی نومثال به ئې داوی چه لکه دَانسان سردَهغه دَلاس نهٔ ،یاززه ئې دَمعدې نه زیات غوره دې نومطلب ئې دَلاس یامعدې اهمیت اودرجه کمول نه دی.په دې شان هر کله چه سړې دښځې حاکم جوړشونودَې مطلب دانهٔ دې چه ګنې دَښځې درجه یامقام کم دې،ځکه چه ددې دواړو مثال دیوبدن دبرخواواندامونودې چه سړې په مثال دسراوښځه په مثال دَلاس ده-

ځنې مفسرینو ﷺ فرمائیلی دی چه دې عنوان سره دې اړخ ته هم اشاره شوې ده چه دَسړو زیات فضیلت دَښځونه دَجنس اومجموعې په اعتبارسره دې ،پاتې شوافراد. نوکیدې شی چه څوک ښځه په علمی اوعملی کمالاتوکښې دَسړی نه پورته شی اودحاکمیت په صفت کښې هم دَسړی نه اُوچته شی-

دَسړی اوښځې مختلف عملونه دَغاړې اصولونودی:بله اختیاری وجه چه داسې بیان کړې شویده چه سړی خپل مالونه په ښځولګوی،په دې کښې هم څواهموخبروته اشاره کړې شویده-مثلاًیوداشبه لرې کول دی چه دَمیراث په آیتونوکښې دَسړوبرخه غبرګه اودَښځو او نیمه ولې ده؟ نو په دې آیت کښې دَدې وجه دااوښودلې شوه چه ټول قسمه مالی ذمه وارئ په سړو دی، دَ ښځو حال خودادې چه دواده نه وړاندې دَدوئ ټول خرڅونه دَپلارپه ذمه دی اودَواده نه پس ئې په خاوند دی، اوس په دې کښې په ژورنظرکتلوسره داخرګندیږی چه دَسړی برخه دوچنده کیدل دا هم هغه ته څه زیاتی ورکول نه دی ځکه چه دَدې فائده هم ښځوته واپس راځی ــــ بله اشاره پکښې دَژوند داهم اصولوپه باره کښې داهم ده چه دَپیدائیش اوفطرت په اعتبارسره ښځه دَدې جوګه نهٔ ده چه خپل خرڅ اخراجات د پخپله پوره کولودَپاره مال ګټی نهٔ دَدې حالات دې سره سمون خوري شې چه محنت ،مشقت اوخواری مزدوری د پخپله کوی اوداشان دکارکسب نورو ذریعو اختیارولو دپاره دَسړوپشان ،په دفترونواوبازارونوکښې ګرځی راګرځی.هم داوجه چه الله تعالی دَدې ټولې مالی

(۱) تفسیر البحر المحیط، تحت هٰذه الآیة: ج ۳، ص ۲۴۹

Scanned with Ca

ذمه دارۍ په سرو واچولې دواده نه وړاندې دغه ذمه دارۍ پلار پوره کوي اودواده نه پس ئې خاوند اداکوي. بل اړخ ته دانساني نسل دزياتولو دپاره ،ښځه ذريعه جوړه کړې شويده دماشومانو او دكور سنبالولو ذمه داري هم په دې ښځه اچولې شويده ولې چه سړی دغسې نشي کولې لهذا دا کنټرول نۀ دی پکار چه ښځه په خپل خرڅ اخراجاتو کښې سړي ته دمحتاج کیدو په وجه ددې مرتبه کمه کړې شويده-بلکه دتقسيم کار په اُصولو دیوتیانې تقسیم شویدی، البته د دیوتیانو ترمينځه دفضيلت فرق دلته هم شته-

خلاصه ئې داده چه ددې دواړو وجهو په ذريعه دااوښودلې شوچه دسړو په حاكم جوړيدو سره نۀ دښځې درجه کميږي اونۀ پکښې دسړي څه فائده شته بلکه فائده ئې بیاهم ښځې ته راګرځي

نیکوکاره بي بي: ددې آيت په شروع کښې دضابطې په ډول دااوښودلې شوچه سړې په ښځه حاکم دي، بیائې دنیکانواوبدانو ښځو بیان داسې اوکړو: ﴿فَالصّٰلِحٰتُ قٰنِتٰتٌ حٰفِظٰتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ﴾ يعنی نيکانې ښځې هغه دی چه دسړي حاكميت مني اودهغوئ تابعداري کوي او دخپلو خاوندانو پشی شاهم دخپل نفس اودوئ دمال حفاظت کوي، ،يعنی دخپلې پاکئ اوپاک لمنئ اودكوردمال حفاظت په داسې شان کوي چه سړي ورسره موجودهم نۀ وي،دادکورزیات ضروري انتظام کول دی،چه نیکانې ښځې ئې په ښه شان سره پوره کوي يعنی که خاوندئې په کورکښې ورسره وي نوپه دواړوحالاتو کښې دوئ دغه خپل فرض پوره کوي داسې نۀ ده چه دخاوندانو مخ امخ خودې غم کوي ليکن که دوئ دکورنه بهرشي نوپه دې کښې بې پروائ کوي-

چنانچه رسول الله ﷺ ددې آيت دتفسيرپه ډول داسې فرمائيلی دی:

﴿خير النساء امراة اذا نظرت اليها سرتك واذا امرتها اطاعتك واذا غبت عنها حفظتك في مالها ونفسها﴾(۱) يعنی ډيره غوره ښځه هغه ده چه کله ورته اوګورې نوخوشحاله شې اوچه ورته څه حکم ورکړې نوهغه مني اوكله چه ترغائب شې نودخپل مال اوځان ساتنه کوي.

اوهر کله چه دښځو دا ذمه وارئ دواړه [خپلې پاکئ اودخاوند دمال ساتنه]پوره کول څه آسان کارنه دي ځکه وړاندې فرمائي ﴿بِمَا حَفِظَ اللّٰهُ﴾ يعنی په دې حفاظت کولو کښې الله تعالی دښځو امداد کوي چه دهغې په اداڼه اوبرکت دا ،خپله دغه ذمه واري پوره کولې شي،ورنه دنفس اوشيطان مکرونو،هروخت هرانسان سړې اوښځه راګير کړی دي،اوخصوصاً ښځې په خپلو علمي اوعملی قوتونو کښې دسړونه زياتې مضبوطی ښکاری ځکه چه دا ټول دالله تعالی توفیق اوامداددې،هم دغه وجه ده چه دبې حيائ په ګناهونو کښې دسړوپه نسبت،ښځې،ډيرې کمې اخته کيږی،دتابعدارو اوفرمانبردارو ښځو غوروالې څنګه چه ددې آيت نه معلوميږی په دې سلسله کښې احادیث هم راغلی دی. چنانچه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه کومه ښځه دخپل خاوند تابعداره وی هغې دپاره دهوامارغان ددریابونو کبان [ماهیان]،دآسمانونو فرشتې اودځنګلونو درندګان دالله تعالی نه بخښنه غواړی(۲)-

نافرمانه ښځه اودهغې دسمولو طريقه: وروسې دهغه ښځو په باره کښې بيان دی چه دخپلو خاوندانو فرمانبرداری بیخې نۀ کوی،یاکوتاهی پکښې کوی،ددې اصلاح اوسمولو دپاره سړوته په ترتیب سره درې طریقې ښودلې شویدی،لکه فرمائي ﴿وَالّٰتِيْ تَخَافُوْنَ نُشُوْزَهُنَّ فَعِظُوْهُنَّ وَاهْجُرُوْهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ

(۱) تفسير ابن ابي حاتم رقم الحديث: ۵۲۸۲

(۲) تفسير البحر المحيط، تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۱۲۱

Scanned with Ca

﴿وَاضْرِبُوهُنَّ﴾ یعنی که ښځې نافرمانی کوی یاتر دَدې اندیښنه لرئ نو دَدوئ دَ سمولو طریقه داده چه دَدوئ کټ بستره ځان نه بیل کړئ چه دَدې بیلتون له کبله ورسره دَخاوند دَخفګان احساس اوشی اوپه خپلو کړو پښیمانه شی. دلته قرآن کریم کښې د ﴿فِي الْمَضَاجِعِ﴾ لفظ راغلې دې، فقهاؤ دې نه دامطلب راوښکلې دې چه صرف بستره تربیله کړئ، ځائې، مکان مۀ بدلوئ، داسې چه په یوځان له مکان کښې پریښوې شی په دې سره به ښځې ته خفګان هم زیات وی او دَ فساد زیاتیدو ویره پکښې هم شته. یوصحابی روایت کړې دې:

﴿قلت یارسول الله ﷺ ماحق زوجة احدنا علیه قال ان تطعمها اذا طعمت وتکسوها اذا اکتسیت ولاتضرب الوجه ولاتقبح ولاتهجر الا فی البیت﴾ [مشکوٰة] [۱] مارسول الله ﷺ ته عرض اوکړو چه زمونږ دَبیبیانو په مونږه څه حق دې؟ هغوئ اوفرمائیل چه تاسو خورئ نو په هغوئ هم خورئ اوچه تاسو اغوندئ هغوئ ته هم اغوندوئ اوپه مخ ئې مه وهئ اوکه تربیلیږئ نو دومره کوئ چه [بستره تربیله کړئ] مکان ترمه بیلوئ-

اوچه ښځې په دې شریفانه سزا خبردارولوا باندې هم منع نشی نو بیا دَهغوئ دَمعمولی شان وهلو اجازت هم دې چه په بدن ئې څه اثرنۀ پریوځی، هډوکی ماتیدو، زخمی کیدو ته ئې خبره نۀ رسی اوپه مخ باندې ئې وهل مطلقًا منع کړې شویدی-

رومبئ دوه سزاګانې خوشریفانه سزاګانې دی چه انبیاؤ اونیکانو خلقونه دَخبرې دَمخه هم دَدې اجازت منقول دې اوعمل پر هم ثابت دې-لیکن دَدریمې سزا [وهلوټکولو] اګرچه دَمجبورئ په درجه کښې، په یوخاص اندازسره، سرې ته دَدې اجازت ورکړې شوې دې، مګردې سره په حدیث کښې داهم ارشاددې، ﴿لن یضرب خیارکم﴾ [۲] یعنی ښه سری به دَوهلو داسزا ښځوته نۀ ورکوی، چنانچه انبیاؤ ﷺ نه، چرته داسې عمل منقول نۀ دې-

ابن سعد اوبیهقی ﷫ دحضرت ابوبکرصدیق ؓ دلوربی بی ؓ نه داروایت نقل کړیدې، چه رومبې سړی، مطلقًا دَښځو دَوهلونه منع کړې شوی وو، مګربیا ښځې زمرئ [زړورې] اشوې نو دااجازت دوباره ورکړې شو [۳]-

دَذکرشوی آیت تعلُّق هم دا قسم یوې واقعې سره دې، شانِ نزول ئې دادې چه زیدبن ابی زهیر ؓ دَخپلې لوربی بی نکاح، حضرت سعدبن ربیع ؓ سره کړې وو، دَدوئ ترمنځه څه اختلافات راغلل، خاوندئې یوه څپیړه اووهله، حضرت حبیبه ؓ خپل والدته دَدې شکایت اوکړو، والدئې دَرسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضره کړه، هغوئ حکم ورکړو چه حبیبې ته اختیاردې چه هغه هومره په زوره څپیړې سره دَسعدبن ربیع ؓ نه بدل واخلی څومره په زوره چه هغه څپیړه ورکړې ده. دې نه پس هغوئ دواړو دَبدلې اغستلو دَپاره کورته روان شو خوپه دغه وخت کښې داآیت شریف نازل شو، چه پکښې دآخری درجې په حیث دَښځې دَوهلو اجازت راغلې دې اوپه دې سره ئې دَسړی نه دَقصاص، انتقام یابدل اغستو اجازت نه دې ورکړې، دآیت په نازلیدو رسول الله ﷺ دغه دواړه [پلار اولور] راؤبلل دَالله تعالی حکم ئې ورته ښکاره کړو اودَبدل

[۱]) مشکوٰة، کتاب النکاح، باب عشرة النساء: ج ۲، ص ۲۸۱
[۲]) المستدرک للحاکم رقم الحدیث: ۲۷۷۵
[۳]) طبقات ابن سعد، باب ذکر ضرب النساء: ج ۸، ص ۲۰۴

اغستو رومبې حکم ئې منسوخ کړو(۱)۔
دآيت په آخر کښې ئې ارشاد اوفرمائيلو چه ددې درې طريقو په ذريعه که هغوئ تابعدارې شي نو بيا تاسو هم دستر گو په تولونه کار اخلئ، په معمولي خبرو باندې تورونه پر مه پورې کوئ اوپو هه شئ چه دالله تعالى قدرت، تولونه راچاپيره دې۔

دمضمون خلاصه آيت نه، دبنيادي أصولو په حيثيت سره چه کومه خبره مخې ته راځي، هغه داده چه دتيرشوي آيتونو مطابق، اگرچه دښځو او سړو حقوق يو شان دي، بلکه دښځو دحقوقو دپوره کولو په دې وجه زيات انتظام کړې شوې دې، چه دوئ دنارينؤنه کمزورې دي، دځپلو متو په زور، دسړونه ځپل حقوقه نشي ترلاسه کولې، خو ددې مساوات اوبرابرئ دامعني نه ده چه دښځې اوسړي ترمنځه دهيڅ قسم غوروالي اودرجې دسره څه فرق شته دې نه، بلکه دحکمت اوانصاف دتقاضا مطابق ددوؤ سببونه، سړي په ښځو، حاکمان جوړ شوي دي۔
اول داچه دجنس سړي په جنس ښځه باندې دځپلو علمي او عملي کمالاتو په اعتبار سره يو خداداد غوروالي اوپورته والي حاصل دې چه جنس ښځه ئې دسره نشي حاصلولې. دځان ځاني ،انفرادي او اتفاقي واقعاتو معامله بيله ده، بل داچه سړې په ځپل مال اوگټې سره د ښځې دټولو ضرورياتو پوره کولو ذمه داردې۔ رومبې سبب وهبي [غير اختياري] اوبل کسبي اواختياري دې اوداهم وئيلې شي چه دېومورپلار په اولاد کښې ځنې لره حاکم اوځنې لره محکوم جوړولو دپاره، دعقل اوانصاف له مخې دوه څيزونه ضروري وو- يوداچه حاکم جوړيدونکې دعلم اوعقل په اعتبار سره دحاکم کيدوجوگه کيدل اوبل داچه دده په حاکم کيدو باندې محکوم خلق راضي وي، رومبې سبب داواضح کوي چه سړې دحاکم جوړيدوور دې اودويم سبب دمحکوم پر راضي کيدل واضح کوي. ځکه چه هر کله دنکاح په وخت ښځه دځپل مهر اوخرڅ اخرجاتو ذمه دارئ اغستو په شرط باندې دنکاح اجازت ورکوي، نوسړي [خاوند] دغه حاکميت مني اومنظورولې۔
غرض داچه ددې آيت په رومبئ جمله کښې دکورنئ اوبال بچه دارئ دنظام يو بنيادي أصول اوښودلې شو چه په اکثرو څيزونو کښې اگرچه دسړي اوښځې حقوق سره برابروي خو بيا هم سړي ته داغوروالې ثابت دې چه دحاکم جوړيدو جوگه دې اوښځه ئې دحکم لاندې اوتابع ده۔
ددې بنيادي اصولو لاندې په عملي دنيا کښې دښځو دوه ډلې شوې، يوه داچه چا، ددغه بنيادي أصولو اودځپل لوظ، قول پابندي اوکړه، سړې ئې حاکم اومنلو دهغه تابعداري کوي بلکه هغه چه په دې اصولو باندې په پوره شان سره ولاړه اوتينگه پاتې نشوه. رومبئ ډله خود کورنئ امن اواطمينان په ځپله ذمه واره ده، ددې دسمرلو هيڅ حاجت اوضرورت نشته. دبلې ډلې دسمون راوستو دپاره، دآيت په دوئمه جمله کښې يوداسې ترتيب کړې نظام اوښودلې شو چه دهغې په ذريعه کورنئ سمې راوستل په کور کښې دننه اوشي اودښځې خاوند جگړه ددې دواړونه بهرته لاړه نشي، اوبهرنئ هيڅوک دريمگړې پکښې رانشي، په دې کښې سړوته داسې خطاب شوې دې چه که ښځې نافرماني کوي ياپه فرمانبردارئ کښې ترڅه کمې محسوس کړئ نو تولونه اول داکاراوکړئ چه پوهه راپوهه ئې کړئ اوذهن ئې سم کړئ که ... ې سره کار او شو نو خير خيريت شو، ښځه دهميشه گناه نه، اوسړې دزړه دکراؤنه اودواړه دغم اوخفگان نه بچ شو، اوکه په دې پوهولو کار اونۀ شونو دويمه درجه داده چه دوئ ته دخبردارئ ورکولو اوتر نه دځپل خفگان ښکاره

(۱) التفسير الكبير للرازي تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۷۳

کولو په غرض ئې کتب بستره بیل کړئ چه یو قسم معمولي سزا او د یرزیات غوره خبرداري ورکول دي، که په دې سره ښځه خبرداره شوه نو جګړه هم دغلته ختمه شوه، او که په دې شریفانه سزا هم دَخپلې نافرمانۍ او د کوږ تګ نه منع نه شوه په دریمه درجه کښې دَمعمولي وهلو اجازت هم ورکړې شو، حدئې دادې چه په بدن ئې دَدې وهلو اثر او زخم نه وي، خو دا قسم سزا، رسول الله ﷺ نهٔ ده خوښه کړې-بلکه وې فرمائیل چه شریف او ښهٔ خلق بهٔ داسې نهٔ کوي-

په هرحال په دې معمولي وهلو ټکولو که معامله سمه شوه نو هم ئې مقصد حاصل شو، په دې کښې دَښځو دَسمولو په غرض چیرته چې سړو ته دادرې اختیارات ورکړې شوي وي، هلته ئې دا یت په آخر کښې دا هم اوفرمائیل:

﴿فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا﴾ یعني که په دې درې قسمه تدبیرونو سره هغوئ ستاسو خبره منل شروع کړل نو زیات ملامته کول ئې مه کوئ بلکه سترګې پریتوئ، او ښه پوهـ شئ چه که الله تعالی په ښځو باندې تاسو ته څه لوئ درکړېده نو د الله تعالی لوئ په تاسو دپاسه هم سوره ده، تاسو که زیاتې کوئ نو سزا به ئې تاسو څکئ:

که جګړه اوږده شوه نو ددوه اړخیزو رورولئ دَمنصفانو په ذریعه دروغه راوستل شي: دا نظام خو هغه وخت دَهغې په ذریعه ئې دکورجګړه هم په کور کښې ختمه شي، لیکن ځنې وختونو کښې داسې هم کیږي چه جګړه اوږده شي چه دښځې په طبیعت کښې سرکشي وي، یا په دې بنا، چه دسړي قصوروي او هم دَهغه داړخه بې ځایه سختي کول وي، په هرحال دې صورت کښې دَخبرې بهرته وتل خو لازمي دي لیکن دَعام عادت مطابق خو داکیږي چه ددواړه اړخو مرستیالان یو بل ته بدرد وائي او الزامونه پر باندې لګوي نتیجه ئې دَجانبینو کسان راپاړول وي چه بیادَدوؤ کسو جګړه دَخاندانې جګړې صورت اختیار کړي-

په دې دویم آیت کښې، قرآن کریم دَدې لوئې فسادد روازې بندولو دپاره دَوخت حاکمانو دَدواړو فریقو اختیارمنو، مرستیالو اودَمسلمانانو جماعتونو او ډلو ته خطاب کړې دې، ورته ئې داسې پاکیزه طریقه ښودلې ده چه دَفریقینو راپاریدل پرختم او سوړشي او دَالزامونو لګولو لړۍ پرهم بندې شي او دَدوئ ترمنځه دَصلح راوستو څه لاراوځي، او دکور جګړه که په کور کښې ختمه نشي نو کم ناکم په خاندان کښې دختمه شي، دَمقدمې په ډول دعدالت ته ورنشي اونهٔ دپه کوڅو، بازارونو کښې داجګړه چلیږي. هغه طریقه داده چه دَحکومت خلق، یا دَفریقینو اختیارمن، یادَمسلمانانو څه بااثره ډله داکار او کړي چه دَدوئ ترمنځه روغې راوستو دپاره دوه منصفان، ،حَکَم، ، مقرر کړي یو د سړي د خاندان نه او بل د ښځې د خاندان نه او په دې دواړو ځایونو کښې ئې په لفظ د حکم سره تعبیر اوکړو قرآن کریم ددې دواړو ضروري صفتونه متعین کړل او وې تاکل چه دادواړه دَجګړفیصله کولو او هوارولو جوګه وي، ښکاره خبره ده چه داسې جوګه کیدل به هله کیدې شي چه دَعلم اودیانت خاندان وي-

خُلاصه ئې داشوه چه یو، ،حکَم، ، دسړي دَخاندان نه او بل ددښځې دَخاندان نه اوټاکلې شي او دواړه ددغه ښځې خاوندته اولیږلې شي هلته چه ورشي نو دادواړه به څه کوي اودَدوئ اختیارات به څه وي؟

قرآن کریم دانهٔ دی ټاکلی، البته په آخر کښې ئې داسې اوفرمائیل ﴿إِن يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا﴾ که دادواړه حکمان، دَحالاتو سمولو اودَدوئ په منځ کښې دَروغې جوړې راوستو اراده

اولري نو الله تعالى به د دوئ په كار كښې ورسره امداد اوكړي او دَ ښځې خاوند ترمنځه به اتفاق راولي. دې جملې نه دوه خبرې پوهه كېږي راغلې اول داچه روغه جوړه راوستونكي دواړه حَكَمان كه نيك نيته وي او دَ ښځې خاوند ترمنځه د زړهٔ نه صُلح او روغه جوړه راوستل غواړي نو دَالله تعالى دا ړخه به ورسره غيبي امداد كيږي دوئ به خپل مقصد كښې كامياب شي او دَ دوئ په ذريعه به د دواړو ښځې، خاوند، په زړونو كښې الله تعالى، اتفاق او محبت راولي، دَدې دَنتيجې نه داپه پوهه كېږي راځي، چه چرته روغه جوړه رانشي نو د دواړو حَكَمينو په زړونو كښې به دَروغې جوړې راوستو دپاره اخلاص نه وي يا به پكښې كمې وي. بلكه خبره تردا معلوميږي چه دَدې دواړو حاكمانو د ليږلو مقصد دَ ښځې، خاوند ترمنځه صُلح كول دي، دَدې نه زيات بل كار، د كمانو د ليږلو په مقصد كښې شامل نه دي، دا بله خبره ده چه فريقين راضي شي او هم دغه دواړه حَكَمين خپل وكيلان، اختيارمن يا د ريمكړي جوړ كړي او دې ته هم تيار شي چه دوئ دواړه د دوئ (ښځې، خاوند) ترمنځه څه فيصله اوكړي، هغه به دوئ ته منظوره وي. لهذا په دې صورت كښې به دغه دواړه [حَكَمين] دَ دوئ دَ معاملې په فيصلې كولو كښې په كلي توګه مختار وي، كه دواړه په طلاق باندې متفق شي نو طلاق به اوشي، كه دواړه په اتفاق سره دَ خُلع وغيره په څه صورت راجمع شي نو هم دوئ به دَ فريقينو او سړي دَ جانب نه دور كړو اختيار اتو په بنا ښځې ته طلاق وركړي چه فريقين به ئې منى په پخوانو بزرګانو كښې، د حسن بصرى ؒ او ابو حنيفه ؒ تحقيق هم دادې [روح المعاني] (١).

دَحضرت علي ؓ په وړاندې يو داشان واقعه پيش شوه په هغې كښې هم دَدې ګواهي موجوده ده چه دا دواړه حَكَمين، دَ خپله ځانه، سِوا دَصُلح كولو نه بل څه اختيارات نهٔ لري، ترڅو چه ورته فريقين، كُلي اختيار ورنكړي. دا واقعه په سُنن بيهقي كښې دَعبيده سلماني په روايت داشان ذكر شويده]

يو سړي او ښځه دَحضرت علي كَرم الله وجهه په خدمت كښې حاضر شو چه د دواړو سره ډيرې ګنړې ډلې وې، حضرت علي حُكم اوكړو چه يو حَكَم دَ ښځې دا ړخه او بل حَكَم دَ سړي دا ړخه اوټاكئ، چه دواړه اوټاكلې شو نو حضرت علي ورته داسې اوفرمائيل. تاسو ته پته ده چه څه ذمه واري موده او څه به كوئ؟ واورئ كه تاسو دواړه، دې ښځې خاوندله په يو ځائې ساتلو او دَدوئ ترمنځه په روغې جوړې راوستو متفق شوئ نو هم دغسې اوكړئ او كه داسې درته ښكاريده چه د دوئ ترمينځه به روغه جوړه رانشي، يا به دا، په ځائې پاتې نشي او ستاسو دَدواړو په دې اتفاق اوشي چه د دوئ ترمنځه بيلتون كول دَخير كار دي نو هم دغسې اوكړئ- دَدې په آوريدو ښځې اوئيل چه دا ماته منظوره ده چې دا دواړه حَكَمان كه دَالله تعالى په قانون، څه فيصله اوكړي، كه زما دَ مرضئ مطابق وي يائې خلاف وي ماته منظوره ده. ليكن سړي اوئيل چه بيلتون او طلاق خو به په هيڅ حال كښې منظور نهٔ كړم- البته حَكَم ته دا اختيار وركوم چه كه په ما هر څومره تاوان راولي هغه به وركړم خو چه ښځه راله راضي كړي ــــ حضرت علي ؓ اوفرمائيل چه داسې نهٔ ده بلكه تهٔ به هم دغه حَكَمينو ته هغسې اختيار وركوې څنګه چه ښځې وركړي دي (٢)-

دې واقعې نه څنې مجتهدينو اماماتو دا مسئله راغستې ده چه دا حَكَمين دخامخا دَپوره اختيار خاوندان وي لكه چه حضرت علي ؓ فريقينو ته اووئيل او دوئ ئې پوره اختيارمن

(١) روح المعاني تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٢٥

(٢) السنن الكبرىٰ للبيهقي: ج ٧، ص ٣٠٥

Scanned with Ca

جوړ کړل امام ابو حنیفه رحمه الله او حسن رحمه الله دا خبره په ګوته کړه چه که د شریعت له مخه، حکمین اختیارمن کیدل ضروري وي نو د حضرت علي رضي الله عنه د دغې ارشاد او د فریقینو د رضامندۍ حاصلولو ضرورت به نه وو، د فریقینو د رضا کولو کوشش پخپله د دې دلیل دې چه دا حکمین په اصل کښې اختیارمن نه وي، البته که ښځه، خاوندئې اختیارمن جوړ کړي نو هله به اختیارمن وي. د قرآن کریم په دې تعلیم سره، د خلقو د یو تربله جګړو او مقدمو د فیصلو کولو په باره کښې یو ډیر فائده من نوې باب زیات شو، د کوم په ذریعه چه عدالت او حکومت ته رسیدونه وړاندې، د بهائ بندۍ او رورولی په پنچایتونو او جرګو کښې د ډیرو مقدمو او جګړو فیصلې کیدې شي.

په نورو جګړو کښې هم د حکم په ذریعه صُلح صفائ کولې شي: فقهاؤ رحمهم الله فرمائیلي دي چه یو تربله د صُلح راوستو د پاره، د دوؤ حکمینو د لیږلو دا تجویز یواځې د ښځې خاوند ترمنځه د جګړو د پاره خاص نه دی، بلکه په نورو جګړو کښې هم داسې کیدې شي او پکار هم داسې دی، خصوصاً په هغه حالت کښې چه جګړې کوونکی خپل منځ کښې خپل خپلوان هم وي، ولې چه عدالتي فیصلو سره خوختی جګړې ختمیدې شي، خو دغه فیصلې په زړونو کښې د خیری او دشمنۍ جراثیم پریږدی، چه روستو په ډیرو خرابو شکلونو کښې ښکاره کیږي. حضرت فاروقِ اعظم رضي الله عنه د خپلو قاضیانو د پاره دا فرمان جاري کړې وو.

﴿ردو القضاء بین ذوي الارحام حتی یصطلحوا فان فضل القضاء یورث الضغائن﴾ [معین الحکام] (۱)

د خپلوانو ترمنځه مقدمې هم دوئ ته واپس کوئ چه هغوئ پخپله په رورولۍ کښې د صُلح کولو څه صورت راؤباسی، ولې چه د قاضي فیصله په زړونو کښې کینه او دشمني پیدا کوي.

د احنافو فقهاؤ رحمهم الله څخه قاضي قدس، علاؤالدین طرابلسی په خپل کتاب، «معین الحکام» کښې، او ابن شحنه رحمه الله په «لسان الحکام» کښې، د فاروقي رضي الله عنه فرمان په داسې پنچایتي جرګو او فیصلو کښې خاص بنیاد جوړ کړې دی، چه د دې په ذریعه د فریقینو په رضامندۍ د صُلح کولو څه صورت راؤښکلې شي، او ورسره ئې دا هم لیکلي دي چه اګر که فاروقي رضي الله عنه فرمان کښې، دا حکم د خپلوانو ترمنځه جګړو سره تعلق لري مګر دې کښې ذکر شوې علت او حکمت (چه عدالتي فیصلې په زړونو کښې خیرې او دشمني پیدا کوي، په خپلوانو او پردو دواړو کښې عام دې، او دې قسم خیری او دشمنۍ نه ټولو مسلمانانو له بچ کول دي، څکه حاکمانو او قاضیانو د پاره مناسب دا دې چه د مقدمو د آوریدونه وړاندې د دې کوشش کوي چه په څه صورت سره د دوئ ترمنځه په رضامندۍ سره روغه جوړه راشي.

غرض دا دې چه دې دوؤ آیتونو کښې د انسان د کورني او د بال بچه دارۍ د ژوند، یو داسې ټول اړخیز او مکمل نظام بیان شوې دې چه که پوره عمل پرې اوشي نو د دنیا اکثر جګړې او جنګونه جدلونه به ختم شي، سړی او ښځې ټولې به په آرام شي او خپل کورني ژوند به جنتي ژوند محسوسوی او د کورنو جګړو په اډانړه راولاړې شوې قبائلي، بیا د لنیزې او ملکې جګړې او جنګونه به د منځه اوځي او امن و امان به قائم شي.

په آخر کښې بیا په دې عجیبه، غریبه، محکم قرآني نظام باندې یو اجمالي نظر واچوئ چه کورنو جګړو ختمولو د پاره ئې د نیا ته ورکړې دې.

① کورنۍ جګړه د هم په کور کښې په درجه بند انتظامونو سره خلاصه کړې شي.

(۱) معین الحکام، الباب الرابع، فصل في سيرة القاضي في الأحكام: ج۱، ص۵۷

② که داصورت قابونه بهرشونو حاکمان یادعزیزولی خلق د دَدووحَکمینوپه ذریعه په دوی کښې روغه جوړه راولي یعني که خاص په کور کښې داجنجال نشوختمیدې نوبیاپه خاندان ،عزیزولي، کښې دِنې ختم کړی،چه عدالتونو اولاړو کوځوته اونه خي۔

③ که داهم دَوس نه بهرشي اوپه آخر کښې معامله عدالت ته اورسي نوهغه د ددواړو دَ حالاتو او معاملاتو تحقیقات اوکړی اومنصفانه فیصله داوکړی۔

په آخر دآیت کښې ئې ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا﴾ فرمائیلوسره دواړه حَکمین ئې خبرداره کړل،چه که تاسو څه بې انصافي اوکوړ تګ موکولونوعلیم اوخبیرسره به موپیښه راځي،داخپلې مخې ته راولئ۔

وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا
او عبادت کوئ دالله | اومه شریکوئ | دهغه سره| هیڅ څیز
| اوصرف دالله ﷻ عبادت کوئ| اوهیڅ څیزورسره مه شریکوئ
وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ
او دمور او پلار سره | احسان کوئ | او دخپلوانو سره | او دیتیمانو سره | او دمسکینانو سره
اومورپلار سره ښهٔ سلوک کوئ|او خپلوانو سره..........او یتیمانو سره.........او مسکینانوسره
وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنبِ وَابْنِ السَّبِيلِ
اودګاونډیانو سره چه رشته داردی|اوهغه ګاونډیانو سره چه پردي دی |اودملګری| دخنګ سره| او دمسافر سره
اودخپلوانو ګاونډیانو سره | اودناستي ملګری سره |لکه د دفترملګرې د سفرملګرې| | او مسافرسره
وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ
او دهغه وینځو غلامانو سره | چي مالکان وی دهغوئ | ښیٔ لاسونه ستاسو| بیشکه الله | نهٔ خوښوی
او|هغې وینځومریانوسره|چې تاسوئې مالکان ئې |......................... بیشکه الله ﷻ نه خوښوی
مَن كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ
هغه څوک | چي وی | کبرژن | فخرکونکي | هغه کسان| چی بخل کوی | او حکم کوی
هغه سړې چې چا کښې تکبر وی | اوفخرکونکي وې| هغه کسان چې بخیلان وی اونورو ته
النَّاسَ بِالْبُخْلِ وَيَكْتُمُونَ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ
خلقو ته | د بخل | او پټوی | هغه څه | چی ورکړی وی هغوئ ته الله | دفضل خپل نه
هم دبخل حکم کوی| اوالله ﷻ چې ورته پخپل فضل څه|مال متاع|ورکړی ده هغه پټوی
وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا وَالَّذِينَ يُنفِقُونَ
او تیار کړې دې مونږه | دپاره دکافرانو | عذاب رسواکونکې | او هغه کسان | چی خرچ کوی|
اومونږ کافرانو دپاره رسواکونکې عذاب تیارکړې دې| اوهغه کسان|هم دالله پاک خوښ نه دی| چې هغوئ خپل

Scanned with Ca

أَمْوَالَهُمْ	رِئَاءَ	النَّاسِ	وَلَا يُؤْمِنُونَ	بِاللَّهِ	وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ ط
مالونه خپل	دپاره دښودنې	د خلقو	اونه لری یقین	په الله باندې	او نه په ورځ دآخرت باندې
مالونه صرف دنوم دپاره خرچ کوی اونه په الله ایمان راوړی اونه په ورځ د آخرت باندې					
وَمَنْ يَكُنِ	الشَّيْطٰنُ	لَهُ	قَرِينًا	فَسَاءَ	قَرِينًا ۝
اوهغه څوك چې وی	شیطان	د هغه	ملګرې	نو بد دې	داملګرې
اوربنتیا خبره داده چې شیطان دچاملګرې شی نودغه ډیربدملګرې دې					

آسان ترجمه قرآن: او دالله عبادت کوئ او ده سره څوك مه شریکوئ ، او د مور پلار سره ښه سلوك کوئ ، د خپلوانو ، یتیمانانو ، مسکینانو ، نږدې ګاونډې ، لرې ګاونډې ، یو ځائ ناست (یا یو ځائ ولاړ) کس او مسافر سره او خپلو غلامانو او وینځو سره هم (ښه سلوك کوئ) بې شکه الله هیڅ یو ځانته غاوره او لاپو سړې نه خوښوې داسې خلق خپله هم بخل کوې اونورو لره هم د بخل ترغیب ورکوې او الله چه دوی ته د خپل فضل نه څه ورکړې دې هغې لره پټوې — او مونږ داسې ناشکرو لره شرموونکې عذاب تیار کړې دې او هغه خلق چه خپل مال د ځان ښودلو د پاره خرچ کوې ، او نه په الله ایمان راوړې او نه په ورځ د آخرت ، او شیطان چه د چا ملګرې شي نو هغه ډیر بد ملګرې وي.

د آیتونو تړون: تاسو د سورة نساء په تفسیر کښې کتلی دی چې په دې سورة کښې د حقوق العباد اهتمام کړې شوې دې . د سورة د شروع څخه تر دې ځائې پورې د عام انسانی حقوقو اهمیت اجمالی تذکره فرمائیلو څخه روستو یتیمانانو او ښځو حقوقو اهتمام کړې شوې دې . او په دې کښې د کوتاهئی کولو باندې وعید او دې دنیا کښې چې په دوئ کښې دوه نازك صنفونه یعنی ماشومان او ښځو سره ظلم کول روا کړې شوی وو . او د ظلم رسمونه اختیار کړې شوی وو . بیا ددوئ د اصلاح او بیا د وراثت دحقوقو بیان راغلې دې . دې نه پس د مور پلار او نورو رشته دارو او خپلوانو او ګاونډیانو او عامو انسانانو د حقوقو ښهٔ په تفصیل سره بیان راغلې دې . او دا حقوق هغه کس ادا کولې شی چې هغه په الله ﷻ او قیامت په ورځ باندې ایمان لرې . دا شان بخل ، کبر او د ریاء څخه هم ځان ساتی . څکه چې دا امور د حقوقو په ادا کولو کښې هم یو بندیز جوړیږی . په دې وجه ئې دې آیتونو کښې د توحید او ترغیب و ترهیب مضامین بیان فرمائیلې شوی دی . د قیامت څخه دانکار ، د عصیان رسول ﷺ ، او بخل وغیره اخلاق ذمیمو مذمت او غندنه راغلې ده .

خلاصه تفسیر

﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ﴾ اوتاسو دالله تعالی عبادت کول اختیار کړئی [چه توحید په کښې راځی] ﴿وَلَا تُشْرِكُوا بِهٖ شَيْئًا﴾ اوورسره څه څیز [که انسان دی غیر انسان دی په عبادت کښې یا دهغه په خاصو صفاتو کښې اعتقاد کښې] شریك مه ګرځوئی ﴿وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى وَالْمَسٰكِينِ وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبٰى وَالْجَارِ الْجُنُبِ وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْبِ﴾ او[خپل] مورپلار سره ښه معامله کوئی او[نورو] خپلوانو سره هم او یتیمانو سره هم او غریبانو مسکینانو سره هم او دخوا ګاونډی سره هم اود لرې ګاونډی سره هم او په مجلس کښې شریك سره هم [که دا دهمیشه مجلس وی داوړد سفر

Scanned with Ca

ملګرتیا وی اوپه څه مباح کار کښې شریکیدل یا عارضي وی لکه په لنډ سفر کښې یا اتفاقی وی جلسه کښې شریکیدل] ﴿وَابْنِ السَّبِيلِ ۙ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ۗ﴾ اولاروی سره هم [چه هغه ستاسو خاص میلمه وی اوکه نه وی] او هغوی [غلامانو وینځو] سره هم چه [دشریعت په وجه] ستاسو په مالکانه قبضه کښې دی [غرض داچه دے ټولو سره ښه معامله کوئی چه شریعت ئے تفصیل په بله موقعه خودلې دی او څوك چه دا حقونه نه ادا کوی اکثر ددې څو سببونه دی یا خو ددوی په طبیعت کښې تکبر دې چې څوك په خاطر کښې نه راولی اونه چاته ګوری اویا ددوی په طبیعت کنجوسئ غلبه کړې ده چه چاته په ورکړه کولو یا بل ته ئے وئیلو سره ساه خیژی یا رسول الله ﷺ سره ددوی اعتقاد په دې شان نه وی چه دهغوی حکمونه د حقوقو د ادا کولو دثواب وعدې د حقوقو برباد کولو دعذاب وعیدونه صحیح نه ګڼړی چه دا کفر دے یاددوی عادت دنوم نمائش کولووی چرته چه نوم نمائش وی هلته پخپله هم ورکړه کوی اوبل ته هم د ورکړې دپاره وائی اګر چه حق نه وی بے نومه اوبے نمائشه ځائې کښې ئے همت نه کیږی یا دسره په الله ﷻ عقیده نه لری یا قیامت نه منی اودا هم کفر دے په دې وجه په دې ترتیب سره وی څوك چه ځان ځان له یا په جمع دا کارونه کوی دهغوی حال هم واورئی چه] ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا﴾ بیشکه الله ﷻ داسې بې سړیتوب کسانوسره محبت نه لری چه [په زړه کښې] خپل ځان لوئې ګڼړی [په ژبه دخپل] ﴿الَّذِينَ يَبْخَلُونَ وَيَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ﴾ ښه سړیتوب خبرې کوی چه بخل کوی او نورو خلقوته هم د بخل ښودنه کوی [که په ژبه وینا کوی یا دده په لیدو نور خلق هم دغسې کوی] ﴿وَيَكْتُمُونَ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ ۗ﴾او هغوی هغه څیز پټ ساتی چه الله تعالی ورته په خپل فضل ورکړې دې [دے نه مراد یا خو مال دولت دې چې د حفاظت په خاطر نه بلکه خالص دبخل دوجې نه څکه پټ ساتی چه حقداران ترې ددې څه امید اونه لری یا ترې مراد علم دین دې چې یهودو به دپیغمبرئ خبرونه پټول نوبخل به هم عام شی چه په کښې بخیلان اود پغمبرئ نه منکر خلق دواړه راغلل] ﴿وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُهِينًا﴾ اوموږ داسې ناشکرو دپاره [چه دمال دنعمت او درسول ﷺ د رالیږلو حق نه پیژنی] د سپکاوی سزا تیاره ساتلې ده ﴿وَالَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ رِئَاءَ النَّاسِ وَلَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ ۗ﴾اوکوم خلق چه خپل مالونه خلقوته خودلو دپاره لګوی اوپه الله ﷻ اوپه آخری ورځ [یعنی دقیامت په ورځ] اعتقاد نه لری [دهغوی هم دغه حال دې چې دالله ﷻ ورسره مینه نشته] ﴿وَمَنْ يَكُنِ الشَّيْطَانُ لَهُ قَرِينًا فَسَاءَ قَرِينًا﴾او [خبره داده چه] شیطان دچا ملګرې شی [ځنګه چه ددې ذکر شوو خلقو شوې دې] نوهغه دده خراب ملګرې دې [داسې مشوره ورکوی چه په کښې په آخر انجام کښې سخت ضرر وی].

معارف اومسائل

دحقوقو دبیان نه وړاندې دتوحید ذکرولې ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾: دحقونو دتفصیل بیانولونه وړاندې دالله تعالی دفرمانبرداری، عبادت اوتوحید مضمون داسې بیانیږی ﴿وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا﴾ یعنی دالله تعالی عبادت کوئ اوورسره په عبادت کښې هیڅوك مه شریکوئ۔

دحقوقودبیانولونه ړومبې دعبادت اوتوحیدپه ذکرکولوکښې ډیرحکمتونه دی یوپکښې دادې چه څوك دالله تعالی نه نه ویریږی اودهغه دحقوقوپوره خیال نه ساتی نودنورچادحقوقو به

Scanned with Ca

څه پرواه لري ،ډرورولي؛ اوډخپلې ډلې ډشرم، ياډحکومت ډقانون نه ډېچ کيدوډپاره زرګونه لارې لټوي،هغه ځيزچه انسان لره ډانساني حقوقو په احترام باندې مخامخ ياپښي شامجبوره کوي هغه يواځې ډالله تعالى نه ويره اوتقوى کيدې شي چه يواځې ډتوحيدپه ذريعه حاصليږي په دې وجه ډمختلفوتعلقاتواوډخپلوانوډحقونوډتفصيل نه وړاندې ډالله تعالى ډتوحيداوعبادت بيان کول مناسب وو-

توحيدنه پس ډموريلار حقونه: وروسته ډټولوخپلوانواوتعلقدارانوډحقونوبيانولونه وړاندې ډمور، پلار ډحقوقوبيان دې-الله تعالى ډخپل عبادت اوخپلوحقوقوسره پيوست د مور پلار حقوق بيانولوکښې دااشاره اوفرمائيله چه ډاصل اوحقيقت په اعتبارسره خوټول احسانات اوانعامات ډالله تعالى له اړخه دي ليکن که ډظاهري اسبابوپه اعتبارسره اوکتې شي نوډالله تعالى نه پس، په انسان باندې زيات احسانات ډموريلاردي، ولې چه په عامواسبابوکښې هم هغه ډانسان ډموجوديدوسبب دى، ډپيدا کيدونه چه واخلې ډده ترځوانيدوپورې چه څومره سختې مرحلې دي، په دغه ټولوکښې ددهٔ ډموجوديدو ،ددهٔ ډباقي پاتې کيدواوو دې. ترقي کولوظاهري اسباب هم مورااوپلاردي، اوهم په دې وجه ډقرآن کريم په نوروځايونوکښې هم ډموريلارحقوق، ډالله تعالى ډعبادت اوفرمانبرداري؛ سره پيوست راغلي دي لکه يوځائې کښې فرمايي:

﴿أَنِ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ﴾زمااوډموريلار شکر اداکوئ-

بل ځائې کښې ارشاددې ﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا﴾په دې دواړوآيتونوکښې ډوالدينو[موريلار]په باره کښې ئې دا، اونهٔ فرمائيل چه ډدوئ حقونه اداکوئ، ياتې خدمت کوئ، بلکه ډاحسان لفظ ئې راوړلوچه په عام مفهوم کښې ئې داهم داخل دي چه ډضرورت په مطابق ډدوئ په نفقه کښې خپل مالونه لګوئ، اوداهم پکښې داخل دي چه څنګه ضرورت وي ډهغې مطابق ئې جسماني خدمت کوئ، دا هم پکښې داخل دي چه ورسره ډخبرواتروکولوپه وخت داسې سخت ياپه زوره آوازپر مهٔ راوباسئ چه ورسره ډدوئ بې ادبي کيږي-داسې څه کلمه مه وايئ چه زړهٔ ئې ورسره ماتيږي، ډدوئ دوستانواوتعلقدارانوسره هم داسې رويه مه کوئ چه ډموريلارزړهٔ ته پر آزاررسي بلکه دوئ ته ډآرام رسولواوډخوشحاله ساتلوپه غرض ئې چه څه طريقه کيدې شي هغه کوئ-تردې هم که موريلارډاولادپه حقوقوکښې کوتاهي هم کړې ده، بياهم اولادلره ډخرابې رويې ورسره کولوهيڅ موقعه نشته-

حضرت معاذبن جبل ﷺفرمائيلي دي چه ماته رسول الله ﷺ لس وصيتونه کړي وويوداچه الله تعالى سره څوک شريک مهٔ ګرځوئ اګرچه تاسواوژلې شئ؛ ياپه اورکښې اوسوځولې شئ-بله داچه ډخپل موريلارنافرماني يازړهٔ آزارول مه کوئ، اګرچه هغوئ درته ډاهل اومال پرېښودو حکم درکوي[مسند احمد] [1]

ډرسول الله ﷺ په ارشاداتوکښې چه څنګه ډموريلارډفرمانبرداري؛ اوورسره ډښه سلوک کولو تاکيدات راغلي دي، دغه شان ډدې بې حده زيات فضيلتونه اوثوابونودرجې هم ذکرشوي دي. ډبخاري اومسلم په يوحديث کښې راغلي دي چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه څوک په روزئ او

---

[1]) مسند احمد رقم الحديث: ۲۱۰۶۰، حديث معاذ بن جبل رضي الله عنه.

Scanned with Ca

عمر کښې دَبرکت کیدلو خواش کوی نو پکار دی چه خپلولی پالی؛ یعنی دَخپلوانو حقونه ادا کوی(١)۔
دَترمذی شریف په روایت کښې راغلی دی چه دَالله تعالی رضا، دَپلار په رضا او دَالله تعالی ناراضګی دَپلار په ناراضګئ کښې ده(٢)، په شعب الایمان کښې بیهقی روایت کړې دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل، کوم خوئې چه دَمور پلار تابعدار او فرمانبرداروی نو کله چه هغه خپل مور او پلار ته دَعزت او محبت په نظر سره ګوری نو په هر خل کتلو ورته دَقبول شوی حج ثواب ورکړې کیدې شی(٣)۔

هم دَبیهقی په یو روایت کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ټول ګناهونه الله تعالی معاف کوې لیکن څوک چه دَمور پلار نافرمانی اوزړه آزاروی کوی نو هغه دَآخرت نه وړاندې وړاندې، هم په دِنیا کښې آفتونو کښې راګیرولې شی(٤)۔

خپلوانو سره دښې روېې ساتلو تاکید: په آیت کښې مور پلار نه پس عامو خپلوانو یعنی ټولو خپلوانو سره دښې روېې ساتلو تاکید راغلې دې دَقرآن کریم په یو جامع او مشهور هغه آیت کښې چه رسول الله ﷺ به اکثر، دَخپلو خطبو په آخر کښې تلاوت کولو هغه داسې دې۔
﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ﴾ یعنی الله تعالی حکم درکوی، ټولو سره انصاف او ښه سلوک کولو او دَخپلوانو دَحقوقو ادا کولو، چه پکښې دَخپل وَس په جوړ دَخپلوانو، مالی او ځانی خدمت هم داخل دې او دوئ سره ملاقات کول او خبرئې پوښتنه کول هم دی۔
دَحضرت سلمان بن عامر رضی الله عنه په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه عامو مسکینانو او فقیرانو ته په خیرات ورکولو کښې خو صرف دَخیرات کولو ثواب ملاوېږی او که خپل نزدې خپلوانو ته ورکړې شی نو دوه ثوابونه ئې کیږی، یو دَخیرات کولو او بله دَخپلوئ پاللو، یعنی دَخپلوئ دَحقوقو ادا کولو۔ [مسند احمد، نسائی، ترمذی](٥)
په ذکر شوی آیت کښې اول، دَمور، پلار دَحقونو تاکید راغلې دې بیا دَعامو خپلوانو۔

دیتیم او مسکین حق: په دویم ځائې کښې ئې ارشاد اوفرمائیلو ﴿وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ﴾ دیتیمانو او مسکینانو دَحقونو تفصیلی بیان، اګرچه دَسورت په شروع کښې راغلې دې، مګر دَنورو خپلوانو په ترڅ کښې، دَدې یادګیرنې کولو کښې دې خبرې ته اشاره ده چه دَبې وارثه ماشومانو او بې اسرې خلقو لاس، مدد کول هم داسې ضروری او ګڼړئ څنګه چه دَخپلوانو ګڼړئ او کوئ ئې۔

دګوانډی [همسایه] حق: په څلورم ځائې کښې ئې اوفرمائیل ﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ﴾ په پنځم ځائې کښې ﴿وَالْجَارِ الْجُنُبِ﴾ دَجار، معنی ګوانډی [همسایه] ده چه دلته ئې دوه قسمونه بیان شوی دی یو ﴿وَالْجَارِ ذِي الْقُرْبَىٰ﴾ بل ﴿وَالْجَارِ الْجُنُبِ﴾ صحابه کرامو رضی الله عنهم دَدې دواړو تفسیر او تشریح په مختلف شان سره کړې ده۔

---

(١) صحيح البخاري، كتاب البيوع، باب من أحب الخ: ج ١، ص ٢٧٧، وصحيح مسلم: ج ٢، ص ٣١٥، كتاب البر والصلة، باب صلة الرحم الخ۔
(٢) جامع الترمذي، أبواب البر والصلة، باب ما جاء من الفضل في رضا الوالدين: ج ٢، ص ١٢
(٣) شعب الإيمان، باب الخامس والخمسون رقم الحديث: ٧٦٣
(٤) شعب الإيمان للبيهقي، باب الخامس والخمسون رقم الحديث: ٧٤٧
(٥) مسند احمد حديث سلمان بن عامر رضی الله عنه رقم الحديث: ١٥٧٣ وسنن النسائي، كتاب الزكاة، باب الصدقة على الأقارب: ج ١، ص ٣٦١۔ وجامع الترمذي، أبواب الزكاة، باب ما جاء في الصدقة على ذي القرابة: ج ١، ص ١٤٢

Scanned with Ca

عامو مفسرینو رحمهم الله فرمائیلي دي چه ﴿جَارِ ذِي الْقُرْبٰى﴾ نه مُراد هغه گواندي دې چه ستاسو کور سره جُخت او پیوست اوسیږي ﴿جَارِ الْجُنُبِ﴾ نه مراد هغه گواندي دې چه ستاسو د کور نه لږ شان وروسته لرې اوسیږي۔

حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمائیلي دي چه ﴿جَارِ ذِي الْقُرْبٰى﴾ نه هغه څوک مراد دي چه گواندي او خپلوان دواړه وي چه دَدوَو حقوقو حقدار اوي او ﴿جَارِ الْجُنُبِ﴾ نه مُراد صرف گواندي دي چه خپلوان نه وي([1]) ځکه ئې درجه روستو کیښودل شوه۔

ځنو مفسرینو حضراتو فرمائیلي دي چه ﴿جَارِ ذِي الْقُرْبٰى﴾ نه مُراد دَ اسلامي رورولئ مسلمان گواندي او دَ ﴿جَارِ الْجُنُبِ﴾ نه مُراد غیر مسلم گواندي [همسایه] دي۔

قُرآني الفاظ دَدې ټولو معنوا احتمال لري، او دَحقیقت له مخې هم په درجو کښې فرق راتلل، عقل مَني او اعتبار پرِ کولې شيء۔ یعني داچه گواند، خپلوان او غیر خپلوان، یا مسلمان او غیرِ مسلمان کیدې شي او دَټولو پرِ اتفاق دې چه دا ټول قِسمه گوانډیان دَوس په جوړ مدد کولو او دَ خبر اغستو حقدار دي۔

کوم گواندي چه دگوانډیتوب نه علاوه زیات حقوق لري هغه به دَنورو گوانډیانو [همسایه گانو] په درجه کښې زیات او وړاندې وي، لکه رسول الله ﷺ ئې چه وضاحت هم کړې دې، فرمائي: چه ځنې گوانډیان یو حق لري، ځنې دوه او ځنې درې حقونه لري، دَیو حق خاوند گواندي [همسایه] غیر مُسلم دې چه خپلوان هم نه وي، دَدوَو حقونو خاوند گواندي [همسایه] هغه دې چه مسلمان هم وي، او دَدرې حقونو گواندي [همسایه] هغه دې چه مسلمان او خپلوان هم وي۔ [ابن کثیر]([2])

رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه جبرائیل امین همیشه دَپاره ماته دگواندي [همسایه] دَرعایت او امداد تاکید کړې دې، تردې چه گمان م راغلو چه گواندي به هم دَخپلوانو پشان دَمیراث حقدار جوړ شي۔ [بخاری و مسلم]([3])

دَترمذي رحمه الله او مسند احمد رحمه الله دَیو روایت له مخه رسول الله ﷺ او فرمائیل چه دَمحلې په خلقو کښې الله تعالی ته نژدې او دَټولو نه زیات غوره، هغه څوک دې چه دَخپلو گوانډیانو [همسایا گانو] په حق کښې زیات ښه وي([4])۔

دَمسند احمد په یو حدیث کښې داسې راغلي دي چه چالره په مړه کیده خوراک روانه دې چه گواندي ئې اوږې وي([5])۔

دَ نژدې ملګرو حق: په شپږم خائې کښې ئې ارشاد اوفرمائیلو: ﴿وَالصَّاحِبِ بِالْجَنْۢبِ﴾ دَدې لفظي معنی دَ نژدې ملګري، ده۔ چه دَسفر ملګري پکښې هم داخل دي، چه اورگاډي، جهاز، بس، گاډي کښې

---

[1]) تفسیر ابن ابی حاتم تحت هٰذه الآیة رقم الحدیث: ۵۳۲۵، و۵۳۲۸، وشعب الإیمان رقم الحدیث: ۹۳۰۲ فصل فیما یقول العاطس الخ۔

[2]) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۳۰۰، ومجمع الزوائد رقم الحدیث: ۳۵۳۶

[3]) صحیح البخاری، کتاب الادب، باب الوصایة بالجار: ج ۲، ص ۸۸۹، وصحیح مسلم کتاب البر والصلة، باب الوصیة بالجار: ج ۲، ص ۳۲۹

[4]) جامع الترمذی، أبواب البر والصلة، باب ما جاء فی حق الجار: ج ۱، ص ۱۲ ومسند احمد، مسند عبد الله بن عمرو رضی الله عنهما، رقم الحدیث: ۶۳۲۸

[5]) مسند احمد، اول مسند عمر بن الخطاب رضی الله عنه رقم الحدیث: ۳۶۷

Scanned with Ca

چاسره په خواکښې وی اوهغه څوک پکښې هم داخل دې چه په یوعام مجلس کښې دچاخواکښې ناست وی-

اسلامی شریعت څنګه چه دهمیشه ګواندیانوحقوق واجب کړیدی، دغه شان ئې دهغه چا د ملګرتیا حق واجب کړوچه لږ ساعت دپاره هم چاسره په یومجلس په یومجلس اوسفرکښې خواته ناست وی، چه مسلم، غیرمسلم، خپلوان اوغیرخپلوان ټول پکښې برابردی، دوئ سره ئې هم دښه سلوک هدایت کړې دې، ادنی درجه ئې داده چه ستاسودځه خبرې اوفعل نه ورته څه زیان اونه رسی، څه داسې خبرې اترې کول پکارنهٔ دی چه زړهٔ ته ئې پر تک رسی-دتکلیف ورکولوکارنهٔ دې پکار، مثلاًدسګریټ لوګې [دود] ئې مخې ته وراپریښودل نهٔ دې پکار، دپاندتوکانړې ئې مخې ته توکل نهٔ دی پکار، داسې کښیناستل نهٔ دی پکارچه په هغه ځائې تنګ شي-

که دقرآن کریم په دې هدایت خلق عمل کول شروع کړی نودآورګاډی دمسافروټولې جګړې به ختم شی، یعنی که هرڅوک داخیال اوکړی چه په اورګاډی کښې م دیوکس دځائې نیولوحق دې دزیات ځائې نیولوحق م نشته اودبل چانزدې کس هم دومره حق دې څومره چه زماحق دې نوآوردنه اوږدسفریه دټولو ښه په آرام وی،

ځنې مفسرینوحضراتوفرمائیلی چه، ،صاحب بالجنب، ،کښې هرهغه څوک هم داخل دی چه په کاراوپه څه پیشه کښې درسره شریک وی . په کاریګرئ، مزدورئ کښې ، دفتری ملازمت کښې په سفراوپه حضر[خپل کلی، ښار] کښې[روح المعانی]([1])

دلاروی حق:په اوم ځائې کښې ئې اوفرمائیل ﴿وَابْنِ السَّبِيْلِ﴾یعنی لاروې، دې نه هغه څوک مراددی چه دسفرپه دوران کښې دخواته راشی میلمه دشي، هرکله چه ددې پردی بنده هیڅ تعلقداردلته نشته نوقرآن کریم په اسلامی اوانسانی لحاظ، ددهٔ حق هم په تالازم کړو، چه دخپل وس، طاقت مطابق ورسره ښه سلوک کوه-

دمریۍ وینځې اوملازمانونوکرانوحق::په اتم ځائې کښې ئې ارشاداوفرمائیلو ﴿وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ﴾ دې نه مرادملکیتی وینځې غلامان دی چه ورسره ښه سلوک کول لازم کړې شو، دخپل وس مطابق په خوراک، څکاک، جامې پیزار [څپلۍ] ورکولوکښې څه کوتاهی نهٔ دی کول پکار، اودهغوئ دوس نه تر زیات کارهم مهٔ اخلئ، اګرچه دآیت دالفاظوښکاره مرادوینځې غلامان دی، لیکن دعلت دشریکیدوله کبله اودرسول الله ﷺ دارشاداتوپه بناء، دا احکام، نوکرانو اوملازمانودپاره هم دی، یعنی دوئ هم داحق لری چه په خپل وخت ورته مقرره تنخواه اومزدوری ورکولې شی، په خوراک، څکاک وغیره ورکولوکښې دشومتوب اومهلت نه د کارنشی اغستې اودوئ دطاقت نه زیات کاردتروانغستې شی-

په حقوق اداکولوکښې کوتاهي هغه خلق کوي چه زړونوکښې ئې لوئي اوتکبروي::په آخر دآیت کښې ئې اوفرمائیل: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ مُخْتَالًا فَخُورًا﴾یعنی الله تعالی داسې کس نه خوښوې چه متکبر[لوئ کوونکې]اوپه نوروخلقو باندې خپله لوئ ضباطوونکې وی .دآیت داآخری جمله دتیروشوؤټولوارشاداتوتکمله داسې ده، چه داته قسمه خلقودحقونوتاکیدچه وړاندې تیرشوې دې، په هغې کښې داسې خلق کوتاهی کوی چه په زړونوکښې ئې تکبر فخر او غروردې الله تعالی

[1]) روح المعاني تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۲۸

دمونږ ټول مسلمانان دي نه اوساتي-دتکبراوجاهلانه فخرکولوپه وعيد [درکي ورکولو] کښې ډيراحاديث راغلي دي:-

﴿عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لايدخل النار احدفي قلبه مثقال حبة من خردل من ايمان ولايدخل الجنة احدفي قلبه مثقال حبة من خردل من كبر﴾[مشكوة بحواله مسلم][1] د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په روايت رسول الله ﷺ فرمائيلي دي ،هغه څوک به [هميشه دپاره]جهنم ته نه ځي،دچاپه زړه کښې چه دأوري ددانې قدرې ايمان وی اوپه جنت کښې به داسې څوک لاړنشي دچاپه زړهٔ کښې چه دأوري د دانې قدرې تکبروی

يوبل داسې حديث شريف چه دکبرپيژندګلی پکښې هم ذکرشويده،

﴿عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ لايدخل الجنة من كان في قلبه مثقال ذرة من كبر فقال رجل ان الرجل يحب ان يكون ثوبه حسنا ونعله حسنا قال ان الله جميل يحب الجمال الكبربطر الحق وغمط الناس﴾[مشكوة بحواله مسلم][2] دَ حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په روايت رسول الله ﷺ فرمائيلي دي جنت ته به هغه څوک لاړنشي چه په زړهٔ کښې ئې لږ قدرې تکبروی، موجود خلقو کښې يوکس اووئيل چه خلق خوداخوښوي چه جامې ئې ښې وی دَهغه پيزاربه وی [نوداهم تکبردې؟] هغوئ اوفرمائيل چه تکبرنوم دې دَحق ردکولواودخلقودسپک ګڼړلو.

وريسې په ﴿الَّذِينَ يَبْخَلُونَ﴾ کښې بيان دې چه څوک لوئی کوونکی وی هغوئ په واجبوحقوقو کښې هم شومتوب کوی خپلې ذمه واری نه پيژني اودنوروهم په خپلې ويناوعمل سره ددې خراب صفت داختيارولوشوق راپيداکوی-په آيت کښې دَراغلی لفظ ،،بُخل،، اطلاق په عام عُرف کښې په دې کيږی چه په مالی حقونوکښې کوتاهی اوکړې شي ليکن د آيت دَشان نزول نه معلوميږی چه دلته دَ ،،بُخل،، لفظ په معنی عامه کښې استعمال شوې دې چه مالي اوعلمي شومتوب دواړه پکښې داخل دي-

دَحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د روايت څخه معلوميږی چه داآيت، دَمدينې منورې يهودوپه باره کښې نازل شويدې دغه خلق ډير زيات لوئ کوونکی وو،ډيرزيات بخيلان وو،په مال لګولوکښې به ئې هم بخل کولواوهغه علم به ئې هم پټولوچه ورته دَخپلوالهامی کتابونونه حاصل شوې وو،په دغې کتابونوکښې دَرسول الله ﷺ دَپيغمبرکيدوزيرې ؤو اودَهغوئ نخښې نښانې پکښې هم ښودلې شوې وې،ليکن يهودوپه هغې يقين اوکړواوسره دَهغې ئې هم دَشومتوب نه کاراغستو-نه ئې پخپله ددې علم په تقاضاعمل اوکړواونهٔ ئې نوروته اوښودل چه هغوئ پرعمل کړې وې---------وريسې ئې اوفرمائيل چه کوم خلق دَالله تعالی په ورکړی مال،دولت کښې هم بُخَل کوی اودَعلم اوايمان په معامله کښې هم شُومان دی،دغسې خلق دَالله تعالی دَنعمت ناشکره دی اودوئ دَپاره دَسپکاوی عذاب تيارکړې شوې دې-

دَمال دَلګولوغوروالي اودَشومتوب دَبدئ په باره کښې نبی کريم ﷺ فرمائيلي دي:

---

[1]) مشكوٰة ،كتاب الاداب: ج ٢، ص ٤٣٣، باب الغضب والكبر-

[2]) مشكوٰة ،كتاب الاداب: ج ٢، ص ٤٣٣، باب الغضب والكبر-

Scanned with Ca

﴿عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ مامن یوم یصبح العباد فیه الا ملکان ینزلان فیقول احدهما اللهم اعط منفقا خلفا ویقول الاخر اللهم اعط ممسکا تلفا﴾[بخاری و مسلم] ([1])
دَحضرت ابی هریرة رضی الله عنه په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه دَهر صبا [سهار] په وخت کښې دوه فرښتې اکښته کیږي، په دوئ کښې یوه داوائ، اې الله: په نیکه لاره کښې خرچ کوونکي ته ښه بدله ورکړې اوبله وائي، اې الله، بخیل [سره دَمال دولت تباهئ سره مخامخ کړې].

﴿عن اسماء رضی الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ انفقي ولا تحصي فیحصي الله علیك ولا توعي فیوعي الله علیك وارضخي ما استطعت﴾ [بخاری ومسلم] ([2]) دَحضرت اسماء رضی الله عنها په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلي دي اې اسماء دَخیر په لاره کښې مال لګوه، په شمیر ئې مه ورکوه، ګینې الله تعالی به هم ستا په حق کښې شمیرل شروع کړي دَخرچ نه بچ کیدو دَپاره ډیر انتظامونه مه کوه، ورنه الله تعالی به هم درسره دغسې کوي، په ورکړه کښې صرفه مه کوه ترڅو چه وَس کیږي.

﴿عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ السخي قریب من الله قریب من الجنة بعید من النار والبخیل بعید من الجنة بعید من الناس قریب من النار، والجاهل السخي احب الی الله من عابد بخیل﴾[ترمذی] ([3]) دَحضرت ابی هریرة رضی الله عنه په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلي دي سخي بنده الله ته نژدې دې، جنت ته هم نژدې دې، اوخلقوته هم خوښ دې، اودَجهنم داور نه لرې دې، اوشوم د الله نه هم لرې دې جنت نه هم لرې دې دَخلقونه هم لرې دې او اور ته نژدې دې — اوجاهل سخي [چه فرض اداکوي، حرامونه ځان ساتي] دَعبادتګذار نه غوره دې

﴿وعن ابی سعید قال قال رسول الله ﷺ خصلتان لا تجتمعان في مؤمن، البخل وسوء الخلق﴾ [ترمذی] ([4]) دحضرت ابي سعید په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه دوه عادتونه په یو مؤمن کښې نشي جمع کیدې - شومتوب اوبدخوئ.

﴿وَالَّذِيْنَ يُنْفِقُوْنَ﴾ سره ئې دَلوئ کوونکو یوبل صفت اوښود چه داخلق دَالله تعالی په لار کښې پخپله هم مال نۀ لګوي اونوروخلقوته هم دَشومتوب شوق ورکوي، البته خلقوته ښودلو دَپاره په مخه مال لګوي، اوهر کله چه دا خلق، په الله اودآخرت په ورځ ایمان نۀ لري، ځکه دَالله تعالی دَرضا اودآخرت دَثواب په نیت سره ئې دَمال لګولو هډو سوال نۀ پیدا کیږي داسې خلق خودَشیطان ملګري وي ځکه به ئې انجام هم هغه وي کوم به ئې چه دَملګري شیطان وي، دې آیت نه معلوم شو چه څنګه په واجبو حقوقو کښې کوتاهي کول، شومتوب کول عیبناک دي، دغه شان خلقوته دَښوولو دَپاره اوپه بې ځایه ځیزونو کښې مال لګول هم ډیر بد دې هغه خلق چه خالص الله تعالی دَپاره نۀ بلکه خلقوته دَښودلو دَپاره نیکي کوي دَهغوئ دغه عمل به دَالله تعالی په نژد قبول نۀ وي اوپه حدیث کښې ورته شرک وئیلې شوي دي-

[1]) صحیح البخاري، کتاب الزکاة، باب قول الله تعالی فأما من أعطی: ج ۱، ص ۱۹۳، وصحیح مسلم، کتاب الزکاة، باب مثل المنفق الممسک: ص ۳۲۸
[2]) صحیح البخاري، کتاب الزکاة، باب الصدقة فیما استطاع: ج ۱، ص ۱۹۳، وصحیح مسلم، کتاب الزکاة، باب الحث علی الانفاق الخ: ج ۱، ص ۳۳۱
[3]) جامع الترمذي، أبواب البر والصلة، باب ما جاء في السخاء: ج ۲، ص ۱۷
[4]) جامع الترمذي، أبواب البر والصلة، باب ما جاء في البخیل: ج ۲، ص ۱۷

﴿عن ابی هريرة ﵁ قال قال رسول الله ﷺ انا اغنى الشركاء عن الشرك من عمل عملا اشرك فيه معی غيري تركته وشركه﴾(۱) دحضرت ابی هریرة ﵁ په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه الله تعالی فرمائی: زهٔ دشرک نه بیخی بې حاجته یم، څوک چه څه نیک عمل کوی او په هغې کښې راسره بل څوک هم شریک گرځوی، نوعمل ئې د هغه شریك دپاره پرېږدم، اودغه عمل کوونکې هم پرېږدم.

﴿وعن شداد بن اوس قال سمعت رسول الله ﷺ من صلى يرائى فقد اشرك ومن صام يرائى فقد اشرك و من تصدق يرائى فقد اشرك﴾[احمد بحواله مشكوة] (۲) دشداد ابن اوس ﵁ نه روایت دې وائی چه ما دَ رسول الله ﷺ نه واورېدل چه فرمائيل ئې چاچه مونځ اوکړو خلقوته ښودلودپاره نوشرک ئې اوکړو او چاچه خيرات اوکړوښولودپاره نوشرک ئې اوکړو.

﴿عن محمود بن لبيد ان النبي ﷺ قال ان اخوف ما اخاف عليكم الشرك الاصغر قالوا يارسول الله ﷺ! وما الشرك الاصغر، قال الرياء﴾[احمد بحواله مشكوة] (۳) دمحمود بن لبيد ﵁ نه روایت دې چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل ستاسو په باره کښې زما زیاته اندیښنه د ورکوټی [کشنی] شرک ده، صحابه کرامو تپوس اوکړو، شرک اصغرڅه دې ؟وې فرمائيل :رياء ده

اودَبيهقی په روایت کښې دازيات دی، چه دَقيامت په ورځ کله به چه دَنيکوعملونوثواب تقسيمېږی نوالله تعالی به رياکاروته فرمائی: هغې خلقوله ورشئ چاته دَښودلودپاره به چه تاسوپه دنياکښې نيک عمل کولواوگورئ چه آيا: هغوئ سره ستاسودَعملونوثواب اودَهغې جزاء [بدله]شته؟(۴)

وَمَاذَا

| اوڅه نقصان وو |

|او ددوئ څه نقصان کيدو

عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَاَنْفَقُوْا

هغوئ دپاره | که ايمان راوړې وې هغوئ | په الله باندې|او په ورځ دآخرت باندې|اوخرج کړې وې هغوئ|

که دوئ په الله ﷻ او په ورځ دآخرت باندې ايمان راوړئ وې | او[د الله په لاره کښې هغه څه] خرج کوئ

مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا ۝ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ

دهغې نه| چې ورکړی دی هغوئ ته الله| اودې الله | په هغوئ ښهٔ عالم |بيشکه الله | نهٔ کوی ظلم|

کوم چې ورته الله ﷻ ورکړی دی| او الله ﷻ ته ددوئ حال ډيرښهٔ معلوم دې |بيشکه الله ﷻ په چاباندې

مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ وَاِنْ تَكُ حَسَنَةً يُّضٰعِفْهَا وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا

په قدر | د ذرې |او که وی نيکی |نو دوچند کوی هغه | او ورکوی | دطرف خپل نه | اجر

دذرې برابر ظلم نه کوی | اوڅوک چې يوه نيکی اوکړی نوهغه ورته په څوچنده زيات ورکوی| اودخپل طرفنه ورته

(۱) صحيح مسلم، كتاب الزهد، باب تحريم الرياء: ج ۲، ص ۴۱۱

(۲) مسند احمد، حديث شداد بن اوس ﵁ رقم الحديث: ۲۵۱۷

(۳) مسند احمد، حديث محمود بن لبيد ﵁ رقم الحديث: ۲۲۵۲۲

(۴) شعب الايمان للبيهقي، الخامس والاربعون من شعب الايمان: رقم الحديث ۷۵۳

Scanned with Ca

عَظِيْمًا۝ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍۭ بِشَهِيْدٍ

لوئ | نو څرنګ حال به وی | په هغه وخت | چی راولو مونږ | د هر امت نه | یو ګواه

ډیرلوئ اجر ورکوی | نو هغه وخت به دوئ څه کوی چې مونږ به د هر امت نه یو یو ګواه راوبلو

وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَاۤءِ شَهِيْدًا۝ يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

اوراولو مونږ تا لره | په دې خلقو باندې | ګواه | په دغه ورځ به | آرزوکوی | هغه کسان | چی انکار ئې کړې وو

اوپه دې خلقوباندې به تاګواه کړو | چا چې کفر کړې وی اود رسول صلی الله علیه وسلم نافرمانی ئې کړې

وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ۭ وَلَا يَكْتُمُوْنَ

اونافرمانی ئې کړی وه درسول | افسوس چی هواره کړې شوی وی | په هغوئ | زمکه | اونه به شی پټولې

وی هغوئ به دا وائی کاش چه زمکه په دوی باندې همواره شی | او دوی سره هډو حساب اونشی |

اللّٰهَ حَدِيْثًا۝

دالله نه | هیڅ خبره |

اوهلته به دالله ﷻ نه هیڅ پټولې نشی

آسان ترجمه قرآن: بې شکه د دوی به څه وران شوي وو که دوی په الله او په ورځ د آخرت ایمان راوړې وو او الله چه دوی ته کوم رزق ورکړې دې د هغې نه ئې څه (نیک کارونو کښې) خرچ کړې وې؟ اوالله ته ددوئ حال ښه معلوم دې الله لږ غوندې هم په چا ظلم نه کوي او که څه نیکي وي نو هغه هم په څو چنده زیاتوي او خپله د خپل طرف نه لوئ ثواب ورکوي بیا (دې دا خلق سوچ وکړی چه) هغه وخت (ددوی) به څه حال وي چه د هرېو امت نه به یو ګواه راولو او اې پیغمبره! مونږ به تالره ددوی خلاف ګواه راولو؟ او کوم خلقو چه کفر کړې دې او د خپل رسول نه ئې نافرماني کړې ده، په هغه ورځ به هغوی دا آرزو کوي چه کاش چه دوی په زمکه کښې (ښخ کړې شي) او برابر کړې شي، او د الله نه به څه خبره نه شي پټولې.

د آیتونو تړون :: دې مخکښې آیتونو کښې د الله ﷻ څخه انکار، د آخرت څخه انکار، اود بخل وغیره مذمت او غندنه ذکر شوې وه. او دې آیتونو مبارکو کښې په الله ﷻ باندې او په ورځ د آخرت باندې د ایمان او دالله ﷻ په لار کښې د خرچ کولو ترغیب دې. او په آخر کښې ئې د حشر د مواقفو بیان کړې دې او خلق ئې د بد انجام څخه ویرولی دی. اودا هغه خلق دی چې ایمان نه راوړی او نیك عملونه نه کوی.

خلاصه تفسیر

﴿ وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ﴾ او په دوی به څه نقصان وی که ایمان یې راوړی په الله ﷻ اوپه آخری ورځ [یعنی دقیامت] ﴿ وَاَنْفَقُوْا مِمَّا رَزَقَهُمُ اللّٰهُ ۭ ﴾ اوالله ﷻ چه ورته څه ورکړی دی دهغې نه څه [قدرې په اخلاص سره] په مخه لګوئ [یعنی هیڅ زیان ئې نشته خالصه نفع ده] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ بِهِمْ عَلِيْمًا۝ ﴾ او الله ﷻ ددوی [نیك اوبد] ښه پیژنی [نوپه ایمان او مال لګولو به ورته ثواب ورکوی اوپه کفروغیره به ورته عذاب ورکوی] ﴿ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ۚ ﴾ بیشکه الله ﷻ به یو

Scanned with Ca

ذره قدرې ظلم هم نه کوی [چه دچا ثواب اووهی یا بېوجې عذاب ورکول شروع کړی چه ښکاره ظلم دې] ﴿ وَإِنْ تَكُ حَسَنَةً يُضٰعِفْهَا ﴾ او [بلکه هغه خوداسې رحیم دې چې]که یونیکی وی نوهغه به څو چنده کړی [ثواب به یئ ورکړی څنګه چه په بل یو آیت کښې ئې وعده راغلې ده] ﴿ وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ أَجْرًا عَظِيْمًا ۝﴾ او [ددغه وعده شوی نه علاوه به] دخپلې خوانه [يېدعمل دبدلې نه دانعام په ډول او] لوئې اجر به [بيل] ورکوی. ﴿ فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِنْ كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيْدٍ وَّجِئْنَا بِكَ عَلٰى هٰٓؤُلَآءِ شَهِيْدًا ۝﴾ نودغه وخت به هم څه حال وی کله چه دهر امت نه یو یو ګواه حاضر کړواو تاسو به په دغه خلقو [چه ورسره ئې لاتجه راغلې وه] دګواهۍ ورکولو دپاره راحاضر کړو [یعنی کومو خلقو چه په دنیا کښې دالله ﷻ احکام نه وو منلی دهغوی دمقدمې دپیشۍ په وخت به دسرکاری ګواهانو په ډول دانبیاء کرامو ښکاره بیانات واوریدے شی کومې معاملې چه د نبیانو په مخکښې شوی وې تولې په ښکاره کړی.ددې ګواهۍ نه پس به پدغه مخالفو خلقو جرم ثابت شی او سزا به ورکړې شی پورته ئې فرمائیلی وو چه دغه وخت به څه حال وی وروسے دغه حال پخپله بیانوی چه] ﴿ يَوْمَئِذٍ يَّوَدُّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَعَصَوُا الرَّسُوْلَ ﴾ په دغه ورځ به [داحال وی چه په دنیا کښې ئې] کفر کړې وی او درسول ﷺ خبره ئې نه وی منلې هغوی به ددې خبرے آرزو کوی ﴿ لَوْ تُسَوّٰى بِهِمُ الْاَرْضُ ۭ وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا ۝﴾ چه کاش [دغه وخت] مونږ زمکې سره سم شوه [چه ددې شرمیدو او آفت نه په امان شو] او [دګواهۍ نه علاوه پخپله به هغوی اقراری مجرمان هم شی څکه چه] الله ﷻ نه به هیڅ خبره [چه پدنیا کښې ئې کړې وی] پټه نه کړې شی [نو په دواړو طریقو سره به پرے فردجرم اولګولے شی].

معارف اومسائل

په رومبی آیت کښې ئې اوفرمائیل: ﴿وَمَاذَا عَلَيْهِمْ لَوْ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ﴾ دوئ ته به څه نقصان اورسی اوڅه مصیبت به ورته پیښ شی، که داخلق په الله اوآخرت ایمان راوړی اودالله تعالی دَورکړی مال نه خرچ کړی، داتول آسان کارونه دی چه په اختیارولو کښې ئې هیڅ تکلیف نشته ،بیاولې نافرمان جوړیدوسره دآخرت تباهی په خپل سراخلی.

وریسې ئې اوفرمائیل: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾ یعنی الله تعالی دَچا ،دَنیکوعملونوپه ثواب او جزائې خیر کښې ذره برابر کمی نه کوی بلکه د خپل طرف نه په هغه کښې نور زیاتې کوی او په اخرت کښې بهٔ ئې څوڅوچنده ثواب نورهم زیات کړی اودَخپل اړخ نه بهٔ لوئې ثواب ورکوی-

دَالله تعالی دَاړخه ،دَثواب کم ازکم پیمانه داده چه یوه نیکی په لسونیکومنظورولې شی اوبیاپه مختلفوبهانوسره پکښې زیاتې په زیاتی کولې شی ،دَحدیثو دَخنوروایاتونه معلومیږی چه دَبعضی نیکوعملونوثواب شلولاکهوچندوته زیاتولې شی اودَالله سخی اوکریم ذات خو ،خپل بې انتهارحمت سره دومره زیاتوی چه حساب اوشمیرنه بهرشی﴿وَاللّٰهُ يُضٰعِفُ لِمَنْ يَّشَآءُ ۭ﴾هغه لوئې اجربه په فکرکښې څنګه راشی چه دَرب العزت دَبارګاه نه ملاویږی﴿وَيُؤْتِ مِنْ لَّدُنْهُ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝﴾

په آیت کښې دَ﴿ذَرَّةٍ﴾لفظ چه راغلې دې دَهغې دَمشهورې ترجمې ذکر وړاندې تیرشویدې، څنې حضرات دَدې ترجمه سُوررنګې ورکوتې میږې کوی چه عربوبه دسپکوالی اوبې وزنۍ دپاره په مثال کښې پیش کولو-

Scanned with Ca

﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ﴾ سره دې اړخ ته مخه راګرځول دي چه د آخرت ميدان خپل خان ته مخامخ اوګنړلې شي او د قريشو کفارو ته زورنه ورکول هم مقصود دي۔
د هغه خلقو به څه حال وي چه د حشر په ميدان کښې به د هر يو أمت نبي د خپل خپل أمت په نيکو او بدو عملونو باندې د ګواه په ډول پيش کيږي او تاسو به هم په خپل أمت باندې د ګواه په ډول حاضرېږئ او خصوصا د کفارو او مشرکانو په باره کښې به په خدائي عدالت کښې ګواهي ورکوئ چه هغوئ د ډاګيزو معجزو په ليدو بيا هم ورته دروغ اوئيل۔ او ستاسو په وحدانيت او زما په پيغمبرئ ئې ايمان راونۀ ړلو۔
د بخاري شريف د يو روايت مطابق رسول الله ﷺ عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه ماته قرآن کريم واوروه ، حضرت عبد الله رضي الله عنه عرض اوکړو چه تاسو زما څخه قرآن کريم آورئ حالانکه دا خو په تاسو نازل شويدې؟ هغوئ اوفرمائيل چه ،،او وائې۔ ابن مسعود وائي چه ما د سورۀ نساء تلاوت شروع کړو او کله چه ﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ﴾ ته اورسيدم نو هغوئ اوفرمائيل چه اوس بس کړه، چه ما ورته اوکتل نو د ستر ګو مبارکو نه ئې اوښکې بهيدلې (۱)۔
علامه قسطلاني ليکلي دي چه رسول الله ﷺ ته د دې آيت نه د آخرت تنداره رامخې ته شوه او د خپل أمت لنډ عملو اوبې عملو خلقو ته ئې چه خيال شو نو ستر ګو مبارکو کښې ئې څکه اوښکې راغلې۔
فائده ځنې حضراتو وئيلي دي چه ﴿هَٰؤُلَاءِ﴾ کښې اشاره هغه کسانو ته ده چه د رسالت په زمانه کښې موجود کفار او منافقان وو۔ او ځنې وائي چه تر قيامته پورې ټول أمت ته اشاره ده، ولې چه ځنې روايتونو د احاديثو نه معلوميږي چه د دوئ د أمت اعمال دوئ ته په روضه مبارکه کښې پيش کولې شي۔
په هر حال دې نه معلومه شوه چه د تيرو شوؤ أمتونو انبياء ﷺ به په خپلو خپلو أمتونو باندې د ګواه په ډول پيش کيږي او دوئ به هم د خپل أمت په عملونو ګواهي ورکوي. د قرآن کريم د دې طرز نه معلوميږي چه دوئ نه پس بل راتلونکې نبي نشته چه د خپل يو أمت په باره کښې به ګواهي ورکوي ورنه په قرآن کريم کښې به د هغه د پيغمبر کيدو او د ګواهئ ورکولو ياد ګيرنه هم وه، په دې اعتبار سره، دا آيت د نبوت د ختميدو دليل هم دې۔
﴿يَوْمَئِذٍ يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ کښې د آخرت د ميدان د کافرانو د بد حالئ داسې ذکر دې چه دا خلق به د قيامت په ورځ تمنا کوي چه کاش امونږه زمکې سره زمکه شوې وې، کاش! زمکه چودې وې او مونږ پکښې ښخيدو سره خاورې شوې وې او د دې وخت د سوال، جواب او د عذاب و حساب نه خلاص شوې وې۔
د حشر په ميدان کښې چه کله کفار دانندره اووينې چه ټول ځناور، يو بل نه د ظلمونو د بدل اغستو نه پس خاورې کړې شي نو ار مان تمنا او افسوس به کوي، چه کاش ! مونږه هم دغسې خاورې شوې وې لکه سورۀ نباء کښې ئې چه فرمائيلي دي۔ ﴿وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا﴾
[په آخر کښې ئې اوفرمائيل: ﴿وَلَا يَكْتُمُونَ اللَّهَ حَدِيثًا﴾ يعني دا کفار به د خپلو عقيدو او عملونو څخه هيڅ ځيز پټ اونشي ساتلې، د دوئ خپل لاسونه خپې به اقرار اوکړي، انبياء به ګواهي ورکوي او په عملنامه کښې به هم هر څه موجود وي۔

(۱) صحيح البخاري، کتاب فضائل القرآن، باب قول المقرئ الخ: ج ۲، ص ۷۵۵

Scanned with Ca

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه تپوس اوشوچه دقران کریم په یوځائې کښې ارشاددې چه کفاربه هیڅ هم پټ نکړې شی اوبل ځائې کښې داسې راغلی دی چه هغوئ به په قسم اووائی چه ﴿وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ﴾ مونږ شرک نهٔ دې کړې-نوپه ظاهره دې دواړوآیتونوکښې تعارض اوټکر دې؟هغوئ جواب ورکړوچه هرکله په شروع کښې کفاردااوینی چه دمسلمانانونه سوا ،جنت ته بل څوک ځی نهٔ،نوداخبره به ځان سره په زړه کښې غټه کړی چه مونږ لره دځپل شرک اوبدوعملونونه بیخی انکارکول پکاردی، کیدې شی چه په دې شان سره مونږه خلاصې بیا پیدا کړو،لیکن ددې انکار نه پس به پخپله ددوئ اندامونه،ددوئ خلاف ګواهی اوکړی،اوددې دپټولوکومه منصوبه به ئې چه جوړه کړې وه هغه به بیخی بیکاره ثابته شی اوپه دغه وخت به دوئ ټول اقراراوکړی ځکه ئې اوفرمائیل:﴿وَلَا يَكْتُمُوْنَ اللّٰهَ حَدِيْثًا﴾چه هیڅ خبره به دالله تعالی نه نشی پټولې.

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ

| اے هغه کسانو| چی ایمان مو راوړې دې | مهٔ نزدې کیږئ | مانځه ته |

| اتې مومنانو تاسو د نشې په حالت کښې مونځ ته مه نزدې کیږئ

وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى حَتّٰى تَعْلَمُوْا مَا تَقُوْلُوْنَ وَلَا جُنُبًا

په دا حال چی تاسو| په نشه کښی یئ| تردې پورې| چی پوهه شئ| په هغه څه| چی تاسوئې وایئ| اونه په حال دجنابت کښی

البته چه څه وائې په هغې پوهیږئ |نوبیا مونځ کوئ| اونه په حالت د جنابت کښې |مانځه ته ....

اِلَّا عَابِرِىْ سَبِيْلٍ حَتّٰى تَغْتَسِلُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ مَّرْضٰٓى

ماسوا ددې نه| چی تیریدونکې یئ | په لاره | تر دې پورې | چی تاسو غسل اوکړئ | اوکه ئې تاسو | ناجوړه

نزدې کیږئ البته که په لاره تیریدونکې ئې ترڅوچې موغسل نه وی کړې | اوکه ناجوړه ئې |

اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ

یا په سفر کښې | یا راشی| یو له تاسو نه| اودس ماتی نه| یاګوتی وروړئ تاسو| ښځو ته

یاپه سفر کښې یئ |یا په تاسو کښې څوک د اودس ماتی نه واپس شی |یاښځوسره نزدیکت اوکړئ|

فَلَمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ

او پیدا نه کړئ| اوبه | نو تیمم اوکړئ |په خاوره | پاکه | او مسح اوکړئ | په مخونو خپلو |

اواوبه اونه مومئ |نوپه پاکه خاوره باندې تیمم اوکړئ | اوپه مخونواو لاسونومسح اوکړئ

وَاَيْدِيْكُمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ۝

اوپه لاسونو خپلو| بیشکه الله | دې عفو کونکې | ښنونکې |

بیشکه الله ﷻ نرمی کونکې او بخښونکې دې|

آسان ترجمه قرآن: اې د ایمان خاوندانو! کله چه تاسو دنشې په حالت کښې یئ نو هغه وخته پورې تاسو مونځ ته مه نزدې کیږئ تر څو چه تاسو څه وایئ په هغې پوهه شوي نه یئ . او د جنابت په حالت کښې هم تر څوچه مو غسل نه وي کړې (مونځ جائز نه دې) ځوکه مسافر یئ (اوبه ملاو نشې نوکه تیمم

Scanned with Ca

وکړئ مونځ کولې شئ) اوکه تاسو ناجوړه يئ او يا په سفر يئ يا په تاسو کښې څوك دقضائ حاجت دځائ نه راغلې وي يا تاسو ښځو لره مسح کړې وي بيا تاسوته اوبه ملاونه شي نوپه پاکه خاوره تيمم وکړئ او دخپلو مخونو او لاسونو (دې خاورې سره) مسح وکړئ بې شکه الله ډير معاف کوونکې، ډير ښخونکې دې.

شان نزول:: ترمذي شريف کښې د علی ﷛ دا واقعه ذکر ده چې د شرابو دحرمت څخه وړاندې يو ځل عبد الرحمن بن عوف ﷛ نورو صحابه کرام ﷡ دپاره دعوت کړې وو. او په دې کښې د شرابو انتظام هم وو. هرکله چې دې ټولو حضراتو اوڅکل نو ماښام د مونځ وخت وو. او علی ﷛ امام شو. دوئ ﷛ څخه د ﴿قُلْ يَٰٓأَيُّهَا الْكَٰفِرُونَ﴾ تلاوت کښې د نشې په وجه غلطی اوشوه. نو په دې باندې دا آيت مبارك نازل شو[1] چې د نشې په حالت کښې مونځ مه کوئی.

خلاصه تفسير

﴿ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَقْرَبُوا الصَّلَوٰةَ وَأَنتُمْ سُكَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَعْلَمُوا مَا تَقُولُونَ ﴾اې د ايمان خاوندانو تاسود مونځ خواته هم په داسې حالت کښې مه ځئ [يعنی په داسې حالت کښې مونځ مه کوئی] چه تاسو په نشه کښې يئ تر دې چه ستاسو پوهيدل شروع شی په دې چه په خلې څه وائې[تر دغه وخته پورې مونځ مه ادا کوئی مطلب دادې چه مونځ ادا کول خوپه خپلو وختونو کښې فرض دې. اودا حالت مونځ اداکولو سره جوړ نه لری.نودمونځ په وختونوکښې د نشې استعمال مه کوئی چه ستاسو خلې نه په مونځ کښې څه خلاف کلمه اونه اوځی]﴿ وَلَا جُنُبًا ﴾ اود جنابت په حالت کښې هم[يعنی کله چه غسل درباندې فرض وی]﴿ إِلَّا عَابِرِي سَبِيلٍ ﴾سوادمسافر کيدودحالت نه [چه حکم ئې دادې راروان دې دمونځ خواته مه ځئ]﴿ حَتَّىٰ تَغْتَسِلُوا ﴾ تردې چې غسل اوکړئ [يعنی د جنابت نه غسل کول دمونځ دصحيح کيدوشرط دې .اودا حکم يعنی دجنابت نه پس بغير د غسل کولو دمونځ نه اداکول په هغه حالت کښې دی چه څه عذر ئې نه وی] ﴿ وَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰٓ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ ﴾ اوکه تاسو [څه عذر لرئ لکه] بيماران يئ [او اوبه استعمالول تاسو له ضرری وی لکه دے پسے راځی] يا په حالت د سفر کښې يئ [چه پورته ئې استثناء شوې ده او ددې حکم هم راروان دې او اوبه نشئ موندې لکه چه دا هم راځی نو ددې دواړو عذرونو په وجه به دتيمم اجازت وی.اوتيمم رواکيدل څه دے عذرونو پورې خاص نه دی بلکه تاسو ته خاص دا عذر نه وی] ﴿ أَوْ جَآءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَآئِطِ أَوْ لَٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ ﴾ يا [دا خاص عذرونه نه وی داسې چه نه خو تاسو بيماران يئ اونه مسافر بلکه همداسې دچا اودس مات شی يا غسل پرې لازم شی لکه] تاسونه څوك بنده [دلوئې يا ورکوټی اودس ماتی د] استنجاء نه [فارغ شوې] راشی [چه ورسره اودس ماتيږی] يا تاسو بيبيانو سره نزديکت کړې وی [او ددې په وجه درباندې غسل اوړيدلې وی او] ﴿ فَلَمْ تَجِدُوا مَآءً ﴾ بيا [په دې ټولو صورتونوکښې که د مرض اودسفر دعذر صورت وی يا مرض اوسفر نه وی خوهسې داودس او غسل ضرورت وی] تاسوته اوبه [يعنی داستعمالولو موقعه ئې] په ګوتو درنشی [يعنی د بيمارتيا په وجه درته ضرر رسوی يا دسره اوبه نه مومئ سفروی اوکه نه وی] ﴿ فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ ﴾ نو [په دې ټولو حالتونو کښې] تاسو په پاکه زمکه تيمم کوئی [يعنی پدغه زمکه دواړه لاسونه اووهئ او] په خپلو مخونو او

[1]) جامع الترمذی، أبواب التفسير، تفسير سورة النساء: ج ۲، ص ۳۲

Scanned with Ca

لاسونو [لاس] تیروئ ﴿ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا غَفُوْرًا ﴾ بیشکه الله ﷻ ډېر معاف کوونکې لوئې بخښونکې دې [او دچا چه داسې عادت وي هغه آسان حکم ورکوي ځکه الله ﷻ داسې آسان حکمونه درکړل چه تاسو ته تکلیف او تنګی نه وي].

معارف اومسائل

دشرابو حرامولی درجه په درجه حکمونه: ﴿ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰى ﴾ الله تعالی، اسلامی شریعت ته دا یو خصوصیت ورکړې دې چه دَدې احکام ئې نرم اوآسان کړی دی، دَدغې زنځیریو کړئ داده چه شراب ځکل دعربو زوړ عادت وو چه ټول قوم پکښې اخته وو، سوا دَیو څو خاصو حضراتو نه چه دَهغوئ طبیعت الله تعالی داسې سلیم جوړ کړې وو چه هغوئ دَدې خبیث ځیز خواته هم کله نۀ ووتلی، لکه رسول الله ﷺ چه دَپیغمبر کیدونه وړاندې ئې کله هم شرابو ته لاس نۀ وو وړ اوړې، او دا هم هرچا ته معلومه ده چه کله دَیو ځیز عادت دَچا جوړ شی نو دَهغې نه ځان خلاصول ورته ډیر زیات ګران وي، خصوصاً دَنشې عادت خو دَانسان په طبیعت باندې داسې قبضه کوي چه دَهغې پریښودلو کښې ورته خپل مرګ ښکاری۔

دَالله تعالی په نزد ،شراب ځکل اونشه کول حرام وو او کله چه خلقو اسلام راوړو نو هغوئ لره دَدې حُکم په منلو کښې سخت مُشکلات راپیښیدل، په دې وجه په اول سر کښې، په دې باندې څه جزوي پابندي اولګولې شوه اودَدې په خرابو اثراتو باندې خبرداری ورکولو سره، دَدې پریښودو ته تیار کړې شو ،په دې بِنا اول سر کښې دا حُکم اوکړې شو چه دَنشې په حالت کښې دَمونځ خواته مۀ ځئ ځنګه چه دَآیت نه واضح کیږی. حاصل ئې دا وو چه دَمونځ په وخت کښې دَمونځ کولو اراده کول فرض دی، دَمونځونو په وختو کښې د شراب استعمال نکړېشی، چه مسلمانانو تر دا محسوسه کړه چه دا ،داسې خراب ځیز دې چه انسانَ لره دَمونځ نه ایساروی او هم په دې وجه ډیرو حضراتو هم دَدغه وخت نه دَدې دَپریښودو بندوبست اوکړو اونورو حضرات هم په سوچ کولو مجبوره شو چه دا ناکاره او خراب ځیز دې-بالآخر دَسورۀ مائده هغه آیت شریف نازل شو چه دَهغې له مخه شراب قطعاً ناپاک او حرام اوګرځولې شوا او په هرحال کښې ئې ځکل حرام کړې شو-

مسئله ځنګه چه دَنشې په حالت کښې مونځ کول حرام دی، ځنو مفسرینو ﷺ فرمائیلی دی چه هرکله خوب په چا باندې دومره غلبه اوکړی چي دَهغې په وجه دَهغه ژبه په خپل قابو کښې پاتې نشي نو په داسې حالت کښې هم، مونځ کول درست نۀ دی ،لکه په یو حدیث شریف کښې ارشاد دي:

﴿اذا نعس احدكم في الصلوة فليرقد حتى يذهب عنه النوم فانه لايدري لعل يستغفر فيسب نفسه﴾ [قرطبی] (۱) که تاسو ته په مانځه کښې چاته خوب ورتلو نو څه وخت دَپاره ئې اودۀ کیدل پکاردی چه دَخوب اثر تر لاړشي ورنه دَخوب په حالت کښې به هغه په ځان نه پوهیږی او دَدُعا او استغفار په ځائې به خپل ځان ته کنځل کول شروع کړی.

دتیمم حکم یوانعام دې چه ددې امت خصوصیت دې ﴿فَتَيَمَّمُوْا﴾ دَالله تعالی څومره لوئې احسان دې چه

(۱) صحیح البخاری، باب الوضوء، باب الوضوء من النوم: ج ۱، ص ۳۴

اودس اوپاکئ حاصلودپاره ئې داسې څیزداوبوپه ځائې اودرولوچه داوبونه زیات په آسانه پیدا کید یشی، چنانچه هرچاته معلومه ده چه زمکه اوخاوره هرځائې کښې موجوده ده، په حدیث شریف کښې راغلی دی چه داآسانی یواځې اُمت محمدیه ته ورکړې شوې ده، دتیمم ضروری مسائل دفقهې په کتابونواودأردوپه رسالوکښې ډیرزیات چاپ شوی دی، هغه داوکتلې شي۔

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ

| آیا اونه کتل تا | هغه کسانو ته |

| آیا تادهغې خلقو حالت نه دې لیدلې

أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يَشْتَرُونَ الضَّلَالَةَ وَيُرِيدُونَ

چې ورکړې شوی ده ورته | څه حصه | د کتاب نه | هغوئ اخلی | گمراهی | اوغواړی دا |

چې دکتاب[علم] نه ورته لویه برخه ورکړې شوې وه | اوبیا هم گمراهی اخلی | اودا غواړی

أَن تَضِلُّوا السَّبِيلَ ۝ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِأَعْدَائِكُمْ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَلِيًّا

چې تاسو ورکه کړئ لار | اوالله ښۀ پیژنی | دشمنان ستاسو | اوکافی دې الله دوست

چې تاسود حقې لارې نه بې لارې کړی | اوالله ﷻ ته ستاسو دشمنان ډیرښه معلوم دی | اوتاسودپاره دالله ﷻ ملګرتیا کافی ده

وَكَفَىٰ بِاللَّهِ نَصِيرًا ۝ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا

او کافی دې الله | مددګار | بعضې دهغه کسانونه | چې یهودیان دی |

اوتاسودپاره دالله پاک مدد کافی دې | .... د هغه کسانو نه چې یهودیان شوی دی

يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَن مَّوَاضِعِهِ وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا

اړوی | خبری | دځایونو دهغې نه | اووایئ هغوئ | واوریدله مونږه | اوونه منل مونږه |

خینې خلق لفظونه دخپلومناسبوځایونونه اړوی را اړوی [اوچه تاسوته راشی] نووائی چې سمعناوعصینا

وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَاعِنَا لَيًّا بِأَلْسِنَتِهِمْ

اووائی هغوئ واوره | چې نۀ ئی تۀ قابل داوریدلو | اولفظ راعنا وائی | په تاوولو | دژبوخپلوسره

اود اسمع غیرمسمع دغه شان د راعنا په الفاظو ژبې تاؤ راتاؤ کړی

وَطَعْنًا فِي الدِّينِ ۚ وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا

او په عیب ویلوسره | په دین کښې | او که چرې هغوئ | وئیلې وې | چې واوریده مونږ وینا [ستا]

اود دین اسلام په قبلولو [مسلمانانوته] پیغورونه ورکوی(۱) اوکه ددې [الفظونو] په ځائې دوئ وئیلې چې مونږ واوریدل

(۱) د نبی کریم ﷺ په حق کښې گستاخی کول:- او [رَاعِنَا] به نې وئیل چه ددې نه به په ظاهره دا گنړلې کیدل چه دا خلق وائی چه مونږ طرفته غوږ کیږده. لیکن هغوئ به ددې نه مراد دا اخستو چه تاسو ډیرلو نې والا یئ، ددې پوره مطلب [يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَقُولُوا رَاعِنَا] تفسیر کښې تیر شوی دی. مقصد دادې چه کوم نې ظاهرول، دهغې خلاف خپلې ژبې اړوی او د طعن په طور خپلو زړونو کښې پټ ساتی. در اصل دا به دوی د نبی کریم ﷺ بې ادبی او گستاخی کوله. نو ... .[بقیه په راروانه صفحه...

Scanned with Ca

وَاَطَعۡنَا	وَاسۡمَعۡ	وَانۡظُرۡنَا	لَكَانَ	خَيۡرًا	لَّهُمۡ
اوومنلو مونږه حکم	اولفظ واوره	او اوګوره مونږ ته	خامخاوه داخبره	بهتره	دهغوئ دپاره

اوتابعداری کوو [ستاسو] او واوره [اخبره زمونږ] او زمونږ لحاظ اوکړه] نو دابه ددوئ دپاره ډیره بهتره وه

وَاَقۡوَمَ	وَلٰكِنۡ	لَّعَنَهُمُ	اللّٰهُ	بِكُفۡرِهِمۡ	فَلَا يُؤۡمِنُوۡنَ	اِلَّا	قَلِيۡلًا ۝
اوزياته صحيح	اخو ليكن	لعنت كړي دي په هغوئ	الله	په سبب دكفر دهغوئ	نونه راوړي ايمان	مګر	لږ

اودموقعې مطابق خبره به وه [اخو په دوی باندې الله ﷻ دكفر په وجه لعنتونه وروليي دي نو ډیركم په كښې ايمان راوړي

آسان ترجمه قرآن: كومو خلقو ته چه د كتاب (يعنې د تورات د علم نه) يوه حصه وركړې شوې وه آيا تا هغوی لره نه دي ليدلي چه څنګه ئې ګمراهي خوره كړه او غواړي چه تاسوهم د صحيح لارې نه واوړئ او الله ستاسو دښمنانو لره ښه پيژني ، او كافي دې الله دپاره دحفاظت او كافي دې الله دپاره دمدد، په يهودو كښې څه هغه دي چه هغوی (د تورات) الفاظ دهغې دموقعې اومحل نه لرې كوی او خپلې ژبې تاوهي راتاوهي اوپه دين كښې طعنې كولوسره وائي چه سمعنا وعصينا او اسمع غير مسمع ، او راعنا . حالانكه كه چرې هغوی دا وئيلي وې چه: سمعنا واطعنا،، او اسمع وانظرنا،، نو ددوی دپاره بهتره او ښه لاره وه ليكن ددوی د كفر په وجه الله تعالى په دوی باندې لعنت كړې دې، په دې وجه د لږو خلقو نه سوا دوی ايمان نه راوړی.

خلاصه تفسير

[ائي مخاطبه] ﴿ اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ اُوۡتُوۡا نَصِيۡبًا مِّنَ الۡكِتٰبِ ﴾ آيا تا هغه خلق نه دی كتلی [يعنی دليدو جوګه دی چې وې وينئ نوتعجب به اوكړئی] چاته چه كتاب [يعنی دتورات دعلم] يوه لويه برخه وركړې شوې ده [يعنی د تورات علم لری سره ددې] ﴿ يَشۡتَرُوۡنَ الضَّلٰلَةَ ﴾ چه دغه خلق ګمراهي [يعنی كفر] اختياروی [اوپخپله خو ګمراه شوی دی خوهغوی] ﴿ وَيُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ تَضِلُّوا السَّبِيۡلَ ۝ ﴾ داسې غواړی چه تاسو [هم] دلارې [سمې] نه [بيليدو سره] بې لارې شئ [يعنی قسماقسم انتظامات ددې كوی لكه څنګه چه د دريمې سيپارے په آخر اود څلورمې سيپارې په اول كښې څه ذكر شوی هم دی] ﴿ وَاللّٰهُ اَعۡلَمُ بِاَعۡدَآئِكُمۡ ﴾ او [كه تاسوته تراوسه پورې ددې خلقو خبرنه وی نو څه اوشو] الله ﷻ [خو] ستاسو [دغه] دښمنان ښه پيژنی [ځكه ئې تاسو ته اوښودل نوتاسو ترځان ساتلی لرئ] ﴿ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَلِيًّا ۙ وَكَفٰى بِاللّٰهِ نَصِيۡرًا ۝ ﴾ او [ددوی دمخالفت جال چه واورئ نو زيات فكر مند كيږئی مه ځكه چه] الله ﷻ [ستاسو] ښه جخت ملګرے دې [چه ستاسو د ښيګړو لحاظ به ساتی] اوالله ﷻ [ستاسو] كلك مرستيال دے [چه ددوی د نقصان دركولو نه به موساتی ﴿ مِنَ الَّذِيۡنَ هَادُوۡا ﴾ دا خلق [چه ذكر ئې شوې دې] ديهوديانو نه دی [او ددوی ګمراهي اختيارول چه پورته ئې بيان اوشو دا دی چه] ﴿ يُحَرِّفُوۡنَ الۡكَلِمَ عَنۡ مَّوَاضِعِهٖ ﴾ كلام [الهی يعنی تورات] لره ددې د موقعو [او ځايونو] نه [لفظ يا معنا ئې] بل خوا اړوی او [ددوی داسې

...بقيه د تيرمخ] ..دوی ته هدايت كولې شی چه دوی دې داسې الفاظ پريږدی چه دهغې معنی دوه وی او صفا صفا دې اووائی چه مونږ واوريدل ، تاسو خمونږ عرض واورئی ، تاسو خمونږ طرفته اوګورئی. دا وينا ددوی دپاره بهتر ده او هم دا صفا او ربښتونی او مناسب خبره ده.خو ددوی زړونه د نيكۍ نه لرې دی. اصل ايمان دپاره ددوی زړونو كښې ځائي نشته دې.ددې جملې تفسير هم مخكښې تير شوې دې ، مطلب دادې چه نفع وركولو والا ايمان دوی كښې نشته دې.(ابن كثير)

Scanned with Ca

بله ګمراهي چه ساده قسم خلق خطاوتلو له وجې په کښې انبتلے[مبتلی] شی داده چه دوی
درسول الله ﷺ سره دخبرو اترو کولو په وخت] ﴿وَيَقُولُونَ سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا وَاسْمَعْ غَيْرَ مُسْمَعٍ وَرَاعِنَا لَيًّا
بِأَلْسِنَتِهِمْ وَطَعْنًا فِي الدِّينِ﴾دا کلمات وائی [چه مخکښې راروان دی ددغې کلماتو دوه معنے
دی.یوه معنا ئے ښه ده او بله بده ده.دغه خلقو به یئ غلط مطلب اخستلو اونورو ته به یئ دا
ښکاره کوله چه مونږ ئے په ښه مطلب وایو او مسلمانان په دې خطاوتل او په بعضې داسې
کلماتو سره ئے رسول الله ﷺ لره مخاطب کول څه لرې خبره نه وه.چنانچه سورت بقرې په
دولسمه رکوع کښې مومنان د "راعنا" د لفظ استعمالولو نه منع کړې شوی وو.نوپه دې
لحاظ سره دیهودو دغه کلمات استعمالول یو قسم نورو لره ګمراه کول هم دی که څه هم لفظاً
وی نو په دې کښې د ﴿يريدون ان تضلوا﴾ لفظ چه پورته راغلې دې بیان هم شو لکه چه په ﴿من
الذين هادوا﴾ کښې د ﴿الذين اوتوا نصيبا﴾ بیان وو.اوپه ﴿ يحرفون﴾ کښې دهغه کلماتو بیان وو چه یو
دهغې نه ﴿سمعنا وعصينا﴾ ده . ترجمه ئے داده چه مونږ واوریدل اومنلې نه ده. ددې ښه مطلب
داکیدیشی چه ستاسو ارشاد مونږ واوریدلو او ستاسو دچا مخالف وینا مونږ اونه منله چه
مونږئے دهوکه کولو.او خراب مطلب ئے ښکاره دې چې مونږ ستاسو خبره خو واوریده خو عمل
پرې نه کوو] او [بله داده] ﴿ اسمع غير مسمع﴾ [ددې لفظي ترجمه داده چه تاسو زمونږ خبره واورئی
او الله ﷻ دې اوکړی چه تاسو هیڅ خبره واو نه رئی .ښه مطلب ئے دا اخستلے شی چه تاسو ته
دې څه مخالفه او غم رسونکے خبره واو نه رولے شی بلکه تاسو دې داسې بختور یئ چه دخیلے
هرے یوې خبرې په جواب کښې درته خلق روغه خبره آوروی.او خراب مطلب ئے دادې چه تاسوته
څه سمه او د خوشحالئ خبره واونه رولےشی.بلکه چه څه خبره کوئی نو دهغې جواب دے
وران.ستاسو غوږونوته د راورسولې شی] او [دریمه کلمه داده] راعنا [ددې دواړو مطلبونو نه
ښه او خراب په سورت بقره کښې بیان شوی دی.ښه مطلب ئے دا کیدیشی چه زمونږ لحاظ
اوساتئی. او خراب مطلب ئے دیهودو په لغت کښې کنځل دی.غرض دا چه دا کلمات] په داسې
شان [دوی وائی] چه خپلے ژبے [دعزت دانداز نه د ذلت انداز ته] را اړوی او [دزړه نه] په دین
کښې دپیغور درکولو [اوهم دسپکاوی] نیت لری [وجه داده چه نبی ته پیغور ورکول او تورقے
ورپورې کول بعینه دین ته پیغور ورکول اوتورقے ورپورې کول دی] ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ قَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا
وَاسْمَعْ وَانْظُرْنَا لَكَانَ خَيْرًا لَهُمْ وَأَقْوَمَ﴾اوکه دےخلقو [د دوو معنو ورکوونکو الفاظو په ځائې]
داکلمات ئے وئیلې [دسمعنا وعصينا په ځائې] سمعنا واطعنا [یعنی مونږ واوریدل او مو
منل] او [د اسمع غير مسمع په ځائې صرف] اسمع [یعنی تاسو واورئی] او [د راعنا په ځائې
ئے] انظرنا [یعنی زمونږ دښیګړې خیال کوئی چه دا کلمے ورانئ نه خالی اوپاکے دی نوکه دا
کلمات ئے وئیلې] نودا خبره دوئ دپاره غوره [او فائده منده هم] وه او [په حقیقت کښې هم]
دموقعے خبره وه ﴿ وَلَٰكِنْ لَعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ﴾مګر [خو دوی داسې دنفعے او موقعے خبره دسره کړې
نه ده بلکه بې بنسته خبرےئے دخلے نه ویستلے ځکه ورته دا تکلیف اورسیدو چه] دوی لره دالله
ﷻ ددوی دکفر په وجه [چه دا کلمات په کښې هم راغلل اونور تول کفری اعمال اواقوال هم په
کښې راغلل.نو ددې تولو کفریا تو په سبب الله ﷻ دوی لره] دخپل [خاص] رحمت نه لرے
اوغورزول ﴿ فَلَا يُؤْمِنُونَ إِلَّا قَلِيلًا ﴾اوس به دوی ایمان نه راوړی مګر لږ شان خلق [په وجه ددې چه

Scanned with Ca

دغه خلق ددغه ناکاره حرکتونو نه لرے اوسیدل چه دالله ﷻ خاص رحمت ته پرے نزدے شولاو ایمان ئے هم راوړو لکه عبدالله بن سلام غیره].

معارف او مسائل

دآیتونو ربط: په تیروشوؤ آیتونو کښې دتقوی دموقعوبیان راغلې ووچه زیاتې پکښې یوتربله خپل منځ کښې معاملې وې، اوپه مینځ کښې دعبادت، مونځ اودمتعلقاتو احکام ذکرکړې شو، چه په انسان کښې دالله تعالی ویره اوداخرت فکرپیداکوی، اودمعاملاتوسمیدل آسانوی، دتیرو شوؤ آیتونوراسې، مخالفینوسره دمعاملاتوبیان کړې شوې دې چه پکښې دیهودودورانی: علاج او مسلمانانوته، په الفاظواوعنوانونوکښې دادب دلحاظ ساتلوښودنه کړې شوه-

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ ءَامِنُوا۟ بِمَا نَزَّلْنَا

اې هغه کسانو| چې درکړې شوې دې کتاب| ایمان راوړئ | په هغه [قرآن] | چې نازل کړې دې مونږه

انې دکتاب خاوندانو [یهودو] په هغه کتاب ایمان راوړئ کوم چه مونږ نازل کړې دې ....

مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا

چې تصدیق کونکې دې| دهغه کتاب|چې تاسوسره دې| وړاندې ددې نه| چې مونږه بدل کړو | مخونه

چې ستاسودکتاب تصدیق کونکې دې | د دې نه وړاندې [ایمان راوړئ] چې مونږ مخونه بدل کړو

فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ ۚ

اوګرخوو هغه | شاګانو طرف ته | یالعنت اوکړوپه هغوئ |لکه چې لعنت کړې وؤ مونږه|د خالی د ورځې په خلقو

او هغه شاطرف ته واړووا یاپرې داسې لعنت اوکړو چې دخالی د ورځې په خاوندانو چې موکړې وو

وَكَانَ أَمْرُ ٱللَّهِ مَفْعُولًا ﴿٤٧﴾

اودې|حکم دالله |خامخا کیدونکې |

اودالله ﷻ حکم ضرور پوره کیدونکې دې |

آسان ترجمه قرآن: اې اهل کتابو! کوم (قرآن) چه اوس مونږ نازل کړې، چه هغه تاسو سره د مخکښې نه د موجود کتاب تصدیق هم کوی په دې باندې ایمان راوړئ، مخکښې ددې نه چه مونږ بعضې مخونه وړان کړو اود سټ په شان ئې اوګرځوو، یا په هغوی باندې داسې لعنت اوکړولکه څنګه لعنت چه مونږ په سبت والو باندې کړې وو اودالله حکم همیشه ضرور پوره کیږی.

خلاصه تفسیر

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ ﴾ انې خلقو چه کتاب [تورات] درکړې شوې دے ﴿ ءَامِنُوا۟ بِمَا نَزَّلْنَا مُصَدِّقًا لِّمَا مَعَكُم ﴾ تاسو په هغه کتاب [یعنی قرآن] ایمان راوړئ چه مونږ نازل کړې دې [اوتاسو لره په دې باندې ایمان راوړلو نه بوګنیدل اومتنفرکیدل نه دی پکار ځکه چه مونږ دې] په دې سے حالت [نازل کړو] چه هغه رښتیا بولی هغه کتاب لره چه تاسو سره دے [چه ستاسو اصل کتاب لره هغه رښتیا بولی اوبدله شوې برخه تر بیله ده نو تاسو په قرآن باندې] ﴿ مِّن قَبْلِ أَن نَّطْمِسَ وُجُوهًا فَنَرُدَّهَا عَلَىٰٓ أَدْبَارِهَآ أَوْ نَلْعَنَهُمْ كَمَا لَعَنَّآ أَصْحَٰبَ ٱلسَّبْتِ ۚ ﴾ ددې [نه یقینی کار کیدلو چه ستاسو پرے یقین نه راځی] نوړاندې وړاندے [ایمان راوړئ] چه مونږ [ستاسو] څیرے [نخښے

Scanned with Ca

نبسانے اورغونړه یعنی سترګے پوزه وغیره ئې] بیخی ورانے کړو اودا [مخونه] ددې خلاف طرف ته واړ وو [او دځت پشان ئې صفا هوار کړو] یا په دې [ایمان نه راوړونکو] باندې مونږ داسې [په خاص شان سره] لعنت اوکړو څنګه مو چه د خالي د ورځې په خاوندانو کړې وو [چه په یهودو کښې تیر شوی دی] چه ذکر ئې په سورت بقره کښې راغلې دې یعنی دهغوی پشان به دوی هم د بیزوګانو [په شکل کړو] ﴿ وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولًا ﴾ اوداالله ﷻ [چه کوم] حکم [صادر اوجاری شی هغه] پوره کړه کیدونکی وی [نوکه الله ﷻ ستاسودا ایمان نه راوړلو په وجه ددې مخ مسخ کیدو حکم اوکړی پوره کول به یې ضرور شی لهذا تاسو لره ویریدل او ایمان راوړل پکار دی].

معارف او مسائل

①**فائده**: ﴿فَنَرُدَّهَا عَلَىٰ أَدْبَارِهَا﴾ [مونږه ئې واړوو شا اړخ ته، په اپوټه او اړولو کښې دوه احتمالونه دی چه د مخونو نخښې نبسانې تولې ورانې کړو اوبوره مخ نقشه یې شا اړخ ته واړوو او داهم کیدې شی چه مخ ئې د ځت پشان بیخی هوار سوار کړو او شاته ئې وانړ وو [مظهری روح المعانی]([1])۔

②**فائده**: دلته داسوال پیدا کیږی چه دا مخونو ورانیدل اوبل مخ ته آوړیدل به کله کیږی؟ ځنې وائی چه داعذاب به په یهودو د قیامت نه وړاندې راځی او ځنې وائ چه داعذاب څکه پر رانغلو چه دوئ کښې ځنې خلقو ایمان راوړې وو.

حضرت حکیم الامت تهانوی رحمه الله فرمائیلی دی چه زما په نزد د سره دغه سوال واردیدې څکه نشی چه په قرآن کریم کښې هیڅ یو لفظ نه داسې معلومیدل نشته چه د ایمان نه راوړلو په صورت کښې به ئې خامخا مخونه خرابیږی، بلکه ددې احتمال دی، مطلب ئې دادې چه ددوئ جرم که او کتې شی نو ددې سزا حقدار دی، او که عذاب ورنکړی نو دا دهغه رحمت دی([2])۔

إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ

بیشکه الله | نه معاف کوی دا خبره | چی شریك جوړ کړې شی | دهغه سره

| ......الله ﷻ خو بس یو شرک نه معاف کوی

وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُشْرِكْ

او معاف کوی | هغه ګناه | چې ماسوا وی دهغې نه | هغه چاته چې خوښه ئې شی | او هغه څوك چی شریك جوړ کړی

او ددې نه سوا چه هر څومره ګناهونه وی چې غواړی نو معاف کوی ئې | او چا چې

بِاللَّهِ فَقَدِ افْتَرَىٰ إِثْمًا عَظِيمًا ﴿٤٨﴾ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ

دالله سره | نو هغه جوړ کړل | دروغ | لویۍ | آیا تاو نه کتل | هغه کسانو ته | چی پاك ښکاره کوی

الله ﷻ سره شریک پیدا کړو | نو هغه ډیر لوئې دروغ جوړ کړل او ډیره لویه ګناه ئې اوکړه | آیا ته هغه خلقو ته نه ګوری

أَنْفُسَهُمْ ۚ بَلِ اللَّهُ يُزَكِّي مَنْ يَشَاءُ وَلَا يُظْلَمُونَ فَتِيلًا ﴿٤٩﴾

خانونه خپل | بلکه الله | پاکوی | هغه څوك | چی او غواړی | او کولې به نشی ظلم په هغوی | دذرې هومره

چې خپل خانونه پاک ښکاره کوی | بلکه الله ﷻ چې د چا باره کښې اوغواړی نو هغه پاکوی | او په

---

[1]) تفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۳۶، وروح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۴۸

[2]) بیان القرآن تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۳۲

Scanned with Ca

انْظُرْ	كَيْفَ	يَفْتَرُوْنَ	عَلَى اللهِ	الْكَذِبَ ؕ	وَكَفٰى	بِهٖۤ	اِثْمًا مُّبِيْنًا ۟
اوګوره	څرنګې	تړي هغوی	په الله باندې	دروغ	اوکافي دی	دادروغ	ګناه ښکاره

هغوئ به د ذرې هومره ظلم اونشی | اوګوره دوئ څنګه په الله ﷻ باندې دروغ تړي | اودا ښکاره ګناه کافي ده.

بې شکه الله پاک دا خبره نه معاف کوی چه دهغه سره څوك شريك اوګرځولې شي، او ددې نه کمتره هر يوه خبره چا دپاره چه اوغواړي معاف کوی ئې. او کوم سړې چه دالله سره څوك شريك ګرځوی، هغه داسې بهتان تړی چه هغه ډيره سخته ګناه ده آيا تا هغه خلقو لره نه دي کتلي چه خپل ځانونه ډيرپاکوي؟ حال داچه پاکوالې خو الله چه چاته وغواړي نو ورکوي ، او (دې ورکولو کښې) په دوی باندې د تار هومره ظلم هم نه کيږي وګوره داخلق څنګه په الله باندې د دروغو بهتان تړي ، او دصفا ګناه دپاره داکافي دي.

خلاصه تفسير

﴿ اِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ ﴾ بيشکه الله ﷻ به دا خبره [په سزا ورکولو هم] نه بخښی چه ورسره چالره شريك اوګرځولے شی [بلکه تل دپاره به يئ په هميشه سزا کښې راګير لری] ﴿ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ ﴾ او ددې نه سوا چه نور څومره ګناهونه دی [ورکوټی دی که غټ] چادپاره چه ورته منظور وی [بےشکه دڅه سزا به ئے] دغه ګناهونه بخښی [البته که دغه مشرك مسلمان شی نو بيا مشرك پاتې نشو سزا به يئ هم دهميشه دپاره پاتې نشی] ﴿ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللهِ فَقَدِ افْتَرٰۤى اِثْمًا عَظِيْمًا ۟ ﴾ او [ددې شرك دنه بخښلو وجه داده چه] څوك الله ﷻ سره [چالره] شريك ګرځوی نوهغه د لوئې جرم کوونکې شو [چه دخپل لوئې والی په وجه د بخښلو جوګه نه دې]. [ائې مخاطبه] ﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ يُزَكُّوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ ﴾ آيا تاهغه خلقوته نه دی کتلی [يعنی دتعجب جوګه دی] چه خپل ځانونه پاکيزه بولی [دے بللو نه هيڅ نه جوړيږی] ﴿ بَلِ اللهُ يُزَكِّيْ مَنْ يَّشَآءُ ﴾ بلکه الله ﷻ چه چالره غواړی پاکيزه ئے بولی [اودا اعتباری خبره ده الله ﷻ قرآن کريم کښې مسلمانان پاکيزه بللی دی لکه په سورت سبح اسم کښې د "اشقی" [کافر] په مقابله کښې د مومن په حق کښې ئے اوفرمائيل ﴿ قد افلح من تزكى ﴾ هم دا خلقو به پاکيزه وی نه چه کفر کوونکی لکه يهود دی] او [دے يهودو ته به په قيامت کښې دهغې دروغژنے دعوے په سبب چه کفر ئے ايمان ګنړلے دے کومه سزا چه وی په دغه سزا کښې به] ﴿ وَلَا يُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ۟ ﴾ په دوی د تار برابر ظلم هم نشی کيدې [يعنی دغه سزا به يئ دجرم نه زياته نه وی اوپه دې سے جرم باندې دغسې سزا لائقه ده لړ شان] ﴿ اُنْظُرْ كَيْفَ يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللهِ الْكَذِبَ ؕ ﴾ اوګوره [په دې دعوی کښې] دا خلق په الله ﷻ باندې څنګه د دروغو تور پورې کوی [ولے چه هرکله هغوی سره د کفر دا دعوی لری چه مونږ د الله ﷻ مقبول يونو دے نه صفا لازم شو چه کفر دالله ﷻ په نزد غوره دے سره ددې چه دا خالص تور پورې کول دی چه الله ﷻ په ټولو شريعتونوکښې دا په ډاګه فرمائيلی دی چه کفر زمونږ په نزد سخت ناخوښه او رد کړې شوې دې] ﴿ وَكَفٰى بِهٖۤ اِثْمًا مُّبِيْنًا ۟ ﴾ اوهم دا خبره [چه په الله ﷻ تورپورې کړې شی] ښکاره مجرم کيدو دپاره پوره دی [آيا بياپه دې سے ښکاره لوئے خبرے باندې سزا ورکول څه ظلم او زياتی ده].

Scanned with Ca

معارف او مسائل

د شرک تعریف او ددې څو صورتونه: قوله تعالیٰ: ﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ﴾ د الله تعالی د ذات او صفاتو په باره کښې چه کوم عقائد دی دغه شان څه عقیده، چا مخلوق د پاره لرل شِرک دې، څه تفصیلات ئې دادی:

په علم کښې ئې شریک ګڼړل: یعنی یو بزرګ او پیر سره دا اعتقاد لرل چه زمونږ د ټولو حالاتونه هغه هر وخت خبر دې، نجومی یا پنډت نه د غیبو خبرونه معلومول، یا د یو بزرګ په کلام فال لټول او بیائې یقینی ګنړل، یا د یر لرې نه [بې ذریعې] اورته آواز کول او دا ګنړل چه هغه پرِ خبرشو، یا د چا د نوم روژه نیول.

اشراک في التصرف: یعنی چا لره د نفع، نقصان اختیار من ګنړل، چا نه مُرادونه غوښتل روزی یا اولاد ترِ غوښتل.

په عبادت کښې شریک ګڼړل: چا ته سجده کول، د چا د نُوم څه څاروې خُوشې پرېښودل د چا د نوم قربانی یا منښته [ادرور] کول، د چا د قبر یا د یو مکان طواف کول، د الله تعالی د حکم په مقابله کښې د بل چاقول یا رسم لره غوره ګنړل، د چا مخې ته د رکوع هومره ټیټیدل، د چا په نوم باندې څاروې ذبح کول، د دُنیا کاروبار د ستورو تاثیر ګنړل، یوه میاشت ورځ وغیره سپیره ګنړل۔

خپل ځان والې خپله بیانول او د عیبونو نه د پاکیدو دعوی لرل روانه ده: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ يُزَكُّونَ أَنفُسَهُمْ﴾ یهودو به خپل ځانونه پاکیزه بلل، په دې وجه الله تعالی په دې آیت کښې د هغوئ بدی بیانوی اوفرمائ چه اوګورئ هغه خلق چه خپله پاکی بیانوی په هغه تعجب کول پکار دی۔

دې نه معلومیږی چه خپله یا د بل پاکی بیانول روانهٔ دی، د دې درې وجهې دی۔

① خپله پاکی بیانول اکثر په خپلې لویئ اداڼره وی، نو په حقیقت کښې لوئ کول منع کړې شو۔

② د آخر انجام حال باندې صرف الله تعالیٰ پوهیږی چه دا به په تقوی او پاکئ وی او که نهٔ وی؟ په دې وجه خپل ځان پاکیزه بلل، الله تعالی نه د ویرې کُولو خلاف دی۔ چنانچه په یو روایت کښې حضرت زینب بنت ابی سلمه رضي الله عنها فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ مانه زما د نوم تپوس اوکړو ما ورته خپل نوم برّة اوښودلو [چه معنی ئې د ګناهونونه پاکه ده] هغوئ اوفرمائیل ﴿لا تزكوا انفسكم الله اعلم بأهل البر منكم سموها زينب﴾[1] [یعنی تاسو خپل ځانونه د ګناهونونه پاکیزه مه بولئ، ولې چه دا علم صرف الله تعالی لره دې چه تاسو کښې څوک پاک دې، بیائې د ، برّة ، په ځائې د هغې نُوم ، زینب ، کیښو [مظهری]

[۳] دې نه د منع کولو دریمه وجه دا ده چه داسې دعوې لرونکو خلقو ته اکثر دا ګمان کیږی چه دا بنده، د الله تعالی په نزد ځکه مقبول دې چه دې د ټولو نقصانونو او عیبونو نه پاک دې، حالانکه دا دروغ دی، ولې چه ډیر عیبونه په بنده کښې موجود وی۔ [بیان القرآن][2]

مسئله: که چرې د اقسم عوارض موجود نهٔ وی نو د نعمتِ خداوندی د ښکاره کولو په ډول د خپل صفت د بیانولو اجازت دې۔ [بیان القرآن][3]

---

[1]) مشكوة، كتاب الأداب، باب الاسامي: ج ۲، ص ۴۰۷

[2]) تفسير بيان القرآن تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۱۲۲

[3]) تفسير بيان القرآن تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۱۲۲

Scanned with Ca

اَلَمْ تَرَ	اِلَى الَّذِيْنَ	اُوْتُوْا	نَصِيْبًا	مِّنَ الْكِتٰبِ	يُؤْمِنُوْنَ
آیاتا ونه لیدل	هغه کسان	چي ورکړي شوي ده	حصه	د کتاب	هغوئ ایمان راوړي
ته هغه خلقو ته نه ګوري چي د کتاب [تورات د علم نه] څه حصه ورته ورکړي شوي ده					او حال دا دي چي ایمان راوړي
بِالْجِبْتِ	وَالطَّاغُوْتِ	وَيَقُوْلُوْنَ	لِلَّذِيْنَ	كَفَرُوْا	هٰٓؤُلَآءِ
په وهمي خبرو	او په طاغوت باندي	او وائي	په حق د هغه کسانو کښي	چي کافران دی	دا
په وهمي او شيطاني څيزونو باندي	......او د کافرو باره کښي وائي چي دا خلق				
اَهْدٰى	مِنَ الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	سَبِيْلًا ۝	اُولٰٓئِكَ	
زيات په نيغه لار دی	د هغه کسانو نه	چي ايمان ئي راوړي دي	د حيثيته د لارې	دا [وينا کونکی]	
د مسلمانانو په نسبت په بهتره لار روان دي	......دوی داسې خلق دي				
الَّذِيْنَ	لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ط	وَمَنْ	يَّلْعَنِ اللّٰهُ		
هغه کسان دي	چي لعنت کړې دې په هغوئ الله	او هغه څوک	چي لعنت او کړي پري الله		
چي الله ﷻ پرې لعنت کړې دې	......او په چا چې الله ﷻ لعنت او کړي				
فَلَنْ تَجِدَ	لَهٗ	نَصِيْرًا ۝			
نو هرګز به بیا پیدا نه کړې ته	هغه د پاره	څوک مددګار			
نو هيڅوک به د هغه مددګار بيانه مومې					

آسان ترجمه قرآن: کومو خلقو ته چه د کتاب (يعني د تورات د علم نه څه حصه ورکړې شوې وه. آيا تا هغوی لره نه دي ليدلی چه هغوی (څنګه) د بتانو او د شيطانانو تصديق کوي او د کافرانو (يعني د بت پرستو) په باره کښې وائي چه دوی د مؤمنانو نه زيات په سمه لاره دي داهغه خلق دي چه الله په دوی باندې لعنت کړې دې او څوک چه الله ئې په لعنت کړي. نو هغه لره به ته څوک مددګار ونه مومې.

خلاصه تفسير

[ائې مخاطبه] ﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ اُوْتُوْا نَصِيْبًا مِّنَ الْكِتٰبِ ﴾ آيا تا هغه خلق اونه ليدل چاته چه [د الله ﷻ] د کتاب يوه برخه ملاوشوې ده [بيا سره د دې نه] ﴿ يُؤْمِنُوْنَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوْتِ ﴾ هغوی بتان او شيطان مني [ولې چه د مشرکانو دين بت پرستی او د شيطان تابعداری وه چه دا دين ئې ښه اوبللو نو د بتانو او شيطانانو ربنتينی ثابته شوه] ﴿ وَيَقُوْلُوْنَ لِلَّذِيْنَ كَفَرُوْا هٰٓؤُلَآءِ اَهْدٰى مِنَ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا سَبِيْلًا ۝ ﴾ او دغه خلق [يعنی اهل کتاب] د کفارو [يعنی د مشرکانو] په باره کښې وائی چه دا خلق د مسلمانانو نه زيات په سمه لار دی [داخو دوی په ښکاره وئيلی وو] ﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ ط ﴾ دا خلق [چه د کفر طريقه ئې د اسلامی طريقې نه زياته غوره اوخودله] هغه دی چه هغوی لره الله ﷻ ملعون جوړ کړی دی [او هم د دې ملعون کيدو اثر دا دې چه په دې سے بيباکئی سره کفريات وائی] ﴿ وَمَنْ يَّلْعَنِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ نَصِيْرًا ۝ ﴾ او الله ﷻ چه چالره ملعون جوړ کړی د هغه به [د عذاب په وخت کښې] هيڅوک مرستيال بيانه مومې [مطلب دا دې چه په دې به دوی ته په آخرت کښې يا دنيا کښې هم سخته سزا وی چنانچه په دنيا کښې بعضې قتل شو بعضې قيد

Scanned with Ca

او بعضې ذليله رعيت جوړ شو او په آخرت کښې به ورسره چه څه کيږي نو هغه به بيل وي].

دآيتونو ربط: وړاندې آيت ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِّنَ الْكِتَابِ يَشْتَرُونَ الضَّلَالَةَ ﴾الخ ، کښې د يهودو قبائح او دخرابو خصلتونو ذکرراروان دې ددې آيتونو مبارکو تعلق هم ددې قبائحو ذکرسره دې.

معارف او مسائل

الجبت والطاغوت نه څه مراددي؟ پورته آيت ۵۱ کښې ، ،الجبت والطاغوت، ،الفاظ راغلي دي چه مرادئې درته ښکاره کولې شي-مفسرينو ﷬ نه په دې کښې ګڼړ اقوال منقول دي-حضرت ابن عباس ﷠، ابن جبير ﷬ او ابوالعاليه ﷬ فرمائيلي دي چه ، ،جبت، ،په حبشي ژبه کښې ساحرته وئيلې شي او ، ،طاغوت، ،نه مراد کاهن[جوګي]دې-

حضرت ابن عمر ﷠ فرمائيلي دي چه ، ،جبت، ،نه مُراد سحردې او ، ،طاغوت، ،نه مرادشيطان دې،حضرت مالک بن انس ﷬ نه منقول دي چه دالله تعالى نه سوادکوموڅيزونو چه عبادت کولې شي،دغې ټولوته ، ،طاغوت، ،وئيلې شي،

امام قرطبي ﷫ فرمائيلي دي چه دمالک بن انس ﷬ قول زيات غوره ځکه دې چه ثبوت ئې دقرآن کريم نه هم کيږي لکه فرمائي﴿ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ ﴾(١)خودغه ګڼړو اقوالو کښې هم څه ټکرنشته،ځکه ئې ټول مُراداغستل کيدې شي چه په اصل کښې جبت، ،دبُت نوم وو ليکن بيا ددې استعمال هغه څيزونو دپاره هم اوشو چه دالله تعالى نه بغيرئې عبادت کولې شي[روح المعاني](٢)

د ذکر شوؤ آيتونو شانِ نزول دحضرت ابن عباس ﷠ نه روايت دې،چه ديهودو سردارحُيي بن اخطب اوکعب بن اشرف دجنګ اُحُدنه پس دېوې ډلې مشرى کوله چه دمکې مکرمې دقريشو سره دملاقات دپاره ورغلل،ديهودوسردارکعب بن اشرف ابوسفيان ته راغلو او درسول الله ﷺ په خلاف ئې ورسره دامداد کولووعده اوکړه-دمکې خلقو کعب بن اشرف ته اووئيلې چه تاسو خطا ايستونکې قوم يئ نوستاسو رشتينولی په دې شان غواړو چه زمونږ ددې دؤ بُتانو ، جبت، او ، ،طاغوت، ، په وړاندې سجده اوکړئ. هغه دقريشو دتسلئ دپاره هم دغسې اوکړل، بيا کعب بن اشرف داتجويز وړاندې کړو چه زمونږ اوستاسو ديرش،ديرش کسان درا وړاندې شي چه دکعبې پروردګارسره ددې خبرې لوظ اوکړو چه مونږ به په شريکه دمحمد ﷺ په خلاف جنګ کوؤ-

داتجويزددهٔ قريشو خوښ کړو،او په دغه شان دوئ يوه شريکه ډله جوړه کړه،بيا ابوسفيان کعب بن اشرف ته اووئيل چه تاسو دعلم خاوندان يئ،تاسو سره دالله تعالى کتاب دې خو مونږه بيخي جاهلان يو،ځکه دا راته اووايه چه مونږ په حقه يو او که محمد ﷺ ؟

کعب تر ددوئ ددين تپوس اوکړو،ابوسفيان ورته اووئيل چه مونږ خپل اُوښان ذبح کوؤ او يوئ ئې په خلقو خکوؤ،مېلمنوله ميلمستيا ورکوؤ،خپلو اونږدې خپلوانو سره اوچت تعلقات ساتو، د بيت الله طواف او عمره هم کوؤ،ددې په عکس محمد ﷺ دخپل پلارنيکه زوړ دين پريښې دې،دخپلو خپلوانو نه بيل شوې دې اوزمونږ دزوړ دين په مقابله کښې ئې نوې دين پيش کړې دې-

ددې په آوريدو کعب بن اشرف اووئيل چه تاسو خلق په حقه يئ او محمد ﷺ [معاذ الله]ګمراه شوې دې په دې وجه الله تعالى دغه ذکرشوی آيتونه نازل کړل ددوئ دګتکو دهوکه بازئ او

(١) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج٥، ص٢٣٩

(٢) روح المعاني تحت هذه الآية: ج٢، ص٨٨

Scanned with Ca

خطا ايستلو بدي ئې بيان کړه [روح المعاني] (۱)

په څنې وختونوکښې ديوانسان نفساني خواهشات هغه لره ددين ايمان نه بې نصيبه کوي: کعب ابن اشرف ديهودويونامتوعالم وو چه په الله ئې هم عقيده لرله اوهم دهغه عبادت ئې کولو ليکن چه په زړه اودماغو ئې دنفساني خواهشاتو بلاسوره شوه نودمسلمانانو خلاف ئې قريشو سره خان غټه کړو، قريشو ورته دې دپاره دايو شرط کيښودچه ددوئ بُتانو ته دسجده اوکړې هغه داخبره هم اومنله اوهم دغسې ئې اوکړل چه وړاندې بيان شو، دۀ دخپل مذهب په خلاف خودقريشو شرط پوره کړو ليکن دخپلو مذهبي عقائدو قائم لرلو دپاره ئې دوئ نه بيليدلو ته ئې غاړه کښې نښوه. لکه قرآن کريم چه داسې يوه واقعه دبلعم بن باعوراء هم بيان کړې ده فرماي: ﴿وَاتۡلُ عَلَيۡهِمۡ نَبَأَ الَّذِيٓ ءَاتَيۡنَٰهُ ءَايَٰتِنَا فَٱنسَلَخَ مِنۡهَا فَأَتۡبَعَهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَكَانَ مِنَ ٱلۡغَاوِينَ﴾.

مفسرينو فرمائيلي دي چه بلعم بن باعوراء دلوئې عزت خاوند عالم اودتصرف صاحب درويش وو، ليکن هرکله چه خپل نفساني خواهشات پوره کول ئې اوغوښتل اودموسى عليه السلام خلاف ئې ناپاکه تدبيرونه کول شروع کړل نو دهغوئ هيڅ نقصان ئې اونشو کړې اوپخپله ردکړې شوې اوګمراه شو-

دې نه معلومه شوه چه صرف علمِ دکتاب نفعمند نشي کيدې، ترڅوچه په صحيح معنى کښې دهغې تابعداري نۀ کوي اومحض دُنيوي لالچ اوذليله خواهشات د يو مخه پرېښې دي، که داسې نۀ وي نوانسان بيا، دخپل مذهب غوند اعلى ترين څيزهم په خپلو خواهشاتو باندې قرباني کولو نه ډډه نۀ کوي، نن صباهم داسې قسمَ خلق شته چه دُدنيوي اوسياسي غرضونو او مقصدونو حاصلولو دپاره خپل حق مسلک په آسان پرېږدې اودبيدينۍ عقيدواونظرياتوته داسلام دجامو اغوندولو پوره کوشش کوي، نۀ دالله تعالى دلوظ اوپوخ قول څه پرواه لرې اونه دآخرت خوف لري، داټول ددې وجهې نه کيږي چه صحيح اوحق مسلک پرېږدي اودشيطان په اشاروچليږي-

دالله جل جلاله لعنت په دُنيااوآخرت کښې دشرمنده کيدوسبب دې: دالله جل جلاله د رحمت نه د لرې والي نوم لعنت دې، اود ډيرې رسوائى او ذلت نوم دې. په چا چې دالله جل جلاله لعنت وي هغه دالله جل جلاله قرب نشي حاصلولې. ددوئ باره کښې ډير سخت وعيد راغلې دې. فرمائى چې: ﴿مَّلۡعُونِينَۖ أَيۡنَمَا ثُقِفُوٓاْ أُخِذُواْ وَقُتِّلُواْ تَقۡتِيلٗا﴾ په چا چې د الله جل جلاله لعنت وي نو هغه چې چرته هم ملاوشي نو خټ ترې وهئ. دا خو د ددوئ دنيا کښې رسوائى شوه. او دآخرت رسوائى خو به ددې څخه هم زياته سخته وي.

د الله جل جلاله د لعنت مستحق کوم خلق دي: ﴿وَمَن يَلۡعَنِ ٱللَّهُ فَلَن تَجِدَ لَهُۥ نَصِيرًا﴾ دې آيت نه معلوميږي چه دالله تعالى له اړخه دلعنتي کيدونکي بنده هيڅوک مددګارنۀ وي، اوس داکتل دي چه دغه لعنتي خلق څوک دي؟ ديوحديث له مخه رسول الله صلى الله عليه وسلم سودورکوونکې، سودخور، سودليکونکې اوددې ګواه، ټول لعنتيان ګرځولي دي اوټول په ګناه کښې برابردي- [مسلم په حواله دمشکوة] (۲)

په يوبل حديث کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: ﴿ملعون من عمل عمل قوم لوط﴾ [رزين په حواله دمشکوة] (۳) دلوطيانو پشان، دلواطت عمل کوونکي لعنتيان دي بيانې ارشاداوفرمائيلو چه الله

---

(۱) روح المعاني تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۸۸

(۲) صحيح مسلم، کتاب البيوع، باب الربا: ج ۲، ص ۲۷ ومشکوٰة، کتاب البيوع باب الربا: ج ۱، ص ۲۴۴

(۳) مشکوٰة، کتاب الحدود، باب قطع السرقه: ج ۲، ص ۲۴

Scanned with Ca

تعالی په غل باندې لعنت لیږي چه دا ګی: [اندې] اورسئ غوند سپک څیزپه غلاکولوهم صرفه نۀ کوي اوپه سزا کښې ئې لاس پریکولې شي، [متفق علیه په حواله دمشکوة] ([1]).

په بل حدیث شریف کښې ارشاد دې ﴿لعن الله اکل الربو ومؤکله والواشمة والمستوشمة والمصور رواه البخاری بحواله مشکوة﴾ ([2]) دا الله تعالی لعنت دې په سود خور، سود خوروونکی اوپه هغه ښځوچه په ستنو ورمند لوسره په بدن کښې دننه خالونه وهی- [چه ښکلې ښکاری] یادوئ ته خالونو وهلو د پاره ورځی او دغه شان په تصویر ویستونکو باندې ئې هم لعنت کړې دې]-

په یو بل حدیث کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی لعنت لیږی په شرابو، ددې په څکونکی، په خرید کوونکی، په کشید کوونکی، په ورپورته کوونکی اوپه راغوښتونکی ټولو باندې [ابوداؤد، ابن ماجه په حواله دمشکوة] ([3])-

یوحدیث کښې رسول الله ﷺ ارشادفرمائ چه شپږ کسان داسې دی چه ما پرِ لعنت لیږلې دې الله پرِ هم لعنت لیږلې دې اودهرنبی دعا قبلیدونکی وی، هغه شپږ کسان دادی:

① دا الله تعالی په کتاب کښې زیاتې کوونکې ② هغه څوک چه په زورظلم سره اقتدار حاصل کړی، هغه چاته عزت ورکوی چه الله تعالی ذلیله کړې وی اوهغه څوک ذلیله کوی چه الله تعالی ورته عزت ورکړې وی ③ دا الله تعالی تقدیر، دروغ بولی ④ دا الله تعالی حرام کړی څیزونه حلال ګنړی ⑤ زما په اولاد کښې هغه څوک چه حراموله حلالوونکې وی، ⑥ اوزما دسنتو پریښودونکې [بیهقی په مدخل کښې په حواله دمشکوة] ([4])-

په یو بل حدیث کښې ئې اوفرمائیل: ﴿لعن الله الناظر والمنظور الیه﴾ ([5]) [څوک چه نامحرم ته بدنظر اوکړی اوچاته چه بدنظراوکړې شی [خوهله چه ځان ئې ته تیار کړې وی چه خلق دورته اوګوری]-

دحضرت ابی هریرة رضی الله عنه په روایت کښې دی چې ﴿لعن رسول الله ﷺ الرجل یلبس لبسة المرءة والمرءة تلبس لبسة الرجل﴾ [رسول الله ﷺ په داسې سړی لعنت کړې دې چه دښځو پشان جامې اغوندی اوپه داسې ښځه ئې هم لعنت کړې دې چه دسړی پشان جامې اغوندی، مشکوة ([6])

﴿عن عائشة رضی الله عنها ان امراءة تلبس النعل قالت لعن رسول الله ﷺ الرجلة من النساء﴾ [رواه ابوداؤد بحواله مشکوة] ([7]) حضرت عائشه رضی الله عنها ته چاعرض اوکروچه یوه ښځه [دسړو پشان] پنړې [چپلکې] په پښو کوی، هغې ورته اوفرمائیل چه دا الله تعالی رسول په داسې ښځه باندې لعنت کړې دې چه دنارینؤ پشان کړه وړه کوی]-

[1]) صحیح البخاری، کتاب الحدود، باب لعن السارق: ج ۲، ص ۱۰۰۳ـ وصحیح مسلم، کتاب الحدود، باب حد السرقة ونصابها: ج ۲، ص ۶۳

[2]) صحیح البخاری، کتاب اللباس، باب من لعن المصور: ج ۲، ص ۸۸۱

[3]) مشکوٰة، کتاب البیوع: ج ۱، ص ۲۴۲، وسنن ابی داود، کتاب الأشربة، باب العصیر للخمر: ج ۲، ص ۵۱۷

[4]) مشکوٰة، کتاب الإیمان، باب الإیمان بالقدر: ج ۱، ص ۲۲

[5]) مشکوٰة، کتاب النکاح، باب النظر الی المخطوبة: ج ۲، ص ۲۷۰

[6]) مشکوٰة، کتاب اللباس، باب الترجل: ج ۲، ص ۳۸۳

[7]) سنن ابی داود، کتاب اللباس، باب ما جاء فی لباس النساء: ج ۲، ص ۵۲۹ ومشکوٰة، کتاب اللباس، باب الترجل: ج ۲، ص ۳۸۳

Scanned with Ca

﴿عن ابن عباس ﵄ قال لعن النبي ﷺ المخنثين من الرجال والمترجلات من النساء وقال اخرجوهم من بيوتكم﴾ [رواه البخاري بحواله مشكوٰة] [1] دَحضرت ابن عباس نه روايت دې چه نبي كريم ﷺ په هغه سړو لعنت كړې دې چه خان نه دَښځو پشان هيجړا [انړښځې] جوړ كړي او په هغه ښځوني هم لعنت كړې دې چه خپل شكل صورت دَسړو پشان جوړ كړي او وې فرمائيل چه دوئ دَخپلو كورونو نه اوباسئ

په بخاري شريف كښې دي چې عبد الله بن مسعود ﵁ اوفرمائيل چې:

﴿لعن الله الواشمات والمستوشمات والمتنمصات والمتفلجات للحسن المغيرات خلق الله﴾ [2]

دَالله لعنت د وى په هغه ښځوچه په ستنو ورمندلو سره په بدن كښې دتنه خالونه لګوى او څوك چه دَدغه قسم خالونو لګولو دَپاره ورځى، او په هغه ښځوچه دَورى خوويښته اوباسى [چه نرئ شى اوښائسته ښكارى] او په هغه ښځو دلعنت وى چه ښكلا دَپاره دَغاښونو ترمنځه خائې خالى كوى چه دَالله تعالى خلقت [پيدائش] بدلوونكى دى-

لعنت احكام: لعنت څومره چه بدڅيزدې هومره ئې په كولو هم پابندئ لګولې شوى ده په چامسلمان لعنت كول حرام دى او په كافر هم صرف په هغه صورت كښې كولې شى چه مړكيدل ئې په كُفريقينى وى-چنانچه رسول الله ﷺ دَدې په باره كښې فرمائيلى دى-

﴿عن ابن مسعود ﵁ قال قال رسول الله ﷺ ليس المؤمن بالطعان ولا باللعان ولا البذي﴾ [رواه الترمذي بحواله مشكوٰة] [3]

دَابن مسعود ﵁ په روايت رسول الله ﷺ فرمائيلى دى چه مؤمن هغه نۀ دې چه پيغور باز او لعنت بازوى اونۀ بدګو [چه ناكاره خبرې كوى]-

﴿عن ابي الدرداء قال سمعت رسول الله ﷺ يقول العبد اذا لعن شيئا صعدت اللعنة الى السماء فتغلق ابواب السماء دونها ثم تهبط الى الارض فتغلق ابوابها دونها ثم تاخذ يمينا وشمالا فاذا لم تجد مساغا رجعت الى الذي لعن فان كان لذلك اهلا والارجعت الى قائلها﴾ [رواه ابوداؤد بحواله مشكوٰة] [4]

حضرت ابو الدرداء ﵁ فرمائي چه رسول الله ﷺ نه م واوريدل فرمائيل ئې چه يوبنده په څه څيز باندې لعنت كوى بيا هغه د زمكې طرفته راكوزيږى نو د زمكې دروازې بندې كړې شى نودغه لعنت آسمان ته خيژى چه ورته دَآسمان دروازې بندې كړې شى [يعنى زمكه هم دغه لعنت نۀ قبلوى] بيا هغه ښى اوكس اړخ ته ځى، چرته هم چه ورته لار ملاؤنشى نو هغه چاته ورشى چه لعنت پر كړې شوې وى، كه هغه واقعى دَلعنت حقداروى نو په هغه وراوغورځيږى ورنه دَدې په ويونكى اوكوونكى وراوغورځيږى-

﴿عن ابن عباس ﵄ ان رجلا نازعته الريح رداءه فلعنها فقال رسول الله ﷺ لا تلعنها فانها مأمورة وان من لعن شيئا ليس له باهل رجعت اللعنة عليه﴾ [رواه الترمذي بحواله مشكوٰة] [5]

---

[1]) صحيح البخاري، كتاب اللباس، باب اخراج المتشبهين: ج ۲، ص ۸۷۴، مشكوٰة، كتاب اللباس، باب الترجل: ج ۲، ص ۳۸۰

[2]) صحيح البخاري، كتاب اللباس، باب المتفلجات للحسن: ج ۲، ص ۸۷۸

[3]) جامع الترمذي، أبواب البر والصلة، باب ما جاء في اللعنة: ج ۲، ص ۱۹، ومشكوٰة، كتاب الأداب، باب حفظ اللسان والغيبة: ج ۲، ص ج ۴۱۳

[4]) سنن ابي داود، كتاب الأدب، باب في اللعن ومشكوٰة كتاب الأداب، باب حفظ اللسان والغيبة: ج ۲، ص ۴۱۳

[5]) مشكوٰة، كتاب الأداب: ج ۲، ص ۴۱۳، باب حفظ اللسان والغيبة-

Scanned with Ca

دَحضرت عبد الله بن عباس ﷺ نه منقول دی چه هوادَ یوسړی څادروالوځولو هغه په هغه هوالعنت اوکړو په دې باره کښې رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ته په هوالعنت مه کوه ځکه چه دادَالله تعالی له اړخه مامورده [حکم ورته شوې دې] او [یادلره] چه څوک ده داسې څیزلعنت کوی چه هغه ئې حقدارنهٔ وی نو دغه لعنت ددې ویونکی ته راواپس کیږی [اوهم په هغه ورغورځیږی]

مسئله په یوتهاکلی بنده باندې ترهغې پورې لعنت کول ناروادی ترڅوچه دَهغه مرکیدل په کُفر باندې معلوم نهٔ وی اګرچه هغه فاسق اوبدکاره هم وی اوهم ددې اصولو په بنا باندې ،یزیدته لعنتی وئیلونه،علامه شامی ﷫ منع کړې ده،لیکن په هغه تهاکلی کافر باندې لعنت وئیل روادی چه مرکیدل ئې په کُفر باندې یقینی وی لکه ابی جهل،ابی لهب شو [شامی] (۱)۔

مسئله دَچادَنوم اغستونه بغیر داسې لعنت کول روادی چه په ظالمانو په دروغژنو ،دَالله تعالی لعنت دې۔

مسئله دلُغت په اعتبارسره ،دَلعنت معنی دَالله تعالی دَرحمت نه لرې کیدل دی دَشریعت له مخې دکفارو په باره کښې دَدې معنی دَالله تعالی دَرحمت نه لرې کیدل دی اودَمؤمنانو په باره کښې دابرارو [نیکانو] ددرجې نه لاندې پریوتل دی [شامی دَقهستانی نه نقل کړیدی] (۲) په دې وجه چامسلمان دَپاره داسې دُعاکول هم ناروادی چه ددهٔ نیک عملونه د کم شی.

اَمْ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ
ایا شته دویٔ دپاره | خه حصه | د بادشاهئ نه
آیا ددویٔ د [د الله تعالی] په بادشاهئ کښې څه حصه شته
فَاِذًا لَّا يُؤْتُوْنَ النَّاسَ نَقِيْرًا ۙ اَمْ يَحْسُدُوْنَ النَّاسَ عَلٰى مَآ
که وی نو بیا به | ورنکړی | خلقو ته | یوه ماته پیسه هم | ایا حسد کوی دویٔ | خلقو سره | په هغه څیز
که داسې وی نودویٔ به نوروخلقو ته لږڅیزهم نه وې ورکړې | آیا دویٔ نوروخلقوسره په دې حسد کوی
اٰتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَقَدْ اٰتَيْنَآ اٰلَ اِبْرٰهِيْمَ الْكِتٰبَ
چې ورکړې دې هغویٔ ته الله | دفضل خپل نه | نو ورکړې وو مونږه | اولاد د ابراهیم ﷺ ته | کتاب
چې الله ﷻ په هغویٔ خپل فضل کړې دې | [نورته دې معلومه وی چې] مونږ دابراهیم اولاد ته کتاب
وَالْحِكْمَةَ وَاٰتَيْنٰهُمْ مُّلْكًا عَظِيْمًا ۝ فَمِنْهُمْ مَّنْ اٰمَنَ
اوحکمت | او ورکړې وه مونږه هغویٔ ته | بادشاهی لویه | نوځینی دهغویٔ نه | هغه دی | چې ایمان ئې راوړې
او حکمت ورکړې وه | اولویه بادشاهی موورکړې وه | نو بیا په هغویٔ کښې چاخو پرې ایمان راوړو
بِهٖ وَمِنْهُمْ مَّنْ صَدَّ عَنْهُ ۭ وَكَفٰى بِجَهَنَّمَ سَعِيْرًا ۝
په هغې | اوبعضې دهغویٔ نه | هغه دی | چې مخ ئې وارلو دهغې نه | اوکافی دې | دوزخ | المبو والا
اوچا ترې نه مخ اوګرزولو [او ایمان ئې راونړلو] | او د جهنم ګرم اور دوی دپاره کافی دې |

(۱) شامی، کتاب النکاح، باب الرجعة مطلب فی حکم لعن العصاة: ج ۲، ص ۲۳
(۲) شامی، کتاب النکاح، باب الرجعة مطلب فی حکم لعن العصاة: ج ۲، ص ۲۳

Scanned with Ca

اسان ترجمه قرآن: نو آیا دوی ته (د کائنات) د پادشاهۍ څه حصه ملاو شوي ده؟ که داسې شوي وو نو دوئ به خلقو ته د کجورې د هډوکي هومره هم څه شې نه وو ورکړې دوی دخلقوسره دې وجې نه حسد کوې چه الله دوی ته خپل فضل (ولې) ورکړې دې؟ نو مونږخود ابراهیم علیه السلام خاندان ته کتاب او حکمت ورکړې وو او دوی ته مو لوئې سلطنت ورکړې وو نو دوی کښې څې خلقوپه هغه باندې ایمان راوړو او څنو مخ واړولو او جهنم د یو بلیدونکې اور په شکل کښې (دې کافرو د خبراخستو دپاره) کافي دې.

خلاصه تفسیر

﴿أَمْ لَهُمْ نَصِيبٌ مِّنَ الْمُلْكِ فَإِذًا لَّا يُؤْتُونَ النَّاسَ نَقِيرًا﴾ بنه آیا دوی سره څه برخه شته د سلطنت نو په دې سے حالت کښې خوبه یئ نورو خلقو ته لږ قدرې څیز هم نه ورکولے ﴿ أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ ﴾ یا د نورو خلقو نه [لکه رسول الله ﷺ نه] په دې څیزونو سوزی چه الله ﷻ ورته خپل فضل نه ورکړی دی نو [تاسو ﷺ ته داسې څیز ملاویدل څه نوے خبره نه ده خکه چه] ﴿ فَقَدْ آتَيْنَا آلَ إِبْرَاهِيمَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَآتَيْنَاهُم مُّلْكًا عَظِيمًا ﴾ مونږ [روميے نه] دحضرت ابراهیم ؑخاندان [خلقو] ته [آسماني] کتاب هم ورکړې دې اوعلم مو هم ورکړې دې او مونږ ورته ډیر دروند حکومت هم ورکړې دې [چنانچه په بنی اسرائیلو کښې څه ډیر نبیان تیر شوی دی بعضې نبیان بادشاهان شوی هم وو لکه حضرت یوسف ؑ، حضرت دادو ؑ چه ډیر ودونه کول ئے هم معلوم اومشهور دی. او ددوی خوئے حضرت سلیمان ؑ چه تول دحضرت ابراهیم ؑ په اولادکښې دی نو هر کله چه رسول الله ﷺ دحضرت ابراهیم ؑ اولاد کښې دې که ورته نعمتونه اوبخششونه ورکړې شو نوتعجب ولے کوئ] ﴿فَمِنْهُم مَّنْ آمَنَ بِهِ وَمِنْهُم مَّن صَدَّ عَنْهُ﴾ نو [دحضرت ابراهیم ؑ خاندان کښې دتیر شوو پیغمبرانو په زمانه کښې چه کوم خلق موجود وو] دهغوی نه بعضو خو په دې [کتاب او حکمت] ایمان راوړو اوبعضې داسې وو چه ددې نه مخ اړوونکي پاتې شو [نوکه ستاسو په پغمبرئ او قران باندې هم ستاسو دزمانے بعضې خلق ایمان راونړی نو څه دغم خبره نه ده] ﴿ وَكَفَىٰ بِجَهَنَّمَ سَعِيرًا ﴾ او [که دے کفارو مخ ګرځونکو ته په دنیا کښې کمه سزا ورکړې شی یا بیخی ورنه کړې شی نو څه اوشو دوی دپاره په آخرت کښې] د دوزخ سوزونکے اوور [سزا دپاره] پوره دې.

معارف او مسائل

دحسدکولوله کبله دیهودوسخته بدي بیانول :قوله تعالى: ﴿أَمْ يَحْسُدُونَ النَّاسَ عَلَىٰ مَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ﴾ رسول الله ﷺ ته دَالله تعالى لـه اړخه په وربخښلى علم،فضل،مرتبې اولوېئ باندې یهودیان سوځیدل الله تعالى په آیت ۵۳ او ۵۴ کښې دَدغې حسداوبُغض سخته بدی بیان کړیده،دَدوئ داحسدئې دَعقل خلاف ګرځولودَپاره دوه وجهې بیان کړیدې یوه وجه ئې په ۵۳ آیت کښې اوبله ئې په ۵۴آیت کښې بیان کړیده،خودَدواړوحاصل هم یودې یعنی ستاسوحسدپه کومه خبره دې؟که په دې دې چه دسلطنت اصلي خاوندان تاسویئ اوهغه دوی ته ورکړې شو؟ داخوبنکاره غلطه خبره څکه ده چه تاسودَسلطنت نه پخپله محرومه یَئ اوکه څه لږه برخه دَسلطنت درته هم ملاؤوې نویوه کُنجکه به موهم چاته نه وه ورکړې ،اوکه په دې ورسره حسد کوئ چه سلطنت خو زمونږ له طرفه دوئ تـه نـه دې ورغلي نوبیاهم ورتـه څنګـه ملاؤشو؟ دَدوئ سلطنت سره څه

Scanned with Ca

کاردي؟نو ددې جواب نې داورکړو چه دوئ هم دَانبياؤ ﷺ دَخاندان نه دی چه ړومبې نه پکښې سلطنت راروان دې چرته بې روره دغير د طرفه ورته نهٔ دې راغلې لهذا استاسو حسد کول دَعقل نه خلاف دی.

دَحسد تعريف،حُکم اودَدې دَزيانونو بيان: دَمُسلم شريف شارح علامه نووی ﷫ دَحسد تعريف داشان کوی ﴿الحسد تمنی زوال النعمة﴾ [مُسلم جلد ۲](1) [حسد دې ته وائی چه دَبل نه دَلرې کيدو خواهش کولې شی]چه حرام دی۔

رسول الله ﷺ فرمائيلی دی:

﴿لاتباغضوا ولاتحاسدوا ولاتدابروا وکونوعبادالله اخوانا ولايحل لمسلم ان يهجراخاه فوق ثلاث﴾(2)

تاسو په خپل منځ کښې بُغض اوحسد مهٔ کوئ اومهٔ يو بل ته شاړوئ بلکه دَالله تعالی بندګان اوروڼړه جوړشئ اوروانهٔ دی چامُسلمان دَپاره چه هغه دَخپل رورنه ددريونه زياتوورځوپورې تعلق پرېږدی۔

په يوبل حديث کښې رسول الله ﷺ فرمائيلی دی:

﴿اياکم والحسد فان الحسد يأکل الحسنات کماتأکل النار الحطب﴾[رواه ابوداؤد بحواله مشکوٰة](3)

تاسو دَحسد نه ځان ساتئ، ځکه چه حسد نيکيانو لره داسې خوری ځنګه چه اورلرګی لره خوری۔

﴿عن الزبير ﷛ قال قال رسول الله ﷺ دب اليکم داء الامم قبلکم الحسد والبغضاء هی الحالقة لااقول تحلق الشعرولکن تحلق الدين﴾[رواه احمد والترمذی](4)

حضرت زبير ﷛ فرمائيلی دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل: ستاسو خواته [هم] دَړومبو قومونو مرض په پته راغلې دې چه حسد دې اوبُغض داسې يوخصلت دې چه خرابونکې دې، زهٔ دانهٔ وايم چه هغه وېښته خرابوئ بلکه دين لره خرابوئ۔

په دينی کمال حسد کول وی اوکه په دُنيوی کمال، دواړه قسمه حرام دی چنانچه دَالله تعالی دافرمان ﴿اَمْ لَهُمْ نَصِيْبٌ مِّنَ الْمُلْكِ﴾ اولې خبرې ته اشاره معلوميږی او ﴿الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ﴾ دوئمې خبرې ته اشاره ده.

اِنَّ الَّذِيْنَ
| بيشکه هغه کسان
| بيشکه چاچې

كَفَرُوْا بِاٰيٰتِنَا سَوْفَ نُصْلِيْهِمْ نَارًا ۭ كُلَّمَا نَضِجَتْ

چې انکار ئې کړې دې | دَآيتونو زمونږ نه | زرده چه | مونږ داخل کړو هغوئ | اورته | هر کله چې | اوسوزی

زمونږ دَآيتونو منلو نه انکار کړې دې | هغوئ به مونږ د جهنم اور ته داخل کړو | هر کله چې دهغوئ څرمنې اوسوزی

1) شرح صحيح مسلم للنووی: ج ۲، ص ۳۱۶
2) صحيح مسلم، کتاب البر والصلة والأدب، باب تحريم التحاسد: ج ۲، ص ۳۱۵
3) مشکوٰة، کتاب الادب، باب ماينهٰی عنه من التهاجر: ج ۲، ص ۴۲۸
4) مشکوٰة، کتاب الادب، باب ماينهٰی عنه من التهاجر: ج ۲، ص ۴۲۸

Scanned with Ca

جُلُوۡدُهُمۡ　بَدَّلۡنٰهُمۡ　جُلُوۡدًا غَيۡرَهَا　لِيَذُوۡقُوا　الۡعَذَابَ ؕ

څرمني دهغوئ | نو بدلي به کړو مونږ د هغوئ | څرمني | نورې | دپاره ددې چې وڅکی | عذاب

نو مونږ به ورته نورې څرمني ورواغوندو | .... چې دعذاب خوند په ښه شان اوڅکی

اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيۡزًا　حَكِيۡمًا ۝　وَالَّذِيۡنَ　اٰمَنُوۡا　وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

بیشکه الله | دې | غالب | او صاحب دحکمت | اوهغه کسان | چې ایمان ئې راوړو | اوعمل ئې اوکړو نیک

الله ﷻ غالب دې اودحکمتونو صاحب دې | اوچا چې زمونږ آیتونه اومنل | اونیک عملونه ئې اوکړل

سَنُدۡخِلُهُمۡ　جَنّٰتٍ　تَجۡرِيۡ　مِنۡ تَحۡتِهَا　الۡاَنۡهٰرُ　خٰلِدِيۡنَ　فِيۡهَاۤ

داخل به کړو مونږ هغوئ | باغونو ته | چې بهیږی به | لاندې دهغې نه | نهرونه | همیشه به وی هغوئ | په هغې کښی

هغوئ به داسې باغونو ته داخل کړو | چې دهغې لاندې به ولې بهیږی | همیشه همیشه به په هغې کښې اوسیږی

اَبَدًا ؕ　لَهُمۡ　فِيۡهَاۤ　اَزۡوَاجٌ　مُّطَهَّرَةٌ　وَّنُدۡخِلُهُمۡ　ظِلًّا

تل همیشه | وی به دپاره دهغوئ | په هغې کښی | بیبیانې | پاکې | اومونږ به داخل کړو هغوئ | سوری

ددوئ ملګرتیادپاره به پاکې بیبیانې ورکولې شی | اوخپلو سیورو [سایو] ته به ئې داخل کړو

ظَلِيۡلًا ۝

ګنړ ته |

آسان ترجمه قرآن: بې شکه کومو خلقوچه څمونږ د آیتونو نه انکار کړې دې مونږ به دوی لره اور کښې داخل کړو چه کله ددوی څرمنې سوزیدوسره پخې شي نومونږبه ددې په بدله کښې دوی ته نورې څرمنې ورکړو دې د پاره چه دوی د عذاب مزه وڅکي بې شکه الله قدرت والا هم دې اوحکمت والاهم او کوموخلقوچه ایمان راوړې دې اونیك عمل ئې کړې دې مونږبه دوی لره داسې باغونو کښې داخل کړو چه دهغې د لاندې به نهرونه بهیږي دوی به همیشه همیشه په دې کښې اوسیږي هغلته به دوی لره پاکې پاکې بیبیانې وې اومونږبه دوی لره ګنړ سورې ته داخل کړو.

خلاصه تفسیر

﴿ اِنَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِاٰيٰتِنَا ﴾ بیشکه کوم خلق چه زمونږ د آیتونو [او احکامو] نه منکر شو ﴿ سَوۡفَ نُصۡلِيۡهِمۡ نَارًا ؕ ﴾ [مونږبه دوی ته زر تر زره په یو سخت اوور کښې داخل کړو [او هغه ځائې کښې به ددوی په مخه دا حالت جاري وی] ﴿ كُلَّمَا نَضِجَتۡ جُلُوۡدُهُمۡ بَدَّلۡنٰهُمۡ جُلُوۡدًا غَيۡرَهَا ﴾ کله به چه ددوی څرمن [په اوور] اوسوزوی نو مونږ به ددغې اولې څرمنې په ځائې [سمدستي] بله [تازه] څرمن پیدا کړو ﴿ لِيَذُوۡقُوا الۡعَذَابَ ؕ ﴾ دپاره ددې چه [همیشه] عذاب هم داسې تیروی [ځکه چه د رومبئ څرمنې په سوزیدو سره داشبه کیدې شوه چه شاید ددې د سوزیدو پوهه اواحساس به پاتې نه وی نو ددې شبې دلرې کولو دپاره ئې دا واورول چه] ﴿ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَزِيۡزًا حَكِيۡمًا ۝ ﴾ بیشکه الله ﷻ زبردست دې [چه هغه دا سزا ورکولې شي او] د حکمت خاوند دے [سوزیدلې څرمنې ته دتکلیف ورکولو قدرت لرې خوبیا ئې هم دځه حکمت په وجه بدله کړه ځنګه چه اوس دیو حکمت بیان شوې دې] ﴿ وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ سَنُدۡخِلُهُمۡ جَنّٰتٍ تَجۡرِيۡ مِنۡ تَحۡتِهَا الۡاَنۡهٰرُ ﴾ اوچا چه ایمان راوړو

Scanned with Ca

اوښه کارونه يې اوکړل مونږ به يې زر ترزره داسې باغونو کښې داخل کړو چه دهغوی [بالاخانو] لاندې به نهرونه جاری وی ﴿ خٰلِدِیْنَ فِیْهَاۤ اَبَدًا ؕ لَهُمْ فِیْهَاۤ اَزْوَاجٌ مُّطَهَّرَةٌ ﴾ په هغې کښې به همیشه پاتې کیږی هغوی دپاره به دغه [باغونو] کښې پاکې صفا بیبیانې وی ﴿وَّنُدْخِلُهُمْ ظِلًّا ظَلِیْلًا﴾او مونږ به هغوی لره [د] ډیر ګڼړ سیوری [په ځائې] کښې داخل کړو.

معارف اومسائل

حضرت معاذ رضی الله عنه د ﴿كُلَّمَا نَضِجَتْ جُلُوْدُهُمْ بَدَّلْنٰهُمْ﴾ په تفسیر کښې فرمائیلی دی چه کله دَدوی څرمن اوسوځی نویدله به کړې شی اوداکاربه دومره زرزر کیږی چه په یوساعت کښې به ئې سل خله څرمن بدلولې شی۔

اوحضرت حسن بصری فرمائیلی دی:

﴿تاكل النار كل يوم سبعين الف مرة كلما اكلتهم قيل لهم عودوا فيعودون كما كانوا [اخرجه البيهقی عن الحسن بحواله مظهري ج: ۲]([1]) اوربه ئې هره ورځ اويازره کرتې خوری کله چه اوخوری نودغه خلقوته به وئیلې شی چه تاسو بیا رومبی حالت ته راواپس شئ نوهغوئ به راواپس شی څنګه چه وو [بیهقی په حواله دَمظهری ج ۲]

﴿عن النبی صلی الله علیه وسلم قال ان اهون اهل النار عذابا رجل فی اخمص قدميه جمرتان يغلی منهما دماغه كما يغلی المرجل بالقمقم﴾[رواه البخاری ومسلم بحواله الترغيب والترهيب] ([2]).

نبی علیه السلام فرمائیلی دی چه جهنمیانو کښې به دَټولونه کم عذاب والاهغه څوک وی چه دَهغه دَخپوپه تلو کښې دوه سکروټې وی چه دَهغې په وجه به ئې دماغ لکه دکټوئ پشان خوټکیږی۔ [بخاری، مسلم، په حواله دترغیب اوترهیب جلد ۴ ص ۲۳۹]

د(ازواج مطهرة) تفسیر: په حواله دَحاکم دَابی سعید خُدری رضی الله عنه په روایت رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه دَجنت ښځې به پاکې وی، یعنی هغوئ به دَحیض، لویوروبولواودَپوزې نه رابهیدونکې ګندونونه پاکې وی([3])۔

حضرت مجاهد رحمه الله کښې داسې زیاتې کړې دې چه هغوئ به دَماشوم څیړولواوناپاکې نطفې نه هم پاکې وی [مظهری]([4])

﴿ظِلًّا ظَلِیْلًا﴾ ظل پسې دَظلیل لفظ په راوړوسره ئې دې ته اشاره اوکړه چه دغه سورې [سایه]به تل دَپاره وی چه ګنړګوربه وی لکه چه وئیلې شی شمس شامس او لیل لئیل دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چه دجنت نعمتونه به همیشه پاتې کیدونکی وی۔

﴿عن ابی هريرة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ان فی الجنة لشجرة يسير الراكب فی ظلها مائة عام ما يقطعها اقرء وان شئتم وظل ممدود﴾[متفق علیه بحواله مظهری]([5])

---

[1]) شعب الإيمان للبيهقی رقم الحديث: ۳۱۹

[2]) صحيح البخاری، كتاب الرقاق، باب صفة الجنة والنار: ج ۲، ص ۹۷۱، وصحيح مسلم، كتاب الإيمان، باب شفاعة النبی صلی الله عليه وسلم: ج ۱، ص ۱۱۵، والترغيب والترهيب رقم الحديث: ۳۶۸۵

[3]) تفسير ابن ابی حاتم رقم الحديث: ۳۳۲۰

[4]) تفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۳۶

[5]) صحيح البخاری، كتاب بدء الخلق، باب ما جاء فی صفة الجنة: ج ۱، ص ۴۶۱، وصحيح مسلم، كتاب الجنة وصفة نعيمها الخ: ج ۲، ص ۳۷۸

دحضرت ابي هريره رضي الله عنه په روايت رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه په تحقيق سره په جنت کښې يوه داسې اونه [درخته] ده چه سور [سپور] به روان وي سوري [سويرى] ادهغې کښې سل کاله اوهغه به ختم نۀ کړي، تاسو که اوغواړئ نود اآيت اولولئ.

ربيع بن انس د ﴿ظِلًّا ظَلِيْلًا﴾ په تفسير کښې فرمائيلي دي، هوضل العرش الذي لايزول [يعنى دغه به دعرش سويرى وي چه چرې به هم نۀ ختميږي]

اِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ اَنْ تُؤَدُّوا الْاَمٰنٰتِ اِلٰۤى اَهْلِهَا ۙ
بيشکه الله | حکم کوي تاسوته | چې وسپارئ تاسو | امانتونه | دامانت خاوندانوته |
[مسلمانانو] الله ﷻ تاسوته حکم درکوي چې امانتونه خپلومالکانو ته واپس کړئ
وَاِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ اَنْ تَحْكُمُوْا بِالْعَدْلِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ
اوهر کله چې فيصله کوئ تاسو | په منځ دخلقو کښې | نو فيصله کوئ | په انصاف سره | بيشکه الله
او کله چې تاسو دخلقو ترمينځه فيصله کوې | نو په عدل او انصاف سره فيصله کوئ | بيشکه الله
نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهٖ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ سَمِيْعًاۢ بَصِيْرًا ﴿۵۸﴾
ښه خيزدې هغه | چې نصيحت کوي تاسوته | په هغې سره | بيشکه الله | دي | ښه اوريدونکې | اوښه ليدونکې
تاسوته ډيرښکلې نصيحت کوي | ....بيشکه الله ﷻ هرڅه آوري او هرڅه ويني گوري
يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاُولِي الْاَمْرِ
اې هغه کسانو | چې ايمان مو راوړې دې | حکم اومنئ دالله | اوحکم اومنئ د رسول | اودخاوندانو دحکم
ائې مومنانو دالله ﷻ حکم منئ | اود رسول حکم منئ | اودخپلو [مسلمانانو] حاکمانو حکم منئ
مِنْكُمْ ۚ فَاِنْ تَنَازَعْتُمْ فِيْ شَيْءٍ فَرُدُّوْهُ اِلَى اللّٰهِ
ستاسونه | نو بيا که | ستاسو په منځ کښې جګړه راشي | په څه خبره کښې | نو واپس کوئ هغه | الله ته
نو که تاسو خپلو کښې په يو خبره کښې مختلف شئ | نو هغه الله ﷻ اورسول ته اوسپارئ
وَالرَّسُوْلِ اِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ؕ ذٰلِكَ خَيْرٌ وَّاَحْسَنُ
اورسول ته | که يئ تاسو | چې ايمان لرئ | په الله | اوپه ورځ د آخرت | دا کار | غوره دي | اوډير ښه دي
که تاسو په رښتيا په الله او په ورځ دآخرت ايمان راوړئ | دا خبره ډيره ښه ده | اوددې انجام ډير ښه دي
تَاْوِيْلًا ﴿۵۹﴾ ۧ
دانجام په لحاظ سره |

آسان ترجمه قرآن: (مسلمانانو!) يقيناً الله تاسوته حکم درکوي چه تاسو امانتونه خپلو حقدارو ته ورسوئ او چه کله د خلقو په مينځ کښې فيصله کوئ نو د انصاف فيصله کوئ يقين وکړئ چه الله تاسو ته د کومې خبرې نصيحت کوي هغه ډيره ښهکره وي بې شکه الله هره خبره آوري هرڅه ويني اې د ايمان خاوندانو! دالله تابعداري کوئ او دهغه د رسول هم تابعداري کوئ اوتاسو کښې چه کوم خلق صاحبان د اختيار دي دهغوى هم. بيا که ستاسو مينځ کښې يو څيز کښې اختلاف راشي نو که واقعي تاسو په الله او په

ورځ دآخرت ایمان لرئ نوهغه الله او دهغه رسول ته حواله کړئ دا غوره طریقه ده او ددې انجام هم دټولو نه بهتر دې.

خلاصه تفسیر

[ائې دحکومت خاوندانو چه په لړوخلقو حکومت کوئی اوکه په ډیرو خلقو] ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا ﴾ بیشکه تاسوته الله ﷻ ددې خبرے حکم درکوی چه حقدارانو ته دهغوی حقوق [چه ستاسو په ذمه وی] رسوئی ﴿ وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ ﴾ او [تاسوته] دا [هم حکم درکوی] چه هرکله د [محکومو] خلقو تصفیه کوئی [دداسې حقونو په باره کښے چه ددوی ترمینځه دیوبل په ذمه دی] ﴿ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ﴾ نوپه عدل [انصاف] سره صفائی کوئی ﴿ إِنَّ اللَّهَ نِعِمَّا يَعِظُكُمْ بِهِ ۗ إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ﴾ بیشکه الله ﷻ دکومے خبرے چه درته نصیحت کوی هغه خبره ښه ده [ددنیا په اعتبار سره هم ورسره حکومت مضبوط پاتې کیږی او دآخرت په اعتبار سره هم چه الله ﷻ ته پرے نزدیکت اودهغه له طرفه ثواب حاصلیږی] بیشکه الله ﷻ [ستاسو خبرے چه دامانت او تصفیے په باره کښې ستاسو دخلے نه اوځی] ښه آوری [او ستاسو هغه افعال یعنی کارونه چه دے باره کښې تاسونه کیږی] ښه ګوری [نوکه کمے اوکوتاهی په کښې کوئی الله به دربانديې خبریږی سزا به درکوی دا خطاب خو حاکمانو ته شو.بیاورپسے محکومو خلقوته ارشاد دی].

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ ﴾ ائې دایمان خاوندانو تاسو دالله ﷻ خبره منئی اود رسول الله ﷺ خبره منئی [اودا حکم خوستاسو او حاکمانو ټولو دپاره عام دې] ﴿ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ ﴾ او تاسو [مسلمانانو] کښې کوم خلق چه دحکومت خاوندان دی دهغوی هم [خبره منئ او حکم خاص دے ستاسو محکومینو دپاره] ﴿ فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ ﴾ بیا [که د محکومو او حاکم دواړو په معتبر اتفاق سره دا خبره ثابته شی چه ددوی احکام د الله ﷻ اود رسول الله ﷺ دوینا مخالف نه وی.نو خیر دے، دے کښې خوبه دحاکمانو تابعداری خامخا کوئی اوبیا]که [ددی حکمونو نه] په څه خبره کښې ستاسو خپل مینځ کښې اختلاف راتلل شروع شی [چه دا دالله ﷻ او درسول الله ﷺ دوینا نه خلاف ده اوکه نه د ه]

﴿ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ ﴾ نو [درسول الله ﷺ په حیات کښې خو هغوی نه تپوس کوئ اودهغوی د وفات نه پس د مجتهدینو امامانو او د دین عالمانوپه وړاندې دغه پش کړئی] دغه خبره [کتاب د] الله ﷻ او [سنت د] رسول الله ﷺ ته حواله کوئی [اوددې حضراتو له طرفه چه څنګه فتوی اوشی په هغې ټول حاکمان او محکمومان عمل کوئی]

﴿ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ﴾ که تاسو په الله ﷻ او دقیامت په ورځ ایمان لرئی [ځکه چه ددې ایمان مقتضی داده چه د قیامت په ورځ د الله ﷻ هغه داراونیولو]نه ویریږی چه دهغه [مخالفت کولو په وجه به کولې شی]﴿ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا ﴾دا څیزونه [چه بیان کړې شو دالله ﷻ اطاعت او د هغه درسول الله ﷺ اودمسلمانانو حاکمانو فرمانبرداری، خپل اختلافات کتاب الله او سنت ته وړاندې کول] ټول [په دنیا کښې هم] غوره دی او [آخرت کښې هم] دهغې انجام ډیر غوره دے [ولے چه په دنیا کښې امن او آرام اوپه آخرت کښې خلاصے اوخوش بختی ده].

Scanned with Ca

معارف او مسائل

دَ آیتونو شانِ نزول ﴿إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمٰنٰتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾: ذکر شوؤ آیتونو کښې دَړومبی آیت دَنازلیدو یوه خاصه واقعه داسې وه چه دَاسلام نه وړاندې هم دَخانه کعبې خدمت کول هم ډیرلوئې عزت گنړلې شو اودَبیت الله شریف خاص خدمت دپاره به چه څوک چونړ کړې شونو هغه به په ټول قوم کښې عزت من اونامتو گنړلې شو، په دې وجه به دَبیت الله مختلف خدمتونه په مختلفو خلقو ویشلې شو، دَجاهلیت دَزمانې راسې، دَحج په ورځو کښې حاجیانو ته دَزمزم دَاوبو څکولو خدمت، دَ رسول الله ﷺ ترهٔ مبارک حضرت عباس رضی الله عنه ته سپارلې شوې وو، چه، سقایه، به نومیدلو، دغه شان، نورخنې خدمتونه، دَرسول الله ﷺ بل تره ابی طالب ته سپارلې شوی وو، دغه شان دَبیت الله کُنجی خان سره ساتل اوپه ټاکلوورځو کښې دَبیت الله شریف پرانستل، خلاصول اوبندول دَحضرت عثمان بن طلحه رضی الله عنه په لاس کښې وو.

دَعثمان بن طلحه رضی الله عنه خپل بیان دې چه دَجاهلیت په زمانه کښې به مُونږه دَپیر [دوشنبه] اوزیارت [پنجشنبه] په ورځ بیت الله شریف خلاصولو اوبندولو اوخلقو به پکښې دَننوتو سعادت حاصلولو، دَ هجرت نه وړاندې یوځل رسول الله ﷺ سره دَصحابه کرامو بیت الله شریف ته دَننوتو په غرض تشریف یوړو [دغه وخت] حضرت عثمان بن طلحه رضی الله عنه په اسلام کښې لاداخل شوې نه وو اهغوئ لره دَدننه تلونه منع کړواوډیره تُرشی ئې ورته ښکاره کړه، هغوئ په ډیرزغم سره دَهغه سختې خبرې واورېدې، بیائې اوفرمائیل: اې عثمان، کیدې شی چه ته به یوورځ، دَبیت الله شریف داکُنجی زما په لاس کښې اووینې هغه وخت به زهٔ اختیارلرم چه دابه چاته سپارم، عثمان بن طلحه رضی الله عنه اووئیل که داسې اوشونو قریش به هلاک اوذلیل شی، ، هغوئ اوفرمائیل چه، داسې نهٔ ده بلکه دغه وخت به قریش آباد اودَعزت خاوندان شی، چه دائې اوفرمائیل نوهغوئ بیت الله شریف ته ورننوتل، حضرت عثمان رضی الله عنه وائی چه دغه وخت ماخپل زړهٔ اولټولونویقین م اوشوچه دَ رسول الله ﷺ دافرمائیل به خامخاپوره کیږی، دغه وخت نه م دَمسلمانیدواراده اوکړه خوهرکله چه دَخپل قوم شان م بدل اولیدلو، هغوئ ټولوزهٔ سخت ملامته کولم څکه م خپله اراده پوره نکړې شوه، دَمکې مکرمې دَفتح کیدوپه موقع، رسول الله ﷺ زهٔ راؤبلم کُنجی ئې رانه اوغوښته، هغه ورته ماپیش کړه-

په خنې روایاتو کښې راغلی دی چه عثمان بن طلحه رضی الله عنه دغه وخت بیت الله شریف دَپاسه ختلې وواوکُنجې هم ورسره وه، حضرت علی رضی الله عنه دَرسول الله ﷺ دَحکم پُوره کولوپه غرض دَهغه دَلاس نه په زورکُنجی راواغسته اوهغوئ ته ئې ورکړې وهٔ، هغوئ چه بیت الله شریف ته ورددننه شو، هلته ئې مُونځ اوکړو، چه راؤوتی، نوعثمان بن طلحه رضی الله عنه وائی چه کُنجی ئې بیرته راکړه اوراته ئې اوفرمائیل:

واخله، اوس به ترقیامته پورې داکُنجی ستاخاندان سره وی، که څوک تاسونه داکُنجی اخلی نوهغه به ډیرظالم وی، مطلب ئې داشوچه بل هیڅوک تاسونه ددې کُنجی اغستلوحق نهٔ لری-په دې موقعه ئې داهم اوفرمائیل: دَبیت الله شریف دَدې خدمت په بدله کښې چه درته کوم مال گُټوله درځی هغه به دَشرعی قاعدې په جوړاستعمالوې-

عثمان بن طلحه رضی الله عنه وائی چه کُنجی م واغسته په خوشحالئ بیرته روان شوم، هغوئ بیارااؤبللم اوراته ئې اوفرمائیل: کومه خبره م چه درته کړې وه هغه رشتیاشوه، که نهٔ؟ وائی چه ماته هغه خبره

رایاده شوه چه رسول الله ﷺ راته دهجرت نه وړاندې داسې کړې وه چه یوورځ به داکُنجی زمالاس کښې وینې :وای چه ماداعرض اوکړوچه بیشکه ،ستاسوفرمان پوره شواوهم دغه وخت م کلمه اوووئیله اومسلمان شوم [مظهری په روایت دابن سعد] (۱)-

حضرت فاروقِ اعظم،عمربن خطاب رضی الله عنه فرمائیلی دی چه هرکله په دغه ورځ رسول الله ﷺ دَبیت الله شریف نه بهرراووتوداآیت مبارک ئې اولوستلو: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ هغه رضی الله عنه اووئیل چه دې نه وړاندې ماچرته دَدوئ دَخُلې مبارکې نه داآیت نۀ وو آؤریدلې ،ښکاره خبره ده چه داآیت هم دغه وخت په کعبه کښې دننه نازل شوې وو ،چنانچه په دې آیت شریف باندې دَعمل کولوپه غرض ئې دوباره حضرت عثمان بن طلحه رضی الله عنه راؤبللواوکُنجی ئې ورته اوسپارله،ولې چه هرکله حضرت عثمان بن طلحه رضی الله عنه داکُنجی هغوئ ته ورکوله نوداالفاظ ئې ورته وئیلی ووچه، ،داامانت زۀ درته سپارم، ،اګرچه دضابطې په لحاظ دَهغه رضی الله عنه داخبره کول صحیح نۀ وۀ ،بلکه ټول اختیار،رسول الله ﷺ سره وو،چه څه ئې غوښتل هغه ئې کولې شو،بیاهم قرآن کریم دَامانت دَصورت لحاظ اوساتلواورسول الله ﷺ ته ئې داهدایت اوفرمائیلو چه کُنجی حضرت عثمان ته اوسپارئې-حالانکه دغه وخت حضرت عباس رضی الله عنه اوحضرت علی رضی الله عنه هم رسول الله ﷺ ته داخواست کړې وو چه څنګه دَبیت الله شریف دَصفائي وغیره خدمت مونږ ته سپارلې شوې دې دکُنجۍ ساتلوخدمت هم مونږته اوسپارئ،خوهغوئ داخواست منظورنۀ کړو بلکه کُنجی ئې هم ،حضرت عثمان رضی الله عنه ته بیاواپس کړه [تفسیر مظهری] (۲)-

تردې دَشان نزول بیان وو،په دې خبره دَټولواتفاق دې چه شانِ نزول اګرچه یوخاص واقعه وی خوحُکم ئې عام شی،په ټول اُمت ئې پابندی کول لازمی وی-اوسَ ئې معنیٰ اومطلب باندې هم ځان پوهٔ کړئ:

فرمای:﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا﴾ [الله تعالی حکم ورکوی چه اماتونه خپلوحقدارو ته رسوئ]ادَدې مخاطب عام مسلمانان هم کیدې شی اوخاص حاکمان هم ،زیاته ښکاره خبره داده چه هرهغه څوک مخاطب دی چه څه امانت لرونکې وی خواه عام مسلمان وی یامسلمانِ حاکم وی

دامانت داداکولوتاکید::دَدې ارشادخُلاصه داده چه چاسره څه امانت وی هغه دَپاره ضروری دی چه دغه امانت د قابل اومستحقّ بنده ته اورسوی،چنانچه رسول الله ﷺ دَامانت دَادا کولولو ئې تاکید کړې دې،دَحضرت انس په روایت،رسول الله ﷺ به ډیرکم داسې کړی وی چه خطبه کښې به ئې داسې ارشادنه وی فرمائیلې-

﴿لاایمان لمن لاامانة له ولادین لمن لاعهد له﴾(۳) څوک چه امانتګرنۀ وی دَهغه ایمان نشته اوڅوک چه په لوظ قول ټینګ نۀ وی په هغه کښې دین نشته-

داروایت بیهقی په شعب الایمان کښې نقل کړې دې-

خیانت کول دمنافقئ نخبه ده::دَحضرت ابی هریره رضی الله عنه اوابن عمر رضی الله عنه په روایت دَبخاری اومسلم په حواله یوځل رسول الله ﷺ دَمنافقئ یوه نخښه داهم اوښودله،چه امانت ورسره کیښودلې شی

---

(۱) تفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۳۶ نه ۱۳۸ پورے
(۲) تفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۳۶ نه ۱۳۸ پورے
(۳) شعب الإیمان للبیهقی رقم الحدیث: ۴۱۸۲

Scanned with Ca

نو خیانت پکښې کوي[۱]»،

د امانت مفهوم دلته دَجمع صیغه ﴿الْأَمٰنٰتِ﴾ راوړل دا مطلب لري چه ټول قسم امانتونه ادا کول مُراد دي خواه مالي وي یا بل قسم امانت وي لکه په دې موقعه چه قرآن کریم ، کُنجۍ سره متعلق خدمتونه بیرته حضرت عثمان رضی الله عنه ته سپارل هم امانت بللې دي۔

دَحکومت منصبونه هم دَالله تعالیٰ امانتونه دي دې نه دا هم معلومه شوه چه دَحکومت ټولې مرتبې او عهدې دَالله امانتونه حسابیږي چه هغه حاکمان او افسران ئې امانتداران دي کوم چه دَبرطرفۍ او تقررۍ اختیارات لري دوئ لره دا بیخي نارواده دي چه څه عهده یا مرتبه چاته او سپاري چه په علمي یا عملي لحاظ سره هغه ددې اهل نه وي، بلکه ضروري دي چه دَهرې عُهدې دپاره دَخپل حکومت په دائره کښې دننه دَدې حقداران اولټوي۔

په یو منصب باند نااهل لره مقررکوونکي ملعون دي چه دَپُوره قابلیت خاوندا او ټول شرطُونو پُوره کوونکې څوک تَرلاسه نشي نو په موجوده خلقو کښې دَقابلیت او امانتدارۍ په لحاظ چه څوک دَټولو دَپاسه وي هغه دغوره کړې شي۔

په یو حدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه چاته دَعامو مسلمانانو څه ذمه داري او سپارلې شوه او هغه دَاهلیت او قابلیت په بُنیاد نهٔ بلکه خالص دَدوستۍ تعلقاتو او خپلوۍ په بِناء چاته څه عُهده ورکړي نو په هغه دَالله تعالیٰ لعنت دې، نهٔ ئې فرض قبلیږي، نهٔ نفل، تردې چه جهنم ته به داخل شي۔ [جمع الفوائد صفحه ۳۲۵]

په خنې روایتُونو کښې راغلي دي چه څوک په دې پوهه وو چه دَیو منصب دَپاره اهل بنده شته او بیا هم هغه پریږدي او داسې بنده پرمقرر کړي کوم چه دَهغې اهل او جوګه نهٔ وي نو هغه دَالله تعالیٰ، دَرسول الله ﷺ او دَټولو مسلمانانو خیانت ئې اوکړو[۲]. نن دَحکومت انتظام کښې چه ګډوډي لیدې شي نو دا دَقرآني تعلیماتونه دَبې پروا کیدلو نتیجه ده، دَ تعلقاتو، رشوتونو او سفارشونو په بُنیاد عهدې تقسیمولې شي په نتیجه کښې نااهل او ناقابله خلق په عهدو قبضه اوکړي او دَحکومت ټول انتظام بربادشي۔

په دې وجه د رسول الله ﷺ ارشاد دې. ﴿اذا وسد الامر الی غیر اهله فانتظروا الساعة﴾ [کله چه نااهلو او ناقابلو خلقو ته څه ذمه داري او سپارلې شي [نو دَدې فساد هیڅ علاج نشته] دَقیامت انتظار اوکړئ [صحیح بخاري کتاب العلم][۳].

خُلاصه دا شوه چه ، ﴿اَمٰنٰتٍ﴾ په صیغې دَجمع سره دَراوړلو مطلب دا دې چه دلته یواځې مالي امانت مُراد نهٔ دې بلکه ټول قسم امانتونه تر مُراد دي چه دَحکومت عُهدې پکښې هم داخلې دي۔

رسول الله ﷺ یو بل ارشاد داسې فرمائیلې دې:

﴿المجالس بالامانة﴾[۴] مجلسونه هم په امانتدارۍ سره کیدل پکار دي،

---

۱) صحیح البخاري، کتاب الإیمان، باب علامة المنافق: ج ۱، ص ۱۰ وصحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب بیان خصال المنافق: ج ۱، ص ۵۶

۲) کنز العمال، حرف الخاء رقم الحدیث: ۳۶۶۹

۳) صحیح البخاري، کتاب العلم، باب من سئل علماً: ج ۱، ص ۱۴

۴) سنن ابي داود، کتاب الأدب، باب في نقل الحدیث: ج ۲، ص ۳۶۸

Scanned with Ca

مطلب دا چه دَیو مجلس دننه خبره بهر ،بل ځائي ته اوړل او خورول ئې ناروا دی۔ ترڅو چه دغه مجلس نه ئې دَخورولو اجازت نهٔ وی اغستې شوې۔

داشان په یو حدیث کښې راغلی دی: ﴿المستشار مؤتمن﴾(١) هغه څوک امانتدار دې چه مشوره ترې واخستې شی. داسې کَس دَپاره ضروری دی چه مشوره داسې ورکړی چه دَمشورې غوښتونکی دَپاره مفیده او غوره وی۔ که سره دَپوهې ئې څه غلطه او خلاف مشوره ورکړه نو امانت کښې ئې خیانت اوکړو ،دَرازخبره چه چاسره اوکړې شوه نو داورسره یو امانت شو چه بغیر دَهغه دَاجازت نه ئې بل چاته ښکاره کول خیانت دې.لهذا په آیت شریفه کښې دَدې ټولو امانتونو دَحق ادا کولو تاکید دې. تردې پورې دَرومبی آیت دَرومبۍ جملې تفسیر وواوس ورپسې دَدغې آیت دَدویمې جملې تفسیر دې فرمائی:

﴿وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾[یعنی کله چه تاسو ،دَخلقو ترمینځه دَراولاړو شوؤ جګړو فیصله کول غواړۍ نو عدل او انصاف سره ئې کوئ]ښکاره خبره ده چه دا خطاب حاکمانو او امیرانو ته دې چه دراپیښو ،جګړو او مقدمو فیصلې کوی او هم دَدې قرینې په بِنا ،ځنې حضراتو دَ رومبۍ جملې مخاطب هم ،حاکمان او امیران ګرځولی دی، اګرچه دَرومبۍ جملې پشان په دې کښې هم دَدې خبرې ګنجائش موجود دې چه حاکمان او عوام دواړه په دې خطاب کښې شامل وی، ولې چه عوامو کښې اکثر هم داسې کیږی چه فریقین خپل مینځ کښې څوک درېمګړې فیصلې دَپاره ټاکی مګردې کښې شبه نشته چه په اول نظر کښې دَدې دواړو جملو مخاطب یواځې حاکمان او امیران معلومیږی ، ه دې بنا داوئیلې شی چه اول دَدې مخاطب حاکمان او امیران دی او بیا [په دویم وار کښې]دا خطاب هر هغه چاته دې چه ورسره دَچا امانتونه وی یا دَفیصلې دَپاره درېمګړې جوړ کړې شوې وی۔

دلته الله تعالی ﴿بَيْنَ النَّاسِ﴾ اوفرمائیل ﴿بین المسلمین﴾ یا ﴿بین المؤمنین﴾ ئې اونه فرمائیل ،ځکه چه دَمقدمو په فیصلو کښې ټول بنیادم برابر دی، یعنې دَټولو انسانانو او بنیادمو ترمنځه دَ دَحق او انصاف په جوړ فیصله کولې شی ،دَمسلم او غیر مسلم ،دَدوست یا دشمن ،وطن، رنګ اوژبه کښې دَشریک او غیر شریک ترمنځه دِ فرق نشی کولې۔

عدل او انصاف دَټول جهان دامن ضامن دې:: غرض دا چه دَآیت په رومبۍ جمله کښې دَامانتونو اداکولو حکم دې او په بله جمله کښې دَعدل او انصاف کولو حکم دې خو دَ امانتونو ادا کولو وړاندې ذکر کول غالباً دا وجه لری چه په ټول ملک کښې عدل او انصاف بغیر دَدې نشی کیدې، مطلب دا چه دَاقتدار خاوندان دَدَامانتونو اداکولو فرض په صحیح توګه داسې اداکوی چه حکومتی عهدې دیواځې هغه خلقوته ورکوی چه صلاحیت او استعداد لری ،دې دَپاره جوګه وی، پوره امانتدار او دَیانتدار وی او دَنورو په نسبت دې دَپاره غوره ښکاری ،دَدوستۍ، تعلقاتو یا صرف دَ سفارش یا رشوت په بنیاد دداچاته نهٔ سپاری، ورنه نتیجه به ئې دا راوځی چه نااهله، ناقابله یا خیانتګر او ظالمان خلق به په عهدو قبضه اوکړی، بیا که دَاقتدار خاوندان هرڅو مره د زړهٔ نه هم اوغواړی چې په ملك کښې عدل او انصاف رائج شی نو هغوئ دپاره به دا نا ممکن وی ځکه چه دَعهدې خاوندان ګویا کښې دَحکومت لاس ،خپې وی، چه دا خراب او ناکاره وی نو انصاف او عدل به څنګه قائیمیدې شی؟۔

---

(١) سنن ابي داود، کتاب الأدب، باب في المشورة: ج ٢، ص ٣٣١

په دې آیت کښې داخبره په خاص شان دیادلو لوجوګه ده چه په دې کښې الله تعالی دحکومت عهدې هم امانتونه اوبلل اوپه دې باره کښې ئې اول داخبره په ډاګه کړه چه څنګه امانتونه یواځې خپلو مالکانوته اداکول پکاردی، که په چاقفیر، مسکین باندې رحم اوکړې شي اودبل چاامانت ورته اوسپارلې شي نو دانارواده داسې ناروا هغه هم دې چه دبل چاامانت خپلوانو یادوستانوته ورکړې شي- یعنی هغه حکومتی عهدې چه تعلق ئې دعوامو کارونوسره وي، داهم امانتونه دی چه داسې خلقوته ئې سپارل پکاردی کوم چه دې دپاره مناسب، جوګه دی، ددې دچلولو صلاحیت اواستعدادلری اوپه موجوده خلقوکښې دې دپاره دټولونه زیات غوره وي، دټولونه زیات امانتګراودیانتداروی که داسې خلقونه سوابل چاته دغه عهدې اوسپارلې شوې نوامانت ادانکړې شو-

دملاقو اوصُوبو په بنیاد حکومتی عُهدې چاته سپارل اصولی غلطی ده په دې جُملې سره قرآن کریم هغه عامه غلطی هم په ګُته کړه چه داکثرو ملکونو دارواج جوړشوې دې چه حکومتی عهدې دملک داستوګنو حق ګرځولې شوې دی اوهم ددې اصولی غلطۍ په بنیاد اقانون جوړکړې شویدې چه دغه عُهدې ددآبادۍ په جوړاوویشلې شی، اودهرې صوبې اوعلاقې دپاره پکښې بیله بیله ټاکلې برخه ورکړې شی- مثلاً په یوصوبه کښې دبلې صوبې بنده ته عهده نشي ورکولې اګرچه دغه بنده زیات قابل اوامانتګروي اودخپلې صُوبې بنده غلط کار، نارامه اوناهل وي، چنانچه قرآن کریم صفااعلان اوکړو چه داعهدې دچاحق نهٔ دې بلکه امانتونه دی چه یواځې مالکانوته به ورکولې شی کوم چه ددې اهل اومستحق وي اګرچه هغوئ دبلې صُوبې یادبلې علاقې استوګن وی البته په یوه خاصه علاقه اوصوبه باندې دحکومت کولودپاره هم ددغه علاقې اوصوبې بنده هله غوره ګڼړلې شي چه ډیرصلاحیتونه لری اوداشان ددهٔ په امانتګرۍ دخلقوتسلی وي-

دحکومت ددستوریوځوزرین اصول: داشان په دې ورکوټی آیت کښې دحکومتی د ستوریو څو بنیادی اصول راغلل چه دادی-

① اول داچه دآیت رومبۍ جُمله ئې د ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ﴾ نه شروع کولوسره ئې دې خبرې ته اشاره اوکړه چه اصلی امراوحُکم دالله تعالی دې، ددُنیاټول بادشاهان په دې ماموردی، لهذادې نه ثابته شوه چه په ملک کښې، اعلی اقتدار یواځې، دالله تعالی دې-

② دویمه خبره داده چه حکومتی عُهدې دملک داوسیدونکو حقوق نه جوړیږی چه هغه دآبادۍ د اصولو په بناویشلې شی، بلکه دالله تعالی داړخه ورکړې شوی امانتونه دی چه یواځې، جوګه، اهل اولائقو خلقوته ورکولې شي-

③ دریمه داچه په زمکه باندې حکمران انسان، صرف دنائب اوامانتګرشان لری دې به دملک په قانون جوړولو کښې دهغه اصولو پابندوی چه رنګ، ژبې څه چه، بلکه دمذهب اومسلک فرق اوبیلتُون پکښې رانهٔ ولی-

په دې آیت کښې دزرین اواعلی اصولوښودلو نه پس په آخرکښې ئې اوفرمائیل چه کوم نصیحت درته الله تعالی کړې دې هغه ډیرښه څکه دې چه الله تعالی دهرڅاآوری اوڅوک چه دوینا او فریاد کولووس هم نهٔ لری دهغوئ حالات پخپله وینی، په دې وجه دالله تعالی ښودلی اوجوړکړی، اصول داسې دی چه په هرملک اوهره زمانه کښې پر، تل دپاره عمل کیدې شي- دانسانی دماغو جوړ کړې شوی اصول اودوئ دستوردخپل ماحول ترحده پورې وی چه دهغې په بدلیدوسره ددې

بدلول هم ضروري وي، ځنګه چې رومبي آيت کښې دَخطاب مخه حاکمانو او اميرانو ته وه په دويم آيت کښې دَخطاب مخه عوامو ته په دې شان وه چه، اې دَايمان خاوندانو تاسو دَالله تعالی او دَرسول الله او دَخپلو حاکمانو حُکم منئ۔

اولوالامر [حاکمان] څوک دي؟: اولوالامر په لُغت کښې هغه چاته وئيلې شي چه په لاس اختيار کښې ئې دَڅه څيز، نظام او انتظام وي، لهذا دَقرآن کريم مفسرينو، حضرت ابن عباس ﷺ مجاهد رحمه الله حسن بصري رحمه الله علماؤ او فقهاؤ ﷺ لره اولی الامر ويللی دی ځکه چه دوی دَرسول الله ﷺ نائبان دی او دَدين انتظام دَدوی په لاس کښې دې۔

او دَمفسرينو يوه بله ډله چه حضرت ابوهريره هم پکښې شامل دې، دا فرمائيلی دی چه اولی الامر نه مُراد حاکمان او اميران دی چه په لاس ئې دَحکومت انتظام دې۔

تفسير ابن کثير او تفسير مظهري کښې دغې دواړو ډلو [عالمانو او حاکمانو] ته اولی الامر ځکه وئيلې شي چه دَامر، نهي نظام دواړو سره تړلې دې[1]۔

په دې آيت کښې په ښکاره ډول دَدرې قسمه حُکم منلو، حُکم شوې دې يعنی دَالله تعالی، دَرسول الله ﷺ او دَاولی الامر، ليکن دَقرآن کريم نورو آيتونو دا خبره په ډاګه کړه چه حُکم کول، او حُکم منل په اصل کښې يواځې دَالله تعالی دی لکه فرمائي: ﴿ان الحکم الا لله﴾ مګر دَدې عملی صورت په دريؤ برخو کښې ويشلې شوې دې۔

حُکم کولو او منلو درې عملی صُورتونه: يو صُورت ئې دا دې چه الله تعالی په ډاګه يو حُکم په قرآن کريم کښې نازل کړې وي او پکښې دَڅه تفصيل او تشريح حاجت نهٔ وي لکه شرک او کُفر چه انتهائي زيات لوئې جرم دې، يواځې دَالله تعالی عبادت کول او په آخرت او قيامت يقين لرل، محمد ﷺ لره دَالله تعالی آخري او په حقه رسول منل، مونځ، روژه، حج او زکواة لره فرض ګڼړل، چه نيغ په نيغه احکام الهی دی چه عمل پر کول، نيغ په نيغه دَالله تعالی حکم منل دی۔

دوئيمه برخه دَاحکامو هغه ده چه پکښې دَتفصيل او تشريح ضرورت وي، په دې کښې قرآن کريم، اکثر، مُجمل يا مُبهم حُکم ورکوي چه تشريح او تفصيل ئې دَرسول الله ﷺ په حواله، يعنی دَاحاديثو په ذريعه کولې شي، دا هم يو قسم وحی وي، مطلب دا چه که دَدې په تشريح يا تفصيل کښې په اجتهادی ډول څه کمې يا کوتاهی پاتې کيږي نو دَوحی په ذريعه ئې اصلاح کولې شي او په آخر کښې دَرسول الله ﷺ قول او عمل مبارک دَحُکم الهی ترجمان جوړ شي،

دا قسم احکام منل اګرچه په حقيقت کښې دَالله تعالی احکام منل دی، ليکن هر کله چه دغه احکام په ډاګه په قرآن کريم کښې موجود نهٔ وي او دَرسول الله ﷺ دَخُلې مبارکې نه اُمت ته رسيدلی وی نو په ظاهري لحاظ سره دې ته دَرسو ل الله ﷺ حُکم منل وئيلې شي اګرچه په حقيقت کښې دا هم دَالله تعالی حُکم منل دی ليکن په ظاهري اعتبار سره هر کله چه دا بيل بيل شان لري ځکه په قران کريم کښې دَالله تعالی دَحُکم منلو سره دَرسول الله ﷺ دَحُکم منلو امر کول په مستقل ډول سره ځان له ذکر شوی دی۔

دريمه درجه دَهغه احکامو ده چه په قرآن او حديث دواړو کښې په ډاګه نه وی ذکر شوی، يا دَاحاديثو روايات په دې باره کښې مختلف او دَيو بل مخالف راغلی وی، په داسې احکامو کښې مجتهدين عُلمائې کرام دَقرآن او سُنت په منصوصاتو يا دَدغې [زير غور] مسئلې په نورو نظيرونو

---

[1]) تفسير ابن كثير تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۳۲۵، تفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۱۵۱، ۱۵۲

[منالونو] باندې ژور فکر او لټون کولو سره دَدې حکم منل څکه ګنړلې شي چه دا دَقرآن او سُنت نه راغستې شوی دی مګر دَظاهر له مخې، دې ته فقهی فتاوې وئیلې شي او نسبت ئې مجتهدینو علماؤ ته کیږی-

په دې دریم قسم کښې داسې احکام شته چه دَکتاب او سُنت له مخې داسې قسم څه پابندی پرَنشته چه کول یا نه کول ئې ضَروری دی بلکه دَکولو او نهٔ کولو اختیار دې پکښې، نو دې ته مُباحات [مُباح] وئیلې شي چه عملی انتظام ئې حاکمانو او امیرانو ته سپارلې شوې دې چه هغوئ حالات اوښیګړوته او ګوری او دَهغې په جوړِ دَڅه قانون جوړ کړی او ټول دې پر باندې دَعمل کولو دَپاره تیار کړی مثلاً په کراچئ ښار کښې ډاکخانې پنځوس پکاردی که سل، تهَانړې څومره پکاردې، دَ اورګاډی انتظام دَڅنګه وی، آباد کاری دَپه کومو قواعدو او کړې شی؟ خو هر کله چه دَدې مباحاتو انتظام کول عَوام نشی کولې نو څکه دَدې ذمه داری هم حکومت سره پکارده-

په تیر شوی آیت کښې دَاولی الامر دَفرمانبرداریٔ کولو نه مُراد په فقهی تحقیقاتو کښې دَعلماء فرمانبرداری کول دی او په انتظامی خبرو کښې دَحاکمانو او امیرانو فرمانبرداری کول مُراد دی چه دواړه واجب دی-

دا فرمانبرداری هم په حقیقت کښې دَالله تعالی دَحکمونو منل دی، خو هر کله چه داسې احکام په قرآن کریم او په سنت نبوی کښې په ډاګه نهٔ دی راغلی، بلکه دَعلماؤ او حاکمانو له اړخه بیان شویدی نو څکه په مستقل ډول ورته دریمه درجه ورکړې شوه او دَاولی الامر دَاطاعت نُوم ورکړې شو. او څنګه چه دَقرآن کریم په ډاګیزو څیزونو کښې دَهغوئ تابعداری لازمه او واجبه ده، دَغه شان په هغه خبرو او څیزونو کښې چه په دې دواړو [قرآن او سُنت] کښې په ډاګه نهٔ وی راغلی، دَ فقهاء رحمهم الله اطاعت په فقهی څیزونو کښې او دَحاکمانو او امیرانو اطاعت په انتظامی امورو کښې واجب دې-

شریعت نه په خلاف کارونو کښې دَامیر اطاعت واجب نهٔ دې: ﴿وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾ په دې آیت کښې الله تعالی ارشاد او فرمائیلو چه دَخلقو تر مینځه فیصلې عدل او انصاف سره کوئ، وریسې الله تعالی، خلقو ته دَاولی الامر دَاطاعت تعلیم ورکړو، اشاره پکښې دې اړخ ته وه چه دَ امیر اطاعت هله واجب دې چه هغه په عدل باندې ولاړوی، که عدل او انصاف پریږدی، دَ شریعت نه خلاف احکام صادر کړی نو دَامیر اطاعت به نشی کولې لکه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ﴿لاطاعة لمخلوق فی معصية الخالق﴾[1] دَمخلوق داسې اطاعت کول ناروادی چه دَخالق نافرمانی پکښې راځی]

دلته الله تعالی دا ارشاد فرمائی چه دَخلقو تر منځه فیصله په عدل سره کوئ، دې نه دا خبره معلومه شوه چه څوک دَعدل او انصاف قائم لرلو طاقت او وَس نهٔ لری نو هغه دقاضی هم څکه نهٔ جوړیږی چه په انصاف سره حُکم کول هم یو امانت دی چه حفاظت ئې کمزوری او نا اهل بنده نشی کولې لکه چه دَرسول الله ﷺ په خدمت کښې هر کله چه ابوذر رضی الله عنه دا خواست وړاندې کړو چه تاسو ما لره دَیو ځائې حاکم جوړ کړئ نو هغوئ جواب ورکړو ﴿ يا اباذر انك ضعيف وانها امانة وانها يوم القيامة خزي وندامة الا من اخذ بحقها وادي الذي عليه فيها﴾ [رواه مسلم بحواله مظهری][2]

[1]) مشکوٰة، کتاب الامارة: ج ۲، ص ۳۱۹
[2]) صحیح مسلم، کتاب الامارة باب کراهة الامارة: ج ۲، ص ۱۳۱

Scanned with Ca

چه اې اباذر ته يو کمزوری سړې ئې او منصب [عهده] داسې يو امانت دې چه دهغې په وجه به دقيامت په ورځ ذلت او رسوائی وی سوا دهغه کس نه چې هغه د امانت حق پوره کړو [چه داسې کَس به دذلت نه بچ شی]-

عدل کوونکې دالله تعالى محبوب ترین بنده دې: په یو حدیث کښې رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلې دې چه عدل کوونکې بنده، دالله تعالى محبوب اوورته ډیر نژدې بنده دې او ظالم دالله تعالى درحمت اوکرم دنظر نه لرې وی[1]. په یو بل حدیث شریف کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ صحابه کرامو ته اوفرمائیل چه دتپولو نه اول به دالله تعالى دسورې لاندې څوک ځی؟ هغوئ جواب ورکړو چه یوازې الله تعالى او دهغه رسول ته ددې خبرې زیات علم دې، نوبیا هغوئ ارشاد اوفرمائیلو چه دا به هغه خلق وی چه مخې ته ئې حق راشی نو سمدستی ئې قبلوی، چه سوال ترې اوکړې شی نو مال خرچ کوی او معامله په داسې انصاف سره فیصله کوی ګویا کښې چه خان دپاره ئې کوی[2]-

داجتهاد او قیاس ثبوت: ﴿فَإِن تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ﴾ په دې آیت کښې الله تعالى ددې حکم ورکړې دې چه که ستاسو ترمنځه څه د اختلاف خبره را وړاندې شی نو الله تعالى او دهغه رسول الله ﷺ اړخ ته رجوع [ماتې] کوئ-

کتاب او سنت اړخ ته دماتې کولو او راګرځیدلو دوه صُورتونه دی، یو داچه دکتاب او سُنت هغه احکامو ته رجوع [ماتې] اوکړې شی په کومو کښې چه نص وارد شوې وی- بل صُورت ئې دادې چه که ښکاره نص، [دقرآن او سنت] دواړو کښې نه وی راغلې نو دهغې په نظیرونو [مثالونو] باندې قیاس کولو سره ورته ماتې اوکړې شی ولې چه د﴿فَرُدُّوهُ﴾ الفاظ عام دی چه دواړو صورتونو له شامل دی-

أَلَمْ تَرَ	إِلَى الَّذِينَ	يَزْعُمُونَ	أَنَّهُمْ	آمَنُوا
ایا اونه لیدل تا	هغه خلق	چې دعوی کوی	چې بیشکه هغوئ	ایمان راوړي دي
....ته هغه کسانو ته نه ګورې	چې [په خولې خو] دا دعوی کوی چې مونږ په تا			

بِمَا	أُنْزِلَ	إِلَيْكَ	وَمَا	أُنْزِلَ	مِنْ قَبْلِكَ
په هغه کتاب	چې نازل کړې شوې دې	تاته	او په هغه کتابونو	چې نازل کړې شوې دی	مخکښې ستانه
نازل شوې کتاب هم منو	.........او ستا نه مخکښې نازل شوی کتابونه هم منو				

يُرِيدُونَ	أَنْ يَتَحَاكَمُوا	إِلَى الطَّاغُوتِ	وَقَدْ أُمِرُوا
هغوئ غواړي	چې یو سی فیصلې دمقدماتو خپلو	طاغوت ته	حالانکه حکم شوې وو هغوئ ته
اخو عمل ئې دادې	چې خپلې جګړې شیطان ته وړاندې کوی	او حال داچې هغوئ ته حکم شوې دې	

أَنْ يَكْفُرُوا	بِهِ	وَيُرِيدُ	الشَّيْطَانُ	أَنْ يُضِلَّهُمْ	ضَلَالًا
چې کفر اوکړي	په طاغوت	او غواړي	شیطان	چې ګمراهه کړي دوئ	په ګمراهئ
چې دهغه نه به انکار کوی	...... او شیطان خو دا غواړي چې دوئ دسمې لارې نه				

[1]) ددې هم معنی حدیث په سنن ترمذی، أبواب الأحکام عن رسول الله ﷺ، باب ما جاء فی الامام العادل: ج۱، ص ۲۲۸ کښې موجود دي-

[2]) مسند احمد حدیث السیدة عائشة رضی الله عنها رقم الحدیث: ۲۳۲۳

Scanned with Ca

بَعِيۡدًا ۝ وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡا اِلٰى مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ

لرې سره | اوهر كله چې | اووئيلې شي دوئ ته | راشئ | هغه كتاب ته | چې نازل كړې دې الله |

ډيرلرې كړي | هر كله چې دوئ ته اووئيلې شي چې كوم حكم الله ﷻ راليږلې دې هغې ته راشئ

وَاِلَى الرَّسُوۡلِ رَاَيۡتَ الۡمُنٰفِقِيۡنَ يَصُدُّوۡنَ عَنۡكَ صُدُوۡدًا ۝

اوراشئ رسول ته | ته وينې | دامنافقان | چې بچ كوي خانونه | تاته دراتلونه | په بچ كولو سره

اودهغه رسول ته مخامخ شئ | نو ته دا منافقان گورې چې تاسو ته د پيش كيدونه مخ اړوي |

فَكَيۡفَ اِذَاۤ اَصَابَتۡهُمۡ مُّصِيۡبَةٌ ۢ بِمَا قَدَّمَتۡ

نو څۀ حال به وي | كله چې | اورسيږي دوئ ته | مصيبت | په سبب دهغه عمل | چې مخكښې ليږلې دې

.......بيا هغه وخت به ئې څه حال وي چې د كړو په وجه پرې مصيبت راشي |

اَيۡدِيۡهِمۡ ثُمَّ جَآءُوۡكَ يَحۡلِفُوۡنَ ۖ بِاللّٰهِ اِنۡ اَرَدۡنَاۤ اِلَّاۤ

لاسونو ددوئ | بيا | راځي تاته | قسمونه خوري | چې قسم په الله | نه وه | اراده زمونږه | مگر صرف

نوبياتاسوته راځي | او په الله ﷻ باندې قسمونه خوري چې زمونږ غرض خو صرف [د مسلمانانو سره]

اِحۡسَانًا وَّتَوۡفِيۡقًا ۝ اُولٰٓئِكَ الَّذِيۡنَ يَعۡلَمُ اللّٰهُ مَا

دښيگړې | اود موافقت راوستو | دا هغه كسان دي | چې معلوم دي | الله ته | هغه څۀ |

ښيگړه او اتفاق راوستل دي | ددغه كسانو د زړونو حال الله ﷻ ته معلوم دې |

فِىۡ قُلُوۡبِهِمۡ ۖ فَاَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ وَعِظۡهُمۡ وَقُلۡ لَّهُمۡ

چې په زړونو ددوئ كښې دي | نو مخ واړوه | ددوئ نه | اونصيحت اوكړه دوئ ته | اواوايه | دوئ ته

.... | نوته دهغوئ دخبروهيڅ پرواه مه كوه | هغوئ ته نصيحت كوه | او د هغوئ

فِىۡۤ اَنۡفُسِهِمۡ قَوۡلًاۢ بَلِيۡغًا ۝ وَمَاۤ اَرۡسَلۡنَا مِنۡ رَّسُوۡلٍ اِلَّا

په حق دنفسونو ددوئ كښې | وينا | كوزيدونكې زړونو ته | اونۀ دې ليږلې مونږ | يورسول | مگر

په زړونو كښې اثر پيدا كونكې وعظ ورته كوه | اومونږ هريو پيغمبر صرف ددې دپاره راليږلې دې

لِيُطَاعَ بِاِذۡنِ اللّٰهِ ؕ وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اِذۡ ظَّلَمُوۡۤا اَنۡفُسَهُمۡ

چې د هغه حكم اومنلې شي | په حكم دالله سره | اوكه چرې دوئ | چې څه وخت ئې | ظلم كړې وۀ | په خانونو خپلو

چې دالله ﷻ په حكم د هغه خبره اومنلې شي | او څه وخت چه دوي په خانونو زياتي كړې وې

جَآءُوۡكَ فَاسۡتَغۡفَرُوا اللّٰهَ وَاسۡتَغۡفَرَ لَهُمُ الرَّسُوۡلُ لَوَجَدُوا

راغلي وې تاله | اومعافي ئې غوښتې وې دالله نه | اومعافي غوښتې وې | دپاره ددوئ | رسول | نوخامخا به موندلې وۀ دوئ

تاته راغلي وې | اود الله نه ئې بخښنه غوښتې وې | اوپيغمبردوي دپاره هم معافي غوښتې وې انو يقينا

اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيۡمًا ۝

الله | توبه قبلونكې | رحم كونكې | نۀ

الله به ئې ښنونكې مهربانه موندلې وې |

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن: اې پیغمبره! آیا تا هغه خلقوته نه دي کتلي چه هغوی دا دعویٰ کوی چه دوی په هغه کتاب باندې ایمان راوړی دې کوم چه تا باندې نازل شوې دې او په هغه کتاب باندې چه ستا نه مخکښې نازل شوې دې (لیکن) ددوی حالت دادې چه دوی خپله مقدمه فیصلې د پاره طاغوت ته اوړي؟ حال دا چه دوی ته ددې حکم شوې دې چه هغهٔ نه صفا انکار وکړي او شیطان دا غواړي چه دوی لره واړوي او د گمراهۍ په آخری درجه کښې ئې مبتلا کړي اوکله چه دوی ته وئیلې شي چه راشئ هغه حکم طرف ته چه الله رالیږلې دې او راشئ رسول طرف ته نوته به د ځه منافقانولره گوري چه ستا نه په پوره توگه آوړي بیا به هغه وخت ددوی څه حال وي چه کله دوی ته د خپلو لاسونو په وجه څه مصیبت ورسي؟ هغه وخت به دوی تاته راځي قسمونه به خوری چه ځمونږ اراده د ښیگړې او اصلاح نه سوا نور څه نه وه دا هغه خلق دي چه الله ددوی د زړه په خبرو ښه پوهیږي نوته دوی نه مخ واړوه او دوی ته نصیحت وکړه او دوی ته پخپله ددوی په باره کښې داسې خبره وایه چه کومه زړه کښې پریوتو والاوي او مونږ یو رسول د دې نه سوا بل مقصد دپاره نه دې لیږلې چه د الله په حکم باندې دهغه تابعداري وشي اوچه کله دې خلقوپه خپلو ځانونو ظلم کړې وو که دوی هغه وخت تا څخه راغلي وې او د الله نه ئې بخښنه غوښتې وه او پیغمبر هم دوی لره د بخښنې دعا کړې وه نو دوی به الله ډیر معاف کوونکې ډیر مهربان موندلې وو.

خلاصه تفسیر

[اې محمد ﷺ] ﴿ اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ يَزۡعُمُوۡنَ اَنَّهُمۡ اٰمَنُوۡا بِمَاۤ اُنۡزِلَ اِلَيۡكَ ﴾ آیا تاسو دغه خلق نه دی کتلی چه [په ژبه خو] دعوے کوی چه هغوی [یعنی مونږ] په دې کتاب هم ایمان لرو چه په تاسو نازل شوې دے [یعنی په قران کریم] ﴿ وَمَاۤ اُنۡزِلَ مِنۡ قَبۡلِكَ ﴾ اوپه هغه کتاب هم چه تاسونه مخکښې نازل کړې شوې دے [یعنی په تورات ځکه چه په دې کښې دمنافقانو بیان دې او اکثر منافقان دیهودوڅخه وو.مطلب دا چه په ژبه دعوی کوی چه څنگه تورات منو دغه شان قرآن کریم هم منو یعنی داسلام دعویدار دی او سره ددې حالت ئې دادې چه] ﴿ يُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ يَّتَحَاكَمُوۡۤا اِلَى الطَّاغُوۡتِ ﴾ خپله مقدمه دشیطان خواته اړول غواړی [ولے چه دشرعے نه بل خوا د مقدمے اړولو شیطان خودنه کوی نوپه دې عمل کول داسې شولکه چه شیطان ته مقدمه یو سی] ﴿ وَقَدۡ اُمِرُوۡۤا اَنۡ يَّكۡفُرُوۡا بِهٖ ﴾ حالانکه ددې نه دوه منع کوونکې خبرے موجودے دی یو دا چه] دوی ته [دشریعت له طرفه] دا حکم شوې دې چه دغه [شیطان] نه مننی [یعنی په اعتقاد او عمل دواړو سره دے دده مخالفت کوی] ﴿ وَيُرِيۡدُ الشَّيۡطٰنُ اَنۡ يُّضِلَّهُمۡ ضَلٰلًاۢ بَعِيۡدًا ۝ ﴾ او [بل منع کوونکې دا چه] شیطان [ددوی داسے دښمن او بدغوښتوونکې دې چه] دوی لره [دحق دلارې نه] په اړولو سره ډیر لرے بوتلل غواړی [پس سره ددې دواړو خبرو ددې تقاضے چه د شیطان په وینا دے عمل نه کوی بیا هم دوی د هغه خبره منی].

﴿ وَاِذَا قِيۡلَ لَهُمۡ تَعَالَوۡا اِلٰى مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوۡلِ ﴾ اوکله چه ورته اووئیلې شی چه راځئ هغه حکم طرف ته چه الله ﷻ نازل کړې دې او [راځئ] درسول الله ﷺ طرف ته [چه ددغې حکم په جوړ فیصله اوکړی] ﴿ رَاَيۡتَ الۡمُنٰفِقِيۡنَ يَصُدُّوۡنَ عَنۡكَ صُدُوۡدًا ۝ ﴾ نوتاسو به [دغه وخت] دمنافقانو دا حالت اوگورئې چه تاسو [ته دراتلو] نه به مخ اړوی ﴿ فَكَيۡفَ اِذَاۤ اَصَابَتۡهُمۡ مُّصِيۡبَةٌ ۢ بِمَا قَدَّمَتۡ اَيۡدِيۡهِمۡ ﴾ بیا به څه پرے تیریږی چه کله پرے څه مصیبت پریوځی ددوی دهغې کړو دکبله چه [ددې مصیبت په

Scanned with Ca

پريوتلو نه ئے] وړاندې کړي وو [مراد د حرکت نه شريعت پريښودول اومقدمه بل خواه اوړل دي اوپټ مصيبت پريوتونه مطلب خو قتل، خيانت او ددوی منافقي ښکاره کيدل اودهغې حساب کتاب ورسره کيدل دی يعني په د غه وخت کښې بيا سوچ کوی چه مخ روڼړی کيدلو دپاره دے له څه پرتوک جوړولو په کوشش کښې شی] بيا [چه څه پرتوک ورله جوړکړی نو] ﴿ ثُمَّ جَآءُوكَ يَحْلِفُونَ ۖ بِاللَّهِ﴾ ستاسو خواته راځي په الله ﷻ قسمونه خوری چه [دشريعت نه بل طرف ته په وتلو کښې] ﴿ إِنْ أَرَدْنَآ إِلَّآ إِحْسَانًا وَتَوْفِيقًا ۝ ﴾ زمونږ بل څه مقصود نه وو سوا ددې نه چه [دمعاملے د دواړو فريقو] څه ښيګړه اوشي [او ددوی دواړو ترمينځه] جوړښت [اوغه جوړه] راشي [مطلب دا چه قانون يواځې شريعت ګڼړو خو بل ځائې په دې غرض تلی وو چه قانوني فيصله کښې حاکم دچا څه مخ ملاظه او رعايت نشي کولې او خپل مينځ کښې فيصله اکثر داسے کيديشی چه د چا لحاظ اورعايت په کښې راشی.دقتل په قيصه کښې پرتوک جوړول داسې وو چه هغه مقتول بےګناه ثابت کړې شی اوحضرت عمر ؓ دغه مجرم ثابت کړې شی خوالله ﷻ دا پرتوک جوړول داشان په دروغه بولی].

﴿أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ يَعْلَمُ اللَّهُ مَا فِي قُلُوبِهِمْ﴾ دا هغه خلق دی چه الله ﷻ ته معلوم دی څه [منافقت] او کفر [چه ددوی] په زړونو کښې دے [يعني دا خلق دمنافقت کفر اوددې دوجې بل ځائې ته ځی چه شرعی حکم ئے خوښ نه دې اوپه تاکلی وخت به ددې سزا هم بيا مومی] ﴿ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ ﴾ نو [اوس خير هغه په دې کښې څه چه] تاسو [دالله ﷻ علم اودهغه ګرفت ته خبره اوسپارئ] په دوی باندې ځان ناغرضه لرئ [يعني تاسو ګرفت مه کوئی] ﴿ وَعِظْهُمْ وَقُل لَّهُمْ فِىٓ أَنفُسِهِمْ قَوْلًا بَلِيغًا ۝ ﴾ او [صرف دخپلې پيغمبرئی تقاضا په دې ډول پوره کوئی چه] دوی ته په مخه نصيحت کوئی [اوورته فرمائې چه دغه حرکتونه پريږدئی] او دوی ته خاص ددوی د ذات [ښيګړې] په غرض پوره مضمون بيانوئی [چه دځان خلاصولو اوتيښتے څه روئے هم پاتې نشی].

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ اللَّهِ ۚ﴾ او مونږ ټول پغمبران خاص دے دپاره ليږلی دی چه دالله ﷻ په حکم [چه درسولانو د تابعدارئ په باره کښې داسې کړې دې چه] ددوی تابعداری دےاوکړې شی [نو په دوی خو اول د سره تابعداری کول دپيغمبر ﷺ واجب وو] ﴿وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا أَنفُسَهُمْ﴾ اوکه څه وخت [دبدبختئی له وجې څه بےقوفی ترې کيدلې او ددغې ګناه کولو په وجه] خپل څه نقصان ئے کولې [بيا] ﴿ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ ٱللَّهَ ﴾ دغه وخت [پښيمانه کيدلې او] ستاسو په خدمت کښې [په دې غرض] حاضريدلې چه دالله ﷻ نه يئ [دخپلې دغے ګناه] معافی غوښتلے ﴿ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ ﴾ اورسول الله ﷺ [يعني تاسو هم]دوی دپاره معافی غوښتلے ﴿ لَوَجَدُوا۟ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ۝ ﴾ نوخامخا به يئ الله ﷻ توبه قبلوونکے او رحمت کوونکې بيا موندلے [يعني الله ﷻ به يئ په خپل رحمت سره توبه قبوله کړې وې].

معارف اومسائل

دآيتونو نزول: په روميو آيتونو کښې داحُکم وو چه دالله تعالی اودَرسول الله ﷺ حکمونوته دپه ټولومعاملاتوکښې ماتې اورجوع اوکړې شی اوس په دې آيتونو کښې دَدې خبرې بدې بيان کړې شويده چه خلاف شريعت قوانينوته ماتې اوکړې شی۔

Scanned with Ca

دا آیتونو شان نزول: دا آیتونه دیوې خاصې واقعې په موقعه نازل شویدي هغه داسې چه یویهودي سره دبشرنومې منافق څه جګړه پیښه شوه، یهودي داغوښتل چه ددې فیصله درسول الله ﷺ اوکړی اوبشرمنافق ددې په ځائې داغوښتل چه کعب ابن اشرف [یهودي]ته دافیصله کول یوړل شي-داځومره دتعجب اوحیرانتیاخبره وه چه یهودي خودخپل یهودي سردار[کعب بن اشرف]په ځائې رسول الله ﷺ ته خپله مقدمه راوړل غوښتل اوتش په نوم مسلمان [بشرمنافق]دامقدمه کعب بن اشرف یهودي ته اوړل غوښتل،وجه ئې داوه چه بشرمنافق پړ وو اودغه یهودي په دغه مقدمه کښې وړ و اوددواړویقین ووچه رسول الله ﷺ به صحیح فیصله کوی اودهیچاڅه رعایت به نۀ کوی-

آخر ،مقدمه هم رسول الله ﷺ ته وړاندې شوه ،هغوئ دحقیقت مطابق فیصله دیهودي په حق کښې اوکړه ،دبشرمنافق خیال داووچه حضرت عمر ﷛ دکفاروپه باره کښې ډیرسخت دي نوهغه به دیهودي خلاف زماپه حق کښې فیصله اوکړي،څکه ئې دغه یهودي په دې خبره راضی کړوچه هم دغه مقدمه دسردوباره حضرت عمر ﷛ ته وړاندې کړې شي-

چه هلته ورغلل نویهودي، درسول الله ﷺ په کړې فیصله باندې حضرت عمر ﷛ له خبرورکړوچه بشرئې هم اقراراوکړو،حضرت عمر ﷛ اوفرمائیل لږشان صبراوکړئ زۀ او س ددې فیصله کوم،کورته ئې تشریف یوړو،توره ئې راواغسته اودمنافق سرئې پرقلم کړو اووې فرمائیل چه څوک درسول الله ﷺ په فیصله راضی نۀ وی نودهغه فیصله هم داسې کیدې شي-[روح المعانی کښې داواقعه دحضرت ثعلبی اوابن ابی حاتم په روایت دحضرت عبدالله بن عباس ﷠ نه منقول ده]([1])-

اوعامومفسرینو ﷭ داهم لیکلی دی چه بیادغه وژلی شوی منافق وارثانودحضرت عمر ﷛ په خلاف دادعوی هم اوکړه چه هغه یومسلمان لره بغیردڅه شرعی دلیل نه وژلې دې اودوژلې شوې منافق دمسلمان ثابتولودپاره دهغۀ دکفري خبرواوعملونو[کارونو]تاویلونه ئې رابرسیرۀ کړه اوهغه دپاره ئې پرتوګونه جوړول شروع کړل-خوپدې آیت سره الله تعالی دمعاملې اصل حقیقت داسې ښکاره کړوچه وژلې شوې سړې منافق وواوحضرت عمر ﷛ ئې بری کړو-

په دې سلسله کښې نورداسې واقعات هم منقول دی چه څنې خلقوشرعی فیصله پریښوده اود جوګیانواونجومیانوفیصله ئې قبوله کړې وه،په دې وجه کیدې شي چه داآیت ددې ټولو واقعاتوپه باره کښې نازل شوې وی]-

اوس دآیت په تفسیر باندې ځان پوهـ کړئ-په رومبی آیت کښې داسې ارشاددې چه، هغه سړی ته اوګورئ چه دعوی ئې داسې کوله چه ماپه رومبی کتابونوتورات اوانجیل هم ایمان راوړې ووا وپه تاسو باندې نازل شوی کتاب[قرآن کریم]باندې هم ایمان لرم یعنی اول په اهل کتابو کښې شامل وم او بیاپه مسلمانانو کښې داخل شوم،خوپه مسلمانانو کښې ددۀ دداخلیدو دعوی غلطه څکه ده چه زړۀ ئې دکفرنه ډک څکه دې چه دجګړې په وخت ئې رسول الله ﷺ پریښودلواوداتجویزئې وړاندې کړې ووچه دامقدمه ددیهودیانوسردارکعب بن اشرف ته یوړلې شی اوهرکله چه بیاهم رسول الله ﷺ ددغې مقدمې په حقه اوداګیزه فیصله اوکړه نو په هغه اوخوښ نۀ وو-

---

[1]) روح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج ۵، ص ۶۷

دَطاغوت لفظ لغوی معنی سرکشی کوونکې دې اوپه عُرف کښې شیطان ته طاغوت ونیلې شي-په دې موقع کعب بن اشرف ته مقدمه اوړل شیطان ته اوړل په دې اعتبار سره اوبللې شو چه یاخو یخپله کعب بن اشرف شیطان وو، یاپه دې لحاظ شیطان ته اوړل ورته اونیلې شو چه شرعی فیصله پرینبودل اوبل خوا مقدمه اوړل دَشیطان تعلیم کیدې شي ځکه داسې ګول ګویا کښې شیطان ته فیصله اوړل شو هم په دې بناء دآیت په آخر کښې داهدایت اوکړې شو چه څوک دَشیطان تابعداری کوی نو هغه به یې په ډیرلرې ګمراهئ کښې رانښکیل کړی-

په دویم آیت کښې دااوښودلې شو چه هر کله څه جګړې خپل منځ کښې راپیښې شي نو دَرسول الله ﷺ دَشرعی فیصلې نه مخ اړول دَ یو مُسلمان کارنشي کیدې، داسې کارکوونکې، صرف مُنافق کیدې شي، په دې شان هر کله چه دَدغه منافق کُفرپه ډاګه ښکاره شو چه دَرسول الله ﷺ په فیصله راضی نهٔ شونو دهٔ لره دَحضرت عمر رضی الله عنه وژل صحیح ثابت شو، ولې چه هغه اوس منافق پاتې نشو بلکه په ډاګه کافرشو-په دې بناء داسې ارشاد اوشو چه، داخلق داسې دی چه ورته دااونیلې شي چه دَالله تعالی هغه حُکم اړخ ته راشئ کوم چه الله تعالی نازل کړې دې اودهغه دَرسول الله ﷺ اړخ ته نودغه منافقان تاسوته دَراتلو نه ډډه کوی-

په دریم آیت کښې هغه باطل تاویلونه په ښکاره غلط اوبللې شو چه شرعی فیصلې لره پرینبودونکو اوغیر شرعی فیصلې اړخ ته تلونکو داسې پیش کول، چه مونږه رسول الله ﷺ په دې غرض پرې نښودو چه په ناحقه مو ګنړلو اودَنورو فیصلې مودَدوئ په خلاف حق ګنړلې، بلکه دَخیرښیګړې اوروغې جوړې راوستو په خاطر مودغسې کړی وو، چه ستاسو د قانونی فیصله وه په هغې کښې د څه رعایت اومخ ملاظې کولو هیڅ ګنجائش نشو کیدې او مونږ مقدمه دیم ځکه یوړله چې د دواړو فریقو په مینځ کښې د ښیګړې یو صورت راوڅی او په دواړو کښې مصالحت اوکړې شي.

داتاویلونه، دغه خلقو هغه وخت پیش کړل چه دَدوئ راز ښکاره شو، خبیث توب اومنافقی ئې ښکاره شوه، دَدوئ یو کَس دَحضرت عمر رضی الله عنه په لاس اووژلې شو، یعنی هر کله چه دَدوئ دَخراب کردار په نتیجه کښې دوئ اوشرمیدل اواووژلې شونو قسمې تاویلونه کول ئې شروع کړل، ځکه الله تعالی په ډاګه اوفرمائیل چه دَدوئ داقسمونه اوپرتوګونه جوړول په دروغه دی اودوئ داټول هر څه دکُفر اومُنافقت په وجه کړیدی-لکه ارشاد اوشو چه هر کله چه دَدوئ دَبدوکړوپه وجه په دوئ څه پټ مصیبت راپریوځی مثلاً خیانت اومُنافقت ئې ښکاره شواواوشرمیدل یادَدې په نتیجه کښې اووژلې شونو هله دغه خلق قسمونه خوړونکې تاسوته راغلل چه زمونږ مقصدستاسو د فیصلې نه بل خوا تللو کښې دانهٔ وو چه تاسو مو په ناحقه ګنړلئ بلکه زمونږ مطلب دَدې نه احسان اوتوفیق وو، یعنی مونږه دَدواړو فریقو ترمنځه دښیګړې اوروغې جوړې راوستولاړ لتوله-

په څلورم آیت کښې دَدې جواب داسې ورکړې شو چه الله تعالی دَدوئ دَزړونو دَمنافقت اوکُفر نه په ښهٔ شان سره خبرداره دې، خپلو کړودپاره دوئ په غلطه پرتوګونه جوړوی اوپه دروغه قسمونه خوری، ځکه ئې عذرمهٔ قبلوئ اودحضرت عمر رضی الله عنه په خلاف ددعوید اردعوی خارج کړئ ولې چه دَدغه مُنافق کُفرپه ډاګه شوې وو-وریسې الله تعالی اوفرمائیل چه دغه مُنافقانوته هم، تاسو دَ خیرخواهئ په ډول نصیحت کوئ چه په زړونوئې اثر کوی، یعنی دآخرت نه ئې ویروئ، او دَ یو مُخلص په ډول ئې اسلام ته رابلئ، یاورته دَدنیوی سزایادګیرنه کوئ اوپوهٔ ئې کړئ چه که تاسو خپل منافقت پرې نښودوانجام به مودبشر مُنافق پشان وی-

په پنځم آیت کښې دا یو عامه ضابطه اوښودلې شوه چه د رسول الله ﷺ دلیږلو نه زمونږ مقصد دادې چه د الله تعالی د فرمان په جوړ د هغه فرمانبرداری اوکړې شی د هغې لازمی نتیجه به داوی چه د رسول الله ﷺ د احکامو مخالفت کوونکو سره به د د کفارو په شان معامله کولې شی په دې وجه حضرت عمر ﷺ چې کوم عمل اوفیصله کړې ده هغه صحیح کار وو، ددې نه بعد بیا ورته ددوی د خیر ښیګړې په غرض دا مشوره ورکړې شوې ده چه که دوی د باطلو تاویلونو کولو په دروغه د قسمونو خوړلو په ځائې د خپل قصور اقرار کړې وې، تاسو ته راغلې وې، پخپله ئې هم د الله تعالی نه معافی غوښتلې اورسول الله ﷺ هم د دوی د پاره د بخښنې دعا غوښتلې وې، نو الله تعالی به ئې ضرور دعا قبوله کړې وې-

دلته د توبې قبلولو د پاره د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضریدل او بیا دوی د پاره د هغوی د بخښنې غوښتلو شرط لګول، غالبا دې د پاره وو چه دوی د هغوی د نبوت په منصب حمله کړې وه، او د هغوی د فیصلې شاته د غور ځولو په وجه ئې ورته تکلیف رسولې وو چه په دا شان به ورته د هغوی دا رخه د معافئ کولو صورت هم پیدا شوې وو-

دا آیت اګرچه د خاصو منافقانو په باره کښې نازل شوې دې، لیکن د الفاظو نه ئې یو عامه ضابطه داسې راوځي چه څوک د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شی او هغوی ﷺ هم هغه د پاره د بخښنې دعا غواړی نو ضرور به او بخښلې شی، دا صورت په هغه وخت کښې جوړیدلې شو چه هغوی پخپله په دنیا کښې حیات وو او اوس د هغوی په روضهٔ ئې اقدس باندې حاضری ورکول هم د دې په حکم کښې دی.

د حضرت علی کرم الله وجهه نه روایت دې فرمائی چه هر کله مونږ د رسول الله ﷺ د دفن نه اوزګار شو نو هغې نه درې ورځې پس یو کلی وال راغی د روضې مبارکې په خوا کښې راوغورځیدو په ژړا فریاد کښې ئې د دې آیت په حواله سوال اوکړو چه ستا سو په خدمت کښې حاضر شوې یم چه تاسو راته د مغفرت او بخښنې دعا اوکړئ، په دغه موقعه چه څوک موجود وو نو هغوی د روضې اقدسې نه دا جواب راتلل واوریدل چه ، ﴿قد غفر لك﴾ [تا ته بخښنه اوکړې شوه] بحر محیط] (۱)-

فَلَا	وَرَبِّكَ	لَا يُؤْمِنُونَ	حَتّٰى
نه اې محمده	ستا په رب د قسم وی	نشی مومنان کیدې دوی	تر دې پورې

استا په رب مې دې قسم وی چې دوی تر هغه وخته پورې ایماندار کیدې نشی

يُحَكِّمُوكَ	فِيمَا	شَجَرَ	بَيْنَهُمْ	ثُمَّ	لَا يَجِدُوا
چې فیصله کونکې کړی تا	په هغه جګړه کښی	چې راشی	په منځ د دوی کښی	او بیا	او نهٔ مومی

تر څو چې پخپلو جګړو کښې ستا حکم او نه منی او بیا چې ته فیصله اوکړې نو دوی پخپلو

فِيٓ أَنْفُسِهِمْ	حَرَجًا	مِّمَّا	قَضَيْتَ	وَيُسَلِّمُوا	تَسْلِيمًا ۝
په زړونو خپلو کښی	څه تنګی	د هغه فیصلې نه	چې اونې کړې تهٔ	او ومنی دوی	په منلو سره

زړونو کښې [د هغې فیصلې په وجه] تنګی بیا نه مومی او د هغې منلو ته بنه غاړه بسته شی

(۱) تفسیر البحر المحیط تحت هٰذه الآیة: ج ۳، ص ۱۸۰

Scanned with

آسان ترجمه قرآن: نه (اې پیغمبره!) ستا په پروردګار باندې دې قسم وي چه دا خلق هغه وخته پورې مؤمنان نه شي کیدې ترڅوچه دوی تا لره پخپلو جګړو کښې فیصله کن ونه ګرځوي بیا چه ته څه فیصله وکړې دهغې په باره کښې دوی په خپلو زړونو کښې څه تنګي محسوس نه کړي او دې ته مکمل غاړه کیږدي.

خلاصه تفسیر

﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾ بیا قسم دے ستاسو دپروردګار چه دا خلق [صرف په ژبه ایمان ښکاره کوی دالله ﷻ په نزد] به ایماندار نه وی ﴿ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ فِيْمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ﴾ تر څو چه دا خبره نه وی چه ددوی ترمینځه به چه کومه جګړه راپیښه شی په دې کښې دا خلق تاسو ته [اوچه تاسو نه یئ نو ستاسو شریعت ته] فیصله راوړی ﴿ ثُمَّ لَا يَجِدُوْا فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴾ بیا [چه تاسو ئے تصفیه اوکړئی نو] ستاسو ددغې تصفیې نه په خپلو زړونو کښې [دانکار کولو] تنګی نه بیا پیدا کړئ او [دغه فیصله] پوره پوره [په ظاهره او په باطنه] اومنی.

معارف او مسائل

درسول الله ﷺ فیصله نه منل کفر دې: ﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتّٰى يُحَكِّمُوْكَ﴾ په دې آیت کښې درسول الله [لوئ او دمرتبې لوړ والې ښکاره کړې شوا و ددوئ دفرمانبردارئ په ځاګه تشریح او شوه چه نورو بیشمیره قرآني آیتونو سره هم ثابته ده- دلته الله تعالی په قسم سره اوفرمائیل چه هیڅوک تر هغه وخته، مؤمن یا مسلمان نشی کیدې ترڅوچه په ښۀ شان د رسول الله ﷺ فیصلې لره ښۀ په تسلئ سره اونۀ منی چه دهغه په زړۀ کښې ددې فیصلې نۀ څه تنګی بیانۀ پیدا شی-

درسول په حیث، رسول الله ﷺ ، پخپله دامت حاکم او ددوئ ترمنځه دهرې راولاړیدونکې جګړې دخلاصولو ذمه وار دې، ددوئ حکومت او فیصله ئې منل په دې هیڅ قسم اړه نۀ لری چه دوئ لره دڅوک حَکَم او ثالث جوړ کړی خو بیا مسلمانانو ته ددوئ دحَکَم [ثالث] جوړولو ښوونه څکه کړې شوې ده چه د حکومتی حاکم په فیصله خو دډیرو خلقو هغسې تسلی نۀ وی څنګه چه دخپل جوړ کړی حَکَم په فیصله ئې وی، خو رسول الله ﷺ یواځې حاکم نۀ دې بلکه یو معصوم [دهر قسم ګناه نه پاک] رسول هم دې، او رحمة للعالمین هم دې، دامت مشفق او مهربان پلار هم دې، څکه داتعلیم ورکړې شو چه کله هم په څه معامله یا مسئله کښې اختلاف یا جګړه راولاړه شی نو دواړو فریقو فرض دادی چه رسول الله ﷺ لره حَکَم جوړ کړی او هم په هغه فیصله اوکړی اوبیائې په سرسترګو منظوره هم کړی-

په اختلافاتو کښې حکم جوړول یواځې درسول الله ﷺ په ژوند مبارک پورې مخصوص نۀ دې: مفسرین حضرات ﷺ فرمائ چه دقرآن کریم په دې ارشاد باندې عمل کول یواځې درسول الله ﷺ حیات مبارک سره خصوصیت نۀ لری بلکه ددوئ دوفات نه پس هم ددوئ په شریعت مطهره باندې فیصله کول پخپله هم په دوئ فیصله کول دی، په دې وجه داحُکم چرته د پاتې کیدونه دې او تر قیامته پورې به جاری وی-

یوڅو ضروری مسئلې: ① **رومبئ مسئله:** داده چه هغه څوک مسلمان نۀ دې چه دهرې جګړې او مقدمې په باره کښې درسول الله ﷺ په فیصله تسلی نۀ لری، هم دغه وجه ده چه حضرت عمر ﷺ هغه سړې اووژلو چه درسول الله ﷺ په فیصله راضی نه شو او فیصله ئې عمر فاروق ﷺ ته یوړله، هر کله چه ددغه وژلی شوی وارثانو درسول الله ﷺ په عدالت کښې دادعوی اوکړه چه حضرت

عُمر ﷺ بې وجهې یو مُسلمان وژلي دي او دغه وخت هغوئ سمدستي او فرمائیل: ﴿ماکنت اظن ان عمر یجترء علی قتل رجل مؤمن﴾ [ما داګمان نهٔ کولو چه حضرت عُمر ﷺ به دَیو مؤمن دَوژلوزړورتیا کړې وي]

دې نه داهم معلومه شوه چه هرکله یو اعلی حاکم ته دَهغه دَماتحت حاکم دَفیصلې په باره کښې اپیل او کړې شي نو هغه د دَخپل حاکم دَطرفدارۍ په ځای دَانصاف فیصله کوي خو هرکله چه دا آیت نازل شو نو داحقیقت سرګند شو چه دغه سړې دَسره مؤمن نهٔ وو۔

②دویمه مسئله: تر دارا او تله چه ﴿فِیمَا شَجَرَ﴾ الفاظ دابنائ چه داحُکم یوائې معاملاتو او حقوقو سره خصوصیت نهٔ لرې، عقائد، نظریات او نورتول نظری مسائل هم په دې کښې شامل دي [بحرِ محیط] (۱)

په دې وجه دَهر مسلمان فرض دی چه خپل منځ کښې راپیښوشوؤ اختلافاتو لره دَدَجنګ جګړې صورت نهٔ ورکوي بلکه دواړه فریقه دِدَرسول الله ﷺ په حیات مُبارک کښې هغوئ ته او دَوفات نه پس ئې دَهغوئ شریعت نه فیصلې دَپاره وړاندې کوي.

[۳] دریمه مسئله: دامعلومه شوه چه کوم کار دَرسول الله ﷺ نه قولاً یا عملاً وي دَهغې په کولو سره په زړهٔ کښې تنګی محسوس کول هم دَایمان دکمزورتیا نخښه ده، مثلاً په کوم صورت کښې چه شریعت په تیمم سره دَمونځ کولو اجازت ورکړې دې، هلته چه دَچاپه دې تسلي نهٔ وي او زړهٔ پر راضي نه وي نو هغه دَداخپله تقوی نهٔ ګنړي بلکه دَخپل زړهٔ رنځ دِئې ګنړي، دَرسول الله ﷺ نه زیات متقی هیڅوک نشی کیدې، په کوم صورت کښې چه هغوئ په ناستې دَمونځ کولو اجازت ورکړې وی یائې پخپله په ناسته مُونځ کړې وی، که دَچازړهٔ په دې راضي نه وي او سخت تکلیفونو پورته کولو سره په هغه صورت کښې په ولاړه مُونځ اوکړی نو هغه دې پوهه شي چې دده په زړه کښې ګندګی ده ، البته که د معمولي ضرورت یا تکلیف په وخت کښې که رخصت پریږدي او په عزیمت عمل کوي نو داسې کول دَرسول الله ﷺ دَتعلیم په جوړ درست دي، خو مطلقًا په شرعي رُخصتونو دَزړهٔ تنګوالې محسوسول څه تقوی نهٔ ده، ځکه چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي۔

﴿ان الله تعالی یحب ان یوتی رخصه کما یحب ان توتی عزائمه﴾ (۲) یعنی ،څنګه چه الله تعالی په عزیمتونو باندې عمل کولو سره خوشحالیږي دغه شان په رُخصتونو باندې عمل کول هم خوښوي۔

په عامو عباداتونو، وظیفو، درود او تسبیح کښې دَټولو نه بهتره طریقه هم هغه ده چه پخپله دَرسول الله ﷺ خپل معمول پاتې شوې وی او بیا دهغوئ نه پس په کوم چه دصحابه کرامو ﷺ عمل پاتې شوې وی، دَمسلمانانو فرض دادی چه دَاحادیثو دَمستندو روایاتونه دغه معلوم کړی او په هغې عمل کوی۔

یوه ډیره ضروري فائده: دَتیرشوي تفصیل نه داخبره واضحه شوې ده چه رسول الله ﷺ یوائې دَاُمت اصلاح کوونکې او اخلاقي لاربنودونکې نهٔ وو بلکه هغوئ یو انصافداره حاکم هم وو، حاکم هم په دې شان وو چه دهغوئ فیصله دکُفر او ایمان معیار جوړ کړې شولکه چه دَبشر منافق دَواقعې نه چه ښکاره دی، په دې بنادَدې دَواضح کولو دَپاره الله تعالی د خپل پاکیزه کتاب په ګڼړو ځایونو کښې دَخپلې فرمانبردارۍ دَتعلیم سره سره دَرسول الله ﷺ فرمانبرداری هم لازمی ګرځولې ده لکه

---

(۱) تفسیر البحر المحیط تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۸۰

(۲) المعجم الأوسط للطبراني رقم الحدیث: ۸۳۲ باب من بقیة أول اسمه میم۔

Scanned with Ca

ارشاد دي ﴿أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ﴾ [تاسو د الله تعالى او د هغه د رسول الله ﷺ تابعداري کوئ] په بل ځاي کښې فرمائي ﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ﴾ [څوک چه د رسول الله ﷺ تابعداري کوي هغه په حقيقت کښې د الله تعالى تابعداري کوي]۔

په دې آيتونو که ژور نظر واچولې شي نو د هغوئ د حاکميت شان هم په ډيرو ښو او روښانه شکل کښې ترِ مخې ته راځي چه د هغې د عملي صورت ښکاره کولو په غرض الله تعالى ورته خپل قانون راولېږلو چې د مقدمو فيصلې د هغې په جوړاو کړې شي لکه ارشاد دې ﴿إِنَّا أَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ﴾ [مونږه په تاسو باندې ، حق سره کتاب نازل کړو چه تاسو د خلقو ترمنځه په داسې شان فيصله اوکړئ څنګه چه درته الله تعالى اوښائ اوپرې دې پوهه کړي.

وَلَوْ أَنَّا　كَتَبْنَا　عَلَيْهِمْ　أَنِ اقْتُلُوا　أَنْفُسَكُمْ　أَوِ اخْرُجُوا　مِنْ دِيَارِكُمْ

اوکه چرې مونږه | فرض کړې وې | په دوئ | چې قتل کړئ | ځانونه خپل | يا اوځئ بهر | د کورونو خپلو نه |

او که مونږ دوئ ته دا حکم ورکړې وې | چې خپل ځانونه قتل کړئ | يا د خپلو کورونو نه اوځئ | ....

مَا فَعَلُوهُ　إِلَّا　قَلِيلٌ　مِنْهُمْ　وَلَوْ　أَنَّهُمْ　فَعَلُوا　مَا

نو نه به وې کړې دوئ دا کار | سوا | دلږو کسانو | د دوئ نه | اوکه | دوئ | کړې وې | هغه |

نو په دوئ کښې به ډيرو کمو کسانو په دې عمل کړې وو | اوکه چرې دوئ په دغه نصيحت عمل کړې وې

يُوعَظُونَ　بِهِ　لَكَانَ　خَيْرًا　لَهُمْ　وَأَشَدَّ　تَثْبِيتًا ﴿۶۶﴾

چې نصيحت کيږي دوئ ته | په هغې سره | نو وو به دا کار | غوره | د دوئ د پاره | او زيات به محکم وو | په محکموالي سره

نو دا به د دوئ د پاره ډيره بهتره وه | .... او د ايمان د مضبوطيا سبب به وو

وَإِذًا لَآتَيْنَاهُمْ　مِنْ لَدُنَّا　أَجْرًا　عَظِيمًا ﴿۶۷﴾　وَلَهَدَيْنَاهُمْ

او بيا به خامخا ورکړې وو مونږ دوئ ته | د طرفه خپل نه | اجر | لوئې | او خامخا به خودلې وه مونږ دوئ ته

اوکه داسې ئې کړې وې نو مونږ به ورله د خپل طرفنه ډير لوئې اجر ورکړې وو | او په سمه

صِرَاطًا　مُسْتَقِيمًا ﴿۶۸﴾

لاره | نيغه |

لار به مو روان کړې وو |

آسان ترجمه قرآن: اوکه مونږ په دوی باندې دا مقرر کړي وو چه خپل ځانونه ووژنئ يا د خپلو کورونو نه ووځئ نو په دوی کښې به د لږو کسانو نه علاوه څوک هم په دې عمل نه وو کړې اوکه دې خلقو په هغې باندې عمل کړې وې د کومې خبرې چه دوی ته نصيحت کولې شي نو دا به د دوی په حق کښې بهتره وه او دوی کښې به ئې ښه مضبوطوالې پيدا کړې وو او دې صورت کښې به مونږ دوی ته خپله د خپل طرف نه يقيناً لوئې اجر ورکړې وو او دوی به مو ضرور بالضرور صحيح لارې ته رسولې وو.

خلاصه تفسير

﴿ وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ أَوِ اخْرُجُوا مِنْ دِيَارِكُمْ ﴾ او مونږ که په خلقو دا خبره [د مقصدی احکامو په ډول] فرض کولې چه تاسو خپل ځانونه وژنئ يا د خپل وطن نه بې وطنه کيږئ ﴿ مَا

Scanned with Ca

فَعَلُوهُ إِلَّا قَلِيلٌ مِّنْهُمْ ﴾ نو سوا د څو شمیرلو خلقو [کاملو مومنانو] نه به دا حکم هیڅا په ځای نه وو راوړے [د ے نه ثابته شوه چه په پوره شان فرمانبرداری کوونکی کم وی] ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ ﴾ اوکه دے [منافقانو] خلقو ته چه دڅه [درسول ﷺ د فرمانبردارئ په سترګو د قبلولو] ورته نصیحت کولې شی په هغې ئے عمل کولې ﴿ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتًا ﴾ نودوی دپاره به [په دنیا کښې دثواب دحقدارئی په وجه] ډیر غوره وو او [داشان ددین دکاملولو په لحاظ به ددوی] دایمان مضبوطوونکی وو [ځکه چه تجربے سره ثابت شوی دی چه ددین په کار کولو سره پخپله د اعتقاد اویقین باطنی کیفیت ترقی کوی] ﴿ وَإِذًا لَّآتَيْنَاهُم مِّن لَّدُنَّا أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ اوپه دې حالت کښې [کله به چه په عمل سره بهتر والے اوددین مضبوطتیا حاصلیدہ نو] په آخرت کښې به مونږ دوی ته خاص دخپلې خوانه لوئې اجر ورکولې ﴿ وَلَهَدَيْنَاهُمْ صِرَاطًا مُّسْتَقِيمًا ﴾ اومونږ به دوی ته [دجنت] سمه لار خودلې [چه یے د څه منع نه به جنت ته ننوتل چه دلوئې اجر ملایدو مقام دې].

معارف اومسائل

شانِ نزول: ﴿ وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ أَنِ اقْتُلُوا أَنفُسَكُمْ ﴾ دکومې واقعې په بناچه داآیت اودَدې نه وړاندې آیتونه نازل شوهغه دبشریهودی منافق معامله وه، چاچه دَخپلې جګړې فیصله کولودپاره اول دکعب بن اشرف یهودی تجویزاوکړو، بیادَمجبورئ دَوجهې نه ئې دَرسول الله ﷺ خواته مقدمه وړل منظور کړل، هرکله چه دَهغوئ فیصله دَهغه په خلاف وه، ځکه پرِ راضی نشو، بیادَفیصلې دَپاره حضرت عمر رضي الله عنه ته اُورسیدوکله چه مدینه منوره کښې داخبره مشهوره شوه نویهودیانو، مُسلمانانوته داپیغورورکول شروع کړوچه تاسوڅنګه خلق یئ چه څوک پیغمبرمنئ، دَهغه دَتابعدارئ دعوی کوئ خوفیصلې ئې نۀ منئ؟یهودیانوته داحُکم ووچه ستاسودګناه توبه داده چه خپل ځانونه اووژنئ مونږه هغه هم اومنلوتردې چه مونږاویازره کسان اووژلې شونوکه تاسوته هم داسې حکم درکړې شوې وې نوڅه به مو کول؟په دې باندې داآیت نازل شو۔

﴿ وَلَوْ أَنَّا كَتَبْنَا عَلَيْهِمْ ﴾ یعنی که دې منافقانویاعاموخلقو[کافرانواومؤمنانو]ته دَبنی اسرائیلو پشان څه سخت حکم[دَځان وژلویاوطن پریښودو] ورکړې شوې وې نودیروکموخلقوبه پوره کړې وې،په دې کښې هغه خلقوتـه سخت خبرداری دې چه دَخپلوجګړوفیصله دَرسول الله ﷺ یادهغوئ دشریعت نه بل خوااوری.

اودَیهودیانودَپیغورجواب هم داسې دې چه داحال دَمنافقانودې دَپخومُسلمانانونۀ دې،ثبوت ئې دادې چه هرکله داآیت نازل شونویوصحابی رضي الله عنه اوفرمائیل چه الله تعالی په مونږ داازمیښت نۀ دې کړې، دَصحابی داخبره رسول الله ﷺ ته اورسیده نووې فرمائیل چه زما په اُمت کښې داسې خلق هم شته چه په زړونوکښې ئې ایمان دَمضبوطوغرونونه زیات ټینګ دې، دَابن وهب بیان دې چه داکلمه دَحضرت ابی بکر رضي الله عنه وه.

په بل آیت کښې داسې راغلی دی چه حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه دَدې آیت په اُوریدوداسې اووئیل چه که داحُکم نازل شوې وې نوقسم په خدائې چه دَټولونه اول به م خپل ځان اودَخپل کورټول خلق په دې قربان کړی وو۔

په ځنې روايتونو کښې راغلی دی چه ددې آيت په نازليد .رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه که دځپل خان وژلو يا دځپل وطن پريښودو دا حکم دالله تعالی دا رخ نه راغلې وې نو ابنِ أم عبد ،يعنی حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ به ضرور په دې عمل کولو .اودوطن دپريښودلو په حکم خوصحابه کرامو ﷺ عمل کول دنياته اوښودل ،ځپل وطن مکه مکرمه ،ځپل ټول جائيدادونه اوتجارتونه ئې پريښول اومدينه طيبې ته ئې هجرت اوکړو ،په آخر دآيت کښې ئې اوفرمائيل چه داکاراګرچه مشکل دې ليکن که زمونږ دفرمان په جوړئې هغوئ اومنی نو ددې انجام به ورد پاره ډيرغوره وی اوداعمل به ئې ايمان لره نورهم مضبوط کړی اوپه دې به ورته مونږ لوئې ثواب ورکړواوپه سمه لاريه ئې روان کړو-

وريسې په آخرې آيت کښې دالله تعالی اودهغه درسول الله ﷺ داطاعت اوفرمانبرداری کوونکو دلويودرجوبيان دې چه پکښې ورته دازيرې ورکړې شويدې چه داخلق به جنت کښې، انبياؤ، صديقانو ،شهيدانو اوصالحينوسره وی-

ددې آيت دنازليدودخاص واقعې تفصيل ،په دې آيت کښې، دانبياؤ، صديقانو شهيدانو او صالحانو دڅلوروذکرشوؤدرجوتشريح اوپه جنت کښې دوئ سره ديوځائې کيدوتفسيرانشاء الله تعالی وړاندې راروان دی-

وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ	وَالرَّسُوْلَ	فَاُولٰٓئِكَ	مَعَ الَّذِيْنَ		
اوخوک چې حکمونه مني دالله	اود رسول	نودغه کسان به	دهغوکسانو سره وی		
اوخوک چې د الله اودهغه درسول حکم اومنی انوهغوئ به دهغې خلقو سره وی					
اَنْعَمَ اللّٰهُ	عَلَيْهِمْ	مِّنَ النَّبِيّٖنَ	وَالصِّدِّيْقِيْنَ	وَالشُّهَدَآءِ	
چی انعام کړې دې الله	په هغوئ باندې	يعنی دپيغمبرانو سره	او دصديقانو سره	اودشهيدانو سره	
په چا چه الله ﷻ نعمتونه کړی دی	چې پيغمبران دی ، صديقان دی ، شهيدان دی				
وَالصّٰلِحِيْنَ	وَحَسُنَ	اُولٰٓئِكَ	رَفِيْقًا	ذٰلِكَ الْفَضْلُ	مِنَ اللّٰهِ
او د نيکانو سره	او ښه دی	دا کسان	دپاره دملګرتيا	دا حقيقی فضل دې	دطرفه دالله نه
اونيکان دی	اودغه کسان ډيرښه ملګری دی	............دا هغه فضل دې چې دالله ﷻ دطرفه کيږی			
وَكَفٰى	بِاللّٰهِ عَلِيْمًا				
او کافی دې	علم دالله				
اوددې په حقيقت صرف دالله علم کافی دې					

آسان ترجمه قرآن: او کوم خلق چه د الله اود رسول تابعداري کوي نودوی به دهغه خلقو سره وي چه په هغوي الله انعام کړي دي يعني انبياء، صديقين، شهداء، او صالحين اودوی څومره ښه ملګري دي! دا فضيلت د الله د طرف نه ملاويږي او (دخلقو دحالاتو نه) پوره خبريدو دپاره الله کافي دي.

خلاصه تفسير

﴿ وَمَنْ يُّطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ ﴾اوخوک چه [په ضروری حکمونو کښې هم] دالله ﷻ اودهغه درسول ﷺ فرمان مني [اګر چه په ډيرو فرمانبردار سره هغه کمال حاصل نه کړې شی] ﴿ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ

﴿ أَنْعَمَ اللهُ عَلَيْهِمْ ﴾ نو داسې کسان به هم [په جنت کښې] هغه حضراتو سره وی په چا چه الله ﷻ [کامل] انعام [ددين د نزديکت اودقبلولو] فرمائيلے دے ﴿ مِّنَ النَّبِيِّنَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ ﴾ يعنی نبيان ﷺ او صديقين [چه د نبيانو په امتيانوکښې دټولونه دزياتے مرتبے خاوندان وی چه باطنی کمال په کښې هم وی اوپه عرف کښې ورته اولياء وئيلې شی] او شهيدانو [چه ددين په مينه کښې ئے خپل ځانونه قربان کړل] اوصالحانو [لره چه دشريعت پوره تابعدار وی واجبات هم ادا کوی اومستحبات هم او ورته نيك بختان ديندارا‌ن وئيلې شی] ﴿ وَحَسُنَ أُولٰٓئِكَ رَفِيقًا ﴾ اودا حضرات [چه دچا ملګری وی] ډير ښه ملګری دی [اود فرمانبردارو خلقو ورسره ملګرتيا ثابته ده نو حاصل داشو چه د فرمانبردارئ په نتيجه کښې ورته داسې ملګری ملاو شو] ﴿ ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللهِ ﴾ دا [يو ځائيوالئ او ملګرتيا ددې حضراتو خالص] فضل دے دالله ﷻ له طرفه [يعنی دعمل اجر ئے نه دې ځکه چه په دې عمل دوی دغه درجې ته نشو رسيدلے نوځکه دا د انعام په ډول شو] ﴿ وَكَفٰى بِاللهِ عَلِيْمًا ﴾ اوالله ﷻ کافی علم لرونکې دې [چه هر يو عمل دهغې مقتضا اود مقتضا نه زيات دمناسب انعام مقدار ښه پيژنی ځکه چه دے انعام کښې به هم فرق وی څوك صاحبان خوبه ورسره بيا بيا نزديکت لری او څوك به ورسره کله کله اوداشان نورے درجې د نزديکت هم شته [والله اعلم].

د آيتونو تړون: پورته د الله ﷻ او درسول ﷺ په اطاعت باندې خاص مخاطبينو ته د اجر عظيم وعده وه . اوس دې آيتونو کښې په طور د قاعده کليه دالله ﷻ اود هغه رسول ﷺ په اطاعت باندې د عامې وعدې ذکر دې .

معارف اومسائل

دجنت درجې به دعملونوپه لحاظ سره وی-څوک چه په دې ټولوڅيزونوعمل کوی چه دکولوحکم ئې الله تعالی اودهغه رسول ورکړې دې، دهغه څيزونونه ځان اوساتی چه دکولونه الله تعالی اودهغه رسول ﷺ منع فرمائيلې ده، نودعمل په اعتبارسره ددوئ مختلفې درجې وی، داولې درجې خلقوته به الله تعالی ،انبياؤ ﷺ سره دجنت په لوړومقاماتوکښې ځائې ورکړی اودنورو درجو خلقوته به دهغوئ مناسب ځايونه هغه حضراتوسره ورکوی چه دانبياؤ ﷺ په ښکته مرتبه کښې دی چه ورته صديقين وئيلې شی، يعنی هغه اولوالعزم صحابه کرام چه داول نه ئې اسلام قبول کړو ،هيڅ ويره ترهه اودچادمخالفت پرواه ئې اونۀ لرله لکه ابی بکر ﷺ بياددريمې درجې خلق به شهيدانوسره وی، داهغه خلق دی چه دالله تعالی په لارکښې ئې خپل ټول هرڅه يعنی سرومال قربان کړو ،بيادڅلورمې درجې خلق به صالحانوسره وی کوم چه په ظاهری اوباطنی شان سره دنيکوعملونوپابندی کوی.

خُلاصه ئې داشوه چه دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ مکمل فرمانبرداره خلق به هغه حضراتوسره وی چه دالله تعالی په نزددټولونه زيات عزتمند اومقبول دی اوڅلورقسمه درجې لری يعنی انبياء ،صديقان ،شهيدان ،اوصالحان

شانِ نزول: داآيت دېوې خاصې واقعې په بِنانازل شوې دې چه دتفسيرامام ،حافظ ابن کثيرپه ګڼرو اسنادونوسره نقل کړيده-

هغه واقعه دَحضرت عائشې په روایت داسې وه چه یوه ورځ یو صحابی رضی الله عنه دَرسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه زړهٔ مې ستاسو دَمینې نه داسې ډک دې چه دَخپل ځان نهٔ مې هم درسره مینه زیاته ده، دَخپلې بی بی او اولادنه هم درسره زیاته مینه لرم، کله خوزهٔ په خپل کور کښې هم ډیرزیات بې آرامه شم خوتسلی او آرام هله بیا پیدا کوم چه ستاسو په خدمت کښې حاضر شم او ستاسو زیارت اوکړم- اوس راسره دا فکر مل شوې دې چه په آخرت کښې به تاسو دَ جنت په لوړو درجو کښې پیغمبرانو علیهم السلام سره یئ، خو اول را ته خپل ځان نهٔ دې معلوم چه جنت ته به لاړشم او که نهٔ؟ او که اورسیږم نو درجه به مې تاسو نه ډیره زیاته کمه وی، که هلته مې ستاسو زیارت نصیب نشی نو زهٔ خو به ډیربې آرامه یم، تسلی به مې څنګه اوشی؟

رسول الله ﷺ دغه وخت دَدې هیڅ جواب ورنکړو، روستو بیا آیت شریف نازل شو ﴿وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الَّذِيْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ مِّنَ النَّبِيّٖنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَآءِ وَالصّٰلِحِيْنَ﴾ (۱) او هم دَدې په بنیاد ورته رسول الله ﷺ زیرې ورکړو چه فرمانبردار و خلقو ته به په جنت کښې انبیاؤ علیهم السلام، صدیقانو، شهیدانو او صالحانو سره دَملاقات موقعه په مخه په لاس ورځی اګرچه دَ درجو دَ لوړوالی او کموالی فرق به هم ترمنځه وی-

په جنت کښې دَملاقات څو صُورتونه: ① یو صُورت دَملاقات دادې چه دَخپل خپل ځائې نه به هر جنتی بل لره لیدلې شی لکه چه دَمؤطا امام مالک رحمه الله په روایت دَابی سعید خدری رضی الله عنه نه دَرسول الله ﷺ دا فرمان منقول دې چه هغوی اوفرمائیل، جنتیان به دَخپلو خپلو کړوکیو نه دَلویو مرتبو جنتیان داسې وینی لکه چه تاسو دَنیا کښې ستوری وینئ (۲)-

② بل صُورت به ئې داوی چه دَیوې درجې خاوندان به دَبلې درجې خاوندانو ته مُلاقات دَپاره ورځی داسې هم کیدې شی چه دکوځې [کښته] درجې خاوندان به دلوړې درجې دَخاوندانو دیروته ورځی لکه څنګه چه رسول الله ﷺ دَدې آیت په بِنا، ډیرو خلقو ته په جنت کښې هغوی سره داوسیدو زیرې ورکړې دې (۳)-

③ او داسې هم کیدې شی چه دَلوړې درجې خاوندان به دکوزې [کښته] او لاندې درجې خاوندانو ته مُلاقات دَپاره ورځی څنګه چه ابن جریر رحمه الله دَربیع په روایت دَدې آیت په تفسیر کښې دَرسول الله ﷺ نه نقل کړیدی-

په صحیح مُسلم کښې راغلی دی چه حضرت کعب بن (۴) اسلمی رضی الله عنه رسول الله ﷺ دَپاره دَاودس اوبه، مسواک وغیره، ضروریات راوړل، هغوی په دې خوشحاله شو او ورته ئې اوفرمائیل چه غواړه، څهٔ غواړې؟ کعب اسلمی رضی الله عنه عرض اوکړو چه زهٔ په جنت کښې تاسو سره ناسته پاسته کول غواړم، رسول کریم ﷺ اوفرمائیل نور څه؟ نو هغه عرض اوکړو نور هیڅ نه غواړم، په دې رسول کریم ﷺ ورته ارشاد اوفرمائیلو چې که ته زما سره جنت کښې یو ځائې کیدل غواړې

---

۱) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۳۵۳

۲) مسند احمد رقم الحدیث: ۱۱۷۷۰ مسند ابی سعید الخدری رضی الله عنه-

۳) تفسیر الطبری تحت هٰذه الآیة: ج ۸، ص ۵۳۳

۴) تحقیق نه معلومه شوه چه دا واقعه حضرت کعب بن اسلمی دَ عوی ده-محمد رفیع عثمانی-

Scanned with Ca

نو، ﴿واعني على نفسك بكثرة السجود﴾ [مقصد به هله حاصل شي چه ته زما امداد په دې شان کوه چې ډيرې ډيرې سجدې کوه، يعني ډيره ډيره نفل مونځ کوه] (۱)-

په مسند احمد کښې راغلي دي چه رسول الله ﷺ ته يو سړې راغلو او عرض ئې اوکړو چه اې رسول الله ﷺ ما دَ دې خبرې گواهي ورکړې ده چه الله تعالى نه سوا نور هيڅوک دَ عبادت لائق نشته او دَ دې چه تاسو دَ الله تعالى رشتيني رسول يئ: او زهٔ دَ پنځو وختو دَ مونځ هم پابند يم، زکواة هم ادا کوم، دَ رمضان روژې هم نيسم. په دې آوريدو رسول الله ﷺ او فرمائيل چه څوک په دې حالت کښې مړ شو هغه به د انبياؤ، صديقينو، شهيدانو سره وى خو په شرط دَ دې چه دَ مور، پلار نافرماني نهٔ کوى (۲)-

داشان دَ ترمذي په حواله رسول الله ﷺ او فرمائيل:

﴿التاجر الصدوق الامين مع النبيين والصديقين والشهداء﴾ (۳) [يعني کوم سوداګر چه رشتيني امانتګروى هغه به انبياؤ، صديقينو، او شهيدانو سره وى]

نزديکت دپاره محبت شرط دې: رسول الله ﷺ سره به ناسته پاسته او ملګرتيا هغه چا ته حاصليږى چه ورسره مينه لرى لکه په صحيح بخاري کښې په متواترو طريقو سره صحابه کرامو دَ يو لوئې جماعت نه منقول دى چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو چه دَ هغه چا به څه درجه وى چه يو جماعت سره مينه او تعلق لرى خو عمل کښې دَ هغوئ درجې ته نهٔ دى رسيدلې؟ هغوئ ورته او فرمائيل چه ، ﴿المرء مع من احب﴾ (۴) [په قيامت کښې به هر څوک هغه چا سره وى چه محبت ورسره لرى]

حضرت انس ؓ فرمائيلي دى چه صحابه کرام په دُنيا کښې په هيڅ څيز [شئ] دومره نهٔ دى خوشحاله شوى څومره چه په دې حديث سره خوشحاله شويدى (۵) په کوم کښې چه دا زيرې ورکړې شويدې چه رسول الله ﷺ سره محبت کوونکى به په ميدان محشر او جنت کښې هغوى سره وى-

رسول الله ﷺ سره ملګرى کيدل په رنګ او نسل هيڅ اړه نهٔ لري: طبراني په معجم کبير کښې دَ حضرت عبد الله بن مسعود ؓ دا روايت نقل کړيدې چه يو حبشي سړې دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه اې رسول الله ﷺ تاسو مونږ نه په ښه شکل او ښکلي رنګ کښې هم ډيرپورته يئ: په نبوت او رسالت کښې هم مونږ نه بالاترئ اوس که زهٔ هم په هغه څه ايمان اولرم په کوم چه تاسو ايمان لرئ او زهٔ هم هغه عمل کوم کوم چه تاسو کوئ نو زهٔ هم تاسو سره جنت کښې کيدې شم؟

رسول الله ﷺ او فرمائيل چه آو، ضرور، [تهٔ خپل تور رنګ باندې مه ويريږه] په هغه ذات م د قسم وى دَ چا په قبضه کښې چه زما ځان دې، په جنت کښې به تور رنګى حبشيان داسې تک سپين او ښکلي شى چه دَ زرو کالو دَ مزل نه به ځليږى، او څوک چه دَ [لا اله الا الله] قائل وى نو دَ هغه کاميابى او خلاصې به دَ الله تعالى په ذمه شى او څوک چه، سبحان الله وبحمده، وائى نو دَ هغه په عملنامه کښې به لاکهٔ ځليريشت زره نيکئې اوليکلې شى.

۱) صحيح مسلم، كتاب الصلاة، باب فضل السجود والحث عليه: ج ۱، ص ۱۹۳
۲) تفسير ابن كثير بحواله مسند احمد تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۲۵۵
۳) جامع الترمذي، أبواب البيوع، باب ما جاء في التجار: ج ۱، ص ۲۲۹
۴) صحيح البخاري، كتاب الأدب، باب علامة حب الله عزوجل: ج ۲، ص ۹۱۱
۵) سنن ابي داود، كتاب الأدب، اخبار الرجل الرجل بمحبته اياه: ج ۲، ص ۳۹۸

Scanned with Ca

دَدې په آورېدو يوسړي عرض اوکړو چه يارسول الله ﷺ هر کله چه دَالله تعالى په دربار کښې دَ ښيګړو کولو دومره سخى توب دې نو بيا مونږه ،څنګه هلاکيدې ياعذاب کښې ښکيل کيدې شو ؟هغوئ اوفرمائيل [داخبره نه ده]حقيقت دادې چه په قيامت کښې به څنې خلق دمره عملونه اونيکئې راوړى چه دَغرد برداشت نه به هم زياتې وى خو هر کله چه دَدې په مقابله کښې دَالله تعالى نعمتونه راشى اوهغې سره ئې اندازه اولګولې شى نو دَانسان عمل به دَهغې په مقابله کښې ختم شى مګر داچه الله تعالى ئې په خپل رحمت کښې اونغاړى-

دَدغه حبشى په سوال جواب باندې دَسورة دهر ،داآيت نازل شو ﴿هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ حِينٞ مِّنَ ٱلدَّهۡرِ لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا۝﴾حبشى په حيرانتيا تپوس اوکړو چه يارسول الله ﷺ زما سترګې به هم هغه نعمتونه وينى کوم لره چه ستاسو مبارکې سترګې به وينى؟.هغوئ ورته اوفرمائيل چه ، ،او ، ، ضرور ، ،په دې آورېدو نومُسلم حبشى ژړېدل شروع کړل اوهم په ژړا ژړا کښې ېې دغلته ساه ورکړه ،رسول الله ﷺ په خپل لاس مبارک سره دَهغه ګورکفن اوکړو([1])-

دَدرجو تفصيل:: دَدې آيت تفسير ،شانِ نزول اوورسره ترلى تشريحات بيان شو ،خودَژور نظرجوګه يوه خبره پاتې ده ،هغه داچه دَهغه کسانو څلوردرجې په کوم اعتبارسره مقررشويدى په چاچه الله تعالى انعام کړيدې اودَدغې درجوترمنځه نسبت اوفرق څه دې؟او،آيا؛ داڅلورواړه درجې په يوکَس کښې جمع کيدې شى؟

مفسرينو رحمهم الله په دې باره کښې مختلف اقوال اواورِد تفصيل ليکلې دې ،بعضو فرمائيلى دى چه دا څلورواړه درجې په يوکس کښې جمع کيدې هم شى اودِاټول داسې صفات دى چه يوبِل کښې ورننوتى دى ولې چه قرآن کريم بعضې پيغمبرانوته دَصديق لقب ورکړې دې لکه دَحضرت ابراهيم عليه السلام په باره کښې قرآن فرمائى ﴿إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيًّا۝﴾ اوداشان دحضرت يحيى عليه السلام په باره کښې قرآن کريم فرمائيلى دى ﴿نَبِيّٗا مِّنَ ٱلصَّٰلِحِينَ۝﴾دغه شان دَحضرت عيسى عليه السلام په باره کښې فرماى:﴿وَكَهۡلٗا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ۝﴾

حاصل ئې داشو چه اګر که دَمفهوم اومعنې په اعتبارِسره داڅلورواړه صفتونه اودرجې بيلې بيلې دى خوداټول په يوکَس کښې هم جمع کيدې شى ،دَدې مثال داسې واخلئ لکه مفسر ، محدث، فقيه ،مؤرخ اومتکلم چه بيل بيل علماء کيدې شى دغه شان داټول صفتونه په يوعالم کښې هم راجمع کيدې شى ،بل مثال ئې داسې واخلئ چه ډاکټر ،انجينئير ،پائلټ څنګه چه بيل بيل کسان هم کيدې شى دغه شان په يوکَس کښې هم داصفتُونه جمع کيدې شى-

البته په عُرف عام کښې قاعده داوه چه په کوم کَس کښې يوصفت غالب وى نوهم په هغه نوم هغه مشهوروى په طبقاتو باندې کتابُونه ليکونکى حضرات هغه لره هم په دغه کښې شميرى په دې وجه عام مفسرينو رحمهم الله فرمائيلى دى چه دَصديقينو نه مُراد ،دَلوړې درجې صحابه کرام رضي الله عنهم دى، شهيدانو نه مُراد دَاحد شهيدان دى اودَصالحينونه مراد عام نيکان مسلمانان دى-

امام راغب اصفهانى رحمه الله داڅلورواړه درجې مختلفې بللې دى،تفسير بحر محيط ،رُوح المعانى اومظهرى کښې هم داذکرشوي دى([2])،يعنى داچه الله تعالى په دې آيت کښې مؤمنان په څلورو قسمو کښې تقسيم کړيدى اودَهريوئې اعلى اوادنى درجې مقررې کړى دى او دَعامو

---

[1]) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث: ۴۳۱۹
[2]) روح المعاني تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۱۳۲

مسلمانانو داشوق ئې راپاره ولې دې چه په دې کښې د هیچا د درجې نه روستوپاتې نشي،علمي اوعملي خوارئ محنت سره دې درجوته درسیدلوکوشش کوی، په دې کښې نبوت یوداسې مقام دې چه په خوارئ ،محنت سره ئې څوک نشي حاصلولې،لیکن انبیاؤ ﷺ سره یوځائیکت بیاهم حاصلیږی،امام راغب رحمه الله فرمائیلي دی چه په دې کښې دتولونه اوله درجه دپیغمبرانو ﷺ ده چه دقوت الٰهیه امدادورته حاصل دې اومثال ئې داسې دې لکه څوک چه یوڅیزلره دنزدې نه وینی،په دې وجه الله تعالی دخپل پیغمبررسول الله ﷺ په باره کښې فرمائیلي دی: ﴿أَفَتُمَارُونَهُ عَلَىٰ مَا يَرَىٰ﴾

دصدیقینوتعریف: دویمه درجه دصدیقینوده،داهغه خلق دی چه معرفت کښې انبیاؤ ﷺ ته نزدې وی اومثال ئې داسې دې لکه چه څوک یوڅیزدلرې نه وینی،حضرت علي کرم الله وجهه نه چاتپوس اوکړوچه الله تعالی دلیدلې دې؟هغه رضی الله عنه اوفرمائیل چه زهٔ دداسې یوذات عبادت نشم کولې چه لیدلې مې نهٔ وی، بیائې اوفرمائیل چه خلقوخوالله تعالی دسرپه سترګونهٔ دې لیدلې، لیکن ددوئ زړونودایمان دحقیقتونوپه ذریعه لیدلې دې-ددې لیدلونه مرادحضرت علي رضی الله عنه داسې قسم لیدل دی چه دهغه علمي معرفت دسترګودلیدلوپشان دې-

دشهیدانوتعریف: دریمه درجه دشهیدانوده داهغه خلق دی چه مقصودلره په دلیلونواوحجتونوسره پیژنی،خومشاهده ئې نهٔ وی،مثال ئې داسې دې لکه چه څوک یوڅیزپه آئینه [هینداره]کښې دنزدې نه وینی لکه حضرت حارثه رضی الله عنه اوفرمائیل چه راته داسې محسوس کیږی چه دخپل رب کریم عرش وینم-

﴿ان تعبد الله كانك تراه﴾کښې دلیدلونه هم دغه قسم لیدل مراد کیدې شی-

دصالحینوتعریف:څلورمه درجه دصالحینوده داهغه خلق دی چه مقصودلره دتقلیداوتابعداری کولوپه ذریعه پیژنی ددې مثال داسې دې لکه څوک چه څه څیزپه آئینه [هینداره]کښې دلرې نه وینی﴿فان لم يكن تراه فانه يراك﴾کښې دلیدلونه هم دغه مراددی،دامام راغب اصفهانی ددې تحقیق حاصل دادې چه دادرجې دپروردګاردمعرفت درجې دی،خوهرکله چه دمعرفت درجې مختلفې دی، نولارې چارې ئې هم مختلفې دی.هرڅنګه چه وی دآیت مضمون صفاداسې دې چه پکښې مسلمانانو ته زیرې ورکړې شوې دې چه دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ مکمل فرمانبرداری کوونکی به دلوړودرجوخاوندانوسره وی،الله تعالی ددامحبت زمونږدټولو نصیب کړی-آمین-

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ	آمَنُوا	خُذُوا	حِذْرَكُمْ
اے هغه کسانو|چې ایمان مو راوړې دې	اونسئ		وسلې خپلې

اِئې مومنانو تاسو خپلې وسلې خان سره اونسئ

فَانْفِرُوا	ثُبَاتٍ	أَوِ انْفِرُوا جَمِيعًا	وَإِنَّ مِنْكُمْ	لَمَنْ
بیا اوځئ	په جدا جدا ډلو کښې ایا اوځئ	ټول په جمع	اوبیشکه بعضې په تاسو کښې	خامخاهغه څوک دی

اوپه جدا جدا ډلو یا په جمع سره اوځئ|.........په تاسو کښې خینې داسې هم شته چې

لَيُبَطِّئَنَّ	فَإِنْ أَصَابَتْكُمْ	مُصِيبَةٌ	قَالَ	قَدْ أَنْعَمَ	اللَّهُ	
چې بچ کوی خان دجنګ نه	نوکه اورسیږی تاسو ته	څه مصیبت	وائی چې	فضل اوکړو	الله	

دجنګ نه|خان بچ کوی|که تاسو ته څه مصیبت اورسی نو دوئ وائی چې الله ﷺ راباندې دیرلوئې فضل اوکړو

Scanned with Ca

عَلَيَّ　اِذْ لَمْ اَكُنْ　مَّعَهُمْ　شَهِيْدًا۝　وَلَئِنْ　اَصَابَكُمْ　فَضْلٌ

په ما باندې | چې نه وم زه | دهغوئ سره | حاضر | اوكه چرې | اورسيږي تاسو ته | فتح

خكه چې زه ورسره موجود نه ووم |...... اوكه په تاسو باندې الله ﷻ [د فتحې يا د مال غنيمت] فضل

مِّنَ اللّٰهِ　لَيَقُوْلَنَّ　كَاَنْ لَّمْ تَكُنْ　بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ　مَوَدَّةٌ

د الله د طرفه | نو وائي | لكه چې نۀ وه | په مينځ ستاسوكښې اوپه منځ دهغه كښې | څۀ دوستي

اوكړې انو داسې وائي لګيا شي چې ګنې ستاسو او دهغه په مينځ كښې هډو مينه [پيژند ګلو] نه وه

يٰلَيْتَنِيْ　كُنْتُ　مَعَهُمْ　فَاَفُوْزَ　فَوْزًا　عَظِيْمًا۝　فَلْيُقَاتِلْ

كاش چې زه | وې | دهغوئ سره | نو كامياب شوې به وم | په كاميابئ | لوئ سره | نو جنګيږي دې

كاش چې زه هم ورسره [جهاد دپاره] تلې وې | نو په لويه كاميابئ بۀ كامياب شوې وم | د الله په لار كښې

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ　الَّذِيْنَ　يَشْرُوْنَ　الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا　بِالْاٰخِرَةِ ؕ　وَمَنْ يُّقَاتِلْ

په لاره دالله كښې | هغه كسان | چې خرڅوي | ژوند ددنيا | په آخرت باندې | او څوك چې جنګ اوكړي

هغه كسانو دپاره جهاد كول پكار دي | چې ددنيا ژوند دآخرت بدله كښې خرڅوي | او څوك چې

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ　فَيُقْتَلْ　اَوْ يَغْلِبْ　فَسَوْفَ　نُؤْتِيْهِ　اَجْرًا عَظِيْمًا۝

په لار دالله كښې | نو كه قتل كړې شي | يا غالب شي | نو زر به | وركوو مونږ هغه ته | اجر لوئ

دالله ﷻ په لار كښې جهاد اوكړي | او بيا شهيد كړې شو | يا غلبه اومومي | نو مونږ به ورته ډيرلوئې اجر وركړو

آسان ترجمه قرآن: اې د ايمان خاوندانو! (دښمن سره دمقابلې په وخت كښې) ځان سره د بچاؤ سامان ضرور ساتئ . بيا د جدا جدا دستو په شكل كښې (جهاد دپاره) اوځئ يا ټول په يو ځائ ووځئ او يقيناً په تاسو كښې به داسې ضرور وي چه (جهاد ته تلو نه) به سستي كوي بيا كه (دجهاد په وخت كښې) په تاسو څه مصيبت راشي نو هغه به وائي چه الله په ما باندې لوئ احسان وكړو چه څه دې خلقو سره موجود نه ووم او كه د الله د طرف نه څه فضل (يعني فتح او مال غنيمت) تاسو ته ورسي نو هغه به وائي ګويا چه ستاسو او دده په مينځ كښې هډو څه دوستي نه وه چه كاش څه هم دې خلقو سره وې نو ډير څه به مې په لاس راغلي وو! نو د الله په لاره كښې دې هغه خلق جنګ كوي چه د دنيا ژوند د آخرت په بدله كښې خرڅ كړي او څوك چه د الله په لاره كښې وجنګيږي بيا خواه كه هغه ووژلې شي يا غالب شي (هر يو صورت كښې) هغه ته به ډير لوئې ثواب وركړو.

خلاصه تفسير

﴿ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ ﴾ اې د ايمان خاوندانو [دكافرانو په مقابله كښې] پخپله خپل احتياط لرئ [يعنى د هغوى د چل اوګټكو او دهوكو نه هم هوښيار او سيږئ او ورسره دجنګ كولو په وخت په وسله ډال اوتورے سره سنبال اوسئ] ﴿ فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا۝ ﴾ بيا [ورسره جنګ كولو دپاره [بيل بيل] يا په جمع [دموقعې په مناسبت] ﴿ وَاِنَّ مِنْكُمْ لَمَنْ لَّيُبَطِّئَنَّ ۚ ﴾ او څنې ستاسو په ډله كښې [چه په كښې بعضې منافقان شامليږى] يونيم كس داسې هم شته [مراد ترې منافقان دى] چه يوخوا كيږى [يعنى په جهاد كښې نه شريكيږى] ﴿ فَاِنْ اَصَابَتْكُمْ

Scanned with Ca

مُّصِيبَةٌ ﴾ كه بيا څه حادثه درته پيښه شوه [لكه شكست وغيره] ﴿ قَالَ قَدْ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيَّ اِذْ لَمْ اَكُنْ مَّعَهُمْ شَهِيدًا ﴾ نو [په خپلو نه تلو باندې خوشحاله شي او] وائي چه بيشكه الله ﷻ په ما باندې لوئې فضل اوكړو چه زه دغه خلقو سره [په جنګ كښې] حاضر [شريك] نه شوم [ورنه په ما به هم دغه مصيبت راغلې وو].

﴿ وَلَئِنْ اَصَابَكُمْ فَضْلٌ مِّنَ اللّٰهِ ﴾ اوكه درباندې دالله ﷻ فضل اوشي [يعنى برې بيا پيدا كړي او غنيمت په لاس درشي] نو په داسې شان [خو دا غرضي سره] ﴿ لَيَقُولَنَّ كَاَنْ لَّمْ تَكُنْۢ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهٗ مَوَدَّةٌ ﴾ خامخا وائي چه ګويا ستاسو اووده ترمينځه دسره څه تعلق نشته ﴿ يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ مَعَهُمْ فَاَفُوْزَ فَوْزًا عَظِيْمًا ﴾ [په دې خبره افسوسونه كوى چه مال ئې د ګوتو اووتلو او] وائي چه هائې څه ښه به وې چه زه هم دغه خلقو سره شريك وې [يعنى په جهاد كښې] نو غټه كاميابى به راته شوې وه [چه مال دولت به مې راوړې وې او خود غرضي اوبې تعلقي ئې ددې وينا نه ښكاره ده ورنه د تعلقدارو په كاميابئ هم خلق خوشحاليږى داسې نه وى چه يواځې خپل ځان دپاره افسوس او هائې غم كوى اود تعلقدارو دكاميابئ اوخوشحالئ د سره څه نوم نه اخلى الله ﷻ دداسې كس په باره كښې فرمائى چه غټه كاميابى مفته نشى حاصليدلې كه څوك دا غواړى] ﴿ فَلْيُقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ الَّذِيْنَ يَشْرُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا بِالْاٰخِرَةِ ﴾ نو داسې كس له پكار دى چه دالله ﷻ په لار كښې [يعنى دالله ﷻ دكلمې سربلنده كولو په نيت چه په ايمان اواخلاقو اړه لرى يعنى مسلمان وى او مخلص جوړيدو سره]دغه [كافرو] خلقو سره په جنګ شئ چه د آخرت [ړېښودو] په بدل كښې ئې د دنيا ژوند خوښ كړې دې [يعنى كه دغه كس د غټئ كاميابئ شوق لرى نو زړه دې سم كړى لاس پښې دې خوښوى تكليف دې تير كړى د تورې نيزې مخې ته دې سينه ډال كړى بيا دې ګورى چه غټه كاميابى ورته په ګوتو ورځى اوكه نه.او مفته كاميابى موندل څه ګپ خونه دې. نو څوك چه دومره تكليف تير كړى رېښتينى كاميابى هم دهغه ده.ولې چه ددنيا كاميابى أول سپكه ده بيا كله وى اوكله نه وى.يعنى چه برې بيا مومى نو وى ګنى نه وى.اود آخرت كاميابى چه چاسره ئې وعده شوې وى هغه غټه هم ده اوپه هر حالت كښې هم ده ولې چه دهغې قانون دادې چه] ﴿ وَمَنْ يُّقَاتِلْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَيُقْتَلْ اَوْ يَغْلِبْ ﴾ څوك چې دالله ﷻ په لار كښې جنګيږى بياكه [مغلوب شى تردې چې] اووژلې شى يا برې بيا مومى ﴿ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ مونږ به [هر حالت كښې] هغه ته [د آخرت] لوئې اجر وركړو [چه غټه كاميابى ورته وئيل په حقه دى].

معارف اومسائل

ضرورى فائده [۱] :: ﴿ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا خُذُوْا حِذْرَكُمْ ﴾ ددې آيت په رومبئ برخه كښې دجهاد دپاره دوسلې برابرولو حُكم شوې دې،په بله برخه كښې دجهاد دپاره دګام پورته كولو بيان دې،ددې نه خوېږو، داخبره معلومه شوه چه ظاهرى اسباب برابرول توكل سره بې سمونه نه دى ځنګه چه په ګنړو خايونو كښې داخبره صفا شويده-

بله داخبره معلومه شوه چه دلته دوسلې برابرولو حُكم خوور كړې شويدې مګرداوعده نه ده كړې شوې چه ددې په وجه به تاسو يقيناً په امن يئ،دا ،دې خبرې ته اشاره ده چه اسباب برابرول دزړه دتسلئ دپاره وى،ورنه نفع،نقصان په دې څه اړه نه لرى لكه د الله تعالى ارشاددې:

﴿قُلْ لَّنْ يُّصِيْبَنَآ اِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَنَا﴾ اې نبی! تاسو او وایئ چه مونږ ته به څه تکلیف نۀ رسی مګر هغه چه مونږ دپاره مقرر شوې دي.

① په دې آیت کښې خو اول د جهاد دپاره د تیارئ حُکم ورکړې شوې دې. ﴿فَانْفِرُوْا ثُبَاتٍ اَوِ انْفِرُوْا جَمِيْعًا﴾ ثُبات د ثُبَة جمع ده، چه معنی ئې وړه ډله ده چه ورته فوجي دسته او ډله [سریه] وئیلې شي، یعنی تاسو جهاد دپاره یواځې په یواځې مه اوځئ بلکه د وړو وړو دستو او ډلو په شکل کښې اوځئ یا په ډیره ګڼره د پوره لښکر په شکل کښې اوځئ، ولې چه یواځې په یواځې جهاد کولو کښې د نقصان کیدو قوی احتمال وی او دُشمن د داسې موقعې نه پوره پوره فائده پورته کوی.

دا تعلیم خو مسلمانانو ته د جهاد موقعې دپاره ورکړې شویدې لیکن په عامو حالاتو کښې هم د شریعت دا تعلیم دې چه یواځې سفر مۀ کوئ، چنانچه په یو حدیث شریف کښې یواځې مسافر ته یو شیطان، دوؤ ته دوه شیطانان او دریؤ ته ډله فرمائیلې شویده[1]. دا شان په یو بل حدیث شریف کښې ارشاد دې: ﴿خير الصحابة اربعة وخير السرايا اربع مائة وخير الجيوش اربعة الاف [رواه الطبراني بحواله مشكوٰة]﴾[2] زیات غوره ملګری څلور دي او زیات غوره فوجي دسته څلور سوه دی او زیات غوره لښکر د څلورو زرو فوجیانو دې.

② ﴿وَاِنَّ مِنْكُمْ﴾ د دې آیت نه په ظاهره دا معلومیږی چه دا هم مؤمنانو ته خطاب دې حالانکه وړیسې ذکر شوی صفات د مؤمنانو نشی کیدې ځکه علامه قرطبی فرمائیلی دی چه د دې نه مُراد منافقان دی هر کله چه به هغوئ په ښکاره باندې د مسلمانیدو دعوی کوله ځکه ورته دلته د مؤمنانو یوه ډله وئیلې شویده[3].

وَمَا لَكُمْ	لَا تُقَاتِلُوْنَ	فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ	وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ
او آخر څه شوي دي په تاسو	چې نۀ جنګیږئ	په لار د الله کښې	حال دا چه کمزوری
آخر څه وجه ده چې تاسو د الله ﷻ په لار کښې جهاد نه کوئ		...............حالانکه هغه کمزوری	

مِنَ الرِّجَالِ	وَالنِّسَآءِ	وَالْوِلْدَانِ	الَّذِيْنَ	يَقُوْلُوْنَ	رَبَّنَآ	اَخْرِجْنَا
د سړو نه	او د ښځو نه	او د ماشومانو نه	هغه کسان	چې وائی	اې ربه زمونږه	راوباسې مونږ
سړی او ښځې او ماشومان چې هغوئ فریاد ونه کوی			او وائی چې اې زمونږه ربه مونږ اوباسه			

مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ	الظَّالِمِ	اَهْلُهَا	وَاجْعَلْ لَّنَا	مِنْ لَّدُنْكَ
د دې کلی نه	چې ظالمان دی	اوسیدونکی د دې	او پیدا کړې دپاره زمونږ	خپل طرف نه
د دې کلی [مکې] نه	ځکه چه د دې خلق ظالمان دی	او د خپل طرفه مونږ دپاره څوک ملګری او ګرزوه		

وَلِيًّا	وَّاجْعَلْ لَّنَا	مِنْ لَّدُنْكَ	نَصِيْرًا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا
دوست	او پیدا کړې دپاره زمونږ	د طرفه خپل نه	مددګار	هغه کسان	چې ایمان ئې راوړې دی
او د خپل طرفه مونږ دپاره څوک مدد کونکی پیدا کړه		...............کوم خلق چې ایماندار دی			

[1] المستدرک للحاکم رقم الحدیث: ۲۲۵۱، حدیث عبد الله بن یزید الأنصاری رضی الله عنه۔
[2] مشکوٰة، کتاب الجهاد، باب آداب السفر: ج ۲، ص ۳۳۹
[3] تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۵، ص ۲۷۶

يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ
هغوئ جنګ کوی| په لار دالله کښې| اوهغه کسان | چی دکفر په لاره روان دی| هغوئ جنګ کوی
هغوئ دالله ﷻ په لار کښې جهاد کوی| ....اوکوم چې کا فران دی هغوئ د
فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ فَقَاتِلُوْٓا اَوْلِيَآءَ الشَّيْطٰنِ ۚ اِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ
په لار د طاغوت کښې | نو اوجنګیږئ| ددوستانو دشیطان سره| بیشکه تدبیر| دشیطان
شیطان په لار کښې جنګ کوی| نودشیطان ملګرو سره په کلکه جنګیږئ | بیشکه دشیطان تدبیرونه
كَانَ ضَعِيْفًا ۝
دي کمزوری|
[د الله د تدبیر په مقابله کښې] ډیر کمزوری دی |

آسان ترجمه قرآن: او(اې مسلمانانو!) تاسو سره څه جواز دې چه د الله په لاره کښې اودهغه کمزورو سړو، ښځو او ماشومانو دخاطره جنګ نه کوئ چه هغوی دا دعا کوي چه اې څمونږ پروردګاره! مونږ لره دې کلي نه وباسې چه دهغې اوسیدونکي ظلم کوي او مونږته د خپل طرف نه څوك حمایتي پیدا کړې او مونږ لره د خپل طرف نه څوك مددګار پیدا کړې کومو خلقو چه ایمان راوړې دې هغوئ د الله په لاره کښې جنګ کوي، او کومو خلقو چه کفر کړې دې هغوی د طاغوت په لاره کښې جنګ کوي نو(اې مسلمانانو!) تاسو د شیطان د دوستانو سره جنګ وکړئ (یاد وساتئ چه) دشیطان چلونه په حقیقت کښې کمزوري دي.

خلاصه تفسیر

﴿وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ او تاسو سره څه عذر دې چې جهاد نه کوئی [سره ددې چه ددې مضبوط موجب موجود دے ولې چه دا جهاد] دالله ﷻ په لار کښې [وی یعنی دالله ﷻ دکلمے سربلنده کولو دپاره وی چه بندوبست کول ئے ضروری دی] ﴿ وَالْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ ﴾ او [ددین دپورته کولو دنخښنو نه دیوے خاصے نخښے ضرورت هم په مخکښې دے هغه دا چه] دکمزورو [ایماندارو] په خاطر [هم جهاد کول ضروری دی چه هغوی دکافرو د زور ظلم نه خلاص شی] په کومو [بےوسو کښې] چه څه سړی څه ښځې او څه ماشومان دی ﴿ الَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا ۚ وَّاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا ۝ ﴾ چه [دکفارو دلاسه په مخه تنګ او سخت پریشان دی او] دعا کوی چه ائې زمونږ پروردګاره مونږ لره [په څه شان] ددې آبادئی نه [یعنی دمکے نه چه زمونږ دپاره قید خانه جوړه شوې ده] بهر ته اوباسے چه اوسیدونکی ئے سخت ظالمان دی چې په مونږ ئې مصیبت مسلط کړې دې اوزمونږ دپاره دغیب نه څوك مرستیال راولیږه [چه زمونږ مرسته اوکړی او ددې ظالمانو دپنجے نه مو خلاص کړی]. ﴿ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ۚ ﴾ څوك چه پاخه ایماندار دی [هغوی خو ددې احکامو په آوریدو] دالله ﷻ په لار کښې [یعنی د اسلام دغلبے موندلو په قصد] جهاد کوی ﴿ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا يُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ الطَّاغُوْتِ ﴾ او کوم خلق چه [ددوی په مقابله کښې] کافر دی هغوی دشیطان په لار کښې [یعنی دکفر دغلبے په قصد سره] جنګیږی [او ښکاره خبره ده چه په دې دارو کښې دالله ﷻ له طرفه امداد به ایماندارو سره وی هرکله چه ایماندارو سره دالله

Scanned with Ca

ﷺ امدادي] نو [ائې دايمان خاوندانو] ﴿ فَقَاتِلُوٓاْ أَوْلِيَآءَ ٱلشَّيْطَٰنِ ﴾ تاسو د شيطان ملګرو سره [يعني كفاروسره چه دالله ﷻ د امداد نه بې نصيبه دي] جهاد كوئى [اواګرچه هغوى هم د غلبې مونډلو مختلف انتظامونه اوچلونه كوى ليكن] ﴿إِنَّ كَيْدَ ٱلشَّيْطَٰنِ كَانَ ضَعِيفًا﴾ په واقع كښې [دغه شيطاني چلونه دي چه شيطان ورته ددغه كفري انتظاماتو حكم كوى] شيطاني چل [پخپله] پرسيدلې وى [ولې چه په هغې كښې غيبي امداد نه وى اوكله دڅو ورځو غلبه كيدل ورته دڅو ورځو مهلت وركول وى نوغيبي امداد چه مومنانو سره دے دغه چل به دهغې څه مقابله اوكړې شي]. خلاصه داشوه چې دجهاد وجه هم موجوده ده او د نصرت وعده هم نو بيا څه عذر دې ؟لهذا مكرر تاكيد اوكړې شو.

معارف او مسائل

دمظلوم فرياد آوريدل داسلام يوه اهمه ذمه داري ده: ﴿وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ په مكه مكرمه كښې دهجرت كولونه داسې مسلمانان پاتې راغلى ووچه په بدن كمزوري وواودهجرت سامان اوذريعې ئې هم نۀ لرې، اوبيا كافرانو هم دهجرت كولونه بند كړي وواو قسماقسم تكليفونه ئې وركول مطلب ئې دا ووچه دغه كسان داسلام نه هم واوړى، دې كښې څنې داسې حضرات شامل ووچه نومونه ئې په تفسيرونو كښې راغلى دى لكه حضرت عبدالله بن عباس ﵄ دده مورببى ، سلمه بن هشام ﵄ وليدبن وليد اوابوجندل بن سهل[قرطبى][1]- خودې حضراتوايمان هركله چه مضبوط وو، دغه مصيبتونه اوتكليفونه ئې زغمل اوپه اسلام باندې ډيرڅخت ټينګ پاتې كيدل .البته دوئ به ددغه مصيبتونونه دخلاصى دعاګانې، په مخه دالله تعالى نه كولې، آخرئې الله تعالى دعاګانې قبولې كړې اومسلمانانوته ئې حكم وركړوچه په جهاد كولوسره، دوئ د كفارو د زور ظلم نه خلاص كړئ-

په دې آيت كښې ددوهغه څيزونوبيان دې چه مؤمنانوئې دالله تعالى نه خواست كړې وو، يوداووچه مونږ دې كلي [مكې مكرمې]نه اوباسې، بله داچه زمونږ څوك مرستيال اوامدادي راته راولیږې، اوالله تعالى ددوئ دغه دواړه خواستونه په داشان منظور كړل چه بعضوته ئې دغه ځائې نه دوبستلوموقعې برابرې كړې اوڅنې هم دغلته پاتې شول تردې چه مكه مكرمه فتح شوه اورسول الله ﷺ هلته، عتاب بن اسيدلره په دې كارناظم مقرر كړوچه دغه مظلومان دظالمانو دپنجې نه خلاص كړى-په دې آيت كښې[په صفاتكوكښې]دجنګ كولوپه ځائې قرآن كريم دالهجه اوطريقه اختيار كړه: ﴿وَمَا لَكُمْ لَا تُقَٰتِلُونَ﴾چه پكښې دې خبرې ته اشاره ده چه په داسې حالاتوكښې جنګ اوجهاد كول يوطبعي اوفطري ذمه داري ده چه نۀ پوره كول ئې ډيرشه بنده دشان نه ډيره لوې خبره ده-

دتولومصيبتونو پوره علاج الله تعالى ته دُعاغوښتل دي: په آيت﴿يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَخْرِجْنَا﴾كښې دا اوښودلې شوچه دجنګ كولويوسبب دكمزورو مسلمانانو، نارينوزنانودُعاوه، داالله تعالى داسې قبوله كړه چه مسلمانانوته ئې دجهاد حُكم وركړواودهغوئ مصيبتونه ئې سمدستى ختم كړل-

جنګونه څوهرقسم خلق كوي خودې ته دكافرانواومسلمانانومقصدونه بيل بيل وي: ﴿ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يُقَٰتِلُونَ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ الخ كښې دااوښودلې شوچه مؤمنان دالله تعالى په لاركښې جنګيږي اوكافران

---

[1] تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۲۷۹

Scanned with Ca

دَشیطان په لار کښې . دې نه په ډاګه داخبره ښکاره کیږی چه دَمؤمنانو دَمنډو تړرو مقصدداوی چه په دُنیاکښې دَالله تعالی قانون جاری وی اودَهغه حکم اُوچت وی،ولې چه الله تعالی د مخلوق مالک دې اودَهغه قانون خالص په انصاف بِنادې،کله چه دَانصاف حکومت قائم شي نوهله پر امن بناء کیدې شی،ولې چه په دُنیاکښې امن قائمیدودپاره داضروری دی چه دلته دَ الله تعالیٰ قانون جاری وی،نودکامل مؤمن مقصددَجنګ کولونه هم داوی خوبل خواته دَ کفارودا خواهش وی چه کُفرد جاری وی اوغلبه دهم دکُفروی شیطانی قُوتونه ددحکومت غړی وی چه په دُنیاکښې کُفراوشرک ښه ترقی اوکړی،هرکله چه کُفراوشرک دَشیطان لارې دی نو کافران دَشیطان په کارکښې هغه سره لاس امدادکوی-

دَشیطان تدبیرکمزورې دې ﴿إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيفًا﴾په دې آیت کښې داښودلې شوی دی چه دَشیطان تدبیرونه پرسیدلې اوکمزورې دی چه دَهغې په وجه هغوئ دَمسلمانانو هیڅ نقصان نشی کولې، لهذامسلمانانوله پکاردی چه دَشیطان دوستانو [کافرانو] سره په جنګ کولوکښې په هیڅ شان زړهٔ نهٔ وهی[زړهٔ نه چوی] ولې چه دَدوئ مددګارالله تعالی دې اودَشیطان تدبیربه دکافرانو هیڅ پکارر انشی. لکه چه دَبدرپه جنګ کښې همداسې اوشو،په دغه موقعه دکافرانوپه وړاندې شیطان لاپې کولې دهٔ کافرانوته داپوخ یقین ورکړوچه﴿لَا غَالِبَ لَكُمُ الْيَوْمَ﴾ [ننن در باندې هیڅوک نشی بَرکیدلې]اولې چه﴿وَإِنِّي جَارٌ لَكُمْ﴾[زهٔ ستاسوامدادی یم]زهٔ به خپل ټول لښکرسره ستاسو د امداددپاره راځم-دجنګ په شروع کیدوهغه همدغسې اوکړل خپل لښکرسره دَجنګ میدان ته راغلوچه هلته ئې فرښتې اولیدې چه دَمسلمانانودَملاتړدپاره راغلې وې نووس ئې بیانهٔ موندو او مخ په شاتې منډې کړې اوخپلودوستانو [کافرانو]ته ئې اووئیل﴿وَقَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِنْكُمْ إِنِّي أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ ۚ وَاللَّهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ﴾[زهٔ تاسونه بیزاره یم،ولې چه زهٔ هغه څیزوینم چه تاسوپرخبرنهٔ یئ]چه هغه دَفرښتولښکردې]زهٔ دَالله تعالی نه ویریږم ځکه چه هغه سخت عذاب ورکوونکې دې] -[مظهری](۱)

په دې آیت کښې دَشیطان تدبیرته په دې شرط کمزورې وئیلې شوی دی چه هغه دَمسلمان خلاف تدبیرکوی بل داچه دَمسلمان کارخالص دَالله تعالی دَرضادپاره وی،څه دُنیوی یاذاتی غرض ئې پکښې نهٔ وی،چنانچه ړومبې شرط دَ﴿الَّذِينَ آمَنُوا﴾نهٔ اوبل شرط دَ﴿يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾نه معلومیږی، که په دې دواړوشر طونوکښې یوهم نه وی نوبیاداضروری نهٔ ده چه دَشیطان تدبیردې دَدهٔ په مقابله کښې کمزورې وی،

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما اوفرمائیل چه، ،کله تاسوشیطان اووینئ نوبې دځه ویرې ترهې پرحمله کوئ، ،اوپه دلیل کښې ئې داآیت مبارک تلاوت کړو﴿إِنَّ كَيْدَ الشَّيْطٰنِ كَانَ ضَعِيفًا﴾[احکام القرآن](۲)

أَلَمْ تَرَ	إِلَى الَّذِينَ	قِيلَ	لَهُمْ	كُفُّوا
آیا اونهٔ لیدل تا	هغه کسان	چې اووئیلې شو	هغوئ ته	چې بند کړئ
ته هغه خلقو ته نه گورې چې ورته وئیلې شوی وو				

(۱) تفسیر المظهری: ج ۲، ص ۱۶۵

(۲) تفسیر ابن ابی حاتم رقم الحدیث: ۵۶۵۵

Scanned with Ca

اَيۡدِيَكُمۡ	وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ	وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ	فَلَمَّا	كُتِبَ	

لاسونه خپل | اوقائموئ مونځ | او ورکوئ زکاة | نو هر کله | چي فرض کړې شو
چي خپل لاسونه [دجنګ نه] بند کړئ | اومونځ قائموئ | اوزکاة ورکوئ | نواوس چي هر کله

عَلَيۡهِمُ	الۡقِتَالُ	اِذَا	فَرِيۡقٌ	مِّنۡهُمۡ	يَخۡشَوۡنَ	النَّاسَ

په هغوئ باندي | جهاد | نو اوس دا حال دي چي | يوه ډله | دهغوئ نه | يريږي | دخلقو نه
هغوئ ته د جهاد حکم ورکړې شوا نو په دوی کښي ديوې ډلي دا حال دي چي د خلقونه داسي يريږي

كَخَشۡيَةِ	اللّٰهِ	اَوۡ اَشَدَّ خَشۡيَةً ۚ	وَقَالُوۡا	رَبَّنَا	لِمَ كَتَبۡتَ	عَلَيۡنَا

پشان دويرې | دالله | يا | زياته يره | اووائي | اې ربه زمونږه | ولي فرض کړو تا | په مونږ
لکه څنګه چي دالله نه يره پکار ده | بلکه ددې نه هم زيات يريږي | او وائي چي اې زمونږ ربه په مونږ دي

الۡقِتَالَ ۚ	لَوۡلَاۤ اَخَّرۡتَنَاۤ	اِلٰۤى اَجَلٍ	قَرِيۡبٍ ؕ	قُلۡ	مَتَاعُ الدُّنۡيَا	

جهاد | ولي دې روستو نۀ کړومونږه | دنيتي | نزدې پورې | ورته اووايه | سامان د ژوند ددنيا
ولي جهاد فرض کړوا ولي دې مونږ ته نور مهلت رانکړوا [اې پيغمبره] ته ورته اووايه چي ددنيا ژوند

قَلِيۡلٌ ۚ	وَالۡاٰخِرَةُ خَيۡرٌ	لِّمَنِ	اتَّقٰى	وَلَا تُظۡلَمُوۡنَ	فَتِيۡلًا ﴿۷۷﴾	

لږدې | اوآخرت ډيرښه دې | دپاره دهغه چا | چي يريږي | اونۀ به کيږي ظلم په تاسو | د تار برابر
ډيرلږ دې | اودپرهيزګارو دپاره آخرت ډيرغوره دې | .... او په تاسو به بيخي ظلم نشي کولې

اَيۡنَ مَا	تَكُوۡنُوۡا	يُدۡرِكۡكُّمُ	الۡمَوۡتُ	وَلَوۡ	كُنۡتُمۡ	فِىۡ بُرُوۡجٍ

هر چرته چي | يئ تاسو | رالاندې به کړي تاسولره | مرګ | اګر که | يئ تاسو | په قلاګانو
[پاتې شو مرګ] نو چه هرځاې کښي ئې مرګ به درته ضرور راځي | اګر که په مضبوطو قلاګانو کښي

مُّشَيَّدَةٍ ؕ	وَاِنۡ تُصِبۡهُمۡ	حَسَنَةٌ	يَّقُوۡلُوۡا	هٰذِهٖ مِنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ ۚ	وَاِنۡ	

مضبوطو کښي | اوکه اورسي دوئ ته | څۀ خير | نو وائي | دا دطرفه دالله نه دې | اوکه
محفوظ ئې | اوهر کله چي دوئ ته څه فائده اورسي | نو وائي چي دا د الله ﷻ دطرفه مقرر ده | اوکه

تُصِبۡهُمۡ سَيِّئَةٌ	يَّقُوۡلُوۡا	هٰذِهٖ مِنۡ عِنۡدِكَ ؕ	قُلۡ كُلٌّ	مِّنۡ عِنۡدِ اللّٰهِ ؕ		

اورسي دوئ ته څه مصيبت | نووائي | دادې دطرفه ستانه | اووايه چي ټول | دطرفه دالله نه دی
دوئ ته څۀ نقصان اورسي | نو دوئ وائي چي دا ستادطرفه دې | ته ورته اووايه چي دا ټول هرڅه دالله دطرفه دی

فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ	الۡقَوۡمِ	لَا يَكَادُوۡنَ	يَفۡقَهُوۡنَ	حَدِيۡثًا ﴿۷۸﴾	مَاۤ اَصَابَكَ	

نوڅه شوي دی په دې | خلقو | چي نۀ دی نزدې دې ته | چي پوهه شئ | په څه خبره | څه چه اورسيدل تاته
آخرپه دوئ څه شوي دی چي په هيڅ خبره نه پوهيږي | .... تا ته چي څه

مِنۡ حَسَنَةٍ	فَمِنَ اللّٰهِ ۚ	وَمَاۤ اَصَابَكَ	مِنۡ سَيِّئَةٍ	فَمِنۡ نَّفۡسِكَ ؕ		

د خير نه | نو دطرفه دالله نه دی | او څه چي اورسيدل تاته | د شر نه | نو هغه دنفس ستا نه دی
خير رسي | نود الله ﷻ په مهرباني دررسي | اوچي کوم نقصان دررسي | نوهغه دخپل عمل په وجه دررسي

وَاَرۡسَلۡنٰكَ	لِلنَّاسِ	رَسُوۡلًا ؕ	وَكَفٰى بِاللّٰهِ	شَهِيۡدًا۝
اولیږلي نې مونږ ته [اې محمده]	دپاره دخلقو	رسول	او کافي دې الله	[په حیثیت دګواه]

اواې پیغمبره ته خومونږ تولو خلقوته رسول لیږلي نې او په دې خبره صرف دالله ګواهي کافي ده.

آسان ترجمه قرآن: آیا تاهغه خلقو لره لیدلي دي چه هغوی ته (په مکې ژوندکښ) وئیلې شوې وو چه خپل لاس بند کړئ . او مونځ قایم کړئ او زکوة ورکړئ بیا چه کله په دوی جنګ فرض شو نو دوی کښ یوه ډله (ددښمن) دخلقو نه داسې ویریدل لکه چه د الله نه ویریدل پکار دي . یا دې نه هم زیات په ویریدل ، او داسې خلقو وئیل چه اې زمونږ پروردګاره! تا په مونږ جنګ ولې فرض کړو . ولې دې مونږ ته لږ مهلت رانکړو؟ ته ووایه چه ددنیا فایده لږه ده ، او کوم یو کس چه تقویٰ اختیاروي هغه دپاره آخرت غوره دې او په تاسو به د تار برابر ظلم هم ونه شي تاسو چه کوم ځائ هم یئ (یونه یوورځ) به مرګ تاسوته ورسي خواه که تاسو په مضبوطو قلعه کانو کښې ولې نه اوسیږئ او که دې منافقانوته څه خوشحالي ورسي نودوی وائي چه دا د الله دطرف نه ده او که دوی ته څه مصیبت ورسي نو (اې پیغمبره!) دوئ (تاته وائي) چه دا مصیبت ستا دوجې نه دې ته ووایه چه دا هرڅه د الله د طرف نه دي په دې خلقو څه شوي دي چه دوی یوې خبرې پوهیدو ته نزدې کیږي هم نه؟ تاته چه څه خوشحالي ورسي نو هغه صرف د الله د طرف نه وي او چه تاته کوم مصیبت رسي نو دا ستا د وجې نه وي او (اې پیغمبره!) مونږ ته دَخلقو دپاره رسول رالیږلي ئې او الله (ددې خبرې) ګواهۍ دپاره کافي دې.

خلاصه تفسير

[ائې مخاطبه] ﴿ اَلَمۡ تَرَ اِلَى الَّذِيۡنَ ﴾ آیا تاهغه خلق اونه لیدل [دجهاد دحکم د نازلیدو نه مخکښې خو دجنګ کولو داسې تقاضا وه چه] ﴿ قِيۡلَ لَهُمۡ كُفُّوۡۤا اَيۡدِيَكُمۡ ﴾ دوی لره [منع کولو دپاره] داسې وئیلې شوی وو چه [اوس] خپل لاسونه [دجنګیدو نه] بند ساتئ [څه حکمونه چه درته شوی دی په هغې کښې لګیا اوسئ لکه] ﴿ وَاَقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ ۚ ﴾ دمونځونو پابندي کوئی اوزکات ورکوئی [یا خودا حالت وو اویا] ﴿ فَلَمَّا كُتِبَ عَلَيۡهِمُ الۡقِتَالُ اِذَا فَرِيۡقٌ مِّنۡهُمۡ ﴾ کله چه پرے جهاد کول فرض کړې شو نودا حال ئے شو چه په دوی کښې یونیم کس [د مخالفو] ﴿ يَخۡشَوۡنَ النَّاسَ كَخَشۡيَةِ اللّٰهِ اَوۡ اَشَدَّ خَشۡيَةً ۚ ﴾ خلقو نه [بالکل] داسې په ویره شو [چه مونږ به اووژنی] ځنګه چه [څوک] دالله ﷻ نه ویریږی بلکه ددې نه هم زیات ویریدل [د زیاتو ویریدو دوه معنے کیدیشی یوه دا چه اکثر دالله ﷻ نه ویریدل وی او دښمن نه ویریدل طبعي وی او قاعده داده چه طبعي حالت د عقلي حالت نه سخت وی.بله دا چه الله ﷻ نه ځنګه ویره ده هغه شان ترې د رحمت امید هم شته اوکافر دښمن نه خو هم خاص دضروري ویره وی اوچونکه دا ویره طبعي وه ځکه ګناه نه شوه] او [یا د جنګ دحکم دایساریدو په آرزو کښې ئے] ﴿ وَقَالُوۡا رَبَّنَا لِمَ كَتَبۡتَ عَلَيۡنَا الۡقِتَالَ ۚ ﴾ داسې وئیل شروع کړل [په ژبه یا په زړه کښې اودالله ﷻ په علم کښې د زړه او ژبے خبرے یو برابر دی] چه ائې زمونږ پروردګاره تا د اوسه نه په مونږ جهاد ولے فرض کړو ﴿ لَوۡلَاۤ اَخَّرۡتَنَاۤ اِلٰٓى اَجَلٍ قَرِيۡبٍ ؕ ﴾ مونږ ته به دې [په خپله مهربانئ] نوره لږه موده مهلت راکړې وے [چه لږ په بے فکرئ مو خپل ضروریات پوره کړې وے اوهر کله چه دا عرض کول د اعتراض یا انکار

د وجې نه وو خکه د گناه کار نشو اوس ورپسې جواب داسې دے چه ائې محمد ﷺ ﴿ قُلْ مَتَاعُ الدُّنْيَا قَلِيْلٌ ﴾ تاسو اوفرمائې چه دنيا نه فائده اخستل [چه دې دپاره د مهلت تمنا کوئی] خالص دخو ورځو دی ﴿وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى﴾ او آخرت [چه د حاصلولو اعلی ذریعه ئې جهاد ده] په هر شان غوره دے [مگردا] هغه څالره [دې] چه دالله ﷻ دمخالفت نه بچ شی [خکه چه که دکفر په ډول ئې مخالفت اوکړو نو بيا هغه دپاره د آخرت سامان هيڅ قدرې هم نشته اوکه گناه ترې اوشوه نواعلی درجې نه به بے نصيبه شی] ﴿ وَلَا تُظْلَمُوْنَ فَتِيْلًا ﴾اوپه تاسو به لږ ظلم هم نشی کولې [يعنی څومره عملونه چه وی دهغې به پوره پوره ثواب درکولې شی نوبيا دجهاد غوندې عمل دثواب نه ولے خالی لاس پاتې کيږئې اوکه جهاد موهم اونکړونو په تاکلی وخت به دمرگ نه بچ شئ څه؟هيچرې نه ولے چه دا د مرگ شان دې].

﴿ اَيْنَ مَا تَكُوْنُوْا يُدْرِكْكُّمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِيْ بُرُوْجٍ مُّشَيَّدَةٍ ﴾که تاسو هر ځائې کښې يئ هلته به مو مرگ رالاندے کړی اگر چه پخو مضبوطوقلاگانو کښې [هم] يئ [غرض دا چه هرکله مرگ به په خپل وخت خامخا راځی اوپه مرگ به دنيا پريښودل راځی نو آخرت ته دې تش لاس ولے لاړ شئ بلکه دعقل خبره داده چه

چند روز آ جد کن باقی بخند

ترجمه: يعنی څو ورځې کوشش اوخواری اوکړه بيا تل دپاره خانده.

﴿ وَاِنْ تُصِبْهُمْ حَسَنَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ ﴾ اوکه دغے خلقو [منافقينو] باندې څه ښه حالت راشی [لکه فتح او برے] نو وائی چه دا دالله ﷻ له طرفه [بے هيسه] ناگاهانه] اوشو [ورنه دمسلمانانو په بے انتظامئ کښې خو هډو څه کسر نه وو پاتې] ﴿وَاِنْ تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَّقُوْلُوْا هٰذِهٖ مِنْ عِنْدِكَ﴾ او که څه خراب حالت پرې راشی [لکه جهادکښې مرگ او ژوبله]نو [ائې محمد نعوذ بالله ستاسو په نسبت] وائی چه دا ستاسو [اودمسلمانانو د بے انتظامئ] په وجه اوشو [گنی په آرام به کورونوکښې ناست وو نو ولے به دے مصيبتونوکښې راگيريدو] ﴿ قُلْ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ ﴾ تاسو اوفرمائی چه [په دې کښې خو زما هيڅ دخل نشته بلکه] ټول هر څه [ښه والئ او خرابوالئ] صرف دالله ﷻ د طرفه دے [اگر چه يو نيغ په نيغه او بل په واسطے سره دےلکه چه زر ترزره به يئ تفصيل راشی. حاصل دادې چه نعمت خو صرف دالله ﷻ په فضل سره دے دچا په عملونو اړه نه لری اونقمت يعنی مصيبت اوخرابوالے دالله ﷻ دعدل په جوړ دبندگانو دبدعملونوپه وجه دی. نو تاسو چه مصيبت زما په وجه گنړئې په واقع کښې ستاسو د بدو عملونو په نتيجه کښې وی لکه په احد کښې چه دشکست وجې بيان کړی شوی دی اودا خبره ډيره زياته ښکاره ده چه که څوک لږ شان هم ژور نظر واچوی نودې خوشحالئ نه به مخکښې يو نيک عمل هم ددې درجې بيا نه مومی بلکه دا به صرف دالله ﷻ فضل ثابت شی اود بدحالئ نه به مخکښې څه بدعمل داسې ضرور بيا مومی چه سزا به ددې نه زياته کيدله هرکله چه دا داسې ښکاره خبره ده] ﴿ فَمَالِ هٰٓؤُلَآءِ الْقَوْمِ ﴾ نو په دې [ازلی بے وقوفو] خلقو څه شوی دی چه ﴿لَا يَكَادُوْنَ يَفْقَهُوْنَ حَدِيْثًا﴾د خبرے پوهيدو خواته هم نه وررسی [اوکه پوهه شی نو څه او ددغه ذکر شوی اجمال تفصيل جواب داسې دې چې] ﴿ مَآ اَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ﴾ ائې انسانه تاته چه څه ښه حالت راپيښيږی هغه صرف دالله ﷻ د طرفه [فضل] دے ﴿وَمَآ اَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَّفْسِكَ﴾ اوچه څه

Scanned with Ca

بدحال درباندې راشي نوهغه هم ستا [بدو عملونو] په وجه دي [نودا بدحالي دشريعت په احكامو باندې دعمل كولونتيجه بلل يا شارع ﷺ ته ددې نسبت كول پوره ناداني ده څنګه به چه منافقانو ددې نسبت جهاد يا امام الجهاد ته كولو] ﴿ وَأَرْسَلْنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ﴾ او مونږ تاسولره ټولو خلقو ته دپيغمبر په حيث ليږلے ئې او كه[څوك منافق ياكافر انكار كوي نو په هغې سره پيغمبرى كله نفي كيديشي ځكه چه] ﴿ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ﴾ الله ﷻ [ستاسو دپغمبرئ] ګواه كافي دے [چه هغه په قول او فعل سره ګواهي وركړې ده قولي ګواهي خو لكه داده چې وې فرمائيل ﴿ارسلنك الخ﴾ او فعلي ګواهي ئےداده چه معجزات ئے دركړل چه ستاسو پغمبري ورسره ثابتيږي].

معارف اومسائل

شانِ نزول: ﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ قِيلَ لَهُمْ كُفُّوٓا۟ أَيْدِيَكُمْ﴾ دهجرت كولونه وړاندې به مسلمانانولره كافرانو په مكه مكرمه كښې ډيرسخت تنګول، مسلمانانوبه درسول الله ﷺ په خدمت كښې داخواست كولوچه مونږدكفاروسره جنګ اوكړوچه دظلم بدله تراخلو-هغوئ به مسلمانان دجنګ نه بندول اوفرمائيل به ئې چه ماته دجنګ حكم نشته دي بلكه دصبر كولواودكافروپه ظلم ددرګزر كولو حكم راته شويدې اودابه ئې هم فرمائيل چه اوس تاسوهغه حكمونه په مخه پوره كوئ چه دمونځ كولواوزكواة اداكولوپه باره كښې درته شويدې ځكه چه څوپورې يوبنده دالله تعالى په تابعدارئ كښې په خپل نفس باندې دجهادكولواوپه خپلوبدنونو باندې د تكليفونو تيرولو عادت نشي او دمال لګولوعادت هم نۀ وي نوهغه ته جهادكول اودخپل خان قرباني وركول ډير ګران وي، داخبره مسلمانانوقبوله كړې وه، بيادهجرت نه پس چه مسلمانانوته دجهادحكم اوشونودوئ له خوشحاليدل ځكه پكاروچه دجهادخواست ئې قبول شو، نوځنې كچه مسلمانان، كافرانوسره دجنګ كولونه داسې په ويره شوځنګه چه دالله تعالى دعذاب نه ويره پكاروي يادډې نه هم زيات په ويريدوشو، اودا آرزوئې لرله چه څۀ لږه موده نوره هم دجهادحكم نۀ راتلې چه مونږ ژوندى وې نوښه به وه نودغه آيتونه نازل شو[روح المعاني][1]

چه دجهادحُكم نازل شونومسلمانانودا آرزو ولې لرله چه داحُكم داوس ايسار كړے شي: مسلمانانو چه دا آرزو لرله چه دجهادحكم دڅه نوروخت هم ايساركړې شي داپه حقيقت كښې څه اعتراض نۀ وو بلكه يومزيدارشكايت داسې ووچه هركله دجادلاسه خلقوته څه تكليف رسي نودبدلې اغستوجذبات ئې راپورته شي اوپه دغه وخت جنګ كول ورته آسان وي، خوهركله چه آرام اوراحت بيامومي نوجنګ كول ئې زړۀ نۀ غواړي داپوبشري اوانساني تقاضاده. دهجرت نه وړاندې په مكه مكرمه كښې مسلمانان دكفارودلاسه ډيرتنګ وونودغه وخت ئې دجهاد آرزو او خواستونه كول دهجرت كولونه پس هركله چه مدينه منوره كښې په آرام شواودجنګ كولوحكم ورته اوشونوآرزوئې اولرله چه دا وخت داحكم نۀ وې شوې نوغوره به وه ځكه چه ددوئ دجنګ كولوهغه زوړ جوش تقريباً ختم وو. لهذاددوئ دغه آرزوهم په دغې بناوه څه اعتراض كول ئې مطلب نۀ ووچه نسبت دګناه ورته اوكړې شي-اوداصورت هم هله جوړيدې شي چه دغه آرزوئې په

---

[1]) روح المعاني تحت هٰذه الآية: ج۵، ص ۸۵

Scanned with Ca

ژبه هم ښکاره کړې وي او که صرف په زړه کښې دا وسوسه پیدا شوي وي نو دزړهٔ د وسوسې خوشریعت، دسره په ګناه کښې شمیر کړی نهٔ دی، هرکله چه دلته دادواړه احتماله کیدې شی نو ﴿قالوا﴾ نه داشبه ځکه نهٔ دی کول پکار چه ګنې دوئ به په ژبه داالفاظ راوړی وی ولې چه ددې معنی په زړهٔ کښې هم وئیل کیدې شی[بیان القرآن په لنډو] (۱)-

ځنې مفسرینو فرمائیلی دی چه ددې آیتونو تعلق مؤمنانو سره نهٔ بلکه منافقانو سره دې په دې صورت کښې هیڅ قسم مشکل نه پیدا کیږی[تفسیر کبیر] (۲)

دملک داصلاح نه دخپل ځان اصلاح وړاندې ده: ﴿وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ﴾ الله تعالی اول دمونځ اوزکواة احکام بیان کړل، چه دځپل ځان داصلاح سبب دی بیا وروسې دجهاد حُکم ئې اوکړو چه دملک داصلاح سبب دی مطلب داچه ددې په ذریعه، ملک نه زورظلم ختمولې شی او هله په ملک کښې امن او امان قائمیدې شی-دې نه معلومیږی چه بنده لره دځپل ځان اصلاح دنورچاداصلاح کولو نه رومبې پکارده، چنانچه ددرجې په لحاظ سره هم داول قسم اصلاح حُکم فرض عین دې او ددویم قسم حُکم فرضِ کفایه دې په دې لحاظ دنفس داصلاح ضرورت اوددې وړاندې کیدل ښکاره دی[مظهری] (۳)

دُنیا او آخرت په نعمتونو کښې فرق: په آیت شریف کښې ددُنیادنعمتونو په مقابله کښې دآخرت نعمتونه زیات غوره ځکه بللې شوی دی چه وجوهات ئې دادی:

① ددُنیا نعمتونه لږ او دآخرت نعمتونه ډیر دی-
② ددُنیا نعمتونه ختمیږی او دآخرت نعمتونه نهٔ ختمیدونکی دی-
③ ددُنیا نعمتونو سره قسما قسم پریشانئ هم وی او دآخرت نعمتونه ددې نه بیخی پاک دی-
④ ددُنیادنعمتونو حاصلیدل یقینی نهٔ دی او دآخرت نعمتونه به هرمتقی ته یقیناً ملاویږی [تفسیر کبیر] (۴)-

ولاخير فى الدنيا لمن لم يكن له — من الله فى دار المقام نصيب
فان تعجب الدنيا رجالا فانها — متاع قليل والزوال قريب

په دې نهٔ پائیداره دنیا کښې داسې کس دپاره هیڅ خیرنشته چه ورد پاره دالله تعالی دا ړخه په پائیداره کور[آخرت]کښې څه ځائې نه وی-

که دادُنیا څه کسان اوغواړی نوخبردارشئ چه دادُنیا-لږ سامان دې چه زائله کیدل [ختمیدل] ئې ډیر نژدې دی[یعنی مړ کیدوسره آخرت مخې ته راشی]-

یو مرتاکه واقعه: ﴿أَيْنَ مَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ﴾ الخ الله تعالی دجهاد په دې آیت سره دجهادنه دایساریدونکو داشک لرې کړو چه دجهادنه دایساریدو په وجه به هغوئ خپل ځانو نه دمرګ نه بچ نه کړې شی، چنانچه وې فرمائیل چه مرګ خواه مخواه یووخت راتلونکې دې اګرچه تاسو په هرمقام کښې یئ، لهذا دجهادنه مخ اړول بیکاره دی-

---

۱) تفصیل دپاره: بیان القرآن تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۳۵
۲) التفسير الكبير للرازى تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۲۸۸
۳) تفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۲۶۵
۴) التفسير الكبير للرازى تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۲۸۸

Scanned with Ca

حافظ ابن کثیر د دې آیت د لاندې یوه عبرتناکه واقعه په روایت د ابن جریر او ابن ابی حاتم، د مجاهد نه داسې لیکلې ده چه په پخوانو امتونو کښې دیوې ښځې د اولاد خیږولو وخت شو او ماشوم ئې لږ وخت پس پیدا شونو ملازم [نوکر] ئې د اور راوړلو د پاره اولیږلو چه دروازې ته وتونو یو سړې مخې له ورغلو هغه دغې نوکر نه تپوس اوکړو چه دغې ښځې څوک خیږولې دی؟ ملازم ورته اووئیل چه جینئ. دغه سړی ورته اووئیل چه یاد لره دغه جینئ به سلو سړو سره زنا کوی، او مرګ به ئې د یو جولاګی نه وی. نوکر چه دا ا واوریدل نو واپس شو سمدستی ئې چاړه راواغسته او د دغې ماشومې خیټه ئې پرې څیرې کړه، چه د دې د مرګ کیدو خیال ئې اوکړو نو دویرې نه چرته اوتښتیدو. مور د دغې ماشومې خیټه ټانکه کړه، هغه جوړه شوه او بیا پیغله شوه، د ښیرې په ښکلا کښې د غلته هغې ته یوه جینئ هم نشوه رسیدې. دغه ملازم په تښتیدو سمندر ارخ ته تلې وو، هلته ئې تر ډیره وخته دنیا ګټله او بیا د واده کولو لپاره ښار ته واپس راغلو او دلته یوه بوډئ ملاؤ شوه نو هغې ته یې ذکر اوکړو چه دې ښار کښې هغې جینئ سره واده کول غواړم چه په دې ښار کښې ئې د ښکلا ثانی نهٔ وی، دغې بوډئ ورته د دغې ښکلې جینئ نخښه پته ورکړه. هغې سره ئې واده اوشو، جینئ ترې تپوس اوکړو چه ته څوک ئې او چرته اوسیږې؟ دغه نوکر ورته اووئیل چه هم د دې ښاریم، دیوې ماشومې جینئ خیټه م څیرې کړې وه، دویرې نه تښتیدلې وم، او دغه شان ټوله قیصه ئې ورته بیان کړه. د دې په آؤریدو ورته هغه جینئ اووئیل چه هغه جینئ هم زهٔ یم، په ثبوت کښې ئې ورته خیټه اوښودله چه د څیرې کیدو نخښه پرې ښکاریده. سړی ورته اووئیل چه که ته هم جینئ ئې نو ستا باره کښې د وه خبرې در ته ښکاره کوم، یو دا چه ته به سلو سړو سره زنا کوې، او بله دا چه د جولاګی نه به مرې. ښځې د اولې خبرې اقرار اوکړو خو شمیر ورته [د زنا] یاد نهٔ وو. سړی ورد پاره یو عالیشان محل تیا کړو چه د جولاګی د جالې څه درک هم پکښې نشو لګیدلې. یوه ورځ دغه دواړه په هغه محل کښې ملاست وو [پراته وو] چه په دیوال یو جولاګې ښکاره شو، ښځې اووئیل چه دا جولاګی دې چې د دینه ته ماویروې؟ سړی ورته اووئیل چه ، ، آو ، ، هم دا دې هغه سمدستی پاسیده اووې وئیل چه دا دې اوس ئې وژنم- د دیوال نه ئې راګوزار کړو او خپې لاندې ئې چخنړی کړو. جولاګې ختم شو خو د هغه د زهرو څاڅکی د ښځې په خپو او نوکونو پریوتل چه هم د هغې نه بیامړه شوه [ابن کثیر] ([1]).

دغه ښځه په صفا سُوتره محل کښې ناګهانه د جولاګی د لاسه هلاکه شوه، خو بل خوا چه او ګورې نو ډیرو سړو خپل ټول عمر په جنګونو یا جهادونو کښې تیر کړې دې خو بیا هغې کښې مړه نشوا او په خپل کټ پوزی [چتهائی] مړه شو. چنانچه حضرت خالد بن ولید ﷺ د اسلام هغه مشهور سپاهئ او جرنیل دې چه د ، ، سیف الله ، ، لقب ئې بیامُوندې وو، ټول عمرئې د شهیدګئ په آرزو کښې جهاد کړې وو، په زرګونو کافران ئې په جنګونو کښې وژلی وو- د هرې خطرې په کنډاوونو او کندو بنه زړور ورغلې وو او همیشه ئې دا دعاګانې کړې وې چه زما مرګ د د ښخو پشان په کټ پوزی [چتهائی] نهٔ وی بلکه د بې ویرې سپاهئ پشان د جهاد په میدان کښې وی- خو بیا هم په خپل کټ پوزی [چتهائی] وفات شو. د دې نه معلومه شوه چه د ژوند او مرګ نظام، قادر مطلق هم په خپل لاس کښې ایښې دې، څوک چه او غواړی نو په محل کښې د آرام په بسترو ئې د جولاګی د لاسه مړ کړی، او چه ساتل ئې غواړی نو د زرګونو تورو د خولونه ئې روغ موت راؤباسی-

---

[1]) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۳۱۱

Scanned with Ca

پوخ مضبوط ځورجوړول توکل سره بې سمونه نۀ دی: ﴿وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ﴾ په دې آيت شريف کښې دا اوفرمائيلې شو چه مرګ نه خلاصې نشته اګرچه په مضبوطو قلاګانو کښې اوسيږي. دې نه معلومه شوه چه اوسيدو ويادَمال اسباب حفاظت دَپاره مضبوط اواعلى کورجوړول دَتوکل نه خلاف نۀ دی اونۀ دَشريعت خلاف دی [قرطبی] (۱)

انسان ته نعمت، خالص دَالله تعالى په فضل ملاويږي ﴿مَا أَصَابَكَ مِنْ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللَّهِ﴾ دلته دحَسَنَة نه مرادنعمت دې (۲)، په دې آيت کښې دې خبرې ته اشاره ده چه انسان ته ملاويدونکې نعمت دَهغه حق نۀ وی بلکه دا، خالص دَالله تعالى په فضل ورته ملاويږي، انسان خپل عبادت سره هيڅرې ځکه دَنعمت حقدارنشي جوړيدې چه دَعبادت توفيق ورته هم الله تعالى ورکوی، بيادَالله تعالى نعمتونه بې شميره اوبې حسابه دی، هغه په داسې لنډوتنګوعبادتونوکله حاصليدې شی، بالخصوص چه هغه عبادتونه هم دَرب العالمين دَبادشاهۍ دَشان لائق اوجوګه نۀ وی چنانچه په يوحديث کښې رسول الله ﷺ فرمائيلی دی:

﴿ما احد يدخل الجنة الا برحمة الله قيل ولا انت قال ولا انا﴾ [متفق عليه بحواله مظهری] (۳) سوادَالله تعالى دَرحمت نه به هيڅوک جنت ته لاړنشي، راوی عرض اوکړوچه تاسو به هم نۀ ځې؟ وې فرمائيل چه اوزۀ به هم نۀ ځم-

مصيبت راتلل دَانسان دَبدعملی په نتيجه کښې وی: ﴿وَمَا أَصَابَكَ مِنْ سَيِّئَةٍ فَمِنْ نَفْسِكَ﴾ دلته دَ ﴿سَيِّئَةٍ﴾ نه مُرادمُصيبت دې (۴)- مُصيبت لره اګرچه الله تعالى پيداکوی خوسبب ئې پخپله دَانسانانوبدعملی وی، کافرانسان باندې په دُنياکښې راتلونکې مُصيبت ددۀ دَعذاب يومعمولی شان نمونه وی چه دآخرت عذاب به دَدې نه ډيرزيات وی ليکن مُؤمن دَپاره دُنيوی مُصيبت اوتکليفونه دَهغه دګناهونوکفاره ګرځی اوپه آخرت کښې ددۀ دَنجات اوخلاصی سبب جوړيږی لکه رسول الله ﷺ په يوحديث کښې فرمائيلی دی:

﴿ما من مصيبة تصيب المسلم الا كفر الله بها عنه حتى الشوكة يشاكها﴾ [ترمذی بحواله مظهری] (۵) هريومُصيبت چه مسلمان ته رسی هغه ددۀ دګناهونوکفاره جوړيږی تردې چه ازغې [خوز] چه په پښه وغيره کښې ئې مات شي-

په يوبل حديث کښې ئې ارشاداوفرمائيلو ﴿عن ابی موسی ؓ ان رسول الله ﷺ قال لا تصيب عبدا نكبة فما فوقها وما دونها الا بذنب وما يعفوا اكثر﴾ [ترمذی بحواله مظهری] (۶) حضرت ابوموسی ؓ دَرسول الله ﷺ نه روايت کوی چه هغوئ اوفرمائيل چه په بنده چه کوم سپک يادرون‌دمصيبت راشي نوداې دګناه نتيجه وی اوډيرګناهونه ئې معاف کوی-

(۱) تفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۲۸۳
(۲) تفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۲۹۸
(۳) تفسير المظهری: ج ۲، ص ۲۹۸ او ګورئ- صحيح البخاری، كتاب الرقاق، باب القصد والمداومة على العمل: ج ۲، ص ۹۵۸ وصحيح مسلم، كتاب صفة القيامة: باب لن يدخل أحد الجنة الخ: ج ۲، ص ۳۷۶
(۴) تفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۲۹۸
(۵) جامع الترمذی، أبواب التفسير، باب من سورة النساء: ج ۲، ص ۱۳۲
(۶) جامع الترمذی، أبواب التفسير، باب من سورة الشورىٰ: ج ۲، ص ۱۶۱

رسول الله ﷺ ټولې دنيا دپاره پيغمبر دی ﴿ وَأَرْسَلْنَكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ﴾ دې نه ثابته شوه چه رسول الله ﷺ ټولې دنياته دپيغمبر په حيث ليږلې شوې دې هغه يواځې دعربو دپاره رسول نه بلکه ددوی پيغمبری دپوره دنيا دپاره عامه وه خواه دغه وخت موجود وو يا په اينده کښې تر قيامته پيدا کيږی [مظهری] (¹)۔

مَنْ يُطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ
چاچې | تابعداری اوکړه درسول | نو په اصل کښې هغه تابعداری اوکړه دالله | اوچاچه مخ واړولو | نونه ئې ليږلې مونږ ته
چاچې درسول تابعداری اوکړله | نوهغه دالله ﷻ تابعداری اوکړله | اوچا چې مخ اوګرځولو | نو ته خو مونږ
عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۸۰
په دوی باندې | محافظ |
په دوی نګران نه ئې مقرر کړې |

څوك چه د رسول تابعداري کوي نو هغه د الله تابعداري وکړه او څوك (چه د تابعدارئ نه) مخ واړوي نو (اې پيغمبره!) مونږ ته په هغوی باندې ذمه دار نه ئې راليږلي (چه ته ددوی دعمل ذمه دار اوګرځولې شې).

خلاصه تفسير

﴿ مَنْ يُطِعِ الرَّسُوْلَ فَقَدْ اَطَاعَ اللّٰهَ ۚ ﴾ چا چه درسول ﷺ فرمانبرداری اوکړه هغه دالله ﷻ فرمانبرداری اوکړه [اوچا چه دهغوی نافرمانی اوکړه هغه دالله ﷻ نافرمانی اوکړه اودالله ﷻ فرمانبرداری کول دعقل له مخه هم واجب دی نودهغوی فرمانبرداری هم واجبه شوه] ﴿ وَمَنْ تَوَلّٰى فَمَآ اَرْسَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۸۰ ﴾ او څوك چه [دهغوی دفرمانبردارئ نه] مخ واړوی نو [تاسو څه غم مه کوئی خکه چه مونږ] تاسو ﷺ [د ذمه دارئ په ډول] ددوی څارونکے نه يئ ليږلے [چه تاسو کفر کولوئې ته مه پرېږدئے بلکه ستاسو فرض پيغام رسولو سره پوره کيږی که بيا هم دوی کفر کوی نوتاسو نه ددې دتپوس کولواندېښنه نشته تاسو بےفکره اوسئ].

وَيَقُوْلُوْنَ طَاعَةٌ ۡ فَاِذَا بَرَزُوْا مِنْ عِنْدِكَ
| اووائی دوئ | مونږ تابعدار يو | خوکله چې | راووزی دوئ | د مجلس ستانه
| اودوئ وائی چې مونږ ستاتابعداری کوو | خوچې ستا د مجلس نه پورته شی
بَيَّتَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِيْ تَقُوْلُ ۭ وَاللّٰهُ يَكْتُبُ
نو دشپې مشورې کوی | يوه ډله | ددوئ نه | خلاف دهغه خبرو | چې ته ئې وائې | اوالله | ليکی
نويوه ډله په کښې داشان شته | چې دشپې مجلس جوړوی | او ستا د خبرې خلاف مشورې کوی | اوالله ﷻ
مَا يُبَيِّتُوْنَ ۚ فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ
هغه خبرې چې دشپې ئې کوی دوئ | نو پروامه کوه ددوئ | اوبروسه کوه | په الله باندې | اوکافی دې الله
دهغوئ ټولې پټې مشورې ليکی | نوددوئ پرواه مه کوه | اوپه الله ﷻ بهروسه کوه | او الله د کارسازئ

¹) تفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۲۹۸

Scanned with Ca

وَكِيلًا ۝ | أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ | الْقُرْآنَ | وَلَوْ كَانَ | مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ
كارساز | آيا نو نه كوى غور دوئ | په قرآن كښې | او كه چرته وې | د طرفه د غير الله نه
دپاره كافي دې | آيا تاسو قران پاک ته فکر نه کوئ | که دا کتاب د الله نه سوا د بل چا طرفه وې

لَوَجَدُوا | فِيهِ | اخْتِلَافًا | كَثِيرًا ۝
نو موندلې به وو دوئ | په دې كښې | اختلاف | ډير
نو دوئ به په كښې ډير اختلاف موندلې وو

آسان ترجمه قرآن: او (دا منافقان خلق خومخامخ) د تابعدارئ ئوم اخلي ليكن چه دوى ستا د خوا نه لاړشي نو دوى كښې يوه ډله د شپې په وخت كښې ستا دخبرو خلاف مشورې كوي او دوى چه د شپې په وخت كښې كومې مشورې كوي الله هغه ټول ليكي نو ته د دوى پرواه مه كوه او په الله اعتماد كوه او الله ستا د حمايت دپاره بالكل كافي دې آيا دا خلق په قرآن كښې فكر نه كوي؟ كه چرې دا د الله نه سوا د بل چا د طرف نه وې نو دې كښې به دوى ډير اختلاف موندلې وو.

خلاصه تفسير

﴿ وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِندِكَ ﴾ اودا [منافق] خلق [ستاسو دحكمونو په آوريدو ستاسو په مخكښې په خله] خو وائي چه زمونږ كار [ستاسو] فرمانبردارى كول دى بيا چه ستاسو دخوانه [پاسى] بهر لاړ شي ﴿ بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ ﴾ نودشپې په وخت [پټې] مشورې كوي په دوى كښې يوه ډله [يعنى ددوى د سردارانو ډله] په خلاف دهغې نه چه څه ئې په خله وئيلي وو [اوچونكه دغه سرداران دى اصل مشوره هم هغوى كوي نورخلق ئې تابع پاتې كيږي نوپه دې خلاف كولو كښې د ټولو يو حالت دې] ﴿ وَاللَّهُ يَكْتُبُ مَا يُبَيِّتُونَ ﴾ او الله ﷻ [سركارى روزنامچه كښې] په مخه ليكي هغه څه چه دوى دشپو مشورے كوى [په موقعه به ورته سزا وركړى] ﴿ فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ ﴾ نوتاسو دوى [ددوى بےهودگئ] پسے مخه مه اړوئ [اوفكر ئے مه كوئ ﴿ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا ۝ ﴾ بلكه ټوله قيصه] الله ﷻ ته اوسپارئ او الله ﷻ كافي كار ساز دے [هغه به پخپله په مناسب شان ددې مخه نيسي چنانچه كله هم ددوى په شرارت سره څه ضرر اونه رسيدو] ﴿ أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ﴾ آيا دا خلق [دقرآن كريم دفصاحت او بلاغت په اعجاز كښې اود غيبو په صحيح صحيح خبر وركولو كښې نه گورى او بيا] په قرآن پاک كښې غور نه كوى [چه كله كيدل ئے واضح شى] ﴿ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا ۝ ﴾ اوكه دا د الله ﷻ نه سوا دبل چا د طرفه نه وې نودے كښې [ددې مضمونونو كښې ددې ډېروالى په وجه د واقعاتو اود اعجاز د حدنه] به يئ ډير فرق بياموندلو [ولے چه هرهر مضمون كښې به يوبو اختلاف او فرق وو نو په ډيرو مضامينو كښې به زيات اختلافات وو حالانكه د قرآن پاک په يو مضمون كښې هم اختلاف نشته نوضرور دا دغير الله كلام نشى كيدلې].

معارف او مسائل

﴿ وَيَقُولُونَ طَاعَةٌ فَإِذَا بَرَزُوا مِنْ عِندِكَ بَيَّتَ طَائِفَةٌ مِّنْهُمْ غَيْرَ الَّذِي تَقُولُ ﴾ په دې آيت كښې دهغه خلقو يدى بيان شويده چه دوه مخيزه پاليسى ئې اختيار كړيده په ژبه يو څه وائي، او په زړه كښې ئې بل څه وي،

Scanned with Ca

وریسي، دَداسي خلقوپه باره کښې دَرسول الله ﷺ دَطرزعمل په باره کښې یوخاص هدایت دي.
یعنوادپاره یوه بېرضروري هدایت ﴿فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ وَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ وَكِيلًا﴾ کله به چه منافقان دَرسول الله ﷺ مخې ته راغلل نوونیل به ئې چه مونږ ستاسوحُکم قبول کړو اوکله به چه واپس تلل نودَ هغوئ دَنافرمانئ دَپاره به ئې مشورې کولې، په دې سره به دهغوئ سخت زړه ماتیدو، په دې باندې ورته الله تعالی هدایت اوکړوچه ددوئ پروامهٔ لرئ تاسوخپل کاردَالله تعالی په آسره جاري لرئ، ځکه چه هغه تاسولره کافي دې.

دې نه معلومه شوه چه دَخلقوپیشوایانواورهنمایانوته قسماقسم سختئ اوبندیزونه راپیښیږي، خلق وریورې هسې اخوادیخواخبرې ورتپي، دَدوستانوپه شکل کښې ئې هم دُشمنان وي، خوسره دَدې ټولوځیزونودغه پیشوایان اورهنمایان، په الله تعالی آسره اوکړي خپل کاردې په مضبوطه اراده اوښه په ټینګه جاري لري، که دَدوئ رُخ اواصلي مقصدصحیح وي نوانشاء الله تعالی چه ضروربه کامیاب شي.

په قرآن کریم کښې غورفکرکول: ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ ۚ﴾ په دې آیت سره الله تعالی په قرآن کریم کښې دَغورفکربلنه ورکوي، دلته په څوځیزونوزورنظراچول دي.

① هرکله ئې چه دلته ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ﴾ اوفرمائیل ﴿أَفَلَا يَقْرَءُونَ﴾ ئې اونهٔ فرمائیل نوپه دې کښې یوباریکه اشاره دې اړخ ته معلومیږي، چه هرکله قرآن کریم په زورنظرسره اوکتلې شي نوپه معنو او مضامینو کښې به ئې هیڅ اختلاف ښکاره نشي او چه یواځې لوستل اوتلاوت ئې کولې شي نو دَ اصل حقیقت نه خلاف په قرآن کریم کښې ډیراختلافات په نظرراځي.

② بله تر داخبره معلومیږي چه قرآن کریم دامطالبه کوي چه هرڅوک ددَدې په مطالبو زور نظراچوي یواځې دَامامانواومجتهدینودپاره داخاص کول صحیح نهٔ دي البته دَ غور فکر کولودرجې هم هغسې مختلفې دي ځنګه چه دَعلم اوپوهې درجې مختلفې دي، مجتهدین امامان ﷺ چه پکښې غورفکراوکړي نویواځې په دغه مسئلوبه پوهـ شي اوکه عام مسلمانان پرزورنظرواچوي نودَالله تعالی لوئې اومینه اودآخرت فکربه ئې پیداشي چه دکامیابئ کُنجي ده. البته دَغلط فهمئ اومغالطونه دځان ساتلوپه غرض عواموته دَپاره داغوره خبره ده چه یوعالم نه ئې دَسبق په شکل کښې لولي اوکه دانشي کولې نو مستند او معتبر تفسیر دې ګوري اوکه په دغې کښې ورته چرې شک راپورته شي نوپه خپل خیال دَهغې دَفیصلې کولوپه ځائې ددَماهرو علماؤپه خدمت کښې هغه پیش کړي اودهغوئ فیصله داومني.

دقرآن اوسُنت تفسیراوتشریح کول دیوې ولي بابونولي لیکیدارو نهٔ ده وردپاره څه شرطونه شته. دَدغه آیت نه معلومه شوه چه هرڅوک په قرآن کریم کښې دَغورفکرکولوحق لري خوهرکله چه دَدې درجې مختلفې دي اوحکمونه ئې بیل بیل دي نودَدې په ذریعه قرآن کریم نه دَنورو مسئلو راؤښکلو دَپاره ضروري دي چه دې دَپاره بنیادي خبرې اول حاصلې کړي چه نتیجه تر صحیح راؤښکلې شي که دغه بنیادي ځیزونه دَسره حاصل نکړي یائې نیمګړې حاصل کړي یعني مجتهددَپاره ضروري صفتونه ورته حاصل نهٔ وي نوښکاره خبره ده چه نتیجې به غلطې راؤباسي، اوس که علماء په دې باندې څه بدوائي نوحق ئې لري.

که څوک میډیکل کالج پیژني هم نهٔ اوهغه دااعتراض کوي چه دَملک دَسند یافته ډاکټرانوڅه ټیکه خونهٔ ده چه یواځې هغوئ دِدَخلقوعلاج اوداارودَرمل کوي زهٔ هم یوانسان یم زهٔ

دولې داسې اونکړې شم؟

يادَعقل نه پاک بنده داسې اووايئ چه په ملک کښې دِنهرونو، پُلونواوبندونوجوړولوټيکداران يواځې ماهر انجينئيران ولې دی دَيوملکی بنده په حيث ددې خدمت حق زهٔ ولې نهٔ لرم؟

ياڅوک دماغ خرابه بنده دااعتراض کوی چه دَملکی قانون دَتشريح اوتعبير ټيکداری، يواځې دَقانون دَماهرانوخونهٔ ده، زهٔ هم عاقل، بالغ يم ولې دوااونکړې شم؟ نوداسې کَسانوته به اونيلې شی چه بيشکه تاسوهم داحق لرئ خوچه ډيرکالونه دَدې د قابل کيدودپاره خواری اومحنت اوکړئ، ماهرانواستاذانونه دغه علوم اوفنون زده کړئ اودَدې ډګرياني حاصلې کړئ.

ليکن که داخبره دَقرآن اوسُنت دَتشريح دَباريک اونازک کارپه باره کښې اونيلې شی نوشور ګډشی چه ولې دايواځې دَعلماؤد ټيکه ده څه؟ آيا؟ دَقرآن اوسُنت دَتشريح اوتعبير دِپاره څه قابليت اوجوګه توب ضروری نهٔ دې، آيا په دُنيا کښې يواځې دَقرآن اوسُنت علم داسې بې وارثه پاتې شوې دې چه هرڅوک ئې تشريح اوتعبير کولوته رادانګلې شی؟ اګرچه هغه دَقرآن اوسُنت دَعلم حاصلولودپاره يوڅومياشتې هم نهٔ دی لګولې؟

دَقياس ثبوت:: دې آيت نه يوداخبره هم معلومه شوه چه که په قرآن اوسُنت کښې په ښکاره شان څه مسئله معلومه نشی نوهم په دې کښې غورفکر کولوسره دَهغې دَحل راويستوکوشش پکاردې دې عمل ته په اصطلاح کښې قياس وئيلې شی [قرطبی] (۱)

دَاختلاف کثير تشريح:: ﴿وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا﴾ دَاختلاف کثير [ډير اختلاف] مطلب دادې چه که په يومضمون کښې اختلاف وې نوپه ډيرومضمونونو کښې به اختلاف هم ډيروو- [بيان القرآن] (۲) ليکن دلته په هيڅ يومضمون کښې اختلاف نشته، ځکه دَالله تعالى کلام دې، دَبشرپه کلام کښې يورنګ والې کله کيدې شی، دلته خونه په فصاحت اوبلاغت کښې څه کمې شته، نهٔ دَتوحيداوکُفر، دَحراموأوحلالوپه بيان کښې څه فرق اويوتربله اپوټه والې او تعارض شته، دَغيبودَخبرونوځنې هم داسې يوخبرنشته چه دَواقع مطابق نهٔ وی، نهٔ دَقرآن په نظم اوعبارت کښې چرته دافرق شته چه ځنې پکښې فصيح وی اوځنې پکښې کمزورې، دَهر بشر په تحرير او وينا باندې دَماحول اثروی، دَتسلئ په وخت کښې ئې کلام يوشان وی او دَ پريشانئ په وخت کښې بل رنګ وی، ليکن دَقرآن کريم مضامينوکښې داسې هيڅ قسم نقص، کمزوری او اپوټه والې او تعارض نشته، چنانچه دا، دَدې دکلام الهی کيدوښکاره دليل دې-

وَإِذَا جَآءَهُمْ	أَمْرٌ
او هر کله چې راشي دوئ ته	يو خبر
اودوئ چې يو خبر واوري...........	

مِّنَ الْأَمْنِ	أَوِ الْخَوْفِ	أَذَاعُوا بِهِ	وَلَوْ رَدُّوهُ	إِلَى الرَّسُولِ
دامن [اطمينان]	ياد ويرې	نو خوروی دوئ هغه	اوکه رسولې وی دوئ دغه خبر	رسول ته
که هغه دامن وی اوکه د ويرې		نودوئ هغه خوروی	..........اوکه دوئ دغه خبرې رسول ته	

(۱) تفسير القرطبی تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۲۹۰

(۲) بيان القرآن تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۳۷

Scanned with Ca

وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ	مِنْهُمْ	لَعَلِمَهُ	الَّذِيْنَ
اوذمه وارو کسانوته	ددوی نه	نو په علم کښې به راغلې وې هغه	دهغه کسانو
اوخپلو [مسلمانانو] مشرانو ته سپارلې وې	نو دهغه کسانو په علم کښې به داخبره راتله چې کوم		
يَسْتَنْبِطُوْنَهٗ	مِنْهُمْ	وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ	
چې رااوبه باسي هغوئ دهغې نه صحيح مطلب	چې وی هغه ددوئ نه	او كه نه وې فضل دالله	
د خبرې په معنی او مطلب ښه پوهيږي	.........اوکه په تاسو باندې دالله فضل		
عَلَيْكُمْ	وَرَحْمَتُهٗ	لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ	اِلَّا قَلِيْلًا ۝
په تاسو	اورحمت دهغه	نو خامخا به تابعداری کړی وه تاسو دشیطان	ماسوا | دلږو نه
اورحمت نه وې	.... نو ديوڅوکسانو نه سوا به نور ټول شيطان پسې روان شوي وې		

آسان ترجمه قرآن: اوکله چه دوی ته يو خبر ورسي خواه که هغه د امن وي يا د ويرې وي نو داخلق هغې لره (د تحقيق نه بغير) خوروي اوکه دوی دا (خبر) رسول ته يا خاوندانو د اختيار ته اوړې وې نو دوی کښې چه کوم خلق د تحقيق والا دي هغوئ به ددې حقيقت معلوم کړې وو. او (مسلمانانو) که دالله فضل او د هغه رحمت په تاسو باندې نه وې نو د لږو خلقو نه علاوه نورو ټولو خلقو به د شيطان تابعداري کړې وه.

خلاصه تفسير

﴿ وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ ﴾ اوکله چه دوی ته د څه [نوی] کار خبر اورسی خواه [دغه کار موجب د] امن وی يا [موجب د] ويرے [لکه دمسلمانانو يولښکر چرته جهاد دپاره لاړ شی اودهغوی د غالب کيدو خبر راشی نو دا دامن خبر دے يا ددوی دماتے خورو خبرراشی نودا د ويرے خبر شو] نو دے [خبر] لره [سمدستی] خور کړی [حالانکه بعضې وخت دغه خبر غلط اوخيژی اوکه صحيح هم وی نو بيا هم دداسې انتظامی امورو خورول د انتظاميے دښيګړې نه خلاف دی] ﴿ وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ ﴾ اوکه [پخپله دخورولو په ځائې دے خلقو دغه خبر رسول ﷺ ته اودهغوی [لويو صحابه کرامو] رائې ته سپارلے چه په دوی کښې په دې [خبرو پوهيږی] او پخپله ئے په کښې هيڅ دخل [نه ورکولې] ﴿ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ﴾ نودا [خبر] به هغه حضراتو پيژندلو [چه داصحيح دے که غلط. خورول ئے پکار دی اوکه نه] کوم چه پدوی کښې ددې تحقيق کوی [لکه څنګه ئے چه هميشه پيژنی او بيا دے حضراتو چه پرے څنګه عمل درآمد کولې هغسے به دغه خورونکو لره پکار وو او دوئ ته ددخل ورکولو ضرورت نه وو ولے چه د دې سره ددوی څه کار بند وو. هرکله چه الله ﷻ دغه کلام واورولو چه ددنيا او آخرت د ښيګړو نه ډك دی اوس وريسے مسلمانانو باندې الله ﷻ ددې احسان ښکاره کولو دپاره فرمائی] ﴿ وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ ﴾ اوکه په تاسو خلقو دالله ﷻ [داخاص] فضل او رحمت [چه قرآن ئے درکړو او پيغمبرئے درته راوليږلو که دا] نه وې ﴿ لَاتَّبَعْتُمُ الشَّيْطٰنَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ ﴾ نوتاسو ټولو د سيلمے به ددنيا او آخرت ضرر اختيارولو سره دشيطان تابعداری کړې وی سوا د ډير کمو خلقو نه [چه دهغه عقل سليم په برکت به ددې نه بچ پاتې شوی وی چه الله ﷻ د خپل خاص رحمت او فضل په ډول درکړې دې يعنی که دا فضل او

رحمت ئې درباندې نه وې کړې نو زیات خلق به په ګمراهئ او تباهئ کښې پریوتي وو نو تاسو ددغه منافقانو په عکس دغسې پېغمبر او دغسې قرآن پاك لوئي نعمت اوګڼرئ دچا په معرفت چه درته ددغې ښیګړې احکام راځي. اوددې دواړو پوره تابعداري کول تاسو له پکار دي].

معارف او مسائل

شانِ نزول ﴿وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ﴾: دحضرت ابن عباس، ضحاك اوداَبی معاذ ﷺ په نزد، دا آیت دمنافقانو په باره کښې نازل شوې دې خودحضرت حسن ﷺ اود نورو اکثرو حضراتو په نزد، دا آیت دضعیفو او کمزورو مسلمانانو په باره کښې نازل شوې دې [روح المعاني] ([1])

علامه ابن کثیر ﷺ ددې آیت په باره کښې واقعات نقل کولو نه پس فرمائیلي دي چه ددې آیت په شانِ نزول کښې د حضرت عمربن الخطاب ﷺ حدیث لره ذکر کول پکاردي، هغه داسې چه حضرت عمر ﷺ هرکله په دې خبرشو چه رسول الله ﷺ خپلو بیبیانو له طلاق ورکړې دې نو دخپل کورنه جماعت ته راغې، چه دجوماتِ دروازې ته راورسیدو نو واوئې ریدل چه جومات کښې دننه خلقو هم دغه خبرې کولې- ددې په لیدو ددې خبردتحقیق کولو اراده ئې اوکړه نو د رسول کریم ﷺ په حضور کښې حاضر شو او عرض ئې اوکړو چه آیا :تاسو خپلو بیبیانو له طلاق ورکړې دې؟ هغوئ اوفرمائیل چه نه. حضرت عمر ﷺ اوفرمائیل چه ددې تحقیق کولو نه پس زه بیرته جومات ته راغلم، دهغې په دروازه کښې اودریدم او اعلان م اوکړو چه رسول الله ﷺ خپلو بیبیانو ته طلاق نه دې ورکړې او ستاسو خلقو داسې وینا غلطه ده-، په دې خبره دا آیت نازل شو ﴿وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ﴾ الخ [تفسیر ابن کثیر] ([2])

بې تحقیقه خبرې خورول ګناه او لوېه فتنه ده: دا آیت نه معلومه شوه چه هر یو آورېدلې خبره، بې تحقیقه بیانول نه دي پکار، چنانچه رسول الله ﷺ په یو حدیث شریف کښې فرمائیلي دي:
﴿كفى بالمرء كذبا ان يحدث بكل ما سمع﴾ ([3]) [دچا د دروغژن والي دپاره دا هم پوره ده چه هغه هره آورېدلې خبره بې تحقیقه خلقو ته بیانوي] -

په یو بل حدیث کښې فرمائي: ﴿من حدث بحديث وهو يري انه كذب فهو احد الكاذبين﴾ ([4]) [کوم څوک داسې خبره نورو خلقو ته بیانوي چه پخپله هم پرِ ددروغو یقین لري نو یو دروغژن په دروغژنو کښې داهم دې]، [تفسیر ابن کثیر]

اولوالامر څوك خلق دي؟ ﴿وَلَوْ رَدُّوهُ إِلَى الرَّسُولِ وَإِلَىٰ أُولِي الْأَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ﴾ استنباط په اصل کښې دکوهې دتل نه اوبو راوښکلو ته وئیلې شي دکوهې په کنستو کښې کومې اوبه چه رومبې راوځي هغې ته ماء مستنبط وئیلې شي، خودلته ترمراد دیو خبرې بنیاد ته رسیدل اودهغې صحیح حقیقت معلومول دي [قرطبي] ([5])-

د، اولوالامر، په تاکلو کښې ګڼر قولونه دي. دحضرت حسن، قتاده، او ابن ابي لیلی په نزد تر علماء او فقهاء مراد دي- حضرت سدي فرمائیلي دي چه امیران او حاکمان ترمراد دي-

---

[1]) روح المعاني تحت هذه الآية: ج ۵، ص ۳
[2]) تفسير ابن كثير تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۳۶۲
[3]) صحيح مسلم، مقدمة باب النهي عن الحديث بكل ما سمع
[4]) صحيح مسلم، مقدمة باب وجوب الرواية عن الثقات: ج ۱، ص ۶
[5]) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ۵، ص ۲۹۱، ۲۹۲

Scanned with Ca

ابوبکرجصاص رحمه الله دي دواړو قولونو نقل کولو نه پس فرمائي چه صحیح خبره داده چه دې نه هردواړه مراد دی ولې چه د اولی الامر اطلاق په دې دواړو باندې کیدې شي البته په دې باندې خنې خلق شبه کوی چه فقهاؤته اولوالامر ځکه نشي وئیلې چه د هغوئ حکم نه چلیږي۔ ښکاره ده چه د فقهاؤ دا کار نه دې، خو حقیقت دا دې چه د حکم چلولو دوه صورتونه دی، [۱] یو دا چه په زور او طاقت سره حکم چلوي چه یواځې د حکومت خلق ئې چلولې شي، بل دا چه خلق د اعتقاد او اعتماد په وجې سره د چا حکم مني، او دا فقهاء کیدې شي، هغه داسې چه په هره زمانه کښې لیدې شي چه په دیني معاملاتو کښې عام مسلمانان په خپل اختیار سره صرف د علماؤ رحمهم الله حکم په خپله خوښه واجب العمل ګرځوي، چنانچه د شریعت له مخه د دوئ حکم منل واجب هم دی ځکه پرې د اولوالامر اطلاق کول صحیح شو [احکام القرآن د جصاص] (۱)۔

د دې بحث، زیات تفصیل، د آیت: ﴿أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنكُمْ﴾ لاندې تیر شوي هم دي۔

په نوؤ مسئلو کښې قیاس او اجتهاد کول عوامو د پاره د امامانو د تقلید ثبوت دې: د دې آیت نه معلومه شوه چه په کومو مسئلو کښې څه نص نه وی وارد شوې نو د هغې [احکام] د قیاس او اجتهاد په اصولو په قرآني حیثیت سره راؤښکلې شي۔ ولې چه په دې آیت کښې د دې خبرې حکم ورکړې شوې دې چه د نوو مسئلو د حل د پاره که رسول الله صلی الله علیه وسلم حیات وی نو هغوی ته رجوع کوئ که هغوئ حیات نه وی نو علماؤ رحمهم الله او فقهاؤ رحمهم الله ته رجوع کوئي ولې چه دوئ د احکامو راؤښکلو پوره صلاحیت لري۔

د دې بیان نه څو خبرې معلومیږي:

① یو دا چه هر کله نص نه وی نو په دغه صورت کښې به عالمانو او فقیهانو ته رجوع کولې شي۔

② بله دا چه د الله تعالی احکام دوه قسمه دی [الف] یو هغه چه نص پرې وارد شوې وی او ښکاره وی [ب] او بل هغه چه مبهم وی ښکاره نه وی چه الله تعالی د آیتونو په ژوروالی کښې امانت ایښودی دی. ③ دریمه دا چه د علماء کرامو دا فرض دی چه هغه داسې معنې، د اجتهاد او قیاس په ذریعه راؤباسي. ④ څلورمه دا چه عوامو له ضروري دی چه په دغه مسئلو کښې د علماء کرام تقلید او کړي [احکام القرآن للجصاص] (۲)۔

رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په استنباط او استدلال باندې مکلف وو: ﴿لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ مِنْهُمْ﴾ د دې آیت نه معلومیږي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هم د دلائلو په ذریعه د احکامو په راؤښکلو باندې مکلف وو، ولې چه ږومبې په آیت کښې دوه قسمه خلقوته د رجوع کولو حکم ورکړې شو، یو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او بل اولوالامر ته بیائې او فرمائیل ﴿لَعَلِمَهُ الَّذِينَ يَسْتَنبِطُونَهُ﴾ او دا حکم عام دې چه د ذکر شوؤ دوه قسمه خلقو څه تخصیص پکښې نه دې کړې شوې، لهذا دې نه ثابته شوه چه د هغوئ ذات هم د احکامو په راویستو باندې مکلف وو [احکام القرآن للجصاص] (۳)۔

د دې د کار فائدې: که څوک دا شبه کوی چه دې نه خو صرف دومره معلومیږي چه د دشمن نه د ویرې او امن په باره کښې، تاسو په خپله خوښه خبرونه مه خوروئ بلکه د علم او درائې خاوندانو ته په دې باره کښې رجوع کوئ، هغوئ به د غور او فکر کولو نه پس چه کومه خبره درته اوښائي په هغې عمل

(۱) أحكام القرآن للجصاص، سورة النساء، باب في طاعة أولي الأمر: ج ۲، ص ۲۶۳
(۲) أحكام القرآن، سورة النساء، باب في طاعة اولي الامر: ج ۲، ص ۲۶۳
(۳) أحكام القرآن، سورة النساء، باب وجوب طاعة الرسول: ج ۲، ص ۲۵۸

Scanned with Ca

کوي: ښکاره خبره ده چه نو و مسئلو سره د دې هيڅ تعلق نشته-

جواب ئې دا دې چه په آيت ﴿وَإِذَا جَآءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ﴾ کښې د دښمن هيڅ ذکر نشته لهذا امن او خوف عام دي څنګه چې د دې تعلق د دشمن سره کيدې شی داشان ئې تعلق نوو مسئلو سره هم کيدې شی يعنی کله چه څه نوی مسئله د يو عامی مسلمان مخې ته راشی چه د هغې د حلالوالی او حراموالی په باره کښې څه نص نه وی وارد شوې نو هغه په دې کښې فکر من شی چه کوم اړخ ئې اختيار کړی، په دواړو صورتونو کښې د نفع ،نقصان احتمال وی، نو شريعت د دې د پاره زيات غوره حل دا راوښکلو چه تاسو د استنباط د خاوندانو اړخ ته رجوع کوئ هغوئ چه درته څه خبره ښائی په هغې عمل کوئ- [احکام القرآن د جصاص په لنډو] (١)-

اجتهاد او استنباط د ګمان د غالب ګمان فائده ورکوی د علم يقيني فائده نه ورکوی ② په استنباط سره د فقهاؤ د راوښکلی حُکم په باره کښې په يقينی توګه دا څوک نشی وئيلې چه د الله تعالي په نزد يقيناً هم دا حق دې، بلکه احتمال دا هم پاتې کيدې شی چه دا حکم خطاوی البته ورسره د دې د صحيحوالی ګمان غالب وی چه عمل کولو د پاره کافی دې- [احکام القرآن د جصاص او تفسير کبير] (٢)-

فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ۚ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ ۖ
نو جنګ کوه | په لار د الله کښی | ته نشی مکلف کولې | مګر د خان خپل | او تيز کړه | مومنان
نو د الله ﷻ په لار کښې جهاد کوه | ته د خپل خانه سوا د بل چا ذمه دار نه ئې | او مومنان جهاد ته تيزوه
عَسَى اللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأْسَ الَّذِينَ كَفَرُوا ۚ وَاللَّهُ أَشَدُّ بَأْسًا
لرې نه ده چې الله | بند کړی | زور د هغه کسانو | چې کفر ئې کړې دې | او الله | ډير سخت دې | په زور کښی
ډير زر به الله ﷻ د کافرانو زور ختم کړی | .... د الله ﷻ زور تولو نه سخت دې
وَأَشَدُّ تَنكِيلًا ۝
او ډير سخت دې | په سزا ورکولو کښی |
او د هغه سزا د هر چانه سخته ده |

آسان ترجمه قرآن: نو (اې پيغمبره !) ته د الله په لاره کښې جنګ کوه په تا باندې د خپل ځان نه علاوه د بل چا ذمه داري نشته هغه مؤمنانو ته ترغيب ورکوه او څه لرې نه ده چه الله د کافرو زور ختم کړي او د الله زور د ټولو نه زيات زبردست دې او د هغه سزا ډيره سخته ده.

خلاصه تفسير

[کله چه د جهاد ضرورت معلوم شو] ﴿ فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۚ ﴾ پس تاسو [ائې محمد ﷺ] د الله ﷻ په لار کښې [کفارو سره] جګړه کوئی [او که بالفرض تاسو سره څوک په دې کښې ملګرتيا نه کوی نو هيڅ فکر مه کوئی ځکه چه] ﴿ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ ﴾ تاسو ته ستاسو د ذاتی فعل نه سوا [د بل چا د فعل] څه حکم نشته ﴿ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ ۖ ﴾ او [د دے سره سره] مسلمانان [صرف جنګ

(١) أحكام القرآن، سورة النساء، باب وجوب طاعة الرسول: ج ٢، ص ٢٥٩

(٢) أحكام القرآن، بحواله بالا-

Scanned with Ca

ته] را اړوه تيزوه [بياكه درسره څوك په دې كښې نه ملګرى كيږى نوتاسو ﷺ ذمه وار نه يئ مه ددې فكركوئ چه تاسو نه به ددې تپوس كيږى لكه چه وجه ئے بيان شوه او مه ديواځې پاتې كيدو غم كوئى ولے چه] ﴿عَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّكُفَّ بَاْسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ دالله ﷻ نه اميد دے [اودا اميد وركول وعده ده] چه دكافرانود جنګ زور به په ټپه اودروى [اوتاسو ته به ئې لاندے كړى] او [دوى اګرچه ډير زورآور ښكارى ليكن] ﴿وَاللّٰهُ اَشَدُّ بَاْسًا وَّاَشَدُّ تَنْكِيْلًا﴾ الله ﷻ دجنګ په زرو كښې [ددوى نه په بے شميره درجو]زيات سخت [اوقوى] دے او [مخالفو خلقو ته] سخته سزا وركوى.

معارف اومسائل

شانِ نزول: ﴿فَقَاتِلْ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾: هركله چه دأُحد غزا دشوال په مياشت كښې اوشوه نورسول الله ﷺ دكُفارودوعدې په جوړ، بدر مقام ته دمقابلې دپاره تلل اوغوښتل [چه مؤرخين ئې دَ ، بدر صغرىٰ ، په نوم يادوى]په دغه موقعه څنوخلقودابهانه اوكړوچه زخمونه مولاتازه دى اوځنې خلقو په شامليدوكښې زړه څكه وهلوچه افواګانې خورې شوې وې،نوالله تعالى داآيت نازل كړوچه پكښې رسول الله ﷺ ته داهدايت اوكړې شوچه كه داكچه مسلمانان دَجنګ كولونه ويريږى، نواې رسوله:تاسوپه يواځې ځان په جهاد كولوصرفه مهٔ كوئ،الله تعالى ستاسو مددګاردې-دې هدايت كيدوسره سمدستى هغوئ سره داوياملګروبدر صغرى مقام ته تشريف يوړو چه دأُحد دَ غزانه پس ئې ابوسفيان سره وعده شوې وه الله تعالى دَابى سفيان اودَ نورو كفارو[دَقُريشو]په زړهٔ كښې رُعب اوويره واچوله اوهيڅوك دَ هغوئ نه مقابلې ته رانغلل چه په وعده كښې دروغژن ثابت شو ، الله تعالى دَخپل ارشادپه جوړدكفاروپه جنګ كښې بنديز رلوستواورسول الله ﷺ خپلو ملګرو سره صحيح سلامت بيرته خپلو كورونوته راغلل [قرطبى، مظهرى][1].

دقرآني حُكمونوبكلي انداز: ﴿فَقَاتِلْ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ددې آيت شريف په رُومبىٔ جُمله كښې رسول الله ﷺ ته په يواځې ځان،جهادته دَتياريدوحُكم شوې ووچه څوك درسره وى اوكه نهٔ وى،خوورسره په بله جمله كښې ئې داهم ارشاداوفرمائيلوچه دنورومسلمانانودَجهادشوق راپورته كول هم مهٔ پريږده، كه سره ددې هم هغوئ تيارنهٔ شونوتاسوخپل فرض اداكړل،دَدوئ دكړواوعمل تپوس به تاسونه نهٔ كيږى-

په يواځې جنګ كښې دَراپيښيدونكې خطرې دَلرې كولودَپاره ئې داهم اوفرمائيل چه أُميددې الله تعالى به دكفاروپه جنګيدوكښې څه خندراپورته كړى-هغوئ باندې به رُعب راولى اوزيربه ئې كړى،اوتاسولره به يواځې په يواځې كامياب كړى،بيائې په دې كاميابيدودليل بيان كړو ،هغه داسې چه هركله دَالله تعالى امدادتاسوسره دې اودَهغه قوت اوزوردَجنګ دكافرانونه په بيشميره درجوزيات دې نوكاميابى هم ستاسويقينى ده-بيائې دَجنګ دَسختوالى سره دَخپلې سزاسختوالې هم بيان كړو،داسزاكه په قيامت كښې وى لكه څنګه چه ښكاره ده اوكه په دُنياكښې وى لكه څنګه چه بعضوئيلى دى،په هرحال څنګه چه په جنګ كولوكښې زمونږ قوت اوطاقت زيات دې دغه شانِ زمونږ سزاوركول هم ډيرسخت دې.

---

[1]) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ۵، ص ۲۹۳، تفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۱۷۱، ۱۷۲

Scanned with Ca

مَنۡ يَّشۡفَعۡ　شَفَاعَةً حَسَنَةً　يَّكُنۡ لَّهٗ

| څوك چي سفارش كوي | سفارش ښه | نو وي به هغه لره

| څوك چي دنيكۍ سفارش كوي هغه دپاره به

نَصِيۡبٌ مِّنۡهَا ۚ　وَمَنۡ يَّشۡفَعۡ　شَفَاعَةً سَيِّئَةً　يَّكُنۡ لَّهٗ　كِفۡلٌ　مِّنۡهَا ؕ

حصه　دهغې نه | اوڅوك چي سفارش كوي | سفارش　بد | نووي به هغه لره | حصه | دهغې نه |

د نيكۍ نه حصه وي | اوڅوك چي دبدۍ سفارش كوي نو هغه پاره به دبدۍ حصه وي

وَكَانَ اللّٰهُ　عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ　مُّقِيۡتًا ۝　وَاِذَا　حُيِّيۡتُمۡ　بِتَحِيَّةٍ

اودي | الله | دهريو څيز | نظرلرونكي | او هركله چي | اوكړي شي تاسو ته | سلام

او الله ﷻ د هرڅه قدرت لري | اوهركله چي په تاسو سلام واچولي شي

فَحَيُّوۡا　بِاَحۡسَنَ مِنۡهَاۤ　اَوۡ رُدُّوۡهَا ؕ　اِنَّ اللّٰهَ　كَانَ

نو دسلام جواب وركړئ | په ښه طريقي سره دهغې نه | يا واپس كړئ هم هغه | بيشكه الله | دي

نو [سلام اچونكي ته] دهغې نه بهتر جواب وركوئ | ياكم ازكم هغه جواب وركوئ بيشكه الله ﷻ

عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ　حَسِيۡبًا ۝　اَللّٰهُ　لَاۤ　اِلٰهَ　اِلَّا هُوَ ؕ

د هر څيز | حساب كونكي | الله هغه دي | چي نشته | لائق دعبادت هيڅوك | مگرهم هغه دي |

دهرڅيزحساب كونكي دي | الله ﷻ هغه ذات دي چي دهغه نه بغيربل معبودنشته دي

لَيَجۡمَعَنَّكُمۡ　اِلٰى يَوۡمِ الۡقِيٰمَةِ　لَا رَيۡبَ　فِيۡهِ ؕ　وَمَنۡ

خامخا به هغه راجمع كړي تاسو | ورځ　دقيامت　ته | چي نشته شك | په هغې كښې | او څوك دي

تاسوټول به خامخا دقيامت په ورځ راجمع كوي | چي دهغې په راتگ كښې هيڅ شك نشته

اَصۡدَقُ　مِنَ اللّٰهِ　حَدِيۡثًا ۝

ډير ريښتني | د الله نه | په خبرو كښې |

اوداللہ نه زياته ريښتني خبره دچاكيدې شي |

كوم يو كس چه ښه سفارش كوي نوهغه ته ددې نه حصه ملاويږي اوڅوك چه بد سفارش كوي نو هغه ته ددغې بدۍ نه حصه ملاويږي اوالله په هر يو څيز باندې نگهبان دې اوچه تاسوته څوك سلام وكړي نو تاسوهغه ته دهغې نه هم په بهتره طريقه سلام وكړئ يا (كم ازكم) هغه الفاظو كښې هغه ته جواب وركړئ بې شكه الله د هرڅيز حساب كوونكې دې الله هغه ذات دې چه د هغه نه سوا بل خدائي نشته هغه به تاسو لره د قيامت په ورځ ضرور بالضرور جمع كړي چه د هغې په راتلو كښې څه شك نشته او څوك دې چه دالله نه زيات په خبره كښې ريښتيني وي؟

خلاصه تفسير

﴿ مَنۡ يَّشۡفَعۡ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَّكُنۡ لَّهٗ نَصِيۡبٌ مِّنۡهَا ﴾ څوك چه ښه سفارش اوكړي [يعنى دچا طريقه اومقصود دواړه شرعي وي] هغه ته به ددغې [سفارش] په وجه [دثواب] برخه په گوتو ورځي ﴿

Scanned with Ca

﴿ وَمَنْ يَّشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَّكُنْ لَّهٗ كِفْلٌ مِّنْهَا ﴾ اوڅوك چه ناروا سفارش اوكړی [یعنی دچا طریقه اوغرض شرعی نه وی] هغه ته به ددغې [سفارش] په وجه [دګناه] برخه ملاویږی ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ مُّقِیْتًا ﴾ اوالله ﷻ په هرڅیز قدرت لرونکي دي [په خپل قدرت سره په نیکئی ثواب او په بدئی عذاب ورکولې شی] ﴿ وَاِذَا حُیِّیْتُمْ بِتَحِیَّةٍ فَحَیُّوْا بِاَحْسَنَ مِنْهَاۤ اَوْ رُدُّوْهَا ﴾ اوکله چه تاسو ته څوك [په شرعی طریقه] سلام کوی نوتاسو [ورته] ددې [سلام] نه په ښو الفاظو کښې سلام کوئی [یعنی جواب کوئ] یا [په جواب کښې ورته] هم هغسې الفاظ وائې [تاسوته د دواړو اختیار درکولے شی] ﴿ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ حَسِیْبًا ﴾ بیشکه الله ﷻ په هر څیز باندې [یعنی په هر عمل] به حساب اخلی [یعنی قانون ئې دادې اوکه هسې څوك په خپل فضل سره معاف کړی نو هغه بله خبرده] ﴿ اَللّٰهُ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ؕ لَیَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى یَوْمِ الْقِیٰمَةِ لَا رَیْبَ فِیْهِ ؕ وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِیْثًا ﴾ الله ﷻ داسې دې چې هغه نه سوا بل څوك دمعبود جوړیدو جوګه نه دی هغه به ضرور تاسو ټول راجمع کړی دقیامت په ورځ په دې کښې هیڅ شك نشته اودالله ﷻ نه به زیاته دبل چا خبره رښتیا وی [هرکله چه هغه خبردرکوی نوبیخی رښتیا وی].

معارف اومسائل

دسفارش حقیقت، ددې احکام اوقسمونه ئې: ﴿ مَنْ یَّشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً ﴾ په آیت کښې دسفارش ښه اوبد دوه قسمونه اوګرځولې شواوحقیقت ئې هم واضح کړې شو، داهم اوښودلې شوچه هرسفارش ښه نهٔ وی اونهٔ هرسفارش بدوی، اوهم دااوښودلې شوچه هرښه سفارش کوونکی ته به دثواب برخه ورکولې شی-

اوبدسفارش کوؤنکی ته به دعذاب برخه وی، خودې دپاره ښه سفارش سره ﴿ نَصِیْبٌ ﴾ اوبدسفارش سره د ﴿ كِفْلٌ ﴾ لفظ راغلې دې چه دلُغت په اعتباردَدواړومعنی یوه ده-یعنی دهر څیزیوه برخه خوپه عُرف عام کښې ﴿ نَصِیْبٌ ﴾ ښې برخې دپاره استعمالیږی، او ﴿ كِفْلٌ ﴾ اکثربدې خبرې دپاره استعمالیږی، اګرچه کله کله داښې برخې دپاره هم استعمالولې شی لکه قرآن کریم کښې فرمائی ﴿ كِفْلَیْنِ مِنْ رَّحْمَتِهٖ ﴾

دشفاعت لفظی معنی یوځائې کیدل یایوځائې کول دی، په دې وجه په عربی ژبه کښې ﴿ شُفْعَةٌ ﴾ دجوړې [جوت] په معنی راځی اودَدې په عکس وتردطاق په معنی راځی-په دې لحاظ دشفاعت معنی به داجوړیږی چه کمزوری طلبګارسره خپل قوت اوطاقت یوځائې کولوسره هغه مضبوط اوقوی کړې شی، یایوبې وسه اوبې آسرې بنده سره دَیوځائې کیدوپه وجه هغه لره جوړه جوړه کړې شی [اودَیواځې نه هغه دوه جوړشی چه ورسره دابل یوځائې کیدونکې ئې ملاتړجوړشی]-

لهذامعلومه شوه چه شفاعت اوسفارش به په دې شرط رواکیږی چه دَطلبګارمطالبه اوغوښتنه حق اوروا وی، بلکه داچه دکمزورتیا اوبې وسئ په وجه هغه دغه خپله مطالبه لویو [اختیارمنو] خلقوته نشی رسولې نودغه دویم [سفارش کوونکې] کَس ئې وردَپاره اصل ځائې ته اورسوی-معلومه شوه چه په ناحقه اوبې حقه دَچاسفارش کول اواختیارمن خلق ئې په

قبلولو مجبوره کول، ،شفاعت سیئه، ، [خراب او ناکاره سفارش] دي-چنانچه دي نه داخبره هم معلومه شوه چه هر کله په سفارش کښې يو مخوريز بنده خپل تعلقٌ یا اثر ،رسوخ او چلوی، رُعب دباؤ واچوی نو دا هم ظلم او ناروا کار دي او دې ته به، ،شفاعت سیئه، [ناکاره سفارش] وئيلې شي-

نو د آيت د مضمون خُلاصه دا شوه چه څوک دَ چا د روا حق او روا کار دَ پاره په روا طريقه سفارش او کړي نو هغه ته به دَ ثواب برخه ملاويږي، او څوک چه ناروا کار دَ پاره په ناروا طريقه سفارش او کړي نو ورته به دَ عذاب برخه ملاويږي-

دلته دَ برخي ملاويدو مطلب دا دي چه هر کله اختيار من بنده دَ دغه مظلوم يا بې نصيبه بنده کار او کړي نو ورته به دَ دې ثواب ورکولې شي او دغه هومره ثواب به سفارش کوونکي ته هم ورکولې شي-

دغه شان ناروا سفارش کوونکي به هم ګنهګاروی، مطلب دا چه دَ بنه او بد سفارش په بدله کښې ثواب يا عذاب ملاويدل په دې اړه نهٔ لري چه سفارش اثر او کړي يا کامياب شي لکه څنګه چه وراندې معلومه شويدی، بلکه دا خبره به ورته په هر حال کښې ملاويږي-

چنانچه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي ﴿الدال على الخير كفاعله﴾ [رواه البزار[۱] عن ابن مسعود ﷺ وعن سهل بن سعد بحواله مظهري]

[نيکئ ته دَ را اړوونکي به هم هغه هومره ثواب وي څومره چه دَ دغه نيکئ کوونکي ثواب به وي] - [بزار روايت کړو دَ ابن مسعود ﷺ نه او طبراني هم دَ دهٔ او دَ سهل بن سعد نه [حواله دَ مظهري]-

دغه شان په ابن ماجه[۲] کښې دَ حضرت ابى هريره ﷺ په روايت رسول الله ﷺ فرمائيلي دي: ﴿من اعان على قتل مؤمن بشطر كلمة لقى الله مكتوب بين عينيه آئس من رحمة الله﴾ [مظهري] چا چه دَ مسلمانانو په وژلو کښې دَ يوې خبرې قدرې هم امداد او کړو نو په قيامت کښې به دَ الله تعالى په وراندې داسې پيش کړې شي چه په تندي به ئې ليکلي وي چه دا کس دَ الله تعالى دَ رحمت نه بې نصيبه او نا اُميده دې-

څنګه چه نيکئ ته دَ چا را اړول ،نيک عمل دي او را اړوونکي ته به هم دَ هغې هومره ثواب ملاويږي څومره به چه نيکئ کوونکي ته ملاويږي-دغه شان دَ څه ګناه کار ته را اړول يا پکښې دَ چا مرسته او ملاتړ کول هم دَ اصلي ګنهګار هومره ګناه لري-

دَ آيت په آخر کښې ارشاد دي: ﴿وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُّقِيتًا﴾ دَ لُغت په اعتبار سره دَ ﴿مُقِيتٌ﴾ معنى قادر او مقتدر هم ده او حاضر او سارنه کوونکې هم، دا شان روزی تقسيموونکې هم دې معنى ده-او دلته درې واړه معنى مراد اخستې شي-دَ رومبئ معنې په اعتبار سره به ئې مطلب دا وی چه الله تعالى په هر څيز قادر دې عمل کوونکی او سفارش کوونکی ته جزا يا سزا ورکول ورته ګران نهٔ دی:

دَ دويمې معنې په اعتبار به ئې مطلب داوی چه الله تعالى په هر څيز نظر لري او حاضر دې، ورته ټول هر څه معلومه دی چه څوک په څه نيت سره سفارش کوی؟ صرف دَ الله تعالى په خاطر ئې چا سره امداد کول مقصود دی يا ورسره ئې څه بل خپل غرض يا رشوت تړلې دې؟

[۱] مسند البزار رقم الحديث: ۱۷۳ والمعجم الكبير للطبراني رقم الحديث: ۲۲۷۳

[۲] سنن ابن ماجة، أبواب الديات، باب التغليظ فى قتل مسلم: ج۱، ص ۱۸۸

Scanned with Ca

دَدریئمي معنې په اعتبار به ئې مطلب داوي چه دروزئ دَویش خوالله تعالی پخپله ذمه واردې چادپاره ئې چه څومره لیکلي وي هم هغه هومره به ورته رسي-دَچاسفارش کوونکی دَسفارش په وجه دَچاپه روزئ زیاتولوهغه نهٔ مجبوره کیږي، البته سفارش کوونکی ته به مفت ثواب ځکه ملاویږي چه داکمزورې اوبې وسه بنده سره لاس، امداد کول دي ـــ لکه رسول الله ﷺ فرمائي: ﴿كان الله في عون عبده ما دام في عون اخيه﴾(۱) الله تعالی ترهغې دَخپل بنده امدادجاري لري ترڅو چه هغه دَیو مسلمان رورپه امداد کښې لګیاوي-

چنانچه په صحیح بخاري کښې دَرسول الله ﷺ دایوحدیث هم منقول دې-

﴿اشفعوا فلتوجروا ويقضي الله على لسان نبيه ما شاء﴾(۲) سفارش کوئ درته به ثواب ملاویږي بیاچه الله تعالی دَخپل نبي په ذریعه چه څه فیصله کوي په هغې راضي اوسئ-

په دې حدیث شریف کښې دَچاسفارش کول څنګه چه دَثواب موجب بیان کړې شویدی دغه شان دَسفارش حد ،داسې ښودلې شوې دې چه دَهغه کمزوري اوبې وسه بنده خبره اختیارمنوخلقوته رسوئ چه پخپله ئې هلته نشي رسولې اوخپل حاجت لره په صحیح ډول بیانولو باندې قادرنهٔ وي، بیا هم ته خواه دغه سفارش اومنل شي کنه او ددې کس مطلوبه کار ترسره شي کنه دې کښې ستا دعمل څه دخل نشته اوکه کار اونشي نودغه صورت کښې غمزده کیدل او دلګیر کیدل هم نهٔ دي پکار .څنګه چه دَحدیث شریف دآخري جُملې: ﴿ويقضي الله على لسان نبيه ماشاء﴾ مطلب دې-دغه شان دَقرآن کریم په الفاظو کښې هم دې اړخ ته اشاره موجوده ده چه دَسفارش ثواب یاعذاب په دې اړه نهٔ لري چه دغه کاراوشي اوکه اونشي بلکه صرف سفارش کول دَثواب اوعذاب باعث جوړیږي که، ،شفاعت حسنه، ،ئې اوکړو نودَثواب حقدارشو اوکه شفاعت سیئه ئې اوکړو نودَعذاب حقدارجوړشو ،که ددهٔ په سفارش باندې کاراوشي اوکه اونشي.

چنانچه په تفسیر بحرِ محیط اوبیان القرآن وغیره کښې لیکلي دي چه دلته ﴿مَّن يَشْفَعْ﴾ کښې لفظ د مِنها سببیه سره هم دې خبرې ته اشاره شویده ،اوپه تفسیر مظهري کښې دَتفسیر دَامام حضرت مجاهد قول داسې نقل کړې شویدې چه نیک سفارش کوونکی ته به دَسفارش ثواب ورکولې شي اګر که دَهغه په سفارش عمل هم نهٔ وي شوې(۳)-اوداخبره یواځې رسول الله ﷺ سره خاص نهٔ ده، یوبل انسان ته چه سفارش اوکړې شي دهغې هم دغه اصول کیدل پکاردي چه صرف سفارش داوکړي اوپه قبلولوئې تینګارنهٔ کوي،لکه څنګه چه رسول الله ﷺ حضرت بریرة رضي الله عنها ته سَفارش اوکړوچه هغه دَدوباره حضرت مغیث رضي الله عنه سره نکاح ځکه اوکړي چه هغه دَدې په جُدائئ کښې ډیر زیات غمژن اوسر ګردانه دې.لیکن حضرت بریرة رضي الله عنها عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ که داستاسوحُکم وي نوبه سرسترګو راته منظوردې اوکه سفارش وي نوطبیعت مې ددې منلوته تیارنهٔ دې، ،هغوئ ورته اوفرمائیل چه حُکم نهٔ دې بلکه سفارش دې،بریرة رضي الله عنها پوهیده چه نبي کریم ﷺ ته به د اصولو خلاف خفګان هیچرې نه وي-ځکه خوئې صفاعرض اوکړوچه بیاخوزهٔ داسفارش نشم قبلولې،هغوئ هم په ښه زړهٔ،حضرت بریره رضي الله عنها په خپل حال باندې پاتې

---

(۱) صحیح مسلم، کتاب الذکر والدعاء، باب فضل الاجتماع علی التلاوة الخ: ج ۲، ص ۳۴۵ـ وسنن ابی داود، کتاب الادب، باب النصیحة والمعونة للمسلم: ج ۲، ص ۶۷۶

(۲) صحیح البخاری، کتاب الأدب، باب تعاون المؤمنین بعضهم بعضاً: ج ۲، ص ۸۹۰

(۳) تفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۶۳

پریښنود ه. حضرت بریره رضي الله عنها دَحضرت عائشه رضي الله عنها وینځه وه حضرت مغیث رضي الله عنه ته ئي په نکاح ورکړې وه چه حضرت عائشې رضي الله عنها آزاده کړه نوهغې دَشریعت دَاجازت په جوړ حضرت مغیث رضي الله عنه سره خپل شوې نکاح مات کړو اودوباره نکاح کول ئې ورسره ځکه نهٔ غوښتل چه دَرسول الله ﷺ دَکورمبارک نه ئې وتلوته زړهٔ نهٔ کیدو([1])-

دادَسفارش حقیقت ووچه دَشریعت له مخه دَاجراوثواب باعث وو،نن صبا خلقودَسفارش ځیره ورانه کړه چه په حقیقت کښې سفارش نهٔ وی بلکه دَخپل اثررسوخ،رُعب،دباؤخیژول وی،چه دَهغې په نهٔ منلوسره خلق ناراضه کیږی لاځه ،چه دُشمنی کوی،حالانکه دَضمیراومرضئ نه خلاف څوک مجبوروَل په زور،ظلم کښې داخل دی اوسخته گناه ده-دَدې مثال داسې دې لکه چه دَشریعت اوقانون لـه مخه دَیوآزاداوخودمختاره بنده په حق باندې په زبردستئ سره قبضه اوکړې شی،په هغه زورواچولې شی اودَهغه آزادی اوشوکولې شی،دَدې بل مثال به داسې وی لکه چه دَیومحتاج دَحاجت پُوره کولودَپاره دَبل نه غلاکړې مال ورته ورکړې شی،

دَسفارش کولوفیس یاعوضانه اغستل رشوت اغستل دی چه حرام دی په سفارش باندې چانه عوضانه اغستل رشوت دې په حدیث کښې دې ته سُحت اوحرام وئیلې شویدی([2])،خواه دغه عوضا نه دَمال په صورت کښې وی یادَځه کار،خدمت اغستوپه صورت کښې وی-

په تفسیرکشاف وغیره کښې راغلی دی چه شفاعت حسنه به هغه وی چه مقصدئې دَ چا مسلمان حق پوره کول، ورتـه فائـده رسول یادَنقصان اوَضـررنه ئې بـچ کـول وی خپـل دُنیـوی غرضونه پکښې پوره کول نهٔ وی بلکـه دَالله تعـالی پـه خـاطر،دَیوکمزوری اوبې وسـه بنده لحاظ ساتل پکښې مقصودوی،بله داچه څه مـالی یابـل قسم دَخدمت اوکار اغستورشوت پروانغستې شې اوداسفارش به دَیوناروا کاریه باره کښې نهٔ وی اوداهم ضروری دی چه دادِدَهغه ثابت شوی جُرم معاف کولودپاره نهٔ وی چه سزائې په قرآن کریم کښې تاکلې شوې وی([3])-

په تفسیربحرمحیط اومظهرې وغیره کښې راغلی دی چه دَیو مسلمان دَحاجت پوره کولوپه غرض ،الله تعالیٰ نه هغه دَپاره دُعاغوښتل هم په شفاعت حسنه کښې داخل دی چه دُعـاکوونکی تـه ئـې هـم اجرملاویږی([4])-پـه یوحـدیث شـریف کـښې رَاغلـی دی چـه کلـه څـوک دَیومـسلمان رورڎخیردَپاره دُعاکوی نوفرشته وائی چه ﴿ولك بمثل﴾[الله تعالی دستاحاجت هم پوره کړی!]([5])-

سلام اواسلام ﴿وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا﴾ په دې آیت کښې الله تعالی دَسلام اودَدې دَجواب طَریقې ښَولی دی –

دَ(تحیة)لفظ تشریح اودَدې تاریخی اړخ: چاته ، حیاك الله،وئیل[الله دژوندې لره]دَتحیة لفظی معنی ده،دَاسلام نه وړاندې دَعربوعادت داووچه کله به ئې یوتربله ملاقات اوشونو، ﴿حیاك الله یاانعم الله بك عینا یاانعم صباحا﴾ وغیره به ئې خپل منځ کښې وئیل چه دَسلام کولوالفاظ ئې وو،خواسلام

[1]) صحيح البخاري، كتاب الطلاق، باب شفاعة النبي صلى الله عليه وسلم: ج ۲، ص ۷۹۵
[2]) موطا مالک رقم الحديث: ۱۳۹۸، كتاب المساقاة، باب ما جاء في المساقاة-
[3]) تفسير كشاف تحت هذه الآية: ج ۱، ص ۲۲۰
[4]) تفسير البحر المحيط تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۲۳
[5]) صحيح مسلم، كتاب الذكر والدعاء الخ، باب فضل الدعاء للمسلمين: ج ۲، ص ۳۵۱

Scanned with Ca

داطریقه بدله کړه اوددې په ځائې ئې د [السلام علیکم] وئیلو طریقه یې جاري کړه ، معنی ئې داده چه ، ، ده رتکلیف ، مصیبت او غم غځ نه دسلامت اوسې ، ،

ابن عربي رحمه الله په احکام القرآن کښې لیکلي دي چه د ، ، سلام ، ، لفظ د الله تعالی د مبارکو نومونو څخه یو نوم دې ، په دې لحاظ د ، ، [السلام علیکم] معنی داده چه ، ﴿الله رقیب علیکم﴾ [الله تعالی دستاسو حفاظت کوونکې وی] (۱).

اسلامي سلام د نورو ټولو قومونو د سلام نه زیات غوره دې: د دُنیا هر تهذیب یافته قوم کښې د ارواج موندلې شي چه د ملاقات په وخت یو بل ته څه داسې کلمات وائی چه مینه ، محبت او دوستي خیرخواهي ترې ښکاره کیږي ، خو په مقابله کولو سره اسلامي سلام د ټولو نه زیات غوره او جامع ځکه دې چه دې سره یواځې مینه ښکاره کول نهٔ دي بلکه د محبت حق پوره کول هم دي ، یعني یو بل د پاره دادعا غوښتل دي چه الله تعالی د هر قسم آفتونو ، غمونو او تکلیفونو نه سلامت لره ، دادعا هغسې نهٔ ده څنګه چه عربو به صرف د ژوندي پاتې کیدو د پاره کوله بلکه د پاک او ښکلي ژوند د پاره دُعاده ، چه الله تعالی د هر قسم غم ، درد نه محفوظ لره - بله داچه دې سره دا هم ښکاره کول دي چه مونږه او تاسو ټول د الله تعالی محتاج یُو او د هغه د اذن نه بغیر ، مونږ یو بل ته فائده او خیر نشو وررسولې ، چنانچه په دې لحاظ دا کلمه عبادت هم شوا او خپل مسلمان رورته د الله تعالی د وریادولو ذریعه هم ده . په دې دُعا که ژور نظر وا چولې شي نو د عبادت کولو په ترس کښې داوعده کول هم دی چه ته زما د ژبې او لاسونو ، خپونه محفوظ ئې ، ستا د ځان ، مال ، آبرو او عزت هم ، زهٔ سارنه کوم .

ابن عربي رحمه الله په احکام القرآن کښې د امام ابن عُیینه رحمه الله دا قول نقل کړې دې:

﴿اتدري ما السلام؟ یقول انت آمن مني﴾ (۲) ته پوهیږې چه سلام څه څیز دې؟ سلام کوونکې داوائی چه ته زما څخه محفوظ پاتې کیږې -

خُلاصه داچه اسلامي سلام په ټوله دُنیا کښې یو ټول جامع پیشکش دې ① د الله تعالی یادول ② بل ته ئې وریادول په کښې وي ③ خپل مسلمان رورسره د تعلق او مینې محبت ښکاره کول ، ④ هغه د پاره ډیره زیاته غوره دُعاده ⑤ او ورسره داپوخ لوظ او قول کول هم دی چه زما د ژبې او لاس خپو د ضررنه به ته محفوظ او په امن ئې ، لکه چه د صحیح حدیث له مخه د رسول الله ﷺ دا ارشاد دې: ﴿المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده﴾ [الحدیث] (۳) مسلمان هغه دې چه د هغه د لاس او ژبې نه ټول مسلمانان په امن وی -

کاش چه مسلمانان دې کلمې لره د عامو خلقو د رواج په ډول نه استعمالوی ، بلکه د دې په حقیقت خان پوه کړی او د هغې په مطابق استعمالوی نو کیدې شي چه د ټول قوم د اصلاح د پاره هم داکافي شي ، هم داوجه ده چه رسول الله ﷺ مسلمانانو ته خپل منځ کښې د سلام خورولو ډیر خوالې کړې دې ، او د ټولونه ډیر زیات غوره عمل ئې ګرځولې وې - د دې فضیلتونه ، برکتونه ، اجر او ثواب ئې بیان کړې دې ، چنانچه د صحیح مسلم په حواله د حضرت ابی هریرة رضی الله عنه په روایت رسول الله ﷺ فرمائیلي دی چه:

---

(۱) أحكام القرآن لابن العربي، سورة النساء، مسئلة معنى قوله تعالى أو ردوها، ج ٢، ص ٤٢٨

(۲) أحكام القرآن لابن العربي، بحواله بالا.

(۳) صحيح البخاري، كتاب الإيمان، باب المسلم من سلم الخ: ج ١، ص ٦

تاسو جنت کښې تر هغه نشی داخلیدې ترڅوچه مؤمنان نهٔ یئ؛ اوستاسو ایمان تر هغې نشی مکمل کیدې ترڅوچه خپل منځ کښې یوبل سره مینه نهٔ کوئ زهٔ تاسوته داسې یوڅیزنهٔ بیایم که تاسو پر عمل کولونوستاسو ترمنځه به مینه قائمه شی هغه داچه خپل منځ کښې سلام عام کړئ. [ترغیب یې ورکړې دې]هرمسلمان باندې سلام اچوئ چه پیژندګلي موورسره وی اوکه نهٔ وی([1])-

دَحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه دروایت مطابق یوسړی، درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو، چه، په اسلامی عملونوکښې دَتولونه زیات غوره عمل کوم یودې؟هغوئ اوفرمائیل چه، ،تاسوخلقوته خوراکه ورکوئ،سلام عام کړئ[په هرمسلمان ئې اچوئ]خواه تاسوهغه پیژنئ اوکه نهٔ- ، [بخاری اومسلم]([2])

په مسنداحمد ،ترمذی،ابی داؤد کښې دَحضرت ابی امامه رضی الله عنه په روایت دَرسول الله ﷺ دافرمان مبارک نقل شویدې چه، ،الله تعالی ته دَتولونه نزدې هغه څوک دې چه په سلام کولوکښې رومبې کیږی([3])-

مسندبزاراومعجم کبیردَطبرانی رحمه الله کښې دَحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه په روایت دَرسول الله ﷺ داحدیث مبارک نقل کړیدې چه سلام دَالله تعالی دَمبارکونومونوڅخه یونوم مبارک دې چه زمکې ته ئې نازل کړیدې،په دې وجه خپل منځ کښې سلام عام کړئ ځکه چه یومسلمان دَمسلمانانومجلس ته په ورتلوهغوئ باندې سلام واچوی نوورته دَالله تعالی په نزددَغوروالی یولوړمقام حاصلیږی،ولې چه دهٔ تولوته سلام [الله تعالی]وریادکړو،که دَدَغه مجلس مسلمانانوورته دَسلام جواب ورنکړو نوداسې مخلوق به ورته جواب ورکړی کوم چه دَدې مجلس دَخلقونه غوره دی[یعنی فرشتې]([4])-

دَرسول الله ﷺ یوبل ارشاددې چه:غټ بخیل هغه څوک دې چه په سلام کښې بُخل [اوشومتوب کوی] - [طبرانی،معجم کبیردَابی هریره رضی الله عنه]([5])-

په صحابه کرامو رضی الله عنهم دَدې ارشاداتوداسې اثراوشوچه دَیوروایت مطابق حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه به بازارته اکثردې دَپاره تلوچه مسلمانانو باندې سلام واچوی اودَعبادت ثواب حاصل کړی،څه خرڅول اواغستل به ئې مرادنهٔ وو،داروایت دَطفیل بن ابی بن کعب رضی الله عنه نه په مؤطاامام مالک رحمه الله کښې نقل شوې دې([6])-

دَقرآن مجید دَدې ارشادمبارک[چه هرکله په تاسوسلام واچولې شی نودَهغې جواب په دیرغوره الفاظوکښې،یاکم ناکم،هم دغه شان الفاظوکښې ورکوئ]په خپل عمل مبارک سره رسول الله ﷺ داسې تشریح کړې ده چه یوځل یوکَس په رسول الله ﷺ باندې داشان سلام واچولو چه، ،[السلام علیک یارسول الله]هغوئ ورته په جواب کښې ، ،وعلیکم السلام ورحمة الله،

---

[1]) صحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب بیان أنه لا یدخل الجنة: ج ۱، ص ۴۷

[2]) صحیح البخاری، کتاب الإیمان، باب اطعام الطعام من الاسلام: ج ۱، ص ۲، وصحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب تفاضل الاسلام: ج ۱، ص ۴۸

[3]) مسند أحمد رقم الحدیث: ۲۱۱۲۸- حدیث أبی أمامة الباهلی رضی الله عنه وجامع الترمذی، أبواب الاستیذان: باب ما جاء فی فضل الذی یبدأ بالسلام: ج ۲، ص ۹۹ وسنن ابی داود، کتاب الادب، باب فی فضل من بدأ السلام: ج ۲، ص ۷۰۶

[4]) مسند بزار رقم الحدیث: ۱۷۷۱، والمعجم الکبیر للطبرانی رقم الحدیث: ۱۰۳۲۸

[5]) المعجم الکبیر للطبرانی رقم الحدیث: ۴۳۳

[6]) مؤطا مالک باب جامع السلام رقم الحدیث: ۱۵۱۶

Scanned with Ca

اوفرمائیل بل سړي راغلواوپه دي الفاظو کښې ئې پرسلام واچولوچه، ،السلام علیک یارسول الله ورحمة الله، ،هغوئ ورته په جواب کښې، ،وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ، ،اوفرمائیل،دریم صاحب چه راغې نوپه سلام کښې ئې دغه درې واړه کلمې اضافه کړې نوهغوئ ورته په جواب کښې صرف، ،وعلیک، ،ارشاداوفرمائیلو.دَدغه صاحب په زړهٔ کښې گیله پیداشوه اوعرض ئې اوکړو چه یارسول الله ﷺ زمامورپلاردپه تاسوقربان وی چه رومبوصاحبانوپه تاسو څومره الفاظو کښې سلام واچولودغه ټول الفاظ مَا راجمع کړل نوتاسو صرف په ، ،وعلیک، ،سره جواب راکړو. هغوئ ورته اوفرمائیل چه، ،هرکله تا په خپل سلام کښې دغه ټول کلمات راجمع کړل نوماهم ،دَقرآنی تعلیم مطابق ،ستاجواب بالمثل خکه درکړوچه تاڅه کلمه زیاتول پرېښې نهٔ ؤو. داروایت ابن ابی حاتم اوابن جریرپه مختلفواسانیدوسره نقل کړې دې(۱)-

دَدغې حدیث مبارک نه خوېوه خبره مونږ ته دامعلومه شوه چه دَسلام جواب په ښهٔ صورت کښې دَورکولومطلب دادې چه په کوموالفاظو کښې سلام واچولې شی دَهغې نه په زیاتو الفاظو کښې ورته جواب ورکوئ،مثلاً دَ ،السلام علیکم، ،جواب په، ،وعلیکم السلام ورحمة الله ، ،سره او دَ ،السلام علیکم ورحمة الله ،جواب په،وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ،سره ورکوئ-

بله خبره ترې دامعلومه شوه چه دَسلام جواب صرف دَدرې کلموپه زیاتولوسره مسنون دی، دغې نه زیاتې کلمې وئیل مسنون نهٔ دی،حکمت ئې دادې چه دَسلام موقعه داتقاضا لری چه مختصرکلام داوکړې شی دومره زیاتوالې پکښې مناسب نهٔ دې چه په اصل مقصود کښې خلل راولی اوپه آؤرېدونکی یوقسم پیتې شی،نوهرکله چه یوصاحب په سلام اچولو کښې درې واړه کلمې جمع کړې رسول الله ﷺ په جواب کښې دَهغې نه زیاتې کلمې اونهٔ فرمائیلې بلکه دَحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دَروایت مطابق ئې دغه اخیرنی صاحب ته اوفرمائیل چه، ، ﴿ان السلام قدانتهی الی البرکة﴾[مظهري دَبغوی نه](۲)-مطلب ئې داشوچه سلام په لفظ دَبرکت باندې ختمیږی دې نه زیاتول مسنون نه دی .[ومثله عن ابن کثیر](۳)

دریمه خبره د مذکوره حدیث نه د امعلومیږی چې په سلام کښې د دریو کلمو ویونکی په جواب کښې که صرف یوه کلمه هم اووئیلې شی نو هغه هم د اداء بالمثل په حکم کښې کافی ده. څنگه چه رسول الله ﷺ په خپل عمل مبارک سره اوښودل [تفسیر مظهری](۴)-

دآیت دَمضمون خُلاصه داشوه چه دَیو مسلمان په ذمه دَمسلمان دَسلام جواب ورکول واجب دی، که دَشرعی عُذرنه بغیرئې جواب ورنکړونوگُناهگاربه وی،خوپه جواب ورکولو کښې دَدۀوخبرواختیارد ې چه دهغې نه په بهتروالفاظو کښې جواب ورکوی یاهم دَهغې پشان الفاظو کښې جواب ورکوی-

په آیت کښې خوښه په داگه دَسلام جواب ورکول لازمی اوواجب ښودلې شوی دی لیکن داپه داگه نهٔ دی ښودلې شوی چه رومبې دَسلام اچولودرجه څه ده؟البته په [حُیِّیْتُمْ] کښې دَدې حکم ته داسې اشاره موجود ده چه سلام داسې یوڅیزدې چه دَټولو مسلمانانوعادت گرځیدلې دې،ولې چه

---

۱) تفسیر الطبری لابن جریر تحت هٰذه الآیة رقم الحدیث: ۱۰۰۳۲

۲) تفسیر البغوی تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۲۵۷ موطا مالک رقم الحدیث: ۱۵۳ باب العمل فی السلام-

۳) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۳۲۹

۴) تفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۶۳

داپه صیغه دمجهول سره بغیر دفاعل دتاکلونه ذکرشوې دي -

په مسند احمد ،ترمذی، ابی داؤد کښې درسول الله ﷺ داارشادنقل شوې دې چه دالله تعالی په نزد ،دټولونه زیات نزدې کس هغه دې چه په سلام اچولو کښې ړومبې شي(۱)-

درسول الله ﷺ دارشاداتوله مخې تاسوته اوس دومره ضرورمعلومه شوه چه ړومبې سلام کول هم دسُنت مؤکده نه کم نه دی، چنانچه په تفسیربحرمحیط کښې مذکوردی چه ړومبې خل سلام کول داکثرعلماؤ په نزد سُنت مؤکده دی(۲) تردې چه حسن بصری فرمائیلی دی چه، ﴿السلام تطوع والرد فریضة﴾[ړومبې خل سلام اچول اختیاری کاردې خودسلام جواب ورکول فرض دی]-

رسول الله ﷺ ددې قرآنی حکم تشریح اودسلام دجواب تفصیلات پدې شان بیان کړل چه څه قدرې دهغې څخه واورئ:

دصحیحینوپه یوحدیث کښې راغلی دی چه په سورلئ سورسړې دې په سلام اچولو کښې ړومبې کیږی، دغه شان روان سړی دپه ناست سړی په سلام اچولو کښې مخکښې کیږی - اولږکسان په ډیرو کسانو تیریږی نوپکاردی چه دوئ په سلام اچولوپرړومبې کیږی(۳)-

دترمذی په یوحدیث کښې راغلی دی چه هرکله څوک خپل کورته ورشی نوپکاردی چه دکورپه خلقوسلام واچوی، دابه هغه دپاره هم دبرکت موجب وی اودکوردخلقودپاره هم(۴)-

دابی داؤدپه یوحدیث کښې راغلی دی چه که هرڅومره وارې یومسلمان سره ملاقات اوشی نوپکاردی چه هغه هومره سلام هم پر اچوی(۵)-اوڅنګه چه په اول دملاقات کښې سلام اچول مسنون دی دغه شان دڅصتیدوپه وخت کښې هم سلام اچول مسنون اودثواب کاردې،ترمذی اوابی داؤدکښې داحُکم په روایت دابی قتاده ؓ اوابی هریره ؓ نقل شویدې. البته دسلام جواب ورکول په هغه چاواجب نه دی چه مونځ کوی که چاپه داسې حالت کښې دسلام جواب ورکړونومونځ ئې مات شو، په هغه چاهم دسلام جواب ورکول واجب نه دی چه خُطبه وائی-دقرآن کریم تلاوت کوی، په آذان اواقامت کولو کښې لګیاوی، ددینی کتابونودرس ورکوی، په اودس ماتولواونورقسم انسانی ضروریاتواواستنجاکولو کښې مصروفه وی، په دې خلقو هم سلام اچول جائزنه دی اونه ئې ددې جواب ورکول واجب دی-

دمضمون په ختمیدوئې اوفرمائیل: ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ حَسِيبًا﴾[الله تعالی دهرڅیزحساب اغستونکی دې]چه پکښې انسانی اواسلامی حقوق ټول داخل دی لکه سلام اوجواب دسلام شو-چه ددې ټولوبه الله تعالی حساب اخلی-

بیانې اوفرمائیل: ﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ﴾[دالله تعالی نه سوابل هیڅوک معبودنشته، هغه معبودګنړئ، اوکوم رواکارچه کوئ هغه دعبادت په نیت سره کوئ، هغه به تاسولره، دقیامت په ورځ جمع کړی چه هیڅ شک پکښې نشته، په دغه ورځ به ټولوته بدلې

---

(۱) قد مر تخریجه.
(۲) تفسیر البحر المحیط تحت هذه الآیة: ج ۲، ص ۲۳
(۳) صحیح البخاری، کتاب الاستیذان، باب تسلیم الراکب علی الماشی: ج ۲، ص ۹۲۱، وصحیح مسلم، کتاب السلام، باب یسلم الراکب علی الماشی: ج ۲، ص ۲۳
(۴) جامع الترمذی، أبواب الاستیذان، باب ما جاء فی تسلیم الراکب الخ: ج ۲، ص ۹۹
(۵) سنن ابی داود، کتاب الأدب، باب فی الرجل یفارق الرجل: ج ۲، ص ۷۰۶

Scanned with Ca

ورکړی، دَقیامت وعده، دَجزا او سزا خبر ټول حق دی| ﴿وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ حَدِيْثًا﴾ [څکه چه دا خبره دَالله تعالی له اړخه دي، |او دَالله تعالی نه زیاته دَچا خبره رښتیا کیدې شي؟]-

فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ

| نو څه شوی دی په تاسو | په باره دمنافقانو کښې

| دا په تاسو باندې څه شوی دی چې د منافقانو

فِئَتَيْنِ وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا

چې دوه ډلې یئ| حالانکه الله |واپس کړځولي دی هغوئ| په سبب دهغه عملونو | چې کړی دی هغوئ

باره کښې دوه ډلې شوئ| حال دادې چې الله پاک هغوئ دخپل عمل په سبب اړولي دی

اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ وَمَنْ

آیا تاسو غواړئ | چې نیغه لار اوښائې | هغه چاته| چې بې لارې کړې دې الله | حالانکه هغه څوك |

آیا تاسو دا غواړئ چې هغه چاته هدایت اوکړئ څوك چه الله تعالی ګمراه کړی وی |او څوك چې

يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا وَدُّوْا لَوْ

چې بې لارې کړی | الله | نو هرګز| ته به اونه مومې| دپاره دهغه| څه لار | هغوئ غواړی |

الله ﷻ دلارې نه بې لارې کړی | نو هغه دپاره بیا ته سمه لار نشې موندې | .... هغوئ خو دا غواړی

تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً

چې تاسو کافران شئ| لکه څنګه چې | هغوئ په خپله کافران دی| اوشئ تاسو اوهغوئ ټول | برابر |

لکه څنګه چې پخپله کافر دی چې دغه شان تاسو هم کافران شئ | ....چې ټول برابر شئ

فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا

نو په دې وجه تاسو مه جوړوئ| دهغوئ نه| دوستان خان له| تر دې چې |هجرت اوکړی هغوئ

نو هیڅوك ترینه خان سره مه ملګری کوئ| تر دې چې د الله په لار کښې [د مکې نه مدینې ته] هجرت

فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ

په لار دالله کښې | نو که مخ نې واړلو دهجرت نه| نو اونیسئ هغوئ | اوقتل کړئ هغوئ| چرته چې

اوکړی | نوکه دهجرت نه ئې ډډه اوکړه | نو چه په کوم خائې کښې وی نو نیسئ ئې او قتلوئ ئې

وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا اِلَّا

اوموندل تاسو هغوئ | اومه نسئ | په هغوئ کښې | دوست | اونه مددګار | ماسوا

.... اوپه دوی کښې هیڅوك خان لره ملګرې یا مددګار مه جوړوئ| البته

الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ

دهغه منافقانو نه|چې یوخائې شی| دیوقوم سره| چې په منځ ستاسو|اوپه منځ دهغوئ کښې|معاهده وی

هغه منافقان چې|دقتل دحکم نه بچ دی| چې داسې قوم سره یوخائې شی چې ستاسو ورسره معاهده شوې وی

Scanned with Ca

أَوْ جَآءُوْكُمْ   حَصِرَتْ   صُدُوْرُهُمْ   أَنْ   يُّقَاتِلُوْكُمْ

یا راشي هغوئ تاسوته | چې تنګې شوې وي | سینې دهغوئ | ددې خبرې نه چې | جنګ اوکړي تاسو سره

یا داسې منافقان چې تاسو ته راشي او په جنګ کولو ستومانه وي نه تاسره جنګ کوي

أَوْ يُقَاتِلُوْا   قَوْمَهُمْ ط   وَلَوْ   شَآءَ اللّٰهُ   لَسَلَّطَهُمْ   عَلَيْكُمْ

یا جنګ اوکړي | دقوم خپل سره | اوکه | غوښتلې الله | نوخامخا به ئې غلبه ورکړې وې هغوئ ته | په تاسو

اونه خپل قوم سره جنګ کوي | اوکه الله ﷻ غوښتلې نودغه منافقان به ئې په تاسو مسلط کړي وې

فَلَقٰتَلُوْكُمْ ج   فَاِنِ   اعْتَزَلُوْكُمْ   فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ   وَاَلْقَوْا

نوخامخا به جنګیدل تاسو سره | نوکه چرې | څنګ اوکړي هغوئ تاسونه | اونه کوي جنګ تاسو سره | اوو راند ئې کړه

اوتاسوسره به ئې جنګونه کول | نوکه هغوئ ستاسو دمقابلې نه ډډه اوکړي | اوتاسوسره جنګ نه کوي

اِلَيْكُمُ   السَّلَمَ لا   فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ   لَكُمْ   عَلَيْهِمْ   سَبِيْلًا ۝۹۰

تاسو ته | صلح | پس نۀ دې درکړې الله | حق تاسو ته | په هغوئ باندې | دلارې |

او د صلحې لاس درواړاندې کړي | نوبیا الله ﷻ تاسوته دهغې مقابله کښې دجنګ حق نه دې درکړې

سَتَجِدُوْنَ   اٰخَرِيْنَ   يُرِيْدُوْنَ   أَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ

بیا به اوموموئ تاسو | نورمنافقان | چې غواړي به هغوئ | چې په امن کښې پاتې شي ستاسونه |

یو بل قسم منافقان به بیاموموئ چې [جنګ نه خوښوي] | داغواړي چې ستاسو د طرفه هم په امن کښې وی

وَيَاْمَنُوْا   قَوْمَهُمْ ط   كُلَّمَا   رُدُّوْٓا   اِلَى الْفِتْنَةِ   اُرْكِسُوْا

او په امن پاتې شي | دقوم خپل نه | هرکله چې | اوبللې شي هغوئ | فتنې ته | نو واپس وګرځولې شي |

اودخپل قوم د طرفه هم امن کښې وی | خو هرکله چې دشر موقع په لاس ورشي نو هغې ته ورګرځي

فِيْهَا ج   فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ   وَيُلْقُوْٓا   اِلَيْكُمُ   السَّلَمَ

په هغې کښې | نو که نۀ شول په څنګ ستاسو نه | اوو راند ئې نۀ کړه | تاسو ته | صلح

نوکه دغه خلق ستاسره دمقابلې نه روستو نشو | .... او صلح پیش نکړي

وَيَكُفُّوْٓا   اَيْدِيَهُمْ   فَخُذُوْهُمْ   وَاقْتُلُوْهُمْ   حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ ط

او بندې نۀ کړل | لاسونه خپل | نو اونیسئ هغوئ | او وقتل کړئ هغوئ | هرځائې کښې چې اوموموئ هغوئ

اولاسونه ئې اونیول | نوچې کوم ځائې ئې بیاموموئ هلته ئې رانیسئ او قتلوئ ئې

وَاُولٰٓئِكُمْ   جَعَلْنَا   لَكُمْ   عَلَيْهِمْ   سُلْطٰنًا   مُّبِيْنًا ۝ ع

او هغوئ ټول چې دی | ګرځولې دې مونږ | تاسو دپاره | په هغوی باندې | دلیل | ښکاره |

او هم په دې خلقو باندې مونږ تاسو ته د لاس پورته کولو څرګند اختیار درکړې دې

آسان ترجمه قرآن: بیا تاسو لره څه شوي دي چه د منافقانو په باره کښې دوه ډلې شوئ؟ حال دا چه هغوی چه کوم کارونه کړي دي د هغې په وجه الله هغوی ذلیل کړي دي آیا تاسو دا غواړئ چه داسې کس په هدایت باندې راولئ چه الله هغه (د هغه د خواهش مطابق) په ګمراهئ کښې مبتلا کړي وي؟ او الله چه

Scanned with Ca

خولو په ګمراهۍ کښې مبتلا کړي نو هغه دپاره ته چرې هم د هدايت څه لاره نه شې موندلې دا خلق غواړي چه لکه څنګه چه دوی کفر کړې دې داسې تاسو هم کفر وکړئ چه ټول برابر شئ نو (اې مسلمانانو!) تاسو د دوی نه چا لره هغه وخته پورې دوست مه جوړوئ تر څو چه دوی د الله په لاره کښې هجرت نه وي کړې نو که دوی (هجرت نه) اعراض وکړی نو دوی لره ونيسئ او کوم ځائې کښې هم چه دوی ومومئ نو قتل ئې کړئ او دوی نه چا لره مه څوک دوست نيسئ او نه مددګار خو هغه خلق ددې حکم نه مستثنام دي چه داسې قوم ته لاړ شي چه د هغوی او ستاسو په مينځ کښې څه (د صلح) معاهده وي يا هغه خلق تاسو څخه داسې حالت کښې راشي چه دهغوی زړونه ستاسو خلاف دجنګ نه هم بيزاره وي او دخپل قوم خلاف جنګ کولو نه هم او که د الله خوښه وې نو دوی به ئې په تاسو مسلط کړي وو نو تاسو سره به ئې ضرور جنګ کړې وو نو که دوی ستاسو نه بيرته شي او جنګ نه کوي، او تاسو ته د امن پيش کشې وکړي نو الله تاسو لره ددوی خلاف د کارروائۍ څه قسم حق نه دې درکړې (په منافقانو کښې) څه نور خلق به تاسو ته داسې ملاؤ شي چه هغوی داغواړي چه ستاسو نه هم محفوظ شي او دخپل قوم نه هم محفوظ شي (خو) چه کله دوی فتنې ته راوبللې شي نو دې کښې نسکور ور پريوځي نو که دا خلق تاسو سره (دجنګ کولو نه) جدا نه شي او نهٔ تاسو ته د امن پيش کش وکړي او نهٔ خپل لاسونه بند کړي نو دوی لره ونيسئ او کوم ځائې چه ئې ومومئ دوی ووژنئ دداسې خلقو خلاف الله تاسو ته کهلاؤ اختيار درکړې دې.

خلاصه تفسير

د دريو مختلفو ډلو بيان او دهغې احکام: د رومبۍ ډلې بيان ۞ [کله چه تاسو ددې مرتدانو حالت اوليدلو] ﴿فَمَا لَكُمْ فِي الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ﴾ بيا په تاسو څه اوشو چه ددې منافقانو په باره کښې تاسو [درائې اختلاف اوکړو] دوه ډلې شوئې [چه يوه ډله اوس هم دوی ته مسلمانان وائې] ﴿وَاللّٰهُ اَرْكَسَهُمْ بِمَا كَسَبُوْا﴾ حال دا دې چه الله ﷻ دوی لره [ددوی ښکاره کفرته] الټه واړول ددوی د [بد] عمل په سبب [دغه بد عمل دا دې چه دمرتد کيدو په وجه ئې سره دتوفيق دار اسلام پريښودو چه ددغه وخت داسلام د اقرار پريښودوپشان دکفر نخښه وه او په واقع کښې خو دوی د رومبې نه هم مسلمانان شوی نه وو. اوهم په دې وجه ئې ورته منافقان اووئيل] ﴿اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَهْدُوْا مَنْ اَضَلَّ اللّٰهُ﴾ آيا تاسو خلق [چه درته معلومه نه ده چه دار اسلام پريښودل نخښه دکفر ده] ددې اراده لرئې چه داسې خلقو ته هدايت اوکړئې چه الله ﷻ [کله چه دې خلقو ګمراهي اختيار کړه] په ګمراهئ کښې اخته کړی دی [الکه چه دالله ﷻ عادت دې چې ديو کار دقصد کولو په وخت دغه کار پيداکوی. مطلب دا دې چه يو غير مومن ګمراه ته هرکله چه هدايت موندونکې مومن وائې نودا تاسو لره روا نه دی] ﴿وَمَنْ يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا﴾ او چالره چه الله ﷻ په ګمراهئ کښې اخته کړی دهغه [دمومن کيدلو] دپاره به څه لار بيا نه مومئې [پس دې خلقو ته مومنان نه دی وئيل پکار اوښه ده نودا خلق پخپله څه مومنان کيدلې شی چه په کفر کښې ددوی داخته کيدو خو داحالت دې چې!] ﴿وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ كَمَا كَفَرُوْا﴾ دوی په دې آرزو کښې وی چه څنګه دوی کافران دی تاسو هم [الله ﷻ دې نکړی] کافران جوړ شئ ﴿فَتَكُوْنُوْنَ سَوَآءً﴾ چه په کښې تاسو اودوی ټول يوشان شئ نو [هرکله چه ددوی دا حالت دې نو!] ﴿فَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ اَوْلِيَآءَ﴾ په دوی کښې هيچا لره دوست مه جوړونې [يعنې هيچا سره هم

د مسلمانانو پشان سلوك مه كوئى څنګه چه ددوستئ دجائز كيدودپاره اسلام شرط دې] ﴿ حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﴾ ترڅو چه دوى دالله ﷻ په لار كښې [يعنى اسلام دكاملولو دپاره] هجرت اونكړى [څكه چه ددغه وخت دهجرت هغه حكم وو چه اوس كوم حكم دشهادت اقرار دې اود اسلام دكاملولو قيد څكه دې چې صرف دار اسلام ته راتلل كافى نه دى ولے چه هسې خو سوداګر كفار هم دار اسلام ته راځى بلكه چه په اسلامى شان سره راشى يعنى اسلام ښكاره كړى چه اقرار او هجرت لره يو ځائې جمع كړى . پاتې شو د زړه تصديق نودهغې علم يواځې الله ﷻ سره دے مسلمانانو ته ددې د لټولو ضرورت نشته دې] ﴿ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ وَجَدْتُّمُوْهُمْ ﴾ اوكه دوى [داسلام نه] مخ اړوى [اوپه خپل حال كافران پاتې شى] نو دوى رانيسئ اوقتلوئ ئې چرته ئې چه بيا مومئى [دا نيول يا دوژلو دپاره دى يا دغلامانو دجوړ ولو دپاره] ﴿ وَلَا تَتَّخِذُوْا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا ﴾ اونه په دوى كښې څوك دوستان جوړوئى اونه مددګاران [يعنى داچه په هيڅ حالت كښې دوى سره تعلق مه لرئى نه په امن كښې ورسره دوستى لرئى اونه په ويره كښې ترې مددغواړئى بلكه ځان له بيل ترې پاتې كيږئ].

د دويم ډلې بيان ﴿ اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ اِلٰى قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ ﴾ مګر [په دې كفارو كښې] چه كوم خلق داسے دى چه [تاسوسره په صلح كښې پاتې كيدل غواړى چه دهغې دوه طريقے دى يو خوا دا چه د صلحے په ډول وى يعنى] داسې خلقو سره يو ځائې كيږى [يعنى لوظ ورسره اوكړى] چه ستاسو اودهغوى ترمينځه لوظ [دصلحے] دے [لكه بنومدلج چه صلح ورسره اوشوه نوهغوى سره لوظ كونكى هم په دې صلح كښې راغلل نو بنومدلج خو په طريقه اولى دې صلح كښے راغلل] ﴿ اَوْ جَآءُوْكُمْ حَصِرَتْ صُدُوْرُهُمْ اَنْ يُّقَاتِلُوْكُمْ اَوْ يُقَاتِلُوْا قَوْمَهُمْ ﴾ يا [بله طريقه داده چه يے د واسطے نه صلح وى په دې سے شان چه] پخپله تاسو ته په دې سے حالت كښې راشى چه دهغوى زړونه تاسو سره او خپل قو سره هم دجنګ كولونه ډك شوى وى [يعنى خپل قوم سره هم تاسو سره جنګ كولو دپاره نه ملګرى كيږى اونه خپل قوم سره په ملګرى كيدو تاسو سره جنګ كولو ته تيارېږى يعنى هغوى اوتاسو دواړو سره صلح لرى نوددې دواړو طريقو په وجه ددوى نيول او وژل نشته] ﴿ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَسَلَّطَهُمْ عَلَيْكُمْ فَلَقٰتَلُوْكُمْ ﴾ او [تاسو ددې خلقو دصلحے د درخواست كولو په وجه دالله ﷻ احسان څكه اومنى چه ددوى په زړونو كښې ئے ستاسو رعب واچولو ورنه] كه الله ﷻ غوښتلے نودوى به ئے په تاسو مسلط [او زرور] كړى وو بيا به دوى تاسو سره جنګيدل [مګر الله ﷻ تاسودے پريشانئ نه اوساتلئ] ﴿ فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ فَلَمْ يُقَاتِلُوْكُمْ وَاَلْقَوْا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ ﴾ بيا كه [صلح كولو نه پس] تاسونه په ډډه اوسيږى يعنى درسره جنګ نه كوى او د روغے جوړے سلوك درسره كوى [ددې ټولو الفاظو مطلب دادې چه روغه جوړه ددرسره لرى دانور الفاظ ئے تاكيد دپاره اوفرمائيل] ﴿ فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا ﴾ نو [ددې روغے جوړے په حالت كښې] الله ﷻ تاسو لره په دوى باندې [دوژلو ياقيدولو] هيڅ لار نه ده دركړې [يعنى ددې اجازت ئے نه دې دركړې].

ددريمے ډلې بيان ﴿ سَتَجِدُوْنَ اٰخَرِيْنَ ﴾ بعضې داسې به هم تاسوته ملاو شى [يعنى دهغوى به دا حالت معلوميږى] ﴿ يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّاْمَنُوْكُمْ وَيَاْمَنُوْا قَوْمَهُمْ ﴾ چه د [دهوكے په ډول] هغوئ دا [هم] غواړى چه تاسو نه هم بے خطرے پاتې كيږى اودخپل قوم نه هم بےخطرے پاتې كيږى ﴿ كُلَّمَا رُدُّوْٓا

Scanned with Ca

اِلَى الْفِتْنَةِ اُرْكِسُوْا فِيْهَا ﴾ [اوسره ددي هم] كله چه هغوى لره [دښكاره مخالفينو له طرفه] شرارت [اوفساد ته] مخه راواړولے شي [يعنى مسلمانانو سره دجنګ كولو دپاره ورته اووئيلې شي] نوهغوى [سمدستى] پدغے [شرارت] كښې ورپريوځي [يعنى مسلمانانو سره جنګ كولوته بلې اووهي[پانځې راپورته كړى] اوهغه د دهوكے صلح ماته كړى] ﴿فَاِنْ لَّمْ يَعْتَزِلُوْكُمْ وَيُلْقُوْا اِلَيْكُمُ السَّلَمَ وَيَكُفُّوْا اَيْدِيَهُمْ﴾ نودغه خلق كه [صلح ماته كړى او] تاسو [يعنى تاسو سره دجنګ كولو] نه ډډه اونكړى اونه تاسوسره روغه جوړه لرى اونه خپل لاسونه [ستاسو دمقابلې نه] بنداوساتي [دوراندے پشان د ټولو مطلب يوشان داسې دې چې صلح ماته كړى] ﴿فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوْهُمْ﴾ نوتاسو [هم] هغوى نيسئ او وژنئ ئے چرته ئے چه بيا مومئى ﴿وَاُولٰٓئِكُمْ جَعَلْنَا لَكُمْ عَلَيْهِمْ سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا﴾ او مونږ تاسولره په هغوى باندې صفا حجت دركړې دې [چه دهغې نه دهغوى وژل ښكاره دى دهغوى دلوظ ماتولو دغه حجت دې].

معارف ومسائل

﴿فَمَا لَكُمْ فِى الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ﴾ په ذكرشوى آيتونو كښې ددرې ډلوبيان دې چه دهغوئ په باره كښې دوه حُكمونه ذكرشويدى ددې ډلوواقعات په دَلاندې ذكرشووروايتونونه په ډاګه كيږي.

ړومبې روايت: عبد الله بن حميد رحمه الله دحضرت مجاهد رحمه الله نه روايت اوكړوچه دمكې څنې مشركان مدينې منورې ته راغلل اودائې ښكاره كړل چه مونږه مسلمانان شوى يُواوهجرت مواوكړوليكن بيامرتدشو-اورسول الله ﷺ ته ئې دابهانه جوړه كړه چه مونږ دمكې مكرې نه دتجارت څه سامان راوړو، داشان هلته لاړل اوبيارانغلل،ددوئ په باره كښې دمؤمنانوراني مختلفې شوې،څنوئيل چه دغه خلق مؤمنان دى اوڅنوورته كافروئيل،الله تعالى ددوئ كافركيدل په دې آيت﴿فَمَا لَكُمْ فِى الْمُنٰفِقِيْنَ فِئَتَيْنِ﴾كښې بيان كړل اوددوئ دقتل حُكم ئې وركړو.

حضرت حكيم الامت تهانوى رحمه الله فرمائيلي دى چه دوئ ته دمنافق وئيلودامطلب ووچه داسلام ددعوې كولوپه وخت هم دوئ منافق وُو اودزړه نه ئې نه ووراوړې،اګرچه دمنافقانوقتل كول په شريعت كښې نۀ ووخوترهغې پورې چه كُفربه ئې پټولو،ليكن ددې خلقومرتدكيدل ښكاره شوى وو،دوئ ته مسلمانان وئيل دحسن ظن په وجهې سره وو،داسې ښكارى چه ددوئ دمرتدكيدوپه دليلونو كښې ئې څه تاويل كړې وو-خوهركله چه دغه تاويل دذاتى رائې په بُنياد باندې شوې وو چه تائيدئې په څه شرعى دليل سره نۀ ووشوې خكه ورله څه اعتبارورنكړې شو.

دويم روايت: ابن ابى شيبه، دحضرت حسن رضى الله عنه نه داسې كړې دې چه دبدراوأحد دواقعې نه پس، سراقه بن مالك درسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضرشواودرخواست ئې پيش كړوچه زما قوم بنى مدلج سره صُلح اوكړئ، هغوئ په دې غرض حضرت خالد رضى الله عنه هلته اوليږلو دصلح مضمون داوؤ:

مونږ به درسول الله ﷺ خلاف دهيچامددنۀ كوؤاوكه قريش مسلمانان شى،مونږ به هم مسلمانان شواوكوم قومونه چه مونږ سره يوځائې دى هغوئ هم په دې معاهده كښې مونږ سره شريك دى(۱).

نوپه دې باره كښې آيت، ﴿وَدُّوْا لَوْ تَكْفُرُوْنَ﴾ تر ﴿اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ﴾ الخ نازل شو.

(۱) مصنف ابن ابى شيبه: ج۸، ص ۴۵۸

دریم روایت: د حضرت ابن عباس نه داسې شویدې چه ﴿سَتَجِدُونَ اٰخَرِيْنَ الخ﴾ کښې د ذکرشوؤ خلقونه مُراد د اسد او غطفان د قبیلې خلق دی چه مدینې ته راغلل، په ښکاره به ئې د اسلام دعوی کوله او خپل قوم ته به ئې وئیل چه مونږه په بیزو [شادو] اولړم ایمان راوړې دې او مسلمانانو ته به ئې وئیل چه مونږ خوستاسو په دین یو (۱)-

اوضحاک د حضرت ابن عباس ﷺ په روایت دا حالت د بنی عبدالدار نقل کړې دې، ړومبې اودویم روایت په روح المعانی کښې او دریم په معالم کښې دې-

حضرت تهانوی رحمه الله فرمائیلی دی چه د دې روایت د خلقومثال د اول روایت د خلقو پشان شو چه د ړومبې نه د دې خلقونهٔ مسلمانیدل په دلیل سره ثابت شوی وو، ځکه ئې حکم د عامو کُفارو پشان دې، یعنی د صُلح کولو په وخت دورسره جنګ اونکړې شی او د صُلح د نیشتوالی په صورت کښې د ورسره جنګ کولې شی، چنانچه د ړومبی روایت والؤ په باره کښې دویم آیت: ﴿فَاِنْ تَوَلَّوْا فَخُذُوْهُمْ وَاقْتُلُوْهُمْ﴾ کښې د دوئ د ګرفتارولو او قتلولو حُکم او په دریم آیت:

﴿اِلَّا الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ﴾ کښې د صُلح په باره کښې د دوئ استثنا موجود ده، د جهاد مصالحت ذکر چه په دویم روایت کښې دې او د استثناء د تاکید د پاره ئې بیا د ﴿فَاِنِ اعْتَزَلُوْكُمْ﴾ تصریح اوکړه- او د دریم روایت والؤ په باره کښې، په څلورم آیت ﴿سَتَجِدُونَ اٰخَرِيْنَ﴾ کښې بیان شویدی- چه که دغه خلق تاسو نهٔ په ډډه کیږی بلکه جنګ درسره کوی نو تاسو ورسره جهاد کوئ، دې نه معلومیږی چه که دوئ صُلح اوکړی نو ورسره د جنګ نشی کولې [بیان القرآن] (۲)

خُلاصه دا چه دلته د دریؤ فرقو بیان اوکړې شو-

① په کومه زمانه کښې چه هجرت کول اسلام د پاره شرط وو په هغه زمانه کښې هجرت اونکړی یاخو هجرت کولو نه پس د داراسلام نه بیا دارحراب ته منتقل شی-

② مسلمانانو سره د جنګ نهٔ کولو لوظ قول پخپله اوکړی یا داسې معاهده کوونکو سره لوظ اوکړی-

③ چه د وخت تیرولو په غرض صُلح اوکړی خو چه د مسلمانانو خلاف د جنګ کولو دعوت ورکړې شی نو په هغې کښې شریک شی او په خپل کړی لوظ تینګ پاتې نشی-

ړومبئ ډله د عامو کفارو پشان ده، بله ډله دوژلو او نیولو راګیرولو نه مستثنې ده، دریمه ډله هم د هغه سزا مستحق ده د کومې چه ړومبئ ډله ده- د دې آیتونو تول دوه حکمونه ذکر شوی دی، د صُلح د نیشتوالی په وخت کښې جنګ کول، او د صُلح په صورت کښې ورسره جنګ نهٔ کول-

هجرت مختلف صُورتونه او احکام: ﴿حَتّٰى يُهَاجِرُوْا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ [۳] د اسلام په شروع کښې د دار کُفر نه هجرت کول په ټولو مسلمانانو فرض وو، په دې وجه الله تعالی داسې خلقو سره د مسلمانانو پشان د سلوک کولو منع کړې وه کوم چه د دې فرض پریښودونکی وو، بیا چې کله مکه مکرمه فتح شوه نو نبی کریم ﷺ اوفرمائیل چې ﴿لا هجرة بعد الفتح﴾ [رواه البخاری] (۴) یعنی هر کله چې مکه فتح شوه او دارالاسلام جوړ شو نو اوس د هغه ځائې څخه هجرت فرض پاتې نشو، دا دهغه

۱) تفسیر البغوی تحت هذه الآیة: ج ۲، ص ۲۶۰
۲) تفسیر بیان القرآن تحت هذه الآیة: ج ۲، ص ۱۳۱، ۱۳۲
۳) د هجرت متعلق بحث د پاره د سورة نساء د سلم [۱۰۰] تفسیر اوګورئ.
۴) صحیح البخاری، کتاب الجهاد، باب لا هجرة بعد الفتح: ج ۱، ص ۴۳۲

Scanned with Ca

زماني حکم دي چي کله هجرت شرط ایمان وو. هغه سړی ته به مسلمان نشو ویلي کیدي چي دکوم بۀ وس وو او ددي باوجود به ئې هجرت نه کولو. خو روستو دا حکم منسوخ شو. اوس دا صورت باقي نه دي پاتې.

دهجرت دويم صورت به تر قیامته پورې باقي وي. اود هغې باره کښې حدیث پاك کښې راغلی دی چې: ﴿لاتنقطع الهجرة حتى تنقطع التوبة﴾[بخاری] ([1]) یعنی هجرت به تر هغه وخته پورې باقی وی تر کومې چې د توبې د قبولیت وخت باقی دې.

علامه عینی رحمه الله دبخاری شارح د هجرت متعلق لیکلی دی چې ﴿ان المراد بالهجرة الباقية هي هجر السيئات﴾ [یعنی دې هجرت نه مُراد دګناهونوپریښودی ([2]). څنګه چې په یو حدیث مبارك کښې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: ﴿المهاجر من هجر مانهى الله عنه﴾[مهاجر هغه دې چه دټولو هغه څیزونونه خان ساتی کوم چه الله تعالی حرام کړی دی[په حواله دمرقاة جلد اول] ([3])

ددې ټول بحث نه معلومه شوه چه په اصطلاح کښې هجرت په دوه معنو کښې استعمالیږی-

① ددین په خاطر وطن پریښودل لکه چه صحابه کراموخپل وطن مکه مکرمه پریښوده، حبشې اومدینې منورې ته ئې هجرت کړې وو- ② دګناهونوپریښودل-

﴿وَلَا تَتَّخِذُوا مِنْهُمْ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا﴾ دې آیت شریف نه معلومیږی چه کُفارونه مدد غوښتل حرام دی، چنانچه یوروایت کښې راغلی دی چه هرکله انصارو درسول الله ﷺ نه دااجازت اوغوښتوچه دیهودونه مدد اوغواړی نوهغوئ ورته اوفرمائیل: ﴿الخبيث لاحاجة لنا بهم﴾[یعنی دا خبیث قوم دې زمونږ سره دوئ ته هیڅ ضرورت نشته] [مظهری جلد ۲] ([4])-

وَمَا كَانَ
| اونۀ دي کار
|............ اودیو

لِمُؤْمِنٍ	أَنْ يَّقْتُلَ	مُؤْمِنًا	إِلَّا خَطَـًٔا	وَمَنْ	قَتَلَ	مُؤْمِنًا	خَطَـًٔا
دیومومن	چی قتل کړي	مومن	مګر په خطا سره	اوڅوك چي	مر کړي	یومومن	په خطا سره

مسلمان داکار نه دي اچي هغه بل مسلمان قتل کړي امګر په خطا سره او چا چي یو مسلمان په خطاسره قتل کړو

فَتَحْرِيْرُ	رَقَبَةٍ	مُّؤْمِنَةٍ	وَّدِيَةٌ	مُّسَلَّمَةٌ	إِلٰٓى أَهْلِهٖٓ	إِلَّآ
نو دی آزاد ول	دیو غلام	مومن	اودیت دي	چی سپارلي شوي وی	وا رثانو دمړی ته	مګر

نو[کفاره ئي داده] چي یو مؤمن مرئی دي آزاد کړي | اود مړی وارثانو ته دي دیت ورکړی | مګر

[1]) دا حدیث عاجز بنده ته په صحیح بخاری کښې ملاونۀ شو. البته سنن ابي داود، کتاب الجهاد، باب في الهجرة هل انقطعت کښې شته دے.
[2]) عمدة القاری: ج۱، ص۷۷
[3]) مرقاة، کتاب الصلاة، باب الامامة، ومسند أحمد، مسند عبدالله بن عمرو رضی الله عنه رقم الحدیث: ۶۸۳۲
[4]) تفسیر المظهری تحت هذه الآیة: ج۲، ص۱۷۹

اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ؕ فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ

كه هغوئ معاف كړي ديت | نو كه وي | دداسې قوم نه | چې دشمن وي ستاسو | او هغه وي مومن |

كه هغوئ خون بها او بخښي [نو جائز ده] | او كه دغه مومن مړی دداسې قوم سړی وو چې ستاسو ورسره دشمني وي

فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ؕ وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍۭ بَيْنَكُمْ

نو دی آزادول ديو غلام | مومن | او كه وي مړی | دداسې قوم نه | چې په منځ ستاسو |

نو يو مسلمان مريی دې آزاد كړي [او دومره بس دی] | او كه دداسې قوم سړی وو چې ستاسو

وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ

او په منځ دهغوئ كښې | معاهده وه | نو دې ديت | ورسپارلې شوې | وارثانو دمړی ته | او آزادول |

او دهغوئ په مېنځ كښې يوه معاهده وی | نو دهغه وارثانو ته دې ديت هم وركړي | او

رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ۚ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ۫

ديو غلام | مومن | نو چا چې اونه موندو [غلام] | نو دی پرې روژې نيول | دوه مياشتې | پرله پسې

يو غلام دې هم آزاد كړي | او څوک چه د مريي آزادولو طاقت نه لري | نو هغه دې دوه مياشتې پرله پسې روژې

تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ۝ وَمَنْ يَّقْتُلْ

دپاره دقبلولو د توبې | د طرفه دالله نه | او دې | الله | پوهه | خاوند د حكمت | او څوك | چې قتل كړي

اونيسی [دا دالله ﷻ د طرفه د توبې ويستلو طريقه ده] او الله په هر څه پوهه او صاحب حكمت دی [او څوک چې يو

مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ خٰلِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ

يو مومن | په قصدسره | نو سزا دهغه | جهنم دې | چې هميشه به وی | په هغې كښې | او غضب كړی دی الله

مومن په قصد سره قتل كړي | نو دهغه سزا دوزخ دې | په هغې كښې به هميشه وی | او په هغه د الله غضب

عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ۝

په هغه باندې | او لعنت كړی دی الله په هغه باندې | او تيار كړې نی دی | هغه دپاره | عذاب | لوی

دی [او دهغه لعنت دې پرې] .... او الله داسې [قاتل] دپاره ډيره لويه سزا مقرر كړي ده

آسان ترجمه قرآن: د يو مسلمان دا كار نه دې چه هغه بل مسلمان ووژني مگر دا چه غلطۍ سره داسې وشي او كوم يو كس چه يو مسلمان په غلطۍ سره ووژني نو په هغه باندې فرض دي چه يو غلام آزاد كړي او ديت (يعنی خون بها) د مقتول وارثانو ته ورسوي، هنه كه هغوی معافي وكړي او كه مقتول د يو داسې قوم نه وي چه ستاسو دښمنان وي، خو دې پخپله مسلمان وي نو يو مسلمان غلام آزادول دي (خون بها وركول واجب نه دی) او كه مقتول د هغه خلقو نه وي چه (مسلمانان نه وي مگر) د هغوی او ستاسو په مېنځ كښې څه معاهده وي نو بيا هم دا فرض ده چه خون بها د هغوی وارثانو ته ورسولې شي او يو مسلمان غلام دي آزاد كړې شي هنه كه چا سره غلام نه وي نو په هغه فرض دي چه دوه مياشتې روژې ونيسي دا د توبې طريقه ده چه دالله مقرر كړي ده او الله عليم او حكيم دې او څوك چه يو مسلمان لره

Scanned with Ca

قصدًا وُوژني نو دهغه سزا جنهم دې. دې کښې به هغه هميشه وي او الله به په ده باندې خپل غضب نازل کړي او لعنت به راوليږي او الله ده د پاره زبردست عذاب تيار کړې دې.

خلاصه تفسير

﴿ وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا ﴾ اود چا مومن شان نه دې چه هغه مومن لره [دشروع نه] اووژني مګر په غلطۍ سره [چه اوشي نوهغه بيله خبره ده] ﴿ وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَـًٔا ﴾ او څوك چه چا مومن لره په غلطۍ سره اووژني ﴿ فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ وَّدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖٓ اِلَّآ اَنْ يَّصَّدَّقُوْا ﴾ نو په هغه [د شريعت له مخه] يو مسلمان غلام يا وينځه آزادول [واجب] دي او خون بها [هم واجبه] ده چه هغه [مقتول] خاندان والو ته دې [يعنې وارثانو ته ئې دميراث د برخو په اندازه] حواله کړې شي [اودچا چه څوك وارثان نه وي نو بيت المال د وارثانو قائم مقام دې] مګر که دغه خلق [دغه ديت] معاف کړي [خواه ټوله وي يا بعضې نوهمدغه هومره به معاف شي] ﴿ فَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَّكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ ﴾ اوکه هغه [په خطا وژلې شوې] دداسې قوم نه وي چه ستاسو مخالف وي [يعنې حربيان دي اوهم پدوي کښې په څه وجه اوسيدو] اودغه کس پخپله مومن دې نو [صرف] ﴿ فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ﴾ يو غلام يا وينځه مسلمانا آزادول دي [اوديت ځکه نشته که ددغه مقتول وارثان مسلمانان وي نوهغوی ځکه حقدار نه دي چه اسلامي حکومت کښې نه اوسيږي اوکه کافران دي نو په دې صورت کښې ديت دبيت المال حق جوړيږي اودار حرب نه د دار اسلام بيت المال ته ميراث نشي راوړلې] ﴿ وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ ﴾ اوکه دغه [په خطا وژلې شوې کس] دداسې قوم نه وي چه ستاسو او ددوی ترمينځه لوظ [دصلح يا ذمې] وي [يعنې ذمي صلح کوونکې يا امن غوښتونکې وي] ﴿ فَدِيَةٌ مُّسَلَّمَةٌ اِلٰٓى اَهْلِهٖ وَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ ﴾ نو خون بها [هم واجبه] ده چه ددغې [مقتول] خاندان والو [يعنې وارثانو] ته به حواله کولې شي [ځکه چه کافر دکافر وارث وي] اويو غلام يا وينځه مسلمانه به آزادول وي بيا [په کومو صورتونو کښې چه غلام يا وينځه آزادول واجب دي] ﴿ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ۡ تَوْبَةً مِّنَ اللّٰهِ ﴾ چاته چه [غلام ياوينځه] په لاس نه راځي [اونه يئ قيمت لرلې شي] نو [دده په ذمه ددې آزادولو په ځائې] په مخه [يعنې يې د پاده] ددو مياشتو روژې دي [دا آزادول اوددې د پېروسۍ په صورتونو کښې روژې نيول] په ډول دتوبې [دي] چه دالله ﷻ د طرفه تاکلې شوی دی [يعنې دا طريقه ئې په شريعت کښې مقرر کړې شوې ده] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا ﴾ اوالله ﷻ دلوئې علم خاوند او د حکمت خاوند دے [په خپل علم او فضل سره ئې دمصلحت اوښيګړې په جوړ احکام مقرر کړی دی ګو چه هر چرته حکمت بنده ته معلوم نه وی].

﴿ وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهٗ جَهَنَّمُ ﴾ او څوك چه چا مسلمان لره په قصد اووژني نو دده [اصلي] سزا [خو] جهنم [کښې داشان استوګنه] ده ﴿ خٰلِدًا فِيْهَا ﴾ چه هميشه هميشه به په کښې اوسيږي [ليکن دالله ﷻ فضل دې چې دا اصلي سزا به جاری نه وی بلکه دايمان په برکت به آخرنجات بيا مومی] ﴿ وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا ﴾ اوپده به [تاکلې نيتې پورې] الله ﷻ په قهر وی او دې به دخپل [خاص] رحمت نه لرې کړی اوده دپاره به دلوئې سزا [يعنې د دوزخ دسزا] انتظام کوی.

Scanned with Ca

معارف او مسائل

د آیتونو نزول ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ اَنْ يَّقْتُلَ مُؤْمِنًا اِلَّا خَطَـًٔا﴾ د پورته نه د جنګ جګړو ذکر په مخه را روان دې او د شروع نه د قتل صورتونه اته دي ځکه چه مقتول به د څلورو حالتونو نه خالي نه وي، یا به مؤمن یا ذمي یا به صلح کوونکې امن غوښتونکې وي او یا به حربي وي او قتل دوه قسمه دې، یا په قصد یا په خطا دې۔ په دې شان د قتل اته صورتونه شو د مؤمن قتل عمد، او قتل خطاء، د ذمي قتل عمد او قتل خطاء د مصالح قتل عمد او قتل خطاء د حربي قتل عمد او قتل خطاء۔

په دې صورتونو کښې د بعضو حکم خو پورته ذکر شو، د بعضو را روان دې او د بعضو د ا په حدیث شریف کښې موجود دې چنانچه د اول صورت دنیوي حکم یعني د قصاص واجبیدل په سورت بقره کښې راغلي دې او اخروي حکم په آیت ﴿وَمَنْ يَّقْتُلْ﴾ کښې را روان دې۔ د دویم صورت بیان په ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ﴾ تر ﴿وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ﴾ کښې راغلې دې ـ د دریم صورت حکم د دارقطني [1] په حدیث کښې دا شان راغلي دې چه د ذمي په عوض کښې رسول الله ﷺ د مسلمان نه قصاص اغستې دې از یلعي په تخریج الهدایة کښې [[2]]، د څلورم صورت ذکر په:

﴿وَاِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِّيْثَاقٌ﴾ کښې راحی، د پنځم صورت ذکر په: ﴿فَمَا جَعَلَ اللّٰهُ لَكُمْ عَلَيْهِمْ سَبِيْلًا﴾ کښې تیر شوې دې، د شپږم صورت حکم څلورم صورت سره ذکر شوېدې، ځکه چه میثاق عام دې چه وقتي او دائمي دا ورولړه شامل دې نو ذمي او مستامن دواړه پکښې راحی۔ د درمختار د کتاب الدیات په شروع کښې د مستامن د دیت واجبیدو ته ئې صحیح وئیلي دی، د اووم او اتم صورت حکم پخپله د جهاد د مشروعیت نه، پورته معلوم شو ځکه چه په جهاد کښې حربیان په قصد سره وژلې کیږي، او د خطاء روا والې په درجه اولی سره ثابتیږي [بیان القرآن] [3]۔

د قتل درې قسمونه او د دې شرعي حکم: ① رومبې قسم قتل عمد دې: چه په ښکاره، قصد سره د داسې آلې په ذریعه سره واقع شي چه د اوسپنې وي یا په اندامونو جدا کولو او کټ کولو کښې د اوسپنې د آلې پشان وي لکه د تیره بانړس یا د تیره کانړې وغیره شو۔

② دویم قسم، شبه عمد: چه وي خو په قصد سره مګر په داسې آله نه وي چه اندامونه ورسره پریکیدې شي۔

③ دریم قسم قتل خطاء دې: هغه دا دې چه د لرې نه خوئ په قصد او ګمان کښې دا وي چه ښکاري ښناور او لم یا حربي کافر او لم مګر په هغې بنیادم اولګی، دلته د خطاء نه مراد غیر عمد دې نو دویم دریم قسم دواړه قسمونه په دې کښې راغلل چه دیت هم پکښې شته او ګناه هم خو دلته په دواړو قسمونو کښې فرق شته، د دویم قسم دیت سل اوښان دی چه څلور قسمونه به پنځویشت پنځویشت ورکولې شی، او د دریم قسم هم سل اوښان داسې دی چه د پنځو قسمونو نه به شل شل ورکولې شی البته که دیت د نغدو په صورت کښې ورکولې شی نو په دواړو قسمونو کښې لس لس زره شرعي درهمه یا زر، زر شرعي دیناره دی او د دویم قسم ګناه ځکه زیاته ده چه دا په قصد دې او د دریم قسم سزا ځکه د هغې نه کمه ده چه یواځې بې احتیاطي پکښې شوې ده [4] [الکه څنګه چه په هدایه

[1] سنن دار قطني رقم الحديث: ۱۹۰
[2] نصب الراية: ج ۵، ص ۳۳
[3] بيان القرآن تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۱۲۲
[4] الهداية، كتاب الجنايات: ج ۴، ص ۵۵۸

Scanned with Ca

کښې دی]چنانچه دَرقبې آزادول واجبيدل اودغه شان لفظ دَتوبې هم په دې دلالت کوی اوداحقيقت په دُنيا کښې دَشرعی احکامودَجاری کيدوپه اعتبارسره دی اودګناه په اعتبارسره عمد او غيرعمد کيدل ئې دَزړهٔ په ارادې اوقصد باندې بنادی چه راتلونکې وعيدپرِ اداتړه دې او دَا الله تعالی ته معلوم دې، کيدې شی چه په دې اعتبارسره اول قسم غيرعمدشی اودويم قسم عمدشی۔

مسئله:دَديت دغه ذکرکړې شوې ديت په هغه صورت کښې دې چه وژلې شوې بنيادم نارينه وی ليکن په دغه صورت کښې دَزنانه ديت نيم دې[هدايه]([1])

مسئله:دَمسلمان اوذمی ديت يوشان دې لکه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی. ﴿دية كل ذي عهد في عهده الف دينار﴾[هدايه، اوابوداؤدهم په خپلومراسيلوکښې دَدې اخراج کړې دې]([2])۔

مسئله:کفاره اداکول [رقبه آزادول ياروژې نيول]پخپله په وژونکی دی اوديت به دَوژونکی په امداديانو خپلوانواداکول وی کوموته چه دَشريعت په اصطلاح کښې عاقله وئيلې شی[بيان القرآن]([3])۔

دلته داشبه نهٔ دی کول پکارچه دَوژونکی دَجرم پيتې دَهغه په اوليا ؤاوامداديانوولې غورځولې شی هغوئ خوبيګناه وی؟ ليکن په دې کښې داګسان ځکه قصوروار وی چه وژونکې ئې دَداسې بې احتياطئ نه نهٔ دې منع کړې چه ديت په دوئ راشی نوآئنده دپاره به ورته دَاحتياط کولو نصيحت کوی،

مسئله:په کفاره کښې مريئې اووينځه دواړه برابردی ځکه چه لفظ دَرقبه عام دې خوپکاردی چه دَرقبې اندامونه دَصحيح سالم وی۔

مسئله:دَمقتول ديت به ددهٔ په شرعی وارثانوويشلې شی، دَچاچه څومره برخه رسې دَهغه په معاف کولوبه هم هغه هومره برخه معاف کيږی، که ټولوخپلې برخې معاف کړې نوټول ديت به معاف شی۔

مسئله:دکوم مقتول چه څوک شرعی وارثان نهٔ وی نوديت به ئې په بيت المال کښې ځکه جمع کيږی چه داترکه[ميراث]دې اودَدې حُکم هم دغه دې[بيان القرآن]([4])۔

مسئله:دَاهلِ ميثاق [ذمی اومستامن]دَوژلوپه وجه واجب شوې ديت به هله واجبيږی چه اهل ئې موجودوی۔ که اهل ئې دَسره نهٔ وی، ياوی خوهغوئ مسلمانان وی نومسلمانان دکافروارثان نشی جوړيدې بلکه دابه په نيشت حساب وی، که مقتول ذمی وو، نوديت به ئې په بيت المال کښې داخليږی ولې چه دَذمی لاوارث ترکه، چه ديت پکښې هم داخل دې هغه به بيت المال کښې داخلولې شی [درمختار]([5])اوکه ذمی نهٔ وونوديت به ئې نهٔ واجبيږی[بيان القرآن]([6])

مسئله:که دَمرض وغيره په وجه په روژونيولو کښې پرلپسې والې چانه فوت شونودَنوی سره به ئې نيسی البته دَهغه ښځې پرلپسې والې به فوت نه حسابيږی چه مينځ کښې څه روژې ترِ دَحيض په وجه پاتې شوی وی۔

---

[1]) الهداية، كتاب الديات: ج ۴، ص ۵۸۲
[2]) المراسيل لابي داود، رقم الحديث: ۲۲۳، باب دية كل ذى عهد الخ۔
[3]) بيان القرآن تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۱۳۵
[4]) بيان القرآن: ج ۲، ص ۱۳۶
[5]) الدر المختار، كتاب المعاقل: ج ۶، ص ۶۳۲
[6]) بيان القرآن: ج ۲، ص ۱۳۶

Scanned with Ca

مسئله که دڅه عذر په بنا په روژونيولو څوک قدرت نه لري نو تر قدرت راتلو پورې دې په مخه توبه کوي-

مسئله په قتل عمد کښې دا کفاره نيشته، توبه کول پکار دي[بيان القرآن](١)-

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا

اې هغه کسانو چې ايمان موراوړې دې | اکله چې | سفر کوئ تاسو | په لار دالله کښې | نو ښه تحقيق کوئ |

انې مومنانو تاسو چې دالله لار کښې [جهاد دپاره] لاړشئ | نو اپخپل پردی کښې | ښه تحقيق کوئ

وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰٓ إِلَيْكُمُ السَّلَٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا تَبْتَغُونَ

اومه وايئ تاسو | هغه چاته | چې پيش کړي | تاسو ته سلام | چې نه ئې ته | مومن | غواړئ تاسو

اوڅوک چې درباندې سلام واچوی | نو هغه ته دا مه وائې چې ته مومن نه ئې | ....که تاسو

عَرَضَ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللَّهِ مَغَانِمُ كَثِيرَةٌ كَذَٰلِكَ كُنْتُمْ

مال | دژوند د دنيا | نو دي الله سره | غنيمتونه | ډير | هم په دې حالت | وئ تاسو |

د دنيا مال غواړئ | نو الله پاک سره ډير ښه غنيمتونه دي | ....آخر تاسو هم

مِنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوا إِنَّ اللَّهَ كَانَ

مخکښې ددې نه | نو احسان اوکړو الله | په تاسو | نو ښه تحقيق کوئ | بيشکه الله | دې |

ددې نه وړاندې [مکه] کښې دغه شان کمزوری حالت کښې پاتې شوی وئ | نو الله په تاسو احسان اوکړو او الله

بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا ۝ لَا يَسْتَوِي الْقَٰعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ

په هغه څه | چې تاسو ئې کوئ | خبردار | نه دي برابر | ناست کسان | دمومنانو نه |

ستاسو د ټولو کارونو ښه خبر دې | نشي برابريدې هغه مسلمانان چې بې دڅه عذر نه په کور ناست وي

غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَٰلِهِمْ

بې دخاوندانو دعذره | اوجهاد کونکي | په لار دالله کښې | په مالونو خپلو سره |

اوهغه مومنان چې دالله ﷻ په لار کښې په سرومال سره جهاد کوي |

وَأَنْفُسِهِمْ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَٰهِدِينَ بِأَمْوَٰلِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ

او په ځانونو خپلو سره | فضيلت ورکړې دې الله | جهاد کونکو ته | په مالونو خپلو سره | او په ځانونو خپلو سره

..........الله ﷻ فضيلت ورکړې دې په سرومال باندې جهاد کونکوته |

عَلَى الْقَٰعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ

په کيناستونکو | په درجه کښې | او د ټولو سره | وعده کړې ده الله | د ښې جزا |

په ناستو خلقو باندې |............ اګرچې هريو سره ئې دجنت وعده کړې ده |

وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَٰهِدِينَ عَلَى الْقَٰعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا ۝

او فضيلت ورکړې دې الله | جهاد کونکوته | په کيناستونکو باندې | اداجر | لوئ |

خو د هغه غازيانو دپاره د ناستو خلقو په مقابله کښې ډيرلوئې اجر دې ....

(١) بيان القرآن: ج ٢، ص ١٣٦

Scanned with Ca

دَرَجٰتٍ	مِّنْهُ	وَمَغْفِرَةً	وَّرَحْمَةً ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ
دهغوئ دپاره درجې دی لوئ	دطرفه دهغه [الله] نه	او مغفرت دې	او رحمت دې	او دې الله
هغوئ دپاره دالله ﷻ دطرفه لوئې لوئې درجې	اوبخښنه او رحمت دې	....		او الله ﷻ

غَفُوْرًا	رَّحِيْمًا ﴿۹۶﴾
بخښونکې	رحم کونکې
ښښونکې رحم کونکې دې	

آسان ترجمه قرآن: اې د ایمان خاوندانو! چه کله تاسو د الله په لاره کښې سفر کوئ نو تحقیق کوئ. او چه څوک تاسو ته سلام وکړي نو د دنیوي ژوندګئ د سامان د حاصلولو په خواهش کښې هغه ته دا مه وایئ چه "ته مؤمن نه ئې" ځکه چه الله سره د غنیمتونو ډیرې خزانې دي تاسو هم مخکښې داسې وئ بیا الله په تاسو فضل وکړو نو تحقیق کوئ بې شکه تاسو چه څه کوئ نو الله د هغې نه خبردار دې کوم مسلمانان چه معذوره نه وي او هغه (دجهاد کولو په ځائ کور کښې) کیني هغوی دالله په لاره کښې په مالونو او ځانونو سره د جهاد کوونکو سره برابر نه دي کوم خلق چه دالله په لاره کښې جهاد کوی هغوی له الله په ناستو بانډې په درجه کښې فضیلت ورکړې دې او الله مجاهدینو لره په ناستو بانډې ډیر لوئ فضیلت ورکړې دې او الله د ټولو سره ښه وعده کړې ده او لوئې ثواب ئې ورکړې دې یعنې خاص د خپل طرف نه لوئ درجې او مغفرت او رحمت ا او الله ډیر بخښونکې او ډیر مهربانه دې.

خلاصه تفسیر

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ﴾ ائې د ایمان خاوندانو کله چه تاسو دالله ﷻ په لارکښې [یعنی جهاد دپاره] سفر کوئی ﴿ فَتَبَيَّنُوْا وَلَا تَقُوْلُوْا لِمَنْ اَلْقٰٓى اِلَيْكُمُ السَّلٰمَ لَسْتَ مُؤْمِنًا ﴾ نو هریو کار [قتل وی اوکه بل څه وی] تحقیق کولو نه پس کوئی اوداسې کس چه ستاسو مخکښې داطاعت [فرمانبرداریٔ نخښې ښکاره کړی [لکه کلمه وائی یا د مسلمانانو په طریقه سلام اوکړی] نو داسې مه وائې چه دا خو [د زړهٔ نه] مسلمان نه دې [صرف دخپل ځان ساتلو دپاره په دروغه اسلام ښکاره کوی] ﴿ تَبْتَغُوْنَ عَرَضَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ﴾ په دې سے شان چه تاسو ددینوی ژوند دسامان خواهش لرئ ﴿ فَعِنْدَ اللّٰهِ مَغَانِمُ كَثِيْرَةٌ ﴾ خکه چه الله ﷻ سره [یعنی دهغه په علم اوقدرت کښې ستاسو دپاره] ډیر دغنیمت مالونه دی [چه ورته به جائز طریقو سره ملاویږی اویاد کړئی چه] ﴿ كَذٰلِكَ كُنْتُمْ مِّنْ قَبْلُ فَمَنَّ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ فَتَبَيَّنُوْا ﴾ وړاندې [په یو زمانه کښې] تاسو هم دغه شان وی [چه ستاسو داسلام قبلولو اډانړه ستاسو په دعوی اوښکاره کولووه] بیا الله ﷻ په تاسو احسان اوکړو [چه په دې ظاهری اسلام بس والےاوکړې شو او باطنی لټون ته څه ضرورت پرے نښودے شو] نو [لږ] غور [خو] اوکړئ ﴿ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴾ بیشکه الله ﷻ ستاسو دعملونو پوره خبرلری [چه ددې حکم نه پس څوک پرے عمل کوی اوڅوک پرے نه کوی].
﴿ لَا يَسْتَوِى الْقٰعِدُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ غَيْرُ اُولِى الضَّرَرِ ﴾ برابر نه دی هغه مسلمانان چه بے دڅه عذره په کورونو کښې ناست پاتې شی [یعنی جهاد ته نه ځی] ﴿ وَالْمُجٰهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ ؕ ﴾ اوهغه خلق چه دالله ﷻ په لار کښې په خپلو مالونو سره [یعنی مالونه خرج کړی او ځانونه

Scanned with Ca

حاضر کړي] جهاد کوي [بلکه﴿ فَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ دَرَجَةً ﴾ الله ﷻ ددې خلقو درجه ډیره زیاته جوړه کړې ده چه په خپلو مالونو او ځانونو سره جهاد کوي په نسبت دکورکښې کښیناستونکو او[هسې خودفرض عین نه کیدوپه وجه په دغه کښیناستونکو هم ګناه نشته بلکه دایمان اود نورو فرض عین څیزونو دا ادا کولو په وجه] ﴿ وَكُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ﴾ ډېرولو سره [یعنی مجاهدینو سره هم اوپه کور کښې دناست پاتې کیدونکو سره هم] الله ﷻ دښه کور [یعنی دجنت په آخرت کښې] وعده کړې ده او [پورته په اجمالی طور وئیلې شوی دی چه دمجاهدینو لویه درجه ده هغه داسې تاکلې شوی ده چه] ﴿ وَفَضَّلَ اللّٰهُ الْمُجٰهِدِيْنَ عَلَى الْقٰعِدِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ الله ﷻ [ذکر شوو] مجاهدینو ته په مقابله دکور کښې کښیناستوونکو له لوئې اجر ورکړې دې [هم] دغه درجه لوئې اجر دې ددې [اجمالی اجر تفصیل بیانوی] یعنی [دهغه ډیرو عملونو په وجه چه مجاهدنه صادریږی دثواب] ﴿ دَرَجٰتٍ مِّنْهُ وَمَغْفِرَةً وَّرَحْمَةً ﴾ ډیرې درجې دی چه دالله ﷻ له طرفه ملاویږی او [دګناهونو] بخښنه او رحمت [دا ټول دلوئې اجر تفصیل شو] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴾ او الله ﷻ لوئې بخښوونکے لوئې درحمت خاوند دې.

معارف اومسائل

داټولونو تړون: ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا ضَرَبْتُمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَتَبَيَّنُوْا ﴾ په تیروشوؤ آیتونو کښې دمؤمن په وژلو باندې سخت وعید راغلې دې وربسې فرمائی چه دشرعی احکامو په جاری کیدو کښې مؤمن لره دمؤمن کیدو دپاره یواځې ظاهرې اسلام کافی دې، ځوک چه اسلام ښکاره کړی دهغه دقتل نه لاس بندول واجب دی، اویواځې دشک اوشبهې په وجه دباطن لټون کول اودآسلامی احکامو په جاری کولو کښې دهغه دیقینی ایمان دثبوت په انتظار کښې پاتې کیدل نهٔ دی روا، لکه چه څنې صحابه کرامو ﷺ نه په څنې غزاګانو کښې داسې قسم لغزش شوې وو، چه څنې خلقو هر کله چه خپل اسلام ښکاره کړونو بعضې صحابه کرامو ﷺ دغه معاملات په دروغه اوګڼرلې اوهغوئ ئې قتل کړل اودمقتول مال ئې دغنیمت په ډول واغستو، الله تعالی ددې بندیز اوفرمائیلو او هر کله چه دامسئله تردغه وخته پورې صحابه کرامو ﷺ ته په ښکاره ډول نهٔ وه معلومه شوې، ځکه صرف دهغوئ پوهول اوکړې شو، اودهغوئ په دې کار باندې وعید نازل نکړې شو [بیان القرآن]

دمسلمان څرګندولو دپاره داسلام نخښې ښانې کافي دي دباطن لټون کول جائز نهٔ دی: ددرې تیرو شوؤ آیتونو څخه په رومبی آیت کښې داهدایت کړې شوې دې چه ځوک خپل مسلمانیدل ښکاره کړی نو چا مسلمان دپاره جائز نهٔ دی چه بغیر دتحقیق نه دهغه وینا په منافقت باندې حمل کړی، چنانچه ددې آیت دنازلیدو سبب څه داسې واقعات دی چه دبعضی صحابه کرامو ﷺ نه دهغې په باره کښې لغزش شوې وو، لکه په ترمذی شریف اومسند احمد کښې دحضرت عبد الله بن عباس ﷺ نه منقول دی چه دبنی سلیم قبیلې یوسړې دصحابه کرامو یوټولی سره یوځائې شو کله چه دوئ جهاد له روان ؤ ودغه سړی خپلې چیلئ او بزې څرولې، ده، صحابه کرامو ته سلام اوکړو چه ددهٔ اسلام ښکاره کول ؤ -خو صحابه کرامو دې لره ددهٔ داسې ګتکه او دهوکه اوګڼړله چه ګویا کښې خپل ځان او مال دې سره بچ کوي په دې وجه ئې هغه اووژلو، اودهغه چیلئ، ئې دغنیمت په ډول درسول الله ﷺ په خدمت کښې پیش کړې -په هغې داآیت شریف نازل شو اودا پکښې اوښودلې شو چه ځوک درته په اسلامی طرز سلام اوکړی، نوبغیر تحقیق نه ددهٔ دغه عمل ګتکه اوفریب مهٔ

گنړي؛ او مال ئې دغنيمت په ډول مه خان ته کوئ [ابن کثير] [۱]

دحضرت عبدالله بن عباس ﷠ نه يو بل روايت راغلې دې چه، بخاري شريف په لنډ او ويزار په تفصيل سره نقل کړيدې، هغه داسې چه رسول الله ﷺ دمجاهدينو يوه دسته اوليږله چه حضرت مقداد بن اسود ﷛ هم پکښې وو، کله چه دغه دسته موقعې ته اورسيده نو ټول خلق اوتښتيدل، صرف يو کَس پاتې شو چه ورسره ډير مال وو، هغه دَصحابه کرامو ﷡ په وړاندې ﴿اشهد ان لا اله الا الله﴾ اوويل مګر حضرت مقداد دا، دزړه نه اونه ګنړل او خيال ئې راغلو چه صرف دَخان او مال بچ کولو دَپاره دَاسلام کلمه لولي خکه ئې اووژلو، په موجوده صحابه کرامو کښې يو کس اوويل چه بد داو کړل چه داسې کَس دا اووژلو چه دَ ﴿لا اله الا الله﴾ ګواهي ئې ورکړې وه، زۀ که دَرسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو دَدې واقعې بيان به ورته ضرور کوم، کله چه دوئ مدينې منورې ته راؤرسيدل نو رسول الله ﷺ ته ئې دا واقعه واؤروله، هغوئ حضرت مقداد ﷛ له راؤبللو او سخته رټنه ئې ورته او کړه او وې فرمائيل چه دَقيامت په ورځ به دځه جواب وی، کله چه کلمه دَ ﴿لا اله الا الله﴾ ستا په مقابله کښې دعويداره وی، په دې واقعه باندې دا آيت شريف نازل شو [۲] ﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَنْ أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَامَ لَسْتَ مُؤْمِنًا﴾ دَدې آيت په باره کښې دَدغې دؤو واقعاتو نه علاوه نورو واقعات هم منقول دی، خو محققينو مفسرينو ﷭ فرمائيلی دی چه دَدغې روايتونو تر منځه څه تعارض او تکرنشته بلکه دغه ټول واقعات په مجموعی حيثيت سره دَنزول سبب کيدې شي-

دَآيت په الفاظو کښې ﴿أَلْقَىٰ إِلَيْكُمُ السَّلَامَ﴾ راغلې دې که په دې کښې دَ، سلام، لفظ نه اصطلاحی ، سلام، مراد واغستې شی نو بيا خودې سره روميۍ واقعه زياته لګی او که دَ، سلام، معنی سلامتی او حُکم منل واغستې شي نو دا ټول واقعات په دې کښې برابر دی، په دې وجه اکثرو حضراتو دلته دَ، سلام، ترجمه اطاعت [فرمانبرداری] کړې ده-

دَواقعې دَتحقيق کولو نه بغير فيصله کول ناروا دی: دَدې آيت په روميۍ جمله کښې يو عام هدايت دادې چه مسلمان دهيڅ يو کار صرف په ګمان باندې بې تحقيقه نۀ کوی، لکه ارشاد دې ﴿إِذَا ضَرَبْتُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَتَبَيَّنُوا﴾ [کله چه تاسو دَالله تعالی په لار کښې سفر کوئ نو هر کار په تحقيق سره کوئ] ولې چه يوازې په ګمان او خيال سره په کار کولو کښې اکثر غلطی کيږی- په دې کښې دَسفر قيد هم څکه ذکر شو چه دا واقعات هم په سفر کښې راپيښ شوی وی، يا په دې وجه چه، شبهات عموماً په سفر کښې راپيښيږی، په خپل ښار او کلی کښې دَيو بل دَحالاتو نه عموماً خبر وی، ورنه اصل حُکم عام دې، په سفر کښې وی او که په کور او خپل وطن کښې وی، بې تحقيقه دَځه قدم اُوچتول ناروا دی- لکه چه رسول الله ﷺ په يو حديث کښې فرمائيلی دی، ښه په سوچ، غور او فکر سره کار کول دَالله تعالی له اړخه وی او په جلدئ کار کول دَشيطان له اړخه دی، [بحر محيط] [۳]-

په دويمه جُمله ﴿تَبْتَغُونَ عَرَضَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا﴾ سره دَهغه مرض دارو کول دی چه دَدې غلط قدم اوچتول باعث جوړ شوچه دَدُنيا دولت، او دَمالِ غنيمت دَحاصلولو خيال دې-

---

[۱]) جامع الترمذی، کتاب التفسير، باب من سورة النساء: ج ۲، ص ۳۲، ومسند احمد رقم الحديث: ۲۵۰۶ مسند عبدالله بن عباس رضی الله عنهما-

[۲]) صحيح البخاری، کتاب التفسير، باب ومن يقتل مؤمنا الخ: ج ۲، ص ۲۱۰- وتفسير البحر المحيط تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۳۲۷

[۳]) تفسير البحر المحيط تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۳۲۷

Scanned with Ca

وریسي ئي داهم اوښودل چه تاسو دَپاره الله تعالیٰ دَغنیمت مالونه ډیر څه مقرر او مقدر کړیدي
تاسو د مالونو په فکر کښې مه پریوځئ۔ وریسي ئي یو بل خبرداری ورکړو چه لږشان په دې هم
نظر واچوئ چه ړومبې خو په تاسو کښې ډیر کسان داسې وو چه په مکه مکرمه کښې دَخپل اسلام
او ایمان اعلان یې نهٔ شو کولې، بیا دریاندې الله تعالیٰ احسان او کړو چه د کفارو دَپنجې نه ئې
خلاص کړئ نو هله مو اسلام ښکاره کړې شو، نو آیا دا ممکن نه ده چې دغه کس چې د اسلامی
لښکر په لیدلو سره کلمه وائی هغه حقیقت کښې مخکښې نه د اسلام معتقد وو مگر د کافرانو
د ویرې نه ئې د اسلام اظهار نه وو کړې، دا وخت چې اسلامی لښکرې اولید نو د خپل اسلام
اظهار یې اوکړو، یا مطلب دا چه هر کله په شروع کښې تاسو دَاسلام کلمه اولوستله او خپل
خانونه مو مسلمانان ښکاره کړو نو شریعت په دغه وخت کښې دا قید او شرط نهٔ ؤ وایښې چه
ستاسو زړونه دې اولټولې شی که په هغې کښې اسلام بیاموندې شی هله به مسلمانان اومنلې
شئ، بلکه صرف کلمه لوستل ستاسو دَمسلمان منلو دَپاره کافی اوګڼلې شو، دغه شان اوس چه
ستاسو په وړاندې څوک کلمه اووائ نو هغه هم مسلمان ګڼړئ.

اهلِ قبله ته دکافرنهٔ وئیلو مطلب:: دَدې آیت نه دا ضروری مسئله هم معلومه شوه چه څوک خپل خان
په دې شان مسلمان ښکاره کوی چه کلمه وائی یا بل څه اسلامی شعار ښکاره کوی لکه په اذان او
مُونځ کښې شریکیږی نو په مسلمان لازم دی چه هغه لره مسلمان ګڼړی او ورسره دَمسلمانانو
پشان معامله کوی، دالتهون دنهٔ کوی چه دې دزړهٔ نه مسلمان شوې دې او که نهٔ؟ یائې دَبل څه
غرض په بنا اسلام ښکاره کړې دې؟ دغه شان ددهٔ عملونو ته به هم په دغه موقعه نشی کتلې، مثلاً
هغه مونځ نهٔ کوی، روژه نهٔ نیسی، او هر قسم ګناهونه کوی، بیا به هم دَاسلام نه خارج نشی بللې او
نه به ورسره د کفارو پشان معامله کولې شی، او هم په دې وجه امام اعظم رحمة الله علیه فرمائیلی دی: ﴿لانكفر
اهل القبلة بذنب﴾ [مُونږ اهلِ قبله دَڅه ګناه کولو په وجه کافر نهٔ بولو] هم دغه شان دَاحادیثو په څنې
روایتونو کښې هم راغلی دَی چه اهلِ قبله کافر مهٔ بولئ اګرچه هغه څومره ګنهګار او بدعمله وی۔
خودلته په دې خبره په خاص شان سره څان پوهول او یاده ئې لرل پکار دی چه قرآن او حدیث نه
داخبره ثابته ده چه خان ته مسلمان ویُونکې بنده کافر ګڼړل یا ورته کافر وئیل جائز نهٔ دی ـــــ دَدې
واضح مطلب دادې چه ترڅو دَهغه نه داسې خبره یا کارنهٔ وی صادر شوې چه د کُفر یقینی نخښه وی
تر هغې به دَهغه دَاسلام اقرار صحیح ګڼړلې شی او مسلمان به ورته وئیلې شی او ورسره به د
مسلمانانو پشان معامله کولې شی، دهغه دزړهٔ دَاخلاص شان باندې بحث کول دَهیچا حق نهٔ دې۔
لیکن که دغه کَس دَاسلام ښکاره کولو او دَایمان دَاقرار کولو سره سره څه کلمې دکُفر هم وائی، بت
ته سجده کوی، په قبرونو طوافونه کوی، نذرو نیاز او منښتې وراوړی، باباګانو بزرګانو ته
حاجتونو کښې آوازونه کوی یا رسول الله ﷺ مدد یا علی مدد، پیر بابا رامدد شه وغیره
آوازونه کوی یا دَاسلام دَداسې حکم نه انکار کوی چه هغه قطعی او بدیهی وی یاد کافرانو څه
مذهبی شعار اختیاروی مثلاً په غاړه کښې زنار اچوی، نو هغه به خامخا دَدغې کفری عملونو په
وجه کافر بللې شی۔ لکه چه ذکر شوی لفظ ﴿فَتَبَیَّنُوٓا﴾ کښې چه دې ته اشاره موجوده ده، ورنه یهودو
او نصاراؤ خو تولو په خانونه مسلمانان بلل، داشان مسیلمه کذاب هم صرف دَاسلام دکلمې
اقرار نهٔ کولو بلکه دَاسلامی شعائرو، اذان او مُونځ وغیره هُم پابند وو، په خپل اذان کښې به ئې
د ﴿اشهد ان لا اله الا الله﴾ سره دَ ﴿اشهد ان محمدا رسول الله﴾ وئیلو هم حُکم کولو، خوورسره به ئې خان

Scanned with Ca

ته نبي، رسول او صاحب وحي وئيلو چه دقرآن کريم او دسنتو دنصوصونه ښکاره انکار وو، او هم په دې وجه هغه مرتد او کرخولې شو او دهغه په خلاف په اجماع د صحابه کرامو ﷺ جهاد او کړې شو او داشان هغه قتل کړې شو-

دمسئلې خلاصه دا شوه چه هر کلمه گو اهلِ قبله مسلمان گنړئ، دا دانسان کارنه دې چه دده په باطن او زړه کښې څه دي؟ دا کار الله تعالى ته حواله کړئ، البته که ايمان ښکاره کولو سره دايمان خلاف څه خبره او کار تر صادر شي نو هغه مرتد گنړئ خو شرط دا دې چه دهغې دايمان خلاف کيدل يقيني او قطعي وي او په کښې دبل څه تاويل يا احتمال څه لار او گنجائش نه وي-

دې نه دا هم معلومه شوه چه د، ،کلمه گو، ،يا، ،اهل قبله، ،الفاظ اصطلاحي دي چه مصداق ئې صرف هغه څوک کيدې شي چه داسلام دمدعی کيدو نه پس څه کافرانه قول او فعل تر صادر نشي-

دجهاد په باره کښې څو احکام: په بل آيت ﴿لَا يَسْتَوِي الْقَٰعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾ کښې دجهاد څو احکام بيان شوي دي، چه څوک بغير دڅه عذر نه په جهاد کښې نه شريکيږي هغوئ دهغه چا برابر نشي کيدې چه دالله تعالى په لار کښې په خپل مال او خان سره جهاد کوي، بلکه الله تعالى مجاهدينو له په غير مجاهدينو باندې درجه کښې فضيلت او برتري ورکړې ده، او ورسره ئې دا هم اوفرمائيل چه الله تعالى دواړو ډلو، مجاهدينو او غير مجاهدينو سره دښې جزا وعده کړې ده، جنت او بخښنه به دواړو ته حاصليږي، فرق به په درجو کښې وي-

دتفسير علماء فرمائي چه دې آيت نه دا خبره معلوميږي چه په عامو حالاتو کښې جهاد فرض کفايه دې مطلب ئې دا دې چه څه خلق ئې اداکړي نو دباقي پاتې مسلمانانو غاړه خلاصه شي خو شرط دا دې چه جهاد کښې شريک شوي خلق جهاد دپاره پوره او کافي وي، ورنه ورسره دنزدې او گوانډ دخلقو دپاره به فرضِ عين شي چه ددغه مجاهدينو امداد کوي-

دفرض کفايه تعريف: په شريعت کښې فرضِ کفايه داسې فرضو ته وئيلې شي چه دهغې اداکول په هر مسلمان باندې ضروري نه وي بلکه که بعضې ئې اداکړي نو دټولو غاړه خلاصه شي-عموماً قومي او اجتماعي کارونه ددې درجې دي، ددينی علومو تعليم او تبليغ هم داسې قسم فرض دی چه بعضې خلق په دې کښې مشغول وي نو دنورو ټولو مسلمانانو غاړه ورسره خلاصيږي ليکن که ټول ترنه لاس واخلي نو ټول به گنهگاروي-دجنازې مونځ او دمړي کفن دفن هم يو قومي څيز دې چه يو رور دخپل بل رور حق اداکوي، دجوماتونو ، مدرسو جوړولو او دعامو مفادو نور کارونه په دې حکم کښې داخل دي، مطلب دا چه بعضې مسلمانان ئې اداکړي نو دنورو ټولو غاړه خلاصيږي-

په عامه توگه هغه ټول کارونه، شريعت فرضِ کفايه گرځولي دي چه اجتماعي او قومي ضرورتونه دي، دپاره ددې چه دتقسيم عمل په أصولو ټول فرائض اداکړې شي ، يعني ځنې خلق دجهاد کار اوکړي ، ځنې دتعليم او تبليغ کار اوکړي او ځنې نور انساني يا اسلامي ضروريات پوره کړي-

په دې آيت کښې په ﴿وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَىٰ﴾ فرمائيلو سره ئې هغه خلق هم مطمئن کړي دي چه دجهاد نه علاوه په نورو ديني ضرورتونو کښې مصروف وي، ليکن دا حکم په عامو حالاتو کښې دې، هغه داسې چه دخنو خلقو جهاد داسلام ددشمنانو تمبولو دپاره کافي وي، که دهغوئ جهاد باندې کارنشي پوره کيدې او دزيات امداد ضرورت ورته وي نو اول دنزدې او دگونډ په مسلمانانو

Scanned with Ca

باندې جهاد فرض عين ګرځي، که دغه هم کافي نه وي نو ور سره په نزدې خلقو باندې فرض عين کيږي او که دا هم کافي نه وي نو په نورو مسلمانانو باندې فرض عين کيږي تر دې چه د مشرق او مغرب په هر مسلمان باندې جهاد کول فرض عين شي۔

په دريم آيت کښې هم دغه درجو د غوروالي او فضيلت بيان دې چه مجاهدينو لره په نورو خلقو باندې حاصلې دي۔

مسئله په شل، ګډ، ړوند، بيمار او په نورو شرعي معذروانو باندې جهاد فرض نه دې۔

اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ
بيشکه هغه کسان | چې روحونه اخلي د هغوئ | فرښتې
چا چې په ځان زياتي اوکړو او فرښت د هغوئ روحونه قبض کوي
ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ۭ قَالُوْا
چې ظلم کونکي وي | په ځانونو خپلو | وائي ورته فرښتې | په کوم حال کښې | وې تاسو | وائي هغوئ
......نو تپوس ترينه کوي | چې تاسو په څه حال کښې نې | هغوئ جواب کښې وائي چې
كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ ۭ قَالُوْٓا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً
وو مونږه | کمزوري کړې شوي | په زمکه کښې | وائي فرښتې | آيا نه وه | زمکه د الله | فراخه
مونږ د زمکې په مخ کمزوري خلق وو | .... نو فرښتې وائي چې ولې د الله زمکه فراخه نه ده
فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ۭ فَاُولٰۗىِٕكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۭ وَسَاۗءَتْ
چې هجرت کړې وې تاسو | په هغې کښې | نو دا هغه خلق دي | چه ځائ د هغوئ | دوزخ دې | او بد ځائې دې
چې تاسو په کښې هجرت کړې وې | دا هغه خلق دي چې د دوئ ځائې جهنم دې | او ډير بد
مَصِيْرًا ۝ اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاۗءِ وَالْوِلْدَانِ
د ورتلو | مګر نه هغه | چې واقعي بې وسه دي | د نارينو نه | او د زنانو نه | او د ماشومانو نه
ځائې دې د ورتلو | خو کوم نارينه او زنانه او ماشومان چې په رښتيا کمزوري دي
لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ حِيْلَةً وَّلَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا ۝ فَاُولٰۗىِٕكَ عَسَى اللّٰهُ
چې طاقت نه لري | د ذريعې | او نه مومي لار د وتلو | نو دا بې وسه چې دي | اميد دې چې الله
او د تللو هيڅ لار نې نه وي | ....نو کيدې شي چې الله تعالى هغوئ ته
اَنْ يَّعْفُوَ عَنْهُمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَفُوًّا غَفُوْرًا ۝ وَمَنْ
معافي اوکړي | د ګناهونو د هغوئ نه | او دې | الله | ډير معافي کونکې | ښنونکې | او څوک
معافي اوکړي | ....او الله ډير معاف کونکې او ښنونکې ذات دې | .... او څوک چې
يُّهَاجِرْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يَجِدْ فِي الْاَرْضِ مُرٰغَمًا كَثِيْرًا وَّسَعَةً ۭ
چې هجرت اوکړي | په لار د الله کښې | او به مومي | په زمکه کښې | ځائې د پناه اغستلو | ډير او فراخي
د الله ﷻ په لار کښې هجرت اوکړي | هغوئ به په مخ د زمکې استوګنې د پاره ډير ځايونه او هر قسم فراخي بيامومي

وَمَنْ	يَّخْرُجْ	مِنْۢ بَيْتِهٖ	مُهَاجِرًا	اِلَى اللّٰهِ	وَرَسُوْلِهٖ	ثُمَّ
اوځوک	چې اوځي	دکور خپل نه	چې هجرت کونکې وي	طرف دالله ته	اودرسول دهغه ته	بیا
اوځوک چې دخپل کور نه دالله اودهغه درسول په لار کښې هجرت اوکړي ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔ بیا						

يُدْرِكْهُ	الْمَوْتُ	فَقَدْ وَقَعَ	اَجْرُهٗ	عَلَى اللّٰهِ ؕ	وَكَانَ اللّٰهُ	غَفُوْرًا
اورسیږي هغه ته	مرګ	نو واقع شو	اجر دهغه	په الله باندې	اودې الله	بخونکې
په لار کښې ورته مرګ راشي نو دهغه اجرالله ﷻ سره شته ۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔۔ اوالله ﷻ ښښونکې						

رَّحِيْمًا ۝
رحم کونکې
اورحم کونکې دي

آسان ترجمه قرآن: کومو خلقو چه په خپلو ځانونو ظلم کړې وو او هم دې حالت کښې فرښتې د دوی روح اغستو د پاره راغلې نو ورته ئې وئیل چه "تاسو په کوم حالت کښې وئ؟" دوی وئیل چه مونږ خو زمکه کښې کمزوري کړې شوی وو فرښتو ووئیل چه د الله زمکه فراخه نه وه چه تاسو دې کښې هجرت کړې وې؟ نو د داسې خلقو ځائ جهنم دې او دا ډیر بد انجام دې هغه کمزوري د سړو نه، او د ښځو نه، او د ماشومانو نه (ددې انجام نه مستثنٰی دی) چه (د هجرت) څه تدبیر نه شي کولې او نه (د وتلو) څه لاره موندې نو پوره امید دې چه الله به دوی له معاف کړي او الله ډیر معاف کونکې دې. ډیر بخونکې دې. او څوک چه د الله په لاره کښې هجرت وکړي نو هغه به په زمکه کښې ډیر ځائ او ډیره فراخنیا وموندي او څوک چه دخپل کور نه د الله او د رسول طرف ته د هجرت د پاره ووځي بیا هغه له مرګ راګیر کړي نو بیا هم د هغه ثواب الله سره ثابت شو، او الله ډیر معاف کونکې ډیر مهربان دې.

خلاصه تفسیر

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ تَوَفّٰىهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ظَالِمِيْٓ اَنْفُسِهِمْ ﴾ بیشکه هداسې خلقو روح فرښتے قبض کوی چا چه [سره دهجرت د توفیق نه بیاهم هجرت اونکړو] خپل ځان ئے ګناهګار کړې وونو [دغه وخت] به ﴿ قَالُوْا فِيْمَ كُنْتُمْ ؕ قَالُوْا كُنَّا مُسْتَضْعَفِيْنَ فِي الْاَرْضِ ؕ ﴾ هغوی [فرښتے] دوی ته وائی چه تاسو [ددین] په کوم [کوم] کار کښې وې [یعنی ددین کوم کوم ضروری کارونه مو کول] هغوی به [جواب کښې] وائی چه مونږ [دخپلې استوګنے] په زمکه کښې خالص بےوسه وو [په دې وجه ددین په ډیرو ضروریاتو مو عمل نه شو کولې یعنی ددغه فرض په پریښودو کښې معذور وو] ﴿ قَالُوْٓا اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ؕ ﴾ دغه [فرښتے] به وائی [که دغه ځائې کښې مونښو کولې نو] آیا دالله ﷻ زمکه فراخه نه وه تاسو له وطن پریښودو سره ددې نه [بل ځوا] تلل پکار وو [چه هغه ځائې ته په تللو باندې به مو فرض ادا کولې شو، ددې جواب به هغوی اونه کړې شي اوجرم به ترې ثابت شی] ﴿ فَاُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ؕ ﴾ نو ددوی ځائې هم جهنم دے ﴿ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴾ اوتلو دپاره هغه خراب ځائې دے ﴿ اِلَّا الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ وَالْوِلْدَانِ ﴾ لیکن کوم سړی ښځے وماشومان چه [په واقع کښې په هجرت هم] ﴿ لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ حِيْلَةً وَّلَا يَهْتَدُوْنَ سَبِيْلًا ﴾

Scanned with Ca

قادر نه وی چه نه څه انتظام کولې شی نه دلارې نه واقف وی.
﴿ فَأُولَٰئِكَ عَسَى اللَّهُ أَن يَعْفُوَ عَنْهُمْ ۚ وَكَانَ اللَّهُ عَفُوًّا غَفُورًا ﴾نو هغوی دپاره امید د چه الله ﷻ ئې معاف کړی اوالله ﷻ لوئې معاف کوونکې لوئې بخښوونکې دې او [چا دپاره چه په شریعت کښې هجرت کول دی دهغوی نه] ﴿ وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ ﴾ څوک چه دالله ﷻ په لار کښې [یعنی دین دپاره] هجرت اوکړی نوده ته به په مخ دزمکې باندې دتلو ډیر ځائې ملاوشی او [ددین دښکاره کولو به] ورته ډیر ګنجائش [ملاوشی نوکه داسې ځائې ته اورسیدو نو په دنیاکښې هم په دې سفر ښکاره کولوکښې کامیابی ښکاره ده] او [اتفاقًا که دا ذکر شوې کامیابی ورته حاصله نشوه بیاهم د آخرت په کامیابئ کښې خو څه شك شبه نشته ولې چه زمونږ قانونو دې چې] ﴿ وَمَن يَخْرُجْ مِن بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ﴾ څوك خپل کورنه په دې نیت سره بهر اوځی چه [د] الله ﷻ اودرسول ﷺ [دین ښکاره کولو ځائې] ته هجرت اوکړم ﴿ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ ۗ ﴾ بیا [دمقصود پوره کیدلو نه مخکښې] ورته مرګ راشی بیا هم دهغه ثواب [چه وعده ئې دهجرت په کولو ورسره شوې ده] ثابت شو [چه وعدې په وجه داسې شو لکه چه] دالله ﷻ په ذمه [وی اګر چه اوس دغې سفر ته هجرت نشی وئیلې لیکن یواځې په ښه نیت ددې په شروع کولو سره ورته پوره بدله ورکړې شوه] ﴿ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا ﴾اوالله ﷻ لوئې بخښوونکې دې [ددې هجرت په برکت سره به یئ اګر چه هغه نامکمل پاتې شو ډیر ګناهونه معاف کړی لکه چه په حدیث کښې دهجرت فضیلت راغلې دې چه په هجرت سره تیر شوی ګناهونه معاف کیږی او] لوئې رحمت کوونکې دے [چه په ښه نیت سره عمل شروع کولو باندې دپوره عمل ثواب ورته عطا کوی].

معارف اومسائل

دهجرت تعریف: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ تَوَفَّاهُمُ الْمَلَائِكَةُ ظَالِمِي أَنفُسِهِمْ ﴾په دې څلوروآیتونو کښې دَهجرت د فَضیلتُونو، برکتونواواحکامو بیان دې، لُغت کښې هجرت، دَهجراوهجران معنی ورکوی یعنی یوڅیزنه ویزاره کیدل اودهغې پریښودل، اوپه عامو محاورو کښې، وطن پریښودلوته هجرت وئیلې شی-[روح المعانی](١)

دَمشکوة شریف په شرح کښې مُلاعلی قاری رحمه الله فرمائیلی دی چه دَدینی وجوهاتوپه بِناوطن پریښودلوته هم هجرت وئیلې شی[مرقات](٢)-

دَسورت حشرِ دَآیت ﴿ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ ﴾نه معلومیږی چه که کُفارو مسلمانانولره دَمسلمانیدَوپه جرم کښې دَوطن نه په زبردستئ اوباسی نوداهم په هجرت کښې څکه داخل دی چه داآیت دَمهاجرینوصحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کښې نازل شوې دې-

دې تعریف نه داهم معلومه شوه چه کوم مسلمانان، دَدارکفرنه دَبیزارئ په وجه په خپل اختیارسره، هندوستان نه پاکستان ته په کده راغلی دی، یادَدغه ځائې کُفارودَمسلمانیدوپه جرم

(١) روح المعانی، سورة النساء رقم الآیة: ٩٧، ج ٣، ص ١٢٣
(٢) مرقاة، خطبة الکتاب: ج ١، ص ١٠٩

Scanned with Ca

کښې په زبردستۍ اوښکلي دي داتول دشرعي معنى په اعتبارسره مهاجردي، البته څوک چه دتجارت د ودې او ترقۍ، یادملازمت دسهولتونوپه نیت سره پاکستان ته راغلي دي، دشریعت له مخې هغوئ ته مهاجرنشي ونیلې.

په صحيح بخاري اومسلم کښې درسول الله ﷺ ارشاددې:

﴿المهاجر من هجر ما نهى الله عنه ورسوله﴾(١) مهاجرهغه څوک دی چه ټول هغه څیزونه پرېږدي کومونه چه الله تعالى اودهغه رسول منع کړې ده.

نوددې مطلب هم، ددې حديث درومبئ جمله نه ښکاره کيږي په کومه کښې چه داسې ارشاددې:

﴿المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده﴾(٢) مسلمان هغه دې چه دژبې اودلاس نه ئې نورمسلمانان په امن وي.

ددې ښکاره مطلب دادې چه رښتيني اوپوخ مسلمان هغه دې چه نورومسلمانانوته څه زيان، تاوان نۀ ورکوي، دغه شان رښتيني اوکامياب مهاجرهغه دې چه يواځې په وطن پرېښودلو باندې خلاص نۀ شوبلکه دشريعت ټول حرام کړي څيزونه هم پرېږدي.

دأحرام جامې سره خپل زړۀ هم بدل کړه،

دهجرت فضيلتونه: په ټول قرآن کريم کښې څنګه چه دجهادپه باره کښې آيتونه خواره دي دغه شان په اکثروسورتونو دقرآن کريم کښې دهجرت ذکرهم په ګنړوځايونوکښې راغلي دي ددغې ټولو آيتونو راجمع کولونه معلوميږي چه دهجرت په آيتونو کښې درې قسمه مضمونونه دي: دهجرت فضيلتونه، ددې ددنيااوآخرت برکاتو سره دقدرت نه په هجرت نۀ کولو باندې وعيدونه.

① دهجرت فضيلتونه دسورة بقره په يوآيت کښې داسې راغلي دي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ يَرْجُونَ رَحْمَتَ اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ چاچه ايمان راوړواوچاچه دالله تعالى په لاركښې هجرت اوجهاداوکړو، هغوئ دالله تعالى درحمت اميدوار دي اوالله تعالى لوئ غفوررحيم دې.

② دويم آيت په سورت توبه کښې دې.

﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ أَعْظَمُ دَرَجَةً عِندَ اللَّهِ ۚ وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَائِزُونَ﴾ چاچه ايمان راوړواوچاچه دالله تعالى په لاركښې هجرت اوجهاداختياركړو، دوئ د الله تعالى په نزد په لويه درجه کښې دي اودغه خلق کامياب اومرادموندونکي دي.

③ دريم دسورت نساء داآيت دې. ﴿وَمَن يَخْرُجْ مِن بَيْتِهِ مُهَاجِرًا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ يُدْرِكْهُ الْمَوْتُ فَقَدْ وَقَعَ أَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ ۗ﴾ څوک چه دالله تعالى دپاره دخپل کورنه په نيت دهجرت اووتلوبياورته په لاره کښې مرګ راغلونودهغه ثواب دالله تعالى په ذمه شو.

دځنې روايتونو(٣) په جوړ، داآيت دحضرت خالدبن حزام رضي الله عنه په باره کښې دحبشې دهجرت په زمانه کښې نازل شوچه دمکې مکرمې نه حبشې ته دهجرت کولوپه اراده وتلې وو، په لاره کښې ماراوچيچلواودهغې نه وفات شو. په هرحال دې درې واړوآيتونوکښې دارکفرنه دهجرت کولودجذبې رابيدارولواوددې دلويوفضيلتونوبيان په ښکاره ډول راغلي دي.

---

(١) صحيح البخاري، كتاب الإيمان، باب المسلم من سلم المسلمون الخ: ج١، ص٦

(٢) صحيح البخاري، كتاب الإيمان، باب المسلم من سلم المسلمون الخ: ج١، ص٦

(٣) تفسير ابن ابي حاتم تحت هذه الآية رقم الحديث: ٥٨٢٣

په یو حدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائیلي دي: ﴿الهجرة تهدم ماکان قبلها﴾ [هجرت ټول هغه ګناهونه معاف کوي کوم چه مهاجر د دې نه وړاندې کړي دي(۱)]۔

هجرت برکتونه دَهجرت دَبرکتونو په باره کښې دَسورت نحل په یو آیت کښې داسې راغلي دي:

﴿وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي اللَّهِ مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا لَنُبَوِّئَنَّهُمْ فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً ۖ وَلَأَجْرُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ ۚ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ﴾ کوم خلق چه الله تعالی دَپاره هجرت اوکړو د دې نه پس چه په هغوئ ظلم اوکړې شو هغوئ ته به مونږ په دنیاکښې ښه ټیکاؤنړه ورکړو او دآخرت ثواب خو ډیر لوئي دي، کاش چه دا خلق پوهیدلې –

دَسورت نساء دَدغه څلورو آیتونو څخه په څلورم آیت کښې تقریباً هم دا مضمون ذکر شویدې لکه فرمائي:

﴿وَمَن يُهَاجِرْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ يَجِدْ فِي الْأَرْضِ مُرَاغَمًا كَثِيرًا وَسَعَةً ۚ﴾ څوک چه دَالله تعالی په لار کښې هجرت کوي هغه به بیامومي په زمکه کښې ځایونه ډیر او فراخي۔

په آیت کښې لفظ دَ ﴿مُرَاغَمًا﴾ مصدر دې، معنی ئې یوې زمکې ته منتقل کیدل دی د اشان، دَ منتقل کیدو ځائې ته هم ، ،مراغم، ،وئیلې شي۔

په دې دواړو روایتونو کښې دَهجرت دَظاهري او باطني برکتونو داسې بیان دې چه پکښې دَالله تعالی دا وعده ده چه څوک، الله اورسول دَپاره هجرت کوي، الله تعالی ورد پاره په دنیاکښې لاري پرانیځی، په دنیاکښې ورته هم ښه ټکانه [ډیره] ورکوي، اودآخرت ثواب اودرجات خوئې دوهم او ګمان نه زیات پورته دي۔

دَښکلي ټیکاؤنړې [ډیرې] تفسیر مجاهد رحمه الله په، ،رزق حلال، ،سره کړې دې، حسن بصري رحمه الله په ښکلي مکان، ،سره اوځنې نورو مفسرینو په مخالفینو باندې غلبې، عزت اوشرف موندلو، سره کړیدې، حقیقت دادې چه دَآیت په مفهوم کښې دا ټول څیزونه داخل دي، چنانچه دَدنیا تاریخ ګواه دې چه چاهم دَالله تعالی دَپاره وطن پریښې دې، نو الله تعالی ورته دَخپل وطن دَمکان نه زیات غوره مکان، دَخپل پریښولي وطن دَعزت اوشرف نه زیات غوره عزت اودَوطن دَآرام نه ئې ورته زیات آرام ورکړې دې۔ حضرت ابراهیم علیه السلام دَخپل وطن عراق نه شام ته هجرت اوکړو، نو الله تعالی ورته دغه ټول څیزونه نصیب کړل، حضرت موسی علیه السلام اوورسره بنی اسرائیلو دَالله تعالی دَپاره خپل وطن، مصر پریښنو، نو الله تعالی ورتـه دَهغـې نـه زیات غـوره وطـن دَشـام ملـک ورکـړو اوبیا مصر هم ورته ملاؤشو، زمونږ آقا حضرت خاتم الانبیاء ﷺ اودَهغوئ صحابه کرامو رضي الله عنهم دَالله تعالی اورسول دپاره مکه مکرمه پریښوه نو مهاجرینو ته دَهغې نه زیاته غوره ټیکاؤنړه مدینه منوره نصیب شوه، هر قسم غلبه، عزت، آرام اودولت ورکړې شو، دَهجرت په ابتداء کښې دَځوور خو تکلیف اومشقت هیڅ خبره نۀ ده، ولې چه دَهغې نه پس کوم نعمتونه چه الله تعالی دوئ ته عطا کړل هغه دَدوئ ډیرونسلونو پورې جاري وو، هغې ته کتل پکار دي۔

دَصحابه کرامو رضي الله عنهم دَلوږو، تندو، غریبئ اومحتاجئ چه کوم واقعات په تاریخ کښې مشهور دي، هغه عموماً دَهجرت دَابتدائې دور دي، یا دغه تنګی دَهغوئ اختیاری داسې وه چه پخپله ئې دَ دُنیامال، دولت نۀ خوښولو، څه به چه ګټوله ورتلل هغه به ئې دَالله تعالی په لار کښې لګول، لکه څنګه چه پخپله دَرسول الله ﷺ هم دغه حال وو، دَهغوئ تنګی هم اختیاری داسې وه چه غني

(۱) صحیح مسلم، کتاب الإیمان، باب کون الاسلام یهدم ما کان قبله وکذا الهجرة الخ: ج ۱، ص ۷۹

Scanned with Ca

توب او مالداری ئې نه خوښوله اوسره دَدې نه دَهجرت په شپږم کال کښې دَخیبر دَفتح نه پس دَ رسول الله ﷺ دَټول اهل و عیال د ګذارې پوره انتظام اوشو. دَغه حال دَخلفائې راشدینو ﷺ هم وو چه مدینه کښې ورته الله تعالی هرڅه ورکړل. خو هر کله چه اسلامی ضرورت پیښ شو نو حضرت صدیق اکبر ﷺ دَخپل کور ټول هرڅه پیش کړل. أم المؤمنین حضرت زینب ﷺ ته به چه څومره وظیفه ورکولې شوه هغه به ئې ټوله په فقیرانو، غریبانو ویشله او پخپله به ئې دَفقیرئ ژوند تیرولو او هم په دې وجه دَهغې لقب، أم المساکین، مشهور شو. بیا هم په صحابه کرامو ﷺ کښې داسې کَسان هم ډیر وو چه په مکه مکرمه کښې نیستمن وو، هجرت نه پس ورته الله تعالی ډیر مال دولت او هر قسم فراخی نصیب کړه. هر کله چه حضرت ابوهریرة ﷺ دَیوې صوبې والی مقرر کړې شو نو ډیر په خوند به ئې دَتیر ژوند حالات بیانول او خپل نفس [اخان] ته به ئې خطاب داسې کولو چه، ته خو هغه کَس ئې چه دَقلانئ قبیلې نوکروې او تنخواه دِ صرف دومره قدرې روټئ وه چه خیټه به دِ پرې ډکیدله او داخدمت دِ په ذمه لګولې شوې وۀ، چه دَغه خلق به کله په سفر تلل نو ته به ورسره په جلب کښې پیاده روان وې چه هغوئ به چرته په یو پړاؤ تیکاؤ شول نو تا به ورله دَسوخولو لرګی راټولول، نن دَاسلام په برکت کوم ځائې نه کوم ځائې ته، ته اورسیدې، اوس درته امام او امیر المؤمنین وئیلې شی. ،-

خُلاصه داده چه کومه وعده الله تعالی دَقرآن کریم په ذریعه مهاجرینو ﷺ سره کړې وه، ټولې دُنیا هغه په خپلو سترګو پوره شوې اولیدله. البته دې آیت کښې ورسره شرط دالګولې شوې دې چه ﴿هاجروا فی سبیل الله﴾ وی، دَدُنیا دَمال، دولت، حکومت، سلطنت، دَعزت او مرتبې په طلب کښې ئې هجرت نۀ وی کړې، ورنه دَصحیح بخاری شریف په حدیث کښې دَرسول الله ﷺ داارشاد هم دې چه، څوک دَالله تعالی اورسول په نیت سره هجرت کوی نو دَهغوئ هجرت الله اورسول دَپاره دې[۱] [یعنی هجرت ئې صحیح دې چه فضیلتونه او برکتونه ئې قرآن کریم کښې بیان شویدی.] او چاچه دَمال دَطلب دَپاره، یا یوې ښځې سره دَنکاح کولو په خیال هجرت اوکړو نو دَهغوئ دَهجرت بدله هم هغه څه دی چه وردَپاره ئې هجرت کړې دې-

اوس که مهاجرین چرې پریشانه او خوار اولیدې شی نو داسې اوګنړئ چه داابتدائ دَازمیښت دور دې چه روستو به ښه کیږی یا به هغوئ په صحیح نیت او ارادې سره هجرت نۀ وی کړې، که نیت ئې ښه کړو نو دَالله تعالی وعده پوره کیدل به په خپلو سترګو اووینی-

وَاِذَا	ضَرَبْتُمْ	فِی الْاَرْضِ	فَلَیْسَ	عَلَیْکُمْ	جُنَاحٌ
او هر کله چی	سفر کوئ تاسو	په زمکه کښی	نو نشته	په تاسو	هیڅ ګناه
اوهر کله چې تاسو په سفر روان شئ نو په تاسو باندې هیڅ ګناه نشته					
اَنْ تَقْصُرُوْا	مِنَ الصَّلٰوةِ	اِنْ خِفْتُمْ	اَنْ یَّفْتِنَکُمُ	الَّذِیْنَ	
چی لنډوالي اوکړئ	په مانځه کښې	که یریږئ تاسو	چی په فتنه کښی به واچوی تاسو	هغه کسان	
که تاسو مونځ کښې قصر اوکړئ ....که دا ویره درسره وی چې کافران به مو پریشانه کړی					

[۱] صحیح البخاری، کتاب الإیمان، باب ما جاء ان الاعمال بالنیة الخ: ج۱، ص ۳

كَفَرُوا ۚ إِنَّ الْكَافِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُّبِينًا ﴿١٠١﴾ وَإِذَا

چې کافران دي | بیشکه چې کافران | دي | ستاسو | دشمنان | ښکاره | اوهرکله چې

بیشکه کافران په ښکاره ستاسو دشمنۍ ته تیار ناست دي | او [اني پیغمبره] هر کله چې ته

كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلَاةَ فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِّنْهُم

موجود نې ته | په دوئ کښې | او اودروې | دپاره ددوئ | مونځ | نو اودریږي دې | یوه ډله | ددوئ نه

دمسلمانانو ډله کښې موجود یې | او [دجنګ په وخت کښې] ورته مونځ ورکوې | نو ددوی یوه ډله دې تا سره

مَّعَكَ وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا

تاسره | او اودې نیسي هغوئ | وسله خپله | نو بیا چې کله | سجده اوکړي هغوئ | نو شي دې هغوئ

اودریږي | او خپله خپله وسله دې خان سره نیسي | هرکله چې سجده اوکړي نو ستاسو نه دې

مِن وَرَائِكُمْ وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرَىٰ لَمْ يُصَلُّوا

روستو ستاسو نه | اورا دې شي | ډله | بله | چې لا نه دي کړې مونځ هغوئ |

روستو لاړ شي | او بله ډله چې مونځ نې نه وي کړې هغه دې رامخکښې شي ....

فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ۗ

نو اودې کړي مونځ | تاسوسره | او اودې نیسي هغوئ | سامان د بیدارۍ خپل | او وسله خپله |

اوتاسره دې مونځ کښې شریک شي | او دخپل حفاظت خیال دې ساتي | او وسلې دې ورسره وي

وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ

خوښوي هغه کسان | چې کافران دي | چې که تاسو غافلان شئ | دوسلو خپلو نه |

کافران دا غواړي چې تاسو د خپلو وسلو او اسبابو نه [لږ قدرله] غافله شئ

وَأَمْتِعَتِكُمْ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُم مَّيْلَةً وَاحِدَةً ۚ وَلَا جُنَاحَ

او دسامانونو خپلونه | نو حمله به اوکړي | په | تاسو | په یو خل ناساپه | او نشته ګناه

نو په تاسو باندې به په یو خل حمله اوکړي | ...... او په تاسو هیڅ ګناه نشته

عَلَيْكُمْ إِن كَانَ بِكُمْ أَذًى مِّن مَّطَرٍ أَوْ كُنتُم مَّرْضَىٰ أَن

په تاسو | که چرې | وی | په تاسو | څه تکلیف | دوجې دباران نه | یا وئ تاسو | ناجوړه | چې

که چرته په تاسو د باران د وجې تکلیف وی | .... یا بیماران یئ

تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ ۖ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ أَعَدَّ

کیږدئ تاسو | وسلې خپلې | او بیا هم اونیسئ | بیدارۍ خپله | بیشکه چې الله | تیار کړې دې |

چه تاسو خپله وسله پرانیزئ | .... خودخپل حفاظت خیال ساتئ | بیشکه الله ﷻ

لِلْكَافِرِينَ عَذَابًا مُّهِينًا ﴿١٠٢﴾ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ

دپاره دکافرانو | عذاب | رسواکونکې | بیا چې کله | اوکړئ تاسو | مونځ |

کافرانو دپاره رسواکونکې عذاب تیار کړې دې | او هرکله چې تاسو د مونځ نه فارغ شئ

Scanned with Ca

فَاذْكُرُوا اللّٰهَ　قِيٰمًا　وَّقُعُوْدًا　وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ ۚ　فَاِذَا　اطْمَاْنَنْتُمْ

نو يادوئ الله | په ولاړه | اوپه ناسته | او په اړخونو خپلو | نوكله چي | په اطمينان شئ تاسو

نو په ولاړه ، ناسته او په ملاسته په هر حال كښې دالله ﷻ ذكر كوئ | بيا چې [د دشمن نه] بې غمه شئ

فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ۚ　اِنَّ الصَّلٰوةَ　كَانَتْ　عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ　كِتٰبًا

نو قائموئ مونځ | بيشكه | مونځ | دې فرض | په مومنانو باندې | لازم كړې شوي

نو پوره مونځ اداكوئ | بيشكه مونځ په مسلمانانو باندې په خپل خپل وخت فرض كړې شوې دې

مَّوْقُوْتًا ۝　وَلَا تَهِنُوْا　فِى ابْتِغَآءِ　الْقَوْمِ ؕ　اِنْ تَكُوْنُوْا

په وخت كښې | اوسستى مۀ كوئ | په طلب | دقوم [دكافرانو] كښې | كه يئ تاسو |

اود [دښمن] قوم په لټون كښې سستى مه كوئ | كه تاسو [دكافرانو سره په جنګ ....

تَاْلَمُوْنَ　فَاِنَّهُمْ　يَاْلَمُوْنَ　كَمَا　تَاْلَمُوْنَ ۚ

چې دردمن كيږئ تاسو | نو بيشكه هغوئ هم | دردمن كيږى | لكه څنګه چې | تاسو دردمن كيږئ |

[كولو كښې قسم قسم] دردېږئ | نو ستاسوپشان هغوئ [كافران] هم دردېږى [اوتكليفونه ورته رسى]

وَتَرْجُوْنَ　مِنَ اللّٰهِ　مَا لَا يَرْجُوْنَ ؕ　وَكَانَ اللّٰهُ　عَلِيْمًا

اوتاسو اميد لرئ | دالله نه | دهغه ثواب چې نۀ ئې لرى هغوئ | اودې الله | پوهه

اوحال دا دې چه تاسو دالله ﷻ نه هغه اميدونه [دجنت وغيره] ساتئ | چې هغوئ ئې نه ساتى | اوالله په هر څه

حَكِيْمًا ۝

اوخاوند د حكمت |

پوهه او خاوند د حكمت دې |

آسان ترجمه قرآن: اوكله چه تاسو په زمكه كښې سفر كوئ او تاسوته ددې خبرې ويره وي چه كافران به تاسو لره پريشانه كړي نوپه تاسو باندې په دې خبره كښې څه ګناه نشته چه تاسو مونځ كښې قصر وكړئ يقينًا كافران ستاسو ښكاره دښمنان دي او(اې پيغمبره !) چه كله ته ددوى په مينځ كښې موجود ئې اودوى ته مونځ وركوي نو(دښمن سره د مقابلې په وخت كښې ددې طريقه داده چه) د مسلمانانو يوه ډله دې تاسره اودرېږي اوخپله وسله دې واخلي بيا چه كله دوى سجده وكړى نو دوى دې شاته لاړ شي ستاسو نه ، او دويمه ډله چه هغوى اوسه پورې مونځ نه دې كړې هغوى دې راشي كښې شي ، او تاسره دې مونځ وكړي او هغوى دې دَ خپلو ځانونو سره د بچاؤ سامان او خپله وسله واخلي كافران دا غواړي چه تاسو د خپلو وسلو اود خپل سامان نه غافله شئ نو دوى په تاسو په يوځل حمله وكړي اوكه تاسوته د باران د وجې نه تكليف وي يا تاسو ناجوړه يئ نو په تاسو باندې په دې كښې څه ګناه نشته چه تاسوخپله وسله كيږدئ هته خپل د بچاؤ سامان ځان سره كيږدئ بې شكه الله د كافرود پاره د ذلت والا عذاب تيار كړې دې بيا چه كله تاسو مونځ پوره كړئ نو الله په (هرحالت كښې) يادوئ ، په ولاړه هم ، په ناسته هم ، او په ملاسته هم بيا چه كله تاسو ته (ددښمن د طرف نه) اطمينان حاصل شي نو د قاعدې مطابق مونځ كوئ

Scanned with Ca

بې شکه مونځ د مسلمانانو په ذمه يو داسې ذمه داري ده چه د وخت پابندنه ده او تاسو ددې خلقو (يعني د کافر دښمن) په لټولو کښې څه کمزوري مه ښکاره کوئ که تاسو ته تکليف رسيدلې وي نو هغوی ته هم د هغسې تکليف رسيدلې دې لکه چه تاسو ته رسيدلې دې او تاسو د الله نه د داسې خبرې اميد کوئ چه د هغې هغوی اميد نه کوي او الله علم والا هم دې او حکمت والا هم دې.

خلاصه تفسير

﴿ وَإِذَا ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ ﴾ اوکله چه تاسو په زمکه کښې سفر کوئی [چه اندازه ئې درے پړاوه وی] نو په تاسو باندې به په دې کښې هيڅ ګناه نه وی [بلکه ضروری دی] ﴿ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلٰوةِ ﴾ چه تاسو [د ماسپخين [ماپښين] ، مازيګر او ماسختن [ماخستن] د فرض] مونځ [رکعتونه] کم کړئی [يعنی د څلورو په ځائې دوه رکعته کوئی] ﴿ إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَفْتِنَكُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ که ستاسو انديښنه وی چه تاسو به کافر خلق پريشان کړی [او ددې انديښنې له وجې په يو ځائې کښې زيات وخت ايساريدل مصلحت نه خلاف اوګنړلے شی څکه چه] ﴿ إِنَّ الْكٰفِرِينَ كَانُوا لَكُمْ عَدُوًّا مُبِينًا ﴾ بيشکه کافر خلق ستاسو ښکاره دښمنان دی.

﴿ وَإِذَا كُنْتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ ﴾ اوکله چه تاسو په دوی کښې تشريف لرئی [اوداغه شان ستاسو نه پس چه بل څوک ئې امام وی] بيا تاسو هغوی ته مونځ ورکول غواړئی [او دا انديښنه وی چه که ټول مونځ ته اودريږی نو څوک دښمن به موقع بيا پيدا کړی او حمله به اوکړی] ﴿ فَلْتَقُمْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ ﴾ نو [په داسې حالت کښې] داسې پکار دی چه ددغې ټولو خلقو دوه ډلې [جوړے شی بيا] ددوی نه يو ډله خو تاسو سره [په مونځ کښې] اودريږی [اوبله ډله څوکيدا ريَ دپاره دښمن ته مخامخ ولاړه وی چه د دښمن څارنه کوی] او هغه خلق [چه درسره په مونځ کښې شامل دی هغوی دې هم مختصر شان] وسله واخلی [يعنی د مونځ نه مخکښې دے واخلی او ځان سره دې ئې اوساتی چه دمقابلې دضرورت په ليدو په وخت کښې په وسلې راخستلو باندې څه ډيل اونشی او زر جنګ شروع کولې شی اګر چه مونځ خويه په جنګ سره مات شي خو ګناه به نه وی] ﴿ فَإِذَا سَجَدُوا فَلْيَكُونُوا مِنْ وَرَائِكُمْ ﴾ بيا چه دغه خلق [تاسوسره] سجده اوکړی [يعنی يو رکعت پوره کړی] نو دغه خلق دے [د څوکيدا ريَ دپاره] ستاسو شاته شی [يعنی درسول الله ﷺ اودهغه د ډلې د روستو شاته چه اوس به په مونځ کښې شامليږی اوبيان ئې راروان دے دغه رومبئ ډله دے ددې ټولو د روستوشی] ﴿ وَلْتَأْتِ طَائِفَةٌ أُخْرٰى لَمْ يُصَلُّوا فَلْيُصَلُّوا مَعَكَ وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ ﴾ اوبله ډله چه تر اوسه ئې مونځ نه دې کړې [يعنی شروع کړې ئې هم نه دې هغه دے ددغه رومبئ ډلے په ځائې امام ته نزدې] راشی اوتاسو سره دے مونځ [يعنی پاتې يو رکعت] اوکړی اودا خلق دے هم دخپل بچاو سامان او خپله وسله واخلی [اوځان سره دسامان او وسلے اخستلو حکم ئې ټولو ته څکه کړې دې چه] ﴿ وَدَّ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْ تَغْفُلُونَ عَنْ أَسْلِحَتِكُمْ وَأَمْتِعَتِكُمْ ﴾ کافر خلق داسې غواړی چه که تاسو دخپلو وسلو اوسامونو نه [لږ] غافله شئ ﴿ فَيَمِيلُونَ عَلَيْكُمْ مَيْلَةً وَاحِدَةً ﴾ نو په يو ځل به درباندې حمله اوکړی [نوپه داسے حالت کښې احتياط ضروری دې] ﴿ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِنْ كَانَ بِكُمْ أَذًى مِنْ مَطَرٍ أَوْ كُنْتُمْ مَرْضٰى أَنْ تَضَعُوا أَسْلِحَتَكُمْ وَخُذُوا حِذْرَكُمْ ﴾ اوکه تاسوته دباران [وغيره] په وجه [وسلے سره په تلوکښې] تکليف وی يا

Scanned with Ca

تاسو بیمار یئ [اوپدغه وجه وسله بندکیدي نشئ] نوتاسو ته په دې کښې [هم] هيڅ ګناه نشته چه وسله کیږدئی او [بیاهم] خپل بچاو [ضرور] واخلئ [اودا خیال مه کوئی چه دکفارو د دښمنئ صرف په دنیا کښې علاج کړې شوې دے بلکه په آخرت کښې به ئےددې نه په زیاته پیمانه علاج وی ځکه چه] ﴿ اِنَّ اللّٰهَ اَعَدَّ لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا۝ ﴾ بیشکه الله ﷻ کافرانو دپاره سزا دسپکاوی تیاره ایښے ده.

﴿ فَاِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلٰوةَ ﴾ بیا چه تاسو مونځ [دخوف ویرے] اوکړئی نو [په مخه] ﴿ فَاذْكُرُوا اللّٰهَ قِيٰمًا وَّقُعُوْدًا وَّعَلٰى جُنُوْبِكُمْ ﴾ دالله ﷻ په یادکښې اخته شئ په ولاړه هم په ناسته هم اوپه ملاسته [په پروته] هم [یعنی په هرحالتکښې تردې چې دجنګ په وخت کښې هم دالله ﷻ ذکرجاری لرئی په زړه کښې هم او د شرعی احکامو په تابعدارئی سره هم چه دا هم په ذکر کښې داخل دی. په جنګ کښې د شریعت خلاف څه کار کولو نه څنګ کوئی غرض دا چه که مونځ ختم هم شی خو ذکر بیا هم نه ختمیږی دسفر یا د ویرے له وجې خوپه مونځ کښې څه کمے راغلې وو لیکن ذکر په خپل حال دے څه کمے په کښې نه راځی] ﴿ فَاِذَا اطْمَاْنَنْتُمْ فَاَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ ﴾ بیا چه تاسو په تسلئ شئ [یعنی دسفر په ختمولو سره په خپل کورشئ اوداشان دویرے په ختمیدو سره بے ویرے شئ] نومونځ د [اصلی] قاعدې مطابق کول شروع کړئی [یعنی په مونځ کښې کمے کول او ګرځیدل وغیره په کښې پریږدئی ځکه چه دغه دپیښے په وجه روا کړې شوی وو] ﴿ اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتٰبًا مَّوْقُوْتًا۝ ﴾ یقیناً مونځ په مسلمانانو باندې فرض دې او وخت سره محدود دے [نو د فرض کیدو په وجه سره ئے ادا کول ضروری دی او وخت سره د خاص کیدلو په وجه ئے هم په خپل وخت کښې اداکول ضروری شو.لهذا اګر چه ددې په شکل وصورت کښې دپیښے په وجه تبدیلی اوکړې شوه ورنه دمونځ مقصودی صورت هم هغه اصلی صورت ئے دې نو ددغې سبب دختمیدو نه پس دمونځ داصلی صورت حفاظت لازم شو] ﴿ وَلَا تَهِنُوْا فِى ابْتِغَآءِ الْقَوْمِ ﴾ او همت مه بائیلئ دهغه مخالف قوم پسې ورپسې کیدو کښې چې کله ددې ضرورت هم دې﴿ اِنْ تَكُوْنُوْا تَاْلَمُوْنَ فَاِنَّهُمْ يَاْلَمُوْنَ كَمَا تَاْلَمُوْنَ ﴾ که تاسو [دزخمونو نه] په تکلیف کښې اخته یئ نو [څه اوشو] هغوی خوهم په دردکښې اخته دی څنګه چه تاسو په دردکښې اخته یئ [نو هغوی خو تاسونه زیات طاقت نه لری نوبیا ولے ویریږئ] ﴿ وَتَرْجُوْنَ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا يَرْجُوْنَ ﴾ او [په تاسو کښې یو زیاتوالی د هغوی نه دادې چه] تاسودالله ﷻ له طرفه دداسې څیزونو امید لرئی چه دغه خلق [ئے] امید نه لری [یعنی دثواب نو دزړه په طاقت کښې ترې تاسو زیات شوئ او دبدن په کمزورتیا کښې ورسره یوشان یئ نو تاسو له زیات چست کیدل پکار دی] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا۝ ﴾ الله ﷻ دلوئې علم خاوند دے [هغه ته دکفارو کمزوری زړونه او کمزوری بدنونه معلوم دی] لوئې دحکمت خاوند دے [ستاسو د وس نه یئ زیات حکم درته نه دې کړې].

معارف اومسائل

دا آیتونو ترون: ﴿ وَاِذَا ضَرَبْتُمْ فِى الْاَرْضِ فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ اَنْ تَقْصُرُوْا مِنَ الصَّلٰوةِ ﴾ پورته دجهاداوهجرت ذکرشوې وو ،هرکله چه په اکثروحالاتوکښې جهاداوهجرت دپاره سفرپیښیدل راځی اوپه داسې سفرونوکښې دمخالف دارخه،اکثرخطرې هم وی،په دې وجه دسفراوویرې په لحاظ په مونځ کښې دخاصوآسانتیاؤاوکموالی ذکراوس فرمائ۔

Scanned with Ca

د سفر او قصر احکام:

مسئله: د دري پړاونه په کم سفر کښې به مونځ پوره اداکولې شي۔

مسئله: د سفر ختمیدو نه پس هر کله چه خپل پړاوته ورأورسي، که هلته د پنځلسو ورځو نه د کم پاتې کیدو اراده ئې وي نو بیا خودا په حکم د سفر کښې دې، څلور رکعتونه فرض مونځ به پکښې نیم نیم [دوه دوه رکعته] کوي چه ورته قصر وئیلې شي، او که هلته ئې د پنځلسو یازیاتو ورځو پاتې کیدو اراده وي نو دې ته وطن د اقامت وئیلې شي چه مونځ به پکښې د اصلي وطن پشان پوره کولې شي۔

مسئله: قصر، صرف د دري وختونو په فرضو کښې دې، د ماښام او د صبا په فرضو، او په ټولو سُنتو او وترو کښې نشته۔

مسئله: په سفر کښې که څه قسم ویره هم نه وي نو بیا به هم په مونځ کښې قصر کولې شي۔

مسئله: ځنې خلقو ته داوسوسه راولاړیږي چه ګني د پوره مونځ په ځائې نیم مونځ کول ګناه ده، دا صحیح نه ده ځکه چه قصر هم د شریعت حکم دې، په دې باندې عمل کولو کښې ګناه نه بلکه ثواب ملاویږي۔

مسئله: ﴿وَاِذَا كُنۡتَ فِيۡهِمۡ فَاَقَمۡتَ لَهُمُ الصَّلٰوةَ﴾ [یعنې کله چه تاسو په دوئ کښې تشریف فرمایئ] ادې نه دا نهٔ دې ګنړل پکار چه اوس ځکه د ، ،صلوة خوف، ، حکم باقي پاتې نشو چه رسول الله ﷺ د دُنیا نه تشریف اوړي دې، ولې چه دا شرط د هغه وخت د پاره لګولې شوې وو چه هغوئ پخپله په دُنیا کښې حیات وو او د هغوئ په موجودګئ کښې بل څوک ترهغې امام نشي جوړیدې څو پورې چه د هغوئ عذر نهٔ وي، البته په اوسنو وختونو کښې به هر یو امام د هغوئ جانشین وي، او هم هغه به د ، ،صلواة خوف، ، امامت ورکولې شي، د ټولو امامانو په نزدد ، ،صلواة خوف، ، حکم د هغوئ نه پس هم جاري دې منسوخ شوې نهٔ دې۔

مسئله: ځنګه چه د انسانانو د ویرې له کبله ، ،صلواة خوف، ، اداکول روا دي دغه شان د زمرې، شرمښ، اژدها وغیره د ویرې نه هم چه وخت تنګ وي، اداکول ئې روا دي۔

مسئله: په آیت کښې د دواړو ډلو، امام سره د یو یو رکعت ادا کولو ذکرخوشوې دې خود دویم رکعت اداکولو طریقه نه ده ذکرشوې، د دې طریقه په حدیث شریف کښې داسې ښودلې شوې ده چه رسول الله ﷺ چه دوه رکعاته پوره کړل، سلام ئې اوګرځولو نو دواړو ډلوځان ځان له یو یو ادویم، دویم ارکعت اوادا کولو زیات تفصیل ئې په احادیثو کښې شته دې(۱)۔

إِنَّآ	أَنزَلۡنَآ	إِلَيۡكَ	الۡكِتٰبَ	بِالۡحَقِّ
بیشکه مونږه	نازل کړې دې	تاته	دا کتاب	په حقه
مونږ تا ته دا کتاب [قرآن] په حق [مضامینو سره] نازل کړې دې				

لِتَحۡكُمَ	بَيۡنَ	النَّاسِ	بِمَآ	أَرٰىكَ اللّٰهُ	وَلَا
د پاره د دې چې فیصله اوکړې ته	په منځ	د خلقو کښې	په هغه طریقه	چې ښودلې ده تا ته الله	او مهٔ
د دې د پاره چې تا ته الله کوم حقه خبره ښودلې ده د هغې نه د خلقو په مینځ کښې فیصله اوکړې					

(۱) صحیح البخاري، أبواب صلاة الخوف: ج ۱، ص ۱۲۹، وجامع الترمذي، أبواب التفسیر، باب سورة النساء: ج ۲، ص ۳۳

Scanned with Ca

تَكُنْ لِّلْخَآئِنِيْنَ خَصِيْمًا ﴿١٠٥﴾ وَّاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا

کیږه ته | دپاره دخیانتګرو | جګړه کونکې | اومعافی اوغواړه دالله نه | بیشکه الله | دې | ببښونکې

اودخیانت ګرو ملګرتیا مه کوه | اودالله ﷻ نه معافی غواړه | بیشکه الله ﷻ ببښونکې ....

رَّحِيْمًا ﴿١٠٦﴾ وَلَا تُجَادِلْ عَنِ الَّذِيْنَ يَخْتَانُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ؕ

رحم کونکې | او جګړه مۀ کوه تۀ | دهغه خلقو د طرفه نه | چې خیانت کوی هغوئ | دخانونوخپلوسره

اومهربان دې | اوڅوک چې د خپلو خانونو سره خیانت کوی | نو ته دهغوئ دطرفه جګړه مه کوه

اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ مَنْ كَانَ خَوَّانًا اَثِيْمًا ﴿١٠٧﴾ ۙ يَّسْتَخْفُوْنَ

بیشکه الله | نۀ خوښوی | هغه څوك | چې وی | ډیرخیانت کونکې | ګناهګار | پټولې شي هغوئ [ګناهونه]

بیشکه الله تعالی خیانت ګراوګناهګارخلق نه خوښوی | .... دا خلق [خپل ګناهونه]

مِنَ النَّاسِ وَلَا يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ وَهُوَ مَعَهُمْ اِذْ يُبَيِّتُوْنَ

د خلقو نه | اونۀ شي پټولې | دالله نه | اوهغه | دهغوئ سره وی | کله چې | هغوئ دشپې کوی

دخلقونه خو پټولې شی | خودالله ﷻ نه ئې نشی پټولې | اوالله ﷻ خو په هغه وخت کښې هم هغوئ سره وی

مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا ﴿١٠٨﴾

هغه | چې نۀ ئې خوښوی الله | دخبرونه | اودې الله | په هغه کارونو | چې کوی ئې دوئ | قدرت لرونکې

کله چې هغوئ پټ په پټه دهغه دمرضئ خلاف مشورې کوی | اوالله ددوئ په ټولو عملونو احاطه کونکې دې

هٰۤاَنْتُمْ هٰۤؤُلَآءِ جَادَلْتُمْ عَنْهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا ۟

خبرداریئ تاسو | هغه کسان | چې جګړه مو اوکړه | دطرفه ددوئ نه | په ژوند | ددنیا کښې |

خبردار! نوتاسو خو په دې دنیا کښې د دوئ دطرفه جګړه اوکړه |

فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ

خوڅوك به | جګړه کوی | دالله سره | دطرفه ددوئ نه | په ورځ دقیامت | یاآخر | څوك | به وی

نو په ورځ دقیامت به د دوی دپاره څوك دالله ﷻ مخکښې جګړه کوی | .... اوآخرهلته به

عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا ﴿١٠٩﴾ وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ ثُمَّ

ددوئ | وکیل | اوڅوك چې | اوکړی | بدی | یا ظلم اوکړی | په خان خپل | بیا |

څوك ددوئ د طرفه وکالت اوکړی | اوڅوک چې ګناه یا په خپل خان زیاتې اوکړی | ....بیا

يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿١١٠﴾ وَمَنْ يَّكْسِبْ

بخښنه اوغواړی دالله نه | اوبه مومی الله | ببښونکې | رحم کونکې | اوڅوك چې | اوکړی |

الله ﷻ نه بخښنه اوغواړی | نو الله ﷻ به ډیرببښونکې اوزیات مهربان بیامومی | .... اوڅوک چې

اِثْمًا فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا

ګناه | نو بیشکه | بار کوی ئې هغه | په خان خپل باندې | اودې | الله | په هر څه پوهه

ګناه کوی نو د هغه د ګناه نقصان هم هغه ته رسیږی | ....اوالله په هر څه پوهه

Scanned with Ca

حَكِيمًا ﴿۱۱۱﴾ وَمَنْ يَكْسِبْ خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ

صاحب د حکمت دي | او څوک چي | اوکړي | غلط کار | یا یوه ګناه | بیا | اوولی په دي ګناه سره

او صاحب د حکمت دي | او چا چي خطاکار اوکړو | یائې ګناه اوکړه | بیائې د هغې تهمت په یوبې ګناه

بَرِيْٓـًٔا فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا ﴿۱۱۲﴾

یوبې ګناه سړي | نوبې شکه چي بارئې کړوپه ځان | غټ دروغ | اوګناه | ښکاره |

کس باندې اولګوی | نو ډیرلوی بهتان ئې جوړ کړو |............ او ښکاره باره ګناه ئې اوکړه

وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ لَهَمَّتْ

او که چرې نه وې | فضل | دالله | په تاباندې | او رحمت دهغه | نو خامخا قصد کړې وو |

او [اې پیغمبره] که په تا دالله ﷻ فضل او مهرباني نه وې | نو ددوئ یوډلې خودا قصد کړې وو چي

طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ ؕ وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا

یوې ډلې | ددوئ نه | چي خطا باسي تالره | او نه تیر باسي دوئ | مګر | خانونه خپل | او نه شي

د امجرم په بچ کیدلو | کښې تا په غلطه لار روان کړې | او حال دا دې چي د خپل ځان نه بغیر بل څوک نشي غلطولې

يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ ؕ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ

ضرر رسولي تاته | دهیڅ څیز | اونازل کړې دي الله | په تاباندې | کتاب | اوحکمت

او تاته هیڅ قسمه نقصان نشي رسولي | او الله ﷻ په تا کتاب اود حکمت خبرې [احادیث] نازل کړې دی

وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ وَكَانَ فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ

اوښودلی ئې دی تاته | هغه څه | چي نه وې ته | چي پوهیدلې پرې ته | اودې | فضل دالله | په تاباندې

او هغه خبرې ئې درته خودلې دی چي تاته معلومې نه وې | او په تاباندې دالله ﷻ لویه مهرباني ده

عَظِيْمًا ﴿۱۱۳﴾

ډیر لوئ |

آسان ترجمه قرآن: بې شکه مونږه دا حق کتاب په تا باندې رالیږلې دې، دې دپاره چه ته دخلقو په مینځ کښې دهغه طریقې مطابق فیصله وکړې کومه چه تا ته الله ښودلې ده اوته دخیانت کوونکو طرفدار مه جوړیږه اودالله نه بخښنه غواړه بې شکه الله ډیر بخښونکې ډیرمهربانډې او په څه معامله کښې هم دهغه خلقو دطرف نه وکالت مه کوه چه خپلو ځانونوسره خیانت کوي الله نه خوښوي هرخیانت کوونکې، ګناهګار، دوی د خلقو نه شرمیږي اود الله نه نه شرمیږي او حال دا چه الله ددوی سره هغه وخت هم وي چه کله دوی د شپې په وخت کښې هغه خبرې کوي چه الله ئې نه خوښوی اوڅه چه دوی کوي الله دهغې احاطه کړې ده بیا ستاسو وَس خو همدادې چه تاسو په دنیوي ژوند کښې د خلقو سره جګړه وکړه ددې (خیانت کوونکو) حمایت مو وکړو! نو د قیامت په ورځ به څوک د الله سره جګړه وکړي اودَ دوی حمایت به وکړي، یا څوک به ئې وکیل جوړ شي؟ اوڅوک چه یو بدکار وکړي یا خپل ځان باندې ظلم وکړي، بیا د الله نه معافي وغواړي نو الله به ډیر بخښونکې او مهربان ومومي او څوک چه ګناه وکړي نو هغه خپله دي

Scanned with Ca

گناه کولو سره خپل ځان ته نقصان رسوي او الله علم والا هم دی ،،حکمت والا هم او څوک چه غلطي یا گناه وکړی بیا ددې الزام په یو بې گناه باندې ولگوي نو دې ډیر لوئ بهتان او ښکاره گناه په خپل ځان باندې راولي او (اې پیغمبره !) که دالله فضل او رحمت په تا باندې نه وې نو په دوی کښې یوي ډلي تالره د صحیح لارې نه داړولو اراده کړې وه او (حقیقت کښې) دوی د خپل ځان نه سوا بل چالره نه گمراه کوي. او دوی تا ته څه نقصان هم نه شي رسولې الله تعالی په تا باندې کتاب او حکمت نازل کړې دې او تاته ئې دهغه خبرو علم درکړې دې چه تا نهٔ پیژندې . اوپه تا باندې همیشه دالله فضل ډیر زیات دې.

خلاصه تفسير

﴿ اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنَاۤ اِلَیۡکَ الۡکِتٰبَ بِالۡحَقِّ ﴾ بیشکه مونږ تاسو ته داکتاب دراولیږلو [چه په هغې سره] دواقع مطابق حال معلوم شی﴿لِتَحۡکُمَ بَیۡنَ النَّاسِ بِمَاۤ اَرٰىکَ اللّٰہُ ؕ﴾ دې دپاره چې تاسو [پیدې واقعه کښې] ددې خلقو په مینځ کښې ددې موافق فیصله اوکړئی چه الله ﷻ [دوحی په ذریعه] تاسوته [اصل حال] خودلې دے [هغه وحی داده چه په واقع کښې بشر غل دے اووده مرستیال د بنوا بیرق قبیلے خلق دروغژن دی] او [هرکله چه اصل حال معلوم شونو]﴿وَلَا تَکُنۡ لِّلۡخَآئِنِیۡنَ خَصِیۡمًا ﴾ تاسو ددغې خیانتگروخلقو دطرفداریٔ خبره مه کوئی [لکه چه دبنوا بیرق اصل خواهش هم دا وو لکه چه په دویمه رکوع کښې راځی.﴿ لَہَمَّتۡ طَّآئِفَۃٌ مِّنۡہُمۡ اَنۡ یُّضِلُّوۡکَ ؕ﴾ خوتاسو دغسې کړی نه وو.پخپله ډدې جملے نه په دې باندې دهغوی عمل نه کول هم معلومیږی ځکه چه ددې حاصل دادې چه دالله ﷻ فضل د غلطیٔ نه بچ کړی چه په کښې دهرې غلطیٔ نفی اوشوه اودمنع کولو نه یئ دا نه لازمیږی چه هغه دې په تیره شوې زمانه کښې واقع شوی وی بلکه دمنع اصل فائده داده چه دحقیقت حال نه خبرولو سره ئے په آینده کښې ترې منع کوی نومطلب به یئ دا راڅی چه څنگه دے تر اوسه پورې طرفداری نه ده کړې په آئنده کښې هم دغسې مه کوئی او دا مکمل انتظامات نبی ﷺ لره دمعصوم [گناه نه پاك] ساتلو دپاره دی.خیانتگر ټول بنوا بیرق نه وو خو هرکله چه دخیانتگر مرسته ئے کوله نوځکه ټولو ته خیانتگر اووئیلې شو د خلقو په وینا د نیك گمانئی په ډول چه هغوی بنوا بیرق دیندار اوکنړل اگر چه داسې گنړل گناه خونه ده لیکن په دې کښې دا احتمال وو چه دهغوی په دومره فرمائیلو سره به حقداران خپل حق پرېږدی چنانچه هم دغسې اوشو چه حضرت رفاعه خاموش ناست وو نوداکار نامناسب اوشو ځکه ددې] ﴿ وَّاسۡتَغۡفِرِ اللّٰہَ ؕ اِنَّ اللّٰہَ کَانَ غَفُوۡرًا رَّحِیۡمًا ﴾ تاسو بخښنه اوغواړئی دالله ﷻ [چه ستاسو دلوئې شان سره دومره خبره هم تاسو دپاره دبخښنے غوښتلو جوگه ده] بیشکه الله ﷻ لوئې بخښونکے لوئې درحمت خاوند دې.

﴿ وَلَا تُجَادِلۡ عَنِ الَّذِیۡنَ یَخۡتَانُوۡنَ اَنۡفُسَہُمۡ ؕ ﴾ اوتاسو ددغې خلقو له طرفه دجواب ورکولو څه خبره مه کوئی [ځنگه چه دغه خلقو تاسو نه غوښتل] ولې چه [دا خلق خیانت اونقصان کولو په وجه دضرر اووبال په اعتبار سره په حقیقت کښې] هم خپل نقصان کوی ﴿اِنَّ اللّٰہَ لَا یُحِبُّ مَنۡ کَانَ خَوَّانًا اَثِیۡمًا ﴾ بیشکه الله ﷻ داسې کس نه خوښوی [بلکه بد ئے گنړی] کوم چه لوئې خیانت کوونکې وی [ځنگه چه لږ خیانت کوونکې هم نه خوښوی خو هرکله چه د بشر لوئې خیانتگر کیدل ښکاره کول مقصود دی ځکه دا صیغه دمبالغے راوړے شوه] ﴿ یَّسۡتَخۡفُوۡنَ مِنَ النَّاسِ وَلَا

Scanned with Ca

يَسْتَخْفُوْنَ مِنَ اللّٰهِ﴾ دكومو خلقو چه دا شان دي چي [خپل خيانت لره] دخلقو نه [دشرميدو په وجه] پټوي او الله ﷻ نه نه شرميږي ﴿وَهُوَ مَعَهُمْ اِذْ يُبَيِّتُوْنَ مَا لَا يَرْضٰى مِنَ الْقَوْلِ﴾ حالانكه هغه [دهر وخت پشان] دا وخت [هم] دوي سره دے كله چه دوي دالله ﷻ دمرضئي خلاف د خبرو اترو متعلق تدبيرونه كوي ﴿وَكَانَ اللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطًا﴾ او الله ﷻ ددوي ټول عملونه په خپلې [عملي] احاطے كښې راوستي دي.

[دبشر وغيره په مرسته كښې چه بعضې دمحلے خلق په جمع راغلي وو هغوئ دي دا واوري چه] ﴿هٰاَنْتُمْ هٰؤُلَآءِ جٰدَلْتُمْ عَنْهُمْ فِى الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا﴾ تاسو داسې يئ چه په دنيوي ژوند خو مو ددوي له طرفه دجواب وركولو خبرے اوكړې خو [دا اوښائې چه] ﴿فَمَنْ يُّجَادِلُ اللّٰهَ عَنْهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَمْ مَّنْ يَّكُوْنُ عَلَيْهِمْ وَكِيْلًا﴾ دالله ﷻ په مخكښې به دقيامت په ورځ ددوي له طرفه څوك جواب وركوي چه ددوي كار جوړونكے به شي [يعنې نه خوبه څوك زباني جواب وركولي شي اونه به دمقدمے دسمولو څه عملي كار كولي شي] ﴿وَمَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا اَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهٗ﴾ او [دے خيانتګرو كه اوس هم د شرعي قاعدې په جوړ توبه كړي وے نو معافي به ورته شوې وه ولے چه زمونږ قانون دادې چه] څوك [متعدي] بدكوي يا [صرف] دخپل ځان ضرركوي [يعنې داسې ګناه نه كوي چه اثر ئے نورو ته رسي او] ﴿ثُمَّ يَسْتَغْفِرِ اللّٰهَ﴾ بيا الله ﷻ نه [د شرعي قاعدې مطابق] معافي اوغواړي [چه په كښې دبندګانو حقوق ادا كول يا ئے دهغوي نه معاف كول هم داخل دي] ﴿يَجِدِ اللّٰهَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا﴾ نوهغه به الله ﷻ لره لوئې بخښونكے بيا مومي او [ګناهګارو لره صرف ددې كوشش كول پكار دي].

﴿وَمَنْ يَّكْسِبْ اِثْمًا فَاِنَّمَا يَكْسِبُهٗ عَلٰى نَفْسِهٖ وَكَانَ اللّٰهُ عَلِيْمًا حَكِيْمًا﴾ چه څوك دڅه ګناه كاركوي نو هغه صرف د خپل ذات دپاره كوي او الله ﷻ لوئې دعلم خاوند دې [دټولو په ګناهونو خبر دي] لوئې دحكمت خاونددې [مناسبے مناسبے سزاګانې تجويز كوي] ﴿وَمَنْ يَّكْسِبْ خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا ثُمَّ يَرْمِ بِهٖ بَرِيْٓئًا﴾ او [داخو پخپله دګناه كولو انجام شو په نورو باندې دخپلې كړې ګناه تور پورې كوونكو حال هم واورئې چه] څوك څه وړه ګناه اوكړي يا لويه ګناه بيا [ددې په ځائې چه توبه ورله كول پكار وو هغه داكار اوكړو چه] ددې [ګناه] تور ئے په يو بے ګناه پورې كړو ﴿فَقَدِ احْتَمَلَ بُهْتَانًا وَّاِثْمًا مُّبِيْنًا﴾ نوده خو ډير دروند بهتان اوښكاره ګناه په خپل ځان [سر] باركړه [څنګه چه بشر اوكړه چه پخپله ئے غلا اوكړه اويونيك بخت بزرګ سړي يعني لبيد باندې ئے دهغې تور پورې كړو].

﴿وَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكَ وَرَحْمَتُهٗ﴾ اوكه [په دې مقدمه كښې] په تاسو باندې [ائي محمد ﷺ] دالله ﷻ فضل اورحمت نه وې [چه هميشه درباندې وي] ﴿لَهَمَّتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْهُمْ اَنْ يُّضِلُّوْكَ﴾ نودے [چالاكو] خلقو نه يو ټولې خو تاسو لره په غلطئ كښې داچولو اراده كړې وه [ليكن دالله ﷻ په فضل سره ددوي رنګينو خبرو په تاسو هيڅ اثر اونشو كړې اوبيا به هم اونه كړې شي لكه فرمائي] ﴿وَمَا يُضِلُّوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَضُرُّوْنَكَ مِنْ شَيْءٍ﴾ اودوي [كله هم تاسو لره] په غلطئ كښې نشي اچولې ليكن [په دې ارادے سره] خپلو ځانونو لره [په ګناه اوعذاب كښې داخته كيدو اهل جوړوي] او تاسو ته پوټے قدرې [ددې قسم] ضرر نشي در رسولې او [تاسوته په غلطئ سره ضرور در رسول كله كيديشي چه] ﴿وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ﴾ الله ﷻ په تاسو باندې كتاب اودعلم خبرے نازلے كړې دي [چه دهغې په يوه برخه كښې ئے ددې قيصے اطلاع هم

Scanned with Ca

درکړه] ﴿ وَعَلَّمَكَ مَا لَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ﴾ اوتاسو ته ئې [هغه مفید او اوچتې] خبرې خودلې دی چه تاسو [مخکښې نه] نه پیژندی ﴿ وَكَانَ فَضْلُ اللهِ عَلَيْكَ عَظِيمًا ﴾ اوپه تاسو دالله ﷻ لوئې فضل دې.

معارف اومسائل

دآیتونوربط: ﴿إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ﴾ پورته دظاهری کُفارودمعاملاتوپه ضمن کښې ځوځایه دمُنافقانوذکر راغلي دې چه کُفرپه دواړوکښې یوشان دې، اوس وروستو هم دځنې مُنافقانودیوې خاصې قیصې په باره کښې مضمون ذکر کیږی - [بیان القرآن] (۱)

دآیتونوشان نزول: ذکرشوی اُوه آیتونه یوې خاصې واقعې سره تعلق لری، خودعام قرآنی طرز مطابق په دې سلسله کښې ورکړې شوی هدایات، دې واقعې سره خاص نهٔ دی بلکه په هغه ډیروأصولی اوفروعی مسئلو باندې مشتمل دی چه موجوده اوآئنده مسلمانانودپاره عام دی- اول واقعه معلومه کړئ بیا هغې سره تړلی هدایاتواودې نه په پوره راوتونکومسئلو باندې غوراوکړئ-

واقعه داسې وه چه په مدینه منوره کښې دبنوابیرق په نوم یومشهورخاندان ؤودَدوئ یوسړی د حضرت قتاده بن نعمان رضي الله عنه دتره حضرت رفاعه رضي الله عنه دکورکندر[سورئې] اوکړواوغلائې ترې اوکړه- د ترمذی او(۲) حاکم په روایت ددغه سړی بشیرنوم وو، دبغوی او(۳) ابن جریرپه روایت دهغه نوم طعمه وو-

دترمذی شریف په روایت دغه سړې په حقیقت کښې منافق ؤو، سره ددې چه په مدینه منوره کښې اوسیدو لیکن دصحابه کرامو رضي الله عنهم دسپکاوی اشعاربه ئې لیکل اودبل چاپه نوم به ئې خورول- دغلاصورت داسې جوړشو چه دهجرت په ابتدائی زمانه کښې به عامو مسلمانانودلوږې، تندې لنډتنګ ژوندتیرولو، ددوئ عام خوراک به داوربشواوړه، کهجورې[خورما] ، کم کم دغنمواوړه چه په مدینه منوره کښې به مونډې هم نهٔ شُو، کله به چه دغنمواوړه دشام ملک نه راتلل نوځه خلقوبه میلمنویاخاص ضرورت دپاره په بیعه اغستل، په داشان حضرت رفاعه رضي الله عنه هم دغنمواوړه اغستې اوپه یوبوریٔ کښې ئې خوندی کړی ؤو، په دې کښې ئې څه وسله هم ایښې وه اوپه یوکوټګئ کښې ئې سنبال کړې وه، ابن ابیرق، بشیر، یاطعمه، ددې تلاش اولګولو، کندر[سورئې] ئې اوکړو اودغه بورئ ئې راوښکله- حضرت رفاعه رضي الله عنه چه داوليدل نوځپل وراره حضرت قتاده رضي الله عنه له راغې اوددې غلاحال ئې ورته اووئیلو، تولوپه جمع په محله کښې تفتیش شروع کړو، ځنو کسانو اووئیل چه بیګاه مابښام مودبنوابیرق په کورکښې بل شوې اورلیدلې دې خیال مودا راځی چه دغه داوروپخولودپاره بل کړې شوې وو، بنوابیرق هرکله چه په دې خبرشونودځپل سرنه ددې الزام لرې کولودپاره پخپله راغلل اوداتورئې په لبیدبن سهل رضي الله عنه اولګولو، حضرت لبید یومخلص مسلمان اونیک بزرګ ؤو چه ورته پته اولګیده نوتوره راوښکلې میدان ته راووتواووې فرمائیل چه زهٔ به توره هله سنبالوم چه دغلاحقیقت اوبنیاد معلوم کړم- بنوابیرق غلی شان اووئیل چه بې فکره اوسه، ستاسو هیڅوک نهٔ اخلی اونهٔ داکارستاکیدې شی، دلته دبغوی اوابن جریرروایت داسې دې چه بنوابیرق ددغې غلاتور په یویهودی پورې کړې

---

(۱) بیان القرآن تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۵۴

(۲) مستدرک للحاکم رقم الحدیث: ۸۲۷۸، وجامع الترمذی، أبواب التفسیر، باب سورة النساء: ج ۲، ص ۱۳۴

(۳) تفسیر الطبری تحت هٰذه الآیة رقم الحدیث: ۱۰۴۱۲، وتفسیر البغوی تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۲۸۴

Scanned with Ca

وو، دې دپاره ئې هوښيار تيا داسې کړې وه چه داوړو هغه بوړۍ ئې لږه شان شلولې وه، دحضرت رفاعه ؓ د کورنه ئې دهغه يهودي تر کوره پورې ئې دهغې نه دوړيدلې، اوړه ښکاره کړي وو، چه د غلا خبره مشهوره شوه نو دغه غلا کړې وسله اوزغرې ئې هم يهودي سره کيښودل چه دتحقيق په موقعه دهغه دکورنه برآمدشوې، يهودي په دې قسم اوخوړوچه زغرې راته بنوابيرق راکړې دی-

دترمذي اوبغوي په روايت کښې جوړښت داسې کيدې شي چه ړومبي سرکښې بنوابيرق په لبيدبن سهل باندې داتورپورې کړو، چه خبرې سمون اونۀ خوړونو کيدې شي چه هغه روستو ئې داتورپه يهودي پورې کړې وی، بهرحال اوس داجنجال دبنوابيرق اوديهودي ترمنځه جوړشو-

بل خواحضرت رفاعه ؓ اوحضرت قتاده ؓ مختلفو صورتونواو طريقو سره، دا غالب ګمان شوې وو چه داکاردبنوابيرق دې . په دې بناحضرت قتاده ؓ درسو الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو د غلا واقعه ئې ورته بيان کړه اودتفتيش په سلسله کښې ئې په بنوابيرق باندې دغالب ګمان ذکر اوکړو-

بنوابيرق چه په دې خبرشونورسول الله ﷺ ته راغلل، دحضرت رفاعه ؓ اوحضرت قتاده ؓ په باره کښې ئې داشکايت اوکړوچه بې دشرعی ثبوته هغوئ په مونږ باندې دغلاتورپورې کوی، حالانکه دغلامال ديهودي دکورنه برآمدشوې دې، دائې هم اووئيل چه تاسو، هغوئ لره ددې نه منع کړئ اوورته اوفرمايئ چه دعوی په يهودي باندې اوکړی-

دظاهري حالاتواوعلاماتوپه وجه درسول الله ﷺ زړۀ مبارک ته هم داخبره پريوته چه داکارديهودي دې-په بنوابيرق داتورپورې کول صحيح نۀ دی چنانچه دبغوي دروايت مطابق هغوئ په يهودي باندې دغلادسزاجارې کولو [دلاس پريکولوئې] اراده اوکړه(١)-

بل خواهر کله چه حضرت قتاده درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشونوهغوئ ورته اوفرمائيل چه تاسو ددليل اوثبوت نه بغيرپه يو مسلماني کورنئ تورپورې کوئ، حضرت قتاده ؓ په دې ډيرزيات غمژن شوافسوس ئې اوکړواووې وئيل چه کاش په دې باره کښې م دهغوئ په وړاندې هيڅ خبره نۀ وې کړې-اګرچه زما پکښې ټول مال هم تلې وې، حضرت رفاعه ؓ هم چه په دې خبرشونوصبرئې اوکړواووې فرمائيل: ﴿والله المستعان﴾

په دې معامله کښې څه وخت لانۀ ووتيرشوې چه دقرآن کريم يو پوره رکوع په دې باره کښې نازله شوه چه رسول الله ﷺ ته دهغې په ذريعه حقيقت سرګند کړې شواودداسې معاملاتوپه باره کښې ورته عام هدايات ورکړې شو-

قرآن کريم چه دبنوابيرق غلا ښکاره کړه اويهودي ئې برې کړونوبنوابيرق دمجبورئ نه هغه غلاکړې مال درسول الله ﷺ په خدمت کښې پيش کړو-چه حضرت رفاعه ؓ ته اوسپارلې شو اوهغه دغه وسله جهاددپاره وقف کړه، دغلاپه ښکاره کيدو باندې بشيربن ابيرق دمدينې منورې نه مکې مکرمې ته اوتښتيدواوهلته مشرکانوسره يو ځائې شو، په داشان دغه منافق اوس ښکاره کافرشو اوکه وړاندې مسلمان وو نواوس مرتدشو-

په تفسيربحرمحيط کښې راغلی دی چه دالله اورسول [د مخالفت دوبال په وجه بشيربن ابيرق له په مکه مکرمې کښې هم آرام ورنغلو، يعنی دغلته دکومې ښځې په ديره کښې چه تيکاؤشوې وو، هغې ته چه دحقيقت پته اولګيده نوخپلې ديرې نه ئې اوويستلو، داشان سروالې بروالې او

(١) تفسير البغوی تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۲۸۳

Scanned with Ca

کوځه په کوځه ګرځیدو چه دغلته ئې دَبل چا کور کنډر کولونو دیوال پرې راؤغورځیدو او ترې لاندې مړ شو(۱)-
تر دې پورې دَواقعې تفصیل وو، اوس دَدې په باره کښې په قرآنی ارشادا تو غوراوکړئ:
دَرومبی آیت په ذریعه هر کله چه رسول الله ﷺ دَغلا په حقیقت خبر کړې شو نو ورته ئې ارشاد اوفرمائیلو:
چه مونږ په تاسو باندې ،قرآن کریم اووحي دې دَپاره نازل کړې دی چه دَالله تعالی له اړخه،تاسو ته چه کوم علم اومعرفت درکړې شوې دې، دَهغې مطابق فیصله اوکړئ او دَ خیانتګرو [بنوابیرق] طرفداری اونکړئ او اګرچه دَظاهری حالاتواو قرینو په بنا ،دَغلا په معامله کښې دَ تور برابریدو خیال راتلل څه ګناه نۀ وه ،لیکن هر کله چه دادَواقعې خلاف وه ،ځکه ئې ورته په دویم آیت کښې دَبخښنې غوښتو حکم ورکړو ،ولې چه دَانبیاؤ ﷺ مقام بلند دې،ځکه تر داسې خبره الله تعالی ته خوښه نۀ وه-
په دریم آیت [۱۰۷] کښې یې بیا ددې تاکید اوفرمائیلو چې دخیانتګرو د طرفه تاسو هیڅ جواب مه کوئی ځکه چې هغوئ الله ﷻ ته خوښ نه دی په څلورم آیت نمبر ۱۰۸ کښې دَدغې خیانتګرو دِ خراب حال اوبیوقوفئ بیان دې،چه داخلق خودَخپل ځان پشان بنیادمونه دَشرمیدو په وجه دَهغوئ نه غلا پټوی لیکن الله تعالی نه نۀ شرمیږی چه هروخت دوئ سره دې اودَوئ هر کارونې ګوری،خصوصاً خپل منځ کښې دامشوره کول چه تور په یو یهودی پورې کړی دَرسول الله ﷺ په حضور کښې دَاشکایت کول چه هغوئ ،په مونږ باندې بې ثبوته تورپورې کوی، اودَهغوئ نه داخواست کول چه دَیهودی په مقابله کښې دې زمونږ مرسته اوکړی-
په پنځم آیت [۱۰۹] کښې ،دَبنوابیرق مرستیالانوته خبردارې ورکړې شو چه دُنیا کښې خو تاسو دَ دوئ مرسته اوکړه لیکن معامله خودلته نۀ ختمیږی،دَقیامت په ورځ چه دَالله تعالی په عدالت کښې معامله پیش شی هلته به ئې څوک مرسته کوی؟په دې آیت کښې دوئ لره ملامت کول هم دی اودَخپلو کړونه ئې توبې کولوته ئې راپارول هم دی-
په شپږم آیت [۱۱۰] کښې دَقرآن کریم دَعام حکیمانه انداز مطابق ،مجرمانو ،ګنهګارانولره دَنا امیدئ نه دَبچ کولو دَپاره اوفرمائیلې شو چه هر کله ګناه ورکوټې وی او که لویه،خوچه ګنهګار دَالله تعالی په وړاندې ترتوبه کوی اودَهغې بخښنه تړغواړی،نو الله تعالی لره به غفوررحیم بیاموهی اوداسې قسم ګنهګارانولره دې ته راپارول دی چه دَخپلو کړو ګناهونو نه که اوس هم منع شی دَزړۀ دَاخلاصه توبه تراوباسی نو هیڅ خرابې نۀ ده شوې الله تعالی به دغه ټول ګناهونه معاف کړی- په اووم آیت [۱۱۱] کښې داهدایت کړې شوې دې که داخلق اوس هم توبه ګارنشی نو الله تعالی ، دَهغه رسول، اومسلمانانوته ئې هیڅ زیان تاوان نشته،وبال ئې هم په دغه کس دې-
په اتم آیت [۱۱۲] کښې دَیوې عامې ضابطې په شکل کښې ارشاداوفرمائیلې شو ،چه څوک، پخپله څه جُرم اوکړی اوبیا دَهغې تورپه یوبې ګناه انسان اولګوی لکه څنګه چه بنوابیرقو کړی وو نو هغه لوئې بهتان اوښکاره ګناه په خپل ځان باره کړه-

(۱) تفسیر البحر المحیط تحت هٰذه الآیة: ج ۳، ص ۲۵۷

په نهم آیت [۱۱۳] کښې رسول الله ﷺ ته داسې خطاب کړې شوې دې، که چرې دَالله تعالی فضل اورحمت در باندې نهٔ وې، چاچه دَوحی په ذریعه دَدې واقعې حقیقت درته اوښودونودې خلقو به په غلطۍ کښې اخته کړې وې، خوهرکله چه په تاسودَالله تعالی فضل اورحمت دې، ځکه دهیڅکله په غلطۍ کښې دوی نشی اخته کولې، بلکه پخپله په ګمراهۍ کښې اخته کیږی - اوتاسَوته دوی پورې قدرې نقصان هم نشی رسولې، ولې چه الله تعالی در باندې کتاب اودَانشمندۍ خبرې نازلې کړې دی چه وړاندې درته نهٔ وې معلومې

رسول الله ﷺ ته داجتهادکولوحق حاصل وو. ﴿إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَٰبَ بِالْحَقِّ﴾ دې آیت نه پنځه مسئلې ثابتې شوې، یوه داچه په هغه مسئلوکښې رسول الله ﷺ ته دَاجتهادکولوحق حاصل ووچې دَهغې په باره کې دَقرآن کریم ښکاره نص موجودنهٔ ؤواوداچه دګنړوراپیښوپه فیصلوکښې به هغوی دَاجتهادنه کاراغستو-

بله مسئله تردامعلومه شوه چه دَالله تعالی په نزددَرائې هغه اجتهادمعتبردې چه قرآنی نصونو او اصولو نه راغستې شوی وی، خالصه رائې اوخیال معتبرنهٔ دې اونهٔ ورته په شریعت کښې اجتهاد وئیلې شی-

دریمه خبره ترې دامعلومه شوه چه دَرسول الله ﷺ اجتهاددَنورومجتهدینواماموپشان نهٔ ووچه پکښې دَخطااَوغلطۍ احتمال همیشه باقی وی، بلکه دَهغوی په اجتهادی فیصلې کښې به، که څه غلطی اوشوه نوالله تعالی به په هغې خبرکړواودَهغوی فیصله به ئې دَحق مطابق اوصحیح اوګرځوله، دَهغوی دکومې اجتهادی فیصلې خلاف به که دَالله تعالی له اړخه څه وارد نشونودابه دَدې خبرې نخښه وه چه دغه فیصله الله تعالی ته خوښه اودَهغه په نزدصحیح ده-

څلورمه خبره تردامعلومه شوه چه په قرآن باندې پوهیدل دَرسول الله ﷺ به دَالله تعالی له اړخه پوهول ووچه پکښې به دَغلط فهمۍ څه امکان نهٔ وو، په خلاف دَنوروعلماؤاومجتهدینونه چه دَهغوی پوهیدل داسې نهٔ وی چه ګنې دا، دَالله تعالی له اړخه وی لکه څنګه دَرسول الله ﷺ په باره کښې چه ﴿فاحکم بما اراك الله﴾ واردشوې دې، همدغه وجه ده چه هرکله یوسړی، حضرت عمر رضی اللہ عنہ ته اووئیل چه ﴿فاحکم بما اراك الله﴾ نوهغوی اورټلواوورته ئې اوفرمائیل چه داخصوصیت دَرسول الله ﷺ وو-

پنځمه مسئله تردامعلومه شوه چه دَدروغودَمقدمې اودعوې پیروی یاوکالت کول یادَهغې تائیداومرسته کول، ټول حرام دی-

دَتوبې حقیقت دآیت نمبر ۱۱۰ ﴿وَمَن يَعْمَلْ سُوٓءًا أَوْ يَظْلِمْ نَفْسَهُۥ﴾ نه دامعلومه شوه چه ګناه که لازمی وی اوکه متعدی، یعنی که حقوق الله سره ئې تعلق وی اوکه حقوق العبادسره، نوداسې هرقسم ګناه په توبه اواستغفارسره معاف کیدې شی، البته دَتوبې اواستغفارحقیقت پیژندل ضروری دی، صرف په ژبه دَتوبه، او، استغفرالله وئیل کافی نهٔ دی، چنانچه دَعلماؤپه دې خبره اتفاق دې چه څوک په څه ګناه کښې اخته وی، په هغې خپیمانه هم نهٔ وی، پریږدی ئې هم نهٔ، په آئنده کښې ئې دَپریښولوقصدهم نهٔ وی، نوپه دې حالت کښې صرف په ژبه، استغفرالله، وئیل توبې سره توقې کول دی-

خلاصه داچه توبې دَپاره درې خبرې ضروری دی، په تیروشوؤګناهونو باندې خپیمانه کیدل هغه ګناه سمدستی پریښول چه پکښې اخته وی، په آئنده کښې دَګناه نه دَبچ کیدواراده کول، البته

Scanned with Ca

کوم ګناهونه چه حقوق العبادسره تعلق لری، هغې نه دتوبې کولویوشرط داهم دې چه لاندې کړې حق ورته اداکړې شی یائې ترمعاف کړې۔

دخپلې ګناه توربه بل چاپورې کول ددوچندعذاب سبب دې: دآیت نمبر ۱۱۲ ﴿وَمَنْ يَكْسِبْ خَطِيْٓئَةً اَوْ اِثْمًا﴾ نه معلومه شوه چه څوک پخپله ګناه اوکړی اوتورئې په بل یوبیګناه کَس پورې کړی نوهغه خپله ګناه دوچنده اوسخته کړه اودَسخت عذاب مستحق شویودګناه کولوعذاب، بل دتورپورې کولوسخت عذاب –

دقرآن اوسُنت حقیقت په آیت نمبر ۱۱۳ ﴿وَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَيْكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَعَلَّمَكَ مَالَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ﴾ کښې کتاب سره دَحکمت په شاملولو کښې دې اړخ ته اشاره کړې شوې ده چه درسول الله ﷺ سُنت اوتعلیمات کوم چه دَ ، ، حکمت ، ، په نوم یادیږی داهم دَالله تعالی له اړخه نازل کړې شوی دی، فرق صرف دومره دې چه ددې الفاظ د الله ﷻ دطرفه نه دی په دې وجه په قرآن کښې داخل نه دی او ددې احادیثو اودقرآن کریم [دواړو] معنی دَالله تعالی له اړخه دی ځکه په دواړوعمل کول واجب دی۔

اوس دَدې نه دَهغې کلام حقیقت معلوم شو چه ځنې فقهاؤداشان لیکلی دې چه دَوحی دوه قسمونه دی متلُو[چه تلاوت ئې کولې شی]اوغیرمتلُو[چه تلاوت ئې نشی کولې]

وَحی متلُودَقرآن کرِیم نُوم دې چه الفاظ اومعنی دواړه ئې دَالله تعالی دَجانب نهٔ دی، اوغیرمتلُودَحدیث رسول ، نوم دې چه الفاظ ئې پخپله درسول الله ﷺ دې اومعنې ئې دَالله تعالی له اړخه دی۔

درسول الله ﷺ علم دَټولومخلوقاتونه زیات دې: دَ ﴿وَعَلَّمَكَ مَالَمْ تَكُنْ تَعْلَمُ ؕ﴾ نه دویمه مسئله داثابته شوه چه دَرسول الله ﷺ علم، دَالله تعالی پشان ټولو کائناتونه چاپیره نهٔ وولکه ځنګه چه ځنې جاهلان وائی بلکه هغه هومَره علم ورته ضرورووڅومره چه ورته الله تعالی ورکولو، البته دې نه هیڅ قسم انکارنشی کیدې چه رَسول الله ﷺ ته دَالله تعالی له اړخه ورکړې عِلم دَټولو مخلوقاتو نه زیات دې۔

لَا خَيْرَ فِيْ كَثِيْرٍ مِّنْ نَّجْوٰىهُمْ اِلَّا مَنْ اَمَرَ

| نشته خیر | په ډیرو کښې | دپټو خبرو ددوئ نه | مګر | دهغه چا | چې حکم کوی

.... ددوئ په ډیروپټومشورو کښې هیڅ خیرنه وی |.......... البته هغه څوک چه [خلقو ته]

بِصَدَقَةٍ اَوْ مَعْرُوْفٍ اَوْ اِصْلَاحٍۭ بَيْنَ النَّاسِ ؕ وَمَنْ يَّفْعَلْ

په صدقه کولو| یاپه یو نیك كار| یا په اصلاح کولو | په منځ دخلقو کښې| او هغه څوك |چې کوی

دصدقې ورکولویادنیکئ کولویا دخلقو په مینځ د اصلاح کولو دپاره مشوره اوکړی [نودا ښې خبرې دي]

ذٰلِكَ ابْتِغَآءَ مَرْضَاتِ اللّٰهِ فَسَوْفَ نُؤْتِيْهِ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴿١١٤﴾ وَمَنْ

دا کارونه |دپاره دغوښتلو | درضا دالله | نوزربه | مونږ ورکړوهغه ته| ثواب | لوئ | او څوك چې

اوڅوک چې دالله ﷻ درضادپاره داسې کار اوکړی| نومونږ به هغه ته ډیرلوئې اجر ورکړو| اوڅوك چې هم

يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ

مخالفت کوی درسول | روستو | دهغې نه | چی ښکاره شوې ده | هغه ته | نیغه لار | او روان شی

د هدایت ښکاره کیدونه پس د پیغمبر مخالفت کوی|.................. اود

Scanned with Ca

غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى

په سوا | دلارې دمومنانو | نو مونږ به اوګرزوو هغه لره | هغه طرفته | چې دې ورګرزيدلې دې |

مومنانو د لارې نه سوا په بله لار روان شي | نو مونږ ئې هغه طرفته ګرزوو | چه دې پخپله ورته ګرزيدلې وي

وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾

او مونږ به داخل کړو هغه | په جهنم کښې | او بدخائې دې | د ورتلو |

او دوزخ ته به ئې داخل کړو | او دوزخ ډير بد خائې دې |

آسان ترجمه قرآن: د خلقو په ډيرو پټو جرګو کښې څه خير نشته، هغه که يو کس د صدقې يا د څه نيکۍ يا د خلقو په مينځ کښې د اصلاح حکم وکړي او کوم يو کس چه د الله د رضاء د پاره داسې وکړي، مونږ به هغه لره لوئې ثواب ورکړو او څوک چه د هدايت واضح کيدو نه وروستو هم د رسول مخالفت وکړي او د مؤمنانو د لارې نه علاوه د بلې لارې تابعداري وکړي مونږ به ده لره هغه لارې ته حواله کړو کومه چه ده خپله اختيار کړې ده او ده لره به دوزخ ته داخل کړو او دا ډير بد ځائې دې.

خلاصه تفسير

﴿ لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ ﴾ د عامو خلقو په اکثرو پټو مشورو کښې خير [ثواب او برکت] نه وي ﴿إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ﴾ مګر کوم خلق چه داسې وي چه د [خير] خيرات يا د بل نيک کار يا د خلقو تر مينځه د بنيګړې راوستلو شوق راپورته کوي [او د دغې د تعليم او راپورته کړې شوق د مکمل کولو په غرض پټ تدبيرونه او مشورې کوي يا پخپله نورو خلقو کښې په پټه د دې کارونو شوق رابيداروي ولې چه بعضې وخت په پټه وينا کښې خيروي د دوی په مشورو کښې البته خير يعنې ثواب او برکت دې] ﴿ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ ﴾ او څوک چه دا کار کوي [يعنې د دې عملونو شوق په خلقو کښې رابيداروي] د الله ﷻ د رضا لټولو د پاره [د مرتبې او مشهورتيا حاصلولو په غرض نه] ﴿ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْرًا عَظِيمًا ﴾ نو مونږ به هغه ته زر تر زره لوئې اجر ورکوو ﴿ وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ ﴾ او څوک چه د رسول الله ﷺ مخالفت کوي پس د هغې نه چه د حق کار ښکاره شوې وو ﴿ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ ﴾ او د مسلمانانو [ديني] لارې پريښوه په بله لار روان شو [لکه چه بشر مرتد شو حالانکه د اسلام حق کيدل او د اشان په دغه خاص واقعه کښې د رسول الله ﷺ فيصله پخپله د هغه په نظر کښې حق کيدل معلوم وو بيا هم هغه لره بدبختۍ راګير کړو] نو مونږ به هغه لره [په دنيا کښې چه څه هغه کوي [د هغې کولو ته به يئ پريږدو] ﴿ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴾ او [په آخرت کښې به] هغه لره جهنم کښې داخل کړو او هغه خراب ځائې دې.

معارف او مسائل

خپل منځ کښې د مشورو او مجلسونو کولو آداب او طريقې: ﴿لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ﴾ يعنې خپل منځ کښې د خلقو په هغه مشورې او تدبيرونو کولو کښې هيڅ خير نشته، په کومو کښې چه د آخرت فکر نه وي، په انجام ئې غور نه کوي او د دُنيا د څو ورځو او وختي فائدو اغستو د پاره وي.

بيا ارشاد فرمائې: ﴿إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ ۚ﴾ يعنې په دغه قسم

Scanned with

مشوروا و پټو مصلحتونو کولو کښې که څه خیر کیدې شي نو هغه دادې چه دَیو بل دَخیر خیرات کولو شوق پیدا کوي، یا دَنیکۍ حکم ورته کوي، یا دَخلقو ترمنځه دَصلح کولو مشوره ورته ورکوي، په یو حدیث شریف کښې راغلی دی چه دَانسان هر یو کلام هغه دَپاره، مضر دې، سوا دَدې نه چه په یو کلام کښې دَالله تعالی ذکروي، یا دَنیکو حکم او دَبدو نه پکښې منع وي۔

د ،، معروف ،، معنی، هر هغه کار دې چه په شریعت کښې ښه ګڼلې شي او په شریعت باندې پوهه خلق ئې پیژنی ،دَدې اپوټه او برعکس کار ته مُنکر وئیلې شي یعنی هر هغه کار چه شریعت ئې نهٔ خوښوی او په شریعت باندې دَپوهه خلقو په پوهه کښې اوپره او ناآشناوي۔

امر بالمعروف ، ،دَنیکۍ هر هغه حکم او شوق ورکولو له شامل دې چه پکښې دَمظلوم امداد کول، حاجتمندو ته قرض ورکول، دَلارې نه بیدر که خلقو ته لارښودل وغیره ،ټول په نیکو کارونو کښې داخل دی، او صدقه او دَخلقو ترمنځه ښیګړه راوستل هم اګرچه په دې کښې داخل دی، خو دا په تخصیص سره، بیل ځکه بیان کړې شو چه ددې دواړو څیزونو نفع متعدی ده او په دې سره دَملت اجتماعی ژوند سمیږي. دغه شان دا دواړه کارونه دَخلقو دَخدمت دَضروری بابونو مجموعه ده چه دَهغې څخه ،جلب منفعت، ،[مخلوق ځُداته فائده رسول] او بل ،،دفع مُضرت، [خلقو له دَتکلیف او غم نه بَچ کول] دی، صدقه ،دَنفع رسولو یو اهم عنوان دې، او، اصلاح بین الناس، ،[دَخلقو دَخیر ښیګړې کار کول] دَالله تعالی مخلوق له دَضرر او نقصان نه دَبچ کولو یو ډیر ضروری عنوان دې، ځکه خو جمهور مفسرینو فرمائیلی دی چه دلته ،صدقه عامه ده چه پکښې زکواة او واجبې صدقې هم داخلې دی او نفلی صدقې هم او هغه نفع هم چه چاته اورسولې شي.

دَصلح راوستو فضیلت:: دَخلقو ترمنځه خفګانو نه او زړهٔ بداوی او خیری لرې کولو دَپاره ،صُلح او جوړښت راوستو په باره کښې دَرسول الله ﷺ ارشادات ډیر زیات اهم دی، یو ځائې کښې فرمائي:

آیا :زهٔ تاسو ته داسې کار او نه ښایم چه درجه ئې دَروژې، مونځ او صدقې ټولو نه زیات غوره ده، ،صحابه کرامو ﷺ عرض او کړو چه، ،ضرور او ښایئ. وې فرمائیل چه، دَخلقو ترمنځه صلح ، روغه راوستل دی [یعنی دَخلقو ترمنځه، زړهٔ بداوی ،خفګانونه او بوغمې لرې کول او فساد ختمول] ([1])

رسول الله ﷺ داسې هم فرمائیلی دی: ﴿فساد ذات البين هي الحالقة﴾ ([2]) [دَخلقو ترمنځه فساد او جګړې راپیدا کول خرائیونکې څیز دې] بیائې دَدې وضاحت داسې او کړو چه ، ،دا کار سرونه نهٔ خرئ بلکه دَانسان دین خرئ۔

دَآیت په آخر کښې ئې یو اهم مضمون دا او فرمائیلو چه ، ،دانیکیانې، صدقه، امر بالمعروف، اصلاح بین الناس هله معتبر او مقبول کیدې شي چه په اخلاص سره خالص دَالله تعالی دَرضا لټولو دَپاره او کړې شي څه ذاتی او نفسانی غرض پکښې شامل نهٔ وي۔

دَامت اجماع حجت دې: ﴿وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ﴾ [آیت [۱۱۵] په دې آیت کښې دَدوو څیزونو، لوئې جُرم کیدل او دَجهنم دَداخلیدو سبب کیدل بیان شویدی چه یو دَهغې نه دَرسول الله ﷺ مخالفت کول دی، چه دَدې لویه ګُناه کیدل ښکاره دی بل دا چه په کوم شئ چې ټول

[1]) سنن ابي داود، كتاب الأدب، باب في اصلاح ذات البين: ج ٢، ص ٦٧٣
[2]) سنن ابي داود، كتاب الأدب، باب في اصلاح ذات البين: ج ٢، ص ٦٧٣

Scanned with Ca

مسلمانان متفق وی دهغه پخلاف یو لاره راویستل او هغه اختیارول اجماع امت حجت دې یعني څنګه چې د قرآن وحدیث بیان کړې شوی احکامو باندې عمل واجب دې همدا شان په کوم څیزچې ټول مسلمانان مُتفق وي، دې نه معلومه شوه چه دأمت اتفاق پر شوې وی په هغې باندې عمل واجب دی اومخالفت کول ئې لویه ګناه ده ،لکه چه رسول الله ﷺ په یوحدیث کښې فرمائیلی دی: ﴿يدالله على الجماعة﴾(۱) [دَجماعت په سَر دَالله تعالی لاس دې اوڅوک چه دَ مسلمانانو دَ جماعت نه بیل شی هغه به ځان له جهنم کښې غورځولې شي]-

دَحضرت امام شافعي نه چاسوال اوکړوچه آیا ، په قرآن کریم کښې دَاجماعِ اُمت ، په حُجت کیدو باندې څه دلیل شته؟نوهغوئ ددې دمعلومولو دَپاره په مخه درې ورځې دقرآن کریم تلاوت کول خپل شغل داسې جوړکړوچه درې وارې به ئې دورځې اودرې ځل به ئې دَشپې قرآن کریم ختمولو ،آخرداچه هم داآیت مبارک ئې په ذهن کښې راغلوچه دعلماؤ په وړاندې ئې بیان کړو نوټولو اقرار اوکړوچه دَاُمت دَاجماع په حجت کیدو باندې دادلیل کافي دې-

اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ

| بیشکه الله | نهٔ بښي |

| ....الله ﷻ خوبس یوشرک نه بخښي

اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ

دا چې شریك جوړكړې شي | دهغه سره | اوبښي | هغه| چې سوا وی| دَدې نه| دپاره دهغه چا |

اوددې نه سوا هرڅه [ګناه] معاف کوی| ....چې چاته ئې [معاف کول] خوښ شي

يَّشَآءُ ۚ وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ

چې اوغواړي | اوڅوك چې| شریك جوړ كړي| دالله سره | نوبیشکه | بې لارې شو | په بې لارې کیدو

اوچاچې الله ﷻ سره شریک جوړ کړو|..........نوهغه په ډیره لرې ګمراهئ

بَعِيْدًا ﴿۱۱۶﴾ اِنْ يَّدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِهٖٓ اِلَّآ اِنٰثًا ۚ وَاِنْ يَّدْعُوْنَ

لرې سره | نهٔ رابلي دوئ | بې دهغه [الله] نه | مګر | ښځې بتانې | اونهٔ رابلي دوئ |

سره ګمراه شو| ....دوئ الله ﷻ پریخودې دې او دیوځو زنانه څیزونو عبادت کوی

اِلَّا شَيْطٰنًا مَّرِيْدًا ﴿۱۱۷﴾ لَّعَنَهُ اللّٰهُ ۘ وَقَالَ

مګر| شیطان | سرکشه | چې لعنت كړې دې په هغه باندې| الله| اوونیلې وۀ هغه|

اوصرف د هغه نافرمانه شیطان عبادت کوی | چې الله ﷻ پرې لعنت کړې دې | ....اوشیطان

لَاَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ نَصِيْبًا مَّفْرُوْضًا ﴿۱۱۸﴾ وَّلَاُضِلَّنَّهُمْ

چې خامخا به نیسم زهٔ | دبندګانو ستانه| حصه |مقرر کړې شوې | اوخامخا به بې لارې کوم زهٔ هغوئ

خوالله ﷻ ته ونیلی وو| چې ستادبندګانونه به ضرورمقرره حصه اخلم| اوهغوئ به ضرور بې لارې کوم

---

(۱) المستدرک للحاکم رقم الحدیث: ۳۹۲ کتاب العلم-

Scanned with Ca

وَلَاُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُبَتِّكُنَّ

اوخامخا به زۀ په امیدونو کښې اچوم هغوئ | اوخامخا به زۀ حکم کوم هغوئ ته | نو خامخا به څیروی هغوئ

اودوی به په [د دنیا په قسم قسم] طمع اوامیدونو کښې ساتم| اوورته به حکم کوم نو د ځاروو غوږونه به

اٰذَانَ الْاَنْعَامِ وَلَاٰمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللّٰهِ ؕ

غوږونه| دځاروؤ |اوخامخا به زۀ حکم کوم هغوئ ته| نوخامخا به بدلوی هغوئ | پیداوښت دالله

څیرې کوئ |اوورته به حکم کوم [چې دالله پیدائښت بدلوئ] نو د الله په پیدائش کښې به بدلون راولی

وَمَنْ يَّتَّخِذِ الشَّيْطٰنَ وَلِيًّا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ فَقَدْ خَسِرَ

اوهغه څوك | چې اونیسی | شیطان | دوست | بې دالله نه |نوبه تحقیق سره |نقصان ئې اوکړو

اوچا چې د الله ﷻ نه سوا شیطان دوست جوړ کړو|.................. نو بیشکه هغه په تاوان سره

خُسْرَانًا مُّبِيْنًا ؕ ⑪ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيْهِمْ ؕ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ

نقصان |ښکاره|هغه وعده کوی ددوئ سره |اوامیدونه اچوی دوئ ته|اونۀ کوی وعدې دوئ سره شیطان

تاوانی شو| شیطان ددوئ سره وعدې کوی | اود دروغو طمعې ورکوی| اوشیطان خودوئ سره صرف د

اِلَّا غُرُوْرًا ⑫ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ وَلَا يَجِدُوْنَ عَنْهَا

مګر | دهوکه | داکسان چې دی | ځائې ددوی | جهنم دې | اونۀ به مومی دوئ | دهغې نه

دهوکې نه ډکې وعدې کوی| ددغه خلقو ځائې دوزخ دې | ....اوددې ځائې نه به خلاصې

مَحِيْصًا ⑬

څۀ طریقه دخلاصی|

بیانه مومی|

آسان ترجمه قرآن: بې شکه الله ددې خبرې بخښنه نه کوي چه ده سره څوك شريك کړې شي اوددې نه کمه هره ګناه چه چاته ئې خوښه شي نو بخي او څوك چه د الله سره چا لره شريك کوي ، نو هغه د صحيح لارې نه ډير لرې پريوځي. د الله نه سوا چه دوی د چا نه دعاګانې غواړي هغه صرف ځو زنانه دي ، او څوك چه دوی را بلي هغه دشيطان سرکش نه سوا نورڅوك نه دی چه هغه باندې الله لعنت کړې دې اوهغه (الله ته) وئيلي دي چه ځه به ستا د بندګانو نه يوه مقرره حصه اخلم اوځه به دوی لره د صحيح لارې نه اړوم ، او دوی ته به اميدونه ورکوم ، او دوی ته به حکم ورکوم نو د څنګرو غوږونه به پريکوي ، او دوی ته به حکم ورکوم نو دالله په پيدايش کښې به دوی تبديلي کوي او څوك چه دالله په ځائې شيطان لره دوست جوړ کړي نو هغه ښکاره د تاوان سودا وکړي هغه دوی سره وعدې کوی او دوی ته اميدونه ورکوی، حال دا چه (حقيقت دادې چه) شيطان چه دوی سره کومې وعدې هم کوي هغه د دهوکې نه سوا نور څه نه دی ددې ټولو ځائې جهنم دې اودوی لره به دې نه بچ کيدو د پاره د تيښتې لاره ملاؤ نه شي.

خلاصه تفسیر

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ﴾ بیشکه الله ﷻ به داخبره [سزا ورکولو سره هم] نه بخښي چه هغه سره چالره شریك اوکرځولے شی [بلکه په ابدی سزا کښې به یې اخته لری] ﴿ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ ﴾ اوددې نه سواچه نور څومره ګناهونه دی [که هغه واړه وی اوکه لوئې] چا دپاره چه ورته منظور وی [بې سزا ورکولو به] دغه ګناهونه اوبخښی [البته که دغه مشرك مسلمان شی نوبیا مشرك پاتې نشو.دائمی سزا به یې هم نه وی] ﴿ وَمَنْ يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا بَعِيدًا ﴾ او [ددې شرك نه بخښلو وجه داده چه] څوك الله ﷻ سر ه [چالره] شریك ګرځوی هغه [دحق خبرے نه] په ډیر لرے ګمراهئ کښې پریوتلو [حق خبره توحید دې چې عقلی واجب دې اودکار جوړوونکی تعظیم ددې دحقوقو نه دې. پس مشرك دحضرت صانع یعنی جوړوونکی سپکاوے اوکړو ځکه به دداسې سزا حقدار وی په خلاف دنورو ګناهونونه چه ګمراهی خوده مګر دتوحید نه خلاف اولرے ترې نه دی ځکه دبخښلو جوګه اوګرځولے شوې اودشرك پشان نور قسم کفر هم په نه معاف کیدو کښې سره یوشان دی.ولے چه دے کښې هم دصانع دخودلې شوې خبرے نه انکار وی پس دا دالله ﷻ دربښتنوالي یعنی صدق د صفت انکار کول دی.او بعضې کافران دسره دالله ﷻ د ذات نه منکر دی بعضې ئے دصفت نه منکر د ی اوبعضې ئے دصفت او ذات دواړو نه منکر دی. او ددې بعضې دهریو نه انکار کول توحید نه انکار کول او ترې لرے وتل دی پس شرك اوکفر دواړه دمعاف کولو جوګه نه دی.وړیسے د مشرکانو په مذهبی طریقے کښې دهغوی بېوقوفی دهغوئ په مذهبی طریقه کښې بیانوی چه] ﴿إِنْ يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ إِلَّا إِنَاثًا﴾ دا [مشرکان] خلق الله ﷻ پریږدی [یوځو] صرف دځو زنانه څیزونو عبادت کوی او [بله داچه] ﴿وَإِنْ يَدْعُونَ إِلَّا شَيْطَانًا مَرِيدًا﴾ صرف دشیطان عبادت کوی چه [دالله ﷻ] دحکم نه بهر دې. [او] ﴿لَعَنَهُ اللَّهُ ۘ وَقَالَ لَأَتَّخِذَنَّ مِنْ عِبَادِكَ﴾ ده لره [ددغې بےحکمئ په وجه] الله ﷻ دخپل [خاص] رحمت نه لرې ساتلی دې او چا چه [کله هغه دخاص رحمت نه لرے کړواوملعون شو داسې ونیلی وو [چه هغې نه ئےصفا دښمنی ښکاریده] چه زه به [پوره کوشش اراده لرم چه ضرور ستا دبندګانو نه ﴿ نَصِيبًا مَفْرُوضًا ﴾ خپله ټاکلے برخه دفرمانبردارئی اخلم او [ددغې برخے تفصیل دادې چه] زه به دوی لره [په عقیدو کښې] ﴿ وَلَأُضِلَّنَّهُمْ وَلَأُمَنِّيَنَّهُمْ وَلَآمُرَنَّهُمْ ﴾ ګمراه کوم او زه به دوی لره [په خیالاتو کښې] خواهشات ورکوم [چه دهغې په وجه به یې ګناه ته ماتے وی اودهغې ضرر به یې په نظر کښې نه وی] اوزه به دوی ته [دبدعملونو کولو] تعلیم ورکوم چه ﴿ فَلَيُبَتِّكُنَّ آذَانَ الْأَنْعَامِ ﴾ دځارو غوږونه څیری کوی [او دا یو هغې سره به دوی [دبتانو په نوم] ﴿ وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ ﴾ او زه به دوی ته [نورهم] تعلیم ورکوم چه هغې کفری عمل دې] سره به دوی دالله ﷻ جوړ کړی شکلونه ورانوی [چه دا دفسق علمونه دی لکه ږیره خرئیل اوبه بدن کښې دننه خالونه وهل وغیره] ﴿ وَمَنْ يَتَّخِذِ الشَّيْطَانَ وَلِيًّا مِنْ دُونِ اللَّهِ ﴾ او څوك چه الله ﷻ پریږدی شیطان خپل ملګرے جوړ کړی [یعنی دالله ﷻ فرمانبرداری نه کوی بلکه دشیطان فرمانبرداری کوی] ﴿ فَقَدْ خَسِرَ خُسْرَانًا مُبِينًا ﴾ دغه [کس] به په ښکاره نقصان [اوزیان] کښې پریوتے وی [دغه زیان جهنم ته تلل دی].

Scanned with Ca

﴿ يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ ﴾ شيطان دے خلقو سره [دعقيدو په باره کښې] په مخه [پدروغه] وعدې کوی [چه تاسو فکر مه کوئی حساب کتاب دسره نشته دې] او [په خيالاتو کښې] ورته هوسونه [خواهشات] ورکوی [چه په دې گناه کښې داسې خوند دے په دې حرامه ذريعه کښې داسې آمدنی ده. او شيطانی عملونه کيدل د دے بےهودگی او زيان پخپله ښکاره دې] ﴿ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطٰنُ اِلَّا غُرُوْرًا ﴾ اوشيطان دوی سره صرف دروغ [دتيرويستلو] وعدې کوی [ولے چه په واقع کښې حساب کتاب حق دے اودده هوسونو په باره کښې به دا زرترزره ښکاره شی چه تيرويستل وو] ﴿ اُولٰٓئِكَ مَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ﴾ د داسې خلقو [چه دشيطان په لاره ځی] ځائې جهنم دے [اوخسران مبين هم دادې] ﴿ وَلَا يَجِدُوْنَ عَنْهَا مَحِيْصًا ﴾ او ددې [جهنم] نه به چرته دبچ کيدو ځائې بيا نه مومی [چه هلته په راتلو به دجهنم نه گنی خلاص شی].

معارف اومسائل

دَاتُونوتړون: ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ﴾ پورته دَجهاد په ذکر کښې ، اگرچه ټول مخالفين دَاسلام داخل دی ليکن دَاحوالو په بيان کښې تراوسه پورې دَيهودو اودَمنافقانو احوال بيان شوی وو او په مخالفينو کښې يوجماعت بلکه دَنوروڼه هم لوئې دَمشرکينو جماعت وو، وړيسې څه دَدوئ دَعقيدو حالت، دَمذهب طريقه اودَدې دَسزا ذکر دې، اوبه دې مقام باندې داځکه نورهم زيات مناسب شوچه پورته دَکوم غل قيصه چه بيان شوې ده، په هغې کښې داذکر هم شته چه غل مرتدؤو، نودې نه دَدې دَهميشه سزا حال معلوم شو - [بيان القرآن] (١)

دَړومبی آيت ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَغْفِرُ اَنْ يُّشْرَكَ بِهٖ وَيَغْفِرُ مَا دُوْنَ ذٰلِكَ لِمَنْ يَّشَآءُ﴾ اودَسورت نسآء دَيوبل آيت [نمبر ۴۸] د شروع [اول سر] الفاظ بيخی يوشان دی خو دآخر په الفاظو کښې ئې فرق داسې دې چه دَهغې آيت آخری الفاظ دادی: ﴿وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدِ افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا﴾ او د لته دا الفاظ دی چې: ﴿وَمَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا﴾ دَتفسير امامانو په ډاگه باندې دَفرق وجه دا ښودلې ده چه دړومبی آيت، نيغ په نيغه مخاطب اهلِ کتاب [يهود] وو چه ورته دَتورات په ذريعه دامعلومه وه چه توحيد حق اوشرک باطل دې اوداهم ورته معلومه وه چه رسول الله ﷺ په حقه نبی دې، خوسره دَدې نه هم هغوئ په شرک کښې اخته شو، نودا، داسې شوه لکه چه په خپل عمل سره ئې ښکاره کړه چه داتعليم دَتورات دې چه سراسر دروغ تړل اوتوپورې کول دی ځکه ئې دَدغې آيت په آخر کښې: ﴿فَقَدِ افْتَرٰٓى اِثْمًا عَظِيْمًا﴾ اوفرمائيل . اوددې بل آيت نيغ په نيغه مخاطب دَمکې مشرکان وو چه ورسره دَدې نه وړاندې نۀ څۀ کتاب وو اونۀ ئې څوک پيغمبروو، مگر دَتوحيد عقلی دليلونه بيخی ښکاره وو اوپخپل لاس جوړو بُتانولره خپل معبودان جوړول دکمزوی عقل خاوند دَپاره هم عبث، باطل اودگُمراهئ خبره وه ځکه دلته داسې ارشاد اوشو: ﴿فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا﴾

دشرک اوکُفرسزاهميشه کيدل: څنې خلق داشُبه کوې چه سزا دَعمل په اندازه پکاروی مُشرک اوکافر چه دکُفراوشرک جُرم کړې دې نوهغه تر يوخاصې مودې دَعُمرپورې کړې دې بياولې تل ترتله دَهغې سزاورکولې شی چه ختميدل ئې نشته؟____جواب ئې دادې چه کافراومشرک په خپل خيال کې دې لره جرم نۀ ،بلکه نيکی ئې گنړله نوقصداواراده ئې داشوه چه هميشه به هم په دې ټينگ ولاړيم، نوگوياکښې دَخپل اختيارترحده پورې ددۀ جرم دائمی شو ،ځکه ئې سزاهم دائمی شوه-

(١) بيان القرآن تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۱۵۶

Scanned with Ca

دظلم درې قسمونه: دظلم یو قسم هغه دې چه الله تعالی به ئې هیچرې نه بخښي، بل قسم ئې چه بخښنه به ئې کیدې شي او دریم قسم هغه دې چه بغیر بدل اغستو به ئې الله تعالی نه پرېږدي-

رومبې قسم ظلم شرک دې، دویم قسم ظلم دالله تعالی په حقوقو کښې کوتاهي کول دي او دریم قسم ظلم دبند ګانو دحقوقو خلاف ورزی کول دي[ابن کثیر په حواله دمسند بزار](۱)-

دشرک حقیقت: دشرک حقیقت دادې چه الله تعالی نه سوا، چا بل مخلوق لره، په عبادت، محبت یا تعظیم کښې دالله تعالی برابر او ګڼړلې شي، قرآن کریم دمشرکانو هغه خبره چه جهنم ته به رسیدو به ئې کوی داسې نقل کړیده:

﴿تَاللّٰهِ اِنْ كُنَّا لَفِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍۙ۝ اِذْ نُسَوِّيْكُمْ بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ۝﴾ قسم په خدائې مونږ په ښکاره ګمراهئ کښې وو- ځکه چه تاسو مونږ برابر کړې وئ الله رب العلمین سره-

ښکاره خبره ده چه دمشرکانو هم داعقیده نه وه چه زمونږ داجوړ کړې بتان ددې جهان پیدا کوونکی او مالکان دي، بلکه دې بتانو لره هغوئ دنورو غلط فهمیانو په بنا، په عبادت، محبت، یا تعظیم کښې الله تعالی سره برابر ګرځولي وو- داهغه شرک وو چه دوئ ئې جهنم ته ورا ورسول [فتح الملهم](۲)- معلومه شوه چه دالله تعالی په مخصوصو صفتونو خالق، رزاق، قادر مطلق، عالم الغیب والشهادة، وغیره کښې، چا مخلوق لره، الله تعالی سره برابر ګڼړل شرک دي-

وَالَّذِيْنَ　اٰمَنُوْا　وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ　سَنُدْخِلُهُمْ
او هغه کسان | چې ایمان راوړی | او عمل او کړی نیک | نو داخل به کړو مونږ هغوئ
بیانه مومی | او چا چې ایمان راوړې دي | او نیک کارونه کوی | نو هغوئ به مونږ داسې باغونو ته
جَنّٰتٍ　تَجْرِيْ　مِنْ تَحْتِهَا　الْاَنْهٰرُ　خٰلِدِيْنَ　فِيْهَآ　اَبَدًا
داسې باغونو ته | چې بهیږی به | لاندې دهغې نه | نهرونه | چې همیشه به اوسیږی | په هغې کښې | تل ترتله
داخل کړو | چې دهغې [د بنګلو] لاندې به ولې بهیږی | او دوئ به په هغې کښې همیشه همیشه دپاره وی
وَعْدَ اللّٰهِ　حَقًّا　وَمَنْ　اَصْدَقُ　مِنَ اللّٰهِ　قِيْلًا۝　لَيْسَ
دا وعده د الله ده | حقه | او څوک دې | زیات رښتینې | دالله نه | په خبرو کښې | نه ده |
دا دالله ﷻ حقه وعده ده | او دالله ﷻ نه سوا بل څوک زیات رښتني خبره کولې شي |............ نه ستاسو په
بِاَمَانِيِّكُمْ　وَلَآ اَمَانِيِّ　اَهْلِ الْكِتٰبِ　مَنْ　يَّعْمَلْ
په آرزوګانو ستاسو | او نه په آرزوګانو | داهل کتابو | هغه څوک | چې او کړی |
په آرزوګانو کار کیږی | او نه داهل کتابو په آرزوګانو کار کیږی |............ [قانون دادې] چا چې
سُوْٓءًا　يُّجْزَ　بِهٖ　وَلَا يَجِدْ　لَهٗ　مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ　وَلِيًّا
بدکار | بدله به ورکړې کیږی | دهغې | او او به نه مومی | دځان دپاره | ماسوا دالله نه | دوست |
بدکار او کړو | دهغې سزا به ورکولې شي | او دالله ﷻ په مقابله کښې به هیڅوک دځان ملګرې

(۱) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۳۲۶

(۲) فتح الملهم، کتاب الإیمان، باب الکبائر وأکبرها-

Scanned with Ca

وَّلَا نَصِيْرًا۝ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى

اونۀ مددګار | او هغه څوک | چې اوکړي | نیک عملونه | که نارینه وی | اوکه زنانه

اومددګاراونه مومی| اوڅوک چې نیک کارونه کوی برابره خبره ده که نارینه وی اوکه زنانه وی

وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ

اوهغه ایماندار وی| نو دغه کسان به داخلیږی | جنت ته | اوحق به نهٔ وهلې کیږی دهغوئ

خوچې مومن وی | .... نودغه کسان به جنت ته داخلیږی | ....او په دوئ باندې به

نَقِيْرًا۝ وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ

په قدر دداغ د زړی دخرما |اوڅوک دې | ډیربهتر په لحاظ ددین سره |دهغه چانه| چې هغه حواله کړو

ذره برابر هم ظلم نه شی کولې | اودهغه چانه ښکلې دین د چا کیدې شی | چې خپل څان د الله تعالی

وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا ط

څان خپل | الله ته| اوهغه | نیکی کونکې وو | اوپیروی ئې اوکړه | دطریقې| دابراهیم | یو مخیزې

تابعدار کړی| اوپه ا خلاص سره نیک کارونه کوی| اود ابراهیم ﷺ دملت چې یومخیز وو تابعداری کوی

وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا۝ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ

اونیولې وو | الله| ابراهیم ﷺ| په دوستئ سره | اوالله لره دی| هغه څه| چې په آسمانونوکښې دی|

اوالله ابراهیم ﷺ په خالصې دوستئ سره نیولې وو| .... اودآسمانونو

وَمَا فِي الْاَرْضِ ط وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا۝ ع

اوهغه | چې په زمکه کښې دی| او دې | الله | په هر څیز باندې| احاطه کونکې |

اوزمکې ټول څیزونه صرف د یو الله ﷻ دی| .... اوالله ﷻ په هرڅیز احاطه کونکې دې

آسان ترجمه قرآن: اوکوموخلقو چه ایمان راوړې دې او نیك عمل ئې کړې دې مونږ به دوی لره داسې باغونو کښې داخل کړو چه دهغې د لاندې نهرونه بهیږي ،دوی به دې کښې همیشه همیشه اوسیږی دا دالله رشتیا وعده ده او د الله نه په خبره کښې څوك ریشتینې کیدې شي ؟نه ستاسو آرزوګانې (جنت کښې داخلیدو دپاره) کافي دي او نه داهل کتابو آرزوګانې څوك هم چه بد عمل وکړي د هغې سزا به ورته ملاویږي، اودوی ته به د الله نه سوا څوك مددګار ملاؤ نه شي اوهغه څوك چه نیك عمل وکړي.که هغه سړې وي او که ښځه، په دې شرط چه هغه مؤمن وی نو داسې خلق به جنت کښې داخل شي، او د کجورې د هډوکی د داغ هومره زیاتې به هم په دوی ونه شي اود هغهٔ نه بهتر دین به دچا وی چه چا خپل مخ (سره د ټول بدن نه) الله ته ټیت کړې وي، په دې شرط چه هغه د نیکۍ عادت وی اوچه هغه د صحیح او رشتینې دین د ابراهیم علیه السلام تابعداري کړي وي او (دامعلومه ده چه) الله ابراهیم علیه السلام لره خپل خاص دوست جوړ کړې وو او په آسمانونو او زمکو کښې چه څه دي صرف د الله دي ، او الله په هر یو څیز باندې (خپل قدرت سره) احاطه کړي ده.

Scanned with Ca

خلاصه تفسیر

﴿وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾اوکومو خلقو چه ایمان راوړو او [هغوی] ښه کارونه اوکړل ﴿سَنُدْخِلُهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا﴾ مونږ به هغوی لره ور تر زره داسې باغونوکښې داخل کړو چه دهغوی [دمحلونو] لاندے به نهرونه جاري وی هغوی به په دےکښې تل تر تله اوسيږی، ﴿وَعْدَ اللّٰهِ حَقًّا﴾ الله ﷻ ددې وعده کړې ده او رېښتوني يې کړې ده ﴿وَمَنْ اَصْدَقُ مِنَ اللّٰهِ قِيْلًا﴾ اوداالله ﷻ نه به زيات دچا وينا صحيح وی ﴿لَيْسَ بِاَمَانِيِّكُمْ وَلَآ اَمَانِيِّ اَهْلِ الْكِتٰبِ﴾ نه ستاسو په آرزو ګانو کار چليږی اونه داهل کتاب په آرزو ګانو سره [چه تش په خله خپلے خوبئ بيانوی بلکه دا کار په حکم منلو باندې اړه لری پس] ﴿مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ﴾ څوك چه [په] حکم منلو کښې کمی کوی [اوداشان] څه بدکاری کوی [خواه عقيدې وی اوکه عملونه] هغه ته به ددې په بدل کښې سزا ورکولې شی [که دغه بدکاری کفری عقيدې ته رسيدلې وی نو سزا به يې همېشه اويقينی وی اوکه ددې نه کمه وی نوسزا به يې همېشه دپاره نه وی] ﴿وَلَا يَجِدْ لَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا﴾ او دغه کس ته به داالله ﷻ نه سوا نه څوك يار په ګوتو ورځی اونه مددګار [چه داالله ﷻ دعذاب نه يې خلاص کړی].

﴿وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ مِنْ ذَكَرٍ اَوْ اُنْثٰى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَاُولٰٓئِكَ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ وَلَا يُظْلَمُوْنَ نَقِيْرًا﴾ او څوك چه نيك کار کوی خواه هغه نر وی يا ښځه په شرط ددې چه مومن وی نو داسې خلق به په جنت کښې داخليږی اوپه دوی به لږ هم ظلم نکيږی [چه څه نيکی ئې ضائع شی] او [پورته چه دمومن قيد لګولے شوې دې دهغې مصداق هره فرقه نه ده بلکه صرف هغه ده چه دين ئې داالله ﷻ په نزد په مقبول کيدوکښې دټولو نه زيات ښه وی اوداسې فرقه صرف اهل اسلام دی.دليل ئې دادې چه په دوی کښې دا صفتونه دی مکمله فرمانبرداری، اخلاص، دملت ابراهيم په نقش قدم باندې تلل او] ﴿وَمَنْ اَحْسَنُ دِيْنًا مِّمَّنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ﴾ دداسې کس [ددين] نه به زيات غوره دچا دين وی چه خپل رخ الله ﷻ اړخ ته ښکته کړې [يعنی فرمانبرداری ئې اختيار کړی وی تش دخير غوښتنو په نوم باندې لباسی نه وی] ﴿وَهُوَ مُحْسِنٌ وَّاتَّبَعَ مِلَّةَ اِبْرٰهِيْمَ حَنِيْفًا﴾ اودملت دابراهيم [يعنی داسلام] تابعداری کوی چه په کښې دکوږ والی نوم نشته او [ملت ابراهيم ضرور د تابعدارئ کولو جوګه دے ځکه چه] ﴿وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبْرٰهِيْمَ خَلِيْلًا﴾ الله ﷻ ابراهيم ﷺ لره خپل خالص دوست جوړ کړې وو [نوښکاره خبره ده ددوست په طريقه باندې به تلوونکے هم محبوب او مقبول وی پس داسلام طريقه مقبوله شوه پس يواځې اهل اسلام د مومن دلقب مصداق اوګرځيدل او نورو فرقو د ابراهيم ﷺ تابعداری پرېښوده چه اسلام ئې رانه وړو لهذا يواځې مسلمانان داسې ثابت شو چه صرف په آرزوګانو ددوی اډانړه نه ده بلکه فرمانبردار دی نوکار به هم ددوی چليږی] او [داالله ﷻ مکلمله فرمانبرداری کول خو ضروری دی ځکه چه دده سلطنت قدرت اوده راچاپيره علم دواړوه تام اومکمل دی اودا خبرې ددې باعث دی چه حکم ئې اومنلے شی چه چنانچه] ﴿وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ﴾ يواځې داالله ﷻ ملکيت دی څه چه په آسمانونوکښې دی او څه چه په زمکه کښې دی [داخو سلطنت کامل کيدل شو] ﴿وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ مُّحِيْطًا﴾ اواالله ﷻ ټولو څيزونو لره [په خپل علم کښې] راګير کړی دی [دا دعلم کامليدل شو].

Scanned with Ca

معارف اومسائل

دَمسلمانانو او اهلِ کتابو ترمنځه دَفخر په انداز کښې خبرې اترې: ﴿لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتٰبِ﴾ په دې آيتونو کښې رومبې دَهغه خبرو اترو ذکر کړې چه دَمسلمانانو او اهل کتابو ترمنځه شوې وې او بيا په دغه مکالمه باندې محاکمه [فيصله] کړې شوې ده، دواړو فريقو ته دَهدايت صحيح لار اوښودلې شوه، په آخر کښې دَالله تعالى په نزد دَمقبول کيدو او دَبهترا و اعلى کيدو يو معيار اوښودلې شو چه هغه مخې ته کيښودې شي نو کله به هم انسان دَغلطۍ او ګمراهۍ ښکار نشي۔

حضرت قتاده رضي الله عنه فرمائيلي دي چه يو ځل دَځه مسلمانانو او اهلِ کتابو ترمنځه فخريه خبرې اترې شروع شوې، اهلِ کتابو اووئيل چه مونږه، تاسو نه زيات بهتر او دَشرافت خاوندان يُوځکه چه زمونږ نبی اوزمونږ کتاب، ستاسو دَنبی او کتاب نه وړاندې دې، او مسلمانانو اووئيل چه مونږه تاسو ټولو نه بهتر ځکه يُو چه زمونږ نبی خاتم النبيين او زمونږ کتاب آخری کتاب دې چه رُومبی ټول کتابُونه ئې منسوخ کړی دی، په دغې موقعه دا آيت نازل شو: ﴿لَيْسَ بِأَمَانِيِّكُمْ وَلَآ أَمَانِيِّ أَهْلِ الْكِتٰبِ﴾ يعنى دَفخر او بډائۍ داسې خبرې کول هيچا سره نۀ ښائي، صرف په خيالاتو، آرزوګانو او دَعوؤ سره هيڅوک دَبل چانه غوره کيدې نشی، بلکه دا په عملونو باندې اړه لری، دَچا نبی او کتاب که هرڅومره زيات غوره او دَشرافت خاوندوی، که دَهغه عمل غلط وی نو دَهغې به داسې سزا بيا مُومی چه دَهغې نه به ئې هيڅوک خلاصوونکې نۀ وی۔

دا آيت هرکله چه نازل شو نو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته خبره ډيره ګرانه شوه، امام مُسلم، ترمذی، نسائی او امام احمد رحمه الله دَحضرت ابی هريرة رضي الله عنه نه دا روايت نقل کړې دې چه هغوئ اوفرمائيل، کله چه دا آيت نازل شو: ﴿مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ﴾ [څوک چه څه بدی دَهغې سزا به ورکولې شی] نو مونږ په سخت غم، خفګان او فکر کښې پريوتو او دَرسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کښې موعرض اوکړو چه دې آيت څه پريښنی نۀ دی، د ذرې قدرې بدۍ بدله به هم ملاويږی. رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل، چه فکر مۀ کوئ، دَخپل طاقت او توفيق په جوړ عمل کوئ، ضرورنۀ ده چه دا ذکر شوې سزا به جهنم وی بلکه دَدنيا څه تکليف او مصيبت چه درته راپيښيږی، نو دغه ستاسو دګناهونو کفاره او دَبدۍ بدله وی، تردې پورې چه که دَچا په پښه کښې ازغې هم مات شی نو هغه دګناه کفاره جوړيږی([1])۔

او په يوبل روايت کښې راغلی دی چه مسلمان ته په دُنيا کښې چه کوم غم يا تکليف بيماری او فکر راپيښيږی نو هغه دَدۀ دګناهونو کفاره شی۔

جامع ترمذی رحمه الله او ابن جرير رحمه الله دَحضرت ابوبکر رضي الله عنه نه روايت کړې دې چه هرکله رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت: ﴿مَنْ يَّعْمَلْ سُوْٓءًا يُّجْزَ بِهٖ﴾ ورته واورولو نو په هغوئ داسې اثر اوشو لکه چه ملاتې ماته شوی دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم دَدې اثر په ليدو اوفرمائيل: څه خبره ده؟ صديق اکبر عرض اوکړو، يا رسول الله صلى الله عليه وسلم په مونږ کښې څوک داسې دی چه څه بدی [ګناه] به ئې نه وی کړی، او دَهرې بدۍ چه بدله به ورکولې شی نو مونږ کښې به څوک [دَسزانه] بچ شی؟ هغوئ اوفرمائيل: اې ابوبکر، تۀ

---

[1]) صحيح مسلم، كتاب البر والصلة والأداب، باب ثواب المؤمن الخ: ج ۲، ص ۳۱۸ وجامع الترمذی، أبواب التفسير، باب سورة النساء: ج ۲، ص ۱۳۲، ومسند احمد رقم الحديث: ۷۵۸۹ وسنن النسائی الكبرىٰ رقم الحديث: ۱۱۱۲۲

اونور مؤمنـانـو رونـړه دهـيـڅ فکر څکـه نـۀ کـوي چـه دَدُنيا دَتکليفونوپـه ذريعـه ستـاسـو خلقـو دَګناهونو کفاره کيږي[2]

په يوبل روايت کښې دي چه هغوئ اوفرمائيل چه ،،آيا تاسونۀ ،بيماريږئ،آيا تاسوته څـه مـصيبت اوغـم نـۀ دررسي؟صـديق اکبرعـرض اوکړوچـه ،،بيـشکه هرڅه،راتـه رازسـي هغوئ اوفرمائيل چه،،بس هم دغه بدله ده ستاسو دګناهونو[2]۔

دَحضرت عائشې صديقې نه يوحديث ابوداؤد وغيره،روايت کړې دې چه:په بنده تبه يـاتکليف راشـي،يائې پـه پـښه کـښې ازغـې [اغـزې] مـات شـي نودادهغـه دګناهونوکفـاره ګرځي،تردې چه کـه څـوک خپـل څـه څيز،پـه يوجيـب کـښې لټـوي اوهغـه بـل جيـب کـښې وي، نودومره تکليف هم دَهغه دَګناهونو کفاره جوړيږي[3]۔

خُلاصه داده چه دې آيت ،مسلمانانوته هم داهدايت ورکړې دې چه خالص په آرزوګانو دَعوؤ او اميدونو باندې زړۀ مۀ خوشحالوئ،بلکه دَعمل بندوبست کوئ،څکه چه څوک يواځې په دې نه کاميابيږي چه هغوئ دَفلاني نبي اولاديادَفلاني کتاب نُوم اغستونکې دې،بلکه اصلي کاميابي په دې بناده چه په هغې صحيح ايمان لري اودَهغې په جوړدَنيک عمل پابندوي،لکه فرمائ:

﴿وَمَنۡ يَعۡمَلۡ مِنَ ٱلصَّٰلِحَٰتِ مِن ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ وَلَا يُظۡلَمُونَ نَقِيرٗا﴾[کوم نارينـه يازنانه چه نيک عمل کوي په شرط دَدې چه دغې عمل سره ئې ايمان هم وي نوضروربه جنت لـه ځي اودَعملونوبدله به ورته پوره پوره ملاويږي چه هيڅ کمي به پکښې نشي کولې]۔

پـه دې کـښې اشـاره دې خبرې تـه اوشـوه چـه اهـل کتـاب شويانورغيرمـسلم،که دَدوئ عملونه نيک هم وي نوهرکله چه دَهغوئ ايمان صحيح نۀ دې څکه ئې دغه عملونه مقبول نۀ دي،اوهرکله چه دَمسلمانانوايمان هم صحيح دې سره دَنيکوعملونو کولونوڅکه هغوئ کامياب اودَنورونه زيات غوره دي۔

دَالله تعالى په نزد دَمقبوليت يوه پيمانه:په دريم آيت کښې دَزيات غوروالي اودَالله تعالى په نزددَمقبوليت يوه پيمانه ښودلې شوې ده،چه دَهغې په بنادَدې فيصله کيدې شي چه څوک مقبول اوڅوک مردوددي؟دَدغې پيمانې دوه برخې دي،چه دَهغې څنې په يوکښې هم خلل راشـي نوټـول کوششونه بربادوېې خايه کيږي-که ژورنظراوکړې شي نودَدُنياټولې ګمراهئ ياغلط کارئ دَدې نه راولاړيږي چه دَدغه دوؤبرخوڅخه په يوه برخه کښې خلل پيداشي،په دې باندې دَمُسلم او غير مُسلم تـول اوکړئ،اوکـه دَمـسلمانانودفرقو ،ټولواوپارتيانوترمينځه پرتـول کـوئ نـوهم دغـه دوه نقطې به درتـه مخې تـه راشي چه دَدې څخه دَيوې برخې نه آوړيدل هم،انـسان لـره دَذلت اوګمراهئ په کنده کښې ورګوذاروي-فرمائي:﴿وَمَنۡ أَحۡسَنُ دِينٗا مِّمَّنۡ أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ وَهُوَ مُحۡسِنٞ وَٱتَّبَعَ مِلَّةَ إِبۡرَٰهِيمَ حَنِيفٗا﴾ [دَداسې کَس نه زياته غوره طريقه دَبل چانشي کيدې چه دوه خبرې پکښې مُوندې شي يو داچه ﴿أَسۡلَمَ وَجۡهَهُۥ لِلَّهِ﴾[خپـل ذات الله تعالى اوسپاري،دَرياکاري اودَدُنياجوړولوپـه غـرض نۀ،بلکـه پـه اخلاص سره،دَالله تعالى راضي کولودَپاره عمل کوي-

[1] جامع الترمذي، أبواب التفسير، باب سورة النساء: ج ۲، ص ۱۳۲
[2] مسند احمد رقم الحديث: ۶۹
[3] مسند احمد رقم الحديث: ۲۶۵۸۶، حديث السيدة عائشه رضي الله عنها۔

Scanned with Ca

بله داچه ﴿وَهُوَ مُحْسِنٌ﴾ [عمل هم په صحیح طریقه باندې کوی] امام ابن کثیر په خپل تفسیر کښې فرمائي چه، په صحیح طریقه دعمل کولو مطلب دادې چه عمل ئې دخپلې خوښې په طریقه نهٔ، بلکه دشریعت مطهره په ښودلې طریقه وی، یعنی دالله تعالی اودهغه درسول دتعلیم مطابق وی. ددې نه معلومه شوه چه دالله تعالی په نزد، دنیک عمل دمقبول کیدودوه شرطونه دي، یوداچه په اخلاص سره وی، اوبل داچه دشریعت اودسنت مطابق وی- ددې دوارو شرطونو څخه دړومبی شرط تعلق دانسان باطن، یعنی زړهٔ سره دي اودبل شرط تعلق دانسان دظاهر سره دې، هرکله چه دادواړه شرطونه چاپوره کړل نو دهغه ظاهر او باطن دواړه صحیح شو او که په دې کښې په دې کښې یوشرط پاتې شونو عمل ئې بیکاره شو، که اخلاص پکښې نهٔ وی نو عملی منافق شو او که دشریعت تابعداری پکښې نهٔ وی نو ګمراه شو-

دقومونودګمراه کیدوسبب اخلاص یادعمل دصحیحوالی نیشتوالې دې: دقومونو او مذهبونو په تاریخ نظر واچوئ نو معلومه به شی چه څومره بې لارې فرقې او قومونه چه په دنیا کښې دي، په چاکښې اخلاص نهٔ وی، اودچا عمل په صحیح طریقه نهٔ وی، داهغه دوه ډلې دی چه په سورت فاتحه کښې، صراط مستقیم نه آوړیدونکی دی او دغلته د ﴿الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ﴾ او ﴿الضَّالِّينَ﴾ په نومونو سره ذکر کړې شویدی ﴿مَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ﴾ هغه ډله ده چه اخلاص ئې نشته، او ﴿الضَّالِّينَ﴾ هغه ډله ده چه عمل ئې درست نهٔ دې، ړومبۍ ډله دشهوتونو ښکار شوې ده او دویمه ډله دشبهاتو- دړومبی شرط، یعنی داخلاص ضرورت او ددې دنیشتوالی په صورت کښې دعمل بیکاره کیدل خو په عام طور ټول پیژنی، اود،، حسن عمل، یعنی دشریعت دتابعدارۍ شرط ته، ډیر مسلمانان هم خیال نهٔ کوی، هغوئ داسې ګڼړی چه نیک عمل، خامخا نیک عمل دې په هره طریقه چه اوشو، حالانکه قرآن اوسنت په پوره شان سره واضحه کړې ده چه حسن عمل،، صرف درسول الله ﷺ په تعلیماتو اودسنت په تابعدارۍ اډانړه اوتعلق لری، چه کمې یا زیاتې راوستل پکښې جرم دې، لکه دماسپخین څلور رکعته فرض واخله چه دهغې په ځائې څنګه چه درې رکعته اداکول جرم دې دغه شان پنځه رکعته اداکول هم جرم دې. په یو عبادت کښې دالله تعالی اودهغه درسول الله ﷺ له اړخه په لګولو شرطونو کښې څه زیاتې کول، یادد‌وئ دښودلی شوی صورت نه ورله خلاف بل شکل ورکول، ټول ناروا او دحسن عمل خلاف دی اګرچه په لیدلو کښې هغه ډیر خوندناک عمل په نظر راځی، بدعاتو او محدثاتو ته چه رسول الله ﷺ ګمراهی اوونیله[1] او ددې نه دبچ کیدو مضبوط هدایتونه ئې اوفرمائیل، هغه ټول ددې قسمه دی، جاهل انسان اګرچه پوره اخلاص سره دالله تعالی اودهغه درسول دخوشحالولو په غرض دې لره دعبادت او ثواب په خیال کوی، خو دشریعت محمدی له مخې دغه عمل برباد څه چه، سخته ګناه او وبال لری، په دې وجه قرآن کریم بیا بیا، دحسن عمل، یعنی دسنت دتابعدارۍ تاکید کړې دې، په سورت ملک کښې فرمائ: ﴿لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ یعنی دلته ئې هم ﴿أَحْسَنُ عَمَلًا﴾ اوفرمائیله ﴿أكثر عَمَلًا﴾ ئې ځکه اونهٔ فرمائیل چه دډیروالی ضرورت نشته بلکه ددې ضرورت دې چه درسو الله ﷺ دسنتو مطابق وي، نو هله به حسن عمل،، [ښه عمل] جوړیږی- دې حسن عمل او دسنت مصطفی تابعدارۍ لره قرآن کریم، په یو بل آیت کښې په دې الفاظو سره تعبیر کړې دې فرمائ: ﴿وَمَنْ أَرَادَ الْآخِرَةَ وَسَعَىٰ لَهَا سَعْيَهَا﴾ یعنی سعی

[1]) لکه یو حدیث سے ارشاد فرمائلے دے: وایاکم ومحدثات الأمور، فأن کل محدثة بدعة وکل بدعة ضلالة. مشکوٰة، باب الاعتصام بالکتاب والسنة: ج۱، ص ۲۷۱

اوعمل دَهغه چامقبول دي چه خالص دآخرت نيت لري، اودَهغې دَپاره کوشش هم کوی، خودغه کوشش اوسعی دمناسب هم وی، مناسبه سعی هغه ده چه خپل قول اوعمل مبارک سره رسول الله ﷺ هغې لره، خپل اُمت ته ښولی وی، دَهغې نه په آوړيدلوسره که په سعی کښې کمې اوکړې شی يازياتې دادواړه، دې سره جوړښت نهٔ خوری-اومناسبه سعی هغه ده چه بل نُوم ئې حسنِ عمل دې کوم چه په آيت کښې ذکرشو-

خُلاصه داشوه چه دَالله تعالي په نزد دَيوعمل دَمقبول کيدودَپاره دوه شرطُونه دي، اخلاص اوحُسنِ عمل چه دَرسول الله ﷺ دَسنتَودَتابعدارئ نُوم دې، لهذاپه اخلاص سره دَحُسنِ عمل کوونکو، داهم فرض دي چه دَعمل کولو نه رومبې دامعلوم کړی چه رسول الله ﷺ دې عمل لره په څه شان کړې دې اودَدې په باره کښې ئې څه هدايات ورکړی دی زمونږ. هغه عمل به نامقبول وی چه دَسُنت طريقې نه خلاف په بله طريقه کړې شوې وی، په مونځ، روژه، حج، زکواة صدقو، خيراتونو ذکرالله اودرودوسلام ټولوکښې دَدې لحاظ ساتل ضروری دی چه رسول الله ﷺ دې عمل لره په څه شان کړې دې، اوپه څه شان داداکولوهدايت ئې کړې دې، دَآيت په آخرکښې دَابراهيم خليل الله ﷺ داخلاص اوحُسن عمل يومثال پيش کړواودَهغې دَتابعدارئ حُکم ئې ورکړولکه فرمائ: ﴿وَاتَّخَذَ اللّٰهُ اِبۡرٰهِيۡمَ خَلِيۡلًا﴾ په دې کښې دې خبرې ته اشاره اوشوه چه دَحضرت ابراهيم ﷺ دَدې بلند مقام سبب هم دادې چه هغوئ داعلی درجې مخلص ؤو اوعمل ئے دَالله تعالي په اشارت سره صحيح اودرست وو-

وَيَسۡتَفۡتُوۡنَكَ فِي النِّسَآءِ ؕ قُلِ اللّٰهُ يُفۡتِيۡكُمۡ

اوتپوس کوی ستا نه دا خلق | په باره دښځو کښې | اووايه | چې الله | فتوی درکوی تاسو ته |

اوخلق ستانه دښځو په باره کښې تپوس کوی| [ته] ورته اووايه چې الله ﷺ تاسوته

فِيۡهِنَّ ۙ وَمَا يُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ فِي الۡكِتٰبِ

په باره د هغوئ کښې| اوهغه حکم هم دريادوی | چې لوستلې شی | په تاسو باندې |په کتاب کښې

دهغوئ باره کښې حکم درکوی| اوهغه حکمونه[درته يادوی]چې مخکښې په دې کتاب کښې

فِيۡ يَتٰمَى النِّسَآءِ الّٰتِيۡ لَا تُؤۡتُوۡنَهُنَّ مَا كُتِبَ

په باره ديتيمانو ښځو کښې |هغه | چې نهٔ ورکوئ تاسو هغوئ ته | هغه| چې فرض شوې دي|

ديتيمانو جينکوباره کښې اوروليې شوی وو| کومو ته چې تاسو هغه حقونه نه ورکوئ کوم چه الله تعالی

لَهُنَّ وَتَرۡغَبُوۡنَ اَنۡ تَنۡكِحُوۡهُنَّ وَالۡمُسۡتَضۡعَفِيۡنَ

دپاره دهغوئ |اومينه کوئ تاسودې کارسره چې|په نکاح کړئ هغوئ| اوحکمونه په باره دکمزورو کښې

دهغوی دپاره مقرر کړی دی|او تاسو دهغوی سره دنکاح کولو شوق ساتئ |اوهغه حکمونه چې د کمزورو

مِنَ الۡوِلۡدَانِ ۙ وَاَنۡ تَقُوۡمُوۡا لِلۡيَتٰمٰى بِالۡقِسۡطِ ؕ

دوړو هلکانو نه| اوداحکم کوی الله| چې قائم وسئ|په حق ديتيمانو کښې| په انصاف سره

ماشومانو په باره کښې شوی وو | اودا خبره چې ديتيمانو کارونه په انصاف سره کوئ

Scanned with Ca

وَمَا تَفۡعَلُوۡا　مِنۡ خَيۡرٍ　فَاِنَّ اللّٰهَ　كَانَ　بِهٖ　عَلِيۡمًا ۝١٢٧　وَاِنِ　امۡرَاَةٌ

اوکوم چي کوئ تاسو | دنیکۍ نه | نو بیشکه چي الله | دي | په هغې | خبردار | او که چرې | یوه ښځه

اوهره نیکی چي تاسو کوئ هغه الله ﷻ ته ډیره ښه معلومه ده | ....اوکه چرې یوه ښځه

خَافَتۡ　مِنۡۢ بَعۡلِهَا　نُشُوۡزًا　اَوۡ اِعۡرَاضًا　فَلَا جُنَاحَ

یریدله | دخاوند خپل نه | دبدسلوکۍ دهغه نه | یا دمخ اړولو دهغه نه | نو نشته گناه |

دخاوند د بدسلوکۍ یا بې پرواهۍ نه یریدله | ....نو په هغوی دواړو باندې هیڅ گناه نشته چه

عَلَيۡهِمَاۤ　اَنۡ يُّصۡلِحَا　بَيۡنَهُمَا　صُلۡحًا ؕ　وَالصُّلۡحُ　خَيۡرٌ ؕ

په دې دواړو باندې | چي اوکړي دواړه | په خپل منځ کښې | صلح | اوصلح | بهتر ده

هغوئ دواړه په خپل مینځ کښې [دحقوقو په اداکولو] کښې صلح اوکړي | اوصلح په هر کار کښې ښه ده

وَاُحۡضِرَتِ　الۡاَنۡفُسُ　الشُّحَّ ؕ　وَاِنۡ تُحۡسِنُوۡا　وَتَتَّقُوۡا　فَاِنَّ اللّٰهَ　كَانَ

اوحاضر کړې شوې دي | انفسونو ته | حرص | اوکه تاسو احسان اوکړئ | اواوویرېږئ | نو بیشکه الله | دي

اوزړونه په لړ څه باندې زر تنگیږي | اوکه تاسو خلقو سره ښه سلوک اوکړئ | اود الله ﷻ نه اوویرېږئ نو الله پاک

بِمَا　تَعۡمَلُوۡنَ　خَبِيۡرًا ۝١٢٨　وَلَنۡ تَسۡتَطِيۡعُوۡۤا　اَنۡ تَعۡدِلُوۡا

په هغه کارونو | چي کوئ ئې تاسو | خبردار | اوهرگزنه لرئ تاسو طاقت | چي عدل اوکړئ تاسو |

ستاسو د کارونو نه بې خبره نه دې [خبردې نو بدله به درکړي] | او د ښځو مینځ کښې انصاف کول

بَيۡنَ النِّسَآءِ　وَلَوۡ حَرَصۡتُمۡ　فَلَا تَمِيۡلُوۡا　كُلَّ الۡمَيۡلِ

په منځ دښځو کښې | اگرکه ډیر حرص اوکړئ تاسو | نو مه گرځوئ مخ تاسو | په پوره مخ گرځولو سره

ستاسو دوس خبره نه ده | اگر که تاسو ډیر اوغواړئ نو [دومره بس ده] چي یو ښځې ته دومره مه مائله کیږئ

فَتَذَرُوۡهَا　كَالۡمُعَلَّقَةِ ؕ　وَاِنۡ تُصۡلِحُوۡا　وَتَتَّقُوۡا　فَاِنَّ اللّٰهَ　كَانَ

چي پریږدئ تاسو هغه | پشان دزوړند شوی ښځې | اوکه تاسو اصلاح اوکړئ | اوویریدئ [د الله نه] | نو بیشکه الله | دي

چي بله په شان د زوړندې پریږدئ | اوکه تاسو ښه سلوک ساتئ او د الله ﷻ نه یرېږئ | نو الله ﷻ

غَفُوۡرًا　رَّحِيۡمًا ۝١٢٩　وَاِنۡ يَّتَفَرَّقَا　يُغۡنِ اللّٰهُ　كُلًّا　مِّنۡ سَعَتِهٖ ؕ

ښښونکې | رحم کونکې | اوکه جدا شول دواړه | نو بې پروا به کړي الله | هریو | په لوئې رحمت خپل سره

ښښونکې مهربان دې | اوکه ښځه خاوند دواړه یو بل نه جدا شي | نو الله به پخپل قدرت سره هریو د بل نه بې پرواه کړي

وَكَانَ　اللّٰهُ　وَاسِعًا　حَكِيۡمًا ۝١٣٠

اودې | الله | خاوند دفراخۍ | اوصاحب د حکمت |

او الله ﷻ دفراخه ذات او دحکمت خاوند دې |

آسان ترجمه قرآن: او (اې پیغمبره!) خلق تا نه دښځو په باره کښې د شریعت دحکم تپوس کوي ته ووایه چه الله دهغوي په باره کښې حکم بیانوي، اود الله کتاب (یعني قرآن) کښې چه کوم آیتونه تاسو ته لوستې شي هغه هم د یتیمانانو زنانو په باره کښې (شرعي حکم تاسو ته بیانوی) چه تاسو هغوی ته خپل

Scanned with Ca

مقرر شوي حق نه ورکوئ او دهغوی سره نکاح هم کول غواړئ او دا رنګ د کمزورو ماشومانو په باره کښې هم (حکم بیانوی) او دا تاکید کوي چه تاسو د یتیمانو د پاره انصاف قایم کړئ او تاسو چه کوم د نیکئ کار کوئ، په هغې الله پوهیږي که یوې ښځې ته د خپل خاوند د طرف نه د زیاتي یا د بیزارئ خطره وی نو دې خاوند او ښځې د پاره دې کښې هیڅ ګناه نشته چه دوی خپل مینځ کښې اتفاق سره څه صلح وکړي او صلح کول بهتر دی، او د انسانانو په زړونو کښې (څه نه څه) د حرص ماده خو اینښودې شوې ده او که تاسو د احسان او تقوئ نه کار واخلئ نو چه تاسو څه کوئ الله د هغې نه پوره خبر دې او د ښځو په مینځ کښې مکمل مساوات خوستاسو په وس کښې نه دي، که تاسو غواړئ هم، هنه یو طرف ته مکمل مه اوړئ چه بلې لره داسې پریږدئ لکه یو زوړند څیز. او که تاسو د اصلاح او د تقوئ نه کار واخلئ نو یقین وکړئ چه الله ډیر بخونکې، ډیر مهربانه دې او که دواړه جدا شي نو الله به خپل (قدرت او رحمت سره) په فراخئ سره دواړو لره (د یو بل د حاجت نه) بې نیازه کړی او الله ډیري فراخئ والا دې، لوئ حکمت والا دې،

د آیتونو ربط: د سورت په شروع کښې د یتیمانو او ښځو خاص احکام او دهغوئ د حقوقو د ادا کولو ذکر وو ځکه چې د جاهلیت په زمانه به بعضو دوئ ته میراث هم نه ورکولو. ځینې مال چې په میراث کښې یا به ورته په بله ناجائزه طریقه حاصل شو نو هغه به ئې خوړلو. بعضو به [ښځو] سره نکاح اوکړه او هغوئ ته به یې پوره مهر نه ورکولو، پورته ددې ټولو ځخه منع راغلې وه او په دې باندې مختلف واقعات ذکر کړې شوی وو، د ځینو خو دا خیال وو چې ماشومان او ښځې خو فی نفسه د میراث قابل نه دی، دا حکم خو وختی طور سره د مصلحت په طور د څه خلقو د پاره شوې دې. او دا امید چې دا به منسوخ شی. او ځینې خلق ددې په انتظار کښې وو، کله چې دا منسوخ نه شو نو دا مشوره یې اوکړه چې ددې متعلق د نبی کریم ﷺ نه ددې تپوس کولو پکار دی. دوئ حاضر شو او تپوس ئې اوکړو. ابن جریر[1] او ابن المنذر ددې آیت مبارك شان نزول هم دا سوال نقل کړې دې. او ددې ځخه روستو آیتونو کښې یې د ښځو سره متعلق نور مسائل بیان کړی دی، [بیان القرآن][2]

خلاصه تفسیر

﴿وَيَسْتَفْتُوْنَكَ فِي النِّسَآءِ ۖ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِيْهِنَّ ۙ﴾ او خلق تاسونه دښځو [دمیراث اومهر] په باره کښې حکم معلوموی تاسو ورته اوفرمائي چه الله ﷻ ددوی په باره کښے تاسوته [هم هغه وړاندینے] حکم درکوی ﴿ وَمَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ ﴾ اوهغه آیتونه هم [تاسوته حکم درکوی] چه [دد ے نه مخکښې نازل شوی دی او [په قرآن پاك کښې تاسوته په لوستلو آوروليے شی [ځکه چه دقرآن پاك په تلاوت کښې ددې تلاوت کیدل هم ښکاره خبره وه] ﴿ فِيْ يَتٰمَى النِّسَآءِ ﴾ چه ددې یتیمو ښځو په باره کښې [نازل شوی] دی ﴿ الّٰتِيْ لَا تُؤْتُوْنَهُنَّ مَا كُتِبَ لَهُنَّ ﴾ چا [سره چه ستاسو دا معامله ده چه که هغه دمال اوجمال خاوندانے وی نوورسره نکاح کوئی مګر دوی] ته چه [دشریعت له طرفه] ددوی حق [میراث اومهر] مقرر دے نه ورکوی او [که ښکلے نه وی خودمال خاوندانے وی نو] ﴿ وَتَرْغَبُوْنَ اَنْ تَنْكِحُوْهُنَّ ﴾ دوی سره [دبدرنګئ له وجے] دنکاح کولو کرکه

[1]) تفسیر الطبری تحت هٰذه الآیة: رقم الحدیث ۱۰۵۲۳

[2]) بیان القرآن تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۶۰، ۱۶۱

کوئی [اوبل چرته دمال اوړلو نه د ویریدو په وجه بل چاسره ئے نکاح کولو ته هم نه پریږدئی] ﴿وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الْوِلْدَانِ ۙ وَأَن تَقُومُوا لِلْيَتَامَىٰ بِالْقِسْطِ ۚ﴾ او [کوم آیتونه چه] دکمزورو ماشومانو په باره کښې [دی] او [کوم آیتونه چه] په دې باره کښې [دی] چه دیتیمانو [ټولې] معاملې [عامې چه د مهر میراث په باره کښې وی یا دنور څه په باره کښې] په انصاف سره سرته رسوئ [دا دهغه تیرشوو آیتونو مضمون دې نو دغه آیتونه خپل مضمون اوس هم ستاسو په ذمه واجبوی او د هغې حکم بعینه باقی دې. تاسو هم دهغې مطابق عمل جاری لرئ] ﴿وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ﴾ اوکوم نیک کار چه کوئی [دښځو او یتیمانو په باره کښې یا په نورو خبرو کښې هم] ﴿فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِهِ عَلِيمًا﴾ نو بیشکه الله ﷻ هغه ښه پیژنی [تاسو ته به دهغې غوره بدله درکړی اوناغوره خو هم پیژنی لیکن دلته دغوره شوق پیداکول مقصود دی ځکه ئے تخصیص اوکړې شو]

﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِن بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا﴾ اوکه یواځې ښځې ته [په قرینو سره] دخپل خاوند نه غالب احتمال د بددماغئ [اوکړکیچنئ] یا بېپرواهئ [او بے توجهئ] وی ﴿فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا ۚ﴾ نو [په دې سې حالت کښې] دواړو ته په دې خبره کښې څه ګناه نشته چه دواړه خپل مینځ کښې په یو خاص شان صلح اوکړی [یعنی ښځه که داسې خاوند سره اوسیدل غواړی چه پوره حقوق ادا کول نه غواړی او ددې وجې نه دې پریښودل غواړی نو ښځې له روا دی چه خپل څه حقوق پریږدی لکه خرڅ اخراجات معاف کړی یا ئې اندازه کمه کړی او خپل وار معاف کړی چه هغه ئے پریږ نه دی او خاوند له هم روا دی چه دغه معافی قبوله کړی] او [دجنګ جګړو یا بیلیدو نه هم داسې] ﴿وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ۗ﴾ صلح غوره ده او [داسې صلح کیدل څه لرے خبره ځکه نه ده چه] ﴿وَأُحْضِرَتِ الْأَنفُسُ الشُّحَّ ۚ﴾ نفسونوته [طبعی طور] حرص سره جختیدل [یوځائې کیدل] وی [کله ئے چه حرص پوره شی نو راضی شی نوهرکله چه خاوند دا اووینی چه زما په مالی اوجانی آزادئ کښې چه طبعی لالچ دے څه خلل نه راځی اوپه مفته کښې راته ښځه په ګوتو راځی نو غالبًا چه هغې لره به په نکاح کښې لرلو باندې راضی شی اودښځې په نکاح کښې دپاتې کیدو حرص خواه د هرڅه دوجې وی خوښکاره ده چه دا دصلحے اصلی سبب دے پس د دواړو جانبو خاص خاص حرص دغه صلح مکمله کړه] او [ائې سړو] که تاسو [پخپله ښځو سره] ﴿وَإِن تُحْسِنُوا وَتَتَّقُوا﴾ ښه رویه ساتئی [اوهغوی نه دحقوقو معاف کولو خواهشمند نه یئ] اوهغوی سره [دکړکیچنئ او بےتوجهئ کولونه] احتیاط لرل نو [تاسو ته به لوئې ثواب ځکه حاصل شی چه] ﴿فَإِنَّ اللَّهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرًا﴾ بیشکه الله ﷻ ستاسو د نیکو عملونو پوره خبر لری.

[اوپه نیکو علمونو ثواب ورکوی] او [دعادت له وجے] ﴿وَلَن تَسْتَطِيعُوا أَن تَعْدِلُوا بَيْنَ النِّسَاءِ﴾ تاسونه خوبه دا هیچرې اونشی چه په بیبیانو کښې [په هرشان سره] برابری لرئ [تر دې چه دزړه په مینه کښې هم] ﴿وَلَوْ حَرَصْتُمْ﴾ اګر چه [دا برابری] ستاسو زړه هر څومره غواړی [او تاسو هرڅومره کوشش چه په دې کښې اوکړئی لیکن د زړه مینه اختیاری نه ده ځکه ستاسو د وس نه بهرده که اتفاقًا بےاختیارئ کښې چرته برابری راشی نو دهغه نفی د آیت نه مقصود نه ده ، غرض دا چې کله په اختیار کښې نه وی نو تاسو دهغه مکلف نه یې لیکن ددې د غیر اختیاری کیدلو نه دا نه لازمیږی چه ظاهری حقوق هم اختیاری پاتې نشی ولے چه دا خو اختیاری دی

کنه] نو [په تاسو واجب دی چه] ﴿فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ﴾ تاسو بالکل يو طرف ته مه ورماتيږئ [دا بالكل لفظ مطلب دادې چه باطن سره هم په کوم کښې چه تاسو معذوره وئ او ظاهر سره هم چه اختيار پرې لرئ يعنى په شرعى حقوقو کښې ددوی نه غاړه مه اړوئ] چه په هغې سره دے [مظلومے] لره داسې کړئ چه نه دې خوا شي نه اخوا [يعنى په مينځ کښې زوړنده وی [يعنى نه يئ حقوق ادا کولې شي چه د ميړه والا اوګنړلے شي اونه ورته طلاق ورکړې شي چه بے خاونده ورته اووئيلې شي نو که ساتئ ئے په ښه شان سره ئے اوساتئ] ﴿وَاِنْ تُصْلِحُوْا وَتَتَّقُوْا﴾ او [ددې د ساتلو په صورت کښې چه په تيره شوې زمانه کښې ورسره څه د ظلم معامله شوې ده] که [ددغې معاملاتو فى الحال] سمون راولئ او [په راتلوونکې زمانه کښې ددغسې معاملاتو نه] احتياط اولرئ نو [دغه تيرے شوې خبرے به درته معاف کړې شي ځکه چه] ﴿فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا﴾ بيشکه الله ﷻ لوئې دبخښنے خاوند دلوئې رحمت خاوند دې [هرکله چه دبندګانوحقوقو سره د تړلے ګناه اصلاح ددغې بندګانو په معاف کولوسره کيږی نو په اصلاح کښې دا معافى هم راغله نودشريعت له مخې دے نه پس توبه هم صحيح شوه ځکه به مقبوله وی] ﴿وَاِنْ يَّتَفَرَّقَا يُغْنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنْ سَعَتِهٖ﴾ اوکه دواړه ښځه خاوند [چه تر مينځه ئے په هيڅ شان سره جوړښت رانغلو اودواړه] بيل شی [يعنى خلع يا طلاق ترمينځه راشی]نو [هيڅوك دې له دوی نه چه زياتی کوونکې سړې وی يا کوتاهی کوونکې ښځه وی دا خيال نه کوی چه بغيرزمانه به دبل کار به تپه اودريږی ولے چه] الله ﷻ به په خپل وس [قدرت] سره [د دواړو نه هريو لره [دبل نه] بے حاجته کړی [يعنى دهريو مقدر کار به د بل نه بغير روان شی]﴿وَكَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيْمًا﴾ اوالله ﷻ لوئې دوس خاوند او دلوئې حکمت خاونددې[هريو مناسبه لار راوباسی].

معارف اومسائل

دښځې خاوندترمنځه دتعلقاتوپه باره کښې څوقرآني هدايات: ﴿وَاِنِ امْرَاَةٌ خَافَتْ مِنْۢ بَعْلِهَا﴾ تر ﴿وَاسِعًا حَكِيْمًا﴾ پورې په دې درې واړوآيتونوکښې الله تعالى دښځې خاوندترمنځه دجنجال اوتريخ اړخ په باره کښې هدايات ورکړې دی چه ددغه اوږدژوندپه چاپيرچل[ماحول] کښې هرې جوړې ته کله ناکله خامخاراپيښيږی هغه خپل منځ کښې خفګان اوناچاقی راتلل دی-دايوداسې څيزونه دې چه دصحيح اصولوپه بنياد که په دې دقابوراوستوکوشش اونکړې شی نونه يواځې ښځې خاوند دپاره دنياجهنم جوړيږی بلکه په اکثرووختونوکښې داکورنې خفګان دډيرو کورنو او قبيلو، قومونو ،جنګ جګړواومرګ،ژوبلې ته وراوغزيږی،چنانچه قرآن کريم دښځې خاوند دواړو جذبې اواحساسات وړاندې ايښی دی اوهريوفريق ته دژوندداسې نظام ښولودپاره راغلې دی چه په هغې عمل اوشی نولازمی نتيجه ئې داراوځی چه دانسان کورپه دنياکښې جنت جوړ شی، کورنی تريخوالی اوجنجالونه په مينې محبت اوآرام وراحت کښې بدل شی اوکه دمجبورئ په حالاتو کښې بيلتون هم په منځ کښې راشی نوهغه د په ښې طريقې اوښکلې اندازسره وی او دا مزې داسې اوشليږی چه دشمنی اودزيان تاوان ورکولوجذبات ددې په نتيجه کښې پرې نږدی-

آيت نمبر ۱۲۸ ،دهغه حالاتوپه باره کښې دې چه دښځې خاوندترمنځه ،تعلقات بې اختياره خراب شی اوهريوفريق په خپل خپل ځائې کښې معذوره اوګنړلې شی اوخپل منځ کښې تريو [ترش]، تريخوالی په وجه دااندېښنه راپيداشی چه ددوئ ترمنځه به ديوبل په حقوقواداکولو

کښې کوتاهی راشی، لکه یوې بي بی سره چه دهغې دخاوند طبیعت نهٔ لګی اودهغې لرې کول د ښځې دوس ، اختیارنه بهروی، مثلاً ښځه بدشکله یاعمرخوړلې بوډۍ وی، خاوندښکلې او خوان وی نوښکاره خبره ده چه په دې کښې نهٔ دښځې قصورشته اونهٔ پکښې خاوند ګناهګارګڼلې شی۔

چنانچه ددې آیت په شان نزول کښې مظهری وغیره یوڅوواقعات رانقل کړی دی، په داسې حالاتو کښې سرې دپاره یوعام قانون، قرآن کریم دابښودلې دې: ﴿فَإِمۡسَاكٌۢ بِمَعۡرُوفٍ أَوۡ تَسۡرِيحٌۢ بِإِحۡسَٰنٍ﴾ [که دابښځه په خپل نکاح کښې ساتل غواړۍ نودې په پوره پوره حقوق اداکوۍ! اوکه داخبره مودوَس نه بهروی نوپه ښه طریقه ئې آزاده کړۍ په دې صورت کښې که ښځه هم آزادیدو دپاره تیاره وی نومعامله صفاده چه داجنجال اومزې[تار] به هم په ښه شان سره غوڅ[پرې] شی اوکه ښځه دې ته په څه وجه تیاره نهٔ وی مثلاً خپل اولادنه بیلیدل نهٔ غواړی، یادَدې څه بله آسره نهٔ وی نودلته هم یوه لارده چه خاوندلره په څه طریقه رضاکړی، مثلاښځه دخپلوځنې ، یاټولوحقوقو غوښتل پریږدی، اوخاوندبه داخیال اوکړی چه دډیروحقوقودپیتې نه به سپک شم اوښځه به راته وړیا [مفت]پریوځی اوصُلح به منځ ته راشی۔

په دې آیت کښې قرآن کریم دصُلح راتلودأمیدارخ ته داشان رهنمائ اوکړه: ﴿وَأُحۡضِرَتِ ٱلۡأَنفُسُ ٱلشُّحَّ﴾ [حرص اولالچ دهرقسم طبیعتونومخې ته پروت وی، په داسې قسم صُلح کښې دښځې لالچ داوی چه که زهٔ طلاقه کړې شوم نواولادبه مې خواروزاراوبربادشی، یابه مې بل ځائې کښې ژوندتریخ وی، اودخاوندد الالچ وی چه هرکله ښځې مې ټول یاڅه قدر مهرراته پریښو او نور حقوق هم رانه نهٔ غواړی نواوس ددې په ښځه ساتلو کښې ماته مُشکل څه دې؟په دې شان به ددوئ ترمنځه صُلح راتلل آسان شی نوځکه قرآن کریم داسې اوفرمائیل:

﴿وَإِنِ ٱمۡرَأَةٌ خَافَتۡ مِنۢ بَعۡلِهَا نُشُوزًا أَوۡ إِعۡرَاضًا فَلَا جُنَاحَ عَلَيۡهِمَآ أَن يُصۡلِحَا بَيۡنَهُمَا صُلۡحًا﴾ [که ښځه دخپل خاوندنه داویره لری چه راسره به جګړې کوی یابه ئې مخه راته نهٔ وی نوپه دواړو کښې به یوته هم په دې کښې ګُناه نهٔ وی چه خپل منځ کښې په خاصوشرطونوصُلح اوکړی اودې ته ئې دګُناه نهٔ کیدونوم ځکه ورکړوچه اګرچه داصورت خودرشوت جوړیږی ولې چه خاوندته پکښې دمهروغیره دمعاف کولولالچ ورکړې شوې دې اوپه دې باندې ئې هغه په خاوندولۍ جاری لرلوراضی کړو، لیکن قرآن کریم په دې ارشادسره واضح کړه چه دا ،رشوت کښې نهٔ ،بلکه په مصلحت کښې داخل دی چه دواړه فریقه څه ناڅه خپله غوښتنه پریږدی اوپه یودرمیانه صورت باندې راضی شی چه روادی۔

دښځې خاوندترمنځه جګړوکښې بې ضرورته دبل چادخل ورکول مناسب نهٔ دې: تفسیرمظهری کښې راغلی دی چه دلته هرکله الله تعالی داسې اوفرمائیل: ﴿أَن يُصۡلِحَا﴾ [ښځه خاوند دواړه دخپل منځ کښې په څه شکل روغه جوړه راولی] چه د ﴿بَيۡنَهُمَا﴾ لفظ کښې دې ته اشاره موجوده ده چه غوره خبره داده چه دښځې خاوندترمنځه معاملو کښې دچادریمګړی په منځ کښې راتلوسره روغه جوړه راتلل ناممکنه شی اوکه راهم شی نودَدواړو خوعیبونه دریمګړی ته بې ضرورته ښکاره شی چه بدنامی ده، ځکه ترِ نه ځان ساتلو کښې دواړو دپاره خیردې۔

ددغې آیت په آخر کښې ئې اوفرمائیل: ﴿وَإِن تُحۡسِنُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرًا﴾ یعنی په کومو حالاتو کښې چه ستاسو طبیعتونه خپلې بی بی سره نهٔ لګی اودَدې کبله ئې حقوق اداکول په خپل ځان پیتې ګڼړۍ اوآزادول ئې غواړۍ نوپه ضابطه کښې درته دااختیاردرکړې شویدې

اوداَیت په رومبی جمله کښې داهم رواګرځولې شویدی چه دَښځې دَبعضې غوښتنوپه پرېښودو سره صُلح کول هم روادی، بیاهم که دَالله تعالی نه ویره، خپلې مخې ته راولئ، دَاحسان کولونه کاروانخلئ سره ددې چه طبیعت موورسره نهٔ لګی اوبیاهم تعلقات په ښه طریقې سره داسې جاری اولرئ چه دَهغې ټول حقوق پوره کړئ نوستاسوداښکلې عمل به دَالله تعالی په وړاندې وی چه نتیجه ئې بالکل په ډاګه شوې ده چه هغه به دَدې زغم اوښکلې عمل بدله په داسې نعمتونو او حقوقوسره درکړی چه ستاسوپه خیال کښې به هم نشی راتلې اوښکاری داسې چه هم په دې وجه ئې دومره قدرې اوفرمائیل اوخبره ئې ختمه کړه چه ستاسوداښکلې عمل زمونږ په وړاندې دې- ددې ذکرئې اونکړوچه بدله به ئې څه درکوؤ؟ ولې چه هغه بدله به ستاسودَخیال اووهم نه هم زیاته وی-

په دې باره کښې دَآیتونودَمضمون خُلاصه داشوه چه هرکله دَخاوندپه څه وجه خپلې بی بی سره طبیعت نهٔ لګی اودَدهٔ حقوق نهٔ پوره کیږی نوکومې خبرې چه دَبی بی په اختیارکښې وی دَهغې دَاصلاح کولوکوشش داوکړی، دَزورنې ورکولودَپاره، په عارضی توګه، که ورته توجه نهٔ کوی، په خبرواتروکښې ورته زَورنه ورکوی اودَمجبورئ په حالت کښې ئې وهل ټکول هم اوکړی نوخیردې، څنګه چه دسورت نساء په رومبوآیتونوکښې تیرشوی دی، اوکه سره دَ ټولو کوششونو دَ اصلاح صُورت نشوکیدې، یاخبره داسې وی چه دَښځې دَاختیارنه بهروی نودَشریعت قانون دهٔ ته داحق ورکوی چه په ښه انداز کښې بې دَجنګ جدل نه په طلاق ورکولو سره ئې آزاده کړی، اوکه سره ددغې نامناسبوحالاتو، دغه خاوندسره تعلق جاری اولری خپلو حقوقو پسې مخه نهٔ اوړی، او دَ هغه حقوق پوره پوره اداکوی نوداوردَپاره ډیره غوره ، ډیره لوړه اودَ لوئې ثواب حاصلولوخبره ده . اوکه معامله اپوته داسې وی چه خاوندواجب حقوق نهٔ اداکوی اوپه دغه وجه ئې تر ښځه څان آزادول غواړی اوخاوندئې هم پرراضی شونومعامله صفاده، ښځه هم داحق لری چه هرکله خاوندئې دَحقوقونهٔ اداکولوپه بنادې لره آزادولوته تیارنهٔ وی نوښځه داحق لری چه دَاسلامی عدالت په ذریعه آزادی حاصله کړی، لیکن که هغه دَخپل خاونددبې توجهی اوناړامی زغمی، دَخپلوحقوقوغوښتنه نهٔ کوی اودَخاوندحقوق اداکوی، نوداخبره هغې دپاره ډیره غوره، ډیره لوړه اودَلوئې ثواب باعث ده-

خُلاصه داده چه یواړخ ته دَخپل تکلیف لرې کولواودَخپل حق وصولولوقانونی حق، دواړوفریقوته قرآن کریم ورکړو، بل اړخ ته ئې دواړوته دَبلند اخلاقئ اودَخپلوحقوقوپه پرېښودو صبرتلقین اوکړو، اوداهدایت ئې اوفرمائیلوچه تروسه وسه پورې تعلق نهٔ دی پریکول پکار، بلکه پکاردادې چه دواړه خپل، خپل، څه ناڅه حقوق پرېښولوسره صُلح اوکړی-

دَدې آیت په شروع کښې دَښځې خاوندترمنځه دَاختلاف راتلوپه وخت، روغه راوستل اوصُلح کول صرف جائزښودلې شوی دی اوپه آخردآیت کښې دَصُلح نهٔ راتلوپه صورت کښې هم، صبراوزغم سره دَتعلق جاری لرلوتلقین [ښودنه] اکړې شویده- په منځ کښې ئې داسې جمله ارشادفرمائیلې ده- چه روغه جوړه راوستل، دَهغې دمخې ، ښکلې اوډیره غوره ثابتیږی لکه فرمائی ﴿ وَالصُّلْحُ خَيْرٌ ﴾ [روغه جوړه راوستل ډیرغوره دی] اوداجُمله ئې په داسې عام عنوان سره بیان کړه چه پکښې زیربحث ، دَښځې ، خاوندترمنځه جګړې هم داخلې دی دَاختلافاتونور قسمونه هم، اودَټولې دُنیادَمعاملاتوجګړې، جنجالونه اومقدمې هم ، ولې چه دَقرآن کریم الفاظ عام دی چه ، صلح غوره ده-

Scanned with Ca

دَمضمون خُلاصه داشوه چه دَدې په ځائې چه ښځه خاوندپه خپلوټولوغوښتنو باندې تینګ ولاړوی، دَهغې په ځائې غوره خبره داده چه دواړه دَخپلوخپلو، څه ناڅه، مطالباتونه لاس واخلی اوپه یومنځومیانه صورت باندې راضی کیدوسره خپل منځ کښې روغه جوړه راولی لکه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:

[کل صلح جائز بین المسلمین الا صلحاً احل حراماً اوحرم حلالاً والمسلمون علی شروطهم الا شرطاً حرم حلالاً [رواه الحاکم عن کثیربن عبدالله، تفسیرمظهری] ([1]) دَمسلمانانوتر منځه هرقسم صُلح روا ده، سوا دَهغه صُلح نه چه په کښې حرام لره حلال اوحلال لره حرام ګرځولې شوې وی اومسلمانانولره په خپلومنلوشرطونو باندې ولاړاوسیدل پکاردی سوا دَهغه شرطونونه چه دَهغې په ذریعه حلال لره حرام ګرځولې شوی وی۔

مثلاً یوې ښځې لره په دې باندې صُلح کول نۀ رواکیږی چه ورسره دَدې خورهم دَدې دَخاوندپه نکاح کښې اوساتلې شی، ولې چه دَدوخویندولره دَیوسړی په نکاح کښې راوستل حرام دی. یاپه دې صلح اوکړی چه دبلې بی بی حقوق به نۀ اداکوی، ولې چه په دې سره حلالولره حرام ګرځول دی۔

اوهرکله چه روایت کښې په عامه توګه، هره صُلحه رواګرځولې شوې ده نودغې عموم نه امام اعظم رحمه الله دامسئله راؤښکلې ده چه دَصُلح ټول قسمونه روادی، خواه دَاقرارپه صورت کښې په دې شان وی چه مثلاًمدعاعلیه دَدې خبرې اقراراوکړی چه واقعی، دَمُدعی دَدعوې په مطابق دَهغه په ما باندې یوزرروپئ پورې دی، بیاصُلح په دې اوشی چه مدعی دَڅه رقم مدعاعلیه ته پریږدی، یادَدغې رقم په بدله کښې دتربل څه څیزواخلی. یامدعاعلیه، خواقراریاانکارهیڅ اونکړی اودومره قدرې اووائی چه حقیقت هرڅه چه وی، زۀ غواړم چه ته په دې صورت صُلح اوکړې. یا مدعاعلیه ددعوې نه بیخی انکاری وی، لیکن سره دَدې نه دَجګړې ختمولودپاره په څه ورکولو باندې راضی شی اوهم په هغې صُلح اوشی. دادرې واړه قسمه صُلحې روادی، دَخاموشئ اوانکارپه صورت کښې دَبعضې امامانوفقهاؤاختلاف هم شته دې۔

په آخر کښې یوه دامسئله دَیادَولووړه چه دَښځې، خاوندترمنځه صُلح کولوسره تعلق لری اوذکرئې په دې آیت کښې شوېدې، هغه داده چه که یوې ښځې، دَخپلوځنوحقوقوپه پریښولو باندې صُلح اوکړه نوداسې صلح دښځې دغه حق بیخی ختموی چه دَصُلح په وخت دَخاوندپه ذمه شوېدې، لکه قرض مهر، چه په خاوند باندې دَدې صُلح نه وړاندې دَهغې اداکول واجب شویدی۔ اوس هرکله چه ښځه په ټول مَهریادَهغې دَڅه برخې په معاف کولو باندې صُلح اوکړی نودغه مهریادغه برخه اداکول به ئې دَخاوندپه ذمه بیخی پاتې نشې، بیابه ښځه داحق نۀ لری چه دَهغې غوښتنه اوکړی ______ لیکن کوم حقوق چه اداکول ئې دَصُلح په وخت په خاوند باندې واجب نۀ ؤو، مثلاً په آئنده کښې دَښځې نان نفقه [خرڅ اخراجات] یاورسره دَشپې تیرَولووخت چه راتلونکې زمانه کښې به واجبیږی اودغه وخت ئې اداکول دَخاوندپه ذمه واجب نۀ دی، نوداسې حقوقوپه پریښوصُلح کول، دَښځې له اړخه دَدغه حقوقودَغوښتلوحق همیشه دَپاره نۀ ختموی، بلکه کله چه اوغواړی نوداوئیلې شی چه په آئنده کښې دغې حقوقو پریښوته زۀ نوره تیاره نۀ یم-په داسې صورت کښې خاوندداحق لری چه داآزاده [طلاقه] کړی- [تفسیر مظهری وغیره] ([2])

---

[1]) المستدرک للحاکم، کتاب الأحکام، باب الصلح جائز بین المسلمین رقم الحدیث: ۷۱۵۹

[2]) تفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۲۵۶، ۲۵۷

په آخري آيت: ﴿وَاِنۡ يَّتَفَرَّقَا يُغۡنِ اللّٰهُ كُلًّا مِّنۡ سَعَتِهٖ﴾ کښې دواړو [ښځې ،خاوند] ته تسلي ورکړې شوه چه دروغې جوړې دتولو کوششونو په ناکام کيدو سره که بيلتون راځي نو وار خطا کيږئ مه: الله تعالى به مويو دبل نه بې پرواکړي، ښځې ته به بل خاني او دژوند تيرولو بله ذريعه پيدا کړي، او سړي ته به بله ښځه په گتوورشي- دالله تعالى قدرت ډير فراخه دې دهغې نه دنا اميده کيدو هيڅ وجه نشته ،دوئ دواړه ددنکاح نه په وړاندې ژوند نظر واچوي چه خپل منځ کښې دې دواړو بيل لره پيژندل هم نۀ، الله تعالى سره خپل منځ کښې جوړه کړل، اوس هم دغسې صورتونه، بياهم پيداکيدې شي-

په آخر د آيت کښې ﴿وَكَانَ اللّٰهُ وَاسِعًا حَكِيۡمًا﴾ فرمائيلو سره ئې دا خبره نوره هم پخه کړه چه الله تعالى سره ډيره فراخي ده، او دهغه هر يو کار په حکمت باندې بناء دې، کيدې شي چه په دې بينتون کښې حکمت او ښيگړه وي، ددې بيلتون نه پس دواړو ته داسې جوړې ملاويدې شي چه ژوند به ئې ورسره ښه شي-

په غير اختياري كارونو باندې گرفت نشته: دَ وادۀ ژوند لره ښکلي او پائيدار جوړولو دپاره قرآن کريم په تيرو شوؤ آيتونو کښې کوم هدايات چه ښځې خاوند ته ورکړی دی په هغې کښې يو آيت دا دې ﴿وَلَنۡ تَسۡتَطِيۡعُوۡۤا اَنۡ تَعۡدِلُوۡا بَيۡنَ النِّسَآءِ﴾ په دې کښې دواړو ډلو ته يو خاص هدايت دا ورکړې شوې دې چې که دَيو سړي په نکاح کښې دَيوې نه زياتې بيبيانې وي نو قرآن کريم ،دَ سورة نساء په شروع کښې هغه ته دا هدايت او کړو چه دَ تولو بيبيانو ترمينځه انصاف او برابري قائم لرل دَ دَغه سړي په ذمه فرض دي، او که څوك دا خيال او کړي چې څه دا فرض نشم ادا کولي نو هغه ته پکار دي چې د يو نه زياتې بيبيانو سره نکاح نه کوي . ارشاد مبارك دې چې : [فَاِنۡ خِفۡتُمۡ اَلَّا تَعۡدِلُوۡا فَوَاحِدَةً] يعنى که تاسو سره دا ويره وي چې د دوؤ بيبيانو په مينځ کښې به انصاف او نکړې شئ نو بيا په يو باندې اکتفا اوکړئي.

او نبی کريم ﷺ خپل قول او عمل سره د بيبيانو په مينځ کښې د عدل او مساوات ډير زيات تاکيد کړې دې ، او ددې په خلاف ورزئی کښې ئې سخته سزا بيان کړې دې .عائشه صديقه ﵂ فرمائي چې نبی کريم ﷺ به خپلو بيبيانو کښې د مساوات او برابرئ پوره پوره اهتمام کولو. او د الله ﷻ په دربار کښې به ئې عرض کولو چې:

[اللهم هذا قسمي فيما املك فلا تلمني فيما تملك ولا املك] (۱) يعنی ائې الله ﷻ ! دا زما منصفانه تقسيم او مساوات په دې څيز کښې دې چې زما په ا ختيار کښې دی څکه کوم څيز چې ستا په اختيار کښې دې هغه زما په اختيار کښې نه دې يعنی د زړه ميلان او رجحان ، په دې کښې زما غاړه مه بندوه ،

نبی کريم ﷺ څخه زيات څوك داسې کيدې شی چې هغه په خپل ځان باندې قابو لرلې شی ؟ خو بيا هم نبی کريم ﷺ خپل قلبی ميلان د خپل قابو نه بهر اوکرځول ، او د الله ﷻ په دربار کښې يې عذر پيش کړو.

د سورة نساء د شروع د آيتونو نه دا معلوميږی چې په هغې کښې بيبيانو سره مطلقا د مساوات او برابر کولو ذکر وو، چې په دې کښې د قلبی ميلان مساوات هم شامل دی ، اودا د انسان په

(۱) سنن ابي داود، كتاب النكاح، باب في القسم بين النساء: ج ۱، ص ۲۹۰

اختیار کښې نه دی . په دې وجه د سورة نساء په دې آیت مبارك کښې دحقیقت حال وضاحت فرمائیلې شوې دې چې په کومو څیزونو ستاسو قدرت نه وی په هغې کښې مساوات کول ضروری نه دی ، البته په اختیاری معاملو کښې به مساوات وی . لکه شپه تیرولو کښې ، او استوګنه او نفقې وغیره کښې . الله ﷻ دا حکم دې عنوان سره بیان کړو چې دې سره یو شرنف به هم په دې باندې عمل کوی.

[وَلَنْ تَسْتَطِيْعُوْٓا اَنْ تَعْدِلُوْا بَيْنَ النِّسَآءِ وَلَوْ حَرَصْتُمْ فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ فَتَذَرُوْهَا كَالْمُعَلَّقَةِ] یعنی تاسو ته معلوم دی چې تاسو که د ټولو بیبیانو په مینځ کښې کوشش هم اوکړئی خو بیا هم تاسو د قلبی رجحان باره کښې مساوات نشئ کولې ځکه چې دا ستاسو په اختیار کښې نه دی . نو بیا داسې مه کوئی چې ټول په ټوله یو طرفته مائل شئ یعنی قلبی میلان خو ستاسو دې طرفته وو او دې سره سره په اختیاری معاملو کښې هم دوئ ته ترجیح ورکړئی ، اوددې نتیجه دا شی چې دې سره هغه بله بی بی هسې پاتې شی ، یعنی خاوند دهغې حقوق هم نه ادا کوی ، او هغه آزادوی هم نه.

معلومه شوه چې په دې آیت مبارك کښې په عدل باندې د قدرت نه لرلو کوم ذکر دې هغه دقلبی میلان برابری ده او دا د انسان په اختیار کښې نه ده. او ددې آیت مبارك الفاظ [فَلَا تَمِيْلُوْا كُلَّ الْمَيْلِ] کښې په خپله ددې مفهوم قرینه موجود ده . ځکه چې ددې الفاظو معنی دا ده چې قلبی میلان کښې برابری ستاسو په قدرت کښې نه دی خو تاسو یو طرفته مائل مه اوسئ چې په اختیاری معاملو کښې هم هغه [یوې ښځې ته] ترجیح ورکړئی .

دا شان دا ایت مبارك د سورة نساء د اولنی آیت مبارك تشریح شوه چې دهغې د ظاهری الفاظو نه د زړه د ظاهری میلان معلومیدل ، دې ایت مبارك دا واضح کړل چې دا فرض نه دی ځکه چې دا غیراختیاری دی .بلکه په فرض امورو کښې چې په اختیار کښې وی هغې کښې مساوات دی.

دې آیت سره دهنږوودونوپه خلاف دلیل نیول بیخي غلط دي: په دغه بیان کړی تفصیل سره دَهغه خلقوغلط فهمی هم ښکاره شوه چه دَدې دواړوآیتونوپه یوځائې کولوسره داتیجه راؤباسی چه دَسُورتِ نساء دَشروع آیت داحُکم ورکړوچه که دَځوبیبیانوترمنځه برابری نشئ کولې نوبیاهم په یونکاح باندې ګذاره اوکړئ،بله نکاح مهٔ کوئ،اودې بل آیت دااوښودل چه دَدواړو بیبیانو ترمنځه برابری راوستل دَسره ممکن نه دی ،نتیجه ئې دارااوته چه په جمع دوه بیبیانې په نکاح کښې راوستل بیخی روانهٔ دی،حالانکه عجیبه خبره داده چه الله تعالی پخپله په دې دواړو آیتونوکښې دَدې غلط فهمئ لرې کولودپاره سامان ایښې دې،دَدویم آیت قرینه اوس تیره شوې ده چه دَ﴿كُلَّ الْمَيْلِ﴾الفاظ دی اوپه رومبی آیت کښې ئې دافرمائیلی دی:﴿فَاِنْ خِفْتُمْ اَلَّا تَعْدِلُوْا﴾ په دې کښې دَشرط په ډول دافرمائیل چه:که ستاسوخطره وی-دالفظ دَدې خبرې ښکاره قرینه ده چه دَدواړوبیبیانوترمینځه عدل اوبرابری کول ناممکن اودَوَس نه بهرخبره نهٔ ده،ورنه دَدې اوږد عبادت ،اوبیاپه دؤو آیتونو کښې ددې ضرورت نه وو. لکه چې ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ اُمَّهٰتُكُمْ وَبَنٰتُكُمْ﴾ والا آیت مبارك د هغه ښځو باره کښې تفصیل ذکر دې چې هغوئ سره نکاح حرامه ده . او ﴿وَاَنْ تَجْمَعُوْا بَيْنَ الْاُخْتَيْنِ﴾ یې اوفرمائیل چې دې کښې یې د خویندو دَجمع کولوحراموالې ښودلې دې، داشان به

Scanned with Ca

داهم فرمائیلی شوی وو چه په یو وخت کښې دَ یوې نه زیاتې بیبیانې په نکاح کښې لرل حرام دي
اوبیا د ﴿وَأَن تَجْمَعُوا﴾ سره د ﴿بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ﴾ قید لګول به عبث وو، بلکه په دغې یوې جمله کښې به
داسې فرمائیلې شوې وو چې ﴿وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الامراتين﴾ یعنی مطلقا د دوؤ ښځو په یو نکاح کښې
ساتل حرام دي، خو قرآن پاك دا مختصر كلام پرېښودو او یو طویل عبارت یې اختیار کړو بلکه
په دوؤ آیتونو مبارکو کښې یې ددې تفصیل بیان کړو. ددې ځنې دا هم معلومه شوه چې آیت
﴿وَأَن تَجْمَعُوا بَيْنَ الْأُخْتَيْنِ﴾ یو حیثیت سره ددې جواز ښائی چې دیو ځنه زیاتې بیبیانې په نکاح
ساتل خو جائز دی خو شرط په کښې دادې چې هغه دواړه پخپلو کښې خویندې نه وي.

وَلِلّٰهِ | مَا | فِي السَّمٰوٰتِ
[اوخاص الله لره دي] هغه څه] چې په آسمانونو کښې دي
او هرڅه چې په آسمانونو کښې دي .... |

وَمَا | فِي الْاَرْضِ ۭ | وَلَقَدْ | وَصَّيْنَا | الَّذِيْنَ | اُوْتُوا الْكِتٰبَ
اوهغه | چې په زمکه کښې دي |او په تحقیق سره |هدایت کړې وو مونږه| هغه کسانو ته| چې ورکړې شوې وو کتاب
اوکه په زمکه کښې دي | تول دالله ﷻ دي | اوستاسونه وړاندې چې چاته کتاب ورکړې شوې وو

مِنْ قَبْلِكُمْ | وَاِيَّاكُمْ | اَنِ | اتَّقُوا اللّٰهَ ۭ | وَاِنْ | تَكْفُرُوْا | فَاِنَّ
مخکښې ستاسونه |او خاص تاسوته هم |ددې خبرې چې |اوویرېږئ دالله نه | اوکه | تاسونه منئ | بیشکه
مونږ هغوئ ته هم وئیلی وو | اوتاسو ته هم وایو چې دالله ﷻ نه ویره کوئ | ....اوکه نه منئ [نومه منئ]

لِلّٰهِ | مَا | فِي السَّمٰوٰتِ | وَمَا | فِي الْاَرْضِ ۭ | وَكَانَ اللّٰهُ | غَنِيًّا
الله دپاره دي | هغه څه | چې په آسمانونو کښې دي | او هغه | چې په زمکه کښې دي | اودې الله | بې پروا
هرڅه چې په آسمانونو کښې دي اوکه په زمکه کښې دي تول دالله ﷻ دي | اوالله ﷻ بې پرواه دي

حَمِيْدًا ۝ | وَلِلّٰهِ | مَا فِي السَّمٰوٰتِ | وَمَا | فِي الْاَرْضِ ۭ | وَكَفٰى بِاللّٰهِ
ستائیلې شوې | اوالله لره دي | هغه چې په آسمانونوکښې | اوهغه چې | په زمکه کښې دي | اوکافي دې الله
هرقسم تعریف ئې شوې دې | اود آسمانونو او زمکې هرڅه دالله ﷻ دي | او الله د کارسازئ دپاره کافي دې

وَكِيْلًا ۝ | اِنْ يَّشَاْ | يُذْهِبْكُمْ | اَيُّهَا النَّاسُ | وَيَاْتِ | بِاٰخَرِيْنَ ۭ
کارساز | که اوغواړي هغه | نو لرې به کړي تاسو | اې خلقو | اورابه ولي | نور خلق
که الله ﷻ اوغواړي نو اې خلقو تاسو به فنا کړي | او ستاسو په ځائې | نور خلق به راولي

وَكَانَ اللّٰهُ | عَلٰى ذٰلِكَ | قَدِيْرًا ۝ | مَنْ كَانَ | يُرِيْدُ | ثَوَابَ الدُّنْيَا
او دې الله | په دې کار باندې | پوره قدرت لرونکې | هغه څوك چې وي | چې غواړي | ثواب ددنیا
اوالله ﷻ په هرڅه قدرت لري | ....څوك چې | په خپل عمل سره | صرف ددنیا بدله غواړي

Scanned with Ca

فَعِنْدَ اللّٰهِ	ثَوَابُ الدُّنْيَا	وَالْاٰخِرَةِ ۭ	وَكَانَ اللّٰهُ	سَمِيْعًاۢ	بَصِيْرًا ۧ
نو دي دالله سره	ثواب د دنیا	اودآخرت	اودي الله	اوريدونكي	ليدونكي

نو الله ﷻ سره ددنیا بدله هم شته او دآخرت هم[1] او الله ﷻ آوریدنکي دي اوهرڅه ويني

آسان ترجمه قرآن: په آسمانونو او زمكو كښې چه څه دي ټول صرف دالله دي موږ تاسو نه مخكښې اهل كتابو ته هم او تاسو ته هم تاكيد كړي دې چه دالله نه وويريږئ او كه تاسو كفر وكړئ (نو دالله څه نقصان دې ؟ځكه چه) په اسمان او زمكه كښې چه څه دي صرف د الله دي ، او الله د هر چا نه بې نیازه دې اوخپله د تعریف لايق دې او آسمان او زمكه كښې چه څه دي صرف دالله دي او دكار جوړولو دپاره صرف الله كافي دې. كه هغه وغواړی نواې خلقو ! تاسو ټول به (دنيا نه) بوځي او نور خلق به (ستاسو په ځائې) راولي او الله په دې خبره پوره قدرت لري كوم يو كس چه (صرف) د دنيا بدله غواړي (هغه ته دا خبره ياده ساتل پكاري دي چه) الله سره د دنيا او د آخرت د دواړو بدلې موجود دي او الله هرڅه آوري او په هر څه باندې پوهيږي.

خلاصه تفسیر

﴿ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ ﴾ او دالله ﷻ ملك دی كوم څيزونه چه په آسمانونوكښې دی اوكوم څيزونه چه په زمكه كښې دی [نو دداسې مالك حكمونه منل ډير ضروری دی] او

---

[1] بيا فرمائی چه ائې هغه كسانو چه د چا پوره قصد او پوره كوشش صرف د دنيا دپاره دې ، نو هغوئ دې پوهه شی چه د دواړو جهانونو بښيګړې صرف د الله ﷻ په قبضه كښې دي.نو كله چه د ده نه دواړه طلب كړئ نو هغه به تاسو ته دواړه دركوی ، او هغه به تاسو بې پرواه كړی او آسوده به مو كړی.

د مومنانو دعا:- او بل ځائې ارشاد دې چه بعضې هغه خلق دی چه وائی ائې الله ﷻ ! موږ ته دنيا راكړه ، د هغوئ هيڅ حصه نشته دې په آخرت كښې .او داسې هم شته چه دعا كوی نو وائی چه ائې الله ﷻ ! موږ ته دنيا كښې نيكی راكړې او آخرت كښې هم نيكې راكړې او د جهنم د اور نه مو اوساتې.خبره دا ده چه دوی ته به د دوی د عملونو پوره پوره حصه وركولې شی.اوبل ځائې كښې ارشاد دې چه كوم كس د آخرت د پټی اراده ساتې ، موږ به د هغه پټی كښې زياتې كوو.او يو آيت مبارك كښې دی چه (مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعَاجِلَةَ عَجَّلْنَا لَهٗ فِيْهَا مَا نَشَاۗءُ لِمَنْ نُّرِيْدُ ثُمَّ جَعَلْنَا لَهٗ جَهَنَّمَ ۚ يَصْلٰىهَا مَذْمُوْمًا مَّدْحُوْرًا) يعنى چه كوم سړی د دنيا طلب كوی نوموږ چه چاته څه وركوؤ نو هغه په دنيا كښې وركوؤ.

د ابن جرير په نيز د آيت مطلب:- امام ابن جرير ﷫ ددې آيت دا معنى بيان كړې ده چه كومو منافقانو به د دنيا تلاش كښې ايمان قبول كړې وو،نو هغوئ ته دنياوركړې شوه يعنى ظاهری مسلمانيدو سره هغوئ ته غنيمت ملاؤ شو ،ليكن آخرت كښې د هغوی دپاره الله ﷻ چه كوم اور تيار كړې دې هغه به دوی ته هغه ځائې كښې ملاويږی.يعنی د جهنم اور اود هغه ځائې سخت عذاب.

نودامام صاحب ﷫ په نيز مذكوره آيت د آيت (مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا وَ زِيْنَتَهَا) پشان دی.هيڅ شك نشته دې چه ددې آيت معنى خو په ظاهره هم دا ده.ليكن رومبې آيت مبارك هم دې معنى كښې اخستل غور طلب امردې.ځكه چه ددې آيت مبارك الفاظ خو صفا وائی چه د دنيا او آخرت نيكی وركول دالله ﷻ لاس كښې دی نوهر سړی ته پكار دی چه هغه خپل تلاش په يو څيز نه خرچ كوی بلكه د دواړو څيزونو د حاصلولو كوشش دې كوی چه څوك تاسو ته دنيا دركوی نو هغه د آخرت مالك هم دی. دا به ډيره ناراستی وی چه تاسو خپلې سترګې بندې كړئی او ډيرو وركونكو نه لږ اوغواړئی.نه بلكه تاسو د دنيا او آخرت لوئې لوئې كارونو او بهترين كارونو حاصلولو دپاره كوشش كوئی.خپل نصب العين مو صرف دنيا جوړه كړې ده.اوچت همت سره او ډير كوشش سره او دنظر په وسعت سره د ښه ژوند تيرولو كوشش كوه.(ابن كثير)

Scanned with Ca

[داحکامو په خاتي راوړل خطاب خاص هم تاسوته نه دې شوې بلکه] ﴿ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ﴾ واقعی مونږ هغه خلقو ته هم حکم کړے وو چه ورته ستاسو نه وړاندې کتاب [آسمانی یعنی تورات اوانجیل] ملاو شوې وو اوتاسو ته مو هم [حکم درکړې دې] چه الله ﷻ نه ویریږئ [چه ورته تقوی وئیلې شی په کوم کښې چه دټولو احکامو موافقت داخل دی ځکه ئې داسورت دتقوی نه شروع کړو اوپه تفصیل کښې ئې مختلف احکام راوړی دی] ﴿ وَإِنْ تَكْفُرُوْا فَإِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ﴾ او[داهم هغوی ته او تاسوته واورولے شو چه] که تاسو ناشکری کوئی [یعنی دالله ﷻ د حکمونو مخالفت کوئی] نو [دالله ﷻ هیڅ ضرر نشته البته هم ستاسو ضرر دے ځکه چه] دالله ﷻ [خو] ملك دے کوم څیزونه چه په آسمانونو کښې دی اوکوم څیزونه چه په زمکه کښې دی [دداسے لوئې بادشاه به څه ضرر وی البته دداسې لوئې بادشاه مخالفت بیشکه مضر دې] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ غَنِيًّا حَمِيْدًا ﴾ او الله ﷻ دچا [دحکم منلو] حاجتمند نه دې [او] پخپله په خپل ذات کښې ستائیلے شوې [او د کاملو صفتونو خاوند] دے [نودچا د مخالفت کولو په وجه دهغه په صفتونو کښې څه نقص نه لازمیږی] ﴿ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ﴾ اوهم دالله ﷻ ملك دی کوم څیزونه چه په آسمانونو کښې دی اوکوم څیزونه چه په زمکه کښې دی او [هرکله چه داسې قادر او اختیار مند دې نو دخپل فرمانبردارو بندګانو دپاره هغه] ﴿ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴾ الله ﷻ کار ساز دے [هرکله چه هغه کارساز شونو دهغه فرمانبردارو ته بیا څوك ضرر رسولې شی؟

[نو چا نه ویریدل پکارنه دی اوالله ﷻ چه تاسو ته ددین کارونه ښائی نو هم ستاسو نیك بختئ دپاره ورنه هغه خو نورو نه هم کار اخستلې شی ولے چه دهغه داسې قدرت دې چې] ﴿ إِنْ يَّشَأْ يُذْهِبْكُمْ أَيُّهَا النَّاسُ وَيَأْتِ بِاٰخَرِيْنَ ﴾ که الله ﷻ غواړی نوائې خلقو تاسو ټول به فنا کړی اونورو به موجود کړی [اودهغوی نه به کار واخلی لکه په یو بل آیت کښې چه راغلی دی ﴿ وان تتولوا یستبدل الخ ﴾ ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ عَلٰى ذٰلِكَ قَدِيْرًا ﴾ اوالله ﷻ په دې پوره قدرت لری [نو چه داسې ئې اونکړل دادهغه مهربانی ده دهغه حکم منل غنیمت اوګڼړئ اونیك بختی حاصله کړئ اوګورئ چه ددین دکار فائده اونتیجه په آخرت کښې ده پدنیا کښې نه ملاویدوسره زړه مه بدوئ بلکه] ﴿ مَنْ كَانَ يُرِيْدُ ثَوَابَ الدُّنْيَا فَعِنْدَ اللّٰهِ ثَوَابُ الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ﴾ څوك چې [ددین په کار کښې] ددنیا معاوضه غواړی نو[هغه په غټه غلطئ کښې دی] ځکه چې الله ﷻ سره [یعنی دهغه په قدرت کښې] ددنیا او آخرت دواړو بدله [موجوده] ده [هرکله چه هغه په ادنی اواعلي دواړو قدرت لری نواعلي څیز ترې ولے نشی غوښتلے] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا بَصِيْرًا ﴾ اوالله ﷻ لوئې آوریدونکې او لیدونکې دې [دټولو خواستونه او خبرے آوری چه دنیا سره تعلق لری اوکه دین سره اود ټولو نیتونه وینی نودآخرت طلبګار ته به ثواب ورکړی او ددنیا طلبګار به په آخرت کښې بےنصیبه لری نوبیواخې د آخرت نیت اوخواست کول پکار دی البته ددنیا حاجت په مستقل طور باندې غوښتل څه باك نه لری خوپه عبادت کښې دے دا قصد نه کوی]۔

معارف اومسائل

ضروری فائدې: ﴿ وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ ﴾ [یعنی دآسمانونو اودزمکې ټول مخلوقات دالله تعالی] دلته ئې داالفاظ، درې ځله رادوباره [مکرر] کړې شو، داول نه وسعت مقصود ده چه هغه

Scanned with Ca

سره دهیڅ خیز کمي نشته، ددویم نه مقصود، دهغه بې نیازي اوبې پروایئ بیانول دی، چه هغه دهیڅ پروانهٔ لري که تاسو منکریږئ، په دریم خل کښې دهغه درحمت اوکارسازئ ښکاره کول دی، چه که تقوی اوفرمانبرداری اختیار کړئ نوهغه به ستاسوټول کارونه جوړ کړي-

په دریم آیت کښې داخبرواضحه کړې شوې ده چه الله تعالی داطاقت لري چه تاسوټول فناکړي اوددُنیانه موپورته کړي اونور فرمانبردار اوتابعدار خلق پیدا کړي، دې نه هم دالله تعالی بې پروایئ اوبې حاجتي په ښه شان ښکاره شوه، اونافرمانوته په ښه شان زورنه اوویره ورکړې شوه-

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ | اٰمَنُوْا | كُوْنُوْا | قَوّٰمِيْنَ | بِالْقِسْطِ

اے هغه کسانو | چې ایمان موراوړې دې | شئ | همیشه محکم ودریدونکي | په انصاف سره |

اې دایمان خاوندانو په انصاف باندې قائم دائم ولاړ اوسیږئ |

شُهَدَآءَ | لِلّٰهِ | وَلَوْ عَلٰۤى | اَنْفُسِكُمْ | اَوِ الْوَالِدَيْنِ | وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ

ګواهي کونکي | خاص الله لره | اګر که وی | خلاف دنفسونو ستاسو | یا دمور او پلار | اودخپلوانو |

اودالله ﷻ دپاره ګواهي ورکوئ |اګر که [داګواهي] دخپلوځانونو، دمور پلار یا خپلوانو خلاف وی

اِنْ يَّكُنْ | غَنِيًّا | اَوْ فَقِيْرًا | فَاللّٰهُ | اَوْلٰى | بِهِمَا ۫ | فَلَا تَتَّبِعُوا

که وی | مالدار | یا غریب | نو الله | ډیرحقدار دې په مقابله د دواړو کښې | پس مهٔ خئ تاسو |

که هغه مالداروی اوکه غریب | هرحال کښې د هغوی دواړو په مقابله کښې الله ﷻ زیات د لحاظ ساتلو لائق دې نو

الْهَوٰۤى | اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ | وَاِنْ | تَلْوٗۤا | اَوْ تُعْرِضُوْا

په خواهشاتو پسې | چې بې انصافي اوکړئ | اوکه | تاسو واړوئ ژبې خپلې | یامخ واړوئ دربښتیاونه |

تاسودخپلونفسونوتابعداری مکوئ | چې عدل پرېږدئ | اوکه تاسوژبې واړوئ | یاد ګواهي نه ډډه اوکړئ

فَاِنَّ | اللّٰهَ | كَانَ | بِمَا | تَعْمَلُوْنَ | خَبِيْرًا ۝

نو بیشکه چې الله | دې | په هغه کارونو | چې کوئ ئې تاسو | خبر

نوالله ﷻ ستاسود کارونونه ښهٔ خبردې

آسان ترجمه قرآن: اې دایمان خاوندانو! انصاف قایمونکی جوړشئ او دالله دپاره ګواهي جوړونکي جوړ شئ، خواه که هغه ګواهي ستاسو خلاف وي، یامو دمور او پلار او خپلوانو خلاف وی هغه سړی (چه د هغه خلاف دګواهئ کولوحکم کولې شي) که هغه مالداروي اوکه غریب، الله د دواړه قسمه خلقوستاسونه زیات خیر خواه دې نوداسې دنفس خواهش پسې مه ځئ چه تاسود انصاف کولونه بندوی، اوکه تاسومخ اړوئ (یعني غلطه ګواهي ورکوئ) یا (دربښتیا ګواهئ نه) مخ اړوئ نو (یاساتئ چه) الله ستاسو دکارونو نه پوره خبر دې.

خلاصه تفسیر

﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ ائې دایمان خاوندانو[په ټولو معاملاتو کښې دحق ادا کولو په وخت هم اود فیصلې په وخت کښې هم] ﴿كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ﴾ شئ په انصاف باندې کلك پاتې کیدونکي [او د اقراریا ګواهئ موقعه چه راپیښه شی نو] ﴿شُهَدَآءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰۤى اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ﴾ دالله ﷻ

Scanned with Ca

[دخوشحالولوو] دپاره [رښتیا] ګواهي ورکونکي اوسیږئ اګر چه [دغه ګواهي او ښکاره کول] دخپل ذات [ځان] خلاف وی [چه ورته اقرار وئیلې شی] یا دمور پلار او دنورو خپلوانو خلاف وی [اودګواهئ په وخت کښې داخیال مه کوئی چه د چا په مقابله کښې چه مونږ ګواهي ورکوو هغه امیر دے .ورته فائده رسول پکار دی چه ورسره بې مروتي اونشي یا دا چه غریب دې نو دده څنګه نقصان او زیان اوکړو تاسو په ګواهئ ورکولوکښې دچا امیرئ غریبئ یا نفعې نقصان ته مه ګورئی څکه چه] دغه کس [چه دهغه په خلاف ګواهي ورکول راځی] ﴿ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْفَقِيْرًا فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ﴾ که امیر اوکه غریب دې نو دواړو سره داالله ﷻ زیات تعلق دې [هومره تعلق ورسره ستاسو څکه نشته چه تاسو دغه تعلق هم داالله ﷻ درکړې شوې دې او داالله ﷻ چه کوم تعلق دې هغه ستاسو ورکړې شوې نه دې بیا هرکله چه دسره دقوی تعلق نه الله ﷻ دهغوی ښیګړه په دې کښې ایښے ده چه په ګواهئ کښې دے حقه خبره اوکړې شی اګر چه په وختي طور ورته نقصان هم اورسی نوتاسو سره دکمزوری تعلق نه په خپلے ګواهئ کښې دے هغوی دعارضی ښیګړې ولے خیال لرئی] نوتاسو [په دې ګمراهئ کښې] ﴿ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ﴾ دنفس خواهش پسے مه ځئی چه دحق نه واوړئی ﴿ وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا ﴾ اوکه تاسو پیچلې بیان اوکړئی [یعنی غلطه ګواهي ورکړئی] یا ترې ډډه اوکړئی [یعنی ګواهئ ورکولو نه ځان اوساتئی] نو [یاد لرئی چه] ﴿ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا ﴾ بیشکه الله ﷻ ستاسو دټولو عملونو پوره خبر لری.

معارف اومسائل

په دُنیاکښې دانبیاؤ ﷺ اوآسمانی کتابونورالیږلو اصل مقصدعدل اوانصاف قائیمول دی اوهم په دې سره دُنیا امن قایم پاتې کیدې شی:: دَسُورت نساء په دې آیت کښې، ټولو مسلمانانو ته په عدل اوانصاف باندې دَټینګ پاتې کیدواوپه رشتیاد ګواهئ ورکولو هدایت ورکړې شوې دې، اوکوم څیزونه چه دَعدل په قائیمیدو یادَرشتیاؤ په ګواهئ کښې بندیز کیدې شی هغه په ډیر مؤثرانداز کښې لرې کړې شویدې، دَدې مضمون یو آیت په سُورت مائده کښې هم راروان دې، دَدواړو مضمون څه چه، الفاظ ئې هم تقریباً یوشان دی ،اودَسُورت حَدید دآیت نه معلومیږی چه حضرت آدم علیه السلام لره دَخلیفه په ډول دَلیږلو ، بیاهغوئ نه روستودَنوروانبیاؤ[ﷺ]یوبل پسې په مخه دَخلیفګانوپه ډول دَلیږلواودَوئ سره دَډیرو کتابونواوصحیفودَنازلولو ،زیات ضروری مقصد هم داووچه په دُنیا کښې انصاف اودَدې په ذریعه امن اوامان قائیم وی، هریوانسان دَخپل خپل اختیارپه دائره کې انصاف لره خپله خاصه نخښه جوړه کړی، اوکوم سرکش خلق چه دَوعظ ونصیحت اودَتعلیم او تبلیغ ذریعه په عدل اوانصاف ته غاړه نه اړدی په خپلې سرکشئ باندې ټینګ وی نوهغوئ لره دَ قانونی سیاست ،دَتعزیراوسزاپه ذریعه په دې مجبورکړې شی چه په انصاف دټینګ پاتې کیږی.

دَسورت حدید په پنځویشتم آیت کښې داحقیقت داسې واضح کړې شویدې:

﴿ لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ﴾ مونږ لیږلی دی خپل رسولان سره دَنشانیانواو نازل موکړوهغوئ سره کتاب اوتله، چه خلق نیغ اوسی په انصاف اومونږه نازله کړه اوسپنه، په دې کښې ډیررُعب دې اودې سره دَخلقو کارونه چلیږی-

Scanned with Ca

دې نه معلومه شوه چه دانبياؤ ﷺ دراليږلواودآسماني کتابونوټول انتظام هم دانصاف دپاره کړې شويدې، درسولانوليږل اودکتابونونازلول، ددې مقصددپاره عملي کړې شويدی، اوپه آخرکښې داوسپنې دراکوځولوذکرکولوسره، دې اړخ ته هم اشاره اوکړې شوه چه ټولوخلقودپاره په انصاف باندې دټينګ لرلوداوسپنې په زنځيرونواوپه وسلوسره به په هغوئ رعب اچولې شی هله به هغوئ انصاف ته تيارشي.

په عدل اوانصاف قائيم پاتې کيدل يواځې دحکومت فرض نۀ بلکه هرانسان په دې مکلف دې دسورت حديد دغه ذکرشوې آيت، دسورت نساء دې آيت اوداشان دسورت مائده دې آيت ﴿كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاۗءَ لِلّٰهِ وَلَوْ عَلٰٓي اَنْفُسِكُمْ اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ ۚ اِنْ يَّكُنْ غَنِيًّا اَوْ فَقِيْرًا فَاللّٰهُ اَوْلٰى بِهِمَا ۣ فَلَا تَتَّبِعُوا الْهَوٰٓى اَنْ تَعْدِلُوْا ۚ وَاِنْ تَلْوٗٓا اَوْ تُعْرِضُوْا فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرًا﴾ سره په واضح ډول داهدايت ورکړې شويدې چه انصاف قائيمول اوپه دې ټينګ پاتې کيدل يواځې دحکومت اودعدالت فرض نۀ دی بلکه هرانسان ددې مکلف اومخاطب دې چه هغه پخپله په انصاف باندې ټينګ پاتې کيږی اونورولره هم په دې باندې د ټينګ لرلودپاره کوشش کوی- البته دانصاف صرف يوه درجه، حکومت اوحاکمانوسره مخصوص ده، هغه داچه کله ورانکاری اوسرکش انسانان دانصاف په خلاف شی، نۀ پخپله په انصاف قائيم اوسی اونۀ نورڅوک عدل اوانصاف کولوته پريږدی نودحاکمانه تعزيراوسزاضرورت دې، ښکاره خبره ده چه داعدل اوانصاف حکومت قائيمولې شی چاسره چه اقتداراوطاقت په لاس کښې دې-

دنن زمانې جاهل عوام خوپريږدئ ليکونکی ويونکې تعليميافته خلق هم داګڼړی چه انصاف کول صرف دحکومت اوعدالت ذمه واری ده، عوام ددې ذمه وارنۀ دی اوهم داد ټولونه لويه وجه ده چه هرملک اوهرحکومت کښې ئې عوام اوحکومت لره خپل منځ کښې دوه مخالفې ډلې جوړې کړی دی دحاکم اومحکوم ترمنځه ئې دخلاف اواختلاف غټ غټ بندونه جوړ کړی دی، دهرملک عوام، دخپل خپل حکومت نه دعدل اوانصاف غوښتنه کوی ليکن پخپله په څه انصاف باندې قايم اوسيدوته نۀ تياريږی، هم ددې نتيجه ده چه خلق ئې په خپلوسترګوسره وينی، قانون په تپه ولاړدې، جرمونه ورځ په ورځ ترقی کوی، په هرملک کښې قانون سازې اسمبلئ جوړې شوی دی، په هغې کروړونه روپئ خرڅ کيږی، دې دپاره نمائيندګانو چونړ کولو دپاره دخدائې ټوله زمکه اوښوزی، اودپوره ملک دزړۀ اودماغ په حيث دغه نمائيندګان په دې شان، ډيراحتياط سره قانون جوړوی چه دملک ضروريات اودخلقوجذبات اواحساسات ددوئ مخې ته وی، اوبيادرائې عامه دپاره ئې شائع کوې، چه دغه رائې عامه معلومه شی نوبيادغه قانون دجاری کولوجوګه ګڼرلې شی چه وردپاره دحکومت بيشميره مشينری په حرکت کښې راشی چه زرګونه، بلکه لکونه څانګې لرې، په هره څانګه کښې دملک دلويولويوتجربه کارومحنتونه په کارراوستې شی، ليکن ددې چليدونکورسمونو ددنيانه چه لږ شان پورته نظرواچولې شی، داشان دهغه کسانودرړوند تقليد کولوددائرې نه په بهروتوسره چه په حقيقت څان خبرکړې شی کوم چه دتهذيب تيکيداران منلې شويدی نوهرڅوک به بې اختياره په دې ونيلومجبورشی چې:

نگاہ خلق میں دنیا کی رونق بڑھتی جاتی ہے
مری نظروں میں پھیکا رنگ محفل ہوجاتا ہے

دخلقوپه نظرکښې ددنيارونق په مخه زياتيږی: خوزماپه نظرکښې دمحفل رنګ په مخه کميږی

Scanned with Ca

داوس نه سل كاله وړاندې سنه ۱۸۵۷ ء پورې مقابله اوكړئ [دې باره كښې شمير ،شميره محفوظ ده] نو هغه به ګواهي وركړي چه څومره څومره قانون سازئ ترقي كړيده، په قانون كښې دعوامو دمرضئ نمائش ترقي اوكړه، دقانون جاري كولو دپاره مشينري زياته شوه، دېو قسم پوليس په ځائې مختلف قسمه پوليس جوړ كړې شو، نوورځ تروړځې هومره جرمونه زيات شو اوخلق دانصاف نه په مخه وتل او هم دې رفتارسره په دنيا كښې بدامني په مخه زياته شوه-

دټول جهان دامن ضمانت يواځې دآخرت عقيده اودالله تعالى ويره وركولې شي دَسمې لارې څوك بنده داسې نشته چه په غږيدلو ستر ګواو كوري اودَدې چالورسمونو بند يزونولره ماتولونه پس لړشان دَرسول عربي ﷺ په راوړلى پيغام كښې سوچ فكر اوكړي اوپه دې حقيقت غور اوكړي چه دَدُنيا دامن وامان ضمانت صرف دآخرت عقيده اودالله تعالى ويره وركولې شي چه دَهغې په ذريعه ټولې ذمه دارئ دَحاكم اورعيت اودَعوامو اوحكومت ترمنځه شريكې شي اوهرڅوك خپلې ذمه دارئ محسوس كول شروع كړي، يواځې په دې وئيلو باندې دَقانون داحترام نه غاړه نشي خلاصولې چه داكار دَحاكمانو دې-دَقرآن كريم دغه ذكرشوي آيتونه دانصاف اوعدل دَقائيمولو په سلسله كښې هم دَدې انقلابي عقيدې په بنودنې باندې ختم كړې شوي دي-

دَسُورت نساء دَدې آيت په ختميدو باندې ﴿فَإِنَّ اللّٰهَ كَانَ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيْرًا﴾ اوفرمائيلې شو اودَسُورت مائده دآيت په آخر كښې اول دتقوى هدايت اوفرمائيلې شو اوبيائې اوفرمائيل: ﴿إِنَّ اللّٰهَ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ﴾ اودَسُورهٔ حديد دآيت په آخر كښې ﴿إِنَّ اللّٰهَ لَقَوِيٌّ عَزِيْزٌ﴾ اوفرمائيلې شو-په دې درې واړو آيتونو كښې حاكمانو اوعوامو دواړو ته په عدل اوانصاف دَقايم پاتې كيدو اوقايم لرلو دَهدايا تو وركولو نه پس دآيتونو په ختميدو باندې دَټولو نظرونه دې حقيقت ته رااړولې شوي دي چه دَانسان په ژوند اوده په خيالاتو اوجذباتو كښې لوئې انقلاب پيدا كوي، چه هغه دالله تعالى دقوت اوسلطنت اوده په وړاندې حاضري حساب، كتاب وركول، اودَجزاء سزا تصور دې .داهغه څيز دې چه داوس نه سل كاله وړاندې ،نالوستې [ناخوانده] دنيا ته ئې دَنن په نسبت ډيرزيات امن اوآرام وربخښلې وو، اوداهغه څيز دې چه دَدې نه دَمخ اړولو په وجه ترقي موندونكې ،آسمان سره خبرې كوونكې، سيارې الوځوونكې دُنيا دامن اوآرام نه بې نصيبه ده-

دنوې رڼا دنيا دې واوري چه دَسائينس دې حيرانوونكو ترقو په ذريعه خودوئ آسمان ته ختلې شي، په سمندرونو رننوتې شي ليكن دَدې ټولو سامانونو اوكارخانو اصلي مقصد امن وامان آرام او اطمينان خونهٔ دوئ ته په يوسياره كښې په ګتوورتلې شي، نهٔ ئې چرته په نوى ايجاد كښې پيدا كيدې شي، كه داموندې شي نودپيغمبر عربي، روحي فداه ﷺ په پيغام اودَدوئ په تعليماتو كښې دَخدائې تعالى په منلو كښې، اوداآخرت په حساب، كتاب باندې په عقيده ساتلو كښې موندې شي لكه فرمائ: ﴿أَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ﴾ دَسائنس حيرانوونكي انكشافات ،ورځ په ورځ دالله تعالى كامل قدرت اودَهغه بې مثاله كاريګرى په مخه هم دغه شان زياتوى وچه دهغې په وړاندې هره انساني ترقي دَخپلې عاجزئ كمزورئ اوپاتې راتلو اقرار كوي مګر-

چه سود چون دل دانا وچشم بينا نيست

فائده څه شوه هركله چه زړهٔ پوهيدونكې اوستركې بينانهٔ وي-

يواځې ته خو قرآن كريم دَدُنيا دَټول نظام منشاء ،دعدل اوانصاف قائيمول اوښودل اوبل اړخ ته ئې ددې يوداسې عجيب اوناآشنا انتظام اوفرمائيلو كه دَدې په پُوره نظام باندې عمل

Scanned with Ca

درآمد او کړي شي نو داويني څکونکې اوبد کاره دنيا به په يوې داسې نيکې معاشره کښې بدله شي چه د آخرت د جنت نه ورانده به دادنيا يو حاضر او موجود جنت جوړ شي، چنانچه د قرآني ارشاد: ﴿وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتٰنِ﴾ يو تفسير دا هم دې چه الله تعالى نه ويريدونکو ته به دوه جنتونه حاصليږي، يو په آخرت کښې او بل به په دنيا کښې موجود جنت اوليدې شي، دا يواځې فرضيات او وهمونه نه دي ځکه چه د دې پيغام راوړونکي رسول الله ﷺ د دې عملي صورت مونږ ته پرېښې دې، - او وروسته خلفائې راشدينو او دسنت تابعدارو بادشاهانو چه هر کله په هغې عمل او کړو، نو دا فرضي مثال حقيقت جوړ شو او خلقو په خپلو سترګو اوليدل چه چيلۍ [بزې] او زمري به په يو ګودر په يو ځائې اوبه څکلې، د غريب، امير او د پنکې د خاوندانو تر منځه بيلتون بيخي ختم شو، هر چا به د خپلو کورونو په بندو کمرو کښې هم د شپې په تيرو [تاريکئيو] کښې هم د قانون احترام کولو، دا يواځې افسانه نه ده، بلکه تاريخي حقيقتونه دي چه اقرارئې غير مسلمو هم کړې دې او هر هغه غير مسلم هم د دې په منلو باندې مجبوره شو چه د بې خيرې زړه خاوندوو-

د آيت د مضمون نه پس په تفصيل سره د دې تفسير او ګورئ-

په دې آيت کښې ﴿كُوْنُوْا قَوّٰمِيْنَ بِالْقِسْطِ﴾ او فرمائيلې شو د ﴿قِسْطِ﴾ په زير د قاف سره معنې عدل او انصاف ده، د عدل او انصاف حقيقت دا دې چه د هر حقدار حق پوره په پوره ادا کړې شي، د دې په عموم کښې دا داخل دي چه د الله تعالى حقوق هم پوره په پوره ادا کړې شي او ټول انساني حقوق هم د، ، قيام بالقسط، ، مطلب دا دې چه هيڅوک په چا باندې ظلم اونکړي او دا هم چه ظالم د ظلم نه بند کړې شي، د مظلوم مرسته او کړې شي، که ظالم لره د ظلم نه بندولو او د مظلوم حق د ظالم نه اغستو د پاره د ګواهۍ ضرورت پيښ شي نو ګواهۍ کولو نه د غاړه نشي رغړولې او په ګواهۍ کښې د حق او حقيقت ښکاره کړې شي، خواه هغه د چا په فائده کښې وي، يا د چا په نقصان کښې، د دې مطلب دا هم دې چه د حاکمانو په وړاندې هر کله چه مقدمې پيش شي نو هغوئ دې د دواړو فريقو سره د برابرۍ سلوک کوي يو طرفته د په هيڅ شان تول نۀ درنوي، د ګواهانو بيان د په غور سره آوري، د معاملې تحقيق د په خپل پوره کوشش سره سرته رسوي او بيا د فيصله کښې پوره په پوره دې د عدل او انصاف نه کار اخلي-

په عدل او انصاف قائمولو کښې خنډ جوړېدونکي اسباب: د سورت نساء او سورت مائده د دواړو آيتونو مضمون تقريباً يو شان دې، فرق پکښې صرف دومره دې چه د عدل او انصاف په لاره کښې بنديز جوړيدونکي دوه څيزونه کيدې شي يو د چا مينه محبت، خپلولي يا دوستي او بل چا سره کينه او دشمني. د ړومبي څيز تقاضا د ګواه په زړه کښې دا وي چه ګواهي د هغه په حق کښې ورکړي چه د زيان تاوان نه محفوظ پاتې شي يا ورته فائده او نفع اورسي، او د جج او د قاضي په زړه کښې د دې تقاضا کيدې شي چه فيصله د هغه په حق کښې ورکړي، او بل څيز عداوت او دښمني ده چې د هغه تقاضا دا وي چه ګواه د هغه په خلاف ګواهي ورکړي او د قاضي او جج دا ړخه ئې تقاضا اکيدې شي چه د دۀ په خلاف فيصله صادره کړي، غرض دا چه دا دواړه قسمه څيزونه انسان لره د عدل او انصاف د لارې نه په بله خوا اړولو سره هغه لره په زور ظلم کولو کښې اخته کولې شي، ځکه د سورت نساء او سورت مائده په دې دواړو آيتونو کښې د غه دواړه بنديزونه لرې کړې شوې دي لکه ارشاد دې: ﴿اَوِ الْوَالِدَيْنِ وَالْاَقْرَبِيْنَ﴾ يعنې که ستاسو ګواهي د خپل مور پلار يا تر دې خپلوانو په خلاف هم پريوځي نو بيا هم په حق خبرې کولو او په رشتيا ګواهۍ ورکولو کښې د د غه تعلق او تړون لحاظ مه

Scanned with Ca

کړی: او دَسُورت مائده په آیت کښې دویم قسم بندیز داسې لرې شوې دې لکه فرمائی چې: ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَنْ تَعْتَدُوا ۘ وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ﴾ چه یو قوم سره کینه او دُشمنی د په تاسو باندې دَدې باعث جوړ نشی چه دَعدل او انصاف لاړ پرېږدئ او دهغوی په خلاف گواهی یا فیصله ورکړئ۔

دَدواړو آیتونو په عنوان او تعبیر کښې هم لږ شان فرق دې، دَسُورتِ نساء په آیت کښې ئې ﴿كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ﴾ او دَسُورت مائده په آیت کښې ئې:

﴿قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ شُهَدَاءَ لِلَّهِ﴾ او فرمائیل ، یعنی په اول آیت مبارك کښې کښې دَدوو څیزونو هدایت دې . ﴿قِيَامٍ بِالْقِسْطِ﴾ او دویم: ﴿شهادت لله﴾ او دا شان په دویم آیت مبارك کښې هم دوه څیزونه مامور به دی مگر عنوان یې بدل کړو یعنی قیام لله او شهادت بالقسط

اکثر مفسرین په دې باره کښې فرمائ چه دادواړه څیزونه په اصل کښې دَیو حقیقت تعبیرونه دی یو خل ئې په ﴿قِيَامٍ بِالْقِسْطِ﴾ سره او بل ځائې په ﴿شهادت الله﴾ سره تعبیر اوکړو. دَدې دواړو آیتونو په طرز بیان کښې داخبره په خاص شان سره دَنظر کولو جوگه ده چه دَ ﴿كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ﴾ یا دَ ﴿قَوَّامِينَ لِلَّهِ﴾ اوږده جُملَه اختیار کړې شوه حالانکه دَعدل وانصاف حُکم یواځې په لفظ اقسطوا سره هم ورکولې کیدې شو دَدې اوږدې جُملې په اختیارولو کښې دې اړخ ته اشاره کول منظوردی چه په ناڅاپی ډول، په یوه معامله کښې عدل وانصاف کولو سره ذمه داری نۀ پوره کیږی ځکه چه په څه ناڅه معامله کښې انصاف کیدل خو داسې یو طبعی کار دې چه خراب نه خراب او ظالم نه ظالم هر یو حاکم ئې کولې شی یعنی کله خو انصاف کولې شی، په دې جُملَه کښې ﴿قَوَّامِينَ﴾ فرمائیلو سره ئې دا اوښودل چه په عدل وانصاف باندې ، همیشه هر وخت په هر حال کښې او هر دوست، دُشمن دَپاره قایم او سیدل ضروری دی۔

بیا دې دواړو آیتونو کښې ټولې دُنیالره په عدل وانصاف باندې دَقایم اوسیدو او قایم لرلو دَپاره چه کوم زرین اصول اختیار کړې شویدی دا یواځې دَقرآن کریم خصوصیت دې ـــــ په دې کښې یو ډیر ضروری څیز خو دادې چه عوام او حاکمان ټول، دَالله تعالی دَغالب قوت او دَجزدورځې دَحساب نه ویرولې شوی او دې دَپاره تیار کړې شویدې چه عوام دپخپله هم دَقانون احترام اوکړی او دَقانون جاری کوونکی حاکمان دهم الله تعالی او آخرت خپلې مخې ته لری، دَمخلوقِ خُدا خادمان دجوړشی او قانون د په دې شَان جاری کوی چه دَخلقو خدمت او دَدنیا دَاصلاح ذریعه د جوړه کړی، دَخلقو په پریشانو کښې دَزیاتوالې نۀ راولی د قانون د خدمت او دَدنیا دَاصلاح ذریعه دَ جوړه کړی مظلوم دې دد دَفتر په چکرونو لگولو کښې نۀ راگیروی، چه ظلم دَپاسه دَبل ظلم سبب ئې جوړ کړی، دَخپلو ذلیلو خواهشاتو پوره کولو دَپاره د په پیسو ټکو خرڅ نۀ کړی ځکه ئې:

﴿قَوَّامِينَ لِلَّهِ﴾ یا ﴿شُهَدَاءَ لِلَّهِ﴾ او فرمائیل او په دا شان ئې حاکمانو او عوامو ته د للهیت او دعمل دَاخلاص بلنه ورکړه۔

بل بنیادی څیز دادې چه دَعدل وانصاف قایمولو ذمه واری دَهر یو انسان گرځولې شویده په سُورت نساء او سُورت مائده کښې دَدې ذمه داری په ټول مسلمان اُمت ځکه اچولې شویده چه په ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ سره ورته خطاب شویدې او په سُورت حدید کښې په ټولو انسانانو ځکه اچولې شویده ځکه هلته داسې فرمائیلې شویدی: ﴿لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۖ﴾ دَسُورتِ نساء په آیت کښې: ﴿وَلَوْ

عَلٰٓى اَنۡفُسِكُمۡ﴾ فرمائیلوسره ئې دې اړخ ته هدایت فرمائیلې دې چه دانصاف غوښتنه د یواځې دَنورونه نۀ وي، بلکه دَخپل ځان نه دهم وي، دَخپل ځان خلاف که دَڅه بیان څه خبرې ښکاره کولو ضرورت پېښ شي نوهم ددَحق اوانصاف خلاف څه خبره یاحرکت نۀ کوی اګرچه ددې نقصان دَهغه په ځان راځي، ولې چه دانقصان ډیرلږ اوعارضي دې، که په دروغوئیلوسره ئې ځان دغه وخت بچ کړونودَقیامت سخت عذاب ئې ځان دَپاره واغستو۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ
اې هغه کسانو
ائې د ايمان خاوندانو

اٰمَنُوۡۤا	اٰمِنُوۡا	بِاللّٰهِ	وَرَسُوۡلِهٖ	وَالۡكِتٰبِ الَّذِىۡ	نَزَّلَ
چی ایمان موراوړي دي	ایمان راوړئ	په الله	اودهغه په رسول[1]	اوپه کتاب هغه باندي	چی نازل کړي دي الله
په الله ﷻ [په ربښتیا او په اخلاص سره] ایمان راوړئ | اودهغه په رسول هم او په هغه کتاب چې					

عَلٰى رَسُوۡلِهٖ	وَالۡكِتٰبِ الَّذِىۡۤ	اَنۡزَلَ	مِنۡ قَبۡلُ ؕ
په رسول خپل باندي	او په هغه کتاب باندې	چی په یوځل نازل کړي دي الله	مخکښې
پخپل رسول ئي نازل کړي دي | اوپه هغه کتابونو چي ددې نه وړاندې نازل شوې دی			

وَمَنۡ	يَّكۡفُرۡ	بِاللّٰهِ	وَمَلٰٓئِكَتِهٖ	وَكُتُبِهٖ
او هغه څوک	چی انکار ئي اوکړو	دالله نه	اودفرښتو دهغه نه	او دکتابونو دهغه نه
اوچا چي دالله ﷻ [دوحدانیت] نه ....اودالله ﷻ د فرشتونه ....او دکتابونونه				

وَرُسُلِهٖ	وَالۡيَوۡمِ الۡاٰخِرِ	فَقَدۡ	ضَلَّ	ضَلٰلًاۢ	بَعِيۡدًا ۝
اودرسولانو دهغه نه	اودورځ دآخرت نه	نو په تحقیق سره	گمراهه شو	په گمراهئ	لرې سره
او دالله ﷻ دپیغمبرانو نه او دآخرت نه انکار اوکړو | نوهغه په گمراهئ کښې ډیرلرې لاړې					

[1]) **مسلمان چې ایماندار دي هغه ته دایمان راوړلو مطلب:-** ایمان والوته حکم کیږی چه ایمان کښې پوره پوره داخل شئ: ټول احکام ، ټول شریعت لره دایمان جزئیات اومنئ: دا خیال دې ستاسونه وی چه دا خو تحصیل حاصل دې نه. بلکه تکمیل کامل دې چه ایمان مو راوړې دې نو اوس په دې قائم اوسئ: که الله تعالی منئ نو څنګه چه هغه تاسوته وائی نوهغه شان ئې اومنئ: هم دا مطلب دې دهر مسلمان ددې دعا چه مونږ ته د صراط مستقیم هدایت اوکړه. یعنی مونږ په هدایت لره ثابت قدم او مدام اوساته په دې کښې مونږ مضبوط کړه او مونږ ته په کښې زیاتوالې راکړه. داشان دلته هم مومنانو ته په خپل ذات اقدس او په رسول الله ﷺ باندې دایمان راوړلو وائی. او آیت مبارك کښې ایماندارو ته خطاب دې او فرمائی چه دالله تعالی نه ویریږئ او په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړئ.

د نزل او انزل مصداق:- د ړومبی کتاب نه مراد قران پاك دې. او ددې نه مخکښې کتاب نه مراد ټول نبیانو باندې چه کوم کتابونه نازل شوی دی .هغه دی. د قران دپاره لفظ (نزل) استعمال شوې دې. او د نورو کتابونودپاره (انزل) ، ځکه چه قران پاك په مزه مزه وخت په وخت لږ لږ نازل شو او باقی پوره یو ځل باندې نازل شوی دی.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا

بیشکه هغه کسان | چې ایمان ئي راوړوا | بیا ئې | کفر اوکړوا | بیاني ایمان راوړوا | بیا ئې کفر اوکړو

بیشکه چا چې ایمان راوړو | بیامنکر شوا | بیا ئي ایمان راوړوا او بیا منکر شو

ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ

بیا زیات شول | په کفر کښې | نهٔ دې | الله | چې اوبښي | هغوئ | اونهٔ دې چې | اوښائ هغوئي ته

او بیا ئې په انکار کولو کښې زیاتې اوکړوا نو الله به هغوئ هیڅ کله اونه بښي | اونه به هغوئ ته

سَبِيْلًا ﴿۱۳۷﴾

نیغه لار |

سمه لار اوښائي

آسان ترجمه قرآن: اې د ایمان خاوندانو ! په الله باندې ایمان راوړئ او د الله په رسول باندې، او په هغه کتاب باندې کوم چه الله په خپل رسول باندې نازل کړې دې او په هر هغه کتاب چه دده نه ئې مخکښې نازل کړې وو، او څوک چه د الله نه د هغه د فرښتو نه، د هغه د کتابونو نه، او د هغه د پیغمبرانو نه، او د ورځې د آخرت نه انکار وکړي نو هغه په ګمراهئ کښې ډېر لرې لاړو کومو خلقو چه ایمان راوړو او بیا ئې کفر وکړو، بیا ئې ایمان راوړو او بیا ئې کفر وکړو، بیا په کفر کښې زیات شو الله به نه دوی ته بخنه وکړي او نه به دوی سمې لارې ته راولي.

د آیتونو ربط: پورته زیاته حصه د احکام فرعیه باره کښې ذکرشوې ده، او دې سره سره څه لږ ډېر بحث د ایمان او کفرباره کښې هم شوې دې. او ددې په ضمن کښې د مخالفینو سره د معاملاتو ذکر هم شوې دې. وړاندې دا بحثونه ډېر په تفصیل سره بیان شوی دی. اود سورت تر ختمیدو پورې بیان شوی دی. د بیان په ترتیب کښې اول ددې خبرې ذکر دې چې شریعت کښې ایمان معتبر دې. بیا د کافرانو د مختلفو فرقو مذمت په عقائدو او اعمالو کښې شوې دې.

خلاصه تفسیر

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا ﴾ ائې دایمان خاوندانو [چه په اجمالي ایمان راوړلو سره دمومنانو په ډله کښې شامل شوی دی] ﴿ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ﴾ تاسو [دضروری عقیدو تفصیل واورئی چه] عقیده لرئی الله ﷻ [دذات او صفتونو دهغه] سره اودهغه رسول [یعنی دمحمد ﷺ د رسالت] سره ﴿وَالْكِتٰبِ الَّذِيْ نَزَّلَ عَلٰى رَسُوْلِهٖ﴾ اودهغه کتاب [په حق کیدو] سره چه هغه [یعنی الله ﷻ] په خپل رسول ﷺ [یعنی محمد ﷺ] باندې نازل کړو﴿ وَالْكِتٰبِ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنْ قَبْلُ ﴾ اودهغه کتابونو [په حق کیدو] سره [هم] کوم چه [درسول ﷺ نه مخکښې په نورو پغمبرانو] نازل شوی دی [اوپه رسول ﷺ او پخوانو کتابونو باندې ایمان راوړلو کښې په فرښتو نورو ټولو پیغمبرانو اوپه قیامت باندې ایمان راوړل هم داخل شو] ﴿ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ﴾ اوڅوک چه دالله ﷻ [د ذات یا صفاتو] انکار کوی او [داشان څوک چه] دهغه دفرښتو [انکار کوی] او [داشان څوک چه] دهغه دکتابونو [انکار کوی چه قرآن پاک هم په کښې

راغلو] او [داشان څوك چه] د ورځې د قيامت [انكار كوي] ﴿فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًا بَعِيْدًا﴾ نو دغه كس په ګمراهئ كښې ډير لرې پريوتلو.
﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ اٰمَنُوْا﴾ بيشكه كوم خلق چه [ړومبے خو] مسلمانان شو بيا كافر شو بيا مسلمانان شو[چه دا خل هم په اسلام باندې كلك پاتې نه شو ورنه ړومبے خل مرتد كيدل به يئ معاف شوي وو بلكه] ﴿ثُمَّ كَفَرُوْا ثُمَّ ازْدَادُوْا كُفْرًا﴾ بيا كافر شوا و بيا په كفر كښې په مخه زياتيدل [يعنې ترمرګه پورې په كفر پاخه اوهميشه دپاره پاتې شو] ﴿لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا﴾ الله ﷻ به داسې كسان هيچرې او نه بخښي اونه به دوي ته [دمنزل مقصود يعنې دجنت] لار ښائي [ځكه چه بخښنےاوجنت دپاره تر مرګه پورې مومن پاتې كيدل شرط دی].

معارف اومسائل

ضروري فائدې: ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ثُمَّ كَفَرُوْا﴾ نه مُرادمُنافقان دي اوځنې وائ چه داآيت دَيهوديانوپه شان كښې دې، چه اول ئې ايمان راوړواوبيادَځخې[ګيلكې] په عبادت كولوسره كافران شو، بياپه توبې كولوسره مؤمنان شُواوبيادحضرت عيسى ؑ نه په مُنكريدوسره كافرشو بياوروسې دَ رسول الله ﷺ دَپيغمبرئ نه په انكاركولوسره ئې په كُفركښې نوره هم ترقى اوكړه[روح المعانى](١)

قوله تعالى: ﴿لَّمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ سَبِيْلًا﴾ دَدې آيت مطلب دادې چه بيابياكُفرته دَراګرځيدوپه وجه به دَدوئ دَحق توفيق اُوشوكولې او ختم كړې شول، اوپه آئنده كښې به ورته دَتوبې كولو او ايمان راوړلوموقعه دَسره نۀ نصيب كيږي، ورنه كوم قانون چه دَقرآن كريم اودَسنت دَقطعى نصونونه ثابت دې هغه دادې چه په سچه توبې كولوسره دهرقسم كافر يامُرتدكړې ګُناه معاف كيږي، كه داخلق هم توبه اوكړي نودمعافئ قانون خلاص دې-

بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا
ازيرې وركړه منافقانو ته | چې بيشكه دې | دهغوئ دپاره | عذاب | دردناك |
اوښائى | دې منافقانو ته خبرور كړه چې د دوئ دپاره دردناک عذاب مقرر دې |

الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اَيَبْتَغُوْنَ
هغه منافقان چې نيسى | كافران | دوستان | سوا د مومنانو نه | ايا طلبوى دوئ
هغه كسان چې د مسلمانانو نه سوا كافران دوستان جوړوى | .... ايا دوئ د كافرانو نه

عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا وَقَدْ
ددې كافرانو سره | عزت | نو بيشكه | عزت | خاص الله لره دې | ټول | اوبه تحقيق سره |
عزت غواړى | ....نو بيشكه هرقسم عزت دالله ﷻ سره دې | او يقينا

نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِى الْكِتٰبِ اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ
نازل كړې دې | په تاسو باندې | په دې كتاب كښې | دا حكم | چې كله | واورئ تاسو | آيتونه دالله
الله تعالى په تا باندې كتاب [قرآن] كښې دا حكم نازل كړې دې | چې كله واورئ چې د الله ﷻ آيتونو

(١) روح المعانى تحت هٰذه لآية: ج ٢، ص ٢٦٩

Scanned with Ca

يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ

چې انکار کولې شي | د هغې نه | اوتوقې کيږي | په هغې پورې | نومهٔ کښينئ تاسو | دهغوئ سره

نه انکار کولې شي |........ او ور پورې توقې کولې شي | ....نوهغوئ سره مه کينئ

حَتّٰى يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهٖٓ ۚ إِنَّكُمْ

تردې پورې | چې مشغول شي هغوئ | په داسې خبره کښې | چې بدله وی دهغې نه | بيشکه تاسو

ترڅوچې هغوئ په بله خبره کښې مشغول نشي | که تاسو داسې اوکړو [يعنې په قرآن پورې د توقو کولو

إِذًا مِّثْلُهُمْ ۗ إِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ الْمُنٰفِقِينَ

په دغه وخت کښې پشان دهغوئ يئ | بيشکه الله | يوځائې جمع کونکې دې | منافقانولره

باوجود هم په هغه مجلس کښې ناست پاتې ئې] نو دهغوئ په شان به شئ | بيشکه الله ﷻ به منافقان

وَالْكٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ۝١٤٠ الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ

او کافرانو لره | په دوزخ کښې | ټول | هغه منافقان | چې انتظار کوی |

اوکافران ټول په دوزخ کښې راجمع کړی | دوئ ستاسو په باره کښې د [په تاسو د بدو] حالاتو انتظار کوی

بِكُمْ ۚ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ قَالُوٓا أَلَمْ نَكُنْ

په باره ستاسو کښې | نوکه چرې وه | تاسولره | فتح | دطرفه دالله نه | نو وائې | آيا نهٔ وو مونږ |

.........که تاسو ته الله ﷻ [په دشمن] کاميابی درکړی | نو دوئ به [تاسو] ته وائې چې آيا مونږ

مَّعَكُمْ ۖ وَإِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِينَ نَصِيبٌ ۙ قَالُوٓا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ

تاسو سره | اوکه چرې وی | کافرانو لره | څه حصه | نو وايئ | آيا مونږ قادرنهٔ وو په جنګ کولو

تاسو سره ملګری نه وو څه؟ | اوکه کافر غالب شي | نو [هغوی ته] وائې آيا مونږ په تاسو غالب کيدونکی نه وو

عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِينَ ۗ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ

ستاسو خلاف | او بيا بچ کړئ مونږ تاسو | دمومنانو نه | نو الله | به فيصله کوی |

اوبيا مونږ تاسو دمسلمانانو نه بچ کړئ | او الله ﷻ به د قيامت په ورځ ستاسو په مينځ کښې فيصله کوی

بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ۗ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِينَ

په منځ ستاسو کښې | په ورځ دقيامت | اوهرګز نهٔ ده | ګرځولې الله | دپاره دکافرانو |

.... | اوهچرې به الله ﷻ کافرانو ته د مسلمانانو په مقابله کښې ....

عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا ۝١٤١ ع

په مومنانو باندې | لاره دغلبې |

کښې غلبه ورنکړی |

آسان ترجمه قرآن: منافقانو ته دا خوشخبرې ورکړه چه دوی دپاره يو دردناک عذاب تيار دې هغه منافقان چه د مسلمانانو په ځائې کافرو لره دوستان جوړوي آيا دوی د هغوی سره عزت لټوي؟ حال دا چه

Scanned with Ca

عزت ټول په ټوله دالله دي او هغه په کتاب کښې تاسو ته دا حکم نازل کړي دي چه کله تاسو دالله آيتونه واورئ چه دې نه انکار کيږي او دې پسې ټوقې کيږي نو داسې خلقو سره تر هغه وخت پورې مه کينئ تر څو چه دوی په بله خبره کښې مشغوله شوي نه وي، ګنې تاسو به هم ددوی پشان شئ يقين وکړئ چه الله کافرو لره او منافقانو ټولو لره په جهنم کښې يوځائې کوونکې دې (اې مسلمانانو!) داهغه خلق دي چه ستاسو (د انجام) انتظار کښې وي نو که تاسو ته د الله د طرف نه فتح ملاؤ شي نو (تاسوته) وائي چه "آيا مونږ تاسو سره نه وو؟" او که کافرو لره (فتح) نصيب شي نو (هغوی ته) وائي چه مونږ تاسو په قابو کښې نه وئ راوستي؟ او آيا (ددې باوجود) مونږ تاسو لره د مسلمانانو نه بچ کړي نه وئ؟" پس الله به د قيامت په ورځ ستاسو او د هغوي په مينځ کښې فيصله وکړي. او الله به کافرو لره په مسلمانانو د زورور کيدو لار هرګز پرې نږدي.

خلاصه تفسير

﴿بَشِّرِ الْمُنٰفِقِيْنَ بِاَنَّ لَهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا﴾ منافقانو ته زيرے واوروئی ددې خبرے چه هغوی دپاره [په آخرت کښې] لويه دردناکه سزا [تجويز کړې شويده] ﴿الَّذِيْنَ يَتَّخِذُوْنَ الْكٰفِرِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ﴾ دچا چه دا حالت دې چې [عقائد خوئے داهل ايمان نه لرل مګر شان ئے هم داهل ايمان پشان اونه شولرلے چنانچه] کافرانو لره دوستان جوړوی دمسلمانانو په پريښودو سره ﴿اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ﴾ آيا دهغوی خواته [په ورتلو کښې دوی] عزت موندل غواړی نو [ښه پوهه شئ چه] ﴿فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا﴾ عزت خو ټول دالله ﷻ په قبضه کښې دي.

[چا ته ئے چه هغه ورکول غواړی ورکوی ئے که الله ﷻ دوی ته اوهغه خلقو ته عزت ورنکړی دچا خواته په بيا بيا تګ راتګ کولو چه دوی ورسره دوستی کوی نو چرته نه به دوی عزت مند جوړ شی؟] ﴿وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ﴾ او [اې مسلمانانو تاسو دمنافق پشان کفاروسره خصوصيت مه لرئ خاص کرپه هغه وخت کښې چه هغوی دکفرياتو يادګيرنه کوی. چنانچه ددې مدنی سورت نه مخکښې هم] الله ﷻ تاسو ته دا فرمان [په مکي سورت انعام کښې] رالیږلے دے [چه دهغې حاصل دادې] ﴿اَنْ اِذَا سَمِعْتُمْ اٰيٰتِ اللّٰهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَاُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوْا مَعَهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖٓ﴾ چه کله [په څه ډله کښې] الهی احکامو سره ټوقے اوکفر کيدل واورئ نودغه خلقو سره مه کښينئ تر څو چه هغوی څه بله خبره شروع نکړی [اودا مضمون ددې آيت ﴿واذا رايت الذين يخوضون الخ﴾ حاصل دې. نو دا ټوقې کوونکی دمکے مکرمے مشرکان وو په مدينه منوره کښې يهودو په ښکاره اومنافقانو يواځے دغريبانانو اوکمزورو مسلمانانو په مخامخ نو ځنګه چه هلته دمشرکانو په مجلس کښې کښيناستل په دغسې وخت کښې بندوو دلته ديهودو او منافقانو په دغسې مجلس کښې دکښيناستو نه بنديز اومنع ده. اودا بنديز په دې وجه کوئ ﴿اِنَّكُمْ اِذًا مِّثْلُهُمْ﴾ چه په دې حالت کښې به تاسو هم [په ګناه کښې] دهغوی پشان شئ [اګر چه ددواړو په نوعيت کښې به فرق وی چه يوه ګناه دکفر ده اوبله د فاسقئ ده اودا بنديز دکفارو اومنافقانو دواړوو په مجلسونو کښې د کښناستو نه برابر دې. ځکه چه علت ئے کفر دخبرو يادګيرنه ده چه هم کفر نه پيدا کيږی اوپه دې کښې دواړه برابر دی نودکفر کښې ورننوتل يعنی دکفر په سزا دجهنم په خشاک جوړيدو کښې به هم دواړه برابر وی ځکه] ﴿اِنَّ اللّٰهَ جَامِعُ

Scanned with Ca

الْمُنٰفِقِيْنَ وَالْكٰفِرِيْنَ فِيْ جَهَنَّمَ جَمِيْعًا ﴾ يقينى طور الله ﷻ به منافقان او كافران ټول په دوزخ كښې جمع كړي.

[او] ﴿ الَّذِيْنَ يَتَرَبَّصُوْنَ بِكُمْ ﴾ دغه [منافقان] داسې دى چه په تاسو باندې د پټ اومصيبت پريوتلو په انتظار كښې اوسيږى [يعنى ددې آرزو لرى] ﴿فَاِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِّنَ اللّٰهِ﴾ بيا [ددوى انتظار نه پس] كه ستاسو فتح دالله ﷻ له طرفه اوشوه نو [تاسو راځئ اوداسې] ﴿ قَالُوْۤا اَلَمْ نَكُنْ مَّعَكُمْ ﴾ خبرے جوړى وى چه آيا مونږ تاسو سره [په جهاد كښې شريك] نه وو [اوكه كافرانو ته [دغلبے] ﴿ وَاِنْ كَانَ لِلْكٰفِرِيْنَ نَصِيْبٌ ﴾ څه برخه په لاس ورغله [يعنى ناڅاپى غالب راغلل] نو [دهغوى خواته لاړشى اوداسې] خبرے جوړوى ﴿ قَالُوْۤا اَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ چه آيا مونږ په تاسو باندې غالب كيدلو ته نزدے نه وو [مګر مونږ په قصد سره ستاسو د غالب راوستلو په غرض دمسلمانانو مدداونكړو اوداسې چل مو اوكړو چه دجنګ نقشه بدله شوه] او آيا مونږ [هركله چه تاسو ماتے خوړوته نزدې وئ] تاسو لره دمسلمانانو نه اونه ساتلئ [په دې سے شان چه دهغوى امداد مو اونكړو اوپه چل ول[چم چم] سره مودجنګ مخه بل خوا واړوله مطلب دا ووچه تاسو زمونږ ښيګړه او احسان اومنئ او څه چه تاسو ته په لاس درغلى دى مونږ ته هم دهغې نه څه برخه راكړئ غرض دا چه دواړه غاړې اوس وهل غواړى] نو [اګر چه دوى په دنيا كښې داسلام ښكاره كولو په بركت سره دمسلمانانو پشان ژوند تيروى ليكن] ﴿ فَاللّٰهُ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ ﴾ الله ﷻ به ستاسو اوددوى [ترمينځه] په قيامت كښې [عملى] فيصله كوى ﴿ وَلَنْ يَّجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكٰفِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا ﴾ او [پدغه فيصله كښې به] هيچرې الله ﷻ كافرانو لره دمسلمانانوپه مقابله كښې غالب نكړى [بلكه كفار به دمجرمانوپه حيثيت دوزخ ته ځى اومسلمانان به داهل حق ثابتيدو په وجه جنت ته ځى اوعملى فيصله هم داده].

معارف اومسائل

په وړومبى آيت كښې، مُنافقانودپاره، دَدردناک عذاب خبرورکړې شويدې، داسې غمناک خبرته زيرې وئيل دې اړخ ته اشاره د چه هرانسان په خپل راتلونكى ژوند كښې دزيرى آؤريدوپه انتظار كښې وى، خوهركله چه مُنافقانولره، دَدې نه سوا، بل هيڅ خبره آؤريدودپاره نشته، ځكه ئې هم دې ته دزيرى خبراوفرمائيلو-

عزت، بواځې دالله تعالى نه غوښتل پكاردى: په دويم آيت كښې كفاراومشركانوسره دَدوستانه تعلقاتو ساتلواوورسره دَخوړ پوست اوسيدونه منع راغلې ده اوداسې كوونكو دپاره دركه ذكر شويده اوورسره ورسره په دې مرض كښې دَاختـه كيدواصل منشا اوسبب ئې بيان كړاووې ښودل چه داكارعبث اوبيهوده دې لكه فرماى: ﴿اَيَبْتَغُوْنَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَاِنَّ الْعِزَّةَ لِلّٰهِ جَمِيْعًا﴾ يعنى مشركينو كفاروسره دَدوستانه تعلقاتوساتلواوورسره دَراشه درشه كولوغرض، عموماً داوى چه دَدوئ ظاهرى عزت، قوت اودلې نه دَاثرقبلولوپه وجه، داخيال كولې شى چه دوئ سره دوستى اوساتلې شى، نومونږ به هم دَدوئ نه عزت اوقوت بيا پيدا كړو، الله تعالى دَدې بيهوده خيال حقيقت داسې په ډاګه كړوچه تاسودَهغه چاپه ذريعه عزت مُوندل غواړئ چالره چه پخپله هم عزت نشته، هغه عزت چه معنى ئې قوت اوغلبه ده، صرف دَالله تعالى دپاره مخصوص دې اوپه مخلُوق كښې چه څوک هم غلبه اوقوت بيا پيدا كړى هغه ټولـه دَالله تعالى وركړه وى، نوداڅومره بې

Scanned with Ca

عقلي شوه چه عزت حاصلولو دپاره، دَاصل عزت مالک اوعزت ورکوونکي خوناراض کړي شي اودَهغه دَدُشمنانو په ذريعه دَعزتِ حاصلولو کوشش اوکړي شي-

هم دامضمون په سُورت مُنافقون کښې سره دَزياتوالي داشان راغلې دې،

﴿وَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُوْلِهٖ وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلٰكِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾ عزت خو يواځې الله تعالى لره دې اودَهغه رسول الله ﷺ دپاره اودَمسلمانانو دپاره ليکن منافقان داګُر [راز] نهٔ پيژني-

په دې کښې الله تعالى سره، دَرسول الله اودَمؤمنانو په زياتولو سره داهم اوښودلې شوچه دَعزت اصل مالک يواځې الله تعالى دې چه هغه اوغواړي نو چاته دَعزت څه برخه ورکولې شي، هرکله چه دَالله تعالى رسول اوپه دوئ باندې ايمان راوړونکي دَالله تعالى په نزد محبوب اومقبول دي، ځکه ورته عزت اوغلبه ورکولې شي، دکفاراومشرکانو، پخپله هم عزت په برخه نهٔ دې، نو دَدوئ په تعلق سره، بل چاته به څه عزت حاصل شي؟ هم ددې کبله حضرت عمر ؓ فرمائيلي دي:

﴿ من اعتزبالعبيد اذله الله﴾ (١) څوک چه دَمخلُوقاتو اوبندګانو په ذريعه، عزت حاصلول غواړي نو الله يې ذليله کوي-

دَحاکم په مُستدرک کښې دی چه حضرت فاروق اعظم ؓ دَشام يوعامل [ګورنر] ته اوفرمائيل: [کنتم اقل الناس واذل الناس فکثرکم بالاسلام وکنتم اذل الناس فاعزکم الله بالاسلام مهما تطلبوا العزة بغيرالله يذلکم [مستدرك] (٢) [اې اباعبيده] تاسو په شمير کښې دَټولونه کم اودَټولونه زيات کمزوري وئ تاسو ته خالص دَاسلام په وجه عزت اودبدبه درکړې شويده نوښه پوهـ شئ که تاسو دَاسلام نه سوا دَبل چاپه ذريعه عزت حاصلول غواړئ نو الله تعالى به تاسو لره ذليله کړي-

ابوبکر جصاص، په احکام القرآن کښې فرمائيلي دي چه دَذکرشوې آيت نه مراد دادې چه د کفارو اوبدکاروسره دَدوستئ کولو په ذريعه عزت مهٔ لټوئ، البته دَمسلمانانو په ذريعه ئې حاصلولو نه منع نهٔ ده راغلې، ولې چه دَسُورت مُنافقون دې آيت داخبره په ډاګه کړې ده چه الله تعالى خپل رسول اومؤمنانو ته عزت وربخښلې دې [جصاص] (٣)-

دلته که دَعزت نه مراد هميشه قايم اوباقي پاتې کيدونکې دَآخرت عزت وی نو بيا خو داخبره په ډاګه ده چه په دنيا کښې دَالله تعالى، دَرسول اومؤمنانو دَې سره مخصوص کيدل واضح دی، ولې چه دَآخرت عزت، چاکافراومشرک ته بيخي نشي حاصليدې اوکه دې نه مراد دَدُنيا عزت واغستې شي نو دَعارضي دوراوناځاپي راتلونکو پيښونه سوا، دَانجام په لحاظ سره په آخرکښې دغه عزت اوغلبه موندل يواځې دَاسلام اومسلمانانو حق دې، ترڅوچه مسلمان په صحيح ډول مسلمان پاتې کيږی، نودنيا په غريدلو سترګو اوليدل اوبيا په آخره زمانه کښې هرکله چه د حضرت عيسى ؑ په امامت اوقيادت کښې مسلمانان په صحيح اسلام باندې قايم شي نو بيابه غلبه هم دَدوئ وی، په درميانه عارضي دورکښې هرکله چه دوئ دَايمان کمزورئ اوپه ګناهونو کښې دَاخته کيدو په وجه کمزوري ښکاری نو داورسره بې جوړه اوبې سمونه نهٔ دی-

---

١) أحكام القرآن للجصاص، سورة النساء، باب استتابة المرتد: ج٥، ص ۲۳
٢) مستدرک للحاکم، کتاب معرفة الصحابة رضى الله عنهم، باب ومن مناقب أمير المؤمنين عمر بن الخطاب رضى الله عنه رقم الحديث: ۴۴۵۵
٣) أحكام القرآن للجصاص، سورة النساء، باب استتابة المرتد: ج٥، ص ۲۳

Scanned with Ca

آيت ﴿قَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتٰبِ﴾ کښې او قرآن کريم کښې دَسُورة انعام دَ يو بل داسې آيت په حوالې ور کولو سره [چه دَهجرت نه وړاندې په مکه مکرمه کښې نازل شويدې] دا ښودلې شويدي چه مونږ خو دَانساني اصلاح دَپاره هم دَرومبې نه دا حکم ليږلې وو چه دکفارو او فاجرانو په مجلس کښې هم مهٔ کښينئ او تعجب دادې چه دا غافل خلق دَدې نه هم په مخه ورتير شول چه دوئ سره ئې دوستې کول شروع کړل او دوئ لره ئې دَعزت او قوت مالکان اوګڼړل-

دَسُورت نساء دَ ذکرشوي آيت او دَسُورت انعام دَهغه آيت، چه حواله ئې په سُورت نساء کښې ور کړې شويده، مشترک مفهوم دادې چه که په يو مجلس کښې څه خلق دَالله تعالى دَآيتونو انکار، يا په هغې پورې خندا کوي نو تر څو چه هغوئ په دې بيهوده شُغل کښې اخته وي دَهغوئ په مجلس کښې کښيناستل او يکښې شريکيدل هم حرام دي، بيا دَسُورتِ انعام، دَآيت په الفاظو کښې څه تعميم او زيات تفصيل دې ولې چه دَهغې الفاظ دادي:

﴿وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ فِيْٓ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ۭ وَاِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ﴾ کله چه تاسو او ګورئ هغه خلق چه جګړه کوي زمونږ په آيتونو کښې نو هغوئ نه ډډه کوئ تر دې چه هغوئ مشغول شي په بل څه خبره کښې او که هير کړي تاسو نه شيطان نو مهٔ کښينئ دَ ياد يدو نه پس ظالمانو سره

په دې کښې دَالله تعالى په آيتونو کښې جګړه کول ذکر شويدي چه کُفر او تهوقې کول هم پکښې داخل دي او دَآيتونو په هغه معنو کښې بدلون راوستل چه دَرسول الله ﷺ او صحابه کرامو ﷺ دَ تفسير نه يا دَاجماعِ اُمت نه خلاف وي، دا هم پکښې شامل دي، چنانچه دَحضرت عبدالله بن عباس نه دَضحاک په روايت منقول دي چه دَدې آيت په مفهوم کښې هغوئ خلق هم داخل دي چه دَقرآن کريم غلط تفسير کوي، دې کښې بدلُون راولي، يا بدعتونه تر راؤباسي دَهغوئ الفاظ دادي:

﴿دخل في هذه الاية كل محدث في الدين وكل مبتدع الى يوم القيامة [مظهري ص/ ۲۶۳، ج/۲]﴾

په خپلې رائې سره دَتفسير کوونکو په مجلس کښې شريکيدل ناروادي: دې نه معلومه شوه چه څوک دَقرآن کريم په درس يا تفسير کښې دَپخوانو بزرګانو [سلفو صالحينو] دَتفسير پابند نهٔ وي، بلکه دَهغوئ نه خلاف معنې بيانوي لکه بريليان، شيعه ګان، قاديانان، پرويزيان او نور ملحدان شو نو دَهغوئ په درس او تفسير کښې شريکيدل په نص دَقرآن کريم سره ناجائز او دَثواب په ځائې دګناه کار دې- په تفسير بحر محيط کښې ابوحيان فرمائيلي دي چه ددې آيتونو نه دا هم معلومه شوه چه کومه خبره په ژبه وئيل ګناه وي هغه په اختيار سره، په غوږونو آوريدل هم ګناه وي او په دې ئې دا شعر نقل کړيدې:

وسمعك صن عن سماع القبيح　　　كصون اللسان عن النطق به

اخپل غوږونه دَناکاره خبرو آوريدو نه بچ کوئ څنګه چه ژبه دَناکاره خبرو وئيلو نه ساتئ[۱]

[۱] تفسير البحر المحيط تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۲۹۷

دَسُورت انعام په آیت کښې دویمه خبره دا زیاتی ده چه که څه وخت، په هیره یا بې خبرۍ سره څوک بندَه په داسې مجلس کښې شریک شی او بیائې خیال په ځائې شو نو سمدستی دَهغه مجلس نه وتل پکار دی او دغلته ناست [یا موجود او شریک] اِدَ نهٔ پاتې کیږی-

دَسُورت نساء او سُورتِ انعام په دواړو آیتونو کښې دا فرمائیلې شویدی چه ترڅو، دغه خلق په دغه بیهوده خبرو کښې اختهَ وی تر هغې پورې دَهغوئ په مجلس کښې کیناستل یا ناست پاتې کیدل حرام دی. دَدې مسئلې بل اړخ دادې چه هرکله دغه خلق، دغه قسم خبرې ختمې کړی او نورې خبرې شروع کړی نو دغه وخت ورسره کښیناستل او شریکیدل په مجلس کښې روادی او که نه. جواب دادې چه قرآن کریم دا په ډاګه نهٔ دی بیان کړی، ځکه پکښې دَعلماؤ اختلاف دې، ځنې وائی چه دَدغې بندیز لګولو علت او باعث دَالله تعالی دَآیتونو سپکاوې کول او دَهغې بدلول وو- هرکله چه دا ختم شو نو دغه بندیز هم ختم شو- لهذا چه نورې خبرې شروع کړی نو بیا په مجلس کښې ئې کیناستل ګناه نهٔ ده، او ځنو علماؤ فرمائیلی دی چه دَداسې کافرانو، فاجرانو او ظالمانو په مجلس کښې بیا هم کیناستل درست نهٔ دی- دَحضرت حسنِ بصری هم دا ارشاد دې هغوئ دَسُورۀ انعام دَدې جُملې څخه استدلال کړې دې: ﴿فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ۝﴾ یعنی [را یادیدلو نه پس د ظالمانو سره مه کښینه او ښکاره خبره ده چې ظالم ددغه خبرې ختمولو نه پس هم ظالم دې، په دې وجه دَدوئ سره دَمجلس او ناستې پاستې کولو نه بیا هم ځان ساتل لازمی دی [جصاص] (١)

او تفسیر مظهری کښې قاضی صاحب دَدې دواړو ترمنځه جوړښت په دې شان راوستې دې چه هرکله د کُفر، توقوا په قرآن کریم کښې دَبدلون راوستو خبرې اترې که دغه خلق بندې کړی او نورې خبرې شروع کړی نو دغه وخت هم، بې ضرورته خو، دَدوئ په مجلس کښې شریکیدل حرام دی او که څه شرعی یا طبعی ضرورت راپیښ شی نو بیا روا دی (٢)-

دبدانو خلقو دمجلس نه بواځې پاتې کیدل غوره دی: امام ابوبکر جصاص رحمه الله په احکام القرآن کښې فرمائیلی دی چه دَدې آیت نه ثابت شو چه په کوم مجلس کښې چه څه ګناه کیږی نو دَ، نهی عن المنکر، دَضابطې له مخه مسلمان لره لازم دی چه دَطاقت لرلو په صورت کښې ئې په زور بندیز او کړی او دا نشی کولې بیا دې به خله بند کړی ورنه په دغې ګناه باندې دَناراضګۍ ښکاره کولو دَپاره د دَدغه ګناه نه پورته شی چه دَ، نهی عن المنکر، دَ ټولو نه کمتر صورت دې (٣). هم دغه وجه ده چه هَرکله حضرت عمر بن عبدالعزیز بعضې خلق دَدې جُرم په وجه ګرفتار کړل چه شراب ئې څکلی وو او یو داسې سړی ته ئې دوئ سره یو ځائې سزا ور کړه چه شراب ئې اګرچه څکلی نهٔ وو ولې چه دَهغه روژه وه مګر دغه مجلس کښې ورسره ناست وو [بحر محیط] (٤)-

---

(١) أحكام القرآن للجصاص، سورة النساء، باب استتابة المرتد: ج ٥، ص ١٣

(٢) تفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٢٤٣

(٣) احكام القرآن للجصاص بحواله بالا-

(٤) تفسير البحر المحيط تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٢٩٦

Scanned with Ca

تفسير ابن كثير په دې موقعه دا حديث شريف نقل كړيدې چه رسول الله ﷺ فرمائيلي دي:
[من كان يؤمن بالله واليوم الاخر فلا يجلس على مائدة يدار عليها الخمر] [ابن كثير] [1] څوک چه په الله تعالى او په ورځ دآخرت ايمان لري نو هغه لره پكاردي چه په داسې دسترخوان اوخوانچه او دعوت كښې شامل نشي چه دَشرابو دور پكښې چليږي-

پورته ذكرشوي دَدغې مجلس نه دَپورته كيدو اودَدغه مجلس دَپريښودو دَپاره شرط دادې چه دَشريعت له مخې، دَدغې مجلس په پريښودو كښې څه ګناه نهٔ لازميږي، مثلاً يوجُماعت كښې دجماعت مونځ كښې شريكيدل ضروري دي هر كله چه دغه قسم مجلس شروع شي نو دغه دِ په دې شان نه دې پريږدي چه دَجمع مونځ ترِ پاتې شي بلكه په دغسې موقعه ورديَاره په زړهٔ سره ناراضه كيدل كافي دي، دغه شان كه بل يوضروري شرعي كار په دې سره پاتې كيږي نودغه مجلس اوځائي دځكه نهٔ پريږدي چه دګناه نه دَځان خلاصولو په وجه تريله ګناه لازميږي، په دې وجه حضرت حسنِ بصري فرمائيلي دي چه دَخلقو دګناهونو كولو له كبله كه مونږ خپل يوضروري كارپريږدو نو فاسقانو، فاجرانو دَپاره به دَسنت اوشريعت ختمولو دَپاره لارهواره كړو-

خلاصه دا چې د اهل باطلو سره دمجالست او ناستې څو صورتونه دي. اول داچه ورسره كښيناستونكې هم په دغه كفرياتو راضي وي نو دا كُفر دې-دويم داچه دغه شامليدونكې فاسق ګرځي كله چه دَدغه مجلس په پريښودو كښې څه عُذر نهٔ لري، اګرچه دغه كُفريات په زړهٔ سره بداوناكاره ګڼړي، دريم داچه دغه مجلس سره ئې څه دُنيوي ضرورت تړلې وي نو داسې صورت كښې شامليدل مباح دي څلورم داچه داسې مجلس كښې شامليدل عبادت دې چه دَاحكامو دَتبليغ دَپاره هلته ورغلې وي-پنځم داچه دَمجبورئ اوبې اختيارئ په وجه پكښې شامل شي نودې به معذورګڼړلې شي-

په كُفرباندې راضي كيدل كُفردې: په آخر دآيت كښې ئې ارشاد اوفرمائيلو ﴿إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ﴾ يعني كه تاسو به بې پروايئ يا په ښهٔ زړهٔ سره په دغسې مجلس كښې شامل شوئ چه هغې كښې دَالله تعالى دَآيتونو نه انكار، وريورې ټوقې كولې شي ياپكښې بدلون راوستې شي نو تاسو هم دَهغوئ په ګناهونو كښې شريک شوئ اوهم دَهغوئ پشان شوئ، مطلب داچه كه تاسو دَدوئ كفرياتو لره خوښوئ او په هغې راضي يئ نو په حقيقت كښې تاسو هم كافران ځكه يئ چه كُفر خوښول هم كُفردې ورنه په بل صورت كښې دَدوئ پشان دكيدلو مطلب دادې چه څنګه دوئ اسلام اومسلمانانو ته نقصان وركولو پسې دي اودَدين دَدروغژن ثابتولو كوشش كوي نو تاسو هم ورسره دَخپلو شريكيدو په وجه دَدوئ امداد كوئ اومعاذالله هم دَدوئ پشان شوئ-

[1] وجامع الترمذي، أبواب الاستئذان والأدب، باب دخول الحمام: ج ۲، ص ۱۰۷

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ وَهُوَ

| بیشکه منافقان | دهوکه کوی | دالله سره | حالانکه هغه

| دامنافقان الله ﷻ سره دهوکه کوی | [حال دا چې په حقیقت کښې] دوئ لره

خَادِعُهُمْ ۚ وَإِذَا قَامُوْا إِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ

په دهوکه کښې اچونکې دي دوئ لره | اوهرکله چې | اودریږی دوئ | مانځه ته | نو اودریږی | دوئ سست [۱]

الله په دهوکه کښې غورزولی دی | .... اوکله چې مونځ ته اودریږی نو سست اودریږی

يُرَآءُوْنَ النَّاسَ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ إِلَّا قَلِيْلًا ۙ﴿۱۴۲﴾ مُّذَبْذَبِيْنَ

خودنه کوی دوئ | خلقو ته | اونۀ یادوی دوئ | الله لره | مګر | لږ | حال دا چې حیران پریشان دی

خلقو ته ځان ښائی | اوډیر کم خلق الله یادوی | دوی دکفر اواسلام په مینځ کښې دی

بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ لَآ إِلٰى هٰٓؤُلَآءِ وَلَآ إِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ۚ وَمَنْ

په منځ ددغه کښې | نۀ دی د دوی [مسلمانو] سره | اونۀ دی د دوی [کافرانو] سره | اوهغه څوک |

...... نه سم یوخوا دی اونه بل خوا [نه مسلمانان دی اونه کافران] | اوڅوک چې

يُّضْلِلِ اللّٰهُ فَلَنْ تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴿۱۴۳﴾ يٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ

چې بې لارې کړې هغه لره | الله | نوته هرګز نه شې موندلې | دپاره دهغه | لاره | اې هغه کسانو |

الله ﷻ بې لارې کړی | د هغوئ دپاره به ته هیڅ کله سمه لاره اونه مومی | ....انې

---

[۱] **د منافقانو د مونځ کیفیت**:- بیا ددې منافقانو د بدذوقئ بیان کیږی چه د مونځ په شان بهترین عبادت کښې هم ددوی نصیب نشته دې.ځکه چه دوی کښې نیك نیتی،حسن عمل،حقیقی ایمان،او ریښتونې یقین نشته.حضرت ابن عباس رضی الله عنه ستړی شوی بدن مونځ ادا کیدو ته مکروه وئیل او هغوئ به فرمائیل چه پکار دی چه مونځ ښه په ذوق و شوق ، او رضا او خوشحالئ او پوره رغبت ،او انتهائی توجو سره مونځ ته اودریږی او دا یقین دې ساتی چه دده آواز الله ﷻ آوری.دده طلب پوره کولو ته تیار دې.دا خو شو د هغه منافقانو ظاهری حالت چه ستړی او تنګ زړه سره هسې وخت تیرولو دپاره مونځ ته راځی .خو د دوی اندرونی حالت دادې چه د اخلاص نه په میلونو لرې دی.د دوی رب سره هیڅ تعلق نشته.ددې شهرت دپاره چه دوی ته خلق مونځګزار اووائی او د دوی ایمان ظاهرشی ، دوی مونځ په دې وجه کوی .دې خلقوته به څه ملاؤ شی چه ددوی په زړونوکښې د بتانو مینه ده ؟ همدا وجه ده چه په هغه مونځونوکښې چې په کومو کښې به دوئ یوبل کم لیدل دوئ به هغې کښې غیر حاضر وو.لکه د سحر او ماسختن مونځ کښې.

په منافقانو باندې ګران مونځ :- بخاری او مسلم کښې دی چه حضرت نبی کریم ﷺ فرمائی چه ټولو نه زیات ګران مونځ په منافقانو دماسختن او سحر دې.که دا خلق ﷺ د زړه نه ددې مونځونو د فضیلت قائل وې نو ډیر لرې نه به راتلل او ضرور به راتلل.ځما خو اراده کیږی چه تکبیر اووایم او بل څوك په خپل ځانې امامت دپاره مقررکړم او مونځ پرې شروع کړم اوڅه خلقو نه لرګی واخلم اود هغه خلقو کورونو ته لاړشم چه کوم خلق جمع کښې نه شاملیږی او لرګی ددې خلقو د کورونو نه ګیر چاپیره واچوم او حکم اوکړم چه د دوی کورونه اوسوزونی.(صحیح بخاری کتاب الأذان)

Scanned with Ca

اٰمَنُوْا	لَا تَتَّخِذُوا	الْكٰفِرِيْنَ	اَوْلِيَآءَ	مِنْ دُوْنِ	
چې ایمان موراوړی دي	مه نیسئ	کافران	دوستان	په ځائي	

دایمان خاوندانو تاسود مسلمانانو نه سوا د کافرو سره دوستانه مه کوئ |

الْمُؤْمِنِيْنَ ؕ	اَتُرِيْدُوْنَ	اَنْ تَجْعَلُوْا	لِلّٰهِ	عَلَيْكُمْ	سُلْطٰنًا	
د مومنانو	آیا تاسو غواړئ	دا خبره چې اوګرځوئ	الله لره	په خان خپل	حجت	

بلکه صرف مسلمانان سره دوستی کوئ! آیا تاسودا غواړئ چې دخپل خان خلاف د الله ﷻ

مُّبِيْنًا ۝

ښکاره |

ښکاره دلیل قائم کړئ |

آسان ترجمه قرآن: دا منافقان دالله سره دهوکه کوي حال دا چه الله دوی په دهوکه کښې اچولي دي اوکله چه دا خلق مونځ ته اودریږي نو سست پست اودریږي، خلقو ته ځان ښائي او الله لره ډیر لږ یادوی دوی د کفر او د ایمان په مینځ کښې پریشانه دي، نه پوره طریقې سره مسلمانانو سره دي او نه دي (کافرو) سره —او څوك چه الله ګمراه کړي نو تاته به د هغه په هدایت راوستو څه لار ملاوه نه شي اې د ایمان خاوندانو ! د مسلمانانو نه علاوه کافرو لره دوستان مه جوړوئ، آیا تاسو دا غواړئ چه الله دپاره خپلو ځانونو باندې (یعني د عذاب مستحق کیدو) یوصفا وجه پیدا کړئ؟

خلاصه تفسیر

﴿ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ يُخٰدِعُوْنَ اللّٰهَ ﴾ بیشکه منافقان خلق [دایمان په ښکاره کولوکښې] دهوکې کوی الله ﷻ سره [اګر چه ددوی دهوکې دالله ﷻ نه پټې نشی پاتې کیدلې اونه دوی په خپل اعتقاد کښې الله ﷻ سره دهوکه کول غواړی خوکار ئې داسې دې چې ددوی اعتقاد هم دغسې ښکاری] ﴿ وَهُوَ خَادِعُهُمْ ۚ ﴾ حالانکه الله ﷻ ددې دهوکو سزا دوی ته ورکونکې دې او [هرکله چه په زړونوکښې ئې ایمان دې نه او ددغې وجې مونځ لره فرض نه ګڼړی اونه په دې کښې دثواب عقیده لری ځکه] ﴿ وَاِذَا قَامُوْٓا اِلَى الصَّلٰوةِ قَامُوْا كُسَالٰى ۙ ﴾ کله چه مونځ ته ورپاسی نو ډیر په سستئ سره ورپاسی [ولې چه چستی خوپه اعتقاد او امید سره پیداکیږی] ﴿ يُرَآءُوْنَ النَّاسَ ﴾ صرف خلقوته [خپلو ځانونو لره مونځ ګذار] ښکاره کوی [چه مسلمانان ئې اوګڼړی] ﴿ وَلَا يَذْكُرُوْنَ اللّٰهَ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ ﴾ او [هرکله چه تش په نوم مونځ کوی ځکه پدغې مونځ کښې] دالله ﷻ ذکر [په ژبه] نه کوی مګر ډیر زیات لنډ [یعنی صرف دمونځ شکل جوړوی چه په نوم مونځ وی او عجیبه نه ده چه صرف کښیناستل پاسیدل دی ولې چه د قرات په زوره وئیلو ضرورت خو په بعضې مونځونو کښې امام ته وی او پخپله خو دوی امامان جوړیدے نشی که څوك مقتدی مونځ کښې څه وائی بلکه صرف شونډے خوځوی نو څوك ترې څه خبریدیشی.داسې بده عقیده خلق که ژبے هم نه خوځوی نوڅه لرے خبرنه ده].

﴿ مُّذَبْذَبِيْنَ بَيْنَ ذٰلِكَ ۖ ﴾ زړونده اوسی د دواړو [کفاروا و مومنانو] ترمینځه نه [پوره] ﴿ لَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ وَلَآ اِلٰى هٰٓؤُلَآءِ ؕ ﴾ دے خوا نه [پوره] اخوا [ولې چه په ښکاره خومومنان دکفارو نه بیل او په باطن

Scanned with Ca

کښې کافران د مومنانو نه بيل دی] ﴿ وَمَنْ يُضْلِلِ اللّٰهُ ﴾ اوچالره چه الله ﷻ په ګمراهئ کښې
واچوی [لکه چه دخپل عادت په جوړ هغه فعل لره پيدا کوی څوك ئے چه قصد اوکړی] ﴿ فَلَنْ
تَجِدَ لَهٗ سَبِيْلًا ﴾ دداسې کس [دمومن کيدو] دپاره به هيڅ لار بيا نه مومې [مطلب داچه ددې
منافقانو په لار باندې د راتلو اميد مه لرئ په دې کښې دمنافقانو بد بيانول دی او مومنانو ته
تسلی ورکول دی چه ددوی په ورانکار يودې څه غم نه کوی] ﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الْكٰفِرِيْنَ
اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ ائې دايمان خاوندانو تاسو د مومنانو په پريښودو سره کافرانو لره
[که منافقان وی اوکه په ښکاره کافران وی] دوستان مه جوړوئی [څنګه چه دمنافقانو خوئے
دې ولے چه تاسوته ددوی دکفراودښمنی حالت معلوم شو] ﴿ اَتُرِيْدُوْنَ اَنْ تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا
مُّبِيْنًا ﴾ آيا تاسو[دوی سره دوستی کولو له وجے]داسې غواړئی چه په خپلو ځانونو باندې
دمجرم کيدو اود عذاب دحقدار کيدو دپاره] دالله ﷻ حجت په ډاګه قائم کړئی [په ډاګه حجت
دادې چه هرکله مونږ منع کړی وئ نو بيا تاسو ولے هغسے اوکړل].

معارف اومسائل

مسئله: ﴿قَامُوْا كُسَالٰى﴾ کښې دَاعتقادی سُستئ بدی بيان شويده، صحيح اعتقادسره بدنی سستی دَدې نه خارج ده، که داسې سستی دَخوب دَغلبې يادَرنځ بيمارئ په وجه وی نودَمعذوره کيدوپه وجه ملامتياپرهم نشته اوکه دغسې څه عُذرئې نهٔ وی نودملامته کولوجوګه دې-[بيان القرآن](١).

إِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِي الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ۚ وَلَنْ
| بيشکه منافقان به وی | په درجه لاندې کښې | داور | اوهرګز به
| دايقين اوساتئ چې منافقان به ددزخ په لاندې درجه کښې پراته وی

تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا ۙ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا وَاَصْلَحُوْا
اونهٔ مومې تهٔ| دپاره دهغوئ | مددګار|مګر هغه کسان| چې توبه اوباسی| اواصلاح اوکړی دعمل خپل
اوته به هيڅوک ددوئ مددګار اونه مومې| البته څوک چې توبه اوباسی او خپله اصلاح اوکړی

وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ فَاُولٰٓئِكَ
اومنګلی ښخی کړی| په دين دالله | اوخالص کړی| دين خپل | الله لره | نودغه خلق
اودالله ﷻ دين مضبوطياسره اونيسی | اوخپل دين خالص دالله دپاره کړی| نوغه کسان

مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۭ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا ۝
مومنانو سره دی| او زر به| ورکړی| الله| مومنانوته | بدله | لويه
به مومنانوسره ملګری وی | اوزر ده چې مومنانو ته به الله ﷻ ډيرلوئې اجر ورکړی

مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ اِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ
څه کوی | الله| په عذاب ستاسو| که شکراوباسئ تاسو| اوايمان راوړئ | اودې الله
الله ﷻ تاسوته په عذاب درکولو څه کوی|خو که تاسو شکر اوباسئ اوايمان راوړئ | اوالله تعالی

(١) بيان القرآن تحت هٰذه الآية: ج٢، ص١٦٧

Scanned with Ca

شَاكِرًا	عَلِيمًا۝
قدردان	پوهه
ډیر قدردان او په هرڅه پوهه دې	

آسان ترجمه قرآن: یقین وکړئ چه منافقان به د جهنم په لاندې طبقه کښې وي، او د هغوی د پاره به څوك مددګار تاته ملاو نه شي هغه چه کوم خلق توبه وباسي او خپله اصلاح وکړي، او د الله رسۍ پاندې مضبوطې منګولې ولګوي او خپل دین د الله د پاره خالص کړي نو داسې خلق د مؤمنانو سره دي، او الله به مؤمنانو ته ضرور لوئ اجر ورکړی او که تاسو شکر ګذار جوړ شئ او (صحیح معنو کښې) ایمان راوړئ نو د الله څه کار دې چه تاسو ته عذاب درکوي؟ الله ډیر قدردان دې (او) د ټولو د حالاتو نه خبردار دې.

خلاصه تفسیر

﴿ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ فِى الدَّرْكِ الْاَسْفَلِ مِنَ النَّارِ ﴾ بیشکه منافقان به د دوزخ نه په لاندې درجه کښې ځی او [ائې مخاطبه] ﴿وَلَنْ تَجِدَ لَهُمْ نَصِيْرًا﴾ ته به هیچرې ددوی هیڅ مددګار بیا نه مومې [چه دوی لره به ددې سزانه بچ کړی شی] ﴿ اِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا ﴾ لیکن [ددوی بعضې] کوم خلق چه [دمنافقت نه] توبه کړی وی او [مسلمانانو سره ئې چه دضرر رسولو سلوك کولو دهغې] ﴿وَاَصْلَحُوْا وَاعْتَصَمُوْا بِاللّٰهِ ﴾ اصلاح اوکړی [یعنی بیا هغسې کارونه نه کوی] او [کافرو سره د پناه اخستلو په غرض چه کومه دوستی کوی هغه پریږدی] په الله تعالی باندې پوره تکیه [اوتوکل] لری ﴿وَاَخْلَصُوْا دِيْنَهُمْ لِلّٰهِ﴾ او [د ریاء په پرینبودو سره د] دخپل دین [عملونو] لره خالص د الله تعالی [درضا] دپاره په مخه کوی [غرض دا چه دخپلو عقیدو معاملاتو د باطنی اخلاقو او دخپلو عملونو دټولو درستی اوکړی] ﴿ فَاُولٰٓئِكَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴾ نودا [توبه کوونکی] خلق به [دغه] مومنانوسره [دجنت په درجاتو کښې] وی [چه د ړومبې نه کامل ایمان لری] ﴿ وَسَوْفَ يُؤْتِ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِيْنَ اَجْرًا عَظِيْمًا۝ ﴾ او [دغه] مومنانو ته به الله ﷻ [په آخرت کښې] لوئې اجر ورکوی [پس هرکله چه دا خلق به مومنانو سره وی نو دوی ته به هم لوئې اجرملاویږی او ائې منافقانو] ﴿ مَا يَفْعَلُ اللّٰهُ بِعَذَابِكُمْ﴾ الله ﷻ به تاسو ته په سزا درکولو څه کوی ﴿اِنْ شَكَرْتُمْ وَاٰمَنْتُمْ﴾ که تاسو [دهغه دنعمتونو چه په تاسو ئې دی] شکر ګزاری کوئی او [ددغه شکرګزارئ زمونږ خوښه طریقه داده چه تاسو] ایمان راوړئی [یعنی د الله ﷻ هیڅ یوکار بند نه دې پروت چه تاسو ته به په سزا درکولوسره هغه روان شی صرف ستاسو کفر چه دلوئې درجې ناشکری دنعمت ده هغه تاسوته دسزا درکولو سبب ده دکه دا پریږدئی نوبیا سراسر رحمت دې] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ شَاكِرًا عَلِيْمًا۝﴾ او الله ﷻ [خو دخدمت] ډیر قدر کوونکې [اود خدمتګارئ خلوص وغیره لره] ښه پیژندونکې دې [پس څوك چه فرمانبردار او اخلاص کوونکې پاتې کیږی هغه ته ډیر هرڅه ورکوی].

....

Scanned with

معارف او مسائل

قوله تعالى: ﴿وَأَخْلَصُوا دِينَهُمْ لِلَّهِ﴾ د دې آيت نه معلومه شوه چه د الله تعالى په نزد ، هغه عمل مقبُول دې چه د رياء نه پاک وى او خالص د هغه د ذات د پاره وى ، ولې چه فقهاؤ ﷺ د مُخلص دا معنىٰ بيان کړيده: [الذى يعمل لله لايحب ان يحمده الناس عليه] بحواله مظهرى[1].

مُخلص هغه څوک دې چه نيک عمل ، خالص د الله تعالى د پاره کوى او دا نۀ خوښوى چه خلق د هغه د عمل تعريف اوکړى.

[الحمد لله ! پنځمه پاره ختمه شوه]

لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ؕ

نۀ خوښوى | الله | اوچت آواز | په بده | خبره | مګر | دهغه چانه | چې ظلم پر شوې وى

الله ﷻ ته دا خوښه نه ده چې څوک په بده وينا آواز اوچت کړى | خو په چا چې زياتې شوې وى

وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ۝ اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ

او دې | الله | ښۀ اوريدونکې | ښۀ پوهه په پټ او ښکاره | که | تاسو ښکاره کوئ | نيکى | يا پټوئ هغه

او الله هرڅه آورى په هرڅه عالم دې | که تاسو په ښکاره نيکى کوئ | او که په پټه ني کوئ

اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ

يا عفوه کوئ | د بدئ نه | نو بيشکه چې الله | دې | عفوه کونکې | قدرت لرونکې | بيشکه هغه کسان

يا د خلقو بدى معاف کوئ | نو بيشکه الله ﷻ معاف کونکې په هرڅه قادر دې | څوک چې..........

يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ

چې کفر کونى د الله | او د رسولانو دهغه | او غواړى | چې بيلتون اوکړى | په منځ د الله

د الله ﷻ او دهغه د پيغمبرانو نه انکار کوى | ......او دا غواړى چې د الله تعالى او په پيغمبرانو باندې ايمان

وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ

او د رسولانو دهغه کښې | او وائى | چې مونږ ايمان راوړو | په ځينو | او منکران کيږو

راوړو کښې فرق اوکړى | او دا وائى چې په بعضو ايمان راوړو او په بعضو نۀ راوړو

بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ۝

په ځينو | او غواړى هغوئ | چې | اونيسى | په منځ د دې کفر او اسلام کښې | يوه لار [بله]

..............او دا غواړى چې د کفر او ايمان ترمينځه [بله] لار اختيار کړى

اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ

دا کسان چې دى | هم دوئ | کافران دى | په حقه سره | او تيار کړې دې مونږه | د پاره د کافرانو

هم دغه خلق يقينى کافران دى | او مونږ د کافرانو د پاره رسوا کونکې عذاب

[1]) وتفسير ابن ابي حاتم سورة البقرة، رقم الحديث: ٣٣٣

Scanned with Ca

عَذَابًا مُّهِيْنًا ۝ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ

عذاب | رسواکونکي | اوهغه کسان | چي ايمان ئې راوړي دي | په الله | او په رسولانو دهغه |

تيار کړي دي | اوچا چې په الله او دهغه په پيغمبرانو باندې ايمان راوړو

وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ

او ونه کړو فرق هغوئ | په منځ ديو کښې | ددوئ نه | نودغه کسان چې دي | زر به | ور کړي الله هغوئ ته

او د هغوی په مينځ کښې هيڅ فرق نه کوی | نو داسې خلقو ته به الله ﷻ دهغوئ

اُجُوْرَهُمْ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ۧ

اجرونه دهغوئ | اودي | الله | معاف کونکي | رحم کونکي |

اجرونه ورکړی | او الله ﷻ معاف کونکي رحم کونکي دې |

الله دا نه خوښوي چه د چا بدي په ژبه ښکاره کړې شي ، هغه که چا باندې ظلم وشي ، او الله هر څه آوري او په هر څه پوهيږي ، که چرې تاسو څه نيک کار په ښکاره کوئ يا په پټه ، يا دچا بدي معاف کړئ نو (دا غوره ده ځکه چه) الله ډير معاف کوونکې دې (اگر چه په سزا ور کولو) پوره قدرت لري. کوم خلق چه د الله نه او د رسولانو نه انکار کوي او د الله او د رسولانو په مينځ کښې فرق کول غواړي او وائي چه څه (رسولانو باندې) مونږ ايمان راوړو او د څه نه انکار کوو او (دغه شان) دا غواړي چه د (کفر او ايمان په مينځ کښې) يوه د منځ لار راوباسي .داسې خلق په صحيح معنو کښې کافر دي او کافرو د پاره مونږ د ذلت عذاب تيار کړې دې او کوم خلق چه په الله او د هغه په رسولانو باندې ايمان راوړي ، او ددوی په مينځ کښې فرق نه کوي ، نو داسې خلقو لره به الله اجر ور کوي او الله ډير معاف کوونکې دې ، ډير رحم کوونکې دې.

خلاصه تفسير

﴿ لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْجَهْرَ بِالسُّوْٓءِ مِنَ الْقَوْلِ اِلَّا مَنْ ظُلِمَ ۭ ﴾ الله ﷻ بده خبره په ژبه راوړل [هيچا دپاره] نه خوښوی سوا د مظلوم نه [چه دخپل مظلوميت په باره کښې څه کيلے شکايتونه کوی نو هغه گناه نه ده] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ سَمِيْعًا عَلِيْمًا ۝ ﴾ او الله ﷻ [دمظلوم خبره] ښه آوری [او دظالم دظلم حالت] ښه پيژنی [په دې کښې دے خبرې ته اشاره ده چه مظلوم ته هم د واقعے نه دخلاف خبرې کولو اجازت نشته اگر که داسې قسم شکايت کول رواخو دی مگر] ﴿ اِنْ تُبْدُوْا خَيْرًا اَوْ تُخْفُوْهُ اَوْ تَعْفُوْا عَنْ سُوْٓءٍ ﴾ که نيک کار په ښکاره کونی يا ئے په پټه کونی [چه په کښې معاف کول هم راځي] يا [خاصکر دچا] څه بدی معاف کړنی نو [زيات غوره دی ځکه چه] ﴿ فَاِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيْرًا ۝ ﴾ الله ﷻ [هم] لوئې معاف کوونکې دے [سره ددې چه] دپوره قدرت خاوند دے [چه دخپلو مجرمانو نه په هر شان سره بدله اخستے شی مگر بيا هم اکثر معافی ورکوی نو که تاسو هم دغسې کونی نودابه دالله داخلاقو تابعداری کول وی اوبله دا چه الله ﷻ د طرفه به هم تاسو سره دداسې معاملے کولو اميد وی]. ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ﴾ کوم خلق چه کفر کوی الله سره [لکه چه د دوی دعقيدې اود راتلونکې وينا نه صفا لازميږی] او [کفر کوی] دهغه درسولانو سره [يعنی بعضو سره خو په ډاگه ځکه چه دوی دحضرت عيسی ؑ اودرسول ﷺ دپيغمبر کيدو نه منکر وو اود ټولو سره لازمی لکه چه وړاندې بيان راروان دې] ﴿ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا

﴿ بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ﴾ اوداسې غواړی چه دالله ﷻ اودهغه درسولانو ترمینځه [دایمان راوړلو د وجې] فرق اولری او [دې خپله عقیده لره په ژبه هم] ﴿ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ ﴾ وائی چه مونږ [دپیغمبرانو نه] په بعضو خو ایمان راوړو اود بعضو نه منکر یو [ددې وینا کول اوددې عقیدې لرلو په وجه الله ﷻ سره هم کفر کول لازم شو او ټولو رسولانو سره هم ولې چه الله ﷻ اوهر رسول ﷺ ټولو رسولانو ته رسولان وئیلی دی هرکله چه دبعضو نه انکار اوشو نو الله ﷻ او نورو رسولانو لره دروغ اوګنړلې شو چه د تصدیق اوایمان خلاف خبره ده] ﴿ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ۙ ﴾ اوداسې غواړی چه مینځ ترمینځه یوه لاره تجویز کړی [راوباسی لکه دمسلمانانو پشان ئې په ټولو ایمان هم نه وی او نه دټولو نه لکه دمشرکانو انکار کوی نو] ﴿ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ ﴾ داسې خلق یقینی طورسره کافر دی [ولې چه په بعضو باندې کفر کول هم کفر دې او دایمان اوکفر ترمینځه هیڅ واسطه نشته لهذا هرکله چه په ټولو ایمان نشو نوکفر شو] ﴿ وَاَعْتَدْنَا لِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابًا مُّهِيْنًا ۝ ﴾ اوکافرانو لره مونږ سپکوونکې سزا تیاره ایښې ده [چه دغه به دوی دپاره هم وی] ﴿ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَلَمْ يُفَرِّقُوْا بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ ﴾ او څوك چه په الله ﷻ ایمان لری دهغه په ټولو رسولانو هم او د دوی نه په هیچا کښې [هم دایمان راوړلو په اعتبار سره] فرق نه کوی ﴿ اُولٰٓئِكَ سَوْفَ يُؤْتِيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ ۭ ﴾ دغې خلقو ته به الله ﷻ ضرور د دوی ثواب ورکوی او [چونکه] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ۝ ﴾ الله ﷻ لوئې دبخښنې خاوند دې [په دې وجه دایمان راوړلو نه وړاندې چه څومره ګناهونه شوی دی هغه ټول به اوبخښي او چونکه هغه] لوئې درحمت خاوند دې [ځکه به دایمان راوړلو په برکت سره د دوی نیکئی دوچند کړی او ښه ثوابونه به ورته ورکړی].

معارف او مسائل

ددې آیتونو ځنی[څخه] په اول، اودویم آیت کښې دنیانه دزورظلم ختمولو یو قانون دې مګرد عامې دنیا دقوانینو پشان نه دې چه یواځې امرانه شان لری بلکه داسې یو قانون دې چه د ویرولو اوشوق په انداز کښې خویو طرف ددې اجازت پکښې ورکړې شویدې چه مظلوم، دظالم خلاف شکایت کولې شی اوپه عدالت کښې ددې خلاف مقدمه داخلولې شی چه بعینه دعدل اوانصاف تقاضا او د جرمونو د بندولو یوه ذریعه ده، لیکن دې سره یو قید هم، دسورت نحل په آیت کښې داشان ذکرشویدې: ﴿ وَاِنْ عَاقَبْتُمْ فَعَاقِبُوْا بِمِثْلِ مَا عُوْقِبْتُمْ بِهٖ ۭ وَلَىِٕنْ صَبَرْتُمْ لَهُوَ خَيْرٌ لِّلصّٰبِرِيْنَ ۝ ﴾ که څوک دریاندې ظلم کوی نوتاسوترِهم دهغې بدله اغستې شئ خوشرط دادې چه په بدله اغستو کښې تاسونه زیاتې اونشی ورنه تاسوبه ظالمان شئ] حاصل ئې دادې چه دظلم جواب کښې دظلم اجازت نشته بلکه ددې بدله دې هم په انصاف سره واغستې شئ، په دې کښې داهدایت هم شته چه بدله اغستل اګرچه روادی مګرصبر کول اومعاف کول ئې ډیرغوره دی.

اود ذکرشوی آیت نه داهم معلومه شوه چه که یومظلوم دظلم شکایت چاته کوی یا ورته دهغې قیصه تیروی نوداهغه غیبت نه حسابیږی کوم چه حرام دې ولې چه داموقعه پخپله ظالم ورکړیده، غرض داچه یو خوا خو قرآن کریم مظلوم ته دظلم دبدلې اغستو اجازت ورکړو، اوبل اړخ ته ئې داعلی اخلاقو او د معاف کولو تعلیم ورکړو اوددې په مقابله کښې ئې دآخرت لویه

Scanned with Ca

فائده، مظلوم ته ورور اندې کړه اوهغې ئې دې ته تيار کړو چه خپل جائز حق قربان کړي او د ظلم بدل وانخلي لکه فرمائي:

﴿إِن تُبْدُوا۟ خَيْرًا أَوْ تُخْفُوهُ أَوْ تَعْفُوا۟ عَن سُوٓءٍ فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا﴾ كه تاسو په ښکاره نيکي کوئ او که په پټه، يادچا ظلم او بد کول معاف کړئ نو داغوره دي، ولې چه الله تعالى لوئ معاف کوونکې اولوئ دقدرت خاوند دې،

په دې آيت کښې اصل مقصد، ظلم معاف کولو سره تعلق لري مګر دې سره ئې په ښکاره او پټه نيکئ ذکر کولو سره دې اړخ ته اشاره اوکړه چه دامعاف کول يوه لويه نيکي ده چه څوک دې لره اختيار کړي هغه به دالله تعالى دعفو اورحمت حقدار شي،

په آخر د آيت کښې ئې: ﴿فَإِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَفُوًّا قَدِيرًا﴾ فرمائيلو سره اوښودل چه الله تعالى قادر مطلق دې، چه که اوغواړي نو سزا ورکولې شي خو سره ددې هم معاف کوونکې دې ليکن انسان چه په بدل اغستو، يقيني قدرت او طاقت هم نه لري لهذا ده لره خونورهم مناسب دادي چه معافي اوکړي اوخپه [پښه] په دغه ظلم راکاړي،

دظلم ختمولو او د معاشرې داصلاح دپاره قرآني اصولو او تربيتي اندازته اوګورئ چه برابر په برابرئي دظلم دبدلې اغستلو اجازت ورکولو سره دعدل او انصاف بهترين قانون جوړ کړو، بل اړخ ته ئې مظلوم ته داعلى اخلاقو ښودنه اوکړه اوهغه ئې معاف کولو ته تيار کړو چه لازمي نتيجه ئې داسې ده څنګه چه قرآن کريم په بل ځائ کښې بيان کړيده: ﴿فَإِذَا ٱلَّذِى بَيْنَكَ وَبَيْنَهُۥ عَدَٰوَةٌ كَأَنَّهُۥ وَلِىٌّ حَمِيمٌ﴾ يعنى ستاسو يو دښمن به هم هم ستاسو په داسې کردار سره ستاسو دوست جوړ شي!،

په عدالتي فيصلې کولو او په بدلې اغستلو سره اګر چه د ظلم بنديز خامخا کيدې شي ليکن د دواړو اړخو په زړونو کښې هغسې نه ختميدونکې اثر پريږدي چه په آئنده کښې بيا هم دجنګ جګړو باعث جوړيدې شي، ليکن کوم اخلاقي درس چه قرآن کريم ورکړو هغې سره ژورې زړې دښمنئ په دوستئ کښې بدليږي،

په دريم، څلورم او پنځم آيت کښې قرآن کريم داښکاره فيصله ورکړيده چه څوک الله تعالى لره منې مګر دهغه په رسولانو ايمان نه راوړي، ياځنې رسولان منې اوځنې نه منې، هغه دالله تعالى په نزد مؤمن نه وي بلکه په ښکاره کافر دې چه په آخرت کښې ئې دخلاصى هيڅ لاره نشته،

په اسلام باندې خلاصې اړانړه دې په بل مخالف مذهب کښې خلاصې نشي کيدې! د قرآن کريم دې ډاګيزې فيصلې، دهغه خلقو بې لارى اوکوږتلل په پوره شان ښکاره کړيدي چه دنورو مذهبونو خاوندانو سره په رواداري کښې مذهب او مذهبي عقيدو لره دنيندرې او بخشيش په ډول پيش کول غواړي او د قرآن او سنت دډاګيزو فيصلو خلاف دنورو مذهبونو خاوندانو ته داښودل غواړي چه دمسلمانانو په نزد خلاصې موندل يو اځې په اسلام اړانړه نه دې چه يهوديان او عيسايان په خپلو مذهبونو باندې دپاتې کيدو په صورت کښې هم خلاصې بيا موندې شي حالانکه دوئ دټولو پيغمبرانو ﷺ ياکم ازکم دبعضو رسولانو خومنکر دي، چه دهغوئ دکافر کيدو او جهنمي کيدو دې آيت اعلان کړيدې،

په دې کښې هيڅ شک نشته چه اسلام، غير مسلمو سره دعدل او انصاف، همدردئ، داحسان او رواداري په معامله کښې خپل مثال نه لري خو احسان او سلوک په هغه څيزونو کښې کيدې شي چه خپل حق اوملکيت ئې وي، ليکن مذهبي اصول او عقائد زمونږ ملکيت نه دى چه چاته ئې په

Scanned with Ca

ډالئ او پيښکش کښې ورکړې شو ،څنګه چه اسلام غیر مسلمو سره په رواداري او ښه سلوک کولو کښې زیات سخې دې، دغه شان دخپل سرحداتو په حفاظت کښې زیات احتیاط او سختي کوی، اسلام خوغیر مسلمو سره دهمدردئ، خیرخواهئ او بې انتها رواداری جذبه پیدا کوی، لیکن ورسره د کفر د رسمونو نه پوره شان دویزاری اعلان هم کوی مسلمانانو له دغیر مسلمونه یو بیل قوم ګرځوی او ددوئ دقومی شعائرو [خصوصی علاماتو] په پوره شان سره ساتنه هم کوی، اسلام دعبادت پشان دمسلمانانو معاشرت هم دنورونه بیل ساتل غواړی چه بیشمیره مثالونه ئې په قرآن او سنت کښې موجود دی،

که داسلام او قرآن داعقیده وې چه په هر ملت او مذهب کښې خلاصې موندلې شي نو دې لره دمذهب اسلام په تبلیغ باندې دزورور کولو هیڅ حق نه وواودې دپاره به دځان او مال قربانی ورکول اصولاً غلط او دعقل خلاف ؤ وبلکه په دې صورت کښې به درسول الله ﷺ پیغمبر کیدل او دقرآن کریم نازلیدل معاذالله بیکاره او عبث وو ،درسول الله ﷺ او دخلفائ راشدینو ﷺ ټول جهاد به بې معنی بلکه دوطن لاندې کولو دخواهش ثبوت وو [معاذالله]

په دې معامله کښې بعضې خلقوته دسورت بقره دآیت نمبر [۶۲] نه شبه شویده چه فرمائیلې ئې دی ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ چاچه ایمان راوړو ،څوک چه یهودیان شو یا نصارای شو یا صابیان شو ،په دوئ کښې چه چاهم په الله تعالی او دآخرت په ورځ ایمان راوړو او نیک عمل ئې اوکړو نودهغوئ اجر دهغوئ دپروردګار خواته محفوظ دې ،په دوئ نه خوڅه ویره شته او نه به دوئ غمګین وی [

هرکله چه په دې آیت کښې دایمانیاتو پوره تفصیل نه دې ورکړې شوې بلکه یواځې الله تعالی باندې او په ورځ دآخرت باندې دایمان راوړلو ذکر شویدې ،نو هغه څوک چې دقرآن کریم نیمګړې مطالعه کوی ،دې نه هغوئ دامطلب واغستو چه یواځې په الله تعالی او قیامت باندې ایمان راوړل ،خلاصی موندلو دپاره کافی دی ،په رسولانو باندې ایمان راوړل خلاصی موندلو دپاره شرط نه دی ،داسې کسانو دې ته خیال اونکړو چه دقرآن کریم په اصطلاح کښې په الله تعالی باندې هغه ایمان راوړل معتبر دی چه ورسره په رسولانو ﷺ هم ایمان وی ،ورنه هسې خو شیطان هم دالله تعالی دوجود او دهغه دیووالی اقرار کوی.

قرآن کریم پخپله داحقیقت په دې الفاظو کښې په ډاګه کړیدې:

﴿فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا ۖ وَّإِن تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ۖ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾

یعنی ددوئ ایمان به هله معتبر داوی چه عامو مسلمانانو پشان ایمان اختیار کړی چه پکښې الله تعالی باندې ایمان راوړلو سره ،په رسول ﷺ باندې هم ایمان راوړل لازم دی ،ورنه بیا دا وګڼړئ چه هم دغه خلق بیلتون او اختلاف پیدا کول غواړی نو الله تعالی ستاسو له ارخه دوئ لره کافی دې او هغه ډیر آوریدونکې پوهیدونکې دې [

دلته په دې آیت کښې خونورهم په ډاګه اوفرمائیلې شو چه دالله تعالی دیو رسول نه هم انکار کول ښکاره کفر دې چه دعذاب دجهنم باعث دې یعنی په الله تعالی باندې هغه ایمان راوړل معتبر دی چه ورسره په رسول هم ایمان راوړل وی که داسې نه وی نو ورته په الله تعالی باندې ایمان راوړل هم نشي وئیلې،

Scanned with Ca

په آخری آیت کښې په ایجابی ډول بیان کړې شویدی چه د آخرت خلاصې دهغه خلقو په برخه کیدېشی چه الله تعالی سره سره په ټولو رسولانو هم ایمان لری او په دې وجه رسول ﷺ فرمائیلی دی:
إن القرآنَ يُفسِّرُ بَعضُه بَعضاً(١) د قرآن کریم یوه برخه د بلې برخې تفسیر او وضاحت کوی،
پخپله د قرآن د تفسیر نه خلاف څه کار کول د چا د پاره روانه دی،

<table>
<tr><td>يَسْئَلُكَ أَهْلُ الْكِتٰبِ</td></tr>
<tr><td>|تپوس کوی ستا نه| دااهل کتاب</td></tr>
<tr><td>| ....دااهل کتاب[تن]ستانه داغواړی</td></tr>
<tr><td>أَنْ تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ فَقَدْ سَأَلُوْا</td></tr>
<tr><td>چې ته نازل کړې | په دوئ باندې |یو کتاب | د آسمان نه |نو په تحقیق سره |تپوس کړې وو دوئ</td></tr>
<tr><td>چې دوئ باندې د آسمان نه یو کتاب را نازل کړه| اوحال دادې چې دوئ</td></tr>
<tr><td>مُوْسٰٓى أَكْبَرَ مِنْ ذٰلِكَ فَقَالُوْٓا أَرِنَا اللّٰهَ جَهْرَةً</td></tr>
<tr><td>دموسی نه |ډیر لوئ | ددغه تپوس نه| نو وئیلی وو دوی| چې اوښایه مونږ ته | الله | ښکاره</td></tr>
<tr><td>دموسی ﷺ نه ددې نه لویه مطالبه کړې ووا ورته ئې وئیلی وؤ چې مونږ ته الله ﷻ ښکاره اوښایه</td></tr>
<tr><td>فَأَخَذَتْهُمُ الصّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنْ</td></tr>
<tr><td>نو اونیول دوئ لره| یو تندر د بجلۍ|په سبب د ظلم د دوئ |بیا اونیوؤ هغوئ |سخی[ګیلګی] لره | روستو</td></tr>
<tr><td>نو ددې سرکشۍ په وجه پرې تندر را پریوتو|بیا دوئ سخې[ګیلګی] معبود جوړ کړلو</td></tr>
<tr><td>مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنٰتُ فَعَفَوْنَا عَنْ ذٰلِكَ وَاٰتَيْنَا</td></tr>
<tr><td>دهغې نه |چې راغلې وې هغوئ ته |ښکاره نښې | نو معافی اوکړه مونږه | ددغې ګناه |او ورکړو مونږ</td></tr>
<tr><td>اوحال دادې چې دوئ ته ښکاره نښې راغلې وې|نو مونږ ورته دا ګناه هم معاف کړه</td></tr>
<tr><td>مُوْسٰى سُلْطٰنًا مُّبِيْنًا ۝ وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّوْرَ بِمِيْثَاقِهِمْ</td></tr>
<tr><td>موسی ته| فرمان | ښکاره | او پورته کړو مونږ | دپاسه دهغوئ | طور[غر] | د لوظ اخستلو د پاره</td></tr>
<tr><td>او موسی ﷺ ته مو ښکاره فرمان ورکړې وؤ| او مونږ ددوئ دپاسه کوه طور پورته کړوا| چې وعده ترې واخلو</td></tr>
<tr><td>وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا وَّقُلْنَا لَهُمْ</td></tr>
<tr><td>اواوئیل مونږه | هغوئ ته | چې ننوځئ | په دروازه | سجده کونکی | اواوئیل مونږه | هغوئ ته</td></tr>
<tr><td>اوؤرته مو حکم اوکړوا چې [دفلسطین ښار]دروازې ته] سرټیټې داخل شئ | اودا حکم مو ورکړې وؤ</td></tr>
<tr><td>لَا تَعْدُوْا فِي السَّبْتِ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِّيْثَاقًا غَلِيْظًا ۝</td></tr>
<tr><td>مهٔ اوړئ دحدنه| په ورځ د خالی کښې |اوواخستله مونږه| دهغوئ نه| وعده | محکمه</td></tr>
<tr><td>چې دخالی په ورځ دحدنه تجاوز مهٔ کوئ |اودا مو ترې پخه وعده اخستې وه</td></tr>
</table>

(١) عمدة القاري، كتاب التفسير، باب سورة الزمر: ج٢٨، ص ١٤٣

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن: (اې پیغمبره!) اهل کتاب چه تا نه (کومه) مطالبه کوي چه ته په دوی باندې د آسمان نه کتاب نازل کړه نو (دا څه نوې خبره نه ده، ځکه چه) دې خلقو خو د موسیٰ علیه السلام نه ددې نه هم لویه مطالبه کړې وه نو دوی (موسیٰ علیه السلام ته) وئیلي وو چه مونږ ته الله په ښکاره لوستر کو باندې وښایه نو ددوی د سر کشۍ د وجې نه دوی لره تندر نیولي وو، بیا دوی ته چه کله صفا صفا نښې راغلې، هغې نه وروستو هم دوی سخي لره په خدایتوب نیولې وو. په دې باندې هم مونږ دوی لره معاف کړل او مونږ موسیٰ علیه السلام ته واضحه اقتدار ورکړو او مونږ په دوی باندې کوه طور اوچتولو سره دوی نه وعده اغستې وه. او مونږ دوی ته وئیلي وو چه (د ښار د دروازې نه) سر ښکته کړئ او داخل شئ او دوئ ته مو وئیلي وو چه تاسو دخالۍ دور ځې په باره کښې د حد نه مه اوړئ او مونږ دوی نه ډیره پخه وعده اغستې وه.

دآیتونو ربط: ددې څخه مخکښې آیتونو کښې یې د یهودیانو د غلطو عقیدو ذکر اوفرمائیلو او ورسره یې ددې مذمت هم ذکر کړو. په دې آیتونو کښې هم دهغوئ د خرابو حرکتونو لوئې تفصیل بیانیږي، او ورسره د هغوئ دقباحتونو په وجه د هغوئ د عذاب او سزا ذکر هم شته دې. او دا سلسله تر لرې پورې جاري ده.

خلاصه تفسیر

[اې محمد ﷺ] ﴿ يَسْئَلُكَ أَهْلُ الْكِتَٰبِ أَن تُنَزِّلَ عَلَيْهِمْ كِتَٰبًا مِّنَ السَّمَآءِ ﴾ تاسو نه [یهود] دا درخواست کوی چه تاسو ددوی خواته یو خاص لیکلے شوې کتاب د آسمان نه راوغواړئ نو [تاسو ددغې خلقو نه دې لره عجیب مه ګڼړئ ولې چه دا داس ضدی فرقه ده چه] ﴿ فَقَدْ سَأَلُوا مُوسَىٰٓ أَكْبَرَ مِن ذَٰلِكَ ﴾ دوی [یعنی هغه څوك چه ددوی نه دموسی علیه السلام په وخت کښې موجود وو هغوی] دموسی علیه السلام نه هم ددې نه هم دیوې لوئې خبرې درخواست کړې وو ﴿ فَقَالُوٓا أَرِنَا اللَّهَ جَهْرَةً ﴾ او داسې ئې وئیلی وو چه مونږ ته الله ﷻ لره په ډاګه [بې دڅه پردې] رااوښایه ﴿ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّٰعِقَةُ بِظُلْمِهِمْ ﴾ چه په دې باندې دهغوی دبے ادبئ له کبله په هغوی آسمانی تندر راپریوتو ﴿ ثُمَّ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ الْبَيِّنَٰتُ ﴾ بیا [ددې نه نور زیات هغوئ دې حرکت هم کړې دې چه] هغوی څخی[کیلګی] لره [دعبادت دپاره] تجویز کړې وو پس ددې نه چه ډیر څه دلیلونه [دحق اود باطل د پاکلو] هغوی ته رسیدلی وو [ددې دلیلونو مطلب دحضرت موسی علیه السلام معجزے دی چه دهغې نه دفرعون ترغرقیدو پورې ډیرے لیدلے شوې وې] ﴿ فَعَفَوْنَا عَن ذَٰلِكَ ﴾ بیا مونږ د دې معافی اوکړه ﴿ وَءَاتَيْنَا مُوسَىٰ سُلْطَٰنًا مُّبِينًا ﴾ اوموسی علیه السلام ته مو غټ رعب ورکړې وو [ددغې رعب زمونږ د معافئ کولو اودمهربانئ کولو هیڅ اثر په هغوی نه کیدلو]. [وَرَفَعْنَا فَوْقَهُمُ الطُّورَ بِمِيثَٰقِهِمْ] او مونږ ددې خلقو څخه [په توراة باندې د عمل کولو دپاره] د قول او لوظ اخستلو دپاره کوه طور په دوئ باندې راپورته کړو [وَقُلْنَا لَهُمُ ادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا] او مونږ دوئ ته حکم کړې وو چې په دروازه باندې په عاجزئ سره داخل شئ [وَقُلْنَا لَهُمْ لَا تَعْدُوا فِى السَّبْتِ] او مونږ هغوئ ته حکم ورکړې وو چې د خالی [هفتې] د روځې باره کښې [تاسو ته کوم حکم ملاؤ شوې دې چې په دې ورځ ښکار مه کوئی او په دې کښې دشریعت د حد څخه] تجاوز مه کوئی [وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَٰقًا غَلِيظًا] او [ددې څخه علاوه نور هم] مونږ ددوئ څخه ډیر سخت قول او لوظ واخستو

[دکوم بیان چي په وَاِذْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ کښې ذکر شوې دې ، لیکن ددومره اهتمام باوجود دې خلقو د خپلو وعدو خلاف اوکړو]

معارف او مسائل

دیهودو څه سرداران چه ددې غوښتنې په غرض د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر شو چه هغوئ ﷺ دهم هغسې لیکلې آسمانی کتاب راوړی څنګه چه حضرت موسی ﷺ راوړې وو نو هله به ایمان راوړو ، ددوئ مطلب ایمان راوړل نه وو بلکه داهسې یو شرط څه چه دخپل ضد دپاره څه بهانه اونیولې شي ، چنانچه الله تعالی ددې آیت په نازلولو سره رسول الله ﷺ لره په دې باندې خبر کړو ، په دې باندې ورته تسلي ورکول ؤ چه ددې قوم په خمبیر کښې بیغمبران ﷺ تنګول اغرلې شویدی او الله تعالی نه د بغاوت کولو هرلوئ نه لوئ حرکت نه هم مخ نه اړوی ، تردې چه ددوئ مشرانو د حضرت موسی ﷺ نه دا غوښتنه هم کړې وه چه مونږ ته دې الله تعالی په ډاګه اوښودلې شي ، ددې بې ادبئ په وجه په هغوئ آسمانی تندر راوغورځیدو او هغوئ ئې هلاک کړل ، چه په توحید ښه پوه شو ، دالله تعالی واضح دلیلونه او حجتونه ورته هم څرګند شو بیائې هم څخی [کیلګی] لره معبود جوړ کړې ؤو ، سره ددې ټولو مونږ هغوئ لره معاف کړل او دهغوئ په دغه ناکړدو موخپه راښکله ورنه شان خودا او وچه ټول کسکر شوې وې او بیخ بنیادئې ویستلې شوې وې او مونږه ، خپل پیغمبر حضرت موسی ﷺ ته غلبه ورکړه . یوه موقعه داسې هم راغلې وه چه دغه خلقو د تورات شریف د شریعت منلو نه صفا انکار کړې وو نو مونږ پرې دپاسه کوه طور زوړنده اولړلو چه شریعت به خامخا منې ګنې دې غرلاندې به چهنړی کړې شي ، مونږ ورته داهم وئیلي وو چه کله دایلیانو مې ښار په دروازه کښې ننووځئ نو دالله تعالی دفرمانبردارئ په جذبه کښې مست سر ټیټي به ډیرې عاجزئ سره ورننوځئ ، مونږ هغوئ لره دخالي په ورځ د کبانو [ماهیانو] د ښکار کولو نه منع کړې ؤوا او ورته موو ئیلی ووچه زمونږ ددې حکم منلو نه مخ مه تاووئ . په دې شان مونږ ترې مضبوط لوظ قول اغستې وو خو هغوئ د هر هر حکم خلاف ورزی اوکړله ، زمونږ لوظ قول ئې مات کړو ، نو مونږ هغوئ لره په دنیا کښې هم ذلیله کړل او په آخرت کښې هم زیاته ناکاره سزا تیرول هم ددوئ په سر پرته ده .

فَبِمَا	نَقْضِهِمْ	مِّيْثَاقَهُمْ	وَكُفْرِهِمْ	بِاٰيٰتِ	اللّٰهِ
نو په سبب د ماتولو دهغوئ		وعدې خپلې لره	اود کفر کولو دهغوئ	په ایتونو	د الله سره

آخر د دوی د بې لوظئ په وجه او د الله ﷻ د ایتونو نه د انکار کولو په وجه

وَقَتْلِهِمُ	الْاَنْۢبِيَآءَ	بِغَيْرِ حَقٍّ	وَّقَوْلِهِمْ	قُلُوْبُنَا	
اود قتلولو دهغوئ	پیغمبرانو لره	په ناحقه	او [په سبب] ددې وینا دهغوئ	اچې زړونه زمونږه	

اود پیغمبرانو په ناحقه د قتلولو په وجه او د دې وینا په وجه چې زمونږ زړونه

غُلْفٌ ؕ	بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ	عَلَيْهَا	بِكُفْرِهِمْ	فَلَا يُؤْمِنُوْنَ	
په پردو کښې پټ دی	ابلکه مهر وهلی دې الله	په هغې	په سبب د کفر دهغوئ	انو نه راوړی ایمان هغوئ	

غلافونو کښې پټ دی [څکه ایمان نه راوړو] [داسې نه ده] بلکه ددوئ د کفر په وجه پرې الله ﷻ مهر اولګولو [نو

Scanned with Ca

اِلَّا قَلِيْلًاۖ وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلٰى مَرْيَمَ بُهْتَانًا

مګر | لږ | اوپه سبب دکفرکولودهغوئ | اودوئیلودهغوئ | په مریم باندې | د بهتان

ډیروکمو خلقو په کښې ایمان راوړو | اوبیادوئ په کفر کښې مخکښې لاړل | او په بی بی مریم ئې

عَظِيْمًاۙ وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ

لوئې | او په سبب دوئیلو دهغوئ | چې بیشکه وژلې دې مونږه | مسیح | عیسی | ځوئ

لوئې بهتان اولګولو | اوپه خپله ئې اوؤئیل چې مونږ عیسی ځوئې

مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ

دمریم | رسول د الله | حالانکه نهٔ کړو | قتل هغوئ هغه لره | اونهٔ ئې په دار کړو هغه لره | لیکن

دمریم قتل کړې دې | چې هغه دالله رسول دې | اوحال دادې چې نه ئې وژلې دې | اونه ئې په دار کړې دې بلکه

شُبِّهَ لَهُمْ ۭ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا

معامله شکمنه کړې شوه | دپاره دهغوئ | اوبیشکه هغه کسان | چې اختلاف ئې کړې دې

خبره پرې ګډه وډه شوې وه | ....اوکومو کسانو چې په دې باره کښې اختلاف کړې وؤ

فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ۭ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ

په حق دعیسی کښې | خامخا په شك کښې دی | دشان دهغه نه | نشته هغوئ لره | په دې باندې | څه علم

هغوئ ټول په شک کښې اخته دی | .... د دوئ په اصل واقعه هیڅ علم نشته

اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًاۢ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ

مګر | صرف پیروی ده | د ګمان | اونهٔ کړو قتل هغوئ هغه لره | په یقین سره | بلکه پورته کړو هغه لره الله

صرف په ګمان پسې روان دی | او یقینی خبره دا ده چه هغوی عیسی قتل کړې نه وؤ | بلکه الله خان ته خیژولې دې

اِلَيْهِ ۭ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ

طرف خپل ته | او دې الله | الوئ طاقت والا | حکمت والا | او نشته | داهل کتابو نه هیڅوک

اوالله ﷻ په هرچا غالب او د حکمت خاوند دې | اوپه اهل کتابو کښې به هیڅوک پاتې نهٔ شی

اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ۚ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ

مګر | خامخا به ایمان راوړی | په هغه باندې | مخکښې | دمرګ دهغه نه | او په ورځ دقیامت

مګردهغه دمرګ نه مخکښې به پرې ایمان راوړی | ....اودقیامت په ورځ به پرې

يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا

به وی هغه | په هغوئ | ګواه |

هغه ګواهي ورکوی |

آسان ترجمه قرآن: او بیا چه دوی سره څه اوشو نو دا ځکه چه دوی وعده ماته کړې وه، اود الله د آیتونو انکار ئې کړې وو انبیاء علیهم السلام ئې په ناحقه وژلي وو، او دا ئې اووئیل چه ځمونږ په زړه باندې غلاف ختلې دې حال دا چه حقیقت دا دې چه د دوی د کفر د وجې نه الله تعالي ددوی په زړونو باندې

Scanned with Ca

مهر لګولې دې ، دې وجې نه دوی دلېږو خبرو نه سوا په هيڅ خبره ايمان نه راوړي او دا څکه چه دوی کفر اختيار کړمر. او په مريم عليها السلام بانديې ئې ډېره لويه د بهتان خبره وکړه او دا ئې اوو ئيل چه "مونږ دالله رسول عيسٰی ابن مريم لره وژلي وو" حال دا چه نه دوی عيسٰی عليه السلام لره وژلي وو او نه ئې په سولۍ کړې وو ، بلکه دوی باندې اشتباه راغلې وه او حقيقت دادې چه کومو خلقو چه د حضرت عيسٰی عليه السلام په باره کښې اختلاف کړې دې هغوی ددې په باره کښې په شك کښې دی دوی لره ګمان پسې تلو نه سوا نور څه علم نشته، او دا يقيني خبره ده چه دوی عيسٰی (عليه السلام) لره نه وو وژلي بلکه الله تعالیٰ هغه لره خپل طرف ته پورته کړې وو. او الله د لوئې قدرت او لوئې حکمت والا دې. او اهل کتابو نه داسې څوك نشته چه د مرګ نه مخکښې خوامخواه په حضرت عيسٰی عليه السلام باندې ايمان رانوړي ، او د قيامت په ورځ به هغه ددې خلقو خلاف ګواه جوړ شي.

د آيتونو ربط ددې څخه مخکښې آيتونو کښې د يهودو د شرارتونو ذکر وو ، او ددې شرارتونو په وجه په دوئ باندې د سزا او لعن طعن بيان وو. دې آيتونو کښې هم ديهوديانو د بعضو جرمونو تفصيل ذکر شوې دې. ددې په ضمن کښې د عيسی ﷺ متعلق ددوئ د غلطو خيالاتو ترديد کړې شوې دې. او دا يې واضح کړې دی چې الله ﷻ عيسی ﷺ ددوئ د ظلمونو څخه د بچ کولو د پاره آسمان ته پورته کړې دې. دا خلق دا دعوی کوی چې مونږ عيسی ﷺ قتل کړې دې او هغوئ مو په دار خيژولی دی ، دا بالکل دروغ دی ، دوئ چې کوم کس قتل کړې وو هغه عيسی ﷺ نه وو بلکه دهغوئ سره په صورت کښې يو شان يو بل کس وو ، هغه يې قتل کړو او دې خلقو دا ګڼړل چې مونږ عيسی ﷺ قتل کړو.

خلاصه تفسير

﴿فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ وَكُفْرِهِمْ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ﴾نو مونږ [ددوی دحرکتونو په وجه دلعنت، غضب ذلت شکلونو ورانولو وغيره په سزا کښې راګير کړل يعنی] ددوی دلوظ ماتولو په وجه ددوی دکفر [او انکار] په وجه دالله ﷻ په احکامو سره ﴿ وَقَتْلِهِمُ الْاَنْۢبِيَآءَ بِغَيْرِ حَقٍّ ﴾ او ددوی د وژلو په وجه انبياء [ﷺ] لره [چه د دوی په نزد هم] ناحق [وو] ﴿ وَّقَوْلِهِمْ قُلُوْبُنَا غُلْفٌ ؕ ﴾ او ددوی ددې وينا په وجه چه زمونږ زړونه [داسې] محفوظ دی [چه په کښې دمخالف مذهب يعنی اسلام اثرنشي کيدلې . لهذا په مذهب باندې مونږه ښه پاخه يو، الله ﷻ په دې رد کوی او فرمائي چه دا مضبوطوالیٔ او پوخوالیٔ نه دې] ﴿بَلْ طَبَعَ اللّٰهُ عَلَيْهَا بِكُفْرِهِمْ﴾ بلکه ددوی دکفر په وجه ددوی په زړونو باندې الله ﷻ بند تړلې دے [چه حقه خبره په کښې څه اثر نه کوی] ﴿فَلَا يُؤْمِنُوْنَ اِلَّا قَلِيْلًا﴾ نو په دوی کښې ايمان نشته دې مګر لږ شان [هرکله چه دغه لږ شان ايمان مقبول نه وو نو دوی په مخه کافر پاتې شو]﴿ وَّبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ ﴾او [مونږ دوی لره دلعنت وغيره په سزا کښې راګير کړل] ددوی [ديو خاص] کفر په وجه او [تفصيل يې دادې چه حضرت مريم ﷺ ﴿ عَلٰی مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيْمًا ﴾ باندې دډير لوئې تور پورې کولو په وجه [چه ترې نه دحضرت عيسی ﷺ دروغژن کول هم لازم رازی ولې چه حضرت عيسی ﷺ په خپلې معجزې سره دهغې صفائی په ډاګه کړې وه]. ﴿ وَّقَوْلِهِمْ اِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيْحَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ۚ ﴾او [داشان د فخر په ډول] ددوی ددې وينا په وجه چه مونږه حضرت مسيح عيسی خوئې دمريم لره چه دالله ﷻ رسول دے قتل کړو

Scanned with Ca

[ددوی دا وینا پخپله د دوی ددښمنۍ کولو دلیل دي او انبیاء علیهم السلام سره دښمنی کول کفر دي بله دا چه دعوی دکفر کول هم کفر دي] ﴿ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ ﴾ حالانکه [سره دکفر کیدو نه ددوی دغه دعوی هم غلطه ده ولې چه] دوی [یهودو] نه هغوی [حضرت عیسی علیه السلام] لره قتل کړو اونه یې په سولۍ اوخیژولو ﴿ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ ﴾ لیکن دوی [یهودو] ته اشتباه اوشوه ﴿ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ ﴾ او کوم خلق [یعنی داهل کتابونه] چه دهغوی [یعنی دحضرت عیسی علیه السلام] په باره کښې اختلاف کوی هغوی په غلط خیال کښې [اخته] دی ﴿ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ ﴾ دوی سره په دې باندې هیڅ [صحیح] دلیل [موجود] نه دې ﴿ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ﴾ سوا ددې نه چه په اټکلی خبرو باندې عمل کوی ﴿ وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ﴾ او دوی [یهودو] هغوی [حضرت عیسی علیه السلام] لره یقینی خبره ده چه قتل کړې نه دې [چه دوئ یې دعوی کوی] ﴿ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ ﴾ بلکه هغوی لره الله ﷻ خپلې خوا [یعنی آسمان] ته پورته کړو [اوبل سړې یې دهغوی په شکل اوګرځولو چه هغه په دار باندې خیژولو سره اووژلو اوهم دغه سبب شو دیهودو داشتباه چه ددې په وجه په دوی کښې اختلاف پیداشو] ﴿ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴾ اوالله ﷻ لوئې زبردست [یعنی دقدرت خاوند] دحکمت خاوند دے [چه په خپل قدرت او حکمت ئې حضرت عیسی علیه السلام اوساتلو اوپورته یې کړو اویهود پرې هیڅ خبرنه شو ولې چه ددغه سړی شکل دحضرت عیسی علیه السلام پشان وو] ﴿ وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ ﴾ او [یهودو ته به خپل دروغ اود حضرت عیسی علیه السلام دنبوت نه انکار باطلیدل ډیرزر هم په دنیاکښې ښکاره شی ولې چه دا آیت دنازلیدو راسے به په څه زمانه کښې] هیڅوك داهل کتابو [یهودو] نه [باقی پاتې نشی مګرهغوی به دحضرت عیسی علیه السلام [دنبوت] دخپل مرګ نه [ړشان] وړاندې [چه عالم برزخ ورته ښکاره شی] ضرورتصدیق کوی [اګرچه ددغه وخت تصدیق فائده مندنه دې مګردباطل ښکاره کیدوډپاره کافی دې نوددې نه خودابڼه شوه چه اوس ایمان راوړی نوفائده ورته اورسوی] ﴿ وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَكُوْنُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا ﴾ او [کله چه دنیا اوبرزخ دواړه ختم شی یعنی] دقیامت په ورځ به هغوی [حضرت عیسی علیه السلام] په دغه [منکرینو یعنی دهغوی په انکار] ګواهی ورکوی.

معارف او مسائل

دسورت آلِ عمران په آیت: ﴿ يٰعِيْسٰۤى اِنِّيْ مُتَوَفِّيْكَ وَرَافِعُكَ اِلَيَّ ﴾ کښې الله تعالی ددې خبرې په لړکښې، [چه دحضرت عیسی علیه السلام ددښمنانو [یهودو] ارادې به الله تعالی بیکاره ګرځوی او حضرت عیسی علیه السلام لره به ددوئ دزورظلم نه محفوظ ساتی] پنځه وعدې فرمائیلې وې چه تفصیل اومکمل تشریح ئې دسورهِ آلِ عمران په تفسیرکښې بیان شویده، په دغه وعدوکښې یوه وعده داهم وه چه یهودوته به دهغوئ علیه السلام د وژلو وس نشی ورکولې بلکه الله تعالی به ئې خپل خان اړخ ته پورته کوی، اوس په دې آیت کښې د یهودودشرارتونواود دروغودعوؤپه بیان کښې دالله تعالی ددغه وعدې دتکمیل اودیهودودمغالطې تفصیلی بیان اودیهودودې خبرې په مکمل شان ردکول دی چه ګنی دوئ حضرت عیسی علیه السلام لره وژلې دې،

په دې آیتونوکښې واضح کړې شوچه: ﴿ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ ﴾ دې خلقوحضرت عیسی علیه السلام لره نه خو وژلې دې اونه ئې په دار خیژولې دې، بلکه صورت داشوچه معامله په دوئ مشتبه کړې شوه]

Scanned with Ca

یهودونه دغه اشتباه په څه شان راپېښه شوه؟ ﴿ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ﴾ په تفسیر کښې، دتفسیر امام حضرت ضحاک رحمه الله فرمائیلي دي، چه خبره داسې وه چه هرکله، یهودو دحضرت عیسی علیه السلام دوژلو اراده اوکړه نودهغوئ علیهم السلام حواریان یوځائ راغونډشوچه حضرت عیسی علیه السلام هم ورله راغي، ابلیس د یهودو هغه دستې ته ددې خبرورکړوچه دحضرت عیسی علیه السلام وژلوته تیارولاړ وو، څلورو زرو کسانو دغه مکان په ګیره کښې واغستوحضرت عیسی علیه السلام خپلوحواریانوته اوفرمائیل چه په تاسو کښې داسې څوک شته چه هغه بهرته اوځي او اووژلي شي، اوبیاجنت کښې ماسره وي، یوکس، ځان دې دپاره پیش کړو، هغوئ علیه السلام ورته خپله کرته اوپګړئ ورکړه، بیادغه کس دهغوئ علیه السلام پشان کړې شو، چه په راووتو نو یهودو بندیوان بوتلواوپه سولئ ئې اوخېژولو او حضرت عیسی علیه السلام آسمان ته اوخېژولې شو [قرطبی]

په ځنې روایاتوکښې راغلي دي چه یهودوخپل یوسړې [طیطلانوس] دحضرت عیسی علیه السلام دوژلودپاره لیګلې وو، حضرت عیسی علیه السلام خوهلته ځکه نه ووچه الله تعالی آسمان ته خېژولې وو، دغه کس چه بیرته راووتونودحضرت عیسی علیه السلام په شکل کړې شوې ؤو، یهودوپرِدحضرت عیسی علیه السلام ګمان اوکړواوهم دغه خپل سړې ئې اوژلو [مظهری]

په دې دواړوکښې چه هریوصورت راپېښ شوې وي قرآن کریم په دې دواړو کښې یوصورت نه دې ټاکلې په دې وجه د حقیقت حال علم پوازې الله ﷻ ته دې البته قرآن ددې جملې او د نورو تفسیری روایاتونو څخه قدر مشترك دا راوځي چه یهودوته په دې کښې سخته مغالطه شوې وه حقیقت حال ددوئ نه پټ پاتې شوې وو، اودخپل خپل ګمان اوقیاس په بنیادئې قسماقسم دعوې اوکړې اوپه خپل منځ کښې ئې اختلاف پیداشولکه قرآن کریم فرمائي:

﴿وَاِنَّ الَّذِیْنَ اخْتَلَفُوْا فِیْهِ لَفِیْ شَكٍّ مِّنْهُ ؕ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ ۚ وَمَا قَتَلُوْهُ یَقِیْنًا ۙ﴾ یعنی دوئ سره دصحیح علم په بنیادهیڅ یقیني خبره نشته، چاچه دحضرت عیسی علیه السلام په باره کښې اختلاف کړې دې اوقسماقسم دعوې ئې کړیدی دغه ټولې دشک اواټکل خبرې دي، دواقعې صحیح صورت دادې چه دوئ حضرت عیسی علیه السلام لره یقیناً قتل کړې نه دې بلکه الله تعالی هغوئ علیه السلام لره خپلې خواته پورته کړیدې،

په بعضې روایاتونوکښې داهم شته چه هرکله دڅه کسانوپه زړه کښې داخبره راغله چه مونږه خوهم خپل سړې ځکه اووژلوچه دوژلی شوی سړی، یواځې مخ دحضرت عیسی علیه السلام پشان وو، لیکن نوربدن ئې دهغوئ علیه السلام پشان نه وو، اوداچه که دغه وژلې حضرت عیسی علیه السلام وونوزمونږسړې چرته لاړو؟ اوکه دغه وژلې زمونږسړې وونوحضرت عیسی علیه السلام بیاڅه شو:

﴿ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِیْزًا حَكِیْمًا﴾ [الله تعالی زبردست دقدرت اودغلبې خاونددې] که یهودوپه لکونوواره دوژلومنصوبې جوړولې خوهرکله چه الله تعالی دحضرت عیسی علیه السلام دحفاظت ذمه اغستې وه نودهغه دقدرت اوغلبې مخې ته ددوئ دمنصوبوڅه حیثیت دې؟ هغه دقدرت خاوند دې، صرف ماده پرست خلق، که دحضرت عیسی علیه السلام دپورته کولوپه حقیقت پوه نشو نوداهغوئ کمزوری ده، هغه دحکمت خاوند دې، دهغه هرفعل اوهرکارپه حکمت اوښیګړه باندې بناوی،

په آخرکښې ددې مضمون دتتمې په ډول اوفرمائیلې شو: ﴿وَاِنْ مِّنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ اِلَّا لَیُؤْمِنَنَّ بِهٖ قَبْلَ مَوْتِهٖ﴾ داخلق اګرچه دبغض اوحسدله کبله داوخت دحقیقت په سترګودکتلو کوشش نه کوی اودحضرت عیسی علیه السلام په باره کښې باطل خیالات لری اوداشان دحضرت محمد ﷺ دپیغمبرئ

Scanned with Ca

نه هم انکار کوی لیکن یو وخت داسې هم راتلونکې دې چه سترګې به ئې خلاصې شي اودغه وخت به دوئ ته یقین اوشي چه دحضرت عیسی ﷺ اودمحمد ﷺ په باره کښې زمونږټول خیالات باطل وو،

ددې آیت یو تفسیر هغه دې چه دتفسیر په خلاصه کښې تیرشو هغه داسې چه په [مَوْتِهٖ] کښې ضمیر اهل کتابو ته راجع کړې شی، په دې صورت کښې دآیت مطلب به دا راوځی چه دا یهودیه دخپلو مړکیدو نه لږشان وړاندې، هرکله چه عالم برزخ لره اووینی نو دحضرت عیسی ﷺ په پیغمبرئ به ایمان راوړی، اګرچه دغه وخت به ئې دغه ایمان هیڅ فائده ورته نه رسوی ځنګه چه فرعون ته دهغه ایمان راوړلو فائده اونه شوه رسولې چه دخپلو غرقیدو په وخت ئې راوړې وو،

دویم تفسیر ئې هغه دې چه دصحابه کرامو ﷺ اوتابعینو رحمهم الله لوئ جماعت اختیار کړې دې اود صحیح حدیث نه یې هم تائید کیږی، هغه دا دې چه د [مَوْتِهٖ] ضمیر حضرت مسیح ﷺ ته راجع دې، په دې صورت کښې به دآیت مطلب داشی چه دا اهلِ کتاب اګرچه دا وخت په حضرت عیسی ﷺ باندې ایمان نه راوړی، یهود خوئې دسره نه منی، بلکه دروغژن اود ځانه خبرې جوړونکې ئې بولی اونصاری اګرچه په هغوئ باندې دایمان راوړلو دعوی لری لیکن ځنې دوئ نه خوپه خپل جهالت کښې تردې حده اورسیدل چه دیهودو په شان هغوئ ﷺ لره وژلې شوې اوسولئ کړې شوې بولی او د بعضو عقیده داده چه ورته خدائ یادخدائ ځوئ وائی، دقرآن کریم په دې آیت کښې دا ښودلې شویدی چه دا خلق اګرچه اوس دحضرت عیسی ﷺ په پیغمبرئ باندې صحیح ایمان نه لری لیکن هرکله چه هغه قیامت ته نزدې په دې زمکه باندې دآسمان نه راکوځ شی نو داټول اهلِ کتاب به پرې صحیح ایمان راوړی، نصاری خو به ټول د یو مخه، په صحیح اعتقاد سره مسلمانان شی، په یهودو کښې به مخالفت کوونکې اووژلې شی اوپاتې نور به مسلمانان شی، دغه وخت به هرقسم کفر دنیانه ختم کړې شی اوپه دې زمکه به یو اځې داسلام حکمرانی وی، چنانچه دحضرت ابی هریره ﷺ نه یو روایت داسې منقول دې:

عن ابی هریرة ﷺ عن النبی ﷺ انه قال لینزلن ابن مریم حکماعدلاً فلیقتلن الدجال ولیقتلن الخنزیرولیکسرن الصلیب وتکون السجدة واحدة لله رب العلمین، ثم قال ابوهریرة واقرا وان شئتم وان من اهلِ الکتاب الالیؤمنن به قبل موته، قال ابوهریرة قبل موت عیسی یعیدها ثلث مرات [قرطبی] (۱)

دابی هریره ﷺ په روایت رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه عیسی ځوئ دمریم به یو عادل حکمران جوړشی اوخامخا به راکوځ شی، هغه به دجال اوخنزیر لره اووژنی، صلیب به مات کړی اودغه وخت به عبادت یو اځې درب العلمین وی،

بیاحضرت ابوهریره اوفرمائیل چه که تاسو غواړئ نو دقرآن کریم داآیت هم اولولئ چه پکښې ددې حقیقت ذکرشویدې چه دا اهلِ کتابو ځخه به هیڅوک پاتې نشی مګرپه هغوئ ﷺ به د هغوئ ﷺ دمرګ نه مخکښې ایمان راوړی،

ابوهریره ﷺ اوفرمائیل چه دحضرت عیسی ﷺ دمرګ نه وړاندې درې ځل ئې دغه الفاظ بیا بیا اوفرمائیل، ددې آیت تفسیر په ډاګه دا اوپاکلې شوچه دا آیت، قیامت ته نزدې دحضرت عیسی ﷺ دنازلیدو سره تعلق لری، ولې چه دیو جلیل القدر صحابی حضرت ابوهریره ﷺ نه په صحیح روایت سره ثابت دی چه [قَبْلَ مَوْتِهٖ] نه مراد دحضرت عیسی ﷺ دمرګ نه وړاندې دې.

۱) تفسیر القرطبی تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۱۱

Scanned with Ca

ددې تفسير په بنا آيت شريف دا خبره څرګنده کړه چه حضرت عيسى عليه السلام لا تراوسه پورې وفات شوې نه دې بلکه قيامت ته نزدې به چه هر کله چه د آسمان نه راکوځ شي او ددې سره د الله تعالى ټول ترلى حکمتونه پوره شي نو بيا به هم په دې زمکه وفات شي.

ددې تائيد د سورت زخرف ددې آيت نه هم کيږي: ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِلسَّاعَةِ فَلَا تَمْتَرُنَّ بِهَا وَاتَّبِعُونِ﴾ ۴۳:۶۱ ﴾ ايعنى حضرت عيسى عليه السلام د قيامت يوه نخښه ده نو تاسو د قيامت په راتلو کښې شک مه کوئ او زما خبره اومنئ، د مفسرينو يوې لوئ ډلې دلته ليکلى دى چه د ﴿إِنَّهُ﴾ ضمير حضرت عيسى عليه السلام ته راجع دې او معنى ئې داده چه حضرت عيسى عليه السلام د قيامت يوه نخښه ده، لهذا معلومه شوه چه حضرت عيسى عليه السلام به د آسمان نه قيامت ته نزدې راکوځيږي او د هغوئ عليه السلام راتلل به د قيامت يوه نخښه هم ګرځي.

په دې آيت کښې ﴿لَعَلَمٌ﴾ قراءت هم منقول دې چه دا معنى ترې ښه په ډاګه واضحه کيږي ولې چه د ﴿عَلَمٌ﴾ په فتح د لام سره[1] معنى ئې نخښه ده، د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه تفسير هم
ددې تائيد کوى لکه فرمائي:

عن عبد الله بن عباس رضي الله عنه في قوله تعالى وانه لعلم للساعة قال خروج عيسى عليه السلام قبل يوم القيامة [يعنى د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه نه منقول دى چه دې نه مراد حضرت عيسى عليه السلام دې چه د قيامت نه وړاندې به تشريف راوړى. [ابن کثير][2]

خلاصه دا شوه چه ددې آيت [قَبْلَ مَوْتِهِ] سره هر کله چه د حضرت ابى هريرة رضي الله عنه د صحيح حديث تفسير شامل کړې شي نو دې نه ښه په ډاګه دا خبره ثابتيږي چه حضرت عيسى عليه السلام ژوندي دې، قيامت ته نزدې به د آسمان نه راکوځ شي، په يهودو به مکمله غلبه بيا پيدا کړي، د هغه شان د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه د تفسير د ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِلسَّاعَةِ﴾ نه هم دا مضمون يقيني کيږي.

د تفسير امام ابن کثير رحمه الله د آيت ﴿وَإِنَّهُ لَعِلْمٌ لِلسَّاعَةِ﴾ په تفسير کښې ليکلى دى: وقد تواترت الاحاديث عن رسول صلى الله عليه وسلم انه اخبر بنزول عيسى عليه السلام قبل يوم القيامة اماماً عادلاً [ابن کثير][3]

دغه متواتر روايتونه زمونږ استاذ حجة الاسلام حضرت مولانا محمد انور شاه کشميري رحمه الله راجمع کړيدى چه په شمير کښې د سلونه زيات دى، د حضرت استاذ رحمه الله په حکم م دغه مجموعه په عربى ژبه کښې جوړه کړه، استاذ رحمه الله ددې نوم: التصريح بما تواتر في نزول المسيح] تجويز کړو، په دغه زمانه کښې هغه شائع شواو س اوس يو لوئ شامي عالم د حلب عبد الفتاح ابو غده شائع کړيدې، نوره شرح او حاشئې ئې پرې زياتې کړيدى او په اعلى کتابت سره ئې د بيروت نه شائع کړيده.

په آخره زمانه کښې د حضرت عيسى عليه السلام د نازليدو عقيده يقيني او اجماعي ده چه منکرئې کافر دې: ددې پوره تفصيل په آلِ عمران کښې تير شويدي هلته ئې اوګورئ په دې کښې د هغه شبهاتو جواب هم ذکر شويدي چه د دغه زمانې ځنې ملحدانو په دې غرض رابرسيره کړيدى چه دا عقيده شکى شي او خلق تر و اوړي، والله ولى الهداية

---

[1]) دلام زبر سره

[2]) تفسير ابن كثير، سورة الزخرف رقم الآية: ۵۷، ج ۷، ص ۲۳۶

[3]) تفسير ابن كثير تحت هذه الآية المذكورة: ج ۷، ص ۲۳۳۶

Scanned with Ca

فَبِظُلۡمٍ　مِّنَ الَّذِيۡنَ　هَادُوۡا　حَرَّمۡنَا

| نو په سبب دظلم | دهغه کسانو | چي يهوديان شوي دي | حرام کړل مونږه

نود هغه کسانو دظلم اوزياتي په وجه چي يهوديان شوي دي (١).

عَلَيۡهِمۡ　طَيِّبٰتٍ　اُحِلَّتۡ　لَهُمۡ　وَبِصَدِّهِمۡ　عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ

په دوئ باندي | پاك ځيزونه | هغه چي حلال کړي شوي وو | د دوئ د پاره | او په سبب دمنع کولو د دوئ | دلاري دالله نه

مونږپه هغوئ پاکيزه حلال شوي رزقونه حرام کړل | اوپه دي وجي چي دالله ﷻ دلاري نه ډير

كَثِيۡرًا　وَّاَخۡذِهِمُ　الرِّبٰوا　وَقَدۡ نُهُوۡا　عَنۡهُ

ډير | او په سبب داخستلو ددوئ | سود لره | او حال دا چي منع کړي شوي وو دوئ | ددغه سود نه

خلق منع کوي | اوپه دي وجه چي سودونه اخلي | حالانکه دوئ دسود اخستونه منع کړي شوي وو

وَاَكۡلِهِمۡ　اَمۡوَالَ النَّاسِ　بِالۡبَاطِلِ ؕ　وَاَعۡتَدۡنَا

اوپه سبب دخوړلو ددوئ | مالونو دخلقولره | په باطلي طريقي سره | اوتيارکړي دي مونږه

اوپه دي وجه چي دخلقو مالونه په ناحقه خوري | اومونږ په دوی کښي د کافرانو دپاره درد ناک عذاب

لِلۡكٰفِرِيۡنَ　مِنۡهُمۡ　عَذَابًا　اَلِيۡمًا ۝

دپاره دکافرانو | ددوئ نه | عذاب | دردناك |

تيار کړي دي |......................................

---

١) **د سزا په طور الله تعالی حلال څزونه حراموی:-** ددې آيت مبارك دوه مطلبونه کيديشی.يو دا چه دا حرمت قدرتی وی يعنی مقدرات الهی کښي دا وو چه دا خلق به خپل کتاب بدل کړی او په دې کښي به تحريف اوکړی.او حلال څيزونه به په خپل ځان حرام کړی. صرف د خپل تشدد او خپلي سختئ په وجه .دويم دا چه حرمت شرعی دې يعنی د تورات د نزول نه مخکښي چه بعضې څيزونه په دوی حلال وو او د تورات راتلو په وخت کښي هغه د دوی د بدکارو په وجه هغه حرام کړې شو،لکه فرمان دې چه [كُلُّ الطَّعَامِ كَانَ حِلًّا لِّبَنِيۡۤ اِسۡرَآءِيۡلَ] الخ يعنی د اوښ غوښه او پئ چه حضرت اسرائيل ﷺ په خپل ځان حرام کړی وو. ددې نه سوا ټول طعامونه د بنی اسرائيلو دپاره حلال وو بيا تورات کښي په دوی بعضې څيزونه حرام شو لکه سورة انعام کښي فرمائی چه [وَعَلَى الَّذِيۡنَ هَادُوۡا حَرَّمۡنَا] الخ،اومونږ په يهود هر نوك والا څيز حرام کړو. او د غواګانواوګډو چيلو وازګه چه بيله وی مونږ په دوی حرامه کړه. دا ځکه چه دوی باغيان او د رسول مخالفت کونکی او اختلاف کونکوی وو. نودلته هم بيانيږی چه د دوی د ظلم او زياتئ په وجه او د الله ﷻ د لارې نه يو طرفته کيدو په وجه او نورو ته د دهوکه کولو په وجه چه د دوی پخوانې عادت وو،د رسولانو د دښمنئ په وجه،چې هغوی به ئې قتلول،هغوی به ئې دروغژن ګڼړل،هغوی سره به ئې مقابله کوله،او رنګ په رنګ حيلې او بهانې به ئې تلاش کولې،سود به ئې خوړل اودا حرام وو،او نور دغه شان د خلقو مالونو وهلو پسې شوی وو. او دا به دوی ته معلومه وه. چه الله تعالی دا حرام کړی دی.دا به ئې ښه په زړورتيا کول.په دې وجه په هغوئ حلال څيزونه هم حرام شو. ددې کفارو دپاره دردناك عذاب تيار شوې دې.(ابن کثير)

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن: حاصل دا چه د یهودو د انتهائي زياتو د وجې نه مونږ په دوی باندې پاک څيزونه حرام کړل چه اول دوی ته حلال کړې شوي وو، او دې وجې نه چه هغوی به کثرت سره خلقو لره د الله د لارې نه بندول او سود به ئې اغستو او حال دا چه دوی ددې نه منع شوي وو ، او د خلقو مالونه به ئې په ناحقه طريقه خوړل او دوی کښې چه کوم خلق کافر دي هغوی ته مونږ دردناك عذاب تيار کړې دې.

د آيتونو ربط: پورته ذکر شوؤ آيتونو کښې د يهودو د شرارتونو او د دې شرارتونو په وجه ددوئ د سزا بيان وو، دې آيتونو کښې هم د هغوئ د څو قباحتونو بيان دې ، او ورسره ورسره د سزا د يو بل نوعيت هم ذکر فرمائيلې شوی دې . هغه دا چې قيامت کښې خو به دوئ باندې عذاب وی . په دې دنيا کښې ددوئ د گمراهئ دا نتيجه ده چې په دوئ باندې ډير پاك څيزونه حرام کړې شو چې هغه ددې څخه مخکښې حلال وو.

خلاصه تفسير

﴿ فَبِظُلْمٍ مِّنَ الَّذِينَ هَادُوا ﴾ نويهودو ددغه لويو لويو جرمونو په سبب [چه دهغې نه ډيرے خبرې په سورت بقره کښې بيان شوے] ﴿ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ طَيِّبَٰتٍ ﴾ مونږ ډيرپاکيزه [يعنی حلال نفع ناك او خوندناك] څيزونه چه [روميے نه] هغوی دپاره [هم] ﴿ أُحِلَّتْ لَهُمْ ﴾ حلال وو [لکه چه په آيت ﴿كل الطعام كان حلا لبنی اسرائيل﴾ کښې راغلي دي] په هغوی مو [دحضرت موسی ﷺ په شريعت کښې] حرام کړل [چه بيان ئې دسورت انعام په آيت ﴿ وعلى الذين هادوا حرمنا كل ذی ظفر الخ﴾ کښې راغلی دی او هلته داهم خودلے شوی دی چه دا حلال او پاك څيزونه پرې دهغوی دګناهونو او نافرمانيو په بناء حرام کړې شوی وو﴿ ذالك جزينٰهم ببغيهم الخ﴾ او [دحضرت موسی ﷺ په شريعت کښې هم دغه ټول څيزونه حرام پاتې شول هيڅ يو په کښې حلال نه کړې شو] ﴿وَبِصَدِّهِمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ كَثِيرًا﴾ په په وجه ددې چه[په آئنده کښې هم هغوی ددغه قسم حرکتونو کولو نه واؤ نړيدل لکه دا چه] هغوی [دالله ﷻ په احکامو کښې بدلون اوکړو يا ئے دغه احکام پټ کړل] ډيرو خلقو لره دالله ﷻ دلارې .[يعنی دحق دين دقبلولو] نه ايسارول [ولې چه دهغوی ددې کاروائی له کبله به خواه مخواه عوام کډوډ کيدل اګر چه په رښتنی طلب سره دغه کډوډ کيديشوه] ﴿ وَأَخْذِهِمُ الرِّبَوٰا وَقَدْ نُهُوا عَنْهُ ﴾ اوپه دې وجه چه هغوی به سود اخستلو حالانکه هغوی لره [په تورات کښې] ددې نه منع کړې شوی وو ﴿ وَأَكْلِهِمْ أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ ﴾ اوپه دې وجه چه هغوی به دخلقو مال په ناحقه طريقے [يعنی په غير شرعی ذريعو] سره خوړلو [پس په دې حق طريقه کښې د شر اچولو دسود اخستلو اوپه ناروا طريقو دنورو مال دخوړلو په وجه په دې کښې سپکوالئ رانغلو ترڅو چه دغه شريعت باقی اوقائم وو، البته په نوی شريعت دعيسی ﷺ کښې څه احکام بدل شوی وو لکه چه د آيت ﴿ ولاحل لكم بعض الذی حرم عليكم﴾ نه معلوميږی اوبيا محمدی شريعت کښې خو په کښې ډير تخفيف اوسپکوالئ راغلو لکه چه ﴿ يحل لهم الطيبت الخ﴾ نه ثابت دی دا خو ددنيا سزا وه] او [آخرت کښې] ﴿ وَأَعْتَدْنَا لِلْكَافِرِينَ مِنْهُمْ عَذَابًا أَلِيمًا ﴾ مونږه هغه خلقو دپاره چه په هغوی کښې کافران دی د دردناکے سزا انتظام کريدے [البته څوك

Scanned with Ca

چه دشرعی قاعدې په جوړایمان راوړی نو تیرشوی ټول ګناهونه به یې معاف شی].

معارف اومسائل

په شریعت محمدی ﷺ کښې هم څنې څیزونه حرام دی لیکن هغه دجسمانی یاروحانی ضرر باعث جوړولو په وجه حرام کړې شوی دی ، پخلاف د یهود چې هغوئ باندې دپاکیزه څیزونو حرامیدل دهغوئ دنافرمانئ په وجه د سزاپه ډول حرام کړې شوی ؤو په هغه کښې څه روحانی یا جسمانی ضررونه وو.

لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ	فِي الْعِلْمِ
لیکن کوم خلق چې پاخه دی	په علم کښې
خو په دوئ کښې چې څوک په علم کښې پاخه شوی دی[1]	

مِنْهُمْ	وَالْمُؤْمِنُوْنَ	يُؤْمِنُوْنَ	بِمَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ
ددوئ نه	اومومنان خلق	هغوئ ایمان راوړی	په هغه تعلیم	چې نازل کړې شوې دې	تاته
..........او مومنان دی	هغوئ په هغه کتاب هم ایمان راوړی کوم چه په تاباندې نازل شوې دې				

وَمَآ	اُنْزِلَ	مِنْ قَبْلِكَ	وَالْمُقِيْمِيْنَ	الصَّلٰوةَ	وَالْمُؤْتُوْنَ
او په هغه	چې نازل کړې شوې دې	مخکښې ستانه	اوقائمونکی	مانځه لره	او ورکونکی
اوپه هغه[کتابونو]هم ایمان راوړی	چې ستانه وړاندې نازل شوی دی	اومونځونه کوی			

---

[1]) **په اهل کتابو کښې د مضبوط ایمان خاوندان**:- خودوی کښې چه کوم پوخ ایمان والا او په رېښتیا ئې اسلام قبول کړې دې.ددې جملې تفسیر سورة آل عمران کښې تیر شوې دې.او چه کوم ایمان دار دی دوی خو قران پاك او ټول کتابونه منی .حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنه فرمائی چه دې نه مراد حضرت عبدالله بن سلام،حضرت ثعلبه بن سعید،حضرت زید بن سعید،او حضرت اسید بن عبید رضي الله عنهم دی چه اسلام ئې قبول کړې وو. او نبی کریم ﷺ ئې نبی منلې وو.

د قراءت وضاحت:- مخکښې والا جمله [وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ] د ټولو امامانو قراءت کښې او د ابی بن کعب مصحف کښې داشان دی،خو د علامه ابن جریر رحمه الله د ابن مسعود رضي الله عنه په مصحف کښې [وَالْمُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ] دې صحیح قرات ړومبې دې،چه کومو خلقو دې ته د کتاب غلطی ونیلې ده د هغوئ قول غلط دې.بعضې خو وائی چه د دې نصبی حالت د مدح په وجه سره دې لکه [وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ] کښې چه دی،او کلام عرب کښې او شعرونوکښې برابر قاعده موجود ده. بعضې وائی چه دا په ړومبئ جمله عطف دې یعنی [وَالْمُوْفُوْنَ بِعَهْدِهِمْ اِذَا عٰهَدُوْا وَالصّٰبِرِيْنَ] اود عربو په کلام کښې او په اشعارو کښې دا قاعده برابرموجود ده بعضې وائی چه دا په راروانه جمله باندې عطف دې یعنی [يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ] یعنی هغوئ په ده هم ایمان راوړی او په مونځ قائمولو هم د دوی ایمان دې یعنی دا واجب او برحق منی او یا دا مطلب دې چه د دې نه مراد فرښتې دی یعنی هغوئ په قران باندې،او د الله تعالی په کتابونو باندې او فرشتوباندې ایمان راوړی.امام ابن جریرهمدا خوښوی،خو په دې کښې د سوچ ضرورت دې،والله اعلم.

Scanned with Ca

اُولٰٓئِكَ	وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ	بِاللهِ	وَالْمُؤْمِنُوْنَ	الزَّكٰوةَ
دغه ټول کسان چې دي	او په ورځ د آخرت	په الله	او ایمان راوړونکی	زکاة لره
اوزکوة ورکوی | او په الله ﷻ او په ورځ د آخرت ایمان لری | ....دغه شان کسانو ته به				
			اَجْرًا عَظِيْمًا	سَنُؤْتِيْهِمْ
		لوئ	اجر	زر به ورکړو مونږ هغوئ له
مونږ ډیر لوي اجرورکړو |				

آسان ترجمه قرآن: البته دوی (بنی اسرائیلو) کښې چه کوم خلق علم کښې مضبوط دي، او مؤمنان دي، هغوی هغه (کلام) باندې ایمان راوړي چه (اې پیغمبره!) تا باندې نازل شوې دې او په هغه باندې هم چه ستا نه مخکښې نازل شوې دې او قابل د تعریف دي هغه خلق چه مونځ کوي، او زکوة ورکوي او په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان راوړی. دا هغه خلق دي چه مونږ به دوی ته لوئې اجر ورکړو.

د ایتونو ربط: پورته آیتونو کښې د هغه یهودو ذکر وو چې خپل کفر باندې کلك ولاړ وو. او په دې پورته ذکر شوؤ څیزونو کښې اخته شوی وو. مخکښې د هغه حضراتو بیان دې چې هغوئ اهل کتاب وو، او کله چې نبی کریم ﷺ مبعوث شو او د هغوئ په کتابونو کښې چې د نبی کریم ﷺ کوم صفات موجود وو هغه ئې پورا پورا په نبی کریم ﷺ کښې اولیدل نو د ایمان په دائره کښې داخل شو. لکه عبدالله بن سلام رضی الله عنه، اسید رضی الله عنه او ثعلبه رضی الله عنه وغیره، دې آیتونو کښې د دې حضرات تعریف او صفات بیان شوی دی.

خلاصه تفسیر

﴿ لٰكِنِ الرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ مِنْهُمْ ﴾ لیکن پدوی [یهودو کښې] چه څوك په علم [د دین] کښې پاخه [یعنی د هغې په جوړ په عمل کولو باندې مضبوط او کلك] دی [او د غې خبرې پدوی باندې حق لره په ډاګه او د حق قبلول ئې پرې آسان کړل چه اصلاً او فرعاً بیان ئې راروان دې] ﴿وَالْمُؤْمِنُوْنَ يُؤْمِنُوْنَ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ وَمَآ اُنْزِلَ مِنْ قَبْلِكَ﴾ او څوك چه پدوی کښې [ایمان راوړنکی دی] چه په دې کتاب هم ایمان راوړی کوم چه هغوی ته راولیږلے شو او په هغه کتاب هم [ایمان لری] چه هغوی نه مخکښې [پیغمبرانو ﷺ ته] راولیږلے شو [لکه تورات او انجیل] ﴿وَالْمُقِيْمِيْنَ الصَّلٰوةَ وَالْمُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ﴾ او څوك چه پدوی کښې د مونځ پابندی کوونکی دی او څوك چه [پدوی کښې] زکوة ورکونکی دی ﴿ وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ ﴾ او څوك چه [پدوی کښې] په الله ﷻ او د قیامت په ورځ اعتقار لرونکی دی [نو] ﴿ اُولٰٓئِكَ سَنُؤْتِيْهِمْ اَجْرًا عَظِيْمًا ﴾ داسې خلقو ته به مونږ ضرور [په آخرت کښې] لوئې ثواب ورکوؤ.

معارف او مسائل

دې آیتونو کښې چې د کومو حضراتو دپاره د کامل اجر وعده ده، هغه د هغوئ د ایمان او نیکو عملونو په وجه ده، او تر کومې چې د نفسی نجات تعلق دې نو هغه د ضروری عقیدو په صحیح کیدو باندې موقوف دې، خو په دې شرط چې خاتمه یې په ایمان سره اوشی.

Scanned with Ca

إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ

ابیشکه مونږه | وحی کړې ده | تاته | لکه څنګه چې

| انې پیغمبره مونږ تاته هغه شان وحی کړې ده | لکه څنګه چې مو

أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ

وحی کړې وه مونږه | نوح ؑ ته | او پیغمبرانو ته | روستو د هغه نه | او وحی اوکړه مونږه | ابراهیم ؑ ته

نوح ؑ او د هغه نه پس نورو پیغمبرانو ته وحی کړې وه | .... او مونږ ابراهیم ؑ ته

وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ وَعِيسَىٰ

او اسماعیل ؑ | او اسحاق ؑ | او یعقوب ؑ ته | او اولاد [دیعقوب ؑ] ته | او عیسی ؑ ته

او اسماعیل ؑ ته، او اسحاق ؑ ته، او یعقوب ؑ ته او د دوی اولاد ته او عیسی ؑ ته

وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيْمَٰنَ ۚ وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ

او ایوب ؑ ته | او یونس ؑ ته | او هارون ؑ ته | او سلیمان ؑ ته | او ورکړو مونږ | داود ؑ ته

او ایوب ؑ ته، او یونس ؑ ته، او هارون ؑ ته او سلیمان ؑ ته وحی کړې وه | او مونږ داود ؑ ته

زَبُورًا ۝ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَٰهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلًا

زبور | او نور هغه رسولانو ته | چې بیان کړې دي مونږ دهغوئ | تاته | مخکښې ددې نه | او هغه رسولانو ته

زبور ورکړې وو | او هغه پیغمبرانو ته موږ وحی لیږلې وه | چې مخکښې موږ تاته دهغوئ ذکر کړې دی

لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۚ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا ۝

چې نه دي کړې مونږ بیان دهغوئ | تاته | او خبرې اوکړې الله | دموسی سره | په خبرو کولو سره

او دهغې پیغمبرانو چې دهغوئ ذکر موږ درته نه دې کړې | او الله ﷻ موسی ؑ سره خاص خبرې کړې دی

رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ

[را اولیږل مونږ] رسولان | زیرې ورکونکې | او یرونکې | دپاره ددې چې نه وی | خلقو | لره | په الله باندې

داټول پیغمبران [نیکانو ته] زیرې ورکونکې او [بدانو] ته یرونکې رالیږلې شوی وو | چې د پیغمبرانو راتلو نه پس خلقو

حُجَّةٌۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ۝ لَّٰكِنِ ٱللَّهُ

څه دلیل | روستو | د رسولانو نه | او | دې | الله | غالب قوی | حکمت والا | لیکن الله

سره د الله په وړاندې هیڅ عذر پاتې نشی | او الله ﷻ غالب او صاحب د حکمت دې | خو اګه دوئ نه مني نو څه اوشو الله

يَشْهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيْكَ ۖ أَنزَلَهُۥ بِعِلْمِهِۦ ۖ

ګواهي کوی | په هغه څیز | چې نازل کړې نې دې | تاته | نازل کړې نې دې هغه | په علم سره

په دې خبره ګواه دې | چې تاته کوم حکمونه رالیږلې شوی دی | هغه نې په خپل کامل علم سره رالیږلې دی

وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَشْهَدُونَ ۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدًا ۝ إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟

او فرښتې هم | ګواهي کوی | او کافی دې | الله | په ګواهئ سره | بیشکه هغه کسان | چې انکار نې اوکړو

او فرښتې هم په دې خبره ګواهي کوی | او صرف د الله ﷻ ګواهي هم کافی ده | چا چې انکار کړې دې

Scanned with Ca

وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًا بَعِيْدًا ۝

او منع ئې کړل خلق | دلارې دالله نه | يقيناً چې بې لارې شو دحق نه | په بې لارې کيدو | لرې سره

او دالله ﷻ دلارې نه خلق منع کوی| ....هغوئ دسمې لارې نه ډيرلرې تلي دی

اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ

بيشکه هغه کسان| چې دکفر په لاررروان شو | اوظلمونه ئې شروع کړل | نو نۀ دې الله | چې بخښي

چا چې انکار کړې دې | اوپه خلقوظلمونه کوی | الله ﷻ به هغوئ هيڅ کله اونۀ بخښي

لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا ۝ اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ

هغوئ لره| او نۀ| اوښائی هغوئ ته | لار | مګر | لا ر |ددوزخ |چې تل به وی

اونۀ به هغوئ ته سمه لار اوښائی | ....البته د دوزخ لار به ورته اوښائی چې هميشه

فِيْهَآ اَبَدًا ۚ وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا ۝

په هغې کښې|هميشه| اودې | دا کار | په الله باندې | آسان |

دپاره به په کښې پراتۀ وی| اوداکار خو الله ﷻ ته ډيرآسان دې

آسان ترجمه قرآن: (اې پيغمبره ا) مونږ تا باندې داسې وحی راليږلې ده لکه څنګه چه مونږ حضرت نوح عليه السلام او نورو پيغمبرانو ته هم راليږلې وه ، اومونږ ابراهيم ، اسماعيل ، اسحاق ، يعقوب او ددوی اولاد ته .او عيسیٰ، ايوب ، ، يونس ، هارون او سليمان ته هم وحي ليږلې وه ، اومونږ داوُد عليه السلام ته زبور ورکړې وو او ډير رسولان دی چه د هغوی واقعات مونږ تا ته اورولي دي ، او ډير رسولان داسې دي چه د هغوی واقعات مونږ تا ته نه دی اورولی.او موسیٰ عليه السلام سره الله براهِ راست خبرې کړې وې دا ټول هغه رسولان وو چه(د ثواب) خبرې اورولو او (دوزخ نه) ويرولو دپاره راليږلی شوي وو، دې دپاره چه ددې خلقو د راليږلو نه وروستو خلقو څخه دالله په مخکښ څه بهانه پاتې نه شي ، او دالله قدرت هم کامل دې ، او حکمت هم (دا کافران ئې مني او که نه مني) ليکن الله چه څه په تا باندې نازل کړي دي د هغې په باره کښې هغه پخپله ګواهي ورکوي چه هغه په خپل علم سره نازل کړي دي ، او فرښتې هم ګواهي ورکوي ، او (هسې خو) دالله ګواهي بالکل کافي ده يقين وکړه چه کومو خلقو چه کفر کړې دې او خلقو لره ئې دالله د لارې نه بند کړي دي هغوی په ګمراهئ کښې ډير لرې تلي دی کومو خلقو چه کفر کړې دې (اونور خلق ئې د الله د لارې نه بند کړي دي او په هغوی ئې)ظلم کړې دې . الله به دوی نه اوبخي او نه به دوی ته څه بله لار وښائي. سوا د دوزخ د لارې نه چه هغې کښې به دوی هميشه هميشه وي او دا الله ته ډيره معمولي خبره ده.

د ايتونو ربط: د [يَسْئَلُكَ اَهْلُ الْكِتٰبِ] څخه يې د يهوديانو احمقانه سوال نقل کړو او بيا يې ددې الزام تفصيلي جواب ورکړې شو ، دې ځائې څخه په يو بل عنوان سره د هغوئ هم دا سوال باطل ګرځولې کيږی ، [هغه دا چې] تاسو دا وائې چې مونږ په نبی کريم باندې ايمان راوړو خو په دې شرط چې نبی کريم ﷺ د آسمان څخه يو ليکلی شوې کتاب راوړی او مونږ ته يې اوښائی اوس دا اووائې چې په دې پورته آيت کښې چې د کومو انبياء کرامو عليهم السلام ذکر دې ، دغه انبياء

Scanned with Ca

ﷺ تاسو منئ ، خو دهغوئ په حق تاسو داشان مطالبي نه کوئي ، نو تاسو چي کوم دليل سره دا انبياء کرام ﷺ منلي دی يعني معجزو سره ، نو محمد رسول ﷺ سره هم معجزي شته دي ، نو تاسو په نبی کريم ﷺ باندې هم ايمان راوړئی ، خو خبره داده چې ستاسو مطالبه د حق د طلب کولو دپاره نه ده بلکه په دې کښې عناد دې .

مخکښي ئې د انبياء ﷺ د بعثت حکمت هم بيان کړې دې . او نبی کريم ﷺ ته يې خطاب کړې دې چې که دا خلق ستا په نبوت باندې ايمان نه راوړی نو دوئ خپل انجام خرابوی ، ستاسو د نبوت ګواه خو الله ﷻ پخپله دې ، او دالله ﷻ فرښتې هم ددې ګواهی ورکوی.

خلاصه تفسير

﴿ إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ ﴾ مونږ [تاسو لره څه نوے رسول نه دې جوړ کړې چه داسې وران ويجاړ فرمائشونه کوی بلکه] تاسو ته مو [هم هغسې] وحی ليږلې ده څنګه موچه [حضرت] نوح ﷺ ته ليږلې وه او ددوی نه پس نورو ته [مو ليږلې وه] او [دهغوی څخه مو دبعضو نومونه هم خودلی دی چه] ﴿وَأَوْحَيْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْمَٰعِيلَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ وَٱلْأَسْبَاطِ﴾مونږ حضرت ابراهيم ﷺ، اسماعيل ﷺ، اسحاق ﷺ، يعقوب ﷺ، او اولاد د يعقوب ﷺ ته [چه ځوك پيغمبران تير شوی دی] ﴿ وَعِيسَىٰ وَأَيُّوبَ وَيُونُسَ وَهَٰرُونَ وَسُلَيْمَٰنَ ﴾ او عيسى ﷺ ايوب ﷺ يونس ﷺ هارون ﷺ او سليمان ﷺ ته مو وحی ليږلې وه او [دغه شان] ﴿ وَءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ زَبُورًا ﴾ مونږه داود ﷺ ته وحی ليږلې وه [چنانچه دوی] ته مو [کتاب] زبور ورکړې وو او [ددوی نه علاوه] ﴿ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَٰهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ ﴾ نورو [بعضو] داسې پيغمبرانو ﷺ لره [هم مونږ خاوندان دوحی جوړ کړل] چه حال ئې ددې نه وړاندې [په سورت انعام وغيره په مکی سورتونوکښې] مونږ تاسو ته بيان کړيدے ﴿ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ﴾ او [بعضې داسې پيغمبرانو ﷺ لره] مو [دوحی خاوندان جوړ کړل] چه لا ئې [تر اوسه پورې] مونږ تاسو ته بيان ندې کړې ﴿ وَكَلَّمَ ٱللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا ﴾ موسی ﷺ لره هم دوحی خاوند جوړ کړو[چنانچه دوی] سره الله ﷻ په خاص خاص طور سره کلام اوفرمائيلو[او] ﴿ رُّسُلًا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ ﴾ دغو ټولولره مو [په ايمان باندې] زيری [دخلاصی] ورکونکې او [په کفر باندې دعذاب] ويره آوروونکی پيغمبران جوړ کړل دے دپاره مو اوليږل ﴿ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةٌۢ بَعْدَ ٱلرُّسُلِ ﴾ دپاره ددې چه خلقو لره دالله ﷻ په مخکښې ددې پيغمبرانو ﷺ [دراتلو] نه پس څه عذر [په ښکاره هم] پاتې نشی [ورنه په قيامت کښې به يئ داسې وئيل چه د ډيرو څيزونو ښه والئ او خرابوالئ په عقل سره نشو معلوميدلے نو بيا زمونږ څه غلطی شوه] ﴿ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾ او [داسې خو الله ﷻ دپوره زور[او اختيار] خاوند دې [چه که درسولانو دليږلو نه بغير يئ هم سزا ورکولے نو په دې وجه چه ځانله مالك حقيقی دې، ظلم به نه کيدلې اوپه حقيقت کښې دعذر کولو حق هيچا نشو لرلے ليکن چونکه] لوئې دحکمت خاوند [هم] دې [ځکه ئې د حکمت تقاضا داشوه چه رسولان ﷺ اوليږی چه ظاهری عذر دخلقو نه هم پاتې نشی دحکمت دابيان په مينځ کښې تبعًا راغلې وو، اوس وروسته دمحمد ﷺ په پيغمبرئ ثابتولو سره جواب مکمل کوی اوفرمائی چه که ځوك دخپلے دې شك او شبهې په پورته کيدو سره هم پيغمبری نه منی] ﴿لَّٰكِنِ ٱللَّهُ يَشْهَدُ بِمَآ أَنزَلَ إِلَيْكَ أَنزَلَهُۥ بِعِلْمِهِۦ﴾ ليکن [په مواقع کښې خو ثابته ده او ددې په ثبوت باندې

Scanned with Ca

صحيح دليل قائم دے چنانچه] الله ﷻ په ذريعه د دې كتاب چه تاسو ته يئ ليږلے دې او ليږلے يئ هم [په څه شان دې] په خپل علمي كمال سره [چه هغې سره هغه كتاب يوه لويه معجزه جوړ شو چه دپيغمبرئ] يو پرې‌كړې دليل دے [يعني دليل دے دداسې معجز كتاب په ذريعه چه ستاسو د پيغمبرئ] ګواهي وركوي [يعني دليل قائموي لكه چه اوس معلوم شو چه معجز كتاب ئے نازل كړو او اعجاز دپيغمبرئ دليل سره خو په واقع كښې نبوت ثابت دې نو بيا د چا دمنلو او نه منلو خيال ئے ولې رازي] ﴿وَالْمَلٰٓئِكَةُ يَشْهَدُوْنَ﴾ او [كه طبعاً ئے زړه خامخا غواړي نو ددوي نه بهترين مخلوق يعني] فرښتے [ستاسو دپيغمبرئ] تصديق كوي [او د مومنانو تصديق خوليدلے كتلے وو، نوكه څوبيوقوفان ئے نه مني نو نه دې مني] ﴿وَكَفٰى بِاللّٰهِ شَهِيْدًا﴾ او [اصلي خبره خو هم هغه ده چه] هم دالله ﷻ ګواهي [يعني دليل قائمول په واقع كښې] كافي ده [ددې حاجت دسره نشته چه څوك دے ئے اومني].

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ﴾ څوك چه [ددې پريكړو دليلونو نه پس هم] منكر دي او [عجيبه دا چه نور خلق هم] دخدائې ددين نه منع كوي دوي [دحق نه] ﴿قَدْ ضَلُّوْا ضَلٰلًا بَعِيْدًا﴾ په ډيرے لرے ګمراهئ كښې پريوتي دي [دا خو په دنيا كښې ددوئ د مذهب حاصل دې او ددې نتيجه په آخرت كښې دا واورئ چه] ﴿اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَظَلَمُوْا﴾ بيشكه څوك چه [دحق نه] منكر دي او [حق نه خلق اړوي] دنورو هم نقصان كوي ﴿لَمْ يَكُنِ اللّٰهُ لِيَغْفِرَ لَهُمْ وَلَا لِيَهْدِيَهُمْ طَرِيْقًا﴾ الله ﷻ به دوي لره چرې هم او نه بخښي او نه به دوي ته جهنم نه ﴿اِلَّا طَرِيْقَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا﴾ سوا بله لار [يعني دجنت لار] اوښائي په داسې شان چه دې [جهنم]كښې به هميشه هميشه پاتې كيږي ﴿وَكَانَ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرًا﴾ او دالله ﷻ په نزد دا سزا معمولي خبره ده [دے دپاره دبندوبست كولو ضرورت ورته نشته].

معارف او مسائل

[اِنَّآ اَوْحَيْنَآ اِلَيْكَ كَمَآ اَوْحَيْنَآ اِلٰى نُوْحٍ وَّالنَّبِيّٖنَ مِنْۢ بَعْدِهٖ] دې نه معلومه شوه چه وحي خالص دالله تعالى حكم اودهغه پيغام دې چه پيغمبرانو ته ليږلې شي اوڅنګه چه په تيروشوؤپيغمبرانو ﷺ باندې دالله تعالى وحي نازله شوه، همدغه شان په حضرت محمد ﷺ باندې هم الله تعالى خپله وحي اوليږله، نوچاچه هغه اومنله دې لره هم ضرورمنل پكاردي، اوچاچه ددې نه انكار اوكړو، ګوياكښې دهغې ټولو نه منكرشو، حضرت نوح ﷺ اوددې نه روستوپيغمبرانو ﷺ دتشبيه وركولوجه شايد داده چه دحضرت آدم ﷺ دوخت نه شروع شوې وحي دړومبی حالت وحي وه چه حضرت نوح ﷺ باندې دهغې تكميل اوشو، ګوياكښې دغه اولنې حالت دتعليم رومبې حالت وو، دحضرت نوح ﷺ په زمانه كښې دغه حالت پوره كيدوسره ددې جوګه شوچه امتحان ئې واغستې شي، فرمانبردارو ته انعام اونافرمانوته سزا وركړې شي، چنانچه داولوا العزم پيغمبرانو ﷺ لړئ هم دحضرت نوح ﷺ نه شروع شوه اودوحي الهي نه مخ اړوونكو باندې اول عذاب هم دحضرت نوح ﷺ دوخت نه شروع شو.

خلاصه داشوه چه دحضرت نوح ﷺ نه وړاندې زمانه كښې به دالله تعالى اوپيغمبر په نافرمانئ كولو څه عذاب نه نازليدو، بلكه خلق به معذوره ګڼړلې شو اومهلت به وركولې شو

اوصرف هغوئ به پوهولي شو، دحضرت نوح ؑ په زمانه کښې هرکله چه تعليم په ښه شان سره ښکاره شو او دالله تعالى دحکم په منلو کښې هيڅ قسم پټوالي پاتي نشو نو دغه وخت په نافرمانو خلقو باندي عذاب نازل شو، اول دحضرت نوح ؑ په زمانه کښې طوفان راغلو، وروسې دحضرت هود ؑ حضرت صالح ؑ حضرت شعيب ؑ اونورو انبياؤ په زمانو کښې په کافرانو قسما قسم عذابونه راغلل، هرکله چه درسول الله ﷺ دوحی تشبيه، د حضرت نوح ؑ او دهغوئ ؑ نه روستو راتلونکو پيغمبرانو ؑ دوحی سره ورکړې شوه نو په دې کښې اهل کتابو او مشرکينو دمکي ته پوره خبرداري ورکړې شوچه که دوئ ستاسو ﷺ وحی يعنی قرآن کريم نه منی نو دلوئ عذاب حقداربه جوړشي. [فوائد علامه عثماني] ([1])

دحضرت نوح ؑ ذات مبارک پخپله هم يوه معجزه داسې وه چه نهه نيم سوه کاله عمرورکړې شوپه دې ټول عمرکښې ئې يوغاښ هم نه وؤ پريوتي، يوويښته ئې هم نه ووسپين شوې، بدني طاقت ئې هم څه کم شوې نه وو او ټول عمرئې دقوم له اړخه تکليفونه اوزيانونه په صبرسره زغمل[مظهري] ([2])

[وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ] دحضرت نوح ؑ نه پس ئې دپيغمبرانو ؑ اجمالي ذکر اوکړو او دهغوئ ؑ څخه ئې داولوا العزم اوجليل القدر پيغمبرانو ؑ ذکرپه خاص ډول هم اوکړو، دې سره دا ښودل مقصود دی چه دا ټول انبياء ؑ دی چه ورته په مختلفو طريقوسره وحی راغې، کله ورته فرشته پيغام راوړی، کله ورته ليکلي کتاب ورکولې شی، کله ورسره الله تعالى نيغ په نيغه کلام کوی، غرض دا چه په هرې طريقې سره راغلې وحی باندې عمل کول واجب دی، نو ديهودو دا وينا کول چه مونږ به هله منوچه دتورات پشان ليکلي کتاب نازل شی نو داسوچه کفراوبيوقوفي ده.

دحضرت ابی ذر ؓ په روايت سره رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه الله تعالى يولاک څليرويشت زره رسولان ؑ راليږلی دی چه په کښې درې سوه ديارلس دشريعت خاوندان وو. [قرطبي] ([3])

[رُسُلًا مُّبَشِّرِيْنَ وَمُنْذِرِيْنَ] الله تعالى په مخه، پيغمبران ؑ دې دپاره راليږل چه مؤمنانوته زيرې ورکوی اوکافران ويروی چه دقيامت په ورځ خلق څه عذراونکړې شی، اودا اونه وئيلې شی چه مونږته ستا ﷻ مرضی اونامرضی معلومه نه وه، که راته معلومه وې نو ضروربه ستا ﷻ په مرضئ تلو، هرکله چه الله تعالى پيغمبرانو ؑ ته معجزې ورکړې اووې ليږل، پيغمبرانو ؑ خلقوته حق لاراوښودله نو اوس ددينِ حق په نه قبلولو کښې دهيچا هيڅ عذرآوريدل نشی کيدې دا دالله تعالى له اړخه داسې يوپريکړې دليل دې چه دهغې په وړاندې بل هيڅ دليل نشی چليدې بلکه ټول دليلونه پريکړې شي او دا دالله تعالى حکمت اوتدبيردې.

دحضرت عبدالله بن عباس ؓ نه روايت دې چه ديهوديانو يوجماعت رسول الله ﷺ ته راغلو. هغوئ ﷺ ورته اوفرمائيل چه قسم په خدائ تاسوته يقيناً دا خبره معلومه ده چه زه

[1]) تفسير عثمانى تحت هٰذه الآية: ج ١، ص ٣٢٦
[2]) تفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٢٧٥
[3]) وكذا فى المستدرك للحاكم رقم الحديث: ٣٢٦٦ باب ذكر نبى الله وروحه الخ وتفسير القرطبى تحت هٰذه الآية: ج ٦، ص ١٨

Scanned with Ca

دخدائ په حقه رسول یم، هغوئ ترې انکار اوکړونو په دغه موقعه داآیت نازل شو [لٰكِنِ اللّٰهُ يَشْهَدُ بِمَآ اَنْزَلَ اِلَيْكَ] [۱] په دې کښې دااوښودلې شوچه الله تعالی ددې معجز کتاب په ذریعه چه دهغه دعلمي کمال ننداره ده، ستاسو ﷺ پیغمبرئ باندې گواه دې، هغه سره دپوهي کتاب نازل کړوچه تاسو ددې جوگه [قابل] ئې، اوفرښتې هم په دې گواه دی اودعلیم اوخبیرذات د گواهئ نه پس بیادکوم یو دلیل حاجت باقي پاتې کیږي

دقرآن مجيداودرسول الله ﷺ درشتینولئ ثابتولونه پس فرمائي چه اوس څوک منکردی اوپه تورات کښې موجود دهغوئ ﷺ حالات اوصفات پټوی خلقوته څه بل بل څیزښکارکولوپه زورهغوئ لره دحق دین نه بل خوا اړوی، نوداسې خلقوته نه خوبه بخښنه نصیب شي اونه هدایت، دې نه په ښه شان معلومه شوه چه هدایت خالص دهغوئ ﷺ په تابعدارئ کولوبناء دې، اوگمراهي دهغوئ ﷺ دمخالفت کولونوم دې په دې سره دیهودو، ټول خیالات غلط ثابت کړې شو.

يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ					
اې خلقو					
اې خلقو!					
قَدْ	جَآءَكُمُ	الرَّسُوْلُ	بِالْحَقِّ	مِنْ رَّبِّكُمْ	فَاٰمِنُوْا
په تحقیق سره	راغلې دې تاسوته	رسول	دحق سره	دطرفه درب ستاسونه	نوایمان راوړئ
تاسوته پیغمبردالله ﷺ دطرفنه دحق تعلیم راوړې دې	.... نوپه دې یقین اوکړئ				
خَيْرًا لَّكُمْ ۭ	وَاِنْ تَكْفُرُوْا	فَاِنَّ	لِلّٰهِ	مَا	فِي السَّمٰوٰتِ
دابهتره ده ستاسودپاره	اوکه انکارکوئ تاسو	نوبیشکه	الله لره دی	هغه څه	چې په آسمانونوکښې دی
خکه چې په دې کښې ستاسو خیردې	اوکه انکار کوئ نو هرڅه چې په آسمانونو کښې دی				
وَالْاَرْضِ ۭ	وَكَانَ اللّٰهُ	عَلِيْمًا	حَكِيْمًا ۝		
اوپه زمکه کښې دی	اودې الله	په هر څیز پوهه	حکمت والا		
او په زمکه کښې دی هغه ټول دالله ﷻ دی	اوالله ﷻ په هرڅه پوهه اودحکمت خاونددې				

آسان ترجمه قرآن: اې خلقو دې رسول تاسو ته ستاسو د پروردگار د طرف نه حق راوړې دې اوس (په ده باندې) ایمان راوړئ، ځکه چه دا ستاسو په حق کښې ډیره بهتره ده او که (اوس هم) تاسو کفر وکړو نو (ښه پوهه شئ چه) ټول آسمانونو او زمکو کښې چه څه دې ټول د الله دې، او الله علم والا دې او حکمت والا هم دې.

د آیتونو ربط د یهودیانو د اعتراض دجواب او د نبی کریم ﷺ د نبوت د اثبات نه پس اوس ټولو انسانانو ته خطاب کیږی چې ستاسو نجات په دې کښې دې چې تاسو په نبی کریم باندې ایمان راوړئ

[۱]) دلائل النبوة للبيهقي رقم الحديث: ۷۷، باب ما جاء في دخول عبد الله بن سلام رضي الله عنه.

Scanned with Ca

خلاصه تفسیر

﴿ يَاأَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الرَّسُولُ بِالْحَقِّ مِنْ رَبِّكُمْ ﴾ اې ټولو [دټول جهان] خلقو تاسو ته دې رسول ﷺ رښتينې خبره [يعنى رښتينې دعوى رښتينې دليل] راوړو ستاسو دپروردګار له طرفه نې تشريف راوړے دې نو [په صحيح دليل سره ددعوے ثابتولو تقاضا داده چه] ﴿ فَآمِنُوا خَيْرًا لَكُمْ ﴾ تاسو [پدوى] او څه څه چه دوى فرمائى په ټولو يقين لرئ [ځا چه د ړومبے نه يقين کړې دې هغه دے پرې کلك اودريږى اوچه نه يئ دے پرې کړې نو اوس دې او کړى] دابه ستاسو دپاره ډيره غوره وى [ولې چه خلاصے به بيا مومى] ﴿ وَإِنْ تَكْفُرُوا فَإِنَّ لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ اوکه تاسو منکر شوئ نو [زيان هم ستاسو دے دالله ﷻ هيڅ زيان نه دې ولې چه] دالله [خو] ملکيت دى دا ټول هرڅه [هم] چه په آسمانونو او زمکه کښې [موجود] دى [نو داسې لونې عظيم الشان مالك قادر ته څه نقصان رسولې شى البته خپل خير غواړنى] ﴿ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا ﴾ او الله ﷻ [دټولو دايمان اوکفر] پوره خبر لرى [اوپه دنيا کښې چه پوره سزا نه ورکوى نوو جه ئې داده چه] دکامل حکمت خاوند [هم] دے [د هغه حکمت ددې تقاضا کوى].

يَا أَهْلَ الْكِتَابِ

انې اهل کتابو |

انې اهل کتابو

لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ وَلَا تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ إِنَّمَا

مهٔ اوخئ دحد نه | په دين خپل کښې | او مهٔ وايئ | په الله باندې | مګر | حق | بيشکه

پخپل دين کښې دحد نه مه تيريږئ | او الله ﷻ ته د حقې خبرې نه سوا بل نسبت مهٔ کوئ | خبره داده چې

الْمَسِيحُ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُولُ اللَّهِ وَكَلِمَتُهُ أَلْقَاهَا

مسيح | عيسى | خوې | دمريم | رسول دالله دې | اوفرمان دې دهغه | چې اوليږلو الله دغه فرمان

مسيح عيسى دمريم خونې دې | اودالله ﷻ رسول دې | او دهغه حکم دې | چې الله ﷻ

إِلَى مَرْيَمَ وَرُوحٌ مِنْهُ فَآمِنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ

مريم ته | او روح دې | دطرفه دالله نه | نو ايمان راوړئ | په الله | اوپه رسولانو دهغه

مريم ته راوليږلو | اودالله ﷻ دطرفه يوروح دې | نو په الله ﷻ اودهغه په پيغمبرانو باندې ايمان راوړئ

وَلَا تَقُولُوا ثَلَاثَةٌ انْتَهُوا خَيْرًا لَكُمْ إِنَّمَا اللَّهُ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ

اومهٔ وايئ | درې | منع شئ | دابهتره ده | ستاسو دپاره | بيشکه الله | معبود دې | اکې يو

او دامهٔ وائې چې خدايان درې دى | ددې نه منع شئ | هم په دې کښې ستاسو خير دې | معبود صرف يو الله دې

سُبْحَانَهُ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَلَدٌ لَهُ مَا فِي السَّمَاوَاتِ

پاك دې هغه | ددې خبرې نه چې وى | هغه لره | خونې | هغه لره دى | هغه هرڅه | چې په آسمانونو کښې دى

هغه ددې نه پاک دې چه څوک دې د هغه خونې شى | د آسمانونو او د زمکې هر څه

Scanned with Ca

وَمَا فِي الْأَرْضِ ط	وَكَفٰى	بِاللّٰهِ	وَكِيْلًا ﴿١٧١﴾
اوهغه هر څه چې په زمکه کښې دی	اوکافي دې	الله	په حيثيت دخبر اخستو دهغې
د هغه مخلوق دی	....	اوددې ټولود ساتنې دپاره صرف الله ﷻ کافي دې	

آسان ترجمه قرآن: اې اهل کتابو! خپل دين کښې د حد نه مه آوړئ او دالله په باره کښې د حقې خبرې نه سوا نور څه مه وايئ. مسيح ابن مريم خو صرف دَ الله رسول وو ، او دالله يوه کلمه وه چه مريم ته ئې رسولې وه ، او يو روح وو چه دده د طرف نه (پيدا شوې) وو نو په الله او د هغه په رسول باندې ايمان راوړئ، او دا مه وايئ چه (خدايان) درې دي. دې خبرې نه منع شئ دا ستاسو په حق کښې بهتره ده. الله خو يو معبود دې او دې خبرې نه پاك دې چه د هغه څوك څوئ وي په آسمانونو او زمکو کښې چه څه دي ټول د هغه دي او د ټولو د پاره الله کافي دې.

د ايتونو ربط: ددې څخه مخکښې آيتونو کښې يهوديانو ته خطاب وو او دهغوئ د ګمراهيانو تفصيل ذکر کړې شوې وو ، دې آيتونو کښې نصاراؤ ته خطاب دې ، او دهغوئ دغلطو عقيدو او د الله ﷻ او د عيسى ﷺ متعلق ددوئ د باطلو خيالاتو ترديد کړې شوې دې.

خلاصه تفسير

﴿يَاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ﴾ اې اهل کتابو [انجيليانو] تاسو په خپل دين [يعنى په دې باره کښې [دحقے عقيدې] دحد نه مه اوځئ: ﴿وَلَا تَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ ط﴾ اودالله ﷻ په شان کښې غلطه خبره مه کوئې چه [نعوذ بالله دهغه اولاد شته لکه چه بعضو به وئيل ﴿ان الله ثالث ثلثة﴾ يعنى دريمه برخه الله پخپله دې. دوه برخے حضرت عيسى ﷺ او حضرت جبرائيل ﷺ دې. لکه چه په بل ځائې کښې د ﴿ ولا الملئكة المقربون﴾ د زياتولو نه معلوميږی. او بعضو حضرت مريم ته خدائ وائى لکه چه د ﴿ اتخذونى امى الهين من دون الله ﴾ نه معلوميږی. يا الله ﷻ بعينه پخپله مسيح دې. لکه چه بعضو به وئيل چه ﴿ ان الله هوالمسيح ابن مريم﴾. غرض دا چه دا ټولې عقيدې باطلے دی] ﴿ اِنَّمَا الْمَسِيْحُ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ﴾ مسيح عيسى خوئے دمريم خو بل هيڅ نه دې البته دالله ﷻ رسول دے ﴿وَكَلِمَتُهٗ اَلْقٰهَا اِلٰى مَرْيَمَ وَرُوْحٌ مِّنْهُ﴾ اودالله ﷻ يو کلمه [پيدائش] دې چې دې لره الله ﷻ [حضرت مريم پورې [دحضرت جبرائيل ﷺ په واسطه] رسولې وو او دالله ﷻ له طرفه يو ساه [دار څيز] دے [چه دغه ساه ئے دحضرت مريم په بدن کښې دحضرت جبرائيل ﷺ دپوك وهلو په واسطه رسولې وه باقى نه خو هغه دالله ﷻ خوئے دې نه د دريو نه يو دے لکه په ذکر شوؤ عقيدو کښې چه لازم راځى] ﴿ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ ﴾ نو [هرکله چه دا ټولې خبرې غلطے دی ځکه ددې ټولو نه توبه اوکړئ او] په الله ﷻ دده په ټولو رسولانو [د هغوی دتعليم په جوړ] ايمان راوړنى [او دا اډانړه دی په توحيد باندې پس دتوحيد عقيده لرئ] ﴿وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ ط﴾ اوداسې مه وائى چه [معبودان] درے دی [مقصود تاسو لره دشرك نه منع کول دی او دا ټول په تيرو شوؤ قولونوکښې مشترك دے ددې شرك نه] ﴿ اِنْتَهُوْا خَيْرًا لَّكُمْ ط﴾ منع شئ ستاسو دپاره به ډيره غوره وی [او دتوحيد اقرار کوونکی شئ ځکه چه] ﴿ اِنَّمَا اللّٰهُ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ط﴾ حقيقى معبود خويو معبود دے [او] ﴿ سُبْحٰنَهٗ اَنْ يَّكُوْنَ لَهٗ وَلَدٌ لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ط﴾ هغه دصاحب اولاد کيدونه برى دے څه چه په آسمانونواو په زمکه کښې موجودات دی ټول دهغه ملك دی [اودهغه برى کيدل

Scanned with Ca

او مطلقًا مالك كيدل دتوحيد دليل دئ] او [يو دليل دادې چه] ﴿ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا ﴾ الله ﷻ په كارسازوكيدو كښې كافي دے [اودده نه سوا نور ټول په كارسازئ كښې ناكافي بل ته محتاج اويو حد ته د رسيدو نه پس عاجزه كيدونكي دي او دا كافي كيدل دكمال دصفتونو بعضې دي اود صفاتو كمال د خدائې د لوازماتو بعضې دے هركله چه دا په غير الله كښې نشي كيدلې نو بل چا لره خدائې هم نشي كيدلې لهذا توحيد ثابت شو].

معارف اومسائل

[وَكَلِمَتُهٗ] دې لفظ كښې اوښودلې شو چه حضرت عيسى عليه السلام د الله تعالى كلمه ده، مفسرينو ددې مختلفې معنې بيان كړيدى.

① امام غزالى رحمه الله فرمائى چه ديو ماشوم په پيدا كيدو كښې دوه څيزونه كاركوى اولنې څيز نطفه ده او دويم څيز د الله تعالى [كن] فرمائيل دى، چه ددې نه پس ماشوم پيدا كيږى. د حضرت عيسى عليه السلام په حق كښې هركله چه رومبې څه څيز نشته ځكه ئې دويم څيز ته دنسبت كولو په وجه ورته [كن] اووئيلې شو([1])، مطلب ئې دا شو چه هغوئ د مادى اسبابو دواسطې نه بغير صرف د [كن] كلمې سره پيدا شويدې. په دې صورت كښې به د [اَلْقٰهَآ اِلٰى مَرْيَمَ] دا معنى وى چه الله تعالى دا كلمه حضرت مريم عليها السلام ته اورسوله چه په نتيجه كښې ئې حضرت عيسى عليه السلام پيدا شو.

② ځنې علماؤ [كلمة الله] په معنى د [بشارة الله] اغستې دې، دې نه مراد حضرت عيسى عليه السلام دې چه الله تعالى د فرښتو په ذريعه دده زيرې بي بي مريم عليها السلام ته وركړې وو او ددې د پاره ئې لفظ د [كلمې] استعمال كړو لكه فرمائى ﴿اِذْ قَالَتِ الْمَلٰٓئِكَةُ يٰمَرْيَمُ اِنَّ اللّٰهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ﴾

③ ځنې علماؤ [كلمه] د آيت اونشانئ په معنى كښې اغستې ده لكه چه په قرآن كريم كښې هم په دې معنى كښې استعمال شويده: ﴿صَدَّقَتْ بِكَلِمٰتِ رَبِّهَا﴾

[وَرُوْحٌ مِّنْهُ] په دې لفظ كښې دوه خبرې دڅورې كتنې وړدى، يو دا چه حضرت عيسى عليه السلام ته د [روح] وئيلو څه معنى ده؟ بله دا چه الله تعالى ته ددې دنسبت كولو څه مطلب دې؟ په دې سلسله كښې د مفسرينو رحمهم الله كنړ اقوال نقل كړې شويدى.

① ځنې علماء رحمهم الله وائى چه هركله ديو څيز پاكى او پاكيزګى بيانول وى نو مبالغې د پاره په هغې د [روح] اطلاق كولې شى، په دې بِنا هركله چه د حضرت عيسى عليه السلام په پيدا كيدو كښې د پلار نطفې لره دخل نه وو، هغه صرف د الله تعالى د ارادې او دهغه د كلمې د [كُن] نتيجه وو، ځكه هغوئ عليه السلام په پاكئ او پاكيزګئ كښې كاملې درجې ته رسيدلې وو، لهذا دعرف دمحاورې په جوړورته [روح] اووئيلې شو، الله تعالى ته ددې نسبت كول دهغوئ عليه السلام دعظمت اوشرافت بيانولو د پاره دى، ځنګه چه د [مساجد] او [كعبې] نسبت الله تعالى ته ددې عظمت او شرافت ښكاره كولو د پاره وى لكه [مساجد الله] او [بيت الله] وئيلې شى يا ديو مخلص ترين عبادتګذار بنده نسبت چه الله تعالى ته كولې شى، چنانچه په سورت بنى اسرائيل كښې دا صيغه د رسول الله ﷺ د پاره داسې استعمال شويده: ﴿اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ﴾

---

[1]) روح المعانى تحت هٰذه الآية: ج ٤، ص ٣٣٦

③ ځنې علماؤ رحمهم الله فرمائیلی دي چه هرکله دحضرت عیسی علیه السلام دپیغمبرکولو مقصد دا وو چه دخلقو په مړوز ړونو کښې روح واچوی اوبیائې ژوندی کړی، هرکله چه هغوئ علیه السلام دروحانی ژوندسبب وو ځنګه چه روح دجسمانی ژوندون سبب وی نوپه دې وجه حضرت عیسی علیه السلام ته هم [روح] اووئیلې شو،لکه څنګه چه پخپله قرآن کریم دپاره هم دالفظ استعمال شویدې: ﴿وَكَذٰلِكَ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ رُوحًا مِّنْ أَمْرِنَا﴾ ولې چه قرآن کریم هم روحانی ژوند خلقوته وربخښی،

③ ځنې علماؤ رحمهم الله [روح] په معنی د[راز] سره اغستې دې،هرکله چه حضرت عیسی علیه السلام دخپل عجیب اوغریب [ناآشنا] پیدائش په وجه دالله تعالی یونشانی اورازووځکه ورته [روح الله] اووئیلې شو.

④ ځنې علماؤ رحمهم الله ددې معنی په حذف دمضاف سره ﴿ذُوْرُوْحٍ مِّنْهُ﴾ اغستې ده،هرکله چه ټول سادار څیزونه په [ذی روح] کیدوکښې یوشان دی،په دې وجه دحضرت عیسی علیه السلام دبیلتون راوستو دپاره الله تعالی ددوئ نسبت خپل ځان ته اوکړو،

⑤ دیوقول په جوړددې معنی [پوک وهل] دی چه حضرت جبرئیل علیه السلام دحضرت مریم علیها السلام په ګریوان کښې دالله تعالی په حکم پوک وهلی وو،چه دهغې له کبله په حضرت عیسی علیه السلام بارداره شوې وه،په دې لحاظ ورته [روح الله] اوفرمائیلې شو،لکه دقرآن کریم په بل آیت کښې چه دې ته اشاره شویده: ﴿فَنَفَخْنَا فِيْهِ مِنْ رُّوْحِنَا﴾

دې نه علاوه نور هم ګڼې احتمالات بیان کړې شویدی،خوهرڅنګه چه وی ددې مطلب دانشی کیدې چه حضرت عیسی علیه السلام دالله تعالی یوجزو[برخه] دې اودغه روح دحضرت عیسی علیه السلام په انسانی شکل کښې ښکاره شوې دې،

لطیفه: علامه محمود آلوسی بغدادی رحمه الله یوواقعه لیکلې ده چه دهارون الرشید په دربار کښې یو عیسائی طبیب،حضری علی بن الحسین واقدی رحمه الله سره په مناظره کښې داسې اووئیل چه ستاسو په کتاب [قرآن کریم] کښې دیولفظ نه دامعلومیږی چه حضرت عیسی علیه السلام دالله تعالی جزو[برخه] دې اوپه دلیل کښې ئې هغه آیت اولوستلو په کوم کښې چه د [رُوْحٌ مِّنْهُ] لفظ راغلې دې،علامه واقدی رحمه الله دهغه په جواب کښې یوبل د آیت ﴿وَسَخَّرَ لَكُمْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيْعًا مِّنْهُ﴾ اولوستلو چه په دې کښې ئې ورته اوښودل چه که [مِّنْهُ] نه مطلب دا شی چې عیسی علیه السلام د الله تعالی جزدې نوبیا د زمکې اودآسمانونوټول څیزونه دالله تعالی جزونه [برخې] ثابتیږی. دغه نصرانی ددې هیڅ جواب اونشو کړې اومسلمان شو(۱).

[وَلَا تَقُوْلُوْا ثَلٰثَةٌ] دقرآن کریم دنازلیدو په وخت نصارای چه په کومولویوفرقوکښې تقسیم وو، د[تثلیث] په باره کښې ددوئ عقیده په بیلوبیلو اصولوباندې بناء وه،یوې فرقې داوئیل مسیح بعینه خدائ دې یعنی پخپله خدائ دحضرت مسیح علیه السلام په شکل کښې دنیاته راکوز شویدې،بلې فرقې به دا وئیل چه حضرت مسیح علیه السلام دالله تعالی ځوئ دې،دریمې فرقې دا دعوې لرله چه دیووالی رازپه دریو کښې پټ دې، پلار، ځوئ او مریم په دې فرقې کښې هم

---

(۱) روح المعانی تحت هٰذه الآية: ج ۶، ص ۲۲۷

دوه ډلې وې دغه بلې ډلې به د مریم په ځای [روح القدس] ته دریم [اقنوم] وئیلو. غرض دا چه دغې خلقو حضرت مسیح ﷺ لره دریم د دریوځخه منلو، په دې وجه قرآن کریم درې واړه فرقو له بیل بیل هم مخاطب کړیدی او یو ځای هم او په نصاری ئې دا واضحه کړیده چه حق هم یو دې او هغه دا چه حضرت مسیح ﷺ د مریم نه پیدا شوې انسان او د الله تعالی رشتینې رسول دې، دې نه زیات نور هرڅه چه وئیلې شی هغه ټول باطل او لغو دی، خواه په دې کښې [تفریط] وی لکه دیهودو په عقیده کښې حضرت مسیح ﷺ ته تو تکه بازاو دځانه خبرې جوړوونکې وئیلې شویدی، یا په کښې [افراط] وی لکه دنصاری عقیده چه ده چه وائی هغه په خپله خدای یا دخدای ځوئ دې یا د دریوځنې دریم دې.

په قرآن کریم په بې شمیره آیتونو کښې، یو اړخ ته خو یې دنصاراؤ او یهودو ګمراهی په ډاګه کړه او بل اړخ ته ئې دحضرت عیسی ﷺ لوړشان او د الله تعالی په نزد، دهغه اعلی مقام ئې ښکاره کړې دې، دپاره ددې چه دافراط او تفریط دکږولارونه دحق معتدله لار څرګنده شی،

په عیسائی عقیدو، او دهغې په مختلفو اړخونو باندې او ددې په مقابله کښې که د اسلام په حقانیت باندې تفصیلی معلومات حاصلول غواړئ نو دحضرت مولانا رحمت الله صاحب کیرانوی مشهور کتاب [اظهار الحق] مطالعه کړئ چه دعربئ نه دهغې ترجمه سره دشرح او تحقیق [بائبل سے قرآن تک] نه اوس اوس، دکراچئ دار العلوم په دریوجلدونو کښې شائع کړیدې.

[لَهٗ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۭ وَكَفٰى بِاللّٰهِ وَكِيْلًا] [یعنی په آسمانونو او زمکه کښې، د پورته نه ښکته څه چه دی، هغه ټول دده مخلوق، مملوک او بندګان دی نو بیا او ښائی چه دهغه شریک، یا ځوئ، ځوک او څنګه کیدې شی؟ او الله تعالی دټولو کارونو جوړونکی دې او دټولو د کارجوړولو دپاره هم دې کافی او پوره دې، دبل چا حاجت نشته، بیا او وائي چه هغه ته دشریک یا دځوئ حاجت او ضرورت څنګه راپیښیدې شی؟

خلاصه دا شوه چه په مخلوق کښې هیڅوک دده دشریک جوړیدو جوګه نشی جوړیدې او نه دده په ذات کښې څه ګنجائش کیدې شی، او نه ئې ورته حاجت شته، دې نه معلومه شوه چه په مخلوقاتو کښې چا ته دخدای شریک یا ځوئ وئیل دهغه چا کار دې چه ایمان او عقل دواړه نه لری،

په دین کښې غلو حرامه ده: قوله تعالی: [لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ] په دې آیت کښې اهل کتاب په دین کښې د [غلو] نه منع کړې شویدی، د [غلو] لفظی معنی حدنه وتل دی او امام جصاص رحمه الله په [احکام القرآن] کښې لیکلی دی،

الغلو في الدين هو مجاوزة حد الحق فيه،(١) ددین په باره کښې غلو دا ده چه په دین کښې دټاکلی حدودو نه پر ورتیر شی، اهل کتاب دواړه ډلې یهود او نصاری، ددې حکم مخاطب ځکه جوړ کړې شو چه په دین کښې غلو کول په دې دواړو مشترک ځکه دی چه عیسایانو دحضرت عیسی ﷺ په منلو او تعظیم کښې دحد نه تیریدل او کړل، هغه ئې خدای، دخدای ځوئ یا دریم خدای جوړ کړو، او یهودو دهغوئ ﷺ په نه منلو او دکولو کښې دحدنه تیریدل او کړل چه هغه ئې رسول هم او نه منلو بلکه معاذ الله دهغوئ ﷺ په مور بی بی مریم باندې تورپورې کړو او دهغوئ ﷺ په نسب ئې عیب اولګولو.

---

١) أحكام القرآن للجصاص، سورة النساء، باب استتابة المرتد: ج ٥، ص ١٨٥

هر کله چه په دين کښې دحدنه دتيريدلو په سبب ديهودواونصاراؤگمراهي اوتباهي په ليدلو کتلو کښې راغلي وه، په دې وجه رسول الله ﷺ خپل امت ته په دې معامله کښې دپوره احتياط تاکيد اوفرمائيلو، چنانچه دمسند احمد په حواله دحضرت فاروق اعظم رضي الله عنه په روايت رسول الله ﷺ فرمائيلي دي، «لاتطروني كما اطرت النصارى عيسى ابن مريم فانما انا عبد فقولوا عبدالله ورسوله» زما په تعريف کولو کښې داسې زياتي مه کوئ څنګه چه نصاراؤ دعيسى ابن مريم په معامله کښې کړيدې ښه پوه شئ چه زه دالله تعالى بنده يم په دې وجه تاسو ماته دالله بنده اودهغه رسول وائې. [دا روايت، بخاري اوابن مدينى هم روايت کړې دې اوددې سند ته ئې صحيح وئيلى دى](۱)

خلاصه داشوه چه زه د الله ﷻ بنده او بشر کيدلو کښې تولوسره شريک يم دالله تعالى بنده او بشر يم، زما دې تولونه لويه درجه داده چه دالله تعالى رسول يم، ددې نه نورمالره داسې مخکښې کول چه دالله تعالى په صفتونو کښې م شريک اوګرځوئى، دا [غلو] ده تاسو دنصاراؤپشان چرته په دې غلو کښې راګيرنشئ اوديهودواونصاراؤ [غلوفي الدين] صرف انبياؤترحده پورې پاتې نشوه، بلکه هر کله چه هغوئ په دې عادت شونو دانبياؤ ﷺ دحوارينو، تابعدارانو او نائبانو په مقابله کښې ئې هم دغه رويه اختيار کړه، رسول ﷺ نه ئې خدائ جوړ کړې ؤ، د رسول ﷺ تابعدارانولره ئې دمعصومانو درجه ورکړه، په دې کښې ئې داتحقيق اوتنقيدهم اونکړوچه دغه خلق په رشتيادانبياؤ ﷺ تابعداران اودهغوئ ﷺ په تعليم باندې په صحيح طريقه کاربند دي، ياصرف دوراثت اونسب په توګه عالم، شيخ اوپير ګنړلې شي، نتيجه ئې داراؤخته چه بياددوئ قيادت دداسې خلقو په لاس کښې راغې چه پخپله هم ګمراهان ووااوددوئ ګمراهي به ئې نوره هم زياتوله، ددين اودينداري دلارې نه ددوئ دين بربادشو. قرآن کريم ددغسې خلقو حالت په دې آيت کښې داسې بيان کړيدې﴿اتَّخَذُوٓا۟ أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَٰنَهُمْ أَرْبَابًا مِّن دُونِ ٱللَّهِ﴾ [يعنى دغې خلقو خپل مذهبى پيشوايان هم دمعبود په درجه کښې اوګرځول، په دې ډول ئې رسولان دورانديې نه خدايان ګرځولى ووااودرسول ﷺ دتابعدارئ په نوم ئې دپخوانو مذهبونو پيشوايانو هم عبادت شروع کړو.

دې نه معلومه شوه چه دين کښې غلو [دحدنه تيريدل] داسې يوتباه کوونکې څيزدې چه د پخوانو امتونو دين ئې هم ددين په نوم باندې بربادکړيدې، په دې وجه زمونږآقااومولا رسول الله ﷺ خپل امت لره ددې لوئ وبائه دساتلو دپاره مکمل انتظامونه اوکړل.

په حديث کښې راغلى دى چه دحج په موقع، هر کله چه رسول الله ﷺ دجمرود ويشتلو دپاره حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه دګيټکو [شګو] راجمع کولواوفرمائيل نوهغوئ رضي الله عنه درميانه ګيټکئ [شګې] پيش کړې، د هغې په ليدوئې هغه ډيرې خوښې کړې اودوه ځل ئې اوفرمائيل، [بِمِثْلِهِنَّ، بِمِثْلِهِنَّ] [يعنى په داسې درميانه ګيټکو [شګو] باندې جمرې ويشتل پکاردى] بيا ئې اوفرمائيل:

(۱) مسند أحمد، مسند عمر بن الخطاب رضي الله عنه، رقم الحديث: ۳۹۸، وصحيح البخاري، كتاب الأنبياء، باب واذكر في الكتاب مريم الخ: ج۱، ص۴۹۰

ایاکم والغلوفی الدین فانما اهلك من قبلکم بالغلوفی دینهم(۱)، په دین کښې دغلونه ځان ساتئ ولې چه تاسو نه رومبی امتونه په دین کښې دغلوپه وجه هلاک اوبربادشو ،دې حدیث نه څوضروری مسئلې معلومې شوې.

ضروری فائدې: ① اول داچه دحج په موقعه دجمرو ویشتلو دپاره دداسې ګیټکئ [اشکې] استعمالوی چه نه ډیرې غټې اونه ډیرې ورې وی ولې چه دا [غلوفی الدین] ده.

② بله تردامعلومه شوه چه دهرڅه شرعی حدهغه دې چه رسول الله ﷺ په خپل قول اوعمل سره ټاکلې وی هغې نه تیریدل [غلو] ده.

③ دریمه داپه ډاګه شوه چه د [غلوفی الدین] تعریف دادې چه په څه کارکښې دهغې دمسنون حدنه تیریدل اوکړې شي.

دمحبت ددنیاحدود: دضرورت نه زیات ددنیادمال، دولت، اوعیش عشرت طمع لرل په اسلام کښې بد ګڼړلې شویدی، اودهغې دپریښودوهدایت هم قرآن کریم کښې ډیرځایه راغلی دی لیکن رسول الله ﷺ څنګه چه ددنیادطمع اومحبت نه منع کړیده دغه شان ئې په خپل قول اوعمل سره دهغې حدودهم اوټاکل، نکاح کول ئې خپل سنت اوګرځول اوهغې سره ئې دخلقو شوق پیداکړو، د اولاد پیدا کولو فائدې اودرجې ئې اوښودلې، خپل بچیانو سره ئې ښه ګذران کول اودهغوئ حقونه اداکول ئې فرض اوګرځول، خپلو اودهغوئ دضروریاتوپوره کولودپاره ئې څه روزی ګټل [فریضة بعدالفریضة] اوفرمائیل، تجارت، کرونده کول، کار، کسب، اومزدوری کول ئې ضروری اوګرځول، داسلامی حکومت قائمول او اسلامی نظام ته رواج ورکول ئې دنبوت فریضه اوګرځوله، په خپل عمل سره ئې په پوره جزیرة العرب کښې دحکومت یونظام قائم کړو اوخلفائ راشدینو ﷺ هغې لره ددنیاګوټ ګوټ [اکونج کونج] ته خورکړو، دې نه معلومه شوه چه د ضرورت په اندازه په دغې څیزونوکښې مصروفه کیدل ددنیاپه محبت کښې نه حسابیږی، او نه په حرص اوطمع کښې،

یهود او نصاراؤ داحقیقت اونه پیژندو اوپه رهبانیت کښې راګیرشو، قرآن کریم دغسې کوږتلل په دې الفاظو کښې رد کړل.

﴿وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ إِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا﴾ [یعنی دې خلقو، دخپله ځانه درهبانیت [د دنیا د پریښولو] طریقې اختیار کړې چه مونږه دهغې په ذمه لګولې نه وې، بیاچه کوم څیزونه ئې په ځان پخپله اینبی ووهغه ئې پوره هم نکړې شو.

دسنت اوبدعت حدود: رسول الله ﷺ په عباداتو، معاملاتو اومعاشرت [یعنی ټولو څیزونو] کښې په خپل قول اوعمل سره منځومیانه حدودټاکلی دی چه دهغې نه روستوپاتې کیدل کوتاهی اوترنه تیریدل ګمراهی ده، په دې وجه هغوئ ﷺ بدعات اومحدثات په ډیرې سختئ سره منع کړیدی لکه فرمائی: ﴿كُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ وَكُلُّ ضَلَالَةٍ فِي النَّارِ﴾(۲)، یعنی هربدعت ګمراهی ده اودهرې ګمراهئ انجام جهنم دې،

۱) مسند أحمد، مسند عبدالله بن عباس رضی الله عنه: رقم الحدیث: ۳۲۰۵

۲) سنن النسائی، کتاب صلوٰة العیدین، باب کیف الخطبة: ج۱، ص ۲۳۴

Scanned with Ca

بدعت هغه څیزته وئیلې شي چه درسول الله ﷺ په قول او عمل کښې په ښکاره یا په اشارې سره موجود نه وي، حضرت شاه ولي الله قدس سره لیکلي دي چه بدعت لره اسلام ځکه سخت جرم گرځولې دې چه هغه ددین دبدلولو لارده، پخوانو امتونو کښې داسې اوشو چه هغوئ په خپل کتاب او دخپل رسول ﷺ په تعلیماتو کښې دخپله ځانه زیاتې راوستو او هر راتلونکې نسل به پکښې نور نور زیاتې کولو، تردې چه بیا دا پته هم نه لگیده چه اصل دین څه وو او دخلقو هغه زیاتوالي پکښې کوم یو دي؟

شاه صاحب رحمه الله په خپل کتاب [حجة الله البالغة] کښې دا بیان کړیدی چه په دنیا کښې ددین د بدلولو کوم کوم اسباب راپیښ شویدي او اسلامي شریعت ددغې ټولو په دروازو باندې څنګه پهره او دروله ده چې دهیڅ یو سوري نه دا وباپه دې امت کښې خوره نشي

دعالمانو او پیرانو په تعظیم او تابعدارئ کولو کښې درمیانه لار: ددغې اسبابو څنې، ددین په باره کښې ژوروالې او سختې، یعني [غلوفي الدین] ئې لوئ سبب او گرځولو(۱)، خو افسوس دې چه درسول الله ﷺ ددې دومره غمخوارئ او دشریعت دې دومره پابندو سره بیا هم، امت په [غلو] کښې ډیر بدبد راګیر دې، ددین په ټولو اړخونو دې تخښې نښانې ښرګندې دی، خصوصا کوم څیزچه ملت دپاره هلاکونکې او زیات ضرري ثابتیږي هغه دديني مشرانو او پیشوایانو معامله ده، دمسلمانانو یوه ډله دې طرفته تللې ده خوچه مشران او پیشوایان، عالمان او بزرگان هیڅ څیزنه دی، وائي چه مونږ لره کتاب الله ځکه کافي دې چه څنګه پرهغوئ پوهیږي، مونږه هم پرې هغسې پوهیږو، [هُمْ رِجَالٌ وَنَحْنُ رِجَالٌ] [هغوئ هم سړي دی او مونږه هم سړي یو] نتیجه ئې دا راوختله چه هر هغه فسادي او هوسناک، ځان لره دقرآن عالم بولي چه پوهیږي، او نه د قرآني حقیقتونو او علومو نه واقف وي، او نه درسول الله ﷺ دبیان او تفسیر نه خبر وي او صرف دقرآن کریم څه ترجمه ئې کتلې وي، هغه تفسیر او تشریح چه پخپله درسول الله ﷺ یا د هغوئ ﷺ دبراه راست شاګردانو [صحابه کرام رضي الله عنهم] نه منقول وي هغه دسره نه ګوري او کومه خبره ئې چه په خپل ذهن او خیال کښې راشي هغه په قرآن کریم باندې وراوتپي، حالانکه که بغیر د استاذ نه صرف کتاب کافي ګرځیدې نو الله تعالی په دې قادر وو چه لیکلې نسخې به ئې خلقوته رالیږلې او رسول الله ﷺ به ئې دې دپاره دمعلم او استاذ په حیثیت نه لیږلو، که ژور نظر او کړې شي نو معلومه به شي چه دا خبره یوازې کتاب الله سره خصوصیت نه لري، بلکه یوازې په ترجمې کتو باندې هیڅوک د دغې فن، عالم نشي جوړیدې، د ډاکټرئ یا دیوناني طب، د کتابونو په ترجمو کتلو سره ترننه پورې هیڅوک حکیم یا ډاکټر نه دې جوړشوې، د انجنیرئ په کتابونو کتلو باندې هیڅوک انجنئیر نه دې جوړشوې، ددرزي توب یا اخلي پخلي د کتابونو په کتلو سره څوک درزي یا باورچي [اشپز] نه دې جوړشوې بلکه دا ټول دزده کړې ورکولو، زده کړې کولو، استاذئ او شاګردئ ضرورت لري، مګر افسوس دې چه قرآن او سنت داسې یوزیاتې شې ګڼلې شي چه دهغې

---

(۱) حجة الله البالغة: ج ۱، ص ۲۲۸ ته ۲۳۰

دپاره دمعلم ضرورت نشی محسوسولې، چنانچه د تعلیمیافته خلقو ګڼړشمیرخوپه دې [غلو] کښې اوبهیدل چه صرف دقرآن کریم مطالعه کول ئې کافی اوګڼړل، دپخوانو علماؤ تفسیرونه تعبیرونه، دهغوئ په نقشِ قدم باندې تلل اوتابعداری کول ئې بیخی شاته اوغورځوله. بل اړخ دمسلمانانو ګڼړشمیرپه دې [غلو] کښې ډوب شوچه په سترګوپټوئې هر هغه چا لره یې دینی مشران او پیشوایان جوړکړل چه خپل زړه ئې غواړی اوبیاپه پټو سترګو هغوئ پسې روان دی، دغه خلق ددې پته هم نه لګوی چه زمونږدغه مقتدایان اوپیشوایان دعلم وعمل، اصلاح اوتقوی په تول صحیح هم خیژی اوکه نه؟.هغوئ دې ته هم خیال نه کوی چه ددوئ تعلیم ورکول دقرآن اوسنت خلاف خونه دی؟.اسلامی شریعت د [غلو] نه دساتلوپه غرض ددې دواړوترمنځه داطریقه کاراوښودله چه [کتاب الله] د [رجال الله] نه ازده کړئ، او [رجال الله] په [کتاب الله] اوپیژنئ، یعنی دقرآن اوسنت دمشهوروتعلیماتوپه ذریعه، اول دغه خلق اوپیژنئ کوم چه دکتاب اوسنت په علوموکښې مشغول دی او دهغوئ ژوند دکتاب اوسنت په رنګ، رنګ شوی وی بیادکتاب اوسنت په هرې کړکیچنې مسئلې کښې دهغوئ تفسیراو تشریح دخپلې رائ نه وړاندې ګڼړئ اوتابعداری ئې کوئ.

لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ

هیڅ کله عار نهٔ ګڼړی | مسیح | دا خبره چې شی | بنده دپاره دالله | اونهٔ | فرښتې

مسیح [حضرت عیسی ؑ] هیڅکله دا شرم نه کوی | چې هغه ته دې دالله بنده اوویلې شی | اونه هغه فرښتې

الْمُقَرَّبُوْنَ ۚ وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ فَسَيَحْشُرُهُمْ

مقربې | اوڅوک | چې شرم اوکړی [دبندګئ] دهغه نه | اوتکبراوکړی | نوزر به راجمع کړی الله دوئ

چې مقربې دی | اوڅوک چې دالله ﷻ عبادت کښې شرم کوی | اوکبرکوی | نو زر ده چې الله ﷻ

اِلَيْهِ جَمِيْعًا ۝ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

طرف خپل ته | ټول | نوهغه کسان | چې ایمان ئې راوړې دې | اوکړې ئې دی | نیک عملونه

به ټول خلق دقیامت په ورځ راجمع کړی | نوچا چې ایمان راوړې وی | او نیک کارونه ئې کړی وی

فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ ۚ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

نوپوره به ورکړی الله هغوئ ته | بدلې دهغوئ | اوزیات به ورکړی هغوئ ته | دفضل خپل نه | اوهغه کسان

نوهغوئ ته به خپلې خپلې بدلې پوره پوره ورکړی | اودخپل فضل نه به ورله زیاتې هم ورکړی | اوچا چې

اسْتَنْكَفُوْا وَاسْتَكْبَرُوْا فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝

چې شرم یې ګڼړلې وی | اوتکبر یې کړې وی | نو عذاب به ورکړی هغوئ ته | عذاب | دردناک

[دالله ﷻ بندګی] شرم ګڼړلې وی | او کبر ئې کړې وی | نوهغوئ ته به دردناک عذاب ورکړی

وَلَا يَجِدُوْنَ	لَهُمْ	مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ	وَلِيًّا	وَّلَا نَصِيْرًا۝
او اوبه نه مومی	هغویٔ دپاره دخان	سوا دالله نه	څوك دوست	اونه څوك مددګار

اود خپل ځان دپاره به دالله ﷻ نه سوا بل څوک ملګرې یامددګار اونه مومی

آسان ترجمه قرآن: مسیح کله هم دې خبرې لره څه شرم نه ګنړي چه هغه دې دالله بنده وی، اونه نزدې فرښتې (په دې کښې څه شرم ګنړي) او څوك چه دالله بندګۍ لره شرم ګنړي، او تکبر کوي، نو (هغه دې ښه پوهه شي چه) الله به دوی ټولو لره خپل ځان ته راجمع کړي بیا چه کومو خلقو ایمان راوړې دې او نیك عمل ئې کړې دې هغوی ته به پوره پوره ثواب ورکړي، او خپل فضل سره به ددې نه زیات هم ورکړي پاتې شو هغه خلق چه هغوی (بندګۍ لره) شرم ګنړلې وو او تکبر ئې کړې وو نوهغوی ته به دردناك عذاب ورکوي، او دالله نه سوا به دوی ته څوك معاون او مددګار ملاؤ نه شي.

خلاصه تفسیر

[نصاری هیڅ یې هېڅه حضرت عیسی ؑ لره اله یا د اله جز جوړوی.پخپله دحضرت] مسیح [شان دادې چه په زمکه د استوګنې په زمانه کښې خو دهغه دبندګۍ اقرار چه خپله خدائی پرې باطلوی مشهوره او ټولو ته معلومه ده لیکن اوس هم د آسمان داستوګنې په زمانه کښې چه د زمکې د استوګنې نه زیاته پورته او دلوړ والی ګمان پرې کیږی یا تر قیامته پورې هغه چه په کوم حالت کښې وی،که په دې کښې ترې هم څوك تپوس اوکړی ﴿لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ﴾ نو په دغه حالت کښې به هم] هیچرې د الله ﷻ دبنده جوړیدو شرم [او انکار] نه کوی ﴿وَلَا الْمَلٰٓئِكَةُ الْمُقَرَّبُوْنَ﴾ اونه به مقربې فرښتې [چرته شرم اوکړی چه په کښې حضرت جبریل ؑ هم راځی چا لره چه د اله جز یعنی برخه منی پخپله هغه نه هم که څوك تپوس اوکړی] او [هغه به شرم څنګه اوکړی چه ددې شرم کولو داسې خراب انجام دې چې] ﴿وَمَنْ يَّسْتَنْكِفْ عَنْ عِبَادَتِهٖ وَيَسْتَكْبِرْ﴾ څوك دالله ﷻ دبندګۍ نه شرك او تکبر کوی نو [دهغه انجام واورئ] ﴿فَسَيَحْشُرُهُمْ اِلَيْهِ جَمِيْعًا۝﴾ الله ﷻ به ضرور ټول خلق خپلې خواته [دحساب په موقعه] راجمع کړی ﴿فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ﴾ بیا چه کومو خلقو [په دنیا کښې] ایمان راوړې وی اوهغوی ښه کارونه کړی وی [یعنی په بندګئی کولو کښې پاتې کیږی، ولې چه حاصل د بندګئی هم دغه ایمان او عملونه دی] ﴿فَيُوَفِّيْهِمْ اُجُوْرَهُمْ وَيَزِيْدُهُمْ مِّنْ فَضْلِهٖ﴾ نو هغوی ته به خودهغوی پوره ثواب [هم] ورکوی [چه په ایمان او نیکوعملونو باندې اړانړه کیدو په باره کښې یې نص وارد شوې وی] او [ددې نه علاوه] هغوی ته به په خپل فضل سره نور زیات [هم] ورکوی [چه په تفصیل ئې نص نه دې وارد شوې] ﴿وَاَمَّا الَّذِيْنَ اسْتَنْكَفُوْا وَاسْتَكْبَرُوْا﴾ او کومو خلقو چه [د بنده جوړیدو نه] شرم کړې وی اوتکبر ئې کړې وی ﴿فَيُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا﴾ نو هغوی ته به دردناکه سزا ورکوی ﴿وَلَا يَجِدُوْنَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيًّا وَّلَا نَصِيْرًا۝﴾ اودغه خلق به چا غیرالله لره خپل یار او مددګار نه مومئ.

Scanned with Ca

معارف او مسائل

دالله تعالی بنده کیدل داعلی درجې شرافت او عزت دی: لَنْ يَّسْتَنْكِفَ الْمَسِيْحُ اَنْ يَّكُوْنَ عَبْدًا لِّلّٰهِ [حضرت مسیح ؑ دالله تعالی په بنده جوړیدو کښې هیڅ شرم نه کوی او دالله تعالی مقربې فرښتې هم په دې کښې څه شرم نه کوی] ولې چه دالله تعالی بنده کیدل دهغه عبادت کول او دهغه حکمونه په ځائ راوړل خودلوړې درجې شرافت او عزت دی، دحضرت مسیح ؑ او دمقربینو فرښتونه ددې نعمت قدر او قیمت اوپوښتئ، هغوئ به په دې کښې شرم ولې کوی، البته ذلت او عذاب خو دالله تعالی نه سوا دنورچا په بندګئ کښې دی، لکه نصاراؤ چه حضرت مسیح ؑ لره ابن الله [دالله ځوئ] او معبود او منلو، مشرکانو، فرښتې دالله تعالی لونړه او منلې، دهغوئ او دبتانو عبادت ئې شروع کړل نو دوئ دپاره همیشه دپاره عذاب او ذلت دی [فوائد عثماني][1]

يٰۤاَيُّهَا النَّاسُ	قَدْ جَآءَكُمْ	بُرْهَانٌ	مِّنْ رَّبِّكُمْ	وَاَنْزَلْنَاۤ
اې خلقو	راغلې دې تاسو ته	دلیل	دطرف درب ستاسو نه	اونازل کړې دې مونږه
اې خلقو! تاسو ته دالله ﷻ دطرفنه ښکاره دلیل راغلې دې ....اوتاسو ته مو				

اِلَيْكُمْ	نُوْرًا	مُّبِيْنًا	فَاَمَّا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ	وَاعْتَصَمُوْا
تاسوته	نور	ښکاره	نو هغه کسان	چې ایمان ئې راوړو په الله باندې	او منګولې ئې ښخې کړې
ښکاره رڼړا [د نبی کریم په صورت کښې] رالیږلې ده نوچا چې په الله ﷻ ایمان راوړو او دهغه په احکامو					

بِهٖ	فَسَيُدْخِلُهُمْ	فِىْ رَحْمَةٍ	مِّنْهُ	وَفَضْلٍ ۙ
په هغه	نو زر به داخل کړی الله هغوی	په رحمت کښې	دطرفه خپل نه	او په مهربانۍ کښې
......ئې منګلې ښخې کړې نو الله ﷻ به ئې په خپل رحمت او فضل کښې داخل کړی				

وَّيَهْدِيْهِمْ	اِلَيْهِ	صِرَاطًا	مُّسْتَقِيْمًا ۟
او او به ښائی هغوئ ته	طرف خپل ته	لاره	نیغه
او په سمه نیغه لار به ئې روان کړی			

آسان ترجمه قرآن: اې خلقو تاسوته ستاسو د پروردګار د طرف نه صفا دلیل راغلې دې او مونږ تاسو ته یو داسې رڼړا رالیږلې ده چه د لارې پوره وضاحت کوي نو کومو خلقوچه په الله ایمان راوړې دې او په هغه ئې منګول لګولې ده. الله به هغوی لره خپل فضل او رحمت کښې داخل کړي او دوی به خپل ځان څخه راتلو دپاره نیغې لارې ته ورسوي.

---

[1]) تفسیر عثمانی تحت هٰذه الآیة: ج ۱، ص ۳۱۹

Scanned with Ca

خلاصه تفسير

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ قَدْ جَآءَكُم بُرْهَٰنٌ مِّن رَّبِّكُمْ ﴾ اې [ټولو] خلقو يقيناً تاسو ته ستاسو د پروردګار له طرفه يو [کافي] دليل راغلې دې [چه هغه مبارك ذات درسول الله ﷺ دې] ﴿ وَأَنزَلْنَآ إِلَيْكُمْ نُورًا مُّبِينًا ﴾ او مونږ تاسو ته يو صفا نور درليږلے دے [چه هغه قران کريم دې نو درسول الله ﷺ او قران کريم په ذريعه چه څه تاسو ته اوخودلے شي هغه حق دی چه په کښې بيان شوی مضمونونه هم داخل دی] ﴿ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَٱعْتَصَمُواْ بِهِۦ ﴾ نوکومو خلقو چه په الله تعالى باندې ايمان راوړلو [چه هغه دپاره د توحيد او د تنزيه او پاکوالي عقيده لرل لازم دی] او هغوی الله تعالى [دهغه دين] لره [يعنی اسلام لره] مضبوط اونيولو [چه دوی دپاره درسول ﷺ اوقران پاك تصديق کول لازم دی] ﴿ فَسَيُدْخِلُهُمْ فِى رَحْمَةٍ مِّنْهُ ﴾ نو داسې خلقو لره به الله تعالى په خپل رحمت [يعنی جنت]کښې داخل کړی ﴿ وَفَضْلٍ وَيَهْدِيهِمْ إِلَيْهِ صِرَٰطًا مُّسْتَقِيمًا ﴾ اوپه خپل فضل کښې [به يې واخلي يعنی جنت کښې د داخليدو نه علاوه به ورته نور لوئې لوئې نعمتونه ورکړی چه ديدار الهي په کښې هم شامل دې] او خپل ځان ته [درسيدو] به دوی ته نيغه لار اوښائی [يعنی پدنيا کښې يې؛ درضا په لار ولاړ اوکلك اولری او دے نه دايمان اونيکو عملونو د پرېښودونکی حالت معلوم شو چه ورته به دا نتيجے نه ملاويږی].

معارف اومسائل

دابرهان] نه مطلب دې څه: [قَدْ جَآءَكُم بُرْهَٰنٌ مِّن رَّبِّكُمْ] د [برهان] لفظی معنی دليل ده چه مرادترې درسول الله ﷺ ذات اقدس دې [روح]

حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائيلی دی چه درسول الله ﷺ ذاتِ اقدس نه په لفظ د [برهان] سره څکه تعبيراوکړې شوچه ددوئ ذات مبارك، ددوئ ﷺ بهترينَ اخلاق ددوئ ﷺ معجـزات اوپـه دوئ ﷺ بانـدې دکتـاب نازليـدل، داټول څيزونـه، ددوئ ﷺ دپيغمبرئ او رسالت، ډاګيز دليلونه دی، چه دهغې په ليدوسره دبل دليـل حاجت نـه پيښيږی، لهذا اګنړل پکاردی چه ددوئ ﷺ ذات اقدس پخپله يوجته دار دليل دې.

اود[نـور] نـه مراد قـرآن كـريم دې، [روح] لكـه چـه دسورتِ مائده ددې آيت نـه هـم معلوميږی، ﴿قَدْ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٌ وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ﴾ تاسو ته دالله تعالى له اړخه يوروښانه څيزراغلې دې اوهغه يوكتاب واضح، يعنی قرآن كريم دې [بيان القرآن] [1]

پـه دې آيت كښې څه تـه چه [نور] وئيلې شوی دی ورپسې بياهغې تـه [كتاب مبين] وئيلې شويدی، دلته داشبه كول نـه دی پكارچه عطف تغائر[بيلوالې] غـواړی لهذا[نور] او [كتاب] يونشی كيدې بلكه دادواړه بيل بيل څيزونه دی څكه جواب ئې دادې چه په عطف كښې بيلوالې دعنوان كافی دې اګرچه مصداق اومعنون هم يوڅيزوی [روح] [2]

---

[1]) بيان القرآن، سورة المائدة آية: ١٥، ج ٢، ص ١٢
[2]) روح المعاني تحت هٰذه الآية المذكورة: ج ٣، ص ٢٢٨

که د [نور] نه مراد د رسول الله ﷺ ذات اقدس وی او [کتاب] نه مراد قرآن کریم وی نو دا هم صحیح دی [روح](۱) لیکن دې نه دهغوئ ﷺ داسې خالص نور کیدل نه ثابتیږی چه بشریت اوجسمانیت سره هیڅ سمون نه خوری.

يَسْتَفْتُونَكَ ۖ قُلِ
غواړی خلق فتوی ستانه | اووایه
| ائې پیغمبره ﷺ دوی ستانه [د کلاله باره] کښې تپوس کوی | ورته اووایه
اللَّهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلَالَةِ ۚ إِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهُ
چې الله | فتوی درکوی تاسو ته | په کلاله کښې | که یو داسې سړې امر شی | چې نه وی | هغه لره
چې الله ﷻ درته د کلاله حکم ښائی (۲) | که یو سړې بې اولاده [اوبې موریلاره] مړ شی
وَلَدٌ وَلَهُ أُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ يَرِثُهَا
اولاد | اوی هغه لره | یوه خور | نو ده هغې لره | نیمه | د هغې مال | چې پریښې وی | او ورور | میراث وړی دخور
اودهغه یوه خوروی | نو نیم میراث دهغې دې | اوکه خوربې اولاده مړه شی | نو ورور به ئې د ټول مال مالک وی (۳)

---

[1]) روح المعانی تحت هٰذه الآية المذكورة: ج ۳، ص ۲۲۸

[2]) **د آیت شان نزول**:- حضرت براء ؓ فرمائي چه سورتونو کښې د ټولو نه آخری سورت سورة برات نازل شوې دې او آیتونو کښې ټولو نه آخری آیت **[یستفتونک]** نازل شوې دې (صحیح بخاری کتاب التفسیر)
حضرت جابر بن عبدالله ؓ فرمائی چه خه خپله بیمارئی کښې بې هوشه پروت ووم، او دې کښې د الله رسول ﷺ خما پوښتنې ته راغلو، نبی کریم ﷺ اودس اوکړو او هغه اوبه ئې په ما واچولې او څه په هوش کښې راغلم. او ما اووئیل یارسول الله ﷺ ! د وارثانو لحاظ سره څه کلاله یم، خما میراث به څنګه وی ؟ نو په دې الله ﷻ آیت د فرائضو نازل کړو (صحیح بخاری).
د کلاله د تعریف په باره کښې د سورة نساء آیت نمبر ۱۲ تفسیر اوګورئ او د باقی جملو تفسیر د ابن کثیره نه ماخوذ دې (ابن کثیر)

[3]) **د کلاله خور ته نیمه حصه ملاویدل**:- بیا فرمائی چه د هغه ولد نه وی، د دې نه بعضو خلقو دا دلیل نیولې دې چه په کلاله کښې د پلار نه کیدل شرط نه دې، بلکه چه د چا اولاد چې نه وی هغه کلاله دې. په روایت د ابن جریر ؒ حضرت عمر ابن خطاب ؓ نه مروی دې خو صحیح قول د جمهورو دې او د حضرت صدیق ؓ فیصله هم دا ده چه د هغه نه والد وی اونه ولد او د دلالت هم د دې آیت مبارک نه

پس چې کوم الفاظ دی. د هغې نه هم کیږی په کوم کښې چې فرمائی [وَلَهٗۤ اُخْتٌ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ]
یعنی چې د ده خور وی نو خور لره د ټول پریخودې شوی مال نیم په نیمه حصه ده.
د پلار په وجود کښې د خور محرومتیا:- اوکه خور پلار سره وی نو پلار دا د میراث نه محرومه کولې شی. او دې ته اجماعی طور هیڅ نه ملاویږی. نو ثابته شوه چه کلاله هغه دې چه د هغه ولد نه وی او دا خو د نص نه ثابت دی. او پلار ئې هم نه وی او د اهم د نص نه ثابتیږی. خو د لږ غور نه پس څکه چه د خور نیمه حصه د پلار موجودګئ کښې نه کیږی. بلکه هغه دورئې ....
[بقیه په راروانه صفحه...

Scanned with Ca

اِنْ لَّمْ يَكُنْ	لَّهَا	وَلَدٌ	فَاِنْ	كَانَتَا اثْنَتَيْنِ	فَلَهُمَا	الثُّلُثٰنِ

که چرې نه وي | هغې لره | اولاد (۱) | نو که چرې | وي | دوه (۲) | نو دې هغوئ دواړو لره | په دريو کښې دوه حصې

نو که د مړي وارثان دوه خوېندې وې | نو هغوئ به د ټول ميراث نه دريو

...بقيه د تيرمخ]..نه محرومه وي. حضرت زيد بن ثابت نه د دې مسئلې باره کښې تپوس کيږي چه يوښځه مړه شي او د دې يو خور او خاوند دې.نو دوي اوفرمائيل چه نيمه به خاوند ته ورکړي او نيمه به خور ته.هرکله چه د دوي نه د دې دليل اوپوښتلې شو
نو دوي اوفرمائيل چه ځما موجودګئ کښې نبي کريم ﷺ ددې مسئلې دا صورت فرمائيلې وو.(احمد)
د لور په وجود د خور محروميا:- حضرت عبدالله ابن عباس ؓ او حضرت ابن زبير ؓ نه ابن جرير کښې منقول دي چه د دواړو فتوي د هغه مړده باره کښې چه يو لور او يو خور پرېږدي دا وه چه په دې صورت کښې به خور محرومه وي. اودې ته به هيڅ نه ملاويږي ځکه چه د قرآن دې آيت مبارك کښې د نيمې حصې ملاويدو صورت بيان شوې دې چه د مړده اولاد نه وي او دلته اولاد شته،
د لور په وجود کښې د خور عدم محروميا:- ليکن جمهور ددې خلاف دي،هغوئ واني چه دې صورت کښې به هم لور ته نيمه حصه ملاويږي.په سبب د فرضو او نيمه به خور ته ملاويږي.په سبب د عصبه. اسود ؒ واني چه حضرت معاذ بن جبل ؓ د نبي کريم ﷺ زمانه کښې فيصله اوکړه چه نيمه به جينۍ ته اونيمه خور ته ملاويږي (صحيح بخاري).
صحيح بخاري کښې يو روايت کښې دي چه حضرت ابوموسى اشعري ؓ د لور او نمسۍ او خور باره کښې فتوي ورکړې وه چه نيمه به لور ته او نيمه خور ته بيا ئې اوفرمائيل چه لړ.خو ابن مسعود ؓ ته هم ورشه،چې هغه هم ماسره موافقت کوي.خو هرکله چه ابن مسعود ؓ نه سوال اوشو او د حضرت ابوموسى اشعري ؓ فيصله ورته واورولې شوه نو دوي اوفرمائيل چه بيا خو به ځه ګمراه شم، اوهدايت يافته خلقو نه به شمير نه يم.واورئې دې کښې ځه هغه فيصله کوم چه کومه نبي کريم ﷺ کړې ده. نيمه به لور ته او شپږمه حصه به نمسۍ ته او دوه ثلثه پوره شو او چه کوم باقي پاتې شي هغه خورته .نوموڼږ بيا واپس شو او حضرت ابوموسى اشعري ؓ ته مو دا خبرورکړو، نووې فرمائيل چه په تاسو کښې ترڅو پورې دا علامه موجود وي نو ځمانه تپوس مه کوئې.(صحيح بخاري)
۱) **د رور د کلاله خور نه ميراث اوړل:-** بيا فرمان دې چه دا به د هغه وارث وي که د ده اولاد نه وي يعني رور د خپلې خور په ټول ميراث کښې وارث دې.په دې صورت کښې چه هغه کلاله مړه شي يعني د هغې اولاد نه وي اونه ئې پلار وي ،ځکه چه د پلار موجودګئ کښې خو رور ته به ميراث کښې هيڅ نه ملاويږي.خوکه رور سره بل څوك حصې والا وارث وي لکه خاوند يا مور يا رور نو ده ته به د هغې حصه ملاويږي.او د باقي مال وارث به رور وي. صحيح بخاري کښې دي چه نبي کريم ﷺ فرمائي فرائض د دوي اهل سره يو ځائې کړئې او چه کوم باقي پاتې شي نو هغه د هغه سړي دي چه د ټولو نه ورته زيات نزدې وي (صحيح بخاري).
۲) **د دوو خويندو نه د زياتو صورت:-** بيا فرمائي که خويندې دوه وي نو هغې ته به د متروکه مال نه دوه ثلث ملاويږي .هم دا حکم د دوو نه د زياتو خويندو هم دې.هم ددې ځائې نه يو جماعت د دوو لوڼړو حکم کړې دې .لکه چه د دوو نه د زياتو خويندو حکم د لوڼړو حکم سره دې.او د هغه آيت مبارك الفاظ دا دي چه [فَاِنْ كُنَّ نِسَآءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ] (ابن کثير)

Scanned with Ca

مِمَّا	تَرَكَ ط	وَاِنْ	كَانُوْٓا	اِخْوَةً	رِّجَالًا	وَّنِسَآءً
دهغه مال نه	چې پريښي وی مړی	اوكه چرې	وؤ	ورونړه خويندې	نارينه	اوښځې

كښې دوه برخې اخلی | ....اوكه ډير ورونړه خويندې وی (١)...............................

---

١) **د ورونړو او خويندو د جمع كيدو په صورت كښې حكم**:- بيا فرمائي كه رور او خور دواړه وی نو د سړی حصه به د دوؤ ښځو برابر وی.دا حكم د عصباتو هم دې .كه هلك او كه نمسی وی يا رور وی هركله چه په دوی كښې سړې يا ښځه دواړه موجود وی نو څومره چه دوو ښځو ته ملاويږی نو دومره به يو سړی ته ملاويږی.

د احكامو بيانولو حكمت:- الله ﷻ خپل فرائض بيان فرمائی.خپل حدونه مقرروی،خپل شريعت واضح كوی،چه هسې نه تاسو دهوكه شئ،الله ﷻ د ټولو كارونو د انجام نه واقف دې ،اود هر مصلحت نه دانا،د بنده ګانو خيرخواه دې،د مستحق د استحقاق پيژندونكې دې.

د ابن جرير ؒ روايت كښې دی چه نبی كريم ﷺ او صحابه كرام چرته په سفر روان وو ،د حذيفه ؓ د اوښې سر نبی كريم ﷺ پسې چې كوم صحابی ناست وو د هغه كجاوې سره برابر وو،او د حضرت عمر فاروق ؓ د سورلئ د حذيفه ؓ سره روستو دويم كس سره برابر وو اودا آيت مبارك نازل شو.نو نبی كريم ﷺ حضرت حذيفه ؓ ته دا آيت مبارك واورولو، او حضرت حذيفه ؓ حضرت فاروق اعظم ؓ ته او دې نه پس حضرت عمرفاروق ؓ چه كله دا آيت مبارك و اوريدو او دې باره كښې ئې سوال اوكړو نو وې ونيل چه په الله قسم ته ناپوهه ئې،ځكه چه ماته نبی كريم ﷺ آورولې وو هم دغه شان ما تاته واورولو. په الله قسم ما په دې كښې هيڅ زياتی نه ده كړې.حضرت عمرفاروق ؓ به فرمائيل چه ائې الله ﷻ ! اګر چه تا ظاهر كړی دی مګر ما باندې نه دی ظاهر شوی.(الطبری)

خو دا روايت منقطع دې.هم ددې روايت يو بل سند كښې دی چه حضرت عمر فاروق ؓ دوباره دا سوال د خپل خلافت په زمانه كښې كړې وو.

دكلاله په باره كښې د عمر ؓ عدم تشفی:- او يو حديث مبارك كښې دی چه حضرت عمرفاروق ؓ نبی كريم ﷺ نه تپوس كړې وو چه يارسول الله ﷺ ! د كلاله ميراث به څنګه تقسيميږی ؟ په دې باندې الله ﷻ دا آيت مبارك نازل كړو،خو د حضرت عمرفاروق ؓ پوره تشفی نه وه شوې،ځكه ئې خپلې لور او د نبی كريم ﷺ بی بی حضرت حفصه ؓ ته فرمائيلی وو چه كله نبی كريم ﷺ خوشحاله وی نو ته د دې تپوس اوكړه. نو حضرت حفصه ؓ يوورځ هم دغه شان موقع*اوموندله او تپوس ئې اوكړو نو نبی كريم ﷺ اوفرمائيل چه شايد ستا پلار تاته د دې د تپوس كولو هدايت كړې دې.ځما خيال دې چه هغه بد دا معلوم نكړې شی.حضرت عمرفاروق ؓ چه كله دا واوريدل نو وې فرمائيل چه هركله نبی كريم ﷺ دا اوفرمائيل نو اوس څه دانشم معلوموليې.

اويو روايت كښې دی چه د حضرت عمر فاروق ؓ په حكم چه كله حضرت حفصه ؓ سوال اوكړو نو نبی كريم ﷺ ورته په يو پاڼړه دا آيت مبارك په چا اوليكلو،بيا ئې اوفرمائيل چه عمر ؓ تاته د دې د تپوس كولو ونيلی دی ؟ ځما خيال دې چه هغه به دا صحيح نه كړی.آيا هغه ته دګرمئ هغه آيت مبارك ياد نه دې (يعنی هغه ايت چې د ګرمئ په موسم كښې نازل شوې وو) چه كوم په سورة نساء كښې دې،اوهغه كافی نه دې څه؟ [وَاِنْ كَانَ رَجُلٌ يُّوْرَثُ كَلٰلَةً] بيا چه كله نبی كريم ﷺ نه خلقو سوال اوكړو نو هغه آيت نازل شو چه كوم د سورة نساء په اخركښې دې.اودا حديث مبارك مرسل دې.

يو ځل حضرت عمرفاروق ؓ صحابه كرام ؓ جمع كړل او يو تكړه ئې راوخسته چه هم نن دكلاله باره كښې فيصله كوم چه په پرده كښې هم ښځو ته هم ....[بقيه په راروانه صفحه...

فَلِلذَّكَرِ	مِثْلُ	حَظِّ	الْأُنْثَيَيْنِ ؕ	يُبَيِّنُ	اللّٰهُ	لَكُمْ
نو ده حصه دپاره دنارینه	په برابر	دحصې	ددوؤ ښځو	بیانوي	الله	تاسو ته

نوبیا به دسړي یوه حصه دښځو د دوؤ حصو برابر وي | الله ﷻ تاسوته خپل حکمونه بیانوي

أَنْ تَضِلُّوا ؕ	وَاللّٰهُ	بِكُلِّ	شَيْءٍ	عَلِيمٌ ۝
چې بې لارې نه شئ	او الله	په هر	څیز	عالم دی

چې تاسوبې لارې نه شئ | اوالله ﷻ په هرڅه ښه پوهه دی

...بقیه د تیرمخ]..معلومه شی،نو په هغه وخت کښې کور کښې یو مار راووتلو ،او ټول خلق خواره شو.نو عمر فاروق ؓ اوفرمائیل که د الله ﷻ د دې د پوره کولو اراده وې نو دا به ئې پوره کړې وې.ددې اسناد صحیح دی (الطبری).

په دې مسئلو کښې د عمر ؓ عدم تشفی:- مستدرك حاکم کښې دی چه حضرت عمرفاروق ؓ اوفرمائیل چه درې مسئلې که ما د نبی کریم ﷺ نه پوښتلې وې نو دا به ماته د سرو اوښانو د ملاویدو نه زیات خوښ وو① یو خودا چه نبی کریم ﷺ نه پس به خلیفه څوك وی؟ ② دویم دا چه کوم خلق د زکوة قائل وی خو وائی چه مونږ به ئې تاته نه درکوؤ،نو دوی سره د جنګ کول څنګه دی ؟ ③دریم د کلاله باره کښې (حاکم).او یو حدیث مبارك کښې د زکوة نه ورکونکو په ځائې د سودی مسئلو بیان دې (حاکم).

حضرت عبدالله ابن عباس ؓ فرمائی چه د حضرت عمرفاروق ؓ آخری وخت کښې ما د دوی نه واوریدل چه قول هغه دې چه کوم ماواوریدو ؟ چې تپوس مو ترې اوکړو چه هغه څه دی ؟ نو وې فرمائیل چه کلاله هغه دې چه د چا اولاد نه وی (حاکم).

د شیخینو اختلاف:- او یو روایت کښې دی چه حضرت عمرفاروق ؓ فرمائی چه ځما او د حضرت ابوبکرصدیق ؓ مینځ کښې دکلاله باره کښې اختلاف پیدا شو اوخبره هم هغه وه چه کومه ما ونیله. حضرت عمرفاروق ؓ خپل سکه رونړه او چه کوم د مور نه وی (او د پلار نه وی) جمع شی نو دائې ثلث کښې شریك کړی وو، اوحضرت ابوبکر صدیق د دې خلاف وو.

ابن جریر کښې دی چه خلیفة المسلمین حضرت عمرفاروق یو رقعه باندې د نیکه د میراث او کلاله باره کښې څه اولیکل ،بیا ئې استخاره اوکړه،او څه وخت چې ئې آرام اوکړو،او د الله ﷻ نه ئې د دې دعا اوکړه،چه ائې الله ﷻ ! که ستا په علم کښې په دې کښې بهتری وی نو دا جاری کړه. بیا چه کله دوی زخمی شو نو دوی دا رقعه راوغوښته او هیچا ته د دې علم او نشو چه په دې کښې ئې څه لیکلی وو، بیا ئې پخپله اوفرمائیل چه ما په دې کښې د نیکه او کلاله باره کښې لیکلی وو.او ما استخاره کړې وه،بیا ځما خیال اوشو چه تاسو هم په دې پریږدم چه په څه تاسویئ. ابن جریر کښې دی چه عمرفاروق ؓ اوفرمائیل د کلاله په باره کښې چې زه د حضرت ابوبکرصدیق ؓ نه خلاف کوم نو ماته شرم راځی.او د حضرت ابوبکر صدیق ؓ فرمان وو چه کلاله هغه ده چه د چا ولد نه وی،او هم په دې د جمهور صحابه کرام ؓ او تابعین رحمهم الله او آئمه دین دی.هم دا حال د څلور واړو امامانو او اوؤ واړه فقهاؤ دې،او هم په دې باندې قران پاك دلالت کوی لکه څنګه چه الله ﷻ واضح کړی دی او فرمائی چه ستاسو دپاره مو ښکاره ښکاره بیانونه کړی دی چه تاسو ګمراه نه شئ،او الله ﷻ ته هر څیز ښه معلوم دې.والله اعلم.

آسان ترجمه قرآن: (اې پیغمبره !)خلق ستا نه (د کلالې د حکم)تپوس کوي.ته ووایه چه الله تاسو ته د کلاله د حکم په باره کښې وائي که څوك په دې حال کښې مړ شي چه د هغه اولاد نه وي ، اودهغه يو خور وي نو هغه به د ده په ترکه کښې د نیمې حقداره وي اوکه ددې خور اولاد نه وي (اوهغه مړه شي او دهغه څوك وروړ ژوندې وي) نوهغه به ددې خور وارث وي اوکه خویندې دوه وي نو د وروړ د ترکې نه هغه په دريو حصو کښې د دوه حصو (۲/۳)حقدارې دی اوکه (د مړي) وروڼړه هم وي او خويندې هم نو يو سړي ته به د دوه ښځو برابر حصه ملاویږي.الله تاسو ته وضاحت کوي دي د پاره چه تاسو گمراه نه شئ . او الله په هر څه پاندې پوهيږي.

دايتونو ربط: دسورت دشروع کیدو څخه لږ ورستو د میراث احکام ذکر شوی وو. بيا دهغه ځائې څخه تقريبا د يوې پارې څخه ورستو د نورو احکامو سره سره بیا د میراث احکامو ته واپسي اوشوه ، اوس د سورت په آخر کښې بيا د میراث احکامو ته واپسي ده. ددې په دريو مختلفو ځايونو په ذکر کولو کښې حکمت شاید دادې چې د اسلام نه مخکښې د میراث په احکامو کښې ډير ظلم کیدو. نو د سورت په شروع کښې ، بيا په مينځ کښې . او آخر کښې ددې ذکر کولو سره مخاطبينو ته ددې خبرې يادگيرنه کول دی چې په دې باب کښې دوی نور هم ډير اهتمام اوکړی.

خلاصه تفسير

﴿ يَسْتَفْتُونَكَ ﴾خلق تاسو ته [دکلالےدمیراث په باره کښې يعنى چه دهغه نه اولاد وی اونه مور پلار] حکم معلوموی تاسو [جواب کښې] ﴿ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ ﴾ ورته اوفرمائې چه الله تاسوته دکلالے په باره کښې حکم درکوی [هغه دادې چه] ﴿ اِنِ امْرُؤٌا هَلَكَ لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَهٗٓ اُخْتٌ ﴾که څوك مړشی [داسې] چه اولاد ئے نه وی [نه نارينه او نه زنانه اونه يئ مور پلار وی] اودهغه يو [عينی يا علا تی خوروې] ﴿ فَلَهَا نِصْفُ مَا تَرَكَ ۚ وَهُوَ يَرِثُهَآ اِنْ لَّمْ يَكُنْ لَّهَا وَلَدٌ ﴾ نودغے خور ته به دتمام مال نیمه ملاویږ [يعنى پس دهغه د حقوقو نه چه بيان ئےوړاندې تيرشويدې اوپاتې نيمه به يئ نورو عصباتو ته ورکولې شی که.عصبه يئ هيڅوك نه وی نودغه نیم به بیا] هم دې ته ورکولې شی] او دغه کس به ددغې [خپلې خور] وارث [دټول میراث] وی که [دغه خور ئے مړه او] دهغې اولاد نه وی [او مورپلاريئ هم نه وی] اوکه [داسې] خويندے دوه [يا زياتے] وی‌او هغوئ ته به د هغه دټول میراث نه په دريوکښې دوه برخے ملاويږی [او دريمه برخه به عصبوٓ ته ورکولې شی ورنه بيا به هم دوی ته ورکولې شی]﴿ فَاِنْ كَانَتَا اثْنَتَيْنِ فَلَهُمَا الثُّلُثٰنِ مِمَّا تَرَكَ ﴾اوکه[دداسې مړی چه اولاد او مورپلار ئے نه وی پاتې شوی او دغه مړے نارينه يا زنانه وی] وارثان ئے گنړ [يعنى ديو نه زيات هم‌دغسې] ﴿وَاِنْ كَانُوْٓا اِخْوَةً رِّجَالًا وَّنِسَآءً فَلِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَيَيْنِ ﴾ رونړه خويندے وی نارينه او که زنانه وی نو [ميراث به يئ داسې تقسيمیږی چه] نارينه ته به د دوو زنانوٓ دبرخے برابر [برخه] وی [يعنى رور ته به دوچنده برخه وی او خورته به يو برخه ليکن يو عينى رور سره به علا تی رونړه خويندے ټولې ساقطيږی اوپه عينی خور سره

Scanned with Ca

کله ساقطیږی اوکله ئې برخه کمیږی چه تفصیل ئې دمیراث په کتابونوکښې شته دې] ﴿يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اَنْ تَضِلُّوْا ۚ وَاللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ﴾ الله ﷻ تاسو ته [ددین خبرې] بیانوی چه تاسو [دناخبرئ په وجه] په گمراهئ کښې پریونه څئ [داخو دریادول او احسان دې] او الله ﷻ هرڅیز لره ښه پیژنی [نوداحکامو د ښیگړو نه هم خبردې او په احکاموکښې ددې لحاظ ساتلې شی داد حکمت بیان دې]۔

معارف اومسائل

ضروری فائدې: ① [يَسْتَفْتُوْنَكَ ۭ قُلِ اللّٰهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلٰلَةِ] دلته دکلالې دحکم اوددې دشان نزول بیانولونه څوخبرې معلومې شوې اول داچه چه څنګه ئې وړاندې ﴿وَاِنْ تَكْفُرُوْا فَاِنَّ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ﴾ فرمائیلونه پس، دتمثیل په طریقه داهلِ کتابوحال بیان کړې وودغه شان ئې ﴿فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِاللّٰهِ وَاعْتَصَمُوْا بِهٖ﴾ نه پس درسول الله ﷺ صحابه کرام رضی الله عنهم په طریقه دتمثیل ذکرکړل دپاره ددې چه دوحی نه پس دسرغړوونکو گمراهی اوناکاروالې اودوحی دتابعداریٔ کوونکوپه حق کیدل اوښه والې په ښه شان سره ذهن کښې کښینی.

② ددې په ذیل کښې دویمه خبره داهم ښکاره شوه چه اهلِ کتابوخویو دغضب دا کاراوکړوچه الله تعالی لره ئې دشریک اواولادجوړولوغوندې یوه ناکاره خبره ئې خپل ایمان جوړه کړه اودوحی الهی خلاف کولوته ئې پوره ملااوتړله،بل خوادرسول الله ﷺ دصحابه کرامو رضی الله عنهم حالت دادې چه دایمان اصول اوعبادتونه خولاپریږده چه په جزئی معاملاتواود میراث اونکاح وغیره په معمولی مسئلوکښې هم دوحی په انتظاراولتهون کښې وی اوپه هره خبره کښې رسول الله ﷺ ته گوری دخپل عقل او خواهش په بِنا ،هیڅ کارنه کوی،که یوځل ئې تسلی اونشی نوبیابیاپه خدمت کښې حاضریږی اومسئله معلوموی.

ببین تفاوتِ ره ازکجااست تابکجا:

ترجمه: اوگوره د دواړو په مینځ کښې دلارې تفاوت د کوم نه تر کومه ځایه پورې دې.

اوداهم معلومه شوه چه رسول الله ﷺ به هم دوحی دحکم راتلونه بغیردخپله اړخ هحکم نه کولوکه په یوموقعه به دوحی حکم موجودنه وونوحکم کولودپاره به ئې دوحی انتظارکولو چه وحی به راغله هله به ئې حکم اوکړو ،داشان پکښې دې اړخ ته هم اشاره ده چه په یوځل، کتاب نازلولوکښې [څنګه چه داهلِ کتابوغوښتنه وه] هومره خوبی نه وه،څومره چه دموقعې مطابق دضرورت اوحاجت مناسب په لړه لړه نازلیدوکښې وه،ځکه چه په دغه صورت کښې، هرڅوک دخپل ضرورت موافق،سوال کولې شی،اودوحی متلو په ذریعه هغه ته ددې جواب ملاویدې شی،لکه چه په دې موقعه اودقرآن کریم په نورګنړوموقعوکښې موجود دی.دا صورت یوخوادیرزیات فائده مند دې اوبل خواپکښې دالله تعالی دذکرسره شرف اودالله تعالی دخطاب کولوعزت هم پکښې دې،داداسې دلوئ فخرخبره ده چه بل هیڅ امت ته نه ده نصیب شوې ﴿وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ﴾

Scanned with Ca

دکوم صحابي ﷺ دخیر په غرض یا دهغه دسوال په جواب کښې چې څه آیت نازل شوې وی هغه دهغه په بزرګۍ اولوئي او عزت کښې حسابیږي، او د اختلاف په صورت کښې دیو صحابي درائ یا وینا په مناسبت که څه وحی نازله شوی وی نو ترقیامته پورې ددې په وجه دهغه خوبی اونیک نامي جاری پاتې کیږي، نو دکلالې په باره کښې دسوال او جواب بیانولو سره دغه شان د عامو سوالونو او جوابونو اړخ ته اشاره اوکړې شوه [فوائد عثماني](١)

[تمت سورة النِسآءِ ولِلّٰهِ الحمدُ اوله وآخِره]

ایاتونه	سورة المائدة مدنية وهي مائة وعشرون اية وستة عشر ركوعا	رکوع ګاڼي
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
(١٢٠)	شروع کوم په نوم د الله چه ډیر مهربان زیات رحم کونکې دې	(١٦)

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡٓا اَوۡفُوۡا بِالۡعُقُوۡدِ ؕ اُحِلَّتۡ لَكُمۡ

اې هغه کسانو | چې ایمان مو راوړې دې | پوره کړئ | ټولې وعدې | حلال کړې شو | ستاسو دپاره

اې مومنانو! خپلې وعدې پوره کوئ | .... تاسو دپاره د څاروو

بَهِيۡمَةُ الۡاَنۡعَامِ اِلَّا مَا يُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ

ټول څریدونکی څاروی | دځناورو | اما سوا د | هغې نه | چې لوستې به شی | په تاسو باندې

ټول قسمونه حلال دی | ....مګر دکومو بیان چې به وړاندې تاسو ته اوشی

غَيۡرَ مُحِلِّى الصَّيۡدِ وَاَنۡتُمۡ حُرُمٌ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

مګر حلال مه ګڼرئ | ښکار | حال دا چې تاسو | احرام تړونکی یئ | بیشکه الله

خوځان دپاره ښکار حلال مه ګڼرئ چې تاسو د احرام حالت کښې یئ | بیشکه الله ﷻ

يَحۡكُمُ مَا يُرِيۡدُ ①

حکم کوی | دهغه څه | چې غواړی |

چې څه غواړی هغه حکم کوی |

اې د ایمان خاوندانو! وعدې پوره کړئ تاسو دپاره هغه دڅلورو خپو ځناور حلال شوي دي چه څاروو کښې داخل (یا دهغې مشابه) وي سوا د هغه نه چه تاسو ته به لوستې شي په دې شرط چه کله تاسو د احرام په حالت کښې یئ هغه وخت ښکار لره حلال ونه ګڼرئ الله چه د کوم څیز اراده کوي دهغې حکم ورکوي.

د سورت شان نزول او د مضامینو خلاصه:: دا د سورة مائده اولنې آیت مبارك دې دې . په اتفاق سره دا سورة مدنی سورة دې . او په مدني سورتونو کښې هم د ټولو آخرې سورة دې . تر دې پورې چې ځینې حضراتو دې ته د قرآن پاك آخری سورة هم وئیلې دې . مسند احمد کښې د عبدالله بن

(١) تفسير عثماني تحت هٰذه الآية: ج ١، ص ٣٢١، ٣٢٢

Scanned with Ca

عمر رضي الله عنه او اسماء بنت يزيد رضي الله عنها نه منقول دى چې سورة مائده په رسول کريم ﷺ باندې هغه وخت کښې نازل شو کله چې نبي کريم ﷺ په سفر کښې په عضبا نومې اوښه باندې سواره وو. اوښه بې بسه شوه نو نبي کريم ﷺ د هغې نه لاندې راکوز [راکښته] شو. او د ځينې روايتونو نه ددې تائيد کيږي چې دا سفر د حجة الوداع سفر وو. حجة الوداع د هجرت په لسم کال کښې شوې وه. او دې نه چې کله واپس شو نو نبي کريم ﷺ په دې دنيا کښې تقريبا اتيا ورځې ژوندې وو. ابن حيان رحمه الله په بحر محيط کښې فرمائي چې د سورة مائده ځينې اجزاء په حديبيه او ځينې د فتح مکه د سفر په موقع او ځينې د حجة الوداع په سفر کښې نازل شوي دي. ددې نه معلوم شو چې دا سورة د نزول قرآن پاك په آخرى مراحلو کښې نازل شوې دې، خواه بالکل آخرى سورة نه وي.

روح المعاني کښې د ابو عبيد حمزه بن حبيب او عطيه بن قيس دا روايت د رسول کريم ﷺ نه منقول دې چې ﴿المائدة من اخر القرآن تنزيلا فاحلوا حلالها وحرموا حرامها﴾ يعنى سورة مائده دهغه څيزونو نه دې چې د قرآن پاك د نازليدو په آخرى زمانه کښې نازل شوې دې. په دې کښې چې کوم څيز حلال کړې شوې دې هغه هميشه حلال او چې کوم حرام کړې شوې دې هغه هميشه حرام اوګڼړئ.

داسې يو روايت ابن کثير رحمه الله د مستدرك حاکم حوالې سره د جبير بن نفير رضي الله عنه نه نقل کړې دې چې هغه رضي الله عنه د حج نه پس د عائشه صديقه رضي الله عنها خدمت کښې حاضر شو، عائشه صديقه رضي الله عنها ورته اوفرمائيل چې جبير رضي الله عنه ته سورة مائده لولې؟ هغوئ اوفرمائيل چې آؤ لولم. عائشه صديقه رضي الله عنها اوفرمائيل چې دا د قرآن عظيم الشان آخرى سورة دې، دې کښې چې د حلال او حرام کوم احکام راغلى دى هغه محکم دى. په هغې کښې د نسخ احتمال نشته دې. ددې خاص اهتمام کوه. سورة مائده کښې د سورة نساء پشان فروعى احکام، معاملات، معاهدات وغيره زيات بيان شوى دى. په دې وجه روح المعاني وئيلى دى چې سورة بقره او سورة آل عمران د مضامينو لحاظ سره يو شان دى. ځکه چې په دې کښې زيات احکام د اصول و عقائد، توحيد، رسالت، قيامت وغيره راغلى دى. فروعى احکام ضمنى دى. او سورة نساء او سورة مائده د مضامينو اعتبار سره يو شان دى ځکه چې په دې دواړو کښې اکثر فروعى احکام بيان شوى دى. د اصولو بيان ضمنى دې.

سورة نساء کښې خپلو کښې د معاملاتو او د حقوق العباد ذکر باندې زور ورکړې شوې دې. د ښځې خاوند حقوق، د مور پلار حقوق او د نورو رشته دارو حقوق تفصيل سره بيان شوى دى.
د سورة مائده په اولنى آيت مبارك کښې هم د دې ټولو معاملاتو او معاهداتو د پابندئ کولو او ددې د پوره کولو هدايت راغلى دې ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ﴾ په دې وجه د سورة مائده بل نوم سورة عقود هم دې [محيط].

د معاهداتو او معاملاتو باره کښې دا سورة او خاص کر ددې اولنى آيت مبارك يو خاص حيثيت لرى. په دې وجه کله چې رسول کريم ﷺ عمرو بن حزم رضي الله عنه د يمن ګورنر جوړ کړو او هلته ئې ليږلو نو يو فرمان ئې ورته ليکلې ورکړو. او ددې فرمان په سرنامه باندې رسول کريم ﷺ دا آيت مبارك ليکلې وو

Scanned with Ca

خلاصه تفسير

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا﴾ ائې د ايمان خاوندانو [ستاسو د ايمان مقتضاداده چه] ﴿ أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ﴾ خپل لوظونه [چه دايمان په ترس کښې مو الله ﷻ سره کړی دی] پوره کړئ [يعنی شرعی احکام په ځائې راوړئې ولې چه ايمان راوړلو سره ددې په ځان لازمول راغلل چه مقتضائې پوره کول دی] ﴿ أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ ﴾ تاسودپاره ټول څاروی چه پشان د[دې] څارو [يعنی داوښ غوا چيلئ] وی [چه حلالوالئ ئې ددې نه مخکښې په سور انعام کښې [چه مکی دې] معلوم شوې دې نو ددې پشان ټول [څاروی] حلال شويدی [لکه هوسئ، ځنګلی غوا وغيره چه داوښ چيلئ غوا پشان دی په دې خبره کښې چه ځيرونکی او ښکاری نه سوا دهغه ځناورو نه چه په نورو شرعی دليلونو حديث وغيره سره مخصوص او مستثنی شويدی لکه خر، قچر وغيره نو ددغې متشنياتونه سوا نور ټول ځناورکورنی او ځنګلی حلال دی] ﴿إِلَّا مَا يُتْلَىٰ عَلَيْكُمْ غَيْرَ مُحِلِّي الصَّيْدِ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ﴾ مګر دکومو بيان چه [په راتلونکی آيت ﴿ حرمت عليكم الميتة الخ﴾ کښې] راروان دے [چه هغه سره ددې نه چه بهيمة الانعام کښې داخل دی اوبه مخصوص بالحديث وغيره سره خارج شويدی خوبياهم حرام دی اوباقی تاسو دپاره حلال دی] ليکن [په دې کښې چه کوم] ښکار [چه دې هغې لره] حلال مه ګڼړئی کله چه تاسو په احرام [يا حرم] کښې يئ [لکه تاسو دحج او عمرے احرام تړلې وی اګر چه دحرم نه بهر يئ چه غالبًا ښکار به هم په حرم کښې دننه وی ولې چه اصل وجه ددې داده چه ښکار په حرم کښې وی اوتاسو په احرام کښې هم نه يئ په دواړو حالتونوکښې ښکار داوچې او صحرائی [وحشی] حرام دې] ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ ﴾ بيشکه الله ﷻ چه څه اوغواړی حکم ئې کوی [يعنی هم هغه خبر وی نو کوم ځناورئے چه اوغوښتل هميشه دپاره يئ د ذات په لحاظ حرام کړل سوا د مجبورئ د حالت نه اوکوم لره يئ چه اوغوښتل هميشه دپاره يئ حلال او کړل کوم لره يئ چه اوغوښتل په بعضې حالت کښې يئ حلال کړې دې ته په هر حالت کښې تاسو لره غاړه ايښودل پکاردی].

معارف اومسائل

ددې سورت دړومبی آيت ړومبې جمله يوهرجامع جمله ده چه په تشريح اوتفسير کښې ئې په زرګونه مخونه ليکلې کيدې شی اوليکلې شويدی، ارشاددې: [يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ] [اې دايمان خاوندانو: خپل لوظونه په مخه پوره کوئ، په دې کښې اول [يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا] اوفرمائيلې شو چه په دې سره دمضمون لوړوالی ته دخلقو مخه راواړلې شوه هغه شان چه په دې کښې شوې حکم بعينه دايمان تقاضاده، بيائې حکم اوفرمائيلو:

[أَوْفُوا بِالْعُقُودِ] [عقود] د [عقد] جمع ده معنی ئې تړل دی، ددوو کسانو، ياد دوو ډلو ترمنځه تړلی شوی اوغوټه شوی لوظ ته هم [عقد] ونيلې شی، ځکه ئې معنی [عهود] [لوظونه] شو،

دتفسير امام ابن جرير رحمه الله په دې باندې دصحابه کرامو رضی الله عنهم اوتابعينو مفسرينو اجماع نقل کړيده امام جصاص رحمه الله فرمائيلی دی چه عقدورته اووئيلې شی اوکه عهداو معاهده ورته اووئيلې شی، ددې اطلاق په داسې يوه معامله کولې شی چه دهغې په ذريعه دوه فريقه خلقو، په راتلونکې زمانه کښې دڅه کاردکولو ياپرېښولو پابندی په يوبل اچولی وی اودواړه په اتفاق سره دهغې پابندشوی وی، زمونږ په عرف کښې داسې تړون [معاهد] نوميږی، نوددې

جملې دمضمون خلاصه داشوه چه خپل منځ کښې دشوؤمعاهدوپوره کول لازم اوضروري ګڼړئ،
اوس ګورو چه ددې معاهدو نه کومې معاهدې مراد دی، په دې باره کښې په ښکاره، دمفسرینو اقوال مختلف ښکاري، ① چاترهغه معاهدې مراد اغستي دی، چه دایمان او عبادت په باره کښې الله تعالی دخپلو بندګانو نه اغستي دی، ② چاترهغه معاهدې مراد اغستي دی چه الله تعالی دخپلو نازل کړو هغه احکامو په باره کښې دخپلو بندګانو نه اغستي دی کوم کښې چه د حلالو او حرامو بیان راغلې دې، دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه هم دا منقول دی، ③ اوځنوترهغه معاهدې مراد اغستي دی چه خلق ئې خپل منځ کښې یوبل سره تړون کوی، لکه دنکاح، اخستل او خرڅول وغیره معاهدې چه شوې. په مفسرینو کښې ابن زید اوزیدبن اسلم داموقف لری، ④ اوځنوفرمائیلي دی چه دې نه هغه قسمونه اولوظونه مراددی چه دجاهلیت په زمانه کښې به ئې خپل منځ کښې یوبل سره دامداد کولو دپاره اخستل،، مجاهد رضي الله عنه ربیع رضي الله عنه قتاده رضي الله عنه وغیره مفسرینو هم دغسې فرمائیلي دی نو صحیح داده چه دې کښې هیڅ تضادیا اختلاف نشته، بلکه داټول قسمونه دمعاهداتو، په لفظ عقود کښې داخل دی چه قرآن کریم دټولو دپوره کولو هدایت کړې دې،
په دې لحاظ امام راغب اصفهاني رحمه الله فرمائیلي دی چه دمعاهداتو ټول قسمونه، ددې لفظ په حکم کښې داخل دی، بیائې اوفرمائیل چه ددې ابتدائي قسمونه درې دی، ① یو قسم هغه معاهده ده چه دانسان اورب العلمین ترمنځه ده، مثلاً دایمان، عبادت، عهدیا دحلالو حرامو د پابندئ کولو لوظ، ② بل قسم هغه معاهده [لوظ] دې چه انسان په خپله دخپل ځان سره کړې وې لکه چه څوک دڅه منښتې [نذر] پوره کولوذمه په خپل سرواخلي، یاپه قسم خوړولو سره څه څیزپه خپله ذمه لازم کړی، ③ دریم قسم هغه معاهده چه انسانان ئې خپل منځ کښې یوبل سره کوی، دې دریم قسم کښې ټول هغه معاهدات [لوظونه اوقولونه] شامل دی چه دوه کسان، دوه ډلې یادوه حکمتونه ئې خپل مینځ کښې کوی،
د حکومتونو خپل مینځ کښې بین العالمي معاهدات، یا خپلو کښې معاهدې، د جماعتونو خپلو کښې عهدو میثاق او د دوؤ انسانانو په مینځ کښې هرقسمه معاملات، نکاح، تجارت، شرکت، اجاره، هبه وغیره، دې ټولو معاهداتو کښې چې کوم جائز شرطونه دی هغه خپلو کښې اوشی، نو ددې آیت مبارك مطابق ددې پابندی کول په هرفریق باندې لازم اوواجب ده. او د جائزقید لګولو مطلب دادې چه دشریعت نه خلاف شرط لګول یادهغې قبلول هیچالره روانه دی،
دورپسې آیت په دویمه جمله کښې ددې عامې ضابطې، خاص جزئیات ذکر کړې شوې دی، [أُحِلَّتْ لَكُمْ بَهِيمَةُ الْأَنْعَامِ] د [بهیمة] لفظ، هغه ځناورودپاره استعمالیږی چه دعادت له مخې دعقل خاوندان نشی ګڼړلې، ولې چه هر کله چه ددې ویناد عادت له مخه په پوه کښې نشی راتلې نوددوئ مرادنامعلوم پاتې کیږی. امام شعراني رحمه الله فرمائیلي دی چه [بهیمې] ته د [بهیمې] وئیلووجه دانه ده چه ددې عقل نشته، اودعقل په خبرودوئ نه پوهیږی، څنګه چه د عامو خلقو خیال دې، بلکه په حقیقت کښې هریو ځناورڅه چه هره اونه [درخت] او کانړې هم دعقل او ادراک نه خالي نه وی، البته هر کله چه په درجو کښې فرق ضرورشته، یعني ددې څیزونو هومره عقل نشته څومره چه دانسان شته، لهذا یواځې انسان داحکامو مکلف جوړ کړې شو اونور ځناوردې مکلف جوړنکړې شو، ورنه هسې خو هر یو ځناور څه چه هرې اونې [درختې]

او کانړي ته دخپل ژوند دضروریاتو په باره کښې الله تعالی عقل اوادراک ورکړې دې، ولې چه هریو څیز د الله تعالی تسبیح کوی،

﴿وَاِنْ مِّنْ شَیْءٍ اِلَّا یُسَبِّحُ بِحَمْدِهٖ﴾ که ددې عقل نه وې نو خپل خالق او مالک به ئې څنګه پیژندلو چه دهغه ثنا صفت به ئې بیانولو؟

دامام شعرانی رحمه الله دفرمائیلو خلاصه داده چه [بهیمې] ته دبې عقلئ په وجه [بهیمه] نشی وئیلې چه په دې وجه ورته څیزونه نامعلوم پاتې کیږی، بلکه په دې وجه ورته [بهیمه] وئیلې شی چه دهغې په وینا باندې خلق نه پوهیږی اودا ورته نامعلوم پاتې کیږی. په هرحال هر ساه دار څیزته بهیمه وئیلې شی او څنې حضرات څاروؤ دپاره هم دالفظ استعمالوی،

﴿اَنْعَامِ﴾ دنعم جمع ده چه مطلب ترساتلی شوی څاروی مثلاً غوا، اوښ، چیلئ [بزې] مینبه [ګامیښه] وغیره دی، ددې اته قسمونه په سورت انعام کښې بیان شویدی. دبهیمه لفظ عام وو د انعام لفظ خاص کړل، دآیت مطلب داشو چه دساتلوشوؤ څاروؤ واته قسمونه تاسو دپاره حلال کړې شو. هرکله چه د﴿عُقُوْدِ﴾ نه مراد ټول لوظونه او قولونه دی، ددې څخه دالوظ او قول هم دې چه الله تعالی د حلالو او حرامو دپابندئ په باره کښې دخپلو بندګانو نه اغستې دې، په دې جمله کښې ددغې خاص لوظ او قول بیان راغلې دې چه الله تعالی تاسو دپاره اوښ، چیلئ، غوا، مینبه وغیره حلال کړیدی، نو دې لره د شرعی قاعدې په جوړ ذبح کولې او خوړلې شئ.

په دې حدودو کښې دننه دالله تعالی دحکمونو پابندی کوئ، مه خوداسې کوئ چه دمجوسیانو اوبت پرستو پشان، مطلقاً ددې څاروؤ ذبح کول حرام اوګرځوئ ولې چه داد الله تعالی په حکمت باندې اعتراض اودهغه دنعمت ناشکری ده، اودنوروغوښو خوړونکو دلو پشان کیږئ چې دهرقسم پابندئ نه آزاد هرقسم څناور خورئ، بلکه دالله تعالی درالیږلی قانون په جوړ دهغه حلال ګرځولی څناور خورئ اودهغه حرام ګرځولی څناور مه خورئ، ولې چه یواځې الله تعالی د کائناتو پیدا کوونکې دې، هغه دهر څاروی دحقیقت اوخاصیت نه خبر دې اوددې نه هم خبر دې چه په انسان کښې ددغې څناور و څه اثرات پیدا کیږی، هغه انسان دپاره، هغه پاکیزه او ستره څیزونه حلال ګرځولی دی چه د هغې په خوړلو سره په انسانی صحت اودهغه په اخلاقو څه بد اثر نه پریوځی، اودهغه پلیتو او خیږن څاروؤ خوړلو نه ئې منع کوی چه دانسان صحت تباه کوی یائې اخلاق خرابوی. لهذا ددې عام حکم نه ئې څو څیزونه مستثنی کړل.

رومبئ استثنائې دااوکړه [اِلَّا مَا یُتْلٰی عَلَیْکُمْ] [سوا دهغه څاروؤنه چه قرآن کریم حرام ګرځولی دی، مثلاً مردار شوې څاروې یاخنزیروغیره شو. دویمه استثنائې دااوکړه [غَیْرَ مُحِلِّی الصَّیْدِ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ] مطلب ئې دادې چه څاروی تاسو لره حلال دی، دځنګل ښکار هم تاسو لره حلال دې مګرچه کله تاسو دحج یاعمرې احرام تړلې وی نو دغه وخت ښکار کول دجرم اوګناه کاردې دهغې نه ځان ساتئ په آخر دآیت کښې ئې ارشاد او فرمائیلو [اِنَّ اللّٰهَ یَحْکُمُ مَا یُرِیْدُ] مطلب دا چه الله تعالی څه غواړی دهغې حکم ورکوی، چاته په هغې کښې داخوادیخوا کولو اودنه منلو هیڅ حق نشته، کیدې شی په دې کښې دې حکمت ته اشاره وی چه انسان ته دځنې څناورو دذبح کولو اودهغې دخوړلو اجازت ورکول څه ظلم نه دې، کوم مالک چه داټول څیزونه جوړ کړی دی، هغه په پوره حکمت او بصیرت سره داقانون جوړ کړیدې چه کمترلره ئې برتر دپاره دخوراک څیز جوړ کړیدې، دزمکې خاوره ئې داونو خوراکه جوړ کړیده، اونې ئې دځناورو خوراکه اوڅاروی ئې

دانسان خوراکه جوړ کړېده، هرکله چه انسان نه بهتر، بل هیڅ مخلوق په دنیاکښې نشته په دې وجه انسان دهیڅ خوراکه نشی جوړیدي.

يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا

| ائې هغه کسانو | چې ایمان مو راوړې دې | مه ګڼړئ حلال

| ائې دایمان خاوندانو دالله ﷻ د نښو نښانو بې حرمتی مهٔ کوئ

شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ

نښې د الله |اونهٔ میاشتې د حرمت |اونهٔ څاروی دقربانئ| اونهٔ پټئ والاڅاروی

او نهٔ د معززو میاشتو | اونه دقربانئ د څاروو | اونه د هغه څاروی چې [دالله ﷻ دنوم] پټې ورته اچولې شوې وی

وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ

اونهٔ[قصد کونکی| محترم کورته |حال دا چې غواړی هغوئ| فضل | درب خپل نه

اونهٔ هغه کسان چې بیت الحرام[کعبې]ته روان وی | دخپل رب فضل خوشحالی لټوی.............

وَرِضْوَانًا ؕ وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا ؕ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ

اود[هغه]رضا |اوکله چې |احرام ختم کړئ تاسو|نو بیا ښکار کوئ تاسو |اونهٔ دې کړی باعث تاسو

.............اوهرکله چې د احرام پابندی ختمه شی | نو بیاښکار کولئ شئ |او[خیال ساتئ] چې یوه ډله چې

شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ۘ

دشمنی دیو قوم| چې هغوئ منع کړی یئ تاسو |د مسجد حرام نه | په دې خبره چې زیاتې اوکړئ تاسو

تاسونې دمسجدحرام نه منع کړی یې د هغوئ کردار دې تاسو په ظلم کولو باندې اماده نکړی چې تاسو هم

وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۪ وَلَا تَعَاوَنُوْا

اومدد کوئ |دیوبل سره په نیکئ کښې|او په تقوی کښې | اومهٔ کوئ مدد د یو بل سره

پرې ظلم اوکړئی اود نیکئ اوپرهیزګارئ په کارونوکښې یوبل سره مدد کوئ | او دګناه او

عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۪ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ۝

په ګناه |او په زیاتی کښې |او اوویریږئ دالله نه| بیشکه الله | ډیر سخت دې| په عذاب کښې

دظلم په کارونو کښې هیچاسره مددمهٔ کوئ| اودالله ﷻ نه ویره کوئ | .بیشکه الله ﷻ سخت عذاب ورکونکې دې

آسان ترجمه قرآن: اې دایمان خاوندانو! دالله د نښو بې عزتي مه کوئ، اونهٔ دعزت د میاشتې، او نه د هغه څناورو چه د قربانئ د پاره حرم ته بوتلې شي، نه د هغه پټو کومې چه ددوی په مرو کښې وي او نه دهغه خلقو چه دالله دفضل اود رضاء حاصلولو دپاره د بیت الحرام اراده کوي او کله چه تاسو احرام پرانزئ نو ښکار کولې شئ او د یو قوم سره ستاسو دا دښمني چه هغوی تاسو د مسجد حرام نه بند کړی وئ تاسو دې په دې خبره آماده نه کړی چه تاسو (په هغوی باندې) زیاتې وکړئ او په نیکئ او تقوئ

Scanned with Ca

كښې د يو بل سره امداد كوئ ، او په ګناه او ظلم كښې د يو بل سره امداد مه كوئ ، او د الله نه ويريږئ بې شكه د الله عذاب ډير سخت دے.

د آيتونو تړون: د سورة مائده په ړومبي آيت مبارك كښې د معاهداتو د پوره كولو تاكيد وو. دې معاهداتو كښې يو معاهده دا هم وه چې الله تعالى كوم حلال او حرام مقرر كړي دى د هغې پابندئ اوكړئ. دې دويم آيت مبارك كښې د دوؤ اهمو دفعاتو بيان دې. يو د شعائر الله تعظيم او ددې د بې حرمتئ نه بچ كيدل. بل خپل او پردى ، دوست او دښمن ټولو سره د عدل او انصاف والا معامله كول او د ظلم بدله په ظلم سره د اخستلو نه ممانعت راغلې دې.

ددې آيت د نازليدو يو څو واقعات دى. اول هغه واؤرئ چې مضمون پوره په پوهه كښې راشي. يوه د حديبيه واقعه ده چې د هغې تفصيل قرآن عظيم الشان په بل ځائې كښې بيان كړې دې. هغه داده چې د هجرت په شپږم كال رسول كريم ﷺ او صحابه كرامو ﷺ د عمرې كولو اراده اوكړه. رسول كريم ﷺ د يو زرو نه زيات صحابه كرامو ﷺ سره احرام اوتړلو او دعمرې په نيت مكې مكرمې ته روان شو. هركله چې مكې ته نزدې د حديبيه مقام ته اورسيدل نو مكې والو ته ئې أطلاع وركړه چې مونږ د جنګ يا جنګى مقصدونو دپاره نه يو راغلى بلكه صرف دعمرې كولو دپاره راغلى يو. مونږ ته ددې اجازت راكړئ. دمكې مشركانو ورته اجازت ورنه كړو. او ډيرو سختو او خرابو شرائطو سره ئې ورسره دا معاهده اوكړه چې تاسو ټول احرامونه خلاص كړئ او واپس لاړ شئ. او راتلونكى كال د عمرې دپاره په داسې حالت كښې راشئ چې تاسو سره وسله نه وى. او صرف درې ورځې به قيام كوئ او عمرې كولو نه پس به واپس كيږئ. او نور هم ډير د اسې شرطونه وو چې د هغې منل د مسلمانانو د وقار او عزت خلاف وو. د نبى كريم ﷺ په حكم سره ټول په اطمينان كښې شو او واپس شو. بيا په اوومه هجرئ كښې دوباره د ذى قعده په مياشت كښې هم ددې شرطونو لاندې ئې د اعمره ادا كړه. بهر حال د حديبيه دې واقعې او دې سختو شرطونو د صحابه كرامو ﷺ زړونو كښې د مكې د مشركانو خلاف ډير زيات نفرت پيدا شوى وو او د دوئ خلاف ئې په زړونو كښې بغض او كينه تخم كړې شوې وه.

دويمه واقعه دا راپيښه شوه چې د مكې مشركانو كښې حطيم بن هند خپل د تجارت مال مدينې منورې ته راؤړو. او د مدينې منورې نه بهر ئې خپل مال پريښودو او راغلو د نبى كريم ﷺ په خدمت كښې حاضر شو. او د مسلمانانو مطمئن كولو دپاره ئې د خپل مسلمانيدو اظهار اوكړو خو دې په زړه كښې منافق وو. او رسول كريم ﷺ ددهٔ د راتلو نه مخكښې په ذريعه دوحى خبر شوى وؤ او صحابه كرامو ﷺ ته فرمائيلى وو چې مونږ ته يو كس راروان دې چې هغه به دشيطان په ژبه خبرې كوى او كله چې دې واپس شو نو رسول كريم ﷺ اوفرمائيل چې دا كس كفر سره راغلې وو او دهوكې او غدارئ سره واپس شو. دا كس د نبى كريم ﷺ د مجلس مبارك نه راؤوتلو او نيغ د مدينې منورې نه بهر لاړو. او هغه ځائې كښې د مدينې والو څناور خريدل. او هغه ئې ځان سره بوتلل صحابه كرامو ﷺ ته ددې خبر لږ وخت پس اوشو دوئ ﷺ ورپسې شو خو هغه ډير لرې تلې وو. بيا كله چې د هجرت په اووم كال رسول كريم ﷺ د حديبيه د قضا عمرې د ادا كولو دپاره صحابهٔ كرامو ﷺ سره تلل نو د لرې نه ئې د تلبيه آواز واؤريدو ، چې وې كتل نو هم هغه حطيم بن هند عمرې دپاره روان وو او ده

سره د مدينې والو هغه څاروي هم وو. دې وخت صحابه كرامو ﷡ دا غوښتل چې په ده باندې حمله اوكړي او ددهٔ نه خپل څناور واخلي او دې ختم كړي.

دريمه واقعه دا راپيښه شوه چې د هجرت په اتم كال رمضان المبارك كښې مكه مكرمه فتح شوه. او د مكې مكرمې مشركان نبی كريم ﷺ بغير د څه انتقام نه آزاد كړل. هغوئ آزادانه طور سره خپل كارونه كول. او تر دې چې حج او عمره ئې هم د جاهليت د زمانې په طريقه باندې كول. دې وخت د ځينې صحابه كرامو ﷡ په زړونو كښې دا خيال راغلو چې دوئ نه د حديبيه د واقعې انتقام واخلي. ځكه چې دوئ مونږ جائز او حق طريقې سره د عمرې كولو نه منع كړي وو. مونږ دوئ ولې پريږدو چې ناجائزه او غلطې طريقې سره عمره او حج ادا كړي. په دوئ حمله اوكړي ، د دوئ څاروي قبضه كړي ، او دوئ اوژني.

ابن جرير ﷫ دا واقعات دعكرمه ﷫ او سدی ﷫ روايت سره نقل كړي دي. دا څو واقعات وو چې ددې په وجه دا آيت مبارك نازل شو. او دې كښې مسلمانانو ته دا هدايت وركړې شوې دې چې د شعائر الله تعظيم په تا فرض دی. او كه ستاسو يو دښمن سره دښمنی او بغض وی نو ددې په وجه په دې كښې خلل مه اچوئی. په اشهر حرم كښې قتل و قتال هم جائز نه دې. د قربانئ څاروی حرم ته نه پريښودل او ددې قبضه كول هم جائز نه دی. او كوم مشركان چې احرام اوتړی او دالله تعالی د رضا حاصلولو قصد اوكړې ، نو اګر چې ددوئ دا خيال ددوئ د كفر په وجه ښه نه دې خو بيا هم د شعائر الله د حفاظت او احترام دا تقاضا ده چې دوئ سره هيڅ غرض مه ساتئ. تاسو چې كومو خلقو د عمرې كولو نه منع كړی وې ، هغوئ نه د هغوئ د بغض او عداوت انتقام داسې اخستل جائز نه دی چې تاسو هغوئ مكې ته نه پريږدئی يا د شعائر حج ادا كولو نه ئې منع كړئی. ځكه چې دا به دهغوئ د ظلم په بدله كښې زمونږ د طرفه ظلم وی. اودا په اسلام كښې ناروا دی. اوس دآيت مبارك پوره تفصيل اوګورئی.

خلاصه تفسير

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحِلُّواْ شَعَٰٓئِرَ ٱللَّهِ ﴾ائې دايمان خاوندانو بےحرمتی مه كوئی دالله ﷻ د [دينی] نخښو [يعنی دكومو څيزونو د ادب دحفاظت دپاره چه الله څه احكام مقرر كړی دی ددغې احكامو نه په خلاف كولو سره دهغې بےادبی مه كوئی لكه دحرم او احرام تاكلے ادب شو چه په دې كښې ښكار مه كوئی نوښكار كول به بې ادبی او حرام وی] ﴿ وَلَا ٱلشَّهۡرَ ٱلۡحَرَامَ ﴾ اومه دحرمت دمياشتو[داسې بےادبی كوئی چه په دې كښې كافرانوسره جنګونه شروع كړئ] ﴿ وَلَا ٱلۡهَدۡيَ وَلَا ٱلۡقَلَٰٓئِدَ وَلَآ ءَآمِّينَ ٱلۡبَيۡتَ ٱلۡحَرَامَ ﴾ اومه په حرم كښې د قربانئی د څاروو [بےادبی كوئی چه په هغې تعرض اوكړئی] اومه دهغه څاروو[بے ادبی كوئی]چه په غاړو كښې يئ [ددې نخښےدپاره] پټے اچولې شوې وی [چه دا دالله ﷻ دپاره يو قسم منښته ده چه په حرم كښې به ذبح كيږی] اومه دهغه خلقو [بےعزتی كوئی] چه دبيت الحرام [يعنی دبيت الله شريف] په اراده روان وی [او] ﴿ يَبۡتَغُونَ فَضۡلٗا مِّن رَّبِّهِمۡ وَرِضۡوَٰنٗاۚ ﴾ دالله ﷻ دفضل اورضامندئی طلبګار وی [يعنی ددې څيزونو د ادب په وجه په كافرانو هم څه تعرض مه كوئی] او[په تيرشوی آيت كښې چه د احرام دادب ساتلو په وجه ښكار حرام ګرزولې شويدې هم هغه تر احرامه پورې دی ورنه] ﴿ وَإِذَا حَلَلۡتُمۡ

Scanned with

فَاصْطَادُوْا﴾ کله چه تاسود احرام نه بهر شئ نو[اجازت دي چې] ښکار کوئی [خو شرط دادي چه ښکار په حرم شریف کښې نه وی] ﴿ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا ﴾ او [دکومو څیزونو نه چه تاسو بند کړئی شوئی په هغې کښې]داسې دې او نشې چه تاسو ديو قوم سره په دې وجه بغض لرئ چه هغوی [تاسو لره د حدیبئې په کال]مسجد حرام [ته دتلو] نه ایسار کړی وني [د قریشو کافران ترې مراد دی] دغه [بغض] په تاسو باندې ددې باعث جوړشي چه تاسو[دشریعت] دحد نه بهر شئ ﴿وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ [یعنی ددې په خبرو کښې] ديوبل مدد کوئی [لکه دا احکام دی چه ددې د عمل کولو شوق نورو کښې هم راپاره کوئی] اوپه ګناه اوزیاتئی [یعنی داسې مه کوئی او دنیکئ او تقوی په دې قسم خبرو کښې]ديوبل مدد کوئی [لکه هم دغه احکام شو چه څوک ددې خلاف کول شروع کړی نود هغوی مدد مه کوئی] ﴿ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ﴾ او الله ﷻ نه ویریږئی [چه ددې په وجه دټولو احکاموپابندی کول آسانیږی] بیشکه الله ﷻ [داحکامو مخالفت کوونکو ته] سخته سزا ورکوونکې دې.

معارف او مسائل

دآیت په ړومبئ جمله کښې ارشاد دې، [يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ] [اې دایمان خاوندانو دالله تعالی دنشانیانوبې حرمتی مه کوئ] دلته [شعائر] دشعیره جمع ده چه معنی ئې ده نخښه، لهذا شعائر او شعیره هغه محسوس څیزته وئیلې شی چه دڅه څیزنخښه وی، اسلامی شعائربه هغه کارونو او عملونو ته وئیلې شی چه دعرف په لحاظ دمسلمانئ نخښه ګڼړلې شی، هغه محسوسیږی اولیدلې کتلې شی، لکه مونځ، آذان، حج، هلکان سنتول، اودسنت په جوړږیره وغیره چه دی.په دې آیت کښې دشعائرالله تفسیرپه مختلفو الفاظوسره منقول دې مګردې کښې دټولونه صفاخبره هغه ده چه بحرمحیط اوروح المعانی کښې دحضرت حسن بصری رحمه الله اوعطاء رحمه الله نه منقول ده چه امام جصاص رحمه الله ورته دټولو قولونوراجمع کوونکې وئیلې ده، هغه خبره داده چه شعائرالله نه مرادټولې ددین نښانې احکام القرآن کښې معالم دین الله ذکر دې او معالم نه مراد نښانې دی نه شریعونه اوددین تاکلی واجبات، فرائض اوددې حدود دی، په دې آیت کښې د[لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ] دارشادهم داخلاصه ده چه دالله تعالی دشعائروبې عزتی مه کوئ، دهغې بې عزتی [۱] یوخوداده چه دسره دااحکام شاته اوغورځولې شی، بلکه داده چه نیمګړې عمل پراوکړې شی، [۳] دریم داچه دټاکلی حدودونه پرې ور تیرشی، په [لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ] کښې دې درې واړوصورتونونه منع کړې شویده،

قرآن کریم هم داهدایت په یوبل عنوان سره داشان ارشاد کړیدې ﴿ذٰلِكَ وَمَنْ يُّعَظِّمْ شَعَآئِرَ اللّٰهِ فَاِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوْبِ﴾ څوک چه دالله تعالی دحرمتونوتعظیم کوی نو هغه دزړونو دتقوی اثردې، دآیت په دویمه جمله کښې دشعائرالله دیوخاص قسم، یعنی دحج دشعائروڅه تفصیلات بیان کړې شویدی ،فرمائی، [وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ وَلَا الْهَدْيَ وَلَا الْقَلَآئِدَ] یعنی په حرامومیاشتو کښې په جنګ کولوسره دهغې بې عزتی مه کوئ، میاشتې حرامې څلوردی چه پکښې جنګ کول دشریعت له مخې حرام وو هغه ذوالقعده، ذوالحجه، محرم، اورجب دی چه بیادجمهوروعلماؤ په نزد دا حکم منسوخ شو ، داشان په حرم دمکې کښې دقربانی کیدونکی څاروخصوصادهغې چه په غاړه

Scanned with Ca

کښي ورتـه پـټي اچـولي شـوي وي،بـې عزتـي مـه کـوئ،ددغي څـنـاورودبې عزتـئ يوصـورت خو دادې چه حرم شريف ته درسيدونه دا ايسار کړې شي،يابيخي ضبط کړې شي،بل صورت ئې دادې چه دې نه بل څه کار دسورلئ يادپيو حاصلولو وغيره واغستې شي،په آيت کښې دا ټول صورتونه ناروا گرځولي شوي دي.

بيائې اوفرمائيل [وَلَآ آٰمِّيْنَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ يَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ وَرِضْوَانًا] يعني دهغه چاې عزتي مه کوئ چه دحج په اراده مسجد حرام ته دتلو دپاره دکور نه وتلي وي اومقصودئې داوي چه په داسې کولو سره دوئ دالله تعالى فضل اورضاحاصله کړي،ددې خلقو دبيعزتئ نه کولو مطلب دادې چه پـه دغـه سفرکـښې دوي دوړسره جگړه اونکړې شـي،اونه دوي تـه څه تکليف وراورسولي شي.

بيافرمائي:[وَاِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا] يعني داحرام په حالت کښې دښکار کولونه چه منع کړې شوې وه دهغې حد داسې اوښودلې شوچه هرکله تاسو داحرام نه اوځئ نوپه ښکار باندې بنديز ختم شو،اوس ښکار کولې شئ.

په دغه ذکرشوي آيت کښې دهغې معاهدې [الوظ] دداسې يوضروري جزبيان شويدې کوم چه دهرانسان اودرب العلمين ترمنځه شويده،دهغې څوبرخې ترددې پورې بيان شوې چه پکښې اول،مطلقا د شعائرالله تعظيم اودهغې دبيعزتئ نه دځان ساتلو هدايت دې،اوبيا په خاص ډول ددې شعائرالله څه تفصيلات دي،کوم چه حج سره تعلق لري،په دې لړکښې حج له روان مسافرو او دوئ سره روان دقربانئ دڅاروؤسره مزاحمت نه کولو اوددې دبې عزتئ نه دځان ساتلو هدايت شويدې،

وريسې دمعاهدې دويم جزئې داشان ارشاد کړو،[وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اَنْ صَدُّوْكُمْ عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ اَنْ تَعْتَدُوْا] يعني کوم قوم چه تاسوسره دحديبيئ دواقعې په وخت پـه مکـه مکرمـه کـښې د داخليدو،اودعمرې اداکولونه ايسار کړې وئ اوتاسو،په سخت غم اوغصه کښې ناکام واپس راروان وې، اوس چه تاسوته څه زوراوقوت حاصل شونوداسې نه دې کول پکارچه دغم،بغض او غصې لـه کبله ددې بدل واخلئ اودوئ لره بيت الله شريف تـه دتلو او مسجد حرام کـښې د داخليدونه بند کړئ،ولې چه داظلم دې، اواسلام دظلم بدله په ظلم سره اغستل نه غواړي، بلکه داښائي چه دظلم په بدلـه کښې دانصاف اوکړې شي اوپـه انصاف دټينگ پاتې شي،هغوئ دڅپل زور،زبردستئ په موقعه مسلمانان دې نه په ظلم سره ايسار کړي وُوچه مسجد حرام کښې داخل شي اوعمره اوکړي،نواوس دهغې جواب په دې شان نه دي ورکول پکارچه مسلمانان دِهم دڅپل زور،اقتدارپه وخت هغوئ لره دحج دکارونونه بند کړي،

دقرآن کريم تعليم دادې چه په عدل اوانصاف کښې ددوست،دښمن ټول برابراويو شان وي، کـه دمسلمانانو دښمنان هرڅومره سخت وي،دوئ تـه يې هرقسم زيان تـاوان رسولې وي نوداسې خلقوسره هم دانصاف نه کاراغستل ستاسو فرض دی.

دايـواځې داسـلام د خـصوصياتو نـه دې چـه هغـه ددښمنانو دحقوقو حفاظت کـوي او دهغوئ دظلم جواب په ظلم سره نه،بلکه په انصاف سره ورکول ښائي.

خيل منځ کښې دلاس امدادکولو قرآني اصول: [وَتَعَاوَنُوْا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۖ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۖ اِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ] دا،دسورتِ مائده ددويم آيت آخري جمله ده،په دې کښې قرآن

Scanned with Ca

کريم ديوې داسې اصولي اوبنيادي مسئلې په باره کښې يوحکيمانه فيصله ورکړيده چه دټول جهان دنظام روح دې، اوپه هغې باندې دانسان هره ښيګړه، کاميابي بلکه پخپله دژوند او بقا اډانړه ده چه هغه خپل منځ کښې دلاس امدادکولو مسئله ده، هرهغه انسان چه پوهه لري، نو هغه په دې خبردې چه ددې دنياپوره انتظام دانسانانوپه خپل منځ کښې يوبل سره په امداد کولو باندې ولاړدې، زورآوريامالداروی، په يواځې ځان دخپل دژوندضروريات پخپله نشي حاصلولې يوانسان په يواځې ځان دخپل خوراک دپاره دغلې کرلواودهغې دراټولولونه چه واخلې دخوراک دپاره دتياروولوتروختته پورې ټول هرڅه پخپله نشي کولې، داغوستلودپاره دپونبې دکرلونه چه واخلې دخپل بدن په جوړدجامې تيارولوپورې ټول انتظام په يواځې ځان پخپله کولې نشي، نه په يواځې ځان خپل پيټې ديوځائ نه بل ځائ ته اوړلې شي. غرض داچه هرانسان دخپل ژوندپه هره برخه کښې دزرګونوڅه چه دلکونوانسانانو محتاج دې، خپل منځ کښې يوبل سره دامدادکولوپه اډانړه ددنياټول نظام ولاړدې، که ژور نظراوکړې شي نودالاس امدادکول يواځې په ژوندکښې نه بلکه دمرګ نه چه واخلې تر ښخيدوپورې ټولې پوړئ هم ددې لاس امدادحاجت لري، بلکه ددې نه هم زيات داچه دښخيدونه پس هم انسان دخپلو پسماندګانو د دعا اوثواب رسولومحتاج وی،

الله تعالى په خپل رسيدونکې حکمت اوکامل قدرت سره، ددې جهان، داسې يو محکم نظام جوړکړيدې چه هريوانسان ئې دبل انسان حاجتمندجوړکړيدې، غريب بنده دپيسودپاره دمالدارو محتاج دې، اولوئ نه لوئ مالدارهم، محنت اوخوارئ دپاره دغريب مزدورمحتاج دې، سوداګر د ګاکانو اوګاکان دسوداګرومحتاج دی، دمکان جوړولودپاره يو مالک، د ګلکار، لوهار [آهينګر] او ترکاڼ [نجار] وغيره محتاج وی، اوداټول دهغه محتاج وی، که داټول اړخيز حاجت نه وې اولاس امدادکول يواځې په پورتوالي اړه لرلې نوچابه دچاکارکولو، ددې به هم هغه انجام ووکوم چه په دې دنياکښې دعام اخلاقي قدرونوکيږی، که دکارونوويش ديو حکومت يابين الاقوامي ادارې له اړخه دڅه قانون په ذريعه وې نودهغې به هم داانجام وو کوم چه نن صبادنيوی قانون انجام دې، چه قانون په دفعاتو کښې محفوظ دې، په بازارونو، دفترونو کښې، رشوت، بې ځايه رعايت، خپل فرض نه پيژندل اوبې عملې دقانون په ډول چليږی، دا خالص دحکيم الحکماء قادرمطلق الهی نظام دې، چه دمختلفو خلقو په زړونو کښې دمختلف کاروبارتمنااو قابليت پيدا کړو، اوهغوئ دخپل خپل ژوندبنيادهم دغه کارجوړکړو،

هريکے را بهرکارے ساختند   میل اورادردلش انداختند

[هريوئې خپل خپل کارلره پيداکړو، دهغې شوق اومينه ئې ورته په زړه کښې واچوله]

ورنه که يوبين الاقوامي ادارې يايوحکومت دخلقوترمنځه دکارونوويش کولې، يوې ډلې ته ئې دترکاڼئ [نجارئ]، بلې ډلې ته ئې دلوهارئ [آهينګرئ] چاته دشاخيلئ اوچاته ئې دمشکې توب، چاته ئې دخوراک انتظام سپارلې وې، نوچابه دغه حکمونه په داشان منلی ووچه دورځې آرام اود شپې به ئې خوب په ځان حرام کړې وې اوپه دغه کارکښې به لګياپاتې شوې وې،

الله تعالى دهغه کارمينه دانسان په زړه کښې اچولې ده کوم دپاره ئې چه هغه پيدا کړې دې، هغه دڅه قانوني مجبورئ نه بغير، هم دغه خدمت دخپل ژوند کارګرځی، ددې په ذريعه خپله روزی حاصلوی، ددغې محکم نظام دانتيجه وی چه ټول انساني ضروريات په معمولي خرچ

Scanned with Ca

سره، په آسانۍ حاصليدې شي، تياري پخې خوراکې، گنډلې جامې، جوړشوې فرنيچر، تيارشوې مکان، هريو انسان په څه قدري رقم لګولو سره حاصلولې شي، که دانظام نه وې نو يو کروړپتي انسان به ديوغنمو دانه هم په خپل ټول دولت خرچ کولو سره نه شوه حاصلولې، هم ددې قدرتي نظام نتيجه داده چه په هوټل کښې څوک پاتې شي اودکوم څيزنه چه هغه فائده پورته کوی اوپه هغې ټولو څيزونو کښې ځان ځان لږه غورفکراوکړی نومعلومه به شي چه اوړه پکښې دامريکې لګيدلي دی، غوړی پکښې دپنجاب، غوښه پکښې د نډ، مسالې پکښې د مختلفو ملکونو، لوښې اوفرنيچرپکښې دمختلفوملکونو، کار کوونکی بيرګان او اشپزان پکښې دمختلفو ښارونو به په خدمت کښې لګياوی، يوه لقمه [ګوله] چه د انسان خلې ته رسی په هغې کښې لکونومشينونو، څاروؤاوانسانانو کارکړې وی، هله ئې دخلقودخلې خوندپه مزه کړې وی، که دصباپه ټائم کښې خپل کاردپاره درې څلورو ميله تلل څوک نشي کولې، نو ټيکسی، رکشه، ټانګه وغيره نيولې شي، چه په هغې کښې لګيدلې اوسپنه دآسټريليا، لرګې دبرما، مشينرې د امريکې، ډرائيوردفرانتير، کنډ کټريوپي او کوچوان دپيښوروی، دکوم کوم ځائ سامان پکښې لګيدلې اودکوم کوم ځائ مخلوق، ستاسو دخدمت دپاره ولاړدې، داټول څيزونه اوټول خدمتونه دڅوروپوپه بدله کښې حاصلولې شی، داکوم حکومت مجبوره کړی یاچاپابند کړيدی چه داټول څيزونه ئې ستاسودپاره برابر کړل، داکارقدرت دهغه قانون دې چه دزړونومالک په تکويني ډول دهريوپه زړه جاری کړيدې،

نن صباسوشلسټ ملکونودا انتظام په خپل سر اغستې دې اوقدرتي قانون ئې بدل کړيدې کومو انسانانوته ئې چه کوم کوم کارونه سپارلي دی هغې دپاره ئې اول دهغوئ آزادي په زورظلم سره راګوشوکوله، په نتيجه کښې ئې په زرګونوانسانان اووژلې شو، په زرګونو بنديوان کړې شو، اوپاتې نورانسانان ئې دانتهائي زور، ظلم په ذريعه دمشين ډپرزوپشان استعمال کړل که په نتيجه کښې دڅه څيزونوپيداوارپه څه ځايونوکښې زيات هم شونود انسانانودانسانيت په ختمولوسره زيات شو، لهذاداسودا هم ارزانه نه، بلکه ډيره ګرانه پريوته، په قدرتي نظام کښې هرانسان آزادهم دې او طبيعتونو دقدرتي تقسيم په بنا، خاص خاص کارونودپاره دخپل خپل طبيعت په بنامجبوره هم وی، ځکه پکښې هيڅوک هم جبرنه محسوسوی، که کارډيرسخت یاذليل نه ذليل وی بياهم هغې دپاره ددغه کارونو خلق پخپله ورورانډې کيږی اوپه کوشش سره دهغې دپاره خلق په هرځائ اوپه هره زمانه کښې ملاويږی اوکه دغې کارونودپاره حکومت چالره مجبوره کړل نوهغوئ به ترپه تيښته شي،

خلاصه داشوه چه دټولې دنيانظام يوتربله تړون باندې ولاړدې، ليکن ددې تصويربل اړخ هم شته، که دجرمونو، غلاګانو، ډاکو، قتلونواولوټ ماروغيره دپاره دايوتربله لاس امداد په کارراوستې شي، دغلوډاکې مارو، لوئ لوئ اومضبوطې ډلې شي نودغه خبره ددې جهان ټول نظام وران ويجاړ کولې شي، دې نه معلومه شوه چه يوتربله امدادکول يوقسم دوړه مخيزه توره ده، چه پخپل ځان هم استعماليدې شي، ددنيانظام هم تباه کولې شي، اوداجهان هرکله چه دخيراوشرښه اوخراب نيک اوبدپه ګډه جوړشوې يوقسم معجون دې، ځکه داسې کيدل پکښې څه لرې خبره نه وه چه جرمونو، قتلونو، ډاکويانقصان رسولوکښې يوتربله د امدادکولوقوت استعمال کړې شی، دايواځې احتمال نه بلکه دواقعې په صورت کښې دټولو مخې ته راغلل،

Scanned with Ca

ددې درد عمل په ډول هوښيارانو ددنياد خپل تحفظ دپاره، دمختلفو نظريو په بنياد دخاص خاص جماعتونو يا قومونو بنياد كيښوده، چه كه چرې ديو قوم يا ډلې په خلاف بل يو قوم را پورته شي نو دغه ټول دهغوئ په مقابله كښې دهغې په شاد تمبولو دپاره خپل منځ كښې يو بل سره دلاس امداد كولو قوت استعمالوي،

دقوميتونو تقسيم: عبدالكريم شهرستاني رحمه الله په خپل كتاب ملل او نحل كښې ليكلي دي چه په اول كښې هركله چه انساني آبادي زياته نه وه نو ددنياد څلور وطرفونو په لحاظ سره څلور قومونه جوړ شو، ① مشرقي ② مغربي ③ شمالي ④ جنوبي يعنې دڅلوروواړو طرفو خلقو به خپل قوم دبل نه بيل ګڼړلو او خپل منځ كښې دلاس امداد كولو بنيادئې هم په دې قائم كړو، چه خلق نور هم زيات اوګڼړ شو نو د نسب او خاندان په بنياد باندې دقوميت او يو بل سره دتړون تصوريو اصول جوړ شو، چنانچه دعربو ټول نظام هم په دې بنياد ولاړ وو، هم په دې بنياد به جنګونه كيدل،

① بنو هاشم ② بنو تميم ③ بنو خزاعه به خپل منځ كښې هم يو تر بله بيل بيل قوم ګڼړلې شو، په هندوستاني هندوانو كښې د پورته ښكته ذات بيلتون خوترننه پورې هم دغسې چليږي،

ديورپي قومونو نوي دور خونه خپل ذات نسب باقي او ساتلو او نه ئې ددنيا نسبونه څه او ګڼړل، چه دنيا كښې دې خلقو وده او كړه نو نسبي او قبائلي قوميتونه او تقسيمونه ئې ختم كړل او د علاقو، صوبو، وطنونو او دژبو په بنيادئې انسانيت ټوټې ټوټې كړو، او په دې بنيادئې بيل بيل قومونه مخې ته راوستل اونن په ټوله دنيا كښې تقريبا هم دغه طريقه چليږي، تردې چه دې جادو په مسلمانانو هم اثر اوكړو، يواځې په عربو، تركيانو، عراقيانو، سنديانو كښې تقسيم نه شو، بلكه نور نور تقسيمونه په دې كښې داسې اوشو، چه دمصر، شام، حجاز، نجد، پنجاب، بنګال، سيند او هندوستان خلق ځان ځان له بيل بيل قومونه جوړ شو، دحكومت ټول كاروبار هم په دې بنيادونو باندې اوچلولې شو، تردې چه صوبائي عصبيتونو ددوئ په رګ رګ او وينه كښې ځائ اونيو ژاو دهرې صوبې خلقو، خپل منځ كښې دلاس امداد كولو بنيادهم په دې كيښوو.

قوميت او اجتماعيت دپاره قرآني تعليم: قرآن كريم بيا انسان ته هغه هير كړې سبق رايادكړو، دسورت نساء دسر په آيتونو كښې ئې داپه ډاګه كړل چه تاسو ټول انسانان ديو مور پلار اولاد ئې، رسول الله ﷺ دحجة الوداع په موقعه ددې تشريح په دې اعلان كولو سره اوفرمائيله چه څوک عربي دعجمي نه او څوک سپين پوستې تور پوستي نه غوره نشي كيدې، د غوره والي اډانړه په تقوى او دالله تعالى په فرمانبرداريئ ده، قرآن كريم دااعلان هم او كړو ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾ په دې سره ئې حبشي، تورپوستي، د سپين پوستو تركيانو او روميانو اود لاندې ذات عجميان يې د عربو دقريشيانو او هاشميانو رونړه جوړ كړل، د قوميت او رورولئ بنيادئې په دې كيښود چه دالله تعالى او رسول ﷺ منونكي خلق يو قوم او نه منونكي بل قوم دي، هم په دې بنياد ابوجهل او ابي لهب سره درسول الله ﷺ دخپلوئ مزې [تار] اوشليدو او دبلال حبشي رضي الله عنه او صهيب رضي الله عنه رومي سره ئې تړون اوشو،

حسن زبصره بلال زحبش صهيب ازروم
زخاک مكه ابوجهل اين چه بوالعجمي است

حضرت حسن بصری ؓ دبصرې وو، حضرت بلال ؓ حبشي وو، حضرت صهيب ؓ دروم
وو او د مکې مکرمې په پاکه خاوره کښې ابوجهل پيداشوداخومره دلوئ تعجب او حيرانئ
خبره ده،
تردې چه قرآن کريم دااعلان هم اوکړو، ﴿خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ﴾ تاسوټول الله تعالى
پيداکړئ نوځه په تاسو کښې کافران اوځه مؤمنان دی] د بدر، احد، احزاب، اوحنين په جنګونو
کښې په دې قرآنی تعليم په ښکاره داسې عمل شوې وو چه هرکله ديو مسلمان نسبی رورد الله
تعالى اودهغه درسول الله ﷺ دفرمانبردارئ نه بهر اووتونو دهغه درورولئ اوامدادنه محرومه
شو، تردې چه دهغه تورې ئې سرقلم کړو، چه نسبي روربه سره دوسلې مقابلې ته رااووتو، نوبل
اړخ ته به اسلامی رورامداد دپاره رامخکښې شو، دبدر، احد، او دخندق دغزاګانو واقعات په
دې ګواه دی،

هزارخويش که بيگانه ازخداباشد   فدائے يک تنِ بيگانه که آشناباشد

[په زرګونو خپلوان چه دالله تعالى نه باغيان وی، دهغه يوپردی کس نه دِقربان وی چه
دالله تعالى فرمانبرداروی،]
په تيرشوی آيت کښې يوبل سره دلاس، امدادکولو معقول اوصحيح اصول، قرآن کريم داښودلی دی]
[وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوٰى ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ] [په نيکئ اوخداترسئ کښې ديو بل سره
امدادکوئ، په بدئ اوظلم کښې دغسې امدادمه کوئ]
دې ته ښه خيال اوکړئ چه قرآن کريم داسې اونه فرمائيل چه خپلو مسلمانانوورونړو سره
امدادکوئ، اونوروسره مه کوئ، بلکه ددې اصل بنيادئې نيکی اوخداترسی اوګرځوله،
ددې صفااوښکاره مطلب دارا اوځی چه مسلمان رورهم که زورظلم کوی نودهغه امداد هم مه
کوئ بلکه کوشش داکوئ چه هغه دزورظلم نه ايسارا وبند کړئ، ولې چه په حقيقت کښې داسې
کول دهغه صحيح امدادځکه دې چه زور، ظلم کولوسره دهغه دنيااو آخرت دتباه کيدونه اوساتئ،
په صحيح بخاری اومسلم کښې دحضرت انس ؓ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ داسې
اوفرمائيل، [أُنْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا] دخپل رورمسلمان امدادکوئ که هغه ظالم وی يامظلوم]
صحابه کرامو ؓ په حيرانتياسره تپوس اوکړو يارسول الله ﷺ دمظلوم امداد کول خو زمونږ
پوه کښې راځی د ظالم امدادکول څه معنی لری، هغوئ ﷺ ورته اوفرمائيل چه دظالم امداد
کول، ظلم نه هغه لره بندول دی(۱)
قرآن کريم ددې تعليم اصل پيمانه [براوتقوی] [نيکی اوخداترسی] جوړه کړه، دمسلم قوميت
ودانَی ئې په دې اداره کړه، په دې بنياد دلاس امدادبلنه ئې ورکړه اوددې په مقابله کښې ئې
[اثم] او[عدوان] سخت جرم اوګرځولو، په دې کښې ئې دامدادکولو نه منع اوکړه.. جمهورو
مفسرينو ؒ دلته د[بِر] معنی [فعل الخيرات] [نيک عمل کول] او د[تقوی] معنی [ترک المنکرات]
[ناکاره کارونه پريښودل] کړيده، [اثم] دمطلق ګناه اونافرمانئ معنی ورکوی خواه دهغې تعلق

۱) صحيح البخاری، کتاب الاکراه، باب يمين الرجل الخ: ج ۲، ص ۱۰۲۸، وصحيح مسلم، کتاب البر والصلة والآداب، باب نصر الأخ ظالماً الخ: ج ۲، ص ۳۲۰

Scanned with Ca

حقوق العباد سره وي او که عباداتو سره وي د [عدوان] لفظي معنی [ادحد نه ورتیریدل ده] چه مراد ترنه زور ظلم دي،

په براو تقوی کښې امداد کولو د پاره رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: [الدال علی الخیر کفاعله] ([1]) [د نیکۍ طریقه او لار ښودونکي دومره ثواب حاصلوي څومره چه پخپله دهغې کوونکي حاصلوي] دا حدیث ابن کثیر رحمه الله دبزار په حواله نقل کړیدي، او صحیح بخاري کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ او فرمائیل چه څوک نیکۍ ارخ ته بلنه اولار ښودنه کوي دهغه ثواب به دهغه هر یو کس برابروي څوک چه پر عمل کوي، او عمل کوونکو ثواب به هیڅ قدرې نشی کمولي، دغه شان که چا ګمراهۍ یا د څه ګناه ارخ ته بلنه ورکړه، نو په هغې کښې دعمل کوونکو ټولو ګناه به دده هم وی بغیر ددي نه چه دعمل کوونکو په ګناه کښې څه کمې او کړې شی([2])،

ابن کثیر رحمه الله دطبراني په روایت درسول الله ﷺ دا فرمان نقل کړیدي: څوک چه ظالم سره د امداد کولو د پاره اووتلو، هغه د اسلام نه خارج شو([3])، په دې بنا پخوانو بزرګانو د ظالمانو بادشاهانو، حاکمانو د ملازمت کولو او دهغوئ دارخه دڅه عهدې قبلولو نه سخته ډډه کړیده، ولې چه هغې لره قبلول ئې دهغوئ امداد کول ګڼړل. په تفسیر روح المعاني کښې دا آیت، ﴿فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِلْمُجْرِمِينَ﴾ لاندې درسول الله ﷺ دا حدیث شریف نقل کړیدي چه هغوئ ﷺ او فرمائیل، دقیامت په ورځ به آواز او کړې شی چه چرته دی ظالمان خلق او دهغوئ امدادیان، تردې چه ظالمانو د پاره کوموخلقو چه دوات، قلم سم کړی وی، دغه ټول به هم داوسپنې په یو تابوت [صندق] کښې راجمع کړې شی او په جهنم کښې به ورګذار کړې شی([4]).

دا د قرآن او سنت هغه تعلیم دي چه په دنیا کښې ئې د نیکۍ، انصاف، همدردۍ او ښکلي خوئ خصلت خورولو د پاره دملت هر یو غړې بلونکي ګرځولي وو، د جرمونو او د ظلم زیاتي د بندیز راوستو د پاره ئې دملت هر یو غړې، داسې سپائي جوړ کړې وو چه په پټه او ښکاره دالله تعالی د ویرې په وجه، په فرض پوره کولو مجبوره وی. هم ددې حکیمانه تعلیم او تربیت نتیجه وه چه دنیا دصحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله په زمانه کښې اولیدله، نن هم چرته چه په یو ملک کښې دجنګ خطره راپیښه شی، نود ښهري دفاع محکمې قائمې کړې شی او دقوم هر یو غړی ته دڅه فنونو ښودلو بند وبست خو کولې شی، مګر د جرمونو دبندولو داسې هیڅ انتظام نشته چه دهغې په ذریعه خلق، نیکۍ ته بلونکي او بدۍ نه بندوونکي سپایان جوړ کړې شی، ښکاره خبره ده چه ددې مشق نه په فوجي پریډ سره کیدې شی او نه دښهري دفاع په طریقو سره. دا هنر خو په تعلیمی درسګاهونو کښې ښودلې شی چه نن صبا، دبد قسمتۍ په وجه، ددې د نوم نه هم خلق ناواقفه دی، دبراو تقوی او ددې دتعلیماتو داخله دنن صبا په تعلیمی ادارو کښې منع کړې شویده، داثم او عدوان هره یوه لاره آزاده ده، بیا دابې وسه پولیس ترکومې پورې د جرمونو بندیز او کړی هر کله

---

[1]) جامع الترمذي، أبواب العلم، باب ما جاء الدال على الخير كفاعله: ج ٢، ص ٩٥

[2]) دا حدیث عاجز بنده ته په جامع الترمذي، أبواب العلم، باب ما جاء فيمن دعا الى الهدى الخ: ج ٢، ص ٩١ کښې ملاو شوی دي۔

[3]) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث: ٦١٨، وتفسير ابن كثير تحت هذه الآية: ج ٢، ص ١٢

[4]) روح المعاني: ج ٢٠، ص ٥٦

چه ټول قوم دحلالو، حرامو، دحق اوناحق نه ناخبره جرمونه کول خپله پیشه جوړه کړي، نن صبا
چه هرچرته، غلاګانې، ډاکې، بې حیائی، قتلونه اولوټ ماری زیاته ده، په هرملک کښې ورځ تر
ورځه ترقي کوی او قانونی مشینری ددې دبندولونه عاجزه ده، نو ددې هم دغه دوه سببه دی چه
یو خو اخوحکومتونه ددې قرآنی نظام نه لرې شویدی، دحکومتونو خاوندان دبِر اوتقوی په
اصولو پاندې دعمل کولونه ډډه کوی، اګرچه ددې په نتیجه کښې په زرګونو سختې برداشت
کولې شی، کاش، چه تجربې دپاره خودوئ داتریخ ګوټ [غرپ] دستونی تیرکړې وې او دا تماشه
ئې کړې وې چه څنګه دوئ ته اوعوامو ته ئې دامن، آرام اوراحت پاکیزه ژوند نصیب کیږي،
بل اړخ ته عوام، جرمونو بندولو سره صرف دحکومت کاربولی، هغوئ په دې عادت شویدی چه
هرمجرم په جرم پاندې پرده اچوی، خالص دحق ښکاره کولو او دجرمونو بندولو په غرض
درشتیاؤ د ګواهئ ورکولو رواج په هغوئ کښې پاتې نشو، هغوئ لره په دې خبره پوهیدل
پکاردی چه دمجرم په جرم پاندې پرده اچول او دګواهئ نه ځان ساتل دجرم مدد کول دی چه
دقرآن کریم له مخې حرام اوسخته ګناه ده او د [وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ] دحکم نه سخت
بغاوت کول دی.

حُرِّمَتْ	عَلَيْكُمُ	الْمَيْتَةُ	وَالدَّمُ	وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ	
حرام کړې شوه	په تاسو باندې	مرداره	اووینه	اوغوښه دخنزیر	
په تاسو باندې حرام کړې شوې ده مرداره اووینه او دخنزیر غوښه					
وَمَا	أُهِلَّ	لِغَيْرِ اللَّهِ	بِهِ	وَالْمُنْخَنِقَةُ	وَالْمَوْقُوذَةُ
اوهغه خناور	چې اواز شوې وی	دغیر الله	په هغې باندې	اومړئ خفه مړ خناور	او وهلې شوې مړخناور
اوهغه چې د الله ﷻ نه سوا دبل چا په نوم حلال شوې وی	او چې مړئ ئې خفه شوې وی	او چې دګزار نه مړ شی			
وَالْمُتَرَدِّيَةُ	وَالنَّطِيحَةُ	وَمَا	أَكَلَ	السَّبُعُ	إِلَّا مَا
او رغبتې مړخناور	اودښکرپه ډغره مړخناور	اوهغه خناور	چې وې خوری	درنده	بغیردهغې نه
او چې راوغورزیږی	او چې بل خناورئې په ښکراووهی اومړشی	او چې یودرنده ترې نه خوراک کړې وی	بغیر دهغې نه		
ذَكَّيْتُمْ	وَمَا	ذُبِحَ عَلَى	النُّصُبِ	وَأَنْ	
چې حلال ئې کړئ تاسو	اوهغه خناور	چې ذبحه کړې شوې وی	په درباربانډې	اوداهم ناجائز دی	
چې تاسوژوندې موندې وی	اوحلال کړې مو وی	اوهغه چې د بتانو په نوم ذبح شوې وی	او دا چه		
تَسْتَقْسِمُوا	بِالْأَزْلَامِ	ذَٰلِكُمْ	فِسْقٌ	الْيَوْمَ	
چې تاسوقسمتونه معلوم کړئ	په غشودفال سره	داټول کارونه ستاسو	فسق دې	نن ورځ	
دجوارئ په غشو تقسیم کوئ	داټول دګناه کارونه دی	نن ورځې کافران			
يَئِسَ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	مِنْ دِينِكُمْ	فَلَا تَخْشَوْهُمْ	
ناامیده شوهغه کسان	چې کافران دی	اد دین ستاسو نه	انو تاسو مه ویریږئ دهغوئ نه		
ستاسو ددین [تباه کولو] نه پوره پوره مایوس شوی دی	نو دهغوئ نه مه ویریږئ				

Scanned with Ca

وَاخْشَوْنِ ؕ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ
او ويريږئ زما نه | نن ورځ | مكمل كړو ما | دپاره ستاسو | دين ستاسو | او تمام كړو ما | په تاسو باندې
اوزما نه ويريږئ | نن ما ستاسو دين كامل كړو | اوخپل نعمتونه مې درباندې پوره كړل
نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ؕ فَمَنِ اضْطُرَّ
نعمت زما | اوراضي شوم زه | دپاره ستاسو | په اسلام | په حيثيت د دين سره | او څوك چې | مجبور شي
اواسلام مې ستاسو دپاره غوره دين منتخب كړو | ....نو څوك چې دلوږې نه مجبوره شي
فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝
په لوږه كښې | حال دا چې نۀ وى | مائل | ګناه ته | بيشكه الله | بښونكې | مهربان دې
............چه ګناه ته ئې ميلان نۀ وى [اودغه غوښې اوخورى] نو الله بښونكې مهربان دې

آسان ترجمه قرآن: په تاسو باندې مردار څناور، او وينه، او د خنزير غوښه او هغه څناور حرام کړې شوي دي چه هغې باندې دالله نه سوا د بل چا نوم اغستې شوې وي او هغه چه د مرئ خفه کیدو د وجې نه مړ شوې وي، اوچه د ګذار د وجې نه هلاکه شوي وي، اوچه د بره راغورځیدلي وي او مړه شوي وي اوچه هغې لره يو څناور په ښکر وهلي وي او مړه شوي وي، او چه هغې لره څه درنده خوړلي وي، هنه چه تاسو (دهغې د مړ کیدو نه مخکښ) هغه هم حلال کړې وي، او هغه (څناور هم حرام دې) چه هغه د بتانو په (درګاه) نوم حلال شوې وي، اودا خبره هم (ستاسو دپاره حرامه ده) چه تاسو د جوارئ په غشو (غوښه وغيره) تقسیم کړئ دا ټولې خبرې د سختې ګناه دي نن کافر ستاسو د دين (د مغلوب کيدو نه) نااميد شوي دي نو د هغوى نه مه ويريږئ، او څما ويره زړه کښ وساتئ نن ما تاسو ته ستاسو دين مکمل کړو، او په تاسو مې خپل نعمت پوره کړو، اوتاسو د پاره مې اسلام د دين په توګه (هميشه دپاره) خوښ کړو (نو د دين د احکامو پوره پابندي وکړئ) هنه څوك چه د سختې لوګې په حالت کښ مجبوره شي (او ددې مجبورئ په حالت کښ ددې حرامو څيزونو نه څه وخوري)، په دې شرط چه د ګناه د رغبت د وجې نه ئې داسې نه وي کړي نو الله ډير معاف کوونکې، ډير مهربان دې.

خلاصه تفسير

﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ﴾ په تاسو باندې [داخاروى وغيره] حرام کړې شويدى مرداره [خاروى چه ذبح کول ئې واجب وى اوسره دهغې بې دڅه شرعي وجې نه مړ شى] اووينه [چه بهيدونکې وى] اود خنزير غوښه [داشان دده بدن ټول هرڅه] ﴿ وَمَآ اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيْحَةُ﴾ اوهغه خاروى چه [دنزديکت په اراده] دغير الله په نامه کړې شوى وى اوچه د مرئ خپه کيدو په وجه مړ شوى وى اوچه په څه ګوزار سره مړشى اوچه دلوړے نه په راپريوتلو مړشى [لکه دپورته غرنه راپريوزى يا په کوهى کښې ورپريوزى] اوهغه چه په ډغره مړشى ﴿ وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ ﴾ اوهغه چه څه درنده ئې [درانيولو نه پس] خورى [اوددې غم نه مړشى] ليکن [منخنقه نه ماأكل السبع پورې ذکر شوئ خاروو نه] کومو لره چه تاسو [دساه وتلو نه مخکښې دشرعى قاعدې مطابق] ذبح کړئ [هغه به حرام نه وى] ﴿وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَاَنْ

تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ ﴾ او همدغه شان کوم څاروی چه [دغیرالله] په عبادت خانو باندې ذبح کړې شي [حرام دی اګر چه په ژبه او وینا سره دغیرالله په نوم نه کړې شي ولې چه د حراموالی اډانړه په ناروا نیت باندې ده دا کله په وینا سره دغیرالله په نامه کولې شي او کله دکولو سره چه هغه په دغسې مقاماتو ذبح کړې شي] اودا [هم حرام دی] چه [غوښه یابل څه] اویشئ په ذریعه د خسنړی اچولو دغشو ﴿ ذٰلِكُمْ فِسْقٌ ﴾ دا ټول ګناه ده [اوحرام] دی .﴿ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ ﴾ نن ورځ [یعنی اوس] ناامیده شو کافرخلق ستاسو ددین [دمغلوب کیدو او ختمیدو] نه [ولې چه ماشاءالله دا ښه خورشو] ﴿فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ﴾نودوی[کافرو]نه مه ویریږئ[چه ستاسو دین[به ختم کړې شی]او زمانه په مخه ویریږئ [یعنی زما دحکمونو مخالفت مه کوئ] ﴿ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ نن ورځ تاسو دپاره ستاسو دین لره ما[په هرشان] کامل کړو [په قوت کښې هم چه دهغې په وجه کافر ناامیده شو اوپه احکامواو قواعدو کښې هم] او [ددې کاملولو په وجه] ﴿ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ ﴾ ما په تاسو خپل انعام پوره کړو [دینی انعام هم چه احکام مکمل شو اودنیوی انعام هم چه قوت درته حاصل شو اوپه دین کاملولو کښې دواړه راغلل] ﴿ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ﴾ اوما اسلام لره ستاسو دین جوړولودپاره [همیشه ترقیامته پورې] خوښ کړو [چه قیامته پورې به ستاسو هم دا دین وی ددې په منسوخ کولو سره به بل لره ستاسو دین نشی ګرځولې نوتاسو لره زما دنعمت شکر په داسې شان ادا کول پکاردی چه په دې دین باندې پوره ټینګ پاتې شئ] بیا [ددغسې بیان شوؤ څیزونو د حراموالی معلومولونه پس دا هم معلوم کړئ چه] ﴿ فَمَنِ اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ ﴾ څوك په سخته لوږه کښې بېدمه شي [اوپه دغه وجه بیان شوی حرام څیزونه اوخوری] په شرط ددې چه دڅه ګناه طرف ته دهغه میلان نه وی [یعنی دضرورت نه زیات اندازه کښې اونه خوری اونه یئ خوند اخستل مقصد وی دے نه یئ په سورت بقره کښې ﴿غیرباغ ولا عاد﴾ سره تعبیر کړې دې] ﴿فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ نویقینًا الله ﷻ معاف کوونکې دے [که د ضرورت په پوره اندازه باندې پوهه نه شوئ اوڅه نمړئ[ګوله] نیمه موترې زیاته هم اوخوړه او] د رحمت خاوند دې [چه په داسې حالت کښې یئ اجازت درکړو].

معارف اومسائل

دا ،دسورت مائده دریم آیت دې چه پکښې ډیرڅه اصول اوفروعی احکام اومسئلې بیان شویدی، ړومبئ مسئله دحلالو اوحرامو څاروؤ ده ،دکومو څاروؤ وغوښه چه انسان ته ضرر رسوونکې ده ،خواه دبدن دپاره ئې مضره وی چه دانسان په بدن کښې ترېبیماری پیدا کیدې شی یاروح دپاره ئې مضره وی چه دې سره دانسان اخلاقی اودزړه کیفیات خرابیدې شی هغې لره قرآن کریم خبائث [ناکاره] اوګرځول اوحرام ئې کړل اوپه کومو څاروؤ سره چه روحانی یاجسمانی ضررنشوپیدا کیدې هغه ئې طیب [پاکیزه] اوحلال اوګرځول،

په دې آیت کښې فرمائی چه [حرام کړې شوپه تاسو مردار څاروی] مردارنه مطلب داسې څاروې دې چه دذبح کولونه بغیر دڅه بیمارئ په وجه یاپه طبعی [خپل] مرګ مړشی، دداسې څاروی غوښه په طبی لحاظ سره هم ،انسان دپاره سخته مضره ده اوپه روحانی لحاظ سره هم،

Scanned with Ca

البته په حدیث شریف کښې رسول الله ﷺ دوه څیزونه ددې نه ویستی دی یو کب [ماهی]، او بل ملخ، دا حدیث، مسند احمد رحمه الله ابن ماجه رحمه الله دارقطنی رحمه الله بهیقی رحمه الله وغیره روایت کړیدې (۱)،

بل هغه څیز چه په آیت کښې حرام ګرځولې شویدې هغه وینه ده اوقرآن کریم په بل آیت کښې ﴿ أَوْدَمًا مَّسْفُوحًا﴾ فرمائیلوسره دااوښودلې شوچه دوینې نه مراد بهیدونکې وینه ده، په دې وجه کلیجی اوتورې دې حکم لاندې نه راځی اګرچه هغه وینه ده [خوبهیدونکې نه ده] چرته چه په حدیث شریف کښې په [میته] کښې کب [ماهی] اوملخ داخل نکړې شو دغه شان کلیجی [اینه] اوتورې په وینه کښې داخل نکړې شو. دریم څیز [لحم الخنزیر] دې چه حرام ګرځولې شویدې، د [لحم] نه ئې مراد ټول بدن دې چه وازده، پلې وغیره ټول پکښې داخل دی،

څلورم هغه ځاروی دی چه دغیرالله په نوم کړې شوی وی، بیاکه دذبح په وخت هم په هغې، دغیرالله نوم واغستې شی نودا په ښکاره کفردې، دغه ځناورپه اتفاق دعلماؤ رحمهم الله سره دمردارې په حکم کښې دې، لکه دعربو مشرکانوبه چه دبتانوپه نوم ځاروی ذبح کول، یا ځنې جاهلان ئې دپیر، فقیرپه نوم باندې ذبح کوی، دغیرالله په نوم منلی شوی ځاروی لره هم جمهورو [فقهاء ﴿وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ﴾ لاندې راولی اوحرام ئې بولی اګرچه دذبح په وخت په هغې دالله تعالی نوم واغستې شی،

پنځم ﴿وَالْمُنْخَنِقَةُ﴾ ځاروې حرام دې، داهغه ځاروې دې چه په مرئ خپه کولوترساه اوښکلې شوی وی، یاپخپله په څه جال وغیره کښې دګیرېدوپه وجه ئې ساه بنده شی اومړ شی، اګرچه منخنقه او موقوذه هم په میته کښې داخل دی مګردجاهلیت دزمانې خلقوبه چه هرکله دې لره روا اوحلال ګنړل څکه ئې خصوصی ذکراوکړې شو،

شپږم موقوذه ځاروې دې چه دسخت ګوذارخوړلوله کبله هلاک شوې وی لکه په کوتک [ډانګ] وهلې شوې وی یاپه کاڼې ویشتلې شوې وی یاورلاندې چخنړې کړې شوې وی، کوم ښکارچه دغشی دڅوکې [تیرو] په ځائ دهغې په بل ځائ [په ډنډی وغیره] لګیدلوسره مړ شوې وی هغه هم دموقوذه په حکم کښې داخل، حرام دې، حضرت عدی بن حاتم رضی الله عنه درسول الله ﷺ په خدمت کښې عرض اوکړوچه زه کله کله په معراض [غشی] سره ښکارکوم که په هغې سره ښکارمړشی نوخوړې شم. هغوئ ﷺ ورته اوفرمائیل چه، که هغه دغشی په ګوذار مړشوې وی نوموقوذه شو، مه ئې خوره اوکه په څوکه [په تیرو] لګیدلې وی هغې زخمی کړې وی نو خوړلې ئې شې. داروایت جصاص رحمه الله په [احکام القرآن] (۲) کښې خپل اسنادسره نقل کړیدې خوشرط دادې چه دغشی ویشتوپه وخت ئې بسم الله وئیلی وی،

دټوپک په ګولئ لګیدلې ځاروې [مارغه] چه هم دهغې نه مړشی، داهم په موقوذه کښې داخل حرام دې، امام جصاص رحمه الله دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه نقل کړیدی چه هغوئ رضی الله عنه به

(۱) مسند أحمد، مسند عبدالله ابن عمر رضی الله عنهما رقم الحدیث: ۵۸۵۶ وسنن ابن ماجة، أبواب الأطعمة، باب الكبد والطحال: ص ۲۳۸، وسنن دارقطني، كتاب الأشربة وغيرها رقم الحديث: ۴۷۴۳، وسنن البيهقي، كتاب الصيد والذبائح، باب ما جاء في أكل الجراد، رقم الحديث: ۱۹۲۶۹

(۲) أحكام القرآن للجصاص، سورة المائدة: ج ۵، ص ۲۱۳

فرمائیل، المقتولة بالبندقة تلك الموقوذة(۱) [دټوپک په ګولئ لګیدلي ښکار چه هم دهغې نه مړشی داموقوذه [حرام] دي، دامام اعظم ابوحنیفه رحمه الله امام شافعي رحمه الله امام مالک رحمه الله وغیره دټولو په دې اتفاق دې [قرطبی]

اووم متردیة ښکاروي دې چه دڅه غر، غونډئ یالوړځائ عمارت وغیره نه په راپریوتو یاپه کوهی کښې دپریوتوله کبله مړ شی، هغه هم حرام دې، په دې وجه [دحضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دي هغوئ رضي الله عنه فرمائیلی دی چه پورته په غر کښې یوښکار باندې چه غشي ورااوویشتې شی بسم الله پرِ دویشتوپه وخت اوونیلې شی، دغشی نه بچ شی اوبیاهم دهغه ځائ نه په پریوتو مړشی نوهغه مه خورئ، ځکه چه داهم کیدې شی چه دغشی په لګیدو، نه، بلکه دپورته نه دراپریوتوپه وجه دویرې نه مړشوې وی نوداپه متردیة کښې داخل شو، داشان په څه مارغه چه غشي ورااوویشتې شی، هغه په اوبو کښې پریوځی نود هغې خوراک ئې هم په دې وجه منع کړیدې چه کیدې شي دډوبیدوله کبله هغه مړشوې وی [جصاص](۲).

اتم ﴿وَالنَّطِيحَةُ﴾ ښکاروې دې چه دڅه ډغرې یادڅه ځیزسره دجنګیدوپه وجه مړشوې وی، لکه ریل، موټرپه دپه وهلې وی دهغې نه مړشی یادبل یوښکاروی دډغرې وهلوپه وجه مړشوې وی، نهم هغه ښکاروې دې چه دیوبل ځناورپه ځیری کولوسره مړشوې وی.

ددې نهوقسمونودحراموالی بیانولونه پس ئې یوه استثناءداسې ذکرکړه [اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ] مطلب ئې دادې چه که ددغه ذکرشوؤښکارؤوځخه څه ښکاروې ژوندې پیدا کړو او ذبح مو کړو نوهغه حلال شو خوراک ئې روادي.

دااستثناءدشروع څلوروقسمونوسره تړون نه لری، ولې چه په میته اودم کښې خودا امکان دسره کیدې نشی، اوخنزیراو[مَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللهِ] دذات په لحاظ سره حرام دی، ددې ذبح کولواونه ذبح کولوسره هیڅ فرق نه پریوځی، چنانچه دحضرت علی رضي الله عنه ابن عباس رضي الله عنه، حسن بصری رضي الله عنه قتاده رحمه الله وغیره پخوانی بزرګان په دې اتفاق لری چه دااستثناءدرومبوڅلورونه پس منخنقه پسې ذکرشوؤ ښکارؤو سره تعلق لری، مطلب ئې داشوچه په دې ټولوصورتونو کښې که ځناورژوندې پیدا شو، یاد ژوند نخښې پکښې محسوسې کړې شوې اوپه دغه حالت کښې دالله تعالی په نوم سره ذبح کړې شو نو هغه به حلال وی، خواه هغه منخنقه وی، یا موقوذه، متردیة، نطیحه وی یاهغه وی چه درنده ځیری کړې وی په دې کښې هریوچه دژوندد نخښو نښانو محسوس کولوپه وخت ذبح کړې شونوهغه حلال شو.

لسم ښکاروې هغه حرام دې چه په نصب ذبح کړې شوې وی، نُصب هغه کاڼې ووچه دخانه کعبې نه ګیرچاپیره اودرولې شوی وو اودجاهلیت دزمانې خلقوبه دهغې عبادت په دې شان هم کولو چه ښکاروی به ئې هم ددې په خاطرذبح کول، دجاهلیت دزمانې دخلقوبه داعادت ووچه دغه قسم ښکاروی به ئې خوړل چه په [خبائثو] کښې داخل دی، قرآن کریم دې ټولوله حرام اوګرځول.

یولسم حرام ځیزدآیت له مخې [استقسام بالازلام] دې، ازلام دزلم جمع ده داهغه غشې دې چه دعربو دجاهلیت په زمانه کښې به دقسمت معلومولو دپاره استعمالولې شو، دابه اوه

۱) أحكام القرآن للجصاص، سورة المائدة: ج ۵، ص ۲۱۴

۲) أحكام القرآن للجصاص، سورة المائدة: ج ۵، ص ۲۱۶

Scanned with Ca

غشي وو، په يو به [لا] په بل به [نعم] او په نوروبه داسې قسم نور الفاظ ليكلي شوي وو، دا غشي به دبيت الله شريف خادم سره پراته ؤو، چا به چه خپل قسمت معلوم ول غوښتل يا به ئې دا غوښتل چه آئنده كښې ديو كار مفيد يا مضر كيدل معلوم كړي، نود كعبې شريفې خادم ته به ئې سل روپۍ په نذرانه كښې وركړې، هغه به د شخلی نه دغه يو يو غشي راويستو كه د [نعم] والا غشي به را اووتو نو دا به ئې گڼړل چه دغه كار به ورد پاره مفيد وى او كه [لا] به را اوختو نو دا به ئې گڼړل چه دغه كار كول نه دى پكار، دحرامو ځاروپه لړ كښې ددې دذكر كولو وجه داده چه د عربو يو عادت داهم ووچه څو كسانو به په شريكه يو اوښ ذبح كړو او دهغې غوښه به ئې په دې دول خپل مينځ كښې بيا ويشله چه د جوارئ [خمار] دغه غشو كښې به دچا په برخه كوم غشي راووتو د هغې په جوړبه دغه غوښه ويشلې شوه، چا ته به لړه، چا ته ډيره، او چا ته به بيخي نشوه وركولې يعنى دا صلى حصې او برخې په جوړبه نشوه ويشلې په دې وجه د ځاروؤ د حراموالي په لړ كښې ددې طريقې حراموالي هم بيان كړې شو،

علماؤ ﷭ فرمائيلى دى چه دراتلونكو حالاتو او دغيب دڅيزونو معلومولو چه څومره رواجي طريقې دى هغه ټولې په [استسقام بالازلام] كښې راځى چه حرام دى، كه دا دعلم جفريه په ذريعه وى، يا دلاس دكرښو په كتو سره وى يا دفال راؤښكلو په ذريعه وى،

[استقسام بالازلام] كه دجوارئ دپاره هم استعمالولې شي په كومه كښې چه دلاټرئ، خسړې راؤښكلو په ذريعه حقوق ويشلې او ټاكلې شى، دا هم دقرآن كريم په نص سره حرام دى، چه قرآن كريم د [ميسر] په نوم سره منع گرځولى دى، په دې وجه حضرت سعيدبن جبير ؓ مجاهد ؓ او شعبى ﷫ فرمائيلى دى چه څنگه به عربو د [ازلام] په ذريعه برخې ټاكلې، دغه شان په فارس او روم كښې دشطرنج او چوسره ددانو [گيټو] نه دا كار اغستې شى، څكه داد [ازلام] په حكم كښې دى [مظهرى] (١)

د [استقسام بالازلام] حراموالى سره ئې دا اوفرمائيل: [ذٰلِكُمْ فِسْقٌ] [دقسمت معلومولو يا دبرخو ټاكلو دا طريقه فسق او گمراهى ده] ددې څخه روستو يې دا ارشاد اوفرمائيلو چې:

[اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ] [نن ورځ كفار ستاسو په دين باندې دغالب راتلونه نا اميده شويدى] په دې وجه تاسو دهغوئ نه څه ويره مه كوئ، البته دالله تعالى نه په مخه ويريږئ] دا آيت دهجرت په لسم كال دحجة الوداع په موقعه دعرفې په ورځ نازل شو، كله چه مكه مكرمه او تقريباً ټول عرب فتح شوي وو، په پوره جزيرة العرب باندې اسلامى قانون جارى وو، په دې بنائې اوفرمائيل چه د نن نه وړاندې به كفارو د مسلمانانو دختمولو منصوبې جوړولې او وئيل به ئې چه مسلمانان زمونږ په مقابله كښې كم هم دى او كمزورى هم دى خواوس ددوئ دغه همت او حوصله پاتې نشوه، نه ئې هغه طاقت پاتې شو، څكه د مسلمانان ددغه اړخه تسلي لرى او دخپل رب په فرمانبردارئ او په عبادت كښې دمشغول پاتې گيږى،

[اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا] ددې آيت نازليدل يو خاص شان لرى، ددې دنازليدو ورځ عرفه ده، چه په ټولو ورځو كښې سرداره ده او دغه دجمعې ورځ هم وه چه فضيلتونه ئې ښه معلوم دى دنازليدو ځائ ئې دعرفات دميدان جبل رحمت سره نزدې دې

(١) التفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ٣، ص ٢٣

Scanned with Ca

چه دعرفې په ورځ دالله تعالى دا رخه درحمت دنازليدويو خاص مقام دې، وخت ئې دمازيگر د مانځه نه پس دې چه په عامو ورځو کښې هم مبارک وخت دې، خصوصاً د جمعې په ورځ خو دا داسې يو وخت دې چه دګنړو روايتونو په جوړپه دې کښې ددعا دقبليدو يو ګړئ راځي، او د عرفې په ورځ په زيات خصوصيت سره ددعاګانو دقبليدو يو خاص وخت دې،

حج دپاره دمسلمانانو دټولو نه لويه اجماع [ټولنه] وه چه په کښې تقريباً يو نيم لک صحابه کرام شريک وو، رحمة للعلمين ﷺ صحابه کرام ﷺ سره دجبل رحمت لاندې په خپلې اوښې عضباء سوررووا ودحج په يولوئ رکن [وقوف دعرفات] کښې مشغول وو،

دداسې فضيلتونو، برکتونو او رحمتونو په سورې کښې دا آيت کريمه په رسول الله ﷺ باندې نازل شوې وو، دصحابه کرامو ﷺ دبيان مطابق چه کله دا آيت دوحې په ذريعه نازليدو، نو دوراندې پشان دوحې دومره زيات دروندوالې محسوس شو چه په اوښه باندې ددې دومره زوروو چه په کښيناستو مجبوره شوه،

حضرت عبدالله بن عباس ﷺ فرمائيلې دې چه دا آيت تقريباً دقرآن کريم آخرى آيت دې، دې نه پس داحکامو په باره کښې بل آيت نه دې نازل شوې، صرف دمينه پيدا کولو يا ويرولو پاره ديو څو آيتونو نازليدل ددې نه پس ښودلې شويدې، ددې آيت دنازليدونه پس رسول الله ﷺ په دې دنيا کښې صرف يواتيا ورځې حيات وو، ځکه چه دا آيت دلسم کال دهجرت دذى الحجې د مياشتې په نهمه نيټه نازل شو او ديو ولسم کال دهجرت، دربيع الاول دمياشتې په دولسمه[1] نيټه درسول الله ﷺ وصال اوشو.

په يو خاص شان او اهتمام سره چه دا آيت نازل شو، ددې مفهوم او مطلب هم اسلامى ملت او مسلمانانو دپاره يو ډيرلوئې زيرې، لوئ انعام او د اسلام يوه ځانګړې خاص نشانى ده، خلاصه ئې داده چه کوم حق دين او دالله تعالى نعمت په لويه پيمانه په دې دنيا کښې انسان ته ورکيدونکې وو، نن هغه مکمل شو اګرچه دادين حق او نعمت الهى دحضرت آدم ﷺ دزمانې نه نازليدل او جارى کيدل شروع شوى وو، په هره زمانه کښې دهرې علاقې خلقوته ددې نعمت نه مناسب برخه ورکيدل جارى وو، خو نن هغه دين او نعمت په مکمل صورت کښې خاتم الانبياء ﷺ او دهغوئ ﷺ امت ته ورکړې شو،

ځکه چه په دې سره دسيد الانبياء ﷺ خوش قسمتى او ځانګړې خصوصى شان ښکاره کول دى دغه شان ددې امت مرحومه يو خاص ځانګړې شان ښکاره کول هم دى،

هم دا وجه وه چه يو ځل ديهودو علماء دحضرت عمر فاروق ﷺ په خدمت کښې حاضر شو او عرض ئې او کړو چه ستاسو په قرآن کښې ديو نازل شوى آيت پشان که يو آيت په يهودو نازل شوې وې نو هغوئ به ددې دنازليدو په خوشحالئ کښې لکه داختر پشان جشن او ميله جوړه کړې وه دفاروق اعظم ﷺ په تپوس کولو هغوئ ورته دا آيت [اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ] په ګوته کړو.

---

[1]) دا د مشهور قول په وجه ليکلې شوى دى ګنې حضرت مؤلف سره پخپله رساله سيرت خاتم الانبياء ص:۱۴۴ باندې د حافظ ابن حجر عسقلانى ﷫ او حافظ مغلطائى ﷫ حوالې سره د نبى کريم د پيدائش تاريخ دويم ربيع الاول صحيح ګرځولې دې او يو اتيا ورځې هم دې حساب سره جوړيږى ، محمد تقى عثمانى.

حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ورته په جواب کښې اوفرمائيل چه ددې آيت دنازليدو مقام او ورځ مونږښه پيژنو[۱]، اشاره ئې دې خبرې ته وه چه په دغه ورځ زمونږ غبرګ اخترو، چې يو دعرفې اوبل د جمعې اخترو،

داخترونو او دښوپوورځو تيرولو اسلامي اصول: دفاروق اعظم رضي الله عنه په دې جواب کښې يو اسلامي اصول ته هم اشاره ده چه دټولې دنياپه قومونو او مذهبونو کښې صرف د اسلام يو ځانګړې خاص شان داسې ښکاره کوی چه په دنيا کښې دهرقوم او ملت خلق دخپلو خپلو حالاتو او خصوصياتو دلاندې دخپلو خاص تاريخي واقعاتو په ورځو کښې ديادګيرنې ميلې او جشنونه جوړوی ګويا چې هغوئ ته داداختريا بله بزرګه ورځ ښکاری.

چرته دخپل يولوئ بنده دپيدا کيدو، مړکيدو يادهغه، په تخت دکښيناستو وغيره ورځ نمانځې چرته ديو خاص ملک يا ښار دفتح، يادبلې يو تاريخي واقعې ورځ نمانځې چه مطلب ئې دخاص خاص انسانانو دعزت زياتولو نه سوا بل هيڅ نه وی، اسلام داشخاص پرستئ قائل نه دې ځکه ئې دجاهليت اوشخصي يادګارونه پرېښول او داصولو او مقصدونو د يادګارونو قائمولو اصول ئې جوړکړل،

چنانچه حضرت ابراهيم عليه السلام ته د [خليل الله] دخطاب ورکولو او قرآن کريم کښې ددوئ عليه السلام دامتحانونو او په دغې ټولو کښې ددوئ عليه السلام دستائنې مطلب هم دادې ځنګه چه قرآن کريم فرمائي ﴿وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ﴾ ليکن نه خوددوئ عليه السلام داپيدائش يا د مرګ ورځ ونمانځل شوه او نه د هغوئ دځوئ حضرت اسماعيل عليه السلام اونه ئې دمور بی بی حضرت هاجرې عليها السلام دپيداکيدو او دوفات کيدو يادنورو حالاتو څه يادګار قائم کړو.

البته ددوئ [ټولو] په عملونو کښې دکوموشيزونو تړون چه ددين مقصدونو سره ؤ ودهغې يادګارونه يواځې محفوظ نه، بلکه دراتلونکو نسلونو ددين او مذهب برخه، اوفرض واجب اوګرځولې شو، قرباني، هلکان سنتول، دصفا اومروه ترمنځه زغد کول يعنی منډه وهل، د منی په دريو سلوباندې دکاڼو ګيټکئ [اشګې] وروېشتل [تول] هم ددې بزرګانو دداسې کارونو يادګارونه دی چه هغوئ خپل نفساني جذبات او دانساني طبيعت غوښتنې ئې دالله تعالی درضاپه مقابله کښې شاته اوغورځول بلکه دپښولاندې ئې راوستل اودغه کارونه ئې ترسره کړل، اودې نه دهرې صدئ او هرې زمانې خلقوته داسبق حاصليږی چه انسان لره دالله تعالی درضالټولو په غرض خپل طبيعت ته ډيرنژدې اوزيات خواره شيزونه قربانول پکاردی،

دغه شان په اسلام کښې ديولوئ نه لوئ کس دمرګ، ژوند يادشخصئ [ذاتی] حالاتو دڅه ورځو نمانځلو په ځائ دهغوئ دداسې بهترينو عملونو ورځې نمانځلې شی چه خاص خاص عبادتونو سره تړون لری، لکه شب براءت، [دشبقدر شپه]، رمضان المبارک، [دمعراج شپه]، دعرفې اوعاشورې ورځ وغيره، په کال کښې دوه اخترونه هم خالص په ديني لحاظ سره مقرر کړې شوړومبې [وړوکې] اختر درمضان المبارک دمياشتې په ختميدو اودحج دمياشتو په شروع کيدو باندې مقرر کړې شو او بل [لوئ] اختردحج دعبادت په ختميدو باندې مقرر کړې شو،

---

[۱]) صحيح البخاري، كتاب الإيمان، باب زيادة الإيمان: ج۱، ص۱۱

Scanned with Ca

خلاصه دا چي دحضرت فاروقِ اعظم ﷛ ددي جواب مطلب دا شو دل وو چه ديهودو او نصاراؤ پشان زمونږ اخترونه په تاريخي واقعاتو باندي اډانړه نه دي ځنګه چه دجاهليت اولي رسم وو او اوسني نوي جاهليت خو دا رسم ډيرزيات خورپه دي شان کړو چه مسلمانان دنوروا[غير مسلم] قومونو په پل روان شو،

هرکله چه عيسايانو دحضرت عيسى ﷺ دپيدائيش ورځ، داختر ورځ جوړه کړه نو ددوئ په پل باندي مسلمانان هم داسي روان شو چه درسول الله ﷺ دپيدائيش ورځ ئي د [عيد ميلاد النبى ﷺ] په نوم د اخترپه ډول اونمانځله، په دغه ورځ په بازارونو کښي جلوسونه اوښکل، نورګډوډ کارونه کول او په دغه شپه چراغان اورڼاګاني کول ئي دعبادت په نيت سره شروع کړل، چه هيڅ بنيادئي دصحابه کرامو ﷡ تابعينو ﷭ اودامت دنوروبزرګانو په عمل کښي ثبوت نه لري.

اوحقيقت دادي چه دداسي ورځونمانځل په هغه قومونو کښي خو رواج جوړشويدي چه د باکماله خلقو اودهغوئ دحيرانونکو کارنامو په لحاظ سره خواروى، صرف دوه ځلور کسان په ټول قوم کښي دغه قسم موندي شي چه څه مخصوص يو کاردوه ئي کړي وى اودهغي يادګار نمانځل قومي فخرګڼړي،

په اسلام کښي که دغسي رواجونه چليدي نويولاک ځليريشت زره پيغمبرانو ﷺ نه خوزيات پيغمبران ﷺ دي، چه يوائي دپيدائيش ورځ ئي نه بلکه دهغوئ ﷺ د بيمشيره، حيرانونکو کارنامو ورځي نمانځل به راځي، بياخودټولونه زياتي دنمانځلوورځي دخاتم الانبياء ﷺ کيدي شي چه دشميرنه ځکه بهردي چه دهغوئ ﷺ دژوند مبارک يو ورځ څه چه يوساعت يوګړئ هم دلوړي پيماني يادګاري کارنامو ترسره کولونه خالي نه ده، د وړوکتوب نه ترځوانئ پوري ئي داسي کمالات څه پټه خبره نه ده د کوموپه وجه چه په عربو کښي ورته د[امين] لقب ورکړي شو، آيادادي جوګه نه دي چه ديادګارونوپه ډول اونمانځلي شي، بيا دقرآن کريم نازليدل، هجرت، دبدرغزا، داحد، خندق غزاګاني، دمکي مکرمي فتح، حنين تبوک اونوري غزاګاني درسول الله ﷺ هريوداشان لري چه دهغي يادګار اونمانځلي شي، دغه شان په زرګونومعجزات دهغوئ ﷺ ديادګارونونمانځلوهم جوګه دي، دهغوئ ﷺ نه پس تقريبايونيم لاک صحابه کرام ﷡ هغه دي چه هريودهغوئ ﷡ ځني په حقيقت کښي درسول الله ﷺ دژوندئ معجزي شان لري، آيادابه بي انصافي نه وى چه دهغوئ ﷡ يادګارونه اونه نمانځلي شي، که دارسم روان شي اودصحابه کرامو ﷡ د کروړونوپه شمير کښي داولياء الله [علماؤ ﷭ مشائخو ﷭ يادګاري ورځي اونه نمانځلي شي نودوئ سره به بي انصافي کول نه وى؟ اوکه بيادټولويادګاري ورځونمانځل راشي نوپه کال کښي به يوه ورځ هم ديادګار نمانځلو نه خالي نه وى، بلکه هرورځ څه چه هره ګينټه اوهرساعت اوګړئ به خوځواخترونه نمانځل راځي.

هم دغه وجه ده چه رسول الله ﷺ اوصحابه کرامو ﷡ دي رسم لره دجاهليت رسم اوګرځولو او شاته ئي اوغورځولو اودحضرت عمرفاروق ﷛ په دغه فرمان کښي هم دي خبري ته اشاره ده.

اوس ددي آيت دمعني اومطلبونو تفصيل اوګورئ، په دي کښي الله تعالى رسول الله ﷺ او ددوئ ﷺ امتِ مرحومه ته د دريوخصوصي انعاماتوورکولوزيري ورکړيدي،

Scanned with Ca

① یو ددین دکاملولو ② دویم دنعمت دپوره کولو، ③ دریم د اسلامي شریعت دانتخاب کولو د دې امت دپاره.

ترجمان القرآن حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه وغیره ددین دکاملولو معنی داسې بیان کړیده، چه نن دحق دین، ټول حدود، فرائض، احکام او آداب مکمل کړې شوه، اوپه دې کښې د څه اضافي کولو او زیاتی راوستو ضرورت پاتې نشو او نه پکښې دکمئ څه احتمال شته. [روح][1] همدغه وجه ده چه دې نه پس په اسلام کښې څه بل نوې حکم نازل نه شو، څه قدرې آیتونه چه ددې نه پس نازل شویدی په هغې کښې یاخو دشوق پیدا کولو او ویرولو مضامین دی یادهغې احکامو تاکیددې چه بیان ئې وړاندې شوې وو.

داخبره دې سره بې ربطه نه ده چه داصولو داجتهادلاندې مجتهدین امامان، دنوؤ نوؤ راپیښیدونکو واقعاتو او حالاتو په باره کښې دخپل اجتهاد په بنا شرعی حکمونه بیان کړی ولې چه څنګه قرآن کریم دشرعی احکامو حدودو او فرائض وغیره بیان کړی دی، دغه شان داجتهاد اصول ئې هم ټاکلي دی، دهغې په ذریعه کوم احکام چه ترقیامته پورې راؤښکلي شی هغه په یو حیثیت سره دقرآن کریم دبیان کړې شوؤ احکامو شان لری ځکه چه دقرآن کریم دبیان کړی شوؤ اصولو لاندې راځی.

خلاصه داشوه چه دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه د تفسیر مطابق ددین دکاملولو مطلب دادې چه ددین ټول احکام مکمل کړې شو، اوس په دې کښې دڅه زیاتی راوستو ضرورت نشته او نه په څه منسوخ کیدو سره پکښې دکمئ احتمال پاتې شو، ولې چه دې پسې سمدستی دوحی سلسله، درسول الله صلی الله علیه وسلم په وفات سره ختمیدونکې وه، اودوحی الهی نه بغیر دقرآن کریم هیڅ یوحکم منسوخ کیدې نشی او دفقهاؤ او دمجتهدینو دا رخه، داصولی اجتهاد لاندې په احکامو کښې زیاتوالې ښکاریدل په حقیقت کښې زیاتوالې نه ده بلکه دقرآنی احکامو وضاحت او بیان کول دی.

او د [اتمام نعمت] نه مراد دمسلمانانو غلبه او ترقی کول او ددښمنانو او مخالفینوئې مغلوب کیدل او ماتې خوړل دی چه دمکې مکرمې دفتح کیدو په صورت کښې ښکاره شوا و دغه شان دجاهلیت درسمونو په ختمیدلو او ددغه کال په حج کښې دچا مشرک دنه شریکیدو په ذریعه سره هم ښکاره شو.

دلنه دقرآن کریم په الفاظو باندې ژور نظر اچول پکار دی ولې چه دین سره اکمال او نعمت سره اتمام استعمال شو حالانکه دا دواړه لفظونه په ظاهره دیوې معنې یو شان الفاظ ګڼرلې شی، لیکن په حقیقت کښې ددواړو په مطلب کښې فرق شته چه امام راغب اصفهانی رحمه الله په [مفردات القرآن] کښې داشان بیان کړیدې چه دیوڅیز اکمال او تکمیل دې ته وائی چه ددغه غرض او مقصود پوره کړې شی[2] او اتمام دې ته وائی چه اوس دبل څیز څه ضرورت او حاجت پاتې نشو[3] نو داکمال دین حاصل داشو چه په دنیا کښې دقانون الهی او احکام دین لیږلو مقصد نن پوره کړې شو، او داتمام نعمت مطلب داشو چه اوس مسلمانان په دې کښې

---

[1]) روح المعانی تحت هٰذه الآية: ج ۶، ص ۲۴۸

[2]) مفردات القرآن للأصفهاني: ج ۱، ص ۴۲۱

[3]) مفردات القرآن للأصفهاني: ج ۱، ص ۷۵

Scanned with Ca

دهيځ ځا محتاج پاتې نشو، دوئ ته پخپله الله تعالى غلبه، قوت او اقتدار ورکړو چه دهغې په ذريعه دوئ د دې حق دين احکام جاري کولې شي،

دلته دې خبرې ته هم ژوره کتنه پکار ده چه د دين نسبت مسلمانانو ته او د نعمت نسبت الله تعالى ته کړې شويدې، وجه ئې داده چه د دين ښکاره کيدل د امت د خلقو د عملونو او کارونو په ذريعه کيږي او د نعمت کاملول، نيغ په نيغه د الله تعالى د اړخه دي، [ابن قيم تفسير القيم] [1]

د دې تقرير نه دا خبره هم په ډاګه شوه، چه [اَن د دين د کامليدو] مطلب دا نه دې چه د نورو پيغمبرانو ﷺ دينونه ناقص او نيمګړي وو بلکه په تفسير بحر محيط کښې د قفال مروزي رحمه الله د نقل شوي حوالې مطابق په هر پيغمبر د الله تعالى له اړخه نازل شوې شريعت او دين د هغه زمانې او قوم په لحاظ سره کامل او مکمل وو ليکن الله تعالى ته دوړاندې نه په تفصيل سره معلوم وو چه هغه مکمل شوې د ين به د آئنده زمانې د قومونو د پاره مکمل نه وی، بلکه دغه به منسوخ کولې شی او بل دين او شريعت به نافذ [جاري] کولې شي په خلاف د شريعت اسلامی نه چه د ټولو نه په آخر کښې نازل کړې شو او د هر اړخ او هر لحاظ نه کامل او مکمل دې، نه څه زمانې پورې خاص دې او نه يو قوم، ملک او علاقې پورې خاص دې بلکه تر قيامته پورې د هرې زمانې، هرې علاقې او هر قوم د پاره دا شريعت کامل او مکمل دې [2]،

په دې آيت کښې د دې امت مرحومه د پاره د ريم انعام دا بيان کړې شويدې چه دې د پاره الله تعالى د خپل تکويني او انتخاب په ذريعه د اسلام دين منتخب او غوره کړو چه په هر حيثيت سره کامل او مکمل دې نجات [خلاصي] خاص دې پورې اړه لري،

خلاصه د خبرې دا شوه چه دې آيت کښې دا او ښودلې شو چه امت مرحومه د پاره د اسلام دين د الله تعالى له اړخه وربخښلې يو لوئ نعمت دې، په هر حيثيت سره د هره اړخه کامل او مکمل دې، نه به دې نه پس نوې دين راځي او نه به په دې کښې څه کمې بيشي کيږي،

او هم دا وجه ده چې کله د آيت نازل شو نو د دې آيت شريف په نازليدو مسلمانان خوشحاله شوه او نيکى او حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ژړل، چه رسول الله ﷺ ترددې وجه اوپوښتله نو عرض ئې اوکړو چه دې نه ماته دا اشاره رامعلومه شوه چه ستاسو ﷺ ايساريدل په دې دنيا کښې اوس ډير کم پاتې شو، ولې چه د دين کامليدو سره اوس د رسول الله ﷺ په دې دنيا د پاتې کيدو ضرورت هم پاتې نشو، رسول الله ﷺ د دې تصديق اوکړو [تفسير ابن کثير و بحر محيط وغيره] [3] چنانچه راتلونکې وخت دا او ښودل چه د دې نه صرف يو اتيا ورځې پس رسول الله ﷺ د دې دنيا نه رخصت شو،

په آخر د آيت کښې د [فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ] تعلق هم هغه څاروو سره دې چه په شروع د آيت کښې د کومو حراموالې چه بيان شويدې، او س د دې جملې مطلب، يو خاص حالت د عامي قاعدې نه مستثنى کول دی هغه داسې چه که څوک د سختې لوږې له کبله بې تابه شی او د مرګ ويره ئې پيداشی که په داسې حالت کښې دغه حرام څاروونه څه قدرې او خوری نو څه ګناه پرې نشته،

---

[1]) تفسير القيم، تحت هٰذه الآية: ج ۱، ص ۲۲۲
[2]) تفسير البحر المحيط تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۲۵۷
[3]) تفسير البحر المحيط بحواله بالا۔

Scanned with Ca

خوشرط دادې چه خیته ډکول او مزې اغستل ئې مطلب او مقصود نه وی بلکه دومره قدرې اوخوری چه صرف ساه پکښې اوغریږي،

په آیت کښې د [غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ] هم دغه مطلب دې چه ددغه خوړلو نه ئې مطلب ګناه ارخ ته میلان کول نه وی بلکه صرف دغه بې وسئ باندې قابو مونډل وی،

په آخر کښې [فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ] نه دې طرفته اشاره کوی چه دغه حرام شوی څیزونه اوس هم، هغه شان حرام او ناروا دی، صرف ددغه قسم بنده دبې وسئ په وجه معاف کړې شویدی.

يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَآ اُحِلَّ لَهُمْ ط قُلْ

تپوس کوی خلق ستانه |چې کوم کوم څیز |حلال کړې شوې دې| دپاره دهغوئ | ورته اووایه

دوی ستانه تپوس کوی چې دوی دپاره کوم کوم څاروی حلال شوی دی|.................. ورته اووایه

اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ لا وَمَا عَلَّمْتُمْ

حلال کړې شوی دی| ستاسو دپاره |ټول پاك څیزونه | اوهغه | چې تاسو خودلې دی

ستاسو دپاره ټول پاکیزه څیزونه حلال دی || وکوم ښکاری ځناور چې تاسو عادت کړې وی

مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا

ښکاری ځناورو ته| ښکار باندې ورپرېښودو د پاره | چې تعلیم ورکوئ تاسو دوی ته | دهغه علم نه

اوبیا تاسوئې په ښکار پسې پرېږدئ | او د هغه تعلیم [د ښکار طریقه] مو ورته خودلې وی | کومه چه

عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ

چې ښودلې دې تاسو ته | الله | نو خورئ | دهغه ښکار نه|چې اونیسی هغوئ | دپاره ستاسو

الله ﷻ تاسو ته خودلې ده | نو کوم ښکار چې هغوئ ستاسو دپاره راونیسی هغه خوړئ شئ

وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ ص وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ

اویاد وئ تاسو| نوم د الله | په هغه باندې | اویره کوئ دالله نه | بیشکه الله | ازراخستونکې دې

[او د ورپرېښودلو په وخت] کښې پرې دالله ﷻ نوم اخلئ | او دالله ﷻ نه ویرېږئ | ......الله ﷻ

الْحِسَابِ ﴿٤﴾

دحساب

زرحساب اخستونکې دې

خلق تا نه تپوس کوي چه هغوی د پاره کوم څیزونه حلال دي؟ ته ووایه چه "تاسو د پاره پاك څیزونه حلال شوي دي او کوم ښکاری ځناورو لره چه تاسو دالله ښودلې شوي طریقې مطابق تعلیم ورکولو سره (د ښکار د پاره) بلد کړی وي، هغه چه کوم ځناور (د ښکار کولو نه وروستو) تاسو ته ایسار کړي، هغې نه تاسو خوړلې شئ او په هغې باندې دالله نوم اخلئ، اودالله نه ویرېږئ، الله زر حساب اخستونکې دي.

د آیتونو ترون: ړومبی آیت مبارك کښې د حلال او حرام ذکر وو. دې آیت مبارك کښې هم ددې معاملې متعلق د سوال جواب دې. څینې صحابه کرامو ﷺ رسول کریم ﷺ نه د ښکاری سپی او د باز د ښکار باره کښې تپوس کړې وو. دې آیت مبارك کښې ددې جواب ذکر دې.

Scanned with Ca

خلاصه تفسیر

﴿يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَاۤ اُحِلَّ لَهُمْ﴾ خلق تاسو نه تپوس کوی چه [دسپی اوباز دښکار کړو ځناورو په باره کښې] څه څه [ځناور] دوی لره حلال کړې شویدی [یعنی کوم ځناور چه په ذبح سره حلالیږی آیا دسپی اوباز په ښکار کولو سره هم دغه ټول حلال پاتې کیږی یا هغې نه بعضې څه خاص ځناور حلالیږی یا مطلقًا یوهم نه حلالیږی اوچه کوم حلالیږی نوآیا دهغې دپاره څه شرط هم شته] تاسو [جواب کښې] ﴿قُلْ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ﴾ اوفرمائی چه تاسو لره ټول حلال ځناور [دښکار نه چه ړومبی حلال دی هغه ټول دسپی اوباز په ذریعه په ښکار کولو سره هم] حلال کړې شویدی [دادسوال د ړومبی جز جواب دے وریسے د دویم جز جواب دادې چه ﴿وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ﴾ دسپی اوباز د ښکار حلالیدو دپاره څه شرطونه دی هغه داچه] کومو ښکاری ځناورو [لکه سپے باز وغیره] ته چه تاسو [په خاص ډول چه بیان ئے راروان دے] تعلیم ورکړئی [دا یوشرط دې] اوتاسو هغه [په ښکار] ورخوشی هم کړئی [دا دویم شرط دې] اوهغې ته [چه کوم تعلیم ورکول اوس بیان شو] داسې طریقه تعلیم ورکړئی چه ځنگه تاسو ته الله ﷻ [په شریعت کښې] تعلیم درکړې دې [هغه طریقه داده چه سپی ته دے زده کړه ورکړې شی چه ښکار راونیسی نوخوری ئے نه اوباز ته دے زدکړه ورکړې شی چه څه وخت ئے راوبلې نو سمدستی واپس په هغه وخت کښې هم تاسو له راځی چه ښکار پسے روان وی داد اول شرط بیان دې] ﴿فَكُلُوْا مِمَّاۤ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ﴾ نوداسې ښکاری ځناور کوم ښکار چه ستاسو دپاره راونیسی هغه خورئ [دا دریم شرط دې چه نخښه ئے د ازدکړې په طریقه کښې بیان شوې ده نوکه سپے دغه ښکار خوړل شروع کړی یاباز په رابللو واپس رانشی نو دا به گڼړلے شی چه هرکله دغه ځناور دده په حکم نه چلیږی نوښکار یئ هم ده دپاره نه بلکه دځپل ځان دپاره یئ نیولے دے] او [کله چه په ښکار باندې دغه ښکاری ځناور ورخوشے کړئ نو] په دغه [ځناور دهغه د ورخوشی کولو په وخت] دالله ﷻ نوم هم اخلئ [یعنی بسم الله پرې وائې او ورخوشی کوئے یئ: دا څلورم شرط دې] او [په ټولو خبرو کښې] ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ دالله ﷻ نه په مخه ویریږئی [لکه په ښکار کښې داسې وریوختیږئی مه چه مونځ وغیره ته موخیال نه وی یا دومره لالچ مه کوئی چه دحلالوالی دشرطونو نه بغیر هم دغه ځناور تاسو اوخورئ] ﴿اِنَّ اللّٰهَ سَرِيْعُ الْحِسَابِ﴾ بیشکه الله ﷻ زر حساب اخستونکې دې.

معارف اومسائل

داول سرپه ذکرشوی سوال اوجواب کښې، دښکاری سپی اوبازوغیره په ذریعه دښکار حلالیدو دپاره، څلورشرطونه ذکرکړې شویدی.

اول داچه سپې یابازدِ داسې وی چه ازدکړه اوآموخت هپ داسې شان ورکړې شوې وی چه هرکله سپې ښکار اونیسی نوتاسوله راوړی اوپخپله ئې خوړل نه کوی اوهرکله چه باز راوبلئ نو سمدستی تاسولره راځی، اگرچه هغه ښکارپسې روان وی، هرکله چه ښکاری ځناور ته دا آموخت ورکړې شی نوثابته به شی چه هغه ستاسو دپاره ښکارکوی ځان دپاره ئې نه کوی، په دې حالت کښې به ددغه ښکاری ځناوروښکار، هم ستاسوښکارگڼړلې شی اوکه څه وخت هغه

Scanned with Ca

ستاسو دازدكړې وركولو په خلاف څه حركت اوكړي، مثلاً سپې، خپل كړې ښكار پخپله خوړل شروع كړي، ياباز ستاسو په رابللو، تاسو ته رانشي، نو دغه ښكار ستاسو نشو څكه ئې خوړل نارو ادي.

دويم شرط دادې چه تاسو سمدستي په خپلې ارادې سره سپې، ياباز، ښكار پسې خوشې كړئ داسې نه وي چه هغه په خپله خوښه ښكار پسې ورمنډه كړي اوهغه ښكار كړي، په تيرآيت كښې ددې شرط بيان په لفظ د [مُكَلِّبِيْنَ] سره كړې شويدې، ددې مصدر [تكليب] دې چه اصلي معنى ئې سپى ته ازدكړه وركول دي، بياعامو ځناورو ته، دازدكړې وركولو په معنى كښې هم استعماليږي چه ښكار پسې ورخوشې كړي، صاحب د [جلالين] دلته د [مُكَلِّبِيْنَ] معنى مرسلين [اليږونكي] كړيده، چه معنې ئې ښكار باندې ورخوشې كول دي([1])، په تفسير قرطبي رحمه الله كښې دغه ټول نقل كړې شويدې([2])،

دريم شرط دادې چه ښكاري ځناور پخپله، دخپل ښكار خوړل شروع نكړي بلكه تاسو له ئې راوړي، داشرط په [مِمَّآ اَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ] سره بيان شويدې،

څلورم شرط دادې چه دښكاري ځناور په ښكار باندې دورخوشې كولو په وخت بسم الله وائي، چه داڅلورواړه شرطونه پوره شي نوكه دغه ځناور ستاسو ورسيدو نه وړاندې مړ شي نو بيا هم حلال دې، دهغې دذبح كولو ضرورت نشته، ورنه بې دذبح كولو نه به تاسو دپاره حلال نه وي،

دامام اعظم ابى حنيفه رحمه الله په نزد پنځم شرط داهم دې چه دغه ښكاري ځناور ښكار له زخمي هم كړي([3])، دې شرط ته په [جَوَارِحِ] كښې اشاره موجوده ده،

مسئله: داحكم، دهغه وحشي ځناوردې چه دچاپه قبضه كښې نه وي، اوكه وحشي ځناور په خپل قابو كښې راوستې شوې وي، نوهغه به دباقاعده ذبح كولو نه بغير نه حلاليږي،

په آخر دآيت كښې داهدايت هم كړې شويدې چه ديو ځناور په ذريعه كړې شوې ښكار، خو، الله تعالى حلال كړې دې، خوپه دې شان ښكار كښې بوښتيدل چه دمونځ اودشريعت د ضروري احكامو پرواه نه لري، داسې كول نارو ادي.

وَطَعَامُ	الطَّيِّبٰتُ ط	لَكُمُ	اُحِلَّ	اَلْيَوْمَ
اوخوراك	ټول پاك څيزونه	دپاره ستاسو	حلال كړې شوې دي	نن ورځ
نن ورځ تاسو دپاره ټول پاكيزه څيزونه حلال كړې شوا ......او د				
وَطَعَامُكُمْ	لَّكُمْ ص	حِلٌّ	اُوْتُوا الْكِتٰبَ	الَّذِيْنَ
اوخوراك ستاسو	ستاسو دپاره	حلال دې	چې وركړې شوې دې كتاب	دهغه كسانو
اهل كتابو خوراك ستاسو دپاره حلال دې اوستاسو خوراك د هغوئ دپاره جائز دې				

[1]) تفسير الجلالين تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ١٨٢

[2]) تفسير القرطبي تحت هٰذه الآية: ج ٦، ص ٦٦

[3]) الشامية، كتاب الصيد: ج ٦، ص ٣٤٣

حِلٌّ لَّهُمْ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ

حلال دي|دپاره دهغوئ| او پاکدامني ښځې | د مومنانو نه | او پاکدامني ښځې

اوپاكدامني مسلماناني ښځې ستاسو دپاره حلالې دی | ....او پاكدامني ښځې د

مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ

دهغه کسانونه |چې ورکړې شوې دې ورته کتاب | مخکښې ستاسو نه| هرکله چې

هغه کسانو نه چې ستاسو نه وړاندې ورته کتاب ورکړې شوې دې | هله

اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ

ورکړئ تاسو هغوئ ته | مهرونه دهغوئ | چې نکاح کونکی یئ

چې تاسو ورته مهرونه ورکړئ |اودنكاح په بند کښې ئې راګیرې کړئ |ستاسو دپاره په نکاح کولو سره حلالې دی|

غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ؕ وَمَنْ يَّكْفُرْ

نهٔ چې شهوت پوره کونکی یئ په زنانه سره |اونهٔ نیونکی یئ دپټې یاراني | اوچا چې انکار اوکړو

دانه چې ښکاره زنا ورسره کوئ | یا ورسره پټې پټې یاراني ساتئ | ....اوچا چې د

بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ

د ایمان| نو ضائع شو | عمل د هغه |او هغه به | په آخرت کښې وی

ایمان راوړلو نه پس کفر اوکړو| نو یقینا دهغه عملونه ضائع شو| اوهغه به په آخرت کښې

مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۟ؒ

د تاوانیانو نه|

د تاوانیانو نه وی |

آسان ترجمه قرآن: نن تاسو ته پاك څيزونه حلال شوي دي او كومو خلقوته چه (ستاسو نه مخكښې) كتاب وركړې شوې دې، دهغوی خوراك هم تاسو دپاره حلال دې او ستاسو خوراك هغوی دپاره حلال دې دا رنګ د مؤمنانو نه پاك لمنه ښځې هم او د هغه خلقو نه هم پاك لمنې ښځې تاسو دپاره حلالې دي چه هغوی ته ستاسو نه مخكښې كتاب وركړې شوې دې چه تاسو هغوی لره په نكاح كښې راوستو نه وروستو مهر وركړې وي، نه خو (بې د نكاح نه) صرف خواهش پوره كول مقصود وي، او نه پټه آشنائي پيدا كول، او څوك چه د ايمان نه انكار كوي دهغه ټول عمل به تباه شي، او په آخرت كښې به هغه د تاوانيانو نه وي،

خلاصه تفسير

﴿ اَلْيَوْمَ اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ؕ ﴾ نن [په تاسو څنګه چه دینی انعام هیشمه دپاره داسې اوشو چه ددین په کاملولو سره تاسو مشرف کړې شوئ دغه شان یولوئې دنیوی نعمت دهمیشه دپاره په تاسو هم اوشو چه] تاسو دپاره حلال څیزونه [چه ددې نه مخکښې حلال کړې شوي وو همیشه دپاره] حلال اولرلے شو [چه چرې منسوخ کیږی به نه] ﴿ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ۪ ﴾ او کوم خلق چه [تاسو نه مخکښې] ورته [آسمانی کتاب ورکړې شویدے [یعنی یهود او

Scanned with Ca

نصرانیان] دهغوی ذبیحه [هم] تاسو لره حلاله ده او [ددې حلالیدل هم په دغه شان یقیني دی څنګه چه] ﴿ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۖ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ ﴾ ستاسو ذبیحه هغوی ته حلاله ده اوپرهیزګارے ښځې هم چه مسلمانانے وی [تاسو لره حلالے دی] ﴿وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ﴾ او [څنګه چه دمسلمانانو ښځو حلالیدل یقیني دی دغه شان] پرهیزګارے ښځې دهغې خلقو نه چه تاسو نه مخکښې ورته [آسماني] کتاب ورکړې شوې دے [تاسولره حلالے دی] ﴿ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِي أَخْدَانٍ ﴾ کله چه تاسو هغوی ته دهغوی معاوضه ورکړئي [یعنی مهر ورکول اګر چه شرط نه دی مګر واجب دی اوذکر شوې ښځې چه حلالے کړې شوې دی نو] په داسې شان چه تاسو [هغوی لره] بیبیانې جوړے کړئ [یعنی نکاح ورسره اوکړئي چه شرطونه یې په شریعت کښې معلوم دی] مه خوپه سرګنده بدکاری کوی او مه خوپه پټه آشنائی کوئی [داټول شرعي حکمونه دی چه ایمان راوړل پرې فرض دی] ﴿ وَمَن يَكْفُرْ بِالْإِيمَانِ ﴾ اوڅوك چه [د] ایمان [د راوړلوڅیزونو] سره کفر کوی [لکه دبیخی حلالوڅیزونو د حلالوالی اود بیخی حرامو څیزونو حراموالی نه انکار کوی] ﴿ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهُ ﴾ نو ددغه کس [هرنیك] عمل به لوټ[او برباد] لاړشی ﴿وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾او دغه کس به آخرت کښې بیخی خساره کښې به وی [بس حلال لره حلال او حرام لره حرام اوګڼړئ].

معارف اومسائل

دسورت مائده په رومبی آیت کښې د[بهیمة الانعام] [دکورنو ساتلو څاروؤ] غوا، میښې، ګډې[میږې]، چیلئ[بزې] وغیره دحلالوالی بیان شویدې اوپه دریم آیت کښې دنهو قسمو حرامو څاروؤ تفصیل راغلې دې، مګرددغې تفصیل نه ددې په ابتدائی جمله کښې ددې پوره باب خلاصه ئې داشان بیان کړې ده چه پکښې دخناورودحلالوالی اوحراموالی خاصیت هم معلومه شوه اوددې یوه پیمانه اواصول هم،

ارشاد دې ﴿الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ﴾ [نن تاسودپاره حلال شو ټول صفاستهراڅیزونه] دنن نه مراد هغه ورځ ده چه پکښې داآیت اودې نه وړاندې آیتونه نازل شویدی، یعنی دحجة الوداع [۱۰هـ] دعرفې ورځ، مطلب دادې چه څنګه نن تاسودپاره دین کامل مکمل کړې شواودالله تعالی نعمت په تاسو مکمل شودغه شان دالله تعالی پاکیزه څیزونه چه وړاندې هم تاسودپاره حلال وو، همیشه دپاره حلال اولرلې شواودهغې دمنسوخ کیدواحتمال ختم شو، ولې چه د وحی سلسله ختمیدونکې ده،

په دې جمله کښې دطیباتودحلالیدوبیان دې اوپه یوبل آیت کښې ارشاددې:

﴿وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ﴾ [یعنی حلالوې دوئ دپاره طیبات اوحراموی پرخبائث] دلته دطیباتوپه مقابله کښې خبائثوراوړلوسره د دواړولفظونوحقیقت واضح کړې شو،

په لغت کښې طیبات، صفاستهره اوزړه پورې څیزونوته وئیلې شی اوددې په مقابله کښې خبائث، ګنده، دکرکې وړڅیزونوته وئیلې شی، لهذاآیت دې جملې داوښودل چه ټول صفا، ستهره مفید اوپاکیزه څیزونه انسان دپاره حلال اوګرځولې شو، اوګنده، دکرکې وړاو مضرڅیزونه وردپاره حرام اوګرځولې شو، وجه ئې داده چه انسان دنوروخناوروپشان داسې نه دې چه دژوند مقصدئې په دنیاکښې ده لره یواځې خوراك، څښاك، اوده کیدل، ویښیدل،

ژوندې پاتې کيدل او مره کيدل وي، يو خاص مقصد دپاره،ده لره قدرت دکائناتو مخدوم جوړ کړيدې چه دغه اعلی مقصد ،بغير دپاکيزه اخلاقو نه نشي حاصليدې،په دې وجه بدخويه انسان په حقيقت کښې ددې وړنه دې چه انسان ورته اوئيلې شي،

هم په دې بناد غسې خلقولره قرآن کريم په ﴿بَلْ هُمْ اَضَلُّ﴾ سره ياد کړل چه دوئ دځارؤ او ځناوړونه هم زيات بددي،او هر کله چه انسانيت په ښو اخلاقو اړانړه لري نو داخبره ضروري شوه چه هغه څيزونه انسان په مکمل پرهيز کښې اولرلې شي په کوموسره چه دده اخلاق ګنده کيږي او خرابيږي،په دې باندې هرڅوک بې تکليفه پوهيږي،چه انسان په اخلاقو باندې دهغه وړاندې روستو او ګير چاپيره څيزونه دهغه دناستې پاستې اوچم[کلی] ،ګواند خلق اثرغورځوی،هر کله چه دابهرنی څيزونه دانسان په اخلاقو باندې اثرغورځوی نو هغه څيزونه به پروليې اثرنه غورځوی چه هغې نه ئې دبدن اجزاء اووينه غوښه جوړيږي،په دې وجه وردپاره دخوراک څکاک په توڅيزونو کښې احتياط لرل لازمی شو ،دغلا ،ډاکې،رشوت،سود ،جوارئ وغيره حرامې آمدنئ نه دکوم بدن اجزاء چه جوړيږي،لازمه خبره ده چه انسانيت نه به ئې لرې کوی او شيطانيت ته به ئې ورنزدې کوی،ځکه خود قرآن کريم ارشاد دې:﴿يٰٓاَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوْا مِنَ الطَّيِّبٰتِ وَاعْمَلُوْا صَالِحًا﴾ [عملِ صالح]سره دحلال خوراک څکاک حکم ورکړې شويدې ځکه چه دحلال خوراک نه بغير[عملِ صالح] په تصور کښې نشی راتلې،

خصوصاغوښه چه دانسانی بدن يوجزوجوړيږي،په دې کښې دتولونه زيات احتياط کول ضروري دي،هسې نه چه داسې غوښه دده په غذا کښې داخله شی چه اخلاق ئې خراب کړي،دغه شان کومه غوښه چه انسانی بدن دپاره [په جسمانی ډول] مضره ده،هغه داسې چه پکښې درنخورتيا او هلاکت جراثيم موجودوی،هغې نه دپرهيز کولو ضروری کيدل خوتول خلق پيژنی،خومره څيزونه چه شريعت [خبائث] ګرځولی دی،هغه يقينا انسانی جسم،ياروح، يادواړولره خرابوونکی اود انسان ځان او اخلاقولره ئې تباه کوونکی دی،ځکه داحرام اوګرځولې شو ،ددې په مقابله کښې چه طيباتوسره د انسان دجسم اوروح پالنه اودښکلی اخلاقو ترقی د ه هغه حلال اوګرځولې شو ،غرض داچه دقرآن پاک جملې ﴿اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ﴾ دحلالولې او حراموالی فلسفه هم اوښودله او اصول ئې هم اوښودل،

اوس داخبره چه کوم څيزونه [طيبات] يعنی صفا ،ستهره،مفيد او زړه پورې دی او کوم څيزونه [خبائث] يعنی ګنده ،مضراودکرکې کولوجوګه دی،ددې فيصله دسليم طبيعتونو په مينه اوکرکه اړه لري،هم دغه وجه ده چه کوم څيزونه اسلام حرام ګرځولی دی دهرې زمانې سليم طبيعته انسانانو ،هغه ګنده اودکرکې جوګه ګڼړلی دی،لکه مردار،شاروی،وينه،البته، کله چې جاهلانه رسمونه په طبيعت باندې غالب راځی نو دغه وخت دښه اوخراب دفرق کولوخيال د سره ذهن کښې نه راځی،يادځنې څيزونو [خبيث څيزونو] خبيث کيدل،ورته نه ښکاره کيږي په داسې معاملاتو کښې دانبياء ﷺ فيصله، ټولو دپاره حجت دې،ولې چه په انسانانو کښې دتولو نه زيات سليم الطبع انسانان انبياء ﷺ ځکه دی چه الله تعالی ورته په مخصوص ډول فطرت سليمه وربخښلې دي اودهغوئ دتربيت ذمه واری ئې پخپله اغستې ده،دوئ نه ګير چاپيره به يې دفرشتو پهره لګولې وه چه دهغې په برکت،دهغوئ ﷺ په زړونو او خلاقو باندې غلط ماحول وغيره څه اثرنه شوغورځولې،هغوئ ﷺ چه کوم څيزونه [خبائث] او ګرځول هغه په

Scanned with Ca

حقیقت کښې [خبائث] دي اوکوم ئې چه [طیبات] اوګڼړل هغه په حقیقت کښې [طیبات] دي.
چنانچه دحضرت نوح ﷺ دزمانې نه دخاتم الانبیاء ﷺ ترمبارکې زمانې پورې، هر پیغمبر ﷺ مردار ځناور او خنزیر وغیره په خپل خپل وخت کښې حرام ګرځولي دي او ددې په ډاګه اعلان ئې کړیدې، دې نه معلومه شوه چه داخیزونه داسې خبائث دي چه دهرې زمانې سلیم طبیعته حضرات تودغې لره ګنده او مضر خیزونه ګڼړلي دي.
حضرت شاه ولي الله دهلوي قدس سره، په حجة الله البالغة کښې داسې بیان کړیدې چه کوم ځناورو لره چه اسلامي شریعت حرام ګرځولي دي په هغې تولوچه غور اوکړې شي او تول راغونډ کړې شي نود دوو اصولولاندې راځي، ① یو داچه څه ځناورد خپل فطرت او طبیعت په اعتبار سره خبیث وي، ② بله داچه دهغې دذبح کولو طریقه غلطه وي، چې د هغه نتیجه دا راوځي چه هغه به دذبیحې په ځائې مرداره اوګرځولې شي[1]،
دسورت مائده په دریم آیت کښې نهه څیزونه حرام ښودلي شویدي، په هغې کښې خنزیر په اول قسم کښې داخل دې او پاتې نور [۸] اته په دویم قسم کښې داخل دي، قرآن کریم: ﴿وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَٰٓئِثَ﴾ فرمائیلو سره په اجمالي ډول دټولو خبیثو ځناورو دحراموالي حکم ورکړو او ددې دتفصیل څخه څو څیزونه قرآن کریم په سرګنده بیان کړل لکه:
﴿لَحْمُ الْخِنزِيرِ﴾ او ﴿دَمٍ مَّسْفُوحٍ﴾ وغیره اود پاتې نورو څیزونو بیان ئې رسول الله ﷺ ته اوسپارلو، رسول الله ﷺ دیو ځناورد خبیث والي یوه نخښه داهم اوښودله چه یوقوم لره دعذاب ورکولو په غرض دکوم ځناور په شکل ګرځولې شوې وي او خپل انساني شکلونه ئې ورله بدل کړې وي نودا ددغې ځناورو دطبیعت دخبیثوالي نخښه ده اودا اوښودلې شوچه الله تعالی په دغې قوم باندې خپل غضب په دې صورت کښې نازل کړوچه هغوئې ئې ددغې ځناورو په شکل کښې اوګرځول، مثلاً په قرآن کریم کښې راغلي دي: ﴿وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ﴾ یعنی څنې قومونه دخنزیرانو او بیزوګانو [شادوګانو] په شکل کښې دعذاب په ډول مسخ کړې شوي دي، ثابته شوه چه دغه قسمه ځناور هغه دي چه طبیعتونه ئې خبیث دي، په باقاعده ذبح کولو سره هم دغه ځناور حلال نشي ګرځیدې، دیر ځناور داسې هم شته چه دکارونو اوعلاماتوله مخې دهغې خبیثوالي، عام طبیعتونه پخپله هم محسوس کوي، مثلاً خیروونکي ځناور چه دهغې کارنورو ځناورو لره زخمي کول، څیرې کول، خوړل ئې اوسنګدلي ده چنانچه یوځل رسول الله ﷺ نه دشرمرغ [الیوه] په باره کښې چاتپوس اوکړونووې فرمائیل چه څوک انسان هم دې لره خوړې شي؟[2] داشان نور ډیر داسې ځناوردي چه دهغې خوئې ضرر رسول، څیزونه تښتول دي لکه مار، لړم، چرمخکۍ، مچ، تپوس او بازوغیره شو، څکه دیوې ضابطې په ډول رسول الله ﷺ اوفرمائیل[3] چه هرهغه ځناورچه په داړوسره څیرې کولوسره خوراک کوي لکه زمرې، لیوه وغیره او په مارغانو کښې هغه مارغان شوچه خپلو پنجوسره ښکار کوي لکه بازشکرې [باښا] وغیره شو، داټول حرام دي، یاداسې ځناور چه په طبیعت کښې ئې خسیسوالي، ذلیلوالي یا په پلیتو کښې ئې ځان لړل دي لکه مړه مردار خواره ځناوریاخروغیره شو، داټول داسې څیزونه دي

[1] حجة الله البالغة: ج ۲، ص ۳۸۹
[2] السنن الکبریٰ للبیهقي رقم الحدیث: ۱۹۸۶۹
[3] صحیح مسلم، کتاب الصید والذبائح، باب تحریم أکل کل ذی ناب الخ: ج ۲، ص ۱۴۷

Scanned with Ca

چه ددې ښناورو طبعي خاصيتونه دهغې مضر کيدل هرهغه انسان محسوسوی چه د سالم او سليم طبعيت خاوندوی،

خلاصه داشوه چه کوم ښناور، اسلامي شريعت حرام ګرځولی دی، په هغې کښې يو قسم خو هغه دي چه پکښې ذاتي خبيثوالي بياموندې شي، اوبل قسم هغه دې چه په ذات کښې ئې هيڅ خبيثوالي نشته، مګردښناورو دذبح کولو کومه طريقه چه الله تعالی مقرره کړې ده هغه په دغه طريقه ذبح نکړې شي، خواه دسره ذبح نکړې شي، مثلاً په جټکې ورکولوئې تر ساه اوښکلی [ايستلې] وی، يا دګوذارور کولو په ذريعه ئې ترساه اوښکلی[ايستلې] وی، ياپه څه ښاروی ئې دذبح کولو په وخت دغيرالله نوم اغستې وی، يادهيچانوم ئې پرېانښستوخو دذبح په وخت ئې په قصد دالله تعالی نوم مبارک پرېانښستو، نو دې ذبح لره شريعت هم څه اعتبارنه ورکوی بلکه داداسې شولکه چه بغيرد ذبح مړکړې شوې وی۔

دلته يوه خبره په خاص ډول دژورې کتنې جوګه ده چه دانسان دخوراک څکاک ټول څيزونه دالله تعالی ورکړې نعمتونه دی مګردښناورونه سوا، دبل هيڅ څيزپه خوراک ياپخولو داپابندی نه ده لګولې شوې چه د[الله اکبر] يا [بسم الله] وئيلونه بغيردهغې خوړلوياپخولو سره هغه حرامیږی، زيات نه زيات داچه دخوراک څکاک په وخت [بسم الله] وئيل مستحب ګرځولی شی، ليکن دښناورو دذبح کولو په وخت دالله تعالی نوم اغستل واجب ګرځولی شويدی اوپه قصده سره چه دغه وخت پرې دالله تعالی نوم اغستل پرېښودې شی نو دغه ښناور مرداراوحرام بللې شی، په دې کښې حکمت څه دې؟

په ژورې کتنې سره ددې فرق داشان واضحه کيږی چه دساداړتولوڅيزونوساه يوشان اوبرابره ده، په دې وجه دېوساداړڅيز، بل ساداړڅيزلره فناکول، ختمول اوذبح کولونه پس ئې خوړل په ظاهره جائزکيدل نه وو پکار، خوهرکله چه دانسان دپاره روا اوګرځولې شونو دالله تعالی پرډيرلوئ انعام اواحسان شوپه دې وجه ديوښناوردذبح کولوپه وخت دغه نعمت الهی خپلې مخې ته راوستل اودهغې شکراداکول ضروری اوګرځولې شوچه دذبح په وخت دالله تعالی دنوم مبارک يادولوپه صورت کښې وی، البته غله، دانه اونوربې ساه څيزونه هرکله چه پيداشوی دې دپاره د دی چه انسان هغې لره په خپل استعمال کښې راوستودپاره فنا، مات ګډ يابدل رابدل کړی ځکه پرې بسم الله وئيل دمستحب په درجه کښې اولرلې شو، واجب او ضروری اونه ګرځولې شو،

دې نه علاوه يوه وجه ئې داهم کيدې شی چه دجاهليت دزمانې راسې په مشرکانو کښې دا دستور جاری ووچه په يوښناوربه ئې دهغه دذبح کولوپه وخت دخپلوبتانونومونه اغستل، اسلامي شريعت دغه کافرانه رسم په يوبهترين عبادت کښې داسې تبديل کړوچه دغه وخت ئې د الله تعالی نوم اغستل ضروری اوګرځول اوددغې غلط دستورختمولودپاره مناسب صورت هم داؤوچه دغلط اوناکاره نوم په ځائ باندې يوصحيح اودبرکت نه ډک نوم واغستې شي، که داسې نه وې شوې نودغه غلط دستورپرېښودل به ډيرګران پريوتې وو۔ تر دې پورې، دآيت د رومبئ جملې تشريح وه، دويمه جمله داده: ﴿وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ ۖ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ﴾ [يعني داهلِ کتابو دخوراک څيزتاسولره حلال دې اوستاسو دخوراک څيزاهلِ کتابو دپاره حلال دې؛

دلته دجمهورو صحابه کرامو رضي الله عنهم اوتابعينوپه نزد د[خوراک دڅيز] نه مراد ذبح کړې شوې

خناوردي، دحضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه ابى الدرداء، ابراهيم، قتاده، سدى ضحاك رضي الله عنه او مجاهد رحمه الله نه هم دامنقول دى، [روح المعاني دجصاص نه] [١] ولې چه دخوراک په نوروشیزونو کښې، اهلِ کتاب، بت پرست اومشرکان ټول سره برابردي، لکه روټئ [ډوډئ]، اوره، دال، وريژې، ميوه دانه وغيره شو، د کومو د ذبح کولوضرورت چه نه وى، داچه په هرې جائزې طريقې سره دهغوئ نه دمسلمانانولاس ته راشى نو خوړل اواستعمالول ئې روادي، که هغوئ ته دمسلمانانونه لاس ته ورشى نوهغوئ د پاره حلال دى. لهذا ددې جملې دمضمون خلاصه دا شوه چه داهلِ کتاپوذبيحه مسلمانانولره اود مسلمانانوذبيحه اهلِ کتابو لره حلاله ده.

اوس دلته يو څومسئلې دژورې کتنې جوګه دى، [١] اول داچه دقرآن اوسنت په اصطلاح کښې داهلِ کتابونه څوک مراددى، اود کتاب نه څه مراددى؟ آيااهلِ کتاب به يواځې هغه خلق وى چه په خپل کتاب باندې په صحيح شان ايمان لرى اوعمل پرکوى؟. داخوښکاره خبره ده چه دا دکتاب نه دلغوى معنى په لحاظ هره ليکلې ورق مرادنشي اغستې، دې نه هغه کتاب مراددې چه دالله تعالى دارخبه راغلې وى، په دې وجه په اتفاق دامت سره کتاب نه مرادهغه آسمانى کتاب دې چه قرآن کريم ئې تصديق کړې وى، لکه تورات، انجيل، زبور، اودحضرت ابراهيم عليه السلام او حضرت موسى عليه السلام وغيرهما صحيفې شوې. په دې بناهغه قومونه چه په يوداسې کتاب ايمان لرى او هغې لره دالله تعالى وحى منى چې د دقرآن اوسنت په يقينى ذريعوسره هغه دالله تعالى کتاب نه وى ثابت شوې، نوهغه قومونه په اهلِ کتابو کښې داخل نه دى، لکه دمکې مشرکان، مجوس، بت پرست هندوان، دبُده مذهب خلق، آريه سکهان وغيره شو.

دې نه معلومه شوه چه په تورات اوانجيل باندې ايمان لرونکى يهوديان اونصارى په اصطلاح دقرآن کريم سره په اهلِ کتابوکښې داخل دى. کوم قوم ته چه [صائيبين] وئيلې شى، دهغوئ پوره حالات معلومه نه دى، د هغه حضراتو دتحقيق مطابق چه داخلق په زبورباندې ايمان راوړونکى دى نودهغوئ په نزد، داخلق اهلِ کتاب دى اود هغه حضراتو دتحقيق په جوړچه ددوئ تعلق زبورسره نشته اودوئ دستوروعبادت کوى، نوهغوئ ئې په بت پرستو او مجوسو کښې شامل ګنړى على هذا القياس د نن زمانې شيعه ګان، بريلبان، قاديانان، پرويزيان او نور ملحدي ن هم په اهل کتابو کښې داخل نه دى بلکه د دوئ حکم د مشرکانو مجوسيانو او زنديقانو دې؟ بهرحال په يقينى اواتفاقى ډول يواځې يهوداونصارى [اهلِ کتاب] دى. په دې بنادقرآن کريم ددې حکم حاصل داراؤوتوچه ديهودو، نصاراؤ ذبيحه، مسلمانانو لره اودمسلمانانو ذبيحه دوئ لره حلاله ده.

اوس دامعامله صفاکول پکاردى چه يهود، نصارابه اهلِ کتاب په دې شرط بللې او ګنړلې شى چه په صحيح شان سره په اصلى تورات اوانجيل باندې عمل لرى يادوئ هغه خلق به هم په اهلِ کتابوکښې شامل ګنړلې شى کوم چه دبدل کړى تورات، انجيل، تابعدارى کوى، اوحضرت عيسى عليه السلام اومريم لره دالله تعالى شريکان ګرځئ؟. نودقرآن کريم د ښکاره خبرونه داواضحه کيږى چه ددوئ اهلِ کتاب ګڼلوډپاره داخبره هم کافى ده چه دوئ ديو آسمانى کتاب منونکى وى اودعوى ئې دتابعدارئ کوى اګرچه ددې په تابعدارئ کښې ډيرې ګمراهئ هم کوى.

[١]) أحكام القرآن للجصاص، سورة المائدة، فصل التسمية عند الذبح: ج٥، ص٣٦٨، وروح المعاني تحت هذه الآية: ج٦، ص٥١

Scanned with Ca

قرآن کریم چه کوم وخلقوته داهل کتابو لقب ورکړي دي، دهغوئ په باره کښې ئې ځائ په ځائ داهم فرمائيلي دي چه داخلق په آسماني کتابونو کښې بدلون راولي ﴿يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ﴾ اودائې هم فرمائيلي دي چه دوئ حضرت عزير عليه السلام اوحضرت عيسى عليه السلام لره دالله تعالى ځامن مني، ﴿وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ﴾ ددې حالاتو او کردار باوجود چه قرآن کريم دوئ لره اهل کتاب اوبللـو معلومه شوه چه ترڅو دوئ، يهوديت او نصرانيت بيخي نه وي پريښې نو په اَهلِ کتابو کښې به داخل وي، اګرچه په ډيرو خرابو عقيدو او خرابو عملونو کښې اخته وي،

امام جصاص رحمه الله په [احکام القرآن] کښې نقل کړيدي چه دحضرت عمر رضي الله عنه دخلافت په زمانه کښې د هغوئ رضي الله عنهم نه خپل يو ګورنر دخط په ذريعه داتپوس اوکړوچه دلته ځنې داسې خلق شته چه تورات وائي اود [يوم السبت] [دخالي دورځې] تعظيم ديهودو پشان کوي، ليکن په قيامت ايمان نه لري، نودې خلقوسره څنګه معامله کول پکاردي؟ حضرت عمر رضي الله عنه ليکلې جواب داسې وراوليږلو چه، دوئ دِ داهلِ کتابو يوه فرقه ګڼړلې شي(١)،

تش په نوم يهوديان اونصرانيان چه په حقيقت کښې دهريان دي، هغه په دې کښې داخل نه دي: نن صبا په يورپ کښې ګڼرشمير يهوديان اوعيسايان په حقيقت کښې دالله تعالى وجود اوڅه مذهب نه مني، تورات، انجيل دالله تعالى کتاب نه مني، حضرت موسى عليه السلام اوحضرت عيسى عليه السلام لره دالله تعالى نبيان نه مني دملک په مردم شمارئ کښې يهوديان يانصرانيان حسابولې شي. داسې خلق په اهل کتابو کښې هيچرې نشي حسابولې،

دنصاراؤ په باره کښې چې حضرت علي رضي الله عنه اوفرمائيل چه ددوئ ذبيحه حلاله نه ده، د هغې وجه ئې دا اوښودله چه داخلق دنصرانيت په دين کښې سوادشرابو څکلونه دبل هيڅ څيز منونکي نه دي.

روي ابن الجوزي بسنده عن علي قال لاتاكلوامن ذبائح نصارى بني تغلب فانهم لم يتمسكوامن النصرانية بشئ الاشربهم الخمروراوه الشافعي بسندٍ صحيح عنه، ابن الجوزي په صحيح سند سره، دحضرت علي رضي الله عنه داقول نقل کړيدې چه د [بني تغلب] دنصاراؤ ذبيحه څکه مه خورئ چه دوئ دنصرانيت په مذهب کښې سوا دشرابو څکلونه بل څه نه دي اغستي، امام شافعي رحمه الله هم په صحيح سند سره داروايت نقل کړيدې [تفسير مظهرى ص۳۴ ج۳ مائده]

حضرت علي رضي الله عنه د [بني تغلب] دنصاراؤ په باره کښې دامعلومات لرل چه هغوئ بې دينه خلق دي، تش په نوم دوئ نصرانيان نشي کيدې، اوهم په دې وجه ئې ددوئ دذبيحې نه منع اوفرمائيله، ليکن دجمهورو صحابه کرامو رضي الله عنهم اوتابعينو رحمهم الله تحقيق دا ووچه داهم دعامو نصرانيانو پشان دي، بيخي ددين نه منکرنه دي څکه ئې ددوئ ذبيحه حلاله اوبلله:

وقال جمهور الامة ان ذبيحة كل نصراني حلال سواء كان من بني تغلب اوغيرهم وكذلك اليهود، اودامت جمهور وائي چه دنصراني ذبيحه حلاله ده، خواه [بنوتغلب] وي يادبلې قبيلې وي دغه شان دهر يهودي ذبيحه هم حلاله ده، [تفسير قرطبى ص۷۸ جلد ۶]،

١) أحكام القرآن للجصاص، سورة المائدة، فصل التسمية عند الذبائح: ج٥، ص٢٧٠

خلاصه دا شوه چه دکومو نصرانیانو په باره کښې هر کله چه دا معلومات اوشی چه هغوئ دالله تعالی دوجود نه منکر دی یا حضرت موسی ﷺ او عیسی ﷺ لره دالله تعالی پیغمبران نه ګڼړی، هغوئ داهلِ کتابو په حکم کښې نه دی،

داهلِ کتابو دطعام نه څه مراد دی: [طعام] په لغت کښې دخوراک څیزته وائی، چه د عربی ژبې تر مخه هر قسم دخوراک څیزونه پکښې داخل دی، لیکن دلته دجمهور امت په نزدیوالې داهلِ کتابو په لاس دذبح کړو شوؤ څناورو غوښه مراد ده، ځکه چه دغوښې نه سوا دخوراک په نورو څیزونو کښې په اهلِ کتابو او نورو کفارو کښې څه فرق او بیلتون نشته، دَخوراک، څکاک او چ څیزونه لکه غنم، چنړه، وریژې او میوه دانه وغیره دهر کافر دلاسه [په روا طریقه] حلاله او روا ده، په دې کښې دهیچا، هیڅ اختلاف نشته، اود کومو خوراکونو په تیارولو کښې چه دانسان دعمل، دخل وی، نو په هغې کښې احتیاط ځکه پکار دې چه دکفارو دلوښو او په لاسونو وغیره څه اعتبار نشته چه ګنی دا به پاک وی او بغیر دسخت ضرورت نه ئې استعمالول پکار نه دی، په دې کښې چې کوم حال د مشرکانو او بت پرستو دې هغه د اهل کتابو هم دې ځکه چې د ناپاکئ احتمال په دواړو کښې برابر دې.

خلاصه دا شوه چه داهلِ کتابو او کفارو تر منځه دخوراک په څیزونو کښې شرعی فرق یوازې دهغوئ په ذبیحو کښې کیدې شی، لهذا په مذکوره آیت کښې د [طعام] نه مراد په اتفاق سره ددوئ ذبیحې دی لکه دتفسیر امام قرطبی لیکی:

والطعام اسم لما یوکل والذبائح منه وهو ههنا خاص بالذبائح عند کثیر من اهلِ العلم بالتاویل واما ما حرم من طعامهم فلیس بداخل فی عموم الخطاب، د [طعام] لفظ دخوراک هر یو څیز دپاره استعمالیږی چه پکښې ذبیحې هم داخلې دی او په دې آیت کښې دطعام لفظ خاص، ذبیحو دپاره استعمال کړې شویدې، [داکثرو علماؤ دتفسیر په نزد] او داهلِ کتابو دطعام څخه چه کوم څیزونه مسلمانانو دپاره حرام دی هغه ددې خطاب په عموم کښې داخل نه دی، [قرطبی ص ۷۷ جلد ۶]

ددې نه پس امام قرطبی رحمه الله زیات تفصیل داسې بیان کړیدې:

﴿لاخلاف بین العلماء ان مالا یحتاج الی ذبح کالطعام الذی لا محاولة فیه کالفاکهة والبر، جائز اکله اذ لا یضر فیه تملك احد و الطعام الذی تقع فیه المحاولة علی ضربین احدهما ما فیه محاولة صنعة لا تعلق لها بالدین کخبزة الدقیق وعصرة الزیت ونحوه فهذا ان تجنب من الذمی فعلی وجه التقذر، والضرب الثانی التذکیة التی ذکرنا انها هی التی تحتاج الی الدین والنیة فلما کان القیاس ان لا تجوز ذبائحهم کما نقول انهم لا صلوة لهم ولا عبادة مقبولة لهم رخص الله تعالی فی ذبائحهم علی هذه الامة واخرجها النص عن القیاس علی ما ذکرنا من قول ابن عباس﴾

دعلماؤ تر منځه په دې کښې هیڅ اختلاف نشته، چه په کومو څیزونو کښې دذبح کولو ضرورت نه وی مثلا هغه طعام چه پکښې دتصرف کولو ضرورت نه وی لکه میوه، غنم وغیره شو نو دهغې خوړل روا دی ولې چه په دې کښې دچاملک جوړیدل دو مره مضر نه دی، البته هغه خوراک چه پکښې دانسان عمل دخل کیدې شی نو دهغې دوه قسمه وی یو هغه عمل دې چه دین سره ئې څه تعلق نه وی مثلا اوړونه روټئ [ډودئ] جوړول د زیتون نه تیل ایستل وغیره نو دکافر ذمی د داسې څیزونو نه څوک ځان ساتل غواړی نو هغه به صرف دطبعی کرکې په وجې سره وی او بل قسم هغه دې چه پکښې عمل دذبح کولو راځی اودې دپاره ددین او نیت ضرورت وی نو اګر چه دقیاس تقاضا دا وه چه دکافر د مونځونو او عبادتو نو پشان دهغوئ دذبحې عمل هم

قبلول نه وو پکار لیکن الله تعالی ددې امت دپاره په خاص ډول دهغوئ ذبیحې حلالې اوګرځولې او د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نص دامسئله خلاف القیاس ثابته کړیده. [قرطبی سورة مائده ص۷۷ جلد ۶].

خلاصه داده چه دلته په دې آیت کښې په اتفاق دعلماؤ دتفسیر سره داهلِ کتابو هغه طعام مراد دې چه دهغې حلالوالې په مذهب اوعقیده بناء لری [یعنی دهغوئ ذبیحه] اهلِ کتابو سره دا امتیازی معامله په دې وجه اوکړې شوه چه هغوئ هم دالله تعالی په لیږلو شوؤ کتابونو باندې دایمان لرلو دعویدار دی، اګرچه دهغوئ تحریفاتو [بدلونو نور اوستو] لره دهغوئ دعوی مجروحه اونقصانی کوی تردې پورې چه په شرک اوکفر کښې اخته شو، په خلاف دبت پرستو مشرکینو نه چه هغوئ په یو آسمانی کتاب یانبی یارسول ﷺ باندې دایمان راؤړلو دعویدار هم نه دی، په کومو کتابونو یاکسانو چه هغوئ ایمان لری هغه دالله تعالی کتابونه او دهغه رسولان کیدل دالله تعالی په څه کلام سره ثابت نه دی،

داهلِ کتابو دذبیحې دحلالوالی حکمت اووجه: ددې زیر بحث مسئلې دادریم سوال دې چه جواب ئې د اکثرو صحابه کرامو رضی الله عنهم تابعینو اودتفسیر داماما نوله اړخه دادې چه دټولو کفارو څخه د اهلِ کتابو [یهودو او نصاراؤ] دذبیحې اوددوئ زنانؤ سره دنکاح دحلالوالی وجه داده چه ددوئ په دین کښې اګرچه په سوؤنو بدلونونه راغلی دی، بیاهم په دې دؤ مسئلو کښې دهغوئ مذهب هم، د اسلام سره بیخی سمون خوری، مطلب داچه په ذبیحه باندې دالله تعالی نوم اغستل د عقیدې په لحاظ هغوئ هم ضروری ګڼړی، اود دې نه بغیر، څاروی لره مردار، ناپاک اوحرام ګڼړی. دغه شان دنکاح مسئله هم واخله، هغه داسې چه کوموزنانؤ سره په اسلام کښې نکاح کول حرام دی. د هغوئ په مذهب کښې هم ورسره حرام دی، اوځنګه چه اسلام کښې دنکاح اعلان کول اودګواهانو په وړاندې ئې کول ضروری دی، دغه شان دهغوئ په موجوده مذهب کښې هم دغه احکام دی،

دتفسیر امام ابن کثیر رحمه الله داکثرو صحابه کرامو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله نه هم داقول نقل کړیدې لکه چه لیکی:

[وطعام اهلِ الکتاب] قال ابن عباس وابو امامة ومجاهد وسعید بن جبیر وعکرمة وعطاء والحسن ومکحول وابرهیم النخعی والسدی ومقاتل بن حیان یعنی ذبائحهم حلال للمسلمین لانهم یعتقدون تحریم الذبح لغیر الله ولایذکرون علی ذبائحهم الا اسم الله وان اعتقدوا فیه تعالی ماهو منزه عنه تعالی وتقدس، ابن عباس، ابو امامه رضی الله عنه، مجاهد رضی الله عنه، سعید بن جبیر رضی الله عنه، عکرمه رضی الله عنه، عطاء رضی الله عنه، حسن رضی الله عنه، مکحول رضی الله عنه، ابراهیم نخعی رضی الله عنه، سدی رضی الله عنه، اومقاتل بن حیان، داهلِ کتابو د طعام، تفسیر دهغوئ په ذبیحو سره کړیدې اودامسئله دمسلمانانو دپاره دلته اجماعی ده چه دهغوئ ذبیحې مسلمانانو لره حلالې دی ولې چه هغوئ دغیر الله په نوم ذبح کول حرام ګڼړی اوپه خپلو ذبیحو باندې دالله تعالی دنوم نه سوا دبل چانوم نه اخلی، اګرچه هغوئ دالله تعالی په باره کښې دداسې خبرو اعتقاد لری چه الله تعالی دهغې نه پاک او بیخی اوچت دې، [ابن کثیر مائده ص۱۹ جلد ۳].

دابن کثیر رحمه الله په دې بیان کښې یوخو داخبره معلومه شوه چه ددغه ذکرشوی صحابه کرامو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله په نزد داهلِ کتابو دطعام نه مراد دهغوئ ذبیحې دی اوددې په حلالوالی کښې دامت اجماع او اتفاق دې، بله خبره ترِدا معلومه شوه چه ددې ټولو حضراتو په

Scanned with Ca

نزد داهلِ کتابو د ذبیحو د حلالوالی وجه داده چه دیهودواونصاراؤپه مذهب کښې سره ددېرو بدلونو نور اوستو، د ذبیحې مسئله داسلامی شریعت په جوړداسې باقي پاتې ده چه هغه ځناورلره هغوئ هم حرام بولی چه دغیرالله په نوم ذبح کړی شوې وی اوپه ذبیحه باندې دالله تعالی نوم اغستل ضروری ګڼړی دابله خبره ده چه دالله تعالی په شان کښې هغوئ د[تثلیث ، دریوالی] دمشرکانه عقیدې منونکی شو، اوالله تعالی اومسیح بن مریم علیه السلام لره هم یوبولی لکه قرآن کریم د هغې ذکر په دې الفاظو کړې دې چې:

﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا۟ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْمَسِيحُ ٱبْنُ مَرْيَمَ﴾ بیشکه کافران شو هغه خلق چه وې وئیل چه: الله تعالی خوهم ځوئ د مریم علیه السلام دې.

ددې حاصل داشو چه دذبیحې په باره کښې دقرآن کریم ټول آیتونه که په سورت بقره کښې دی اوکه په سورت انعام کښې دی، چې په هغې ټولوکښې هغه ځاروې حرام ګرځولې شوې دې چه دالله تعالی نه بغیردبل چاپه نوم ذبح کړې شوې وی، اوهغه هم چه پردذبح په وخت دالله تعالی نوم نه وی اغستې شوې. دغه ټول آیتونه پخپل ځائې محکم دی اوعمل پرکیږی، دسورت مائده په کوم یوآیت کښې چه داهلِ کتابو دطعام حلالوالې ښودلې شویدې هغه هم ددغې آیتونودحکم نه مختلف ځکه نه دې چه داهلِ کتابو دطعام دحلالوالی وجه هم داده چه هغوئ په موجوده مذهب کښې هم دغیرالله په نوم باندې ذبح شوې ځناوراوهغه ځناورپه کوم چه دذبح په وخت دالله تعالی نوم نه وی اغستې شوې، حرام دې، په موجوده زمانه کښې دتورات اوانجیل په اوسنونسخوکښې هم دذبیحې اونکاح احکام تقریبا هغه دی کوم چې په قرآن کریم اسلام کښې دی اوتفصیل به ئې اوس دې پسې ذکرکولې شی،

البته داکیدې شی چه ځنې جاهلان عوام دخپل مذهب ددې حکم خلاف څه عمل کوی، څنګه چه پخپله دمسلمانانوپه جاهلوعوامو کښې ډیرجاهلانه رسمونه شامل شویدی، خوهغې ته داسلام مذهب نشی وئیلې، دنصاراؤدجاهلوعوامو، طرزعمل ته په کتلوبعضو تابعینو رحمهم الله حضراتو دا اوفرمائیل چه کله الله تعالی، داهل کتابو طعام حلال اوګرځولو اوالله تعالی پوهیږی چه هغوئ د خپلو ذبیحو سره څه معامله کوی څوک پردحضرت مسیح علیه السلام یاد حضرت عزیر علیه السلام نوم اخلی، څوک ئې بغیر د بسم الله نه ذبح کوی نومعلومه شوه چه دسورت مائده په دې آیت کښې چه طعام داهلِ کتابوحلال ګرځولې شویدې دسورت بقره اوسورت انعام په هغه آیتونو کښې تخصیص راوستې دې یائې هغې لره منسوخ کړیدی، په کومو کښې چه دغیرالله په نوم باندې ذبح کول یابغیردالله تعالی دنوم اغستلونه ئې ذبح کول حرام ګرځولې دی.

دځنولویوعلماؤدکلام نه معلومیږی چه کومو تابعینو حضراتو رحمهم الله چه د اهل کتابو هغه ذبیحه هم حلاله بللې ده دکومې دذبح په وخت چه پردالله تعالی نه بغیردبل چانوم اغستې شوې وی یاپردسره دالله تعالی نوم نه وی اغستې شوې، دهغوئ په نزدهم داهلِ کتابو اصل مذهب خود اسلامی احکامونه مختلف نه دې مګردهغوئ جاهل عوام دغه غلطی کوی ددې باوجود دغه حضراتو جاهل اهل کتاب عوام هم دعام اهلِ کتابودحکم نه بیل نه کړل، دذبیحې اودنکاح په معامله کښې ئې دهغوئ حکم هم هغه کیښو، کوم چه دهغوئ دپلارونو نیکونواوداصل مذهب د تابعدارانو دې هغه داچه دهغوئ ذبیحه حلاله اودهغوئ زنانؤسره نکاح کول روادی،

ابن عربی په [احکام القرآن] کښې ليکلی دی چه ما دخپل استاذ ابو الفتح مقدسی نه تپوس اوکړو چه او سنی نصارای خود غیر الله په نوم ذبح کوی، مثلاً د حضرت مسیح علیه السلام او حضرت عزیر علیه السلام نوم دذبح په وخت کښې اخلی نو دهغوئ ذبیحه بیا څنګه حلالیدې شی، ددې په جواب کښې ابو الفتح مقدسی داسې اوفرمائیل:

[هم من آبائهم وقد جعلهم الله تعالی تبعالمن کان قبلهم مع علمه بحالهم] ددوئ حکم ددوئ د پلرونو نیکونو پشان دې [دنن ورځې د اهلِ کتابو] دا حال الله تعالی ته معلوم وو لیکن دوئ لره الله تعالی دخپلو پلارانو نیکونو تابع جوړ کړی دی، [احکام القرآن ابن عربی ص۲۲۹ جلد اول]

ددې حاصل دا شو چه دامت پخوانو بزرگانو علماؤ کښې چه چا داهلِ کتابو دداسې ذبیحو د حلالوالی اجازت ورکړیدې په کومو چه دذبح په وخت د الله تعالی نوم نه وی اغستې شوی بلکه د الله نه بغیر دبل چا نوم پراغستې شوې وی، هغوئ وائی چه داهلِ کتابو اصل مذهب کښې هم دغسې ذبیحې حرامې دی ځکه ئې داهم داصل مذهب اهل کتابو په حکم کښې شامل اولړل او دهغوئ ذبیحه ئې هم حلاله اوبلله، او جمهور صحابه کرامو رضی الله عنهم تابعینو رحمهم الله او مجتهدینو امامانو رحمهم الله په دې نظر او لړلو چه داهلِ کتابو جاهل عوام چه دغیر الله نوم باندې یا بغیر د الله تعالی دنوم اغستو نه ذبح کوی، دا داسلام دحکم نه خو خلاف ده، پخپله د نصاراؤ موجوده مذهب نه هم خلاف ده، هم په دې وجه په احکامو باندې ددوئ دعمل هیڅ اثر نه دی کیدل پکار. هغوئ دا فیصله ورکړه چه ددغه خلقو ذبیحه داهلِ کتابو په [طعام] کښې دسره داخله نه ده ځکه ددې دحلالوالی هیڅ وجه نشی کیدې او نه ددوئ دغلط عمل په وجه سره په قرآنی آیتونو کښې دنسخ یا تخصیص قول غوره کول په څه شان سره صحیح کیدې شی،

په دې وجه دتفسیر ټول امامان رحمهم الله ابن جریر رضی الله عنه ابن کثیر رحمه الله ابوحیان رحمه الله وغیره په دې اتفاق لری چه دسورت بقره او سورت انعام په آیتونو کښې هیڅ نسخ نه ده راغلې، هم دغه دجمهور صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو رحمهم الله مذهب دې لکه چه دابن کثیر په حواله ددې نه وړاندې رانقل کړې شویدې او په تفسیر [بحر محیط] کښې په دې الفاظو سره ذکر شویدې،

﴿وذهب الی ان الکتابی اذالم یذکر الله علی الذبیحة وذکر غیر الله لم توکل وبه قال ابوالدرداء وعبادة بن الصامت وجماعة من الصحابة وبه قال ابوحنیفة وابویوسف ومحمد وزفر ومالك وکره النخعی والشوری اکل ماذبح واهل به لغیر الله﴾ ددوئ مذهب دادې چه که چرې کتابی په ذبیحه باندې د الله تعالی نوم وانخلی او د الله تعالی نه سوا څه بل نوم پرواخلی نو ددې خوراک جائز نه دې داقول دابی الدرداء رضی الله عنه، عباده بن صامت رضی الله عنه او دصحابه کرامو رضی الله عنهم دیو جماعت دې، او هم دا، دامام ابی حنیفه رحمه الله ابی یوسف رحمه الله، امام محمد رحمه الله، دزفر رحمه الله او امام مالک رحمه الله مذهب دې، امام نخعی رحمه الله او ثوری رحمه الله ددې خوړل مکروهه بولی، [بحر محیط ص۴۳۱ جلد ۴]

حاصل دکلام دادې چه صحابه کرام رضی الله عنهم، تابعین رحمهم الله او دامت پخوانی بزرګان په دې خبره کښې هیڅ اختلاف نه لری چه دقرآن کریم دنازلیدو په زمانه کښې داهلِ کتابو اصل مذهب هم داؤ چه په کوم څناور دذبح په وخت دغیر الله نوم واغستې شی یا په قصد سره د الله تعالی نوم پرو انخلی نو هغه ذبیحه حرامه ده، دغه شان دنکاح په حلالوالی او حراموالی کښې هم داهلِ کتابو اصل مذهب، موجوده زمانه پورې، په اکثرو څیزونو کښې داسلامی شریعت په شان دې، ددې خلاف چې څه په اهلِ کتابو کښې بیاموندې شی هغه دجاهلو عوامو غلطئ ده، د هغوئ

Scanned with Ca

مذهب نه دي،
موجوده تورات او انجيل چه په مختلفو ژبو کښې چاپ کړی شوې پيدا کيږی، ددې خبرې تائيد د هغې نه کيږی، وې گورئ دبائيبل په عهدنامه قديم کښې د هغوئ اقوال چه دموجوده زمانې يهود او نصاری دواړه ئې مني. دذبيحې باره کښې احکام داسې دی،

① پخپله چه يو ځناور مړشي، کوم چه ځيرونکو ځناورو ځيرلې وی، دهغې وازده که په بل ځه کښې پکار وئ نو پکارئې کړئ خو په هيڅ حال کښې ئې خورئ مه [احبار ي ۲۴]

② غوښه خود خپلو ټولو پهاټکونو دننه دخپل زړه په مينه او دخداوند دخپل ورکړې برکت په جوړ په ذبح کولو سره خوړې شی. ليکن تاسو وينه بيخی مه خورئ [استثناء ۱۲-۱۵]

③ تاسو، دبتانو دقربانو غوښې، وينې او دمرئ خپه کړی ځناورو او حرامکارئ نه پرهيز کوئ [عهدنامه جديد کتاب اعمال ۱۵-۲۹]،

④ دعيسايانو دټولونه لوئ پيشوا د پولس کرنتهيون په نوم، رومی خط کښې ليکی چه غير قومونه کومې قربانئ کوی هغه دشيطانانو دپاره کوی، دخدائ دپاره ئې نه کوی او زه نه غواړم چه تاسو شيطانانو سره شريک شئ، تاسو دخداوند دپيالئ او دشيطانانو دپيالئ [دواړو] نه نشئ ځکلې [کرنتهيون ۱۰-۲۰-۲۰]

⑤ د حوارينو په کتاب اعمال کښې دی، مونږه دا فيصله کړې وه او ليکلی موو چه هغوئ دصرف دبتانو دپاره دقربانئ دغوښې، وينې او دمرئ خپه کړی شوی ځناور او رحرام کارئ نه ځانونه ساتلی لری، [اعمال - ۲۱-۲۵]

دادتورات او انجيل هغه ډاکيزې خبرې دی چه نن صبا، دبائيبل سوسائټيانو چاپ کړی دی چه پکښې دسؤنو بدلونونو او ترميمونونه پس هم بعينه، دقرآن کريم داحکامو په جوړ دا ځيزونه لاتر اوسه پورې پاتې دی، دقرآن کريم آيت دادی:
﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ﴾ په تاسو حرامه کړې شوه مرداره او وينه او دخنزير غوښه او په کوم چه دالله تعالى نه سوا دبل چانوم اغستې شوې وی، او مرئ خپه کړې شوې او په گوذار مړشوې، په رارغړيدلو چه مړشوې وی، په ښکرو هلو مړشوې وی، چه درنده خوړلې وی، مگر داچه تاسو هغې لره پاک کړې او ذبح کړې وی او هغه ځناور چه دبتانو په نوم باندې ذبح کړې شی.
په دې آيت کښې [ميته] يعنی په خپل مرگ مړشوې ځناور، وينه او دخنزير غوښه، او دغير الله نوم چه پرا غستې شوې وی، هغه ځناور چه په مرئ خپه کولو، په گوذار وهلو، دلوړځائ نه په راپريوتو، يادښکرپه وهلو سره مړشوې وی، ځيرونکو ځناورو ځيرې کړې وی دا ټول حرام گرځولې شويدی. دتورات او انجيل په ذکرشوؤ تصريحاتو کښې هم د، [الحم خنزير] نه علاوه تقريباً ټول حرام گرځولې شويدی، صرف په گوذار سره، يادلوړځائ نه په راپريوتو، يا په ښکر سره دلگيدو نه دمړشوی ځناور تفصيل اگرچه ذکرشوې نه دی، مگر تقريباً دا ټول پخپله د مړشوی يا په مرئ خپه کولو سره دمړشوی په حکم کښې داخل دی،
دغه شان قرآن کريم په ذبيحه باندې دالله تعالى دنوم اغستو تاکيد فرمائيلې دې لکه فرمائی:
﴿فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ﴾ او په کوم ځناور چه دالله تعالى نوم نه وی اغستې شوې هغه ئې حرام بللی دی لکه فرمائی: ﴿وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ﴾ په بائيبل کښې د کتاب استثناء دتير شوی

عبارت [نمبر ۲] نه هم ددې تاکید معلومېږي چه څناور د الله تعالی په نوم اغستو سره ذبح کړې شي، دغه شان دنکاح معاملات هم د اهلِ کتابو دمذهب په اکثرو ځیزونو کښې د اسلامی شریعت مطابق دي،

اوګورئ احبار-۱۸-۷ تا ۱۹ چه پکښې اوږده لړئ د حراموشو ځیزونو ورکړې شوې ده اوچه پکښې زیات هم هغه ځیزونه دي کوم لره چه قرآن کریم حرام ګرځولي دي تردې پورې چه د [جمع بین الاختین] دوه خویندې دیوسړي په نکاح کښې دیوځائ کولو] حراموالې اودحیض په حالت کښې دکوروالی حراموالې هم پکښې په ډاګه بیان کړې شویدې داشان، بائیبل کښې دا خبره هم په ډاګه کړې شویده چې بت پرستو او مشرکانو قومونو سره نکاح کول جائزنه دی، د موجوده تورات الفاظ دادي.

ته دوئ سره واده، ښادي هم مه کوه، مه د دوئ ځامنو ته خپلې لونړه ورکوه، اومه خپلو ځامنو دپاره د دوئ لونړه [واده] کوه، ځکه چه دوئ به زما ځامن دې دپاره زما دتابعدارئ نه واړوی چه هغوئ دنورو معبودانو عبادت اوکړي [استثناء ۷-۳-۴]

دکلام خلاصه:: داده چه په قرآن کریم کښې داهلِ کتابو ذبیحې اود دوئ زنانوسره نکاح کول حلال ګرځولې شوی دی اودنورو کفارو ذبیحې اوزنانه ئې حرامې ګرځولي دی، ددې وجه هم داده چه په دې دواړو مسئلو کښې داهلِ کتابو اصل مذهب، ترننه پورې هم د اسلامی قانون مطابق دې، اوهغه څه چه ددې خلاف ددوئ په عوامو کښې پیدا کیږی هغه دجاهلانو غلطئ دی، د دوئ مذهب نه دې، په دې وجه د جمهورو صحابه کرامو رضی الله عنهم تابعینو اود مجتهدینو امامانو په نزد، دسورت بقره، سورت انعام او مائده په ټولو آیتونو کښې هیڅ ټکر، نسخ یا تخصیص نشته اوکوموعلماؤ [رحمهم الله] او تابعینو رحمهم الله چه ئې دغلط کار وعمل لره هم داهلِ کتابو داصل حکم تابع اوکړو اود سورت بقره اوسورت انعام په آیتونو کښې ئې دنسخ یاتخصیص قول غوره اوګرځولو دهغې بنیادهم دادې چه که نصاری دالله تعالی نوم هم واخلی نو مطلب به ئې ترنه عیسی علیه السلام بن مریم وی ولې چه د دوئ عقیده قرآن کریم داسې بیان کړیده ﴿إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ﴾ [الله خو هم، عیسی علیه السلام ځوئ دمریم دې، په دې وجه که دوئ د ذبح په وخت د الله تعالی نوم واخلی، یا دحضرت مسیح علیه السلام نوم واخلی نودادواړه برابر دی، په دې بنابانـدې تابعینو حضراتو رحمهم الله په ذبیحو د اهلِ کتابو کښې ددې اجازت ورکړیدې، ابن عربی په [احکام القرآن] کښې ددې بنیاد وضاحت کړیدې [احکام القرآن] ابن عربی ص ۲۲۹ جلد ۱] مګر جمهور امت، دې لره قبول نکړو لکه چه دتفسیر ابن کثیر او تفسیر بحر محیط په حواله اوس اوس تیر شویدی، اوپه تفسیر مظهری کښې دمختلفو قولونو نقل کولو نه پس ئې لیکلی دی:

والصحیح المختار عندنا هو القول الاول یعنی ذبائح اهل الکتاب تارکا للتسمیة عامدا اوعلی غیر اسم الله تعالی لایوکل ان علم ذلک یقینا اوکان غالب حالهم ذلک وهو محمل النهی عن اکل ذبائح نصاری العرب ومحمل قول علی لا تاکلوا من ذبائح نصاری بنی تغلب فانهم لم یتمسکوا من النصرانیة بشئ الابشربهم الخمر فلعل علیا علم من حالهم انهم لایسمون الله عند الذبح اویذبحون علی غیر اسم الله هکذا حکم نصاری العجم ان کان عادتهم الذبح علی غیر اسم الله تعالی غالبا لایوکل ذبیحتهم ولاشک ان النصاری فی هذا الزمان لایذبحون بل یقتلون بالوقذ غالبا فلایحل طعامهم؛

اوصحیح اوغوره قول زمونږ په نزد هغه رومبې دې یعنی داچه داهلِ کتابو هغه ذبیحې چه پرقصدا دالله تعالی نوم اغستل پریښودل شوې وی یادغیر الله په نوم ذبح کړې شوې وی هغه

حلالې نه دی که په یقین سره دهغې علم اوشي چه په دې د الله تعالی نوم نه دې اغستلې شوې یادغیرالله نوم پرې اغستلې شوې دې یا داهلِ کتابو عام عادت داشی، کوموبزرګانوچه د عربو دنصاراؤذبیحې منع کړېدی دهغوئ دقول مقصدهم دادې، داشان د حضرت علی رضی الله عنه دا فرمان چه دبنی تغلب د نصاری ذبیحې خوړل ناروادی ولې چه هغوئ دنصرانیت په مذهب کښې سوا د شرابو څکلو نه بل هیڅ نه دی اغستی دهغې دحملولوځائ هم دغه دې حضرت علی رضی الله عنه ته به داثابته شوی وی چه بنی تغلب په خپلو ذبیحوباندې دالله تعالی نوم نه اخلی یابیادغیرالله نوم پرې واخلی، بیاداحکم د عجمی نصاراؤهم دې چه که دهغوئ عادت داوګرځی چې په عامه توګه دغیرالله په نوم ذبح کوی نود هغوئ ذبیحه خوړل جائزنه دی اوپه دې کښې شک نشته چه اوسنی نصاراؤخوذبح کول نه کوی بلکه ځناور په ګوذار ورکولو[اوجټکې سره] وژنی، په دې وجه دهغوئ ذبیحه حلاله نه ده، [تفسیر مظهری ٣٩١٣].

داتفصیلی بحث ددې وجې نه دلته نقل کړې شوچه په دې مقام کښې دمصریومشهورعالم مفتی عبده نه یوسخت لغزش داسې شویدې چه دهغې په غلطوالی، کتاب اوسنت اودجمهور امت نه په خلاف کیدوکښې هیڅ شک اوشبه نشته، دموصوف نه په تفسیرالمنارکښې دلته دوچنده غلطی شویده:

اول داچه داهلِ کتابوپه مفهوم کښې ئې ددنیاټول کفار، مجوس، هندوان، سکهان، ټول داخل کړی دی اودومره ئې عام کړی دی چه په ټول قرآن کښې چرته چه دکفارواهلِ کتابو او غیراهلِ کتابوتقسیم اوبیلتون کړې شویدې هغه ورسره بیخی بې معنی اوبې حقیقته ګرځی،

اوبله غلطی ددې نه غټه تردااوشوه چه داهلِ کتابو دطعام په مفهوم کښې ئې دهغوئ هرقسم خوراکه، بې دڅه شرط نه حلال ګرځولې ده، خواه هغوئ ځناورذبح کړی، یائې ذبح نه کړی، په هغې دالله تعالی نوم واخلی یاوانخلی، اوپه هرحال کښې چه په څه شان سره هغوئ څه ځناورخوری هغه ئې دمسلمانانودپاره هم حلال اوګرځول،

کله چه د هغوئ دافتوی په مصر کښې خوره شوه هم هغه وخت پخپله د مصر اودټولې دنیا لویو لویو علماؤ رحمهم الله دې ته غلطه اووئیله په دې باندې ډیرې مقالې اورسالې اولیکلې شوې د هر طرفنه دا غوښتنه اوشوه چه مفتی عبده د دمفتی توب دمنصب نه لرې کړې شی، بل خوادمفتی صاحب شاګردانو اودمغربی خیال دیورپ په معاشرې مئینو خلقوبحثونه او چلول، ولې چه دافتوی دهغوئ د لارې دټولو مشکلاتوحل ووچه دیورپ دیهودو، نصاراؤ بلکه دهریانوهره خوراکه هغوئ دپاره حلاله شوه.

لیکن داسلام یوه معجزه داهم ده چه دشریعت خلاف کارکه هرڅومره لوئ عالم نه هم اوشی، د عامو مسلمانانوزړونه دهغې سره کله هم تسلی نشی پیدا کولې، په دې معامله کښې هم دغسې اوشو او د ټولې دنیامسلمانانودې ته ګمراهی اووئیله، دغه وخت اګرچه دغه معامله پوره خاموشه اوسړه شوه مګر اوسنو هغه ملحدانو[بیدینو] خلقودغه بحث بیاپه دې شان رابرسیره کړو ګویاکښې دوئ خپل تحقیق پیش کوی، دې نه دملحدانواصل مقصد دابنکاری چه داسلام یوه نوې نمونه تیاره کړې شی اوپه هغې کښې دیورپ هرقسم لغویت ځائ کړې شی، او دنوی نسل ځوانانو نفسانی خواهشات پوره کړې شی، حالانکه هغه داټول دمفتی

Scanned with Ca

عبده دهغه ذکرشوې مقالې نقل دې، په دې وجه ددې بحث دپوره تفصیل بيانولو ضرورت رامخې ته شو،

الحمدلله، اوس دضرورت په اندازه ددې بيان اوشو، اوزيات تفصيل ئې که څوک کتل غواړي هغوئ د زماپه رساله [اسلامی ذبيحه] کښې اوګوري،

بله مسئله دلته داده چه قرآن کريم مسلمانانو ته دا اشاره اوکړه چه [داهل کتابو طعام تاسو لره حلال دې]، نوداخوښکاره خبره ده مګربيادې مقصدڅه دې چه دمسلمانانو طعام هغوئ لره حلال دې، ولې چه کله هغوئ خودقرآنی ارشاداتوپرواداراومنونکی نه دی نوهغوئ دپاره دحلال اوحرامو د حکم بيانولوفائده څه ده؟

په تفسيربحرمحيط کښې ددې بيان داسې شويدې چه په اصل کښې داحکم مسلمانانو ته په دې شان بيانول دی چه په غيرمسلم اهلِ کتابوباندې خپله ذبيحه [مثلاًدقربانئ غوښه] خوړل تاسولره حلال دی ولې چه زمونږ [دمسلمانانو] ذبيحه هغوئ لره حرامه وې نو په هغوئ باندې به خپله ذبيحه خوړول مونږلره حرام وو، معلومه شوه چه داحکم هم په اصل کښې مسلمانانوته دې اګرچه په سرسری نظر، دغه حکم اهلِ کتابوته ښکاری(۱)،

تفسيرروح المعانی کښې، دسدی رحمه الله په حواله ددې جملې يوه بله منشا، دابيان کړې شويده چه داهلِ کتابو [يهودو، نصاراؤ] په مذهب کښې څنې څاروی يادهغې څه برخې، دسزا په ډول حرامې کړې شوې وې، نودآيت دې جملې اوښودل چه دغه حرام کړې شوی څاروی ياد هغې برخې داهلِ کتابو دلاسه دذبيحې په شکل کښې تاسوته حاصلې شی نوهغه هم تاسو دپاره حلالې دی [اګرچه هغوئ لره حرامې دی] چنانچه په ﴿وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ﴾ کښې دې اړخ ته اشاره شويده، په دې بِناددې جملې تعلق مسلمانانوسره شو(۲)،

تفسيرمظهری کښې ئې ددې جملې مطلب داهلِ کتابو اودمسلمانانوترمنځه دطعام اونکاح په منځ کښې فرق داسې ښکاره کول دی چه طعام خوځ دواړواړخونه يوبل دپاره حلال دې مګرنکاح دکتابئې [زنانه] خومسلمان سړی سره حلال کيدې شی اود مسلمانې [زنانه] نکاح دکتابی سړی سره حلال نشی کيدې(۳)،

دريمه مسئله داده چه داسلام نه يهوديت يانصرانيت ته آوړيدلې کس به اهلِ کتاب نه وی بلکه مرتددې دهغه ذبيحه دامت په اجماع سره حرامه ده،

دغه شان که يومسلمان دخپل دين دضرورياتواويقينياتونه منکرشی نومرتدشو، اګر چه هغه قرآن کريم اورسول الله ﷺ لره دمنلودعوی کوی، صرف په قرآن لوستلو يا په دې باندې دعمل کولودپه عوې سره هغه اهلِ کتاب نشی ګرځيدې، دهغه ذبيحه حلاله نه ده البته که د بل کفری مذهب نه يهوديت يا نصرانيت ته څوک راواوړی نوهغه به اهلِ کتاب شميرلې شی، ذبيحه به ئې حلاله وی. دآيت دريمه جمله داده:

---

۱) تفسير البحر المحيط: ج ۳، ص ۴۳۲

۲) روح المعانی تحت هٰذه الآية: ج ۶، ص ۶۵

۳) التفسير المظهری تحت هٰذه لاية: ج ۳، ص ۴۰

Scanned with CamScanner

﴿وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ﴾ [تاسو لره د مسلمانانو پاک لمنو زنانو سره نکاح حلال دي، دغه شان د اهلِ کتابو پاک لمنو زنانو سره هم نکاح حلال دي] ،

دلته دوه ځايه د [المحصنت] لفظ راغلي دي دعربی لغت او محاورې په لحاظ سره ددې دوه معنې کيدې شي ① يوه معنی ئې آزادي [اصيلې] زنانه چه وينځې نه وی ② بله معنی ئې پاک لمنې زنانه دی، اوس دلته دلغت په اعتبار سره دواړه معنې مراد کيدې شي،

هم دغه وجه ده چه دتفسير دعلماؤ ﷺ څخه مجاهد دلته د ﴿مُحْصَنٰتُ﴾ تفسير په [حرائر] [اصيلو] سره کړيدې، حاصل ئې دا شو چه د اهلِ کتابو آزادې [اصيلې] زنانه په مسلمانانو حلالې دی وينځې ئې حلالې نه دی [مظهری] ([1])

ليکن د جمهورو علماؤ ﷺ او تابعينو ﷺ په نزد دلته د [المحصنت] معنی [پاک لمنې زنانه] دی، په دې بنا به د آيت مطلب دا شی چه څنګه پاک لمنو مسلمانانو بيبيانو سره نکاح کول حلال دی دغه شان د ناپاك اهلِ کتابو پاک لمنو زنانو سره هم نکاح کول حلال دی، [احکام القرآن جصاص ﷫، مظهری] ([2])

ليکن د جمهورو په اتفاق سره، دلته، د [پاک لمنو] دقيد لګولو مطلب دا نه دې چه که پاک لمنې زنانه نه وی، بلکه ناپاک لمنې زنانه وی نو هغوئ سره نکاح حرام دې، بلکه مطلب ئې ددې خبرې شوق پيدا کول دی چه پاک لمنو زنانو سره دنکاح کولو کوشش دې کوی خواه هغه مسلمانه زنانه وی او که اهل کتابی زنانه وی. ځکه چه دا غوره دی او بدلمنو زنانو سره نکاح کول ديو شريف مسلمان کارنه دې [مظهری وغيره] ([3])

لهذا، ددې جملې دمضمون خلاصه دا شوه چه مسلمان لره، مسلمانې يا کتابئې زنانه سره نکاح کول حلال دی، البته په دواړو صورتونو کښې د الحاظ ساتل پکاردی چه پاک لمنې زنانه سره د نکاح کوی، بدلمنې [بدکارې] اوبې اعتبارہ ښځې سره نکاح کول ددين دنيا دواړو تباهی ده، ددې نه ځان ساتل پکاردی، په دې آيت کښې د [اهلِ کتابو] دقيدنه، په اجماع دامت سره دا ثابته شوه چه کوم غير مسلم [په اهلِ کتابو] کښې داخل نه دی دهغوئ ښځو سره نکاح حلال نه دې،

په تيرشوی بيان کښې دا واضح کړې شوچه دموجوده زمانې دغير مسلم فرقو، ډلو او جماتونو څخه يو اخې يهود او نصاری په [اهلِ کتابو] کښې حسابيږی، آتش پرست، بت پرست، هندوان، سکهان، آريه، بده ، شيعه ، بريلوی ، قاديانی پرويزی وغيره هيڅ يو فرقه په دې کښې داخل نه دی ولې چه دا خبره وړاندې صفا کړې شويده چه اهل کتاب به هغه خلق وی چه د داسې کتاب منونکی او په هغې دعمل کولو دعويدار وی چه دقرآن او سنت دنصوصونه دهغې آسمانی کتاب کيدل او وحی الهی کيدل ثابت شوی وی او هغه په دې زمانه کښې يو اخې تورات او انجيل ځکه کيدې شی چه ددې منونکی څه قومونه دنيا کښې موجود دی [زبور] او دحضرت ابراهيم ﷺ صحيفې، نه چرته په دنيا کښې موندې شی او نه ئې څه قوم دتابعدارئ کولو دعوی لری، ويد، ګرنتهه، يا زردشت وغيره چه په دنيا کښې ئې ځنې قومونه مقدس ګڼړی، په څه شرعی

[1]) التفسير المظهری: ج ٣، ص ٢١

[2]) أحكام القرآن للجصاص، سورة المائدة، باب نكاح الاماء: ج ٢، ص ٣١٠، والتفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ٣، ص ٢١

[3]) التفسير المظهری، بحواله بالا۔

Scanned with Ca

دلیل سره ددې خبرې هیڅ ثبوت نه لري چه دا ګني [آسماني کتابونه] یا [وحی الهی دي] دا امکان او احتمال ددې ثبوت نشي جوړیدې چه د [بده مت کتاب] وید، یاګرنتهه وغیره د [زبور] او [صحف ابراهیم] بدل شوې صورت کیدې شي، په دې بنا، په اجماع د امت سره ثابته شوه چه مسلمانانو لره یوائې دیهودو او نصاراؤ زنانؤ سره نکاح کول حلال دي، دبل هیڅ کافرقوم زنانؤ سره ئې نکاح ترهغه وخته حلال نه دې چه هغوئ مسلماناني شوی نه وي، چنانچه د ﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ﴾ هم دغه مطلب دې. او ددې معنی داده چې مشرکو زنانؤ سره تر هغه وخته پورې نکاح مه کوئی تر کومې چې اسلام کښې داخلې نشي. او د اهل کتابو نه علاوه نور ټول قومونه په مشرکات کښې داخل دي.

غرض دا چه په قرآن کریم کښې دوه آیتونه په دې مسئله کښې راغلی دي، په ① یو کښې دا دي چه مشرکو زنانؤ سره د مسلمان سړي ترهغې نکاح کول حلال نه دي چه مسلماناني شوی نه وي، او ② د سورت مائده ددې آیت نه معلومه شوه چه اهل کتابو زنانؤ سره د مسلمان سړي نکاح کول حلال دي.

ددې وجې نه جمهورو علماؤ رحمهم الله صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعینو رحمهم الله د دواړو آیتونو مدلول او مفهوم دا اوټاکلو چه په اصولی ډول غیرمسلمه زنانه سره د مسلمان نکاح کول پکار نه دي، لیکن د سورت مائده په دې آیت سره اهل کتاب زنانه ددې عموم نه اوویستلې شوې، لهذا د یهودو او نصاری زنانؤ نه سوا دبل کافرقوم زنانؤ سره ترهغې د مسلمان سړي نکاح نشي کیدې چه دغې زنانؤ اسلام نه وی راوړې،

اوس پاتې دا مسئله شوه چه دځنې صحابه کرامو رضي الله عنهم په نزد دا هم نه رواکیږي چه یو مسلمان سړې یهودی یا نصرانی زنانه سره نکاح اوکړي، چنانچه د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما هم دا مذهب دی دلیل ئې دا دې چه هرکله الله تعالی په قرآن کریم کښې دا ﴿وَلَا تَنْكِحُوا الْمُشْرِكٰتِ حَتّٰى يُؤْمِنَّ﴾ اوفرمائیل نو ددې نه به زیات شرک بل کوم یووی چه عیسی علیه السلام ابن مریم یا بل دخدائ بنده خپل پروردګار او خدائې اوبولی؟ [احکام القرآن جصاص]،

یو ځل میمون بن مهران، د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه سوال اوکړو چه چونکه مونږه په داسې یو ملک کښې اوسیږو چرته چه اهل کتاب زیات اوسیږي، نو آیا، مونږه د دوئ زنانؤ سره نکاح کولې شو او د دوئ ذبح کړې ښاروې وغیره خوړې شو؟ حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ورته په جواب کښې دغه دوه آیتونه اولوستل، ① یو هغه چه پکښې مشرکانو زنانؤ سره نکاح کول حرام ګرځولې شویدی او ② بل دا آیت د سورت مائده چه پکښې اهل کتابو زنانؤ سره دنکاح حلالوالې بیان شویدې[1]. میمون بن مهران اووئیل چه دا دواړه آیتونه خوزه هم په قرآن کریم کښې لولم او پرې پوهیږم، خو سوال مې دا دې چه ددې دواړو دمخې، مالره شرعی حکم څه دې؟ ددې په جواب کښې بیا هم حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما دغه دواړه آیتونه اولوستل او د خپل اړخ نه ئې ورته بل هیڅ اونه فرمائیل، چه مطلب تر دامت علماؤ رحمهم الله دا واغستو چه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په دې

[1]) أحكام القرآن للجصاص تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۳۳٦

Scanned with Ca

تسلي نه لرله چه يو مسلمان لره کتابي زنانه سره نکاح کول حلال شي([1])،

جمهورو صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله به اګرچه دقرآن کريم له مخې اهلِ کتاب زنانوسره في نفسه نکاح کول حلال بلل ليکن مکروهه به ئې ګنړل ولې چه په تجربې سره ثابته شويده، چه پخپله دغه مسلمان ته، بال بچ ته ئې، بلکه ټول مسلمان امت ته ددې نه سختې خرابئ، نقصانونه او زيانونه راولاړيږي،

جصاص رحمه الله په [احکام القرآن] کښې دشفيق بن سلمه رضي الله عنه په روايت نقل کړيدي چه هر کله حذيفه بن يمان رضي الله عنه مدائن ته اورسيدو، نو هلته ئې د يوې يهودي زنانه سره نکاح اوکړو، چه حضرت عمر رضي الله عنه پرخبرشوورته ئې د طلاق ورکولو دپاره خط وراوليږلو، حضرت حذيفه رضي الله عنه په جواب کښې اوليکل، آيا، مادپاره داحرامه ده؟ حضرت فاروق اعظم رضي الله عنه ورته په جواب کښې اوليکل چه [زه خوورته حرام نه وايم ليکن ددغې خلقوپه زنانوکښې عموماپاک لمنې زنانه نه وي، خطره مې ده چه په دغې ذريعه ستاسو کورنئ کښې هم بيحيائي اوبدکاري داخله نشي]([2])،

امام محمدبن حسن رحمه الله په [کتاب الاثار] کښې داواقعه، په روايت دامام ابی حنيفه رحمه الله داشان نقل کړيده چه په دويم ځل دحضرت عمر رضي الله عنه دخط الفاظ، چې حضرت حذيفه رضي الله عنه ته ئې اوليکلو: ﴿اعزم عليك ان لاتضع کتابي حتى تخلى سبيلها فاني اخاف ان يقتديك المسلمون فيختاروانساء اهلِ الذمة لجمالهن وکفى بذلك فتنة للنساء المسلمين﴾،

زه قسم درکوم چه زمادا خط چه خپل لاس نه ايږدې نودهغې نه وړاندې دې له طلاق ورکړه ولې چه خطره مې ده چه نورمسلمانان به ستاسو په پل دروانيدوپه وجه کتابي ښځولره دهغوئ دښائيست اوښکلا له کبله دمسلمانانوښځونه غوره اوګنړي چه مسلمانانو ښځودپاره به ډيرلوئې مصيبت جوړشي.

ددې واقعې په نقل کولوسره، حضرت محمدبن حسن رحمه الله اوفرمائيل چه حنفي فقهاؤ رحمهم الله داغوره ګنړي چه کتابي زنانوسره نکاح کول حرام اونه بولي ليکن دنورو خرابو راپيداکيدوله کبله ورته مکروهه اووائي، علامه ابن الهمام رحمه الله په [فتح القدير] کښې نقل کړيدي چه دحذيفه رضي الله عنه نه علاوه طلحه رحمه الله او کعب بن مالک رضي الله عنه ته هم دغسې واقعه راپيښه شوې وه، هغوئ هم دسورت مائده دآيت له مخې کتابي زنانو سره نکاح کړې ووچه حضرت عمر رضي الله عنه پرخبرشونوسخت خفه شواودطلاق ورکولوحکم ئې ورکړو [مظهری]([3])

دحضرت فاروق اعظم زمانه د[خير القرون] زمانه وه، په دغه وخت کښې دااحتمال نشوکيدې چه څوک يهودي يانصراني زنانه دچامسلمان په نکاح کښې راشي نودااسلام اود مسلمانانوپه خلاف به څه سازش اوکړي، په دغه وخت کښې صرف دومره قدرې خطره کيدې شوه چه هسې نه په دوئ کښې څه بدکاري وي اود مسلمانانوکورنئ پرخرابې اوګنده شي، ياد دوئ دښکلاپه وجه مسلمانانې ښځې په ځائ پاتې شي اومسلمانان هم دغه کتابي زنانه په نکاح سره اخلي چه مسلمانانوزنانوته ډيرزيان راولاړيدوباعث جوړيدې شي، بياهم فاروقي

[1]) أحکام القرآن للجصاص تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٣٣٦
[2]) أحکام القرآن للجصاص تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٣٢٧، ٣٢٨
[3]) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ٣، ص ٢١، وفتح القدير: ج ٦، ص ٢٤٣، فصل في بيان المحرمات.

Scanned with Ca

ﷺ نظر ډيرلرې پورې تلو ،دومره قدرې خرابی ئې هم مخې ته راوستې اودغه حضرات ئې په طلاق وركولو مجبوره كړل، كه اوسنئ نقشه دهغوئ ﷺ مخې ته وې نواندازه اوكړئ چه په دې باره كښې به دهغوئ ﷺ څه عمل وو؟.دغه خلق څوک چه ځان ته يهوديانصارى وائى په اوسنئ زمانه كښې دخپلونومونوسره په رجسټرونوكښې ليكلوسره ديهودى يانصرانى ليكلو فرمايش كوى،په هغوئ كښې ډيرخلق داسې دى چه دخپلې عقيدې له مخې،يهوديت او نصرانيت لره يولعنت ګڼړى،نه ئې په تورات،انجيل عقيده شته اونه په حضرت موسى ﷺ اوعيسى ﷺ باندې،هغوئ دعقيدې په لحاظ سره بې مذهبه اودهريان دى،صرف په رسمى ياقومى ډول،ځان ته يهوديان يانصرانيان وائى،

ښكاره خبره ده چه ددې خلقوزنانه،په هيڅ شان،مسلمانانولره حلالې نه دى،بالفرض كه هغوئ دخپل مذهب پابندې هم وى نوپه دې مسلمانې كورنئ د دوئ ورننويستل،ددين دنيا په لحاظ،ددغې كورنئ تباه كول دى،په دې لارچه په آخرى دوركښې دمسلمانانواواسلام په خلاف سازشونه اوشول اوليګادې كيږى ئې،هغې نه عبرتونه،روزانه زمونږمخې ته راځى چه يوې جينئ،ټول مسلمان قوم اوحكومت تباه كړو،داداسې څيزونه دى چه يوعقلمندانسان د دې خواته هم نه ورځى اګرچه حلال اوحرام دهغه په وړاندې هم نه وى،

غرض داچه دقرآن اوسنت اودصحابه كرامو ﷺ دكړو وړوله مخه،مسلمانانولره سخت ضرورى دى چه ددې زمانې كتابى زنانؤسره دنكاح كولونه بيخى ځان اوساتى په آخرد آيت كښې داهدايت هم كړې شويدې چه كتابى زنانؤلره كه ځان سره ساتل ضرورى وى،نو باقاعده نكاح ورسره كوئ،اودخپلې ښځې حيثيت سره ئې ساتئ،د دوئ دمهروغيره حقوق اداكوئ، هسې ئې ځان سره ديارانې په ډول ساتل اوپه ښكاره ډول بدكارى كول،داټول څيزونه حرام دى.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْٓا	اِذَا	قُمْتُمْ			
اې هغه كسانو	چې ايمان موراوړې دې	كله چې	اودرېږې تاسو			
اې دايمان خاوندانو! كله چې تاسو مونځ ته اودرېږئ [يعنى د مانځه اراده اوكړئ]						
اِلَى الصَّلٰوةِ	فَاغْسِلُوْا	وُجُوْهَكُمْ	وَاَيْدِيَكُمْ	اِلَى الْمَرَافِقِ		
مانځه ته	نواووينځئ	مخونه خپل	اولاسونه خپل	دځنګلوپورې		
نو خپل مخونه اووينځئ!.......... او خپل لاسونه ترځنګلو پورې اووينځئ						
وَامْسَحُوْا	بِرُءُوْسِكُمْ	وَاَرْجُلَكُمْ	اِلَى الْكَعْبَيْنِ ط			
اومسح اوكړئ	په سرونو خپلو	اواووينځئ تاسوخپلې پښې	دېړكو پورې			
اوپه خپلو سرونوباندې مسح اوكړئ! اوترګيټوپورې خپې اووينځئ						
وَاِنْ	كُنْتُمْ	جُنُبًا	فَاطَّهَّرُوْا ط	وَاِنْ	كُنْتُمْ	مَّرْضٰٓى
او كه چرې	وئ تاسو	په جنابت كښې	نو پاكى حاصله كړئ	اوكه چرې	وئ تاسو	بيماران
اوكه په حالت د جنابت كښې يئ! نو خپل ځانونه په ښه شان پاكوئ! .... او كه مريضان يئ						

أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ

یاوئ په سفر کښې | یاراغي | یوله تاسو نه | دبولو نه | یا جماع اوکړئ تاسو

اویاپه سفر کښې یئ | یا په تاسو کښې یوکس لوئې اودس ماتې (غټ بولو) ته لاړ شي | یا ښځو سره جماع .

النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا

دښځوسره | اوانه مومئ | اوبه | نو قصد اوکړئ | دخاورې پاکې | نو مسحه اوکړئ

اوکړئ | اوتاسو اوبه بیانهٔ مومئ | نو د پاکې خاورې نه کار واخلئ | ....اود هغې نه په

بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ ۚ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ

په مخونو خپلو | او په لاسونو خپلو | دهغې نه | نهٔ غواړي الله | چې مقرر کړي

خپلو مخونواولاسونوباندې مسح اوکړئ | ....الله ﷻ نه غواړئ چې تاسو په

عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ

په تاسو | څه تنګی | لیکن | غواړی | چې پاك كړي تاسو | او چې تمام كړي

مشقت کښې واچوی | هغه خودا غواړي چې تاسوپاک کړي | اوچه خپل نعمتونه په تاسو باندې

نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ۝ وَاذْكُرُوا

نعمت خپل | په تاسو باندې | دپاره ددې چې تاسو | اشکر ګزار جوړشئ | او یاد کړئ

پوره کړي | ....دې دپاره چې تاسو شکر اوباسئ | ....اود الله تعالی هغه

نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَاقَهُ الَّذِي وَاثَقَكُم

نعمت | دالله | په تاسو باندې | او وعده د هغه | هغه | چې محکموالي کړې دې الله ستاسوسره

نعمتونه یادکړئ | اکوم چې ئې په تاسو کړې دی | اوستاسو نه یئ چې کومه پخه وعده اخستې ده | هغه مه هیروئ |

بِهِ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ

په هغې | یعنی کله چې اووئیل تاسو | اوریده مونږ | اواومنله مونږ | اواویریږئ دالله نه | بیشکه الله

څه وخت چې تاسواووئیل چې مونږ واوریدل او مونږ اومنل | اوالله ﷻ نه ویره کوئ | او الله ﷻ

عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ۝

ښهٔ عالم دې | په رازونو د زړونو |

دزړونو په پټوخبروهم خبر دې |

آسان ترجمه قرآن: اې د ایمان خاوندانو ! چه کله تاسو مونځ د پاره پاڅئ نو خپل مخونه، او لاسونه ترڅنګلو پورې ووینځئ او مسح وکړئ دخپلو سرونو، اوخپلې پښې (هم) ګیټو پورې (ووینځئ) اوکه تاسوپه حالت دجنابت کښې یئ نو خپل ټول بدن (د غسل په ذریعه) ښه پاك كړئ. او كه تاسو ناجوړه (بیمار) یئ یا په سفر یئ یا تاسو نه څوك د اودس ماتې نه راشي ، یا تاسو د ښځو سره یوځایوالې کړې وي او تاسو ته اوبه ملاؤ نه شي نو پاکې خاورې سره تیمم وکړئ ، او د خپلو مخونو او لاسونو دې (خاورې سره) مسح وکړئ. الله په تاسو څه تنګوالې نه غواړي لیکن دا غواړي چه تاسو پاك كړي ، او دا چه تاسو باندې

Scanned with Ca

خپل نعمت پوره کړي، دې د پاره چه تاسو شکر گذار جوړ شئ الله چه په تاسو کوم نعمت کړې دې هغه او هغه وعده یاده کړئ چه تاسو نه ئې اخستې ده. کله چا تاسو وئیلي وو چه "مونږ (دالله احکام) آوریدلي دي او د هغه تابعداري مو قبوله کړي ده" دالله نه ویریږئ یقیناً الله د سینو په رازونو ښه پوهیږي.

د آیتونو ربط: مخکښې آیتونو کښې څه هغه احکام ذکر شوی وو چې دهغې تعلق د انسان دنیاوی ژوند اودخوراك څښاك سره دې. دې آیت مبارك کښې د عبادت متعلق څه شرعی احکام ذکر کولې شی.

خلاصه تفسير

﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَوٰةِ﴾ائې دایمان خاوندانو کله چه تاسو مونځ ته پاسئ [یعنی دمونځ کولو اراده اوکړئی اودغه وخت مو اودس نه وی] ﴿ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ ﴾ نو [اودس اوکړئی یعنی]خپل مخونه اووینځئ اوخپل لاسونه څنګلو سره [اووینځئ]﴿ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ ﴾ اوپه خپلو سرونوباندې [لوند] لاس اوګرځوئی اوخپلې پښے هم ګیټو سره [وینځئ] ﴿ وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا ﴾ اوکه تاسو دجنابت په حالت کښې یئ نو [دمونځ نه مخکښې] ټول بدن پاك کړئی ﴿ وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَىٰ ﴾ اوکه تاسو رنځوران یئ [او د اوبو استعمال تاسو دپاره نقصانی وی] ﴿ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ﴾ یا په حالت دَ سفرکښې یئ [اواوبه نه مومئی لکه چه اوس راروان دی دا دعذر حالت شو] ﴿ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ﴾ یا [که دمرض اوسفر عذر هم نه وی بلکه همداسې غسل یا اودس مومات شی په داسې شان لکه] په تاسو کښې څوك [د تشو یا ډکو متیازو د] استنجانه [د فارغیدو نه پس] راغلې وی [په کومې سره چه اودس ماتیږی] ﴿أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ﴾ یا [تاسو بیبیانوسره] نزدیکت کړې وی [په کومې سره چه غسل مات شوې وی او] ﴿ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً﴾ او [بیا په دې ټولو صورتونوکښې] تاسوته داوبو [دغسل موقع] حاصله نشی [که هغه دضرر په وجه وی اوکه داوبو نه ملاویدو په وجه وی] ﴿فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ مِنْهُ ﴾ نو [په دې حالتونوکښې] تاسو په زمکه باندې تیمم کوئی یعنی په خپلو مخونو اولاسونو ئے ګرځوئی په دغه زمکه [په جنس ئے لاس اووهئ] ﴿مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ﴾ الله ﷻ ته [ددې احکامو په مقررولو سره] دا منظور نه دی چه په تاسو څه تنګی راولی [یعنی داورته منظور دی چه په تاسو څه تنګی پاتې نشی چنانچه په بیان شوو احکامو کښې خاص کر اوبه ټولو شرعی احکامو کښې عام طور دآسانتیا او ښیګړې ښکاره لحاظ کول سرګند دی] ﴿ وَلَٰكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ﴾ لیکن الله ﷻ ته دا منظور دی چه تاسو لره پاك او صفا اولری [په دې وجه ئے دطهارت قواعد او طریقے جاری کړی اوپه څه یوه طریقه باندې بس والئ اونه کړې شو چه که هغه نه وی نوطهارت یعنی پاکی به نه وی لکه یواځې اوبه یئ پاکوونکې مقرر کړې وے نوداوبو د نشتوالی په وجه به پاکی نشوه حاصلیدے، دبدنونو پاکی خوخاص دطهارت [پاکې] په احکامو کښې ده اود زړونو پاکی په ټولو عبادتونوکښې عامه ده نودا پاکی راوستل دواړو لره شامل دې اوکه دا احکام نه وې نو هیڅ پاکی به نه حاصلیدله] ﴿ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ﴾ اودا [ورته منظور دی] چه په تاسو باندې خپل پوره انعام اوکړی [په دې وجه ئے احکام مکمل کړل چه په هر حال کښې بدنی اوقلبی طهارت

پاکې حاصله شي چه نتيجه ئے رضا او نزديکت دې او دټولو نه لوئې نعمت دې] ﴿ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُوۡنَ۝ ﴾ دپاره ددې چه تاسو [ددغې مهربانئی] شکر ادا کړئی [په شکر کښې فرمانبرداری کول هم داخل دی] ﴿ وَاذۡكُرُوۡا نِعۡمَةَ اللّٰهِ عَلَيۡكُمۡ ﴾ اوتاسوخلق د الله ﷻ انعام لره چه په تاسو شوې دے ياد کړئی [چه په کښې لوئې انعام دادې چه ستاسو دکاميابئ طريقے ئے ستاسو دپاره جاری کړې] ﴿ وَمِيۡثَاقَهُ الَّذِيۡ وَاثَقَكُمۡ بِهٖۤ ﴾ اودهغه هغه لوظ هم [ياد کړئی] چه د هغې ئے تاسو سره غوټه کول کړی دی ﴿ اِذۡ قُلۡتُمۡ سَمِعۡنَا وَاَطَعۡنَا ﴾ ولې چه تاسو [دا په ځان لازم کړی هم وو چه د لوظ اخستلو په وخت تاسو] وئيلی وو چه مونږ [دغه احکام] واوريدل او اومومنل [ځکه چه داسلام راوړلو په وخت هر څوك ددې مضمون لوظ کوی] ﴿ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَلِيۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ۝ ﴾ اودالله ﷻ [دمخالفت] نه ويريږئ بيشکه الله ﷻ د زړونو دخبروپوره خبر لری [په دې وجه چه څه کار کوئی په هغې کښې اخلاص اواعتقاد لرل هم پکار دی، صرف د منافقانو پشان منل کافی نه دی مطلب دا چه په دې احکامو کښې اول خوهم ستاسو نفع ده،بيا تاسو خپل سر اينبے دې بيا په مخالفت کښې يئ ضرر دے ددې وجوهاتو په وجه فرمانبرداری کول ضروری شو او هغه هم د زړه نه کول پکاردی ورنه دنافرنانئی پشان به وی].

<table>
<tr><td>يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ   اٰمَنُوۡا   كُوۡنُوۡا</td></tr>
<tr><td>| ائې هغه کسانو| چې ايمان مو راوړې دې| اوسيږئ</td></tr>
<tr><td>| ....ائې دايمان خاوندانو ! دالله دپاره</td></tr>
<tr><td>قَوّٰمِيۡنَ   لِلّٰهِ   شُهَدَآءَ   بِالۡقِسۡطِ ۫   وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ   شَنَاٰنُ</td></tr>
<tr><td>محکم ولاړ|دپاره دالله| ګواهی کونکی| په انصاف سره|اونهٔ دی کړی باعث تاسو | دشمنی</td></tr>
<tr><td>په سمه لاړ قائم اوسئ | او په انصاف سره ګواهی ورکوئ | اودیوې ډلې دشمنی دې تاسو</td></tr>
<tr><td>قَوۡمٍ   عَلٰٓى   اَلَّا تَعۡدِلُوۡا ؕ   اِعۡدِلُوۡا   هُوَ   اَقۡرَبُ   لِلتَّقۡوٰى ۫</td></tr>
<tr><td>ديو قوم | په دې خبره | چې اونهٔ کړئ انصاف تاسو | انصاف کوئ| دا انصاف | زيات نزدې دې | تقوی ته</td></tr>
<tr><td>په ظلم کولو باندې آماده نکړی | هميشه انصاف کوئ | ....داکار پرهيزګاری ته ډيرنزدې دې</td></tr>
<tr><td>وَاتَّقُوا اللّٰهَ ؕ   اِنَّ اللّٰهَ   خَبِيۡرٌۢ   بِمَا   تَعۡمَلُوۡنَ۝   وَعَدَ اللّٰهُ</td></tr>
<tr><td>اواوويريږئ دالله نه | بيشکه الله | خبردار دې | په هغو عملونو| چې کوئ ئې تاسو | وعده کړې ده الله</td></tr>
<tr><td>اوالله ﷻ نه ويريږئ | بيشکه الله ﷻ ستاسو دټولواعمالونه خبر دې |.................الله هغه خلقو سره</td></tr>
<tr><td>الَّذِيۡنَ   اٰمَنُوۡا   وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ۙ   لَهُمۡ   مَّغۡفِرَةٌ</td></tr>
<tr><td>دهغه کسانو سره| چې ايمان راوړی | او عمل اوکړی نيک| دې دهغوئ دپاره | مغفرت</td></tr>
<tr><td>چې ايمان ئې راوړې دې | او نيک عملونه کوی دبخښنې.....................او دلوئې بدلې</td></tr>
<tr><td>وَّاَجۡرٌ   عَظِيۡمٌ۝   وَالَّذِيۡنَ   كَفَرُوۡا   وَكَذَّبُوۡا   بِاٰيٰتِنَاۤ   اُولٰٓئِكَ</td></tr>
<tr><td>اوبدله | لويه |اوهغه کسان| چې کفر ئې اوکړوا اودروغ ئې اوګڼړل|آيتونه زمونږ| دغه کسان</td></tr>
<tr><td>وعده کړې ده | .... اوچا چې انکار کړې دې | اوزمونږ ايتونه ئې دروغ ګڼړلی دی |دغه کسان</td></tr>
</table>

Scanned with Ca

اَصۡحٰبُ الۡجَحِیۡمِ۝
ملګري د دوزخ دي ا
جهنميان دي ا

آسان ترجمه قرآن: اې د ايمان خاوندانو ! داسې جوړ شئ چه (دالله د احکامو پابندئ ته) هر وخت تيار يئ. (او) د انصاف ګواهي ورکونکي يئ او د يو قوم دښمنئ دِ تاسو لره په دې خبره آماده نه کړي چه تاسو ناانصافي وکړئ د انصاف نه کار واخلئ هم دا طريقه ډيره نزدې ده پرهيزګارئ ته او الله نه ويريږئ الله يقيناً ستاسو د ټولو کارونو نه خبر دار دې، کومو خلقو چه ايمان راوړې دې او نيک عمل ئې کړې دې الله د هغوی سره وعده کړې ده چه (آخرت کښې) هغوی ته به بخنه او لوئې ثواب ورکړې او کومو خلقو چه کفر کړې دې او ځمونږه نخښې ئې دروغژن کړې دي، هغوی دوزخ والا دي.

خلاصه تفسير

﴿يَاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا كُوۡنُوۡا قَوّٰمِيۡنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالۡقِسۡطِ﴾ اې د ايمان خاوندانو د الله ﷻ [د خوشحالولو] د پاره [د احکامو] پوره پابندي کوونکي [او د ګواهئ ورکولو موقعه چه راپيښه شي نو] د انصاف ګواهي ورکوونکي اوسيږئ ﴿وَلَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شَنَاٰنُ قَوۡمٍ عَلٰٓى اَلَّا تَعۡدِلُوۡا﴾ او ديوې خاصې ډلې دښمني دې په تاسو ددې باعث جوړ نشي چه تاسو [د هغوی په معاملاتو کښې] عدل اونکړئ [ضرور په هره معامله کښې] ﴿اِعۡدِلُوۡا هُوَ اَقۡرَبُ لِلتَّقۡوٰى﴾ عدل کوئی هغه [يعنی عدل کول] تقوی ته زيات نزدے دی [يعنی په دې سره به تقوی دار بللے شی] ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ او [تقوی کول په تاسو فرض دی ځکه حکم شويدے چه] د الله ﷻ [د مخالفت] نه ويريږئی [دا حقيقت دے د تقوی نو عدل چه دا فرض تقوی پرې اډانړه ده هغه به هم فرض وی] ﴿اِنَّ اللّٰهَ خَبِيۡرٌ ۢبِمَا تَعۡمَلُوۡنَ۝﴾ بيشکه الله ﷻ ته ستاسو د ټولو عملونو پوره اطلاع ده [پس مخالفينو ته د احکامو سزا ورکول څه لرے خبره نه ده] ﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمۡ مَّغۡفِرَةٌ وَّاَجۡرٌ عَظِيۡمٌ۝﴾ الله ﷻ داسې خلقو سره چه ايمان ئې راوړو او ښه کارونه يئ اوکړل وعده کړيده چه دوی لره بخښنه او زيات ثواب دې ﴿وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا وَكَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ الۡجَحِيۡمِ۝﴾ او کومو خلقو چه کفر اوکړو او زمونږ احکام ئې په دروغه اوبلل داسې خلق په دوزخ کښې اوسيدونکی دی.

معارف او مسائل

د بيان شوؤ دريؤ آيتونو څخه د ړومبی آيت مضمون تقريبا ، هم په دې الفاظو سره په سورت نسآء کښې تير شويدې، فرق دومره دې چه هلته ﴿كُوۡنُوۡا قَوّٰمِيۡنَ بِالۡقِسۡطِ شُهَدَآءَ لِلّٰهِ﴾ وو او دلته ﴿كُوۡنُوۡا قَوّٰمِيۡنَ لِلّٰهِ شُهَدَآءَ بِالۡقِسۡطِ﴾ دې ددې دواړو آيتونو په الفاظو کښې دوړانديوالی، روستوالی يوه باريکه وجه، ابوحيان رحمه الله په تفسير [بحر محيط] کښې ذکر کړيده، د هغې خلاصه داده،

انسان لره د عدل او انصاف نه منع کولو او په زور ظلم کښې داخته کولو، د عادت له لحاظ سره دوه سببونه کيږی، ① يو د خپل ځان، يا د خپلو دوستانو او عزيزانو طرفداری، او ② بل، چاسره دښمنی او عداوت، د سورتِ نسآء د آيت رخ ړومبی مضمون ته دې او د سورتِ مائده د دې آيت رخ بل مضمون ته دې،

لهذا په سورت نساء کښې دې نه پس ارشاد دې: ﴿وَلَوْ عَلَىٰٓ أَنفُسِكُمْ أَوِ ٱلْوَٰلِدَيْنِ وَٱلْأَقْرَبِينَ﴾ [په عدل او انصاف باندې ټينګ پاتې کيږئ]، که د دغه عدل او انصاف حکم، پخپله ستاسو د ځانونو، يا ستاسو د والدينو او د دوستانو عزيزانو خلاف کيږي]، او د سورت مائده دې آيت کښې د ذکرشوې جملې نه پس دا ارشاد دې: ﴿وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُوا۟ ۚ ٱعْدِلُوا۟﴾ [د يو قوم عداوت او دښمنى دې تاسو، دې ته تيارنکړي چه تاسو د انصاف خلاف کول شروع کړئ]،

په دې بنا، د سورت نسآء د آيت حاصل دا شو چه د عدل او انصاف په معامله کښې د خپل ځان، والدينو او عزيزانو هم پَروامه کوئ، که د انصاف حکم د دوئ خلاف وي نو هم په دغه خلاف ئې ټينګ پاتې شئ، او د سورت مائده د آيت خلاصه دا شوه چه د عدل او انصاف په معامله کښې ديو دښمن د دښمنئ په وجه تاسو له ښويدل پکار نه دي چه هغه ته د نقصان ورکولو په غرض، د انصاف نه په خلاف کولو پسې روان شئ.

هم دغه وجه ده چه د سورت نساء په آيت کښې ئې [قسط] وړاندې کړواووې فرمائيل: ﴿كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ بِٱلْقِسْطِ شُهَدَآءَ لِلَّهِ﴾ او د سورت مائده په آيت کښې ئې [لله] وړاندې کړواووې فرمائيل ﴿كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ﴾ اګرچه د انجام او نتيجې په اعتبار سره، دا دواړه عنوانونه، هم يو مقصد له اداکوي، ولې چه څوک په انصاف ټينګ وي نو هغه به خاص د الله تعالى د پاره ټينګ وي هغه به ضرور هم انصاف کوي ليکن کله چه د دغه تعلقاتو لحاظ خو هم خالص د الله تعالى د پاره دي، د دې وجې نه ئې هغلته د [قسط] لفظ وړاندې کړواودې اړخ ته ئې هدايت او کړو چه دغه لحاظ کول د الله تعالى د پاره نښئ کيدې، ولې چه د ا د عدل او انصاف خلاف کول دي او په سورت مائده کښې، د دښمنانو سره د عدل او انصاف حکم ورکول وو نو د لته ئې د [الله] لفظ وړاندې راوړو چه انسانى فطرت ئې د هغه ځائې نه اوويستو چرته چه هغه د جذباتو نه مغلوبه کيږي، چه هر کله تاسو د الله تعالى د پاره ټينګ يئ نو د هغې لازمى نيتجه دا ده چه د دښمنانو سره هم انصاف کوئ.

خلاصه ئې دا شوه چه د سورت نساء او سورت مائده په دواړو آيتونو کښې، د دوو څيزونو اړخ ته هدايات دي [١] يو دا چه که معامله د دوستانو سره وي او که د دښمنانو سره نو د عدل او انصاف په حکم قائم پاتې کيږئ، نه د څه تړون په بِنا په دې کښې څه کمزوري را تلل پکار دي او نه د څه دښمنئ او عداوت په بِنا، په دې دواړو کښې بل هدايت د دې هم شويدې چه د رشتينې ګواهئ ورکولو او د حقې خبرې د بيانولو نه ځکه ډډه مه کوئ چه فيصله کوونکو ته په حق او صحيح فيصله کولو کښې څه مشکلات را پيښ نشي،

د قرآن کريم په ډيرو آيتونو کښې، په دې مضمون باندې په مختلفو عنوانانو سره زور ورکړې شويدې او د دې تاکيدئې کړيدې چه خلق دې په رشتينې ګواهي ورکولو کښې کوتاهي اوسستي نه کوي او په يو آيت کښې خو، ښه په ډاګه د اسې صفا حکم ورکړې شويدې: ﴿وَلَا تَكْتُمُوا۟ ٱلشَّهَـٰدَةَ ۚ وَمَن يَكْتُمْهَا فَإِنَّهُۥٓ ءَاثِمٌ قَلْبُهُۥ﴾ [ګواهي مه پټوئ او څوک ئې چه پټوي د هغه زړه به ګناهګار وي] په دې سره رشتينې ګواهي ورکول واجب او پټول ئې سخته ګناه ثابته شوه.

ليکن د دې سره قرآن کريم په دې هم نظر لرلې دې چه خلقو له د رشتياو د ګواهئ نه بندونکې څيز په اصل کښې دا دې چه ګواهان بيا بيا عدالت ته په راتلو مجبوره کولې شي

او دو کیلانو عبث جرحې پر کولې شی، نتیجه ئې دا راوځی چه هر کله څوک ګواه جوړشی نوپه مصیبت کښې ښکیل شی، خپل کار روزګار نه پاتې شی او په مفتوجنجالونو کښې راګیر شی،

هم ددې کبله هرکله چه قرآن کریم رشتیا ګواهی کول لازمی او واجب او ګرځول نو دا ارشادئې هم اوفرمائیلو چه ﴿وَلَا يُضَآرَّ كَاتِبٌ وَّلَا شَهِيْدٌ﴾ [چه دیوې معاملې لیکونکی [منشیان] او ګواهان دې تزنولې او پاذابولې نشی]

په موجوده عدالتونو کښې او په دې کښې چلیدونکو مقدمو باندې چه نظر واچولې شی که ددې صحیح تحقیق اوکړې شی نو معلومه به شی چه د موقعې اورشتینی ګواهان ډیر کم پیښیږی، هوښیار، شریف بنده چه داسې څه واقعه وینی نو هغه ځائ نه ځکه تښتی چه هسې نه، په ګواهئ کښې ئې نوم راشی، پولیس، اخوا، دې خوانه د دروغو ګواهان راپیدا کړی. ددې نتیجه هغه کیدې شی چه شپه، ورځ په دې شان، لیدلې کتلې شی چه سلو کښې دپنځو شپږو مقدمو فیصله هم په حق او انصاف سره نشی کیدې، عدالتونه هم په دې ځکه مجبوره دی چه هغوئ خو په ګواهئ باندې فیصلې کوی،

په دې باره کښې بنیادی غلطئ ته چاهم نه دی کتلی، که ګواهانو سره د شرافت سلوک اوکړې شی او بیا بیا پریشان نکړې شی چه ښه او نیکان خلق به د قرآنی تعلیماتو په جوړد رشتیا ګواهی ورکولو نه پشا کیږی، لیکن کیږی داسې چه د څه معاملې د تحقیق په روم بئ مرقعه کښې پولیس ګواهانو له دومره پریشانه کړی چه بیا بیائې راغواړی او هغوئ دې ته تیار کړی چه خپل اولادته هم داوصیت پریږدی چه ګورئ، چرته د څه ګواهان جوړنشئ، بیا چه معامله عدالت ته ورشی، نو هلته بې شمیره تاریخونه بې هیسه ورکولې شی، هر تاریخ ته د حاضرید و سزا بیګناه ګواه ته هم ورکولې شی، دا انګریزپر یښولی اورده د عدالت کاروائی چې مونږ ته یې یادګار پریښې ده، زمونږه ټولې محکمې او عدالتونه ئې ګنده کړیدی، په پخوانی ساده طرز اوکړې شی، نو نه به مقدمې ډیرې ګنړې وی، نه به دومره اوږدوالی او نه به ګواهانو ته ګواهی ورکول څه مصیبت جوړیږی،

خلاصه دا شوه چه که د عدالتی کاروایئ او د ګواهانو د ګواهئ په باره کښې په قرآنی تعلیماتو باندې عمل او کړې شی نو ددې برکات به نن هم په خپلو سترګو او کتلې شی ولې چه قرآن کریم خو [١] یو خوا، داصل واقعې نه خبردار خلقو له رشتیا ګواهی ورکول لازم او واجب ګرځولی دی او بل اړخ ته ئې داسې هدایات ورکړیدی چه ګواهان دې هیڅ بې هیسه نشی پاذابولې، په کم ناکم وخت کښې د هغوئ بیان دې واغستې شی او فارغ دې کړې شی،

دامتحاناتو نمبرونه، سندونه، سرټیفکیټونه، دانتخاباتو ووټونه، ټول دګواهئ ورکولو په حکم کښې داخل دی: په آخر کښې یوې بلې خبرې ته مخه کول ضروری دی هغه داسې چه نن صبا خو ګواهی په عرف کښې صرف هغې ته وئیلې شی چه په مقدمو او جګړو کښې دیو حاکم او قاضی په وړاندې ورکولې شی، لیکن د قرآن او سنت په اصطلاح کښې د [شهادت] [ګواهئ] لفظ ډیر فراخ مطلب لری، مثلاً دا هم یو [شهادت] دې چه ډاکټر چاته دا سرټیفیکیټ ورکوی چه فلانې د دیوټئ کولو یادنوکرئ کولو جوګه دې یا نه دې؟ که دا په دروغه ورکړې شی نو د دروغو ګواهی او یوه لویه ګناه شوه، دغه شان په امتحاناتو کښې، د طالب علمانو په پرچو نمبرونه لګول هم ګواهی ده، په قصد یا په بې پروایئ سره که دغه نمبرونو کښې کمې زیاتې را وستې شو نو دا هم د دروغو ګواهی

Scanned with Ca

شوه چه حرام دي او سخته ګناه لري،

کوم طالب علمان چه د تعليم حاصلولو نه اوزګار شي [فارغه شي] هغوئ ته سند يا سرټيفيکيټ ورکولې شي، دغه هم ددې خبرې ګواهي ورکول دی چه فلانې بنده د فلانې کارکولو دپاره قابل اوجوګه دې، که هغه په واقع کښې داسې نه وی نو په دغه سرټيفيکيټ ياسند باندې ټول دستخط کوونکی په دروغه دګواهئ ورکولو مجرمان دی،

دغه شان داسمبلو او کونسلونو په انتخاباتو کښې چا اميدوار ته ووټ ورکول هم يو قسم شهادت [ګواهي] ده، په دې کښې چا ته دووټ ورکولو مطلب داګواهي ورکول دی چه زمونږ په نزد دغه اميدوار داستعداد، قابليت، او امانت په لحاظ سره هم دقومي نمائنده [ممبر] جوړيدو جوګه دې،

اوس په دې باندې ژور نظر واچوئ چه زمونږ دخومره نمائندګانو په باره کښې داسې قسم ګواهي رشتيا او صحيح ثابتيدې شي؟ عوامو خودې نه د کاميابئ او ناکامئ يوه لوبه جوړه کړيده، په دې وجه کله خو دهغوئ ووټونه په پيسو واغستې شي، کله دخه دوړې دباؤ په زورتر واغستې شي، کله د دوستئ، خيرخواهئ، خپلوئ او دبې سره اوناکاره وعدو په بنيادتر واغستې شي،

نور خولا څه کوې، دلوست، نيک خاوندان ديندار مسلمانان هم چه نااهله خلقو ته ووټ ورکوی نو دا نه محسوسوی چه د دروغو ګواهئ ورکولو له کبله دلعنت او عذاب مستحق ګرځی دنمائندګانو دپاره په انتخاباتو کښې دووټ ورکولو يو مطلب دقرآن کريم له مخې، شفاعت اوسفارش هم کيدې شي، چه دقرآن کريم په الفاظو کښې رومبې بيان شويدې لکه فرمائی:

﴿مَن يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُن لَّهُ نَصِيبٌ مِّنْهَا ۖ وَمَن يَشْفَعْ شَفَاعَةً سَيِّئَةً يَكُن لَّهُ كِفْلٌ مِّنْهَا﴾ يو سفارش کوونکی ته به دهغه چا دنيک عمل نه برخه ملاويږی چادپاره ئې چه نيک اورشتيا سفارش کړې وی اوڅوک چه ناکاره داسې سفارش کوی چه دهغې په ذريعه نااهل او خراب بنده لره دکاميابولو کوشش کوی نو هغه ته به دهغه دخرابو عملونو برخه ملاويږی]،

ددې نتيجه داده چه دغه اميدوار دخپلې کارکردګئ په پنځه کليزه دور کښې که غلط اوناروا کارکوی دهغې ټول وبال به ووټ ورکوونکی ته هم رسيږی،

دشريعت اسلامی له مخې دووټ دريم شان دوکالت دې، مطلب دا چه ووټ ورکوونکې چه چالره دخپلې نمائندګئ کولو دپاره وکيل جوړوی، نو دا يو اځې خپل ځان دپاره نه بلکه دټول قوم دحقوقو دپاره ئې نمائنده جوړوی، په دې بناکه چانااهل لره ئې په ووټ کامياب کړونو دټول قوم د حقوقو بربادولو ګناه به هم ددغه ووټ ورکوونکی په سروی،

خلاصه دا شوه چه زمونږ ووټ درې حيثيتونه لري، ① يو دشهادت [ګواهی] ② دويم دشفاعت [سفارش] او ③ دريم په مشترکه حقوقو کښې دوکالت، په درې واړو حيثيتونو کښې څنګه چه نيک، صالح او قابل بنده ته ووټ ورکول دلوئ ثواب حاصلولو باعث جوړيږی دغه شان نااهله يابيدينه بنده ته ووټ ورکول د دروغو ګواهی هم ده، او ناکاره شفاعت [سفارش] او ناجائز وکالت هم دې چه ددې بربادوونکې نتيجې به هم دده په عملنامه کښې ليکلې شی،

په دې وجه دهر مسلمان ووټ ورکوونکی فرض دی چه چاته دووټ ورکولو نه وړاندې ددې خبرې پوره تحقيق اوکړی چه دغه کس [چاته چه ووټ ورکوی] ددغې کارجوګه دې او که

نه دي، دیانتدار دي او که نه دي؟ خالص دغفلت او بې پروایئ له کبله دې بې هیسه لوئ لوئ
ګناهونه په ځان نه انباروی [نه کوره وی]

يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ

| ائې هغه کسانو | چې ایمان موراوړې دې | یادکړئ | احسان د الله

| ....ائې مومنانو ! د الله ﷻ هغه احسان یادکړئ | څه وخت چې

عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَنْ يَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ

په تاسو | چې کله اراده اوکړه | یو قوم | چې را اوږده کړي | تاسو ته | لاسونه خپل

یوے دلې په تاسو باندې د لاس پورته کولو اراده اوکړه ....

فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ وَعَلَى اللَّهِ

نو منع کړل الله | لاسونه دهغوئ | ستاسو نه | او اوویریږئ دالله نه | او خاص په الله باندې

نو الله دهغوئ لاسونه ستاسونه بند کړل | او الله ﷻ نه ویره کوئ | او په خاص الله ﷻ باندې دې

فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ۞ وَلَقَدْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ بَنِي إِسْرَائِيلَ

توکل پکار دې | مومنانو لره | او په تحقیق | اخستلې وه الله | پخه وعده | دنبی اسرائیلو نه

مومنان بهروسه اوکړي | .... او الله ﷻ د بنی اسرائیلونه پخه وعده اخستې وه

وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيبًا ۖ وَقَالَ اللَّهُ إِنِّي مَعَكُمْ ۖ

او اولیږل مونږه | دهغوئ نه | دولس | مشران | او اووئیل الله | بیشکه زۀ | ستاسو سره یم

او مونږ په دوی دولس سرداران مقرر کړې وو | او الله ﷻ ورته وئیلی وو | چې زه تاسو سره مل یم

لَئِنْ أَقَمْتُمُ الصَّلَاةَ وَآتَيْتُمُ الزَّكَاةَ وَآمَنْتُمْ بِرُسُلِي

که چرې | قائم اوساتو تاسو مونځ | او ورکړو تاسو زکاة | او ایمان راوړو تاسو | په رسولانو زما

که تاسو مونځ کوئ | .... او زکاة ورکوئ | او زما په پیغمبرانو ایمان راوړئ

وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا لَأُكَفِّرَنَّ

او مدد مو اوکړو دهغوئ | او قرض مو ورکړو | الله له | قرض | ښه | نوخامخا به زۀ لرې کړم

او دهغوئ مدد کوئ | او الله تعالی ته موقرض حسنه ورکړو | نو مونږ به ستاسونه

عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي

ستاسو نه | ګناهونه ستاسو | او خامخا به زۀ داخل کړم تاسو | داسې باغونو ته | چې بهیږی به

ستاسو ګناهونه اورژوؤ | او تاسو به داسې باغونو ته داخل کړو | چې دهغې لاندې به

مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ مِنْكُمْ

لاندې د هغې نه | نهرونه | نو هغه څوک | چې انکار ئې اوکړو | روستو ددې نه | ستاسونه

اڅلور قسمه) ولې بهیږی | اوچا چې ددې نه پس هم کفر اوکړو

Scanned with Ca

فَقَدْ	ضَلَّ	سَوَآءَ السَّبِيْلِ ﴿۱۲﴾	
نو په تحقيق	او ركه يې كړه	نيغه	لار

نويقينا هغه د نيغې لارې نه بې لارې شو.

اسان ترجمه قرآن: اې دايمان خاوندانو! الله چه په تاسو كوم نعمت كړې دې هغه ياد كړئ چه كله يو قوم اراده كړې وه چه په تاسو لاس اوچت كړي، نو الله تاسو ته دهغوي د نقصان رسولو نه دهغوي لاسونه بند كړل او (ددې نعمت شكريه دادة چه) چه دالله ويره په زړه كښې ساتلو سره عمل كوئ. او مؤمنانو ته صرف په الله باندې اعتماد پكار دې، او يقينًا الله د بني اسرائيلو نه وعده اخستې وه او دوى نه ئې دولس سرداران مقرر كړي وو، او الله وئيلي وو چه": څه تاسو سره يم كه تاسو مونځ قايم كړو او زكوة مو اداء كړو، او څما په پيغمبرانو مو ايمان راوړو، او عزت سره مو دهغوى ملګرتيا اوكړه او الله ته مو ښه قرض وركړو نو يقين وكړئ چه څه به ستاسو ګناهونه معاف كړم او تاسو به هغه باغونو ته داخل كړم چه د هغې د لاندې نهرونه بهيږي بيا كه ددې نه وروستو هم په تاسو كښې څوك كفر وكړي نو په حقيقت كښې هغه به د سمې لارې نه واوړي".

خلاصه تفسير

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ﴾ ائې دايمان خاوندانو دالله ﷻ انعام ياد كړئ چه په تاسو شوې دے ﴿اِذْ هَمَّ قَوْمٌ اَنْ يَّبْسُطُوْٓا اِلَيْكُمْ اَيْدِيَهُمْ﴾ كله چه يو قوم [يعنى دقريشو دكافرو داسلام په شروع كښې څه وخت چه مسلمانان كمزورى وو] په دې فكر كښې وو چه په تاسو [داشان لاسونه در اوږده كړى چه تاسو بېخى ختم كړى] ﴿فَكَفَّ اَيْدِيَهُمْ عَنْكُمْ﴾ نو الله ﷻ دهغوى قابو په تاسو باندې [دغه هومره] چلولو ته پرې نښودو [اوپه آخركښې تاسو غالب كړئ پس نعمت رایاد كړئ] او [په احكامو باندې عمل كولو كښې] ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ﴾ الله ﷻ نه ويرېږئ [چه ددغې نعمت دا شكريه ده] او [په آئنده كښې هم] ﴿وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾ ايماندارو لره په الله ﷻ باندې تكيه لرل پكاردى [چا چه دوړاندې نه ستاسو ټول كارونه جوړ كړيدى اوپه آئنده كښې هم آخر پورې امید لرئ په ﴿اتقوا الله﴾ سره ئې ويره وركړه اود توكل په حكم كولو سره ئې اميد وركړو چنانچه هم دغه دواړو عملونو په فرمانبردارئ كولو كښې مددګار دى] ﴿وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰهُ مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ﴾ اوالله ﷻ [دحضرت موسى ؑ په واسطه] بنى اسرائيلو نه [هم] لوظ اخستے وو [چه بيان ئې اوس اوس راتلونكې دے] ﴿وَبَعَثْنَا مِنْهُمُ اثْنَيْ عَشَرَ نَقِيْبًا﴾ او [ددغې لوظونو د تاكيد دپاره] مونږ دهغوى څخه [دهغوى دقبيلو د شمير په جوړ] دولس سرداران اوټاكل [چه دهرے يوې قبيلے خپل خپل سردار دې په خپلو لاندې خلقو دلوظونو په پوره كولو زور اچوى] ﴿وَقَالَ اللّٰهُ اِنِّيْ مَعَكُمْ﴾ او [په لوظ باندې دزيات زور اچولو په غرض هغوى ته] الله ﷻ داسې [هم] اوفرمائيل چه زه تاسو سره يم [ستاسو په ټولو ښو او بدو به زه خبردار اوسيږم مطلب دا چه لوظ ئې واخستلو بيائې په هغې باندې زور دپاسه زور وركړو ددغې لوظ دمضمون خلاصه داوه چه] ﴿لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ وَاٰتَيْتُمُ الزَّكٰوةَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِيْ﴾ كه تاسو دمونځ پابندى كوله او زكات مو ادا كولو او زما په ټولو رسولانو [چه په آئنده كښې به هم نوى نوى راځى] ايمان راوړلو او

Scanned with CamScanner

[د دښمنانو په مقابله کښې] ﴿ وَعَزَّرْتُمُوهُمْ وَأَقْرَضْتُمُ اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ د هغوی مدد موکولو او [د زکات نه علاوه د خیر ښیګړې په نورو ځایونو کښې د مال په لګولو مو] الله ﷻ ته په ښه شان [یعنی په اخلاص سره] قرض ورکولو ﴿ لَأُكَفِّرَنَّ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَلَأُدْخِلَنَّكُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ﴾ نو زه به ضرور ستاسو ګناهونه تاسو نه لرې کړم او ضرور به مو [د جنت] په داسې باغونو کښې داخل کړم چه د هغې [د محلونو] لاندې به نهرونه جاری وی ﴿ فَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴾ او چا څوک چه د دې [لوظ قو اخستلو] نه پس هم کفر اوکړو نو هغه بیشکه چه د سمې لارې نه لرې اووتلو.

معارف او مسائل

د سورت مائده په تیر شوی [۷] اووم آیت کښې الله تعالی د مسلمانانو نه د لوظ او قول اغستلو او د دوئ د منلو او غاړه ایښودلو داسې ذکر فرمائیلې دې ﴿وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ وَمِيثَاقَهُ الَّذِي وَاثَقَكُمْ بِهِ إِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَاتَّقُوا اللَّهَ﴾ [دا پوخ لوظ، د الله تعالی او د رسول الله ﷺ د فرمانبردارئ او په شرعی احکامو باندې د عمل کولو لوظ دې، چه اصطلاحی عنوان ئې د ﴿لا اله الا الله محمد رسول الله﴾ [دی او] [او هر کلمه ګو] مسلمان د دې پوخ لوظ پابند دې، د دې پسې آیت کښې د دغې پوخ لوظ څنې ډیر ضروری دفعات، یعنې خاص خاص شرعی احکام بیان کړې شویدی، په هغې کښې دوست، دښمن ټولو د پاره د عدل او انصاف د قائمولو اقتدار تر لاسه کولو نه پس د ښمنانو نه د بدل اغستلو د جذبې لرلو په ځائ، د انصاف او رواداریٔ تعلیم ورکړې شویدې، دغه میثاق، [پخه وعده] پخپله هم، د الله تعالی لوئ انعام دې ځکه د ﴿اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ﴾ نه شروع کړې شوې وې.

اوس د دې آیت شروع کیدل هم په ﴿اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ﴾ سره د ابښودل دی چه هر کله مسلمانانو د دغې پوخ لوظ [پخې وعدې]، قول پابندی اوکړه نو الله تعالی هغوئ ته په دنیا او آخرت کښې، قوت، پورته والې او لوړې درجې ورکړې او د دښمنانو په هره مقابله کښې ئې د دوئ امداد اوکړو، او د دښمن قابو راوستل ئې په دوئ پرنښودل،

په دې آیت کښې په خصوصی طور سره د دې ذکر دې چه دښمنانو بیا بیا د رسو الله ﷺ او د مسلمانانو د ختمولو، وژلو او تهس اونهس کولو منصوبې جوړې کړې او تیارئ ئې اوکړې، مګر الله تعالی ټول ناکام او ذلیله کړل لکه فرمائی، یو قوم په دې فکر کښې وو چه په تاسو لاس دراوږد کړی مګر الله تعالی د هغوئ لاسونه تاسو نه بند کړل]،

په مجموعی حیثیت سره خو په تاریخ اسلام کښې داسې واقعات بې شمیره دی چه د کفارو منصوبې، د الله تعالی په فضل سره خاوړې ایرې شوې، لیکن څنې خاص خاص لوئ لوئ واقعې، مفسرینو حضراتو رحمهم الله د دې آیت مصداق ګرځولی دی، مثلا په مسند عبد الرزاق کښې د حضرت جابر نه روایت دې چه:

[په یو جهاد کښې رسول الله ﷺ سره د صحابه کرامو رضی الله عنهم په یو پړاؤ باندې پاتې شو، صحابه کرام رضی الله عنهم بیل بیل، خواره واره شوا و په ځان له ځان له ځایونو کښې آرام کولو، رسول الله ﷺ یو اځې له یوې اونې [درختې] لاندې تیکاؤ شوا و خپله وسله ئې په دغه اونه [درخته] کښې زوړنده کړه، یو کلی وال [صحرائی] دښمن دغه موقعه غنیمت اوګڼړله سمدستی

ئې چپه او چلوله او راتلو سره ئې دهغوئ ﷺ په توره قبضه او کړه، دغه توره ئې راوښکله او ورته ئې او وئيل [من يمنعك منی؟] اخوک به دې زمانه بچ کوی؟]

رسول الله ﷺ او فرمائيل چه [الله تعالى] هغه کلی وال دښمن بيا دغسې او وئيل [من يمنعك منی ؟] هغوئ ﷺ بيا ،بې فکرئ سره اوفرمائيل چه [الله تعالى] دوه ،درې ځله دغسې خبرو اترونه پس ،دغيبی قدرت رعب هغه لره مجبوره کړو ،هغه توره ئې کاتئ [تيغ] کښې وراومنډله اوهلته ئې کيښوه ،دغه وخت هغوئ ﷺ صحابه کرام ﷺ راوبلل اودغه واقعه ئې ورته واورولـه هغه صحرائی تر څه وخته د نبی کريم ﷺ په خوا کښې ناست وو او رسول کريم ﷺ ورته هيڅ اونه فرمائيل ،[ابن کثير] [۱]،

دغه شان دځنې صحابه کرامو ﷺ نه ددې آيت په تفسير کښې منقول دی چه کعب بن اشرف يهودی يوځل رسول الله ﷺ لره خپل کورته راوبللو اودهغوئ ﷺ دشهيدکولو سازش ئې کړې وو ،الله تعالى هغوئ ﷺ لره په دغې سازش خبر کړو او په دې سره دغه سازش ناکامه شو [ابن کثير]

اوحضرت مجاهد ﷺ ،عکرمه ﷺ وغيره نه منقول دی چه يوځل رسوالله ﷺ ديوې معاملې دپاره ديهودوبن نضير خواته تشريف يوړو هغوئ رسول الله ﷺ لره په خبرو کښې مشغول کړو او بل اړخ ته ئې عمروبن جحش ته داکار حواله کړو چه دديوال په شا ،ديوال ته راوخيژی او يوغټ کاڼئ په هغوئ ﷺ باندې دپورته نه راګوذار کړی ،الله تعالى خپل رسول ﷺ په دې خبر کړو ،هغوئ ﷺ سمدستی ددغه ځائ نه راپورته شو ،[ابن کثير] [۲]

داټول واقعات ،خپل منځ کښې څه ټکراؤنه لری ،ټول ددې آيت شريف مصداق جوړيدې شی ،په ذکر شوی آيت کښې درسول الله ﷺ او دمسلمانانو دغيبی حفاظت دذکر کولو نه پس اوفرمائيلې شو ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۚ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُوْنَ﴾

په دې کښې يوارشاد خودادې چه داخداوندی انعام يوائې رسول الله ﷺ سره خصوصيت نه لری ، بلکه ددې امداد او غيبی حفاظت اصلی سبب ،تقوی او توکل دې ،کوم قوم ياکس چه په کومه زمانه او په کوم مکان کښې دا ،دوه صفتونه اختيار کړی ،دالله تعالى داړخه به دهغوئ هم دغسې ساتنه او مرسته کيږی ،چاڅه ښه ،وئيلی دی:

فضائے بدر پیدا کر ،فرشتے تیری نصرت کو
اتر سکتے ہیں گردوں سے قطار اندر قطار اب بھی

ادبدر پشان ماحول پيداکړه نوفرښتې ستاادامداددپاره ،اوس هم دآسمان نه ډلې ډلې راکوزيدې شی] ،

او داهم کيدې شی چه داجمله دړومبی آيتونو مجموعې سره اولګولې شی په کومو کښې چه زيات ناکاره دښمنانو سره هم دښه سلوک کولو اودعدل او انصاف حکم ورکړې شويدی ،نوبيابه په دې جمله کښې دې طرف ته اشاره وی چه داسې سختو دښمنانو سره دښه سلوک اودرواداری تعليم ورکول ، په ظاهره ،يوه سياسی غلطی اودښمنان زړور او باهمته کول دی ،په دې وجه په

---

[۱]) صحيح البخاری، کتاب الجهاد، باب من علق سيفه الخ: ج ۱، ص ۴۰۷، ۴۰۸، وتفسير ابن کثير: ج ۲، ص ۳

[۲]) تفسير ابن کثير تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۳

Scanned with Ca

دې جمله کښې مسلمانان په دې خبردار کړې شو چه که ستاتقوی داری او په الله تعالی باندې تکيه کول خپل عادت جوړ کړل نو دا به تاسو لره هيڅ کله مضر ثابت نشي، او دښمنان به د مخالفت د جرات موندلو په ځائې ددې په سبب ستاسو د اثرلاندې راشي او اسلام ته به نزدې شي، هم دا شان تقوی او د الله تعالی ويره داسې يو څيز دې چه انسان لره دلوظ او قول په پابندۍ باندې، په ظاهره او په باطنه مجبوروليې شي، چرته چه دا تقوی، يعنی دالله تعالی ويره نه وی هلته دلوظ او قول به هغه انجام وی چه نن صبا په عامو خلقو کښې ليدې شي، په دې وجه په تيرشوی کوم آيت کښې چه دميثاق [لوظ] ذکردې هلته دآيت په آخر کښې ﴿وَاتَّقُوااللّٰهَ﴾ فرمائيلې شويدی او دلته بيادوباره اوفرمائيلې شو، داشان په دې پوره آيت کښې دې اړخ ته هم اشاره کړې شويده چه دمسلمانانو فتح او امداد صرف د ظاهری سامان دوجې نه نه وی بلکه ددې اصل طاقت راز په تقوی، او توکل کښې پټ دې،

په دې آيت کښې، مسلمانانو نه دلوظ او قول اغستو، او ددې په پوره کولو باندې د دنيا او آخرت دبيش قيمته نتيجو ذکرکولو نه پس، دمعاملې د دويم اړخ مخې ته راوړلو دپاره په دويم آيت کښې دا ښودلې شويدی چه داعهد و ميثاق اغستل يوائې مسلمانانو سره مخصوص نه دی بلکه ددې نه وړاندې دنورو امتونو نه هم داقسم پاخه لوظونه اغستې شوی وو، خو هغوئ په دې پوره اونه ختل، لهٰذا په هغوئ باندې قسما قسم عذابونه راوستې شو، الله فرمائی چه دبنی اسرائيلو نه هم يو عهد [لوظ] اغستې شوې وو، او دهغوئ نه دلوظ اغستو دا صورت اختيار کړې شوې وو چه دبنی اسرائيلو ټول قوم نه کوم کښې چه دولس خاندانونه وو، دهر خاندان په سريو يو سردار، ددې ذمه دار داسې اوګرځولې شو چه دې او دده ټول خاندان به ددغې ميثاق الهی پابندی کوی او په داسې شان دغه دولسو سردارانو دپوره قوم بنی اسرائيلو ذمه واری واغسته، د دوئ ذمه دا وه چه پخپله به هم ددغې ميثاق [لوظ] پابندی کوی او په خپل خاندان به ئې هم پابندی کوی، دلته دا خبره هم ديادلرلو جوګه ده چه دعزت او فضيلت په معامله کښې داسلام اصل اصول خودادی چه:

بنده عِشق شدی، ترکِ نسب کُن جامی ... که درین راه فلان بن فلان چیزے نیست

[اې جامی: چه عاشق شوې نو نسب پسې مه ګرځه، ځکه چه په دې لاره کښې فلانې خوئ دفلانی هيڅ حيثيت نه لري]،

رسول الله ﷺ دحجة الوداع په تاريخی خطبه کښې په پوره وضاحت سره ددې اعلان کړيدې چه په اسلام کښې دعربو، دعجمو، دتور پوستو او سپين پوستو داونچ، نيچ ذات هيڅ اعتبار نشته، ځوک چه په اسلام کښې داخل شو هغه دټولو مسلمانانو ورور شو، دحسب، نسب، درنګ، وطن او د ژبو بيلتونونه چه دجاهليت بتان وو. دا ټول اسلام مات کړل، ليکن ددې معنی دا نه ده چه په انتظامی معاملاتو کښې دنظم قائم لرلو دپاره هم دخاندانی خصوصياتو لحاظ د نشی کولې

دافطری خبره ده چه ديو خاندان خلق دنورو خلقونه زيات دخپل خاندان په پيژندګلو باندې اعتبار کولې شی، او دغه کس هم ځکه دخپلو خلقو دجذباتو او خيالاتو لحاظ ساتلې شی چه دهغوئ دنفسياتو نه واقف وی، دبنی اسرائيلو دولسو خاندانونو ذمه داران چه دولس سرداران اوګرځولې شو نو ددې بناهم په دغې حکمت عملی وه،

ددي انتظامی ښیګړي او د پوره تسلئ اوزړه ساتني لحاظ هغه وخت هم او کړي شو کله چه بنی اسرائیل د اوبو د نیشت والی په وجه سخت پریشانه وو، حضرت موسی ؑ دعا او کړه د الله تعالی په حکم هغوئ ؑ خپله همسا په یو کاڼړي او وهله، الله تعالی دغه کاڼړی نه دولس چینې، دولسو خاندانونو دپاره بیلې بیلې جاري کړې،

په سورت اعراف کښې قرآن کریم ددې لوئ احسان ذکر داسې فرمائیلې دي:

﴿وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا﴾ مونږ او ویشل د هغوئ دولس خاندانونه په دولسو ډلو کښې،

﴿فَانْۢبَجَسَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا﴾ بیا راوخټکیدې د کاڼړي نه دولس چینې،

د [۱۲] دولسو شمیر هم څه عجیبه خصوصیت او مقبولیت لري،

کله چه د مدینې منورې انصار رسول الله ﷺ ته دې بلنې ورکولو دپاره راغلل چه هغوئ ﷺ دې مدینې منورې ته تشریف راوړي، هغوئ ﷺ چه دې باره کښې تر دبیعت په ذریعه لوظ اغستلو نو دغه وخت هم د انصارو دولسو سردارانو د رسول الله ﷺ په لاس مبارک باندې ددې بیعت او کړو، درې سرداران په کښې د [اَوس] قبیلې او نهه سرداران په کښې د [خزرج] قبیلې وو، [تفسیر ابن کثیر]([1])

د صحیحینو ﷫ په حواله د حضرت جابر بن سمره ؓ په روایت رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د خلقو کار او انتظام به ترهغه وخته پورې چلیږي ترڅو چه دولس خلیفه ګان به د دوئ مشری کوي([2])، امام ابن کثیر ﷫ ددې روایت په نقل کولو سره اوفرمائیل چه ددې حدیث د هیڅ لفظ نه دا نه ثابتیږي چه دا دولس امامان به پرله پسې یو بل پسې وي بلکه د دوئ ترمینځه فاصله هم کیدې شي چنانچه څلور خلیفه ګان حضرت ابوبکر ؓ، حضرت عمر ؓ، حضرت عثمان ؓ، حضرت علي ؓ یو بل پسې خلیفه فکان شوی ووا و ورپسې څه موده پس بیا، حضرت عمر بن عبد العزیز ﷫ د امت په اجماع سره پنځم خلیفه برحق او منلې شو([3])،

خلاصه د کلام دا شوه چه د بنی اسرائیلو نه د لوظ، قول اغستو دپاره، الله تعالی د هغوئ د دولسو خاندانونو دولس سرداران ذمه داران او ګرځول، او هغوئ ته ئې اوفرمائیل: ﴿اِنِّيْ مَعَكُمْ﴾ [زه تاسو سره یم] مطلب دا دې که تاسو د لوظ، قول پابندي او کړه، او په نورو باندې د دې د پابندئ کولو قصد مو او کړو نو زما لاس امداد به تاسو سره وي، په دغه آیت کښې ورپسې، ددغه، لوظ، قول څو دیرې ضروري دفعې، د بنی اسرائیلو د لوظ ماتولو او په هغوئ باندې د عذاب الهی راتللو ذکر دې،

د میثاق د دفعو د ذکر کولو نه وړاندې ئې یو جمله د اارشاد او فرمائیله ﴿اِنِّيْ مَعَكُمْ﴾ دې کښې دوه خبرې ښودلې شویدی، یو دا چه که تاسو په میثاق باندې ولاړ [ټینګ] پاتې شوئ نو زما امداد به تاسو سره وی او تاسو به په هرقدم باندې د هغې نظاره کوئ، بله دا چه الله تعالی په هروخت او هرځائ کښې تاسو سره دې او د دغې میثاق سارنه کوی، ستاسو هیڅ قصد، اراده فکر، خیال، یا حرکت او عمل د هغه د علم نه بهرنه دی، هغه ستاسو د خلوتونو رازونه هم وینی آوري، هغه ستاسو د زړونو د نیتونو او ارادونه هم واقف دې، د میثاق [لوظ، قول] نه په خلاف کولو سره تاسو په هیڅ

---

[1]) تفسیر ابن کثیر: ج ۲، ص ۶۵

[2]) صحیح مسلم، کتاب الامارة، باب الناس تبع لقریش الخ: ج ۲، ص ۱۱۹، وصحیح البخاری، کتاب الأحکام، باب ج ۲، ص ۱۰۷۲

[3]) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۶۵

شان هم دهغه دګرفت نه نشئ خلاصیدي، دې نه پس دمیثاق ددفعاتو څخه دټولونه اول د [اقامت صلوة] ذکردي، بیاد[زکوة اداکولو] دې نه معلومه شوه چه دمونځ اوزکوة فرض، داسلام نه وړاندې دحضرت موسی ؑ په قوم باندې هم مقرر وو، اودنورو قرآنی اشاراتو اوروایاتونه ثابتیږي چه دافرائض یواځې بنی اسرائیلو په پورې خاص نه دی بلکه هر پیغمبراو په هرشریعت کښې همیشه مقررپاتې شویدی، دمیثاق دریمه دفعه داده چه دالله تعالی په ټولو رسولانو دې ایمان راوړی اودهغوئ په مقصد درشد اوهدایت کښې دې د هغوئ امداد کوی،

په بنی اسرائیلو کښې هرکله چه ډیررسولان راتلونکی ووځکه په خصوصیت سره ورته ددې تاکید اوکړې شو دعملیاتو [مونځ زکوة وغیره] نه دایمانیاتو درجه په رتبه کښې اګر چه وړاندې ده، مګر په میثاق کښې عملیات [مونځ زکوة] ځکه وړاندې ذکرکړې شوچه په دې باندې بالفعل عمل کول وو، راتلونکی رسولان خوبه بیاراځی، په هغوئ باندې ایمان راوړل اودهغوئ دامداد کولوخبره روستو کیدونکې وه ځکه داروستوبیان کړې شوه،

دمیثاق څلورمه دفعه داده ﴿وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ [تاسو الله تعالی ته په ښه شان قرض ورکوئ] دښه شان مطلب اخلاص دې، چه دنیوی غرض په کښې شامل نه وی، اودالله تعالی په لار کښې زړه پورې خیزخرچ کړی، ردی اوبیکاره څیزخرچ کولو سره څان نه خلاصوی، دالله تعالی په لارکښې خرچ کولوته دقرض وئیلو مطلب دادې چه څنګه قرض اداکول د بنده په ذمه واجب وی دغسې ددې اجر ورکول هم الله تعالی په خپله ذمه واجب کړیدی،

دفرض زکوة ذکرپه مستقل ډول سره دکولونه پس دلته د[قرض حسن] ذکرکول، دابنائی چه ددې نه مراد دزکوة نه علاوه نورخیراتونه دی، دې نه داهم معلومیږی چه مسلمان صرف په زکوة اداکولوسره دټولوذمه دارونه نشی خلاصیدې، ولې چه دزکوة نه علاوه نور مالی حقوق هم دمسلمان په ذمه لازم دی، چرته دمسلمانانوآبادئ کښې جومات نه وی هلته جومات آبادول اوچرته چه ددینی تعلیم ذمه داری حکومت نه اخلی هلته دهغې دپاره انتظام کول په مسلمانانوباندې لازم دی فرق صرف دومره دې چه زکوة [فرض عین] اودا [فرض کفایه] دی،

دفرض کفایه مطلب دادې چه څه مسلمانانودغه فرض اداکړل نودنورو مسلمانانو غاړه خلاصه شوه اوکه هیچاهم دا اونه کړل نوټول مسلمانان ګناهګارشو، نن صبادینی تعلیم اودهغې دپاره دارالعلوم او مدرسې ډیرزیات بې آسرې دی، په دې هغه څوک پوهیږی چه ددین د ضروری خدمت کولو په غرض ئې دغه کارته لاس اچولې وی، اکثرمسلمانان صرف دومره پوهیږی چه یواځې زکوة اداکول ددوئ په ذمه فرض دی اوسره ددې ډیرکم مسلمانان زکوة اداکوی، اداکول ئې په حساب نه وی یعنی پوره زکوة نه اداکوی، او کم کم پوره زکوة ادا کوونکی هم داګنړی چه ددوئ په ذمه هیڅ نه پاتې کیږی، که دجومات جوړولوضرورت شی نودوئ ورته دزکوة مال پیش کوی، دغه شان که ددینی مدرسوضرورت راشی نوهم ورته زکوة وروړاندې کوی حالانکه دافرض دزکوة نه علاوه دی چه دقرآن کریم دې آیت اونورو آیتونوهم داخبره په ښه شان ښکاره کړیده،

هرکله چه دمیثاق دفعات ئې بیان کړل، هغې نه پس ئې دااوښودل چه دمیثاق دپابندئ کولو جزا به داوی چه ستاسو کړی ګناهونه به معاف کړې شی اوجنتونو کښې به ساتلې شئ چرته چه به بې مثاله مزې اوراحتونه وی، په آخرکښې ئې داهم اوښودل چه ددې ټولو ډاګیز

Scanned with Ca

بیانونو او ارشاداتونه پس هم که چاکفر او سرکشي اختیار کړه نو هغه صفانیغه لار پرېښوه اودخپله لاسه دتباهۍ په کنده کښې ورګوذار شوۀ.

فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ

| نو په سبب | دماتولو دهغوئ | دپخې وعدې دهغوئ

| ....بیا فقط دوعدې دماتولو په وجه مونږ په دوئ

لَعَنّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً ۚ يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ

لعنت اوکړو مونږ په هغوئ | او اوګرځول مونږه | زړونه دهغوئ | سخت | ابدلوي هغوئ | خبره

لعنت اوکړو | او د دوی زړونه مو سخت کړل | انو اوس په توراة کښې تحریف کوی اکلمې دځائې نه

عَنْ مَّوَاضِعِهٖ ۙ وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا

دځایونو خپلو نه | او هیره کړې ده هغوئ | یوه حصه | دهغې نه | چې نصیحت شوې وۀ هغوئ ته

بې ځایه کوی | او چې کوم نصیحت ورته شوې وۀ | دهغې لویه حصه ئې هیره کړې ده

بِهٖ ۚ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِيْلًا

په هغې سره | او همیشه به ئې ته | چې خبرېږې به ته | په یو خیانت سره | دهغوئ نه | سوا د | الږو کسانو

او همیشه به ته ددوی په خیانتونو خبرېږې | ....مګر لږ کسان په کښې داسې دی چې [ددې عیب نه] بچ دی

مِّنْهُمْ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ۝

دهغوئ نه | نو معاف کړه | هغوئ | او مخ اوګرځوه | بیشکه الله | خوښوی | احسان کونکی

نو دوئ معاف کړه | اوسترګې پرې پټې کړه | بیشکه الله تعالی نیکان خلق خوښوی

وَمِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْآ اِنَّا نَصٰرٰٓى اَخَذْنَا مِيْثَاقَهُمْ

او دهغه کسانو نه | چې وئیلي وۀ هغوئ | چې بیشکه مونږه | نصاری یو | اخستلې وه مونږه | پخه وعده دهغوئ

[دغه شان] مونږ دهغې کسانو نه هم وعده اخستې وه | چې وئیل یې مونږ عیسایان یو

فَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۠ فَاَغْرَيْنَا

نو هیره کړه هغوئ | یوه حصه | دهغه سبق نه | چې نصیحت شوې وو هغوئ ته | په هغې سره | نو اوکرله مونږه

نو هغوئ د هغه تعلیم لویه حصه هیره کړه په کوم چې ورته نصیحت کولې شو | .... نو مونږ

بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۗ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ

په مینځ دهغوئ کښې | دشمنی | او بغض وکینه | د ورځې دقیامت پورې | او زر به | خبر ورکړی هغوئ ته

ددوئ په مینځ کښې ترقیامته پورې دشمنې او کینه واچوله | ....او ډیر زر به ورته

اللّٰهُ بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ۝

الله | په هغه کارونو | چې وو هغوئ | چې کول به ئې

الله ﷻ د دوئ د عملونو خبر ورکړی |

آسان ترجمه قرآن: بیا ددوی د وعدې ماتولو د وجې نه مونږ دوی د خپل رحمت نه لري کړل، او ددوی زړونه مو سخت کړل دوی خبرو لره دخپلو ځایونو نه لري کوي او د کومې خبرې چه دوی ته نصیحت شوې وو دهغې یو لویه حصه ئې هیره کړې ده دوی کښې د لږو خلقو نه علاوه د نورو روزانه د څه نه څه خیانت پته به تاته لګي. دې وجې نه (فی الحال) دوی معاف کړه اوچشم پوشۍ نه کار واخله. بې شکه الله احسان کوونکو لره خوښوی، اوکومو خلقو چه وئیلي وو چه مونږ عیسایان یُو هغوی نه (هم) مونږ وعده اغستې وه بیا د کوم څیز چه هغوی ته نصیحت شوې وو، دهغې یوه لویه حصه هغوی هیره کړه لو مونږ دهغوی مینځ کښې تر قیامته پورې دښمنې او بغض واچولو، او الله به ډیر زر هغوی لره خبر کړی چه هغوی څه کوی،

خلاصه تفسير

[ليکن بنی اسرائیلو دغه عهد مات کړو اود ماتولو نه پس ئې په قسماقسم سزا ګانو کښې ګرفتار شول لکه شکلونه یې وران شو او ذلیله شول.پس دا چه دالله دمهربانو او بخشیشونو نه پس اوشول] ﴿ فَبِمَا نَقۡضِهِمۡ مِّيۡثَاقَهُمۡ لَعَنّٰهُمۡ ﴾ نوصرف ددوی د وعدې دماتولو په وجه مونږ دوی دخپل رحمت [یعنی دهغې نشاناتو] نه لرے کړل [او هم دا حقیقت دے دلعنت] او [ددغې نشاناتو دلعنت ځنې دادی چه] ﴿ وَجَعَلۡنَا قُلُوۡبَهُمۡ قٰسِيَةً ۚ يُحَرِّفُوۡنَ الۡكَلِمَ عَنۡ مَّوَاضِعِهٖ ۙ ﴾ مونږ د هغوئ زړونه سخت کړل [چې دحق خبرې په هغه څه اثر نه کیږی او ددې سخت والی د آثارو نه دادی چې دغه خلق [یعنی ددوی ځنې علماء] کلام [دالله ﷻ یعنی تورات] لره دهغې [دالفاظو یا مطلبونو] دموقعو [ځایونو] نه بدلوی [یعنی لفظی یامعنوی بدلون په کښې راولی] او ددې اثر دا شو چې هغه خلق چې څه ورته په تورات کښې نصیحت کړې شوې وو ﴿ وَنَسُوۡا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوۡا بِهٖ ۚ ﴾ دهغې ځنې ئې خپله یوه لویه برښه [دفائدې چه پرې دعمل کولو په وجه به ورته نصیب کیدله] دلاسه اوویستله [ولې چه دوی به زیات مشق ددې کولو چه په هغه مضمونونو کښې به یې بدلون راوستو دکومو نه به چه د رسالت محمدیه ﷺ تصدیق کیدلو اوظاهره ده چه د ایمان نه به زیاته لویه برخه بله څه وی؟. غرض دا چه دلوظ په ماتولو سره پرې لعنت اوشو اود لعنت دکبله ئې زړونه سخت شو چه ددې له کبله بدلون راوستل او د بدلون راوستلو دکبله لویه برخه دلاسه ورکول ښکاره خبره ده] ﴿ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰى خَآئِنَةٍ مِّنۡهُمۡ ﴾ او [داسې هم نده چه په خپلو کړونے صبر کړې وے بلکه حالت دادې چه] تاسو ته هره ورځ [یعنی همیشه ددین په باره کښې] دڅه ناڅه [نوی] خیانت خبره په مخه کیږی کوم چه ددوی نه په مخه لګیا دے کیږی ﴿ اِلَّا قَلِيۡلًا مِّنۡهُمۡ ﴾ سوا ددوی د شو کسانو نه [چه مسلمانان شوی وو] ﴿ فَاعۡفُ عَنۡهُمۡ وَاصۡفَحۡ ؕ ﴾ نو تاسو دوی لره معاف کړئ اوپه دوی پښه راکاږئی [یعنی ترڅو چه شرعی ضرورت نه وی نو ددوی دغه ټکی: تورئ ښکاره کولو سره دوی لره مه شرموئ] ﴿ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الۡمُحۡسِنِيۡنَ ۞ ﴾ بیشکه الله ﷻ دښه معاملې خاوندانو سره محبت کوی [او بے ضرورت ئې نه شرمول ښه معامله کول دی]

﴿ وَمِنَ الَّذِيۡنَ قَالُوۡۤا اِنَّا نَصٰرٰٓى اَخَذۡنَا مِيۡثَاقَهُمۡ ﴾ اوکوم خلق چه [ددین د امداد کولو په دعوے سره وائی چه مونږ نصرانیان یو مونږه د هغوی نه دهغوی عهد [دیهودو دعهد اولوظ پشان] اخستلې وو ﴿ فَنَسُوۡا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوۡا بِهٖ ﴾ نوهغوی هم هغه څه چه ورته یئ [په انجیل وغیره کښې] نصیحت کړې شوې وو دهغې ځنے خپله یوه لویه برخه [دنفعے چه دعمل کولو په وجه به ورته

Scanned with Ca

نصیب کیده] دلاسه ورکړه [ولې کوم شے چه هغوی دلاسه ورکړو هغه توحید دې او ایمان راوړل دی په رسول الله ﷺ باندې چه حکم ئے هغوی ته هم شوې وو او ددې یوه برخه کیدل ښکاره خبره ده کله چه ئے توحید پریښو] ﴿ فَأَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ ﴾ نوموږ ددوی ترمینځه [په خپلو کښې]تر قیامته پورې بغض او عداوت واچولو[دا خودنیوی سزا شوه] ﴿ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللَّهُ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ ﴾او زر دې چې [په آخرت کښې کوم چه نزدے دے] په هغوی به الله ﷻ دهغوی کړه ضباط کړی [بیا به ورته سزا ورکړی].

معارف او مسائل

په آیت کښې داخبره ښودلې شویده چه بنی اسرائیلو، دخپلې بدبختئ په وجه، په دغه ډاګېزو هدایاتو غور اونه کړولو اودمیثاق مخالفت ئې اوکړونو الله تعالی دوئ لره په قسماقسم عذابونو کښې راګیر کړل.

په بنی اسرائیلو باندې د دوئ دبدعملئ اوسرکشئ په سزاکښې دوه قسمه عذابونه راغلل، یوقسم ظاهری اومحسوس وولکه [1] کانړی پرې اووریدل، یازمکه پرې بل مخ واړولې شوه، چه بیان ئې دقرآن کریم په ډیرو آیتونو کښې په مختلفو مقاماتو کښې راغلې دې، بل قسم عذاب معنوی اوروحانی دې، هغه دادې چه دسرکشئ په سزاکښې د دوئ زړونه اودماغونه بیکاره شول، دخیال، فکرکولواود پوهیدلوجوګه پاتې نشو، اودخپلو ګناهونوپه وبال کښې په نوروزیاتو ګناهونو کښې په مخه ښکیل کیدل، لکه فرمائی:

﴿فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِيثَاقَهُمْ لَعَنَّاهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوبَهُمْ قَاسِيَةً﴾ [مونږ، د دوئ دبدعهدئ اودلوظ، قول دخلاف کولوپه سزا کښې دوئ لره دخپل رحمت نه لرې کړل اود دوئ زړونه موسخت کړل چه اوس پکښې دهیځ خیزځائ پاتې نشو] درحمت نه دلرې والی اودزړونوسختوالی نه قرآن کریم په سورت مطففین کښې د [رَانَ] په لفظ سره تعبیرداسې کړیدې: ﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ مَا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾ [دقرآن د واضحو آیتونو او ښکاره نښانیانونه دانکاروجه داده چه د دوئ په زړونوباندې، د دوئ دګناهونوپه وجه زنګ پریوتې دې].

رسول الله ﷺ په یوحدیث کښې داسې فرمائیلی دی:

[انسان په اول کښې چه ګناه اوکړی نوپه زړه ئې یوتورداغ اولګی، دهغې خرابوالې ورته داسې محسوسیږی لکه چه په تکه سپینه جامه یوتورداغ اولګی او ورته ډیرېدښکاری که دده ورته مخه شوه اوتوبه ئې اوښکله، په آئنده کښې دګناه نه منع شونودغه واغ وران کړې شی، اوکه ده پروانه کوله بلکه نورګناهونه ئې ورپسې په مخه کول نودهرې ګناه په وجه په هغې کښې یویوتورداغ زیاتیږی تردې چه دهغه دزړه تختئ ددغه داغونوپه وجه بیخی تکه توره

---

[1]) رومبی ایډیشن کښې دې ځائې کښې عبارت داسې وو چې : لکه په دوئ باندې د وینې او چیندخانو وغیره باران اوشو یا پرې کانړی اوورولې شو الخ. ځینې اهل علم حضراتو دې طرفته توجه راکړځولې ده چې د وینې او چیندخانو عذاب په بنی اسرائیلو باندې نه وو راغلې ځکه ددې ځائې نه د وینې او چیندخانو ذکر حذف کړې شو. حضرت مصنف د طرفه احقر ته دداسې تصرفاتو اجازت وو.
احقر محمد تقی عثمانی ۸-۷-۹-۱۴۰ هجری

شي، دغه وخت دده زړه داسې شي لکه چه لوښې اړولې پروت وي هغې کښې چه څه واچولې شي سمدستي پرې راوځي پکښې نه تينګيږي، دغه شان دخير ښيګړې اونيکئ خبره دهغه په زړه کښې نه تيکاويږي، دغه وخت دده زړه داشان شي چه ﴿لايعرف معروفا ولاينكر منكرا﴾(۱)[نه څه نيکي، نيکي ګڼړي اونه څه بدي، بدي ګڼړي بلکه معامله برعکس وي چه عيب ورته هنرښکاري، بدئ لره نيکي اوګناه لره ثواب ګڼړل شروع کړي، په خپلې سرتيزئ اوسرکشئ کښې په مخه زياتيږي، دا، دده دګناه نغده سزاده چه ورته هم، په دې دنياکښې ملاويږي.

ځني لويوبزرګانو فرمائيلي دي چه: ﴿ان من جزاء الحسنة الحسنة بعدها وان من جزاء السيئة السيئة بعدها﴾ [دنيکئ يوه نغده جزاء داده چه ورپسې ورته دبلې نيکئ توفيق ملاويږي اودګناه يوه نغده سزاداده چه ديوې ګناه نه پس، دهغه زړه نوروګناهونواړخ ته مائله کيدل شروع شي] معلومه شوه چه په نيکو اوبدو دواړو کښې ځان ته راښکل شته،

[زر زرکشد درجهان ګنج، ګنج] زرولره زراوخزاني لره خزانه ځان ته راکاږي] يوه نيکي بلې نيکئ ته بلنه ورکوي، اويوبدي، بلې بدئ ته بلنه ورکوي اوګناه لره ځان سره راولي،

بني اسرائيلو ته دلوظ، قول ماتولو سزا ، دضابطې په جوړ، داورکړې شوه چه هغوئ دالله تعالى رحمت نه لرې وتل کوم [رحمت] چه دخلاصې مونډلودتولونه لويه ذريعه ده، زړونه ئې دې حده پورې سخت شو چه: ﴿يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهِ﴾ [کلام الهي لره دهغې دخپل ځائ نه برته کوي] يعني دالله تعالى په کلام کښې بدلون کله په معنى کښې راولي، کله په الفاظو کښې اوکله ئې په تلاوت کښې راولي، دبدلون راوستو داټول قسمونه په قرآن کريم اواحاديثو په کتابونو کښې بيان کړې شويدي چه داوسنئ زمانې ديورپ عيسايانولره ددې څه قدرې اقرار کول هم راپيښ شو، [تفسيرعثماني]

ددې معنوي سزانتيجه دا راوځته چه: ﴿وَنَسُوا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوا بِهِ﴾ دوئ ته دشوي نصيحت نه فائده اغستل دوئ هيرکړل] ورپسې ئې اوفرمائيل چه دغه سزا په دې شان د دوئ دغارې هارجوړ شو چه: ﴿وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَىٰ خَائِنَةٍ مِّنْهُمْ﴾ [تاسو ﷺ به تل دپاره د دوئ دټګئ تورئ نه په مخه خبريږئ]، ﴿إِلَّا قَلِيلًا مِّنْهُمْ﴾ [سوا دلږو خلقونه] لکه حضرت عبدالله بن سلام چه وړاندې داهلِ کتابو په دين وواوبيا په رشتيا مسلمان شو،

تردې پورې دبني اسرائيلو دبدو عملونو اوبدو اخلاقو چې کوم بيان اوشو په ظاهره ددې داتقاضا وه چه رسول الله ﷺ د دوئ نه سخت نفرت او سپکوالي اوکړي، دوئ هډو خپلې خواته پرېنږنه دي، په دې وجه دآيت په آخري جمله کښې هغوئ ﷺ ته داهدايت ورکړې شو: ﴿فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ [تاسو ﷺ دوئ لره معاف کړئ، د دوئ په بدعملئ خپه راکاږئ، دوئ نه کرکه څکه مه کوئ چه الله تعالى احسان کوونکو لره خوښوي] مطلب دادې چه د دوئ دخرابو عملونو او حالاتو باوجود دخپل طبيعت په غوښتنه عمل مه کوئ، دوئ سره دکرکې سلوک مه کوئ، د دوئ زړونه اګرچه دومره سخت اوبې حسه دي چه دوعظ ونصيحت هيڅ اثرپرېنه کيږي، ليکن رواداري اوښه خوئې او خصلت کول داسې يو کيمياده چه د دوئ په زړونوئې هم اثرکيدې شي، او په دوئ کښې حس پيدا شي يا نه ، بهر حال خپلو اخلاقو او

---

۱) مشكوٰة، كتاب الفتن: ج ۲، ص ۴۶۱

Scanned with Ca

معاملاتو لره درست لرل خو ضروری دی، ولې چه داحسان کولو معامله دالله تعالی څکه خوښه ده چه په دې سره مسلمانان الله تعالی ته نزدې کیږی،

﴿وَمِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى﴾ ددې آیت نه په ړومبی آیت کښې دیهودودلوظ ماتولو اوعذاب ذکروو، په دې آیت کښې د نصاراؤ پاتې څه حال بیان کړې شویدې.

دعیسائی فرقو خپل منځ کښې یوبل سره دښمنی: په دې آیت کښې الله تعالی دعیسایانود لوظ ماتولو دا سزا بیان کړیده چه د دوئ په خپل منځ کښې بیلتون اودښمنی راوستې شوه چه ترقیامته پورې به جاری وی،

د اوسنئ زمانې دعیسایانودحالاتو نه داشبه پیداکیدې شی چه هغوئ خو خپل منځ کښې روغ جوړ ښکاری هیڅ اختلاف پکښې نه ښکاری. جواب ئې دادې چه په آیت کښې دواقعې او اصلی عیسایانو حال بیان شویدې چه خپل منځ کښې دهغوئ اختلاف اوبیلتون معلوم او مشهور دې دکومو عیسایانو ترمنځه چه اختلاف اوبیلتون نه ښکاری داهغه خلق دی چه عیسائیت ئې پریښې دی اودهریان جوړ شوی دی نوهغه په حقیقت کښې عیسایان څکه نه دی چه عیسائی مذهب ئې پریښې دې مطلب داچه دغه خپل منځ کښې اختلاف اوبیلتون د عیسائی مذهب په بنیادباندې پیداکیږی هرکله چه مذهب ئې عیسائیت پاتې نشونودغه سوال دهغوئ په باره کښې صحیح نه دې، دبیضاوی شریف په حاشیه کښې د[تیسیر] نه نقل شویدی چه نصاری، په اصل کښې درې فرقې وې ① یوه [نسطوریه] چه عیسی ﷺ لره ئې دخدائې څوئ منلو، ② بله یعقوبیه ده چه پخپله عیسی ﷺ یې الله تعالی سره یو ځائې خدائې منلو ③ دریمه ملکائیه ده چه حضرت عیسی ﷺ لره به ئې د درې خدایانو څخه یو خدائې منلو،

ښکاره خبره ده چه دورمره اختلاف دعقیدو ترمنځه وی نو خپل منځ کښې دښمنی پیداکیدل خوبه خامخا اوضروروی.

يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ　قَدْ
| ائې اهل کتابو | په تحقیق سره
ائې اهل کتابو! یقینا ....
جَآءَكُمْ　رَسُوْلُنَا　يُبَيِّنُ　لَكُمْ　كَثِيْرًا　مِّمَّا　كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ
درغلې دې تاسو ته | رسول زمونږه | چې بیانوی | تاسو ته | ډیرې | هغه خبرې | چې تاسو به پټولې
تاسوته زمونږ رسول راغلې دې | اودکتاب هغه ډیرې خبرې ئې درته ښکاره کړې دی
مِنَ الْكِتٰبِ　وَيَعْفُوْا　عَنْ كَثِيْرٍ ۬ۥ　قَدْ جَآءَكُمْ　مِّنَ اللّٰهِ　نُوْرٌ
د کتاب نه | اومعافی کوی | د ډیرو [خبرو] نه | راغلې ده تاسو ته | د طرفه دالله نه | رڼړا
کومې چې به تاسو پټولې | او ډیرې داسې دی چې هغه ئې نه بیانوی | تاسوته دالله ﷻ د طرفه یو رڼړا راغلې ده
وَّكِتٰبٌ　مُّبِيْنٌ ۙ　يَّهْدِيْ　بِهِ　اللّٰهُ　مَنِ
او راغلې دې داسې کتاب | چې واضحه دې | چې ښایئ | په هغې سره | الله | هغه چا ته
او یو روښانه کتاب راغلې دې | .... ددې په ذریعه الله ﷻ هغه چا ته

Scanned with Ca

اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ

چي پیروي کوي | د رضا د هغه | لارې د سلامتیا | او راوباسي هغوئ لره | د تیارو نه

د سلامتیا لارې ښائي | چي چاته ئې خوښه شي | .... او هغوئ د [کفر] د تیرو نه

اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ لَقَدْ كَفَرَ

رڼا | ته | په حکم خپل سره | او هدایت کوي د هغوئ | لارې انیغې ته | یقینا چي | کفر اوکړو

د [هدایت] رڼا ته راوباسي | او په نیغه لار ئې قائم ساتي | بیشکه هغه کسان چي کافران دي

الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۭ قُلْ فَمَنْ

هغه کسانو | چي وایي | چي بیشکه الله | هم دا | مسیح | خوئي د مریم دې | او وایه ائي نبي | نو څوک به

وائي چي الله ﷻ هم دغه مسیح د مریم خوئي دې | .... ورته او وایه چي څوک داسي شته دې

يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ

طاقت اولري | د الله د مقابلې | څه قدرله | که اوغواړي | چي هلاك کړي | مسیح

چي د الله ﷻ په مقابله کښي اختیار اولري | که الله ﷻ اوغواړي چي مسیح

ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۭ وَلِلّٰهِ مُلْكُ

خوئي د مریم | او مور د هغه | او هغه څوک | چي په زمکه کښي دی | تول | او الله لره ده | بادشاهي

د مریم خوئي او د هغه مور او د زمکي تول خلق هلاک کړي | .... د آسمانونو او د

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ يَخْلُقُ مَا

د آسمانونو | او د زمکي | او هغه څیزونو | چي په منځ د دواړ کښي دی | پیدا کوي | هغه څه

زمکي تر مینځه د تولو څیزونو اختیار د الله سره دې | .... څه چي اوغواړي پیدا کوي ئې

يَشَاۗءُ ۭ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى

چي اوغواړي | او الله | په هر څیز باندي | قادر دي | او وائي یهودیان | او عیسایان

او الله ﷻ په هر څه کامل قدرت لري | .... او یهود [خانله] او نصاری [خانله] دا دعوی کوي

نَحْنُ اَبْنٰۗؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّاۗؤُهٗ ۭ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ

چي مونږه | خامن یو | د الله | او دوستان یو د هغه | ورته او وایه | نو ولي | عذاب درکوي تاسو له

چي مونږ د الله ﷻ خامن او نږدې خلق یو | ورته او وایه چي تاسو ته بیا ولي په ګناهونو سزاګاني درکوي

بِذُنُوْبِكُمْ ۭ بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۭ يَغْفِرُ

په ګناهونو ستاسو | بلکه | تاسو | انسانان یئ | د هغه مخلوقاتو نه | چي الله پیدا کړي دی | بخښنه کوي

[داسي نه ده] بلکه تاسو هم هغه شان عام انسانان ئې څنګه چي د الله ﷻ نور مخلوق دې | چاته چه الله

لِمَنْ يَّشَاۗءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَاۗءُ ۭ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

هغه چاته | چي اوغواړي | او سزا ورکوي | هغه چاته | چي اوغواړي | او الله لره دې | ملکیت | د آسمانونو

اوغواړي نو بښنه اوکړي | او چاته چي اوغواړي نو عذاب ورکړي | او په آسمانونو او زمکه او د دې په مینځ

Scanned with Ca

وَالْاَرْضِ	وَمَا بَيْنَهُمَا	وَاِلَيْهِ	الْمَصِيْرُ⑱

او د زمکې |او هغه چې په منځ د دې دواړو کښې دی | اوخاص هغه ته | ورتلل دی |
کښې چې څه دی ټول د الله ملکیت دې| او الله ﷻ ته واپس تګ دې |

آسان ترجمه قرآن: اې اهل کتابو اتاسو ته څمونږ (دا) پیغمبر راغلې دې چه د کتاب (یعني د تورات او د انجیل) ډیرې هغه خبرې صفا صفا بیانوي چه کومې به تاسو پټولې . او ډیرې خبرې پریږدي تاسو ته د الله د طرف نه رنړا راغلې ده ، او یو داسې کتاب چه حق واضح کونکې دې. چه دهغې په ذریعه الله هغه خلقو ته دسلامتیا لاره ښائي چه دده د رضا طلب ګار وي او دوی په خپل حکم سره د تیارو نه اوباسي او رنړا ته ئې راولي او دوی ته د نیغې لارې هدایت کوي.کومو خلقو چه وئیلي دي چه الله هم مسیح ابن مریم دې هغوی یقینًا کافران شوي دي (اې پیغمبره ! دوی ته) ووایه که الله مسیح ابن مریم او د هغه مور او په زمکه کښې چه څومره خلق دي دوی ټول هلاکول وغواړی نو څوك دې چه دالله په مقابله کښې دڅه کولو هم طاقت لری؟ د ټولو آسمانونو او زمکو او ددې په مینځ کښې چه څه دي په هغې یواځې ملکیت هم د الله دې. هغه چه څه څیز وغواړی نو پیدا کوي ئې او هغه په هر څه قدرت لري "یهودیان او عیسایان وائي چه مونږ د الله ځامن یو او محبوبان یُو" (دوی ته) ووایه چه بیا الله تاسو ته ستاسو دګناهونو د وجې نه سزا ولې درکوي ؟ نه ! بلکه تاسو هم د هغه انسانانو غونډې انسانان یئ چه هغه پیدا کړي دي، هغه چه چا ته وغواړی نو بخي ئې او چا ته چه وغواړی نو عذاب ورکوي په آسمانونو او زمکو کښې او ددې په مینځ کښې چه څه دي هغه ټول دالله په اختیار کښې دي ،اودهغه طرف ته د ټولو واپس کیدل دي.

خلاصه تفسیر

﴿ يَاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا ﴾ائې اهل کتابو [یعنی یهودو اونصرانیانو]تاسو ته زمونږ دا رسول [محمد ﷺ] راغلې دې چه [دهغه دعلمی کمال دا حال دې چې د] ﴿يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا مِّمَّا كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ مِنَ الْكِتٰبِ وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ﴾ کتاب د [مضمونونو] نه کوم څیزونه چه تاسو پټوئ دهغې څخه ډیرو خبرو لره [چه په ښکاره کولو کښې یئ څه شرعی ښیګړه وی په ښکاره علوم نه دی حاصل کړی خو سره دهغې نه خالص د وحی په ذریعه دخبریدو نه پس] ستاسو په وړاندې صفا صفا ښکاره کوی او [دعلمی اواخلاقی کمال ئے دا حال دې چې کوم څیزونه تاسو پټ کړی وو دهغې څنې] د ډیرو څه نه [دپوهیدلو اوخبریدو باوجود هم په اخلاقی ډول دهغې ښکاره کولونه] ډډه کوی [هرکله چه دهغې په ښکاره کولو څه شرعی ښیګړه نه وی یواځې ستاسو شرمیدل په کښې راځی.دا علمی کمال دنبوت دلیل دې. او اخلاقی کمال ددې تائید او مضبوالئ کوی.دے نه معلوموه شوه چه درسول الله دنورو معجزو نه علاوه پخپله تاسو سره دهغوی داسلوك کول دهغوی دنبوت ثابتولو دپاره کافی دی اوهم ددې رسول ﷺ په ذریعه] ﴿قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ نُوْرٌ وَّكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ ۝ يَّهْدِيْ بِهِ اللّٰهُ مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ﴾ تاسو ته د الله ﷻ د طرفنه یو روښانه څیز راغلې دې او [هغه]یو کتاب واضح دی چې د هغه په ذریعه دالله ﷻ داسې خلقو ته چه دهغه درضا طلبګار وی دسلامتئ لارې ښائی [یعنی جنت ته دتللو طریقې چه خاص عقیدې اوعملونه دی ښائی ولې چه کامله سلامتی خو هم په جنت کښې کیدیشی

Scanned with Ca

چه نه په کښې څه کمے رازی اونه دلرے کیدلو اوختمیدو خطره وی] ﴿ وَيُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى
النُّوْرِ بِاِذْنِهٖ ﴾ او هغوی لره په خپل توفیق سره [دکفر او ګناهونو] دتیرو نه راوباسی [د ایمان اود
فرمانبرداریٔ د] نور ارخ ته یئ راولی ﴿ وَيَهْدِيْهِمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ ﴾ اوهغوی لره [همیشه] په سمه
لاره باندې کلك لری. ﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۭ ﴾ بیشکه دغه خلق کافران
دی چه داسې وائی چه الله ﷻ [عیسی ؑ] مسیح ځوئے د مریم دے ﴿ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ
شَيْـًٔا ﴾ ته دهغوی نه داسې تپوس اوکړه چه که داسې وی نو اوښائی ﴿ اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ
ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ۭ ﴾ چه که الله ﷻ مسیح [عیسی ؑ] ځوئې د مریم لره [چه
بعینه الله یئ ګڼړئ] او دهغوی مور بی بی [مریم] لره اوځومره چه په زمکه کښې آباد دیهغې
ټولو لره [په مرګ سره] هلاکول اوغواړی [نو] څوك داسې شته چه دالله ﷻ نه به یئ یوه ذره
هم هغوی لره بچ کړې شی [یعنی دومره خبره خوتاسو هم منئی چه هغوی لره د هلاکولو الله ﷻ
قدرت لری نو دکوم ذات هلاکول چه دبل چا په قبضه کښې وی هغه خدائې څنګه کیدیشی؟
دې نه د حضرت مسیح ؑ دخدائې کیدو عقیده باطله شوه] او [دحقیقی خدائې او دټولو د
معبود] ﴿ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۭ يَخْلُقُ مَا يَشَاۗءُ ۭ ﴾ الله ﷻ [شان دادې چه] خاص الله ﷻ
لره دے حکومت په آسمانونو او په زمکه او څومره څیزونه چه ددې دواړو په مینځ کښې دی
هغې اوهغه چه کوم څیز لره [په څه شان سره] اوغواړی پیداکوی ئے ﴿ وَاللّٰهُ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝ ﴾ اوالله
ﷻ په هرڅیز باندې پوره قدرت لری.
﴿ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰۗؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّاۗؤُهٗ ۭ ﴾ اویهودیان او نصرانیان [دواړه ډلے] وائی چه مونږ د
الله ﷻ خامن اوهغه ته خوښ یو [مطلب دادې چه معلومیږی چه هرکله مونږ دپیغمبرانو اولادیو
په دې وجه دالله ﷻ په نزد زمونږ خصوصیت دادې چه زمونږ په ګناهونو کولو سره هم الله ﷻ
زمونږ نه هومره نه ناراضه کیږی څومره چه دنورو نه ناراضه کیږی لکه پلار چې دزوئ په
نافرمانئ دومره نه ناراضه کیږی څومره چې د یو بل کس په نافرمانئ باندې ناراضه کیږی،
لهٰذادوی ددې باطل خیال باطل ګرځولو دپاره رسول الله ﷺ ته خطاب دې چې]تاسو[ددوی
نه] ﴿ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ ۭ ﴾ تپوس اوکړئی چه ښه ده بیا به درته ستاسو دګناهونو په بدل
کښې [دآخرت] عذاب ولې درکوی ؟ [چه هغه خو تاسو هم منئ لکه یهودو به وئیل ﴿ لَنْ تَمَسَّنَا
النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً ۭ ﴾ یعنی که مونږ ته دجهنم عذاب راکولې شی نوهغه به هم څو ورځې وی
حالانکه دحضرت مسیح ؑ قول پخپله په قران پاك کښې داسې بیان شوې دا ﴿ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ
بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ ﴾ یعنی په هغه چا جنت حراموی څوك چه الله ﷻ لر ه شریك ګرځوی چه دا
په وجه د التزام لکه د نصاری د اقرار پشان دې.
خلاصه دا شوه چه هرکله تاسو پخپله اقرار کوئی چه د آخرت عذاب تاسو دپاره هم دې نو راته
اووائې چه آیا یو پلار خپل ځوئے یا خپل زړه پورې بنده ته هم عذاب ورکوئی ؟.په دې وجه
خپل ځان ته داالله ﷻ اولاد وئیل باطل دی. څوك دے دا سوال نه لا پورته کوی چه کله خو پلار
هم دخپل اولاد د اصلاح او تربیت دپاره اولاد ته سزا ورکوی نو اولاد ته سزا ورکول بیخی رد
کولې نشی.ولے چه پلار خو اولاد ته سزا دے دپاره ورکوی چه بیا دپاره دغسې کار اونکړی
اوپه آخرت کښې داسې څکه نشی کیدلې چه وریسے دعمل وخت نشته بلکه دا دتیر شوی

Scanned with Ca

دنیوی عمل د بدلے وخت دي، چه سزا به هم سزا وی.ادب یا تربیت ورکول به نه وی داسې قسم سزا خپل اولاد یا خپل زړه پورې بنده ته څوك نه ورکوی په دې وجه معلومه شوه چه دالله ﷻ خاصان نه یئ] ﴿ بَلْ أَنْتُمْ بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ۚ يَغْفِرُ لِمَنْ يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَشَآءُ ۚ ﴾ بلکه تاسو هم دنورو مخلوقاتو نه یو معمولی او عام خلق یئ: الله ﷻ چه چا لره اوغواړی اوبه یئ بخښی او چا لره چه اوغواړی سزابه ورکړی ﴿ وَلِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ وَإِلَيْهِ الْمَصِيرُ ۝ ﴾ او خاص دالله ﷻ دے ټول حکومت په آسمانونو کښې هم اوپه زمکه کښې هم او څه چه ددې دواړو په مینځ کښې دی په هغې کښې هم اوخاص دالله ﷻ طرف ته دټولو واپس تلل دی [دده نه سوا بل څوك پناه ورکونکې نشته]

معارف اومسائل

په دې آیت کښې دنصاراؤیواځې دیوقول تردیدشویدې چه په دوئ کښې دیوې خاصې فرقې او ډلې عقیده ده،یعنی ددې خبرې تردید دې چه حضرت مسیح ؑ [معاذالله] بعینه الله تعالیٰ دې مګرتردید دپاره دلیل داسې راوړې شویدې چه دټولوفرقوهغه باطل عقائد ورسره ردکولې شی کومې چه دتوحید خلاف دی،یعنی دې سره دهغې ډلې عقیده هم ردکیدې شی چه حضرت مسیح ؑ لره دالله تعالی ځوئ ګڼړی ، یا هغوئ لره د درې خدایانوځنې یوخدائې ګڼړی،دلته حضرت مسیح ؑ سره دهغوئ ؑ دوالدې په ذکرکولو کښې دوه حکمتونه کیدې شی، [۱] دحضرت مسیح ؑ بې وسی دالله تعالی په وړاندې داسې ثابتولې شی چه هغوئ نه خپل ځان دالله تعالی نه بچ کولې شی اونه خپلې موربی بی لره،حالانکه یوشریف ځوئ دخپلې والدې په عزت ساتلوکښې او په خدمت کښې په خپل ځان هم صرفه نه کوی،بل پرې دا خیال هم رد کولې شی چه ګڼی حضرت مریم [معاذالله] د درې خدایانوځنې یوخدائې ده.

دلته دحضرت مسیح ؑ اوحضرت مریم مرګ دفرض کولوپه ډول ذکر شویدې حالانکه د نزول قرآن په وخت کښې د بی بی مریم مرګ محض فرضی نه وو بلکه واقع شوې وو ، نو ددې وجه یا خود تغلیب دې چه ① په اصل کښې دحضرت مسیح ؑ مرګ فرضی ګرځول وواودحضرت مریم مرګ ورسره تغلیبافرض اوګرځولې شو،ولې چه قرآن کریم دنازلیدوپه وخت کښې خود حضرت مریم مرګ یقینا واقع شوې وو،② بله داخبره ښکاره کول ترهم مرادکیدې شی چه الله تعالی فرمائی څنګه چه مونږ په حضرت مریم باندې مرګ راوستو دغه شان په حضرت عیسی ؑ اوپه ټول مخلوق باندې مرګ راوستل هم زمونږ په قبضه کښې دی، په ﴿ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۚ ﴾ سره دعیسایانو ددې باطلې عقیدې بنیاد ورانول دی چه حضرت عیسی ؑ یواځې دمورنه،بغیر پلاره پیداشو،که انسان وې نودمورپلاردواړو نه به دعامې قاعدې په جوړپیداشوې وې [معلومه شوه چه [معاذالله] ① خدائې یادخدائې ځوئ دې [مترجم]

په دې جمله کښې ددې خبرې جواب داسې اوشوچه الله تعالی په هرشان کښې دکامل قدرت خاوندې هغه چه څه غواړی،په څه شان سره ئې چه غواړی پیداکوی ئې،څنګه چه په آیت:

﴿ إِنَّ مَثَلَ عِيسٰى عِنْدَ اللّٰهِ كَمَثَلِ آدَمَ ۖ ﴾ سره دغه باطل بنیادپه دې شان رنګ کړې شویدې چه یواځې بې پلاره پیداکیدل [دحضرت عیسی ؑ] څه چه دحضرت آدم ؑ [بې موره اوبې پلاره پیداکیدل هم] دهغه دخدائې دلیل نشی جوړیدې بلکه داټول دهغه واحدلاشریک دکامل قدرت دلیل

دي چه په هرشان سره دپيدا كولو قدرت لري، هم هغه خالق، مالك او دعبادت لائق دي بل هيڅوك نه ددوئ شريك كيدې نشي.

يَاَهْلَ الْكِتٰبِ
ائي اهل كتابو
ائي اهل كتابو!
قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ
په تحقيق راغلې دې تاسو ته | رسول زمونږه | چې بيانوي | تاسو ته | روستو د ډيرې مودې د بنديز د رسولانو نه
تاسوته زمونږ پيغمبر راغلې دې |ددين حكمونه درته بيانوي| په داسې وخت كښې چې د مودې راسې دپيغمبرانو راتلل بند وو
اَنْ تَقُوْلُوْا مَا جَآءَنَا مِنْ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ فَقَدْ
چې بياچرته اونه وايئ تاسو| چې نه وو راغلي مونږته|څوك زيرې وركونكې|اونه څوك ويرونكې|نوپه تحقيق سره
چې تاسودا اونه وائې | چې مونږ ته څوك زيرې راكونكې يا ويرونكې نه وو راغلې | نو بيشكه
جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿۱۹﴾
راغې تاسوته|زيرې وركونكې|او ويرونكې|اوالله | په هر څيز باندې |قادردې |
تاسوته زيرې وركونكې او ويرونكې راغلې دې| اوالله ﷻ په هرڅه قادر دې |

آسان ترجمه قرآن: اې اهل كتابو! تاسو ته څمونږ پيغمبر په داسې وخت كښې ددين د وضاحت د پاره راغلې دې چه د پيغمبرانو راتلل بند شوي وو دې د پاره چه تاسو دا ونه وايئ چه مونږته نه څوك (دجنت) خوږي وركولو والا راغلې وو او نه څوك (جهنم نه) د ويرولو والا نو اوس تاسو ته دخوږي وركولو والا او ويري وركولو والا راغې، او الله په هر څه قادر دې.

خلاصه تفسير

﴿ يَاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلُنَا ﴾ائي اهل كتابو تاسو ته دا زمونږ رسول [محمد ﷺ] راورسيدو ﴿يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ ﴾چه تاسو ته [دشريعت خبرې] صفا صفا ښائى په داسې وخت كښې چه درسولانو [راتلو] لړئ [د مودو راهسې] بنده وه [رومبنى شريعتونه بيخي ختم شوي وو هركله چه د پيغمبرانو د راتلو سلسله ډيره موده بنده وه په دې وجه ددغې شريعتونو د موندلو هيڅ درك نه لګيدلو په داسې وخت درسول راتلل ضروري وو د دوى ﷺ تشريف راوړل په داسې وخت كښې لوئي غنيمت او نعمت ګڼل پكار دى] ﴿اَنْ تَقُوْلُوْا مَا جَآءَنَا مِنْ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ ﴾ دپاره ددې چه تاسو [په قيامت كښې] داسې اونه وائې [چه ددين په باره كښې په غلطئ او كوتاهئ كولو څكه معذوره وو چه] مونږ ته [څوك رسول چه] بشير او نذير [وى چه دهغه په وجه په مونږ كښې ددين صحيح علم او دعمل جذبه راپورته شوې وې] نه وو راغلې [نواوس دعذر كولو څه ځائې څكه پاتې نشو چه]﴿ فَقَدْ جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ؕ﴾ تاسو ته بشير او نذير [محمد ﷺ] راغلو [اوس ئې كه نه منئى نو به خپل انجام پخپله پوهه شئ] ﴿وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴾او الله ﷻ په هر څيز پوره قدرت لرى [چه كله اوغوارى په خپل رحمت سره خپل پغمبران اوليږى كله چه اوغوارى په حكمت سره ئې بندكړى څكه د چا دا حق نشته دې چه داسې اووائى چه هر كله

Scanned with Ca

د ډیرے مودے راسے د پغمبرانو سلسله بنده وه نو اوس څوك رسول نشي راتلے خکه چه دے سلسلے لره ترڅه مودے پورې بندرلو کښې دالله ﷻ حکمت وو. تر هغه وخته پورې د پغمبرئ دسلسلے د بندولو او ختمولو هیڅ اعلان نه وو کړې بلکه دتیرو شوو ټولو پغمبرانو په ذریعه ئے دا خبرونه هم ورکړې وو چه په آخره زمانه کښې به یو خاص پغمبر په خاص شان او خاص صفتونو سره راځي پغمبرئ به په هغه ختمیږي او هم ددغې اعلان په جوړ خاتم الانبیاء ﷺ تشریف راوړو].

معارف او مسائل

﴿عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ﴾ د [فترت] لفظي معني سستيدل، په تپه اودريدل، څه كار ايسارول او بندول دی، چنانچه دتفسير امامانو ﷺ په دې آيت كښې د [فترت] هم دامعنی بيان كړيده چه مرادترنه دڅه مودې پورې دپيغمبرئ اوپيغمبرانو ﷺ دراتلوسلسله بنديدل دی، دا موده دحضرت عيسى ﷺ نه پس دخاتم النبيين ﷺ دپيغمبركيدوتروخته پورې ده،

دفترت دزماني تحقيق:! دحضرت ابن عباس ﷺ دروايت مطابق، دحضرت موسى ﷺ او حضرت عيسى ﷺ په مينځ كښې زمانه يو زر اوه سوه [١٧٠٠] كاله وه، په دې ټوله موده كښې دپيغمبرئ سلسله په مخه جاري وه، په دغه زمانه كښې [فترت] نه ووچرته راغلي اوصرف په دغه زمانه كښې دبني اسرائيلو يو زرپيغمبران ﷺ راغلي وو، هغه پيغمبران ددې نه علاوه دي كوم چه دبني اسرائيلوڅخه نه وو، بيا د حضرت عيسى ﷺ دپيدا كيدواودرسول الله ﷺ دپيغمبركيدوترمنځه پنځه سوه كاله تيرشوي ووچه پكښې هيڅ پيغمبرنه ووراغلي اوهم دا زمانه د [فترت] ده، ددې نه وړاندې هيڅ يوزمانه داسې نه ده تيره شوې چه هغه به د پيغمبرد راتلونه خالي وه، [قرطبي مع ايضاح] (١)

دحضرت موسى ﷺ اودحضرت عيسى ﷺ ترمنځه اودحضرت عيسى ﷺ او خاتم النبيين ﷺ ترمنځه په دواړوزمانو كښې نورمختلف روايات هم شته، چه دهغې دمخه هم دغه موده كښې كمې زياتې بيان شويدې، خوبياهم په اصل مقصدباندې هيڅ اثرنه پرېوځی،

امام بخاري ﷺ دحضرت سلمان فارسي ﷺ نه روايت كړيدې چه دحضرت عيسى ﷺ اوخاتم النبيين ﷺ ترمنځه زمانه شپږسوه كاله وه چه پكښې هيڅ يوپيمغبرنه وو راغلي لكه دصحيح مسلم اوصحيح بخاري په حواله چه په مشكوة كښې يوحديث راغلي دې په هغې كښې رسول الله ﷺ فرمائيلي دی [اَنَا اَوْلَى النَّاسِ بِعِيْسٰى] [زه دنورو خلقونه زيات عيسى ﷺ ته نزدې يم] ددې مطلب ئې په آخرد حديث كښې داسې بيان كړيدې [لَيْسَ بَيْنَنَا نَبِيٌّ] (٢) [زمونږ دواړو ترمنځه بل څوك پيغمبرنه دې راغلي]

په سورت يسين كښې دذكرشوو دريو رسولانونه مرادپه حقيقت كښې دلغوی معنی په اعتبار سره دهغوئ ﷺ استاذی اورېباران دی،

ځنې علماؤ چه دخالدبن سنان عربي راتلل په زمانه د [فترت] كښې بيان كړيدی دهغې په باره كښې تفسيرروح المعاني په حواله دشهاب بيان كړيدی چه د دوئ ﷺ نبی كيدل اګرچه

(١) تفسير القرطبي تحت هذه الآية: ج ٦، ص ١٢١، ١٢٢
(٢) مشكوٰة، باب بدء الخلق وذكر الأنبياء عليهم الصلاة والسلام: ج ٢، ص ٥٠٩

Scanned with Ca

صحیح دی خو زمانه ئې د حضرت عیسی ﷺ نه وړاندې وه د هغوئ ﷺ نه روستو نه وه(۱)

دفترت د زمانې احکام: د ذکرشوې آیت نه په ظاهره دا معلومیږي چه که بالفرض یو قوم په داسې زمانه کښې وي چه ورته څوک رسول یا پیغمبر نه وي راغلې او نه ورته د هغوئ څوک نائبان رارسیدلي وي، نه ورسره د تیروشوؤ پیغمبرانو ﷺ شریعت محفوظ وي، نو دا خلق به په څه غلطو کارونو او ګمراهیؤ کښې اخته وي نو معذور ګڼړلو په وجه به د عذاب حقدار نه وو، البته که په شرک کښې اخته وونو معذوره به نشو ګڼړلې، هم ددې کبله فقهاء حضرات، د اهلِ فترت په معامله کښې اختلاف لري چه آیا، دوئ ته به بخښنه کیږي او که نه؟

جمهور فقهاء ﷺ د دوئ د بخښنې کیدو اړخ ته مائله دی خو شرط دادې چه هغوئ دفترت په زمانه کښې د هغه احکامو پابند پاتې شوي وي چه حضرت موسی ﷺ او حضرت عیسی ﷺ ته منسوب وي، اګرچه د غه غلط هم وي، په شرط ددې چې د توحید مخالف او په شرک کښې اخته نه وي نو دا به ورته ځکه نشي بخښلې چه د توحید مسئله د رانقل کولو حاجت نه لري، بلکه په لږشان غور فکر کولو سره ئې انسان د خپل عقل نه هم معلوم ولې شي،

یو سوال او جواب: دلته دا سوال راپورته کیدې شي چه کومو اهل کتابو یهودو نصارې ته په دې آیت مبارك کښې خطاب دې. دفترت په زمانه کښې اګرچه دوئ ته څوک پیغمبر نه وو راغلې مګر تورات، انجیل او ددې علماء ورسره هم موجود وونو د قیامت په ورځ به دا عذر څنګه او کړې شي چه مونږ ته څه هدایت نه وو رارسیدلې. جواب ئې دادې چه د رسول الله ﷺ تر زمانې مبارکې پورې اصلي تورات او انجیل نه وو پاتې شوي، دې کښې بدلون راوستې شوې وو او د دروغو قیصې پکښې شاملې کړې شوې وې لهذا ددې موجودګي او عدم موجودګي برابره وه، که چرته اصلي نسخې په یو ګمنام ځائ کښې محفوظ وې نو هم هغه په دې کښې اړنه جوړیږي لکه چه ځنې علماؤ ﷺ ابن تیمیه ﷺ وغیره لیکلي دي چه د تورات او انجیل اصلي نسخې یو ځائې یو ځائې موجودې وې.

د خاتم الانبیاء ﷺ مخصوصو کمالاتو اړخ ته اشاره: اهل کتابو ته په دې خطاب کولو کښې چه زمونږ رسول محمد ﷺ دفترت داوږدې زمانې نه پس تشریف راوړې دې، دې خبرې ته هم اشاره ده چه تردیرې مودې پورې ددې خبرې بند پاتې شوې نعمت بیاآزادیدل لوئې غنیمت او لوئې نعمت اوګڼړې،

اودې خبرې ته هم اشاره ده چه په داسې زمانه کښې او په داسې مقام کښې د رسول الله ﷺ تشریف راوړل چه خلق په بت پرستئ کښې اخته وو، د جاهلیت په دغه زمانه کښې د دوئ کړه وړه بې روه، بې ګودره خراب او ناکاره شوې وو، او بیا د داسې خلقو اصلاح کول څه آسان کار نه وو، هرکله چه د داسې خلق هغوئ ﷺ ته حواله شو نو هغوئ ئې د خپل کردار او د نبوت په نور سره په لږه موده کښې ددې جوګه کړل چه په علم، عمل، اخلاقو، معاملاتو، معاشرت او د ژوند په ټولو ډګرونو کښې استاذان او پیشوایان جوړ شو، په دې لحاظ سره د هغوئ ﷺ پیغمبرې، رسالت او پیغمبرانه تعلیم د تیروشوؤ ټولو پیغمبرانو ﷺ په نسبت په لیدلو، کتلو ډیر غوره او ډیر اعلی ثابت شو، ددې مثال داسې اوګڼړئ لکه چه یو ډاکټر دیو رنځور علاج په داسې

۱) روح المعاني تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۲۲۸

Scanned with Ca

کامیابۍ سره اوکړي چه یواځې روغ موټ نشي بلکه په خپله یو ماهر ډاکټر هم جوړشي نود داسې ډاکټرپه کمال کښې چاته څه شک نشي پاتې کیدې،

مطلب داچه د[فترت] د دومره اوږدې مودې نه پس هرکله چه په هغې کښې دکفراو ګناهونو تورې تیرې خورې وې، دهغوئ ﷺ دتعلیم اوتربیت په برکت داسې رڼاشوه چه مثال ئې په تیرشوی دورونو کښې نشي پیدا کولې، ددې په بناتولې معجزې خوئې لاڅه کوې یواځې دامعجزه ئې خلق دې ته مجبوره کولې شي چه په هغوئ ﷺ باندې ایمان راوړي.

وَاِذْ قَالَ مُوْسٰی

|اوکله چې|اووئیل| موسی

|اوهغه وخت یادکړئ| چې موسی ؑ

لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ

قوم خپل ته| ائې زماقومه| یادکړئ| نعمت د الله| په تاسو |هرکله چې| پیداکړل هغه

خپل قوم ته اووئیل ا چې تاسوته الله ﷻ کوم نعمتونه درکړي دي هغه یادکړئ ا هرکله چې هغه

فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ

په تاسوکښې| پیغمبران |اوجوړئې کړئ تاسو| بادشاهان |اودرئې کړل تاسوته|هغه هرڅه| چې نۀ وو ورکړي

تاسو کښې ئې پیغمبران رالیږلي دي | اوتاسو ئې بادشاهان کړئ | اوتاسوته ئې هغه څه درکړي دي

اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ

هیچاته |دمخلوقاتو نه | ائې زماقومه| ننوځئ | زمکې | پاکې ته

چې نورمخلوق ته ئې نه دي ورکړي | ائې زماقومه دې پاکې زمکې [شام] ته داخل شئ

الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ

هغه زمکه| چې لیکلې ده| الله | ستاسودپاره|اومۀ ځئ واپس تاسو| په شاګانو خپلو باندې

چې الله ﷻ ستاسوحصه کښې لیکلې ده | ....اوپه خپلو شاګانو باندې مه ګرځئ

فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ۝ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا

ګنې نو اوبه ګرځئ تاسو| زیان کاران |اووئیل هغوئ | ائې موسی | بیشکه په هغې کښې

ګنې نامراده به شئ| ....هغوئ اووئیل چې ائې موسی ؑ په دې زمکه کښې

قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ

خلق دي | زورور |اومونږه| هرګزنۀ ننوځوهغې ته| ترهغې پورې| چې اوځئ هغوئ | دهغې نه

یو ډیرمضبوط قوم اوسیږي| اومونږ دې ته هیڅکله نۀ داخلیږو| ترڅو چې هغوئ ددې نه بهرشوی نه وي

فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ۝ قَالَ رَجُلٰنِ

نوکه چرې| اووتل هغوئ |دهغې نه|نوبیشکه بیامونږه| ننوتونکي یو | اووئیل | دوۀ سړو

که هغوئ ددې نه بهرشي | نوبیا مونږ دې داخلیدو ته تیار یوا په هغوئ کښې دوۀ کسانو اووئیل

Scanned with Ca

مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا

دهغه کسانونه | چې ویریدل | چې انعام کړې وو الله | په هغوئ دواړو باندې | ورننوځئ

چې دالله ﷻ نه ویریدل | او الله ﷻ پرې انعام کړې وو | چه د دغه خلقو په مقابله کښې د دې

عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ فَاِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۚ۬

په دې جبارینو | په دروازه | نوکله چې اورننوځئ تاسو په دروازه | نو بیشکه هم تاسو | به غالبان یئ

ښار دروازې ته داخل شئ | نوکله چې داخل شئ غالب به شئ ....

وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ۝ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّا

اوخاص په الله باندې | بهروسه ساتئ | که چرې یئ تاسو | مومنان | اووئیل هغوئ | اې موسی | بیشکه مونږه

اوپه الله ﷻ بهروسه کوئ | که تاسو مومنان یئ | هغوئ اووئیل چې ائې موسی بیشکه مونږ

لَنْ نَّدْخُلَهَآ اَبَدًا مَّا دَامُوْا فِيْهَا فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ

هرګزنۀ ننوځو دغه ښارته | هیڅکله | ترڅو چې وی هغوئ | په هغې کښې | پس لاړشه | تۀ | اورب ستا

دې ښارته نه داخلیږو | ترڅو چې په کښې هغوئ اوسیږی | نو ته او ستا رب دواړه ورشئ

فَقَاتِلَآ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ۝ قَالَ رَبِّ اِنِّيْ لَآ اَمْلِكُ

اوجنګ اوکړئ دواړه | بیشکه مونږ به | دلته | ناست یو | اووئیل موسی | ائې ربه زما | بیشکه زۀ | نۀ لرم اختیار

او جنګ ورسره اوکړئ | مونږ به دلته ناست یو | [موسی] اووئیل چې ائې زماربه! زه خو صرف د خپل ځان او د خپل

اِلَّا نَفْسِيْ وَاَخِيْ فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ۝ قَالَ

مګر | دځان خپل | او د رور خپل | نوجدائی اوکړه | په منیځ زمونږه | اوپه مینځ | دقوم | فاسق کښې | اووئیل الله

ورور واکمند یم | .... نوزمونږ او ددې نافرمانه قوم ترمینځه فیصله اوکړې | .... الله ﷻ اووئیل

فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً ۚ يَتِيْهُوْنَ

نو بیشکه دغه زمکه | حرامه کړې شوی ده | په هغوئ باندې | څلویښت | کاله | سرګردان به ګرځی

چې دا ملک ترڅلویښتو کالوپورې په دوئ حرام دې | .... اوپه زمکه به

فِي الْاَرْضِ ۭ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ۝

هم په زمکه کښې | نو مۀ خفه کیږه تۀ | په قوم | فاسق باندې |

سرګردان ګرځی | .... نو تۀ ددې نافرمانه قوم په حال مۀ خفه کیږه |

آسان ترجمه قرآن: او هغه وخت یاد کړئ کله چه موسیٰ علیه السلام خپل قوم ته وئیلي وو چه "اې خپل قومه د الله هغه نعمت یاد کړئ چه هغه په تاسو باندې کړې دې چه هغه په تاسو کښې انبیاء پیدا کړل او تاسو ئې بادشاهان جوړ کړئ او تاسو ته ئې هغه څه درکړل چه ستاسو نه مخکښې ئې دنیا کښې بل چا ته نه وو ورکړي، اې خپل قومه هغه پاکې زمکې ته دننه شئ چه هغه الله تاسو دپاره لیکلې ده او په پوندو باندې واپس مه آوړئ ګنې نامراده به شئ 'هغوی ووئیل" چه اې موسیٰ دې (ملک) کښې خو ډیر طاقت ور خلق دي او ترڅو چه دوی دې ځائ نه نه وي وتلي مونږ به چرې هم دې ته داخل نه شو، که چرې دوی

Scanned with Ca

دي ځائ نه ووتل نو بې شکه مونږ به دي ته داخل شو کومو خلقو (چه د الله) ويره لرله په هغوی کښې دوه کسانو چه الله وربانديې خپل فضل کړې وو هغوی ووئيل چه دوی بانديې حمله کولو سره (د ښار) دروازي کښې داخل خو شئ که تاسو داخل شوئ نو تاسو به غالب شئ او په الله بانديې اعتماد وکړئ که چرې تاسو مؤمنان يئ "هغوی ووئيل چه اې موسیٰ اترخو چه دوی په دې (ملك) کښې وي مونږ به دې ته چرې هم داخل نه شو— او (که دوی سره جنګ کول وي) نو ته او ستا رب لاړ شئ، دوی سره جنګ وکړئ مونږ به هم دلته ناست يو موسیٰ عليه السلام ووئيل چه اې ځما پروردګاره! سوا ځما د خپل ځان نه او د خپل ورُور نه څوك هم ځما په اختيار کښې نشته اوس ځما او د دې نافرمانه خلقو په مينځ کښې جدا جدا فيصله وکړه— الله ووئيل چه دا زمکه په دوئ بانديې څلويښت کالو پورې حرامه ده. دوی به (دې دوران کښې) دغه زمکه کښې پريشانه ګرځي نو ته (اې موسیٰ) دې نافرمانه خلقو بانديې زړه مه سيزه.

خلاصه تفسير

﴿ وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ ﴾ او هغه وخت هم د يادولو جوګه دے کله چه موسی ﷺ خپل قوم [يعنی بنی اسرائيلو] ته [د جهاد د شوق پيدا کولو په غرض په اول کښې دا] اوفرمائيل چه ائې زما قومه تاسو د الله ﷻ انعام لره چه په تاسو شوې دے ياد کړئ ﴿ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ ﴾ کله چه الله ﷻ په تاسو کښې ډير پېغمبران جوړ کړل [لکه حضرت يعقوب ﷺ. حضرت يوسف ﷺ او پخپله حضرت موسی ﷺ او حضرت هارون ﷺ اود نور انبياء ﷺ ډيروالې په يو قوم کښې پېغمبران جوړيدل ددغې قوم ددين او د دنيا عزت دې. دا خوئے معنوی نعمت درکړو] ﴿ وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا ۖ ﴾ او [حسی نعمت ئے دا درکړو چه تاسو ئے دملك خاوندان جوړ کړئ چناچه دفرعون په ملك باندې اوس قابض شوی يئ] ﴿ وَاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ﴾ او تاسو ته يئ [بعضې بعضې] هغه څيزونه درکړی دی چه ددنيا [جهان] په خلقو کښې ئے چاته نه دی ورکړی [لکه په درياب کښې درته لار درکول ستاسو د دښمن په عجيبه طريقے سره غرقول چه بيا ددې نه پس ناڅاپه د ډير ذلت او زحمت نه ډير لوړ والی او آرام ته ور اورسيدئ يعنی په دې کښې يئ تاسو ته خاص شان درکړوبيا ئې ددې تمهيد نه پس د اصلی مقصود په باره کښې خطاب اوفرمائيلو چه] ﴿ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ ﴾ ائې قومه زما [ددغې نعمتونو او احسانونو اقتضاء او غوښتنه داده چه تاسو هغې جهاد ته تيار شئ دکوم دپاره چه تاسو ته الله ﷻ حکم درکړې دې او] په دې برکتی ملك [يعنی دشام په دارالخلافه] کښې [چرته چه د عمالقو حکومت دے د جهاد په اراده] ورننوځئ چه الله ﷻ ستاسو په برخه کښې ليکلے دے [ځکه به يئ په قصد کولو سره سمدستی فتح کړئی] ﴿ وَلَا تَرْتَدُّوْا عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ۝ ﴾ او روستو [وطن اړخ ته] واپس مه راځئ چه بيا به بيخی په زيان کښې شئ [پدنيا کښې هم د ملك د زياتيدو نه به بےنصيبه پاتې شئ او په آخرت کښې هم چه د فرض جهاد په پريښود به ګناهګار پاتې شئ] ﴿ قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ ﴾ وے وئيل ائې موسی ﷺ هلته خولوئې لوئې زورور خلق [اوسيږی] ﴿ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ ﴾ او مونږ خو به هلته هيچرې پښه نږدو ترڅو چه هغوی [په څه شان سره] هلته نه او نه ځی ﴿ فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ۝ ﴾ البته که هغوی هلته نه بل ځائې ته لاړ شی نو مونږ بيشکه تلو ته تيار

Scanned with Ca

يو [دحضرت موسى ﷺ د وينا د پخولو دپاره] ﴿ قَالَ رَجُلَانِ مِنَ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَنْعَمَ اللَّهُ ﴾ هغه
دوو سړو [هم] چه [دالله ﷻ نه په] ويريدونکو خلقو [يعنى متقيانو] کښې شامل وو [او] ﴿عَلَيْهِمَا
ادْخُلُوا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ﴾ دغه کم همتو خلقو [ته دپوهولو په غرض] اووئيل چه تاسو په دوى
باندې[دحمله کولو په غرض ددغې ښار] دروازې پورې خو ورشئ ﴿ فَإِذَا دَخَلْتُمُوهُ فَإِنَّكُمْ
غٰلِبُونَ ﴾ نوچه څه وخت په دروازه کښې ننه کيږدئ دغه وخت به غالب راشئ [مطلب دا چه
زر تر زره به فتح شي يا خو به ستاسو د ويرے نه اوتښتي يا به لړه شان مقابله درسره اوکړي﴿
وَعَلَى اللَّهِ فَتَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴾ اوپه الله ﷻ باندې نظر لرئ که تاسو ايمان لرئ [يعنى تاسو
دهغوى غټوغټو تنوته مه گورئ خو پدغې خلقودې پوهلو هيڅ اثر اونشو بلکه دغه دوه بزرگان
خوئې دسره دخبرو کولو جوگه اونه گڼړل او حضرت موسى ﷺ ته يئې بې پروائى او په بے ادبئ]
﴿ قَالُوا يَا مُوسَى إِنَّا لَنْ نَدْخُلَهَا أَبَدًا مَا دَامُوا فِيهَا ﴾ ورته يئ اووئيل چه ائي موسى ﷺ [مونږ خويوه خبره
کړيده چه مونږ به] هيچرې کله هم هلته کښې قدم نږدو تر څو چه دغه خلق هلته [موجود]
وى [اوکه هسې جنگيدل کول ضرورى وى] ﴿ فَاذْهَبْ أَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا ﴾ نو بيا تاسو او ستاسو
پروردگار لاړ شئ او دواړه [ورسره] جنگ جگړه اوکړئى ﴿ إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ ﴾ مونږ خو ددې ځائې
نه خځ [هم] هيڅ ښودنه نه خورو [حضرت موسى ﷺ ډير زيات بے طبيعته او پريشانه شو او
چه تنگ شو نو] ﴿ قَالَ رَبِّ إِنِّي لَا أَمْلِكُ إِلَّا نَفْسِي وَأَخِي ﴾ دعا ئے اوکړه ائې زما پروردگاره [زه څه اوکړم
پدوى مے هيڅ وس نه رسى] يواځې پخپل ځان او پخپل رور باندې البته [پوره] اختيار لرم
﴿ فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴾ نوتاسو زمونږ د دواړو [رونړو] او ددې نافرمانه قوم
ترمينځه [مناسبه] فيصله اوکړئ [يعنې دچا حالت سره چه څه سمون خورى هم هغسے اوکړئ
ارشاد اوشو [ښه ده] ﴿ قَالَ فَإِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً ﴾ نو [مونږ دا فيصله کوؤ چه] دغه
وطن به ددوى لاس ته څلويښت کاله نه ورځى [او ترڅلويښتو کالو پورې به] ﴿يَتِيهُونَ فِي
الْأَرْضِ ﴾ په زمکه کښې سروهلى گرځى [حضرت موسى ﷺ ددغې فيصلې په آوريدو بے
طبيعته شو ولې چه دهغوى خيال دا وو چه معمولي زورنه به ورکړې شي نوارشاد اوشو چه
ائې موسى هرکله چه ددې سرکشانو دپاره مودا سزا تجويز کړه هم دا ورسره مناسبه ده] ﴿ فَلَا
تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ ﴾ نوتاسو ددې نافرمانه قوم [په دې خراب حال لړ هم] غم مه کوئى.

معارف اومسائل

ددې ذکرشوؤ آيتونونه په وړاندې تيرشوى آيت کښې دهغې پوخ لوظ، قول ذکروؤچه دالله تعالى اودهغه درسولانو دفرمانبردارئ په باره کښې دبنى اسرآئيلونه اغستې شوې وؤ، ورسره د دوئ عام لوظ، ماتول اوپوخ لوظ، قول نه دخلاف کولو اوپه هغې باندې دسزاگانو بيان وو، اوس په دې آيتونوکښې د دوئ دلوظ ماتولويوه خاص واقعه ذکرشويده،

هغه داده چه هرکله فرعون سره دلښکرپه سيند [درياب] کښې غرق شو اوموسى ﷺ سره دخپل قومه دهغوئ دپنجې اوغلامئ نه آزادشو اودمصر دحکومت مالکان شونو الله تعالى پردزيات انعام کولوپه غرض دشام په ملک هم دقبضې ورکولودپاره دموسى ﷺ په ذريعه داحکم ورکړوچه دجهادپه نيت دې دوئ پاکې زمکې يعنى دشام په ملک ورننوځى اوورسره ئې

Scanned with Ca

دا زيرې هم ورکړو چه په دې جهاد کښې به کاميابی هم د دوئ وی، الله تعالى دغه برکتی زمکه د دوئ په برخه ليکلې ده، هغه به ضرور دوئ ته په لاس ورځی، مګر بنی اسرائيل دلته هم د خپلو طبعی ناکاره خصوصياتو په وجه د لوظ پوره کولو نه پاتې راغلل حالانکه دوئ په خپلو سترګو دالله تعالى انعامات، دفرعون غرقيدل او د مصروغيره فتح کيدل ليدلی وو، ضديان وو، دشام دجهاد په باره کښې ئې دالله تعالى دحکم نه خلاف اوکړو، دقدرت له اړخه ورته ددې داسزا په برخه شوه چه ترڅلويښتو کالو پورې په يوه محدوده علاقه کښې ګيرپاتې شول، په ښکاره خوتريو خوا بل خوا ئه بنديزونه چاپيره شوی نه وو، خپې لاسونه ئې هم تړلې شوی نه وو بلکه په ډاګ ميدان کښې وو، واپس مصرته تلو دپاره به ئې دصبانه تربيګاه پورې سفرکولو خودخدائ په قدرت مابنام به بياهم هلته وو چرته نه به چه روان شوی وو، اوهم په دې دوران کښې حضرت موسى ﷺ او حضرت هارون ﷺ دواړه وفات شو، په مخه بنی اسرائيل په دغه ميدان تيه کښې سرو هلی بروهلی ګرځيدل او الله تعالى ورته دغلته نور پيغمبران دهدايت دپاره راؤليږل.

په داسې ډول چه څلويښت کاله په دوئ تيرشول بياد دوئ کشرئ ذيلئ [اولاد] د پيغمبر په مشرئ کښې د شام او بيت المقدس دجهاد قصد اوکړو، په دې شان دالله تعالى دا وعده پوره شوه چه، دغه پاکه زمکه ستاسو په برخه ليکلې شويده.

دا دهغه واقعې اجمال دې کومه چه په دې آيتونو کښې ذکرشويده، اوس ئې تفصيل په قرآنی الفاظو کښې اوګورئ.

هرکله چه حضرت موسى ﷺ ته دالله تعالى له اړخه دا اجازت ملاؤشو چه خپل قوم ته دې دبيت المقدس او شام ملک فتح کولو دپاره دجهاد حکم ورکړئ، نوهغوئ ﷺ ددې حکم دا ؤرولو نه وړاندې د پيغمبرئ دشان مناسب حکمت اونصيحت نه کار واغستو، بنی اسرائيلو ته ئې دالله تعالى هغه انعامات ورياد کړل کوم چه اوسه پورې وربانديې شوی وو، وې فرمائيل: ﴿اذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ جَعَلَ فِيكُمْ أَنْبِيَاءَ وَجَعَلَكُمْ مُلُوكًا وَآتَاكُمْ مَا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا مِنَ الْعَالَمِينَ﴾ [دالله تعالى هغه فضل او انعام راياد کړئ کوم چه په تاسو شوې دې چه ستاسو په قوم کښې ئې ډير انبياء ﷺ اوليږل او تاسو ئې دوطن او ملک خاوندان جوړ کړئ او تاسو ته ئې هغه نعمتونه دراوبخښل چه ددنيا په جهان کښې ئې چاته نه وو ورکړی].

په دې کښې د دريؤ نعمتونو بيان دې، رومبې نعمت پکښې روحانی او معنوی دې يعنی په دغه قوم کښې انبياء ﷺ په ګڼرشمير کښې په مخه ليږلې شوی وو، چه دې نه بل زيات اخروی او معنوی عزت نشی کيدې.

په تفسير مظهری کښې ئې نقل کړيدی چه په ګڼرشمير کښې د پيغمبرانو راتلل سوا د بنی اسرائيلو نه په بل قوم کښې نه دی شوی(١).

دحديث امام ابن ابی حاتم په روايت داعمش نقل کړيدی چه دبنی اسرائيلو په آخری دور کښې، دحضرت موسى ﷺ نه ترحضرت عيسى ﷺ پورې يو [١٠٠٠] پيغمبران ليږلې شوی وو(٢)، په دې آيت کښې بل [دنيوی او ظاهری] نعمت دا ذکرشويدې چه دوئ کښې ئې بادشاهان جوړکړل يعنی دملک او بادشاهئ خاوندان ئې جوړکړل، په دې خبره کښې دا اشاره ده، چه هغه

١) تفسير مظهری تحت هذه الآية: ج٣، ص٧١
٢) تفسير ابن ابی حاتم رقم الحديث: ٣٣٨ سورة الفرقان۔

Scanned with Ca

بني اسرائيل چه دمودوراسي دفرعون اوفرعونيانوغلامان او وينځي جوړ شوي وو، شپه اوورځ پرهغوئ ظلمونه كول، نن الله تعالى دهغوئ دښمن تباه و برباد كړواودوئ ئې دهغوئ دملك اوبادشاهئ خاوندان اوګرځول دلته په دې خبره كښې ژورفكركول پكار دى چه دانبياو ﷺ په باره كښې ئې داسې اوفرمائيل ﴿جَعَلَ فِيكُمۡ أَنۢبِيَآءَ﴾ [په تاسو كښې ئې ډير خلق پيغمبران جوړ كړل] چنانچه دحقيقت مطابق دوئ كښې هريوكس پيغمبرنه وو بلكه ځنې په كښې پيغمبران ووچه ټول قوم به دهغوئ ﷺ تابع وو ليكن دملك اوسلطنت [حكومت] په باره كښې ئې اوفرمائيل: ﴿وَجَعَلَكُم مُّلُوكًا﴾ [تاسوئې بادشاهان جوړ كړئ] ددې ظاهرى مطلب دا راوځي چه تاسوټول ئې بادشاهان جوړ كړئ لفظ ملوك د ملك جمع ده او ددې معنى په عرف عام كښې د بادشاه ده. حالانكه څنګه چه پيغمبرپه قوم كښې يوكس دوه وى دغه شان بادشاه هم پكښې يوكس نيم وى چه دغه قوم ئې تابع وى، يعنى نه هريوكس پيغمبروى اونه هريوكس بادشاه وى، ليكن قرآنى الفاظو دوئ لره بادشاهان اوبلل.

ددې يوه وجه داده چه بيان القرآن كښې دځنولويو علماؤ ﷺ په حواله داسې بيان كړې شويده چه په عرف عام كښې ديوكس دبادشاه كيدوپه وجه دهغه ټول قوم ته ددغې بادشاهئ نسبت كيږى لكه داسلام په منځنوصدو[پيړيو] كښې چه دبنى اميه اوبنى عباس حكومت به چه بللې شو، دغه شان په هندوستان كښې به غزنوى اوغورى حكومت بللې شو ، بيابه دمغلو حكومت بيا انګريزانوحكومت هم ټول قوم ته منسوب كيدو، په دې بِنا، ديوكس دبادشاه كيدوپه وجه ددغې بادشاهئ اوحكومت نسبت ټول قوم ته كيږى،

ددغې محاورې په جوړ، دبنى اسرائيلوټول قوم ته قرآن كريم ملوك [بادشاهان] اوفرمائيل، په دې كښې اشاره دې خبرې ته هم كيدې شى چه اسلامى حكومت په حقيقت كښې عوامى حكومت وى، هم عوام داحق لرى چه خپل اميراوامام [بادشاه] هم دوئ پخپله اوټاكى اوهم دغه عوام ئې په خپلې اجتماعى رائې سره معزوله كولې هم شى، لهذا اګرچه دشكل اوظاهرپه لحاظ يوكس حكمران اوبادشاه وى مګرپه حقيقت كښې حكومت دعوامو وى،

ددې بله وجه په تفسيرمظهرى اوابن كثير كښې دځنې پخوانوبزرګانونه نقل شويده چه د[ملك] [الفظ] د[بادشاه] په نسبت زيات عام دې داسې كس ته ملك وائى چې هغه ښه آسوده حال وى ، مكان، جائيداد، نوكران اوخادمان وغيره لرى، په دې بناهركله چه د بنى اسرائيلوهم هر فرد دملك كيدلو مصداق وؤ او ودان آبادووځكه ئې ټولوته [ملوك] اوفرمائيل(¹)،

په دې آيت كښې دريم نعمت داسې ذكرشويدې چه معنوى اوظاهرى دواړوقسمونو لره شامل دې لكه فرمائى:

﴿وَءَاتَىٰكُم مَّا لَمۡ يُؤۡتِ أَحَدٗا مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ [تاسو ته ئې هغه نعمتونه دراوبخښل چه ددنياپه جهان كښې يې چاته نه دى وركړې، په دې نعمتونو كښې معنوى شرافت، نبوت اوپيغمبرى هم داخله ده، اوظاهرى حكومت، سلطنت اومال دولت هم، البته دلته داسوال كيدې شى چه دقرآن كريم د نص له مخې امت محمديه په ټولو امتونو كښې زيات غوره دې ولې چه دقرآن كريم دا ارشاد ﴿كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ﴾ او ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَٰكُمۡ أُمَّةٗ وَسَطٗا﴾ ددې ګواه دې اود پيغمبر د احاديثو

¹) تفسير مظهرى تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۷۱، تفسير ابن كثير تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۵۳

ډيررواياتونه ددې تائيدکوي جواب دادې چې په دې آيت کښې ددنيا د هغه خلقو ذکر دی چې د بنی اسرائيلو نه د موسی ﷺ په زمانه کښې موجود وو. ردغه وخته پورې په ټوله دنيا کښې بل چاته دغه نعمتونه نه وو ورکړې شوی کوم چه دغه بنی اسرائيلوته ورکړې شوی وو په آئنده [راتلونکی] وخت کښې که يوامت [مثلاً امتِ محمديه] ته دې نه زيات نعمتونه ورکړې شونو داورسره بې سمونه کيږی نه،

ددې آيتونوځنې په رومبی آيت کښې دحضرت موسی ﷺ ذکرشوي قول ددې حکم د بيانولو تمهيد وو کوم چه په ورپسې آيت کښې داشان دې: ﴿يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ﴾ [اې زماقومه تاسو په دې مقدسه زمکه ورننوځئ چه الله تعالی ستاسو په برخه ليکلې ده]،

ارضِ مقدسه نه څومره زمکه مراد ده: د [ارضِ مقدسه] په باره کښې دمفسرينو ﷭ مختلف اقوال دی چه په ظاهره يوبل سره سمون نه خوری، ځنوتر [بيت المقدس] ځنوتر [قدس ښاراوايليا] مراداغستی دی، ځنوتر [اريحاښار] مراداغستې دې چه داردن دسينداوبيت المقدس ترمنځه ددنيايوډير، پخوانې ښار وو اوتراوسه پورې موجوددې، دحضرت موسی ﷺ په زمانه کښې ددې دلويئ اوفراخئ ډيرزيات عجيبه حالات نقل کړې شويدی،

په ځنوزرواياتونوکښې ددې ښارزربرخې [واړدونه] بيان شويدی چه په هره يوه برخه کښې زر زرباغونه وو، په ځنې رواياتونوکښې راغلی دی چه [ارضِ مقدسه] نه مراددمشق اوفلسطين اودځنوپه نزد [اردن] مراد دې. حضرت قتاده ﷺ فرمائيلی دی چه دشام ټول ملک [ارضِ مقدسه] دې، [کعب احبار] فرمائيلی دی چه مادالله تعالی په کتاب [غالباتورات] کښې ليدلی دی چه دشام ملک په پوره زمکه کښې دالله تعالی خزانه ده اوپه دې کښې دالله تعالی مخصوص اومقبول بندګان دی، دې زمکې ته [مقدسه] ځکه وئيله شويده چه دادانبياء ﷺ وطن اوډيرې ځائې پاتې شويدې، په ځنې رواياتونو کښې راغلی دی چه، يوورځ حضرت ابراهيم ﷺ د [لبنان] په غرختلې وو، الله تعالی ورته ارشاد اوفرمائيلوچه اې ابراهيم ﷺ، دې ځائې نه ته نظروا چوه، ستادنظررسيدوپورې موټوله [زمکه مقدسه] اوګرځوله. داټول رواياتونه د تفسيرابن کثيراوتفسيرمظهری نه نقل کړې شويدی[۱]، صفااوښکاره خبره داده چه په دې ټولو رواياتونو کښې يوتربله تعارض اوټکرنشته، دآخری رواياتونومطابق، دشام ټول ملک [ارضِ مقدسه] ده، چوچاد [شام] ټول ملک ته [ارضِ مقدسه] اووئيل اوچا، ددې يوې برخې ته،

﴿قَالُوْا يٰمُوْسٰۤى﴾ ددې نه په وړاندې آيت کښې الله تعالی، بنی اسرائيلوته دحضرت موسی ﷺ په ذريعه، عمالقه، قوم سره دجهادکولو او د شام ملک دفتح کولوحکم ئې ورکړې وواو ورسره ئې ورته دازيرې هم ورکړې ووچه دشام ملک زمکه، الله تعالی ددوئ دپاره ليکلې ده، ځکه ئې فتح کيدل يقينی دی. اوس په دې آيت کښې دابيان دې چه بنی اسرائيلوسره ددې خپلې مشهورې سرکشئ اوکوږ طبيعتئ له کبله داحکم هم اونه منلو، بلکه موسی ﷺ ته ئې داسې اووئيل چه، په دې ملک خود ډيرو مضبوطو خلقو قبضه ده، مونږ خوبه دغې زمکې ته ترهغې ورنشو، ترڅوچه دغه خلق هلته پاتې کيږی البته که هغوئ تربل چرته لاړل نوهله به دغلته ورتلې شو،

---

[۱]) تفسير ابن کثير تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۵۵، تفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۷۱

Scanned with Ca

داواقعه دتفسیر دامامانو حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه، عکرمه رحمه الله، او علی ابن ابی طلحه رحمه الله وغیرنه داسې نقل کړې شویده چه دغه دشام او بیت المقدس علاقه، د[عمالقه] قوم په قبضه کښې وه چه دقوم عاد دنسل نه وو، ډیر غټ او مضبوط جسمونه ئې لرل، ډیر رعبدار اولوړلوړ خلق وو، دوئ سره دجهاد کولو حکم حضرت موسی علیه السلام او قوم ته ئې ورکړې شوې وو، ددغې حکم سرته رسولو دپاره حضرت موسی علیه السلام، سره دخپل قوم، بنی اسرآئیلو، د شام ملک اړخ ته روان شو، او تلل ئې بیت المقدس ته وو، داردن سیندنه چه پورې وتل اود دنیاد ټولونه زیات پخوانې ښار نه اوړسیدل نو هلته تیکاؤ شو اودبنی اسرآئیلو دانتظام دپاره ددولسو سردارانو ټاکل دقرآن کریم په تیروشوؤ آیتونو کښې بیان شویدی، دغه سرداران یواځې ددغې قوم اودمحاذ جنګ دحالاتو معلومولو دپاره حضرت موسی علیه السلام راولیږل، دغه سرداران بیت المقدس ته په رسیدو ددغه ښار نه بهر دعمالقه قوم یوسړی سره ملاؤ شو، هغه ټول بندیان کړل او ځان سره ئې خپل بادشاه ته پیش کولو دپاره بوتلل، بادشاه ته ئې اووئیل چه داخلق مونږ سره جنګ کولو دپاره راغلی دی، په شاهی دربار کښې د دوئ په وژلو یا په بلې سزا ورکولو مشوره اوشوه خو فیصله د دوئ په خوشی کولو په دې غرض اوشوه چه خپل قوم لره دعمالقۀ درعب او مضبوطوالی نه خبر کړی اود وئ داسې قسم ګواهان ثابت شی چه دغه خلق بیادې اړخ ته دراتللو قدرې جوګه هم پاتې نشی. په دې موقعه دتفاسیرو په اکثرو کتابونو کښې داسرائیلی روایتونو اوږدې اوږدې قیصې بیان کړې شویدی، په دغې روایتونو کښې یوروایت داهم دې چه دغه بهرملاویدنکې سړې عوج بن عنق وو، دهغه لوړوالې طاقت اوقوت دومره بې انتهاء بیان کړې شویدې چه یوهوښیارېنده دهغې نقل کولوته هم نه تیاریږی.

دتفسیر امام ابن کثیر رحمه الله فرمائیلی دی چه په دغه اسرائیلی روایتونو کښې کومې قیصې چه د[عوج بن عنق] په باره کښې بیان کړې شویدی، هغې لره نه عقل قبلولې شی اونه په شریعت کښې دهغې څه جواز شته، بلکه داټول دروغ اودځانه جوړې کړې خبرې دی[1]، البته دومره قدرې خبره ده چه عمالقه قوم چونکه د قوم عاد دنسل نه وو دهغوئ هیبتناک لوړوالی اوجوثې پخپله قرآن کریم هم بیان کړیدی، ددغې قوم دمهلت ډول، دقوت اوطاقت مثال به ورکولې شو، چنانچه د دوئ څخه یوکس یواځې، دبنی اسرآئیلو دولسو سردارانو په ګرفتارولو اوخپل بادشاه ته ئې په پیش کولو قادر شو. خیر دغه دولس سرداران چه راخوشی کړې شونو خپل قوم ته د[اریحا] په مقام راؤرسیدل، حضرت موسی علیه السلام ته ئې ددغه قوم دحدنه زیات مضبطوالې اوعجیبه عجیبه حالات بیان کړل، دحضرت موسی علیه السلام په زړه باندې خو ددغه خبروپوټې قدرې اثرهم څکه اونه شو چه الله تعالی ورته دوحی په ذریعه د فتح اوکامیابئ زیرې آورولې وو، لکه اکبر آبادی وئیلی دی؟

مجھ کو بیدل کر دے ایسا کون ہے؟ یاد مجھ کو اَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ ہے

داسې څوک دې چه مالره به بې زړه کړې شی، ولې چه ماته [دالله تعالی] وعده د[وَاَنْتُمُ الْاَعْلَوْنَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ۝] یاد ده.

حضرت موسی علیه السلام د دوئ دقوت، مضبوطوالی اورعب، داب دحالاتو په آوریدو هم په خپل ځائ

---

[1] تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ٣، ص ٧٦

لکه دغه تېنګ ولاړوو، او د جهاد په فکر کښې لګيا وو، خو داوېره ورته ضرور وه، چه که بنی اسرائيلو ته دعمالقه قوم دغه حالات خپلو دغه سردارانو بيان کړل نو بنی اسرآئيل به زړه اوبيلي، په دې وجه ئې دغه سردارانو ته اوفرمائيل چه دغه حالات دې خپل قوم بنی اسرآئيلو ته نه بيانوی او پټ دې ئې ساتی، خو داسې اوشو چه دغه سردارانو کښې هريو خپل خپل دوستان په پټه ددغه حالاتو نه خبر کړل، په دوئ کښې صرف دوه کسان [سرداران] داسې وو چه هغوئ د حضرت موسی ﷺ په هدايت عمل اوکړو، او دغه رازئې چاته ښکاره نکړو په دوئ کښې ديو نوم [يوشع بن نون] او دبل نوم [کالب بن يوقنا] وو.

هر کله چه لسو سردارانو دغه راز ښکاره کړې وو نو دهغې خو ريدل يقينی او قدرتی خبره وه، بنی اسرائيل په دې خبرو ډير غمژن شو، په ژړا، انګولا سرشو، او وئيل ئې چه دې نه داښه وو چه د فرعونيانو په شان مونږه هم په درياب لاهو شوي وې، هلته نه ئې راخلاص کړو، اوس مو دلته وژنی، او داسې ئې هم اووئيل [﴿يٰمُوْسٰۤى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا﴾] [اې موسی ﷺ، دغلته خو ډير زورور قوم آباد دې چه مقابله ئې مونږه نشو کولې]، ددې کبله ترڅو پورې چه هغوئ دغلته موجود او آبادوی نو هلته به مونږ دتلو نوم نه اخلو، ورپسې آيت کښې دافرمائيلې شويدی چه په کومو دوؤ کسانو، الله تعالی انعام کړې وو هغوئ دبنی اسرآئيلو په دې خبرو آوريدو ورته دنصيحت په ډول او وئيل چه [اول نه ولې دويرې مرئ] لږ شان خوروان شئ دا [بيت القدس] دروازې پورې ورا ورسئ، زمونږ يقين دې چه ستاسو دومره کول به هم ستاسو دفتح اوبرې سبب جوړشی، دبيت المقدس په دروازه ورننوتو سره به سمدستی غالب شئ او دښمن به په ماتې خوړو سره تيښته اوکړی،

داکثرو مفسرينو ﷺ په نزد دغه دوه کسان نصيحت کوؤنکی هغه سرداران وو چه د حضرت موسی ﷺ په خبره ئې عمل کړې وو او دعمالقوؤ دحالاتو رازئې خپل قوم ته نه وو ښکاره کړې، يعنی دغه دواړه حضرات [يوشع بن نون]، او، کالب بن يوقنا] وو،

دلته قرآن کريم ددغې دواړو بزرګانو، دوه صفتونه په خاص شان سره بيان کړيدی يو داچه ﴿اَلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ﴾ [داسې خلق چه ويريږی] اګرچه دلته دانه دی بيان شوی چه چانه ويريږی؟ اشاره دې اړخ ته ده چه په ټول جهان کښې يواځې يو ذات داسې دې چه دهغه نه دې ويره اوکړې شی، دې ذات نه مراد الله تعالی دې چه ټول کائنات او مخلوقات دهغه په قدرت کښې دی، دهغه د خوښې او اجازت نه بغير څوک چاته يو ذره فائده يا يو ذره نقصان نشی رسولې، هر کله چه دا ذات صرف يو ذات کيدې شی چه بيخی ښکاره دې نو دهغه دښکاره کولو او ټاکلو څه ضرورت پاتې نشو،

ددغې بزرګانو بل صفت قرآن کريم داښودلې دې: ﴿اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا﴾ [الله تعالی په دغې دواړو انعام کړې وو] دې خبره کښې دې ته اشاره ده چه په هرچاکښې چه خيرښيګړه موندې شی دا ټول دالله تعالی انعام او ورکړه ده، ورنه ددغې دولسو سردارانو ظاهری قوتونه، لاسونه، خپې، سترګې، غوږونه او باطنی قوتونه، عقل، هوش وغيره او بيا د حضرت موسی ﷺ صحبت او ملګرتيا خو ټولو ته حاصله وه، خو سره ددې نورټول اوښوئيدل يواځې دغه دوه کسان په خپل ځائې ټينګ پاتې شول. دې نه معلومه شوه چه اصلی هدايت دانسان په ظاهری او باطنی قوتونو بانذې اړانړه نه دې بلکه دالله تعالی انعام دې، البته دې انعام دپاره کوشش او عمل

کول ضروري شرط دي دي نه دا هم معلومه شوه چه انسان دي د الله تعالى په ورکړي عقل، هوش دانايئ اوهوښيارتيا اوپه نوروطاقتونو فخر اوناز نه کوي، بلکه يواځې دالله تعالى نه دې نيکي اوهدايت طلب کوي، لکه عارف رومي فرمائي،

فهم وخاطر تيزکردن نيست راه — جز شکسته مى نگيرد فضل شاه

اپوهه اوزړه تيزول لار[موندل] نه ده، سوا ددې نه دبادشاه فضل موندل نشي کيدې چه ځان ورته او نه سپاري]

خلاصه دخبرې داشوه چه دغه دوؤ بزرګانو خپلو خلقوته دانصيحت اوکړو چه دعمالقؤ دظاهري قوت اورعب نه مه ويريږئ، که په الله تعالى موتوکل اوکړونو دبيت المقدس دروازې ته په رسيدوبه فتح اوغلبه هم ستاسووي، ددې خبرې دوه وجې کيدې شي ① يو داچه قوم غټې اومضبوطې جوثې لري، دډيرقوت اورعب خاوندان دي مګرپه زړونو کمزوري دي چه دچپاؤ اود حملې دخبرپه آؤريدوبه هغوئ ټينګ نشي، ② او دا وجه ئې هم کيدې شي چه په هغې وحې ئې پوره يقين وؤ چه حضرت موسى عليه السلام ته دالله تعالى له اړخه دزيرى په ډول راليږلې شوې وه، هرکله چه بني اسرائيلو دخپل پيغمبرحضرت موسى عليه السلام خبره واؤنه ريده نو ددغه دواړو بزرګانو خبره به ئې څه آؤريدلې وه، بيائې داجواب په ډيرې ضد سره ورکړو چه: ﴿فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَٰهُنَا قَاعِدُونَ﴾ [تاسو عليه السلام اوستاسو عليه السلام خدائې دې لاړشى هغوئ سره دې جنګ اوکړي، مونږ خو به هم دلته ناست يو]، که دبني اسرائيلو داکلمه دټوقومسخروپه ډول وې نوبشکاره دکفر کلمه وه، خودې نه پس هرکله چه حضرت موسى عليه السلام دوئ سره يوځائ استوګنه کوله، دوئ دپاره ئې په ميدان تيه کښې دعاګانې کولې، څنګه چه په راتلونکي آيت کښې بيان شويدي، نوداخبرې ددې دليل دي چه د ټوقو مسخروپه غرض ئې داسې نه وو وئيلي بلکه مطلب ئې داووچه [تاسو عليه السلام حضرت موسى عليه السلام هغوئ [عمالقؤ] سره جنګ کولودپاره لاړشئ، ستاسو عليه السلام پروردګاربه ستاسو مدد کوي، مونږ خودرسره د مدد کولو نه پاتې راغلو، په دې اعتبارسره د دوئ داخبره دکفردحدنه اووتله اګرچه جواب ئې ډيربې کاره او زړه آزاروونکې دې، همدغه وجه ده چه دبني اسرائيلو داکلمه ديومثال ورکولوپه ډول مشهوره شوه،

دبدرپه غزاکښې دتش لاسواو اوږومسلمانانوپه مقابله کښې هرکله چه ديو [۱۰۰۰] زرووسله دارو خلمولښکراودريدواورسول الله ﷺ دهغې په ليدودخپل رب نه دعاغوښتل شروع کړل نوحضرت مقدادبن اسود رضي الله عنه صحابي، راوړاندې شواوعرض ئې اوکړو، اې رسول الله ﷺ، په خدائې مې دې قسم وي، مونږبه هيچرې هغه خبره اونکړوکومه چه دحضرت موسى عليه السلام قوم هغوئ عليه السلام ته داسې کړې وه، ﴿فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا إِنَّا هَٰهُنَا قَاعِدُونَ﴾ بلکه مونږبه ستاسو ﷺ ښي، ګس [چپه]، وړاندې [مخ ته]، روستو [هر اړخ ته] دهغوئ په بيرته تمبول کوؤ، لهذا تاسو ددې فکرمه کوئ اودمقابلې تيارى اوکړئ،

رسول الله ﷺ ددې په آؤريدوډيرزيات خوشحاله شو اوپه صحابه کرامو رضي الله عنهم کښې هم د جهاد يو نوې جوش راپيدا شو، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به هميشه فرمائيل چه دحضرت مقدادبن اسود په دې کارنامه زه ډيررشک لرم، کاش، داخوش قسمتي زما په برخه وې،

Scanned with Ca

دخبرې خلاصه دا شوه چه دحضرت موسى ﷺ قوم هغوئ ﷺ ته په داسې نازکه موقعه باندې په بيکاره جواب ورکولو سره خپل ټول لوظونه او قولونه مات کړل،

دقوم ډيره زيانه بې وفائي اودحضرت موسى ﷺ بې کچه مضبوطه اراده اوټينګ پاتې کيدل: ﴿قَالَ رَبِّ اِنِّىۡ لَاۤ اَمۡلِكُ اِلَّا نَفۡسِىۡ﴾ دبنی اسرآئيلو تيرشوی حالات او واقعات اودوئ سره دالله تعالى اود حضرت موسى ﷺ د معاملاتو خبر اغستونکې که په سرسری نظر سره هم داخبره مخې ته راولې چه کوم قوم [بنی اسرآئيل] چه دصدوراسې دفرعون په غلامئ کښې قسماقسم ذلتونه اوعذابونه برداشت کول، دحضرت موسى ﷺ په تعليم اودهغې په برکت الله تعالى دوئ لره دکوم ځائې نه، کوم ځائې ته ورا ورسول، دهغوئ دسترګو مخې ته دالله تعالى دکامل قدرت څنګه څنګه ننداري اوکړې شوې، فرعون او فرعونيانو دحضرت موسى ﷺ اوهارون ﷺ دلاسه په خپل قائم کړی دربار کښې څنګه څټ ماتوونکې ماتې اوخوړه؟ په کوموساحرانو، جادوګرانو چه فرعون اوفرعونيانو ملاتړله، هغوئ په حضرت موسى ﷺ ايمان راؤړو اودزړه داخلاصه دهغوئ ﷺ تابعدارشو، بيادخدائي ددعويدار، فرعون نه اوپه شاهی محل کښې داوسيدونکو فرعونيانو نه، دالله تعالى غالب قدرت، په څه شان ټول محلونه مکانونه اود هغوئ سازوسامان دهغوئ نه په يو وخت خالي کړل، اوپه څه شان ئې دبنی اسرآئيلو دسترګو په وړاندې هغوئ په دريـاب کښې لاهو کړل اوپه څه شان ئې په معجزانه ډول، بنی اسرآئيل د درياب نه پورې ويستل، په څه شان ئې هغه دولت اوهغه پوره ملک بغيرد څه جنګ جګړې نه بنی اسرآئيلو ته ورکړو په کوم چه به فرعون په داسې شان فخر کولو ﴿اَلَيۡسَ لِىۡ مُلۡكُ مِصۡرَ وَهٰذِهِ الۡاَنۡهٰرُ تَجۡرِىۡ مِنۡ تَحۡتِىۡ﴾ په دې ټولو واقعاتو کښې دالله تعالى دغالب قدرت ننداري ددغې قوم مخې ته راغلې، حضرت موسى ﷺ دغه قوم، اول دغفلت اوجهالت نه، بيادفرعون دغلامئ نه آزادولو کښې ډيرزياتې تکليفونه په سر واغستل، سره ددې ټولونه هرکله چه دې قوم ته دالله تعالى دانعاماتو او امدادونو دوعدو سره دشام په ملک باندې دجهاد کولو حکم ملاؤشونو دغه خلقو خپل رذيلتوب په داسې ويناکولو سره سرګند کړو،

﴿اِذۡهَبۡ اَنۡتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَاۤ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوۡنَ﴾ ددنيالوئ نه لوئ اصلاح کوونکې دې خپل زړه اولټوی او اودې ګوری چه ددغې حالاتو او ورپسې دقوم ددغې حرکتونو اوناکردو به په هغه څه اثروی؟ مګردلته خودالله تعالى اولوالعزم پيغمبردې چه داستقامت غرجوړشوې په خپل شغل کښې لګيادې، دقوم د وعدو ماتولو اووعدو هيرولو دجاری عمل نه هرکله چه تنګ شونودخپل پروردګارپه وړاندې ئې صرف دومره عرض اوکړو: ﴿رَبِّ اِنِّىۡ لَاۤ اَمۡلِكُ اِلَّا نَفۡسِىۡ وَاَخِىۡ﴾ [دخپل ځان او رور نه سوا په بل چا اختيارنه لرم]، عمالقؤ سره دجهادمهم څنګه سرته اورسوم؟،

دلته دې خبرې باندې هم ژورنظراچول پکاردی چه په بنی اسرآئيلو کښې کم ناکم دوه کسان سرداران [يوشع بن نون] او [کالب بن يوقنا] داسې ووچه دحضرت موسى ﷺ په هدايت ئې دعمالقؤپه باره کښې رازنه ووښکاره کړې، دخپل قوم په پوهولو اوپه سمه لار باندې راوستلو په کوشش کښې حضرت موسى ﷺ سره په مخه شريک پاتې شوی وو، خو دغه وخت ئې ددغه دوؤکسانو ذکرهم په دې وجه اونکړوچه داهم دبنی اسرآئيلو دقوم غړی وو دقوم د نافرمانئ او وعدې ماتولو په وجه ئې چه الله تعالى ته عرض کړې وو، يوائې دحضرت هارون ﷺ ذکرئې ځکه اوکړوچه دپيغمبرئ په وجه هغه دګناه نه پاک وو، په حق باندې ټينګ پاتې

Scanned with Ca

کیدل دهغه یقیني وو اودغه دواره دګناهونونه پاک نه ووځکه ئې دغم اوغصې په حالت کښې د دوئ ذکرا ونکړوا وداسې ئې اوفرمائیل چه دخپل ځان اوخپل رورنه سوا په بل هیڅاځه اختیارنه لرم اوداسې دعائې اوکړه،

﴿فَافۡرُقۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ الۡقَوۡمِ الۡفٰسِقِيۡنَ﴾ ازمونږ دواړو اوزمونږ دقوم ترمنځه هم ته فیصله اوکړې،

د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه دتفسیر مطابق ددې دعا حاصل دا ووچه دې خلقوته هغسې سزاورکړې د کومې چه دوئ حقداردی، اومونږ چه دکوم صورت حال مستحق یو مونږته هغه راکړې. الله تعالی دا دعا په دې شان قبوله کړه څنګه ئې چه فرمائیل: ﴿قَالَ فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيۡهِمۡ اَرۡبَعِيۡنَ سَنَةً ۚ يَتِيۡهُوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ﴾ [دشام ملک زمکه په دوئ باندې څلویښتو کالو دپاره حرامه کړې شوه اوس دوئ هلته نشی تلې اګرچه ورته تلل غواړي] اوبیائې یوا ځې دشام ملک ته نه، بلکه دمصر ملک ته به هم نشی تلې اودې میدان کښې به دوئ نظربند کړې شی،

دالله تعالی داسزا کانو دپاره نه خو پولیس اونه خو هتکړئ شرط دی، نه ئې دجیلخانې مضبوطو دیوالونو اوداوسپنې دروازوته ضرورت شته، بلکه کله چه الله تعالی چا لره نظربند کول اوګیرول اوغواړي نوپه ډاګ میدان ئې هم بندولې شی، سبب ئې ښکاره داسې دی چه ټول کائنات دهغه پیدا کړې شوی اومحکوم دی کله چه دغه کائناتو ته دچاد بندی ساتلو حکم اوشی نوټوله هوا ، فضا ، زمکه اومکان هغه دپاره دجیل داروغګان جوړشی.

خاک بادوآب وآتش بنده اند　　　　بامن وتومرده، باحق زنده اند

[خاوړې باد ، اوبه او اوردالله تعالی بندیګانان دی، ماوتاته بې ساه ښکاري، خودالله تعالی په نزد ژوندی دی]

دغه میدان تیه دمصر اوبیت المقدس په منځ کښې واقع ووچه دحضرت مقاتل دتفسیر مطابق دیرش فرسخه اوږد اونهه فرسخه پلن دې، که یو فرسخ درې میله اوګنړلې شی نولس کم سل میله اوږدوالې او اوویشت میله پلن والې ئې جوړیږی اودځنې روایتونو مطابق صرف دیرش میله اوږد او اتلس میله پلن دې، الله تعالی په دې مختصراو خلاص میدان کښې، دحضرت مقاتل دبیان په جوړشپږ لکه خلق داسې بندیان اوساتل چه څلویښتو کالو پورې ئې پکښې دامنډې تړې وهلې چه په څه شان سره تربیت المقدس ته لاړشی یامصرته واپس لاړشی خونتیجه به ئې داوه چه دټولې ورځې دسفرنه روستو به چه کله ماښام شونو ورته به معلومه شوه چه سره دګرځیدوراګرځیدو دوئ هم هغه ځائې ته رارسیدلی دی چرته نه چه روان شوی وو.

دتفسیر علماؤ رحمهم الله فرمائیلی دی چه الله تعالی قوم ته دهغوئ دبدعملئ مناسب سزاورکوی، هرکله چه دغې نافرمان قوم دغه کلمه وئیلې وه ﴿اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوۡنَ﴾ [مونږ به هم دلته ناست یو] الله تعالی هم ددغې په سزا کښې څلویښت کالوپورې هم دغلته قیداولرل، په دې باره کښې تاریخی روایتونه مختلف دی چه ددغې څلویښتو کالوپه موده کښې دبنی اسرآئیلو ټول نافرمانه نسل فناشوې وواودوئ پسې نوې نسل ئې څلویښت کاله پس بیت المقدس ته داخل شوې وو، یا ددغه نافرمانه خلقونه هم ورسره څوک پاتې شوی خلق هلته ته تلی وو؟ به هرحال قرآن کریم خویوداوعده کړې وه چه ﴿كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمۡ﴾ یعنی دشام ملک الله تعالی دبنی اسرآئیلوپه برخه لیکلې

Scanned with Ca

دي، او دا وعده په دې شان ضرور پوره کیدل وو، چه دبنی سرآئیلو دقوم به په دغه ملک قبضه او تسلط وی، مگر دبنی اسرآئیلو موجوده کسانو په نافرمانئ کولو سره دغې خداوندی انعام ته شاکړه چه دغه سزائې ورکړې شوه: [مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ أَرْبَعِيْنَ سَنَةً] یعنی څلویښتو کالو پورې هغوئ دارض مقدسه دفتح کولو نه محرومه کړې شو، بیا چه ددوئ نه نوې نسل پیدا شو دهغوئ په لاس دغه ملک فتح شو او دالله تعالی وعده پوره شوه.

په دغه میدانِ تیه کښې حضرت موسی ﷺ او حضرت هارون ﷺ هم خپل قوم سره وو، دقوم دپاره ئې دغه میدان دقید او سزا وو او دوئ دواړو دپاره دالله تعالی دنعمتونو د ښکاره کیدو ځائې وو. چنانچه په دغه څلویښت کلیز دور کښې هم، الله تعالی دغې قوم لره ددغې دواړو پیغمبرانو په برکت سره، په قسماقسم نعمتونو سره او پاللل، دډاگ میدان دنمر [دتاؤ] نه چه تنگ شو، دموسی ﷺ په دعا سره پرِ الله تعالی دوریځو تمبو جوړ کړو، څنگه به چه دوئ گرځیدل راگرځیدل ورسره ورسره به ئې وریځ هم دسرد پاسه روانه وه دتندې او داوبو دکموالی له کبله چه تنگ شو، نو حضرت موسی ﷺ ته الله تعالی داسې یو کانړې ورا وښودلو چه هر چرته به ورسره وو، کله به چه ورته داوبو ضرورت وو نو حضرت موسی ﷺ به پرې خپله همسا او وهله او دولس چینې به دهغې نه جاری شوې، چه دلوږې نه تنگ شو نو آسمانی خوراکه [مَنّ] او [سَلوی] پرنازله کړې شوه، دشپې دتیرې شکایت چه ورته پیدا شو نو الله تعالی دوئ دپاره درڼا یو مینارا اودرولو چه دهغې په رڼا کښې به ئې تولو کار روزگار کولو، غرض دا چه په دغه میدانِ تیه کښې یو اځې دغه سزا موندونکی خلق نه وو بلکه دالله تعالی دوه ښکلی پیغمبران او ورسره دوه مقبول بزرگان [یوشع بن نون] او [کالب بن یوقنا] هم وو، دهغوئ په برکت دسزا په دغه زمانه کښې هم پرِ دغه انعامات په مخه کیدل، الله تعالی رحیم الرحماء دې ممکنه ده چه دبنی اسرآئیلو دغه کسانو هم، ددغې حالاتو په لیدلو کتلو سره دخپلې گناه او خپل جرم نه توبه کړې وی او دهغې په بدل کښې ورته دغه انعامات ورکړې شوی وی.

دصحیح روایاتو په جوړ په دغه څلویښت کلیز دور کښې اول حضرت هارون ﷺ وفات شو د هغې نه شپږ میاشتې یا یو کال پس حضرت موسی ﷺ وفات شو، ورپسې الله تعالی حضرت [یوشع بن نون] لره پیغمبر جوړ کړو او دبنی اسرآئیلو دهدایت دپاره ئې ورته حکم اوکړو، چه دغه څلویښت کاله قیدئې ختم شو، نو دبنی اسرآئیلو پاتې نسل دحضرت یوشع بن نون په مشرئ کښې د [بیت المقدس] دجهاد دپاره روان شو، دالله تعالی دوعدې مطابق، د [شام] ملک دهغوئ په لاس فتحه شو او ددغې ملک بې کچه دولت دهغوئ لاس ته ورغلو.

په آخر دآیت کښې ئې اوفرمائیل: ﴿فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ﴾ اې په دغسې نافرمان قوم باندې تاسو زړه مه سوځوئ! وجه ئې داوه چه پیغمبران ﷺ دخپل امت تکلیف او پریشانی څکه نشی زغملې چه ډیر زړه سواندی او نرم طبیعتی وی، که امت ته ئې سزا ورکولې شی نو په هغې هم دلگیر کیږی، په دې وجه حضرت موسی ﷺ ته داتسلی ورکړې شوه چه زړه مه خفه کوئ.

Scanned with Ca

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ

او بيان کړه | په دوئ باندې

| ....او دوئ ته د

نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ ۘ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ

قيصه | ددواړو خامنو | د آدم ﷺ | په حقه سره | کله چې | اوکړه دواړو | قرباني | نو قبوله کړې شوه

آدم ﷺ د دوؤ خامنو رښتونې قصه واوروه | ....کله چې دواړو قرباني اوکړه | نو د يو قرباني قبوله

مِنْ اَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ؕ قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ

ديودې دواړو نه | اوقبوله نۀ کړې شوه | دبل نه | اووئيل هغه [قابيل] | چې خامخا به زۀ قتل کړم تا

شوه د بل قرباني قبوله نشوه | .... [قابيل] اووئيل چې زه به دې مړ کړم

قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ۝ لَئِنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ

اووئيل [هابيل] | چې بيشکه | قبلوی | الله | د پرهيزګارانو نه | که چرې | را اوږد کړو تا | ماته

نو [هابيل] اووئيل چې بيشکه الله ﷻ د پرهيزګارو قرباني قبلوی | که ته ماته د قتل په اراده لاس رااوږد

يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ ۚ

لاس خپل | دپاره ددې چې مړ کړې ما | خونۀ يم زۀ | غزونکې | د لاس خپل | تاته | چې مړ کړم تا

کړې | خوزۀ به بياهم تاپسې خپل لاس نه در اوږدوم | ....چه زه تا قتل کړم

اِنِّيْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ اِنِّيْٓ اُرِيْدُ اَنْ تَبُوْٓاَ

بيشکه زۀ | ويرېږم | د الله نه | چې پالونکې د مخلوقاتو دې | بيشکه زۀ | غواړم | چې اخته شې ته

بيشکه زۀ د الله ﷻ نه ويرېږم | چې د مخلوق پروردګار دې | ....زه داغواړم چې ته زما

بِاِثْمِيْ وَاِثْمِكَ فَتَكُوْنَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۚ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا

په ګناه زما | او په ګناه خپلې سره | نوشې به ته | د ملګرو | د اور نه | او دا | جزا ده

او خپله ګناه په سرباندې بار کړې | او دوزخي شې | ....او دا بدله د

الظّٰلِمِيْنَ ۝ فَطَوَّعَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ قَتْلَ اَخِيْهِ فَقَتَلَهٗ فَاَصْبَحَ

د ظالمانو | نو آسان کړل | ده ته | نفس خپل | وژل د رور خپل | نومړې يې کړو هغه | نو اوګرځيدو

د ظالمانو ده | نو خپل نفس دې د خپل ورور د قتل دپاره تيار کړو | او هغه ئې قتل کړو | نو هغه په

مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ۝ فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا يَّبْحَثُ فِي الْاَرْضِ

د زيانکارانو نه | نو راوليږو | الله | يو کارغه | چې کنده ئې کنستله | په زمکه کښې

زيانکارانو کښې شامل شو | بيا الله ﷻ يو کارغه راوليږلو | چې زمکه ئې اوکنيستله د دې دپاره

Scanned with Ca

لِيُرِيَهٗ كَيْفَ يُوَارِيْ سَوْاَةَ اَخِيْهِ ؕ قَالَ يٰوَيْلَتٰۤى

چي اوښائی هغه ته| چي څرنګي| پټه کړی |مړه جثه|د وروروخپل |اووئيل [قابيل]|اني افسوس دي مالره

چي هغه ته طريقه اوښائی چي دخپل ورور لاش به څنګه پټوی | چي دا ئي اوليدل نو هغه اووئيل چي

اَعَجَزْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَاُوَارِيَ سَوْاَةَ اَخِيْ ۚ فَاَصْبَحَ

آيا عاجز شوم زهٔ | چي شم زهٔ | پشان | د دي کارغهٔ |اچي پټه کړم | مړه جثه |د ورور خپل | نو شو

اني کاش زه ددي کارغه پشان|هوښيار اوې | اودخپل ورور د لاش د ښخولو انتظام مې کړې وې| نو پخپلو کړو

مِنَ النّٰدِمِيْنَ ۝ مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۛ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْۤ اِسْرَآءِيْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ

دپښيمانو خلقو نه| په سبب ددي الیکلي وۀ مونږه[تورات کښي]| په بني اسرائيلو باندي|چي بيشکه|چا چي مړ کړو

ډير پښيمانه شو | ددي وجي نه مونږ بني اسر ائيلو ته دا حکم ورکړې وۀ| چي چا يو نفس

نَفْسًۢا بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ

يونفس| بي دعوض | دبل نفس نه| يابي دفساد خورولو نه| په زمکه کښي| نولکه چي امړه کړل هغه

دبل نفس دبدلي نه بغير يا د زمکي په مخ دفساد کولو نه بغير قتل کړو | نو ګويا چي هغه

النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ وَمَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ

خلق | ټول | اوچا چي ژوندي کړو هغه| نولکه چي | ژوندی کړل هغه| خلق | ټول

ټول خلق قتل کړل | اوچا چي يو نفس ژوندي بچ کړو | نو ګويا هغه ټول خلق ژوندی کړل

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ز ثُمَّ اِنَّ

اوبه تحقيق سره|راغلی وۀ هغوئ ته |رسولان زمونږه| دواضحه نښو سره| بيا | بيشکه

اوزمونږ پيغمبرانو دوئ ته څرګندي نښې راوړې وې | ....خو ددي باوجود

كَثِيْرًا مِّنْهُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ ۝

ډير خلق| دهغوئ نه| روستو ددي نه اپه زمکه کښي | خامخا زياتی کونکی دی |

په دوئ کښي ډير خلق دزمکي په مخ زياتي کوی|

آسان ترجمه قرآن: او (اې پيغمبره!) ته په دوی باندې د آدم عليه السلام د دوو ځامنو واقعه صحيح صحيح ولوله چه کله دواړو يوه قرباني پيش کړې وه، نو په دوی کښې د يو قرباني قبوله شوې وه او د بل هغه نه وه قبوله شوې (دې دويم اولې ته) ووئيل چه څه به تا وژنم اولي ووئيل چه الله د هغه خلقو (قرباني) قبلوي چه هغه پرهيزګار وي. که تا ما ته وژلو د پاره خپل لاس اوګد کړو نو بيا به هم څه تا ته د قتل د پاره خپل لاس اوګد نه کړم ځکه خو د الله رب العلمين نه ويرېږم. زهٔ خو دا غواړم چه په آخر کښې ته ځما او خپلې دواړو ګناه کښې ونيولې شي او دوزخيانو کښې شامل شي او هم دا سزا د ظالمانو ده آخر ده نفس ده لره د ورور په وژلو باندې آماده کړو، نو هغه خپل ورور ووژلو او دغه شان په نامراده خلقو کښې شامل شو. بيا الله يو کارغه راوليږلو دې دپاره چه ده ته وښائي چه څنګه د خپل ورور لاش پټ کړي (چه کله ئې دا وليدل) نو وې وئيل "هائې افسوس! چه څه ددې کارغه پشان هم نه شوم چه دخپل ورور لاش

مي ښخ کړې وي" دغه شان وروستو هغه ډير پښيمانه شو دې وجې نه مونږ بني اسرائيلو ته ليکلي وو چه څوك قتل وکړي او دا قتل د چا نه بدل اغستو د پاره هم نه وي او نه د چا په زمکه کښې د فساد خورولو په وجه وي نو دا داسې ده چه لکه ده ټول انسانان اووژل او څوك چه د چا نفس بچ کړي نو دا داسې ده لکه چه هغه د ټولو انسانانو ځانونه بچ کړي او حقيقت دادې چه ځمونږ انبياء دوی ته په واضحو دلائيلو راغلي وو، مګر دې نه روستو هم په دوی کښې ډيرو خلقو په زمکه کښې زياتې کولې.

خلاصه تفسير

﴿ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ ۘ ﴾ او [ائي محمد ﷺ] تاسو دے اهل کتابو ته د [حضرت] آدم ؑ د دوو ځامنو [يعنى دهابيل اود قابيل] قصه په صحيح شان واوروئ [چه نيکانو خلقو سره د نسبت لرلو هغه غرور ددوی مات شی چه په ﴿نحن ابناء الله﴾ سره ئے ښکاره کوی اودغه قصه هغه وخت شوې وه] ﴿ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا ﴾ کله چه دواړو [د الله ﷻ په نوم يوه يوه پيرزونه] وړاندې کړه اوددوی نه ديو [يعنى دهابيل] خو قبول شوه ﴿ وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ؕ ﴾ اود بل [يعنى دقابيل] قبوله نشوه [ولې چه دکومے معاملے دفيصلے دپاره دا پيرزونه وړاندې شوې وه په هغې کښې هابيل په حقه وو ځکه چه دهغه پيرزونه قبوله شوه او قابيل په حقه نه وو دهغه قبوله نه شوه ګنی بيا به فيصله نه کيده بلکه ګډوډ ی اوشکونه به په کښې راغلی وو کله چه] ﴿ قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ ﴾ هغه اوئيل [يعنى قابيل په دې کښې هم پاتې راغلو نو په تاؤ کښې راغلو] وے وئيل چه زه به تا ضرور وژنم دغه يو [يعنى هابيل] جواب ورکړو [چه ستا بيلات خو په دې وجه دې چې ته په حقه نه يئ زما څه غلطی ده ولې چه] ﴿ قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ۝ ﴾ الله ﷻ د پرهيزګارو عمل قبلوی [ماخو پرهيزګاری اختيار کړه او دالله ﷻ په حکم کلك پاتې شوم الله ﷻ زما پيرزونه قبوله کړه تا پرهيزګاری پريښوده دالله ﷻ د حکم نه دې مخ واوړلو، ستا پيرزونه يئ قبوله نکړه نو په دې کښې غلطی ستاده اوکه زما؟.انصاف اوکړه ليکن که بيا هم ستا دغه اراده ده نوته اوګڼره چه ماخو پوخ قصد کړې دې] ﴿ لَىِٕنْۢ بَسَطْتَّ اِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِيْ مَاۤ اَنَا بِبَاسِطٍ يَّدِيَ اِلَيْكَ لِاَقْتُلَكَ ۚ ﴾ که ته ماته زماد وژلو دپاره لاس راوچوے بياهم زه تاته ستادوژلودپاره هيچرې لاس دراچونکې نه يم [ولې چه] ﴿ اِنِّيْۤ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ ﴾ زه خودالله ﷻ دټول جهان دپروردګار نه ويريږم [چه په ښکاره خوستا د وژلو يو سبب موجود دے دې چې هغه زما د دوژلو اراده دے کول دی خوهر کله چه ددې روا والئ تر اوسه پورې په څه جزئی خاص شرعی حکم سره ماته ثابت شوې نه دې ځکه دهغې کول د احتياط نه خلاف کار ګڼړم اوددغې شبهے په وجه دالله ﷻ نه ويريږم او دغه زړورتيا هم ستاده چه زما د وژولو هيڅ باعث نشته بلکه ددې نه مانع موجود دے ليکن بيا هم ته دالله ﷻ نه نه ويريږے] ﴿ اِنِّيْۤ اُرِيْدُ اَنْ تَبُوْٓاَ بِاِثْمِيْ وَاِثْمِكَ فَتَكُوْنَ مِنْ اَصْحٰبِ النَّارِ ۚ ﴾ زه داسې غواړم چه [زمانه دې دڅه ګناه کار اونشی اګر چه راباندې ته ډير زيات ظلم هم اوکړې چه دهغې په وجه] ته زما ګناه اوخپله ګناه [ټوله] پخپل سر واخلے بيا ته په دوزخيانو کښې شامل شے ﴿ وَذٰلِكَ جَزٰٓؤُا الظّٰلِمِيْنَ ۚ ۝ ﴾ اوهم دغه سزا وی دظلم کوونکو. ﴿ فَطَوَّعَتْ لَهٗ نَفْسُهٗ قَتْلَ اَخِيْهِ ﴾ نو [هسې خوئے د مخکښې څخه هم د وژلو اراده کړې وه دائې چه واوريدل چه د هغې دکولو لاربه راته هم نه بندوی پکار خو داوو چه زيات نرم شوې وے مګر په يے فکره

Scanned with Ca

کیدو سره نو هم] دهغه زړه هغه لره دخپل رور وژلو ته تیار کړو[بیا] ﴿ فَقَتَلَهٗ فَاَصۡبَحَ مِنَ الۡخٰسِرِیۡنَ۝ ﴾ آخرئے هغه اووژلو چه دهغې په وجه [کم بخت] په ډیر تاوانیانوکښې شامل شو [په دنیا کښې خو دا زیان چه دخپلو متو طاقت اود روح آرام ئے دخپله لاسه اوښکلو اوپه آخرت کښې دانقصان چه په سخت عذاب کښې به اخته وی اوس هرکله چه د وژولو نه اوزګار شو نو حیران وو چه کالبوت سره څه اوکړم چه دغه کار مے پټ په پرده کښې پاتې شی چه په فکر کښې یې هیڅ خبره رانغله نو] ﴿ فَبَعَثَ اللّٰهُ غُرَابًا ﴾ بیا [آخر] الله ﷻ یو کارغه [هلته] اولیږلو ﴿ یَّبۡحَثُ فِی الۡاَرۡضِ ﴾ چه هغه [په مښوکه اوپنجو سره] زمکه اوکنستله [چه وړے کنستله یو بل مړ کارغه ئے پدغه کنده کښې کیخودو او خاورې ئے پرې واچولې] ﴿ لِیُرِیَهٗ کَیۡفَ یُوَارِیۡ سَوۡءَةَ اَخِیۡهِ ﴾ پدے غرض چه هغه [کارغه] [قابیل] ته خودنه اوکړی چه دخپل رور [هابیل] کالبوت په څه طریقے سره پټ کړی [قابیل ددې واقعے په لیدلو په خپل زړه کښې ډیر کچه شو چه د کارغه هومره پوهه هم نه لرم اوپه ډیر افسوس سره] ﴿ قَالَ یٰوَیۡلَتٰۤی اَعَجَزۡتُ اَنۡ اَکُوۡنَ مِثۡلَ هٰذَا الۡغُرَابِ ﴾ وے وئیل چه افسوس دے زما په حالت باندې آیا زه دده نه هم کم کوز شوم چه ددې کارغه پشان خو وے ﴿ فَاُوَارِیَ سَوۡءَةَ اَخِیۡ ۚ فَاَصۡبَحَ مِنَ النّٰدِمِیۡنَ۝ ﴾ اود خپل رور کالبوت مے پټ کړې وې [نو پدغه حال باندې] ډیر اوشرمیدو. ﴿ مِنۡ اَجۡلِ ذٰلِكَ ۚ کَتَبۡنَا عَلٰی بَنِیۡۤ اِسۡرَآءِیۡلَ ﴾ ددې [واقعے] په وجه چه دناروا قتل [خرابئ ترې ثابتیږی] مونږ [په ټولو مکلفو خلقو باندې عموماً او]په بنی اسرائیلو باندې [خاص کړ دا [حکم] اولیکلو [یعنی مقرر مو کړو] ﴿ اَنَّهٗ مَنۡ قَتَلَ نَفۡسًۢا بِغَیۡرِ نَفۡسٍ ﴾ چه [په ناروا قتل کول دومره لویه ګناه ده چه [څوك بل چالره] نه په بدل دبل کس کښې [چه په ناروا اوژولې شوې وی] یابغیر دڅه [شر او] ﴿ اَوۡ فَسَادٍ فِی الۡاَرۡضِ ﴾ فساد نه چه په زمکه کښې ددې نه خور شوې وی [خامخا] اوژنی نو [هغه ته به په بعضې اعتبار سره داسې ګناه وی چه] ﴿ فَکَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِیۡعًا ﴾ ګویا هغه ټول خلق اوژل [هغه بعضې اعتبار دادې چه پدغه ګناه زړور ورغلو دالله ﷻ نافرمانی ئے اوکړه الله ﷻ ترې ناراض شو پدنیا کښې دې ته اوترلی شو چه قصاص ترې واخستلې شی په آخرت کښې د دوزخ حق دار شو یعنی یو کس وژل او زر کسان وژل په اعتبار د ګناه او د عذاب سره یو حکم لری.اګر چه دسخت او سخت ترین فرق په کښې شته او دا دواړه قیدونه یعنی شرطونه یې څکه اولګول چه په قصاص کښې وژل روا دی.اودا شان په هغه صورتونو کښې هم چه دقتل د روا کیدو سبب جوړیږی لکه لاړ شوکول شو چه بیان یې راروان دې او کفر د حربی شو چه ذکرئے دجهاد په احکامو کښې راغلې دې .دا ټول په کښې دا خل دی په کومو صورتونو کښې چه وژل روا بلکه کله واجب هم وی] او [دا مو هم لیکلی وو چه څنګه په ناجائزه وژل لویه ګناه ده دغه شان چالره دغیر واجب وژلو نه د ساتلو هم دومره لوئې ثواب دې چې] ﴿ وَمَنۡ اَحۡیَاهَا ﴾ څوك بل چالره [دوژلو نه] اوساتی ورته به داسې [ثواب حاصلیږی چه] ﴿ فَکَاَنَّمَاۤ اَحۡیَا النَّاسَ جَمِیۡعًا ﴾ ګویا هغه ټول خلق اوساتل [د غیر واجب قید شرط څکه اولګولے شو چه د چا وژل د شریعت له مخې واجب وی دهغه امداد یا سفارش کول حرام دی اود احیاء دے مضمون سره هم د وژولو سختوالئ داسې ښکاره شو چه هرکله د احیاء صفت بیان کړې شو نو وژل به خامخا ناکاره وی په دې وجه ددې مرتب کیدل اوسبب جوړیدل هم په واسطے د عطف سره په] ﴿ مِنۡ اَجۡلِ ذٰلِكَ ۚ ﴾ باندې صحیح شو] ﴿ وَلَقَدۡ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُنَا بِالۡبَیِّنٰتِ ﴾

Scanned with Ca

اوبنی اسرائیلو ته[ددي مضمون دلیکلو نه پس] زمونږ ډیر پغمبران هم واضحو دلیلونو [دنبوت] راوړلو سره راغلل [اووخت په وخت به يې ددې مضمون تاکید کولو] ﴿ثُمَّ اِنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ بَعْدَ ذٰلِكَ فِي الْاَرْضِ لَمُسْرِفُوْنَ﴾ مګر بیا ددي [تاکید اوبندوبست] نه پس هم زیات کسان ددوی نه پدنیا کښې خالص زیاتی کوونکی پاتې شول [اوپدوی هیڅ اثر اونه شو تر دې چه بعضو پخپله هم دغه پغمبران اووژل].

معارف اومسائل

قصه دهابیل اوقابیل: په دې آیتونو کښې الله تعالی، رسول الله ﷺ ته داهدایت ورکړې دې چه تاسو ﷺ اهلِ کتابوته، یاخپل ټول امت ته دحضرت آدم ﷺ د دوؤځامنو قصه صحیح صحیح واؤروئ.

په قرآن پاك کښې چاچه پوره خیال کړې وي نودابه ورته معلومه شوې وی چه قرآن کریم دقصویاتاریخ څه کتاب نه دې چه مقصدئې څه واقعه، داول نه ترآخره پورې بیانول وی، لیکن تیرشوی واقعات اود پخوانوقومونوتاریخ ډیرعبرتونه اونصیحتونه ځان سره لری، کوم چه دتاریخ اصل روح دې اوپه دې کښې ډیرحالات اوواقعات داسې هم وی چه ډیرشرعی احکام په هغې باندې منحصر وی، هم ددغې فائدو له مخې دقرآن کریم طرزچرته دادې چه موقعه په موقعه، څه واقعه بیانوی اواکثرپوره واقعه هم یوځائې کښې نه بیانوی، بلکه دیومقصدپه جوړدهغې هره برخه بیل بیل ځائې کښې بیانوی، دحضرت آدم ﷺ د دوؤځامنودا قیصه هم په دغه طرزباندې نقل کولې شی، په دې کښې موجوده اوراتلونکو نسلونودپاره ډیرعبرتونه اونصیحتونه دی اوپه دغه ضمن کښې ډیروشرعی احکاموته اشاره کړې شویده.

اوس رومبې دقرآن کریم دالفاظوتشریح اودهغې په جوړ کښې اصل قصه اوګورئ وریسې به دې سره تړلې حکمونه اومسئلې بیانولې شی..

دې نه په مخکښنوآیتونو کښې، بنی اسرائیلوته دجهادحکم وواوپه هغې کښې دهغوئ کم همتی او بزدلی ذکرکړې شوې ده، ددې قصې په مقابل کښې د ناحقه وژلو خرابی او ددې د تباهئ په بیانولو سره قوم لره دې سمون اوجوړښت ته راوستل مقصوددی چه څنګه دحق په مرسته اودباطل په ختمولو کښې قتل وقتال [یعنی جهاد کولو] نه مخ اړول غلطی ده، دغه شان نارواقتل وقتال کول ددین دنیاتباهی ده،

په رومبی آیت کښې د ﴿اِبْنَيْ اٰدَمَ﴾ لفظ راغلې دې، هسې خوهرانسان دحضرت آدم ﷺ اولاد کښې دې خودلته دتفسیردجمهوروعلماؤ ﷺ په نزدترِدحضرت آدم ﷺ دوه صلبی، اصلی، [انیغ په نیغه] ځامن مراد دی چه هابیل اوقابیل وو، چنانچه فرمائی:؛

دتاریخی روایتونوپه نقل کولوکښې احتیاط کول اورشتیاوئیل واجب دی ﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ بِالْحَقِّ﴾ دې خلقوته دحضرت آدم ﷺ د دوؤځامنو قیصه په صحیح شان بیان کړه] چه دواقعې سره سمون لری، دلته په [بِالْحَقِّ] لفظ سره دتاریخی واقعاتوپه نقل کولو کښې یواهم اصول ته داسې مخ راګرځولې شویده چه دې کښې احتیاط کول ضروری دی، چه پکښې دې څه دروغ، ګډون ټګی نه وی، اونه دې په اصل واقعه کښې څه قسم بدلون راوستل یاکمې، یازیاتې کول نه وی [ابن کثیر] [1]

---

[1]) تفسیر ابن کثیر تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۸۷

یو اځې دلته نه بلکه په نورو ځایونو کښې هم، قرآن کریم په دې اصولو باندې دټینګ پاتې کیدو هدایات ورکړیدی، یو ځای کښې ارشاد دی ﴿إِنَّ هٰذَا لَهُوَ الْقَصَصُ الْحَقُّ﴾

بل ځای کښې ارشاد دی ﴿نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَأَهُم بِالْحَقِّ﴾ دریم ځای کښې ارشاد دی: ﴿ذٰلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ﴾ ددې ټولو موقعو په تاریخی واقعاتو کښې د [الحق] لفظ ذکر کولو سره ددې خبرې اهمیت واضح کړې شویدې چه دواقعاتو په نقل کولو کښې دحق اوږشتیا لحاظ ساتل لازمی دی، چنانچه دروایتونو او قصو په بناچه په دنیا کښې څومره خرابئ راولاړیږی، ددغې ټولو بنیاد عموما داوی چه دواقعاتو په نقل کولو کښې بې احتیاطی کولې شی، چه لفظ اوعنوان لږشان بدل شی نود واقعې حقیقت وران شی، دپخوانو قومونو مذهبونه او شریعتونه هم، ددې بې احتیاطئ له کبله تباه او ضائع شواود دوئ مذهبی کتابونه دیو څوبې سنده اوبې تحقیقه قیصو مجموعه جوړ شو، چنانچه دلته د ﴿بِالْحَقِّ﴾ لفظ په زیاتولو سره دې دیر ضروری مقصد ته اشاره اوکړې شوه.

دې نه علاوه په دغه لفظ کښې دقرآن کریم مخاطبینو لره دې اړخ ته راګرځول مقصود دی، چه هر کله رسول الله ﷺ [اُمی محض] [خالص اُمی] دې اودزړګونو کلونو زاړه واقعات بیخی، رشتیا او صحیح بیانوی نودغې سبب دوحی الهی اونبوت نه سوابل څه کیدې شی،

دې تمهید نه پس دحضرت آدم ﷺ ددغې دوو ځامنو واقعه قرآن کریم داسې بیان کړه ﴿إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ﴾ [ادغې دواړو الله تعالی دپاره خپله خپله قربانی پیش کړه، مګر دیو قربانی قبوله شوه او دبل قبوله نه شوه].

[قُربَان] په عربی لغت کښې هرهغه څیزته وئیلې شی چه دچادنزدیکت ذریعه جوړه کړې شی اودشریعت په اصطلاح کښې هغه ذبح [حلال] کړی څاروی ته وئیلې شی چه دالله تعالی دنزدیکت حاصلولو په غرض ئې حلال کړې وی،

په صحیح اوقوی سندونو سره ددې قربانئ نقل کړې شوې واقعه داده کومې ته چه ابن کثیر ﷫ دپخوانو اوروستنو علماؤ متفقه قول وئیلې دې، وائی چه کله حضرت آدم ﷺ او حضرت حواء دنیاته راغلل او اولاد پیدا کیدل ئې شروع شونودبی بی حواء دهر امیدنه به دوه ماشومان په یو ځل پیدا کیدل، یو به هلک وو اوبل به جینئ وه، دغه وخت هر کله چه رونړه خویندونه سوا نو پردی یالړې خپلوان نه وو، اودرور، خور، خپل منځ کښې سره نکاح نشی کیدې، الله تعالی دغه وخت دضرورت له کبله دحضرت آدم ﷺ په شریعت کښې دا خصوصی حکم جاری کړې وو چه هر امید کښې یو ځائې پیدا کیدونکی دوه ماشومان [هلک اوجینئ] به خپل منځ کښې رور، خور حسابیږی، ددغې دواړو نکاح په خپل منځ کښې سره نشی کیدې، او حرام به وی البته ددې بدلون به د دویم امید سره داسې کولې شی چه دړومبی امید جینئ به د دویم امید هلک ته په نکاح کولې شی اود دویم امید جینئ به دړومبی امید هلک ته په نکاح کولې شی،

اوس واقعه داسې وه چه ړومبی امیدنه قابیل سره یو ځائې پیدا شوې جینئ ښکلې وه اود دویم نه هابیل سره یو ځائې پیدا شوې جینئ بدرنګه وه، هر کله چه دالله تعالی دذکر شوی حکم مطابق هغه بدرنګه جینئ دقابیل بی بی جوړیدله نوهغه په دې راضی نه شو بلکه دهابیل دښمن جوړ شو او په دې ټینګ شو چه زه به هم هغه جینئ په نکاح اخلم کومه چه ما سره یو ځائې

Scanned with Ca

درومبي اميدنه پيداشويده، حضرت آدم ﷺ ورته دخپلې زمانې دشريعت په جوړ ددې اجازت نه ورکولو او داختلاف ختمولو دپاره ئې داړوته دقربانئ وړاندې کولوحکم اوکړو چې د چا قرباني قبوله شوه هغه به په حقه وي اودغه [ښکلې] جينئ به هم هغه ته په نکاح کولې شي. حضرت آدم ﷺ دهابيل دقربانئ قبليدويقين ځکه لرلوچه ددغه وخت دشريعت مطابق دغه ښکلې جينئ دهغه بي بي جوړيدې شوه([1]).

په دغه زمانه کښې دقربانئ قبليدو يوه ښکاره اوواضحه نخښه داوه چه آسمان نه به اور راغلو او قرباني به ئې اوخوړله، کومه قرباني به ئې چه اونه خوړله هغه به قبوله شوې نه وه، په دې شان هابيل يواعلى ګډقرباني کړوځکه چه هغه دګډوچيلو[ميږو بيزو] خاوندوو، قابيل کروندګر وو هغه دځه غلې، غنموغيره قرباني وړاندې کړه دآسمان نه راغلی اوردهابيل قرباني اوخوړه اودقابيل قرباني په خپل ځائې هم هغسې پاتې شوه، ددې ناکامئ اورسوايئ له کبله دقابيل تاؤنورهم زيات شو، په دغه تاؤکښې ئې خپل رورته اووئيل: ﴿لَأَقْتُلَنَّكَ﴾ [زه به دې ضرورووژنم] هابيل په دې هيڅ غصه نه شو، بلکه په سړه سينه ئې ورته دااُصولي خبره اوکړه، چه همدردی اوخيرخواهي پکښې هم وه ﴿قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ﴾ [دالله تعالى دستوردادې چه دمتقيانو پرهيزګارانوعملونه قبلوی] که تاتقوی، اوپرهيزګاری اختيارکړې وې نوقرباني به دې قبوله شوې وه، که داسې نه کولوپه وجه دې قرباني قبوله نه شوه نوپه دې کښې زماڅه قصوردې؟

په دې کلام کښې دحسدکوونکی دحسدعلاج هم داسې ذکرکړې شويدې چه ځوک بل چاسره دالله تعالى يوورکړې نعمت اوګوری نوهغه دې دااوګنړی چه دغه نعمت نه زه ځکه بې نصيبه يم چه قصوروارا وګناهګاريم، اودغې نه دې توبه اوباسی، داسې دې نه کوی چه هغه نه هم ددغه نعمت دلرې کيدو آرزولري يادې دپاره لاس خپې وهی، ولې چه دابه ورته د فائدې په ځائې تاوان ورکړی ځکه چه دالله تعالى په نزدمقبوليت [قبليدل] په تقوی باندې اړانړه دې [مظهری]([2])

دعمل دقبليدواړانړه په اخلاص اوتقوی ده: دلته دقابيل اوهابيل ترمنځه په خبرواترو کښې يوه جمله داسې هم راغله چه ديوډيرضروری اصول حيثيت لری هغه داچه دعملونو او عبادتونوقبليدل په تقوی اودالله تعالى نه په ويريدواړه لری، چاکښې چه تقوی نه وی دهغه عمل به قبول نه وی، په دې وجه پخوانوعلماؤ ﷺ فرمائيلی دی چه په دې آيت کښې عبادت کوونکواوعمل کوونکو دپاره لوئې عبرت دې، چنانچه حضرت عامربن عبدالله دخپل وفات په وخت کښې ژړل، خلقو عرض اوکړوچه تاسوخوټول عمرنيک عملونه اوعبادتونه کړی دی بياولې ژاړئ؟هغوئ اوفرمائيل تاسوخودا وايئ اوزماپه غوږونوکښې دالله تعالى دا ارشادګرنګيږی،

﴿إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ﴾ ماته معلومه نه ده چه زماڅه عبادت به قبول شوې هم وی اوکه نه؟،

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائيلی دی، که زماپه دې يقين راشی چه څه عمل مې الله تعالى قبول کړيدې نودغه داسې يونعمت دې چه که ټوله زمکه دسروزرونه ډکه شوې مې لاس ته راشی نوددې په مقابله کښې به ئې هيڅ اونه ګڼړم،

[1]) تفسير ابن كثير تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۸۲
[2]) تفسير المظهری تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۸۱

دغه شان حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه اوفرمائيل: كه داخبره په يقيني ډول رامعلومه شي چه زمايو مونځ د الله تعالى په نزد قبول شويدې نو هغه به زما د پاره د ټولې دنيا او ددې د نعمتونو نه زيات وي،

حضرت عمربن عبد العزيز رحمه الله يو سړي ته په خط كښې دا نصيحتونه اوليكل: [زه درته د تقوى تاكيد كوم چه دهغې نه بغير هيڅ عمل نشي قبليدې، او د تقوى دارو خلقونه سوا په بل هيچا رحم نشي كولې، ددې نه بغير په هيڅ څيز ثواب نه ملاويږي، دا خبره خو ډير خلق په وعظونو كښې كوي خو عمل ډير كم خلق كوي]،

حضرت علي مرتضى رضی الله عنه فرمائيلي دي، چه تقوى سره وركوټې عمل هم وركوټې نه دې او كوم عمل چه مقبول شي، هغې ته وركوټې څنګه وئيلې شي؟[ابن كثير] ([1]).

ددې نه روستو آيت كښې هم ددغه سلسلې خبره جارى ده، هابيل اووئيل چې: ﴿لَئِنۢ بَسَطتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقۡتُلَنِي مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ يَدِيَ إِلَيۡكَ لِأَقۡتُلَكَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ ٱللَّهَ رَبَّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾ يعنى كه تاسو زما د قتل د پاره ماته لاسونه راوږده كړئ بيا به هم زه ستا د قتلولو د پاره خپل لاسونه در اوږده نه كړم، زه خو د الله رب العالمين نه ويريږم.

په دې كښې هم هابيل خپل رور د الله تعالى نه د ويرې طرف ته متوجه كړو چې هغه ددې ظلم نه منع شي، او ورسره ئې دا هم اوښودل چې اګرچې زما د پاره د مدافت په صورت كښې ستا قتل كول جائز دى بيا هم زه د احتياط په وجه او د الله تعالى نه د ويرې په وجه دې (قتل) ته نه ورمخكې كيږم، او دا اقدام نه كول ئې په ﴿مَآ أَنَا۠ بِبَاسِطٖ﴾ لفظونو سره تعبير كړو چې په دې كښې د عربى محاورې په لحاظ سره په دې مضمون كې لوئې تاكيد موندلې كيږى چې ګويا زما لاس خو ستا د قتل د پاره اوچتيدلې هم نه شي.

حضرت عبد الله ابن عمر رضی الله عنه فرمائي چې د هابيل دا عمل د څه كمزورئ يا بزدلئ په وجه نه وو بلكه هغه په قوت او طاقت كې د قابيل نه زيات وو كه هغه غوښتل نو په آسانئ سره ئې هغه قتل كولې شو خو احتياط او تقوى هغه لره د خپل رور په قتلولو باندې د لاس اوچتولو نه منع كړو (ابن كثير) ([2])

په مسند عبد الرزاق او تفسير ابن جرير كې يو حديث د حضرت حسن بصرى رحمه الله نه منقول دې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل: (ان ابنى آدم ضربا مثلا لهذه الامة، فخذوا بالخير منهما) (تفسير مظهرى) ([3])

يعنى د آدم عليه السلام دواړو ځامنو د راتلونكى نسلونو د پاره مثال قائم كړې دې. (چې په دې كښې د يو طرف نه د ظلم او ګناه او بل طرف نه د تقوىٰ او احتياط ظهور اوشو) نو تاسو له پكار دى چه په دې دواړو كښې كومه ښيګړه او خير دې هغه اختيار كړئ.

ايوب سختياني فرمائي چې په دې امت كښې په دې آيت باندې د ټولو نه مخكې حضرت عثمان غنى رضی الله عنه عمل اوكړو. كوم وخت چې باغيانو د هغه كور ګير كړو او د هغه د قتلولو

[1]) تفسير ابن كثير تحت هذه الآية: ج ۲، ص ۸۵، وتفسير المظهرى تحت هذه الآية: ج ۳، ص ۷۹، ۸۰

[2]) تفسير ابن كثير تحت هذه الآية: ج ۳، ص ۸۵

[3]) تفسير المظهرى: ج ۳، ص ۸۰، وكنز العمال رقم الحديث: ۴۳۰۲۷

Scanned with Ca

اراده ئې اوکړه دهغه سره د خپلو غلامانو لوئې تعداد او نور حضرات د مدافعت (بچ کولو) دپاره موجود وو خو عثمان غني رضي الله عنه دا خوښه نه کړه چه هغه د يو مسلمان په قتل باندې لاسونه اوچت کړي يا دهغه په وجه څوک مسلمان مړ کړې شي. (ابن کثير بروايت ابن ابی حاتم)([1])

او ابن سعد دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت کوی چې کوم وخت حضرت عثمان رضي الله عنه محصور (ګير) کړې شو حضرت ابوهريره رضي الله عنه هغوی ته ورغلل او عرض ئې اوکړو چې زه ستاسو د امداد دپاره راغلې يم، حضرت عثمان رضي الله عنه اوفرمائيل: ابوهريره! چې ټول خلق قتل کړې او ما هم دهغوی سره قتل کړې؟ ابوهريره رضي الله عنه عرض اوکړو زه دا خوخ نه غواړم. حضرت عثمان رضي الله عنه اوفرمائيل چې که تا يو سړې هم قتل کړو نو دا داسې ده لکه چې ټول (خلق) دې قتل کړل. (مظهري) ([2])

حضرت سعد بن ابی وقاص رضي الله عنه د عثمان رضي الله عنه ددغه فتنې په وخت دا حديث نقل کړو چې زه ګواهی ورکوم چې رسول الله ﷺ فرمائيلی وو چه يوه داسې فتنه راتلونکې ده چې په هغې کښې به ناست سړې د ولاړ سړی نه غوره وی او ولاړ سړې به د روان سړی نه غوره وی او رو تلونکې سړې به په منډه د تلونکی سړی نه بهتر وی. عرض اوکړې شو چې يا رسول الله که په داسې فتنه کښې خلق زما په کور باندې راوخيژی او زما د قتل اراده اوکړی نو ما له څه کول پکار دی؟ نو (حضور ﷺ) اوفرمائيل: کن کابن آدم. (ابن کثير بروايت ترمذی)([3])

يعنی ته د ابن آدم هابيل په شان جوړشه چه د يو مسلمان رور په قتل باندې لاسونه مه اوچتوه اګرکه خپل ځان دې لاړشی (يعنی ته مړکړې شې). دغسې سعد بن مالک رحمه الله روايت کړې دې چې رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چې د داسې فتنې په وخت که تاسو کولې شئ نو دا اوکړئ چې مظلوم او مقتل کيدل اختيار کړئ او هيڅ يو اهل قبله مه قتل کوئ. (جصاص) ([4])

ددې ټولو رواياتونه د مسئلې صرف يو رُخ واضحه شو چې کله په مقابله کې يو مسلمان رور وی او بل طرف ته د بچ کيدلو څه لاره بغير ددې نه نه وی چې دې هغه قتل کړی نو په داسې حالت کې دا ښکاره خبره ده چې په دې دواړو کې به يو کس وژلې کيږی. په دې کښې مذکوره رواياتو دا اوښودل چه ته ځان مقتول کيدلو له په قاتل جوړيدو باندې ترجيح ورکړه.

خو د اصل مسئلې حکم صرف دومره هم نه دې چې خپل ځان په آسانئ سره قتل کولو دپاره پيش کړه بلکه ددې تفصيل په بل روايت کې دې کوم چې امام ابوبکر جصاص رحمه الله د ابوالمخارق رحمه الله نه روايت کړې دې چې يو سړی رسول الله ﷺ ته عرض اوکړو يا رسول الله! يو سړې ماته راځی او زما مال په زوره اخستل غواړی نو زه څه اوکړم؟ حضورپاک ﷺ اوفرمائيل چې هغه ته نصيحت اوکړه د آخرت نه ئې اويروه. عرض ئې اوکړو چې که هغه په نصيحت سره هم منع نه شی؟ نو وې فرمائيل په دې صورت کښې د خپل ګير چاپيره مسلمانانو رونړو نه مدد اوغواړه چې هغوی تا دهغه د ظلم نه بچ کړی. عرض ئې اوکړو چې که زما ګير چاپيره داسې

---

[1]) تفسير ابن کثير تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۸۶

[2]) المظهری: ج ۳، ص ۸۰

[3]) تفسير ابن کثير تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۸۶، وجامع الترمذی، أبواب الفتن، باب ما جاء أنه تكون فتنة القاعد فيها خير من القائم، رقم الحديث: ۲۱۲۰

[4]) أحكام القرآن للجصاص: ج ۵، ص ۲۷۰

Scanned with Ca

څوک نه وي چې هغوی زما مدد اوکړي؟ وې فرمائيل چې د دغه وخت د حکومت نه مدد اوغواړه. عرض ئې اوکړو چې که حاکم هم زما نه لرې وي يا هلته زما رسيدل نه شي کيدې؟ نو حضور ﷺ اوفرمائيل په دې صورت کې ته پخپله دخپل مدافعت اوکړه تردې چې يا خپل مال بچ کړې او يا مغلوب شې او شهيد شې.

دغسې په بل يو روايت کښې د رسول کريم ﷺ دا ارشاد مشهور اومعروف دې چې که څوک دخپل ځان په مدافت کولو کې مړکړې شي هغه شهيد دې، څوک چې دخپل عزت مدافعت کولو کې مړ کړې شي هغه شهيد دې، څوک چې دخپل مال مدافعت کولو کې مړ شي هغه شهيد دې (ابن کثير، جصاص) [۱]

ددې رواياتو نه معلومه شوه چې په کوم سړي باندې داسې ظلم کيږي هغه ته د مدافعت حق حاصل دې اوکه هغه په مدافعت کولو کې مړکړې شي نوشهيد به ګڼرلې کيږي.

د جمهور امت په نزد په دې حالاتو کې مدافعت کول اوپه دې مدافعت کې بل لره قتلول يا خپله شهيد کيدل دا ټول صورتونه جائز خو دی خوپه دې کلام دې چې افضل او غوره کوم يو دې؟ د آدم عليه السلام د ځوی هابيل د واقعې نه، او دې سره متعلق مذکوره آيت نه، دغه رنګې په اُمت کښې دحضرت عثمان غنی رضي الله عنه د واقعې نه، او د پورته روايت شوی مذکوره احاديثو نه دا معلومه شوه چې افضل دادی چې د بل په قتلولو باندې لاسونه اوچت نه کړې شی دځان مقتول کيدوته دې ترجيح ورکړې.

د ځان د طرفه د مدافعت کولو احکام

ليکن امام ابوبکر جصاص رحمه الله ددې مسئلې هر اړخ واضحه کړې دې او ښودلې ئې دی چې دا هم څه عام قانون نه دې چې دځان مقتول کيدو يا مظلوم کيدو ته ترجيح ورکړې شی ځکه که داسې وی نو عالمی نظام او اسلامی قانون حدود اوقصاص په معطل پاتې شی په دنيا کښې به ظلم اوفساد خور شی چې ددې په اسلام کې قطعًا اجازت نشته. قرآنی ارشادات په دې باره کښې واضحه اوښکاره دی.

ارشاد دې: ﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَّأُولِي الْأَلْبَابِ﴾ (البقرة: ۱۷۹) يعنی د وينې بدله په وينې سره اخستلو کې ستاسو ژوند دې. دويم ځائې کې په صيغې د امر اوحکم سره ارشاد دې: ﴿وَقٰتِلُوهُمْ حَتّٰى لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ﴾ (البقرة: ۱۹۳) يعنی تاسو خلقو سره تردې حده پورې مقاتله اوکړئ چې فتنه باقی پاتې نه شی. دريم ځائې کې ارشاد دې: ﴿وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَىٰهُمَا عَلَى الْأُخْرَىٰ فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّىٰ تَفِيءَ إِلَىٰ أَمْرِ اللَّهِ﴾ (الحجرات: ۹) يعنی که د مسلمانانو دوه ډلې خپل مينځ کې په جنګ شی نو په نورو مسلمانانو باندې لازم دی چه په دوی دواړو کې مصالحت (روغه) اوکړی. اوکه دا معلومه شی چه يوه ډله په ضد باندې اودريږی نوپه مسلمانانو باندې لازم دی چه دهغې (ډلې) خلاف جهاد اوکړی تردې چې هغوی د الله او د اسلام فيصلې ته راشی.

هم دا وجه ده چې حضرات فقهاؤ فرمائيلې دی چه که مسلمانان چرته دا اوګوری چې يو مسلمان دويم مسلمان قتلوی او هغه لره د قتلولو نه د منع کولو هيڅ يو صورت نه وی سوا ددې نه چې قاتل لره قتل کړې شی نو په مسلمانانو باندې واجب دی چه هغه لره قتل کړی او

---

[۱] أحكام القرآن للجصاص: ج ۵، ص ۲۶۳، وصحيح البخاري، كتاب المظالم، باب من قاتل دون ماله، رقم الحديث: ۲۴۸۰

Scanned with Ca

مظلوم دهغه د لاسونونه بچ کړی. (جصاص) (۱)
په دې وجه د مجموعه آیاتونو او روایاتو ملاوولو نه د مسئلې پوره صورت دا شو چې چرته ظلم زیاتې ښکاره کیږی او یقینی طور باندې معلومه وی یا دمسلمان په مقابله کې کفار وی اوپه مدافعت کولوکې اسلامی مصالحت او ضرورت وی هلته مدافعت کول او دخان په قتلولو باندې د اختیار حده پورې قدرت نه ورکول واجب دی او ددې په خلاف کول گناه ده. البته چرته چې دمسلمان په مقابله کې مسلمان وی او معامله صرف د خپل ذات د نفع اونقصان وی یا صورت د فتنې وی چې هر طرف ته دخپل حقانیت څه دلائل وی. هلته چې کله مقتول کیدونکې خپل ځان په حق باندې او بل (مقابل) په ظلم باندې گنړی نو هغه دپاره جائز خو دادی چه دخپل ځان بچ کولو دپاره هغه قتل کړی لیکن احتیاط او افضل دادی چه د مدافعت نور صورتونه ټول اختیار کړی خو دبل (مقابل) په قتلولو اقدام اونه کړی. اگرچې په دې کښې په خپله مړ کړې شی، دغسې دټولو آیاتونو او روایاتو مضامین راجمع شو اوس که د مذکوره آیت په الفاظو باندې غور اوکړئ نو معلومه به شی چه دې آیت هم دا هدایت نه دې کړې چه په آسانئ سره خپل ځان قتل کیدو دپاره پیش کړه هیڅ قسمه مدافعت مه کوه، بلکه د قرآن ددې هدایت حاصل هم ددې نه سوا بل څه نه دې چه ته دخپل مقابل په قتلولو باندې لاسونه مه پورته کوه، هسې دخپل ځان دبچ کولو پوره کوشش کول ددې منافی نه دی.

او کومو حضراتو چې ددې آیت مضمون په ترک مدافعت باندې محمول کړې دې دهغوی په نزد دا حکم د مخکینی شریعت وو چې دا په اسلام کې منسوخ شو. دحضرت حسن بصری او مجاهد رحمهم الله نه هم دا منقول دی.

په مذکوره آیاتونو کې دریم آیت چې دهغې مضمون دادې چې هابیل قابیل ته اووئیل چې زه دا غوارم چې ته زما گناه او خپله گناه ټوله په خپل سر کیږدې او بیا په دوزخیانو کې شامل شې په دې کښې یوه خبره د غور قابله دا ده چې قرآنی قانون خو دا دې چې: ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ﴾ یعنی هیڅوک به د بل د گناه پیټې نه پورته کوی، بیا دا وئیل چې زما گناه ته په خپل سر کیږدې، ددې به څه مطلب وی. په دې وجه مفسرین صحابو او تابعینو حضرت عبدالله ابن عباس، عبدالله ابن مسعود، حسن بصری، مجاهد، قتاده وغیره فرمائیلی دی چه د زما گناه نه مراد دلته زما د قتل گناه ده او مطلب دادې چه زه دا غوارم نو زه ستا په قتل باندې اقدام اونه کړم اگرچې ته ما قتل کړې او زما د قتل گناه په خپل سر کیږدې.

دویمه د غور قابله خبره داده چه معصیت اوگناه چې لکه څنګه په خپله کول جائز نه دی، دغسې ئې په بل باندې کول یا هغه ته د گناه کولو دپاره وئیل هم جائز نه دی، نو د هابیل قابیل ته دخپل قتل دپاره وئیل څنګه جائز شو؟

امام جصاص رحمه الله په احکام القرآن کې فرمائیلی دی چې لفظ "اثم" په معنی دگناه دې، دې خائې کې سزائی اثم مراد دې او مطلب دادې چه زه دلته خو ستا په خلاف څه اقدام کول نه خوښوم البته دا غوارم چه په آخرت کې ته دخپلو نورو گناهونو هم مزه اوڅکې او زما د قتل دگناه هم. (۲)

(۱) أحكام القرآن للجصاص: ج ۵، ص ۲۸۰، تفسیر سورة المائدة، باب دفن الموتی۔
(۲) أحكام القرآن للجصاص: ج ۵، ص ۲۸۳

خلاصه دا ده چې دهابیل ددې قول دا معنی نه ده چه هغه قابیل دخپلې ګناه په قتل باندې آماده کوی یا دهغه په ګناه کې په مبتلا کیدو باندې خوشحاله دې، بلکه مطلب دادې چه د ظلم انتقام په خپله د اخستلو په ځائې هغه لره الله تعالی ته سپارې. قابیل ته د الله تعالی ویره وراندې کول د قتل د اقدام نه د منع کولو یو صورت دې. خصوصاً د آیت آخری جمله ﴿وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُا۟ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ کې خو دا صورت ډیر واضح دې.

څلورم آیت کې ئې اوفرمائیل: ﴿فَطَوَّعَتْ لَهُۥ نَفْسُهُۥ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ فَأَصْبَحَ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ﴾ یعنی د هابیل صلح وراندې کول او نصیحتونه کول کار اونه کړو بلکه قابیل لره دهغه شریر نفس دخپل زور په قتل باندې آماده کړو، تردې چې قتل ئې کړو. په لفظ طوّعت کې دې طرف ته اشاره ده چه تر یوې زمانې پورې قابیل په خپله کشمش کې (حیران) وو چې دهغه دحسد او دنفس شرارت هغه لره په قتل باندې آماده کولو خو انسانی فطرت او د رور د نصیحت خبرې هغه لره ددې جرم نه منع کولو خو آخر داچې نفس پرې غالب شو او په ټولو مصلحتونو ئې سترګې پټې کړې اوهغه ئې قتل ته تیار کړو.

د قتل دا واقعه څنګه او چرته او په کوم عمر کې پیښه شوه په دې کې تفسیری روایات مختلف دی او قرآن کریم دا نه دی متعین کړی، په دې وجه دا بحث پریښودل غوره دی.

د آیت په آخری جمله کې ارشاد دې: ﴿فَأَصْبَحَ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ﴾ یعنی قتل کولو سره قابیل په سخت تاوان او نقصان اوچتونکو کې شامل شو. ابن کثیر فرمائی چه دټولو نه لویه خساره خو د آخرت ده چه په ناحقه د قتل مجرم شو او د آخرت د سزا حقدار شو.([1]) او ددې نه هم زیاته دا چې په حدیث کې د رسول کریم ﷺ ارشاد دې چې په دنیا کې چرته او کله هم څوک په ظلم قتل کړې شی دهغې وبال به د آدم علیه السلام په دغه ځوی باندې هم وی. ځکه چې هم هغه دټولو نه مخکې د ناحقه قتل بنیاد ایښودې دې. (دا حدیث صحاح او مسند احمد کې په صحیح اسناد سره مذکور دې.)([2])

دا خو د آخرت تاوان شو او په دنیا کښې یو تاوان نغد دا شو چې مور پلار ئې ناراضه شو، د خپلو متو طاقت ئې خپل لاس سره مړ کړو. دویمه داچې الله تعالی په دنیا کې دهغه یوه خپه بې کاره کړه چې هغې سره ورته ګرځیدل ګران شو، او مخ ئې تور شو چې هغې سره دهغه رسوائی اوشوه. (مجاهد بروایت ابن جریر) تردې چې هغه په دې تکلیف او مصیبت کې مړ شو.

په پنځم آیت کې د مقتول د دفن کولو یوه عجیبه قصه ذکرده دهغې حاصل دادې چې دهابیل مقتول لاش په دنیا کې رومبې لاش وو چې مرګ پرې راغلې وو. او تر دغه وخت پورې دا معلومه نه وه چه څوک مړ شی نودهغه په لاش به څه کولې شی. په دې وجه الله تعالی د آدم ځوی ته د ښودنې دپاره یو کارغه راولیږلو چې هغه په خپلو پنجو او مخوکې سره یوه کنده اوکنستله. په تفسیری روایاتو کې دی چه کنده ئې اوکنستله او یو مړ کارغه ئې پکې دفن کړو.

[1] تفسیر ابن کثیر: ج ۳، ص ۸۹

[2] صحیح البخاری، کتاب الجنائز، باب قول النبی صلی الله علیه وسلم یعذب المیت ببعض، ومسند أحمد، رقم الحدیث: ۳۶۳۰

Scanned with Ca

چې دهغې په لیدلو سره قابیل پوهه شو چه ما له هم دغسې کول پکار دي چې کنده اوکنم او دخپل رور لاش پکې دفن کړم.

الله تعالی چونکه انسان ته د عقل او پوهې او د کسب اوکار کولو قوت ورکړي دې په دې وجه هغه په خپل هر کار کې تعلیم اوتعلّم ته محتاج دې بغیر د ښودې ده ته هیڅ یو کار نه ورځي. په خلاف د نورو حیواناتو چه په هغوی کې دا عقل او پوهه او دکسب او کار کولو قوت نه دې ایښودې شوې نو د ډیرو حیواناتو حال دادې چې الله تعالی هغوی ته دهغوی ضروریات په خپله ورښائی هغوی دچا نه تعلیم اوتعلّم ته محتاج نه وی. د بطخې بچې دچا نه د لامبو وهلو دتعلیم حاصلولو نه بغیر اوبو کې لامبو وهی. او هر څناور بغیر ددې نه چې دچا نه تعلیم حاصل کړي قدرتي طوربانديې خپل ټول ضروریات پوره کوی. په دې موقع باندې هم د کارغه په زړه کې خو دا پخپله راغلل چه هغه دخپل رور لاش له کنده اوباسی او ښخ ئې کړی خو قابیل ته په خپله دا په پوهه کې رانغلل تردې چې کارغه ئې په داسې کولو باندې اولیدو نو زده ئې کړل.

خلاص دا ده چه په دې طریقه ئې اسلام کې د مړو د دفن کولو طریقه اوښودله چې دوی (مړو) لره په زمکه کې دفن کړې شی. د آدم علیه السلام نه واخله تر د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم پورې په ټولو شریعتونو او ټولو اُمتونو کې د دفن کولو همدغه طریقه راروانه ده او روانه به وی.

د مړو د دفن کولو کومه طریقه کومه چې د آسمانی هدایاتو په ذریعه جاری کړې شوه همدغه یوه داسې معتدل اومناسب طریقه ده چې په دې کې د مړی احترام هم باقی پاتې کیږی او ددې د لاش د زړیدو او خرابیدو نه چې کوم نفرت او تکلیف نورو خلقو ته رسیږی هغه هم ختمیږی د قرآن په الفاظو ﴿سَوْءَةَ أَخِيهِ﴾ کې دې طرف ته اشاره هم ده ځکه چه لفظ ﴿سَوْءَةَ﴾ په عربی ژبه کې هر یو داسې څیز ته وئیلې شی چې دهغې په کهلاویدو یا ښکاره کیدو سره انسان ته تکلیف او اذیت وی.

نورو قومونو او مذاهبو چې کوم صورتونه د مړو د دفن کولو دپاره اختیار کړی دی په هغې کښې د مړی احترام خو څه کیږی بلکه تذلیل او توهین ئې کیږی. په هندوانو کې خو د ساه د وتلو نه مخکې دهغه توهین او تذلیل شروع کیږی او د مرګ نه پس هغه په بدترین عذاب اورکې اچوی او سوزوی ئې، په بعضې مذاهبو کې مړې چرته رازوړندوی چې مردار خور مارغان، ټپوسان، کارغان دهغې غوښه اوشوکوی اوئې خوری، بیا ئې هډوکی وغیره هغه ځائې کې راوغورځیږی. او بعضې قومونه کښې ئې په تابوت کې د بندولو اود لاش محفوظ کولو رواج دې، په دې کې اګرچې د مړی څه احترام خو به کیږی، لیکن د لاش په خرابیدو سره چې کومه بدبوئی او جراثیم خوریږی او ټولو ژوندو انسانانو دپاره چه کوم مصیبت جوړیږی دهغې هیڅ آسان علاج په دې کې نشته چې هغه هر ځائې کې هر وخت هر یو استعمال کړې شی. خاص طبّی او ډاکټری تدبیرونه نه هر چرته کیدې شی نه پرې د هر سړی وس رسیږی. په دې وجه قرآن کریم د مړی دفن کولو طریقه یو خاص قسم نعمت اوګرځولو. ارشاد دې: ﴿ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ﴾ (عبس) (ترجمه) بیا ئې هغه ته مرګ ورکړو بیا ئې په قبر کې دفن کړو.بل ځائې کې ئې د

Scanned with Ca

الله د نعمتونو په شمیرلو کې اوفرمائیل: ﴿أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ كِفَاتًا ۝ أَحْيَاءً وَأَمْوَاتًا﴾ (المرسلات) (ترجمه آیا مونږ زمکه د ژوندو انسانانو او د مړو ځائې کونکې نه ده جوړه کړې. ددې واقعې په ذریعه قابیل ته د مړی د دفن کولو په تلقین کولو کې دا حکمت هم دې چه هغه ته د خپلې عاجزئ او بې وقوفئ اعتراف پیدا شی. ځکه د کارغه ددې واقعې په کتلو باندې قابیل اووئیل: ﴿يَا وَيْلَتَىٰ أَعَجَزْتُ أَنْ أَكُونَ مِثْلَ هَٰذَا الْغُرَابِ﴾ یعنی ډیر افسوس دې چې زه ددې کارغه برابر هم نه شوم، دې خو دومره پوهه شو چه بل کارغه به څنګه دفن کوی او ماته دخپل رور د دفن کولو دپاره دا صورت هم پوهه کې رانغې.

هر ندامت (پښیمانتیا) توبه نه وی

په آخری آیت کې اوفرمائیل: ﴿فَأَصْبَحَ مِنَ النَّادِمِينَ﴾ یعنی ددې هرڅه دکولو نه پس قابیل په نادمینو (پښیمانتیا کونکو) کې داخل شو یعنی په خپلو کړو باندې پښیمانه شو. د قرآن د الفاظو نه ظاره دا ده چه دا ندامت صرف طبعی ندامت وو کوم چې هر مجرم ته په خپل جرم باندې طبعًا کیږی خو صرف دا ندامت توبه نه ده او د جرم معاف کولو دپاره کافی نه ده، ترڅو پورې چې د الله نه ویره ددې سبب نه وی او آئنده دپاره ددې ګناه د پریښودو پوره عزم (قصد) نه وی، د مسند احمد او حاکم او بیهقی په روایت سره چې په حدیث کې (الندم التوبة)[1] کوم الفاظ منقول دی ددې نه مراد هغه ندامت دې چې دهغې سبب د الله نه ویره او آخرت وی اوچې دهغې نه پس د ګناه د پریښودو مضبوط عزم وی لکه څنګه چه د حدیث د نورو روایاتو نه ددې تائید کیږی.

شپږم آیت: ﴿مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ﴾ کې ئې دا ارشاد اوفرمائیلو چې هم په دې وجه مونږ په بنی اسرائیلو باندې دا حکم لازم کړو چې کوم کس چا لره بغیر د قصاص یا بغاوت او شوکې نه په ظلم سره قتل کړو نوهغه داسې دې لکه چه هغه ټول انسانان قتل کړل. او چا چې چالره د ناحق قتل نه بچ کړل هغه داسې دې لکه چې هغه ټول انسانان ژوندی کړل. بیا ئې اوفرمائیل چې بنی اسرائیل خصوصیت سره د ناحق قتل او نورو ګناهونو نه د منع کولو دپاره زمونږ ډیر پیغمبران په ښکاره معجزو او نښو سره راغلل چې دهغې تقاضا دا وه چه دا خلق ناحق قتل ته نه ورتللې خو اوشوه دا چې په دوی کې زیات خلق په ظلم او ستم کې مبتلا شو او نه صرف د خپلو عوامو بلکه دخپلو انبیاؤ علیهم السلام په قتل باندې زړه ور شو، تردې پورې چې په آخر کې ئې د خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم د قتل منصوبې جوړې کړې.

د یو کس قتل د پوره قوم د قتلولو برابر وئیلو کې حکمت:

په دې آیت کې ﴿بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ﴾ دا اوفرمائیلې شو چې که څوک چا لره په ظلم سره قتل کړی نو دهغه په قصاص کې هغه لره قتلول جرم نه دې بلکه فرض دی، دغسې چې څوک په زمکه کې فساد پیدا کړی دهغه قتل هم جائز بلکه فرض دی. په زمکه کې د فساد پیدا کولو د تفسیر امامانو نه دوه تفسیرونه منقول دی (۱) یو دا چې د اسلامی حکومت خلاف بغاوت اوکړی، (۲) دویم دا چې عوام لوټ کول او قتلول شروع کړی.

[1] مسند أحمد (بألفاظ مختلفة) رقم الحديث: ۲۳۷۹

په دې آيت کې درې خبرې خاص طور باندې د غور قابلې دي:
(۱) اول دا چې د آيت په شروع کې (مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ) وئيلو سره دا اوښودلې شو چې مونږ هم په دې وجه بنی اسرائيلو ته د ناحقه قتل نه د منع کولو دپاره دا حکم ورکړې دې. ددې وجې نه مراد څه دې؟
(۲) دويمه دا چې دا حکم خو د آدم عليه السلام د زمانې نه تر د خاتم الانبياء صلی الله عليه وسلم پورې په هر اُمت او هر شريعت کې عام راروان دې، بيا په دې آيت کې بنی اسرائيلو لره د خاص کولو څه مطلب دې؟
(۳) دريمه دا چې په دې آيت کې چې د يو انسان قتلول د ټولو انسانانو د قتل برابر فرمائيلې شوی دی ددې څه مطلب دې؟
د ړومبۍ خبرې جواب دا دې چې د آدم عليه السلام د دوؤ ځامنو ددې خطرناکې واقعې او ددې د بدو نتائجو په لحاظ سره مونږ د ناحق قتل نه د منع کولو دپاره خاص احکام نازل کړل. نو ګويا دا حادثه سبب شو دهغې احکامو کوم چې د ناحق قتل په باره کې نازل شو.
د دويمې خبرې جواب دادې چې دا حکم خو دټولو مخکينو او روستنو امتونو د پاره بې شکه چې عام دې د بنی اسرائيلو خصوصيت نه دې، خو چونکه د الله تعالی په علم کې وو چې بنی اسرائيل به په دې جرم کې ډير په جرأت سره مبتلا کيږی چې خپل انبياء به هم قتل نه بغير نه پريږدی، په دې وجه بنی اسرائيل ددې حکم خصوصی مخاطب جوړ کړې شو. سليمان بن علی وائی چې ما د حسن بصری نه تپوس اوکړو چې آيا دا حکم صرف دبنی اسرائيلو دپاره دې زمونږ دپاره نه دې؟ نو وې فرمائيل ولې به نه وي، آيا د الله تعالی په نزد د بنی اسرائيلو بدنونه زمونږ د بدنونو نه زيات قيمتی وو، خو صرف دهغوی د شرارتونو په وجه هغوی په ذکر کې خاص کړې شوی دی.
دريمه خبره چې د يو کس قتل د ټول قوم د قتل برابر څنګه شو؟ ددې جواب دادې چه په دې کې الله تعالی د قومی او جماعتی ژوندون يو اهم اصول طرف ته هدايت فرمائيلې دې هغه دا چې پوره انسانی افراد د يو مور پلار اولاد او په اصل کې يو قوم دې، سوا دهغه خلقو نه چې هغوی کفر اختيارولو سره خپل ځان ددې قوم نه جدا کړې وی. او په قومی او اجتماعی ژوندون کې پوره قوم د يو جسد حکم لری په دې وجه د يو کس قتل د ټولو د قتل برابر دې، او يو کس لره د ناحق قتل نه بچ کول د ټول قوم دحفاظت برابر دی.
په دې کې دې خبرې طرف ته هم اشاره ده چې چا د يو انسان په قتل باندې جرأت اوکړو هغه د نورو انسانانو په معامله کې هم زړه ور کيدې شی. دغسې که يوه ناحق وينه باندې سترګې پټې کړې شی. دهغې قصاص وانه خستلې شی نو ددې نتيجه به په پوره عالم کې د ظلم او د قتل وقتال صورت اختيار کړی. ځکه په بل ځائې کې ارشاد فرمائيلې شوې دې چې (وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيٰوةٌ يّٰاُولِي الْاَلْبَابِ) (البقرة: ۱۷۹) يعنی اې عقل والو! د قصاص حکم په جاری کولو کې ستاسو د ټولو د ژوند راز پټ دې.
دغسې په دې کې دې خبرې طرف ته هم اشاره ده چې که يو ځائې کې څوک سړې بل کس لره په ناحقه قتلوی نو نور خلق دې تماشائی جوړيدو سره دا واقعه نه ګوری بلکه دا دې اوګنړی چې دا قاتل مونږ ټول قتلوی په دې وجه دهغه د بندولو دپاره هر کس لره دخپل وس مطابق پوره

کوشش کول پکار دی. او دده په مقابل کې چې څوک چالره د ناحق قتل نه منع کړی نود اجر او ثواب او د نتیجې په اعتبار سره هغه داسې دې لکه چې هغه پوره قوم ژوندي کړو.

د آدم علیه السلام د دوه ځامنو قصه کومه چې په شپږو آیاتونو کې ذکرکړې شوې ده پوره شوه، په دې کې څومره عظیم الشان اصولي او فروعي أحکام او هدأیات راتلونکو نسلونو ته ملاو شو ددې څه تفصیلات د مذکوره آیاتونو لاندې تاسو اوکتل، په قرآن کریم کې د یوې تاریخي واقعې د ذکرکولو نه اصل مقصد هم دا وی.

د جرم او د سزا متعلق د قرآن پاک څو ضابطې

اِنَّمَا جَزٰٓؤُا
بیشکه | سزا
بیشکه د هغه کسانو سزا کوم چې
الَّذِیْنَ یُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَیَسْعَوْنَ فِی الْاَرْضِ
دهغه کسانو| چې جنګ کوی| دالله سره| اودرسول دهغه سره| اوکوشش کوی | په زمکه کښې
دالله او د رسول سره جنګ کوی| او دزمکې په مخ دفساد کولو کوشش کوی
فَسَادًا اَنْ یُّقَتَّلُوْٓا اَوْ یُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ اَیْدِیْهِمْ
د پاره دفساد| چې قتل دې کړې شی هغوئ| یادې په سولئ کړې شی|یادې پریکړې شی|لاسونه دهغوئ
نودهغوئ سزا دا ده | چې هغوئ قتل کړې شی| یا په سولئ کړې شی | یاترې لاسونه اوښپې
وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ اَوْ یُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ؕ ذٰلِكَ لَهُمْ
اوښپې دهغوئ| مخالفې |یا دې اوشړلې شی | دزمکې نه |دا[سزا] | دپاره دهغوئ
ادل بدل کټ کړې شی | اویا د وطن نه اوشړلې شی | .... د دوی دپاره دا شرمندګی
خِزْیٌ فِی الدُّنْیَا وَلَهُمْ فِی الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِیْمٌ ۙ اِلَّا الَّذِیْنَ
رسوائی ده|په دنیاکښې|اوده دهغوئ دپاره| په آخرت کښې | سزا | لویه |مګر هغه کسان
په دنیا کښې ده| او په آخرت کښې دوئ دپاره لوئې عذاب تیار شوې دې | البته څوک چې
تَابُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَیْهِمْ ۚ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ
چې توبه اوباسی|مخکښې ددې نه | چې تاسوقادر شئ| په هغوئ باندې | نو پوهه شئ | چې بیشکه الله
ددې نه ړومبې چې تاسو پرې قابوبیا مومئ توبه اوباسی | ....نو پوهه شئ چې الله ﷻ
غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ۝
بښونکې مهربان دې |
بخښونکې او مهربان ذات دې |

آسان ترجمه قرآن: کوم خلق چه د الله او رسول سره جنګ کوي او په زمکه کښ فساد خوروی ، د هغوی سزا دا ده چه دوی دې قتل کړې شي ، یا دې پانسي کړې شي ، یا دې د هغوی لاس او پښې ادل بدل کټ

Scanned with Ca

کړې شي، یا دې زمکې نه وشړلې شي - دا خو دنیا کښې دهغوی رسوائی ده او دوی لره په آخرت کښې لوئ عذاب دې خو هغه خلق ددې نه مستثنٰی دي چه ستاسو په هغوی باندې د لاس بر کیدو نه مخکښې هغوی توبه وباسي په داسې صورت کښې په دې پوهه شئ چه الله ډیر بخونکې، ډیر مهربان دې.

خلاصه تفسیر

﴿ اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِیْنَ یُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ ﴾ کوم خلق چه الله ﷻ سره او دهغه رسول ﷺ سره جنګ کوی او [ددې جنګ کولو مطلب دادې چه] ﴿ وَیَسْعَوْنَ فِی الْاَرْضِ فَسَادًا ﴾ په ملك کښې فساد [بدامنی] په مخه خوروی [مراد ترې نه لاره شوکول یعنی ډاکے غورځول دی په هغه ځا چه ورته الله ﷻ د شرعی قانون د مخه امن ورکړې وی کوم چه رسول ﷺ ښکاره کړې دې .لکه مسلمانان او ذمیان شو.اوهم په دې وجه دې ته د الله ﷻ او رسول ﷺ سره جنګیدل ځکه اووئیلې شو چه هغوی دالله ﷻ ورکړې امن مات کړو او هر کله چه درسول الله ﷺ په ذریعه ښکاره شوې دې نوهغوی سره جنګ کول هم ورته اووئیلې شو.مطلب دا چه څوك دغسې حرکتونه کوی] ﴿ اَنْ یُّقَتَّلُوْٓا اَوْ یُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ اَیْدِیْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ اَوْ یُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ﴾ دهغوی همدغه سزا ده چه [په یو حالت کښې خودې] اووژلے شی [هغه حالت دادې چه دغه لار شوکوونکو صرف چالره وژلے وی او مال ئے ترې نه نه وی لوټ کړې] یا [که دویم حالت راپیښ شوې وی نو] په سولئ دے کړې شی [داهغه حالت دې چې چا نه یئ مال لوټ کړې وی او قتل کړې یې هم وی] یا [دریم حالت راپیښ شوې وی نو] دهغوی لاسونه اوپښے دے د مخالف جانب نه [یعنی ښے لاس کسه پښه دې] پرې کړې شی [دا هغه حالت دې چې صرف مال ئے اخستے وی او قتل ئے نه وی کړې] یا [که څلورم حالت راپیښ شوې وی نو] دزمکې [د آزاد استوګنے] نه دې [جیل ته په لیږلو] اوښکلے شی [دا هغه حالت دې چې نه خوئے مال اخستے وی نه یئ قتل کړې وی بلکه د قصد کولو نه پس ګرفتار شوې وی] ﴿ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْیٌ فِی الدُّنْیَا ﴾ دا [ذکر شوې سزا خو] هغوی دپاره په دنیا کښې سخت شرمیدل [او ذلیله کیدل] دی ﴿ وَلَهُمْ فِی الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِیْمٌ ﴾ او دوی لره به په آخرت کښې [چه کوم] لوئې عذاب وی [هغه به لا بیل وی] ﴿ اِلَّا الَّذِیْنَ تَابُوْا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَیْهِمْ ﴾ خو کوم خلق چه وړاندې ددې نه چه تاسو ئے ګرفتار کړئ توبه اوکړی نو [په دې حالت کښې] ﴿ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِیْمٌ ﴾ اوګڼړئی چه بیشکه الله ﷻ به [خپل حقوق] اوبخښی [اود توبې په قبلولو کښې] به مهربانی اوکړی [مطلب دا چه پورته ذکر شوې سزا دحد اودالله ﷻ دحق په ډول ده چه دبنده په معاف کولو سره نه معاف کیږی. دقصاص اود بندګانو دحق په ډول نه ده چه د بندګانو په معاف کولو سره معاف کیږی. نوهر کله چه دګرفتاره کیدونه مخکښې ددغه خلقو توبګار کیدل ثابت شی.حد به ترې ساقط شی یعنی حد به نشی جاری کولې ځکه چه دا دالله ﷻ حق دې البته دبندګانو حق به باقی وی نوکه مال ئے چا نه اخستے وی هغه به یئ په ذمه وی که قتل کړې یې وی نو قصاص به ترې اخستلې شی لیکن دغه ذمه او قصاص معاف کول دمال دخاوند اود مقتول د ولی اختیار مند حق دې.

معارف او مسائل

دقرآني قوانينو عجيبه انقلابي طرز: په رومبو آيتونو كښې دهابيل دقابيل واقعه اوددې دګناه د لوئيوالى ذكروو، وروسې آيتونو كښې اودهغې نه پس دقتل لوټ مارئ، ډاكې اچولو اود غلا كولو دشرعى سزاګانو بيان دې، دډاكې اودغلا دسزاګانو ترمنځه، دالله تعالى نه دويرې كولو او عبادتونو په ذريعه دهغه دنزديكت حاصلولو ښودنه ده، دقرآن كريم دا طرز په ډيرې باريكې او نازكې طريقې سره په ذهنونو كښې انقلاب راولى، ددنيا دسزاګانو دكتابونو په شان يواځې جرم اودهغې سزانه بيانيږى، بلكه هرجرم او سزا سره دالله تعالى اودآخرت ويره وركوى اودانسان مخه داسې يوعالم ته اړوى چه دهغې په تصور سره هغه لره دهرعيب اوګناه نه پاكوى، كه په حالاتو او واقعاتو ژور نظر واچولې شى نو ثابت به شى چه دالله تعالى اودآخرت د ويرې نه بغير ددنيا هيڅ قانون، پوليس او فوج، په دنيا كښې دجرمونو بندولو باعث نشى جوړيدې، دقرآن حكيم دا طرز داسې حكيمانه دې چه په هغې سره دانسان تربيت كيږى، چې په دې بناء په دنيا كښې دې انقلاب اوبدلون راوستو او دداسې انسانانو يو معاشره ئې پيدا كړه چه په خپلې پاكيزګئ كښې دفرښتو نه هم لوړ مقام لرى،

دشرعى سزاګانو درې قسمونه: په ذكرشوؤ آيتونو كښې دډاكې او غلا، دشرعى سزاګانو تفصيل او ددغه آيتونو دتفسير بيانولو نه وړاندې مناسب دى چه ددغه سزاګانو په باره كښې دشرعى سزاګانو څه وضاحت اوكړې شى، ځكه چه دناخبرئ په وجه ډيرو ليكلو اولوستلو والا خلق ته هم ددې نه اشكالونه اوكړكيچونه مخې ته راځى، ددنيا په عامو قوانينو كښې دجرمونو ټولو سزاګانو ته مطلقاً تعزيرات وئيلې شى اګرچه دهغې تعلق هرقسم جرم سره وى، لكه تعزيرات هند او تعزيرات پاكستان وغيره واخله، ليكن په اسلامى شريعت كښې ددې طريقه بدله داسې ده چه دجرمونو سزاګانې درې قسمه ګرځولې شويدى، ① حدود، ② قصاص، ③ تعزيرات، ددې دريو اړو قسمونو دپيژندلو او په مطلب باندې ئې د پوهيدونه وړاندې په دې خبره ځان پوهول پكاردى چه كوم جرمونو سره دبل انسان زيان، تاوان هم ترلې وى، نو په هغې سره ① يو دالله تعالى نافرمانى كيږى او ② بل دالله تعالى په مخلوق باندې ظلم كول هم دى لهذا داسې مجرم دالله تعالى اودبندګانو دواړو مجرم ګرځى، په دې بناء ځنې جرمونو كښې دالله تعالى حق غالب وى اوځنې كښې دبندګانو حقوق غالب او په ډاګه ښكاره وى، لهذا په دغې غالب حيثيت په احكام اډانړه لرى،

بل په دې خبره هم ځان پوهول ضرورى دى چه اسلامى شريعت، دخاصو خاصو جرمونو نه سوا د نورو جرمونو دسزاګانو دپاره څه پيمانه نه ده ټاكلې، بلكه دهغې په باره كښې ئې قاضى له اختيار وركړې دې چه كوم جرم بندولو دپاره كومه سزا په كومه زمانه كښې يا علاقه كښې ضرورى اوګڼړى هغه دې جارى كړى. داهم روادى چه دهرې علاقې اوهرې زمانې اسلامى حكومت دشرعى قاعدو په جوړ دقاضيانو په اختياراتو باندې پابندى اولګوى اود خپلې مقرر كړې پيمانې ئې پابند كړى ځنګه چه په روستنوزمانو كښې داطريقه جارى شويده او ترا وسه پورې په ټولو ملكونو كښې تقريباً هم دا صورت رواج لرى،

اوس په دې خبره ځان پوهه کړئ چه قرآن اوسنت دکوموجرمونوسزاګانې ټاکلې نه دي بلکه دحاکمانو اوقاضیانوپه حواله کړې شویدي، دغه قسم سزاګانوته دشریعت په اصطلاح کښې [تعزیرات] وئیلې شي اودکوموجرمونوسزاګانې چه قرآن اوسنت ټاکلې دي هغه دوه قسمه دي، ① په کوموکښې چه دالله تعالی حق غالب ګرځولې شویدې دهغې سزاته حدوئیلې شي، جمع ئې [حدود] ده، ② بل قسم هغه دي چه دشریعت له مخه پکښې دبنده حق غالب منلې شویدې دهغې سزاته قصاص وئیلې شي،

قرآن کریم د[حدود] او[قصاص] بیان پوره تفصیل اووضاحت سره پخپله کړیدې د نورو تعزیری جرمونوتفصیلات ئې درسول الله ﷺ بیان اودحاکمانوصوابدیداورائې ته پریښې دي، خلاصه داده چه ددې درې واړوسزاګانواحکام په ډیروڅیزونوکښې مختلف دي څوک چه دعام عرف په بنا، دهرجرم سزاته تعزیروائی اودشرعی اصطلاحاتوپه فرق باندې نظرنه لري، هغوئ اکثرپه شرعی احکاموکښې غلطیانو اومغالطوسره مخ کیږي،

تعزیری سزاګانې، دحالاتوپه جوړسپکولې، سختولې شي اومعاف کولې ئې هم شي. په دې کښې دحاکمانواختیارات وسیع اوډیردی، په حدودوکښې حکومت، حاکم قاضی یاامیرپوټې قدرې هم دخل نشي ورکولې، نه پکښې څه بدلون راوستې شي اونه پکښې دکمی، زیاتی کولواجازت شته، دزمانې یاعلاقې په بدلیدوهم په دې څه اثرنه پریوځی، اونه ئې څوک حاکم یاامیرمعاف کولې شي،

په اسلامی شریعت کښې حدود، پنځه دي، د① ډاکې، ② غلا، ③ زنا، او④ دزناد تورپورې کولو سزاګانې چه دقرآن کریم په نص سره ثابتې دي، [۵] پنځم حد دشراب خورئ دې چه دصحابه کرامو ﷺ په اجماع سره ثابت شوې دې، په دې طریقه سره د ټولو پنځوؤ جرمونو سزاګانې متعین شوې چې هغه ته حدود وئیلې شي پنځوقسموسزاګانوکښې څنګه چه څوک حاکم، امیریاحکومت هیڅ قسم دخل نشي کولې، دغه شان دمجرم په توبې سره ئې هم ورته سزانشي معاف کولې، البته که الله تعالی ئې توبه قبوله کړي نودآخرت سزابه ئې ورته هم هغه معاف کړي، صرف دډاکې په سزاکښې فرق داسې شته چه دګرفتارئ نه رومبې دهغه په داسې قسم توبې کولوسره هم حدمعاف کیدې شي، چه دهغه دمعاملاتودجاج اغستونه ئې توبه په رښتیا ثابته شي، خوهرکله چه ګرفتارشي نوتوبې لره ئې هم څه اعتبار نشته، ددې نه علاوه نور حدود، په توبې سره هم په دنیاکښې هیچرې نشي معاف کیدې که توبه ئې دګرفتارئ نه وړاندې وی اوکه روستو. په تعزیری جرمونو کښې دحق سره سمون لرونکی سفارشات آؤریدې شي لیکن په حدودالله کښې، سفارش کول هم ناروادی، اوآؤریدل ئې هم ناروادی، چنانچه رسول الله ﷺ دې نه سخته منع کړیده، دحدودوسزاګانې عموما سختې دي اوددې دجاری کولوقانون هم په دې شان سخت دې چه پکښې هیچاته دکمی، زیاتی کولواجازت نشته اونه ئې څوک معاف کولې شي، څنګه چه سزااوقانون سخت اینبودې شویدې دغه معاملې لره په توله باندې د ساتلوپه غرض، دجرم اوددې دثبوت مکمل کولواوپوره کولودپاره شرطونه هم سخت اینبودې شوی دی، دغه شرطونوکښې که یوشرط هم پاتې شونوحدنشي جاری کیدې یواځې په دې سره نه بلکه ثبوت کښې یومعمولی شک پیداکیدوسره هم حدنشي جاری کیدې، داسلام منلې شوې قانون په دې کښې دادې چه: ﴿الحدود تندرء بالشبهات﴾ [حدود په

Scanned with CS

معمولي شبهې سره هم ساقطيږي]

دلته په دې خبره هم ځان پوهول پكاردي چه هركله په څه صورت كښې شرعي حدپه دې وجه په يومجرم جاري نكړې شي چه دهغې په ثبوت كښې څه شبه وي ياپكښې څه ضروري شرط كم وي، نو دا ضروري نه ده چې مجرم ته دې مكمل آزادي وركړې شي چه بيابياپه جرم كولوزړور شي بلكه حاكم به ورته دهغه دحال مناسب تعزيرور كوي، هركله چه دشريعت تعزيري سزاګانې عموماداشان بدني او جسماني دي چه عبرت ترې اغستې شي اودجرمونوبنديزپرهم راتلې شي، مثلادزناثبوت دپاره كه صرف درې ګواهان وي چه ثقه اومنصفان هم وي اود دروغو وئيلوشبه پرنشي كيدې خودیوګواه د كميدوپه وجه پرشرعي حدنشي جاري كولې، ليكن مطلب ئې داهم نشوچه مجرم مكمل آزاد كړې شي بلكه دوخت حاكم به ورلره مناسب تعزيري سزاوركوي چه د دروغګولوپه صورت كښې به وي. يادد ې بل مثال داسې واخلئ چه دغلا دثبوت دپاره چه كوم شرطونه ټاكلې شويدي په هغې كښې كه څه كمې يا شې ياپه كښې شبه پيداشي نوشرعي حد [لاس پريكول] پرجاري كيدې نشي خوددې مطلب نشو چه هغه بيخي آزادشوبلكه هغه ته به دهغه دحال مناسب نورې تعزيري سزاګانې وركولې شي.

دحدودوپشان، دقصاص سزاهم قرآن كريم ټاكلې ده چه دځان په بدله كښې دې ځان واخلې د زخمونوپه بدل كښې دهغې برابرسزادې وركړې شي، خوفرق پكښې دادې چه حدود دالله تعالى دحق په حيثيت جاري كړې شويدي، كه حق خاوندانسان ئې معاف كول غواړي نو معاف كيږي به نه اوحدبه خامخاجاري كيږي، مثلاكه يوغل لره دمال خاوندمعاف هم كړي نو دغلا، شرعي سزابه نشي معاف كيدې، ليكن قصاص كښې، قرآن اوسنت، دبنده حق لره غالب ګرځولې دې، چنانچه په قاتل باندې دقتل دجرم ثابتيدونه پس به هغه دمقتول ولي ته حواله كولې شي كه هغه اوغواړي قصاص به تر واغستې شي اوكه اوغواړي نومعاف كولې ئې هم شي،

دغه حال دزخمونودقصاص هم دې، داخبره خودرته وړاندې معلومه شويده چه هركله مجرم لره [قاتل] دمقتول ولي معاف كړونودهغې دامطلب نشوچه هغه دې مكمل آزاد كړې شي چه دې د نوروخلقوپه قتلولوباندې نبه زړور شي بلكه دحكومت وخت كاردادې چه هغه ورته بله مناسبه سزا [الكه عمرقيدوغيره] وركړي ځكه چه دمقتول ولي خوخپل حق ورته معاف كړوليكن دنوروخلقودمال وجان، حفاظت كول دحكومت وقت فرض داسې دې چه ددغې جرم دبندولوپه غرض ورته بله مناسبه عبرتناكه سزاوركړي،

تردې پورې دشرعي سزاګانوحدودو، قصاص اوتعزيراتوشرعي اصطلاحات اودې سره تړلې ضروري معلومات بيان كړې شو، اوس په دې باره كښې دآيتونوتفسيراودحدودو تفصيل بيانولې شي، په ړومبي آيت كښې دهغه كسانوسزابيان كړې شويده چه د الله تعالى او د رسول سره مقابله او جګړه كوي اوپه زمكه كښې فسادراولاړوي،

دلته اول په دې خبره غوركول دي چه الله اورسول سره دجګړې كولواوپه زمكه كښې دفساد راوړلاړولو مطلب څه دې؟ اوداڅوك خلق دي، محاربه، لفظ د [حرب] نه راغستې شوې دې، ددې اصلي معنى راؤښكل اوراشوكل دي، اوپه محاوروكښې دالفظ د [سلم] په مقابله كښې استعمالولې شي چه معنى ئې امن اوسلامتي ده، معلومه شوه چه دحرب مطلب بدامني خورول دي، اوښكاره خبره ده چه دغلا، قتل اولوټ مارپه يويا دوؤ واردا توسره عام امن نشي

Scanned with Ca

شو کولې کيدې، بلکه دا صورت هله جوړيږي چه څوک طاقتور ټولې، لارشو کولو، قتل او لوټ مارکولو ته بدې اووهي، چنانچه فقهاؤ ﷺ صرف هغه ډله يا کس ددې سزا مستحق ګرځولي دې چه وسله راپورته کړي اوپه عوامو ډاکې اچوي، دحکومت قانون په زوراوطاقت سره ماتول غواړي، داسې خلقو ته په نوروالفاظو کښې ډاکوان، ياباغيان وئيلې شي، په يواځې ځان په پټه پناه هغه جرم کوونکی په دې کښې داخل نه دی چه کله کله جرم کوی لکه ګنړکپ وغيره شوچه داپکښې نه راخليږي، [مظهري][1]،

دويمه خبره دا د غور وړ ده چې ډاکوان اوباغيان خوانسانانوسره مقابله اوجنګونه کوی ليکن دلته ئې الله اورسول ته نسبت کړې دې نو ددې نسبت کولو مطلب دادې چه کله يو طاقت او جماعت دالله تعالى اودرسول ﷺ قانون په زوراوطاقت سره ماتول غواړي نو اګر چې په ظاهره ددې مقابله دعوامو او انسانانو سره وی ليکن داجنګ اومقابله په حقيقت کښې اسلامی حکومت سره ده اوهرکله چه اسلامی حکومت کښې دالله او رسول قانون جاری وی نو دامقابله اوجنګ هم الله اورسول ﷺ ته منسوب شو،

خلاصه داشوه چه رومبی آيت کښې ذکرشوې سزاهغه ډاکوانو اوباغيانو دپاره ده چه اجتماعی قوت سره حملې کوی، عام امن بربادوی اوپه ډاکه دحکومت دقانون ماتولو کوشش کوی، اوښکاره خبره ده چه ددې مختلف صورتونه کيدې شی، مال لوټول هم کيدې شی، دچا په تنګ ناموس باندې دحملې کولونه واخله تروژلو اووينوتويولو پورې ټول ددې په مفهوم کښې شامل دی، اوس دې سره د [مقاتلې] او [محاربې] ترمنځه فرق داسې معلوم شوچه [مقاتله] هغه جنګ ته وئيلې شی چه وينې پکښې بهيدې شی اګرچه څوک په کښې اونه وژلې شی اووينه ئې تويې نکړې شی، اوددې په ترڅ کښې مال هم لوټ کړې شی، ليکن د [محاربې] دلفظ معنی په طاقت سره بدامنې خورول اوسلامتی شوکول دی لهذا دالفظ په اجتماعی طاقت سره دعوامو دمال، ځان اوآبرو [ننګ، ناموس] څخه په يوباندې هم بلوسيدلو دپاره استعماليږی چه په نورو ټکو کښې ورته لارشوکول، ډاکه اوداره غورځول اوبغاوت هم وئيلې شی،

ددې جرم سزا، قرآن کريم پخپله اوټاکله اودالله تعالى دحق [سرکاری جرم] په ډول ئې جاری کړه چه دشريعت په اصطلاح کښې ورته [حد] وئيلې شی اوس اوګورئ چه په دې آيت کښې دډاکې اولارې شوکولو سزاڅه ده؟ ددې څلورسزاګانې ذکردی:

﴿أَن يُقَتَّلُوٓا۟ أَوْ يُصَلَّبُوٓا۟ أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَٰفٍ أَوْ يُنفَوْا۟ مِنَ ٱلْأَرْضِ﴾ [دوئ دې اووژلې شی، يادې په سولئ [په دار] اوخيژولې شی يادې د دوئ لاسونه خپې دمختلفوجانبونه پريکړې شی يادې دزمکه نه اوښکلې شی]، دړومبودريؤ سزاګانودپاره دباب تفعيل دمبالغې صيغه استعمال شوه چه دفعل په بيابيا اوپه سختئ سره ئې په کولودلالت کوی، په دې کښې دجمعې په صيغې استعمالولوسره دې ارخ ته اشاره اوشوه چه د دوئ وژل، په سولئ [په دار] ئې خيژول يالاسونه خپې ئې پريکول دعامو سزاګانوپه شان نه دی چه يواځې په هغه کس جاری کيږی چاچه جرم کړې وی بلکه، دغه ټوله ډله کښې که يو کس هم دغه جرم اوکړی نودغې ټولې ډلې ته به دوژلو، په سولئ دخيژولو يادلاسونوخپو پريکولو سزا ورکولې شی،

[1]) التفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۳، ص ۸۶، ۸۷.

دا شان دي اړخ ته پکښې هم اشاره موندي شي چه دغه سزاګانې دقصاص په ډول نه دي چه دمقتول داولیاؤ [اختیارمنو وارثانو] په معاف کولو سره به معاف کیږي، بلکه دا شرعي حد، د الله تعالى د حق په ډول جاري کړې شویدې، که نقصان موندونکي خلق ئې معاف هم کړي نود شریعت له اړخه ئې سزانه معاف کیږي، دادواړه حکمونه څکه مرادواغستې شوجه په صیغې دتفعیل سره ذکرشویدي [تفسیرمظهري وغیره][1]،

دلارې شوکولو داځلورسزاګانې په حرف د[آو] ذکرکړې شوې چه په څوځیزونوکښې داختیار ورکولو دپاره هم استعمالیدې شي اوتقسیم کاردپاره هم، په دې وجه دامت فقهاؤ دصحابه کراموؓ او تابعینو رحمهم الله یوې ډلې د[آو] حرف داختیارورکولودپاره داسې ګڼلې دې چه دې څلورو سزاګانو کښې امام اوامیرته دشریعت له مخه دا اختیارورکړې شویدې چه د ډاکوانو دقوت، رعب اودجرمونو سختوالی اوسپکوالی ته دې اوګوري اودهغې مطابق دې داڅلوروارو سزاګانې، یاددې څخه څه یوه جاري کړي،

دسعیدبن مسیب رحمه الله، عطا رحمه الله، داؤد رحمه الله، حسن بصري رحمه الله، ضحاک رحمه الله، نخعي رحمه الله، مجاهد رحمه الله اودځلوروامامانو څخه دامام مالک رحمه الله مذهب هم دادې، لیکن امام ابوحنیفه رحمه الله شافعي رحمه الله احمدبن حنبل رحمه الله اودصحابه کراموؓ اوتابعینو رحمهم الله یوجماعت [آو] لره د تقسیم کارپه معنی کښې اغستې دې اوپه دغه بنائې دآیت مطلب داښودلې دې چه دشوکمارو [دلارو شوکوونکو] او د شوکې په مختلفوحالاتوباندې مختلفې سزاګانې مقررې دي چه تائید ئې دیو حدیث شریف نه هم کیږي کوم کښې چه دحضرت ابن عباسؓ په روایت منقول دي چه رسول الله ﷺ، ابوبرده اسلمي سره دصلح معاهده [لوظ] کړې وو چه هغه دغه لوظ مات کړو او په هغه خلقوئې ډاکه اوغورځوله کوم چه مدینې منورې ته دمسلمانیدو دپاره په لاره راروان وو، په دې واقعه کښې جبرائیل علیه السلام دسزاداحکم دالله تعالى له اړخه راؤړلو[2] چه چاقتل هم اوکړواومال ئې هم لوټ کړونوهغه دې په سولئ اوخیژولې شي، چاچه یواځې قتل کړې دې او مال ئې نه دې لوټلې، هغه دې قتل کړې شي اوچاچه قتل نه دې کړې صرف مال ئې لوټلې دې نودهغه لاسونه خپې دې دمختلفواړخونونه پریکړې شي اوکه څوک د دوئ څنې مسلمان شي نودهغه جرم دې معاف کړې شي، اوچاچه لوټ اوقتل هیڅ نه وي کړې صرف خلق ئې ویرولي وي چه په هغې سره عام امن کښې خلل راغلې وي نوهغه دې جلاوطن [دوطن نه خارج] کړې شي، که دې خلقود دارالاسلام څوک استوګن [مسلم یاغیرمسلم] وژلې وي اومال ئې نه وي لوټ کړې نو سزائې ﴿أَنْ يُقَتَّلُوٓا﴾ ده چه ټول دې قتل کړې شي اوګرچه دغه قتل بې واسطې [نیغ په نیغه] صرف څو کسانو کړې وي، که څوک ئې وژلي هم وي اومال ئې هم لوټ کړې وي نودهغوئ سزا ﴿أَوْ يُصَلَّبُوٓا﴾ ده چه په سولئ اوخیژولې ی، صورت به داسې وي چه ژوندې به په سولئ آویزان کړې شي، بیابه په نیزې یاپه بل تیره څیزسره ئې خیټه څیرې کړې شي اوکه دغه خلقوصرف مال لوټلې وي څوک ئې وژلې نه وي نو سزائې:

﴿أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ﴾ ده یعنی ښې لاس ئې سره دمړونده اوګسه پښه ئې دګیټوسره پریکړې شي، دلته هم اګر چې یوڅو کسانوبلاوواسطه [نیغ په نیغه] لوټل کړې دي

[1]) التفسیر المظهري تحت هٰذه الآیة: ج ٢، ص ٨٨
[2]) تفسیر البغوي تحت هٰذه الآیة: ج ٢، ص ٤٧

Scanned with Ca

[او تولو د سیرمې نه دی کړی] خو سزا به ئې تولو د پاره هم دغه وی، ولې چه دغه کار اګرچه څو کسانو کړې دې خو بیا هم د تولو په ډاډ ئې کړې دې، ځکه ټول په دغه جرم کښې شریک حسابیږی که د لوټ مار، قتل کولو نه ورانډې ورانډې بندیان کړې شونو سزائې ﴿أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ﴾ ده، یعنې زمکې نه اوښکل دی،

دفقهاؤ ﷭ یو جماعت زمکې نه داوښکلو د امطلب اغستې دې چه دوئ دې د [دار اسلام] نه اوښکلې شی او ځنو تر د امطلب اغستې دې چه کوم ځائې کښې ئې ډیره اچولې ده د دغه ځائې نه دې اوښکلې شی، حضرت عمر ﷛ په داسې معاملاتو کښې د افیصله کړېده چه که چرې مجرمان دغه ځائې نه اوښکلې شی او علاقه کښې آزاد پریښودل شی نو دهغه ځایونو خلق به تنګوی او آزاروی به ئې، لهذا دغسې مجرم دې په بندی خانه کښې بند او ساتل شی چه په زمکه کښې بل چرته ترنشی وتلې چه او ګرځی راؤ ګرځی، چنانچه امام اعظم ابو حنیفه ﷫ هم داخبره اختیار کړېده([١])،

پاتې شو دا سوال چې د او سنئ زمانې حالاتو ته چه او کتې شی نو ثابتیږی چه شو کماریواځې لوټل او وژل نه کوی بلکه د زنائو په تنګ ناموس هم صرفه نه کوی د خلقو په تښتولو او دهغوئ په تاوان بو دولو [رسولو] هم اړنه وی، نو د داسې ورانو، ویجاړو کولو به څه سزاوی؟ هرکله چه په قرآن کریم کښې د اجمله: ﴿وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا﴾ موجود ده چه دغه قسم تولو ورانو ویجاړولو ته شاملیدې شی نو په دې کښې ښکاره خبره داده چه امام او امیر ته به اختیار وی چه په دغه صورتونو کښې دهر صورت د حال مناسب د دغه خلورو سزاګانو څخه یو سزاور کړی او که د بدکارئ شرعی ثبوت تراوشی نو د زنا حد دې پرې جاری کړی،

دغه شان یو صورت دا هم دې چه قتل یاډاکه ئې نه وی کړې مګر څوک ئې زخمیان کړی وی نو د زخمونو د قصاص شرعی قانون به پرجاری کولې شی [تفسیر مظهری]([٢])،

په آخر د آیت کښې فرمائی: ﴿ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا ۖ وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ یعنې په دنیا کښې پردغه جاری کړې سزا خو دنیا کښې شرمول دی چه یوه نمونه ده لیکن د آخرت سزادې نه هم سخته او تردیرې مودې پاتې کیدونکې ده، دې نه معلومه شوه چه په دنیوی سزاګانو [حدود] قصاص او تعزیراتو، سره د آخرت سزا، بغیر توبې نه نه معاف کیږی، البته که دنیوی سزا موندو سره، مجرم، د زړه د اخلاصه توبه اوباسی نو د آخرت سزا به ورته معاف کړې شی،

په بل آیت ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ﴾ کښې یو استثناء په دې شان ذکر شویده چه ډاکو او باغی چه د حکومت په قابو او قبضه کښې د راتلو نه ورانډې د خپل وس او طاقت په حالت کښې د خپل کار نه توبه اوباسی او پخپله د دغه کار نه منع شی نو دغه شرعی حد به پرنه شی جاری کولې، خو داسې استثناء د حدودو په عام قانون کښې بل ځائې کښې داسې نشته چه کني دغلا، زنا وغیره جرم د قاضی په عدالت کښې چې په چاثابت شی نو په اخلاص توبې کولو سره به پر دهغې حد جاری کول ساقط شی، البته داخبره شته چه په اخلاصی توبې سره به ئې د آخرت سزا معاف شی، توبې سره په دنیا کښې د حد نه خلاصیدل نشته، ددې تفصیلی بیان

---

[١]) الشامیة، کتاب الحدود، باب قطع الطریق: ج ٣، ص ٢١٣

[٢]) التفسیر المظهری تحت هٰذه الآیة: ج ٣، ص ٩٠

Scanned with Ca

به څو آیتونو نه پس دغلا د سزا په بیان کښې راشي،
ددې استثناء حکمت دا دې چه یو اړخ ته دډاکوانو په سزا کښې دا سختي اختیار کړې شویده چه دغه ډله کښې که دیو کس نه هم دغه جرم اوشو نو سزا به ئې دغه ټولې ډلې ته ورکولې شي، په دې وجه ددې استثناء په ذریعه معامله سپکه کړې شوه چه په توبې کولو سره ددنیا سزا هم معاف کیږي، دې نه علاوه پکښې یو سیاسي خیز هم داسې شته چه په یو طاقتور جماعت باندې هر وخت قابو موندل آسان نه وي، په دې وجه دهغوئ داشوق پیدا کړې شو چه توبې کولو ته ئې مخه راؤګرځي،
دا شان په دې کښې یو مصلحت دا هم دې چې د یو نفس قتل کوؤنکي لره لویه سزا ده. نو په اسلامي قانون کښې یو اړخ داسې هم جوړ کړې شو چه په داسې سزاګانو کښې کموالي راشي، په دې غرض ورته ددغه ورانکاریؤنه دلاس په سر کولو شوق ورکړې شو، چنانچه هم ددې اثر داووچه هر کله علي اسدی د مدینې طیبې په خواؤشا کښې یوه ډله ځان سره په دې غرض راجمع کړې وه چه په لاره تلونکي خلق په لوټ کولو سره تنګوي، هغه یوورځ په قافله کښې دیو قاري دخلې نه داآیت واؤریدو: ﴿قُلْ يٰعِبَادِيَ الَّذِيْنَ اَسْرَفُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ﴾ دغه قاري ته ورغلو او ورته ئې ددې آیت د دوباره لوستلو خواست اوکړو، چه واؤئې ریدو نو خپله توره ئې په کاټۍ کښې بنده کړه، دشو کونه توبګار شو او مدینې منورې ته اورسیدو، دغه وخت دمدینې منورې حاکم مروان بن حکم وو، حضرت ابوهریره رضی الله عنه دهغه لاس اونیولو او دمدینې منورې ته ئې بوتلو، دقرآن کریم دا آیت ئې ورته اولوستلو اووې فرمائیل چه ده ته هیڅ سزا نشي ورکولې، هر کله چه حکومت هم په هغه باندې دقابو موندونه پاتې راغلې وو ځکه ټول په دې خبره خوشحاله شو،
دغه شان دحضرت علي رضی الله عنه په زمانه دخلافت کښې حارثه بن بدر په بغاوت کولو سره بهر ته اووتو او دلوټ مار، لارې شکونې وغیره پیشه ئې اختیار کړه، بیا هم ورته الله تعالی دتوبې کولو توفیق ورکړو، دحضرت علي رضی الله عنه په وړاندې چه راغلو نو شرعي حدئې پرجاري نکړو،
دلته داخبره هم یاده لرل پکار دي چه په داسې توبې سره اګرچه سزا خو ئې معاف شي لیکن دخلقو کړې تاوان به ورته نه معاف کیږي، مثلا دچالوټلې اصل مال ورسره موجودوي نو هم دهغې واپس کول ضروري دي، که څوک ئې وژلې یا زخمي کړې وي نو دهغې قصاص به ترې اغستې شي، البته که قصاص ورته دهغې حقدار معاف کړي نو قصاص به ترې ځکه نشي اغستې چه داهم ددغه حقدار بنده حق دې مثلا دمقتول اختیار من ورثان او زخمي شوې په خپل ځان ددې حقدار وي. که چرې لوټ کړې اصلي مال ورسره موجود نه وي نو دهغې په بدل کښې دې دهغې قیمت یا بل داسې څیز ورکړي چه مالک دمال سره ئې پرجوړه راشي، یا دې د مالک نه دمعاف کولو خواست اوکړي چه هغه ئې معاف کړي نو هله معاف شو. دامسلک دامام ابي حنیفه رحمه الله او د جمهورو فقهاؤ رحمهم الله دې، که ژور نظر واچولې شي نو دحقوق العباد نه ځان خلاصول دتوبې یوه ضروري برخه داسې ده چه بغیر ددې نه توبه نه مکمل کیږي، مطلب دا شو چه یو ډاکو او شو کمار [غل] به هله توبه کوونکې [توبګار] منلې شي چه حقوق العباد حقدار و ته ادا کړي یا ئې ترې معاف کړي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱبْتَغُوٓا۟ إِلَيْهِ

| اې هغه کسانو | چې ايمان موراوړي دي | اووېرېږئ د الله نه | او ولټوئ | هغه ته

| اې د ايمان خاوندانو! د الله ﷻ نه اووېرېږئ | اودهغه دربار کښې

ٱلْوَسِيلَةَ وَجَٰهِدُوا۟ فِى سَبِيلِهِۦ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝

ذريعه | اوکوشش اوکړئ | په لاره دهغه کښې | ښائيږي چې تاسوته | کاميابي نصيب شي

دکاميابۍ وسيله اولټوئ | اودهغه په لار کښې کوششونه اوکړئ | چې کامياب شئ

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْ أَنَّ لَهُم مَّا

بيشکه هغه کسان | چې انکار ئې اوکړو | که چرې وي | دهغوئ دپاره | هغه څه

بيشکه چا چې کفراوکړو | که چرته هغه ټول څه چه په مخ د زمکې دی هغه اود هغې پشان نور هم

فِى ٱلْأَرْضِ جَمِيعًا وَمِثْلَهُۥ مَعَهُۥ لِيَفْتَدُوا۟

چې په زمکه کښې دی | ټول | او په مثل دهغې | ورسره نورا | د پاره ددې چې فديه ورکړي

د دوی ملکيت شي | او دوی په هغې سره د قيامت د ورځې دعذاب نه فديه ورکول اوغواړي

بِهِۦ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۖ وَلَهُمْ

په هغې سره | د عذابه | دورځې د قيامت نه | نوقبول به نۀ کړې شي | دهغوئ نه | او وی به دهغوئ دپاره

نو بيا به هم د دوی نه قبول نشي | ......اودوئ دپاره

عَذَابٌ أَلِيمٌ ۝ يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُوا۟ مِنَ ٱلنَّارِ وَمَا هُم بِخَٰرِجِينَ

عذاب دردناك | غواړي به هغوئ | چې اووځي | د اور نه | اونۀ به وی هغوئ | وتونکي

دردناک عذاب تيار شوې دې | دوئ به غواړي چې ددوزخ نه راووځي | خو د هغې نه به وتونکې نه وی

مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ۝ وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ فَٱقْطَعُوٓا۟

دهغې نه | او وی به دهغوئ دپاره | عذاب | هميشه | اوغل سړې اوغله ښځه چې ده | نو پرېکړئ [تاسو]

......اود دوئ دپاره د هميشه عذاب مقرر دې | اوغل که نارينه وی اوکه زنانه نو د دواړونه

أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا

لاسونه دهغوئ دواړه | دپاره د سزا ورکولو | په هغه عمل | چې کړې دي هغوئ دواړو | دپاره دعبرتناکې سزا

لاسونه کټ کړئ دا د هغوی دعمل بدله ده | او دا سزا د الله تعالی د طرفه مقرر شوې ده

مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ۝ فَمَن تَابَ مِنۢ بَعْدِ

دطرفه دالله نه | اوالله | غالب دې | دحکمت خاوند دې | نوهغه څوك | چې توبه ئې اوويستله | روستو د

......الله ﷻ غالب دې اوصاحب د حکمت دې | نوڅوک چې دزياتې کولونه پس توبه اوباسی

ظُلْمِهِۦ وَأَصْلَحَ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ۗ إِنَّ ٱللَّهَ

ظلم خپل نه | او اصلاح ئې اوکړه | نوبيشکه الله | به توبه قبلوی | د هغه | بيشکه الله

اوخپله اصلاح اوکړی | نو بيشکه الله ﷻ به ورته خپل رحمت متوجه کړی | بيشکه الله ﷻ

Scanned with Ca

غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ ۝	اَلَمْ تَعْلَمْ	اَنَّ اللّٰهَ لَهٗ	مُلْكُ السَّمٰوٰتِ
بښونکي	مهربان دي	آيا تاته معلومه نه ده	چي بيشکه الله لره ده	بادشاهي دآسمانونو
بښونکي اومهربان دي آيا تاته دا معلومه نه ده چي د آسمانونو او د زمکي				
وَالْاَرْضِ ط	يُعَذِّبُ	مَنْ يَّشَآءُ	وَيَغْفِرُ لِمَنْ	يَّشَآءُ ط
اودزمکي	هغه عذاب ورکوي	هغه چاته چي اوغواړي	اوبښنه کوي هغه هغه چاته	چي اوغواړي
بادشاهي صرف دالله ﷻ ده | چاته چي اوغواړي نو سزا ورکوي | او چاته چي اوغواړي نو بښنه ورته کوي				
وَاللّٰهُ	عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ	قَدِيْرٌ ۝		
اوالله	په هر څيز باندي	قادردي		
اوالله ﷻ په هرڅيز قادر دي				

آسان ترجمه قرآن: اې دايمان خاوندانو! د الله نه وويرېږئ او هغه ته درسيدو د پاره وسيله ولټوئ او د هغه په لاره کښې جهاد وکړئ اميد دې چه تاسو به کامياب شئ يقين وکړئ چه کومو خلقو کفر کړې دې چه زمکه کښې څومره هم څه دي که دا ټول ددوی شي او ددې هومره نور هم شي دې د پاره چه د قيامت په ورځ د عذاب نه بچ کيدو د پاره دا فديې د پاره ورکړي ، بيا به هم ددوی دا پيش کش قبوله نه شي او دوی لره به دردناک عذاب وي. دوی به دا غواړي چه د اور نه ووځي ليکن دوی به نه شي وتلې ، اودوی ته به داسې عذاب وي چه هميشه به وي. او کوم سړې چه غلا وکړي او کومه ښځه چه غلا وکړي نو ددې دواړو لاسونه کټ کړئ ، دې د پاره چه دوی ته د خپل عمل بدله ملاؤ شي او دالله د طرف نه عبرتناکه سزا وي. او الله قدرت والا هم دې اوحکمت والا هم. بيا چه څوک د خپل د ظلم دې عمل نه توبه وباسي او خپل معاملات صحيح کړي نو الله به دده توبه قبوله کړي بې شکه الله ډير بخښونکې مهربان دې آيا ته نه پوهيږې چه د زمکې او د آسمان بادشاهي ټوله دالله ده؟ چه چاته وغواړي نو عذاب ورکوي او چه چاته وغواړي نو بخښي ئې او الله په هر يو شي باندې قادر دې.

خلاصه تفسير

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ ﴾ائې دايمان خاوندانو دالله ﷻ [د احکامو د مخالفت] نه ويريږئ [يعنی ګناهونه پريږدئی]﴿ وَابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ ﴾ او [دعبادت په ذريعه] دالله ﷻ نزديکت لټوئی [يعنی دضروری عبادتونو پابند اوسيږئی] ﴿ وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ ﴾ او[دعبادتونو بعضے خاص]دالله ﷻ په لارکښې جهاد کونی ﴿ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ۝ ﴾ اميد دې چې [په دې طريقه به] تاسو [پوره]کامياب شئ [اوکاميابی داده چه دالله ﷻ رضامندي حاصله شی او ددوزخ نه خلاصے بيا مومی] ﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا ﴾ يقينا کوم خلق چه کافران دی که [فرض کړه د] دوی [نه بعضې هر يو] سره دټولې دنيا ټول څيزونه وی [دے کښې ټولې ښخے کړي او قدرتی خزانې راغلې] ﴿ وَمِثْلَهٗ مَعَهٗ لِيَفْتَدُوْا بِهٖ مِنْ عَذَابِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ ﴾ او[يو اخې دا ټول څيزونه نه بلکه که]دے څيزونو سره دغه هومره څيزونه نور هم وی دپاره ددې چه ددې په ورکولو سره د ورځې د قيامت دعذاب نه خلاص شی بيابه هم دغه څيزونه هيچرې

ددوی نه قبول نکړی شی او عذاب نه به بچ نشی بلکه [دوی لره به دردناك عذاب وی [بیا به عذاب کښې, دداخلیدو نه پس] ﴿ يُرِيدُونَ أَن يَخْرُجُوا مِنَ النَّارِ ﴾ ددې خبرې خواهش [او آرزو] به کوی چه دوزخ نه [په څه شان سره] راووزی ﴿ وَمَا هُم بِخَارِجِينَ مِنْهَا ۖ وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيمٌ ﴾ او [دا خواهش به يې هیچرې پوره نشی او] دوی به دې نه کله نه راووزی او دوی لره به عذاب دهمیشه وی [یعنې په څه تدبیر سره به يې نه ایساریږی اونه به د سزا همیشوالی ایساریږی].

﴿ وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا ﴾او څوك سړې چه غلاوکړی او [دغه شان] کومه ښځه چه غلا اوکړی نو [ددوی حکم دادې چه ائې حاکمانو]ددې دواړوښے لاس[په مړوند باندې]پریکړنی ددوی[ددې] ﴿ جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللَّهِ ﴾ دکړو په بدل کښې [او دا بدل]په ډول دسزا [دې] دالله ﷻ د طرفه ﴿وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ اوالله د لوئې قوت خاوند دے [کومه سزا چه غواړی مقرروی ئے او] لوئې دحکمت خاوند دے [چه هم مناسب سزا ټاکی] ﴿ فَمَن تَابَ مِن بَعْدِ ظُلْمِهِ وَأَصْلَحَ ﴾ بیا چه څوك [دشرعی قاعدې په جوړ] توبه اوکړی دخپلې دے زیاتی: [یعنی دغلا] کولونه پس او [مخکښې دپاره] دعملونو سمے راولی [یعنی غلا وغیره نه کوی په خپلې توبے کلك پاتې کیږی] ﴿ فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ ﴾ نو بیشکه الله ﷻ به په ده [دده په حال باندې رحمت سره] توجه اوکړی چه توبے سره به يې شوی ګناهونه معاف کوی [اوپه توبے باندې د کلك پاتې کیدو په وجه به زیاته مهر بانی پرې کوی] ﴿ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴾ بیشکه الله ﷻ لوئې دبخښنے خاوند دے [چه دده ګناه ئے معاف کړه] لوئې د رحمت خاوند دے [چه په آئنده کښې يې هم پرې زیاته مهربانی اوکړه ائې مخاطبه] ﴿ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ﴾ آیا ته نه پوهیږے [یعنی ټول پوهیږی]چه یواځې الله ﷻ لره ثابت دې حکومت دټولوآسمانونو او زمکې ﴿يُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ وَيَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ ﴾ هغه چه چالره اوغواړی سزابه ورکړی اوچه چالره اوغواړی معاف به ئے کړی ﴿وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴾ اوالله ﷻ لره په هرڅیز باندې پوره قدرت دې.

معارف اومسائل

ددې آیتونونه وړاندې په تیرشوی آیتونو کښې دډاکې اوبغاوت شرعی سزا اودهغې د احکامو تفصیل بیان شوې وو ،اوس دې درې آیتونونه پس دغلا دشرعی سزا بیان راتلونکې دې، په دې منځنی آیتونو کښې تقوی، عبادت، فرمانبرداری اوجهاد سره دمینې پیدا کولو، دکفر، عناد اونافرمانئ تباه کاری بیان شویده ،دقرآن کریم په دې خاص طرزچه ژورنظر واچولې شی نو معلومه به شی چه دقرآن کریم عام طرز دادې چه هغه خالص په حاکمانه شان سره د تعزیر او سزا قانون نه بیانوی بلکه دپاللو په انداز کښې ذهنونو لره دجرمونونه بندولو دپاره هم تیار وی، دالله تعالی اودآخرت ویره اودجنت نعمتونه اوراحتونه ورته رامخې ته کوی چه زړونه ئې دجرم نه کرکجن جوړ کړی، چنانچه دجرم اوسزا دقانون نه روستو اکثر﴿اتَّقُوا اللَّهَ﴾ وغیره بیا بیا راوړی، دلته هم په رومبی آیت کښې د درې څیزونو حکم ورکړې شویدې،

① اول د﴿اتَّقُوا اللَّهَ﴾ [الله تعالی نه ویریږی] حکم ورکړې شویدې، ولې چه، دالله تعالی ویره داسې یو څیزدې چه انسان لره په حقیقی ډول دپټو اوښکاروجرمونونه ایسارولې شی،

② دویم ارشاد دادې: ﴿وَابْتَغُوا إِلَيْهِ الْوَسِيلَةَ﴾ یعنی دالله تعالی نزدیکت لټوئ د[وسیلة] لفظ د [وسل] نه مشتق دې، معنی ئې یوځائې کیدل اوپیوست کیدل دی، یعنی په سین او صاد دواړو

Scanned with CS

سره [وصل، او، وسل] هم دغه معنی لری، فرق دومره قدرې دې چه په صادسره [وصل] معنی د یوځائې کیدلو او پیوست کیدلو معنی ورکوی او [وسل] په سین سره په مینې محبت سره دیو ځائې کید ومعنی ورکوی، چنانچه صحاح جوهری او داصفهانی په مفردات القرآن کښې هم ددې تصریح کړې ده. په دې بنا، صادسره وصلة، او، وصيلة هرهغه څیزته وئیلې شی چه د دوؤ څیزونو ترمنځ یوځائې والی او پیوست کیدل راولی، برابره خبره ده چه دادمینې محبت په وجه وی او که دبل څه په وجه وی او سین سره وَسِیلَة، هغه یوځایې والی او پیوست کیدل دی چه دمینې محبت له کبله وی [لسان العرب] مفردات راغب] ([1])،

د الله ﷻ د طرف ته [وسیله] دامطلب لری چه یوڅیزبنده لره خپل معبود ته په مینې محبت سره ورنزدې کړی، په دې وجه پخوانو بزرګانو، صحابه کرامو رضي الله عنهم تابعینو رحمهم الله په دې آیت کښې د وسیلې تفسیر په طاعت [فرمانبرداری] نزدیکت، ایمان او عمل صالح سره کړې دې، د حاکم په روایت حضرت حذیفه رضي الله عنه فرمائیلی دی چه د وسیلې نه مراد نزدیکت او فرمانبرداری ده ([2])، او ابن جریر رضي الله عنه د حضرت عطاء رحمه الله مجاهد رحمه الله او حسن بصری رحمه الله وغیره نه هم دا [مطلب] نقل کړیدې ([3])،

ابن جریر رحمه الله وغیره، د حضرت قتاده نه ددې تفسیر داسې نقل کړې دې ﴿تقربوا اليه بطاعته والعمل بما يرضيه﴾ [الله تعالی ته نزدیکت حاصل کړئ دهغه په فرمانبرداری سره او دهغه درضا پاره په عمل کولو سره ([4]). په دې بِنادآیت دتفسیر خلاصه داشوه چه دالله تعالی نزدیکت لټوئ دایمان او نیک عمل په ذریعې سره،

او دمسند احمد رحمه الله په یوحدیث کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ او فرمائیل: وسیله دجنت یوه اعلی درجه ده چه دې نه پورته بله درجه نشته تاسو دالله تعالی نه دعاکوئ چه دغه درجه ماته راکړی ([5]). دصحیح مسلم په یوروایت کښې راغلی دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هرکله چه مؤذن آذان اوکړی نوتاسو هم هغه کلمات ورپسې وایئ بیا په مادرود لیږئ او ماد پاره د وسیلې دعاکوئ ([6])،

دې احادیثونه معلومه شوه چه، وسیله] په جنت کښې دیوې خاصې درجې نوم دې چه رسول الله ﷺ سره خصوصیت لری نوپه دې آیت کښې هرمؤمن ته د وسیلې طلب کولو او لټولو حکم په ظاهره دې خصوصیت سره سمون نه خوری څوجواب ئې بیخی صفا داسې دې چه څنګه دهدایت اعلی مقام رسول الله ﷺ لره مخصوص دې چه دهغې دپاره به ئې همیشه دعافرمائیله، لیکن ددې کوزې [لاندې] او منځنئ درجې ټولو مؤمنانو لره عامې دی، دغه شان د وسیلې اعلی درجه رسول الله ﷺ لره مخصوص ده او دهغې نه ښکته درجې ټولو مؤمنانو لره، هم دهغوئ ﷺ په ذریعه او واسطه عامې دی،

---

[1]) لسان العرب: ج ۱۱، ص ۷۲۴، ومفردات القرآن للراغب: ج ۱، ص ۵۲۳، ۵۲۴

[2]) مستدرک الحاکم، رقم الحديث: ۳۳۰۳ تفسیر سورة المائدة۔

[3]) تفسیر الطبری تحت هٰذه الآية: رقم الحديث ۱۱۹۰۰ تا ۱۱۹۰۳

[4]) تفسیر الطبری تحت هٰذه الآية: رقم الحديث ۱۱۹۰۲

[5]) مسند أحمد رقم الحديث: ۷۲۸۱ مسند ابی هریرة رضی الله عنه۔

[6]) صحیح مسلم، کتاب الصلوٰة، باب استحباب القول مثل قول المؤذن الخ: ج ۱، ص ۲۹۶

Scanned with Ca

حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله په خپلو مکتوباتو کښې او قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله په تفسير مظهري کښې په دې خبر دارې ورکړې دې چه هر کله په لفظ د [وسيله] کښې د محبت او رغبت مفهوم شامل دې نو دا اشاره دې اړخ ته ده چه د وسيلې په درجو کښې ترقي، د الله تعالى او دهغه د رسول الله ﷺ په مينې محبت باندې موقوفه ده چه مينه، د سنتو د تابعدارئ نه پيدا کيږي، ولې چه د الله تعالى ارشاد دې:

﴿فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾ (۱) لهذا څومره چه څوک په خپلو عبادتونو، معاملاتو، اخلاقو او د کاروبار او ژوند په ټولو اړخونو کښې د رسول الله ﷺ د سنتو تابعداری کوی هومره به ورته د الله تعالى محبت حاصليږي او هغه به په خپله د الله تعالى په نزد محبوب او خوښ شي، او څومره چه محبت به زياته وده کوی هومره به د الله تعالى نزديکت حاصليږي،

دوسيلې د لفظ لغوی تشريح او د صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله د تفسيرنه هر کله چه دا معلومه شوه چه هغه څيز چه د الله تعالى د رضا او نزديکت وسيله جوړيږي، هغه انسان لره الله تعالى ته د نزدې کيدو وسيله جوړيږي، په دې کښې څنګه چه ايمان او نيک عمل داخل دې دغه شان په کښې پيغمبرانو او نيکانو خلقو سره ملګرتيا او محبت کول هم داخل دې ولې چه دا هم د الله تعالى د رضا حاصلولو اسباب دی ځکه ددې په وسيله د الله تعالى نه دعا کول درست شو، چنانچه حضرت عمر رضي الله عنه د قحطئ په زمانه کښې حضرت عباس رضي الله عنه لره وسيله جوړه کړه او د الله تعالى نه ئې د باران د پاره دعا اوغوښته او الله تعالى قبوله کړه (۲)،

ديو روايت مطابق رسول الله ﷺ يو نابينا صحابي رضي الله عنه ته د دعا غوښتلو ښودنه دا شان اوفرمائيله: اللّٰهُمَّ اِنِّي اَسْئَلُکَ وَاَتَوَجَّهُ اِلَيْکَ بِنَبِيِّکَ مُحَمَّدٍ نَّبِيِّ الرَّحمةِ، [منار] (۳)،

په دغه آيت کښې اول د تقوی هدايت اوکړې شو، بيا د ايمان او نيکو عملونو په ذريعه الله تعالى ته د نزديکت حاصلولو، وروستو ئې په آخر کښې ارشاد اوفرمائيلو: ﴿وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ﴾ [جهاد کوئ د الله تعالى په لار کښې] اګر چه په نيکو عملونو کښې جهاد هم داخل وو خو هر کله چه ددې درجه د ټولو نيکو عملونو نه زياته وه نو ددې اعلى مقام ښودلو د پاره ئې بيل ځکه په نخښه کړو، لکه رسول الله ﷺ فرمائيلي دی: [ذِرْوَةُ سِنَامِهِ الجِهَادُ] (۴) [د اسلام اعلى مقام جهاد دې] جهاد ته د ځانګړی شان ورکولو يو حکمت دا هم دې چه هر کله په تيرو شوؤ آيتونو کښې د [فساد فی الارض] حرام يدل او نار واکيدل بيان شوی وو، د دنيا او آخرت سزاګانې ئې هم بيان شوې، او د جهاد ظاهری صورت [د فساد فی الارض] ښکاريدو، نو کيدې شوه چه څاناخبره بنده د [جهاد] او [فساد فی الارض] ترمنځه فرق نه وې کړې، لهذا ددې فرق واضح کولو د پاره ئې د جهاد حکم ئې په اهتمام سره اوکړو او په ﴿سَبِيْلِهٖ﴾ سره ئې اشاره دې خبرې ته اوکړه چه په ډاکې او بغاوت وغيره کښې چې کوم قتل او قتال کيږي او د خلقو مال تښتول کيږي هغه يوازې د ذاتی غرض د پاره لوټلې او تباه کولې شي، او ذليل مقصدونه پراڼدانره وی، ليکن د جهاد مقصد د الله تعالى کلمه بلندول او زور ظلم ختمول دی، اګر چه په ظاهره د [فسادفی

---

۱) التفسير المظهري تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۳
۲) صحيح البخاري، كتاب الاستسقاء، باب سؤال الناس الامام الاستسقاء الخ: ج ۱، ص ۳۷
۳) السنن الكبرىٰ للنسائي رقم الحديث: ۱۰۴۹۵
۴) جامع الترمذي، أبواب الإيمان، باب ما جاء في حرمة الصلاة: ج ۲، ص ۸۸

Scanned with Ca

الارض] او [جهاد] صورتونه یوشان ښکاري.په دې بيان سره د [فسادفی الارض] او[جهاد] ترمنځه فرق ښه په ډاګه شو.

په دويم،دريم آيت کښې د کفر،شرک اونافرمانۍ لوئې وبال په داسې اندازکښې ښودلې شويدې چه لږشان ژور نظرورته اوکړې شی نو دادانسان په ژوند کښې يولوئې انقلاب اوغټ بدلون راولی،دشرک،کفراونافرمانۍ ټولو په پرېښودلو مجبوره کوی،

هغه داسې چه عموماً دخپلو خواهشاتو اوضروریاتو یادبال بچ دخپلو خواهشاتو او ضروریاتو پوره کولو دپاره انسان په ګناهونو کښې اخته کيږی اوداټول هله پوره کيدې شی چه مال دولت وردپاره جمع کړې شی خو دې دپاره دحلال حرام بيلتون نه کوی اوپه مخه ددې په حاصلولو کښې لګياوی،په دې آيت کښې الله تعالی د دوئ دبدمستئ دعلاج دپاره اوفرمائيل چه دې څوورځې ژونداوددې دآرام دپاره، تاسو چه کوم څيزونه په ډيرخوارواو کوششونو سره جمع کوئ اوبياهم ټول درته په جمع نه حاصليږی، ددې ناروا خواهشونو انجام دادې چه هرکله د قيامت عذاب مخې ته راشی اوداخلق اوغواړی چه په دنياکښې حاصل کړې مال،دولت او سازوسامان ټول په دې بدل کښې ورکړی چه ځان پرِدعذاب نه بچ کړی نو دانشی کيدې،بلکه فرض کړئ چه دټولې دنيامال ودولت که دغه کس ته حاصل شی اوددې هومره نورهم ورته حاصل شی اوداټول په دې بدل کښې ورکړی چه ځان پرِدعذاب نه بچ کړی نوهيڅ څيزبه ترې قبول نشی اونه به دآخرت دعذاب نه خلاص شی،

په دريم آيت کښې ترې داهم واضح کړل چه دکفارو داعذاب به هميشه دپاره وی چه خلاصې به ترهيچرې نشی مونډې،

په څلورم آيت کښې بیادجرمونو دسزاګانوبيان شروع شو چه دغلا شرعی سزابيانول دی، د غلا شرعی سزاپه حدودو کښې داخله ده،قرآن کريم پخپله ددې سزاټاکلې ده،دحاکمانو رائې اوخوښې ته ئې نه ده پرېښې،هرکله چه دائې دالله تعالی حق ټاکلې دې ځکه ورته [حدسرقه] وئيلې شی لکه فرمائی:

﴿وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوٓا أَيْدِيَهُمَا جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَٰلًا مِّنَ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾ [دغل سړی اوغلې ښځې لاسونه پريکړئ د دوئ دکړوپه بدل کښې اوالله تعالی زبردست دحکمت خاوند دې]،

دلته په دې خبره هم ژورنظراچول دی چه دقرآن کريم خطاب په عامه توګه نارينۀ ته وی او زنانه په کښې د دوئ په تبع شامليږی،لکه دمونځ،روژې،حج زکوة وغيره په تمام احکامو کښې د قرآن پاك او سنت هم دغه اصول دی ليکن دغلا په سزا کښې اود زنا په سزا کښې يې يوازې د نارينۀ په ذکر کولو اکتفاء اوبسوالې اونکړو بلکه دواړه صنفونه يې جدا جدا ذکر کړل او حکم يې بيان کړو ، ددې وجه داده چې معامله د حدودو ده چه معمولی شبه په کښې راشی نوحد ساقطيږی،اوعمل پر نشی کيدې ځکه ئې ددغې طريقې په ځائې داسې اوکړل چه نارينه اوزنانه ئې بيل بيل ښه واضح ذکرکړل اوهريو دپاره ئې ځان ځانله حکم بيان کړو چه پرِعمل کولو کښې هيڅ څه شک شبه پاتې نشی.دلته بله خبره هم دغور کولو جوګه ده چه د [سرقې] دلفظ لغوی اوشرعی معنی اوتعريف څه دې؟.قاموس کښې ليکلې دی چه يو محفوظ ځائې

Scanned with Ca

نه، د چا مال، بغير د هغه د اجازت نه په پټه اغستل، [سرقه] ده، دا ئې شرعي تعريف دې[1] چه د دې له مخه د سرقې ثابتيدو د پاره څو څيزونه ضروري شو.

① يو دا چه دغه مال ديو كس ياد ګنړو خلقو ذاتي ملكيت وي، دغلا كوونكي ملكيت په كښې شامل نه وي اونه پكښې د دې څه شبه وي، نه داسې څيز وي چه دعوامو حقوق پكښې برابر وي، لكه دعام خيرښيګړې اداري يا څيزونه شو. مطلب دا چه كه څوک داسې يو څيز واخلي چه دده ملكيت په كښې هم شامل وي، يا دده دملكيت شبه په كښې وي، يا پكښې دټولو عوامو حقوق يو شان وي نو دسرقې حد به پرنشي جاري كولې البته حاكم به پر هغه تعزير جاري كولې شي كوم قسم چه هغه مناسب ګنړي،

② دويم دا چه دغه غلا كړې مال په دې شان محفوظ وي چه څوكيداري ئې كيږي، په كور كښې دننه چاسره محفوظ وي، يا بهر په داسې يو مكان كښې پروت وي چه جندره [كلف] ورته لګيدلې وي يا څوک څوكيدار پرولاړ وي كه په دې شان محفوظ نه وي نو دهغې په اغستو سره څوک غل نشي ګنړلې، كه په داسې قسم حفاظت كښې څه شبه قدرې هم راولاړه شي نو بيا به هم پر حد نه جاري كيږي، البته ګناه به ئې وي او مناسب تعزير به پر هم وركولې شي،

③ دريم شرط دا دې چه دبل چا مال ئې بې اجازته اخستې وي، مطلب دا چه كه داسې څه مال چا اخستې وي چه دهغې داوړلو يا استعمالولو اجازت وي يا داجازت وركولو شبه په كښې وي نو حد به نشي جاري كولې،

④ څلورم په پټه اغستل دي، په دې بنا كه چا په ښكاره دچا مال په سر ګنده واغستو نو هغه [سرقه] نه بلكه ډاكه ده چه سزائې وړاندې بيان كړې شويده غرض دا چه كه په پټه ئې نه وي اغستې نو د [سرقې] غلا حد به پرنه جاري كيږي،

ددې تفصيل په آؤريدو به درته معلومه شوي وي چه هر هغه طريقې سره دچا مال اغستل غلا نه ده اونه پر دغلا حد جاري كيږي كوم ته چه عام خلق غلا وائي بلكه صرف هغه صورتونو كښې به پر شرعي حد جاري كيږي په كومو كښې چه داټول شرائط موجود وي،

تاسو ته به دا هم معلومه شوي وي چه په كومو صورتونو كښې شرعي حد دجاري كولو نه پاتې شي نو دالازمه نه ده چه مجرم دې بيخي آزاد پريښودې شي، بلكه دوخت حاكم ورته د خپل صوابديد په جوړ تعزيري سزاوركولې شي چه د دُرو وهلو په شكل كښې هم كيدې شي،

دې نه دا هم نه دې ګنړل پكار چه چرته دغلا څه شرط اونه موندې شي اوحد پر جاري نشي نو ګنى دغه اغستې مال، څيز وغيره دې ورته حلال او جائز وي بلكه ګناه او عذاب دآخرت به ورد پاره ضرور وي، په داسې مال خولاڅه كوې بلكه هغه مال به هم حرام وي او دعذاب د آخرت باعث به وي كوم چه دمالك دخوشحالئ اورضانه بغير اغستې شوې وي لكه چه دقرآن كريم په دې آيت: ﴿وَلَا تَأْكُلُوٓا۟ أَمْوَٰلَكُم بَيْنَكُم بِٱلْبَٰطِلِ﴾ كښې ئې چه وضاحت موجود دې،

دلته دا خبره د ذكر كولو وړ ده چې په قرآن كريم دغلا او زنا په باره كښې يو شان الفاظ راغلي دي. فرق دومره دې چه دغلا په معامله كښې دنارينه ذكر ومبې شويدې لكه فرمائي: ﴿وَٱلسَّارِقُ وَٱلسَّارِقَةُ﴾ او دزنا په باره كښې دزنانه ذكر ومبې راغلې دې لكه فرمائي: ﴿ٱلزَّانِيَةُ وَٱلزَّانِى﴾

[1]) القاموس الفقهي: ج ۱، ص ۱۷۱، والقاموس المحيط: ج ۲، ص ۲۴۴

ددې فرق حکمتونه مفسرينو رحمهم الله کښې ليکلي دي، په دغې کښې زړه ته پريوتونکي حکمت دې چه دغلا کولو جرم دښځې په نسبت سړی دپاره ځکه ډيرسخت دې اوبد دې چه الله تعالى نارينه دته دروزګار کولو هغه طاقت بخښلي دې چه زنانه ته ئې نه دې بخښلي، هر کله چه ده ته د روزګار ډيرې دروازې خلاصې کړی دی نوسره ددې نه په دې ذليل جرم کښې داخته کيدوله کبله دهغه جرم زيات ګڼلې شی. دزنا په معامله کښې دزنانه ذکر ړومبې کيدل داحکمت لری چه الله تعالى زنانه ته، طبعي شرم اوحيا سره داسې چاپيرچل [ماحول] بخښلی دی چه ددغې ټولوسره هم د بيحيائينې دغه کار اوکړی نو دې دپاره سخت جرم ګرځی،

په دې آيت کښې دغلا دشرعی سزا بيانولونه پس دوه جملې فرمائيلې شويدی ① يو ﴿جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا﴾ [چه داسزا ددوئ دناکاره کارده] ② بله جمله دا فرمائيلې شويده ﴿نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ﴾ په دې کښې بيادوه لفظونه دي ﴿نَكَالًا﴾ او ﴿مِّنَ اللّٰهِ﴾ په عربی لغت کښې د [نکال] معنى داسې سزاده چه دهغې په ليدونوروته هم سبق اوعبرت حاصليږی چه په هغې سره دجرم کولونه منع کيږی، زمونږ په پښتو کښې ددې ترجمه [عبرتناکه سزا] کيږی، لهذا په دې کښې اشاره دې ته شوه چه ددې سزا ورکولو [الأس پريکولو] يوخاص حکمت داسې دې چه مجرم ته دهغه دبدوکړوسزا ورکړې شی اونوراوويريږی چه ددغه خراب اوناکاره جرم بنديزاوشی د [من الله] په زياتولو سره دې اهم مضمون ته اشاره ده چه دغلا جرم دوه حيثيتونه لری، ① يو داچه دبل مال په ناحقه اغستوسره ئې دهغې په مالک ظلم اوکړی ② بل داچه داسې کولو سره ئې دالله تعالى دحکم خلاف ورزی اوکړو. په اول حيثيت سره دغه دمظلوم حق جوړيدو، دهغې تقاضا داوه چه دحق خاوندکه دغه سزا معاف کول غواړی نومعاف کيدې شی لکه دقصاص په ټولو مسئلو کښې چه پرعمل کيدې شی ليکن په بل حيثيت سره هر کله چه دغه سزا دالله تعالى دحق نه دخلاف ورزئ کړی وده، په دې لحاظ سره ئې تقاضا داشوه چه دمالک دمال په معاف کولو به هم معاف کولې ځکه نشی چه داحق دالله تعالى دې کوم ته چه دشريعت په اصطلاح کښې حد، ياحدود وئيلې شی. په دې بنا، [من الله] سره دغه دويم حيثيت اوټاکلې شو او اشاره دې اړخ ته اوشوه چه داسزا [حد] دې [قصاص] نه دې، مطلب داچه دغه سزا دسرکاری جرم په حيثيت سره ورکړې شويده، بل هيڅوک ئې سوادالله تعالى نه دمعاف کولوحق نه لری اوهغه به ئې په دنيا کښې نه معاف کوی،

په آخر د آيت کښې ﴿وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝﴾ فرمائيلوسره ددې خبرې جواب هم اوشو، کومه چه په وازه خله عموماً داسې کولې شی چه داسزا ډيره سخته ده اوځنې بې شرمه اوبې ادبه خلق خو تردې وائی چه داوحشيانه سزاده [نعوذبالله منه] لهذا په دې الفاظو سره اشاره داسې اوشوه چه داسخته سزا يواځې په دې بنانشی ورکولې چه خالص دقوی اوزبردست الله تعالى تجويز کړې سزاده بلکه د [حکيم] الله تجويز کړې سزا هم ده چه دهغه حکمتونه هم مبنی ده. کومو شرعی سزاګانو ته چه نن صبا ديورپ هوښياران سخته اووحشيانه سزاوائی، دهغې حکمتونه ضرورت اوفائدې به، ددې آيتونو دتفسير نه پس په تفصيل سره بيانولې شی،

په دويم آيت کښې ئې داسې اوفرمائيل: ﴿فَمَنْ تَابَ مِنْۢ بَعْدِ ظُلْمِهٖ وَاَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝﴾ [څوک چه دخپل ناکاره کار اوغلانه منع شو اودخپل عمل سمون ئې راوستونو الله تعالى به ئې معاف کړی ځکه چه الله تعالى ډير بخښونکي اومهربان دې]،

ځوآيتونه وړاندې دډاکې دشرعي سزا په بيان کښې ددې دمعافۍ هم ذکردې اودلته د غلاد سزابيانولو نه پس هم دمعافۍ ذکردې، خوددې دواړو معافيانو ترمينځه يو خاص فرق د فقهاؤ رحمهم الله په نزد داسې دې چه دډاکې په سزا کښې الله تعالى، داستثناء په ډول اوفرمائيل: ﴿إِلَّا الَّذِينَ تَابُوا مِن قَبْلِ أَن تَقْدِرُوا عَلَيْهِمْ﴾ ددې استثناء مطلب دادې چه دامعافي دسزا په دنيا کښې هغه وخت ده کله چه دوئ [ډاکوانو اوشوکمارو] باندې حکومت قابو نه وي موندلې اوګرفتارشوي نه وي اوپه دغه حالت کښې دوئ توبه اوباسي، ليکن دغلا دسزانه پس دمعافۍ ذکرکول دا مطلب لري چه په آخرت کښې به ئې توبه قبوله شي لکه څنګه چه په ﴿فَإِنَّ اللَّهَ يَتُوبُ عَلَيْهِ﴾ کښې ورته اشاره شويده، دانه چه دتوبې په وجه به ئې ددنياشرعي سزامعاف کړې شي، بلکه مطلب دادې چه دآخرت سزابه ئې معاف کړې شي، په دې بنافقهاء رحمهم الله په دې باندې متفق دې چه که ډاکودګرفتاريدونه وړاندې توبه اوکړي نو دډاکې شرعي سزابه پرې نه جاري کيږي مګر غل که په هرحالت کښې توبه اوباسي خواه دګرفتاريدونه وړاندې وي اوکه روستو، په دې دواړو صورتونو کښې به ورته دغلا [حد] دنيوي سزا] نه معاف کيږي، که دګناه دمعاف کيدو په وجه دآخرت دعذاب نه خلاصې بياموملې نو داورسره بې سمونه نه جوړيږي،

وروستې آيت کښې فرمائي: ﴿أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ وَيَغْفِرُ لِمَن يَشَاءُ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [آيا، تاسو ﷺ ته دامعلومه نه ده چه دآسمانونو او زمکې سلطنت اوحکومت، يو اځې دالله تعالى دې اودهغه شان دادې چه چاته غواړي عذاب ورکوي اوچه چاته غواړي بخښي ئې اوالله تعالى په هرڅيز قادر دې]،

تيروشوؤ آيتونو سره ددې آيت تړون اومناسبت دادې چه په دغې آيتونو کښې دډاکې اودغلا په سزا [شرعي حدودو] کښې دلاسونو خپو يا صرف دلاسونو د پريکولو سخت احکام بيان شوي وو، په سرسري نظرکولو سره دغه احکام ځني خلقوته داسې ښکاري چه ګني دا دانساني شرافت اوهغه د اکرم المخلوقات کيدلو سره سمون اوجوړښت نه خوري ځکه چه انسان په مخلوقاتو کښې بهترين مخلوق دې، ددې شبهې لرې کولو د پاره الله تعالى په دې آيت کښې دا بيان کړل چه زه حقيقي مالک دټول جهان يم، هم زه قادر مطلق يم، اوددې په مينځ کښې دا ارشاد هم اوفرمائيلې شو چه هغه يو اځې عذاب اوسزانه ورکوي بلکه معافي هم کوي، کومه چه دهغه په حکمت باندې اډانړه ده، هغه چه څنګه مالک مطلق او قادر مطلق دې دغه شان حکيم مطلق هم دې، څنګه چه انساني طاقت دهغه دقدرت اوحکومت پوره اندازه نشي لګولې دغه شان دهغه د حکمتونو هم پوره اندازه انساني عقل اودماغ نشي لګولې اود اصولو مطابق په غور فکرکولو سره ددې جوګه خلق پرد ومره قدرې علم بياموندې شي چه دزړونو تسلي ئې پر کيږي،

ديورپ خلق اود دوئ دتعليم نه اثرموندونکي خلق په عامه توګه دااعتراض يادوي چه داسزاګانې سختې دي اوځني ناتراشه اوبې تولې خلق خوترددې حده پورې وائي چه داسزا ګانې وحشيانه اودانساني شرافت نه خلاف دي،

دې باره کښې خو[١] اول په وړاندې بيان شوي احکامو باندې نظرواچوائ چه قرآن کريم يو اځې دځلورجرمونو سزاګانې پخپله ټاکلې دي چه په شرعي اصطلاح کښې ورته [حد] وئيلې شي چنانچه دډاکې اوشوکې ① سزاښې لاس، ګسه پښه او د ② غلاسزاښې لاس په

مړوند کښې پرېکول، ③ د زنا سزا په ځنې صورتونو کښې سل درې وهل او په ځنو کښې په سنګسارولو سره وژل دی، ④ په دروغه د زنا د تور پورې کولو سزا اتیا دُرې دی، ⑤ پنځم شرعي حد د شرابو څکلو دې چه د صحابه کرامو رضي الله عنهم په اجماع سره اتیا دُرې مقرر کړې شوی دی، د دې پنځونه علاوه د نورو جرمونو سزا د وخت د حاکم صوابدید او رائې ته پرېښودل شویده، چه د هغه جرم او مجرم د حالاتو په خبر اغستو سره د هغې مناسب سزا تجویز کولې شي، په دې باره کښې دا صورت هم کیدې شي چه د اهلِ علمو او اهلِ رائې په مشورې سره د سزاګانو تجویز کولو یو خاص نظام قائم کړې شي او قاضیان، ججان وغیره د هغې پابند کړې شي، لکه نن صبا عموما د اسمبلو په ذریعه چه تعزیری قوانین ټاکلې شي او قاضی یا جج په ټاکلو حدونو کښې سزاګانې جاری کوی البته په هغې پنځو جرمونو کښې څوک کس یا ټولې یا اسمبلی د بدلون را وستو هیڅ اختیار نه لری د کومو سزاګانې چه قرآن یا اجماع سره مقرر کړیدی، لیکن دا جرمونه که د شریعت له اړخه د ګواهئ په ټاکلو ضابطو سره ثابت نشی، یا ثابت خو شی لیکن هغه شرطونه مکمل نه وی د کومو له مخه چه دا سزا جاری کیږی، نو په دې صورت کښې به هم شرعی حد نه جاری کیږی بلکه تعزیری سزا به ورکولې شي، د دې سره دا شرعی ضابطه هم مقرره او منلې شویده چه د شبهې فائده مجرم ته رسی، د جرم په ثابتیدو یا د جرم د شرطونو څخه د یو شرط په څه څیز کښې شبه راشی نو شرعی حد به نشی جاری کولې البته که صرف جرم ثابت شی نو تعزیری سزا به ورکولې شي،

د دې نه معلومه شوه چه په دې پنځو جرمونو کښې به ډیر داسې صورتونه راځي چه په هغې کښې به شرعی حدود نه جاری کیږی، بلکه د حاکم په صوابدید به تعزیری سزاګانې ورکولې شي، هر کله چه اسلامی شریعت تعزیری سزاګانې ټاکلې نه دی بلکه د هرې زمانې او هر ماحول په جوړ د ملکونو د عامو قوانینو پشان په دې کښې هم بدلون او کمې زیاتې کولې شی لهذا په دې باندې چا ته د هیڅ قسم اعتراض کولو حق نشته، او س صرف د دې پنځو جرمونو د سزاګانو مخصوص صورتونه بیانولې شي، مثلا د اسلامی شریعت له مخې مطلقا په هرې غلا باندې د لاس پرېکولو سزا نشته کومې ته چه په عرف عام کښې غلا وئیلې شي بلکه لاس په هغې غلا باندې پرېکولې شي د کومې مخصوص تعریف چه وړاندې داسې تیر شویدې چه یو محفوظ ځائې نه په پټه طریقه په ناجائزه ول سامان راوښکلې شي د حفاظت سامان مات کړی، چنانچه په دې تعریف سره ډیر صورتونه د غلا د سرقې د تعریف نه بهر ته ووځی، مثلا د [محفوظ مکان] د شرط نه معلومه شوه چه عام پبلک مقاماتو مثلا په جومات، عیدګاه، پارک، کلب، اسټیشن، ویټنګ روم، ریل، جهاز، کښې په عامو ځایونو کښې ایښې څیز څوک غلا کړی، یا د ونو [درختو] نه په غلا سره میوې راوشوکوی یا شات [عسل] غلا کړی، نو په دې به د سرقې حد نشی جاری کولې، بلکه د عامو ملکونو د قوانینو پشان به پر تعزیری سزاګانې ورکولې شي، د غه شان که څوک داسې خلق چه ورته د کور د ننوتو اجازت ورکړې شوی وی مثلا هغه د کور د خاوند نوکر، مزدور، ګلکار یا څوک دوست عزیز وی که د غه مکان نه غلا وکړی نو لاس به ئې نشی پرېکولې اګرچه په عرف کښې دې ته هم غلا وئیلې شی، وجه ئې دا ده چه د غسې خلق د کور د مالک په اجازت سره د هغه کور ته ورننوځی او د دوئ په حق کښې حفاظت مکمل نه دې،

په جیب پرېکولو، د چا د لاس نه په څه کالی یا رقم تښتولو په ټګئ سره په څه اخستلو د چا په امانت باندې د منکریدلو په وجه به هم د مجرم لاس نشی پرېکولې بلکه د حاکم په

صوابدید به ورته تعزیری سزا ورکولې شی، اګرچه دې ته هم په عرف کښې غلا وئیلې شی او د شریعت له مخې حرام او ناروا کار ونه دی مګر د شرعی سرقې په تعریف کښې داخل نه دی.

دغه شان د کفن کش لاس به هم ځکه نشی پریکولې چه اول خو دغه ځائې [قبر] محفوظ نه دې او مړې ئې مالک نه وی البته دا کار سخت حرام دې، په دې حاکم به په خپل صوابدید سره تعزیری سزا ورکوی، که یو شریکوال د خپل شریک مال نه څه غلا وکړی چه د میراث په وجه پکښې څه برخه لری یا پکښې تجارتی برخمن وی نو لاس به ئې ځکه نشی پریکولې چه دغسې شریک مال کښې دې هم برخه لری او شبه د ملکیت پکښې راځی البته تعزیری سزا به ورکولې شی،

دغه ټول شرطونه خو د جرم د تکمیل لاندې راځی، چه تائې اجمالی خاکه او کتله، او س بل ځیز د ثبوت تکمیل دې، د حدودو په جاری کولو کښې اسلامی شریعت، د ګواهئ ضابطه هم د عامو معاملاتو نه بیله او ډیره د احتیاط جوړه کړیده، د زنا په سزا کښې د دوؤ ګواهانو په ځائې څلور ګواهان شرط کړې شویدی، دا خبره هم په کښې شته چه ګواهی به هم دستر ګو لیدلو په دې شان ورکوی چه هیڅ شکی لفظ پکښې نه وی راغلې، د غلا په معامله کښې اګر چه دوه ګواهان کافی دی مګر په دې کښې د عامو ګواهیانو په نسبت څه زیات شرطونه هم ایښودل شویدی مثلاً په نورو معاملاتو کښې د ضرورت له کبله قاضی ته اختیار ورکړې شوې دې چه ګواه اګرچه عملی فاسق وی لیکن د قاضی تسلی وی چه هغه دروغ نه وائی نو قاضی ئې ګواهی قبلولې شی خو په حدودو کښې قاضی ته دا اختیار نشته، په عامو معاملاتو کښې د یو سړی او دوؤ ښځو په ګواهئ باندې فیصله کولې شی مګر په حدودو کښې د دوؤ سړو ګواهی ضروری ده، په عام معاملاتو کښې، اسلامی شریعت تمادی [زیاته موده تیریدل] عذر د اسې منلې دې چه که هر څو مره موده پس څوک ګواهی ورکوی نو منظورولې شی، لیکن په حدودو کښې داسې نه دې بلکه سمدستی ګواهی ورنکړی بلکه یو میاشت یا د دې نه زیاته موده پس ګواهی ورکړی نو منظوره به نه وی،

د هغه شرطونو اجمالی نقشه کوم چه د سرقې د حد د پاره د غه ټول د فقه حنفی د زیات مستند کتاب بدائع الصنائع نه راغستې شویدې([1]).

د دې ټولو شرطونو حاصل دا دې چه شرعی حد به یوا ځې په هغه صورت کښې جاری کیږی چه د پاکیزه شریعت د ټاکلو ضابطو په جوړ جرم هم مکمل وی او ثبوت ئې هم مکمل وی، مکمل هم په دې شان چه د هغې هیڅ اړخ کښې څه شک شبه پاتې نشی، معلومه شوه چه اسلامی شریعت، څنګه چه د دې جرمونو سزا ګانې، د حکمت د تقاضا مطابق سختې مقرر کړی دی، دغسې ئې د شرعی حدودو په جاری کولو کښې د زیات احتیاط لحاظ هم ساتلې دې، د حدودو د ګواهئ ضابطه هم د عامو معاملاتو د ګواهئ د ضابطې نه مختلفه ده او ډیر احتیاط په کښې کړې شویدې، که په دې کښې لږ څه کمې راشی نو شرعی حد بیا تعزیری سزا ته منتقل کیږی، دغه شان د جرم د تکمیل په سلسله کښې که څه کمې بیا موندې شی بیا هم شرعی حد پاتې شو او تعزیری سزا به ورکولې شی، د دې عملی اړخ دا دې چه شرعی حدود کله ناکله [یعنی د نیشت برابر] نافذ کیږی په عامو حالاتو کښې د هغه جرمونو سزا ګانې هم تعزیری جاری کولې شی په کومو کښې چه حدود جاری کیدل وی، لیکن کله چه تکمیل د جرم او تکمیل د ثبوت د واړه

[1]) بدائع الصنائع، کتاب السرقة: ج ۷، ص ۶۵ تا ۷۵

Scanned with Ca

یوځاې شي نو ډیره زیاته سخته عبرتناکه سزا ورکولې شي اګرچه دغه یوځاې کیدل سلو ځخه
په یو کښې وی ددې باعث دادې چه هیبت اورعب ئې دخلقو په زړونو اودماغو کښې کښینی او
ددغې جرم خواته په تللو سره هم په بدن رپیدل اولړزیدل شروع شي چه همیشه دپاره د جرمونو
دبندیزاودعام امن ذریعه جوړیږی، په خلاف دهغه تعزیری قوانینو چه دغه جرمونه، پیشور
[عادتی]خلقودپاره یو قسم لوبه ده چه په ډیرولوبوټوقوسره ئې کوی، که په جیل کښې ناست
وی بیاهم ددې دکولو پروګرام په ډیرې خوبصورتئ سره جوړ شي په کومو ملکونو کښې چه
شرعی حدودجاری کولې شي دهغوئ د حالاتو خبر چه واغستې شي نودا حقیقت به ښکاره شي
چه هلته به لاس پریکړی خلق په ډیرشمیر کښې نشی موندې، په کلونو کلونو به دسنګسارئ
واقعه نه راپیښیږی، خوددې رغب په زړونوباندې بیاهم داسې خوروی چه هلته غلا ،ډاکه اوبې
حیائی تش په نوم هم په نظرنه راځی، دسعودی عرب دحالاتونه عام مسلمانان نیغ په نیغه
خبردی، ولې چه دحج اوعمرې دپاره هلته دهرملک هرقسم مسلمانان ورځی، په ورځ پنځه ځل
خلاص دکانونه وینی پکښې دلکونوډالروسامانونه پراته وی او مالکان ئې دجمع مانځه له
حرم شریف ته ځئ اوښه په تسلئ دمونځ اداکولونه پس راځی، په زړه کښې ئې وسوسه قدرې
هم نه راځی چه دکان به ئې چالړ څه هم غلاکړی وی، داد یو ورځ خبره نه ده، عمرونه داسې
تیرشو، که ددنیا یو مُهذب ملک کښې هم داسې اوشونو اوبه ګورئ چه دوکانونه کولاؤ شی نو
په یوورځ کښې به په سلګونو غلاګانې اوډاکې کیږی، دانسانی تهذیب اوانسانی حقوقو
دعویدارعجیبه خلق دی چه دجرمونو کسب ګروباندې خورحم کوی لیکن په ټولوهغه انسانانو
باندې رحم نه کوی چه ژوندئې دغه کسب ګرومجرمانو ډیرلنډتنګ کړې وې، حقیقت دادې چه
په یومجرم باندې زړه سوځول پوره انسانیت سره ظلم کول او په امن عامه کښې خلل اچول دی،
همدغه وجه ده چه هغه رب العالمین، کوم چه نیکانو ،بدو، پرهیزګارو، اولیاؤ، کافرانو،
فاجرانو ټولوته روزی ورکوی، مارانو، لړمانانو، زمرو او شرمخانو لیوانوته روزی ورکوی،
اوبې انتها رحمت ئې په ټولوباندې وریږی، هرکله چه دشرعی حدودو احکام یې په قرآن کریم
کښې نازل کړل نوورسره ئې داهم اوفرمائیل ﴿وَلَا تَأْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِي دِينِ اللَّهِ﴾ [دالله تعالی په
حدودوجاری کولو کښې په دغه مجرمانو هیچرې زړه سیزل پکارنه دی] ،بل اړخ ته ئې قصاص
لره انسانی ژوند او ګرځولو لکه فرمائی:
﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ﴾ معلومیږی چه د اسلامی حدودوخلاف کوونکی خلق دجرمونو
بندیدل دسره غواړی نه. ورنه داسلامی شریعت نه زیات بل څوک د رحمت اوشفقت معامله
ورازده کولې شي چه دتودجنګ په میدان کښې هم خپلو قاتلانو دښمنانوته حق ورکوی اوحکم
ورکوی چه دډښمن زنانه که مخې له درغله نولاس پرمه اوچتوه، که ماشوم په لاس درغلونوته
پرې مه بلوسه، که بوډا موبیاموندونو مخه ورپسې مه اړوئ، د دوئ هغه مذهبی عالم مه وژنئ
چه ستاسو خلاف په جنګ کولو کښې شریک نه وی اودخپل مذهب په عبادت کښې مشغول وی.
دټولونه زیاته عجیبه خبره داده چه دې اسلامی سزاګانو باندې اعتراض کولو دپاره د هغه
خلقو خلې وازیږی چه لاسونه ئې تراوسه پورې دهیروشیما دهغه لکونوبې ګناه اوبې قصوره
انسانانو په وینو رنګ دی، دچاپه زړونو کښې چه دسره دجنګ اومقابلې خیال هم چرته نه وؤ
راغلې، په دې کښې زنانه، ماشومان اوبوډاګان ټول داخل دی، اودچازړونه چه دهیروشیما په

Scanned with Ca

حادثې سره هم نه دي يخ شوي، بلکه هره ورځ دزيات خطرناکو بمونو په تيارولو او تجربو کولو کښې مشغوله دي، مونږ ددې نه علاوه، څه اووايو؟ چه الله تعالى دې د دوئ دسترګونه د خودغرضۍ پردې لرې کړي او په دنياکښې دامن قائيمولو صحيح اسلامي طريقو ارخ ته ئې هدايت ورکړي.

يَٰٓأَيُّهَا الرَّسُولُ | لَا يَحْزُنكَ | الَّذِينَ

اې رسوله | په غم کښې دې نه اچوی تالره | هغه کسان

..........اې پيغمبره ! ته دهغه کسانو په کار غم مه کوه |

يُسَارِعُونَ | فِي الْكُفْرِ | مِنَ الَّذِينَ | قَالُوٓا | ءَامَنَّا

چې تيز کوششونه کوی | په کفر کښې | دهغه کسانو نه | چې وائی | مونږه ايمان راوړې دې

چې هغوئ کفر ته په تيزئ سره ورځي | هغه کسان چې په خله وائی چې مونږ ايمان راوړې دې

بِأَفْوَٰهِهِمْ | وَلَمْ تُؤْمِن | قُلُوبُهُمْ ۛ | وَمِنَ الَّذِينَ | هَادُوا ۛ

تش په خلوخپلو | اونۀ وی ايمان راوړې | زړونو د هغوئ | او هغه کسان | چې يهوديان دی

خو ددوئ په زړونو کښې ايمان نشته | ....او هغه کسان چې يهوديان دی

سَمَّٰعُونَ | لِلْكَذِبِ | سَمَّٰعُونَ | لِقَوْمٍ ءَاخَرِينَ ۙ

حال دا چې ډير اوريدونکی دی ستا | د پاره د دروغو | اوريدونکی دی | دپاره دبل قوم

ددوئ داحال دې چې دروغو سره عادت دی | اودهغه نوروخلقو دپاره چې تاسوته کله

لَمْ يَأْتُوكَ ۖ | يُحَرِّفُونَ | الْكَلِمَ | مِنۢ بَعْدِ | مَوَاضِعِهِۦ ۖ

چې لانۀ دی راغلې تاته | چې بدلوی | کلمې | پس دمقرر والی دهغې نه | په ځايونو خپلو کښې

راغلې نه وی جاسوسی هم کوی | اوداللہ ﷻ کلمې دځائې نه بې ځايه کوی [تحريف لفظی په کښې کوی]

يَقُولُونَ | إِنْ أُوتِيتُمْ | هَٰذَا | فَخُذُوهُ | وَإِن | لَّمْ تُؤْتَوْهُ

وايئ | که درکړې شو تاسو ته | دا حکم | نو وايئ خلئ | او که چرې | درنۀ کړې شو تاسو ته هغه

خلقوته وائی که تاسوته [تحريف شده] حکم اوکړې شی | نو قبول ئې کړئ | اوکه درنۀ کړې شی نو

فَٱحْذَرُوا ۚ | وَمَن | يُرِدِ اللَّهُ | فِتْنَتَهُۥ

نو خان اوساتئ اومه ئې منئ | اوهغه څوك | چې اراده اوکړی الله | په فتنه کښې د اچولو د هغه

خان ترې نه اوساتئ | ....او چې الله ﷻ دچادخرابولو اراده اوکړی

فَلَن تَمْلِكَ | لَهُۥ | مِنَ اللَّهِ | شَيْـًٔا ۚ

نونۀ شی لرلې اختيارته [تونشی مالك کيدې ته] | دپاره دهغه | دالله نه دخلاصولو | هيڅ قدرله

نو د هغه په باره کښې تۀ د الله ﷻ په مقابله کښې هيڅ وس نشی لرلې

أُولَٰٓئِكَ الَّذِينَ | لَمْ يُرِدِ اللَّهُ | أَن يُطَهِّرَ | قُلُوبَهُمْ ۚ | لَهُمْ | فِي الدُّنْيَا

داکسان هغه خلق دی | چې اراده اونۀ کړه الله | چې پاك کړی | زړونه دهغوئ | دپاره دهغوئ | په دنيا کښې

داهغه کسان دی چې الله ﷻ ددوئ زړونه پاکول نه غواړی | د دوئ دپاره په دنيا کښې

Scanned with Ca

خِزْيٌ ۚ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ ۝ سَمّٰعُوْنَ

شرمندګی ده | اودي دهغوئ دپاره | په اخرت کښې | عذاب | لوئ | ډېراوريدونکی دی

رسوائی ده | او په اخرت کښې ورله لوئې عذاب مقرر دې | دا خلق د دروغو خورولو په خاطر جاسوسی کونکی

لِلْكَذِبِ اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ؕ فَاِنْ جَآءُوْكَ فَاحْكُمْ

دروغو لره | خوړونکی دی | حرامو لره | نوکه چرې راشي هغوئ تاته | نو فیصله اوکړه

دی | غټ حرام خواره دی | که تاسو ته په | مقدمه کښې | راشي | نو که ستاخوښه وی انو ددوئ مینځ کښې فیصله اوکړه

بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ وَاِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ

په مینځ دهغوئ کښې | یا مخ اوګرځوه | دهغوئ نه | او که ته مخ اوګرځوې | د هغوئ نه

او یا ترې مخ واړوه [د دوی په مینځ کښې د فیصلې کولو نه انکار اوکړه] | او که ته ددوئ نه مخ واړوې

فَلَنْ يَّضُرُّوْكَ شَيْـًٔا ؕ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ

نو هرګز ضرر نه شی رسولې تاته | هیڅ قدرله | او که فیصله کوې ته | نو فیصله اوکړه | په منځ دهغوئ کښې

نودوئ تاته هیڅ نقصان نشی رسولې | او که ددوې په مینځ کښې فیصله کوې | نو بیا په

بِالْقِسْطِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ۝ وَكَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ

په انصاف سره | بیشکه الله | خوښوی | انصاف کونکی | او څرنګې به | هغوئ منصف جوړ کړی تالره

انصاف سره فیصله کوه | بیشکه الله تعالی انصافدار خلق خوښوی | اودوئ به په تاڅنګه فیصله کوی

وَعِنْدَهُمُ التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ ثُمَّ

حال دا چې موجود دې دهغوئ سره | تورات | چې شته په هغې کښې | حکم د الله | بیا

حال دادې چې دوئ سره تورات شته | اوپه هغې کښې دالله ﷻ احکام لیکلې شوی دی | بیا

يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَآ اُولٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِيْنَ ۝

مخ اړوی هغوئ | وروستو دهغې نه | او نه دی | هغوئ | ایمان لرونکی |

دوئ د هغې نه مخ اړوی | خبره داده چې په دوئ کښې بیخی ایمان نشته |

آسان ترجمه قرآن: اې پیغمبره! هغه خلق چه هغوی د کفر په کارونو کښې تیزي کوي، تالره دې هغوی په غم کې مبتلا نه کړي، یعني یو خو هغه خلق دي چه په خوله ئې خو وئیلي دي چه مونږ ایمان راوړې دې خود دوی زړونو ایمان نه دې راوړې، او بل هغه خلق دي چه هغوی (ښکاره) د یهودیت دین اختیار کړې دې دا خلق د دروغو خبرو ته غوږ ایږدي (اوستا خبرې) د هغه خلقو دپاره اورې چه تا څخه نه دي راغلي دوئ (دالله د کتاب) د ځائ متعین کیدلو باوجود هم په هغې کښې تحریف کوي وائی چه که تاسو ته دا حکم درکړې شي نو قبول ئې کړئ او که دا حکم درنکړې شي نو بیا ترې ځان اوساتئ او څوک چه الله ورته وغواړی چه فتنه کښې ی واچوي نو هغه لره د الله نه د بچ کولو د پاره ستا څه زور نه چلیږي دا هغه خلق دي چه (ددوی د نافرمانئ د وجې نه) الله ددوی د زړونو د پاک کولو اراده نه ده کړې دوی لره په دنیا کښې رسوائی ده او دوی لره په آخرت کښې لوئ عذاب دې. دوی غوږ ایږدي دروغو ته او ډېر خوري

Scanned with Ca

حرامو لره نو که دوی ستا خواته راشي نو که ته وغواړې نو د دوی مینځ کښې فیصله وکړه او که خوښه دي شي نو مخ ترې واړوه او که ته دوی نه مخ واړوي نو دوی تا ته هیڅ نقصان نه شي رسولې ، او که فیصله کوې نو د انصاف فیصله کوه ،یقیناً الله د انصاف کوونکو سره مینه کوي او دوی به څنګه په تا فیصله کوي حال دا چه دوی څخه تورات موجود دې په هغې کښې دالله فیصله موجود ده؟ بیا دې نه وروستو دې (فیصلې نه) اوړي په اصل کښې دوی ایمان والا نه دی.

د آیتونو ربط: دسورة مائده د دریمې رکوع څخه د اهل کتابو ذکر راروان وؤ. ددې په مینځ مینځ کښې څه لږ لږ او بعضې مضامین خاص خاص مناسبت سره راغلي وو. اوس بیا مخکښې د اهل کتابو ذکر تردیره پورې شوې دې . په اهل کتابو کښې د یهودیانو او نصرانیانو دوه ډلې وي. په دوئ کښې یوه بله ډله شامله شوې وه چې هغوئ په حقیقت کښې یهودیان وو خو منافقانه طریقې سره مسلمانان شوی وو. مسلمانانو ته به یې وئیل چې مونږ اسلام قبول کړې ې خو کله چې به دخپلو مذهب والو خلقو سره یو ځائې شو نو مسلمانانو پورې به یې خنداګانې کولې. دا مذکوره درې آیتونه ددې دریو واړو ډلو متعلق دی ، او ددوئ د داسې عملونو او حالاتو باره کښې دی چې دهغې څخه دا ښکاره ده چې دا خلق دالله ﷻ د احکامو او هدایاتو په مقابله کښې خپل خواهشات او خپلې رائې وړاندې کوی.اوپه احکاماتو او هدایاتو کښې تاویلونه کوی او هغه د خپل خواهشاتو مطابق کولو کوششونه کوی. دې مذکوره آیتونو کښې دداسې خلقو د آخرت دبد انجام او رسوایي بیان دې . ددې په ضمن کښې د مسلمانانو دپاره څو اصول او هدایات او شرعي احکام بیان شوی دی.

شان نزول: ددې مذکوره آیتونو د نازلیدو سبب دوه واقعات دی . اودا د نبی کریم ﷺ په زمانه کښې د مدینې منورې سره نزدې د یهودو قبیلو کښې واقع شوی وو. یوه واقعه دقتل او قصاص او بله د زنا اود هغې د سزا ده.

څوک چې د تاریخ څخه خبر وی نو دا خبره هغه څخه پټه نه ده چې د اسلام څخه مخکښې په هره خطه ، او هره طبقه کښې دظلم حکومت وو. طاقت لرونکی کمزورو ، بې عزته خلقو عزت والا خلق غلامات جوړ کړې وو. طاقتورو او عزت والو دپاره یو قانون وو او د کمزورو او بې عزته خلقو دپاره بل قانون وو. لکه څنګه چې نن صبا په مهذبه ملکونو کښې د سپین او تور دپاره جدا جدا قانون دې. کله چې محسن انسانیت نبی کریم ﷺ تشریف راوړو نو دا ټول فرقونه یې ختم کړل . د بنی آدم د حقونو او مساوات اعلان یې اوکړو. او انسان ته یې د انسانیت او آدمیت سبق اوښودلو. د نبی کریم ﷺ مدینې منورې ته د راتلو څخه مخکښې په مدینه منوره کښې دوه قبیلې بنی نضیر او بنو قریظه آبادې وې. دې دواړو کښې بنو نضیر په قوت ، شان شوکت او دولت او عزت کښې د بنو قریظه څخه ښه ګڼلې شول.دې خلقو به په بنو قریظه باندې ظلمونه کول او دې خلقو به د مجبورئ څخه دا برداشت کول. تر دې چې پورې چې بنو نضیر په یوه بې عزته معاهده باندې مجبور کړل ، هغه دا چې که د بنو نضیر یو کس راپاسي او د بنو قریظه کس اووژنی نو د بنو قریظه کس ته به د قصاص اخستلو حق نه وی بلکه اویا وسق کهجورې به ورته د دیت په طور ورکولې شي . [وسق یوه پیمانه ده ، او دا زمونږ د وزن اعتبار سره تقریبا پنځه منه او لس سیره دې] اوکه معامله ددې برعکس وی یعنی

که د بنو قریظه یو کس د بنو نضیر یو کس لره قتل کړي نو قانون به دا وي چې دغه قاتل به قتلولې هم شي او د هغه څخه به دیت هم اخستلې شي. او دیت به هم د بنو نضیر د دیت څخه دوچند وي یعنې یو سل څلویښت وسق کهجورې، او صرف دا نه بلکه دې سره دا هم شامل وو چې چرته د بنو نضیر مقتول ښځه وي نو ددې په بدله کښې به یو سړې قتل کولې شي. او که مقتول سړې وي نو دده بدله کښې به د بنو قریظه دوه سړي وژلې کیږي. او که د بنو نضیر یو غلام یې قتل کړو نو ددې بدله کښې به د بنو قریظه آزاد سړې وژلې کیږي. او که د بنونضیر د یو سړي څخه یې لاس پرې کړو نو د بنو قریظه د سړي څخه به دواړه لاسونه پرې کړې کیږي. که یو غوږ یې کټ کړې وي نو دواړه غوږونه به ترې پرې کړې کیږي. دا قانون د اسلام څخه مخکښې ددې دواړو قبیلو مینځ کښې رائج وو. او بنوقریظه د کمزورۍ په وجه ددې قانون منلو باندې مجبور وو.

کله چې نبی کریم ﷺ هجرت اوفرمائیلو او مدینې منورې ته راغلل او مدینه منوره دارالاسلام جوړ شو. دا دواړو قبیلو نه اسلام قبول کړې وو اونه د څه معاهدې په بناء د اسلامي احکامو د منلو پابند وو. خو د اسلام د عدل قانون او عامو آسانو ته یې نظر کولو په دې دوران کښې دا یوه واقعه راپیښه شوه چې د بنوقریظه یو سړي د بنونضیرو یو سړې قتل کړو. نو بنو نضیر د قریظه څخه ددې پورته معاهدې په بناء د بنو قریظه د دوؤ کسانو د وژلو مطالبه کوله. اګر چې بنو قریظه اسلام کښې نه وو داخل شوي، او نه یې د نبی کریم ﷺ سره څه معاهده شوې وه، خو دا خلق یهودیان وو، دوئ کښې ډیر خلق تعلیم یافته وو او د تورات پشنګوئي ورته معلومې وې چې نبی کریم ﷺ نبی آخر الزمان دې او د نبی کریم د تشریف راوړو خوشخبرې تورات ورکړې ده. خو د تعصب او ددنیاوې لالچ په وجه اسلام کښې نه وو داخل شوي. او په دې خبره کښې یې هم نظر وو چې د نبی کریم ﷺ مذهب د مساوات او عدل او انصاف مذهب دې. په دې وجه د بنو نضیر د ظلم څخه د بچ کیدو د پاره دوئ ته یو سهارا ملاؤ شوه، او دوئ د دوچند دیت ورکولو څخه انکار اوکړو، او دا یې وئیل چې زمونږ خاندان یو دې، د یو وطن استوګن یو، او زمونږ د دواړو یو مذهب دې چې یهودیت دې. دا غیر منصفانه معامله چې تر ننه پورې زمونږ او ستاو ترمینځه راروانه وه، دا ستاسو زبردستۍ او زمونږ د کمزورتیې په وجه وه، اوس ددې منلو ته تیار نه یو.

دې جواب سره بنو نضیر ډیر زیات غصه شو، او حالات تر دې پورې راؤسیدل چې جنګ ته تیار شول خو د څو مشرانو په مشورې سره دا خبره اوشوه چې ددې معاملې فیصله دې په نبی کریم ﷺ اوکړې شي او بنو قریظه خو دا غوښتل، ځکه چې هغوئ ته معلوم وو چې نبی کریم ﷺ به دبنو نضیر دا ظلم نور برقرار او نه ساتي. بنو نضیر هم خپلو کښې صلاح مشورې شروع کړې او مجبوره شوي وو، خوسازش یې دا اوکړو چې د مقدمې شروع څخه مخکښې یې څو کسان مخکښې اولیږل، او دا څو کسان اصل د یهودو د مذهب وو خو منافقت سره یې د اسلام اظهار کړې وو او د نبی کریم ﷺ خدمت کښې به حاضریدل. او د دوئ مطلب دا وو چې دا خلق په څه طریقه د نبی کریم ﷺ څخه د مقدمې فیصله او نظریه معلوم کړي. او دې خلقو ته یې دا تاکید اوکړو چې که نبی کریم ﷺ زمونږ د مطالبو موافق فیصله ورکړه نو دا قبوله کړئ او که ددې خلاف څه حکم یې اوکړو نو د منلو وعده ورسره مه کوئ.

Scanned with Ca

د نزول د سبب دا واقعه تفصيل سره بغوي نقل کړې ده او مسند احمد او ابوداؤد کښې عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه ددې خلاصه منقول ده ، [مظهري[١]]
داشان بله واقعه د زنا ده اودهغې تفصيل بغوي رحمه الله داشان نقل کړې دې چې دا واقعه د خيبر په يهوديانو کښې شوې ده. او تورات کښې چې کومه سزا مقرر وه دهغې مطابق دا دواړه به سنګسار کيدل. خو ددې دواړو تعلق يو لوئي خاندان سره وو. يهوديانو دخپل قديم عادت مطابق داغوښتل چې دوئ دپاره دې په سزا کښې نرمي اختيار کړې شي. او هغوئ ته دا معلومه وه چې د اسلامي مذهب کښې ډيرسهولتونه دی ، په دې وجه يې دا اوګنړل چې په اسلام کښې به په دې سزا کښې تخفيف وی . دخيبر خلقو بنو قريظه ته دا پيغام اوليږلو چې ددې معاملې فيصله دې په نبي کريم ﷺ اوکړې شي . او دواړه مجرمان يې هم ورسره اوليږل. او مقصد يې دا وو چې که نبي کريم ﷺ څه وړه شان سزا جاري کړی نو هغه اومنئ ګنی انکار اوکړئ. اول خو نبو قريظه په شك کښې شو چې نبي کريم ﷺ به ددې متعلق څخه فيصله کوی ، او بيا به هغه مونږ منو ، خو د خبرو اترو څخه ورستو دا فيصله اوشوه چې ددوئ څو سرداران دې دا فيصله د نبي کريم ﷺ په خدمت کښې پيش کړی او دا مجرمان دې هم ځان سره بوځی او په نبي کريم ﷺ باندې دې ددې فيصله اوکړې شي .
نو د کعب بن اشرف وغيره يو وفد دوئ سره د نبي کريم ﷺ په خدمت کښې حاضر شو. سوال يې اوکړو چې که يو وادۀ شوې سړې او ښځه زنا اوکړی نو ددوئ سزا به څه وی ؟ نبي کريم ﷺ ورته اوفرمائيل چې آيا تاسو به زما فيصله منئ؟ هغوئ اقرار اوکړو. په دغه وخت کښې جبرائيل عليه السلام د الله جل جلاله فرمان راوړو او حاضر شو ددوئ سزا سنګسار دې . هرکله چې دې خلق دا فيصله واوريدله نو روستو شواو ددې دمنلو څخه يې انکار اوکړو.
جبرائيل عليه السلام نبي کريم ﷺ ته دا مشوره ورکړه چې تاسو دې خلقو ته اووايې چې زما ددې فيصلې منلو يا نه منلو دپاره تاسو ابن صوريا حاکم جوړ کړئ . اود ابن صوريا حالات او صفات يې نبي کريم ﷺ ته اخودل. نبي کريم ﷺ دې وفدته اووئيل چې آيا تاسو هغه کسٌ پيژنئ چې سپين رنګ يې دې اوپه يوه سترګه باندې معذوره دې . فدك کښې اوسيږی ا و خلق ورته ابن صوريا وائی . ټولو اقرار اوکړو. نبي کريم ﷺ تپوس اوکړو تاسو خلق هغه ته په کومه سترګه ګورئ؟ هغوئ اووئيل چې د يهودو عالمانو کښې په مخ دزمکې دهغه څخه لوئې عالم بل نشته دې نبي کريم ﷺ ورته اووئيل چې هغه راولئ.
هغه راغلو ، نبي کريم ﷺ هغه ته قسم ورکړو او تپوس يې ترې اوکړو چې په دې صورت کښې د تورات څه حکم دې ؟ ده اووئيل چې قسم مې په هغه ذات وی چې د چا تاسو ماته ګسم راکړو ، که تاسو ماته قسم نه وې راکړې ، او ماته ددې خبرې خطره نه وی چې غلطې خبرې کولو سره به تورات ما اوسيزی ، نو ما به دا حقيقت هيڅکله نه وو ښکاره کړې .حقيقت دادې چې د اسلام د حکم پشان تورات کښې هم دا حکم دې چې دا دواړه دې سنګسار کړې شي .
نبي کريم ﷺ اوفرمائيل چې په تاسو باندې څه داسې آفت راغلو چې تاسو د تورات د حکم خلاف ورزی کوئ. ابن صوريا اووئيل چې اصل خبره داده چې د زنا شرعی سزا خو زمونږ په مذهب کښې هم دا ده ، خو زمونږ يوشهزاده په دې جرم کښې ګرفتار شو ، مونږ هغه سره نرمی

---

١) تفسير البغوي تحت هذه الآية: ج ٣، ص ٥٧ ومسند أحمد، مسند عبد الله بن عباس رضي الله عنهما رقم الحديث: ٢٢٥٠

اوکړه او هغه مو پرېښودو ، سنګسار مو نه کړو. بیا دا یو جرم د یو معمولي کس څخه اوشو ، او ذمه دارو خلقو اووئیل چې دې سنګسار کړئی نو د مجرم خپلوانو احتجاج اوکړو چې تاسو ده ته شرعي سزا ورکوئی نو اول شهزاده ته یې ورکړئی ، ګنې مونږ به بالکل دې سزا ورکول ته دې پرې نږدو. هرکله چې دا خبره زیاته شوه نو ټول رایو ځائې شول چې ټولو دپاره یوه سپکه او وړه شان سزا تجویز کول پکار دی او د تورات حکم دې پرېښودلې شي. نو په دې وجه مونږ د وهلو او د هغه د مخ تورولو سزا مقرر کړه ، او اوس هم دا رارروانه ده[1].

خلاصه تفسیر

﴿ يَآأَيُّهَا الرَّسُولُ لَا يَحْزُنكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْكُفْرِ ﴾ ائې رسول ﷺ کوم خلق چه په کفر [یعنی دکفر په خبرو] کښې په منډه منډه پریوزی [یعنی بے تکلفه په شوق سره دا خبره کوی] تاسو لره دے هغوی نه غمژن کوی [یعنی تاسو دهغوی دکفریاتو په خبرو هم غم او افسوس کونکی مه کیږئی] ﴿ مِنَ الَّذِينَ قَالُوا آمَنَّا بِأَفْوَاهِهِمْ ﴾ خواه هغوی دهغه خلقو نه وی چه په خپلو خلوخو [دروغ رښتیا] وائی چه مونږ ایمان راوړو ﴿ وَلَمْ تُؤْمِن قُلُوبُهُمْ ﴾ او دهغوی زړونو یقین [یعنی ایمان] راوړے نه دې [مراد ترې منافقان دی چه په یو واقعه کښې دحضور ﷺ په خدمت کښې حاضر شوی وو] ﴿ وَمِنَ الَّذِينَ هَادُوا سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ سَمَّاعُونَ لِقَوْمٍ آخَرِينَ ﴾ اوکه دهغه خلقو نه وی چه یهودیان دی [الکه چه په بله واقعه کښې دغه خلق حاضر شوی وو] دا [دواړه قسمه] خلق [د اوله سره نه ددین په باره کښې دخپلو بدلوونکو عالمانو نه] د غلطو خبرو آوریدو عادت دی [او هم ددغو غلطو خبرو د تائید په لټون کښې دلته راغلل] ستاسو ﷺ خبرې دبل قوم په خاطر په غوږونو اینښو اینښو سره آوری دکوم قوم چه دا حالات وی چه [یوخو] ﴿ لَمْ يَأْتُوكَ ﴾ هغوی ستاسو خواته [دزیات تکبر او دښمنئ له کبله پخپله] رانغلل [بلکه نور خلق ئے خالص په دې غرض در اولیږل چه ددوی نه دبدل شوؤ احکامو په جوړ څه خبره په ګوته ورشی.حق لټول ئے مطلب نه وو.ولې چه د ړومبیے نه] کلام [الهی] ﴿ يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِن بَعْدِ مَوَاضِعِهِ ﴾ پس ددې نه چه هغه [کلام] په خپلې [صحیح] موقعه باندې [قائم] وی [دلفظ یا معنے له مخه یا په دواړو شانه] بدلوی رابدلوی [چنانچه ددغې عادت په جوړ د دیت او رجم حکم یې هم د ځانه په جوړ کړی رسم کښې بدل کړو بیا یې ددې احتمال په بنا چه شاید د شریعت محمدی نه دې رسم ته څه تکیه ملاؤشی.دلته یې خپل جاسوسان راولیږل.دریمه خبره داوه چه یواځې دخپل بدل کړی رسم سره جوړښت لرونکې خبرې په لټون کښې نه ګرځی بلکه/ددې نه علاوه دغه راتلونکو ته] ﴿ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هَذَا فَخُذُوهُ ﴾ وائی چه که تاسو ته [هغه ځائې ته په تلو] دا حکم [بدل کړې شوے] درکړې شی نوهله ئے قبول کړئ [یعنی دهغې په جوړد عمل کولو اقرار اوکړئی] ﴿ وَإِن لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا ﴾ اوکه تاسو ته دا حکم [بدل کړې شوے] درنه کړې شی نو [دهغې په قبلولو کښې] احتیاط کوئی [پس ددغه جاسوسانو په لیږونکی قوم کښې خوخرابئ دا شوے.اول تکبر اودښمنی چه پخپله د نه حاضریدو سبب جوړشو. بل دحق نه لټول.بلکه دحق د بدلولو نه پس دهغې د تائید او مضبوطوالی فکر کول.دریم د حق قبلولو نه نور خلق هم منع کول.تر دې پورې چه دراتلونکو او رالیږونکو بیله بیله خرابی بیانول وو.وړپسے دټولو شریکه

---

[1] تفسیر البغوی تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۵۵،۵۶

بدی بیانول دی﴿وَمَنْ يُّرِدِ اللهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ مِنَ اللهِ شَيْئًا ؕ﴾او [بنیادي خبره داده چه] د چا
خرابیدل او گمراه کیدل الله ﷻ ته منظور وي [اگرچه دا تخلیقي منظوري ددغي گمراه د
گمراهۍ دقصد کولو نه پس وي] نودے دپاره الله ﷻ سره [اتې عام مخاطب] ستا څه زرو نشي
چلیدلے [چه دغه گمراهۍ لره د پیدا کیدو نه ایساره کړي دې خو یو عامه قاعده شوه اوس دا
اوکنړئی چه] ﴿ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ لَمْ يُرِدِ اللهُ اَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوْبَهُمْ ؕ﴾ دا خلق [هم] داسې دی چه الله ﷻ ته ددوی
زړونه [کفریاتو نه] پاکول منظور نشو [ولې چه وی هډو ددې قصد نه کوی څکه ئے الله ﷻ
تخلیقي پاکول نه کوی.بلکه ددوی د گمراهۍ دقصد په وجه تخلیقًا هم ددوی خرابیدل منظور
دی پس د ذکر شوې قاعدې مطابق هیڅوك دوی ته هدایت نشي کولې . مطلب دا چه هر کله
دوی پخپله دخراب پاتې کیدو قصد لری اود قصد نه پس ددغه فعل پیدا کول دالله ﷻ عادت
دې او د الله ﷻ پیدا کول هیڅوك نشي منع کولې.پس ددوی د واپس راتلو امید به څه‌اوکړې
شي. په دې سره د رسول الله ﷺ زیاته تسلی کیدې شی چه کلام ترې شروع شوې وو نود کلام
مضمون دتسلۍ نه شروع شو اوپه دې ختم شو.ورپسے ددغې عملونو نتیجې بیانوی فرمائی
چه] ﴿لَهُمْ فِي الدُّنْيَا خِزْيٌ ۚ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيْمٌ﴾ دے [ټولو] خلقو لره پدنیا کښې رسوائی ده
او په آخرت کښې دوی [ټولو] لره سزا لویه ده [یعنی دوزخ چنانچه د منافقانو دا رسوائی
اوشوه چه مسلمانانو ته ددوی منافقي ښکاره شوه او ټولو ورته د ذلت په نظر کتل. چناچه
دیهودو د وژلو دقیدولو اووطن نه د ایستلو بیان په روایتونو کښې مشهور دې او د آخرت
عذاب ښکاره دې]﴿ سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ ﴾ دا خلق [ددین په باره کښې] دغلطو خبرو آوریدو عادت
دی [څنگه چه مخکښې بیان شو] ﴿ اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ ؕ﴾ غټ حرام خواره٭ دی [هم دغے حرص دوی
لره په احکامو کښې د غلط بیانئی عاد څکه اوگرځول چه دوی په هغې باندې شکرانے اخلی
هرکله چه ددې خلقو دا عادت دے] ﴿ فَاِنْ جَآءُوْكَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ اَوْ اَعْرِضْ عَنْهُمْ ۚ﴾ نودا خلق چه
[خپله څه مقدمه راوړی] تاسوته [فیصلے غوښتلو دپاره] راشي نو [تاسو ته اختیار دې] چه
تاسو دهغوی [دمعاملے] فیصله اوکړئی یا پرې ځان ناغرضه کړئی ﴿وَاِنْ تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَنْ
يَّضُرُّوْكَ شَيْئًا ؕ﴾ اوکه تاسو [دا رائې اختیار کړئ چه] ځان پرې ناغرضه کړئی نو [اندیښنه مه
کوئی چه زړه بدی به شي اودښمنی به درسره لری څکه چه] ددوی وس نشته چه تاسو ته لږ هم
زیان ورسوی [ولې چه الله ﷻ ستاسو حفاظت کوونکې دې] ﴿ وَاِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ ؕ ﴾
اوکه [دفیصلے کولو رائې مو لرله او] فیصله ئے کوئی نوددوی په مینځ کښې دعدل [یعنی د
اسلامی قانون [په جوړ فیصله اوکړئی] ﴿ اِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِيْنَ ﴾ بیشکه الله ﷻ انصاف
کوونکوسره مینه لری [او اوس دغه عدل او انصاف یواځې په اسلامی قانون اودانره دې نو الله
ﷻ ته خوښ کسان به هغه وی چه ددغې قانون مطابق فیصله کوی].﴿ وَكَيْفَ يُحَكِّمُوْنَكَ وَعِنْدَهُمُ
التَّوْرٰىةُ ﴾او [دتعجب خبره ده چه] هغوی به [په دیني معامله کښې] په تاسو [څنگه فیصله کوی]
حالانکه هغوی سره تورات [موجود] دے ﴿ فِيْهَا حُكْمُ اللهِ ﴾ چه په کښې دالله ﷻ حکم [لیکلے
شوے] دے [او هغوی ددې دمنلو دعویدار دی اول خودا لرے خبره ده] ﴿ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ مِنْۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ؕ﴾
بیا [دا تعجب په دې سره زیات شو چه] دے [فیصلے راوړلو] نه پس [چه کله ستاسو فیصله
راوړی نوهغې نه هم] آوړی [یعنی اول خوپه دې حالت کښې په فیصلے راوړلو ئے تعجب کیدو

Scanned with Ca

بیا هم دا احتمال کیدیشو چه ګنی دوی ته ستاسو په حق کیدل واضح شوی وی ځکه به درته راغلی وی خو دا فیصله ئې اونه منله نودغه تعجب بیا سر دوباره شو چه دوی دا فیصله په کوم غرض تاسو راوړلې ده.او په دې سره هر عقل مند ته اندازه اوشوه چه]﴿ وَمَآ أُولَٰٓئِكَ بِالْمُؤْمِنِينَ ﴾ داخلق هیچرې اعتقاد لرونکی نه دی[دلته په عقیدتمندئی سره نه وو راغلی بلکه خپل مطلب دپاره راغلی وو اوهر کله چه دغه نه منل ئې د اعتقاد دنیشوالی دلیل دې نو ترې دا هم معلومه شوه چه څنګه محمد ﷺ سره اعتقاد نه لری دغه شان خپل کتاب سره هم پوره اعتقاد نه لری چه دلته یئ فیصله ولې راوړله.غرض دا چه یو طرف ته هم نه دی.دځه نه یئ چه انکار دې هغې سره ئې په ډاګه اعتقاد نشته او څه سره چه د اعتقاد لرلو دعوی کوی هغه هم په دروغه ده].

معارف اومسائل

ددې دریؤآیتونو اوورپسې دنوروآیتونودنازلیدوداسبابو اوواقعاتویوتفصیلی بیان رومبې راغلې دې،خلاصه ئې داده چه یهودیانوبه دخپل زورعادت مطابق کله دخپلولئ پاللو،په غرض کله دمال اوعهدې په لالچ کښې دخلقودخواهش مطابق فتوې جوړولې،خصوصاد سزاګانوپه معامله کښې خو عام رواج داجوړشوې ؤوچه یولوئې بنده به څه جرم اوکړونوهغه دپاره به ئې دتورات سخته سزاپه نرمه سزاکښې بدلوله څنګه چه الله تعالى فرمائی:﴿يُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ مِن بَعْدِ مَوَاضِعِهِ﴾

هرکله چه رسول الله ﷺ مدینې منورې ته تشریف راؤړواوداسلامی شریعت عجیبه غریبه نظام د دوئ مخې ته راغلوچه آسانئ اورعایتونه پکښې هم ډیروو،دجرمونودبندیز دپاره دسزاګانو معقول انتظام هم پکښې وو،ددې کبله کوموخلقوبه چه دتورات سختې سزاګانې آسانولې دغې خلقوته داموقعه هم په لاس راغله چه په داسې معاملاتوکښې رسول الله ﷺ لره یودریمګړې منصف جوړکړی چه یوبه داسلامی شریعت دنرمواوآسانواحکامونه فائده پورته کړی اودتورات داحکامودبدلولودجرم نه به هم بچ شی،خوشرارت ئې پکښې دا جوړکړوچه اول به ئې دفتوې په ډول درسول الله ﷺ نه معلومات کول که فیصله به د دوئ طبیعت ته پریوتله نوهغوئ ﷺ لره به ئې هله دریمګړې [منصف] جوړولوورنه فیصلې دپاره به هغوئ ﷺ ته بیانه ورتلل،په دغې رویې سره درسول الله ﷺ زړه مبارک ته ډیر خفګان اودرد رسیدو،ځکه دآیت په شروع کښې هغوئ ﷺ ته تسلی ورکړې شوه چه مه خفه کیږئ ددې انجام به ستاسوپه حق کښې دخیروی،

بیائې په دې خبرکړوچه دغه خلق ستاپه دریمګړی [منصف] جوړولو کښې اخلاص نه لری بلکه د دوئ په نیتونوکښې فساددې،بیاورپسې آیت کښې ئې ورته اختیارورکړوچه ستاسوخوښه ده فیصله ئې کوئ اوکه ځان ترې رانغاړئ،اوپه دې ئې هم خبرکړوچه که ځان ترې رانغاړئ نودرته هیڅ نقصان نشی درسولې چنانچه فرمائی:﴿فَاحْكُم بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ﴾ دې نه پس په بل آیت کښې ارشاددې چه ددوئ فیصله کول موکه زړه غواړی نوهغه په عدل اوانصاف سره دخپل شریعت مطابق کوئ،ولې چه درسول الله ﷺ په پیغمبر کیدوسره رومبئ ټول شریعتونه او قوانین منسوخ شویدی،سوادهغې نه چه په قرآن کریم اوپه مصطفوی شریعت

کښې باقي پرېښودل شويدي، چنانچه ورپسې آيتونو کښې قانونِ الهی نه خلاف په يوبل قانون يارسم او رواج سره فيصله کول، ظلم فسق او کفرګرځولې شويدي،

په اسلامي حکومت کښې دغيرمسلمو دمقدمو ضابطه: دې خبرې ته پوره فکر کول پکاردی چه ددغه وخت يهودو به که درسول الله ﷺ عدالت ته فيصله راوړله خوسره ددې نه ئې هم په هغوئ ﷺ اودهغوئ ﷺ په شريعت ايمان نه لرلو، اوذميان هم نه وو، صرف دجنګ نه کولو معاهده ئې درسول الله ﷺ سره کړې وه، په دې وجه هغوئ ﷺ ته دااختياروركړې شو چه که خوښه موشوه نوفيصله ئې مه کوئ او که خوښه موشوه نودخپل شريعت په جوړئې فيصله اوکړئ، ولې چه په اسلامي حکومت باندې داوخت د دوئ هيڅ ذمه داری نشته، که دوئ ذميان وې اوفيصله ئې اسلامي حکومت ته راوړلې وې نوپه مسلمان حاکم باندې به ئې فيصله کول ځکه فرض ووچه ددوئ دحقوقو حفاظت کول اودوئ لره دظلم نه بچ کول داسلامي حکومت دغسې ذمه داری وه ځنګه چه ئې دمسلمانانوپه باره کښې ذمه داری ده چنانچه په راتلونکی آيت کښې ئې داسې اوفرمائيل: ﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ﴾ [يعنى که دغه خلق تاسو ﷺ ته خپله مقدمه راؤړی نودهغې فيصله دخپل شريعت مطابق اوکړئ]،

په دې آيت کښې هغوئ ته داختياروركولو په ځائې ديوې تاکلې فيصلې اوحکم کولو ارشاددې، امام ابوبکرجصاص ﷺ په [احکام القرآن](١) کښې ددې دواړو جوړښت داسې راوستې دې چه په رومبی آيت کښې داختياروركولو مطلب دادې چه دغه خلق زمونږد حکومت استوګن يا ذميان نه دی بلکه په خپلوځايونو پراته دی چه ورسره څه معاهده قدرې شويده، ځنګه چه دبنی نضيراوبنی قريظه حال ووچه اسلامی حکومت سره صرف د دوئ دجنګ نه کولومعاهده شوې وه اود دويم آيت حکم دهغې خلقوپه باره کښې دې چه داسلامي حکومت استوګن دی، اوپه دې کښې دذميانوپه ډول پاتې کيږی،

اوس دې خبرې ته هم پوره خيال کول داسې پکاردی چه په دواړوآيتونو کښې رسول الله ﷺ ته داهدايت ورکړې شويدې چه ددوئ [غيرمسلمو] خلقوفيصله دالله تعالى دنازل کړی حکم [دخپل شريعت] په مطابق کوه، د دوئ دخواهشاتويادد دوئ دمذهب په جوړمه کوه،

ددې وضاحت داسې دې چه داحکم دهغه معاملاتوپه باره کښې دې چه ذکرئې ددې آيتونوپه شانِ نزول کښې مخې ته راغلې دې، يوه معامله دقتل دسزااودخون بهاوه اوبله دزنا او دهغې دسزاوه، په داسې معاملاتويعنی دجرمونوپه سزاګانوکښې دټولې دنيادستوردادې چه دپوره ملک يو قانون وی چه په [جنرل قانون] ياديږی، داسې قانون کښې دډلويامذهبونو په بنيادهيڅ فرق نشی کولې، مثلاً دغل لاس پريکول، يواځې مسلمان دپاره نه بلکه دملک دټولواستوګنودپاره به عام وی، دغه شان دقتل اوزنا، سزاګانې به هم ټولودپاره عامې وی، خوپه دې وجه داضروری کيږی نه چه دغيرمسلمو شخصي اوخالص مذهبی معاملاتوفيصله دې هم داسلامي شريعت مطابق وی،

(١) أحكام القرآن، سورة المائدة، باب الحكم بين اهل الكتاب: ج ٦، ص ٥٣

Scanned with CamScanner

چنانچه پخپله رسول الله ﷺ شرابو او خنزیر لره مسلمانانو د پاره حرام او گرځول او په دې ئې سزا مقرر کړه، مگر غیر مسلمو لره ئې په دې کښې آزاد پرېښول، د غیر مسلمو په نکاح، غم، ښادۍ باندې ئې هیڅ غم غرض نه دې کړې بلکه د دوئ د مذهب صحیح نکاحونه ئې هم قائیم اولرل.

د مقام هجر مجوسیان، د نجران او وادئ قری یهود او نصاری د اسلامی حکومت ذمیان جوړ شول، رسول الله ﷺ ته دا معلومه وه چه مجوسیان خپله مور، خور هم په نکاح اخلی، د دغه شان یهودیان هم نصاری هم بغیر د عدت تیرولو یا بغیره د گواهانو نه هم نکاح معتبر گنړي، خو بیا هم د هغوئ په شخصی معاملاتو کښې دخل ورنکړو او د هغوئ کړی نکاحونه ئې په خپل ځائې قائیم اولرل.

خلاصه دا شوه چه د اسلامی حکومت غیر مسلمو استوگنو لره به په شخصی، ذاتی، او مذهبی معاملاتو کښې بیخی آزاد پرېښودل شی او که په دغه باره کښې د مقدمې د فیصلې کولو ضرورت راپیښ شی نو د هغوئ د مذهب په منصف به فیصله کولې شی کوم لره چه اسلامی حکومت مقرر کړی.

البته که د دغه غیر مسلم خلق دواړه فریقه په خپله خوښه فیصلې د پاره مسلمان حاکم ته خپله مقدمه راوړی نو بیا به مسلمان حاکم د هغې فیصلې، د خپل شریعت مطابق کوی، ولې چه هغه به د دواړو اړخوله طرفه د یو منلی شوی دریمگړی [منصف] شان لری، چنانچه په ﴿وَاَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ راتلونکی آیت کښې د اسلامی شریعت په مطابق د فیصلې ورکولو حکم چه رسول الله ﷺ ته ورکړې شویدې هغه د عام [جنرل] قانون په معامله کښې یا په داسې صورت کښې ورکړې شویدې چه د دغه خلق پخپله د فیصلې د پاره په خپله خوښه رسول الله ﷺ ته راغلی وی، او دواړو فریقو په خپله خوښه هغوئ ﷺ لره دریمگړې [منصف] منلې وی، لهذا ښکاره خبره ده چه د هغوئ ﷺ فیصله هم هغه پکار ده چه هغوئ ﷺ پرایمان لری، او د هغوئ ﷺ د شریعت حکم وی.

په هر حال د دغه آیتونو څخه په وړومبی آیت کښې رسول الله ﷺ ته تسلی ورکړې شوه، وروسته د یهودیانو د سازش نه هغوئ ﷺ په دې شان خبر کړې شو: ﴿يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ﴾ نه تر آخره پورې د دغه بیان دې، په دې کښې ورته ښکاره کړې شو چه تاسو ته راتلونکې وفد د منافقانو دې چه پټ سازبازئې د یهودیانو سره دې او هم د هغوئ رالیږلې شوې راروان دې، بیا د راتلونکی وفد، څو خراب خویونه ئې بیان کړل او مسلمانان ئې د هغې په خرابئ خبردار کړل، د دې په ضمن کښې ئې ورته دا هم اوښودل چه د دوئ د دغه خویونه د کفر دی د هغې نه لرې لرې او سیږئ.

د یهودو یو ناکاره خوئي: وړومبې ناکاره خوئې ئې یو دا اوښودلو ﴿سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ﴾ د دروغو او غلطو خبرو د اوریدو عادت لری، د علم د دعوید ارو، تنگ مارانو یهودیانو د اسې په پټو سترگو تابعداری کوی چه د هغوئ نه د تورات د احکامو په ښکاره خلاف ورزی وینی، او بیا هم هغوئ پسې روان وی او د هغوئ نه غلطې بیان کړې شوې قیصې په مخه آوری.

عوامو لره د علماؤ د تابعدارئ کولو ضابطه: په دې کښې څنگه چه د بدلولو نکو، د الله او رسول الله ﷺ په احکامو کښې د غلطو خیزونو شاملولو نکو د پاره درکې دی، د دغه شان ئې هغه خلق سخت مجرمان گرځولی دی چه د غسې خلقو لره په امامانو جوړولو سره د هغوئ د ځانه جوړ کړی غلطو روایتونو اوریدولو عادت شویدی، په دې کښې مسلمانانو د پاره یو اهم اصولی هدایت دادې چه

اګر که جاهلو عوامو لره په دین باندې د عمل کولو دپاره لاریو اخې هم داده چه د علماؤ په فتوې او تعلیم باندې عمل او کړی، لیکن ددې ذمه داري نه عوام هم نشي خلاصیدې چه د فتوې اغستو او په هغې باندې د عمل کولو نه وړاندې د خپلو مقتداګانو [پیشوایانو علماؤ] باره کښې دومره تحقیق خو او کړي څومره چه یو بیمار، یو ډاکټر یا حکیم ته دور تلو نه وړاندې کوی، ډېر هوښیار خلق او پیژندو نکو نه تحقیق کوی چه دې مرض دپاره کوم یو ډاکټر پوره ماهر دې، کوم یو حکیم ښه دې، هغه سره کومې کومې ډګرئ دی، دهغه نه په علاج کوونکو باندې دهغه په [شفاء خانه] کښې څه تیر یږی؟ که د خپل وس مطابق هر قسم تحقیق کولو نه پس هم څوک مریض، د یو غلط حکیم یا ډاکټر په جال کښې راګیرشی یا هغوئ څه غلطی او کړه نود عاقلانو [عقلمندو] خلقو په نزد هغه د ملامته کولو وړنه وی، لیکن که بې تحقیقه څوک مریض دیونا پوهه ډاکټر په جال کښې راګیرشی او دهغې نه څه بل مصیبت جوړشی هغه به د عقلمندو په نزد پخپله د خپل ځان دوژلو ذمه وار وی.

د عوامو دغه حال په دینی کارونو کښې هم دې، چه د پوره تحقیق نه پس د اهلِ علمو او تجربه کار خلقو نه پس که څوک عالم خپل مقتدا او پیشوا جوړ کړی او دهغه په فتوې باندې عمل او کړی نو هغه به د خلقو په نزد معذوره ګڼړلې شی او د الله تعالی په نزد هم، چنانچه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی: [فَإِنَّ إِثْمَهُ عَلَى مَنْ أَفْتَى] ([1])

یعنی په دغې غلطې فتوې د عمل کولو ګناه به په مفتی وی، خو هله چه دغه عالم او مفتی په قصد دغسې کړی وی، یا د خپل وس مطابق ئې پوره غور فکر پکښې نه وی کړې، یا بالکل د سره عالم نه وی او خلقوته په دهوکه ورکولو سره په دغه منصب مسلط شوی وی.

لیکن که چابې تحقیقه خالص په خپل خیال سره چالره عالم او مقتدا او منلو او دهغه په وینائې عمل او کړو چه په حقیقت کښې هغه ددې اهل نه وی نو ددې وبال به یواځې په دغه مفتی او عالم نه وی بلکه هغه کس به ورسره په دغه جرم کښې یو شان شریک وی چاچه بې تحقیقه د خپل ایمان واګې دغې کس ته حواله کړې، چنانچه هم د داسې خلقو په باره کښې د قرآن کریم دا ارشاد وارد شویدې: ﴿سَمّٰعُونَ لِلْكَذِبِ﴾ [دا خلق د دروغو خبرو اؤریدو عادت دی]، د خپلو پیشوایانو د علم، عمل، امانت او دیانت د تحقیق کولو نه بغیر ورپسې په پټو سترګو روان شویدی، او هغوئ نه د موضوعی او غلطو روایتونو د اؤریدو او منلو عادت شویدی،

قرآن کریم دا حال د یهودیانو بیان کړیدې او مسلمانانو ته ئې اؤرولی دی چه هغوئ دې ترځان ساتی لیکن په نننئ دنیا کښې د مسلمانانو دغتې بربادئ یو سبب دا هم دې چه د دنیا په معاملاتو کښې خو ډیر هوښیار، چست او چالاک دی، چه رنځورشی نو د ښه ډاکټر او حکیم لټون کوی، چه مقدمه ئې پیښه شی نو ښه، نه ښه وکیل یا بیرسټر لټوی، د یو مکان جوړولو دپاره د اوچتو ماهرانو او انجنیرانو په لټون کښې وی، لیکن د دین په معامله کښې داسې سخیان دی چه صرف د چاغتیه ږیره، اوږد قمیص، غټ پټکې [النګوټه] او وینی، څه قدرې الفاظ ئې واؤری نو هغه لره خپل پیشوا، مقتدا، عالم، مفتی او رهبر جوړ کړی، دا تحقیق نه کوی چه ده چرته علم حاصل کړیدې او که نه؟ د ماهرینو علماؤ په خدمت کښې د پاتې کیدو په وجه د علم دین څه ذوق

[1]) سنن ابی داود، کتاب العلم، باب التوقی فی الفتیا: ج ۲، ص ۵۱۵

Scanned with CamScanner

لري او که نه؟ څه علمي خدمات ئې کړيدي او که نه؟ دربنتينو بزرګانو، اودخدائی خلقوپه مجلس کښې دپاتې کيدوپه وجه ئې څه تقوی اوپاکيزګی حاصله کړيده او که نه؟،

ددې په نتيجه کښې مسلمانان خلق کوم چه ددينداره جوړيدلوشوق لری، په ډيرشمير کښې دجاهلوواعظانواود دوکاندارو پيرانوپه جال کښې راګيريدوپه وجه دصحيح لارې نه په بل مخ روان شی، دهغوئ علم دين يواځې هغه قيصې پاتې شی چه نفساني خواهشاتوته پکښې آزادی حاصله شی، هغوئ په دې مست وی چه مونږپه دين باندې چليږواولوئې عبادت کوؤ، مګرحقيقت هغه دې چه قرآن کريم ئې په دې الفاظو کښې بيانوی: ﴿الَّذِيْنَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ يُحْسِنُوْنَ صُنْعًا﴾ [داهغه خلق دی چه دهغوئ کوشش اوعمل، هم په دنيا کښې بربادشويدې اوهغوئ په خپل خيال سره داګنړی چه مونږه ډيربنه عمل کړيدې]،

خلاصه داده چه قرآن کريم دمنافقانويهوديانو حال په ﴿سَمّٰعُوْنَ لِلْكَذِبِ﴾ سره دبيانولوپه ضمن کښې يولوئې اوډيرضروری اصول دااوښودل چه جاهل عوام خوبه خامخا د علماؤ تابعداری کوی ليکن دا وردپاره ضرورپکاردی چه بې تحقيقه دې چالره عالم اوپيشوانه جوړوی او نااقفوخلقونه دې په غلطوخبروآوريدوځان نه عادت کوی،

د يهودو يوبل خراب خوئې: ددغې منافقانوبل خراب خوئې يې دااوښودلو چه: ﴿سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ لَمْ يَاْتُوْكَ﴾ يعنې داخلق خوپه ظاهره داسې ښکاری چه دڅه ديني حکم پوښتلودپاره راغلی وی، ليکن په حقيقت کښې د دوئ مقصددين نه دې اونه ديني حکم معلومول دی، بلکه دوئ دداسې يهودی قوم جاسوسان دی چه دخپل تکبرله وجې تاسوله پخپله نه دی راغلی دهغوئ دخواهش مطابق صرف داغواړی چه دزنادسزاپه باره کښې ستاسورائې اونظرمعلوم مولونه پس ئې هغوئ ته بيان کړی، بيا د منلو اونه منلوفيصله به پخپله کوی، داشان مسلمانانولره په دې خبرداره کول دی چه يوعالم دين نه دفتوې معلومولودپاره ضروری دی چه دمعلوموونکی نيت دالله تعالی اورسول دحکم معلومول اوپه هغې باندې عمل کول وی، صرف دمفتيانودرائې معلومول ئې که په دې غرض وی چه دخپل خواهش مطابق څه حکم اولټوی نودادخواهش دنفس اودشيطان تابعداری ده، دې نه ځان ساتل پکاردی،

دريم ناکاره خصلت دکتاب الله بدلول دی: ددې خلقودريم ناکاره خصلت ئې دابيان کړوچه داخلق دالله تعالی کلام لره دخپل ځائې نه په لرې کولوسره غلطې معنې ئې بيانوی اودالله تعالی احکام بدلوی، په دې کښې داصورت هم داخل دې چه دتورات په الفاظو کښې څه ردوبدل اوکړی، يائې الفاظ په ځائې پريږدی اوپه معنی کښې ئې عبث قسم تاويلونه او بدلونونه راولی، يهوديان ددې دواړو قسمو بدلونونو عادت دی،

په دې سره مسلمانان داسې خبرداره کول دی چه الله تعالی دقرآن کريم دحفاظت ذمه پخپله اغستې ده په دې کښې دلفظی بدلون راوستوجرات، څوک نشی کولې ولې چه دليکلو نسخونه علاوه ئې دلکونوانسانانوپه سينوکښې محفوظ کړې دې که څوک پکښې دزور، زيرغلطی هم اوکړی نوسمدستی هغه نيولې شی، معنوی بدلون خوپه ظاهره پکښې راوستلې شی اوخلقوکړې هم دې مګرددې دحفاظت دپاره الله تعالی داانتظام کړې دې چه په دې امت

کښې به ترقیامته پورې داسې یو جماعت قایم پاتې کیږي چه دقرآن کریم اوسنت نبوی په معنی اومطلب به په صحیح شان پوهیږي اودبدلون راوستونکو خلقورازبه ښکاره کوي،

خلورم ناکاره خصلت رشوت خوړل: په بل آیت کښې یوبل خراب خصلت ئې داسې بیان کړې دې چه ﴿اَكّٰلُوْنَ لِلسُّحْتِ﴾ [داخلق د[سُحت] خوړلو عادت دی]، د[سُحت] لفظي معنی داده چه یوڅیزدبیخه برباد کړیشي چنانچه قرآن کریم فرمائي:،

﴿فَيُسْحِتَكُمْ بِعَذَابٍ﴾ یعنی که تاسو ددې حرکت نه واؤنه ړیدئ نو الله تعالی به په خپل عذاب سره ستاسو بیخ بنیاداوباسی،لیکن دلته په قرآن کریم کښې د[سُحت] معنی رشوت دې، چنانچه حضرت علی کرم الله وجهه، ابراهیم نخعی رحمه الله حسن بصری رحمه الله مجاهد رحمه الله قتاده رحمه الله ضحاک رحمه الله وغیره دتفسیراماما نو، د[سُحت] تفسیرپه رشوت سره کړیدې،

[رشوت] ته [سُحت] ځکه وئیلې شی چه دانه یوا ځې د دوه اړخیزدلین دین کوونکو بیخ بنیاد اوباسی بلکه دټول ملک اوقوم بیخ بنیاداوباسی اوعام امن لره تباه کوی په کوم ملک یا محکمه کښې چه رشوت چلیږی هلته قانون بې اثره پاتې کیږی حالانکه دملک قانون داسې یوڅیزدې چه ورسره دملک اوملت امن په ځائې ساتلې شی دهغې بې اثره کیدوسره دخلقومال وځان اوننګ،عزت محفوظ نشی پاتې کیدې په دې وجه رشوت ته په اسلامی شریعت کښې [سُحت] اووئیلې شوچه ددې سخت حراموالې ښکاره شی، چنانچه ددې دروازې بندولو دپاره، دصحیح حدیث له مخې هغه تحفې اوډالئ هم رشوت اوحرام اوګرځولې شوې چه امیرانو اوحاکمانوته پیش کولې شی [جصاص][1]،

په یوحدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، الله تعالی په رشوت اخستونکی او رشوت ورکوونکې [دواړو] لعنت کړیدې اوپه هغه چاهم چه ددې دواړوترمنځه دلالی کوی [جصاص][2]،

درشوت شرعی تعریف دادې چه دکوم څیزعوض اخستل دشریعت له مخې درست نه وی او هغه واخستې شی،مثلاً دخپلې ذمه داری په کارپوره کولوباندې عوض واخستې شی لکه یو سرکاری ملازم چه دیوکارکولوتنخواه وصولوی اوپه هغې باندې بیابل چانه هم څه اخلی،یاموریلاردخپلې لور د واده کولوذمه داری لری،اوبیاهم هغه ددې په بدل کښې دبل چانه څه عوض واخلی،دغه رشوت شو،یاپه مونځ،روژه اوحج اداکولو،په تلاوت دقرآن باندې عوض اخستل هم ځکه رشوت دې چه داعبادتونه دی اومسلمان ددې اداکولوذمه واردې، یعنې د خپلې دنیوی یادینی ذمه وارئ پوره کولوپه عوض کښې څه اغستل رشوت دې البته دقرآن کریم تعلیم اوامامت ددې نه [په فتوی د متاخرینو رحمهم الله مستثنی دی،

لهذاڅوک چه په رشوت باندې دچاجائزکارترسره کړی یعنی هغه ته پرخپل حق وراورسوی نوهغه به درشوت داخستو ګناهګاروی چه دغه مال [درشوت] به وردپاره سحت اوحرام وی اوکه درشوت په وجه ئې دحق نه خلاف کاراوکړونوداحق تلفی اودالله تعالی دحکم بدلولوبل سخت جرم جوړیږی، الله تعالی دې ترمسلمانان محفوظ لری،آمین.

[1]) أحكام القرآن للجصاص، سورة النساء، باب اكل ولى اليتيم من ماله وباب الرشوة: ج ٢، ص ٥٧، وج: ٦، ص ٢٨
[2]) أحكام القرآن للجصاص، باب الرشوة: ج ٦، ص ٢٨

إِنَّآ أَنزَلْنَا

بیشکه مونږه | نازل کړو

بیشکه مونږ........ |

التَّوْرٰىةَ فِيهَا هُدًى وَّنُورٌ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ

توراة | چې په هغې کښې وه الارښودنه | اورڼرا وه | چې فیصلې به کولې | په هغې سره | پیغمبرانو

تورات نازل کړې دې | اوپه هغې کښې هدایت اورڼرا وه | ټولو پیغمرانو چې

الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ

هغه | چې مسلمانان وو | هغه کسانو ته | چې یهودیان وو | اودغسې ربانیانو | اوعالمانو هم

دالله ﷻ تابع وو ددې کتاب مطابق یهودیانودپاره فیصلې کولې | اودغه شان بزرگانو اوملایانو هم

بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِن كِتَابِ اللَّهِ وَكَانُوا

په سبب دهغې | چې طلب دحفاظت شوي وو دهغوئ نه | دالله د کتاب | اووو هغوئ

خکه چې هغوئ د الله ﷻ دکتاب ذمه وار کړې شوي وو |......... او پخپله په دې

عَلَيْهِ شُهَدَاءَ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا

په هغې باندې | گواهان | نومه ویریږئ | دخلقو نه | اواوویریږئ زمانه | اومه اخلئ

خبره گواهان شوي وو | ....نودخلقو نه مه ویریږئ | او زما نه ویریږئ | ....او زما په

بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ

په آیتونو زما | قیمت | لږ | اوچا چې | اونۀ کړو حکم | په هغه | چې نازل کړې دې الله

آیتونو د دنیا لږ قیمت مۀ اخلئ | اوڅوک چې دالله ﷻ دقانون مطابق فیصله نۀ کوی

فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ۝ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا

نودغه کسان | هم هغوئ دی | کافران | اولیکلي وو مونږ | په هغوئ باندې | په دې تورات کښې

نوهم دغه کسان کافران دی | اومونږ دوئ ته په تورات کښې حکم ورکړې وو

أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنفَ

چې بیشکه نفس | په بدله دنفس کښې | اوسترگه په بدل دسترگې کښې | اوپوزه

چې دخان بدله کښې خان ، دسترگې بدله کښې سترگه ، دپوزې

بِالْأَنفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ

په بدل دپوزې کښې | اوغوږ | په بدل دغوږ کښې | اوغاښ | په بدل دغاښ کښې | اوزخمونه

بدله کښې پوزه ، اود غوږ بدله کښې غوږ اود غاښ بدله کښې غاښ دی | اوباقی ټول زخمونه په برابری

قِصَاصٌ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُ

په قصاص دی | نو څوک چې معافی اوکړی | ددغې [زخم] | نو دغه عفوه | کفاره ده | دپاره دهغه [د گناهونو]

دی | ......نوچاچې بدله اخستل معاف کړل | نوهغه به ورله کفاره اوگرځی

Scanned with Ca

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ۝
اوهغه چا | چې فيصله اونه کړه | په هغه قانون | چې نازل کړې دې | الله | نو دغه کسان چې دي | هغوئ | ظالمان دي
اوڅوک چې دالله ﷻ د حکم مطابق فيصلې نه کوي | ....نو هم دغه کسان ظالمان دي

وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا
اواوليږلو مونږه | روستو دهغوئ نه | عيسى عليه السلام | خوې | د مريم | چې تصديق کونکې وو | دهغه څه
بيا مونږ په دغه پيغمبرانو پسې ورستو عيسى دمريم خوئي راوليږلو | چې هغوى د هغه کتابونو تصديق کونکې

بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ۪ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ هُدًى
چې دهغه دوړاندې موجود وو | دتورات نه | اوورکړو مونږ هغه له | انجيل | چې په هغې کښې الاربنودنه وه [حق ته]
وو | کوم چې د تورات نه وړاندې تير شوى وو | اومونږ هغه ته انجيل ورکړو | چې په هغې کښې هدايت

وَّنُوْرٌ ۙ وَّمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى
اورڼاوه | اوتصديق کونکې وو | دهغه څه | چې په هغه وخت کښې موجود وو | دتورات نه | اوهدايت وو
اورڼا وه | اود تورات تصديق ئې کولو کوم چې دهغه وړاندې وو | ....اودغه انجيل د پرهيزګارانو

وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝ وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ
اونصيحت وو | دپاره دپرهيزګارانو | اوفيصله دکوي | اهل | د انجيل | مطابق دهغه قانون
دپاره هدايت اونصيحت وو | ....اوزمونږ داحکم وو چې دانجيل منونکې دې دهغې مطابق

اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ؕ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ
چې نازل کړې دې الله | په هغه کښې | اوهغه څوک | چې فيصله اونه کړى | په هغه قانون | چې نازل کړې دې الله
فيصله کوى | اوڅوک چې دالله ﷻ دحکم مطابق فيصله نه کوى

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ۝ وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ
نودغه کسان | هم هغوئ دى | فاسقان | او راواليږو مونږ | تاته ائې محمد ﷺ | کتاب | دحق سره
نوهم دغه کسان نافرمان دى | ....اومونږ تاته داکتاب درکړې دې | چې حقې خبرې کوى

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ
چې تصديق کونکې دې | دهغه څه | چې موجود دى په وړاندې د دهٔ | د کتاب نه | اومحافظ دې | په هغه کتاب
اودمخکينى کتاب تصديق کوى | .... او د هغې حفاظت کوى

فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ
نو فيصلې کوه | په منځ ددوئ کښې | مطابق دهغه قانون | چې نازل کړې دې الله | اومهٔ کوه پيروى
نوائې پيغمبره ﷺ ته ددوئ مينځ کښې دالله ﷻ دحکم مطابق فيصله کوه | اوته د هغې حقې لارې مقابله کښې

اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ؕ لِكُلٍّ جَعَلْنَا
دخواهشاتو ددوئ | دهغه څيزونو نه | چې راغلې دې تاته | د حکم د الله نه | مقرر کړې دې مونږه د هر يو د پاره
د دوى دخواهشاتو تابعدارى مهٔ کوه | چې مخ واړوئ دهغې نه چې تاته راغلې ده | مونږ په تاسو

مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ۭ وَلَوْ شَاۗءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً

ستاسو نه | يو شريعت | اويوه لاره دعمل | او كه غوښتلي الله | نو خامخا به ئې جوړ كړي وئ تاسو | امت

كښې د هريوې ډلې دپاره يو خاص شريعت او خاص لار مقرر كړې ده | او كه الله ﷻ ته منظوره وې نو.

وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ

يو | اليكن بيل ئې كړئ | دپاره ددې چې امتحان اخلي ستاسو | په هغه څه كښې | چې دركړي ئې دي تاسو له

تاسو ټول به ئې يوه ډله كړي وئ | خو هغه داغواړي چې پخپلو احكامو سره ستاسو امتحان او كړي

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ۭ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ

نو وړاندې شئ | نيكو ته | الله ته | واپس تلل دي ستاسو | دټولو | نو خبر به كړي تاسو

نو نيكو كارونو كښې وړاندې شئ | آخر تاسو ټول به الله ﷻ ته واپس كيږئ | نو هغه به تاسو ته د هغه خبري

بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ۝ وَاَنِ احْكُمْ

په هغه څه | چې وئ تاسو | په هغې كښې | چې اختلاف به مو كولو | او دا چې | فيصله كوه

خبر دركړي په كومه كښې چه تاسو اختلاف كولو | او ائې [پيغمبره] ددوئ مينځ كښې

بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاۗءَهُمْ

په منځ ددوئ كښې | مطابق دهغه قانون | چې نازل كړې دې الله | او مه كوه پيروى | دخواهشاتو ددوئ

دالله ﷻ د كتاب [قرآن] مطابق فيصله اوكړه | ....اوددوئ د خواهشاتو تابعداري مكوه

وَاحْذَرْهُمْ اَنْ يَّفْتِنُوْكَ عَنْۢ بَعْضِ مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

اويره كوه ددوئ نه | چې په فتنه كښې وانه چوى تالره | دخينى | هغه هدايت نه | چې نازل كړې دې الله

او ددوى نه ويره كوه چې دداسې فيصلې نه دې اونه گرځوى چې الله ﷻ تا ته رااليږلې وى

اِلَيْكَ ۭ فَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ اَنْ

تا ته | نو كه چرې | مخ واړوو دوئ | نو پوهه شه | چې بيشكه | اراده لري الله | چې

كه دوئ دحقې لارې نه مخ واړوى | نو پوهه شه چې الله ﷻ داغواړي چې

يُّصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ ۭ وَاِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ

اورسوى دوئ ته سزا | په سبب دخينو | گناهونو ددوئ | او بيشكه | زيات | دخلقو نه

دوئ ته د بعضې گناهونو سزا [په دنيا كښې هم] وركړى | او رښتيا خبره داده چې په دوئ كښې ډير خلق

لَفٰسِقُوْنَ ۝ اَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُوْنَ ۭ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ

خامخا فاسقان دي | آيا نو فيصلې | دجاهليت | غواړي دوئ | او څوك دې | زيات ښه | دالله نه

فاسقان دي | نو آيا دوئ دجاهلت دوختونو فيصلې غواړي | او حال دادې چې څوك به الله ﷻ يقين ساتى دهغوئ

حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ۝

په فيصلو كولو كښې | دپاره دهغه قوم | چې يقين لري |

په نزد دالله ﷻ نه بهتره فيصله دچانشي كيدى

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن: بې شکه مونږ تورات رالیږلې وو هغې کښې هدایت او رڼرا وه، ټولو انبیاء علیهم السلام چه د الله تابعدار وو د هغې مطابق به ئې د یهودو د معاملاتو فیصلې کولې، او ټول الله والا او علماؤ هم (په دې به ئې عمل کولو) ځکه چه الله دوی د کتاب محافظین جوړ کړي وو او هغوی په دې ګواه وو نو (اې یهودوا) تاسو د خلقونه مه ویریږئ او ځما نه وویریږئ او د لږ غوندې قیمت په عوض کښې دا دنیا مه اخلئ او کوم خلق چه د الله د رالیږلې شوي حکم مطابق فیصله ونکړي نو دا خلق کافر دی. او مونږ په (تورات کښې) دوی د پاره دا حکم لیکلې وو چه د نفس په بدله کښې به نفس وي، د سترګي په بدله کښې سترګه د پوزې په بدله کښې پوزه، د غوږ په بدله کښې غوږ، د غاښ په بدله کښې غاښ، او د زخمونو دې هم (دغه شان) بدله واخستې شي هنه څوك چه دا بدله معاف کړي نو دغه د ګناهونو کفاره به شي او کوم خلق چه دغه حکم مطابق فیصله نه کوي کوم چه الله رالیږلې دې دغه خلق ظالمان دي او مونږ دې (پیغمبرانو) نه وروستو عیسی ابن مریم دهغې نه مخکښې کتاب یعنې د تورات تصدیق کوونکې لیږلې وو او مونږ هغه ته انجیل ورکړې وو چه هغې کښې هدایت او رڼرا وه، او چه د دې نه مخکښې کتاب یعنې د تورات تصدیق کوونکې او د متقیانو د پاره ټول هدایت او نصیحت راغلې وو. او انجیل والو ته پکار دي چه الله په دې کښې څه رالیږلی دي دهغې مطابق فیصله وکړي او کوم خلق چه د الله د نازل شوي حکم مطابق فیصله نه کوي هغه خلق فاسقان دي او (اې محمد صلی الله علیه وسلم) مونږ په تا باندې کتاب نازل کړې دې چه په حق باندې مشتمل دې او چه دده نه کوم کتابونه مخکښې دي د هغې تصدیق کوي او د هغې نګهبان دې نو ددې خلقو په مینځ کښې دهغه حکم مطابق فیصله وکړه چه کوم الله رالیږلې دې او کومه خبره چه تا ته راغلي ده هغه مه پریږده چه د دوی خواهشاتو پسې روان شې تاسو کښې هر یو (امت) د پاره مونږ یو (جدا) شریعت او طریقه مقرر کړی ده او که د الله خوښه وه نو ټول به ئې یو امت جوړ کړې وو لیکن (جدا شریعت ئې ځکه درکړو) دې پاره چه څه ئې تاسو ته درکړي دي په هغې کښې په تاسو امتحان وکړي دې وجې نه نیکو کښې د یو بل نه د مخکښې کیدو کوشش وکړئ — الله تعالی طرفته د ټولو واپس کیدل دي هغه وخت به تاسو خبر کړی په هغه څه چه تاسو به پکښې اختلاف کولو. او (مونږ حکم کوو) چه ته ددوی په مینځ کښې د هغه حکم مطابق فیصله وکړه کوم چه الله رالیږلې دې. او د دوی د خواهشاتو تابعداري مه کوه او ددوی د دې خبرې نه ځان بچ کړه چه دوی تا په فتنه کښې وانه چوي او د یو داسې حکم نه دې وانه ړوي کوم چه الله رالیږلې دې که په دې باندې دوی مخ واړوي نو پوهه شه چه الله تعالی دوی دځنو ګناهونو په وجه باندې مصیبت کښې مبتلا کولو اراده کړې ده او دې خلقو کښې اکثر فاسقان دي آیا دوی د جاهلیت فیصله لټوي؟ حال دا چه کوم خلق چه یقین کوي د هغوی دپاره د الله نه سوا ښه فیصله کوونکې بل څوك دې؟

د ایتونو ربط: دا د سورة مائده اوومه رکوع ده. په دې کښې الله تعالی یهودیان، نصاری او مسلمانان ته د شریعت یو خاص حکم باندې خبرداره کړی دی. او ددې ذکر په سورة مائده کښې په جدا جدا ځایونو کښې راروان دې. او هغه معامله الله تعالی سره د کړې شوې وعدې او عهد ده. او د الله ﷻ په رالیږلی شوی احکامو کښې د بدلون راوستلو دې. او چې دا د یهودو او نصاراؤ دائمی خصلت او عادت وو.

Scanned with Ca

دې رکوع کښې الله ﷻ اول اهل توارت یهود مخاطب کړی دی ، هغوئ ئې د بې لارې کیدو او دهغوئ دبد انجام نه خبر کړی دی . اوددې مینځ مینځ کښې ئې د قصاص ځینې احکامو ذکر کوئ په دې مناسبت اوفرمائیل چې مخکښې آیتونو کښې چې کومه واقعه د یهودیانو ذکر کړې شوې ده هغه هم د قصاص سره متعلق وه ځکه چې بنو نضیر د دیت او قصاص کښې د مساوات قائل نه وو بلکه بنو قریظه ئې د ځان نه په کم دیت اخستلو باندې مجبوره کړی وو. دې آیتونو مبارکو کښې الله ﷻ یهودوته سخته تنبیه ورکړه ځکه چې هغوئ دالله تعالی دجاری شوی قانون خلاف ورزی کوله. او څوك چې داسې کوی هغوئ ته ئې ظالمان او کافران اووئیل .

دې نه پس دریم آیت مبارك کښې انجیل والو ته هم ددې مضمون خطاب کړې شوې دې او ورته فرمائیلې شوی دی چې څوك دالله تعالی د جاری شوی قانون خلاف ورزی کوی نو هغه ته خبردارې ورکولې شی . او څوك چې داسې کوی نو هغوئ مشرکان او نافرمانه دی .

دې نه پس ئې په څلورم ، پنځم او شپږم آیتونو مبارکو کښې ئې رسول کریم ﷺ مخاطب کړې دې او مسلمانانو ته ئې هم ددې مضمون هدایت کړې دې چې دوئ دې داهل کتابو په شان په دې مرض کښې نه اخته کیږی چې د دوئ د عهدو او مال په لالچ کښې د الله ﷻ احکام بدل کړی یا ددې قانون خلاف یې د خپله طرفه یو قانون جوړ کړو .

په دې ضمن کښې یوه بله اصولی مسئله داهم ذکر کړې شوې ده چې اګر چې د عقائدو په اصولو کښې او د الله تعالی په اطاعت کښې ټول انبیاء کرام ﷺ هم په یوه عقیده او په یوه طریقه باندې وو، خو د حکمت د تقاضې مطابق هر پیغمبر ﷺ ته دهغه زمانې په مناسبت سره شریعت ورکړې شوې وو. او په هغې کښې ډیر فروعی او جزوی احکام مختلف دی . او دائې هم اوفرمائیل چې کوم پیغمبر ﷺ ته کوم یو شریعت ورکړې شو دې هغه په هغه زمانه کښې دحکمت د تقاضې مطابق او واجب الاطاعت وو. او هر کله چې دا منسوخ کړې شوې او بل شریعت راوړې شو نو په هغه وخت کښې هم هغه د حکمت د مطابق او واجب الاطاعت شو. په دې کښې د شریعتونو مختلف کیدلو طرفته هم یوه اشاره چې کله شریعتونه بدلیږی او مختلف کیږی نو په دې کښې یو خاص حکمت وې .

خلاصه تفسیر

﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَا ٱلتَّوْرَىٰةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ ﴾ مونږ [په حضرت موسی ﷺ باندې] تورات نازل کړې وو چه په کښې [د صحیحو عقیدو] هدایت وو او [دعملی احکامو هم] وضاحت وو ﴿ يَحْكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسْلَمُوا۟ ﴾ انبیاء [دبنی اسرائیلو] کوم چه [داسې وو چه په لکونو خلق ئې تابعدار وو وریسې روان وو] د الله ﷻ فرمانبردار وو ددغې [تورات] په جوړ به یې یهودو ته حکم ورکولو ﴿ لِلَّذِينَ هَادُوا۟ وَٱلرَّبَّـٰنِيُّونَ وَٱلْأَحْبَارُ ﴾ او [دغه شان دهغوی بعضې] اهل الله اوعالمانو هم [دهغې په جوړ چه همدغه ددې وخت شریعت وو حکم ورکولو] ﴿ بِمَا ٱسْتُحْفِظُوا۟ مِن كِتَـٰبِ ٱللَّهِ ﴾ په وجه ددې چه هغوی [اهل الله او عالمانو] ته په دې کتاب الله [باندې د عمل کولو او نورو لره پرې عمل کولو دپاره د تیارولو] دحفاظت [پابندئی کولو] حکم [دنبیانو ﷺ په ذریعه] ورکړې شوی وو ﴿ وَكَانُوا۟ عَلَيْهِ شُهَدَآءَ ﴾ اوهغوی ددې [یعنی پخپله پرې دعمل کولو او نورو لره پرې دعمل کولو دپاره تیارولو] اقراریان شوی وو [یعنی هر کله چه هغوی ته ددې حکم ورکړې شوې وو اوهغوی قبول

کړي هم وو لهذا همیشه دپاره ددې پابند پاتې شول] ﴿ فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ ﴾ نو [ددې زمانې دیهودو عالمانواو رئیسانو سردارانو هرکله چه همیشه دپاره ستاسوټول مقتدیان دتورات منونکی راغلی دی نو] تاسو هم [دمحمد ﷺ دپیغمبرئ تصدیق په باره کښې چه حکم ئې په تورات کښې دې] دخلقو نه [دا] اندېښنه مه کوئی [چه که مونږ ین تصدیق اوکړو نودعامو خلقو په نظر کښې به زمونږ مرتبه کښې فرق راشي] او[صرف] زمانه ویرېږئی [چه په تصدیق نه کولو باندې سزاکانې] درکومه ﴿ وَلَا تَشْتَرُوا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا ﴾ او زما د احکامو په بدله کښې [د دنیا] سامان لږ [چه تاسو ته دخپلو عوامو نه په لاس درځی] مه اخلئ [ولې چه همدغه دمرتبې اومال محبت په تاسو باندې د تصدیق نه کولو باعث جوړېږی] او [یاد لرئ] ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ څوك چه دالله ﷻ دنازل کړي قانون په جوړحکم نه کوی[بلکه غیر شرعی حکم لره په قصد سره حکم شرعی ضباطوی اودهغې موافق حکم کوی] ﴿ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴾نو داسې خلق بالکل کافر دی [څنګه چه اني یهودو تاسو کوئی چه د محمد ﷺ د پیغمبرئ په عقیده کښې او د رجم وغیره په عملونوکښې دخپله خانه جوړ کړو څیزونو ته حکم الهی وایئ پخپله هم دې سره ګمراه کیږی او نورو لره هم ګمراه کوئی]﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ ﴾او مونږ په دوی [یهودو] باندې دغه [تورات] کښې دا خبره فرض کړې وه چه [که څوك چالره په قصد سره قتل یا زخمی کړی او حقدارئې پرې دعوی اوکړی نو] ﴿ اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْاَنْفَ بِالْاَنْفِ وَالْاُذُنَ بِالْاُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ ﴾ ځان په بدل د ځان کښې ، سترګه په بدل د سترګې کښې او پوزه په بدل د پوزه کښې اوغوږ په بدل د غوږ کښې او غاښ په بدل د غاښ کښې ﴿ وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ ﴾ او [دغه شان دنورو] خاص زخمونو هم بدله ده ﴿ فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ﴾ بیا چه څوك [ددې قصاص بدلې د اخستلو حقدار جوړیدو باوجود هم] دے [قصاص] لره معاف کړی نو دغه [معاف کول] به هغه [معاف کوونکی] لره [دهغه د ګناهونو]کفاره [یعنی دګناهونو دلرې کیدو وجه] جوړه شی[یعنی معاف کول دثواب موجب جوړېږی] او [هرکله چه یهودودغه احکام پرېښی وو په دې وجه ورته بیا درکه آوروی] ﴿ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ څوك چه دالله ﷻ د نازل کړي قانون په مطابق حکم اونکړی [مطلب دا چه پورته بیان شو]﴿ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴾نو داسې خلق بیخی ظلم کوی [یعنی ډیر خراب کار کوی]. ﴿ وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ﴾او مونږ دهغوی [پیغمبرانو ﷺ] نه روستو [دکومو بیان چه په ﴿یحکم بها النبیون﴾ کښې راغلې دې] عیسی بن مریم لره په داسې حالت کښې [پیغمبر جوړلو سره] اولیږلو ﴿ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ ﴾ چې د ځان نه د مخکښې کتاب یعنی تورات تصدیق کونکی هم وو [چې د رسالت دلوازماتو نه یې چې د ټولو کتب الهیه به تصدیق کوی﴿ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ وَّمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴾ او مونږ هغه انجیل ورکړو چې په هغې کښې [د تورات په شان دصحیح عقیدو هم] هدایت کړې شوې وو او [د احکام عملیه هم] وضوح وو او هغه [انجیل] د خپل ځان څخه مخکښې کتاب یعنی تورات تصدیق [هم] کولو[او دا هم د لوازمات کتاب الهی څخه دی] او هغه سراسر هدایت او نصیحت وود الله ﷻ څخه دویریدونکو دپاره اوهغه سراسری هدایت اونصیحت وو الله ﷻ نه ویریدونکو دپاره.﴿وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فِيْهِ ﴾او[دانجیل ورکولو سره موحکم

Scanned with CS

کړې وو چه] د انجیل خاوندانو لره پکار دی چه الله ﷻ په دې کښې څه نازل کړی دی دهغې
موافق دے حکم کوی او [انې ددې زمانے نصرانیانو واورئ چه] ﴿وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾
څوك دالله ﷻ دنازل کړی په جوړ حکم نه کوی [ددې معنی پورته بیان شوې ده] ﴿فَاُولٰٓئِكَ هُمُ
الْفٰسِقُوْنَ﴾ نو داسې خلق بیخی بےحکمی کوونکی دی [او انجیل د محمد ﷺ دپېغمبرئ
خبرورکوی نوتاسو ددې خلاف ولې روان یئ] ﴿وَاَنْزَلْنَآ اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ﴾ او [د تورات او انجیل
نه پس] مونږ دا کتاب [یعنی قران] تاسو ته رالیږلے دې چې پخپله هم په صدق [اوربښتینئ]
سره ستائیلے شوې دے ﴿مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ﴾ اوددې نه رومبے چه کوم [آسمانی]
کتابونه [راغلی] دی [لکه تورات انجیل اوزبور] دهغې هم [داسې] ربښتینولی کوی [چه هغه
هم دالله ﷻ د طرفه نازل کړې شویدی] ﴿وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ﴾ او [هر کله چه دا کتاب کوم چه په قران
کریم سره یادیږی تر قیامته پورې محفوظ دې او ترقیامته پورې به عمل پرې کولې شی
اوپدغے آسمانی کتابونو کښې یئ تصدیق موجود دې لهذا دا کتاب] ددغې کتابونو[د
ربښتینی کیدو دمضمون همیشه دپاره] حفاظت کوونکې دې [ولې چه پدې قران کښې به تل
دپاره دا خبره وی چه دغه کتابونه دالله ﷻ له طرفه نازل کړې شوی دی هر کله چه قران پاك
داسې یو کتاب دے] ﴿فَاحْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ نو ددغې خلقو [اهل کتابو] تر مینځه
معاملاتو کښې [کله چه ستاسو په مخکښې پیش کړې شی] ددې لیږلے شوی کتاب موافق
فیصله کوئی ﴿وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ﴾ اودا کوم ربښتینے کتاب چه تاسو ته راغلې
دې دهغې نه په لرے کیدو د دوی په [خلاف شرع] خواهشاتو [فرمائیشونو] پسے [بیا هم په
آئینده کښې] مه زئی [څنګه چه تر اوسه پورې موترې صفا انکار کړې دې حالانکه دوی هم
تاسو ته ددې خواستونه او منتونه مخکښې کړی دی یعنی ستاسو دا رائې ډیره زیاته درسته
ده په دې همیشه دپاره کلك پاتې کیږئی.اواې اهل کتابو تاسو ددې فیصلے کولو نه ولې
انکاری یئ آیا نوے دین راتلل څه د حیرانتیا خبره ده آخر] ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا﴾ په
تاسوکښې هریو[امت] دپاره] ددې نه مخکښې مونږ خاص شریعت او خاص طریقت تجویز
کړې وو [مثلا دیهودو شریعت او طریقت تورات وو اود نصرانیانو شریعت او طریقت انجیل
وو.بیا که د امت محمدی ﷺ دپاره شریعت او طریقت قران کریم مقرر کړې شو چه ددې حق
کیدل هم په دلیلونو سره ثابت دی نو دے نه انکار کولو وجه څه ده] ﴿وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ اُمَّةً وَّاحِدَةً
﴾ اوکه الله تعالی ته ستاسو[دټولو هم یوطریقه لرل] منظور وے نو [هغه په دی هم قدرت لرلو
چه] تاسو ټولو [یهودو نصرانیانو اواهل اسلام] لره به یئ [هم په یو شریعت ورکولوسره] هم په
یو امت کښې کړی وی [نوے شریعت به نه راتلو چه کوم نه تاسو ډډه کوئی] ﴿وَلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ
اٰتٰىكُمْ﴾ لیکن [په خپل حکمت سره ئے]داسې اونه کړل [بلکه هر یو امت ته یئ جدا جدا طریقه
ورکړه] دپاره ددې چه کوم دین ئے تاسو ته [په هره زمانه کښې نوے نوے] درکړې دې په هغې
کښې ستاسو دټولو [ستاسو د فرمانبرداری ښکاره کولو دپاره] امتحان واخلی [ولې چه اکثر
طغبې خبره داسې وی چه نوے طریقے لره اوپره ګنړلے شی اوددې مخالفت کولو دپاره راپاره
کول کیږی.لیکن د صحیح عقل او انصاف خاوند ته هر کله چه حقیقت ښکاره شی نو خپل
طبیعت لره هغې سره په جوړښت لرلو باندې مجبوره کوی.اودا یو لوئې امتحان دې نو که

Scanned with Ca

دټولو خلقو صرف یو شریعت وے نودهغې په شروع کښې دخلقو امتحان خویه شوې وو لیکن دوی پسے د راتلونکو خلقو امتحان به څکه نشو کیدلې چه هغوی به ورسره د عادت کیدو له وجې مخالفت نه کولو.اوس خودهر یو امت امتحان اوشو. دامتحان یو صورت دا هم وی چه انسان لره د کومو څیزونو نه منع کړې شی چه په هغې عمل کول جاری وی یا بیخی پریښودے شوې وی لهذا دا امتحان هله په کلك ډول اخستلې شی چه شریعتونه ګنړ راغلی وی او منسوخ باندې عمل کولو نه پس په کښې منع رازی.اود شریعت دیو والی په صورت کښې اګر که د ګناهونو نه منع وی لیکن په حقیقت کښې څه شبه نه وی څکه به یئ امتحان هم ددې درجے نه وو.ددې دواړو امتحانونو مجموعه دهر امت مخکښنو او روستو خلقو ټولو دپاره عامه شوه څنګه چه په ړومبی صورت کښې یواځې د ړومبو خلقو امتحان کیدلې شو.هرکله چه په نوی شریعت کښې دا حکمت دې] ﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ﴾ نو [د تعصب په پریښودو سره مفیدو خبرو طرف ته یعنی هغه عقیدو عملونو اواحکاموطرف ته کوم چه په قران پاك کښې دی] رامنده کړئ [یعنی په قران پاك باندې ایمان راوړلو سره په هغې روان شئ یو ورځ] ﴿إِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ﴾ تاسو ټولو لره یواځې دالله ﷻ طرف ته تلل دی بیا به هغه تاسو ټولو ضباطوی [چه په کښې تاسو سره دحق واضح کیدو نه په دنیا کښې خامخا] اختلاف کولو [لهذا دغه بے ځایه اختلاف پریږدئی او هغه حق قبول کړئی چه اوس یواځې په قران پاك کښې دې] او [هر کله چه دے اهل کتابو دومره اوچت ټوپ اووهلو چه تاسو نه خواست دا کوی چه ددوی په خواهش برابره فیصله اوکړئی چرته چه ددې احتمال هم نشې کیدلې .لهذا دوی دحوصلے راکښته کولو اوپه آورولو سره دوی لره تل دپاره د ناامیده کولو په غرض].

﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللّٰهُ﴾ مونږ [بیا بیا] حکم ورکوؤ چه تاسو ددوی [اهل کتابو] تر مینځه معاملاتو کښې [کله چه ستاسو په مخکښې پیش شی] ددې لیږلی کتاب په جوړ فیصله کوئی ﴿وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ﴾ او ددوی په [خلاف شرع] خواهشاتو [او فرمائشونو] پسے [په راتلونکو وختونو کښې هم] مه ځئ [څنګه مو چه تراوسه پورې هم اونه کړل] ﴿وَاحْذَرْهُمْ﴾ اوددوی نه [یعنی ددوی ددې خبرې نه آئنده کښې هم دوړاندې پشان] احتیاط کوئی ﴿أَنْ يَفْتِنُوْكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللّٰهُ إِلَيْكَ﴾ چه [هسې نه] دوی مو دالله ﷻ د رالیږلی شوی [شریعت څه حکم نه هم واو] اونړوی [یعنی اګر که ددې خبرې احتمال نشته لیکن ستاسو د قصده دې داسې وی چه ثواب درته هم ملاویږی] بیا [سره ددې نه چه قران پاك واضح دې او فیصله ئے حقه ده] ﴿فَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ أَنْ يُصِيْبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ﴾ که دا خلق [دقران کریم نه اوددې په جوړستاسودکړې فیصلےنه] سر اورغړوی نودا یقین اوکړئی چه بس هم الله ﷻ ته منظور دی چه ددوی په بعضې جرمونو باندې [هم په دنیا کښې] دوی ته سزا ورکړی [دغه بعضې جرم فیصله نه منل دی اود قران کریم دحقانیت دنه منلو پوره سزا به ورته په آخرت کښې ملاویږی. ولې چه ړومبے جرم د ذمی کیدو خلاف دې او دویم جرم دایمان خلاف دې. دحربیت سزا په دنیا کښې وی او دکفر سزا په آخرت کښې وی چنانچه دیهودو سرکشی او وعده ماتول هرکله چه د حدنه ورتیره شوه نو دوی ته د قتل قید او وطن نه دبهر کولو سزا ورکړې شوه] ﴿وَإِنَّ كَثِيْرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوْنَ﴾ او [ائې محمد ﷺ ددوی ددې حالاتو په آوریدو به ستاسو خفګان ضرور

Scanned with Ca

وی لیکن تاسو زیات غم مه کوئی ولې چه] زیات خلق خو [په دنیا کښې همیشه دپاره] هم بې حکمه [نافرمانه] کیدل [اراروان] دی دا خلق [دهغه قرانی فیصلې نه چه بعینه عدل او انصاف دې په سر ارغړولوسره] ﴿ أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ﴾ آیا بیا د جاهلیت د زمانې فیصله غواړی [چه دنورو آسمانی شریعتونو برعکس ئې دخپله خانه جوړه کړې وه اوبیان یې ددې رکوع نه مخکښې د دوؤ واقعو په ترڅ کښې ﴿يٰأَيُّهَا الرَّسُولُ﴾
په تمهید کښې تیر شوې دې. حالانکه هغه سراسر دعدل او دلیل خلاف ده یعنی سره د علمه دعلم نه سر غړول اودبې علمۍ او جهل طلبگار کیدل څومره لویه عجیبه خبره ده] ﴿ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴾ اوپه فیصله کولوکښې به څوك ښه [فیصله کوونکې] وی د هغه څوك برابر هم نشته [بلکه هیڅوك نشته. دالله ﷻ فیصله پرېښودل اودبلې فیصلې طلبگار کیدل خالص جهل نه دې نو نور څه دی؟. لیکن دا خبره هم یواځې] دیقین [او ایمان] لرونکو په نزد ده [ولې چه په دې پوهیدل هله کیدیشی چه عقلی قوت ئې صحیح وی او دغه کافران ددې نه بې نصیبه دی].

معارف اومسائل

ددې آیتونو څخه په رومبی آیت کښې ارشاددې:

﴿إِنَّا أَنْزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ﴾ [مونږه خپل کتاب تورات اولیږلو چه پکښې حق ارخ ته لاربښودل اوخاص نوروو، په دې کښې اشاره دې خبرې ته ده چه دتورات دشریعت په منسوخ کولوسره دتورات څه نمکړتیانه راځی، بلکه دزمانې بدلیدوسره احکام، هم دضرورت مطابق بدل کړې شو، ګنی تورات هم زمونږ نازل کړې کتاب دې په دې کښې بنی اسرآئیلو دپاره دهدایت اصول هم ذکر کړې شویدی اویوخاص نورهم شته چه په روحانی ډول د دوئ په زړونو باندې اثرغورځوی،

بیائې اوفرمائیل: ﴿يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّونَ الَّذِينَ أَسْلَمُوا لِلَّذِينَ هَادُوا وَالرَّبَّانِيُّونَ وَالْأَحْبَارُ﴾ [تورات مودې دپاره نازل کړې ووچه ترڅوپورې ددې شریعت نه وی منسوخ کړې شوې، ترهغې پورې راتلونکی پیغمبران ﷺ اودهغوئ نائبان خدائی خلق اوعلماء ټول دې ددې تورات مطابق فیصلې کوی]، داقانون دې په دنیا کښې په مخه چلوی په دې کښې ئې دانبیاء ﷺ نائبان په دوؤ قسمو کښې ذکر کړیدی.

① ﴿وَالرَّبَّانِيُّونَ﴾ ② ﴿الْأَحْبَارُ﴾، ربانی لفظ رب طرف ته منسوب دې چه معنی ئې ده [الله والا] احبار د حبر جمع ده چنانچه دیهودوپه محاوره کښې به عالم ته حبروئیلې شو، اګر که داخبره ښکاره ده چه خدائی خلق به هغه ته وائی چه دالله تعالی دضروری حکمونو علم هم لری ورنه بغیردعلم نه عمل کیدې نشی، او د الله تعالی د احکامونه بغیر اطاعت او عمل کول هیڅ یو کس دالله تعالی نه ویریدونکې نشی کیدې دغه شان دالله تعالی په نزد عالم به هم هغه ته وئیلې شی چه په خپل علم باندې عمل هم کوی، که داسې نه وی اوداحکاموالهیئونه دخبریدو باوجودضروری فرضو، واجباتو باندې هم عمل نه کوی، نه دې ارخ ته خیال کوی نو هغه دالله تعالی اودهغه درسول ﷺ په نزد دجاهل نه زیات بدتر وی، ددې نتیجه داشوه چه هر خدائی بنده عالم وی اوهرعالم خدائی بنده وی، مګر دلته په بیل بیل بیانولوسره په دې خبره خبرداری ورکړې شوه چه اګرچې خدائی بنده هغه څوک کیدې شی چه علم لری اوعالم دپاره عمل

ضروري وي، ليکن هرڅوک په هغه نوم يادولې شي د کوم شي رنګ چه پرِ غالب وي، څوک چه په زياته اندازه کښې عبادتونه، عمل او د الله تعالى ذکر کوي او ددين علم په اندازه دضرورت لري هغه ته رباني [خدائي] بنده وئيلي شي، چه په اوسنۍ اصطلاح کښې ورته شيخ، مرشد، پيروغيره وئيلې شي او څوک چه علمي مهارت پيدا کولو نه پس خلقو ته دشرعي احکامو ښودلو، ورازده کولو په خدمت کښې اخته وي، دفرضوواجباتو اوسنت مؤکده نه علاوه په نوروفلي عبادتونو کښې زيات وخت نشي لګولې. هغه ته حبريا عالم وئيلې شي،

خلاصه داده چه په دې شان داهم اوښودلې شو چه شريعت، طريقت، علماؤ او مشائخ اصل کښې يو دي، فرق صرف دطريقه کار او دغالب شغل په بنا باندې کيدې شي، دې نه معلومه شوه چه علماء او صوفيا څه بيل بيل خلق نه دي بلکه د دواړو دژوند مقصد دالله تعالى او دهغه درسول ﷺ اطاعت او فرمانبرداري ده، البته ددې مقصد، حاصلولو دپاره د دوئ طريقه کار مختلف ښکاري،

بيائې اوفرمائيل ﴿بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِن كِتَابِ اللَّهِ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَاءَ﴾ [دا انبياء، اود دوئ دواړ قسم نائبان علماء، او مشائخ دتورات داحکامو جاري کولو څکه پابند وو چه الله تعالى دتورات حفاظت د دوئ په ذمه لګولې وو او دوئ دهغې دحفاظت کولو لوظ او قول کړې وو.

تردې پورې دابيان وو چه تورات دالله تعالى کتاب، نور او هدايت دې چه دانبياؤ ﷺ اودهغوئ رشتينو نائبانو، مشائخو او علمائي کرامو دهغې حفاظت کړې دې، وروسې دموجوده زمانې يهودئې په دې خبر داره کړل چه ستاسو تلل کاره دي اوددې اصلي سبب ئې ورته اوښودلو او ورته ئې اوفرمائيل چه تاسو لره دخپلو تيروشوؤ بزرګانو په نقش قدم باندې تلل داسې پکار وو چه دتورات حفاظت موکولې ليکن تاسو پکښې التِه بدلون راوستو، ولې چه په تورات کښې ډيرو وضاحت اوتفصيل سره دمحمد ﷺ دتشريف راوړو خبرورکړې شوې وو او په هغوئ ﷺ باندې دايمان راوړو هدايت يهودوته شوې وو، دغې خلقو اپوټه، ددغې هدايت خلاف ورزي اوکړه، په رسول الله ﷺ باندې دايمان راوړلو په ځائې ئې دهغوئ ﷺ مخالفت شروع کړو او ورسره ئې د دوئ دمهلکې غلطۍ سبب داسې بيان کړو چه هغه د دوئ محبت وو دمرتبې او مال سره، يعنې سره ددې چه رسول الله ﷺ ئې په حقه رسول ګڼړلو او بيا هم دهغوئ دتابعدارئ کولو نه ځکه ويريدل چه اوس په اسلام قبلولو سره به صرف يو مسلمان بنده جوړشي چه د دوئ دغه مشرئ به ختمه شي بله خبره داوه چه دغه خلقو داپيشه جوړه کړې وه چه غټانو نه درشوت اغستو په بدل کښې ئې دتورات داحکامو په بدلولو سره هغوئ لره آسانئ پيدا کړې وي، نو په دغې کارباندې دخبرداره کولو دپاره ئې دموجوده زمانې يهودو ته اوفرمائيل چه: ﴿فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ وَاخْشَوْنِ وَلَا تَشْتَرُوا بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا﴾ [تاسو دخلقو نه داسې مه ويريږئ چه هغوئ به ستاسو تابعداري کول پريږدي يا به ستاسو مخالف شي او تاسو ددنيا په لږسامان اغستو سره د دوئ دپاره دالله تعالى په احکامو کښې ګډوډي مه راولئ، ولې چه داخوستاسو دپاره ددين دنيا بربادي ده]، اوبله داخبره هم ده چه: ﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ﴾ [څوک چه دالله تعالى نازل کړو احکامو لره واجب نه ګڼړي او په هغې سره فيصلې نه کوي، بلکه دهغې خلاف فيصلې کوي نو هغه کافر او منکردي] چه سزائې هميشه عذاب دجهنم دې،

Scanned with Ca

وروستي دقصاص احکام په دې حواله سره بيان کړې شويدي چه مونږه دا احکام په تورات کښې نازل کړيدي لکه فرمائي: ﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَا أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ بِالسِّنِّ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ﴾ [مونږه يهودو لره په تورات کښې داحکم دقصاص نازل کړې وو چه دځان په بدل کښې ځان دسترګې په بدل کښې سترګه، دپوزې په بدل کښې پوزه، دغوږ په بدل کښې غوږ، دغاښ په بدل کښې غاښ اودخاص زخمونو بدل دې]،

دبنی نضيرو اوبنی قريظو ترمنځه درسول الله ﷺ په خدمت کښې پيش شوې مقدمه داسې وه چه بنی نضيرو، بنی قريظو لره په دې مجبوره کړې ووچه که دبنی نضيرو څوک سړې به بنی قريظو اوو ژلو نو په بدل کښې به ئې دبنی قريظو سړې وژلې شو او دې نه علاوه به ترپوره ديت هم اغستې شو او که دبنی نضيرو يو کس به دبنی قريظو څوک اووژل نو دهغه قصاص به بيخي نه وو صرف ديت به ئې هم هغه ورکولو چه دبنی نضيرو په نيمه به وو،

په دې آيت کښې الله تعالی ددغې غلا پرده يې اوشلوله کړه چه پخپله په تورات کښې هم د قصاص اود ديت دبرابرئ احکام موجود دی، داخلق په قصد سره دې نه سرغړوی اوخالص څه چل جوړولو دپاره خپله مقدمه درسول الله ﷺ په خدمت کښې راوړی،

په آخر د دې آيت کښې ئې اوفرمائيل: ﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ﴾ [څوک چه دالله تعالی په نازل کړو احکامو سره حکم نه کوی هغه کافردی] ولې چه داسې خلق دالله تعالی داحکامو نه منکر او باغيان دی په دريم آيت کښې اول دحضرت موسی ﷺ دپيغمبر کيدو داسې بيان دې چه هغوئ دتورات دتصديق دپاره ليږلې شوی وو، بيا دانجيل بيان په داسې شان شوې دې چه هغه هم دتورات په شان هدايت اونوردې،

په څلورم آيت کښې ئې ارشاد اوفرمائيلو چه دانجيل خاوندانو له پکاردی چه په انجيل کښې دالله تعالی دنازل کړی قانون په جوړدې احکام جاري کوی او څوک چه دالله تعالی دنازل کړی حکمونو په خلاف حکم جاري کوی هغه نافرمانه اوسرکش دی،

قرآن کريم دتورات اوانجيل هم محافظ دې: په پنځم اوشپږم آيت کښې رسول الله ﷺ ته داسې خطاب دې چه مونږه په تاسو ﷺ قرآن نازل کړو چه دې نه د وړاندې کتابونو، تورات او انجيل تصديق هم کوی، اوددې محافظ هم دې، ولې چه هرکله اهل تورات په تورات کښې او اهل انجيل په انجيل کښې بدلون راوستونو يو اځې قرآن دهغې محافظ او څارنوال شو، چه دهغوئ دغه بدلون راوستل ئې ښکاره کړل، حق او حقيقت ئې څرګند کړو اودتورات اوانجيل اصل تعليمات نن هم دقرآن کريم په ذريعه په دنيا کښې باقي دی، ولې چه ددې کتابونو وارثانو او ددې دتابعدارئ دعويدارانو، ددې شکل داسې وران کړې دې چه دحق اوباطل، بيلتون ناممکن شو په آخر د آيت کښې رسول الله ﷺ ته هم هغه حکم ورکړې شو کوم چه اهل تورات او اهل انجيل ته ورکړې شوې ووچه ستاسو ﷺ احکام اوفيصلې دې ټولې، دالله تعالی دنازل کړی احکامو مطابق وی، او کوم خلق چه دخپلو خواهشاتو په جوړ تاسو نه فيصلې غواړی، تاسو ﷺ دهغوئ دچل ول نه خبردار اوسيږئ، ددغې ارشاديوه خاص وجه داوه چه ديهودو يو څو عالمان، درسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضرشو اوعرض ئې اوکړو چه تاسو ﷺ ته دا معلومه ده چه مونږه ديهودو علماء اوپيشوايان يو اوزمونږ دمسلمانيدو په نتيجه کښې به هغوئ ټول هم مسلمانان شي خوزمونږ دمسلمانيدو يو شرط دادې چه يوه داسې مقدمه تاسو ته

راوړونکی یو کومه چه ستاسو قوم سره لرو، که دهغې فیصله موږ مونږ په خوښه اوکړه نو مونږ به تول مسلمانان شو. چنانچه رسول الله ﷺ لره الله تعالى په دې خبردار کړو چه تاسو به د الله تعالى د نازل کړی قانون نه خلاف فیصله په هیڅ صورت کښې نه ورکوئ اګر چه دوئ خپل مسلمانیدل هم په دې موقوف کړی،

دانبیاؤ ؑ په شریعتونوکښې جزوی اختلاف اودهغې حکمت: په دې آیت کښې دویم هدایت ورکولو سره دیو ډیر ضروری اصولی سوال جواب هم ورکړې شویدې، سوال دا وو چه هرکله ټول انبیاء ؑ او هغوئ باندې نازل شوی کتابونه، شریعتونه او صحیفې ټول هرڅه د الله تعالى د اړخه رالیږلې شویدی نو بیا په دغه کتابونو او شریعتونو کښې اختلاف ولې دې؟ او په روستو شریعت سره ړومبنې شریعت ولې منسوخ کړې شویدې؟ د دې جواب سره د خداوندی حکمت نه داسې ورکړې شویدې:

﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا ۚ وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ لَجَعَلَكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَلَٰكِن لِّيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ ۖ فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ ۚ﴾

[تاسو کښې هرطبقې د پاره، مونږه یو خاص شریعت او دعمل یو خاص طریقه جوړه کړیده، دهغې اصول اګرچه شریک او اتفاقی دی مګرپه فروعی احکامو کښې اختلافات په مصلحتونو باندې بناوی، که الله تعالى غوښتلې نو تاسو ټولو لره به ئې یو امت او یو ملت جوړ کړی وو، د ټولو به هم یو کتاب او یو شریعت وو، لیکن الله تعالى ته دا ځکه منظور نه دی چه د خلقو آزمیښت کول ئې داسې مقصود دی چه څوک، دعبادت په حقیقت باندې دواقف کیدو په وجه هروخت د دې په انتظار کښې وی چه په کوم حکم ملاوید سره هغه ترسره کړی، د نوی راتلونکی کتاب یا شریعت تابعداری اوکړی] ړومبې کتاب او شریعت ئې که هرڅومره خوښ وی، د پلار نیکه مذهب ئې هم وی، په دې وجه ورته دهغې پریښول ډیر سخت او ګران وی خو بیا هم دحکم په انتظار کښې وی که د دې د پریښودو حکم راشی نو دهغې په منلو کښې به هیڅ قسم کش، کړپ نه کوی، او الله تعالى دا هم ښکاره کول غواړی چه څوک د دې حقیقت نه خان ناخبره ساتی، یو خاص شریعت یا خاص کتاب لره خپل مقصود جوړوی، او هم دې لره دخپل پلار، نیکه مذهب بولی، ددې پریښودو ته په هیڅ صورت کښې تیار نه وی، اګرچه په دې باره کښې د الله تعالى حکم هم راشی]

دشریعتونو داختلاف یو غټ حکمت دادې چه د دې په ذریعه دهرې زمانې او هرې طبقې خلق دصحیح عبادت او بندګئ دحقیقت نه خبرولې شی چه په حقیقت کښې عبادت دبندګئ، فرمانبردارئ او تابعدارئ نوم دې، دا یو اخې په مونځ، روژې، حج، زکوة یا ذکر او تلاوت باندې ادانړه نه لری، او نه ئې ذات مقصود دې بلکه د دې ټولو مقصد یو اځې دحکم الهی تابعداری کول دی، چنانچه په کومو وختونو کښې چه د مونځ کولو نه منع راغلې ده نو په دغه وختونو کښې مونځ کول دثواب کار نه، بلکه اپوټه دګناه موجب کار دې، په ټول کال کښې داخترونو او دایامِ تشریق د [پنځو] ورځو روژې نیول منع دی، نو په هغې کښې روژه نیول دګناه کار دې، دذی الحجې دمیاشتې دنهمې ورځې نه سوا په نورو ورځو کښې، د عرفات په میدان کښې راجمع کیدل، دعا او عبادت پکښې کول دثواب کار نه بلکه دګناه کار دې، سره د دې چه په مکه مکرمه کښې دحاجیانو د پاره په دغه ورځ دغلته وقوف کول د ټولو نه لوئې عبادت هم دغه دې، دغه شان د ټولو نورو عبادتونو حال هم دادې، ترڅو چه دهغې د کولو حکم جاری وی نو هغه به عبادت وی، او کله چه کوم حد باندې دهغې دبندیز حکم اوشی نو هغه هم حرام او ناروا کیږی، جاهل عوام

په دې حقيقت خبرنه دی د کومو عبادتونو چه عادتونه ګرځيدلی دی بلکه کوم قومي رسوماتو لره چه هغوئ دعبادت په ډول کوی نو په دې شان هغوئ دالله تعالى اودرسول الله ﷺ نيکاره احکام شاته غورځوی، چنانچه په دې شان سره بدعتونه اونوی کارونه ددين برخه جوړولې شی کوم چه دپخوانو کتابونو اوشريعتونو دبدلون سبب جوړشوی دی، الله تعالى په مختلفو پيغمبرانو ﷺ، مختلف کتابونه اوشريعتونه نازلولوسره انساناتو ته ښودلی دی چه څه يوعمل يايوعبادت لره مقصود جوړ نکړی، بلکه په صحيح ډول دې دالله تعالى فرمانبرداره بندګان جوړشی، اوکله چه ورته دوړاندينی عمل دپريښودوحکم اوشی نوسمدستی ئې پريږدی اوده کوم عمل کولوحکم چه ورته اوشی، سمدستی دی په هغې عمل کوی،

دې نه علاوه دشريعتونو داختلاف يولوئې حکمت داهم دې چه ددنيا دهردوراوهرې طبقې د انسانانومزاجونه اوطبيعتونه مختلف وی، دزمانې په بدليدوسره دانسان په طبيعت باندې ډيرلوئې اثرپريووځی، کوم چه دتولو دپاره فروعی احکام هم يوشان اوګرځولې شی نو انسانانو ته ګرانيږی، لهذا دالله تعالى دحکمت داتقاضاشوه چه دهرې زمانې اوهرمزاج دجذباتو په لحاظ ساتلوسره په فروعی احکامو کښې مناسب تبديلی اوکړې شی، دلته دناسخ اومنسوخ دامعنی نه وی چه حکم کوونکی ته حالات معلومه نه وواوحکم ئې ورکړو، هرکله چه ورته نوی حالات معلوم شونوهغه ئې منسوخ کړويارومبې حکم ئې دبې پروايئی اوغلطئ په بناکړې وو، بياچه خبرشوهغه ئې بدل کړو، بلکه په شريعتونو کښې دناسخ اومنسوخ مثال بيخی ديوې ډاکټرئ اوحکيمی نسخې پشان دې هرکله چه يو ډاکټر/حکيم يومريض ته دارو [دواء] ورکوی نواندازه ورته لګی چه دومره ورځو کښې چه دده بيماری بل مخ ته واوړی نودهغې مطابق به ورته فلانئ نسخه په بدل کښې ورکولې شی، په دې بنا ډاکټر/حکيم رومبئ نسخې ته غلط وئيل صحيح نه دی بلکه حقيقت داوی چه هغه وخت دپاره هغه نسخه صحيح اوضروری وی اوراتلونکوحالاتو کښې يوې پسې بله نسخه صحيح اوضروری شوه،

په تيروشوو آيتونو کښې دراغلی هغه احکاموخلاصه کوم چه نکاره وواوکوم چه ددې په ترڅ کښې وو؟ په دغې تيروشوورومبوآيتونو کښې داخبره بيان شوه چه کومه مقدمه درسول الله ﷺ په وړاندې پيش شوې وه دهغې په باره کښې درسول الله ﷺ کړې فيصله دتورات مطابق وه، ددې نه ثابته شوه چه درومبوشريعتونواحکام به ترهغه پورې په راتلونکو شريعتونو کښې هم جاری اونافذپاتې وی ترڅوچه منسوخ شوی نه وی، څنګه چه ديهودوپه دغه مقدمو کښې دقصاص دمساوات اودزناپه سزاکښې دسنګسارئ حکم تورات کښې هم ووبياقرآن کريم هم دغې لره بعينه [هوبهو] باقی اولرل،

دغه شان په بل آيت کښې دزخمونودقصاص حکم چه دتورات په حواله بيان کړې شوې دې، په اسلام کښې، همدغه حکم رسول الله ﷺ جاری کړو، په دې بنا، دجمهورو اسلامی علماؤ ﷺ په نزد ضابطه داده چه درومبوشريعتونو هغه احکام چه قرآن کريم هغې لره نه وی منسوخ کړی، هغه به زمونږپه شريعت کښې هم نافذوی اوپه هغې عمل کول به واجب وی، همدغه وجه ده چه په بيان شوو آيتونو کښې، اهل تورات ته دتورات مطابق اواهل انجيل ته دانجيل مطابق دحکم ورکولو اوعمل کولوحکم ورکړې شويدې، حالانکه دغه دواړه کتابونه اوددې شريعتونه درسول الله ﷺ په پيغمبر کيدوسره منسوخ شوېدی، مطلب ئې داشوچه دتورات اوانجيل

Scanned with Ca

کوموا احکامولره چه قرآن کریم نه دی منسوخ کړی دهغې تابعداری کول اوس هم واجب دی،
ددې آیتونونه دریم حکم داثابت شوچه دالله تعالی دنازل کړی احکامو په خلاف حکم
کول په ځنې صورتونو کښې کفردې هرکله چه اعتقادئې ددې دحقوالی نه وی، اوپه ځنې
صورتونو کښې ظلم اوفسق دې، داهله چه عقیده خونې ددې دحقوالی وی خوعمل کول ئې ددې
په خلاف وی، په دې آیتونو کښې څلورم حکم داراغلې دې چه رشوت اغستل مطلقا حرام دی
اوخصوصا په عدالتی فیصله باندې رشوت اغستل ددې نه هم زیات سخت دی،
دې آیتونونه پنځم حکم داڅرګندشوچه ټول انبیاء اود دوئ شریعتونه په بنیادی ډول بیخی
یوشان دی، البته ددې جزوی اوفرعی احکام مختلف دی چه په لویو حکمتونوباندې اړه لری.

يا ايها الذين امنوا لا تتخذوا
|ائي هغه کسانو| چې ایمان موراوړی دې| مه نیسئ
| ....ائي ایماندارو ! تاسودهغه کسانو سره

اليهود والنصرى اولياء بعضهم اولياء بعض ومن
یهودیان| اوعیسایان |دوستان خان له|ځینی ددوئ| دوستان دی| دځینو | اوچا چې
دوستی مه کوئ چې یهودیان او نصاری دی | دوئ دیو بل دوستان دی| اوکه په تاسو کښې څوک

يتولهم منكم فانه منهم ان الله
دوستی اوکړه| ددوئ سره ستاسو نه| نو بیشکه چې هغه|هم دهغوئ نه دې | بیشکه چې الله
دوئ سره دوستی ساتی | نودهغوئ ډله کښې به شمیرلې شی | ....الله

لا يهدي القوم الظلمين فترى الذين في قلوبهم
هدایت نه کوی | قوم ظالم ته |پس وینې ته| هغه کسان |چې په زړونو دهغوئ کښې
ظالمان خلق دهدایت نه محروم ساتی| خکه خو ته وینې ګورې چې دچاپه زړونو کښې

مرض يسارعون فيهم يقولون نخشى ان تصيبنا
مرض دې| چې هغوی منډې وهی|د هغوی طرف ته| وائی | چې مونږه ویریږو| چې اوبه رسیږی مونږ ته
|دنفاق|مرض ګې | هغوئ په منډه منډه دغې خلقو کښې ورننوځی| او وائی چې مونږ ویریږو چې دمصیبت په

دائرة فعسى الله ان ياتي بالفتح او امر من عنده فيصبحوا
یوه حادثه|نونزدې ده چې الله به| راولی | فتحه | یا بل حکم | دطرف خپل نه|نو شی به هغوئ
چکر راګیرنه شو| زرده چې الله به تاسوته فتح درکړی | یابه د خپل طرفه بل څه حکم اوکړی | نو دوی

على ما اسروا في انفسهم ندمين ويقول
په هغه منافقت باندې| چې پټ ساتلې دې هغوئ| په زړونوخپلو کښې| شرمنده | اووائی به
چې خپلوزړونو کښې کوم نفاق پټولو په هغې به پښیمانه شی | ....او هغه کسان به وائی کوم

Scanned with Ca

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ

هغه کسان | چې ایمان ئې راوړې وی | آیا دا | هغه کسان دی | چې قسمونه خوړل دوی | په الله باندې

چې مسلمانان دی | چې بښه دا هغه کسان دی | چې د الله ﷻ په نوم به ئې غټ غټ قسمونه خوړل

جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ اِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ

سخت | قسمونه خپل | چې بیشکه دوی | خامخا ستاسو سره دی | عبث شو | عملونه د دوی

.... چې موږ [یعنی دوی] تاسو سره ملګری یو | د دوی ټول کوششونه ضائع شو

فَاَصْبَحُوْا خٰسِرِيْنَ ۝ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَنْ يَّرْتَدَّ

نو شول دوی | نقصانیان | ائې هغه کسانو | چې ایمان مو راوړې دی | هغه څوک | چې واوړیدو

او دوی نامراده پاتې شو | .... ائې د ایمان خاوندانو که په تاسو کښې څوک د خپل

مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ فَسَوْفَ يَاْتِى اللّٰهُ بِقَوْمٍ يُّحِبُّهُمْ

ستاسو نه | د دین خپل نه | نو زر به | راولی الله | داسې قوم | چې محبت به کوی [الله] د هغوی سره

دین نه واوړی | نو الله ﷻ به نور داسې ډیر خلق راپیدا کړی | چې هغوی به د الله ﷻ خوښ وی

وَيُحِبُّوْنَهٗٓ اَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ اَعِزَّةٍ

او محبت به کوی هغوی د الله سره | نرم به وی | په مؤمنانو باندې | سخت به وی

او الله ﷻ به د هغوی خوښ وی | د مسلمانانو د پاره به نرم وی | او د کافرانو د پاره به سخت وی

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ يُجَاهِدُوْنَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ

په کافرانو باندې | کوشش به کوی | په لاره د الله کښې | او نه به ویریږی | د ملامتیا

.... او د الله ﷻ په لار کښې به جهاد کوی | او د ملامتګر د ملامتیا نه به نه ویریږی

لَآئِمٍ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ وَاللّٰهُ

د ملامت کونکی نه | دا | فضل د الله دې | چې ورکوی دا | هغه چاله | چې رضا ئې شی | او الله

.... دا د الله ﷻ فضل دې | چې چاته ئې خوښه شی ورکوی ئې | .... او بیشکه الله ﷻ

وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ۝ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ

فراخه دې | پوهه دې په هرڅه | بیشکه | دوست ستاسو الله دې | او رسول د هغه دې | او هغه کسان

ډیر د وسعت مالک دې او په هرڅه پوهه دې | په حقیقت کښې خو ستاسو ملګری الله او د هغه رسول

اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ

چې ایمان ئې راوړې دې | هغه | چې قائموی | مونځ | او ورکوی | زکاة | او هغوی

او هغه مومنان دی | چې په پابندئ سره مونځونه کوی | .... او زکاة ورکوی | او هم دوی

رٰكِعُوْنَ ۝ وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ

رکوع کونکی دی | او څوک چې دوستی کوی | د الله سره | او د رسول د هغه سره | او د هغه کسانو سره

الله ﷻ ته سر ټیټوی | .... او څوک چې د الله ﷻ سره او د هغه رسول سره او

Scanned with Ca

أَمَنُوْا فَإِنَّ حِزْبَ اللهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿٥٦﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ

چې ايمان ئې راوړوا | نو بيشكه | ډله دالله | هم هغوئ غالب دی | ائي هغه كسانو

مؤمنانو سره دوستي كوي | نو دالله ﷻ ډله به هميشه غالبه وي ، |............. ائي مسلمانانو!

أَمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا

چې ايمان مو راوړي دي | مه نيسئ | هغه كسان | چې نيولي دي هغوئ | دين ستاسو په توقو

هغې خلقو سره دوستي مه كوئ | .... چې ستاسو دين پسې توقې ....

وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ

اولوبو سره | دهغه كسانونه | چې وركړې شوې دي ورته | كتاب | مخكښې ستاسو نه

اومسخري كوی | كوم چې ستاسو نه مخكښې اهل كتاب دی | نودوی سره هم دوستي مكوئ!

وَالْكُفَّارَ أَوْلِيَآءَ ۚ وَاتَّقُوا اللهَ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا

او كافران | دوستان | او اوويريږئ | دالله نه | كه چرې يئ تاسو | مؤمنان | اوهركله چې

اوكه كافران دی | اودالله ﷻ نه ويره كوئ | كه تاسو په سچه مسلمانان يئ | .... اوچې

نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا ۭ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ

رابلئ تاسو | مانځه ته | نو نيسي دوی اذان لره | په توقو | اولوبو سره | دالوبې توقې | په سبب ددې چې دوئ

تاسو دمونځ دپاره اذان كوئ | نو دوی په هغې پسې توقې اومسخرې كوی | داځكه چه دوئ

قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿٥٨﴾

داسې قوم دي | چې نه لري عقل

دعقل نه كار نه اخلي

آسان ترجمه قرآن: اې دايمان خاوندانو! يهودو او عيسايانو لره مددګار مه جوړوئ دوی خپله ديو بل مددګار دي او تاسونه چه څوك هم ددوی سره دوستي كوي نو هغه به د هغوی نه وي— يقيناً الله ظالمانو ته هدايت نه كوي نو د كومو خلقو په زړونو كښې چه (د نفاق) مرض دي ته به دوی لره وينې چه دوی په هغوی كښې ننوځي او وائي چه مونږ ويريږو چه وبه رسيږي مونږ ته مصيبت "(ليكن) څه لرې نه ده چه الله (مسلمانانو ته) فتح وركړي يا د خپل طرف نه څه بله خبره ښكاره كړي هغه وخت به دا خلق په هغه خبره پښيمانه وي كومه چه دوی په زړونو كښې پټه كړې وه او (هغه وخت) به ايمان والا (يو بل ته) وائي چه آيا دا هغه خلق دي چه دوی ډير په زور اوشور سره په الله قسمونه خوړلي وو چه دوئ تاسو سره دی. ددوی اعمال تباه شو او دوی نامراده شو. اې دايمان خاوندانو! كه تاسو كښې څوك د ايمان نه واوړي نو الله به داسې خلق پيدا كړي چه هغوی سره به الله محبت كوي اوهغوی به د الله سره محبت كوي چه د مؤمنانو د پاره به نرم وي او د كافرو د پاره به سخت وي، د الله په لاره كښې به جهاد كوي او دچا ملامتيا كونكي د ملامتيا نه به نه ويريږي دا د الله فضل دي چه چا ته ئې وغواړی نو وركوي ئې ، اوالله ډيرې فراخۍ والا دي، علم والا دي (اې مسلمانانو!) ستاسو امداد كونكې خو الله دي او د هغه رسول دي او هغه مؤمنان دي چه هغوی مونځ كوي او زكوة وركوي چه هغوی (د زړه نه) الله ته سر ښكته كوي اوڅوك

Scanned with Ca

چه الله او د هغه رسول او مؤمنانو لره دوست جوړ کړي نو (هغه دالله ډله کښې شامل شو) او هم دالله ډله په غالبیږي اې د ایمان خاوندانو اکوموخلقو ته چه ستاسو نه مخکښې کتاب ورکړې شوې وو دهغوی نه هغه خلق چه ستاسو دین لره ټې په لوبو او ټوقو بانددې نیولې دې او کافرانو لره په دوستۍ مه نیسئ ، او که تاسو واقعي مؤمنان یئ نو دالله نه ویره ساتئ . او کله چه تاسو (خلق) راهواړئ دپاره د مونځ نو دوی دې بلنې لره په ټوقو او په لوبو نیسي، دا ټول (حرکتونه) دې وجې نه دي چه دوی کښې عقل نشته.

خلاصه تفسير

دې مذکوره آیتونو کښې درې اصولی مضامین بیان شوی دی . او دا د مسلمانانو د اجتماعی او ملی وحدت بنیادی اصول دی .

اول دا چې غیر مسلمو سره رواداری ، همدردی ، خیر خواهی ، عدل و انصاف او احسان هر څه کولې شی. او داسې څکه کول پکار دی چې هغوئ ته د دې تعلیم ورکړې شوې دې . او دداسې دوستانې اجازت په کښې کښې نشته دې چې هغې سره د اسلام امتیازی نخښې خرابې او ګډې وډې شی. او دا هغه مسئله ده چې دترک موالات په نوم سره معروفه ده .

دویم مضمون دادې چې چرته یو ځائې کښې مسلمانان دا بنیادی اصول پریږدی او غیر مسلمو سره خلط ملط اوکړی نو دوئ دې دا نه ګنړې چې ګنی دې سره به اسلام ته څه زیان او نقصان اورسی. څکه چې داسلام د بقاء او حفاظت ذمه واری الله ﷻ اخستې ده. دا څوک نشی ورانولې . که یو قوم په غصه کښې راشی او شرعی حدودو نه تجاوز اوکړی ، مثلا اسلام پریږدی نو الله ﷻ به بل یو قوم راولی چې هغوئ به د اسلام اصول او قوانین قائم اوساتی .

دریم مضمون دادې چې کله یو طرفته منفی اړخ معلوم شو نو د مسلمانانو ژوره دوستی خو د الله ﷻ سره او دهغه د رسول ﷺ سره او دوئ باندې د ایمان راوړونکو یعنی مؤمنانو سره کیدې شی .دا یوه اجمالی خبره ده چې په دې پورته پنځو آیتونو مبارکو کښې بیان شوې ده ، اوس ددې آیتونو مبارکو مختصر شان تفسیر اوګورئ:

خلاصه تفسير

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ﴾ اې دایمان خاوندانو تاسو [دمنافقانو پشان] یهودو اونصرانیانو لره [خپل] دوستان مه جوړوی هغوی [هم پخپله] دیو بل دوستان دی [یعنی یهودیان خپل مینځ کښې او عیسایان خپل مینځ کښې دیو بل دوستان څکه دی چه دا د یو باغ مولئ دی نوستاسو ورسره څه مناسبت کیدیشی؟] ﴿ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ﴾ او [ددې جملې نه معلومه شوه چه دوستی دمناسبت په بنیاد کیدیشی نو] څوک چه په تاسو کښې وی دوی سره دوستی کوی بیشکه هغه به [دیو خاص مناسبت په لحاظ] هم ددوی نه وی [او اګر چه دا خبره ښکاره ده لیکن ﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ یقینًا الله ﷻ [ددې خبرې] پوهه دسره نه ورکوی هغه چاته چه [کافرو سره په دوستئ جاری لرلو سره] خپل نقصان کوی [یعنی په دوستئ کښې د ورپوښتیدو په وجه داخبره دهغوی په پوهه کښې بیخی نه رازی اوهر کله چه دغسې خلق په دې خبره نه پوهیږی] .

﴿ فَتَرَى ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ يُسَٰرِعُونَ فِيهِمْ ﴾ څکه [اې لیدونکیه] ته به داسې خلقو لره چه په زړونو کښې یې [دمنافقت] مرض دے وینې چه په منډه منډه دغه [کافرو] کښې ورننوځی [که

څوك ئې ملامته كړي نو دخپل چل ول په خبرو كښې ورته داسې] ﴿ يَقُولُونَ نَخْشَىٰ أَن تُصِيبَنَا دَآئِرَةٌ ﴾ وائي چه [زمونږ دوی سره يو ځائې كيدل د زړه نه نه وي بلكه د زړه نه خو تاسو سره يو صرف د څه ښيګړې په خيال دوی سره ګډون كوو هغه ښيګړه دا ده چه] زمونږ انديښنه ده چه [كيديشي د زمانې په بدليدو سره] مونږ ته څه مصيبت راپيښ شي [لكه قحطي نيستي او خواري غريبي شو ه اوددې د پنګې خاوندانو يهوديانو نه بيا قرض اخستې شو كه دا لباسي لين دين هم ورسره نه كوو نودغسې پيښو كښې به هيڅ اسره نه لرو چناچه د ﴿نخشى ان تصيبنا دائرة﴾ مطلب به يې دا ښكاره كولو ليكن په زړه كښې يې دا غلا وه چه هسې نه كافر په مسلمانانو باندې غالب شي] اوبيا زمونږ د يهوديانو ته احتياج راشي ځكه ورسره د اوسه نه دوستي كوو﴿ فَعَسَى اللَّهُ أَن يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِّنْ عِندِهِ ﴾[نو نزدې اميد] دې [وعده ده] چه الله به [مسلمانانو ته مكمله] فتح وركړي [دهغه كافرو په مقابله كښې چه دوی ورسره دوستي كوي اود مسلمانانو كوشش به په كښې هم دخل لري] يا څه بله خبره خاص دخپل طرف نه [ښكاره كړي يعنى ددوی تاكلې منافقت ښكاره كړي چه د مسلمانانو د تدبير په كښې هيڅ د خل نه وي.مطلب دا چه د مسلمانانو فتح او ددوی راز ښكاره كول دواړه قريب قريب كيدونكي دي] ﴿ فَيُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا أَسَرُّوا فِي أَنفُسِهِمْ نَادِمِينَ ﴾ بيا به [دغه وخت] په خپلو [مخكښنو] پټو د زړه په خيالاتو باندې پښيمانه وي [چه مونږ ګنړل چه كافر به غالب كيږي اودا څه خلاف كار اوشو.نوپښيمانتيا خوئې په خپل خيال باندې وه چه طبعي خبره ده بله دا چه پښيماني په خپله هم منافقت وه د كوم له كبله چه نن شرمنده شو په ﴿ما اسروا﴾ كښې دا دواړه داخل دي.اودريمه پښيماني ئې دا شوه چه كافرو سره ئې دوستي بيكاره لاړه او مسلمانانو سره يې هم ورانه كړه.هركله چه دوستي ئې په ﴿ما اسروا﴾ باندې ولاړه وه لهذا ددې دواړو پښيمانو يادولو سره دريمه يې د ښكاره يا دولو نه پخپله معلومه شوه] او [هركله چه په زمانه د فتح كښې به ددغه خلقو منافقت هم سركندشي نوخپل مينځ كښې به] ﴿وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا أَهَٰؤُلَاءِ الَّذِينَ أَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ لَمَعَكُمْ ۚ﴾ مسلمانان خلق [په تعجب سره]وائي آيا دا هغه كسان دي چه په ډيرې مبالغې سره به يې [زمونږ په مخكښې قسمونه خوړل چه] مونږ[د زړه نه] تاسو سره يو[داخو نورڅه ثابت شو الله ﷻ فرمائي چه]﴿ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ ﴾ ددې خلقو ټولې كاروائې [چه دواړو فريقو سره ئې په خير خيريت اوسيدل غوښتل هغه ټول] عبث لاړل چه دهغې په وجه [دواړه طرفو ته] ﴿فَأَصْبَحُوا خَاسِرِينَ﴾ نامراده پاتې شول [ولې چه كافرو خوماتې اوخوړه چه ورسره ملګرتيا كول خالص بې فائدې شو اومسلمانانو ته يې راز معلوم شو اوس ئې هغوی سرهم جوړه راتلل ګران شو مثال ئې داشو چه ددې خوا نه اوشړلی شو د هغې خوا نه مانده پاتې شوه].

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَن يَرْتَدَّ مِنكُمْ عَن دِينِهِ﴾ائې د ايمان خاوندانو [يعنى كوم خلق چه ددې آيت دنازليدو په وخت كښې مومنان دي] څوك چه په تاسو كښې دخپل [دې] دين نه واوړي نو [داسلام هيڅ نقصان ځكه نشته چه داسلامي خدمتونو تر سره كولو دپاره] ﴿ فَسَوْفَ يَأْتِي اللَّهُ بِقَوْمٍ يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴾ الله ﷻ به ډير زر [ددوی په ځائې] داسې قوم پيدا كړي چاسره به چه دالله ﷻ محبت وي اودهغوی به الله ﷻ سره محبت وي مهربانه به وي هغوی په مسلمانانو باندې تيزبه وي په كافرو باندې [چه هغوی سره به] ﴿يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَلَا

﴿يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَائِمٍ﴾ جهاد کوی دالله ﷻ په لار کښې او [ددين او جهاد په معامله کښې به] دغه خلق د چا ملامتيا کوونکی د ملامتيا انديښنه نه کوی [څنګه چه دمنافقانو حال دې چې يے زړه يے زړه به جهاد ته تلل ولې چه انديښنه به ورسره وه چه کافر به يئ ملامتيا کوی چا سره چه زړه کښې دوستی وه يا به ورسره داسې حادثه راپيښه شی چه چاسره ئے جهاد کول رازی هغه به يئ دوستان عزيزان وی نو ټول به يئ په ليدو يا آوريدو ملامته کوی چه ددغې خلقو د وژلو دپاره تلی وو] دا [تيرشوی صفتونه] ﴿ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ﴾ دالله ﷻ فضل دے چا ته چه غواړی ورکوی ئے ﴿وَاللّٰهُ وَاسِعٌ عَلِيْمٌ﴾ اوالله ﷻ ډير د فراخئ خاوند دے [چه که غواړی نوټولو ته دا صفتونه ورکولې شی ليکن] دلوئې علم خاوند [هم] دے [دهغه په علم کښې يئ چه چاته ورکولو کښې خيروی هغوی ته يئ ورکوی].

﴿اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ﴾ بيشکه ستاسو دوستان خو [چا سره چه تاسو لره دوستی لرل پکاروی] اللهﷻ او دهغه رسول ﷺ او ايماندار خلق دی چه په دې سے شان سره دمونځ پابندی کوی او زکات ورکوی چه پدوی [ددوی په زړونو] کښې خشوع [عاجزی] وی [يعنیعقيدې اخلاق اومالی او بدنی ټول عبادتونه په کښې راجمع شو] ﴿وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾او څوك چه دبيان شوی [مضمون په جوړ] الله سره دوستی لری او دهغه رسول ﷺ او ايماندارو خلقو سره نو [هغه دالله ﷻ په ډله کښې داخل شو او]﴿فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ﴾ دالله ﷻ ډله بيشکه غالب ده [اوكافر مغلوب دی غالب سره د مغلوب د جوړښت اود دوستئ فکر کول خالص نامناسبه دی].

﴿يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا﴾ائې د ايمان خاوندانو مه جوړونی هغو خلقو لره چه جوړ کړې ئے دے دين ستاسو ټوقے اولوبے [چه د دروغژن ګنړلو نخښه ده] ﴿مِّنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ﴾ دهغه کسانو نه چه ورکړې شوې دې ورته کتاب [آسمانی تورات اوانجيل] مخکښې ستاسو نه [چه يهود او نصرانيان دی] ﴿وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ﴾ او [دغه شان] نورو کفارو لره [هم چه مشرکان وغيره دی] دوستان [يعنی يهودو نصرانيانو او نورو کافرو مشرکانو وغيره لره دوستان څکه مه جوړوئی چه هغوی ستاسو دين پورې خنداګانے اوټوقے کوی ولې چه اصلی علت کفر اودروغژن ګنړل خو مشترك دی] ﴿وَاتَّقُوا اللّٰهَ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ﴾ اوالله ﷻ نه ويريږئی که تاسو ايمان لرئ [يعنی ايماندارخو يئ کنه نوکوم څيزنه چه الله ﷻ منع کړيده هغه مه کوئی] ﴿وَاِذَا نَادَيْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا﴾ او [څنګه چه ددين اصولو سره ټوقے کوی دغه شان فروع سره يئ هم ټوقے کوی لکه] کله چه تاسو مانځه دپاره [د اذان په ذريعه] اعلان کوئی نو دغه خلق [ستاسو] دغے [عبادت] پورې [چه په کښې اذان او مونځ دواړه راغلل] ټوقے اولوبے کوی [او] ﴿ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ﴾ په دې سبب دې چې دوی داسې خلق دی چه بيخی عقل نه لری [ورنه حقه خبره به يئ پيژندله او ورپورې به يئ ټوقے نه کولې].

معارف اومسائل

په روميی آيت کښې مسلمانانو ته داحکم ورکړې شويدې چه دوئ دې يهودواونصاراؤسره موالات [جخته دوستی] نه کوی څنګه چه عام غيرمسلم خلق اويهودونصاری، دادستورلری چه هغوئ ټينګه دوستی خاص خپل خپل قوم سره لری اومسلمانانوسره دغسې ټينګه دوستی نه لری،

بیاکه یو مسلمان ددې خلاف ورزی او کړه او چا یهودی یا نصرانی سره ئې ټینګه دوستی او کړه نو هغه به د اسلام په نظر کښې ددې جوګه وی چه د مسلمان په ځائې د دغې قوم غړې او شمیرلې شی.

شان نزول: د تفسیر امام ابن جریر رحمه الله د حضرت عکرمه رضی الله عنه [۱] په روایت بیان کړیدی چه دا آیت په یو خاص واقعه کښې نازل شویدې، واقعه داسې وه چه هر کله رسول الله ﷺ مدینې منورې ته تشریف راوړو نو د دغې خواؤ شا یهودو او نصاراؤ سره ئې ددې خبرې یو لوظ قول کړې وو چه دوئ به نه خو د مسلمانانو خلاف پخپله جنګ کوی، نه به د جنګ کوونکی قوم امداد کوی بلکه مسلمانانو سره اوږه په اوږه به د هغوئ [د دښمنی] مقابله کوی، دغه شان مسلمانان به هم نه خو پخپله دوئ سره جنګ کوی او نه به هغوئ سره د جنګ کوونکو امداد کوی بلکه د هغوئ د مخالفینو مقابله به کوی، تر څه زمانې پورې دغه لوظ او قول باندې دواړو اړخو عمل کولو لیکن هر کله چه یهودیان سازشی فطرت او اسلام دښمن طبیعت لری په دې وجه ډیر وخت په دغې لوظ، قول ټینګ پاتې نشول او د مسلمانانو په خلاف مشرکانو د مکې سره ئې سازباز او کړو، او خپلې قلاته درابللو د پاره ئې هغوئ ته خط اولیږلو، هر کله چه رسول الله ﷺ په دې سازش خبر شو نو هغوئ ﷺ د دوئ د مقابلې د پاره د مجاهدینو یوه ډله اولیږله، د بنی قریظو د دغې یهودیانو یو خوا خو د مکې مشرکانو سره دغه سازش کړې وو او بل خوا په مسلمانانو کښې ورننوتلی وو او ډیرو مسلمانانو سره ئې د دوستئ معاهدې او سمجهوتې کړې وې، او په دغه ډول به ئې د مسلمانانو په خلاف مشرکانو د پاره جاسوسی کوله، لهذا دغه ذکر شوې آیت نازل شو چه دې مسلمانانو لره د یهودیانو او نصاراؤ د ژورې دوستئ نه بند کړل دې د پاره چې هغوئ د مسلمانانو خاص خبرونه معلوم نکړې شی، دغه وخت ځنې صحابه کرامو رضی الله عنهم [حضرت عبادة بن صامت وغیره] خوښه په ډاګه دغه خلقو سره خپله معاهده ختمه کړه او د ترک موالات اعلان ئې او کړو او ځنې خلق چه د منافقانو په ډول مسلمانانو سره یو ځائې شوی وو، یا تر اوسه پورې د هغوئ په زړونو کښې اسلام پوره ننوتې نه وو، هغوئ ورسره په ترک موالات کښې دا خطره محسوسه کوله چه که مسلمانان مغلوب شی او د مشرکانو، یهودو، او نصاراؤ سازش نه کامیاب شی نو زمونږ به بدحالی وی، لهذا دې خلقو سره هم داسې معامله لرل پکار دی چه دغه وخت زمونږ د پاره مصیبت جوړ نشی، چنانچه عبدالله بن ابی بن سلول خو هم په دې بناوئیلی وو چه دې خلقو سره په بائیکاټ کولو کښې زه خطره محسوسوم ځکه ورسره دوستی نشم پریښودې، نو دغه دریم آیت شریف نازل شو:

﴿فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَنْ تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ﴾ [یعنی هر کله چه د ترک موالات شرعی حکم هغه خلقو واؤریدو، د چا په زړونو کښې چه د نفاق مرض دې، خپلو کافرانو دوستانو ته په منډه ورغلل او وې وئیل چه دوئ سره په بائیکاټ کولو کښې زمونږ د پاره خطرې دی.]

الله تعالی د دوئ په جواب کښې اوفرمائیل: ﴿فَعَسَى اللَّهُ أَنْ يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِنْ عِنْدِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَى مَا أَسَرُّوا فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ﴾ یعنی ددې خلقو خو خیال دا دې چه دا مشرکین او یهودیان به په مسلمانانو غالب راشی، مګر الله تعالی فیصله کړیده چه داسې به نه وی، بلکه قریبه ده چه مکه به فتحه شی، یا د مکې د فتح کیدو نه وړاندې به الله تعالی د دغې منافقانو راز ښکاره کړی او هغوئ به

[۱] تفسیر الطبری تحت هذه الآیة رقم الحدیث: ۱۲۱۶۰

Scanned with Ca

رسوا او شرمنده کړي نو دغه وخت به دغه خلق په خپلو پټو خیالاتو خپیمانه وي،

په دویم آیت کښې ددې نوره زیاته تشریح داسې اوشوه چه هر کله دمنافقانو دمنافقت راز، راښکاره شي او دهغوئ د دوستئ ددعوؤ او قسمونو حقیقت ښکاره شي نو مسلمانان به حیران شي او دا به وائي چه آیا، دا هغه خلق دي چه مونږته به ئې دالله تعالی سخت قسمونه خوړل او د دوستئ دعوې به ئې کولې، نن دهغوئ انجام دا شو چه ټول هغه اسلامي عملونه ئې تباه او برباد شو چه خلقوته به ئې دښودنې دپاره کول، کوم بیان چه په دې آیتونو کښې دفتح مکې او دمنافقانو درسوایئ کړیدې خوورځې پس هغې لره ټولو په خپلو سترګو اولیدل.

په څلورم آیت کښې دا ښودلي شویدي چه غیر مسلمو سره ټنګه دوستي او دګډون کولو کومه منع چې کړې شویده، دغه خالص دمسلمانانو دفائدې دپاره ده، ورنه اسلام داسې حق دین دې چه دحفاظت کولو ذمه ئې الله تعالی په خپله اغستې ده، دیو کس یا ډلې کاره تلل یا نافرماني خو پرېږده، که دمسلمانانو څوک په یوازې سر یا یوه ډله په جمع، په رشتیا اسلام لره پرېږدي او بیخي مرتد کیدو سره غیر مسلمو کښې شامل شي نو په دې سره هم اسلام ته څه نقصان نشي رسیدلې، ولې چه کوم قادرِ مطلق ددې دحفاظت ذمه داري اغستې ده هغه به سمدستي بل یو قوم دعمل میدان ته راولي چه هغه به ددین حفاظت او خورولو فرض اداکوي دهغې کارونه دچاپه ذات پورې اړه لري نه په په څه لویه ډله یا اداره اړه لري، هغه چه کله اوغواړي نو دتیلو [خاشو] نه دشاهتیرونو [ګاډرو] کار اخلي ورنه شهتیرونه [ګاډر] چې په ځائې پراته وي نو خاؤرې ایرې او څره ترې جوړ شي لکه چه چاښه وئیلي دي؛

إِنَّ الْمَقَادِيرَ إِذَا سَاعَدَتْ :: أَلْحَقَتِ الْعَاجِزَ بِالْقَادِرِ

هر کله چه تقدیر الهی دچا مدد ګار شي، نو یو بې وسه او عاجزنه دقدرت لرونکي او توانا تندرست کار اخلي،

په دې آیت کښې ئې یو دا بیان اوکړو چه دمسلمانانو په مرتد کیدو هیڅ پروا نشته الله تعالی به یو بل جماعت اودروي، بل طرفته چې ئې دا بیان اوکړو چه دې جماعت کښې به دا، دا صفتونه وي، ددین خدمتګارانو لره پکار دي چه ددغې صفتونو خیال لري، ولې چه هم ددې آیت نه معلوم شو چه دغه صفتونه او عادتونه په چا کښې وي دغه خلق به دالله تعالی په نزد مقبول شوي او غوریزوي،

د دوئ ړومبې صفت قرآن کریم داسې بیان کړیدې چه الله تعالی به هغوئ سره مینه لري او هغوئ به الله تعالی سره مینه لري، ددې صفت دوه برخې دي یوه برخه ئې داده چه هغوئ الله تعالی سره مینه لري، دا خو په څه ناڅه درجه کښې دانسان په اختیار کښې ګڼړلې شي چه که د انسان چا سره طبعي محبت نه وي نو کم ناکم، عقلي محبت خو دخپل قصد او ارادې تابع لرلې شي، او طبعي محبت هم اګرچه دانسان په اختیار کښې نه وي مګر ددې اسباب هم اختیاري دي، مثلا دالله تعالی عظمت او جلال او دهغه قدرت کامله په انسانانو باندې دهغه داختیاراتو او انعاماتو مراقبه او تصور په لازمي ډول دانسانَ په زړه کښې دالله تعالی طبعي محبت هم پیدا کوي،

لیکن په بل جزء کښې چه دالله تعالی محبت به دې خلقو سره وي، په ظاهره دا معلومیږي چه په دې کښې دانسان داختیار او عمل هیڅ دخل نشته او کوم څیز چه زمونږد قدرت او

Scanned with Ca

اختيارنه بهردې دهغې داورولو اوښودلونه هم په ښکاره څه حاصل نه راوځي،

ليکن دقرآن کريم په يوبل آيت کښې دغورکولونه معلوميږي چه دمحبت ددې جزء اسباب هم،دانسان په اختيارکښې دی که هغه،دغې اسبابولره استعمال کړي نو دالله تعالى محبت به هغه سره خامخادغه اسباب يوآيت شريف داسې ښودلى دی: ﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ﴾ يعنى اې رسول الله ﷺ:تاسو ﷺ خلقوته اوښايئي چه که تاسو الله تعالى سره محبت لرئ نوزماتابعداري کوئ،دهغې نتيجه به داوی چه الله تعالى به درسره محبت کول شروع کړي،

په دې آيت کښې اوښودلې شوچه څوک په دې تکل کښې وی چه الله تعالى دې ورسره محبت اوکړي نوهغه دې خپل ټول ژونددرسول الله ﷺ دسنتوتابع جوړکړي اودادې په ځان لازم کړي چه په هرکارکښې دسنتوتابعداري کوی،چنانچه په داسې کولوباندې دالله تعالى وعده ده چه هغه به ورسره محبت کوی،اودې آيت نه داهم معلومه شوه چه دکفراو ارتدادمقابله به هم هغه جماعت اوټولې کولې شی چه دسنتوتابعداروی،دشريعت په حکمونومنلوکښې څه کوتاهی نه کوی اونه دخپله ارخه،دسنتونه خلاف عملونه اوبدعتونه جاري کوی،

ددې جماعت [دلې] بل صفت دابيان کړې شويدې: ﴿أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ﴾ قاموس په ډاګه داخبره کړيده چه لفظ د﴿أَذِلَّةٍ﴾ د [ذَلِيل] يا [ذَلُول] جمع کيدې شي،په عربى ژبه کښې دذليل هم هغه معنى ده کومه ئې چه په اردو وغيره کښې مشهوره ده اود[ذَلُول] معنى ده [نرم اوسهل الانقياد] [چه په آسانئ سره قابو کښې راتلې شی] دلته دجمهورومفسرينوپه نزدهم دغه معنى مراده ده،يعنى دا خلق به دمسلمانانوپه وړاندې نرم وی اوکه په څه معامله کښې ئې اختلاف هم راغلونوپه آسانئ سره به په قابوکښې راتلې شی،جګړه به پريږدی اګرچه هغه په جګړې کولوکښې په حقه هم وی،لکه په يوصحيح حديث کښې رسول الله ﷺ فرمائيلى دی:[اناز عيم ببيت فى ربض الجنة لمن ترک المراء وهومحق](۱) يعنى هغه چاد پاره په جنت کښې دکور ورکولوذمه واری اخلم چه په حقه وی اوسره دهغې نه جګړه پريږدی] ددې لفظ حاصل داشوچه دغه خلق،مسلمانانوسره دخپلو حقوقو اومعاملاتوپه باره کښې هم هيڅ جګړه نه کوی،دغه شان دويم لفظ ﴿أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ﴾ راغلو،[أعِزَّةٌ] لفظ دعزيز جمع ده،معنى ئې غالب،سخت اوقوی کولې شی،مطلب ئې داشوچه داخلق،دالله تعالى اودهغه ددين دمخالفينوپه مقابله کښې سخت اوقوی وی چه هغوئ پر قابونشی بيامونددې،

چه دواړه جملې يوځائې شی نومطلب ئې داراوځی چه:دابه داسې يوقوم وی چه مينه،محبت،عداوت،دوستی اودښمنی به يواځې خپل ذات اوذاتی حقوقو اومعاملاتوپورې نه تړی،دابه يواځې دالله دهغه درسول الله ﷺ اودهغه ددين په خاطروی،لهذاداسې کس د جنګ جګړې مخه به يې دالله تعالى اودهغه درسول الله ﷺ فرمانبردارانوارخ ته نه وی بلکه د هغه ددښمنانواونافرمانوارخ ته وی دځنګه چه په سورت فتح کښې دغسې راغلى دی: ﴿أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ﴾

دريمبی صفت خلاصه دحقوقومکمل کول وو،اود دويم صفت حاصل حقوق العباداو دمعاملاتوبرابری اوسمون دې،ددې دلې دريم صفت ئې دا اوفرمائيلو ﴿يُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ﴾

(۱) سنن ابی داود، کتاب الأدب، باب فی حسن الخلق: ج ۲، ص ۶۶۱

[د اخلق به د حق دين د خورولو او پورته كولو د پاره په مخه جهاد كوي] خلاصه ئي داده چه د كفر او مرتد كيدو د مقابلې د پاره يو اخې، مشهور قسم عبادت كول او نرميدل، سختيدل كافي نه دي بلكه دا هم ضروري دي چه د دين د قائمولو جذبه ئې هم وي چنانچه د دې جذبې د مكمل كولو د پاره ئې خلورم صفت دا اوښودلو: ﴿وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ﴾ [يعني د دين په قائيم لرلو او د حق كلمې د سربلنده كولو په كوشش كښې به د اخلق د هيڅ پروانه لري،

په غور كولو سره معلوميږي چه د يو تحريك چلوونكي په لاركښې دوه قسمه خيزونه خنډ ان جوړيدې شي، ① يو د مخالف قوت زور، زبردستي او ② بل د خپلو خلقو لعن طعن او ملامتيا. چنانچه تجربه ګواه ده چه څوک په جوش جذبې سره د يو تحريک چلولو د پاره راپورته شي، نو په اكثرو حالاتو كښې عموما، هغوئ د مخالف قوت د زور زبردستئ له كبله پاتې نه راخي، د دې د پاره جيل، قيد، بند وغيره زغملې شي په ويني كيدو او زخمي كيدو سره پكښې څه كمزوري نه پيدا كيږي او برداشت كوي يې ليكن د خپلو خلقو د لعن طعن، ملامته كولو او د بدو ردو وئيلو په وجه د لويو لويو خلقو خپې خوئيږي، كيدې شي چه د دلته الله تعالى هم په دغې وجه دا يو صفت ذكر كړو چه دا خلق د چا د ملامتيا د پروا كولو نه بغير خپل جهاد په مخه جاري لري،

په آخر د آيت كښې ئې دا هم اوښودل چه دا ښكلي صفتونه او خويونه خالص د الله تعالى انعامات او احسانات دي، هم هغه ئې وركوي چاته ئې چه او غواړي، انسان خالص، په خپل عمل او كوشش سره دا نشي حاصلولې كله چه د الله تعالى فضل ورسره نه وي،

د آيت د الفاظو د تشريح نه دا خبره په ډاګه شوه چه كه څوک مسلمانان مرتدان هم شي نو د اسلام دين ته پرڅه نقصان نه رسي، بلكه د دې د حفاظت او مرستې د پاره به د الله تعالى داسې يو ډله راپورته كړي چه دا على عملونو او اخلاقو خاوندان به وي،

جمهورو مفسرينو رحمهم الله فرمائيلي دي چه دا آيت په حقيقت كښې د راتلونكو فتنو پيشنګوئي ده او هغې ډلې ته پكښې زيرې وركول دي څوک چه په دغه وخت په مړانې سره د دغه فتنو مقابله اوكړي او كامياب شي، راتلونكې فتنه مرتد كيدل دي چه څه ناڅه جراثيم ئې د پيغمبرئ د زمانې په آخر كښې خوريدل شروع شوي وو او د رسول الله ﷺ د وفات نه پس په عام كيدو سره په ټول جزيرة العرب كښې ئې د طوفان شكل اختيار كړو، او زيري موندونكي حضرات صحابه كرام رضي الله عنهم دي، چه د اول خليفه حضرت ابى بكر صديق رضي الله عنه ئې ملاتړ اوكړو او د دغه فتنې [د مرتد كيدلو] مقابله ئې په نره اوكړه،

چنانچه د ټولو نه اول [مسيلمة كذاب] د دې دعوى اوكړه چه هغه رسول الله ﷺ سره په نبوت او پيغمبرئ كښې شريک دې، يو اخې دا نه بلكه د رسول الله ﷺ قاصدان ئې بيرته په دې شان واپس اوليږل چه ورته او وئيل كه د تبليغ او سمي راوستو په خاطر د دستور او قانون عام نه وې چه ريباران او سفيران نشي وژلې كيدې نو مابه تاسو وژلې وئ، مسيلمه اګرچه په خپله دې دعوى كښې سخت دروغژن وو خو هغوئ ﷺ ته د ده په خلاف د جهاد موقعه په لاس ورنغله، تردې چه وفات شو،

دغه شان په يمن كښې د [مذجج] قبيلې سردار، اسود عنسي، هم د خپلې پيغمبرئ اعلان اوكړو، رسول الله ﷺ خپل مقرر كړى حاكم د يمن ته د هغه د مقابلې كولو حكم اوكړو، خو په

Scanned with Ca

کومه شپه چه هغه اوژلې شو دهغې په صباله رسول الله ﷺ وفات شو، صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ددې خبر دربیع الاول په آخر کښې اورسیدو. دغه شان واقعه په بنی اسد قبیله کښې هم راپیښه شوه چنانچه ددې قبیلې سردار [طلحه بن خویلد] په خپل ځان دپیغمبرئ دعویدار شو،

د دریؤ قبیلو دغه ډلې درسول الله ﷺ دوفات په مرض کښې مرتدې شوې وې، د هغوئ ﷺ دوفات په خبر خوریدو سره دغه فتنې یو طوفانی شکل اختیار کړو، دعربو [۷] اوه قبیلې په مختلفو ځایونو کښې داسلام او اسلامی حکومت نه باغیان شو، ددغې وخت ړومبی خلیفه، حضرت ابی بکر صدیق رضی الله عنه ته ئې داسلامی قانون په مطابق زکوة اداکولو نه انکار اوکړو،

دهغوئ ﷺ دوفات نه پس ابی بکر صدیق رضی الله عنه باندې دوه پیټی دمصیبتونو داسې راؤغورځیدل چه ① یو خو درسول الله ﷺ دوفات کیدو دغم پیټی وو او ② بل داپیټی وو چه دغه قسم فتنې او بغاوتونه داسلام نه رابرسیره شو، چنانچه حضرت عائشې صدیقې رضی الله عنها فرمائیلی دی چه د رسول الله ﷺ دوفات نه پس کوم غمونه زما په باباجی راغلل که هغه په مضبوطو غرونو هم راپریوتی وې نو ذره ذره شوی به وو، خو الله تعالی ورته دصبر او استقامت هغه اعلی مقام ورکړې وو چه دټولو آفتونو او مصیبتونوئې په پوره مړانې او مضبوطیا سره مقابله اوکړه او آخر کامیاب شو،

ښکاره خبره ده چه دبغاوتونو مقابله صرف په طاقت استعمالولو سره کیدې شی، خو ددغه وخت حالات دومره نازک وو چه هر کله صدیق اکبر رضی الله عنه ددې په باره کښې دصحابه کرامو رضی الله عنهم نه مشوره اوغوښته نو چا هم دسخت قدم اوچتولو په باره کښې مشوره ورنکړه ولې چه دهغوئ رضی الله عنهم داخیال وو که مونږ په کورنی اوندرونی جنګ کښې بوښت شو نو بهرنی مخالفین به راباندې ښه په ډاډه حمله اوکړی او اسلامی حکومت به ګډوډ کړی خو الله تعالی دصدیق اکبر رضی الله عنه زړه ددې جهاد دپاره مضبوط کړو او دصحابه کرامو رضی الله عنهم په وړاندې ئې داسې فصیحه خطبه ورکړه چه دهغوئ ټولو سینه هم دجهاد دپاره پرانستې شوه ددغې خطبې الفاظ څه داسې وو،

[کوم خلق چه دمسلمانیدو نه پس درسول الله ﷺ دورکړو احکامو او قانون نه انکار اوکړی نو زما فرض دی چه دهغوئ په خلاف جهاد اوکړم او که زما مقابلې ته ټول پیریان، بنیادم ددنیا ټولې اونې، بوټی او کاڼړی په جمع راوستې شی او زما بل هیڅوک ملګرې نه وی بیا به هم په یواځې ځان دغه جهاد ترسره کوم]،

دې خطبې ورکولو نه پس په اس سور شو او روان شو، دغه صحابه کرامو رضی الله عنهم ورته مخې ته شو، صدیق اکبر رضی الله عنه ئې په خپل ځائې کښینولو، مختلفو محاذونو ته ئې دمختلفو حضراتو دلیږلو منصوبه جوړه کړه،

په دې وجه حضرت علی رضی الله عنه، حسن بصری رحمه الله، ضحاک رحمه الله، قتاده رحمه الله، وغیره د تفسیر جمهورو امامانو رحمهم الله بیان کړیدی چه داآیت دحضرت ابی بکر رضی الله عنه او دهغوئ رضی الله عنه دملګرو په باره کښې راغلی دې، ولې چه ټولو نه اول مصداق دآیت، دغه قوم ثابت شو، دکوم چه الله تعالی میدانِ عمل ته دراویستلو ارشاد فرمائیلی دې،

که داروایت په بل چا باندې صادق شی نو بې سمونه به نه وی، چنانچه ځنې حضراتو ددې مصداق حضرت ابی موسی اشعری رضی الله عنه او نورو صحابه کرام رضی الله عنهم هم ګرځولی دې، په دې بِنا صحیح خبره داشوه چه دغه ټول حضرات څه چه ترقیامته پورې ټول هغه مسلمانان چه

Scanned with Ca

دقرآني هدايتونو په جوړ دكفراو مرتد كيدو مقابله كوي هغه به ددې آيت دمصداق لاندې داخل وي. په هرحال دصحابه كرامو رضي الله عنهم يوه ډله دحضرت صديق اكبر رضي الله عنه په هدايت دمرتد كيدو ددې فتنې په خلاف اودريدل، دحضرت خالدبن وليد رضي الله عنه په سالارۍ كښې ئې يولوئې لښكرد مسيلمهٔ كذاب دمقابلې دپاره ديمامې اړخ ته وراوليږلو هلته مسيلمه هم غټ طاقت بيامونديې وو ملګرې ئې ډيروو، سخت جنګونه اوشو آخر دغه مسيلمه، دحضرت وحشي رضي الله عنه دلاسه اووژلې شو، دهغه ټوله ډله مسلمانه شوه اودوئ سره يوځائې شو، دغه شان طليحه بن خويلد دمقابلې دپاره هم حضرت خالد رضي الله عنه وراوليږلې شو، هغه تږې اوتښتيدواوچرته بهرلاړو، بيامسلمان شوااوواپس خپل ځائې ته په خير خيريت راغلو([1])،

دحضرت صديق رضي الله عنه دخليفه كيدو داولې مياشتې [ربيع الاول] په آخر كښې د اسود عنسي([2]) دقتل اودهغه دقوم دفرمانبرداره كيدوخبرراورسيدوچه دټولونه اول دبرى يوخبر وؤ كوم چه حضرت صديق اكبر رضي الله عنه ته په دغه حالاتو كښې رسيدلې وو، دغه شان په نوروهغه قبيلو باندې هم په هره موقعه الله تعالى صحابه كرامو رضي الله عنهم ته برې وركړو كومې چه دزكوة وركولونه منكرشوې وى.

چنانچه دالله تعالى ددې ارشاد: ﴿فَإِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْغَلِبُونَ﴾ عملي تفسيردنياپه خپلو سترګو اوليدلو اوهركله چه په تاريخي او واقعاتي رنګ كښې داخبره خودبخودثابته وه چه درسول الله ﷺ دوفات نه پس په عربو قبيلو كښې دارتداد [مرتد كيدو] فتنه راپورته شوه، الله تعالى چه ددې دپاره كوم قوم راپورته كړوهغه صديق اكبر رضي الله عنه سره دنوروصحابه كرامو رضي الله عنهم ملګرو وو، نو دې آيت نه داهم ثابته شوه چه ددې جماعت كوم صفتونه چه قرآن كريم فرمائيلي دى هغه ټول په صديق اكبر رضي الله عنه اودهغوئ رضي الله عنهم په ملګرو كښې داسې موندې شو: ① الله تعالى ورسره محبت كوى ② دوئ الله تعالى سره محبت كوى ③ مسلمانانو سره په معاملاتو كښې زياته نرمي كوى اودكفارو په معاملاتو كښې زيات تيزوى ④ د دوئ رضي الله عنهم جهادخالص دالله تعالى په لاركښې وواوپه دې كښې ئې دچاد ملامتياهيڅ پروانه كوله ⑤ په آخرد آيت كښې ئې دحقيقتونو ددې حقيقت وضاحت داسې اوكړوچه دكمال دا ټول صفتونه، بيا ددې هروخت استعمالول. دا ټول دخه تدبير، ياطاقت، يادډلې په داډنشي حاصليدې بلكه خالص دالله تعالى په فضل حاصليدې شى چاته ئې چه غواړى هغه ته ئې وركوى.

په تيروشوؤ رومبو څلوروآيتونو كښې مسلمانان دې نه منع كړې شوى ووچه كافرانو سره كلكه دوستي ساتى،

په پنځم آيت كښې په مثبت ډول دا اوښودلې شوچه دمسلمانانو كلكه دوستي او خاص ملګرتيا دې چاسره وى؟ دې كښې دټولونه اول دالله تعالى، بيادهغه درسول ﷺ بيان دې، ولې چه په حقيقت كښې دمؤمن ولي اوملګرې په هرحال كښې يواځې الله تعالى دې او هم هغه كيدې شى، دهغه نه سوا دهرچادوستي اوتعلق فاني دې اورسول الله ﷺ سره تعلق هم په حقيقت كښې الله تعالى سره تعلق دې ولې چه داخپل منځ كښې سره جدانه دى، په دريم نمبر

---

[1]) التفسير المظهري تحت هذه الآية: ج ۳، ص ۱۲۸ نه ۱۳۰ پورې.

[2]) اسود عنسي لره فيروز ديلمي وژلې وو. (صحيح بخاري: ج ۲، ص ۶۲۸ كتاب المغازي باب قصة الأسود العنسي)

کښې د مسلمانانو ملګرى او مخلص دوستان هغه مسلمانان ګرځولې شويدى چه تش په نوم مسلمانان نه بلکه سوچه مسلمانان وى، د کومو چه دا درې صفتونه او نخښې ښودلې شويدى:

﴿الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُونَ﴾

① يو دا چه مونځ لره، په پوره آدابو او شرطونو سره په پابندئ اداکوى، ② بل دا چه خپل مال نه زکوة اوباسى، ③ دريم دا چه دغه خلق عاجزى کوونکى أو خاکساره وى په خپلو نيکو عملونو فخر او تکبر نه کوى،

ددې آيت دريمه جمله کښې ﴿وَهُمْ رٰكِعُونَ﴾ راغلې دې، د [ركوع] دلفظ ګڼ مطلبونه کيدې شى چنانچه د تفسير په امامانو کښې ځنو فرمائيلى دى چه دلته د [رکوع] نه مراد اصطلاحى رکوع ده کومه چه په مونځ کښې کولې شى او د ﴿يُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ﴾ نه پس د ﴿وَهُمْ رٰكِعُونَ﴾ الفاظ دا ښائى چه د مسلمانانو مونځ د نورو قومونو د مونځونو نه جدا کول او ممتاز کول مقصود دې. مونځونه اګر چه يهود او نصارا ،هم کوى خو هغې کښې رکوع نه وى خالص په اسلامى مونځ کښې رکوع وى [مظهرى] ([1]).

مګر جمهور مفسرين رحمهم الله فرمائى چه دلته د رکوع نه مراد اصطلاحى رکوع نه ده، بلکه ددې لغوى معنى يعنى ټيټيدل، عاجزى او خاکسارى کول مراد دى، چنانچه په تفسير بحر محيط کښې ابو حيان او په تفسير کشاف کښې زمخشرى، دې لره اختيار کړيدى ([2])، په تفسير مظهرى او بيان القرآن وغيره کښې هم دا معنى اغستې شويده ([3])، ځکه ددې معنى به دا سې شى چه دغه خلق په خپلو عملونو باندې ناز، فخر نه کوى، بلکه عاجزى او خاکسارى کول د دوئ خوئ خصلت دې.

په ځنې روايتونو کښې راغلى دى چه دا جمله د حضرت على رضي الله عنه په باره کښې په يوه خاصه واقعه کښې نازله شويده، واقعه داسې وه چه يو ځل حضرت على رضي الله عنه مونځ اداکولو په رکوع کښې ترې يو سوالګرى سوال اوکړو، هغوئ رضي الله عنه هم په دغه رکوع کښې خپله ګتمه د خپلې ګتې نه راوويسته او هغه ته ئې ورا وغورځوله ([4])، چنانچه ديو حاجتمند بنده په حاجت پورا کولو کښې ئې دومره مهلت کول هم نه خوښول چه د مونځ پوره کولو نه پس د هغه ضرورت پوره کړى، په نيکئ کښې داسې جلدى کول د الله تعالى خوښ شو او ددې جملې په ذريعه ئې د هغې قدر زياته ستائنه اوکړه.

ددې روايت په سند کښې د علماؤ رحمهم الله او محدثينو کلام دې، که بيا هم روايت لره صحيح اومنلې شى نو حاصل به ئې دا وى چه د مسلمانانو د کلکې دوستئ جوګه هغه عام مسلمانان کيدې شى چه د مونځ او زکوة پابندوى او په دوئ کښې حضرت على رضي الله عنه خصوصيت سره ددې دوستئ زيات مستحق دې لکه په يو بل حديث کښې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى: [من کنت مولاهُ فعلى مولاه] [احمد، د مظهرى نه] ([5])

---

[1]) التفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۱۳۲
[2]) تفسير البحر المحيط تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۲۱۱ وکشاف تحت هٰذه الآية: ج ۲، ص ۳۸
[3]) التفسير المظهرى تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۱۳۲
[4]) المعجم الأوسط للطبرانى رقم الحديث: ۳۷۳ باب الميم-
[5]) مسند أحمد رقم الحديث: ۶۰۲، ومن مسند على بن ابى طالب رضى الله عنه-

Scanned with Ca

[يعنی زه چه د چا دوست يم نو حضرت علی رضی الله عنه به ئې هم دوست وی]

په يو بل حديث كښې رسول الله ﷺ فرمائيلی دی: [اللهم والِ من والاهُ وعادِمن عاداهُ] (١)

[يعنی اې الله، ته دوست لرې هغه چا لره چه محبت لری حضرت علی رضی الله عنه سره او دښمن لرې هغه چا لره چه دښمن لری حضرت علي رضی الله عنه لره]

حضرت علی رضی الله عنه ته غالبا دا خصوصی شرف او عزت ځکه ورکړې شويدې چه رسول الله ﷺ ته دراتلونكې فتنې داسې انكشاف شوې وو چه څه خلق به حضرت علی رضی الله عنه سره عداوت او دښمنی لری او دهغوئ رضی الله عنه خلاف به د بغاوت جنډه پورته كوی، څنگه چه دخوارجو فتنه دهغوئ رضی الله عنه په خلاف راخرگنده شوه،

په هرحال كه دغه آيت شريف هم ددې واقعې په باره كښې نازل شوې وی، مگر د آيت الفاظ عام دی چه ټولو صحابه كرامو رضی الله عنهم او عامو مسلمانانو لره شامل دی، دحكم په لحاظ دهيڅ يو كس خصوصيت نشته، چنانچه دحضرت امام باقر رحمه الله نه چا تپوس اوكړو چه دې آيت كښې د ﴿الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا﴾ نه حضرت علی رضی الله عنه مراددې؟ نو هغوئ اوفرمائيل چه هر كله هغوئ رضی الله عنه هم په مؤمنانو كښې داخل دې نو په دغې حيثيت سره ددې آيت مصداق جوړيدې شی (٢)،

وروسته په بل آيت كښې هغه خلقو ته دفتح، امداد او په دنيا باندې دغالب راتلو زيرې وركړې شويدې چه ددغه قرآنی آيتونو په احكامو باندې عمل اوكړی، او غيرمسلمو سره دټينگې دوستئ كولو نه واوړی، صرف الله تعالی، دهغه د رسول ﷺ او مؤمنانو لره خپل دوست جوړ كړی لكه فرمائی: ﴿وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ﴾

په دې كښې ارشاد داسې دې چه د الله تعالی په دې احكامو باندې عمل كول فرض دی مسلمانان دالله تعالی ډله دی او بيائې دا زيرې واوړولو چه د الله تعالی دډلې انجام دادې چه په ټولو به غالب او برراځی، راتلونكو واقعاتو ددې داسې تصديق اوكړو چه هرليدونكی دا اوليدل چه صحابه كرام رضی الله عنهم په ټولو باندې غالب راغلل كوم طاقت چه هغوئ رضی الله عنهم سره ټكره او وهله هغه ذره ذره شو داول خليفه صديق اكبر رضی الله عنه په مقابله كښې اندرونی [كورنئ] فتنو سر راپورته كړونو الله تعالی حضرت ابی بكر رضی الله عنه لره په ټولو غالب كړو، دحضرت فاروق اعظم په مقابله كښې ددنياد ټولو نه لوئې طاقتونه قيصر او كسری راغلل خو الله تعالی د هغوئ نوم او نخښه وركه كړه. كومو خليفه گانو او مسلمانانو چه ددغې احكامو داسې پابندی كوله چه هغوئ، غيرمسلمو سره گډون او كلكه دوستی نه ساتله، هغوئ تل دپاره كامياب او فتحمندښكاريدل،

په شپږم آيت كښې دتاكيد په ډول هغه حكم سردوباره بيان كړې شو كوم چه د ركوع په شروع كښې بيان شوې وو، دهغې مفهوم دادې چه [اې دايمان خاوندانو: تاسو دغه خلق خپل ملگری يا كلك دوستان مه جوړوی چه ستاسو دين لوبې ټوقې گڼری، دا دوه ډلې دی، ① يو اهلِ كتاب او ② بل عام كفار او مشركان،

امام ابوحيان رحمه الله په بحرمحيط كښې فرمائيلی دی چه په لفظ د [كُفار] كښې اهلِ كتاب هم داخل وو، بيا دلته په خصوصيت سره د اهلِ كتابو ذكر په مستقل ډول دا مطلب لری چه

---

(١) مسند أحمد رقم الحديث: ٦٠٦، ومن مسند علی بن ابی طالب رضی الله عنه۔

(٢) تفسير البحر المحيط تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٣٦٠

Scanned with Ca

په نسبت دنورو کفارو، اسلام سره زيات نزدې وو، خو تجربې نه ثابته شوه چه په دوئ کښې ډير لږو خلقو اسلام قبول کړو، چنانچه په لټون سره به داخرګند شي چه په زمانه د رسول الله ﷺ کښې يادې نه پس مسلمانيدونکي خلق چه او کتلې شي نو زيات به پکښې عام کفار وي مسلمانيدونکي اهلِ کتاب به پکښې ډير کم بيامونډې شي(۱).

ددې اصلي وجه داده چه اهلِ کتاب په دې مست دي چه دوئ ګني دخدائ دين او د آسماني کتاب پابند دي او هم په دې وجه حق قبلولو ته غاړه نه اږدي، دا شان مسلمانانو پورې زياتې ټوقې او خنداګانې هم دې خلقو کړيدي، د دوئ داسې ورانکارئ يوه واقعه دلته په اووم آيت کښې داسې بيان شويده:

﴿وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلَوٰةِ اتَّخَذُوهَا هُزُوًا وَلَعِبًا﴾ يعني کله چه مسلمانان دمونځ دپاره آذان ورکول نو دغه خلق ورپورې خنداګانې کوي، داشان يو واقعه په تفسير مظهري کښې دابن ابی حاتم په حواله داسې نقل کړې شويده چه په مدينه منوره کښې يو نصراني به چه په آذان کښې: [أَشْهَدُ أَنَّ محمدا رسول الله] آؤريدل نو داسې به ئې وئيل: أحرق الله الكاذب] [الله تعالى دې دروغژن لره اوسوځوي]، دده دغه بنيره هم په ده باندې پخپله داسې اولګيده چه دوئ د شپې ټول اوده وو، نوکرئې دخه ضرورت دپاره اوردغه کورته راؤړو دهغې بخرې والوتو او چرته په يو جامه پريوتو چه ټول ښه اوده وونو اورغرغنډې شو او ټول دسيلمې اوسوځيدل، ايرې شو(۲).

ددې آيت په آخر کښې ئې اوفرمائيل: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُونَ﴾ يعني دين پورې دټوقو او خنداګانو کولو وجه سوا ددې نه بله نشي کيدې چه دغه خلق بې عقله دي].

په تفسير مظهري کښې قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمائيلي دي، چه الله تعالى دې خلقو ته بې عقله اوفرمائيل حالانکه ددنيا په کارونو کښې د دوئ عقل، پوهه ښه مشهوره ده دې نه معلومه شوه چه يو کس به يو قسم کارکښې هوښيار او عقلمند وي مګرپه بل کارکښې به هغه دعقل نه کارنه اخلي، يا به ئې ورته دسره عقل نه رسي، په دې وجه په دغې کښې به بيوقوف بنده بې عقله ثابت شي، چنانچه ددې مضمون لره قرآن کريم په دويم آيت کښې داشان بيان کړيدې:

﴿يَعْلَمُونَ ظَاهِرًا مِّنَ الْحَيَوٰةِ الدُّنْيَا وَهُمْ عَنِ الْآخِرَةِ هُمْ غَٰفِلُونَ﴾ [يعني دا خلق د دنيوی ژوند سرسري څيزونه په ښه شان پيژني مګر دانجام او آخرت نه غافله دي].

مِنَّآ	هَلْ تَنقِمُونَ	يَٰٓأَهْلَ الْكِتَٰبِ	قُلْ
زمونږ سره	آيا تاسو کينه لرئ	ائې اهل کتابو	اووايه ائې نبی
دوئ ته اووايه چې ائې اهل کتابو تاسو زمونږ نه نور څه بد نه ګنړئ			

إِلَيْنَا	أُنزِلَ	وَمَآ	بِاللَّهِ	أَنْ ءَامَنَّا	إِلَّآ
مونږ ته	چې نازل شوې دې	اوپه هغه کتاب باندې	په الله باندې	چې ايمان راوړې دې مونږه	صرف په دې خبره
خو بس دا چې مونږ په الله ﷻ باندې ايمان راوړې دې اوپه هغه کتاب چې مونږ ته نازل شوې دې					

۱) تفسير البحر المحيط تحت هذه الآية: ج ۴، ص ۳۴۳
۲) تفسير ابن ابي حاتم رقم الحديث: ۶۵۳

وَمَآ أُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ ۙ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ۝ قُلْ هَلْ

اوپه هغه | چي نازل شوي وؤ | مخکښي | اوبیشکه | زیات له تاسو | فاسقان دی | اووایه | آیا

اوپه هغه کتاب چي زمونږ نه مخکښي نازل شوي دي | اوپه تاسو کښي اکثرخلق نافرمان دی | ائې پیغمبره ورته اووایه

أُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً عِنْدَ اللّٰهِ ۚ مَنْ

زهٔ خبر درکړم تاسو ته | په زیات خراب انسان | ددې نه | په لحاظ دانجام | په نزد د الله | هغه څوک دي

چې ایاتاسوته حال بیان کړم | چې دالله ﷻ په نیز د دې [فسق] نه زیات خراب انجام د چا دې | دهغه چا چې

لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ

چې لعنت کړې دې په هغه | الله | اوغضب ئې کړې دې | په هغه | اوجوړ کړې ئې دی | دخینو دهغوئ نه

الله ﷻ پرې لعنت کړې وی | ....او غضب ئې پرې کړې وی | ....او چې دچا نه ئې

الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ ۚ أُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا

بیزوګان | اوخنزیران | اوبندګی ئې اوکړه د شیطان | هم دا کسان | ډیر بد دی | په لحاظ دمرتبې سره

بیزوګان اوخنزیران جوړ کړې دی | او چې دشیطان عبادت کوی | دداسې خلقوځائې ډیربدترین دې

وَّأَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ۝ وَإِذَا جَآءُوْكُمْ قَالُوْٓا اٰمَنَّا

اوډیر بې لارې دی | دنیغې لارې نه | اوهرکله چې | راشی تاسو ته | وائی | چې ایمان راوړې دې مونږه

اودسمې لارې نه ګمراه شوې دی | ....کله چې دا خلق تاسوته راشی | نووائی چې مونږ ایمان راوړې دې

وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ۚ وَاللّٰهُ

اوحال دا چې بې شکه | دوئ ننوتی وؤ | دکفر سره | اودوئ | بیشکه وتلی دی | ددې سره | اوالله

خو حقیقت دادې چې په حالت د کفر کښې راغلی وؤ | اوهم په حالت د کفر کښې واپس لاړل | اودوی چې

أَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ ۝

ښه پوهه دې | په هغه څه | چې وؤ دوئ | چې پټول به ئې

څه پټوی هغه الله تعالی ته ډیرښه معلوم دی

آسان ترجمه قرآن: ته (دوی ته) اووایه چه: اې اهل کتابو په تاسو دې نه سوا څمونږ کومه خبره بده لګي چه مونږ په الله او په هغه کتاب چه کوم په مونږ نازل شوې دې او په هغه کتاب چه کوم مخکښې نازل شوې وو په هغې مو ایمان راوړې دې حال دا چه تاسو کښې اکثر خلق نافرمانه دی؟ (اې پیغمبره ! دوی ته) ووایه چه: آیا څه تاسو ته اووایم چه (کومه خبره تاسو بده ګڼړئ) د هغې نه زیات بد انجام والا څوک دې؟ دا هغه خلق دی چه دوی باندې الله لعنت رالیږلې دې او خپل غضب ئې پرې نازل کړې دې ، اوهغوی نه ئې شادوګان او خنزیران جوړ کړي دي اوچا چه د شیطان عبادت کړې دې ! دا هغه خلق دي چه دهغوی انجام ډیر بد دې اوهغوی دسمې لارې نه هم ډیر اوړیدلي دي کله چه دوی تاسو له راشي نو وائي چه "مونږ ایمان راوړې دې" حال دا چه دوی کفر سره راغلي وو او د کفر سره بهر شو او الله ښه پوهیږي چه کوم څه دوی پټوي.

Scanned with Ca

خلاصه تفسیر

﴿ قُلْ يَٰٓأَهْلَ الْكِتَٰبِ هَلْ تَنقِمُونَ مِنَّآ إِلَّآ أَنْ ءَامَنَّا بِاللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْنَا وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبْلُ ﴾ تاسو اووائي چه ائې اهل کتابو تاسو مونږ کښې څه عیب بیا مومئې سوا د ددې نه چه مونږ ایمان راوړے دے په الله ﷻ او په هغه کتاب چه مونږ ته رالیږلے شوې دے [یعنی قران پاك] اوپه هغه کتاب [هم] چه [مونږ نه] مخکښې لیږلے شوې دے [یعی ستاسو په کتاب تورات ا نجیل] ﴿ وَأَنَّ أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ ﴾ سره ددې نه چه په تاسوکښې زیات خلق د ایمان نه خارج دی [چه نه په قران پاك ایمان لری چه ددې پخپله هم اقرار کوی اَونه په تورات او انجیل ایمان لری.ولې چه که په بعضې ئے ایمان وے نوهغې کښې خو په رسول الله ﷺ اوپه قران پاك باندې دایمان راوړلو هدایت موجود دې. په هغې به یئ هم ضرور ایمان وو.دقران پاك نه انکار په دې گواه دې چې په تورات او انجیل هم دوی ایمان نه لری.دا حال خو ستاسو دخلقو شو اومونږ ددې په عکس په ټولو کتابونو ایمان لرو.نو عیب مونږ کښې نشته بلکه پخپله په تاسو کښې دې. غور اوکړئ]. ﴿ قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم بِشَرٍّ مِّن ذَٰلِكَ مَثُوبَةً عِندَ اللَّهِ ﴾او تاسو دوی ته اووائې چه [که سره ددې هم تاسو زمونږ طریقه خرابه گنړئی نو راشئ] آیا زه [په ښه اوبد کښې تمیز کولو دپاره] تاسو ته داسې طریقه اوښایم چه [زمونږ] ددې [طریقې] نه هم [کومې لره چه تاسو بد گنړئ] دالله ﷻ نزد په سزا ملایدو کښې زیاته بده وی ﴿ مَن لَّعَنَهُ اللَّهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيرَ وَعَبَدَ الطَّٰغُوتَ ﴾ دادهغه کسانو طریقه ده چالره [چه ددغې طریقې په وجه] الله ﷻ دخپل رحمت نه لرے کړې وی اوپه هغوی ئے غضب کړې وی اوهغوی لره یئ بیزوگان [او خنزیران جوړ کړی وی او هغوی د] شیطان عبادت کړې وی [اوس اوگورئ چه په دې کښې کومه سزا بده ده.آیا هغه طریقه چه په کښې دغیرالله عبادت اودهغې نه دا وبال وی یا هغه طریقه چه سراسر د توحید اود نبیانو ﷺ دپیغمبرئی تصدیق وی یقینًا ددې جاج اخستلونتیجه هم دغه ده چه]﴿ أُولَٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَأَضَلُّ عَن سَوَآءِ السَّبِيلِ ﴾داسې کسان [دکوموطریقه چه اوس بیان شوه په آخرت کښې] دمکان په اعتبار سره هم [چه د سزا په ډول به ورکولې شی] ډیر خراب دی [ولې چه دغه مکان دوزخ دې] او [په دنیا کښې] دسمې لارې نه هم ډیرلرے دی [اشاره داده چه تاسو خلق مونږ پورې خندا کوئی حالانکه د ټوقو جوگه طریقه هم ستاسو ده ولې چه دغه ټول کارونه او ټولې خبرې په تاسو کښې داسې موندې شی چه یهودو د څخی عبادت کړې دې ، نصرانیانو حضرت مسیح ﷺ لره یئ خدائې جوړے کړې دې بیا خپلو عالمانو او پیرانو ته د خدائې اختیارات سپارلی دی.ددې کبله هرکله چه یهودیان دخالی[هفتې] د ورځې د احکامو نه خلاف ورزی اوکړله نود الله ﷻ عذاب راغلو هغوی نه بیزوگان جوړ کړې شو اَود نصرانیانو په درخواست باندې د آسمان نه خوانچه نازلیدل شروع شو.هغوی بیا هم ناشکری اوکړه نوهغوی نه بیزوگان او خنزیران جوړ شو.وړسے ددوئ دیوې بلے ډلے بیان دے کومه چه دمنافقانوډله ده دمسلمانانو په مخکښې به یئ خپل اسلام ښکاره کولو اوپه پټه هم یهودیان وو]. ﴿ وَإِذَا جَآءُوكُمْ قَالُوٓا ءَامَنَّا وَقَد دَّخَلُوا بِالْكُفْرِ وَهُمْ قَدْ خَرَجُوا بِهِۦ ﴾اوکله چه دغه [منافقان] خلق ستاسو خواته راځی نو وائی چه مونږ ایمان راوړلے دے حالانکه هغوی هم کفرراوړے وو [او دمسلمانانو مجلس ته راغلی وو او کفر ئے یوړو [او] لاړل ﴿ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا كَانُوا يَكْتُمُونَ ﴾ اوالله ﷻ خو ښه پیژنی هغه څه

چه دوی [په خپل زړه کښې] پټ لرلی دی [په دې وجه به ددوی منافقت دالله ﷻ په مخکښې کار ورنکړی اودکفر ډیرے ناکاره سزا سره به مخ شی].

معارف اومسائل

﴿أَكْثَرَكُمْ فَٰسِقُونَ۝﴾ دلته الله تعالی دټولو په ځائې اکثر [زیات] یهودیان اونصاری په خطاب کښې دایمان نه بهراوښودل، وجه ئې داده چه په دوئ کښې ځنې خلق داسې هم ووچه په هر حال کښې مؤمنان پاتې شوی ووترڅوپورې چه رسول الله ﷺ پیغمبرنه ووجوړکړې شوې هغوئ دتورات او انجیل داحکامو تابعداری کوله اوپه هغې ئې ایمان راوړلو، کله چه رسول الله ﷺ ته پیغمبری ورکړې شوه اوقرآن کریم نازل شونوپه هغوئ ﷺ ئې ایمان راوړې وؤ اود قرآن په جوړئې عمل کولو،

په تبلیغ کولواوبلنې ورکولوکښې دمخاطب لحاظ ساتل: ؟ دلته په ﴿قُلْ هَلْ أُنَبِّئُكُم﴾ الفاظوسره دیو مثال په اندازکښې دداسې خلقوحال بیان شویدې چاباندې چه دالله تعالی لعنت اوغضب دې، سره ددې چه مصداق ئې په حقیقت کښې پخپله همدغه مخاطبین [اهلِ کتاب] وو، مقام داسې ووچه هم دوئ ته ئې وئیلې چه تاسو داسې یئی لیکن قرآن کریم ددې په ځائې ورته دیو مثال صورت ورکړو، په دې سره دپیغمبری بلنې اودعوت یوخاص اندازاوښودلې شوچه دهغې عنوان داسې پکاردې چه مخاطب ورسره راپاره کیږی نه.

وَتَرَىٰ　كَثِيرًا　مِّنْهُمْ
اوته وینې　ازیات خلق　ددوئ نه
اوته به په دوئ کښې ډیرکسان وینې ګورې چې..........
يُسَٰرِعُونَ　فِى ٱلْإِثْمِ　وَٱلْعُدْوَٰنِ　وَأَكْلِهِمُ　ٱلسُّحْتَ ۚ　لَبِئْسَ
چې منډې وهی | په ګناه کښې | اوپه ظلم کښې | اوپه خوړلو د دوی [کښې] | حرامو لره | خامخا بددې
ګناه او ظلم او حرامو خوړلو ته به په منډه منډه ورځی |.......... اودا ډیر
مَا　كَانُوا۟　يَعْمَلُونَ۝　لَوْلَا　يَنْهَىٰهُمُ　ٱلرَّبَّٰنِيُّونَ　وَٱلْأَحْبَارُ
هغه | چې وؤ دوئ | چې کول به ئې | ولې | نه منع کوی دوئ لره | عالمان | اوپوهان
بدکارونه دی کوم چې دوئ کوی |.......... ددوئ عالمان او پوهه خلق ولې دوی
عَن قَوْلِهِمُ ٱلْإِثْمَ　وَأَكْلِهِمُ　ٱلسُّحْتَ ۚ　لَبِئْسَ　مَا
د دوی د ګناه د خبرو نه | اودخوړلو ددوئ | حرامو لره | خامخا ډیر بد دې | هغه کار
دګناه د خبرو نه او د حرام خوړولونه نه منع کوی |.......... حقیقت دا دې | چې دوی ډیربد
كَانُوا۟　يَصْنَعُونَ۝　وَقَالَتِ　ٱلْيَهُودُ　يَدُ ٱللَّهِ　مَغْلُولَةٌ ۚ　غُلَّتْ
چې دی دوئ | چې کوی ئې | اووایئ | یهودیان | چې لاس دالله | تړلې شوې دې | او دې تړلې شئ
کارونه کوی |.......... اویهودیان وائی چې دالله ﷻ لاسونه تړلې شوی دی | تړلې شوی خو

Scanned with Ca

آسان ترجمه قرآن: او دوی کښې به ته ډیر وګورې چه ګناه، ظلم او حرام خوړلو کښې به مخکښې کیږي ربښتیا خبره خو داده چه دوی کوم حرکتونه کوی هغه ډیر بد دی. ددوی مشایخ او علماء دوی لره د ګناه د خبرو کولو نه او حرامو خوړلو نه ولې نه منع کوي؟ حقیقت خو دا دی چه ددوی دا عمل ډیر ناکاره دی،

خلاصه تفسیر

[وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ فِى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۚ] او تاسو په دې [یهودو کښې] ډیر خلق داسې وینئ چې ډیر په منډه منډه ګناه [یعنی دروغو] او ظلم او حرام [مال] خوړلو باندې وړپریوزی [لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۞] واقعی ددوئ دا کارونه ډیر خراب دی [دا د عوامو حال وو، مخکښې د خواصو حال دې چې] [لَوْلَا يَنْهٰهُمُ الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ۚ] دوئ لره ددوئ مشائخ او عالمان د ګناه د خبرې څخه [د مسئلې او واقعې دعلم لرلو باوجود] ولې نه منع کوی [لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ۞] واقعی دا ډیر خراب عادت دې.

معارف او مسائل

دیهودو اخلاقی بربادی: ددې آیتونو څخه په رومبی آیت کښې اکثر دیهودو د پریوتی اخلاقی او عملی بربادئ بیان دې چه آوریدونکی ترنصیحت واخلی، او ددغې کارونو او ددې د اسبابو نه ځان ساتی،

اګرچه عموما دیهودو هم دغه حال وو لیکن په دوئ کښې څه ښه خلق هم وو، ځکه قرآن کریم دهغوئ دمستثنی کولو دپاره د ﴿كَثِيْرًا﴾ لفظ استعمال کړو، او زور ظلم، زبردستی او حرام خوری اګرچه دواړه د لفظ [اِثْمٌ] [ګناه] په مفهوم کښې داخل دی لیکن ددې دواړو قسمو ګناهونو دتباه کارئ او ددې په وجه دټول اطمینان او امن دبربادئ واضح کولو دپاره ئې په خصوصیت سره ددې ذکر بیل او کړو [بحر محیط] ([1])،

په تفسیر روح المعانی وغیره کښې دی چه ددې خلقو په باره کښې په دې عنوان اختیارولو سره [چه دوئ په منډه منډه په ګناهونو باندې وړپریوځی] قرآن کریم دې اړخ ته اشاره او کړه چه دا خلق ددغه بدو خویونو عادتی مجرمان دی او دا بد عملونه د دوئ په رګ رګ کښې داسې ورننوتی دی چه بې دڅه ارادې نه هم دغې اړخ باندې چلیږی ([2])،

دې نه معلومه شوه چه هر یو عمل [بد یا ښه] چه څوک ډیر ډیر کوی، هغه دده یو پوخ عادت ګرځی چه دهغې په کولو کښې ده ته څه مشقت نه وی، چنانچه په بدو خویونو او عادتونو کښې یهودیان دغې حدته رسیدلی وو چه دهغې دښکاره کولو دپاره ئې او فرمائیل: ﴿يُسَارِعُوْنَ فِى الْاِثْمِ﴾ او دغه شان په ښو خصلتونو او عادتونو کښې دانبیاء، اولیاؤ حال هم دې لکه چه قرآن کریم د دوئ په باره کښې فرمائی: ﴿يُسَارِعُوْنَ فِى الْخَيْرٰتِ ۚ﴾

دعملونو درست کولو طریقه: دټولو نه زیات دعملونو درست کوونکی حضرات صوفیائې کرام او اولیاء الله دی، دغه حضراتو هم ددغې قرآنی ارشاداتو نه، دا زیات ضروری اصول اغستی دی، چه هر څو مره بد یا ښه عملونه چه انسان کوی دهغې بنیاد هغه پټې ملکې او اخلاق وی چه دانسان

[1]) تفسیر البحر المحیط تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۲۷۱

[2]) روح المعانی تحت هٰذه الآية: ج ۶، ص ۱۷۹

یو قسم طبیعت جوړ شوی وی، په دې وجه د بدو عملونو او جرمونو د بندیز د پاره د هغوئ نظر هم په دغه پټو ملکو وی چه درستوالې ئې راولی نو ټول عملونه ئې ورسره پخپله درست شی، مثلاً د چا په زړه کښې د دنیوی مال حرص غلبه وی، د دې په نتیجه کښې هغه، رشوت هم اخلی، سود هم کوی، که موقعه په لاس ورشی نو ډاکې او غلا کولو ته هم لاس واچوی، صوفیائې کرام، د دې جرمونو د بیل بیل علاج کولو په ځائې هغه نسخه ورد پاره استعمالوی چه د دې ټولو جرمونو، بیخ بنیاد پرې اوځی، هغه د دنیا ناپائیداری ده، او د دې زهرجن عیش، عشرت را مخې ته کول دی،

دغه شان د چا په زړه کښې چه تکبر او غرور وی، یا غصه پرې غالبه وی، د نورو خلقو بې عزتې او سپکاوې کوی، د دوستانو ګواندیانو سره جنګونه کوی، دغه حضرات د آخرت فکر او د الله تعالی په وړاندې د جواب ورکولو فکر ځان ته راوړاندې کړی او هغه نسخه استعمال کړی چه ورسره دغه عملونه پخپله ختمیږی،

خلاصه دا شوه چه د دې قرآنی اشارې له مخې معلومیږی چه په انسان کښې داسې ملکې وی چه هغه دده دویم طبیعت جوړ شی چاکښې چه د خیر، ښیګړې ملکې وی نو پخپله ترې خیر ښیګړې عمل صادریږی، او چاکښې چه د شر او فساد ملکې وی هغوئ بدو عملونو ته پخپله په منډه ورځی، چه مکمل سمون راوستل غرض وی نو هغې د پاره د دې ملکو سمون راوستل ضروری دی،

په علماؤ باندې د عوامو د عملونو ذمه واری: په بل آیت کښې د یهود و د پیرانو او علماؤ ته په دې سخت خبرداری ورکړې شویدې چه هغوئ د دغې خلقو له د بدو عملونو ولې نه منع کوی، دلته په قرآن کریم کښې دوه الفاظ استعمال شویدی یو لفظ ﴿الرَّبّٰنِيُّوْنَ﴾ دې چه ترجمه ئې [خدائی خلق] ده، یعنی عابدان، زاهدان خلق چه زمونږ په عرف کښې ورته درویشان، پیران یا مشائخ وئیلې شی او بل لفظ [أحبار] دې چه معنی ئې [د یهود و علماء] ده، دې نه معلومه شوه چه اصل ذمه داری د [امربالمعروف] او [نهی عن المنکر] په دې دواړو ډلو ده، ځنې مفسرینو ﷺ فرمائیلی دی چه [ربانیون] نه مراد هغه علماء دی چه د حکومت له اړخه ورته امر شوې وی او د اقتدار خاوندان وی او د [احبار] نه مراد عام علماء دی، په دې صورت کښې، جرمونو نه د منع کولو ذمه داری په حاکمانو او علماؤ د دواړو راځی چنانچه په ځنې نورو روایتونو کښې د دې وضاحت هم راغلې دې،

عالمانو او پیرانو له خبرداری: په آخر د آیت کښې فرمائی: ﴿لَبِئْسَ مَاكَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ [یعنی د دې مشانخو او علماؤ یو بد عادت دا جوړ شویدې چه [امربالمعروف] او [نهی عن المنکر] نه کوی، د قوم هلاکیدل په خپلو سترګو وینی خو منع کوی ئې نه،

مفسرینو ﷺ فرمائیلی دی په ړومبی آیت کښې د عوامو د ناکاره کارونو بیان وو نو د هغې په آخر کښې او فرمائیلې شو: ﴿لَبِئْسَ مَاكَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ او د بل هغه آیت په آخر کښې چه مشائخو او علماؤ ته د هغوئ په غلطئ خبرداری ورکړې شویدې داسې او فرمائیلې شو: ﴿لَبِئْسَ مَاكَانُوْا يَصْنَعُوْنَ﴾

د دې مطلب دا راوځی چه په عربی لغت کښې [فعل] په قصد یا بې قصده کار ته وئیلې شی او [عمل] صرف هغه کار ته وئیلې شی چه په قصد او اراده کولې شی، او [صنع، صنعت] داسې کار ته وئیلې شی چه په قصد او اختیار سره کولې شی او د عادت او مقصد په ډول بیا بیا سمولې او کولې شی، په دې بنا باندې د عوامو د بد عملئ په نتیجه کښې خو صرف د [عمل] لفظ داسې اختیار کړې شو: ﴿لَبِئْسَ مَاكَانُوْا يَعْمَلُوْنَ﴾ او د خاصو خلقو، مشائخو او علماؤ د غلط کارئ په نتیجه کښې د [صنع] لفظ داسې اختیار کړې شو: ﴿لَبِئْسَ مَاكَانُوْا يَصْنَعُوْنَ﴾ دې سره اشاره دې،

Scanned with Ca

خبرې ته هم کيدې شي چه علماء او مشائخ دومره غلط کردار اداکوي چه سره ددې پوهيدونه چه عوام به د دوئ په منع کولو سره دبدوکارونونه منع شي اوبيائې هم په قصد سره صرف ددې کبله نه منع کوي چه د دوئ شکرانو کښې به څه کموالې ياختميدل راشي يابه د دوئ دمريدئ نه اوځي، هرکله چه په دوئ کښې دحق جذبه دسره نشي موندې ځکه د دوئ داکردار، دبدکارو خلقو دبدو عملونو کولونه هم زيات سخت دې،

حاصل ئې داراؤوتوچه که يو قوم په جرمونو او ګناهونو کښې اخته شي اوعلماء او مشائخ ئې په دې پوهه کوي چه زمونږ په منع کولوسره به هغوئ ددې نه منع شي اوبيائې هم دځه نذرانو د لالچ اوويرې نه نه منع کوي، نود دوئ جرم داصل مجرمانونه زيات سخت دې حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمائيلي دي چه په ټول قرآن کښې دمشائخو اوعلماؤ دپاره ددې نه زيات سخت خبرداري بل چرته نشته، اودتفسير امام ضحاک رحمه الله فرمائيلي دي چه [زما په نزد، مشائخو اوعلماؤ دپاره ددې آيت نه زيات دويرې [خوفناک] آيت بل نشته [ابن جرير رحمه الله، ابن کثير رحمه الله] (۱).

وجه ئې داده چه ددې آيت له مخې د دوئ جرم دټولو غلو، داکوانو اوهرقسم بدکارو خلقونه زيات جوړيږي [العياذبالله] خو يادلرئ چه داسختوالې او غصه به په هغه صورت کښې وي چه علماؤ او مشائخ په اندازې سره د دوئ دخبرې منل معلوم کړي، اوکله چه په تجربې سره غالب ګمان نشي کيدې ياغالب ګمان ئې دنه آوريدو اونه منلو وي اوپه مقابله کښې ورته تکليفونه اوزيانونه رسولې شي نوپه داسې ځايونو کښې حکم دادې چه ذمه دارئ خوبه ئې ختمه شي، خوزيات غوره بياهم دادی چه خپل فرض دې اداکوي اګرچه څوک ئې نه آوري اونه ئې مني، اوپه دې کښې دې د چا د ملامتيا يا زيان ورکولو انديښنه نه کوي، ځکه چه څوآيتونه وړاندې دالله تعالی دمقبولو مجاهدينو په صفتونو کښې داسې تيرشويدي: ﴿وَلَا يَخَافُونَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ﴾ [يعني داخلق دالله تعالی په لارکښې اودحق خبرې په ښکاره کولو کښې دچا ملامتګر دملامتياپروانه کوي،

خلاصه ئې داشوه چه کله دخبرې آوريدو او منلو غالب احتمال او ګمان وي هغه وخت په علماؤ او مشائخو څه چه په هرمسلمان باندې دګناه په بنديز کښې دخپل وس مناسب کوشش کول فرض دی کوم چه ددې جرم کيدل اوګناه کيدل پيژني، دغه کوشش په لاس، ژبې ياکم نه کم په زړه سره کيدې شي چه په زړه کښې هغې لره سپک اوناکاره ګڼړي، البته په هغه کښې خومنع کول اوايسارول فرض نه دي چه غالب ګمان ئې دخبرې نه آوريدو راشي يادې ګمان ئې غالب شي چه ماسره به دښمني شروع کړي، خوبيا هم زيات غوره او بهتر کاردادې چه امربالمعروف اونهي عن المنکر جاري اوساتی، ځنګه چه داتفصيلات دصحيح احاديثونه راغستې شويدي، پخپله نيک عملي کول اوبدعملئ نه بچ کيدل او بل لره نيکئ ته بلل اوبدئ نه ئې بچ کول په عامو مسلمانانو اوخصوصا په علماؤ او مشائخو باندې ددې ذمه داري اچول، په دنيا کښې دامن اواطمينان پيداکولو دپاره اسلام داسې يو روښانه اصول جوړ کړيدی چه هرکله پرِ عمل اوکړې شي نوټول قوم په ډيرې آسانئ سره دټولو خرابونه پاکيدې شي،

۱) تفسير الطبري لابن جرير تحت هٰذه الآية: ج ۱۰، ص ۴۴۹ وتفسير ابن کثير تحت هٰذه الآية: ج ۳، ص ۱۴۳

Scanned with Ca

دامت داصلاح طریقه:: داسلام په ړومبوزمانو کښې اودې نه پس، تر کومه وخته چه په دغې اصولو عمل جاری وو، نود مسلمانانو ټولقوم دعلم، عمل، اخلاقواو کردارپه لحاظ سره په ټوله دنیاکښې سربالااوځانګړې حیثیت لرلو، کله نه چه مسلمانانو دافریضه پریښوه، دجرمونو بندیزرا وستل ئې یواځې دحکومت اوپولیس ذمه داری اوګڼړله اوپخپله ترې لاس په سرشو، نو نتیجه ئې نن هرځائې کښې خلق په خپلوسترګووینې، چه دیودینداره مور، پلاراودشریعت دپوره پابندخاندان اولاداوکشران دهغوئ نه په بله لار روان دی، دهغوئ خیالات اوسوچ فکرهم جدادې، او دعمل طریقې ئې هم بیلې دی، همدغه وجه ده چه دملت داجتماعی اصلاح دپاره په قرآن اوحدیث کښې په امربالمعروف اونهی عن المنکرباندې خاص زور ورکړې شویدې دې کارلره قرآن کریم دامت محمدیه په خصوصیاتو کښې شمیرلې دې اودې نه خلاف کول ئې سخته ګناه اودعذاب باعث ګرځولې دې، چنانچه په یوحدیث کښې رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه [هرکله په یوقوم کښې دګناه کارکولې شي اوددغه قوم هیڅوک ئې نه منع کوی نونزدې ده چه الله تعالی په دغې خلقو[ټول قوم] باندې عذاب راؤلیږی [بحرمحیط]([1]).

په ګناهونوباندې دګرکې نه بکاره کولو وعید [دړکه]:: مالک بن دینار رحمه الله فرمائیلی دی چه په یوځائې کښې الله تعالی خپلوفرښتوته حکم ورکړوچه فلانئ علاقه تباه کړئ، فرښتو عرض اوکړوچه په دغه علاقه کښې خوستایوعبادت کوونکې بنده اوسیږی، حکم ورته اوشوچه هغه هم په عذاب کړئ ځکه چه زمونږپه نافرمانیؤاوګناهونولیدلوسره هغه ته غصه هم نه ده ورغلې اومخ ئې دغصې له کبله هډوبدل شوې نه وو([2]).

حضرت یوشع بن نون علیه السلام ته الله تعالی وحی راؤلیږله چه ستادقوم یولاکهه خلق به په عذاب سره هلاکولې شی، چه په هغوئ کښې به څلویښت زره هغه خلق هم هلاکیږی چه نیکو کار وواوشپیته زره هلاکیږی، حضرت یوشع علیه السلام عرض اوکړوچه اې رب العالمین: د بد عملو خلقو د هلاکیدو وجه خوښکاره ده لیکن نیک خلق ورسره ولې هلاکولې شی؟ ارشادئې اوکړوچه دغه نیکانو خلقو به بدعملوخلقوسره دوستانه تعلقات لرل، هغوئ سره به خوراک، څکاک، خندا، خوشحالی اوګپ شپ کښې شریک پاتې کیدل، زمانافرمانئ او ګناهونه به ئې چه لیدل نو کله ئې هم هغوئ سره مخ تریؤشوې نه وو اداټول روایتونه دبحر محیط نه منقول دی]([3]).

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللهِ مَغْلُوْلَةٌ ۚ غُلَّتْ
اووایئ ا یهودیان ا چې لاس دالله ا تړلې شوې دې ا او دې تړلې شی
ا.............اویهودیان وائی چې دالله ﷻ لاسونه تړلې شوی دی ا تړلی شوی خو
اَيْدِيْهِمْ وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا ۘ بَلْ يَدٰهُ
لاسونه ددوئ ا اولعنت کړې شوې دې په دوئ ا په سبب دهغه ا چې وائی دوئ ا بلکه ا دواړه لاسونه د هغه
ددوئ لاسونه دی ا او د دې وینا کولوپه وجه په دوئ باندې لعنت وئیلې شوې دې ا بلکه دالله ﷻ

[1]) تفسیر البحر المحیط تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۲۷۱ والمعجم الکبیر للطبرانی رقم الحدیث: ۲۳۲۳
[2]) د دے مضمون حدیث المعجم الأوسط للطبرانی کښ موجود دے، رقم الحدیث: ۷۸۲۶
[3]) تفسیر البحر المحیط تحت هٰذه الآیة: ج ۲، ص ۲۷۱، ۲۷۲

Scanned with Ca

مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَآءُ ؕ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ

فراخه | دي | خرچ کوي | څنګه چي | غواړي هغه | اوخامخا زياتوي | ډيرو خلقو لره | د دوئ نه

لاسونه خو پرانيستي دي | چي څنګه غواړي هغه شان خرچ کوي | حقيقت دادې چي تاته د الله ﷻ د طرفنه

مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ؕ

هغه کلام | چي نازل کړې شوې دې | تاته | د طرفه درب ستانه | په سرکشۍ سره | اوپه کفر سره

کوم کتاب نازل شوې دې | هغه په دوئ کښي د ډيرو خلقو دپاره د سرکشۍ او کفر سبب ګرځيدلې دې.

وَاَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ

اواچولي ده مونږه | په مينځ د دوئ کښي | دشمني | اوبغض | دورځې دقيامت پورې

[اوددې په سزا کښي] مونږ د دوئ په مينځ کښي ترقيامته پورې دښمني اوبغض واچولو

كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ وَيَسْعَوْنَ

هرکله چي | بل کړو دوئ | وور | دپاره د جنګ | مړ کړو هغه | الله | اوکوشش کوي دوئ

چي کله هم دوئ د جنګ اور بل کړي | نو الله ﷻ به ئي مړ کوي | ....اودوئ کوشش کوي

فِي الْاَرْضِ فَسَادًا ؕ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ۝ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ

په زمکه کښې | دفساد | اوالله | نه خوښوی | فساد کونکی | اوکه بيشکه | اهل کتابو

چي د زمکې په مخ فساد خور کړي | او فساديان خود الله ﷻ بالکل ناخوښه دي | کچرې دې اهل کتابو

اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ

ايمان راوړې وې | اوتقوی ئي اختيار کړې وې | نو خامخا به لرې کړې وې مونږه | دهغوئ نه | ګناهونه دهغوئ

ايمان راوړې وې | او پرهيزګاران جوړ شوي وې | نو مونږ به دوئ ته ګناهونه معاف کړي وو

وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ۝ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا

اوخامخا به داخل کړې وې مونږ هغوئ لره | جنتونو | دنعمتونو ته | اوکه | بيشکه دوئ | قائم کړې وې

اودوئ به مو د نعمتونو د کو باغونو ته داخل کړي وو | ....او که چرې دوئ

التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ

توراة | اوانجيل | اوهغه | چي نازل کړې شوې دې | دوئ ته | د طرفه درب د دوئ نه

په تورات او په انجيل او په هغې کتابونو چي د الله ﷻ د طرفنه ورته راغلي دي قائم ولاړ وې

لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ ؕ مِنْهُمْ

نوخامخا به ئي خوراك کولې | د پاس خپل نه | او د لاندې | د پښو خپلو نه | څيني د دوئ نه

نو د بره نه به پرې رزق راوريدلو | او د ښکته نه به ورته راتو کيدلو | .... په دوئ کښي

اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ؕ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ ۝

څه خلق دي | انصاف والا | اوزيات | د دوئ نه | ډير بد عمل دې اهغه | چي کوي ئي دوئ

يوه ډله په سمه لار هم روانه ده | خوزيات خلق په کښي ډير بدکاره دي

Scanned with Ca

يَآيُّهَا الرَّسُوْلُ	بَلِّغْ	مَآ	اُنْزِلَ	اِلَيْكَ	مِنْ رَّبِّكَ ؕ
ائي رسوله	اورسوه	هغه	چي نازل كړي شوي دي	تاته	دطرفه درب ستانه
انې پيغمبره ﷺ په تا چې دخپل رب دطرفه كوم [احكام] نازل شوي دي | هغه ټول خلقو ته اورسوه					
وَاِنْ	لَّمْ تَفْعَلْ	فَمَا بَلَّغْتَ	رِسٰلَتَهٗ ؕ	وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ	مِنَ النَّاسِ ؕ
اوكه چرې	اونه كړو تا	نواونه رسوو تا	پيغام دهغه	اوالله به بچ كوى تا	د خلقو نه
اوكه چرې داكاردې اونه كړلو | نو دالله يو حكم به دې هم نه وى رسولې | اوالله به تا دخلقو [دشر] نه بچ ساتى					
اِنَّ اللّٰهَ	لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ	الْكٰفِرِيْنَ ۝		
بيشكه الله | نه ښائى لار		قوم	كافرته		
بيشكه الله كافرو ته سمه لار نه ښائى |					

آسان ترجمه قرآن: او يهود وائي چه دالله لاسونه تړلي شوي دي، لاسونه خو پخپله ددوى تړلي شوي دي، او كومه خبره چه دوى كوي د هغې د وجې نه په دوى لعنت لا جدا كړې شوې دې بلكه د الله دواړه لاسونه كهلاؤ دي او څنګه چه وغواړى نو خرچ كوي ئې، او (اې پيغمبره!) په تا چه كومه وحى نازله شوې ده دا به په دوى كښې د ډيرو په سر كشۍ او كفر كښې نوره اضافه كوى، او مونږ دوى كښې تر قيامته پورې عداوت او بُغض پيدا كړى دى. كله هم چه دوى د جنګ د پاره اور بل كړي نو الله ئې مړ كوي اودوى په زمكه كښې فساد خوروي. حال دا چه الله فساد كونكو لره نه خوښوي. او كه اهل كتابو ايمان راوړې وې او تقوىٰ ئې اختيار كړې وې نو مونږ به ضرور ددوى ګناهونه معاف كړي وواودوى لره به ضرور مونږ دآرام اوراحت په باغونو كښې داخل كړى وو او كه دوى په تورات او انجيل او كوم كتاب چه دوى ته ددوى د رب د طرف نه نازل شوې دې ددې ئې صحيح صحيح پابندى كړې وې نو دوى به دڅان د بره نه او د لاندې د پښو نه هر طرف نه (د الله رزق) خوړلې (اګر چه) دوى كښې يوه ډله په صحيح لاره روانه ده مګر دوى كښې ډير خلق داسې دي چه د هغوى اعمال خراب دي. اې پيغمبره! څه چه تا ته ستا د رب د طرف نه نازل شوي دي د هغې تبليغ كوه، او كه داسې نه كوي نو (ددې مطلب به دا وي) چه تا د الله پيغام نه دې رسولې. او الله به تا لره د خلقو (د سازشونو نه) بچ كوي. يقين وكړه چه الله كافرانو ته هدايت نه كوي.

د ايتونو ربط: مخكښې تيرو شوؤ آيتونو كښې د يهوديانو بعضې اقوال ذكر شوى دى. اوس په دې آيتونو كښې نور زيات خاص احوال بيانيږى. قصه څه دا شان اوشوه چې لباش بن قيس او فخاص چې د قينقاع قبيلې سردار وو د الله ﷻ په حق كښې ډير ګستاخانه الفاظ اووئيل. د كوم بيان چې راروان دې. نو په دې باندې راتلونكى آيت مبارك نازل شو. كذافى اللباب برواية الطبرانى عن ابن عباس رضى الله عنه وبرواية ابى الشيخ عنه.

خلاصه تفسير

﴿ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ ؕ ﴾ او يهودو اووئيل چه دالله ﷻ لاس بند شوې دے [يعنى نعوذ باالله ﷻ كنجوسى كوى په حقيقت كښې] ﴿ غُلَّتْ اَيْدِيْهِمْ ﴾ هم ددوى لاسونه بند دى [يعنى حقيقت دادې چه پخپله بخيلان دى او الټه په الله ﷻ دغه تور پورې كوى] ﴿ وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا ۘ ﴾ او په خپلے دې

Scanned with Ca

وینا سره دوی درحمت [دالله] نه لرے کړې شو [چه اثر ئے په دنیا کښې ذلیله کیدل قید کیدل
او وژلے کیدل وغیره شو.اوپه آخرت کښې عذاب د جهنم شو. اوداسې هیچرې نشی کیدلې چه
الله ﷻ کښې ددې عیب احتمال هم وی] ﴿بَلْ یَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ یُنْفِقُ كَیْفَ یَشَآءُ ۭ﴾ بلکه دهغه دواړه
لاسونه خلاص دی [یعنی ډیر سخی او کریم دے خوهرکله چه حکیم هم دے خکه] څنګه چه
غواړی خرچ کوی [نوپه یهودوبه باندې دتنګۍ راتلوعلت حکمت دې چې ددوی دکفر په وبال
سره پرې راوستل کیدل علت ئے کنجوسی نه ده] او [دیهودو دکفر اوسرکشۍ دا خالت دې
چې که دوی ته دخپلې وینا باطلیدل په دلیل سره هم ثابت شی نو دوی به دهغې نه تویګار
نشی.دا خوئے دکفر اوسرکشۍ حالت دے چنانچه] ﴿ وَلَیَزِیْدَنَّ كَثِیْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَیْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْیَانًا
وَّكُفْرًا ۭ﴾کوم مضمون چه تاسوته ستاسو دپروردګار د طرفه رالیږلے شی هغه به په دوی کښې
دډیرو [خلقو] دسرکشۍ او کفر دترقۍ کولو سبب جوړشی [په دې شان سره چه دوی ددې هم
انکار کوی اول ئے سرکشی اوکفر وو اوداسې نورهم زیات شو] ﴿ وَاَلْقَیْنَا بَیْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى
یَوْمِ الْقِیٰمَةِ ۭ﴾ او [ددوی څخه دکفر په وجه چه په دوی لعنت شوې دې یعنی رحمت نه لرے کړې
شوی دی په دنیا کښې ددے یوه نخښه داده چه] مونږ په دوی کښې یو تریله [ددین په باره]
ترقیامته پورې دښمنی او بغض واچولو [چنانچه په دې کښې مختلفې فرقې دی او هره فرقه
دبلے دښمنه ده چناچه ددغې دښمنۍ او بغض په وجه] ﴿ كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ﴾ هرکله
چه [مسلمانانو سره] د جنګ اور ګرمول غواړی [یعنی د جنګ اراده ورسره لری] الله ﷻ هغه
لره ختم کړی [مړئے کړی یعنی رعب پرې پریوځی یاپه جنګ کښے ماتے اوخوری یا خپل مینځ
کښ داختلاف په وجه ئے اتفاق نه راځی] او کله چه دجنګ کولو نه پاتې راشی نودخپلے دښمنۍ
براس په بل شان [داسې اوباسی چه] ﴿وَیَسْعَوْنَ فِی الْاَرْضِ فَسَادًا ۭ﴾ په ملك کښې [پټ] فساد په
مخه کوی [لکه نوی مسلمانان دهوکه کول یو بل ته راپارول کوی.عوامو ته دتورات بدل احکام
آوروی اود اسلام نه یې اړوی] ﴿وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ الْمُفْسِدِیْنَ ۝﴾ اوالله ﷻ [چونکه] فساد کوونکو لره نه
خوښوی [یعنی بدی ئے شی څکه به ورته دفساد پوره سزا ورکولې شی که هغه په دنیا کښې
وی ورنه په آخرت کښې خوبه خامخا وی].﴿ وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا ﴾اوکه دے اهل کتابو
[یهودیانو اونصرانیانو دکوموحق څیزونه نه چه دوی منکر دی لکه دمحمد ﷺ دپیغمبرئ او
دقرا نه پاك په حق کیدل شو په دې ټولو] ایمان راوړلے وې او [درسول الله ﷺ په ذریعه چه کوم
کارونه دکفر اوګناه خودلے شوی دی دهغې ټولونه یې] تقوی [یعنی پرهیزګاری] اختیار ولې ﴿
لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَیِّاٰتِهِمْ ﴾ نومونږ به ضرور ددوی ټولے [تیرې شوې] بدئی [کفر شرك او ګناهونه چه
ټولو اقوالو او احوالو لرهٔ شاملے دی] معاف کړې وے لرې په معاف کولو سره [ضرور به یې دوی
لره دآرام] ﴿ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِیْمِ ۝﴾ او راحت [په باغونو کښې [یعنی په جنت کښې] داخل کړې
وے [داد آخرت برکتونه شو] ﴿ وَلَوْ اَنَّهُمْ اَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِیْلَ ﴾ اوکه دے خلقو [دغه بیان کړې
شوی ایمان اوتقوی اختیار کړې وے چه په نورو ټکو کښې داسې هم وئیلې شی چه] د تورات
او انجیل ﴿ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَیْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ ﴾ او دهغې کتاب چه ددوی دپروردګار له طرفه [اوس] دوی
ته [درسول الله ﷺ په ذریعه] راولیږلے شو [یعنی قران] پوره پابندی کولې [یعنی په دې کښې به
کومه کومه خبره چه د عمل کولو لیکل شویده په هغې ټولو ئے عمل کولې په دې کښې

Scanned with Ca

دپیغمبرئ تصدیق کول هم راغلل اوددې نه بدل شوی اومنسوخ شوی احکام اووتل ولې چه ددغې کتابونو مجموعه په دې باندې دعمل کولو دپاره نه وائی بلکه دهغې نه منع کوی] ﴿لَاَكَلُوْا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ اَرْجُلِهِمْ﴾ نو دے خلقو به [په دې وجه] دپورته نه [اوبه راؤ وری] اولاندے [یعنی زمکې] نه [به پیدا وار کیدو چه دهغې نه به ئې] ښه په آزادئ خوړلے [دا دایمان ددنیوی برکت ذکر شو لیکن په کفر کلك وو خکه پرې تنګی راوستلې شوه چه دهغې په وجه چه بعضو خلقو الله ﷻ ته د کنجوسئ نسبت کولو سره ګستاخی اوکړه مګر بیا هم ټول یهود او نصرانیان په یو شان نه دی چنانچه هم] ﴿مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ﴾ پدوی کښې یوه ډله په سمه لار تلونکی [هم] دی [لکه په یهودو کښې عبدالله بن سلام اودهغوی ملګری اوپه نصرانیانو کښې نجاشی او دهغه ملګری لیکن داسې په کښې لږ دی] ﴿وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُوْنَ﴾ او [پاتې] زیات په دوی کښې داسې دی چه کردارئې ډیر خراب دے [ځکه چه کفر او دښمنی نه به زیات خراب کردار بل کوم وی] ﴿يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ﴾ائې رسول ﷺ هغه څه چه ستاسو دپروردګار د طرفه په تاسو نازل کړې شوی دی تاسو [خلقو ته هغه] ټول اورسوئی ﴿وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسٰلَتَهٗ﴾اوکه [بفرض ومحال] تاسو داسے نه کوئی نو [داسے به ګڼړلے شی چه په ټولو پټولو سره] دا فرض نشی تر سره کیدې دغه شان د بعضو په پټولو سره دغه فرض کیږی اونه پوره کیږی] او [دتبلیغ په باره کښې دکافرو نه هیڅ مه ویریږئی ځکه چه] ﴿وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ الله ﷻ به تاسو لره دخلقو [دمقابلے] نه محفوظ لری [تاسو لره به هغوی قتل نه کړې شی او] ﴿اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ﴾ یقینًا الله ﷻ به کافرو خلقو ته [داشان قتلولو اوهلاکولو دپاره تاسو پورې] لار ورنکړی.

معارف اومسائل

دیهودو دیوې ادبئ جواب: ﴿وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ﴾ په دې آیت کښې دیهودو دیوسنګین جرم اویوه زیاته ناکاره کلمه دابیان کړې شوه چه دغې کم بختودا اوویل چه [معاذالله] الله تعالی نیستمن شو، واقعه داوه چه الله تعالی دمدینې یهود ډیر مالداره اوآسوده حال جوړ کړی وو، خو هرکله چه رسول الله ﷺ مدینې منورې ته تشریف راؤړو اودهغوئ ﷺ بلنه ورته اورسیده نودغه ظالمانوپه دغه وجه هغه قبوله نکړه چه قومی نذرانې اوشکرانې ئې دلاسه وتلې کومې به ئې چه دجاهلانه رسمونوروا جونوپه ذریعه حاصلولې داسې مخالفت ئې چه د رسول الله ﷺ اوکړونو الله تعالی ددې په سزاکښې په دوئ باندې دنیاتنګه کړه دوئ خواراو نیستمن شو، په دې وجه ددغې ضدیانو خلقوډژبونه داسې خبرې راخرګندې شوې چه [معاذالله] په خدائی خزانه کښې کمې راغلو، یاالله تعالی کنجوس شو، ددې جواب کښې آیت داسې اوفرمائیل چه لاسونه خوهم ددغه ویونکو خلقوبند کړې شویدی اولعنت پرکړې شویدې چه په آخرت کښې ئې اثرعذاب دې اوپه دنیاکښې سپکاوې اوبیعزتی ده، دالله تعالی لاسونه خو تل دپاره خلاص اوآزاد دی، دهغه سخاوت اوخوانمردی، تل داسې وه اوتل ترتله به وی، خو څنګه چه هغه پوره شته من اودفراخئ خاوند دې دغه شان حکیم هم دې، دغه خپل شته دخپل حکمت په تقاضاخرچ کوی، چرته چه مناسب اوګڼړی په هغوفراخی راولی اوچرته چه مناسب اوګڼړی په هغوتنګی راولی،

Scanned with Ca

بیانې داسې اوفرمائیل چه تاسو ﷺ باندې دقرآني بیاناتو دنازلیدو دفائدې اغستو په ځائې د دوئ کفر او انکار پرنور هم زیاتیږی او سختیږی، او الله تعالی د دوئ د خپل منځ کښې د فرقو اختلاف په دې غرض پیدا کړې دې چه خپل منځ کښې سره انښتی وی او مسلمانان ئې د شرنه بچ وی، ددې کبله به مسلمانانو سره په ښکاره د جنګ کولو حوصله نشی کولې او نه به ئې سازشونه چلیدې شی. ﴿كُلَّمَآ اَوۡقَدُوۡا نَارًا لِّلۡحَرۡبِ اَطۡفَاَهَا اللّٰهُ﴾ کښې د ظاهری جنګ ناکامئ او په ﴿وَيَسۡعَوۡنَ فِى الۡاَرۡضِ فَسَادًا﴾ کښې د پټو سازشونو د ناکامئ ذکر دې،

دالله تعالی په حکمونو باندې پوره عمل کول په دنیا کښې هم د برکتونو سبب دې: په آیت نمبر [٦٤] کښې یهودو ته هدایت ورکړې شو چه د تورات او انجیل د هدایاتو او د انبیاؤ ﷺ د ارشاداتو نه دغې خلقو، هیڅ فائده پورته نکړه، د دنیا لالچ په مخه واغستل، ټول هر څه ئې هیر کړل، نتیجه ئې دا شوه چه په دنیا کښې هم نیستمن شو، لیکن که اوس هم دغه خلق د ایمان او خداترسئ طریقه اختیار کړی نو مونږ به ئې ټول کړی ګناهونه معاف کړو، او ورته به په نعمتونو سره به ډك باغونه ورکړو،

دالله تعالی په حکمونو باندې پوره عمل په څه شان سره کیدې شی: ﴿وَلَوۡ اَنَّهُمۡ اَقَامُوا التَّوۡرٰىةَ﴾ په دې آیت کښې د دغه قسم ایمان او تقوی څه قدرې تفصیل بیان شویدې چه په هغې باندې د دنیوی برکتونو، آرام او راحت وعده په تیرشوی آیت کښې کړې شویده، هغه تفصیل دادې چه تورات او انجیل او وروسته نازل شوی آخری کتاب [قرآن کریم] له دې قایم کړی، دلته د عمل کولو په ځائې د اقامت [قائمولو] مراد دادې چه ددې په تعلیماتو باندې پوره پوره صحیح عمل هله وی چه په دې کښې څه کوتاهی، کمې او زیاتې نه وی، څنګه چه یوه ستنه [دآبادئ] هله درسته او صحیح بللې شی چه یو طرفته کږه نه وی بلکه بیخی نیغه وی،

حاصل ئې دا شو چه که نن هم، د تورات، انجیل او د قرآن کریم په هدایاتو باندې ایمان راوړی او په دې باندې د هدایاتو مطابق پوره پوره عمل کوی، نه پکښې څه عملی کوتاهی کوی او نه پکښې څه داسې زیاتې راولی چه د خپله ځانه جوړ شوی څیزونو له دین او ګرځوی، نو د آخرت د دغه نعمتونو به حقدار ګرځی چه وعده ئې کړې شویده او په دنیا کښې به هم د روزئ دروازې پرداسې پرانستې شی چه د پاسه به پرروزی راوریږی او د لاندې نه به ورته راختکیږی، د لاندې نه په ظاهره مراد په آسانئ سره په مخه د رزق ورکول دی [تفسیر کبیر][1].

په تیروشوؤ آیتونو کښې صرف د آخرت د نعمتونو وعده وه، په دې آیت کښې د دنیوی راحت او آرام وعده هم ډیر تفصیل سره بیان کړې شوه، ددې وجه داکیدې شی چه د یهودو د بد عملئ او د تورات او انجیل په احکامو کښې د بدلون راوستو، تاویل کولو او د مات ګډ کولو غټه وجه د دوئ د دنیا پرستی او د مال حرص وو، او دا هغه آفت وو چه قرآن کریم او د رسول الله ﷺ واضح نخښې ئې لیدل او سره د هغې ئې په دې باندې د عمل کولو نه بند کړی وو، دوئ سره ویره داوه چه که مونږ مسلمانان شو نو په حقیقت رانه مشروالی او سرداری ختمه شی، اوس د دینی پیشوایئ په وجه کومې شکرانې چې ملاویږی هغه به هم رابانډې بندې شی، لهذا الله تعالی د دوئ دغه شان وسوسې لرې کولو د پاره دا وعده هم اوفرمائیله چه که دوئ په رشتیا

[1]) التفسیر الکبیر تحت هٰذه الآیة: ج٦، ص١١١

سره ایمان او عمل صالح اختیار کړې نو په دنیوی راحت او دولت کښې به یې هم هیڅ کمې رانشي بلکه دوړاندې نه به زیات شي،

دیوې شبهې جواب: ددې تفصیل نه داهم معلومه شوه چه داخاص وعده هغه یهودیانو سره کړې شوې وه چه درسول الله ﷺ په مبارکه زمانه کښې موجود وو او د نبی کریم ﷺ مخاطب وو، هغوئ که دغه احکام منلې وې نو په دنیا کښې به هم ورته هرقسم راحت او نعمت ورکړې شوې وو، چنانچه هغه وخت کوم حضرات چه ایمان او نیک عمل اختیار کړو هغوئ ته دغه نعمتونه پوره ملاؤ شو، لکه نجاشي دحبشې بادشاه او عبدالله بن سلام شو. دې نه نه لازمیږي چه هر کله څوک دایمان او نیک عمل پابند شي نو په دنیا کښې به ورسره دروزئ فراخی ضرورروی او که پابند نشي نو دروزئ تنگی به ورسره ضرورروی، ولې چه دلته څه عامه قاعده یا ضابطه بیانول مقصود نه دی بلکه یو خاص ډلې او جماعت سره په خاصو حالاتو کښې وعده کړې شویده،

البته دایوه عامه قاعده او ضابطه ده چه دایمان او عمل صالح په ادا کولو باندې دپاکیزه ژوندورکولو وعده کړې شویده، چه دروزئ دفراخئ په صورت کښې هم کیدې شي، اود ظاهری تنگدستئ په صورت کښې هم، څنگه چه دانبیاؤ ﷺ او اولیاؤ ﷺ حالات په دې گواه دی چه هغوئ ته تل دپاره فراخ رزق نه دې ورکړې شوې البته پاکیزه ژوندتولوته ورکړې شویدې،

په آخر د آیت کښې دعدل او انصاف دتقاضا مطابق ئې داهم او فرمائیل چه بیان کړې شوې بدعملی او کاره تلل دټولو یهودیانو کار نه دې بلکه ﴿مِنۡهُمۡ أُمَّةٞ مُّقۡتَصِدَةٞ﴾ [په دوئ کښې یوه ورکوټې ډله په سمه لار هم شته] اگرچه زیات پکښې بدکاره او بدعمله خلق دی، په سمه لار باندې کیدونکی هغه خلق دی چه ړومبې خو یهودیان یا نصرانیان وو، بیائې په قرآن کریم او په رسول کریم ﷺ باندې ایمان راوړلو، په دې دواړو آیتونو کښې او ددې نه وړاندې په دوؤ رکوع گانو کښې په مخه دیهودو، نصاراؤ دکږوتلو، د گمراهئ، او داسلام په خلاف دسازشونو کولو بیان راوران وو،

دتبلیغ تاکید او رسول الله ﷺ ته تسلی ورکول: ددې انسانی فطرت مطابق طبعی طور سره دا کیدې شو. ① دمجبورئ او بې وسئ په صورت کښې کیدې شوه چه ددې په تقاضا سره ناامیده شوې وې او په تبلیغ او رسالت کښې ترڅه کمې راغلې وې او ② بل اثر دا هم کیدې شو چه دچا د مخالفت، دښمنئ او تکلیف پروائې نه لرلې او په تبلیغ او دپیغمبرئ په کار کښې په مخه لگیاوې چه په نتیجه کښې ورته دډښمنانو د لاسه تکلیفونه او مصیبتونه ور رسیدې، په دې وجه په دریم آیت کښې یو اړخ ته رسول الله ﷺ ته داحکم ورکړې شو چه کوم څه چه په تاسو ﷺ باندې دالله تعالی د اړخه نازلولې شي هغه ټول د یو مخه بغیر دڅه نا راستئ نه خلقوته رسوئ، ددې پروا مه کوئ چه څوک ئې بدگڼري یا ښه، مخالفت ئې کوي یا غاړه ورته اږدي. او بل اړخ ته ئې په دې زیری ورکولو سره ډاډگیرنه ورکړه چه د احکامو په تبلیغ کښې دغه کفار، تاسو ﷺ ته هیڅ نقصان نشي در رسولې، الله تعالی به دې پخپله حفاظت کوي.

په دې آیت کښې په دې جمله ښه غور کول پکار دی چه: ﴿وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥ﴾ که یو حکم خداوندی دې هم خپل امت ته اونه رسولو نو دخپلې پیغمبرئ فرض دې ادا نکړو، هم دغه وجه وه چه رسول الله ﷺ خپل ټول عمر مبارک ددې فریضې په ادا کولو کښې ښه په مړانې او

قوت سره اولګولو او دحجة الوداع مشهوره خطبه چه په يو حيثيت سره د اسلام آئين او دستور وو او بل اړخ ته د بو رؤف اورحيم او دمور پلار نه د زيات مشفق پيغمبر ﷺ آخري وصيت وو.

دحجة الوداع په موقعه درسول الله ﷺ بونصيحت: ددغې خطبې په موقعه هغوئ ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم يوې لوئې غونډې په وړاندې دډير ضروري هدايا تو ورکولو نه پس ددغې غونډې نه يو سوال او کړو: [اَلَاهَلْ بَلَّغْتُ] اګورئ: ما درته دين دراؤرسولو،] صحابه کرامو رضي الله عنهم اقرار او کړو چه ضرور دې ر اورسولو، هغوئ ﷺ بيا او فرمائيل: تاسو په دې ګواه اوسئ او ورسره ئې داهم او فرمائيل: [فَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الغَائِبَ] يعنې موجوده خلق دې غيرموجوده خلقوته دا اورسوي.[١] غائبينو نه مراد دلته هغه خلق هم دي چه په هغه وخت دنيا کښې ژوندي وو خو دغلته موجود نه وو او هغه خلق ترهم مراد دي چه پيدا نه وو او ترقيامته پورې به پيدا کيږي، چنانچه ددې پيغام رسولو طريقه علم دين خورول وو چه صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعينو رحمهم الله په ډير کوشش سره په ښه طريقه سرته اورسول،

ددې اثر دا وو چه په عامو حالاتو کښې صحابه کرامو رضي الله عنهم، درسول الله ﷺ ارشادات او کلمات دالله تعالى ديو دروند امانت پشان محسوس کړل او دخپل وس مطابق ئې پوره پوره کوشش اوکړو چه درسول الله ﷺ دخلې مبارکې نه آوريدلې يوه جمله هم بل چاته درسولو نه بغير پاتې نشي، که دخه خاص مجبورئ په وجه چا يو خاص حديث خلقوته چرې نه وو رسولې نو دخپل مرګ نه لږشان وړاندې درې څلور وکسانو ته يې هغه واؤرولو چه دغې امانت نه غاړه خلاصه کړي. چنانچه په صحيح بخاري کښې ديو حديث په باره کښې همدغه شان واقعه بيان شويده: [اخبربه معاذ عند موته تأثما][٢] [يعنې حضرت معاذ رضي الله عنه هغه حديث څکه دغه خلقوته بيان کړو چه دهغې نه د نه بيانولو په وجه د دنيا نه ګناهګار لاړ نشي]

دآيت په دويمه جمله کښې ﴿وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ کښې دا زيرې ورکړې شويدې چه دبيشميره مخالفتونو باوجود به هم دښمن تاسو ته هيڅ څه نقصان درنکړې شي، په حديث شريف کښې راغلي دي چه ددې آيت شريف دنازليدو نه وړاندې به څو کسه صحابه کرام رضي الله عنهم درسول الله ﷺ دحفاظت دپاره يعنې په سفر او غيرسفر کښې ورسره وو، چه دا آيت شريف نازل شو نو هغه ټول ئې رخصت کړل او ورته ئې فرمائيل چه اوس د څوکيدارئ او د حفاظت ضرورت څکه پاتې نشو چه الله تعالى پخپله دحفاظت ذمه داري واخسته[٣].

دحضرت حسن رضي الله عنه په روايت رسول الله ﷺ اوفرمائيل: چه هرکله ماته دتبليغ او پيغمبرئ احکام ملاؤ شو نو زړه کښې مې دا انديښنه پيدا شوه چه هر اړخ نه به خلق زما تکذيب او مخالفت کوي خو چه دا آيت نازل شو نو زړه مې آرام او تسلئ شو [تفسير کبير][٤]

چنانچه ددې آيت شريف دنازليدو نه پس دهيچا څه وس برنشو چه رسول الله ﷺ ته د تبليغ او پيغمبرئ په لار کښې څه تکليف اورسولې شي، په جنګ، جهاد وغيره کښې په عارضې ډول څه تکليف ورسيدل دې سره منافي نشي کيدې.

---

[١]) مسند أحمد رقم الحديث: ١٩٣٢ وشعب الإيمان للبيهقي رقم الحديث: ٣٩٢١

[٢]) صحيح البخاري، كتاب العلم، باب من خص بالعلم قوماً دون قوم الخ: ج١، ص ٢٢

[٣]) جامع الترمذي، أبواب التفسير، باب من سورة المائدة: ج٢، ص ١٣٥

[٤]) التفسير الكبير تحت هذه الآية: ج٦، ص ١١٣

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

| اووایه | ائي اهل کتابو

| ....ائي پیغمبره ﷺ دوی ته ښکاره اووایه

لَسْتُمْ عَلٰى شَيْءٍ حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰىةَ وَالْاِنْجِيْلَ

نه یئ تاسو | په هیڅ څیز باندې | ترهغې پورې | چې قائم کړئ تاسو | تورات | او انجیل

چې تاسو په هیڅ دین باندې نه یئ | ....ترڅو چې په تورات او انجیل باندې عمل اونکړئ

وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ ؕ وَلَيَزِيْدَنَّ

اوهغه چې | نازل کړې شوې دې | تاسو ته | دطرفه درب ستاسو نه | اوخامخا به زیاتوی

اوپه هغه کتاب عمل اونکړئ کوم چه تاسو ته ستاسو د رب دطرفه نازل شوې دې | او کوم کتاب

كَثِيْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا

زیاتو خلقو لره | ددوئ نه | هغه | چې نازل کړې شوې دې | تاته | دطرفه درب ستا نه | دجهته دسرکشۍ نه

چې تاته راغلې دې هغه به ددوئ ډیرو کسانو دپاره د زیاتې سرکشۍ او د لوئې کفر ....

وَّكُفْرًا ۚ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ۝ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

اود کفرنه | نومه کوه افسوس | په قوم کافر باندې | بیشکه هغه کسان | چې ایمان ئې راوړې دې

سبب اوګرځي | نو ته په دې کافرو باندې هیڅ کله افسوس مه کوه | بیشکه څوک چې مؤمنان دی

وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئُوْنَ وَالنَّصٰرٰى مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ

اوهغه کسان | چې یهودیان دی | اوصابیان دی | اوعیسایان دی | څوک چې | ایمان راوړی | په الله باندې

یا یهودیان دی | یا صابیان دی | یا نصاری دی | په دوئ کښې چې څوک هم په الله ﷻ

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ۝

اوپه ورځ دآخرت باندې | اوعمل ئې اوکړو نیک | نو نشته ویره | په هغوئ باندې | اونهٔ به هغوئ | غمژن کیږی

او په ورځ دآخرت ایمان راوړی | اونیک عمل کوی | نو په هغوئ باندې نه څهٔ ویره شته | اونه به غمژن شي

آسان ترجمه قرآن: ته ووایه اې اهل کتابو! ترڅو چه تاسو په تورات او انجیل باندې او چه کوم (کتاب) ستاسو د پروردګار د طرف نه تاسو ته (اوس) رالیږلې شوې دې ددې پوره پابندې نه کوئ نو ستاسو به څه بنیاد هم نه وي چه په هغې تاسو اودریږئ او (اې پیغمبره !) کومه وحي چه د خپل پروردګار د طرف نه تا باندې نازله شوې ده هغه به دوی کښې په ډیرو کښې سرکشي او کفر کښې زیاتوالې وکړي دې وجې نه ته په دې کافرانو باندې افسوس مه کوه. حقه خبره خو داده چه څوك هم خواه که هغه مسلمانان وی که یهودیان وی یا صابیان وی یا عیسایان ، په الله او په ورځ د آخرت باندې ایمان راوړی اونیك عمل وکړی نو نه به هغوی باندې څه ویره وی اونه به هغوی څه غم کښې مبتلا شي.

دآیتونو ربط: پورته اهل کتابو ته د اسلام ترغیب ورکړې شوې وو. او دې پسې ددې ذکر دې چې دوئ د کومې موجوده طریقې دعوی کوله هغه ناکاره ، ناکافي او نجات ورکوونکې نه ده،

Scanned with Ca

بلکه نجات صرف په اسلام کښې دې . او دوئ بیا هم په کفر باندې کلك ولاړ دی ، او رسول کریم ﷺ ته تسلي ورکړې شوې ده ، او ددې په مینځ کښې یو خاص مناسبت سره د تبلیغ ذکر راغلې وو.

خلاصه تفسیر

﴿قُلْ يَٰٓأَهْلَ الْكِتَٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَيْءٍ﴾ تاسو [یهودو اونصرانیانوته] اووائې چه ائې اهل کتابو تاسو په هیڅ یولار باندې نه یئ [ولې چه په یو نامقبوله لار باندې کیدل دیے لارې کیدو پشان دی] ﴿حَتَّىٰ تُقِيمُوا التَّوْرَىٰةَ وَالْإِنجِيلَ﴾ ترڅو چه دتورات او انجیل ﴿وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ﴾ اودهغه کتاب چه [اوس] تاسوته [درسول الله ﷺ په واسطه] ستاسو دپروردګار له طرفه رالیږلے شوې دے [یعنی دقران پاك هم] پوره پابندی اونکړئ [چه د هغه معنی ترغیب کول اوبرکتونه یې پورته ذکر شوی دی] ﴿وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَٰنًا وَكُفْرًا﴾ او[ائې محمد ﷺ هرکله چه ددوی اکثرخلق په ناکاره تعصب کښې انختی دي له دې وجې نه] ضرور [ده چه] کوم مضمون تاسوته ستاسو د پروردګار له طرفه رالیږلے شی هغه په دوی کښې د ډیرو د سرکشئ اودکفر دترقئ سبب جوړیږی [کیدیشی چه په دې سره تاسوته غم درد درسی خوچه معلومه شوه چه دغه خلق تعصب کووونکی دی] ﴿فَلَا تَأْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْكَٰفِرِينَ﴾ نوتاسو ددغه کافرو خلقو [په دې حالت باندې] غم مه کوئ. ﴿إِنَّ الَّذِينَ ءَامَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالصَّٰبِـُٔونَ وَالنَّصَٰرَىٰ﴾ دا تحقیقی خبره ده چه مومنان یهودیان فرقه دصابئینواو نصرانیانو [په دې ټولو کښې] ﴿مَنْ ءَامَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْءَاخِرِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا﴾ چه څوك یقین لری په الله ﷻ [یعنی دهغه په ذات او صفاتو] اوپه قیامت او کارګذاري ښه اوکړی [یعنی دشرعی قانون مطابق] ﴿فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ په دې سے خلقو [په آخرت کښې] نه به څه شان اندیښنه وې اونه به هغوی غمژن وی.

معارف اومسائل

اهل کتابوته دخدائی شریعت دتابعدارئ کولوهدایت: په رومبی آیت کښې اهل کتابو یهودو او نصاراؤته دخدائی شریعت دتابعدارئ هدایت په دې عنوان سره اوکړې شوچه که تاسوذشرعی احکامو پابندی اونکړه نوتاسوهیڅ نه یئ مطلب دادې چه داسلامی شریعت دپابندئ نه بغیر، ستاسو ټول کمالات اوعملونه سراسر بیکاره دی، تاسوته الله تعالی یو فطری کمال دادرکړیدې چه دپیغمبرانو ﷺ اولادیئی، بله داچه دتورات اوانجیل علمی کمالات هم لرئ، تاسو کښې ګنړ خلق درویش طبیعتی هم دی، مجاهدې، ریاضتونه هم کوی، خوددې ټولو څیزونو وزن دالله تعالی په نزدپه دې موقوف دی چه تاسودخدائی شریعت تابعداری کوئ، دې نه سوا، نه څه نسبی فضیلت په کارراځی، نه علمی تحقیقات دنجات اوخلاصی ذریعه ګرځی اونه ستاسو مجاهدې اوریاضتونه [چیلې وغیره]،

په دې ارشادسره مسلمانانوته هم داهدایت ورکړې شوچه درویش جوړیدل، سلوک او طریقت اختیارول، مجاهدات اوریاضتونه کول، کشف اوالهام برسیره کیدل، ترهغې پورې دالله تعالی په نز، دفضیلت اوخلاصی څه ذریعه نشی جوړیدې ترڅوچه دشریعت پوره پابندی اونکړې شی،

په دې آیت کښې دخدائی شریعت دتابعدارئ دپاره د دریؤ څیزونو دتابعدارئ هدایت کړې شویدې د ① تورات، ② انجیل چه ① یهودواو ② نصاراؤدپاره رومبې نازل کړې شوې وو

Scanned with Ca

③ ﴿وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ﴾ [هغه څه چه دالله تعالى دارخه تاسوته رالیږلي شویدي].
جمهورمفسرین رحمهم الله،صحابه کرام رضي الله عنهم اوتابعین رحمهم الله اتفاق لري چه دي نه مراد قرآن کریم دي کوم چه ټول امت دعوت ته سره دیهودونصاراؤدنبي کریم ﷺ په واسطه لیږلي شوي دي، لهذادآیت معنی به داسې وي چه ترڅوپورې دتورات، انجیل اوقرآن کریم په راوړلي احکامو باندې تاسوصحیح اوپوره پوره عمل نه کوئ ستاسوهیڅ قسم نسبي یاعلمي کمال به دالله تعالى په نز مقبول اومعتبرنه وي
دلته په دې خبره ژورنظراچول پکاردی چه په دې آیت کښې دتورات اوانجیل پشان د قرآن کریم دلنډنوم اغستلوپه ځائې دا اوږده جمله: ﴿وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ﴾ استعمالول څه حکمت لري؟ کیدې شي چه دې کښې دهغې احادیثومضمون ته اشاره وي په کوموکښې چه رسول الله ﷺ داسې فرمائیلي دي: څنګه چه ماته دعلم اوحکمت خزانه قرآن کریم راکړې شودغه شان نورعلوم اومعارف راکړې شویدي. چه په یوحیثیت سره ورته دقرآن کریم تشریح هم وئیلې شي، دحدیث شریف الفاظ دادي:
﴿الا اني اوتيت القرآن ومثله معه الايوشك رجل شبعان على اريكته يقول عليكم بهذا القرآن فماوجدتم فيه من حلال فاحلوه وما وجدتم فيه من حرام فحرموه وان ماحرم رسول الله ﷺ كما حرم الله﴾[1] خبرشئ چه ماته قرآن کریم راکړې شوی دی اوددې سره ددې پشان نورعلوم هم راکړې شوی دی په راتلونکې زمانه کښې داسې کیدونکې دی او قریب ده چه څوک ډک خیټې آرام پسندداً اووائي چه تاسولره یواځې قرآن کافي دې. کوم چې په دې کښې حرام دی هغه حرام ګنړئ او چې په دې کښې حلال دی هغه حلال اوګنړئ حالانکه حقیقت دادې چه کوم څیزلره دالله رسول ﷺ حرام ګرځولي دی هغه به دغسې حرام وی څنګه چه د الله تعالی [دکلام په ذریعه] حرام کړې شوې دې.
داحکامودرې قسمه: اوقرآن کریم پخپله هم ددې مضمون ګواه دې لکه فرمائي:
﴿وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلۡهَوَىٰٓ ۝ إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡيٞ يُوحَىٰ ۝﴾ [رسول الله ﷺ هیڅ یوه خبره دځانه نه کوی بلکه ټولې ورته دالله تعالى دارخه دوحی په ډول نازلیږي] په کومو حالاتو کښې چه رسول الله ﷺ یو اجتهادي اوقیاسي خبره اوکړي اودوحی الهی په ذریعه دهغې په خلاف ورته څه هدایت ورنکړې شي نوهغه هم په آخر کښې دوحي په حکم کښې شي.
خلاصه دکلام داشوه چه درسول الله ﷺ په ذریعه امت ته ورکړی احکام ① یاخوپه قرآن کریم په ښکاره بیان شویدی ② که په ښکاره نه وی نازل شوی نودیوبل طرزپه وحی سره ورته نازل شوی دی ③ دریم هغه دی چه هغوئ ﷺ په خپل اجتهادیاقیاس سره څه حکم ورکړې وی او الله تعالى د هغې خلاف بل څه حکم نه وی نازل کړې نوهغه هم دوحي په حکم کښې شول، ددرې واړه قسمونو تابعداري کول واجب دی اوپه ﴿وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ﴾ کښې داخل دی،
هرکله چه دقرآن کریم لنډنوم پریښودې شواوددې په ځائې دا اوږده جمله راوړې شوه، ﴿وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡ﴾ دې سره دې مطلب ته هم اشاره کیدې شي چه دهغه ټولو احکامو تابعداري کول لازم او واجب دی ① چه په ښکاره قرآن کریم کښې ذکر دی د ② بل طرزپه وحی

[1] سنن ابي داود، كتاب السنة، باب في لزوم السنة: ج ٢، ص ٦٣٢، وسنن ابن ماجه، مقدمة، باب تعظيم حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم: ص ٣، ومشكوٰة، كتاب الإيمان، باب الاعتصام بالكتاب والسنة: ج ١، ص ٢٩

سره ورته نازل شوی دی، یا ④ هغوئ ﷺ په خپل اجتهاد یا قیاس سره څه حکم ورکړې وی او الله تعالی دهغې په خلاف، بیا، بل څه حکم نه وی نازل کړې، په دې آیت کښې دغور کولو جوګه دویمه خبره داده چه پکښې یهود واو نصارا ؤته دتورات، او انجیل او قرآن [درې واړو] په احکامو باندې دعمل کولو هدایت کړې شویدې، حالانکه په دې کښې یو دبل دپاره منسوخ ګرځوونکې دې انجیل دتورات ځنې احکام منسوخ کړیدی او قرآن کریم دتورات او انجیل ډیر احکام منسوخ کړل نو بیا په درې واړو باندې عمل کول څنګه کیدې شی.

ددې جواب داشان ښکاره دې چه هر راتلونکې کتاب چې دړومبی کتاب کوم احکام بدل کړی نو په دغه بدل کړو احکامو باندې عمل کول هم په دواړو کتابونو باندې عمل کول شو، په منسوخ شوؤ احکامو باندې عمل کول د دواړو کتابونو دمقتضاء خلاف دی.

رسول الله ﷺ ته یونسلی ورکول: په آخر کښې درسول الله ﷺ دتسلئ کولو په غرض او فرمائیلې شو چه اهل کتابو سره زمونږ ددې رعایت او مهربانئ باوجود په دې کښې به ډیر داسې خلق وی چه د الله تعالی دغې مهربانئ نه به فائده نه اخلی، بلکه دهغوئ کفر او عناد به نور هم زیات شی، لهذا تاسو دې سره مه غمژن کیږئ او په دغه خلقو مه ترسیږئ،

څلورو قومونو ته دایمان او عملِ صالح ترغیب او په آخرت کښې دنجات وعده: په دویم آیت کښې الله تعالی څلور قومونه مخاطب کړل، دایمان او عملِ صالح ترغیب ئې ورکړو او په دې باندې ئې د آخرت د کامیابئ وعده ورسره او کړه، ړومبې ئې مسلمانان ذکر کړل لکه فرمائی: ﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا﴾ دوئیم یهود، لکه فرمائی: ﴿وَالَّذِينَ هَادُوا﴾ دریم ئې صابئین ذکر کړل لکه فرمائی ﴿وَالصَّابِئُونَ﴾ او څلورم ئې نصاری ذکر کړل لکه فرمائی: [وَالنَّصَارَىٰ] ددې څخه درې فرقې او قومونه خو مشهوردی چه ددنیا په اکثرو حصو کښې موندې شی لیکن د [صابئینو] یا [صابئه] په نوم باندې نن صبا هیڅ قوم نه یادیږی لهذا ددې په تاکلو کښې دعلمائې کرامو رحمهم الله او امامانو رحمهم الله اختلاف دې، چنانچه دتفسیر امام ابن کثیر رحمه الله دحضرت قتاده رضي الله عنه په حواله هم دا یو قول نقل کړیدې چه [صابئین] هغه خلق دی چه دفرښتو عبادت کوی او دقبلې نه بل اړخ ته مونځ کوی، دآسمانی کتاب [زبور] تلاوت کوی، کوم چه په حضرت داؤد عليه السلام باندې نازل شوې وو[1]،

د قرآن پاک د سیاق او طرز د ظاهر نه ددې قول تائید کیږی چه د کومو څلورو آسمانی کتابونو بیان په قرآن کریم کښې راغلې دې دهغې ټولو دمننونکو بیان هم پکښې راغلی دی.

چنانچه ددې مضمون یو آیت په سورت بقره کښې تقریبا په دې الفاظو سره داشان راغلې دې:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾

په دې کښې دمقام په تقاضا سره ځنې الفاظ وړاندې وروستو ذکر شویدی، دې نه سِوا، نور هیڅ فرق پکښې نشته،

دالله تعالی په نزد، دامتیاز دارومدار په نیک عمل باندې دې: ددې دواړو آیتونو دمضمون خلاصه داده چه زمونږ په دربار کښې نسبی، وطنی او قومی خصوصیت هیڅ شان نه لری، څوک چه پوره فرمانبرداری، اعتقاد او نیک عمل اختیار کړی، خواه که هغه دړومبې نه هر څنګه چه وی، هغه

---

[1]) تفسیر ابن کثیر، تفسیر سورة البقرة/ ٣ ج ١، ص ٢٨٦

Scanned with

زمونږ په نز مقبول او د هغه خدمت قابل قدر دي. او دا ښکاره خبره ده چه دقرآن کريم د نازليدو نه پس پوره فرمانبرداري په مسلمانانيدو باندې اړه لري، ولې چه په پخوانو آسماني کتابونو، تورات او انجيل کښې هم، ددې هدايات موجود دي او قرآن کريم خو سراسر هم دې د پاره نازل شوي دي، لهٰذا د قرآن کريم د نازليدو او د رسول الله ﷺ د پيغمبر کيدو نه پس په قرآن کريم او په رسول الله ﷺ باندې ايمان راوړونه بغير نه د تورات او انجيل تابعداري کول صحيح کيدې شي او نه د زبور. په دې وجه د آيت مطلب به داوي چه په دې ټولو قومونو کښې چه څوک مسلمانان شي، هغوئ به په آخرت کښې د نجات، خلاصي او ثواب حقدار ګرځي، په دې سره ددې خيال او سوال، جواب هم اوشو چه د دوئ تيرشوي کفر، تيرشوي ګناهونه، د اسلام او مسلمانانو خلاف شرارتونه يې کول د هغه به څه انجام وي؟ معلومه شوه چې مخکښې ټول ګناهونه او ټول هرڅه به ئې په مسلمانيدو سره معاف کيږي، په آخرت کښې به د داسې خلقو هيڅ انديښنه پاتې نشي نه به ورته څه غم او خفګان راپيښيږي،

په مضمون باندې د نظر اچولو نه په ظاهره دا معلوميږي چه دلته د مسلمانانو ذکر کول په دې وجه نه وو پکار چه هغوئ خو هسې هم هغې مقام د ايمان او فرمانبردارئ ته رسيدلي دي کوم چه دې آيت کښې غوښتلي شوي دي بلکه دلته خو د هغه خلقو ذکر کول پکار وو کوم چه دې مقام ته رابللي شي، خو دې خاص طرز سره چه مسلمانان هم پکښې ذکر کړې شول يو خاص بلاغت. دا شان پيدا شو چه مثلاً يو بادشاه په څه موقعه داسې اووائي چه زمونږ قانون عام دې څوک موافق يا مخالف چه فرمانبرداري کوي هغه به د مهربانئ او انعام حقداروي، اوس او ګورئ چه موافق خو هسې هم فرمانبرداري کوي، په اصل کښې مخالف ته آوړول دي، ليکن د موافق په ذکر کولو کښې حکمت دادې چه موافقو خلقو سره زمونږ مهرباني کول څه نسبي يا قومي خصوصيت په وجه نه دي بلکه دا د فرمانبردارئ په صفت باندې دارومدار لري، که مخالف هم فرمانبرداري کوي هغه به هم د مهربانئ او انعام حقداروي، دغې څلورو قومونو ته په خطاب کولو سره چه کوم هدايت ورکړې شويدې دهغې درې برخې دي،

① ايمان بالله، ② باليوم الاخر، او ③ عمل صالح،

په رسالت باندې دايمان راوړونه بغير نجات نشته: ښکاره خبره ده چه په دې آيت کښې د ټولو ايمانياتو او اسلامي عقيدو تفصيلات بيانول منظور نه دي اونه ددې موقعه ده بلکه مقصود دادې چه يو څو بنيادي عقيدو ذکر کولو سره ټولو اسلامي عقيدو ته اشاره اوکړې شي او دهغې اړخ ته بلنه ورکړې شي او دا هم ضروري خبره نه ده چه هر يو آيت کښې د ايمان په ذکر راتلو سره دهغې ټول تفصيلات بيان کړې شي، په دې وجه دلته اوس په رسول يا رسالت باندې د ايمان راوړلو په ښکاره ذکر کولو سره هغه چاته د هيڅ قسم شک شبهه ګنجائش نشته چه څوک معمولي پوهه، عقل، انصاف او هوښيارتيا لري، ولې چه پوره قرآن او ددې په سوؤنو آيتونه په رسالت باندې د ايمان راوړلو د تصريحاتو نه ډک دي، چنانچه هغې کښې داسې واضحه خبرې هم موجودې دي چه په رسول ﷺ او د رسول ﷺ په ارشاداتو باندې د مکمل ايمان راوړلو نه بغير خلاصي نشته، او هيڅ يو ايمان او عمل بغير د دې نه مقبول او معتبر نه دې، ليکن د بې دينو خلقو يوې داسې ډلې چه په څه شان سره په قرآن کريم کښې خپل ناکاره نظريات ورمنډل غواړي دلته په دې بنا يوه نوې نظريه قائمه کړه چه د قرآن او سنت د بيشميره تصريحاتو نه بيخي خلاف ده، چه نوې نظريه

ئي دا راؤښکله چه که هرڅوک په خپل خپل مذهب يهوديت، نصرانيت، هندوتوب، بت پرستئ باندې قائيم وي او صرف په الله تعالى اود قيامت په ورځ ايمان راوړي اونيک کارونه کوي نو د آخرت د خلاصى حقدار کرځي، دآخرت د نجات دپاره په اسلام کښې داخليدل ضروري نه دي؟[نعوذ بالله]،

چاته چه الله تعالى دقرآن کريم دتلاوت اوپه دې باندې دصحيح ايمان توفيق ورکړې دې، هغوئ دپاره دقرآني تصريحاتو په بناددې مغالطې لرې کول دڅه لوئې علم اونظر حاجت نه لرى، بلکه هغه کسان هم ددغې غلط خيال ناکاروالې په آسانئ سره معلومولې شى څوک چه دقرآن کريم صرف په اردو ترجمه هم پوهيږي دمثال په ډول يو څو آيتونه دادى:

قرآن کريم چه چرته ايمان مفصل بيان کړيدې دهغې الفاظ دسورت بقره په آخر کښې دادى: ﴿كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ ۟ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهٖ﴾ ټولو ايمان راوړو په الله، دهغه په فرښتو، دهغه په کتابونو، اودهغه په رسولانو ﷺ په داسې شان چه دهغه درسولانو ترمنځه څه قسم بيلتون نه راولو.

په دې آيت کښې يې دايمان تفصيلات بيان کړيدى په هغه کښې يې دا هم واضحه کړيدى چه په يو يادشمير په څو پيغمبرانو باندې ايمان راوړل نجات اوخلاصى دپاره بيخى کافى نه دى بلکه په ټولو رسولانو باندې ايمان راوړل شرط دى که چاصرف په يو رسول ﷺ هم ايمان رانه وړونو دهغه ايمان، دالله تعالى په نزد معتبر او مقبول نه دې،

بل ځائې کښې فرمائى:

﴿اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ ۙ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ﴾ کوم خلق چه الله تعالى اودهغه درسولانو ﷺ نه انکار کوى اوداغواړى چه دالله تعالى اودهغه درسولانو ﷺ ترمنځه داسې بيلتون راولى چه په الله خوايمان راوړى خو که د الله په رسولانو ايمان نه راوړې او هغه وائى چې موږ بعضې منو او بعضې نه منو او غواړى چه د کفر او اسلام په منځ کښې څه لار راوباسى نو ځان پوهه کړئ چه همدغه خلق په اصل کښې کافران دى،

رسول الله ﷺ فرمائيلى دى: ﴿لوكان موسى حيا لما وسعه الا اتباعى﴾(¹)، که بالفرض حضرت موسى ﷺ ژوندې وې نو هغه لره به زماد تابعدارئ کولو نه سوا بله څه لاره نه وه،

اوس که څوک داسې اووائى چه خپل خپل مذهب باندې روان خلق که په رسول الله ﷺ باندې ايمان نه راوړى او اسلام قبول نکړى نوبيا هم جنت مونډې شى اوپه آخرت کښې کامياب کيدې شى، نو دابه دقرآن کريم ددغه ذکرشوؤ آيتونو نه په ښکاره مخالفت کول وى.

ددې نه علاوه که هرمذهب او ملت داسې شى چه په هغې باندې هره زمانه کښې عمل کول دآخرت دخلاصئ او کاميابئ ذريعه جوړيدې شى نو بيا دخاتم الانبياء ﷺ مبعوث کيدل اودقرآن کريم نازليدل بې مطلبه ثابتيږى، اودغه شان ديو شريعت نه پس، دبل شريعت ليږل عبث جوړيږى، که داشان کيدې شوې نودټولونه رومبې رسول به چه کوم شريعت راوړې ووهغه به کافى وو، دنورو رسولانو ﷺ کتابونو او شريعتونو ليږلو هيڅ ضرورت نه وو، زيات نه زيات به

(¹) كنز العمال رقم الحديث: ١٠١٠

Scanned with Ca

داسي خلق موجود یدل کافي وو چه ددغه شریعت او کتاب باقي لرلو او په هغې باندې پخپله دعمل کولو اوبل لره په دې باندې عمل ته دراړولو انتظام ئې کولې چه عموماً دهر امت دعلماؤ فریضه پاتې شویده او په دې صورت کښې به دقرآن کریم دا فرمان ﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾ [مونږه، په تاسو کښې هر امت دپاره یو خاص شریعت او خاص لار جوړه کړیده] ټول به بې مطلبه ثابت شوی وو،

اوبیا به داڅنګه رواشوی وو، چه رسول الله ﷺ هغه خلقو، یهودو، نصاراؤ اونورو منکرانو سره، تبلیغي جهاد بلکه دتورې نیزې جهاد کړې وې، کوموچه په هغوئ ﷺ او په قرآن کریم باندې ایمان نه وو راوړې. که دانسان دمؤمن جوړیدلو، یادالله تعالی په نزد دمقبول کیدلو دپاره یواځې په الله تعالی اوپه ورځ دآخرت باندې ایمان راوړل کافي وې نوبیابه ابلیس په څه جرم کښې رټلې شوې ګرځیدو؟ آیا، هغه په الله تعالی ایمان نه لرلو؟ آیاهغه دآخرت په ورځ دایمان راوړلو نه منکروو؟ هغه خودغصې په حالت کښې هم [إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ] وئیلوسره، په آخرت باندې دایمان راوړلو اقرار کړیدې. حقیقت دادې چې دا مغالطه صرف ددې نظریې پیدا وار دې چې مذهب رشته دارو ته په تحفه کښې ورکولې شی اوددې په ذریعه نوروقومونو سره رابطې قائیمولې شی، حالانکه قرآن کریم ښه په واضحه بیان کړیدی چه غیرمسلمو سره همدردی، احسان، سلوک او مړانه هرڅه کول پکاردی خوچه دمذهب دحدودو پوره حفاظت اوددې دسرحداتو هم پوره نګرانې اوڅوکیداری کولې شی،

دقرآن کریم په تیرشوی آیت کښې بالفرض، که دایمان بالرسول ذکر بالکل نه وې نود قرآن کریم هغه نور آیتونه کافي وو په کوموکښې چه دایمان بالرسول پوره تاکید شوې دې اود څنو حواله هم ورته ورکړې شویدې، بیاهم که غوراوکړې شی نوپخپله دې آیت کښې هم په رسول باندې دایمان راوړلو واضح ارشاد په دې شان موجود دې چه دقرآن کریم په اصطلاح کښې په الله تعالی باندې ایمان راوړل هغه معتبردی چه پکښې دالله تعالی په ښودلو شوؤ ټولو څیزونو ایمان راوړل وی، چنانچه قرآن کریم خپله دا اصطلاح په دې الفاظو کښې واضحه کړیده: ﴿فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُم بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوا﴾ [یعنی ایمان بالله به صرف هغه معتبروی څنګه چه صحابه کرامو ﷺ راوړې وو] ښکاره خبره ده چه د دوئ ﷺ دایمان دټولو نه لوئې رکن، په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړل وو، لهذا د ﴿مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ﴾ په الفاظو کښې پخپله، په رسول الله ﷺ باندې ایمان راوړل داخل دی.

لَقَدْ	أَخَذْنَا	مِيثَاقَ	بَنِي إِسْرَائِيلَ	وَأَرْسَلْنَا			إِلَيْهِمْ	رُسُلًا
په تحقیق سره	واخستله مونږه	پخه وعده	دبنی اسرئیلونه	او اولیږل مونږه			هغوئ ته	ډیر رسولان
مونږ دبنی اسرائیلونه پخه وعده اخستې وه				او ډیر پیغبران موورته لیږلی وؤ				
كُلَّمَا	جَاءَهُمْ	رَسُولٌ	بِمَا	لَا تَهْوَىٰ			أَنفُسُهُمْ	فَرِيقًا
هر کله چې به	راغې هغوئ ته	یو رسول	دهغه حکم سره	چې نه خوښوؤ			نفسونو دهغوئ	څینی ئې
کله چې به یو پیغمبر دوئ ته دالله ﷻ داسې احکام راوړل				چې هغه به ددوئ دخواهشاتو خلاف وؤ				

كَذَّبُوْا وَفَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ۝ وَحَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ

دروغ اوګنړل | اوخینی به نې | وژل | اوګمان نې اوکړو | چې نه | به وی | هیڅ فتنه

نوځوک به نې دروغژن ګنړل | او ځوک به نې قتل کړل | اوددوئ دا ګمان وؤ چې دوئ ته به هیڅ سزا نشی ورکولې

فَعَمُوْا وَصَمُّوْا ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوْا

نوړانده شو | اوکاڼرهٔ شو | بیا | رجوع اوکړه الله | په هغوئ | خوبیا | ړانده شو هغوئ

نوخانونه نې نور هم ړاندهٔ کاڼره کړل | ....بیا الله ﷻ دوئ معاف کړل | خوبیاهم په دوئ کښې

وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ۚ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ۝

اوکاڼرهٔ شو | ډیر | د هغوئ نه | اوالله | ليدونکې دې | دهغه کارونو | چې کوی نې دوئ |

ډیروکسانو خانونه ړاندهٔ کاڼرهٔ کړل | ....اوالله ﷻ ددوئ کارونه وینی ګوری

آسان ترجمه قرآن: مونږ د بني اسراءيلو نه وعده اغستې وه، او دوی ته مو رسولان لیږلی وو چه کله به يو پيغمبر دوی ته څه خبره راوړه چه هغې لره به ددوی زړونو نه خوښوله نو څه (پيغمبران) ئې دروغژن کړل او څه به ئې وژل. او دوی دا ګمان وکړو چه څه عذاب به نه وي، دې وجې نه دوی کاڼره او ړانده شو بيا الله د دوی توبه قبوله کړه نو دوی کښې بيا ډير کاڼره او ړانده شو، او الله د دوی اعمال ښه ګوری.

خلاصه تفسير

﴿ لَقَدْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴾ مونږ دبنی اسرائيلو نه [په تورات کښې دټولوپيغمبرانو دتصديق او فرمانبرداریٔ کولو] لوظ واخستو او [ددغې لوظ يادولو دپاره] ﴿ وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ رُسُلًا ﴾ مونږ دوی ته ډير پيغمبران اوليږل [ليکن ددوی داحالت وو] ﴿ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ ﴾ چه هرکله به دوی ته يو پيغمبرداسې حکم راوړو چه هغې لره ددوی زړونونه غوښتلو[ځکه ئې دهغوی مخالفت اوکړو] ﴿ فَرِيْقًا كَذَّبُوْا وَفَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ﴾ نو بعضو لره [خو ئې] دروغژن اوبلل او بعضو لره به يې [بيدريغه] وژل او [تل دپاره په هر شرارت باندې چه دځو ورځو ډيل په سزا کښې ورکړې شو] ﴿ وَحَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَعَمُوْا وَصَمُّوْا ﴾ همدغه ګمان ئې کوؤ چه هيڅ سزا به نه وی دے ګمان کولو سره نورهم ړانده او کاڼره [يعنی ددوی پشان] شو [چه د انبياء ﷺ د رښتينولئ دليلونو نه يې هم اونه کتل اونه يې دهغوی کلام واوريدو] ﴿ ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ﴾ بيا [څه موده پس] الله ﷻ په دوی [باندې رحمت سره] توجه اوکړه [چه بل ځوک پغمبر ﷺ ئې ورته راوليږلو چه اوس خوپه لار راشی مګر] ﴿ ثُمَّ عَمُوْا وَصَمُّوْا كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ﴾ بيا هم [هغه شان] ړانده اوکاڼره پاتې شول [يعنی ټول خو نه مګر] پدوئ کښې ډير ﴿ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴾ اوالله ﷻ ددوی [دغې] عملونو لره ليدونکې دې [يعنی ددوی ګمان غلط وو.چنانچه دوی ته به وخت په وخت سزا هم ورکولې شوه.مګر ددوی همدغه دستور پاتې شو تر دې چې اوس ئې تاسو لره هم دغه شان دروغ ګنړلو او خلاف کولو معامله اوکړه].

معارف اومسائل

دبنی اسرآئيلووعده ماتول: ﴿ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ ﴾ يعنی کله به چه بنی اسرآئيلوته د دوئ رسول ﷺ څه حکم راوړلوچه د دوئ دخوښې به نه وو، نولوظ او وعده به ئې ماته

Scanned with Ca

کړ و او خدائي سره به ئې غداري کوله، د الله تعالی څه پیغمبرانو ﷺ لره ئې دروغژن او بلل، څوک ئې قتل کړل د اخود دوئ د [ایمان بالله] او [عمل صالح] حال وو د [ایمان بالیوم الاخر] اندازه ئې ددې نه او کړئ چه دومره سخت ظلمونه او باغیانه جرمونه ئې او کړل او بیا هم بې فکره پاتې کیدل، لکه چې ددغې حرکاتو به څه سزا دوئ ته نه ملاویږي او ددې خرابې نتیجې به کله ددوئ مخ ته راځي، چنانچه دداسې خیال کولو په وجه د خدائي نخښو او خدائي کلام نه بیخي ړانده او کاڼره پاتې شو او ډیرې ناکړدې ئې او کړې، تردې چه ځنې انبیاء ﷺ ئې قتل کړل ځنې ئې قیدل کړل، آخر الله تعالی په دوئ باندې [بخت نصر] مسلط کړو، ډیره موده پس د فارس ځنې بادشاهانو، دوئ لره د [بخت نصر] د ذلت او شرمندګئ د قیدنه خلاص کړل او بابل نه ئې بیت المقدس ته واپس کړل، دغه وخت خلقو توبه او کړه او د خپل حال سمولو ته ئې مخه شوه، الله تعالی ئې توبه قبوله کړه لیکن څه زمانه پس ئې بیا هغه شرارتونه راشروع کړل او ځان ئې بیخي ړوند کوڼ کولو سره د حضرت زکریا ﷺ او حضرت یحیی ﷺ د قتل کولو جرات ئې او کړو او د حضرت عیسی ﷺ قتلولو ته هم تیار شو [فوائد عثمانی]

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ؕ

یقینا کفر او کړو | هغه کسانو | چې وې وئیل | چې بیشکه الله | هم دغه | مسیح | ځوئ | د مریم دې

بیشکه هغه کسان پاخه کافران شوی دی چې وائی بیشکه هم د ا مسیح بن مریم خدائې دې

وَقَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ

او حال دا چې وئیلی وو مسیح | چې ائې بنی اسرائیلو | بندګی کوئ | د الله | چې رب زما دې

او حال دادې چې مسیح ﷺ خو دوئ ته وئیلی وو | چې د الله ﷻ عبادت کوئ | چې زما هم رب دې

وَرَبَّكُمْ ؕ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ

او رب ستاسو دې | بیشکه | هغه څوک | چې شریك جوړوی | د الله سره | نو حرام کړو الله

او ستاسو هم رب دې | څوک چې الله ﷻ سره شریک جوړ کړی | نو الله ﷻ پرې

عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ۝

په هغه باندې | جنت | او ځائې د هغه | وور دې | او نشته دې | د پاره د ظالمانو | هیڅوك مددګار

جنت حرام کړې دې | او د هغوئ ځائې به دوزخ وی | او د ظالمانو د پاره به هیڅوک مددګار نه وی

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ وَمَا

یقینا | چې کفر او کړو | هغه کسانو | چې وئیل ئې | بیشکه الله | دریم دې | د دریو نه | او حال دا چې نشته

هغه کسان په یقین سره کافران شول | چې هغوئ دا او وئیل چې الله ﷻ د دریو کښې یو دې | حال دادې چې

مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ

هیڅوك لائق د عبادت | مګر | معبود | یو | او که چرې | نه شو منع دوئ | د هغه خبرو نه | چې دوئ ئې وائی

د الله ﷻ نه بغیر بل څوک معبود نشته | او که دوئ ددې خپلو وینا ګانو نه منع نه شول

Scanned with Ca

لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ۝ اَفَلَا

نو خامخا به رسیږی | هغه کسانو ته | چې کفر ئې کړې دې | د دوئ نه | عذاب | دردناک | آیا

نو چا چې په دوئ کښې کفر اختیار کړې وی | هغوئ ته به دردناک عذاب اورسیږی | .... آیا

يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝ مَا

نو نهٔ اوباسی توبه دوئ | الله ته | او معافی نهٔ غواړی دهغه نه | او الله | بښونکې | مهربان دې | نهٔ دې

دوئ الله ﷻ ته توبه نهٔ اوباسی | او نهٔ تری نه دخپلو ګناهونو بخښنه غواړی | او الله ﷻ بښونکې او مهربان دې

الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ

مسیح | ځوئي | دمریم | مګر یو رسول دې | تیر شوی دی | مخکښې دهغه نه | نور ډیر رسولان

دحضرت مریم ځوئي مسیح ددې نه سوا هیڅ نه دې چې دالله رسول دې | دهغه نه مخکښې ډیر پیغمبران تیر شوی دی

وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ اُنْظُرْ كَيْفَ

او مور دهغه | ربښتینې ښځه وه | وۀ دواړه | چې خوړوبه ئې | طعام | اوګوره | څرنګې

او دهغه مور ډیره ربښتینې ښځه وه | او دواړو به دنورو خلقو پشان خوراک کولو | اوګوره چې

نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ۝ قُلْ

بیانوؤ مونږه | دوئ ته | نښې | بیا اوګوره | چې کوم خوا | دوی اړولی روان دی | او وایه

مونږ دوئ ته څنګه ښکاره نښې بیانوؤ | خو بیا اوګوره چې دوئ کوم طرفته اړولی شوی روان دی | او رته او وایه

اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا ؕ

آیا تاسو عبادت کوئ | ماسوا دالله نه | دهغه چا | چې اختیار نهٔ لری | دپاره ستاسو | د ضرر | او نهٔ دنفعې

آیا د الله نه سوا د هغه چا عبادت کوئ چې نهٔ تاسو ته نقصان درکولې شی او نهٔ فائده

وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ۝

او الله | هم هغه | ښه اوریدونکې | ښه پوهه دې |

او الله ﷻ هرڅه آوری او په هرڅه پوهه دې

آسان ترجمه قرآن: هغه خلق یقیناً کافران شوي دي چه هغوی وئیلي وو چه الله مسیح ابن مریم دي حال دا چه مسیح خو دا وئیلي وو چه "اې بني اسرائیلو ! دالله عبادت کوئ چه ځما هم رب دې او ستاسو هم رب دې یقین وکړئ چه څوک د الله سره بل څوک شریك کړي الله په هغه باندې جنت حرام کړې دې ، او د هغه ځائې جهنم دې ، او کوم خلق چه (دا) ظلم کوي هغوی ته به څوك هم مددګار ملاؤ نه شي. او هغه خلق هم یقیناً کافران شوي دي چه هغوی دا وئیلي دي چه "الله دریم د دریو نه دې حال دا چه دالله نه سوا بل خدائې نشته او که چرې دا خلق دې خبرې نه واپس نه شول نو دوی کښې چه کومو خلقو (داسې) کفر کړې دې ، دوی لره به دردناك عذاب راونیسي. آیا بیا به هم دا خلق د معافۍ دپاره الله طرف ته رجوع نه کوي او د هغه نه به معافي نه غواړي؟ حال دا چه الله ډیر بخونکې او ډیر مهربان دې. مسیح ابن مریم خو یو رسول وو ، ددې نه زیات څه نه وو. دده نه مخکښې(هم) ډیر رسولان تیر شوي دي ، او

Scanned with Ca

دده مور صديقه وه. دې دواړو خوراك خوړلو وګوره مونږ دوى ته څنګه صفا صفا نښې واضح كوو! بيا هم وګوره دا خلق كوم طرف ته اړولې شي! (اې پيغمبره!) دوى ته ووايه آيا تاسو د الله نه علاوه د داسې مخلوق عبادت كوئ چه نه تاسو ته نقصان رسولې شي او نه فايده، حال دا چه الله هره خبره آورې او په هر څه پوهيږي؟"

خلاصه تفسير

﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ ﴾ بيشكه هغه خلق كافران شو چاچه دا اووئيل چه الله ﷻ بعينه مسيح بن مريم دے [يعنى دواړه يو دى] ﴿وَقَالَ الْمَسِيْحُ يٰبَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ﴾ حالانكه [حضرت] مسيح ؑ پخپله فرمائيلى وو چه ائې بنى اسرائيلو تاسو دالله ﷻ عبادت كوئى چه زما هم پروردګار دې او ستاسو هم پروردګار دے [په دې وينا كښې ئے ددې په ډاګه اقرار دې چې زه پاللے شوې اوبنده يم بيا ورته " اله" او معبود وئيل هغه مثل دې چې مدعى سست ګواه چست] ﴿ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ ﴾ بيشكه څوك چه الله ﷻ سره [په خدائې يا دخدائې په خصوصياتو كښې] چالره شريك اوګرځوى نو په هغه به الله ﷻ جنت حرام كړى ﴿ وَمَاْوٰىهُ النَّارُ ﴾ اودهغه ځائې [تل دپاره] دوزخ دے ﴿ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴾ اودداسې ظالمانو به څوك مددګار نه وى [چه دوزخ نه يئ خلاص كړى او جنت ته يئ اورسوى او څنګه چه ديوالې عقيده لرل كفر دے دغه شان د درے والى عقيده لرل هم كفر دے پس] ﴿ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ﴾ بيشكه هغه خلق هم كافران دى چه وائى چه الله ﷻ د دريو [معبودانو] نه يو دے ﴿ وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ﴾ حالانكه سوا ديو [حق] معبود نه بل هيڅوك [حق] معبود نشته دې [نه دوه اونه درے هركله چه دا عقيده كفر دےنو په ﴿انه من يشرك باالله﴾ كښې بيان كړې شوې سزا دې دپاره هم ده] ﴿وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ﴾ اوكه دا [د دواړه عقيدو] خلق كافر پاتې شى په هغوى به [آخرت كښې] دردناك عذاب واقع كيږى ﴿ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ اِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ﴾ آيا [دتوحيد او وعيد ددې مضامينو په آوريدو] بيا هم [دخپلو دغه عقيدو او خبرو نه] دالله ﷻ په مخكښې توبه نه كوى اودهغه نه معافى نه غواړى؟ ﴿وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ﴾ حالانكه الله ﷻ [كله چه ورته څوك توبه كوى نو هغه] ډير بخښوونكې او لوئې رحم كوونكې دې. ﴿مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ﴾ مسيح ابن مريم [پخپله خدائې يا دخدائې جز] هيڅ نه دې صرف يو پيغمبر دے ﴿قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾ چه دهغه [نه مخكښې نور پيغمبران هم] تير شوى دى [چه هغه لره عيسان، خدايان نه منى پس كه پيغمبرى يا د عادت خلاف كيدل د خدائې دليل وى نو ټولو لره اله[خدائې]منل پكاردى اوكه دخدائې دليل نه وى نومسيح ؑ ته دې ولې اله اووئيلې شى. غرض دا چه كه نورو ته اله نه وائې نو عيسى ؑ ته هم مه وائې] او [داشان] ﴿ وَاُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ ﴾ دهغه والده [هم اله ياد اله جز نه ده بلكه هغه] يو وليه يعنى نيكه بى بى ده [څنګه چه نورے بيبيانے وليانے تيرے شوى دى اوچه دواړه خدايان نه دى او ددې يو آسان دليل دادې چه] ﴿ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ﴾ دواړو [حضراتو] به خوراك خوړلو [اوڅوك چه خوراك كوى نوهغه ورته حاجت لرى او خوراك كول دمادى څيزونو خصوصيت دې او حاجت لرل اوماده كيدل د ممكن الوجود خاصه ده دكوم چه

Scanned with Ca

وجود موجود يدل ضروري نه وي اوهغه څيز چه وجود يې ضروري نه وي هغه خدائي نشي كيدلې] ﴿أَنْظُرْ كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْآيَٰتِ ثُمَّ انْظُرْ أَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ﴾ اوګوره [كنه] مونږ په څه شان صفا صفا دليلونه دوی ته بيانوو بيا اوګوره دوی الټه كوم خوا روران دی ﴿قُلْ أَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ﴾ تاسو[دوی ته]اوفرمائي آيا تاسو دخدائي نه سوا دداسې [مخلوق] عبادت كوئی ﴿مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا﴾ چه نه تاسوته دڅه ضرر درسولو اختيار لری اونه دنفعې رسولو[اختيارلری او عاجز كيدل خدائي توب سره خلاف دي]﴿ وَاللَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ﴾ حالانكه الله ﷻ ټول آوری پيژنی [بيا هم دخدائي نه نه ويريږی او دخپل كفر او شرك نه نه آوږی].

معارف اومسائل

قوله تعالى:﴿إِنَّ اللَّهَ ثَالِثُ ثَلَاثَةٍ﴾ ① يعنى حضرت مسيح ﷺ،② روح القدس او③ الله،يا① مسيح ﷺ،② مريم،او③ الله،دري واړه خدايان دی،[العياذبالله] په دوئ كښې يوحصه دارالله شو،بياهغه دري يو،اوهغه يودري دی،دعيسايانو عامه عقيده داده چنانچه دعقل اوهدايت نه خلاف دي عقيدي لره په ګډو وډو اوكږ كيچنو عبارتونو او الفاظو كښې اداكوی اوكله چه دچاپه پوهه كښې نه راځی نودي ته دعقل نه پورته حقيقت وائی،[فوائد عثمانی رحمه الله].

دحضرت مسيح ﷺ دخدائي ترديد: ﴿قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾ يعنی څنګه چه نورپيغمبران ﷺ دنيا ته راغلل اوڅه موده پس ترلاړل اوهميشه ژوندی پاتې نشو څنګه چه د[اله] شان وی،دغه شان حضرت مسيح ﷺ [چه دهغوئ پشان انسان دي] هميشه دپاره ژوندي نشی پاتې كيدې په دې وجه هغه ﷺ [اله] اومعبودنشی كيدې،

لږشان غوركولوسره معلوميږی چه دخوراک څكاک محتاج بنده ددنيادهر شی محتاج وی،يعنی زمكې،هوا،اوبو،نمراونوروخاروۇته حاجت لری،كه خيال اوكړئ چه خيتې ته خوراک څكاک ورځی اوبياهضميږی،نوپه واسطې سره يابې دڅه واسطې نه ئې څومره څيزونو ته ضرورت پيښيږی،دخوراک څكاک نه چه كوم اثرات اونتيجې پيداكيږی دهغې سلسله تركومې رسيږی،د حاجتمندئ او ضرور تمندئ دي اوږدلمنې لړئ ته چه خيال اوكړونو استدلال په شكل كښې دحضرت مسيح ﷺ دخدائی باطل كرخول په دې شان سره كولې شو چه هركله حضرت مسيح ﷺ اوحضرت مريم دخوراک څكاک دضروریاتو نه اوزګاراو خلاص نه وو ولې چه دغسې ليدلې شوی وواوپه تواترسره ثابته ده،نوداسې كسان چه دخوراک څكاک ضرورت لری،هغوئ ددنياد يو څيزنه بې حاجته كيدې نشی،بنه نواوس تاسو اووايئی،چه هركله يوذات دټولو انسانانو پشان دخپلې بقادپاره دعالم اسباب نه بې حاجته كيدې نشی هغه به څنګه خدائي جوړشی؟ دايوداسې قوی اوواضح دليل دي چه عالم او جاهل پرې يوشان اويورنګ پوهيږی،مطلب داشو چه خوراک څكاک كول خدائی كيدوسره هيڅ قسم سمون نه خوری اګر چې خوراک څكاک نه كول هم دخدائی دليل ځكه نشی جوړيدې چه بياخوبه [معاذالله] ټولې فرښتې خدايانې وې [فوائد عثمانی]

بی بی مريم پيغمبره وه كه وليه وه: په دې خبره كښې اختلاف دي چه بی بی مريم پيغمبره وه كه وليه وه،خوهركله چه په آيت كښې ورته،صديقه] اووئيلې شوه،نوښكاره اشاره تردا معلومه شوه چه وليه وه پيغمبره نه وه ځكه چه دې سره دهغې تعريف كړې شويدې اوپه داسې مقام

Scanned with Ca

دټولونه اعلی مقام دبنده ذکر کولې شی، که داپیغمبره وې نودلته به ورته [نبیه] وئیلې شوی وو، معلومه شوه چه ورته [صدیقه] وئیل ددې دلیل دې چه ولیه وه پیغمبره نه وه [روح المعاني، تلخیص سره] [1].

دجمهور امت تحقیق دادې چه په زنانوکښې چرته نبوت څکه نه دې راغلې چه قرآن کریم فرمائی ﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِيْٓ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى﴾ [فوائد عثمانی ، سورة یوسف رکوع: ٢].

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا
ورته اووایه | ائې اهل کتابو | مه اوړئ دحدنه
.... ورته اووایه چې ائې اهل کتاب تاسو
فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْٓا اَهْوَآءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا
په دین خپل کښې | په ناحقه | اومه کوئ پیروی | د خواهشاتو | د قوم | چې بې لارې شوی دی
ددین په مسئلو کښې هیڅ بیځه زیاتې مه کوئ | اودهغه چاد خواهشاتو تابعداری مکوئ | چې د وړاندې نه گمراه دی
مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ۠
د مخکښې نه | اوبې لارې کړې ئې دی | نور ډیر خلق | او گمراه شو | د نیغې لارې نه
اونور ډیر خلق ئې بې لارې کړی دی | اوپخپله هم د سمې لارې نه بې لارې شوی دی
لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَلٰى لِسَانِ
لعنت اوونیلې شو | په هغه کسانو | چې دکفر لارئې خپله کړه | دبنی اسرائیلو نه | په ژبه
دبنی اسرائیلو په هغه کسانو باندې چې کفر یې کړې وؤ لعنت وئیلې شوې دې | اودا [العنت] په ژبه د
دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ ۭ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا
دداود | اودعیسی خوی د مریم | دا | په دې وجه اوشوا | چې نافرمانی ئې کړې وه | او وؤ هغوئ
داود ﷺ او عیسی ﷺ کړې شوې وؤ | څکه چې دوئ نافرمانی کړې وه | ....او
يَعْتَدُوْنَ۝ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ۭ
چې زیاتې ئې شروع کړې وؤ | وؤ هغوئ | چې نه به ئې منع کول یوبل | دهغه بد کارنه | چې کوؤ به هغوئ هغه
دحدنه وړاندې تیرشوی وؤ | دوئ چې کوم بد کارونه کول | دهغې نه په هیڅ شان نه منع کیدل
لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ۝ تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ
ډیر بد وؤ | هغه کار | چې کوؤ به هغوئ | ته وینې | ډیرخلق | دهغوئ نه | چې دوستی کوی هغوئ
دوئ چه کوم کارونه کول هغه ډیربد وؤ | ته به په دوئ کښې ډیر کسان وینې چې هغه کسانو سره دوستی کوی
الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۭ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ
دهغه کسانوسره | چې کافران دی | یقینا چې ډیربد دې | هغه انجام | چې مخکښې ولیږلو څان د پاره | نفسونو دهغوئ
کوم چه کافران دی | ....دوئ چې کوم عمل څان دپاره مخکښې لیږلې دې هغه ډیرخراب دې

[1] روح المعانی تحت هٰذه الآیة: ج ٥، ص ٥٠

Scanned with Ca

أَنۡ سَخِطَ اللّٰهُ عَلَيۡهِمۡ وَفِي الۡعَذَابِ هُمۡ خٰلِدُوۡنَ۝ وَلَوۡ كَانُوۡا

چې په غضب شو | الله | په هغوئ باندې | اوپه عذاب کښې به هغوئ | همیشه وی | اوکه چرې اوئ هغوئ

الله ﷻ ورته په قهر شوې دې | او دوئ به تول عمر په عذاب کښې وی |..................اوکه چرې دوی

يُؤۡمِنُوۡنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ أُنۡزِلَ إِلَيۡهِ

چې ایمان ئې راوړې وې | په الله باندې | اوپه نبی باندې | اوپه هغه څیز | چې نازل شوې وؤ | هغه ته

په الله ﷻ او په رسول ﷺ او هغه کتاب چه په هغه باندې نازل شوې دې ایمان راوړې وې

مَا اتَّخَذُوۡ هُمۡ أَوۡلِيَآءَ وَلٰكِنَّ كَثِيۡرًا مِّنۡهُمۡ فٰسِقُوۡنَ۝

نونۀ به وؤ نیولی دوی | کافرانو لره | دوستان | لیکن | ډیرخلق | دهغوئ نه | فاسقان دی

نو کافرانو سره به ئې ملګرتیا نۀ کوله | اوپه دوئ کښې زیات خلق نافرمان دی

آسان ترجمه قرآن: (او دوی ته دا هم ووایه چه) اې اهل کتابو! په خپل دین کښې ناحقه غلو مه کوئ، او د هغه خلقو خواهشاتو پسې مه ځئ چه اول هم ګمراه شوي وو، نور خلق ئې هم ګمراه کړل، او د نیغې لارې نه واوړیدل. په بني اسراءیلو کښې چه کوم خلق کافران دي په هغوی باندې د داؤد او عیسٰی ابن مریم په ژبه باندې لعنت لیږلې شوې وو دا هرڅه دې وجې نه شوي وو چه دوی نافرماني کړې وه، او دوی د حد نه تیرشوی وو. هغوی چه به کومه ګناه کوله د هغې نه به ئې یو بل نه منع کول. حقیقت دا دې چه د هغوی عمل ډیر ناکاره وو. ته په دوی کښې ډیرو لره وینې چه هغوی (بت پرست) کافرو لره دوستان جوړ کړی دی یقینًا دوی چه څه د خپل ځان نه وړاندې په خپل حق کښې لیږلې دي هغه ډیر بد دی ځکه (چه ددې وجې نه) الله دوی نه ناراضه شوې دې او دوی به همیشه په عذاب کښې وی، که دې خلقو په الله او په نبي باندې او کوم کتاب چه په ده باندې نازل شوې دې په هغې ئې ایمان راوړې وې نو دې (بت پرستو) لره به ئې دوستان نه نیول لیکن (خبره دا ده چه) په دوی کښې اکثر داسې دې چه نافرمانه دی.

خلاصه تفسیر

﴿قُلۡ يٰٓأَهۡلَ الۡكِتٰبِ﴾ تاسو [دې نصرانیانو ته] ووائې چې ائې اهل کتابو ﴿لَا تَغۡلُوۡا فِيۡ دِيۡنِكُمۡ غَيۡرَ الۡحَقِّ﴾ تاسو د خپل دین [معامله کښې] ناروا غلو [او زیاتې] مه کوئی ﴿وَلَا تَتَّبِعُوۡٓا أَهۡوَآءَ قَوۡمٍ﴾ او ددې [زیاتی باب کښې] ددې خلقو خیالات [یعنی بې سنده خبرو] باندې پسې مه ځئ ﴿قَدۡ ضَلُّوۡا مِنۡ قَبۡلُ﴾ چې [ددې وخت نه] وړاندې پخپله هم غلطئ کښې اخته شوی دی ﴿وَأَضَلُّوۡا كَثِيۡرًا﴾ او [خپل ځان سره] نورو ډیرو لره ئې [تباه کړی دی] او په غلطئ باندې دی ﴿وَضَلُّوۡا عَنۡ سَوَآءِ السَّبِيۡلِ﴾ او [دا غلطی په دې وجه نه ده شوې چې حق مفقود شوې وؤ او دد ې معلومات نشته دې بلکه] دا خلق اګر چې حق لار شته [بیا هم قصد سره] ددې نه لرې [او جدا] شوی وو [یعنی هرکله چې د دوئ غلطی د دلائلو نه ثابته شوه بیا ددوئ اتباع ولې نه پریږدی؟] ﴿لُعِنَ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡۢ بَنِيۡٓ إِسۡرَآءِيۡلَ﴾ بني اسرائیلو کښې چه کوم خلق کافر وو په هغوی باندې [د الله ﷻ له طرفه سخت لعنت کړې شوې وو [په زبور او انجیل کښې چه] ﴿عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيۡسَى ابۡنِ مَرۡيَمَ﴾ د حضرت داودو ؑ او حضرت عیسی ابن مریم په ژبه [شوې وو یعنی زبور او انجیل کښې په کافرانو

Scanned with Ca

لعنت ليكلے شوي ووځنګه چه په قرآن پاك كښې هم ﴿ لعنة الله على الكافرين ﴾ شته.هركله چه دا كتابونه په حضرت داود ﷺ اوپه حضرت عيسى ﷺ نازل شوى وو ځكه دا مضمون دهغوى په ژبه څرګند شواو] ﴿ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوا وَّكَانُوا يَعْتَدُونَ ﴾ دا لعنت ددې وجې په اوشو چه دوئ يئ دحكم [عقيدې] مخالفت اوكړو [چه كفر دې] او [پدغه مخالفت كښې] دحد نه [ډير لرې] اووتل [يعنى كفر يئ هم سخت وو او دې سره اوږدهم وو چه تل دپاره يئ جارى اولرلو چنانچه] ﴿ كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوهُ ﴾ كوم خراب كار [يعنى كفر] چه هغوى [اختيار] كړې وو دهغې نه [بيا هم] نه آوړيدل [بلكه په هغې كلك وو نو ددوى دسخت او اوږد كفر په وجه پدوى لعنت اوشو] ﴿ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴾ واقعى ددوى [دا] كار [چه بيان كړې شو يعنى كفر اوبيا هغه هم سخت او اوږد] بيشكه بدوو [چه په هغې دا سزا مرتبه شوه].

﴿ تَرَىٰ كَثِيرًا مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ تاسو ته پدې [يهودو] كښې ډير خلق اوګورئ چه [مشركانو] كافرانو سره دوستى كوى [چنانچه دمدينے ديهودو اود مشركانو د مكے ترمينځه په دې بنياد ښه روغه جوړه وه چه دواړه ډلے په كفر كښې يو تر بله ملګرى او دواړو مسلمانانو سره دښمنى لره] ﴿ لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنفُسُهُمْ ﴾ كوم كار چه دوى مخكښې ليږلے دے [سزا به يئ مومى يعنى كفرئے كړې دې چه سبب وو د دوستئ د كفارو او ددښمنئ د مومنانو] هغه بيشكه بد [ځكه] دې چې [ددې په سبب] ﴿ أَن سَخِطَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ ﴾ الله ﷻ پدوى باندې [تل دپاره] ناراضه شو او [ددغې هميشه ناراضګئ نتيجه به دا وى چه] ﴿ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خَالِدُونَ ﴾ دا خلق به په عذاب كښې هميشه پاتې كيږى ﴿وَلَوْ كَانُوا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالنَّبِيِّ﴾ اوكه دے [يهوديانو] خلقو په الله ﷻ باندې ايمان لرلے [دكوم چه دوى دعوى كوى] ﴿ وَمَا أُنزِلَ إِلَيْهِ ﴾ اوپه هغه كتاب [ئے ايمان لرلے] چه دهغوى [پيغمبر] ته ليږلے شوې وو [يعنى په تورات] ﴿ مَا اتَّخَذُوهُمْ أَوْلِيَاءَ ﴾ نودوى [يعنى مشركان] به يئ دوستان نه جوړول ﴿ وَلَٰكِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُمْ فَاسِقُونَ ﴾ ليكن پدوى كښې زيات خلق دايمان د دائرے نه خارج دى [ځكه ئے كافرانو سره يو ځائې كيدل او دوستى شوه].

معارف او مسائل

دبنى اسرائيلو دكوږتيا بوبل اړخ: ﴿ قُلْ يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ ﴾ په تيروشوؤ آيتونو كښې دبنى اسرآئيلو د سركشئ اوزورظلم كولو داشان بيان ووچه دالله تعالى كومو رسولانو ﷺ چه دوئ دپاره دهميشه ژوند پيغام اوددنيا اوآخرت ښائيسته كولو دستور العمل راوړې وو، دهغوئ دقدر عزت كولو اومرتبې پيژندلو په ځائې ئې ورسره ناروا سلوك اوكړو: ﴿فَرِيقًا كَذَّبُوا وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ﴾ [يعنى څنې انبياء ﷺ ئې دروغژن اوبلل اوځنې ئې اووژل].

اوس په دې آيتونو كښې د دوئ دكوږتګ دوئيم اړخ داسې ښودلې شويدې چه دغه جاهلان خودسركشئ اونافرمانئ دې حدته رسيدلى ووچه دالله تعالى رسولانو ﷺ ته ئې دروغژن اووئيل اوځنې ئې اووژل، اويادګمراهئ دې حدته اورسيدل چه درسولانو ﷺ په تعظيم كولو كښې ئې دحدنه دومره تيريدل اوكړل چه هغوئ لره ئې خدايان اوبلل: ﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ﴾ [يعنى هغه بنى اسرآئيل كافرشو چاچه دا اووئيل چه الله خوهم دعيسى ابن مريم نوم دې]،

Scanned with Ca

دلته دا قول صرف د نصاراؤ بیان شویدې بل ځائې کښې غلو زیاتوالي را وستل او ګمراهي د یهودو بیان کړې شویده: ﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرُ ٱبْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ النَّصٰرَى الْمَسِيحُ ٱبْنُ اللّٰهِ﴾ [یعنی یهودو دا اووئیل چه حضرت عزیر ؑ دالله تعالی ځوئې دې او نصاراؤ اووئیل چه عیسی ابن مریم دالله تعالی ځوئې دې.

د [غلو] معنی ده، د حدنه وتل، په دین کښې د [غلو] مطلب دادې چه عقیدې او عمل د پاره د دین د مقرر کړې حد بندئ نه تیریدل او کړې شی، مثلاً، د انبیاؤ ؑ د تعظیم حد دادې چه دوئ لره دالله تعالی په مخلوق کښې د ټولو نه غوره او ګڼړلې شی، د دې حدنه په تیریدلو سره ورته خدائې یا د خدائې ځوئې وئیل اعتقادی [غلو] ده،

دبنی اسرآئیلو افراط او تفریط: دانبیاؤ او رسولانو په معامله کښې دبنی اسرآئیلو دوه قسم کارونه او عملونه چه خپل مینځ کښې سره التپه دی، داسې قسم افراط او تفریط دې چه جهالت او ناپوهئ سره لازم دی، چنانچه کله خو دهغوئ ؑ په دروغژن بللو او دهغوئ په وژلو هم صرفه نه کوی او کله ئې خدائې یا د خدائې ځوئې ګرځوی، عرب وائی چه: [الجاهل إما مفرط او مفرط] [جاهل بنده کله هم په درمیانه حال باندې نه پاتې کیږی کله زیاتې راولی او کله کمې] د [افراط] معنی د حدنه ور تیریدل دی او د [تفریط] معنی د خپلو فرضو په اداکولو کښې کمی یا کوتاهی کولو ته وئیلې شی او کیدې شی چه دا افراط او تفریط دبنی اسرآئیلو دوؤ مختلفو جماعتونو له اړخه په عمل کښې راغلې وی او داسې هم کیدې شی چه دیو جماعت دا دوه مختلف عملونه مختلفو انبیاؤ ؑ سره شوی وی چه ځنې دروغژن بولی او وژنی ئې او ځنې دخدائې پشان ګرځوی.

په دې آیتونو کښې اهل کتابو له مخاطب کولو سره چه کوم هدایات دوئ ته او ترقیامته پورې راتلونکو نسلونو ته ورکړې شویدی، هغه په دین، مذهب او په هغې باندې عمل کولو کښې دیو بنیادی اصولو حیثیت لری، چنانچه دې نه لږ شان اخوا دیخوا کیدل انسان د ګمراهیو په غار کښې وردیکه کوی ځکه ئې په تشریح باندې ځان پوهه کړئ.

الله تعالی ته د رسیدو طریقه: حقیقت دادې چه د ټول جهان او د دې د ټولو موجوداتو خالق او مالک یو اځې یو الله جل شانه دې، ملک هم دهغه دې او حکم هم دهغه دې چه تابعداری ئې په هر انسان باندې لازم ده، لیکن دخاؤرې نه پیدا عاجز انسان په خپلو مادی تیرو او کمزورو کښې راګیر دې، دهغه ټول رسیدل هغه پاک ذات ته یا دهغه احکامو او هدایاتو معلومولو ته څنګه کیدې شی؟ الله تعالی دې د پاره دوه واسطې مقررې کړې چه دهغې په ذریعه ورته دالله تعالی دخوښئ او ناخوښئ او دغه شان دهغه د اړخه ورته د کولو او نه کولو د څیزونو او کارونو علم کیدې شی، یو خپل کتابونه چه انسان د پاره دقانون او هدایت نامې حیثیت لری، او بل دهغه خپل مخصوص او مقبول بندګان کوم چه الله تعالی انسانانو د پاره منتخب کړیدی، هغوئ لره ئې دخپلې خوښئ، ناخوښئ عملی نمونه او دخپل کتاب عملی شرح جوړه کړې رالیږلی دی، هغوئ ؑ ته په دینی اصطلاح کښې رسول ؑ یا نبی ؑ وئیلې شی، ولې چه په تجربې سره ثابت شویدی چه هیڅ یو کتاب دانسان داصلاح او تربیت د پاره کافی کیدې نشی اګرچه په هغې کښې هرڅه راجمع کړې شوی او په تفصیل سره ذکر کړې شوی وی. بلکه په فطری ډول دانسان تربیت کوونکې او اصلاح کوونکې یو اځې انسان کیدې شی په دې وجه الله تعالی دانسان داصلاح او تربیت د پاره دوه لړئ اولږلې، کتاب الله او بل رجال الله چه په کښې انبیاء ؑ او بیا دوئ

Scanned with Ca

نائبان، علماء او مشائخ ټول داخل دي، د رجال الله ددې لړۍ په باره کښې، د پخوا زمانې راسې دنيا د افراط او تفريط په غلطيانو کښې راګيره پاتې شويده، او په مذهبونو کښې غلطې فرقې پيدا کبدل ټول ددې پيداوار دي، کله دحدنه په زياتو لو سره رجال پرستۍ [انسان پرستۍ] ته ئې نوبت اورسولې شو، او کله دهغې هيڅ لحاظ نشو ساتلې اوداوونيلې شو چه،

[حسبناكتاب الله] [مونږ لره يواځې كتاب الله كافي دې] يو اړخ ته رسول ﷺ لره څه چه، پيرانو لره هم عالم الغيب او خدايئې دصفتونو مالكان اوګڼلې شو تر دې چه پيرپرستۍ بلكه قبر پرستۍ ته نوبت اورسيدو، بل اړخ ته دالله تعالى رسول هم خالص يوربيار او چټۍ رسان اوګڼلې شو، په دې ذکر شوؤ آيتونو کښې د رسولانو ﷺ بې عزتي كوونكې هم كافران اوګرځولې شو او حدنه زيات په پورته كولو او د خدايئې درجې ته په رسولوئې هم كافران اوګرځولې شو چنانچه دې مضمون ته:

﴿لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ﴾ سره تمهيد كېښودل شو او په دې سره واضح كړې شو چه په اصل كښې دين دځوحدودو او قيودونوم دې، په هغې كښې څنګه چه كوتاهى اوكمې كول جرم دې دغه شان تروړاندې تلل او كمې پكښې راوستل هم جرم دې، څنګه چه درسولانو ﷺ او دهغوئ ﷺ د نائبانو خبره نه منل او بيعزتي ئې كول لويه ګناه ده، دغه شان دوئ لره دالله تعالى د خاصو صفتونو مالک يادهغه برابر ګڼړل ئې هم دهغې نه زياته لويه ګناه ده،

علمي تحقيق او باريكي بيانول غلو نه ده: ﴿لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ﴾ سره د ﴿غَيْرَ الْحَقِّ﴾ لفظ راوړل دمحققينو مفسرينو ﷺ په نزد تاكيد د پاره استعمال شويدې، ولې چه په دين كښې [غلو] كول هميشه ناحقه وي، په دې كښې دسره دحق كيدو احتمال نه وي. ليكن علامه زمخشري[1] وغيره دلته د [غلو] دوه قسمونه ګرځولى دي يو قسم ناحق او باطل [غلو] ده چه ممانعت ئې دلته راغلې دې او بل قسم حق او جائز [غلو] ده، دهغې مثال ئې علمي تحقيق او باريكي بيانول ګرځولى دي څنګه چه دعقائدو په مسئلو كښې دمتكلمينو حضراتو او په فقهي مسئلو كښې دفقهاؤ ﷺ طريقه ده، دهغوئ په نزد داهم اګرچه [غلو] حسابيږي، مګر د اجائز او حق [غلو] ده. دجمهورو دتحقيق په بنا، داد سره د [غلو] په تعريف كښې داخله نه ده، دقرآن او سنت په مسئلو، ژور نظر كول او باريكي بيانول تركومه پورې چه رسول الله ﷺ، صحابه كرامو ﷺ او تابعينو ﷺ نه ثابت دي، هغه [غلو] نه ده، او كه د [غلو] حدته اورسيده هغه په دې كښې هم بده ګڼړلې شي،

بني اسرائيلو ته دمعتدلې لارې هدايت: ددغې آيت په آخر كښې موجوده بني اسرائيلو ته داسې خطاب او فرمائيلې شو ﴿وَلَا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِنْ قَبْلُ وَأَضَلُّوا كَثِيرًا وَضَلُّوا عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ﴾ [يعنى دهغې قوم د خيالانو تابعداري مه كوئ چه تاسونه وړاندې پخپله هم ګمراه شوي وو او نورئې هم ګمراه كړي وو او وريسې د دوئ دګمراهئ حقيقت اوددې وجه په دې الفاظو سره بيان كړې شوه: ﴿وَضَلُّوا عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ﴾ [يعنى داخلق، دصراط مستقيم نه آوړيدلې وو، كومه چه دافراط او تفريط په مينځ كښې معتدله لار ده.

---

[1]) الكشاف تحت هٰذه الآية: ج ٢، ص ٥٦ وتفسير البحر المحيط: ج ٢، ص ٣٩١

داشان په دې آيت کښې د[غلو] او د[افراط] [تفريط] د مهلکې غلطئ بيان هم راغلو او په درميانه لارې، صراطِ مستقيم باندې د قائم پاتې کيدو هم،

د بنی اسرائيلو بدانجام: په دوئيم آيت کښې دهغې بنی اسرائيلو د بدانجام بيان اوشو کوم چه د دغې [افراط] او [تفريط] په ګمراهئ کښې مبتلا وو چه په هغوئ د الله تعالى لعنت اوشو اول د حضرت داؤد ﷺ په ژبې سره چه دهغې په نتيجه کښې دهغوئ شکلونه وران شو او د خنزيرانو په شکلونو شو، بيا د حضرت عيسى ﷺ په ژبې سره دا لعنت په هغوئ مسلط شو، چه اثرئې په دنيا کښې داشو چه شکلونه يې د بيزو ګانو [شادو ګانو] شو[1]، او ځنو مفسرينو ﷺ فرمائيلى دي چه دلته د مقام د تقاضا مطابق صرف د دؤو پيغمبرانو د ژبې نه په دوئ باندې دلعنت کيدو ذکر شويدې، ليکن په حقيقت کښې په دوئ باندې دلعنت کولو شروع د حضرت موسى ﷺ نه شويده او انتهائ په حضرت خاتم الانبياء ﷺ باندې اوشوه، دغه شان د ځلورو پيغمبرانو ﷺ په ژبه په دوئ لعنت مسلط شو کوم چه د پيغمبرانو ﷺ مخالفت اوکړو، يا چاچه دوئ لره د حدنه په ورتيرولو سره په خدائى صفاتو کښې شريک اوګرځول،

په آخرى دوؤ آيتونو کښې کفارو سره د ژورې دوستئ او موالات ممانعت او د هغې د تباه کوونکو نتيجو بيان اوشو، چه پکښې دې اړخ ته هم اشاره کيدې شى چه د بنى اسرائيلو دا ټول کوږتګ او ګمراهى د دوئ د غلط قسم ماحول او کفارو سره د ړزه د کومى نه د دوستئ کولو نتيجه وه چه دوئ ئې د تباهئ کندې ته ورګوذار کړى وو.

لَتَجِدَنَّ | اَشَدَّ النَّاسِ | عَدَاوَةً | لِّلَّذِيْنَ | اٰمَنُوا

خامخا به ته بيا مومې | زيات سخت د خلقو نه | په دشمنى کښې | د هغه کسانو سره | چې ايمان ئې راوړې دي

ته به مسلمانانو سره په دشمنئ کولو کښې د ټولونه زيات ....

الْيَهُوْدَ | وَالَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا | وَلَتَجِدَنَّ | اَقْرَبَهُمْ

يهوديان [او (بل)] هغه کسان چې مشرکان دي | او خامخا به ته بيا مومې | د ټولو نه زيات نزدې

يهوديان او مشرکان بيا مومې | .... او مسلمانانو سره په دوستئ

مَّوَدَّةً | لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا | الَّذِيْنَ | قَالُوْٓا | اِنَّا

په محبت کښې | دهغه کسانو سره چې ايمان ئې راوړې دي | هغه کسان | چې وائى | بيشکه مونږه

سا تلو کښې به د ټولو نه نزدې هغه کسان مومې چې ځان ته ....

نَصٰرٰى ط | ذٰلِكَ | بِاَنَّ | مِنْهُمْ | قِسِّيْسِيْنَ

نصارى يو | دا | په دې وجه | چې بيشکه ځينى دهغوئ نه | عبادت ګزاره عالمان دي

نصارى وائى | ځکه چې په دوئ کښې عالمان

[1]) تفسير البحر المحيط تحت هٰذه الآية: ج ۴، ص ۲۱۱

وَرُهْبَانًا	وَّاَنَّهُمْ	لَا يَسْتَكْبِرُوْنَ۝
اودنیا پریښبودونکي فقیران دي	اوبیشکه هغوئ	تکبر لوني اوغرورنهٔ کوي
اودرویشان موجود دي	.... اودوئ	تکبر نهٔ کوي...

آسان ترجمه قرآن: ته به دا خبره ضرور محسوسوې چه د مسلمانانو سره دټولونه سخت دشمني ساتلو والا یوخو یهود دي او دویم هغه قسم خلق دي چه (ښکاره) شرك کوي. او ته به دا خبره هم محسوسوې چه (غیرمسلمو کښې) مسلمانانو سره په دوستۍ کښې نزدې هغه خلق دي چه هغه خپل ځان ته عیسایان وائي ددې وجه دا ده چه دوی کښې ډیر علماء او ډیر خدائي خلق دي، دا وجه هم ده چه دوی تکبر نه کوي.

خلاصه تفسیر

[په غیرو مومنانو کښې] ﴿لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوا الْیَهُوْدَ وَالَّذِیْنَ اَشْرَكُوْا﴾ دټولو خلقو نه زیات مسلمانانوسره دښمني لرونکي به تاسو یهودو اودغه مشرکانو لره به مومئ ﴿وَلَتَجِدَنَّ اَقْرَبَهُمْ مَّوَدَّةً لِّلَّذِیْنَ اٰمَنُوا الَّذِیْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰی﴾ او په دغه [غیرمومنانو خلقو] کښې به مسلمانانو سره په دوستۍ لرلو کښې زیات نزدې [په نسبت دنورو] هغه خلق بیا مومئ چه ځان ته نصرانیان وائي [دزیات نزدې مطلب دادې چه دوستان خو دوی هم نه دي مګر د نورو کافرو په نسبت غنیمت دي] ﴿ذٰلِكَ بِاَنَّ مِنْهُمْ قِسِّیْسِیْنَ وَرُهْبَانًا﴾ دا [په دوستۍ کښې زیات نزدې کیدل اوپه دښمنۍ کښې کمیدل] په دې سبب دي چه په دوی [نصرانیانو] کښې ډیر څه علم دوست عالمان دي او ډیر دنیاپریښبودونکي درویشان دي [اوکله چه په یو قوم کښې دغسې خلق ډیروي نوعوامو کښې یئ هم دحق سره زیات عناد نه پاتې کیږي اګر چه خاصان اوعام خلق ئې حق لرل قبول نکړي] ﴿وَاَنَّهُمْ لَا یَسْتَكْبِرُوْنَ۝﴾ اوپه دې سبب سره دي چه دا [نصرانیان] خلق متکبران نه دي [دقسیسینو اود رهبانو خلقو نه زر اثر قبلوي اودغه شان دتواضح او خاکسارۍ خصوصیت دادې چه دحق په مخکښې نرمیږي څکه دوی زیاته دښمني نه کوي نو قسیسین او رهبان یعني عالمان او مشانخو وجود اشاره وه.علت فاعلي طرف ته اوعدم استکبار یعني تکبر نه کول قابلیت طرف ته اشاره ده په خلاف دیهودو اومشرکانو چه دنیا سره محبت لرونکي اومتکبران دي اویهودو کښې هم اګر چه څه ناڅه حقاني عالمان وو چه مسلمانان شوي وو لیکن ددوی دکموالي په وجه ئې عوامو کښې اثر نه رسیدلو.لهذا په دوی کښې عناد دي چې دسختې دښمنۍ کولو سبب جوړیږي په دې وجه یهودیانو کښې خو لږ مسلمانان شو او مشرکانو نه چه عناد اووتلو نومومن کیدل ئې شروع شو].

معارف اومسائل

دښني اهلِ کتابو حق پرستي په دې آیتونو کښې مسلمانانوسره ددښمنۍ یادوستۍ په پیمانه دهغه اهلِ کتابو ذکر کړې شویدې چه دخپلې حق پرستۍ اوخداپرستۍ په وجه ئې مسلمانانوسره بغض اودښمني نه لرله مګر داسې خلق په یهودو کښې ډیر کم، دنیشت برابروؤ لکه حضرت عبدالله بن سلام وغیره، د دوئ په نسبت، نصاراؤ کښې ددغسې خلقوشمیرډیر زیات وو، خصوصاً درسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې دحبشې د ملك دبادشاه نجاشي او ددغه ځائې په حاکمانو اوعوامو کښې ددغسې خلقو شمیر زیات وواوپه دې وجه هرکله چه د مکې مکرمې

Scanned with Ca

مسلمانان د قریشو د ظلمونو نه تنګ راغلل نو رسول الله ﷺ هغوئ ته د حبشې اړخ ته د هجرت کولو مشوره ورکړه او وې فرمائیل چه ما اوریدلی دی چه د حبشې بادشاه نه خو پخپله ظلم کوی او نه په بل چا باندې ظلم کولو ته څوک پریږدی، لهذا مسلمانان دې څه زمانې د پاره هلته لاړشي([1])،

په دغه مشوره ئې عمل اوکړو او په رومبی ځل یو لس حضرات حبشې ته لاړل چه په کښې حضرت عثمان رضي الله عنه او د هغوئ رضي الله عنها بی بی رقیه د رسول الله ﷺ لوربی بی شامل وو، وروپسې د حضرت جعفر بن ابی طالب رضي الله عنه په مشرئ کښې د مسلمانانو یوه لویه قافله چه د زنانؤ نه علاوه [۸۲] دوه اتیاکسان نارینه پکښې وو، حبشې ته لاړه، د حبشې بادشاه او د هغه ځائې او سیدونکو د هغوئ شریفانه استقبال اوکړو او د اخلق په امن او تسلئ سره هلته پاتې کیدل،

هر کله چه د مکې قریش د غصې نه ډک وو نو د دغې مسلمانانو خلقو په دغه شان او سیدل ئې هلته نشو زغملې، یو وفد ئې سره د ډیرو تحفو او ډالئو را اولیږلو او هغه نه ئې دا خواست اوکړو چه دغه مسلمانان دې د خپل ملک نه اوباسی، خو هر کله چه د حبشې بادشاه د حالاتو تحقیق اوکړو او حضرت جعفر بن ابی طالب رضي الله عنه او د هغوئ د ملګرو نه ئې د اسلام او د پیغمبر اسلام حالات معلوم کړل او د حضرت عیسی علیه السلام او د انجیل د پیشنګوئی سره ئې مطابق بیاموندل په کومه کښې چه د حضرت خاتم الانبیاء ﷺ د پیغمبر کیدو ذکر او د هغوئ ﷺ د تعلیماتو مختصره خاکه وه د هغوئ ﷺ او د هغوئ ﷺ د صحابه کرامو رضي الله عنهم شکل شباهت وغیره بیان شوې وو، د دې اثرئې قبول کړو او د حبشې بادشاه د قریشو د وفد تحفې ډالئ واپس کړې او صفا جواب ئې په دې شان ورکړو چه زه داسې خلقو له د خپل ملک نه د اوبنکلو حکم نه شم ورکولې،

د حضرت جعفر بن ابی طالب د تقریر د حبشې په بادشاه باندې اثر کول: حضرت جعفر د نجاشی په دربار کښې د اسلام او د اسلامی تعلیماتو یوه لنډه مګر ټول اړخیزه خاکه وړاندې کړې وه او بیا دغه حضرات چه هلته پاتې کیدل هغې سره یو اځې د حبشې د بادشاه په زړه کښې نه بلکه د هغه ځائې د حاکمانو او عوامو ټولو په زړونو کښې د اسلام او پیغمبر ﷺ رشتینې محبت او قدر پیدا کړې وو، نتیجه ئې دا شوه چه هر کله رسول الله ﷺ مدینې منورې ته هجرت اوفرمائیلو او هلته په تسلئ سره او سیدل ئې معلوم شو نو حبشې نه دغه مهاجرینو هم مدینې منورې ته د تلو قصد ښکاره کړو، نجاشی هغوئ سره د خپل مذهب، [نصاراؤ] د لویو لویو علماؤ او مشائخو یو وفد هم د رسول الله ﷺ په خدمت کښې اولیږلو چه ټول اویا کسان جوړیدل دوه شپیته کسان پکښې د حبشې وو او اته پکښې د شام وو.

د حبشې د بادشاه د رالیږلی وفد حاضریدل په دربار د رسالت ﷺ کښې: دغه وفد د رسول الله ﷺ په خدمت کښې چه حاضر شو نو د درویشانو او راهبانو جامې ئې اغوستې وې، رسول الله ﷺ ورته چه سورت یسین واؤرولو د وفد خلق پرې پوهیدل او د سترګو نه ئې اوښکې جارې وې ټولو وئیل چه

[1]) دلائل النبوة للبیهقی رقم الحدیث: ۵۲۶، وتفسیر البغوی، سورة المائده ج ۳، ص ۸۵

Scanned with Ca

دا کلام خوبیخی هم هغه شان دي کوم چه په حضرت عیسی ﷺ باندل نازل شوي وو، اوټول مسلمانان شو،

چه دا وفد خپل ملک حبشې ته لاړونو نجاشی هم دخپل اسلام راوړولو اعلان اوکړو، خپل ځوئې ئې یو وفد سره کړو خپل خط ئې ورکړو او مدینې منورې ته ئې روان کړو، بدقسمتئ نه دغه کشتئ په دریاب کښې غرقه شوه او پکښې ټول وفد هم غرق شو، غرض دا چه دحبشې بادشاه، حاکمانو او عوامو اسلام او مسلمانانو سره دشریفانو په شان دانصاف سلوک اوکړو او بیا پخپله هم مسلمانان شو[١].

جمهور مفسرین ﷺ فرمائی چه دغه ذکرشوی آیتونه ددغې حضراتو په باره کښې نازل شوی دی: ﴿وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ﴾ او په ورپسې آیتونو کښې دا بیان شویدی چه دوئ دالله تعالی دویرې نه ژړیدل او حق ئې قبول کړې وو، په دې باندې هم دجمهورو مفسرینو ﷺ اتفاق دې چه اګرکه دا آیتونه دنجاشی او دهغه دلیږلی وفد په باره کښې نازل شویدی لیکن دالفاظو د عموم له کبله ددې حکم هغه ټولو نصاراؤ له عام اوشامل دې چه داهل حبشه پشان حق پرست او انصاف پسند وی، یعنی اسلام نه وړاندې د انجیل تابعدار وو او د آسلام په راتلو سره د اسلام تابع شول،

یهود هم اګرچه دغسې څوکسان موجود وو چه دحضرت موسی ﷺ په زمانه کښې په تورات عمل کوونکی وو د اسلام په راتلو باندې هغوئ د اسلام تابع شو لیکن شمیرئې دومره کم وو چه دامتونو او قومونو د ذکر کولو په وخت کښې هغوئ نشی ذکرکولې، د باقی یهودو حال بیخی بیکاره وو چه د مسلمانانو په خپو وهلو او دښمنئ کښې د ټولو نه وړاندې وو. لهذا آیت په رومبی سر کښې ئې داسې اوفرمائیل: ﴿لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ﴾ [یعنی مسلمانانو سره په دښمنئ کولو کښې یهود د ټولو نه زیات سخت دی]،

خلاصه د کلام دا شوه چه په دې آیت کښې دنصاراؤ دیوې خاصې ډلې تعریف بیان کړې شویدې چه خدائې نه ویریدونکی او حق پرست وو، په دوئ کښې نجاشی او دهغه امدادیان او ملګری هم داخل دی او هغه نصارا هم پکښې داخل دی چه دا صفتونه ئې لرل او یا په آئنده زمانه کښې به دغسې وی، لیکن دا معنی ئې هیڅکله نه خودې آیتونو نه راوځی او نه کیدې شی چه نصارا، که هر څومره ګمراه شی او په اسلام دښمنئ کښې هرڅومره سخت قدم پورته کړی نو په هرحال کښې دې بیا هم د مسلمانانو دوستان ګڼرلې شی او مسلمانان دې هم ورته د دوستئ لاس وروړاندې کوی ولې چه دا ښکاره غلطه او د واقعاتونه بیخی خلاف خبره ده چنانچه امام ابوبکر جصاص ﷺ په احکام القرآن کښې فرمائیلی دی چه دغنې جاهلانو، دا خیال لرل چه په

---

[١] تفسير البغوی تحت هذه الآية: ج ٢، ص ٥٨ وتفسير الخازن: ج ٢، ص ٢٢١

دې آيتونو کښې مطلقا د نصاراؤ تعريف دې او هغوئ مطلقا د يهودونه بهتر دي نو دا بېخي جهالت او ناپوهي ده، ولې چه که په عام ډول د دوارو ډلو د مذهبي عقائدو يو بل سره نسبت او کړې شي نو نصارې ترزيات مشرکان معلوميږي[1] او که مسلمانانو سره په معاملاتو کښې ئې اندازه و اغستې شي نو د نن صبا نصاراؤ هم په اسلام دښمنئ کښې د يهودونه څه کمه برخه نه ده اغستې، البته دا صحيح ده چه په نصاراؤ کښې داسې خلق ډير ګڼ تير شويدي کوم چه خداترس او حق پرست وو، د هغې په نتيجه کښې د اسلام راوړلو توفيق هغوئ ته اوشو، او دا آيتونه د دغې دواړو ډلو ترمينځه د بيلتون څرګندولو د پاره نازل شويدي چنانچه د دې آيت په آخر کښې قرآن کريم دې حقيقت لره په دې الفاظو کښې واضح کړيدې: ﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ﴾ [يعنى د کومو نصاراؤ تعريف چه په دې آيتونو کښې کړې شويدې، د هغې وجه دا ده چه په دوئ کښې علماء خداترس او دنيا پرېښودونکي حضرات دي، په دوئ کښې داسې تکبر نشته چه د نورو خلقو په خبرو باندې غور کولو ته نه تياريږي، چه يهودو سره ئې نسبت او کتلې شو نو د هغوئ داسې حالات نه وو، په هغوئ کښې خداترسي او حق پرستې نه وه، د هغوئ علماؤ د دنيا پرېښودو په ځائې خپل علم لره د روزګار ذريعه جوړه کړې وه او په طلب د دنيا کښې داسې مست شوي وو چه د حق او ناحق او د حلالو او حرامو ترمنځه ئې هيڅ فرق نه کولو.

د قوم او ملت اصلي روح حق پرست علماء او مشائخ دي: د دې آيت نه يوه ډيره ضروري خبره دا هم معلومه شوه چه د قوم او ملت اصلي روح حق پرست، خداترس علماء او مشائخ دي، د دوئ وجود سره ټول قوم ژوندې وی ترڅو چه يو قوم کښې داسې علماء او مشائخ [پيران، بزرګان] موجود وي چه دنيوي خواهشاتو پسې نه ځي، او د خدائې نه ويريدونکي وي نو د غه قوم به د خير او برکت نه نه بې نصيبه کيږي.

[الحمد لله ، شپږمه پاره ختمه شوه]

---

[1] أحكام القرآن للجصاص: ج۶، ص۹۹ سورة المائدة.

Scanned with Ca